تفسیر

معارف القرآن

په قندهاري پښتو

تالیف

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع

پښتو ترجمه کوونکی "ابو صدیق احمد" مولوی نصیر احمد حقانی

تصحیح او سمون: مولوی نصیر احمد حقانی او مولوی امین الله حقانی

مکتبہ حنفیہ

کانسی روڈ۔ کوئٹہ



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
تمام فنون		

تفسیر

معارف القرآن

په قندهاري پښتو کی

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمۃ اللہ علیہ

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیر احمد حقّانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیر احمد (حقّانی) او مولوی آمین الله (حقّانی)

دکمپوز او ترجمي چاري .... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

جلد لسم پاره (۲۸) ..... (۲۹) ..... (۳۰)

خپرونکي

مکتبہ حنفیہ

فون نمبر (۰ ۲۶۶۲۵۱)

کانسي روډ حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ ځای .... لاهور

فهرست تفسیر معارف القرآن

اللهم اختم لنا بالخير والسعادة والبشارة والايمان

....

﴿سورة المجادلة﴾

سُوْرَةُ الْمُجَادَلَةِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ اثْنَتَانِ وَعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

سورة المجادله په مدینه کی نازل سو او په دی کی دویشت (۲۲) آیتونه او دری (۳) کوع گانی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم د الله ﷻ په نوم سره چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی.

قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِيْ تُجَادِلُكَ فِيْ زَوْجِهَا وَتَشْتَكِيْٓ

واوریده الله ﷻ خبره د هغه ښځی چی جگړه یی کوله ستاسره دخپل خاوند په حق کی او فریاد یی کوی

اِلَى اللّٰهِ ۖ وَاللّٰهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا ۚ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ ۢ بَصِيْرٌ ﴿١﴾

الله ﷻ ته ، او الله اوریدی سوال جواب ستاسی د دواړو ، بیشکه الله ﷻ اوری وینی ،

اَلَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْكُمْ مِّنْ نِّسَآئِهِمْ مَّا هُنَّ اُمَّهٰتِهِمْ ۖ

کوم خلق چی مور وو ایی په تاسی کی خپلو ښځو ته هغوی نه کیږي د دوی میندی ،

اِنْ اُمَّهٰتُهُمْ اِلَّا الّٰٓـِٔيْ وَلَدْنَهُمْ ۚ وَاِنَّهُمْ لَيَقُوْلُوْنَ مُنْكَرًا

د دوی میندی خو هغه دی دکوم څخه چی دوی پیدا سوی دی ، او دوی وایی یوه نا خوښه

مِّنَ الْقَوْلِ وَزُوْرًا ۚ وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ﴿٢﴾ وَالَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ

خبره او دروغ ، او الله معاف کوونکی بخښنی والا دی ، او کوم خلق چی مور وو ایی

مِنْ نِّسَآئِهِمْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِّنْ

خپلو ښځو ته بیا راگرځی هغه کار ته کوم چی یی ویلی وی نو ازادول دی ورله دیو غلام

قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ۚ ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ بِهٖ ۚ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

مخکې د لاس وروړلو څخه په دی سره تاسی ته نصیحت کول کیږي ، او الله ﷻ خبر لری څه چی

خَبِيْرٌ ۝۳ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِنْ قَبْلِ

تاسی کوی، نو څوك چی نه کی پیدا روزی دی نیسی دوې میاشتی پرله پسی مخکې

اَنْ يَّتَمَاسَّا ۚ فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَاِطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا ۚ

دلاس وروړلو ، نو څوك چی دا نه سی کولی نو خوراك ورکول دی شپیتو (۶۰) مسکینانو ته ،

ذٰلِكَ لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۚ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ۚ

دا حکم ځکه دی چی تاسی ایمان راوړی په الله او دهغه په رسول ، او دا حدونه دالله ﷻ دی

وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝۴ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ

او دکافرانو دپاره عذاب دردناك دی ، کوم خلق چی مخالفت کوی دالله

وَرَسُوْلَهٗ كُبِتُوْا كَمَا كُبِتَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَقَدْ اَنْزَلْنَآ

او دهغه درسول ،هغه خوار سول لکه چی خوار سوی دی هغه چی د دوی څخه مخکې وو او مونږ نازل کړی دی

اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ ۚ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝۵ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ

آیتونه واضح ، او کافرانو دپاره عذاب سپکوونکی دی ، په کومه ورځ چی پورته کړی

اللّٰهُ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ۚ اَحْصٰىهُ اللّٰهُ وَنَسُوْهُ ۚ

الله دی ټوله بیا به خبر کړی دوی د دوی په کارونو ، الله دغه ټول شمارکړی دی او دوی هیر کړی دی ،

وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۝۶

او دالله ﷻ په مخکې هرڅه حاضر دی

سبب دنزول : ددی سورة دابتدایی آیتونو دنزول سبب یوخاص واقعه ده چی حضرت اوس بن الصامت ﷺ یو وار خپلی ښځی خوله ﷺ ته دا وویل چی ، اَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ اُمِّيْ : ته زماپه حق کی داسی یی لکه زما دمور شا یعنی حرامه یی ، دنبی کریم ﷺ دبعثت څخه مخکی دا لفظ به ددائمی او ابدی حرمت دپاره ویل کیدې ، کوم چی ترمغلظ طلاق څخه هم زیات سخت دی ، حضرت خوله ﷺ ددی واقعی په پیښیدو دنبی کریم ﷺ په خدمت کی ددی دشرعی حکم معلومولو دپاره حاضره سوه ، تردی وخته پوری ددی خاص

مسئلې په حقله په نبي كريم ﷺ باندې څه وحې نه وه نازله سوې، په دې وجه ده ﷺ دمشهور قول مطابق دې ته وفرمايل، مَا اُرِيکِ اِلاّ قَدْ حُرِمْتِ عَلَيه: يعني زما په رايه كې خوته په خپل خاوند حرامه سوې، هغې چې دا واوريدل نو فرياد يې شروع كې، چې زما ځواني تولـه ددې خاوند په خدمت كې تيره سوه، اوس په زوروالي كې ده زما سره دا معامله وكړه، نو زه چيري ولاړه سم؟ زما او زمادبچيانو به ګذاره څنګه وي؟ او په يو روايت كې دي چې حضرت خوله ﷺ داعرض وكې چې، مَا ذَكَرَ طَلاَقًا: يعني زما خاوند دطلاق نوم هم نه دي اخستى، نو بيا طلاق څنګه وسو؟ او په يوه روايت كې دي چې حضرت خوله ﷺ الله ﷻ ته فرياد وكې چې، اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَشْكُـوْا اِلَيْكَ: او په يوه روايت كې داسې دي چې ده ﷺ حضرت خوله ﷺ ته دا وفرمايل، مَا اُمِرْتُ فِيْ شَانِكِ بِشَيْءٍ حَتّٰى اْلاٰنَ: يعني تر اوسه ستا ددې مسئلې په حقله پرما څه حكم نه دى نازل سوى (په دې ټولو روايتونو كې هيڅ تضاد او تعارض نسته ټول اقوال صحيح كيدي سي) په دې دا آيتونه نازل سول (لكه چې داسې په دُرِّ منثور او ابن كثير كې دي)

په دې وجه ددې سورة په ابتدايي ايتونو كې ددې خاص مسئلې كومې ته چې ظهار ويل كيږي، شرعي حكم بيان سو، په كوم كې چې الله ﷻ دحضرت خوله ﷺ فرياد واوريدى او ددې دپاره يې اساني وفرمايله ددې په وجه حق تعالى په قرآن كريم دا مستقل احكام نازل وفرمايل، په دې وجه به اصحابو حضراتو ﷺ ددې لوى احترام كوي يوه ورځ حضرت فاروق اعظم ﷺ ديوى مجمعي سره روان وو دا ښځه حضرت خوله ﷺ مخ ته ورغله ودريده، څه ويل يې غوښتل، حضرت عمر ﷺ په لاره كې ودريدى او ددې خبره يې واوريده، ځينو خلګو ورته وويل چې تا ددې بوډۍ دپاره دومره ډيرخلګ ودرول نوده ﷺ وفرمايل تاسې خبرياست چې داڅوك ده؟ دا هغه ښځه ده چې ددې خبره الله ﷻ تر اوو آسمانونو لوړ اوريدلي ده، زه څوک وم چې ددې خبره به مې نه اوريدله، په خداى قسم دى كه داپه خپله نه واي روانه سوې نوزه به ترماښامه پوري ددې سره دلته ولاړ وم (ابن كثير)

لنډتفسير: بيشكه الله ﷻ دهغه ښځې خبره واوريده چاچې ستاسره دخپل خاوند په معامله كې جګړه كوله (مثلاً داسې يې ويل، مَا ذَكَرَ طَلاَقًا: يعني هغه خو دطلاق صيغه نه ده ذكر كړې بياحرمت څنګه وسو) او (دخپل رنځ اوغم يې) الله ﷻ ته فرياد كوي (مثلاًداسې يې ويل، اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَشْكُـوْا اِلَيْكَ) اوالله ﷻ ستاسې د دواړوخبرى اوريدلې (او) الله ﷻ (خو) هرڅه اوريدونكى هرڅه ليدونكى دى (نودا خبره به يې څنګه نه اوريدله، اوپه قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ سره دالله ﷻ مقصود دځان دپاره سمع ثابتول نه دي، بلكه دښځې تكليف ختمول او ددې عاجزى قبلول دي) په تاسې كې چې كوم خلګ دخپلو بيبيانو سره ظهار كوي (مثلاً داسې وايي، اَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ اُمِّيْ) هغه (بيبياني) د دوى ميندې نه دي د دوى ميندې خوبس هغه دي دكومو څخه چې دوى پيدا دي (په دې وجه په دې الفاظو ويلو سره دا ښځې د دوى ميندې نه جوړيږي چې هميشه حرمت دمور په مثل ثابت سي او يو بل سبب هم ددائمي حرمت په يو دليل سره متحقق سوى نه دى، مثلاً تحريم دنسب، رضاع يا خُسر كيدل اونور، پس ددائمي حرمت نفي وسوه) اوهغه خلګ (كوم

چې بېبيانو ته مېندې وايي) بېشكه يوه نامعقوله او دروغ خبره كوي (په دې وجه ګناه په كې خامخاده) او (كه ددې ګناه نيول وسي ، نو هغه ګناه به معاف سي ځكه چې) يقيناً الله ﷻ معاف كوونكى بخښنى والا دى او (مخ ته ددې ګناه دنيولو دځينو صورتونو په اعتبارسره بيان دى چې) كوم خلګ دخپلو بېبيانو سره اظهار وكى بيا دخپلى ويل سوى خبرى (دمقتضا كوم چې تحريم په وجه دى) تلافى كول غواړي (يعنى دبېبيانو څخه نفع حاصلول غواړي) نودهغوى په ذمه يوغلام يامينځه ازادول دى ، مخكى تردې چې دواړه (ښځه اوخاوند) ديوبل سره خلط كوي (په كوروالى سره يا په اسبابو دكوروالى سره) پردې (دكفارې په حكم كولو) سره تاسى ته نصيحت كول سى (دكفارې څخه علاوه دګناهونو دكفارې دپاره هم دانفع ده چې په دې سره دائنده دپاره تاسى خبردارسى) اوالله ﷻ ته ستاسى دټولو عملونو پوره خبردى (چې دكفارې متعلق داحكامو پوره پرځاى كول كوي اوكه نه ، نو په كفاره كى دوه حكمتونه سول ، يو دګناه معافى دكوم طرف ته چې اشاره ده په ، لَعَفُوٌّ غَفُورٌ كى : دوهم زجر او خبردارول دى ، دكوم چې په تُوعَظُونَ : كى بيان دى ، او دادوهم حكمت هم دكفارې په درو سره وو قسمونو كى دى ، ليكن غلام يامينځه ازادول چې كله دكفارې داقسامو په ذكر كى مقدم دى ، په دې وجه يې دا ددې سره ذكر كى) بيا دچا سره چې (غلام يامينځه) نه وي نو دده په ذمه پرلپسې دوى مياشتى روژې دى مخكى تردې چې دواړه (ښځه ؤخاوند) ديوبل سره خلط وكي ، بياچې دچاڅخه داهم نه سى كيدى نو دده پرذمه شپيتو مسكينانوته خوراك وركول دى (مخ ته ددې حكم دنورو احكامو په شان واجب التصديق كيدل ځكه بيان فرمايي چې ددې حكم مقصد پخوانى رسم او دجاهليت حكم ماتول دى ، په دې وجه اهتمام مناسب سو ، نو ارشاد وسو چې) دا حكم ځكه (بيان سوى) دى چې (ددې حكم سره دمتعلقو مصلحتونو حاصلولو څخه علاوه) په الله ﷻ او رسول ايمان (هم) راوړي (يعنى په دې احكامو كى د دوى تصديق هم وكى چې دايمان په حقله مصلحتونه درته هم حاصل سى) او (مخ ته دزيات تاكيد دپاره ارشاد دى چې) دا دالله ﷻ حدونه دى (چې تړل سوي دى ، يعنى قاعدې دى) او دكافرانو دپاره (كوم چې بالخصوص ددې احكامو تصديق نه كوي) سخت دردناك عذاب به وي (اومطلق عذاب په عمل كى دتاوان اچوونكى دپاره هم كيدى سى او ددې حكم څه تخصيص نسته بلكه) كوم خلګ چې دالله او درسول مخالفت كوي (برابره خبره ده كه په هريوه حكم كى چې يې وكى لكه دمكى كافران) هغوى به (په دنياكى هم) داسى ذليله سى لكه چې تردوى مخكى خلګ ذليل سول (لكه چې په ډيرو غزاګانو كى ددې وقوع وسوه) او (سزا به ولې نه وي ځكه چې) مونږ ښكاره ښكاره احكام (چې صحت يې دايتونو داعجاز څخه ثابت دى) نازل كړي (نو د دوى انكاربه لامحاله موجب دسزاوى اودا سزا خو به په دنياكى هم وي) اوكافرانو لره به (په اخرت كى هم) دذلت عذاب وي (اومخ ته ددې عذاب وخت ښيي چې دا به په هغه ورځ وي) په كومه ورځ چې دا ټوله الله ﷻ دوباره ژوندي كړي بيابه دهغوى ټولو كړي عملونه هغوى ته وښيي (ځكه چې) الله ﷻ هغه محفوظ كړي دي او دغو خلګو هغه هير كړي دي (برابره خبره ده كه حقيقةً يا په اعتبار دبې فكرى اوبې التفاتى) اوالله ﷻ په هرڅه خبردارد دى (برابره خبره ده كه دهغوى عملونه وي اوكه نور څه)

معلومات اومسئلي: قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ الاية : ددی آیتونو دنزول سبب کوم چی لوړ بیان سوی دی ، په هغه کی دا ښوول سوي دي چی دا ښځه دکومی ذکر چی په دی آیت کی دی هغه دحضرت اوس بن الصامت ﷛ ښځه خوله ﷞ بنت ثعلبة ده ، دکومی خاوند چی ددی سره ظهار کړی وو او دا ددی دشکایت کولو دپاره دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضره سوه ، الله ﷻ دی ته دا عزت ورکی چی ددی په جواب کی دا آیتونه نازل سول او په دی کی یی صرف دظهار شرعی حکم او ددی دتکلیف لیری کولو انتظام نه دی فرمایلی ، بلکه ددی دزړه ساتلو دپاره یی دکلام په شروع کی وفرمایل چی مونږ ددغه ښځی خبری اوریدی کوم چی دخپل خاوند په معامله کی ستا سره جګړه کوله ، دمجادلی څخه مراد هغه جګړه ده چی یو وار دجواب ورکولو باوجود خپل تکلیف بار بار بیانوی اوحضورﷺ متوجه کوی اوپه څینو روایتونوکی دا هم دی چی نبی کریم ﷺ کله هغی ته داجواب ورکی چی ستاپه معامله کی پرماباندی دالله ﷻ څه حکم نه دی نازل سوی نودهغی غم خپلی دخولی څخه داووتل چی په تا خوهسي هم دهرشی حکمونه نازلیږی زما په باره کی څه وسوه چی وحی هم بنده سوه؟(قرطبی) اوالله ﷻ ته یی فریادشروع کی ، وَتَشْتَكِيْٓ اِلَى اللّٰهِ : په دی باندی الله ﷻ دا آیتونه نازل وفرمایل حضرت عائشه صدیقه ﷞ فرمایی ، پاك دی هغه ذات دکوم او ریدل چی ټوله اوازونه راګیروی دهریوه اواز اوری زه دغه وخت دنبی کریم ﷺ سره موجوده وم څه وخت چی حضرت خوله ﷞ بنت ثعلبه دخپل خاوند شکایت بیانوي مګر د دومره نژدی والی باوجود ددی څینی خبری مانه وی اوریدلی ، مګر الله ﷻ هغه ټولی واوریدی اووي فرمایل ، قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ (بخاری ، ابن کثیر)

الَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْكُمْ مِّنْ نِّسَآئِهِمْ ، يُظَاهِرُوْنَ : دظهار په زیر دظاء څخه مشتق دی ، کوم چی دښځی په ځان باندي دحرامولو دپاره یوخاص صورت ته ویل کیږی او داسلام دزمانی څخه مخکی رائج اومعروف دی هغه صورت دا دی چی خاوند خپلی ښځی ته دا ووایی ، اَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ اُمِّيْ : یعنی ته په ما داسی حرامه یی لکه زما دمور شا ، په دی موقع کي دشا ذکر شاید په طور دکنایی دی چی اصل مراد خو نس وو مګر ذکر دشا وسو (لکه چی قرطبی یی ذکر کړی دی)

(دظهار تعریف او ددی شرعي حکم)

دشرع په اصطلاح کی دظهار تعریف دا دی چی خپلی ښځی ته دخپلو ابدی محرماتو لکه مور، خور، لور او نورو دیو داسی اندام سره تشبیه ورکړی کوم ته چی کتل دده دپاره جائز نه وی ، دمور شا هم ددی یو مثال دی ، دجاهلیت په زمانه کی به دا لفظ ددائمی حرمت دپاره ویل کیدی اودطلاق ترلفظ به هم زیات سخت ګڼل کیدي، ځکه چی ترطلاق وروسته خو په رجعت یانوی نکاح سره به بیاښځه کیدی سوه ، مګر دظهار په صورت کی دجاهلیت درسم مطابق د دوي په مینځ کي دښځي او خاوند په شکل دپاته کیدو قطعي هیڅ صورت نه وو .

دذکر سوو آیتونو په ذریعه اسلامي شریعت ددي رسم اصلاح په دوه ډوله سره وفرمایله اول خو یی په خپله دظهار دارسم ګناه مقرر کی چی په کومه طریقه سره دښځی څخه جلاوالی اختیارول دی هغه

دطلاق طریقه ده، هغه دی اختیاروی، ظهار دې ددی کار دپاره نه استعمالوی، ځکه چې دا یوه لغوه او دروغ خبره ده چې ښځې ته مور ووایی، قرآن کریم وفرمایل.

مَّا هُنَّ أُمَّهَاتِهِمْ إِنْ أُمَّهَاتُهُمْ إِلَّا اللَّائِي وَلَدْنَهُمْ: یعنی د دوی ددی لغوه خبری په وجه ښځه مور کیدی نه سی، مور خو هغه ده دکومی دنس څخه چې پیدا سوی دی، بیافرمایی.

وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ وَزُورًا: یعنی د دوی دا قول دروغ هم دی چې خلافْ واقع ښځې ته مور وایی او منکر یعنی ګناه هم ده.

دوهمه اصلاح یې دا وفرمایله چې که یو بې عقله جاهل یاددین داحکامو څخه غافله سړی داسې وکی نو په دی لفظ سره ابدی حرمت په اسلامی شریعت کې نه کیږی لیکن دی بالکل ازاد هم نه پریښوول کیږی چې ددا سی لفظ دویلو څخه وروسته دی بیا دښځې سره داول په شان اختلاط کوی او نفع ورڅخه اخلی بلکه په ده یوه جرمانه دکفاری ولګول سوه چې که دی بیاخپلی ښځې ته رجوع کول غواړی او دمخکې په شان بیا دښځې څخه نفع اخستل غواړی نو کفاره دی ادا کړی او دخپلی دی ګناه تلافی دی وکی بغیر دکفاری ادا کولو څخه به ښځه حلاله نه وی په راتلونکی آیت کې ددی بیان دی، آیت دا دی.

وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِن نِّسَائِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا: په لِمَا قَالُوا کې حرف دلام دعن په معنٰی واخستل سو، یعنی دوی دخپلی خبری څخه رجوع کوی او دحضرت ابن عباس ﷺ څخه دیَعُوْدُوْنَ تفسیر په لفظ دیَنْدِمُوْنَ هم منقول دی چې مطلب یې دا دی چې ددی خبری دویلو څخه وروسته هغه په خپله خبره پښیمانه سی او بیا دبی بی سره خلط کول غواړی (مظهري)

ددی آیت څخه دا هم معلومه سوه چې دکفاری وجوب دښځې سره داختلاط دحلالیدو په غرض سره دی ددی څخه بغیرحلال نه دی، په خپله ظهار ددی کفاری علت نه دی، بلکه ظهار کول یوه ګناه ده چې کفاره یې توبه او استغفار دی، دکوم طرف ته چې دایت په آخرکې په، وَإِنَّ اللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ: سره اشاره وکړل سوه، نو که یو سړی ظهار وکی او اوس دښځې سره اختلاط کول نه غواړی نو هیڅ کفاره لازمه نه ده، البته دښځې حق تلفی ناجائز ده که هغه مطالبه کوی نوکفاره به ادا کوی او اختلاط به ورسره کوی او یا به طلاق ورکوی چې ازاده سی، که دا سړی یې په خپله نه کوی نو ښځه به اسلامی حاکم ته رجوع وکی خاوند په دې مجبوره کولی (دفقهی په کتابونوکی داسې مسئلې په تفصیل سره لیکل سوی دی)

فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ الاية: یعنی دظهار کفاره دا ده چې یوغلام یامینځه ازاده کړی که په دی یې قدرت نه وی نو دوی میاشتی پرلپسې روژې دی ونیسی اوکه دځه بیماری یا کمزوری په سبب یې په دومره روژو هم قدرت نه وی نو شپیتو مسکینانو ته دی خوراك ورکړی، یعنی دوه وخته دی په ماړه نس شپیته مسکینان ماړه کړی او دخوراك قائمقام دا هم کیدی سی چې شپیتو مسکینانو ته فی کس دیوی سرسایي په مقدار غنم یاددی قیمت ورکړی، دسرسایي مقدار زموږ دموجوده وزن په اعتبار سره پاؤ کم دوه سیره غنم دی، ددی قیمت هم ورکول کیږي (دظهار متعلق احکام او ددی دکفاری مسئلې په

تفصیل سره دفقهی په کتابونو کی کتلی سی)
په حدیث کی دی چی دحضرت خوله ﷺ بنت ثعلبه په فریاد چی هرکله ذکر سوی آیتونه نازل سول او دظهار دکفاری احکام په کی را غلل او دخاوند ددائمی مفارقت او حرمت څخه دمحفوظ کیدو لاره را وتله نو نبی کریم ﷺ ددی خاوند را وغوښتي نووي لیدی چی په سترگو کمزوری بوډا سړی دی حضور ﷺ ورته نازل سوی آیتونه او دکفاری حکم واوروي چی یو غلام یامینځه ازاده کړه هغه وویل زمادومره طاقت نسته چی غلام واخلم او ازاد یی کړم ، ده ﷺ ورته وفرمایل چی بیا دوی میاشتی پرلپسي روژی ونیسه ، هغه وویل چی قسم دی په هغه ذات چی ته یی برحق رسول رالیږلی یی ، زما حالت داسی دی چی که دورځی دوه دری واره خوراك ونه کړم نو زما بیا بالکل نظر نه وي ده ﷺ ورته وفرمایل چی بیاشپیتو تنو مسکینانو ته خوراك ورکړه ، ده عرض وکی چی دا هم زماپه قدرت کی نسته ، بغیر ددی څخه چی ته زما څه مدد وکی ، ده ﷺ هغه ته څه غله ورکړه ، بیا نورو خلگو څه غله جمع کړه ، دغه ډول دشپیتو تنو مسکینانو دفطری مقدار یی ورکی ، کفاره ادا سوه (ابن کثیر)

ذٰلِكَ لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ : په دی آیت کی یی لِتُؤْمِنُوْا وفرمایل اومراد دایمان څخه په شریعت اواحکاموعمل کول دی اوبیا فرمایی چی داکفاره اونوراحکام دالله ﷻ مقررکړی حدونه دی ، ددی څخه تجاوزکول حرام دی ، اشاره دی طرف ته ده چی اسلام په نکاح طلاق ، ظهار او نورو ټولو معاملو کی دجاهلیت رسمونه ختم کړل او ددی په ځای یی دمعتدلو اوصحیح طریقو تعلیم ورکو. تاسی په دی قائم اوسی اوکوم خلگ چی ددی شرعی حکمو څخه منکر اوکافر دی هغوی ته به دردناکه سزا حاصلیږي.

اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ كُبِتُوْا كَمَا كُبِتَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ : په تیرو آیتونو کی دحدود الله اواسلامی شریعت داحکامو دپابندی تاکید وو په دی کی هغو خلگو ته وعده ده کوم چی دحدود الله څخه مخالف او منکر دی ، په دی وعده کی د دوی دپاره په دنیا کی هم آخر ذلت او خواری او د دوی دکفریه عزائمو دناکامی بیان دی ، او په اخرت کی دعذاب دردناك ، اَحْصٰهُ اللّٰهُ وَنَسُوْهُ : کی په دی خبرداری دي چی غافل انسان په دنیاکی دفسق اوفجورکارونه کوی کوم چی ده ته یادهم نه پاته کیږی اودهیرولو سبب یی په اصل کی دا وی چی دي هغه کارته څه اهمیت نه ورکوی ، په دی وجه دذهن څخه ووزی داټول دالله ﷻ سره لیکل سوی دی ده وکړل او هیر یی کړل مگرالله ﷻ ته ټول یاددی اوپه ټولوبه محاسبه اوعذاب وی.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ ۗ مَا يَكُوْنُ مِنْ نَّجْوٰى ثَلٰثَةٍ

آیاته نه وینی چی الله ﷻ ته معلوم دی څه چی په آسمانونوکی دی اوڅه چی په مځکه کی چیری نه وی مشوره د درو کسانو

اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ اِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَآ اَدْنٰى

چی هغه په کی څلورم نه وی ، او نه دپنځو کوم ځای چی یی هغه شپږم نه وی او نه ددی څخه کم

مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْثَرَ اِلَّا هُوَ مَعَهُمْ اَيْنَ مَا كَانُوْا ثُمَّ

او نه زيات مگر هغه ورسره وی کوم خای چی دوی وی بیا به

يُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ

خبر کړی دوی په هغه چی دوی وکړل په ورځ دقیامت ، بیشکه الله ﷻ په هرڅه باندی

عَلِيْمٌ ۝٧ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ نُهُوْا عَنِ النَّجْوٰى ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ

پوهه دی ، ته نه گوری هغو خلقو ته چی منع سول د پټو جرگو څخه بیا هغه کوی

لِمَا نُهُوْا عَنْهُ وَيَتَنٰجَوْنَ بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ

دکومو څخه چی منع کړل سوی وه او په غوږ کی خبری کوی دگناه او زیاتی او نافرمانی

الرَّسُوْلِ وَاِذَا جَآءُوْكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللّٰهُ

درسول او کله چی راسی تا ته دعا کوی درته هغه دعا کومه چی تاته الله نه ده کړی ،

وَيَقُوْلُوْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ لَوْلَا يُعَذِّبُنَا اللّٰهُ بِمَا نَقُوْلُ حَسْبُهُمْ

او وایی په خپلو زړونو کی ولی نه عذابوی الله مونږ په هغه چی مونږ یی وایو کافی دی دوی

جَهَنَّمُ يَصْلَوْنَهَا فَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝٨ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

لره دوږخ ، داخل به سی ورته ، نو بدخای دی ، ای ایماندارو !

اِذَا تَنَاجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَاجَوْا بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ

کله چی خبره کوی په غوږ کی نو مه کوی خبره دگناه او زیاتی او دنافرمانی

الرَّسُوْلِ وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ وَالتَّقْوٰى وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اِلَيْهِ

درسول او خبره کوی دنیکی او پرهیزگاری ، او بیره کوی دالله څخه کوم ته چی ستاسی

تُحْشَرُوْنَ ۝٩ اِنَّمَا النَّجْوٰى مِنَ الشَّيْطٰنِ لِيَحْزُنَ الَّذِيْنَ

جمع کیدل دی ، سکه د غوږ خبره دشیطان کار دی چی خفه کړی

اٰمَنُوْا وَلَيْسَ بِضَآرِّهِمْ شَيْـًٔا اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَعَلَى اللّٰهِ

ایماندار ، او نه دی ضرر رسوونکی هغو ته څه شی مګر په اذن دالله ، او په الله باندی په کار دی

فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۰﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا قِيْلَ لَكُمْ

چی توکل کوی ایمانداران ، ای ایماندارو ! هر کله چی تاسی ته وویل سی

تَفَسَّحُوْا فِى الْمَجٰلِسِ فَافْسَحُوْا يَفْسَحِ اللّٰهُ لَكُمْ ۚ وَاِذَا قِيْلَ

چی تنګ کښینی په مجلسونو کی نو تاسی ځای خلاص کی الله ﷻ به فراخی راولی په تاسی ، اوهرکله چی درته وویل سی

انْشُزُوْا فَانْشُزُوْا يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ وَالَّذِيْنَ

چی پورته سی نو پورته سی پورته به کړی الله هغه چی ایمان لری په تاسی او هغه

اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۱﴾ يٰۤاَيُّهَا

چی علم ورکړل سوی دی درجی او الله ﷻ خبر دی په هغه چی تاسی یی کوی ، ای

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُوْلَ فَقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَیْ

ایماندارو ! هر کله چی تاسی په غوږ کی خبره کوی رسول ته نو مخکی دخبری کولو څخه

نَجْوٰىكُمْ صَدَقَةً ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَاَطْهَرُ ؕ فَاِنْ لَّمْ

صدقه ورکوی ، دا ښه ده ستاسی په حق کی اودیره پاکه ، نو که نه کی پیدا

تَجِدُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲﴾ ءَاَشْفَقْتُمْ اَنْ تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَیْ

نو الله ﷻ بخښنی والا مهربانه دی ، آیا تاسی وبیریداست چی مخکی ولیږی

نَجْوٰىكُمْ صَدَقٰتٍ ؕ فَاِذْ لَمْ تَفْعَلُوْا وَتَابَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ

دغوږ ترخبری څه خیرات ، نو هر کله چی تاسی ونه کی اوتوبه قبوله کړه الله ستاسی

فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ

نو اوس قائم ساتی لمونځ او ورکوی زکاة اوحکم منی دالله او دهغه درسول ﷺ ،

وَاللّٰهُ خَبِيْرٌ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳﴾

او الله خبر دی په هغه څه چی تاسی یی کوی .

شانِ نزول : ددی آیتونو دنزول اسباب څو واقعات دی ، اول په یهودو اومسلمانانو کی صلح وه ، لیکن یهودو چی به کله مسلمانان لیدل نو د دوی دخیالاتو پریشانه کولو دپاره به یی په خپل مینځ کی یو بل ته په غوږکی خبری کول شروع کړل هغه مسلمان به داسی وګڼل چی زما خلاف څه سازش کوی حضور ﷺ یهودودی څخه منع کړل مګرهغوی منع نه سول په دی دا آیت ، اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ نُهُوْا عَنِ النَّجْوٰى الخ نازل سو دوهم دغه ډول به منافقانو هم په غوږ کی خبری کولی ، په دی باندی آیت ، اِذَا تَنَاجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَاجَوْا الخ او آیت : اِنَّمَا النَّجْوٰى الخ نازل سو .

دریم یهود چی به دده ﷺ حضور ته راتلل نو دشرارت دپاره به یی په ځای دَالسَّلَامُ عَلَيْكُمْ ، اَلسَّامُ عَلَيْكُمْ ویل ، دسام معنٰی مرګ دی .

څلورم منافقانو به هم دغه شان ویل په دی دواړو واقعو باندی آیت ، وَاِذَا جَآءُوْكَ حَيَّوْكَ الخ نازل سو ، او ابن کثیر دامام احمد په روایت سره دا هم نقل کړي ده چی یهودو به دغه ډول سلام کوي او پټ به یی ویل لَوْلَا يُعَذِّبُنَا اللّٰهُ بِمَا نَقُوْلُ الخ : یعنی که مونږ دا ګناه کړي ده نو په مونږ عذاب ولی نه راځی .

پنځم یو وار دی ﷺ په صفّه مسجدکی تشریف فرماؤ اوپه مجلس کی ګڼه زیاته وه ، یوڅو اصحاب ﷺ کوم چی په غزوه بدرکی شریك وه راغلل نو دوی ته هیڅ ځای نه حاصلیدی اونه دمجلس خلګو داسی وکړل چی یو بل ته نژدې سی هغوی ته ځای وسی، نوده ﷺ چی وکتل ځینو خلګو ته یی دمجلس څخه دپورته کیدو وفرمایل چی الله ﷻ دی په هغه سړی رحم وکی کوم چی خپل ورور ته ځای پراخ کړی نو خلګو ځای پراخ کی ، په دی دا آیت ، يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا قِيْلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوْا الخ نازل سو «رواه ابن کثیر عن ابن ابی حاتم» دروایت دمجموعه اجزاوو څخه معلومیږی چی اول ده ﷺ دځای پراخولو ویلی وی ځینو دی ځای فراخه کړی وی خو هغه به کافی نه وو او ځینودی ځای نه وی فراخه کړی ، ده ﷺ به دمدرسو دطالبانو په شان تادیبًا هغوی ته دپورته کیدو دپاره فرمایلی وی کومه چی منافقانو ته ګرانه سوه شپږم ځینی غنیان به دحضورﷺ په خدمت کی حاضر سول تر ډیر وخته پوری به یی دده ﷺ سره په غوږکی خبری کولی اوفقیرانو ته به دفائدی اخیستو وخت کم حاصلیدی ، دوی ته ددغو خلګو تر ډیر وخته پوری کښینستل او په غوږکی خبری کول ګران وو ، په دی داآیت ، اِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُوْلَ الخ نازل سو ، په فتح البیان کی یی دزید بن اسلم ﷺ څخه بغیر دسند څخه نقل کړی دی چی یهودو او منافقانو به بغیر دضرورت څخه دده ﷺ سره په غوږکی خبری کولی،پرمسلمانانو به په دی خیال سره چی شاید څه نقصانی خبره کوی ، ګرانه به په تیریدله ، په دی باندی هغوی منع سول چی ذکر یی په آیت ، نُهُوْا عَنِ النَّجْوٰى کی دی ، مګر کله چی دوی منع نه سول نو دا حکم نازل سو، اِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُوْلَ فَقَدِّمُوْا : ددی نتیجه دا سوه

چې اهل باطل دغوږ دخبرې څخه منع سول ،ځکه چې د مال د محبت په وجه صدقه په هغوی ګرانه وه.
اوو م کله چې د نبی کریم ﷺ سره دغوږ ترخبرې کولو مخکې دصدقې ورکولو حکم وسو نو ډېر خلګ دضروري خبرې کولو څخه هم منع سول ، په دې باندې آیت ، ءَاَشْفَقْتُمْ نازل سو، حضرت حکیم الامت فرمايي چې دصدقې ورکولو په حکم کې مخکې هم غریبانو ته رخصت ورکول سوی وو لیکن ځینې خلق داسې وه چې نه بالکل ناداره وو، او نه پوره مالداره وه، که څه هم صاحب نصاب وه، غالبًا داسې خلګو ته به تنګي پيښه سوې وه چې دتنګدستۍ په وجه خوخرڅ کول ورته ګران وه او په خپله ناداري کې یې شبهه وه ، په دې وجه یې نه صدقه ورکولې سوه اونه یې خپل ځانونه محل درخصت ګڼلی سول او په غوږ کې خبره کول خوڅه عبادت نه وو چې پرېښوول یې دملامتیا سبب سې په دې وجه منع سول ‹د اټول روایتونه په درمنثور کې دي› په دې اسبابو دنزول سره به اوس دتفسیر په پوهیدو کې اساني راسی ‹بيان القرآن›
تفسیر: آیا تا دی ته ونه کتل ‹مطلب نوروته اورول دي کوم چې دمنع سوي دغوږ دخبرې څخه نه منع کیدل› چې الله ﷻ په هر څه پوه دی کوم چې په آسمانونو کې دي او کوم چې په مځکه کې دي ‹او په دې کې د دوی دغوږ خبرې هم داخلې دي نو› ځوك په پټو خبرو کې دری کسان داسې نه وي په کوموکې چې څلورم هغه ‹یعني الله ﷻ› نه وي ، اونه ‹د› پنځو ‹کسانو پټې خبرې› وي په کوموکې چې شپږم هغه نه وي او نه ددې څخه په کوموکې ‹وي لکه په دوو یا څلورو کسانو کې› او نه ددې څخه په زیاتو کې ‹وي لکه په شپږو اوو کسانو کې› مګر هغه ‹په هرحالت کې› ددغو کسانو سره وي ‹برابره خبره ده که› دغه خلګ هرځای چې وي بیا دوی ‹ټولو› ته به دقیامت په ورځ د دوی کړې کارونه وښيي بیشکه الله ﷻ ته دهرې خبرې پوره خبر دی ‹ددې آیت مضمون په کلي عنوان سره دراتلونکو مضامینو جزئیه وو سریزه ده ، یعنې دا مسلمانانو ته دازار رسولو دپاره په باطله پټې خبرې کوونکي دخدای څخه نه بیریږي چې خدای دهر څه څخه خبر دی او دوی ته به سزا ورکي ، مخ ته دغه جز یې مضامین دي یعني› آیا تا هغو خلګو ته نه دي کتلي کوم چې دپټو خبرو کولو څخه منع سوي وه ‹مګر› بیا ‹هم› هغوی هغه کار کوي دکوم څخه چې هغوی منع کړې سوي وه او دګناه اوظلم او درسول دنافرماني پټې خبرې کوي ‹یعني داسې پټې خبرې دکومو څخه چې دوی منع سوي وه او په دې وجه په کې ګناه هم ده او دمسلمانانو دغمجن کولو په وجه زیاتې یعنې ظلم هم دی او په دې وجه چې رسول الله ﷺ ورڅخه منع کړې وه ، درسول نافرماني هم ده ، لکه چې په اوله او دوهمه واقعه کې یې بیان وسو› او هغه خلګ ‹داسې دي چې› کله ستاخواته راسي نو تاته په داسې لفظ سره سلام کوي په کوم سره چې الله ﷻ تاته سلام نه دی کړی ‹یعنې دالله ﷻ الفاظ خو دا دي ، سَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ * سَلَامٌ عَلَى عِبَادِهِ الَّذِينَ اصْطَفَى * صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا: او دوی وايي اَلسَّامُ عَلَيْكَ› او په خپل زړه کې ‹یاپه خپل مینځ کې› وايي چې ‹که دا پیغمبر دی نو› الله ﷻ مونږ لره زمونږ په دې وینا ‹په کومه کې چې سراسر د دوی بې ادبي ده› سزا ‹فورًا› ولې نه را کوي ‹لکه چې په دریمه او څلورمه واقعه کې تیرسول ، مخ ته د دوی په دې فعل وعید او ددې قول جواب دی چې دژرعذاب دځیني

حکمتونو په سبب دنه راتلو څخه مطلقًا دعذاب نه ورکول نه لازمیږی) دهغوی (دسزا) دپاره جهنم کافی دی په دی کی به دا خلگ (ضرور) دا خلیږی نو هغه بده تم ځاي ده (مخ ته مؤمنانوته خطاب دی په کوم چی دمنافقانو سره دمشابهت کولو څخه دوی هم منع سول اومنافقانوته یی هم اورول منظوردی چی تاسی خو دعوٰی دایمان کوی نو په مقتضاء دایمان عمل وکی نو ارشاد دی چی) ای ایماندارو! کله چی تاسی (په یو ضرورت سره) پټی دغوږ خبری کوی نو دگناه اوزیاتی اودرسول دنافرمانی پټی خبری مه کوی (تفسیر ددی الفاظو اوس تیرسوی دی) او دفائدی او پرهیزگاری دخبرو څخه په غوږکی خبری کوی (برّ، عدوان، ددی مقابل دی، ددی څخه مراد هغه نفع ده چی نوروته ورسیږی اوتقوٰی، داثم او درسول دنافرمانی مقابل دی) اوداللہ ﷻ څخه بیره کوی کوم ته چی به تاسی ټول جمع سی داسی دغوږخبره محض دشیطان دطرف څخه (یعنی دده دلمس څخه) ده چی مسلمانان په رنج اوتکلیف کی واچوی (لکه چی بیان یی په اوله واقعه کی سوی دی) او (مخ ته دغو مسلمانانو ته تسلی ده چی غمجن کیږی مه څکه چی) هغه (شیطان) بغیر دخدای دارادی څخه دوی (مسلمانانو) ته ضرر نه سی رسولی (مطلب دا چی که بالفرض دوی دشیطان په لمسون ستاسی خلاف څه تدبیرونه کوی بیاهم دغه ضرر بغیر دمشیت ازلیه څخه تاسی ته نه سی رسیدی ، بیاولی فکر کوی) او مسلمانانو ته (په هرکارکی) پرالله ﷻ توکل کول په کار دی (مخ ته دپنځمی واقعی متعلق حکم دی یعنی مجلس ته چی ځیني خلگ وروسته راسی نو دهغوی دپاره دځای پراخولوحکم دی چی) ای ایماندارو! کله چی تاسی ته وویل سی (یعنی نبی کریم ﷺ وفرمایی یا اولو الامر یادواجب الاطاعت خلگو څخه څوك ووایی) چی په مجلس کی ځای پریږدی (چی راتلونکو ته په کی هم ځای حاصل سی) نو تاسی ځای پراخ کړی (اوراتلونکو لره ځای ورکوی) الله ﷻ به تاسی ته (په جنت کی) پراخ ځای درکړی اوکله چی (په یو ضرورت سره) داسی وویل سی چی (دمجلس څخه) پورته سی نو پورته کیږی (برابره خبره ده که دپورته کیدو درته په دی غرض سره وویل سی چی راتلونکو ته ځای پراخ سی اوکه په دی غرض سره وویل سی چی دمجلس صدرته دغه وخت په یو مصلحت سره دخاص مشوری یابل څه ضرورت ارام یاعبادت اونور دپاره دیوازی کیدو ضرورت وی کوم چی بغیر دتنهایی څخه مطلقًا نه سی حاصلیدی یاکاملیدی نه سی ، نو دمجلس دصدر په حکم سره پاڅیدل په کار دی او دا حکم دغیر درسول الله ﷺ دپاره هم عام دی ، لکه چی داسی په روح کی دی ، نو دمجلس مشر ته دضرورت په وخت کی ددی اجازت دی چی چاته دپاڅیدو دپاره ووایي البته راتلونکی ته نه دی په کار چی یو څوك ولاړ کی او دهغه په ځای کښیني لکه چی په حدیث کی دی (رواه الشیخان) غرض دا چی حکم دا ورکول سوچی دمجلس دصدرپه وینا پورته کیږی) الله ﷻ به (ددی حکم په منلو سره) په تاسی کی دایماندارو او (په ایمانداروکی) دهغوخلگو (نورزیات) چاته چی (ددین) علم ورکول سوی دی (داخرت) درجی لوړی کړی (یعنی ددی حکم دپه ځای کوونکو دری قسمونه دی یوکفارکوم چی یی دڅه دنیوی مصلحت په وجه ومنی لکه منافقان دوی خو دلفظ دَمِنكُمْ په بناسره ددی وعدی څخه

خارج دی ، دوهم ایماندار کوم چی صاحب علم نه وی د دوی دپاره محض د درجی لوړیدل ، دریم هغه ایماندارکوم چی اهل علم هم وی چی کله په وجه دعلم اومعرفت د دوی دعمل منشاء زیاته بیره زیات خلوص دی په کوم سره چی دعمل ثواب زیاتیږی ، د دوی دپاره زیات لوړیدل د درجو دی) اوالله ﷻ ته ستاسی دټولو عملونو پوره خبردی (چی دچاعمل دایمان سره دی، دچاعمل بغیر دایمان څخه دی، بیاپه دی کی دچاپه عمل کی کوم خلوص دی اودچاپه عمل کی زیات خلوص دی ، په دی وجه دهریوه په جزا اوثمره کی تفاوت کښیښوول سو ، مخ ته دشپږمی واقعی په حقله حکم دی کومه چی داولی او دوهمی واقعی سره مربوطه ده یعنی) ای ایماندارو! کله چی تاسی دنبی کریم ﷺ دغوږخبره کوی (یعنی اراده یی وکی) نو دخپلی دی غوږ دخبری څخه مخکی څه خیرات (مسکینانوته) ورکوی (چی مقدار یی په آیت کی منصوص نه دی او داحادیثو په روایتونو کی مختلف روایتونه راغلی دی ، ظاهرًا مقدار غیرمعین معلومیږی لیکن معتدبه کیدل یی ضروری دی) داستاسی دپاره (دثواب حاصلولو په واسطه) ښه ده اود (ګناهونو څخه د) پاکیدو ښه ذریعه ده (څکه چی په طاعت سره دګناهونو کفاره کیږی ، دا مصلحت دمالدارو مومنانو په اعتبار سره دی او دفقیرانو مومنانو په اعتبار سره دا دي چی دوی ته مالی نفع ورسیږی لکه چی په لفظ دصدقی سره معلومیږی څکه چی دصدقی مصارف فقراء دی او دنبی کریم ﷺ په اعتبار سره دا ده چی په دی کی دده ﷺ دشان بلندی ده او دمنافقانو دغوږ په خبره سره چی به ده ﷺ ته کوم تکلیف کیدی دهغه څخه نجات اوارام دی څکه چی هغوی ته خو دغوږ دخبری ضرورت دسره وو نه اوبی ضرورته محض ددی دپاره مال خرڅ کول دوی ته ګران وو اوغالبًا په دی صدقه کی به حکم دا وو چی دټولو په مخکی دی صدقه کوی چی صدقه نه کوونکی دوکه ونه کړی مخ ته فرمایی چی دا حکم خو قدرت په حالت کی دی) بیاکه تاسی ته دصدقی (ورکولو) قدرت نه وی (اوضرورت پیښ سی دغوږ خبری ته) نو الله ﷻ غفور رحیم دی (په دی صورت کی به هغه تاسی معاف کی، ددی څخه په ظاهره معلومیږی چی دا حکم دصدقی واجب وو ، مګر دناداری صورت ورڅخه مستثنی وو ، مخ ته داتمی واقعی په حقله کومه چی دشپږمی واقعی سره تړل سوي ده ارشاد دی چی) آیا تاسی (یعنی په تاسی کی څینی دکومو بیان چی تر اومی واقعی لاندي سوی دی) دخپل غوږ ترخبری مخکی په خیرات ورکولو سره بیریدی نو (خیر) کله چی تاسی (دا) نه سی کولی اوالله ﷻ ستاسی په حال عنایت وفرمایي (چی بالکل یی دا منسوخ کی او معاف یی کی چی ددی حکمت ظاهر دی چی دکوم مصلحت دپاره دا حکم واجب سوی وو هغه مصلحت حاصل سو څکه چی مصلحت سدباب وو کوم چی وروسته تر نسخ هم باقی دی چی خلګ احتیاط کوی ، غرض دا چي ارشاد دی چی کله الله ﷻ دا منسوخ کی) نو تاسی (دنورو عبادتونو پابند اوسی یعنی) دلمونځ پابندی کوی اوزکوٰة ورکوی او دالله ﷻ او درسول خبره منی (مطلب دا دی چی تردی نسخ وروسته ستاسی دقرب اوقبول دنجات دپاره پرباقی احکامو باندی استقامت اوهمیشګی کافی ده) اوالله ﷻ ستاسی دټولو عملونو (او ددی دباطنی او ظاهری حالت) څخه پوره خبر دی .

معلومات اومسئلي : ذکر سوی آیتونه که څه هم دخاصو واقعاتو په بنا نازل سوی دی ، چې ذکر یې لوړ په شان نزول کې راغلی دی ، لیکن دا ظاهره ده چې سبب دنزول هر څه چې وی دقرآن هدایتونه عام وی ، په دی کې عقیدی عبادتونه او معاملات او دمعاشرت په حقله ټول احکام وی ، په دی آیتونو کې هم په خپل مینځ کې دغوږ دخبرو او مشورو په حقله دغسې څو هدایتونه دی .

(دپټو مشورو په حقله یو هدایت)

پټه مشوره په عام طورسره په مخصوصو راز دارو دوستانو کې وی ، په کومو چې دا اطمینان کول کیږی چې دارازبه په چانه ظاهر وی ، په دی وجه په داسې موقع باندی داسې پلانونه هم جوړول کیږی په کومو کې چې پر چاظلم کول کیږی ، دیوچا قتلول وی ، دچا په ملك قبضه کول وی اوداسې نور ، حق تعالی په دی آیتونوکی ارشاد وفرمایې چې دالله ﷺ علم په ټولوکائناتو حاوی دی ، تاسې که یوځای هر څومره پټ سې اومشوره کوی ، الله ﷺ دخپل علم سمع اوبصر په اعتبار سره ستاسې سره موجود وی اوستاسې هره خبره وینی ، اوری اوپیژنی ، که په دی کې څه ګناه وکې نو دسزا څخه به خلاص نه سې ، په دی کې ښوول خو دا دی چې تاسې که هرڅومره کم یازیات سړیان په مشوره او دغوږ په خبره کې شریك یاست ، حق تعالی په دوی کې موجود وی ، دمثال په طور دوه شمیره ښوول سوی دی ، دری اوپنځه ، یعنی که تاسې دری کسان مشوره کوی نو پوه سې چې څلورم الله ﷺ هلته موجود دی اوکه پنځه کسان مشوره کوی نو پوه سې چې شپږم حق تعالی موجود دی د دری اوپنځه په عدد کې شاید دی طرف ته اشاره وی چې دجماعت دپاره دالله ﷺ په نزد طاق عدد خوښ دی د ، مَايَكُونُ مِنْ نَّجْوٰى ثَلٰثَةٍ الاية، هم دا مطلب دی.

(دغوږ دخبری او دمشوری متعلق یو هدایت)

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ نُهُوا عَنِ النَّجْوَى : دشان نزول په واقعه کې ښوول سوی دی چې په کومه زمانه کې دیهودو سره درسول الله ﷺ دصلح وعده سوی وه ، هغه وخت به هغوی په ډاګه دمسلمانانو خلاف څه کار نه سوای کولی ، مګردا سلام او مسلمانانو خلاف چې د دوی زړونه دکوم بغض څخه ډك وه ، ددغه بغض دایستلو دپاره هغوی یوه دا طریقه اختیار کړی وه چې کله به یې په صحابه کرامو ﷺ کې څوك خپل طرف ته راتلونکی لیدی، نو په خپل مینځ کې به یې دغوږ دخبرو کولو او مشوری کولو شکل جوړ وي او دراتلونکی مسلمان طرف ته به یې څه اشاری کولی په دی سره به دهغه دا خیال پیداکیدی چې زما خلاف څه سازش کوی اوپه دی به غمجن او پریشانه سو، رسول الله ﷺ هغوی دداسې پټو خبرو کولو څخه منع کړل ، په نُهُوْا عَنِ النَّجْوٰى : کې ددی ممانعت بیان دی .

په دی ممانعت سره دا حکم دمسلمانانو دپاره هم را ووتی چې مسلمانان دی هم په خپل مینځ کې څه پټی خبری اومشوره داسې نه کوی ، په کومو سره چې بل مسلمان ته ازار رسیږی .

په بخاری اومسلم او نوروکی دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلی دی.

اِذَا كُنْتُمْ ثَلَاثَةً فَلَا يَتَنَاجَا رَجُلَانِ دُوْنَ الْاٰخَرِ حَتّٰى يَخْتَلِطُوْا بِالنَّاسِ فَاِنَّ ذٰلِكَ يُحْزِنُهُ .

یعنی کوم ځای چې تاسې درې کسان جمع یاست نو دوه کسان دې د دریم څخه علاوه ځان ته جرګه اوپټه خبره نه کوي ، ترڅو پورې چې نورخلګ درسره یوځای نه سي ، ځکه چې په دې سره دهغه زړه ماتیږي دغیرت او اجنبیت احساس ورسره پیدا کیږي او ممکنه ده چې داسې شبهات ورسره پیدا سي چې شاید دا دواړه زما خلاف څه خبره کوي چې زما څخه یې پټوي (مظهري)

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا تَنَاجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَاجَوْا بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُوْلِ وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ وَالتَّقْوٰى : په تیرو ایتونو کې یې کفار په ناجائزو پټو خبرو کولو باندې خبردار کړي وه ، په دې آیت کې مسلمانانو ته هدایت دی چې په خپلو خبرو اومشورو کې ددې خیال کوي چې الله ﷻ زمونږ دټولو حالاتو اوخبرو اترو څخه خبردار دی او دهغه په حاضرئ سره دا کوشش کوي چې ستاسې په مشورو اوپټو خبرو کې څه خبره فی نفسه دګناه یا په نورو دظلم کولو یادڅه خلاف شرع کار په کې نه وي بلکه کله چې هم په خپل مینځ کې مشوره کوي ، دنیکو کارونو دپاره یې کوي .

(دکفارو په شرارت هم دنرمي اوشریفانه مدافعت هدایت)

دتیرو آیتونو په ضمن کې دیهودو او دمنافقانو یو شرارت دا هم ذکر سوی دی چې هغوی به کله دنبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضریدل نو دالسَّلَامُ عَلَيْكُمْ پرځای به یې اَلسَّامُ عَلَيْكُمْ ویل دسام معنیٰ مرګ دی او چې کله لفظونه یې تقریبًا یو ډول وه نو دمسلمانانو دې طرف ته فکر نه تلی یوه ورځ داسې وسوه ، حضرت عائشه صدیقه ﷛ هم واوریدل ، کله چې هغوی رسول الله ﷺ ته اَلسَّامُ عَلَيْكُمْ وویل نوحضرت عائشه صدیقه ﷛ جواب ورکی اَلسَّامُ عَلَيْكُمْ وَلَعَنَكُمُ اللّٰهُ وَغَضِبَ عَلَيْكُمْ : یعنی هلاکت دې پرتاسې وي او دخدای لعنت او غضب (دې وي درباندي) نبی کریم ﷺ حضرت صدیقه ﷛ دداسې ویلو څخه منع کړه اووې فرمایل چې الله ﷻ فحش خبرې نه خوښوي ، تا ته دسختي او زورنې څخه ځان ساتل اونرمي اختیارول په کار دي ، صدیقه ﷛ عرض وکی چې یارسول الله ! آیا تاسې وانه وریدل چې دغوخلګو تاسې ته څه وویل ، ده ﷺ وفرمایل چې هو! وامې وریدل ، ددغه بدله مې هم واخسته ، چې ما په جواب کې وویل ، وَعَلَيْكُمْ یعنی په تاسې دې هلاکت وي ، اودا ظاهره ده چې دهغو دعا نه قبلیږي او زما دعا به قبوله سي په دې وجه ددغو دشرارت بدله ورکول سوه (بخاري ، مظهري)

(دمجلس ځیني آداب)

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قِيْلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوْا فِي الْمَجٰلِسِ الاية : داحکم دعامو مجلسونو دی کوم ځای چې دمسلمانانو اجتماع وي چې کله مجلس ته څه خلګ وروسته راسي ، نومسلمانان دې دهغوی دپاره دځای ورکولو کوشش کوي اوراتول دې کښیني ، په داسې کولو سره الله ﷻ وعده فرمایلې ده چې د دوی دپاره به الله ﷻ فراخي پیدا کي ، دا فراخي په اخرت کې خو ظاهره ده څه لیرې نه ده چې په دنیوی معشیت کې ورته هم دا فراخي حاصله سي ، په دې آیت کې دوهم حکم دمجلس دادابو په حقله دا دی چې ، وَاِذَا قِيْلَ لَكُمُ انْشُزُوْا الاية : یعنی کله چې په تاسې کې چاته وویل سي چې دمجلس څخه پورته سي نو پورته کیږي ، په

دی آیت کی لفظ دقیل مجهول استعمال سوی دی ، ددی ذکرنسته چی داویونکی څوك وی ، مگر په صحیح احادیثو سره معلومیږی چی په خپله راتلونکی سړی لره دځان دپاره دځای کولو په وجه یوڅوک دهغه دځای څخه پورته کول جائز نه دی .

په صحیحینو اومسند احمد کي دحضرت عبدالله ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی لَایُقِیمُ الرَّجُلُ الرَّجُلَ مِنْ مَجْلِسِهٖ فَیَجْلِسُ فِیهِ وَلٰکِنْ تَوَسَّعُوْا :

یعنی یو سړی دی بل سړی دهغه دځای څخه نه پورته کوی چی پرځای یی دی کښینی بلکه په مجلس کی پراخوالی پیداکوی راتلونکی ته ځای ورکوی (ابن کثیر)

ددی څخه معلومه سوه چی چاته دخپل ځاي څخه دپورته کیدو دپاره ویل راتلونکی لره خو جائز نه دی ، په دی وجه ظاهره دا ده چی ددی ویونکی میرمجلس یادمجلس انتظام کوونکی افرادکیدی سی ، نو مطلب دایت دا سو چی که دمجلس صدر یادده دطرف څخه مقرر کړی منتظمین چاته دخپل ځای څخه دپورته کیدو دپاره ووایی نودمجلس ادب دادی چی دده سره دی مزاحمت نه کوی اودخپل ځای څخه دی پورته کیږی ځکه چی ځیني وخت په خپله صاحب مجلس په څه ضرورت سره خلوت اختیارول غواړی یا دځینو مخصوصو خلگو سره څه درازخبره کول غواړی یا دوروسته راتلونکو خلگو دپاره ددی څخه ماسوا بل څه انتظام نه سی کیدی چی ځیني بی تکلفه خلق دمجلس څخه پورته کړی دکوموپه حقله چی معلومه وی چی دمجلس څخه په پورته کیدوکی د دوی څه نقصان نسته ، دوی به بل وخت استفاده وکړل سی .

البته صاحب مجلس یادمجلس منتظمینو ته دالازمه ده چی طریقه داسی اختیار کړی چی پاڅیدونکی خپل سپکوالی محسوس نه کړی او آزار ورته ونه رسیږی .

اوپه کومه واقعه کی چی دایت نازل سوی دی چی نبی کریم ﷺ دصفه په مسجدکی تشریف فرماوو ، دا ځای دحاضرینو څخه ډك سو وروسته ځینی مشران صحابه کرام ﷺ کوم چی دبدر دشرکت په وجه زیات قابل احترام وه ، هغوی راغلل اوځای نه وو نو دوی ولاړ وه ، دغه وخت نبی کریم ﷺ اول خو عام حکم دا وکی چی لږ وښوری اوپه مجلس کی ځای پیداکړی چی دوی ځای سی اوځینو اصحابو حضراتو ته یی دولاړیدو هم وفرمایل کوم چی یی دمجلس څخه ولاړکړل په هغوی کی دا هم احتمال دی چی هغوی هر وخت حاضر خلگ وه ، دکوموچی دا وخت دمجلس څخه په پورته کیدوکی څه لوی نقصان نه وو ، او دا هم ممکنه ده چی ده ﷺ چي کله په مجلس کی دفراخي راوستو اوځنځت کښینستو حکم وکی نوځینی خلگوپه دی عمل ونه کی ، هغوی ته یی تادیبًا دمجلس څخه دپورته کیدو حکم کړی وی .

په هرحال ددی آیت او د دواړو احادیثو څخه دمجلس دادابو متعلق یوه خو دا خبره معلومه سوه چی دمجلس خلگوته په کار دی چی وروسته راتلونکوته په مجلس کی ځای ورکوی اودراتلونکو دپاره دوهمه خبره داثابته سوه چی دوی دی څوك دخپل ځای څخه نه ولاړوی دریمه خبره دصاحبِ مجلس دپاره دا ثابته سوه چی که هغه ضرورت گنی نو دځینو خلگو دمجلس څخه دولاړلو هم ده ته گنجائش سته .

او دځينو نورو روايتونو دحديث څخه ثابتيږي چې راتلونكو ته ادب دا دى چې په اولو ناستو خلكو كي د ورننوتو په ځاى يو ځاى غاړى ته كښيني لكه دصحيح بخاري په يوحديث كې د درو راتلونكو سړيانو ذكر دى ، په دوى كې يو هغه هم دى كوم چې په مجلس كې دځاى نه پيداكيدو په وجه يوكونج ته كښينستى ، رسول الله ﷺ بيا وروسته دده تعريف او صفت وفرمايى.

مسئله : دمجلس د ادابو څخه يوه دا هم ده چې د دوو سړيانو په مينځ كې بغير د دوى داجازت څخه دى نه دا خليږي ، څكه چې ځينى وخت د دواړو په يوځاى كښينستو كې د دوى څه خاص مصلحت وي ، دحضرت اسامه بن زيد ليثي ﷺ روايت په ابو داؤد او ترمذى كې دى چې رسول الله ﷺ فرمايلى دى ، لاَ يحِلُ لِرَجُلٍ اَنْ يفَرِّقَ بَينَ اِثْنَينِ اِلاَّ بِاِذْنِهِمَا: يعنى ديوه سړى دپاره روانه دى چې ددوو سړيانوكم چې يو ځاى ناست وى جدايى پيداكې په مينځ دهغوى كې مگر دهغوى په اجازت، (ابن كثير)

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُوْلَ الاية، رسول الله ﷺ خو به دخلكو دتعليم او اصلاح په كاركى شپه ورځ مشغول وه ، په عامو مجلسونو كې به تولو حاضرينو دمجلس دده ﷺ دارشاداتو څخه فآئده اخيستله ، په دى سلسله كې يو صورت دا هم وو چې ځينو خلكو به دده ﷺ سره په پټه ځان ته خبره كول غوښتل او ده ﷺ به وخت وركوي ، دا ظاهره ده چې يو يو سړى ته ځان ځان ته وخت وركول ډير وخت هم غواړى او محنت هم په دى كې دځينو منافقانو شرارت هم شامل سو چې مخلصو مسلمانانو ته دآزار رسولو دپاره به يې دده ﷺ څخه ځان ته دپټى خبرى دپاره وخت غوښتي او په دى به يې مجلس اوږدوي ، ځينو ناواقفو مسلمانانو به هم خبره اوږده كړه او مجلس به يې اوږدوي ، حق تعالى د دوى څخه ددى بارسپكولو دپاره په ابتداء كې دا حكم نازل وفرمايى چې څوك دنبي كريم ﷺ سره جلاپټه خبره كول غواړى هغه دى اول څه صدقه وركوى ددى صدقى څه مقدار په قرآن كريم كې منقول نه دى ، مگر كله چې دا آيت نازل سو نو تر تولو اول حضرت على ﷺ په دى عمل وفرمايى اويو دينار يې صدقه كي دحضور ﷺ څخه يې دپټى خبرى كولو وخت واخيستى.

(په دى آيت صرف حضرت علي ﷺ عمل كړى وو بيا منسوخ سو بل چاته دعمل كولو نوبت په لاس ورنه غى)

اوداهم عجيبه اتفاق دى چې په دى حكم سره چي كله ډيرو صحابه كرامو ﷺ ته تنگى پيښه سوه په دى وجه ډير ژرمنسوخ سو، حضرت على ﷺ به فرمايل ، چې په قرآن كريم كې يو آيت داسى دى په كوم چې زماڅخه ماسوا بل چاعمل نه دى كړى ، نه وربانديې زما څخه مخكې چاعمل وكى اونه به ترما وروسته څوك عمل په وكى ، دمخكې نه كول خو ظاهر دى وروسته نه كول څكه چې منسوخ سو، هغه آيت دا دمخكې صدقى وركولو دى (ابن كثير)

داحكم كه څه هم چي منسوخ سو، مگر دكوم مصلحت دپاره چې جارى سوى وو، هغه داسى حاصل سو چې مسلمانان خو دخپل دزړه دمحبت په تقاضاسره دداسى مجلس اوږدولو څخه محفوظ سوه او منافقان په دى وجه چې كه دعامو مسلمانانو دطرز څخه خلاف مونږ داسى وكړل نو مونږ به وپيژندل سو او زمونږ نفاق به ښكاره سي . والله تعالى اعلم

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِم مَّا هُم مِّنكُمْ وَلَا مِنْهُمْ وَيَحْلِفُونَ

آیا تا ونه لیدل هغه خلق چې دوستان سوي دي دهغه قوم په کومو چې غضب سوی دی دالله ، نه هغوی ستاسی څخه دي او نه دهغو څخه اوقسمونه خوری ،

عَلَى الْكَذِبِ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٤﴾ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا

په دروغ خبره او دوی پوهیږي ، تیار کړی دی الله دهغوی دپاره سخت عذاب

إِنَّهُمْ سَاءَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٥﴾ اتَّخَذُوا أَيْمَانَهُمْ جُنَّةً

بیشکه هغه بد کار دی کوم چې هغوی کوی ، جوړ کړی یی دی خپل قسمونه ډالونه (سپر)

فَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿١٦﴾

نو منع کوی دلاری دالله ﷻ څخه نو هغوی دپاره دذلت عذاب دی

لَّن تُغْنِيَ عَنْهُمْ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُم مِّنَ اللَّهِ شَيْئًا ۚ أُولَٰئِكَ

په کار ورنه غلل هغوی لره دهغوی مالونه اونه دهغوی اولاد دالله په باره کی هیڅ شی ، هغه خلق دی

أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿١٧﴾ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ جَمِيعًا

دوږخیان ، هغوی به په هغه کی همیشه وی ، په کومه ورځ چې جمع کړی الله دغه ټوله

فَيَحْلِفُونَ لَهُ كَمَا يَحْلِفُونَ لَكُمْ ۖ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ عَلَىٰ

نو قسمونه به خوری هغه ته لکه چې خوری تاسی ته اوگماز کوی چی دوی په

شَيْءٍ ۚ أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ الْكَاذِبُونَ ﴿١٨﴾ اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ

ښه لاره دی ، خبر دار دوی دی اصل دروغجنان ، قابو کړی دی په دوی باندی شیطان

فَأَنسَاهُمْ ذِكْرَ اللَّهِ ۚ أُولَٰئِكَ حِزْبُ الشَّيْطَانِ ۚ أَلَا إِنَّ حِزْبَ

نو هیر یی کی د دوی دالله یاد ، دا خلق دی ډله دشیطان ، خبردار ډله

الشَّيْطَانِ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿١٩﴾ إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ

دشیطان هغه خرابیدونکی ده ، کوم خلق چې خلاف کوی دالله اودهغه درسول

أُولَٰٓئِكَ فِي الْأَذَلِّينَ ۝٢٠ كَتَبَ اللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِيٓ ۚ

هغه خلق دی په ذلیلو خلقو کی ، مقرر کړی ده الله چی زه به غالب یم او زما رسولان ،

إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ ۝٢١ لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ

بیشکه الله قوی دی زبردست ، ته به بیا نه کی پیدا یو قوم چی ایمان راوړی په الله اوپه ورځ

الْآخِرِ يُوَآدُّونَ مَنْ حَآدَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَوْ كَانُوٓا۟ ءَابَآءَهُمْ

دآخرت چی دوستی کوی دداسی خلقو سره کوم چی مخالف وی دالله اودهغه درسول خواه هغه خپل پلار

أَوْ أَبْنَآءَهُمْ أَوْ إِخْوَٰنَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ كَتَبَ فِي

نیکه وی یا خپل اولاد وی یاخپل وروڼه وی یا خپله کورنی ، دهغوی په زړونو کی الله

قُلُوبِهِمُ الْإِيمَٰنَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ ۖ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّٰتٍ

لیکلی دی ایمان او دهغوی مدد یی کړی دی دخپلو غیبو په فیض سره اوداخل به کړی دوی باغونو ته

تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ

چی بهیږي په لاندی ورځخه نهرونه همیشه به اوسیږي په هغه کی ، الله ﷻ دهغوی څخه راضی دی

وَرَضُوا۟ عَنْهُ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ حِزْبُ اللَّهِ ۚ أَلَآ إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ

اوهغوی دالله ﷻ څخه راضی دی ، دغه خلق دی ډله دالله ، خبردار ډله دالله ﷻ هم دغه

الْمُفْلِحُونَ ۝٢٢

مراد پیدا کوونکی ده .

تفسیر: آیاتا هغوخلکوته نه دی کتلی کوم چی دداسی خلکوسره دوستی کوی په کومو چی الله ﷻ غضب کړی دی «داولنیو خلکو څخه مراد منافقان دی او د دوهمو څخه مراد یهود اوټول کفار مجاهرین او منافقان چي کله یهود وه په دی وجه دهغوی دوستی دیهودو سره او دغه ډول دنوروکفارو سره هم مشهوره اومعلومه ده» دا «منافقان» خلګ نه خو «پوره په پوره» ستاسی څخه دی اونه «پوره په پوره» دهغوی څخه «بلکه په ظاهرکی خوستاسی سره یوځای دی اوپه باطن کی اوپه عقیده کی دکفارو سره

دی، او په دروغ خبره باندی قسمونه اخلی (هغه دروغ خبره دا ده چی مونږ په مسلمانانوکی شامل یو، لکه دا قول دالله ﷻ دی، یَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ اِنَّهُمْ لَمِنْکُمْ وَمَا هُمْ مِّنْکُمْ (اوهغوی (په خپله هم) پوهیږی (چی مونږ دروغجن یو مخکی د دوی دپاره دعذاب وعده ده چی) الله ﷻ دهغوی دپاره سخت عذاب تیار کړی دی (ځکه چی) بیشکه هغوی ناکاره کارونه کول (لکه چی ترکفر اونفاق به زیات کوم کار وی؟ او دهغوی دناکاره کارونو څخه یو ناکاره کار دا دی چی) دوی خپل (دا د دروغو) قسمونه (دخپل حفاظت دپاره) ډال جوړ کړی دی (چی مسلمانان مونږ مسلمانان وګنی زمونږ په ځان اومال باندی غرض نه کوی) بیا (نورهم) دخدای دلاری څخه (یعنی دین څخه) منع کوی (یعنی لمسوی یی) نو (په دی وجه سره) دهغوی دپاره دذلت عذاب کیدونکی دی (یعنی دغه عذاب چی څومره سخت وی دغه شان ذلیل کوونکی به هم وی اوکله چی دغه عذاب په دوی راسی نو) دهغوی مالونه او اولاد به دالله (دعذاب) څخه هغوی یوه ذره هم خلاص نه کړی (او) دا خلګ دوږخیان دی (په دی کی یی تعین وفرمایی-، دهغه سخت اوذلیله کوونکی عذاب چی هغه دوږخ دی او) هغه خلګ په دغه (دوږخ) کی همیشه پاته کیدونکی دی (مخ ته وخت دعذاب بنیی چی دغه عذاب به په هغه ورځ وی) په کومه ورځ چی الله ﷻ دغه ټوله (سره دنورو مخلوقاتو) دوباره ژوندی کړی، پس دوی به دهغه مخامخ هم (د دروغو) قسمونه اخلی لکه څنګه چی ستاسی مخامخ قسمونه اخلی (لکه دمشرکانو دروغ قسم چی دقیامت په ورځ په دی آیت کی ذکردی، وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَاکُنَّا مُشْرِکِیْنَ او داسی خیال به کوی چی مونږ په ښه حالت کی یو (چی ددی دروغو دقسم په وجه به خلاص سو) خبردار داخلګ لوی دروغجنان دی (چی دخدای په مخکی په دروغو ویلو باندی هم منع نه دی، او د دوی چی کوم حرکتونه لوړ ذکر دی وجه یی دا ده چی) په هغوی شیطان پوره قبضه کړی ده (چی دهغه په خبره عمل کوی) نو هغه دهغوی څخه دخدای یاد هیرکی (یعنی دهغه احکام یی پریښوول واقعی) دا خل دشیطان ټولګی دی، خبردار دشیطان ټولګی خامخا بربادیدونکی ده (په اخرت کی خو خامخا اوکله په دنیاکی هم او د دوی دا حالت به ولی نه وی چی دوی دالله ﷻ او درسول مخالف دی، او قاعده کلیه ده) چی کوم خلګ دالله اورسول مخالفت کوی، هغه خلګ (دالله ﷻ په نزد) په سختو ذلیلو خلګوکی دی (کله چی دالله ﷻ په نزد ذلیل دی نودذکر سوو اثارو مرتب کیدل وربانديٍ څه لیری خبره نه ده اولکه څنګه چی خدای ﷻ د دوی دپاره ذلت منتخب کړی دی، دغه شان دفرمان بردارو دپاره عزت، ځکه چی دغه خلګ دالله ﷻ او رسول تابعدار دی او) الله ﷻ دا خبره (په خپل حکم ازلی کی) لیکلی ده چی زه او زماپیغمبران به غالب وی (کوم چی حقیقت دی دعزت دلته مقصود غلبه بیانول دی دانبیاؤ خپل ذکر یی دتشریف دانبیاؤ دپاره وفرمایی، نوکله چی رسولان عزتمند دی نو د دوی متبعین هم، او معنی دغلبی دسورة مائده ترایت، اِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْغٰلِبُوْنَ: او دسورة مومن دایت، لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا الخ لاندی تیره سوي ده) بیشکه الله ﷻ قوت والاغلبی والادی (په دی وجه هغه څوک چی غواړی غالب کوی مخ ته دکفارو په دوستی کی دمنافقانو دحال خلاف دایماندارو حال بیان فرمایی چی) کوم خلګ په الله

ﷺ او دقیامت په ورځ باندې (پوره پوره) ایمان لري ته به هغه ونه وینې چې هغوی به د داسې خلګو سره دوستي ساتي کوم چې د الله ﷻ او د رسول خلاف دي که څه هم پلار نیکه یا اولاد یا وروڼه یا خاندان ولې نه وي د دغو خلګو په زړونو کې الله ﷻ ایمان مضبوط کړی دی او د دوی (زړونو) ته یې په خپل فیض سره قوت ورکړی دی (دفیض څخه مراد نور دی یعني په مقتضٰی دهدایت باندې ظاهراً عمل او باطناً سکون دزړه، او دا دالله ﷻ په دې قول کې ذکر دی، فَهُوَعَلٰى نُوْرٍ مِّنْ رَّبِّهٖ : چې کله دانور سبب دی دزیادت دژوند معنوي، په دې وجه یې دا په روح سره تعبیر وفرمایې، دا دولت خو دوی ته په دنیا کې حاصل سو، لکه دا قول دالله ﷻ دی، اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ او (په اخرت کې به دوی ته دا نعمت حاصلیږي چې) دوی په داسې باغونو ته دا خل کړي چې لاندې به ورته نهرونه بهیږي په کوموکې چې به دوی همیشه اوسیږي الله ﷻ به د دوی څخه راضي وي او دوی به دالله ﷻ څخه راضي وي، دا خلګ دالله ﷻ ډله ده خبردار دالله ﷻ ډله مراد پیدا کوونکې ده (لکه چې دا قول دالله ﷻ دی، اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ : وروسته تردې قول چې اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ)

معلومات اومسئلې : اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ : په دې آیتونو کې الله ﷻ دهغو خلګو دبد حالې او په انجام کې یې د سخت عذاب ذکر فرمایلی دی کوم چې دالله ﷻ د دښمنانو کافرانو سره دوستي ساتي، کفار برابره خبره ده که مشرکان وي یا یهود او نصارٰی یا نور قسم کافران، یو مسلمان ته دزړه دوستي دیوه سره هم جائز نه ده، او دا عقلاً هم نه سي کیدی، ځکه چې دمومن اصل سرمایه دالله ﷻ سره محبت دی، کفار دالله ﷻ مخالف او دښمنان دي او دکوم سړي په زړه کې چې دچا سره رښتینی محبت او دوستي وي، دده څخه دا نه سي ممکن کیدی چې هغه دي دهغه د دښمن سره هم محبت او دوستي ساتي په دې وجه دقرآن په ډیرو ایتونو کې دکفارو سره د دوستي سخت حرمت او ممانعت احکام راغلي دي او کوم مسلمان چې دیو کافر سره دزړه دوستي ساتي نو ده ته دکفارو په ټولی کې دشامل ګڼلو سخت وعید راغلی دي، لیکن دا ټول احکام دزړه د دوستي سره متعلق دي، دکفارو سره حسن سلوك، همدردي، خیر خواهي، پردوی احسان کول، په ښو اخلاقو ورته مخ ته راتلل یا تجارتي او اقتصادي معاملې د دوی سره کول، د دوستي په معنٰی کې دا خل نه دي دا ټول کارونه دکفارو سره هم جائز دي، دنبي کریم ﷺ او صحابه کرامو ؓ ښکاره تعامل په دې باندې شاهد دی، البته په دې ټولو شیانو کې د دې رعایت ضروري دی چې د دوی سره داسې معاملات ساتل دخپل دین دپاره مضرنه وي، په خپل ایمان او عمل کې سستي پیدا نه کړي او د نورو مسلمانانو دپاره هم مضرنه وي.

په دې مسئله کې دموالات، مواسات او معاملاتو دفرق پوره تفصیل د سورة آلِ عمران ترایت، لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ : لاندې بیان سوی دی، هلته یې وګوری.

وَيَحْلِفُوْنَ عَلَى الْكَذِبِ : په ځینو روایتونو کې دي چې دا آیت دعبدالله بن اُبیّ او عبدالله بن نبتل منافقانو په باره کې نازل سوی دی، واقعه دا وه چې یوه ورځ نبي کریم ﷺ د صحابه کرامو ؓ سره تشریف فرماؤ نو

وي فرمايل چې اوس ستاسې خواته داسې سړی راتلونکی دی چې زړه يې دجبار دی اوکوم چې دشيطان په سترګو سره ګوري ، ددې څخه وروسته عبدالله بن نبتل منافق داخل سو ، کوم چې شينې سترګې ، غنم رنګی ، مندری ، نری ږيری والا وو ، ده ﷺ ورته وفرمايل چې ته اوستاملګري ماته کښنځل ولی کوی ؟ ده قسم وکی اووېی ويل چې ماداسې نه دي کړي ، بيايې خپل ملګري راوبلل ، هغوی هم دروغ قسمونه وکړل ، الله ﷻ په دې آيت کې د دوی د درواغو خبر ورکی (قرطبي)

(دمسلمان دزړه دوستي دېوکافر سره نه سي کيدی)

لَا تَجِدُ قَوْمًا يُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ يُوَآدُّوْنَ مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَوْ كَانُوْٓا اٰبَآءَهُمْ الاية .

په اولني آيت کې دکفارو اومشرکانو سره په دوستی کوونکو باندې دالله ﷻ دغضب اودسخت عذاب ذکر وو ، په دې آيت کې دمخلصو مومنانوحال يې دهغوی مقابل وفرمايې چې هغوی دېو داسې سړی سره دوستی او دزړه تعلق نه ساتي کوم چې دالله ﷻ مخالف يعني کافر دی که څه هم هغه دده پلار يا اولاد يا ورور يا بل نژدې قريب ولې نه وي .

دصحابه کرامو ﷺ تولو دا حال وو ، دلته مفسرينو د ډيرو صحابه کرامو ﷺ واقعات داسې بيان کړي دي چې په کومو کې چې دپلار ، زوی يا ورور څخه يې کله يوه خبره داسلام يانبي کريم ﷺ خلاف اوريدلې ده نو ټول تعلقات يې هير کړي دي ، هغه ته يې سزا ورکړي ده او ځينې يې قتل کړي دي .

دعبدالله بن أبيّ منافق زوی عبدالله دخپل منافق پلارڅخه دحضورﷺ په شان کې ګستاخانه کلمه واوريده نو دحضورﷺ څخه يې اجازه وغوښتله چې زه خپل پلارقتل کړم؟ ده ﷺ منع کی ، دحضرت ابوبکرﷺ په مخکې دده پلار ابو قحافه دحضور ﷺ په شان کې څه ګستاخانه کلمه وويله نو دامت دټولو څخه زيات ارحم حضرت ابوبکر صديق ﷺ ته دومره غصه ورغله چې يوه چاپيړه يې ورته داسې په زوره ورکړه ، چې ابو قحافه غوځار سو ، حضور ﷺ په خبر سو نووي فرمايل چې آئنده داسې مه کوه ، دحضرت ابوعبيده بن جراح پلارجراح داُحُدپه غزاکې دکفارو سره دمسلمانانو مقابلې ته راغلی نو دجهاد په ميدان کې بار بار به هغه دحضرت ابو عبيده مخ ته راتلی ، په ده پسې لګيدلی وو او دی به ورڅخه په څنګ کيدی ، کله چې هغه مسلسل داسې کول نو ابوعبيده ﷺ هغه قتل کی ، او ددې په شان داسې ډير واقعات اصحابو ﷺ ته پيښ سوي دي په دې دا ذکر سوی آيت نازل سو (قرطبي)

مسئله : ډيرو فقهاؤ حضراتو دا حکم دفاسقانو فاجرانو او ددين څخه عملاً دمنحرفو مسلمانانو مقرر کړي دی چې د دوی سره دزړه دوستی ديوه مسلمان نه سی کيدی ، دکار او روزګار په ضرورتونو کی شرکت يا ملګرتيا په قدر دضرورت جلا شی دی ، دزړه دوستی دېو فاسق فاجر سره په هغه وخت کی کيږی کله چې دفسق فجور جراثيم په خپله په ده کی هم موجود وی ، په دی وجه نبي کريم ﷺ په خپلو دعاګانو کی به فرمايل ، اَللّٰهُمَّ لَا تَجْعَلْ لِفَاجِرٍ عَلَيَّ يَدًا: يعني يا الله ! په ما دېو فاجر سړی احسان مه را اړوی، ځکه چې شريف انسان دخپل محسن سره په محبت کولو طبعًا مجبوره وی ، په دی وجه دفاسقانو

فاجرانو احسان قبلول کوم چې د دوی سره د محبت ذریعه جوړیږي نبي کریم ﷺ د دي څخه پناه غوښتي ده.

وَاَيَّدَهُمْ بِرُوحٍ مِّنْهُ: دلته د روح تفسیر ځینو حضراتو په نور سره کړی دی ، کوم چې د الله ﷻ د جانب څخه مومن ته حاصلیږي او هغه د نیک عمل او د زړه د سکون او اطمینان ذریعه وی د ده د پاره، او دا سکون او اطمینان یو لوی قوت دی او ځینو حضراتو د روح تفسیر په قرآن کریم او دلیلونو د قرآن سره کړی دی چې دا د مومن اصل قوت او طاقت دی (قرطبي) والله سبحانه وتعالی اعلم

تمت

سُوْرَةُ الْمُجَادَلَة بِحَمْدِه وَعَوْنِه لِغُرَّةِ جُمَادَى الْاُوْلٰى ـــ ۱۳۹۱ ـــ ه ـــ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَ لِلّٰهِ الْحَمْدُ وَيَتْلُوْهُ اِنْشَآءَ اللهُ تَعَالٰى تَفْسِيْرُ سُوْرَةِ الْحَشْرِ .

﴿سُورة الحشر﴾

سُوْرَةُ الْحَشْرِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

سورة الحشر په مدینه کې نازل سو او په دې کې څلرویښت (۲۴) آیتونه او دری (۳) رکوع ګاني دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نوم سره د الله ﷻ چې بې حده مهربانه نهایت رحم والا دی.

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ①

پاکي بیانوی د الله څه چې په آسمانونو او مځکه کې دی او هغه دی زبردست حکمت والا

هُوَ الَّذِيْۤ اَخْرَجَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مِنْ

هغه دی چا چې را ویستل کافران د اهل کتابو څخه د

دِيَارِهِمْ لِاَوَّلِ الْحَشْرِ ؕ مَا ظَنَنْتُمْ اَنْ يَّخْرُجُوْا وَظَنُّوْۤا اَنَّهُمْ

هغوی د کورونو څخه په اوله اجتماع دلښکر ، تاسی ګمان نه کوی چې وبه وزی هغوی او هغوی ګمان کوی

مَّانِعَتُهُمْ حُصُوْنُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ فَاَتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ حَيْثُ

چې محفوظ کړی هغه د هغوی قلاګانی د الله د لاس څخه ، بیا ورسیدی دوی ته الله د هغه طرف څخه چې

لَمْ يَحْتَسِبُوْا وَقَذَفَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ يُخْرِبُوْنَ بُيُوْتَهُمْ

د دوی خیال نه وو او واچوی په زړونو دهغوی کی رُعب چی ورانول یی خپل کورونه

بِاَيْدِيْهِمْ وَاَيْدِي الْمُؤْمِنِيْنَ فَاعْتَبِرُوْا يٰٓاُولِي الْاَبْصَارِ ②

په خپلو لاسونو او دمؤمنانو په لاسونو نو عبرت ونیسی ای دسترګوخاوندانو،

وَلَوْلَآ اَنْ كَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمُ الْجَلَآءَ لَعَذَّبَهُمْ فِي الدُّنْيَا

او که نه وی داخبره چی مقررکړی وه الله په دوی باندی جلا وطنی نو دوی ته به یی عذاب ورکړی وای په دونیا

وَلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابُ النَّارِ ③ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ شَآقُّوا اللّٰهَ

کی، او د دوی دپاره په آخرت کی عذاب د اور دی ، دا ځکه چی هغوی مخالف سول دالله ځخه

وَرَسُوْلَهٗ وَمَنْ يُّشَآقِّ اللّٰهَ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ④

او دهغه درسول ځخه ، او څوک چی مخالف سول دالله ځخه نو دالله ﷻ عذاب ډیر سخت دی ،

مَا قَطَعْتُمْ مِّنْ لِّيْنَةٍ اَوْ تَرَكْتُمُوْهَا قَآئِمَةً عَلٰٓى اُصُوْلِهَا

هغه چی پریکړی تاسی دخرماوو درختی یا مو پریښوو ی ولاړی په بیخو دهغو

فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَلِيُخْزِيَ الْفٰسِقِيْنَ ⑤

نو دالله په حکم سره او چی رسوا کړی نافرمانه .

(دسورة تړون اوشان نزول)

په تیرسورة کی دیهودو دوستی کومه چی منافقانو اختیارکړی وه دهغه دمذمت بیان وو، په دی سورة کی په یهودو باندی په دنیاکی دجلاوطنی سزا او په اخرت کی دعذاب ذکردی اوقصه ددغو یهودو دا ده چی نبی کریم ﷺ کله مدینی منوری ته تشریف راوړي ، نودیهودو سره دصلح وعده سوی وه او ددی یهودو په مختلفو قبیلو کی یوه قبیله دبنو نضیروه، دغه قبیله هم دصلح په وعده کی داخله وه اودا خلک دمدینی منوری څخه په دوه میله کی اوسیدل ، یو وار دا واقعه پیښه سوه چی دعمروبن امیه ضمیری دلاسه دوه قتلونه سوی وه چی خون قیمت یی ټولوته په جمع اداکول وو، دوی دخپلو مسلمانانو څخه ددی دپاره چنده وکړه ، بیایی دا اراده وسوه چی یهود هم دصلحنامی په وجه دمسلمانانو سره دی ،

دخون دقیمت په رقم کی دوی هم شریکول په کار دی ، ددی کار دپاره نبی کریم ﷺ دبنو نضیر قبیلی ته تشریف یوووړی ، هغوی داسازش وکی چی دده ﷺ دقتل کولو موقع زمونږ په لاس راغله ، په دی وجه نبی کریم ﷺ یی یوځای کښینوي اووي ویل چی مونږ دخون دقیمت درقم جمع کولوانتظام کوو اوپټه مشوره یی داسی وکړه چی ترکوم دیوال لاندی حضور ﷺ تشریف فرماؤ ، یوسړی دی لوړ وخیژی اویوه لویه ډبره دی دده ﷺ پرسر دلوړي څخه را ایله کړی چی کاریی تمام سی ، ده ﷺ ته فوراً دوحی په ذریعه دهغوی داسازش معلوم سو ، دی ﷺ ولاړ سو او واپس یی تشریف یووړي او دوی ته یی خبرولیږي چی تاسی وعده شکنی وکړه صلح موماته کړه ، په دی وجه اوس تاسی ته دلسو ورځو مهلت درکول کیږی ، په دی کی تاسی چی کومي خواته غواړی ووزی ، ددغه مودی څخه وروسته چی کوم سړی دلته په نظر راغی سر به ورڅخه پریکول کیږی ، هغوی دتللو اراده وکړه نوعبدالله بن أبیّ منافق دوی منع کړل ، چی هیڅ ځاي مه ځی زماسره ددوه زره کسانوجمعیت دی کوم چی به ستاسی دپاره خپل ځانونه قربان کړی خو تاسی ته به څوك هیڅ هم ونه وایی ، اوپه روح المعانی کی دابن اسحٰق په روایت سره په دی کی دعبدالله بن اُبیّ سره دودیعه بن مالك اوسُوَید او رَاعِسْ شریکوالی هم لیکلی دی ، هغه خلګ د دوی په خبروکی راغلل اونبی کریم ﷺ ته یی خبر ولیږي چی مونږ هیڅ ځاي هم نه سو تللی اوستاچی څه په وسه کیدی سی هغه وکړه ده ﷺ دصحابه کرامو ﷺ سره په دی قبیله حمله وکړه او دغه خلګ قلابندسول اومنافقانو ځانونه پټ کړل کښینستل ، دوی یی محاصره وکړه او دهغوی ځینی درختی یی وسوزلی اوځینی یی پریکړی ، اخر هغوی تنګ سول اوجلا وطن کیدل یی منظور کړل ، ده ﷺ په دی حال کی هم دهغوی سره دا رعایت وکی چی حکم یی وکی څومره سامان چی تاسی دځان سره وړی سی یو یی سی بغیر دوسلو څخه چی هغه به ضبط وی ، دغه خلګ ووتل ځینی شام ته ولاړل ځینی خیبرته ، او ددنیا دحرص په وجه یی دخپلوکورونو کړکی اوتختی ویستلی او دځان سره یی یوړی ، دا قصه داُحُد دغزا څخه وروسته په ربیع الاول سنه۴ هجری کی پیښه سوه ، بیا حضرت عمر ﷺ دخپل خلافت په زمانه کی هغوی دنورو یهودو سره دشام دملك طرف ته وایستل دی دواړو جلاوطنو ته حشرِ اول او حشرِ ثانی وایی ، لکه چی په زاد المعاد کی داسی دی .

لنډتفسیر: دالله ﷺ پاکی بیانوی تول څه چی په اسمانونوکی دی اوپه مځکه کی دی (مخلوقات) اوهغه زبردست (او) حکمت والادی (لکه چي دهغه دلوی شان اوقدرت اوحکمت یواثر دا دی چی) هغه دی چا چی داکفار اهل کتاب (یعنی بنی نضیر) دهغوی دکورونو څخه اول وار په جمع وایستل (یعنی په قول دزهری ددی څخه مخکی په دوی دا مصیبت نه وو واقع سوی ، دا مصیبت په دوی اول وار راغلی دی کوم چی د دوی دبدو حرکتونو ثمره ده ، او په دی کی یوه باریکه اشاره ده دیوی پیش ګویی طرف ته چی د دوی دپاره به بیا داسی اتفاق وی ، لکه چی دوباره حضرت عمر ﷺ تول یهودیان دعربو دجزیری څخه وایستل ، لکه چی په خازن کی دی اواشاری ته باریکه څکه وویل سوه چی لفظ داول همیشه ددی

مقتضي نه وي چې ددې ثاني دې هم وي ، لکه چې وايي دفلاني ښځې اول وار پيدا سوی دی ، دهغوی دکورونو څخه ايستل دمسلمانانو دطاقت اوغلبې اثر وو مخ ته ددې تقرير دی چې ای مسلمانانو! د دوی سامان او شوکت چې مو وليدی) ستاسې گمان هم نه وو چې هغوی به (کله هم دخپلو کورونو څخه) ووزي او (په خپله) هغوی دا گمان کړی وو چې د دوی قلاگانې به دوی دالله (دانتقام) څخه وساتي (يعني دخپلو قلاگانو په استحکام باندې داسې مطمئن وه چې د دوی په زړه کې دغيبي انتقام خطره هم نه راتله نو د دوی حالت مشابه دهغه سړي دی دچاچې داگمان وي چې د دوی قلابه دالله ﷻ دگرفت څخه دوی محفوظ کړي اوکه خاص دبنونضيرو دقبيلې قلاگانې ډيرې نه وي نو په حُصُوْنُهُمْ کې دجمع ضميرمطلق ديهودو طرف ته به وي اود: اِنَّهُمْ ضميرهم، اوصرف دَظَنُّوْ ضميربه دبنو نضير طرف ته سي ، يعنې دبنې نضيرو دا خيال وو چې د دوی قلاگانې به ټول يهود دحوادثو څخه وساتي ، په دې ټولو يهودوکې دوی هم راغلل چې خپله قلايي خپله محافظه کړله) نو په هغوی (د) خدای (عذاب) دداسې طرف څخه را ورسيدی چې دهغوی خيال (اوگمان) هم نه وو (مراد دداسې طرف څخه دا دی چې دمسلمانانو په لاسو وايستل سول چې دهغوی بې سر وساماني ته يې کتل ددې گمان يې هم نه وو چې دابې سامانه به په دې خاوندانو دسامان غالب سي) او د دوی په زړونوکې (الله ﷻ دمسلمانانو) رعب واچوي چې (ددې رعب په وجه يې دوتلو قصد وکی او دغه وخت يې دا حالت وو چې) خپلو کورونه يې په خپلو لاسونو سره هم او دمسلمانانو په لاسونو هم ورانول (يعنې په خپله يې هم دلرگيو اوتختو وړلو دپاره خپل مکانونه نړول ، اومسلمانانو هم د دوی زړه ته دصدمې رسولو دپاره ورانول او دمسلمانانو دورانولو نسبت يې د دوی طرف ته ځکه وکی چې سبب ددې ورانولو دغه خلک وه ، ځکه چې دوی وعده ماته کړه او دغه کار ديهودو دی نو اسناد دسبب د دوی طرف ته سو او دمسلمانانو لاسونه په منزله دآلې سوه) نو ای هوښيارانو (دی حالت ته وگوری) عبرت حاصل کی (چې دخدای او درسول دمخالفت انجام څيني وخت په دنيا کې هم ډير بدوی) اوکه الله ﷻ دهغوی په قسمت کې جلا وطن کيدل نه وای ليکلي نو هغوی ته به يې په دنياکې (دقتل) سزا ورکړې وای (څنگه چې د دوی څخه وروسته دبنو قريظه سره معامله وسوه) او (که څه هم په دنياکې دقتل دعذاب څخه بچ سول ليکن) دهغوی دپاره په اخرت کې د دوږخ عذاب (تيار) دی (او) دا (سزا دجلا وطنۍ په دنياکې اوسزا داورپه اخرت کې) په دې خلکو دالله او دهغه درسول مخالفت وکی ، اوڅوک چې دالله مخالفت کوی (او دا مخالفت درسول هم دی) نوالله ﷻ سخته سزا ورکوونکی دی (دا مخالفت په دوه قسمه سو يو مخالفت دوعدې ماتولو چې سزا دجلا وطنۍ باندې ورکول سوه او دوهم نيستوالی دايمان چې داخرت دعذاب سبب دی ، مخ ته ديهودو ديوطعن جواب دی کوم چې يې ددرختو دپريکولو اوسوزلو په باره کې کړی وو، چې داسې کول خوفساد دی اوفساد مذموم دی ، لکه چې په دُرِّ منثورکې دی اودارنگه څيني مسلمانانو سره داجازته داسې گڼله چې ترک دجائز جائز دی اوپه اخرت کې به دا درختې دمسلمانانوسې نوپرېښول يې ښه دی ، پرې يې نه کړل

اوځینو داسې وګڼله چې دیهودو زړونه په دردیږي پرې یې کړې ، لکه چې په درمنثورکې دی سره دجوابه ددې دواړو کارونو صواب والې دی ، نو ارشاد دی چې) کومې دخرماؤ درختې تاسې پریکړې (دغه شان کومې چې مو وسوزلې) یادغه مو پرېبیخو باندې (پرخپل حال) ولاړې پرېښوولې نو (دواړې خبرې) دخدای دحکم (اورضا) موافق دی (ددې دپاره چې) کافران ذلیله سې (یعنې په دواړو کارونو کې مصلحت دی ، لکه چې په پرېښوولو کې هم دمسلمانانو یوه کامیابي اوکفارپه غصه کې اچول دي چې دمسلمانانو په کار به اوس ورځې اوپه پریکولو اوسوزلوکې یې هم دمسلمانانو بله کامیابي یعنې دغلبې داثارو ظهور او دکفارو په غصه کې اچول دي مسلمانان زمونږ په شیانوکې څنګه تصرفات کوي نو دواړه کارونه جائز دي او په حکمت مبنې دی ، په دې سبب په کې څه قباحت نسته)

معلومات اومسئلې

(دسورة حشرخصوصیات او دبنو نضیر قبیلې تاریخ)

(سورة حشرټول دیهودو دبنو نضیر قبیلې په حقله نازل سوی دی (قاله ابن اسحاق) اوحضرت ابن عباس ﷺ به ددې سورة نوم سورة بنو نضیر وایه (ابن کثیر) بنو نضیر دیهودو یوه قبیله ده کومه چې دحضرت هارون ﷺ په اولاد کې ده ، د دوی پلرونه اونیکه ګان دتورات عالمان وه، په کوم کې چې دحضرت خاتم الانبیاء ﷺ خبر او دده ﷺ حلیه اوعلامات ذکر وه اوداچې دی به دیثرب (مدینې) طرف ته هجرت کوی ، خاندان په دې طمع کې چې دخاتم الانبیاء ﷺ سره به دوی دشام څخه دمدینې منورې طرف ته منتقل سی ، د دوی په موجوده خلګو کې هم ځیني دتورات عالمان وه اوچې نبي کریم ﷺ مدینې منورې ته تشریف راوړي او دوی هغه نښانې په کې ولیدې نو ویې پیژندی هم چې دا هغه خاتم الانبیاء ﷺ دی مګر د دوی دا خیال وو چې دغه اخري نبي به دحضرت هارون ﷺ په اولاد کې د دوی دخاندان څخه وی اوخاتم الانبیاء ﷺ دبنی اسرائیلو په ځای په بنی اسماعیلو کې مبعوث سو نودی حسد دغه خلګ دایمان راوړلو څخه منع کړل ، مګر په زړه کې د دوی اکثرو خلګو دی ﷺ آخري نبي پیژندی اوپه غزوه بدر کې دمسلمانانو حیرت انګیز فتح او دکافرانو شکست یې چې ولیدې نو د دوی یقین نور هم زیات سو، او ددې اقرار د دوی دژبو څخه هم واوریدل سو مګر دا ظاهری فتح اوشکست دحق او باطل دپیژندو معیار جوړول یو کمزوری بنیاد وو، نتیجه داسوه چې داحدپه غزا کې کله چې مسلمانانو ته په اول کې شکست وسو، ځینې صحابه حضرات په کې شهیدان سول نو د دوی یقین متزلزل سو اوتردې وروسته دوی دمکې دمشرکانو سره ساز باز شروع کې ، ددې څخه مخکې دا واقعه سوی وه چې نبي کریم ﷺ مدینې منورې ته ورسیدې نو دحکیمانه سیاست په مقتضٰی یې ترټولو اول کار دا کړی وو چې په مدینه طیبه کې او دښار په خواوو شاکې دیهودو څه قبائل آبادوه د دوی سره یې دصلح معاهده پردې کړې وه چې دغه خلګ به نه دمسلمانانو خلاف جنګ کوي اونه به دجنګ کوونکو کومک کوي ، که په دوی چا حمله وکړه نومسلمانان به یې مدد کوی ، په صلحنامه کې نورې هم ډیرې دفعې وې چې تفصیل یې په سیرت ابن هشام اونورو کې دی ، دغه ډول دیهودو ټول قبائل په کوموکې چې بنو نضیر هم دا خل

وه دمدينې طيبې ښخه د دوو ميلو په فاصله ددوی کلی کلکی اومضبوطې قلعه ګانې وې اوباغونه وه .
دأحد ترغزا پورې خو دا خلګ په ظاهره ددې صلحنامې پابندپه نظر راتلل مګر داحد ښخه وروسته دوی غداری وکړه اوپټ خيانت يې شروع کې ، ددې غدر او خيانت ابتداء ددې ښخه وسوه چې دبنو نضيرو يو سردار کعب بن اشرف داحد دغزا ښخه وروسته دخپلو يهوديانو دڅلويښتو تنو دقافلې سره مکې معظمې ته ورسيدی او ددې ځای کفار قريش کوم چې دبدر دشکست دبدلې اخيستو په نيت سره أحُد ته تللی وه اوآخر يې په دې کې شکست وخوړي اوواپس سوی وه ، دهغوی سره يې ملاقات وکې اوپه خپل مينځ کې يې دنبی کريم ﷺ اومسلمانانو خلاف دجنګ کولو يوه وعده وکړه چې تکميل يې داسې وسو چې کعب بن اشرف دخپلو څلويښتو يهوديانو سره او د دوی بالمقابل ابوسفيان دخپلو څلويښتو قريشو سره دبيت الله حرم ته دا خل سوه اودبيت الله پرده يې ونيوله اودا وعده يې وکړه چې مونږ به ديو بل ملګرتيا کوو او دمسلمانانو خلاف به جنګ کوو .
کعب بن اشرف ددې وعدې کولو ښخه وروسته مدينې منورې ته بيرته راغی نو جبرائيل امين نبی کريم ﷺ ته ټوله واقعه او دوعدې تفصيل وښووی ، نبی کريم ﷺ دکعب بن اشرف دقتل حکم جاری کې لکه چې محمد بن مسلمه صحابی ﷺ دي قتل کې ، ترددې وروسته دبنو نضيرو مختلف خيانتونه او سازشونه نبی کريم ﷺ ته معلوميدل په کوموکې چې يوه دغه واقعه ده کومه چې لوړ په شانِ نزول کې بيان سوي ده چې که نبی کريم ﷺ په ذريعه دوحی په دې سازش باندې نه وای خبردار سوی نودغه خلګ به په خپل سازش دقتل کې کامياب سوی واي ښکه چې ترکم کور لاندې نبی کريم ﷺ دوی کښينولی وو ، دهغه دبام ښخه ديوی درنې دبړي دده ﷺ پرسر باندي دراغورځولو پلان تقريبًا مکمل سوي وو ، کوم سړي چي دی پلان ته عملی صورت ورکوونکی وو دهغه نوم عمرو بن جحّاش وو ، حق تعالی ﷻ دده ﷺ حفاظت وفرمايی او دا پلان ناکامه سو .

يوعبرت : دا هم عجيبه معامله ده چې په وروسته واقعه کې ټول بنو نضير جلاوطن سول ، دمدينې منورې ښخه ووتل ، مګرپه هغوی کې صرف دوه سړی مسلمانان سول اومحفوظ اومامون پاته سول ، په دی دوو کې يو دغه عمرو بن جحّاش وو ، دوهم دده اکا يامين بن عمرو بن کعب وو (ابن کثير)

﴿ دعمرو بن اُمّيه ضمری واقعه ﴾

دشان نزول په واقعه کې کوم چې داراغلی دی چې دعمرو بن اُمّيه ضمری دلاسه دوه قتل سوی وه دهغودخون قيمت جمع کولوکوشش نبی کريم ﷺ کوي ، ددې خون دقيمت په سلسله کې دبنو نضيرو ښخه دچندې حاصلولو دپاره ده ﷺ دهغو کلی ته تشريف وړی وو ، ددې واقعه ابن کثير دابيان کړي ده چې دمسلمانانو خلاف دکفارو سازشونه اوظلمونه يو اوږد دا ستان دی ، په دې کې يوه واقعه دبيرِ معونه په تاريخ اسلام کې معروفه اومشهوره ده چې دځينو منافقانو کفارو دنبی کريم ﷺ ښخه په خپل کلی کې داسلام دتبليغ دپاره دصحابه کرامو ﷺ يوه ډله وغوښته ، نبی کريم ﷺ اويا صحابه کرام ﷺ د دوی سره کړل ، وروسته حقيقت دا ښکاره سو چې دغو خلګو دا محض سازش کړی وو ، ددې ټولو

دګیرولو اوقتلولو منصوبه یې جوړه کړې وه او هغوی په دې کې کامیاب سول ، په دوی کې صرف عمروبن اُمیه ضمری په یو ډول په را تښتیدو کې کامیاب سو ، کوم بزرګ چې اوس دکفارو دا غداری اوخیانت او دخپلو یوکم اویا وړونو په بې دردی سره دقتلولو حال لیدلی راروان دی دهغه جذبه به دکفارو په مقابله کې څه وي ، هر سړی په خپله اندازه کولی سی ، اتفاق داسی وسو چې مدینې منورې ته دواپسی په وخت په لاره کې ده ته دوه کافران مخ ته راغلل، ده هغه دواړه قتل کړل، وروسته معلومه سوه چې هغه دواړه دبنو عامر دقبیلې وه ، دکومو سره چې دنبی کریم ﷺ دصلح وعده وه .

دمسلمانانو معاملات دنن صبا سیاسی خلګو دمعاملو په شان خو وه، نه دا چې داول څخه دخلاف ورزی او وعدی ماتولو لاری تلاش کوی ، دلته خو چې څه په ژبه اوقلم سره وتلی وه ، ددین مذهب او دخدای تعالی دحکم حیثیت یې درلودي ، او پابندی یې لازمی وه ، کله چې نبی کریم ﷺ ته ددی غلطی علم وسو نوده ﷺ دشریعت داصولو مطابق ددی دواړو قتل سوو دخون دقیمت ورکولو فیصله وفرمایله او ددی دپاره یې دمسلمانانو څخه چنده وکړه ، په دې سلسله کې بنو نضیروته هم دچندی دپاره ولاړې چې دا واقعه پیښه سوه (ابن کثیر)

﴿ دبنو نضیرو دجلا وطن کولو په وخت کې داسلام او مسلمانانو روا داری دموجوده سیاست دانانو دپاره دعبرت معامله ﴾

دنن لوی حکمرانان اولوی حکمتونه کوم چې په انسانی حقوقو لوی لوی بیانونه ورکوی او ددی دپاره اداری قائموی اوپه دنیاکی ورته دانسانی حقوقو دتحفظ علمبردار ویل کیږي ، لږدی پردی واقعه باندی نظر واچوی چې دبنو نضیرو پرلپسی سازشونه ، خیانتونه دقتلِ رسول ﷺ منصوبی کوم چې ستاسی په مخکی راغی که دنن صبا دیو حکمران اوسربراه دمملکت په مخکی راسی ، نولږ پرزړه لاس کښیږدی فکر وکی چې هغه به ددی خلګو سره څه معامله کوی، نن صبا خوپه ژوندو خلګو پټرول اچول اوورونه ورته کول دیو لوی اقتدار او حکومت هم محتاجه نه دی ، یو څو غنډګان اوشریران جمع سی او دا هر څه کوی ، او دشاهانه غیظ او غضب کرشمی خو څه تردی هم زیاتی وی .

مګر داحکومت دخدای او دهغه درسول دی ، کله چې خیانتونه اوغداری انتهاته ورسیدلی ، نو هغه وخت یې هم دقتل عام اراده ونه فرمایله ، د دوی دمال او اسباب اخستو یې هم څه تصور نه وو بلکه .

(۱) دخپل ټول سامان وړلو اوصرف دښار خالی کولو فیصله یې وفرمایله .

(۲) او ددی دپاره هم دلسو ورځو مهلت یې ورکی چې په آسانی سره خپل سامان یو سی او په اطمینان سره بل مقام ته منتقل سی ، کله چې ددی یې هم خلاف ورزی وکړه نو قومی اقدام ته ضرورت پیښ سو .

(۳) ددی دپاره ځینی درختی خو یې وسوزلی ، ځینی یې پریکړی چې په دوی اثر وسی ، مګر قلاته داور لګولو یا د دوی دقتل عام حکم دغه وخت هم ورنه کول سو .

(۴) بیاچې کله مجبوره سول او هغو خلګو ښار خالی کول منظور کړل نو ددی فوجی اقدام باوجود ورته دا اختیار ورکول سو چې په یوه اوښ چې څومره سامان یو سړی وړی سی یو دی سی ، ددی په نتیجه کی هغوی دخپلو کورونو کړکی ، تختی دروازی ، په زنځیرونو پوری وتړل یو یې وړل .

(۵) ددی ساز او سامان سره منتقل کیدونکو ته هیڅ یوه مسلمان په کړه سترګه هم ونه کتل ، په امن او عافیت او پوره اطمینان سره یی سامان واخستی رخصت سول .

دنبی کریم ﷺ دا معاملات دهغه وخت دی کله چی ده ﷺ ته دخپل دښمن څخه دانتقام پوره پوره اخیستو مکمل قدرت او طاقت حاصل وو ، ددی غدار ، خائن ، او سازشی دښمنانو سره دغه وخت د دوی دا معامله ددی نظیر دی کوم چی دمکی دفتح څخه وروسته دخپلو قدیمی دښمنانو سره ده ﷺ وفرمایله .

لِاَوَّلِ الْحَشْرِ : دبنو نضیرو دی جلا وطنی ته قرآن کریم اَوَّلُ الْحَشْرِ وفرمایل ، دحشر معنٰی پورته کیدل او دریدل دی ، داول حشر ویلو یوه وجه په لنډتفسیر کی بیان سوي ده ، چی دا خلګ دپخوا څخه پریوه ځای اباده ، دنقلِ مکانی اوجلا وطنی دا واقعه دوی ته په اول وار پیښه سوه او بله وجه دا هم ده چی داسلام اصل حکم مخکی داراتلونکی وو چی جزیرة العرب دی دغیرِ مسلمو څخه پاکه سی چی دا داسلام یوه مضبوطه قلا جوړه سی ، ددی په نتیجه کی یو بل حشر راتلونکی په شکل دجلا وطنی کیدونکی ووکوم چی عملاً دحضرت عمر ؓ په زمانه دخلافت کی وسوچی په دوی کی کوم خلق خیبرته منتقل سوی اوآبادسوی وه هغوی ته دجزیرة العرب څخه ددباندی تلو حکم ورکول سو ، په دی لحاظ سره دبنو نضیر دا جلا وطنی اولنی حشر او دوهمه جلا وطنی په زمانه دحضرت عمر ؓ کی دوهم حشر سو .

فَاَتٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوْا الخ ددی لفظی ترجمه خو دا ده چی راغی دوی ته الله ﷻ په داسی انداز سره چی دوی ته ددی ګمان هم نه وو ، دالله ﷻ دراتلو څخه مراد دهغه حکم بردار ملائکو راتلل دی .

يُخْرِبُوْنَ بُيُوْتَهُمْ بِاَيْدِيْهِمْ وَاَيْدِي الْمُؤْمِنِيْنَ : دهغو دخپلو کورونو په خپلو لاسونو خرابول خو داسی وسوه چی خپلی دروازی یی سره د دروازو بندوونکو لرګو ایستلی یو وړی ، او دمسلمانانو په لاسونو داسی چی کله دوی قلابند وه نو دباندی مسلمانانو پردوی داثر غورځولو دپاره درختی اوکورونه وران کړل .

مَاقَطَعْتُمْ مِنْ لِيْنَةٍ اَوْ تَرَكْتُمُوْهَا قَآئِمَةً عَلٰى اُصُوْلِهَا فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَلِيُخْزِيَ الْفَاسِقِيْنَ : لفظ دلینة دخرماهری درختی ته یا دعجوی څخه علاوه باقی درختوته ویل کیږی ، دبنو نضیرو باغونه دخرماؤ وه ، کله چی قلا بند سول نو ځینو صحابه کرامو ؓ ددغو خلګو دخفه کولو اوپه دوی درعب غورځولو دپاره یی ددوی دخرماؤ څو درختی پریکړی یایی وسوزلی اوختمی یی کړی اوځینو نورو صحابه کرامو ؓ خیال وکی چی انشاء الله فتح به زمونږ وی اودا باغونه او درختی به دمسلمانانو په لاس ورسی نودا ولی ضائع کول کیږی ، هغوی ددی دپریکولو اوسوزلو څخه منع سول ، دا درایی اختلاف وو ، وروسته چی په خپل مینځ کی خبری اتری وسوی نو کومو حضراتو چی درختی پریکړی یایی سوزلی وی دهغوی سره دا فکر سو چی شاید مونږ ګناهګار سوچی کوم مال مسلمانانوته حاصلیدونکی وو ، هغوته مونقصان ورسوي ، په دی داذکر سوی آیت نازل سو ، کوم چی د دواړو فرقو عمل ته یی جائز او صحیح وفرمایل او دواړه یی په اذن الله کی دا خل کړل او دحکم الهی تعمیل یی وګرځول .

(درسول الله ﷺ حکم په حقیقت کي دالله ﷻ حکم وی، منکرینو دحدیث ته خبرداری)

په دی آیت کی یی ددرختو پریکول، سوزل یاباقی پریښوول دواړو مختلفو کارونو ته یی دالله ﷻ اذن فرمایلی دی ، حال دا دی چی دقرآن په یوایت کی په دواړو کی یوحکم هم مذکورنه دی ، ظاهره خو دا ده چی دواړو فرقو چی کوم عمل وکی ، هغه یی په خپل اجتهاد سره وکی ، دزیات څخه زیات دا کیدی سی چی دوی دنبی کریم ﷺ څخه اجازت اخیستی وی ، مګر قرآن هغه اجازت کوم چی یوحدیث وو اذن الله وګرځوي او واضحه یی کړه چی رسول الله ﷺ ته دحق تعالی دطرف څخه داحکامو دتشریح اختیار ورکول سوی دی اوکوم حکم چی دوی جاری وفرمایی ، هغه دالله ﷻ په حکم کی دا خل دی په هغه عمل کول دقرآن دآیتونو دعمل په ډول فرض دی .

(داجتهادی اختلاف په دواړو جانبو کي يوه ته ګناه نه سي ويل کيدی)

بل مهم اصول ددی آیت څخه دامعلوم سو چی کوم خلګ دشرعی اجتهادصلاحیت لری که د دوی اجتهاد په یوه مسئله کی مختلف سی یو فریق یی جائز ګنی ، بل یی ناجائز نو دالله ﷻ په نزد دا دواړه حکمونه درست اوجائز وی ، په دوی کی یوه ته هم ګناه او معصیت نه سی ویل کیدی او په دی وجه پردی دنهی عن المنکر قانون نه سی جاری کیدی ، ځکه چی په دی کی یوجانب هم شرعی منکرنه دی اوپه ، وَلِيُخْزِيَ الْفٰسِقِيْنَ : کی د درختو دپریکوونکو یا سوزونکو دعمل توجیه بیان سوي ده چی دا هم په فسادکی دا خل نه دی ، بلکه دکفارو دذلیل کولو په قصد سره موجب دثواب دی .

مسئله : په حالت دجنګ کی دکفارو کورونه نړول یاسوزل دغه ډول درختی فصلونه بربادول جائزدی اوکه نه دی؟ په دی کی داامامانوفقهاؤ مختلف اقوال دی ، دامام اعظم ابوحنیفه څخه په حالت دجنګ کی ددی ټولو کارونو جائزوالی نقل دی مګر شیخ ابن همام فرمایی چی دا جواز په هغه وخت کی دی کله چی ددی څخه بغیر په کفارو غلبه پیدا کول مشکل وی یاپه دی صورت کی کله چی دمسلمانانو دفتح غالب ګمان نه وی نوداټول کارونه ځکه جائزدی چی په دی سره دکفارو طاقت اوشوکت ماتول مقصودوی یادفتح دنیستي په صورت کی د دوی مال ضائع کول هم د دوی دقوت کمزوری کولودپاره په دی کی داخل دی .

وَمَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْهُمْ فَمَآ اَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ وَّلٰكِنَّ

اوهغه شی چی لاس ته راوستی الله دخپل رسول ددغو څخه ورروسته نه دی زغلولی تاسی په هغه باندی آسونه اونه اوښان لیکن

اللّٰهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ۗ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝٦

الله غلبه ورکوی خپلو رسولانو ته چی په هغه چا چی وغواړی اوالله ﷻ هر څه کولی سی ،

مَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ

کوم مال چی لاس ته راوستی الله دخپل رسول دکلو دخلقو څخه نو دالله او د رسول

وَلِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ

او دخپلو انو او يتيمانو او مسكينانو او مسافرو دى

كَيْ لَا يَكُوْنَ دُوْلَةً ۢ بَيْنَ الْاَغْنِيَآءِ مِنْكُمْ ؕ وَمَآ اٰتٰىكُمُ

چې رانه سى په استعمال دمالدارو كى ستاسى څخه او څه چې دركوى تاسى ته

الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ ۚ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ

رسول نو هغه اخلى ، او دكوم څخه چې تاسى منع كوى نو هغه پرېږدى ، او ډيره كوى دالله څخه

اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۘ۝۷ لِلْفُقَرَآءِ الْمُهٰجِرِيْنَ الَّذِيْنَ

بيشكه دالله عذاب سخت دى ، دپاره دهغه فقيرانو مهاجرينو چې

اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ

ايستل سوى دى دخپلو كورونو څخه او دخپلو مالونو څخه چې په لټون راغلى دى دالله دفضل

اللّٰهِ وَرِضْوَانًا وَّيَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ

او دهغه درضا مندى او مدد كرلو ته دالله او دهغه د رسول ، هغه خلق دى

الصّٰدِقُوْنَ ۚ۝۸ وَالَّذِيْنَ تَبَوَّؤُ الدَّارَ وَالْاِيْمَانَ مِنْ

رښتينى ، او هغه كسان چې وسيږي په دى كور (مدينه) كى او ايمان كى

قَبْلِهِمْ يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ اِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُوْنَ فِيْ صُدُوْرِهِمْ

د دوى څخه مخكې هغوى محبت كوى دهغو سره چې هجرت وكى دوى ته او نه كى پيدا په خپلو زړونو كى

حَاجَةً مِّمَّآ اُوْتُوْا وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ

تنكى په هغه شى سره چې دوى ته وركړل سى او مخكې ساتى دوى په خپلو ځانونو كه څه هم وى په دوى باندى

خَصَاصَةٌ ۫ؕ وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۚ۝۹

لوږه او چاچى ځان وساتى دبخل څخه نو هغه خلق دى مراد پيدا كوونكى ،

وَالَّذِيْنَ جَآءُوْ مِنْ بَعْدِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا

او هغه خلق کوم چی راغلل د دوی څخه وروسته وایی ای ربه زمونږ وبخښی مونږ اوز مونږ هغه

وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا

ورونه چی داخل سول زمونږ څخه مخکې په ایمان کی او مه را ولی زمونږ په زړونو کی

غِلًّا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَآ اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۰﴾

خیری دایماندارو دپاره ای ربه زمونږ ته یی نرمی کوونکی مهربانه

تفسیر: (لوړ چی څه بیان سول هغه خو دبنو نضیرو سره معامله وه) او (د دوی دمالونو سره چی کومه معامله وسوه دهغه بیان دا دی چی) څه چی الله ﷺ خپل رسول ته ددی څخه ورکړل نو (په دی کی تاسی هیڅ مشقت نه دی کړی ، لکه چی) تاسی په دی (یعنی ددی په حاصلولو) نه اسونه وزغلول اونه اوښان (مطلب دا دی چی نه درباندی دسفر مشقت راغی ځکه چی دمدینی منوری څخه په دوه میله کی وو اونه دجنګ اوبراي نام چی کومه مقابله وسوه هغه غیرمعتدبه وه، لکه چی داسی په روح کی دی، په دی وجه په دی مال کی ستاسی استحقاقِ تقسیم اوملکیت نشته ، لکه څنګه چی په مال دغنیمت کی وی) لیکن (د) الله ﷺ (عادت دی چی) خپل رسولان (دخپلو دښمنانو څخه) په چاچی وغواړی (په خاص طور سره) مسلط کوی (یعنی محض په رعب سره یی مغلوب کوی ، چی په دی کی چاته څه مشقت کول نه راځی لکه چي په دغو رسولانو کی الله ﷺ خپل رسول محمد ﷺ په مالونو دبنو نضیرو داسی مسلط کی ، په دی وجه په دی کی ستاسی هیڅ حق نشته ، بلکه په دی کی دمالکانه تصرف کولو مکمل اختیارصرف دوی ته دی) اوالله ﷺ په هرڅه پوره قدرت لری (نو هغه چی څنګه غواړی دښمنان مغلوب کوی اوځنګه چی غواړی خپل رسول ته اختیار اوتصرف ورکوی اولکه څنګه چی دمالونو دنضیرو داحکم دی دغه دول) څه چی الله ﷺ (په دی طور سره) خپل رسول ته دنوروکلود (کافرانو) خلکوڅخه ورکړی (لکه باغ دفدك اوبو جزء دخیبر داسی په لاس ورغی) پس (په هغه کی هم ستاسی هیڅ حق دملکیت نشته بلکه هغه (هم) دالله ﷺ حق دی (یعنی هغه چی څنګه غواړی په هغه کی حکم کوی ، لکه چی په نورو شیانو کی دهغه دغه شان حق دی اوتخصیص دحصر دپاره نه دی) اودرسول (حق دی چی الله ﷺ ورته په دغه مال کی مالکانه تصرفات په خپل صوابدید (رایی) سره دکولو اختیار ورکړی دی) او (د دوی) دخپلوانو (حق دی) او دیتیمانو (حق دی) او دغریبانو (حق دی) اودمسافرانو (حق دی یعنی دا تول دنبی کریم ﷺ دصوابدید (رایی) موافق په دی مال کی مصرف دی اوپه دوی کی انحصار نشته، نبی کریم ﷺ چی چا ته په خپله رایه سره ورکول غواړی ، هغه هم په دی کی شامل دی او دبیان سوی اقسامو په خاص طور سره

ذکر شاید په دی وجه وسو چی د دوی په باره کی دا شبهه کیدی سوه چی کله په جهادکی دشریکانو په دی مال کی حق نسته نو دا اقسام چی په جهادکی شریك نه دی ، د دوی به هم حق نه وی ، مګر په آیت کی د دوی ذکر په خاص صفتونو دیتیم ، غریب مسافر او نورو سره وسو او اشاره یی وکړه چی دا خلګ دخپلو دی صفتونو په وجه ددی مال مصرف په اختیار دنبی کریم ﷺ کیدی سی دجهاد دشرکت سره د دوی تعلق نسته ، بیاپه دی اوصافوکی یو وصف د ذوی القربٰی یعنی دنبی کریم ﷺ دنژدي قریبانوهم دی دوی ته په دی مال کی څکه حصه ورکول کیږی چی دا ټول دنبی کریم ﷺ تر وفات وروسته قطع سوه ، لکه چی په سورة انفال کی ددی بیان تیر سوی دی او دا بیان سوی حکم څکه مقرر سو) چی هغه (مال دفی) ستاسی دمالدارو په قبضه کی را نه سی (لکه چی په جاهلیت کی به ټول غنیمتونه اوحاصلات دجنګ داقتدار خاوندانو خوړل او فقیران به بالکل محرومه پاته کیدل ، په دی وجه الله ﷻ درسول ﷺ په رایه باندی وساتله اومصارف یی هم وښوول چی دوی سره دمالك کیدو بیا هم په حاجتمندو اوعامو موقعو دمصلحت کی یی صرف کی) او (کله چی دا معلومه سوه چی دنبی کریم ﷺ په رایه کیدوکی مصلحت دی نو) رسول (ﷺ) چی تاسی ته څه درکوی هغه اخلی او د څه شی (داخستو) څخه چی تاسی منع کوی نوتاسی منع کیږی (او په عموم دالفاظو سره دا حکم په ټولو افعالو کی دی او احکاموکی هم) اودالله ﷻ څخه بیره کوی بیشکه الله ﷻ (مخالفت کوونکوته) سخته سزا ورکوونکی دی (اودغسی خو په فی کی مطلقاً دټولو مسکینانوحق دی لیکن) دهغو حاجتمندو مهاجرینو (خاصکر) حق دی کوم چی دخپلو کورونو څخه اودخپلو مالونو څخه (جبراً اوظلماً) جلاسوی دی (یعنی کفارو دوی دومره تنګ کړل چی کور اوکلی یی پریښووي اوپه هجرت کولو مجبوره سول اوپه دی هجرت سره) هغوی دالله ﷻ دفضل (یعنی جنت) او رضا مندی طلب کوونکی دی (په څه دنیوی غرض سره یی هجرت نه دی کړی) اوهغه (خلګ) دالله او دهغه درسول (ﷺ ددین) مدد کوونکی دی (او) داخلګ (په ایمان کی) ریښتینی دی او (دارنګه) دهغو خلګو (هم حق دی) کومو چی په دارِاسلام (یعنی مدینه) کی اوایمان کی د دوی (مهاجرینو ترراتلو) مخکی قرار نیولی دی (مراد ددی څخه انصاری حضرات دی اوپه مدینه کی د دوی دمخکی قرار نیول خو ظاهره ده چی هغوی ددی ځای اوسیدونکی وه او په ایمان کی داول قرار نیولو دا مطلب نه دی چی دټولو انصارو ایمان دټولو مهاجرینو څخه مقدم دی ، بلکه مراد دا دی چی دمهاجرینو مدینی ته ترراتلو مخکی داحضرات په اسلام مشرف سوی وه، برابره خبره ده که اصل ایمان د دوی دځینو مهاجرینو تر ایمان وروسته وی) څوك چی هغوی ته هجرت کوی راځی د دوی سره داخلګ محبت کوی او مهاجرینو ته چی (د مال غنیمت اونور څخه) څه رسیږی په هغه سره دوی (انصارپه وجه دمحبت) په خپلو زړونوکی څه رشك (قصد) نه کوی او (تردی زیات محبت ورسره کوی چی په خوراك اونوروکی هغوي) ترځان مقدم ساتی که څه هم پردوی باندی (په خپله) لوږه وی (یعنی ډیر واره په خپله به نهاره ناست وی اوخوراك مهاجرینو ته ورکوی) او (واقعی) څوك چی دخپل طبیعت دبخل څخه محفوظ وساتی (لکه چی داخلګ

دی چې دحرص اوددی په مقتضا دعمل کولو څخه الله ﷻ دوی پاک ساتلی دی) داسی خلګ مراد موندونکی دی اودهغو خلګو (هم دفی په دی مال کی حق دی) کوم چې (په دار الاسلام کی یاپه هجرت کی یاپه دنیاکی) د دوی (مهاجرینو اوانصارو بیان سوو) څخه وروسته راغلل (یاراسی) کوم چې دعا کوی چې ای زمونږ پروردګاره! مونږ وبخښی او زمونږ هغه ورونه (هم) کومو چې ترمونږ مخکی ایمان راوړی دی (برابره خبره ده که نفس ایمان یا ایمان کامل چې موقوف پرهجرت وو) او زمونږ په زړونوکی دایماندارو په باره کی کینه مه پیداکوی (دا دعا دمتقدمینو څخه علاوه معاصرینو ته هم شامله ده) ای زمونږ ربه! ته لوی شفیق اورحیم یی.

معلومات اومسئلې: وَمَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰی رَسُوْلِهٖ مِنْهُمْ الاٰیة : لفظ دافَاءَ دَفَی څخه مشتق چې معنٰی یی واپس کیدل دی ، په دی وجه دغرمی څخه وروسته چې دکومو شیانو سایه دمشرق طرف ته واپس سی ، هغه ته هم فی ویل کیږي ، دغنیمت مالونه کوم چې دکفارو څخه حاصلیږی ، ددغو تولو اصل حقیقت دا دی چې د دوی دباغی کیدو په وجه د دوی مالونه په حق دسرکار ضبط وی او د دوی دملکیت څخه وزی بیا دمالك حقیقی حق تعالٰی طرف ته واپس سی ، په دی وجه ددی دحاصلیدو څخه یی په لفظ دفی سره تعبیر وکی ، ددی تقاضا دا وه چې دکفاروڅخه حاصلو سوو ټول قسمه مالونه ته فی ویل سوی دی ، مګر کوم مال چې دجهاد اوقتال په ذریعه حاصل سی په هغه کی انسانی عمل اوجد اوجهد لره هم یوقسم دخل دی په دی وجه دایی په لفظ دغنیمت سره تعبیر فرمایلی دی، وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِّنْ شَیْءٍ : لیکن دکم په حاصلولوکی چې دجهاد اوقتال هم څه ضرورت پیښ نه سی ، هغه یی په لفظ دفی سره تعبیر وفرمایل ، ددی آیت مطلب دا سو چې کوم مال بغیر دجهاد اوقتال څخه حاصل سوی دی هغه به په مجاهدینو کی دمال غنیمت دقانون مطابق نه تقسیمیږی ، بلکه په دی کی کلی اختیار به دنبی کریم ﷺ په لاس کی وی ، چاته چې څومره غواړی ورکوی به یی یابه یی دخپل ځان دپاره ساتی ، البته دا پابندی په ولګول سوه چې دمستحقینو یوڅو اقسام متعین سول چې ددی مال تقسیم دی په دی اقسامو کی دننه وی ، ددی بیان یی په راتلونکی آیت کی داسی وفرمایی چې.

مَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰی رَسُوْلِهٖ مِنْ اَهْلِ الْقُرٰی : په دی کی داهل قرٰی څخه مراد بنو نضیردی او د دوی په شان نور قبائل دبنو قریظه او نور دکومو مالونه چې بغیردڅه جنګ څخه حاصل سول ، مخ ته دمصارفو او مستحقینو پنځه قسمونه ښوول سوی دی ، چې بیان یی مخ ته راځی ، په ذکر سوی آیت کی دفی احکام ددی مستحقین او دتقسیم کار بیان سوی دی ، دسورة انفال په شروع کی دمال غنیمت اوفی فرق په واضح طور بیان سوی دی ، چې غنیمت هغه مال ته ویل کیږی کوم چې دکفارو څخه دجهاد اوقتال په نتیجه کی دمسلمانانو لاس ته ورسی اوفی هغه مال دی کوم چې بغیر دجهاد اوقتال څخه د دوی څخه حاصل سی برابره خبره ده که داسی چې هغه خپل مال پریږدی او وتښتی یاپه رضا مندی سره په صورت دجزیی اوخراج یاتجارتی وظیفی او نورو په ذریعه دهغو څخه حاصل سی.

ددی څه تفصیل په شروع دسورة انفال کی او زیات تفصیل یی ددی سورة انفال دآیت ۴۱ لاندی سوی دی ، دلته دا خبره دغور قابله ده چی دسورة انفال په آیت ۴۱ کی چی کوم الفاظ دخُمس دغنیمت په حقله راغلی دی ، تقریبًا هغه الفاظ دلته دمال دفی په باره کی دی ، په سورة انفال کی دی ، وَاعْلَمُوْا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتَامٰى وَالْمَسَاكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ : په دی دوارو آیتونوکی دمال په حقداروکی شپږنومونه ذکر سول ، الله : رسول : ذوی القربٰی : یتیم : مسکین : مسافر: دا ظاهره ده چی الله ﷻ خو ددنیا اوآخرت اوټول مخلوقات حقیقی مالك دی، دده نوم مبارك خو دحصوپه بیان کی محض تبركًاددی فائدی دپاره دی چی په دی سره ددی مال شرافت اوفضیلت اوحلالولی اوپاکوالی طرف ته اشاره وسی ، دحسن بصری، قتاده، عطاء، ابراهیم، شعبی اودعامو مفسرینو دا قول دی (مظهری)

دالله ﷻ په نوم ذکر کولو سره ددی مال فضیلت اوشرافت طرف ته اشاره څنګه وسوه ؟ ددی تفصیلی بیان دسورۃ انفال په تفسیرکی سوی دی مطلب یی دا دی چی الله ﷻ دانبیاؤ علیهم السلام دپاره دصدقی مال کوم چی دمسلمانانوڅخه حاصلیږی دا هم حلال نه دی فرمایلی ، مال غنیمت اوفی کوم چی دکافرانوڅخه حاصل سی ، په دی دا شبهه کیده چی دنبی کریم ﷺ دپاره څنګه حلال سو؟ ددی شبهی ازاله دالله ﷻ نوم دلته په ذکر کولو سره داسی وسوه چی په حقیقت کی دهرشی مالك الله ﷻ دی ، ده په خپل فضل سره تر یوخاص قانون لاندی انسانانو ته حق دملکیت ورکړی دی لیکن کوم انسان چی باغی سی ، دده صحیح لاری ته دراوستو دپاره یی اول خوانبیاء علیهم السلام او اسمانی کتابونه راولیږل څوک چی په دی هم متاثر نه سوه نو هغوی ته یی دا حق ورکی چی کم از کم داسلامی قانون اطاعت قبول کړی اومقرره جزیه اوخراج دخپل مال څخه حکومت ته ادا کوی ، کومو خلګو چی ددی څخه هم بغاوت وکی ، دهغوی په مقابله کی دجهاد اوقتال حکم وسو چی مطلب یی دا سو چی د دوی ځان اومال قابل احترام نه دی ، د دوی مالونه په حق دحکومت الهی ضبط سوه او په ذریعه دجهاد اوقتال چی کوم مال د دوی څخه حاصل سو ، هغه دیو انسان ذاتی ملکیت پاته نه سو ، بلکه سیده په سیده دالله ﷻ ملك ته واپس سو ، اوپه لفظ دفی کی ددی مفهوم طرف ته اشاره هم ده چی ددی اصل معنٰی واپس کیدل دی ، دی مال ته فی ځکه وویل سوچی دا اصل مالك حقیقی الله ﷻ ته واپس سو ، اوس په دی کی دیو انسانی ملکیت هیڅ دخل نسته ددی څخه وروسته چی کومو مستحقینوته په دی کی حصه ورکول کیږی داسیده په سیده دالله ﷻ دطرف څخه وی په دی وجه داسی حلال اوپاك وی لکه اوبه او دخانه راشنه سوی واښه کوم چی سیده په سیده دالله ﷻ د طرف څخه دانسان دپاره عطیه ده اوحلاله اوپاکه ده .

لنډه دا چی دلته دالله ﷻ په نوم ذکر کولو اشاره دی ته ده چی دا ټول مال په اصل کی دالله ﷻ دی ، دده دطرف څخه مستحقینوته ورکول کیږی او دا دچا صدقه او خیرات نه دی .

اوس مستحقین او مصرفونه صرف پنځه پاته سول ، رسول ، ذوی القربٰی ، یتیم مسکین ، مسافر، دا پنځه مصرفونه دخمس دمال غنیمت دی ، چی بیان یی په سورة انفال کی تیرسوی دی اودا مصرفونه

دمال فی دی او د دوارو حکم دا دی چی دا تول مالونه په حقیقت کی دنبی کریم ﷺ او ترده ﷺ وروسته نو دده دخلفاؤ په مکمل اختیارکی دی که هغوی غواړی نو دا تول مالونه دعامو مسلمانانو دمفادو دپاره وساتی او په بیت المال کی یی جمع کړی چاته ورڅخه هیڅ ورنه کړی او که غواړی نو چی تقسیم یی کړی البته که تقسیموی یی نو په دی پنځو اقسامو کی به یی تقسیموی (قرطبی)

دخلفاء راشدینو او نورو صحابه کرامو ﷺ دعمل څخه ثابته سوه ، چی دنبی کریم ﷺ په زمانه کی خومال دفی دده ﷺ په اختیار کی وو ، دده ﷺ دصوابدید (رایی) مطابق به صرف کیدي ، ترده ﷺ وروسته د دوی دخلفاؤ په اختیار اوصوابدید پاته سو ، بیا دنبی کریم ﷺ کومه حصه چی په دی مال کی ایښوول سوی وه هغه دده تر وفات وروسته ختمه سوه ، ذوالقربیٰ ته په دی مال کی دورکولو دوی وجهی وی یوه دا چی په اسلامی کارونوکی دنبی کریم ﷺ مدد کول ، په دی لحاظ سره غنیانو د ذوی القربیٰ ته به هم ددی مال څخه حصه ورکول سوه ، دوهم دا چی دنبی کریم ﷺ په ذوی القربیٰ باندی دصدقی مال حرام سوی دی ، نو دهغوی فقیرانو اومسکینانو ته به دصدقی په بدله کی دفی دمال څخه حصه ورکول کیده ، دنبی کریم ﷺ دوفات څخه وروسته دنصرت اوامداد سلسله ختمه سوه ، نو دا وجی باقی پاته نه سوه ، په دی وجه د ذوی القربیٰ دغنیانو حصه هم درسول دحصی په شان ختمه سوه ، البته د ذوالقربیٰ دفقراؤ حصه په حیثیت دفقراؤ احتیاج په دی مال کی باقی پاته سوه او دوی به په دی مال کی دنورو فقیرانو او مسکینانو په مقابله کی مخکی کړل کیږی (لکه چی داسی په هدایه کی دی ، ددی پوره تفصیل په سورة انفال کی راغلی دی)

كَيْ لَا يَكُوْنَ دُوْلَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنْكُمْ دُوْلَةً : په پیښ ددال سره هغه مال ته ویل کیږي دکوم چی په خپل مینځ کی لین دین کول کیږی (قرطبی) معنیٰ دایت دا ده چی دفی دمال دمستحقینو تعین ځکه وسو چی دا مال ستاسی دمالدارو او دولت مندو په مینځ کی گردش کوونکی نه سی ، په دی کی اشاره دجاهلیت دهغه رواج دختمولو طرف ته ده په کوم کی چی به په داسی تولو مالونو رئیسان په خپله قابضان اومالکان کیدل ، غریبانو او مسکینانوته به په کی هیڅ حصه نه پاته کیده .

(د دولت په خزانه کولو داسلامي قوانینو مضبوط کنډار)

الله ﷻ رب العٰلمین دی ، دده دمخلوق والی په حیثیت سره په انسانی ضرورتونو کی دتولو انسانانو یو ډول حق دی ، په دی کی دمومن اوکافر هم فرق نه دی سوی ، دخاندانی اوطبقاتی امیر او غریب په کی څه امتیازدی،الله ﷻ په دنیاکی ددولت دتقسیم لویه حصه کومه چی دانسان پرفطری او اصلی ضرورتونو مشتمله ده ، ددی تقسیم یی په خپله په خپلو لاسونو داسی وفرمایه چی په دی کی هره طبقه، هره خطه اوهرکمزوری اوقوی یو ډول فائده مند کیدی سی ، داسی شیان کوم چی الله ﷻ په خپل بالغ حکمت سره دعامو انسانانو دلاس رسیدو طاقت قبضی اوتسلط څخه مافوق جوړ کړي دی ، چی دچامجال نسته چی په هغه باندی قبضه وکی ، هوا ، فضاء ، لمر ، سپوږمی ، او دستورو رڼا ، په فضاء کی پیداکیدونکی وریځ ددی باران ، دا شیان داسی دی چی ددی څخه بغیر انسان دلږ ساعت دپاره هم ژوندی نه سی پاته

کیدی ، دا ټول دحق سبحانه تعالی قدرت داسی عام وقف جوړ کړل چی یو تر لوی لالوی حکومت او طاقت پردی قبضه نسی کولی ، داشیان دالله ﷻ مخلوق ته هرځای یوشان حاصلیږي دضرورت دشیانو دوهم قسط دمځکی څخه راوتونکی اوبه او دخوراك شیان دی ، دا که څه هم دومره عام نه دی مګر په اسلامی قانون کی یی غرونه اوغیر آباد ځنګلونه اوقدرتی چینې وقف عام پریښوولی تر یو خاص قانون لاندی یی خاصوخاصو انسانانو ته دمځکی په ځینو برخو باندی دملکیت جائزحق هم ورکړی دی او ناجائزه قبضه اوتسلط کوونکی هم په مځکه قبضه کوی ، لیکن په قدرتی طور دمځکی فوائد ځوك لوی سرمایه دارهم بغیر دغریبانو ، کسانانو مزدورانو دځان سره دشریکولو څخه نه سی حاصلولی ، په دی وجه دیو قسم قبضی باوجود هغه په دی کی نورو کمزورو غریبانو ته برحصه ورکولو باندی مجبور دی ، دریم قسط ، سره سپین ، روپی پیسی دی کوم چی په اصلی اوفطری ضرورتونو کی دا خل نه دی ، مګر حق تعالی دادټولو ضرورتونو دحاصلولو ذریعه جوړه کړي ده او دا دکانونو څخه تررا ایستو وروسته تر خاص قانون لاندی درا ایستونکو ملکیت سی او دهغوی څخه دهغوی ملکیت په مختلفو طریقو نورو ته منتقل کیږی او ددی ګردش که په ټولو انسانانوکی خاطر خواه کیدی سی ، نو یو انسان به اوږی لغړ پاته نه سی ، مګر کیږی داسی چی دمال څخه صرف په خپله فائده اخلی نوروته یی فائده نه رسیږی ، دی بخل اوحرص په دنیاکی ددولت خزانه کولو اوسرمایه پرستی تخم اونوی ډیری طریقی ایجاد کړی دی ، دکومو په ذریعه چی ددی دولت ګردش صرف دسرمایه دارو اولویو خلګوپه لاسونوکی محدود پاته سوی دی عام غریبان مسکینان ورڅخه محرومه سوي دی چی ددی رد عمل په دنیا کی دکمیونزم او سوشلزم په شان نامعقوله طریقی ایجاد کړی .

اسلامی قانون یوطرف ته خو دشخصی ملکیت دومره احترام وکی چی دیوه سړی مال یی دده دځان برابر او دده ځان یی دبیت الله دحرمت برابر مقررکی ، په دی باندی دچا ناجائز تصرف یی په شدت سره منع کی ، بل طرف ته چی کوم لاس په ناجائز طور سره ده ته وراوږد سوی دی ، هغه لاس یی پریکړی ، دریم طرف ته داسی ټولی دروازی یی بندی کړی چی په قدرتی وسیلو باندی په حاصلو سوو شیانو ځوك خاص سړی یاجماعت قبضه وکی او عوام محرومه کړی .

دکارکسب په مروجه طریقو کی سود ، سټه ، قُمار داسی شیان دی چی ددی په ذریعه دولت راغوند سی دڅوکسانوپه لاسونوکی پاته سی ، دا ټول یی سخت حرام مقررکړل په ټولومعاملو تجارت ، کرایه داری او نوروکی یی ددی ریښی پریکړی اوکوم دولت چی دچاسره په جائزو طریقو جمع سی ، په دی کی هم دغریبانو فقیرانو حقونه دزکوة ، عشر ، صدقه فطر ، کفاراتو اونورو مقررو فرائضو په صورت کی اوتر دی زیات په رضاکارانه صورت کی قائم وفرمایل اوتر دی ټولو اخراجاتو وروسته هم څه چی دانسان دمرګ تروخته پوری باقی پاته سی ، هغه یی دیوخاص حکیمانه اصولو مطابق تقسیم کړل چی ددی حقدار یی ددی مړکیدونکی قریب دا قرب فالاقرب پراصولو باندی جوړ کړل ، دایی په عامو فقیرانوکی دتقسیمولو قانون ځکه جوړنه کی ، چی که داسی وی نو مړکیدونکی به ترخپل مرګ مخکی ځای بی

ځایه خرڅ کولی اودفارغ کیدو خواهش به یی په طبعی طور سره درلودي ، نوچی خپلو خپلوانو ته یی حاصلیږي ، په دی وجه دا خبره دده په زړه کی نه پیدا کیږی چی مال بی ځایه خرڅ کی .
دا طریقه دکار اوکسب خو په عامو طریقوکی د دولت دخزانه کولو څخه دمحفوظ کیدو اختیارسوه ، دوهمه طریقه د دولت حاصلولو جنگ اوجهاد دی ، ددی څخه په حاصلو سوو مالونوکی یی هغه شرعی تقسیم جاري وفرمایی ، دکوم ذکر چی څه په سورةِ انفال کی تیر سوی دی اوڅه په دی سورة کی بیان سوی دی ، څنگه بی بصیرته دی هغه خلگ کوم چی داسلام دا منصفانه ، عادلانه اوحکیمانه نظام پرېږدی ، نوی نوی ازمونه اختیاروی اوامن عالم برباد وی .
مَآ اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا وَاتَّقُوا اللّٰهَ الاٰیة : دایت که څه هم دمالِ فی په سلسله کی راغلی دی ، او ددی سلسلی مناسب ددی مفهوم دا دی چی په مال دفی کی که څه هم الله ﷻ دمستحقینو طبقی بیان کړی دی مگر په دوی کی چاته او څومره به ورکول سی ، ددی تعین یی دنبی کریم ﷺ په صوابدید (رایه) باندي پریښی دی ، په دی وجه مسلمانانوته په دی آیت کی هدایت وسو چی چاته څومره دی ﷺ ورکوی په هغه دی راضی سی اخلی دی اوڅه چی نه ورکوی دهغه فکر دی نه کوی ، مخ ته یی داپه ، اتَّقُوا اللّٰهَ : سره مؤکد کی چی که په دی معامله کی څه غلطی حیلی بهانی جوړ کړی زیاته وصولی یی هم وکړه نوالله ﷻ دهرڅه څخه خبر دی ، هغه به ددی سزا ورکوی .

﴿ درسول حکم دقرآن دحکم په شان واجب التعمیل دی ﴾

لیک: الفاظ دقرآن عام دی صرف دمالونو سره مخصوص نه دی ، بلکه احکام هم په دی کی داخل دی ، په دی وجه په عام اندازکی دایت مطلب دا دی چی دی ﷺ څه حکم یامال یابل څه شی چا ته ورکوی هغه دی هغه اخلی او ددی مطابق دعمل کولو دپاره تیاریدل په کار دی او دکوم شی څخه چی منع کوی دهغه څخه منع کیدل په کار دی .
ډیرو صحابه کرامو ﷺ داعام مطلب اختیار کړی دی ، دنبی کریم ﷺ هر یو حکم یی ددی آیت په بنا دقرآن حکم او واجب التعمیل مقرر کړی دی قرطبی فرمایی چی په دی آیت کی د آتٰی په مقابله کی د نهٰی لفظ راغلی دی ددی څخه معلومیږی چی د ، آتٰی معنٰی دلته اَمَرَ ده : کوم چی دنهٰی صحیح مقابل دی (آه)
او قرآن کریم دنهٰی په مقابل کی دآمَرَ لفظ پریښوي دآتٰی لفظ یی شاید په دی وجه استعمال وفرمایی چی دکوم مضمون په سیاق کی چی دا آیت راغلی دی یعنی دفی دمال تقسیم دی لره هم دایت مضمون شامل سی ، حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ یو سړی داحرام په حالت کی گنډلی کپړی اغوستی ولیدی ، نوحکم یی وکی چی دا کپړی وباسه ، هغه سړی وویل چی ته ددی په حقله ماته دقرآن مجید څه آیت ښوولی سی ؟ په کوم کی چی دگنډلو کپړو ممانعت وی؟ حضرت ابن مسعود ﷺ وفرمایل چی ها؛ آیت درته ښوولی سم بیایی دا ایت ، مَآ اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ ووایه .
امام شافعی رحمه الله یو وار خلگو ته وویل چی زه ستاسی دهر سوال جواب دقرآن څخه درکولی سم،

پوښتنه کوی څه پوښتنه کول چی غواړی ، یو سړی عرض وکی چی که یو محرم مچی مړه کړه نو ددی څه حکم دی ؟ نو امام شافعی رحمه الله هم دا آیت تلاوت وفرمایی ، وَمَآ اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ : او دحدیث څخه یی ددی حکم بیان کی (قرطبی)

لِلْفُقَرَآءِ الْمُهٰجِرِيْنَ : په دی څو آیتونوکی درکوع تر آخره پوری دفقراء مهاجرینو او انصارو او د دوی څخه وروسته دراتلونکو عام امت دافرادو بیان دی ، دترکیب نحوی په اعتبار سره یی لِلْفُقَرَآءِ دلِذِی الْقُرْبٰی بدل گرځولی دی کوم چی ددی څخه په مخکی آیت کی ذکر دی (مظهری) اومطلب دایت دا دی چی په تیر آیت کی چی یی کوم یتیمان ، مسکینان او مسافرین د دوی دفقر او احتیاج په بنا باندی دفی دمال په مستحقینوکی شمار کړی دی ، په دی آیتونوکی ددی زیاته تشریح داسی وسوه چی که څه هم حقدار په دی مال کی ټول فقراء اومسکینان دی ، لیکن بیاپه دوی کی دا حضرات دنورو ټولو خلگو څخه مقدم دی ، دکومو چی دینی خدمتونه ، ذاتی صفتونه او دینی کمالات معروف دی .

(دصدقو په مالونوکي صالحان او ديني خدمت كوونكي حاجتمند به مخكي كړل كيږي)

ددی څخه معلومه سوه چی دصدقو مالونه خصوصًا دفی مال که څه هم دعامو فقیرانو مسلمانانو دحاجت رفع کولو دپاره دی ، لیکن په دی کی به هم نیکان صالحان ، دینداران خصوصًا ددین خدمت کوونکی طالبان عالمان تر نورو مقدم کیږی ، په دی وجه په اسلامی حکومتونو کی په تعلیم ، تبلیغ او دخلگو په اصلاح کی دمشغولو ، عالمانو ، قاضیانو اومفتیانو خرچونه دفئ دمال څخه دورکولو رواج وو څکه چی په دی آیتونوکی یی په صحابه کرامو رضی الله عنهم کی اول دوی درجی قائمی کړی ، یوه دمهاجرینو کوموُ چی تر ټولو اول داسلام اونبی کریم ﷺ دپاره لوی قربانی پیش کړی او داسلام دپاره یی لوی مصیبتونه وزغمل اوپه اخرکی یی مال او جانداد وطن اوټولو خپلو خپلوانو ته خدای په امان وویل او دمدینی طیبی طرف ته یی هجرت وکی ، دوهم دمدینی انصاردی کوموچی نبی کریم ﷺ او د دوی سره راغلی مهاجرین حضرات دځان سره کړل او دنیا یی دځان مخالفه کړه او ددغو حضراتو یی داسی میلمستوب وکی چی نظیر یی په دنیاکی نه پیدا کیږي ددغو دواړو طبقو څخه وروسته یی دریمه درجه دهغو مسلمانانو مقرره کړه کوم چی دصحابه کرامو رضی الله عنهم څخه وروسته په اسلام مشرف سول او د دوی په نقش قدم روان سول ، په کوموکی چی ترقیامته پوری راتلونکی مسلمانان ټول شریك دی، مخ ته ددی درو واړو طبقو دڅه فضیلتونو کمالاتو اودینی خدمتونو بیان دی .

دمهاجرینو فضیلتونه : اَلَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا وَّيَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ : په دی کی دمهاجرینو اولنی صفت دا بیان سوچی دوی دخپل وطن اومال جانداد څخه وایستل سول یعنی دمکی کفاروصرف په دی جرم کی چی دا خلق مسلمانان اودنبی کریم ﷺ حمایت کوونکی اومددگار سوی وه پر دوی یی قسم قسم ظلمونه وکړل، تردی چی دوی خپل وطن اومال اوجانداد پریښوولو اوپه هجرت کولو مجبوره سول ځینی دلوږی څخه مجبوره سول او په نس پوری به یی ډبري تړلی اوځینو به دیخ څخه

دمحفوظ کیدو دپاره په مځکه کې غارونه کیندل او دیخ څخه به یې ځانونه ساتل (مظهری ، قرطبی)

(یوه مهمه مسئله دمسلمانانو په مالونو دکفارو قبضه او ددې حکم)

په دې آیت کې یې مهاجرینو حضراتو ته فقراء ویلې دي او فقیر هغه سړی وي دکوم په ملك کې چې هیڅ نه وي یاکم ازکم په قدر دنصاب څه شی نه وي ، حال دا دی چې په مهاجرینو حضراتو کې اکثرو په مکه مکرمه کې صاحب جایداد او صاحب مال وه ، که تر هجرت وروسته هم دغه مالونه ددوی ملکیت وای نو دوی ته به فقراء ویل صحیح نه وای ، قرآن کریم دوی ته فقراء وویل او دې طرف ته یې اشاره وکړه چې تر هجرت وروسته د دوی جایداداو مال کوم چې ورڅخه په مکه کې پاته سوی دی او کفارو قبضه پروکړه هغه ددوی دملکیت څخه ووتی په دې وجه امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله او امام مالك رحمه الله فرمایي چې که مسلمانان دیوځای څخه هجرت وکي راسي او دهغوی په مال جائیدادباندې کفارقبضه وکي یاخدای مکړه په یو داراسلام باندې هغوی غالب سي او دمسلمانانو مالونه اوجائیدادونه واخلي نو دغه مالونه او جائیدادونه دکفارو دمکملې مالکانه قبضې وروسته هم دهغه مالکان سي دهغه تصرفات اخیستل خرڅول دمسلمانانو په دغو مالونو کې نافذ کیږي ، دحدیثو درو ایتونو څخه هم ددې تائید کیږي ، په تفسیر مظهری کې یې دغه ټول روایتونه دلته نقل کړي دي .

دوهم صفت یې دمهاجرینو په دې آیت کې دا وفرمایي ، يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا : یعنی د دوی په اسلام کې دا خلیدل او بیا هجرت کول مال او وطن پریښوولو کې د دوی څه دنیوی غرض نه وو ، بلکه صرف دالله ﷻ فضل او رضا مطلوب وه ، په کومه سره چې د دوی داخلاص کمال معلوم سو ، لفظ دفضل عمومًا ددنیوی نعمت دپاره او رضوان داخرت دنعمت دپاره استعمالیږي ، په دې وجه مطلوب دا سو ، چې دې حضراتو خپل ټول تیر اسباب دعیش ، مکان : جایداد اونور خو پریښوول : اوس دنیاوی ضرورتونه هم او دآخرت نعمتونه هم صرف داسلام په سایه کې مطلوب وه او ددنیا دژوند ضرورتونه هم دالله ﷻ او درسول تر رضا لاندې حاصلول مقصود وه .

دریم وصف دمهاجرینو حضراتو یې دا بیان وفرمایي ، وَيَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ : یعنی دا ټول کار دوی ددې دپاره اختیارکي چې دالله ﷻ او دهغه درسول مدد وکي ، دالله ﷻ دمدد څخه مراد دده ددین مدد دی په کوم کې چې دوی حیرانوونکې قربانۍ پیش کړه .

څلورم صفت دهغوی ، أُولٰئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ : یعنی هم داخلګ په قول اوعمل کې ربښتیني دي ، داسلام دکلمې ویلو سره چې یې کومه وعده دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ سره تړلې وه په هغه کې بالکل پوره وختل دې آیت دټولو صحابه وو مهاجرینو دصادق والي عام اعلان وفرمایي ، کوم سړی چې په هغوی کې چاته دروغ ووایي هغه مسلمان نه سي کیدی ځکه چې هغه ددې آیت څخه منکر دی (الله ﷻ دې امان راکړي) روافض کوم چې دې حضراتو ته منافق وایي ، دا ددې آیت مکمل تکذیب دی ، ددغو مهاجرینو حضراتو دالله ﷻ درسول ﷺ په نزد دامقام وو چې په خپلو دعاګانو کې به یې الله ﷻ ته ددغو فقراؤ

مهاجرینو وسیله مخکې کوله او دعا به یې غوښتله (لکه چې بغوي او مظهري روایت کړی دی)
دانصارو فضیلتونه: وَالَّذِيْنَ تَبَوَّءُوْا الدَّارَ وَالْإِيْمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ الآية: دَتَبَوَّءُ معنی ځای نیول دی او د دار څخه مراد دارِ هجرت یا دارِ ایمان یعنی مدینه طیبه ده.

(دمدینې طیبې یوخاص فضیلت)

په دی وجه حضرت امام مالك رحمه الله په یوحیثیت سره مدینه طیبه ددنیا ترباقی ښارونو افضله ګرځوی فرمایی چې ددنیا تول ښارونه او ملکونه کوم کوم ځای ته چې اسلام ورسیدی او خپور سو، تول دجهاد په ذریعه فتح سوی دی تردی چې مکه مکرمه هم، بغیر دمدینې طیبې څخه چې دا په ایمان سره فتح سوه (قرطبي)
په دی آیت کی د تَبَوَّءُ لاندی یې ددار سره دایمان هم ذکر فرمایلی دی حال دا دی چې دځای نیولو تعلق دمقام او ځای سره وي ایمان خو داسی شی نه دی چې ځای په کی ونیول سی، په دی وجه ځینی حضرات فرمایی چې دلته یو لفظ محذوف دی، یعنی اَخْلَصُوْا یا تَمَكَّنُوْا مطلب به دا وی چې دا هغه حضرات دی کومو چې په دار الهجرت کی ځای ونیوی او په ایمان کی مخلص او مضبوط سول اودا هم کیدی سی چې دلته یې داستعاری په طور ایمان ته دیو محفوظ مکان سره تشبیه ورکړی وی او په دی کی پناه اخستل یې بیان کړی وی او دلفظ دمِنْ قَبْلِهِمْ یعنی دمهاجرینو څخه دمخکی مطلب دا دی چې ددی مدینی دانصارو یو فضیلت دا دی چې کوم ښار دالله ﷻ په نزد دار الهجرت او دار الایمان جوړیدونکی وو په هغه کی ددغو خلګو قیام او قرار ترمهاجرینو مخکی سوی وو او دمهاجرینو دی ځای ته دمنتقل کیدو څخه مخکی دی حضراتو ایمان قبول کړی وو او په دی کی پاخه سوی وو.
دوهم صفت دانصارو حضراتو په دی آیت کی دا بیان سوی دی، يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ اِلَيْهِمْ: یعنی دا حضرات دهغو خلګو سره محبت ساتی کوم چې هجرت کوی د دوی ښارته راځی، کومه چې دعامی دنیا دانسانانو دمزاج خلاف خبره ده، داسی پریشان حال خلګو ته په خپل کلی کی ځای ورکول ځوك خوښوی هرځای دملکی او غیرملکی سوالونه راپورته کیږی، مګر دی انصارو حضراتو صرف دا ونه کړل چې دوی ته یې په خپل کلی کی ځای ورکی، بلکه په خپلو کورونو کی یې آباد کړل او په خپلو مالونو کی یې حصه دار جوړ کړل او دغه شان په عزت او احترام سره یې ددوی استقبال وکی چې یو یو مهاجر ته دخپل ځان سره دځای ورکولو دپاره ځو ځو انصارو حضراتو درخواستونه وکړل تردی چې خبره هسکه کولو ته ورسیده دهسکو په ذریعه چې به کوم مهاجر دکوم انصاری په حصه کی راغی هغه ته به سپارل کیدي (مظهري)
دریم وصف یې دانصارو حضراتو دا بیان وفرمایی، وَلَا يَجِدُوْنَ فِي صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً مِّمَّا اُوْتُوْا ددی جملی تعلق دهغه خاصی واقعی سره دی کومه چې دبنو نضیرو دجلا وطن کیدو او د دوی په باغونو او مکانونو باندی دمسلمانانو دقبضی په وخت پیښه سوه.

(دبنو نضیرو دمالونو دتقسیم واقعه)

صورت دا وو چې هرکله په دی آیت کی دفی دمالونو تقسیم په مهاجرینو او انصارو اونورو کی دکولو

اختیار نبی کریم ﷺ ته ورکول سو، دا هغه وخت وو چی دمهاجرینو سره نه خپل څه مکان وو، نه جایداد او دانصارو حضراتو په مکانونوکی اوسیدل او د دوی په جایدادونو کی به یی محنت اومزدوری کوله او گذاره یی په کوله، کله چی دبنو نضیر اوبنو قینقاع مالونه په طور دفی مسلمانانوته حاصل سول، نو نبی کریم ﷺ دمدینی منوری دانصارو سردار ثابت بن قیس بن شماس ؓ راوبلي او ورته یی وفرمایل چی خپل قوم انصار ماته راوغواړه، هغه پوښتنه وکړه چی یارسول الله ﷺ صرف دخپلی قبیلی خزرج انصار اوکه ټول انصار ؟ ده ﷺ وفرمایل چی دټولو رابلل دی، دا حضرات ټول جمع سول نونبی کریم ﷺ یوه خطبه ورکړه په کومه کی چی یی دحمد اوصلوة څخه وروسته دمدینی دانصارو په دی خبره مدح اوثناء وفرمایله چی دوی کوم سلوك دخپلو مهاجرو وروڼو سره وکی دا دلوی عزم اوهمت کار وو، ددی څخه وروسته ده ﷺ وفرمایل چی الله ﷻ دبنو نضیرو مالونه تاسی ته درکړی دی، که تاسی غواړی نوزه دا مالونه په مهاجرینو اوانصارو ټولوباندی تقسیموم اومهاجرین به دپخوا په شان ستاسی په کورونو کی اوسیږی اوکه تاسی غواړی نو داسی به وسی چی دوی بی کوره اوبی ماله خلگ دی، دا مالونه به صرف په دوی تقسیم سی او دا خلگ به ستاسی کورونه پریږدی اوځان ته به کورونه جوړ کړی.

چی دا یی واوریدل نو دمدینی دانصارو دوه لوی سرداران حضرت سعدبن عباده ؓ اوسعد بن معاذ ؓ پاڅیدل اوعرض یی وکی یارسول الله ﷺ! زمونږ رایه دا ده چی دا ټول مالونه هم صرف په مهاجرینو وروڼو تقسیم کی، او هغوی دی بیاهم زمونږ په کورونو کی دتیر دستور مطابق اوسیږی د دوی خبره یی چی واوریده نو ټولو حاضرینو انصارو په جمع وویل چی مونږ په دی فیصله راضی اوخوشحاله یو، دغه وخت نبی کریم ﷺ ټولو انصارو او د دوی اولاد ته دعا وکړه او دا مالونه یی صرف په مهاجرینو باندی تقسیم کړل په انصاروکی صرف دوه حضراتو ته کوم چی ډیر حاجتمند وه، په دی کی حصه ورکول سوه یعنی سهل بن حنیف ؓ او ابو دجانه ؓ اوسعد بن معاذ ؓ ته یوه توره ورکول سوه کومه چی دابن ابی الحقیق یوه ممتازه توره وه (مظهری په حواله دسبیل الرشاد محمد بن یوسف الصالحی)

په ذکر سوی آیت کی چی کوم دا ارشاد فرمایی، لَا يَجِدُوْنَ فِي صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً مِّمَّا أُوْتُوْا: په دی کی دحاجت څخه مراد دهر ضرورت شی دی او دمما اوتو ضمیر دمهاجرینو طرف ته راجع دی، معنٰی دایت دا ده چی په دی تقسیم کی چی څه مهاجرینو ته ورکول سول، دمدینی انصارو په خوشحالی سره هغه داسی قبول کړل چی گویا د دوی دی شیانوته هیڅ حاجت نه وو، هغوی ته یی ورکول، بدگڼل یاشکایت کول، ددی خو لیری هم څه امکان نه وو، ددی په مقابله کی کله چی بحرین فتح سو، نو نبی کریم ﷺ وغوښتل چی دا ټول مال صرف په انصاروکی تقسیم کړی، مگر انصارو داقبوله نه کړه بلکه عرض یی وکی چی مونږ یی تر هغه وخته پوری نه اخلو تر څو پوری چی زمونږ مهاجرو وروڼو ته هم په دی کی حصه ورنه کړل سی (بخاری عن انس بن مالك از ابن کثیر)

خلورم صفت دمدینی دانصاروپه دی آیت کی داذکرسوی دی، وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْكَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ

دخصاصه معنیٰ فقر او فاقه ده او دایثار معنیٰ دنورو خواهش او حاجت په خپل خواهش اوحاجت باندی مقدم کول دی ، معنیٰ دآیت دا ده چی انصارو حضراتوبه په خپل ځان نورو یعنی مهاجرینوته ترجیح ورکوله چی دخپل حاجت او ضرورت پوره کولو څخه مخکی به یی دهغوی حاجت اوضرورت پوره کول ، که څه هم دوی به په خپله هم حاجتمند اوبه فقر اوفاقه کی وه .

(دصحابه حضراتو ﷺ خصوصًا دانصارو ﷺ دایثار یو څو واقعات)

که څه هم دآیتونو دتفسیر دپاره دواقعاتو بیان ته ضرورت نسته ، مګر دا واقعات هرانسان ته داعلیٰ انسانیت سبق ورکوونکی اوپه ژوند کی انقلاب راوستونکی دی ، په دی وجه مفسرینو حضراتو په دی موقعی دا په تفصیل سره لیکلی دی . خصوصًا قرطبی ، هم ددی څخه یو څو واقعات نقل کړل کیږی .

په ترمذی کی دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چی دیو انصاری کورته دشپی یو میلمه راغی دهغه په کورکی صرف دومره خوراك وو چی په خپله د دوی او دبچیانو یی کیدي ، ده خپلی ښځی ته وویل چی بچیان خو په یو ډول سره بیده کړه او دکور څراغ مړ کړه ، بیامیلمه ته ډوډی کښیږده اومونږ به ورسره هم کښینو چی میلمه په داسی ګڼی چی مونږ یی هم ورسره خورو، لیکن مونږ به یی نه خورو چی میلمه یی ښه په فراغت سره وخوری ، په دی دا ذکر سوی آیت نازل سو ، وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰى اَنْفُسِهِمْ الاية (قال الترمذی هذا حسن صحیح)

او په ترمذی کی دابو هریره ﷺ یو بل روایت داسی نقل دی چی یو سړی دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سو او عرض یی وکی چی زه دلوږی څخه پریشانه یم ده ﷺ په پاکو بیبیانو کی دیوی کورته اطلاع ورکړه نو دهغه څخه جواب راغی چی زما سره خو دا وخت بغیر داوبو څخه نور هیڅ نسته بلی ته یی پیغام ولیږي ، دهغه دطرف څخه هم داجواب راغی ، بیادریمی څلورمی تردی چی ټولو میندو دمومنانو ته یی پیغام ولیږي او دټولو څخه هم دغه یوجواب راغی چی داوبو څخه ماسوا زمونږ سره هیڅ نسته ، اوس ده ﷺ دمجلس حاضرینوته خطاب وفرمایی چی څوك سته چی نن شپه دا سړی میلمه کړی یو انصاری عرض وکی چی یارسول الله ﷺ زه به یی میلمه کړم ، هغه یی دځان سره کورته بوتلی اوکورته چی ولاړی نو پوښتنه یی وکړه چی خوراك څه سته؟ نوښځی ورته وویل چی صرف دومره سته چی زمونږ بچیان یی وخوری ، انصاری خپلی بی بی ته وویل چی بچیان خوبیده کړه اوچی میلمه ته ډوډی کښینږدی او مونږ ورسره کښینو نو ته څراغ په یو بهانه سره مړ کړه چی زمونږ په نه خوراك میلمه پوه نه سی ، میلمه ډوډی وخوړه کله چی سهار دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سو نوده ﷺ وفرمایل چی الله ﷺ ستاسی هغه معامله کومه چی تاسی تیره شپه دخپل میلمه سره وکړه ، ډیره خوښه کړه .

اومهدوی یوه داسی واقعه دیو انصاری بزرګ دحضرت ثابت بن قیس ﷺ سره دشپی دڅراغ دمړ کولو او خوراك خوړلو ذکر کړي ده او دټولو واقعاتو سره په روایتونو کی دا هم دی چی ذکر سوی آیت په دی واقعه کی نازل سوی دی .

او قشیری دحضرت عبدالله ابن عمر ﷺ څخه نقل کړی دی چی په صحابه کرامو ﷺ کی یو بزرگ ته چا دیوی بزی سر په طور دتحفی پیش کی ، دی بزرګ خیال وکی چی زما فلانی ورور او دهغه اهل او عیال ترما ضرورتمند دی ، دا سر یی هغوی ته ولیږي ، هغه بل بزرګ ته چی ورسیدی ، نو دغه ډول هغه دریم ته او دریم څلورم ته ولیږي ، تردی چی په اوو کورونو کی تر ګرځیدو وروسته بیا اولنی بزرګ ته واپس راغی ، په دی واقعه ذکر سوی آیتونه نازل سول دا واقعه ثعلبی دحضرت انس ﷺ څخه هم روایت کړي ده په موطاء امام مالك کی دحضرت عائشه ﷺ څخه روایت دی چی یومسکین ددی څخه سوال وکی ددی په کورکی صرف یوه ډوډی وه اوپه دغه ورځ ددی روژه وه ، دی خپل خادمی ته وفرمایل چی دا ډوډی هغه ته ورکړه خادمی ورته وویل چی که دا هغه ته ورکړم نوماښام خوستا دروژی ماتولو دپاره به هیڅ نه وی ، حضرت عائشه صدیقه ﷺ وفرمایل چی خیردی ور یی کړه دا خادمه وایی چی کله ماښام سو نو یو داسی سړی دکوم دطرف څخه چی دهدیی ورکولو څه رسم نه وو ، یوه سالمه بزه کباب کړل سوی اوسربیره وربانديِ دمیدی داوړو پوخ سوی پوټ هم پیچلی وو ، کم چی په عربو کی ترټولو ښه خوراك ګڼل کیدي دی ته په طور دهدیی راولیږله ، حضرت عائشه صدیقه ﷺ خادمی ته وویل چی راسه اوس دا خوره ، داستا تر هغه ډوډی ښه دی.

اونسایی دحضرت عبدالله ابن عمر ﷺ څخه دا واقعه نقل کړي ده چی هغه ناروغ وو او انګورو ته یی زړه کیدی ، دده دپاره یی په یوه درهم باندی یو واښکی واخیستل سو راوړل سو اتفاقاً یومسکین راغی او سوال یی وکی ده وفرمایل چی دا واښکی ورته ورکړی ، په حاضرینو کی یو کس پټ په ده پسی ولاړی او واښکی دهغه مسکین څخه په قیمت واخیستی ، بیایی ابن عمر ﷺ ته پیش کی ، مګر دغه سوالګر بیا راغی اوسوال یی وکی نو حضرتِ ابن عُمر ﷺ بیاده ته ورکی ، بیا صاحب ورپسی ولاړی اوپه یوه درهم یی ورڅخه واخیستی ، بیایی راوړی او دحضرت ابن عمر ﷺ په خدمت کی یی پیش کی ، دغه سوالګر بیا راتلی خو خلګو منع کی ، اوحضرت ابن عمر ﷺ ته که دا اطلاع سوی وای چی دا هغه واښکی دی چی ما صدقه کړی وو هیڅکله به یی نه وای خوړلی ، مګر دده خیال وو چی دا یی دبازار څخه بل راوړی دی ، په دی وجه یی وخوړی.

او ابن مبارك په خپل سند سره روایت کړی دی چی یو وار حضرت فاروق اعظم ﷺ څلور سوه دیناره په یوه تیلی کی واچول ، غلام ته یی وسپارل چی ابو عبیده بن جراح ﷺ ته یی یوسه چی دا هدیه ده ، قبوله یی کړه اوپه خپل ضرورت کی یی صرف کړه اوغلام ته یی هدایت وکی چی دهدیی ورکولو څخه وروسته څه وخت په کور کی تم سه او دا وګوره چی ابو عبیده په دی څه کوی ؟ غلام دهدایت مطابق تیلی دابو عبیده په خدمت کی پیش کړه اولږ تم سو ، ابو عبیده ﷺ تیلی واخسته ، ویی ویل چی الله ﷻ دی عمربن خطاب ﷺ ته ددی صله ورکړی اوپه ده دی رحمت وکی اودغه وخت یی خپلی مینځی ته وویل چی واخله دا اووه فلانی ته اودا پنځه فلانی ته ورکړه، تردی چی ټول څلور سوه دیناره یی دغه وخت تقسیم کړل.

غلام بیرته راغی واقعه یی بیان کړه ، حضرت عمربن خطاب ﷺ دغه ډول دڅلور سوه دیناره یوه بله تیلی

تیاره کړه ، غلام ته یې ورکړه ، هدایت یې ورته وکې چې معاذبن جبل ﷺ ته یې ورکړه اوهلته هم وګوره چې څه ورسره کوی ، دی غلام تیلی هغه ته ورکړه ، هغه تیلۍ واخسته ، حضرت عمر ﷺ ته یې دعا وکړه چې الله ﷻ دی رحم پر وکې اوصله دی ورته ورکړی او دی هم دتیلی دتقسیمولو دپاره کښینستی اوډیری حصی یې جوړی کړی اومختلفو کورونوته یې ولیږلی ، دحضرت معاذ ﷺ بی بی داهرڅه لیدل ، په اخر کې یې وویل چې په خدای قسم دی مونږ خوهم مسکینان یو ، مونږ ته هم یوڅه ورڅخه راکړه ، دغه وخت په تیلی کې صرف دوه دیناره پاته سوی وه ، هغه یې دی ته ورکړل ، غلام چې داهرڅه ولیدل نو واپس سو اوحضرت عمر ﷺ ته یې بیان وکې ، نوده ﷺ وفرمایل چې دا ټول ورونه وړونه دی دټولومزاج یو ډول دی .

اوحذیفه عدوی فرمایی چې زه په جنګ یرموك کې دځپل اکا دزوی په تلاش کې ووتم ، دشهیدانو په لاشونوکی می لټوي اولږ اوبه می هم دځان سره واخستی چې که ژوندی وی نوچی اوبه ورته ورکړم چې ده ته ورسیدم نولاڅه لږ شان ساه په کی وه ، ماورته وویل چې اوبه درکړم؟ ده په اشاره وویل چې هو! مګر فوراً دخوا څخه دیو ږوبل فریاد راغی ، زماورور وویل چې دا اوبه هغه ته ورکه چې هغه ته ورسیدم او اوبه می ورکولی نو دبل اواز راغی هغه هم وویل چې ده ته یې ورکړه ، دغه ډول په اوو شهیدانو می اوبه وګرځولی چې اووم ته رسیدم نو هغه وفات سوی وو ، ددی ځای څخه واپس خپل ورور ته چې را ورسیدم هغه ختم سوی وو .

دا څو واقعات دی چې په دی کی څه دانصارو څه دمهاجرینو دی ، داکثرو په باره کی ویل سوی دی چې دایثار ایت د دوی په واقعه کی نازل سو ، مګر په دی کی هیڅ تضاد او اختلاف نسته ، ځکه چې په څنګه واقعه کی یو آیت نازل سوی دی که دغه ډول یوه بله واقعه پیښه سی ، نو ویل کیږي چې په دی کی دا آیت نازل سو او حقیقت دا دی چې دا ټول واقعات دایت دنزول سبب اومصداق دی .

دیوی شبهي جواب : دصحابه کرامو ﷺ واقعات دایثارچی کوم لوربیان سول په هغه یوه شبه دحدیثو درو ایتونو څخه دا کیږی چې نبی کریم ﷺ دټول مال دصدقه کولوڅخه منع فرمایلی ده ، لکه چې په یو حدیث کی دی چې یو سړی دنبی کریم ﷺ په خدمت کی دیوی هګی په مقدار دسرو زرو یوه ټوټه په غرض دصدقی پیش کړه نو ده ﷺ هغه ته بیرته ور وغورځوله او ارشاد یې وفرمایی چې په تاسی کی ځینی خلک خپل ټول مال صدقه کړی ، بیا محتاجه سی او دخلکو څخه خیرات غواړی ددی شبهي جواب ددی روایتونو څخه دا راوزی چې دخلکوحالات مختلف وی ، دهر یوه حال حکم جلا دی ، دټول مال صدقه کولو ممانعت دهغو خلکو دپاره دی کوم چې وروسته په لوږه تنده اوفقیری صبر نه سی کولی په خپله صدقه پسی پښیمانه وی یابیا دخلکو څخه په خیر غوښتلو مجبوره سی اوهغه خلک دکومو چې دعزم او همت اوثبات اواستقلال داحال وی چې دهرڅه خرڅ کولو څخه وروسته په لوږه اوفقر پریشانه کیږی نه ، بلکه دهمت سره په هغه صبر کولی سی ، د دوی دپاره ټول مال دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کول جائز دی لکه چې حضرت صدیق اکبر ﷺ دجهادپه چنده کی خپل ټول مال پیش کړی وو ، ددی مثالونه دا واقعات دی کوم چې دلته ذکر دی ، داسی حضراتو خپل اهل اوعیال هم دداسی صبر او استقلال سره عادت کړی

وو، په دی وجه په دی کی د دوی هم څه حق تلفی نه وه که دغه مال په خپله داهل اوعیال په قبضه کی وای نو هغوی به هم داسی کول (قرطبی مع اضافه)

(دمهاجرینو حضراتو ﷺ طرف ته دانصارو ﷺ دایثار مکافات)

په دنیاکی هیڅ یو اجتماعی کار په یو طرف رواداری اوایثار سره قائم نه سی پاته کیدی ترڅو پوری چی د دواړه طرف څخه دغه ډول معامله نه وی، په دی وجه نبی کریم ﷺ چی څنګه ددی ترغیب ورکی چی مسلمانان دی په خپل مینځ کی یو بل ته هدیی ورکوی، دیو بل سره دی محبت زیاتوی، دغه ډول چاته چی هدیه ورکول سی هغوی ته یی هم دا تعلیم ورکی چی تاسی هم دهدیه درکوونکی داحسان بدله ورکوی، که مالی وسعت الله ﷻ درکړی وی نو په مال سره کنی په دعاسره یی بدله ورکوی، په بی حسی سره دچا داحساناتو بار پر سر اخستل دشرافت اوخُلق څخه خلاف ده.

دمهاجرینو حضراتو په معامله کی انصارو حضراتو دلوی ایثار څخه کار واخستی په خپلو مکانونو، دکانونو، کاروبار، مځکی او زراعت کی یی دوی شریك کړل، لیکن کله چی الله ﷻ دی مهاجرینو ته وسعت ورکی نو دوی هم دانصارو حضراتو داحساناتو په بدله کی کمی ونه کړه.

قرطبی په حواله دصحیحینو دحضرت انس بن مالك ﷺ څخه روایت کړی دی، چی کله مهاجرین دمکی مکرمی څخه مدینی منوی ته راغلل نو د دوی په لاس کی هیڅ نه وه او دمدینی انصار مځکو او جائیداد والا وه، انصارو ددی حضراتوسره هرشی په نیمه تقسیم کی اودخپلو باغونونیمه به یی سالانه دوی ته ورکوله، او دحضرت انس ﷺ مور ام سلیم ﷺ خپلی څو درختی دخرماو نبی کریم ﷺ ته ورکړی وی کوم چی نبی کریم ﷺ دأسامه بن زید ﷺ مور امّ ایمن ﷺ ته ورکړی.

امام زهری رحمه الله فرمایی چی ماته حضرت انس بن مالك ﷺ خبر را کړی دی چی نبی کریم ﷺ کله دخیبر دجهاد څخه په کامیابی سره فارغ سو اومدینی طیبی ته چی بیرته راغی (په دی غزاکی مسلمانانو ته دغنیمت مال په کافی مقدار کی په لاس ورغی) نو تولو مهاجرینو دانصارو حضراتو دټولو بخششونو حساب وکی او هغوی ته یی واپس کړل اونبی کریم ﷺ زما دمور درختی دام ایمن ﷺ څخه واپس کړی او دی ته یی ورکړی او ددی پرځای یی ام ایمن ﷺ ته دخپل باغ څخه درختی ورکړی.

وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ: دانصارو حضراتو دایثار او دالله ﷻ په لاره کی دهرڅه قربانولو تر ذکر کولو وروسته یی عامه قاعده ارشاد وفرمایل چی کوم خلګ خپل نفس دبخل څخه وساتی نو دالله ﷻ په نزد هغوی فلاح او کامیابی پیدا کیدونکی دی، لفظ دشح اوبخل تقریبًا هم معنٰی دی، په لفظ دشح کی څه مبالغه ده چی ډیرسخت بخل ته ویل کیږی، بخل اوشح که په حقوق واجب کی وسی، برابره خبره ده که هغه دالله ﷻ په حقوقو کی دی لکه زکوٰة، صدقه الفطر، عشر، قربانی اونور چی ددی په ادا کولو کی په وجه دبخل کوتاهی وکی یا دانسانانو واجب حقونه وی لکه داهل وعیال نفقه یادخپل حاجتمندو مور اوپلار خپلوانو واجب نفقه، کوم بخل چی ددی واجبو حقونو په ادا کولوکی مانع وی

هغه قطعًاحرام دی اوکوم چې دمستحبو کارونو اوفضائلو دصدقو څخه مانع وی ، هغه مکروه او مذموم دی اوکوم چې محض په رسمی کارونو اوشیانوکی دخرڅ څخه مانع وی هغه شرعًابخل نه دی بخل اوشح اوپه نورو باند حسد داسی مذموم خصلتونه دی چې په قرآن اوحدیث کی ددی ډیر مذمت راغلی دی اوځوك چې ددی څخه محفوظ سی دهغه دپاره لوی بشارت دید ، دانصارو حضراتوچې کوم صفتونه نور بیان سوي دی په هغه کی د دوی دبخل اوحسد څخه بری والی واضح دی .

﴿ دکین اوحسد څخه پاکوالي دجنتي کیدو علامه ده ﴾

ابن کثیر په حواله دامام احمد دحضرت انس ﷺ څخه روایت کړی دی چې ، مونږ دنبی کریم ﷺ سره ناست وو ده ﷺ وفرمایل چې ،اوس تاسی ته یوسړی راتلونکی دی کوم چې دجنتیانوڅخه دی لکه چې یو صاحب دانصارو څخه راغی چې دږیری څخه یی تازه اوبه داوداسه څځیدی اوپه چپه لاس کی یی خپلی چپلکی را اخیستی وی ، په دوهمه ورځ بیاهم داسی واقعه پیښه سوه اوهم هغه سړی په دغه حالت سره راغی ، په دریمه ورځ بیا هغه واقعه پیښه سوه اوهم هغه سړی په خپل بیان سوی حالت کی داخل سو ، کله چې نبی کریم ﷺ دمجلس څخه ولاړ سو نوحضرت عبدالله بن عمروبن العاص ﷺ په هغه سړی پسی سو (چې دده دجنتی کیدو راز معلوم کړی) اوده ته یی وویل چې ماپه یوه جګړه کی قسم خوړلی دی ، چې زه به دری ورځی خپل کورته نه ځم که ته مناسب ګڼی نو دری ورځی ماته دخپل ځان سره ځای راکړه ، هغه دا منظوره کړه ، حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ دری شپی دده سره تیری کړی نووي لیدي چې دشپی دتهجد دپاره پورته نه سو ، البته چې دپریوتو دپاره به بستري ته تلی نو دالله ﷻ څه ذکر به یی کوي بیابه دسهار لمانځه ته پورته کیدی ، البته په دی ټول وخت کی ما دهغه دژبی څخه بغیر دخیر دکلمی څخه بله څه کلمه وانه وریده ، کله چې دری شپی تیری سوی اوقریبه وه چې زماپه زړه کی دده دعمل سپکوالی راسی نوما ده ته خپل راز ښکاره کی ، چې زماپه کورکی څه جګړه نه وه لیکن ما دنبی کریم ﷺ څخه دری ورځی دا اوریدل ، چې تاسی ته یو داسی سړی راتلونکی دی کوم چې دجنتیانو څخه دی او ددی څخه وروسته په دری سره ورځی ته راغلی ، په دی وجه ماغوښتل چې زه ستاسره پاته سم اووګورم چې ستاهغه څه عمل دی دکوم په سبب چې دا فضیلت تاته حاصل سو ؟ مګر عجیبه خبره ده چې ماپه تاکی څه لوی عمل ونه لیدی نوهغه کوم یوشی دی چې ته یی دومره لوی درجی ته ورسولی هغه وویل ، زما سره خو بغیر ددی څخه بل هیڅ عمل نسته کوم چې تاولیدی ماچې دا واوریدل نو راواپس سوم ، هغه ماته آواز وکی ، ویی ویل چې البته یوه خبره ده چې ، زه په خپل زړه کی دهیڅ مسلمان سره کینه اوبغض نه لرم اوپه چا حسدنه کوم چې الله ﷻ چاته دخیرڅه شی ورکړی وی ، حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ وویل چې بس هم دغه صفت دی کوم چې تاته یی دا لوړ مقام درکړی دی ، ابن کثیر ددی ترنقل کولوڅخه وروسته فرمایی چې دانسائی هم په ، عمل الیوم واللیلة، کی نقل کړی دی اوددی اسناد صحیح علی شرط الشیخین دی .

(دمهاجرینو ﷺ اوانصارو ﷺ څخه وروسته دعام امت مسلمانان)

وَالَّذِيْنَ جَآءُوْا مِنْۢ بَعْدِهِمْ : ددی آیت په مطلب کی دمهاجرینو ﷺ اوانصارو ﷺ څخه وروسته پیدا کیدونکی تر قیامته پوری مسلمانان شامل دی او دی آیت دا ټول دفی دمال حقدار گرځولی دی ، دا سبب وو چی حضرت فاروق اعظم ﷺ ددنیا لوی ملکونه عراق ، شام، مصر اونور فتح کړل نو دهغوی مځکی یی پرغانمینو تقسیم نه کړی بلکه هغه یی دراتلونکو نسلونو دپاره وقف عام پرینبوولی چی آمدنی یی اسلامی بیت المال ته راځی او ددی څخه ترقیامته پوری راتلونکی مسلمانان فائده اخلی ، ځینو صحابه کرامو ﷺ چی د دوی څخه دفتح سوو مځکو دتقسیم سوال وکی ، نو ده ددی آیت حواله ورکړه اوویی فرمایل چی که زمایه مځکی دراتلونکو نسلونو معامله نه وای نومابه چی کوم ملک فتح کیدی دهغه ټولی مځکی به می هم پرغانمینو تقسیمولی لکه چی نبی کریم ﷺ دخیبر دمځکو تقسیم فرمایلی وو ، که دا ټولی مځکی په موجوده مسلمانانو کی تقسیم سی نوراتلونکو مسلمانانوته به څه باقی پاته سی (مالك ، قرطبی)

(دامت په حق باندی دکیدو شناخت دصحابه کرامو ﷺ محبت اوعظمت دی)

په دی مقام باندی حق تعالی ټول امت محمدی دری طبقی کړل ، مهاجرین ، انصار اوباقی ټول امت ، دمهاجرینو اوانصارویی خاص صفتونه اوفضائل هم دلته ذکر وفرمایل ، مگر دباقی امت دصفتونو، کمالونو اوفضیلتونو څخه یی صرف یوشی دا وښوويي چی دغه دصحابه کرامو ﷺ په ایمان کی مځکی کیدل او دایمان مونږ ته درسولو ذریعه کیدل وپیژنی او دټولو دپاره دمغفرت دعا کوی او دځان دپاره دا دعا کوی چی زمونږ په زړونو کی دیو مسلمان سره کینه اونفرت پیدا نه سی .

ددی څخه معلومه سوه چی دصحابه کرامو ﷺ څخه وروسته چی څومره مسلمانان دی دهغوی دایمان اواسلام قبلیدو اودنجات پیدا کیدو دپاره داشرط دی چی هغه دصحابه کرامو ﷺ عظمت اومحبت په خپلو زړونو کی ساتی او دهغوی دپاره دعا کوی په چاکی چی دا شرط نه سی پیدا هغه دمسلمان ویلو قابل نه دی ، په دی وجه حضرت معصب بن سعد ﷺ فرمایی چی دامت ټول مسلمانان په دری درجو کی دی دکومو څخه چی دوی درجی خو تیری سوی دی ، مهاجرین اوانصار ، اوس صرف یوه درجه باقی پاته ده ، یعنی هغه کوم چی دصحابه کرامو ﷺ سره محبت ساتی دهغوی عظمت وپیژنی ، اوس که تاسی په امت کی څه ځای حاصلول غواړی نو په دی دریمه درجه کی داخل سی .

دحضرت حسین ﷺ څخه چا دحضرت عثمان غنی ﷺ په باره کی پوښتنه وکړه (کله چی دده دشهادت واقعه پیښه سوی وه) نو هغه دسوال کوونکی څخه پوښتنه وکړه چی ته په مهاجرینو کی یی؟ هغه انکار وکی ، بیایی ورڅخه پوښتنه وکړه چی دانصارو څخه یی؟ هغه ددی په جواب کی هم انکار وکی ، نوویی فرمایل بس اوس په دریم آیت ، وَالَّذِيْنَ جَآءُوْا مِنْۢ بَعْدِهِمْ کی پاته سوی که ته دحضرت عثمان غنی ﷺ په شان کی شك اوشبهه پیدا کول غواړی نو ددی درجی څخه به هم ووزی .

قرطبی فرمایی چی دا آیت ددی دلیل دی چی دصحابه کرامو ﷺ محبت په مونږ واجب دی ، حضرت امام مالك رحمه الله فرمایی چی کوم سړی یوصحابی ته بدوایی یادده په حقله دبدی عقیده ساتی ، دده دمسلمانانو په مال دفی کی څه حصه نسته بیایی ددی آیت څخه استدلال وفرمایی اوچی کله دفی په مال کی حصه دهر مسلمان ده ، نو دچاچی په دی کی حصه پاته نه سوه ، دهغه ایمان اواسلام مشکوك سو.

حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمایی چی الله ﷻ ټولو مسلمانانو ته دنبی کریم ﷺ داصحابو دپاره داستغفار او دعا کولو حکم ورکی ، حال دا دی چی دالله ﷻ په علم کی وه چی د دوی په مینځ کی به جنگ جګړه اوفتنی پیدا کیږی (په دی وجه یو مسلمان ته دصحابه وو ﷺ دمشاجراتو په وجه په دوی کی دچا څخه بدګمان کیدل جائز نه دی) حضرت عائشه صدیقه ﷺ فرمایی چی ماستاسی دنبی کریم ﷺ څخه اوریدلی دی چی دا اُمت به ترهغه وخته پوری هلاك نه سی ترڅوچی د دوی وروستنی خلگ په مخکنیو لعنت او ملامتیا ونه کی.

حضرت عبدالله بن عمر ﷺ فرمایی چی کله تاسی څوک وويني چی دیو صحابی ﷺ بد وایی نوده ته ووایاست چی په تاسی کی څوك زیات بددی په هغه دی دالله ﷻ لعنت وی ، دا ظاهره ده چی زیات بد صحابه ﷺ خوکیدی نه سی هم هغه به وی کوم چی دهغوی بد وایی ، لنده دا چی په صحابه کرامو ﷺ کی چاته بد ویل سبب دلعنت دی ، اوعوام بن حوشب فرمایی چی ما ددی امت اولنی خلگ په دی خبره مستقیم اومضبوط پیدا کړي دی چی هغوی به خلګو ته دا تلقین کوي چی دصحابه کرامو ﷺ فضائل او محاسن بیانوی چی دخلګو په زړونوکی د دوی محبت پیداسی او هغه مشاجرات اواختلافات کوم چی د دوی په مینځ کی پیښ سوی دی ، دهغو ذکر مه کوی چی په دی سره د دوی جرات زیات نه سی (او هغوی بی ادبه نه سی) (دا ټول روایتونه دتفسیر قرطبی څخه را اخیستل سوي دی)

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ نَافَقُوا يَقُولُونَ لِإِخْوَانِهِمُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ

آیا تا ونه لیدل هغه خلق کوم چی منافقان دی وایی خپلو وروڼو ته کوم چی کافران دی په اهل

الْكِتَابِ لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمْ

کتابو کی که تاسی چا ویستلاست نومونږ به هم وزو تاسی سره او خبره به ونه منو دهیچاستاسی

أَحَدًا أَبَدًا وَإِنْ قُوتِلْتُمْ لَنَنْصُرَنَّكُمْ وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ

په معامله کی هیڅکله ، او که تاسی سره جنگ وسو نومونږ به ستاسی مدد وکړو او الله ﷻ شاهدی کوی چی

لَكَاذِبُونَ ﴿١١﴾ لَئِنْ أُخْرِجُوا لَا يَخْرُجُونَ مَعَهُمْ وَلَئِنْ قُوتِلُوا

هغوی درواغجن دی ، که هغوی ویستل سی دوی به ونه وزی دهغوی سره ، او که دهغوی سره جنگ وسی

لَا يَنْصُرُوْنَهُمْ ۚ وَلَئِنْ نَّصَرُوْهُمْ لَيُوَلُّنَّ الْاَدْبَارَ ۫ ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۲﴾

نو دوی به مدد ونه کړي، او که مدد یې وکړي نو وبه تښتي په شا باندي ، بیا به هیڅکله مدد نه کي پیدا

لَاَنْتُمْ اَشَدُّ رَهْبَةً فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنَ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

خامخا ستاسي بیره زیاته ده په زړونو د دوی کی دالله دبیري څخه ، دا ځکه چي هغه خلق

قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ﴿۱۳﴾ لَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ جَمِيْعًا اِلَّا فِيْ قُرًى مُّحَصَّنَةٍ

نه پوهیږي ، جنګ نه سي کولی تاسي سره په جمع ، مګر په پناه ګاهونو کی ،

اَوْ مِنْ وَّرَآءِ جُدُرٍ ؕ بَاْسُهُمْ بَيْنَهُمْ شَدِيْدٌ ؕ تَحْسَبُهُمْ

یا د دیوالونو د شا څخه ، د دوی جنګ په خپل مینځ کی سخت دی ، ته ګمان کوی په هغوی

جَمِيْعًا وَّقُلُوْبُهُمْ شَتّٰى ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ﴿۱۴﴾ ۚ

چی په جمع دی او زړونه دهغوی جلا جلا دی ، داځکه چی هغه خلق عقل نه لري ،

كَمَثَلِ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ قَرِيْبًا ذَاقُوْا وَبَالَ اَمْرِهِمْ ۚ

په شان دهغو خلقو ده قصه ددې خلقو چی د دوی څخه مخکي وه نژدی ، وې څکله سزا دخپل کار ،

وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۵﴾ ۚ كَمَثَلِ الشَّيْطٰنِ اِذْ قَالَ لِلْاِنْسَانِ

او دهغوی دپاره عذاب دردناک دی ، په شان دقصی دشیطان هر کله چی ووایی انسان ته چی ته منکر سه

اكْفُرْ ۚ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّنْكَ اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ

بیا چی کله دی منکر سو ، وې ویل زه بیزاره یم ستاڅخه ، بیشکه زه بیریږم دالله څخه چی رب

الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۶﴾ فَكَانَ عَاقِبَتَهُمَآ اَنَّهُمَا فِي النَّارِ خَالِدَيْنِ فِيْهَا ؕ

دټول مخلوقات دی ، بیا انجام د دواړو دا سو چی دواړه به په اور کی وی همیشه به په کی وی ،

وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۷﴾ ۚ

او دا ده سزا دظالمانو (ګناهګارو)

تفسير: آیا تا دهغو منافقانو (یعني عبدالله بن ابي او نور) حالت ونه لیدی چې خپلو (هم مذهب) ورونو ته چې کفار اهل کتاب دي (یعني بنو نضیروته) وایي (یعني ویل یې ، ځکه چې دا سورة دواقعې دجلا وطنی دبنو نضیرو څخه وروسته نازل سوي دی ، لکه چې په روح کی داسی دی په دلیل دحدیث اوسیَن) چې په خدای قسم دی (مونږ په هرحال کی ستاسی سره یو پس) که تاسی (دخپل وطن څخه جبراً) وایستل سواست نو مونږ به (هم) ستاسی سره (دخپل وطن څخه) وزو اوستاسی په معامله کی به مونږ هیڅکله دچا خبره ونه منو (یعني که برابره خبره ده که مونږ خوك هرڅنګه پوهوی چې په خروج اوقتال کی کوم چې مخکی بیان سوی دی ، ستاسی ملګرتیاونه کړو ، لیکن مونږ به یې نه منو ، نو جمله د ، لَا نُطِيعُ دسیاق اوسباق دواړو په حقله ده) اوکه ستاسی سره دچاجنګ جوړ سو نو مونږ به ستاسی مدد وکو اوالله ﷻ شاهد دی چې هغوی بالکل دروغجن دی (دا خو د دوی د دروغجن کیدو اجمالاً بیان وسو مخ ته تفصیلاً فرمایي چې) په خدای قسم دی چې که اهل کتاب ویستل سول نو دوی (منافقان) به دهغوی سره ونه وزی اوکه د دوی سره جنګ وسو نو هغوی به یې مدد ونه کی او (بالفرض محال) که دهغوی مدد هم وکی (او په جنګ کی شریك سی) نو په شابه وتښتی بیابه (د دوی ترتښتیدو وروسته) دهغوی (اهل کتابو) هیڅ مدد ونه سی (یعني کوم چې مدد کونکی وه هغوی خو وتښتیدل اوبل خوك به یې هم مددګارنه وی نو خامخا به مغلوب او مقهور وی ، مطلب دا چې دمنافقانو چې کوم غرض دی چې د دوی په دی وړونو څه افت را نه سی ، په دی کی به په هر ډول سره ناکامه وی لکه چې داسی وسوه چې کله په اخرکی بنو نضیر وایستل سول نو منافقان ورسره ونه وتل اوکله چې په اول کی د دوی محاصره وسوه چې احتمال دجنګ په کی وو په هغه کی یې هم دی منافقانو مدد ونه کی او وروسته تر واقعي دوقوع داسی فرمایل ، لَئِنْ أُخْرِجُوا الخ کوم چې پرآئنده واقع کیدو باندی دلالت کوی یاخو دتیرو واقعو پرحاضرو اوموجودو فرض کولو باندی مبنی دی چې د دوی وعده خلافي او رسوایي ښه رامخ ته سی او یا په آئنده کی چې کوم احتمال موجود وو چې د دوی دملګرتیا څخه نفي وکی ، مخ ته د دوی سره دملګرتیا نه کولو سبب بیانوي چې) بیشکه دا ستاسی خلګو بیره ددی (منافقانو) په زړونو کی دالله ﷻ څخه هم زیاته ده (یعني دایمان په دعوٰی سره چې دوی کومه خپله بیره دالله ﷻ څخه بیانوی هغه خوخلاف واقع ده کنی نو کفر به یې پرینښی واي اوستاسی بیره واقعی ده ، نو ددی بیری په وجه داخ لګ دبني نضیرو ملګرتیا نه سی کولی او) دا (د دوی ستاسی څخه بیریدل او دخدای څخه نه بیریدل) په دی سبب سره دی چې هغه داسی خلګ دی چې (دکفر په وجه دخدای ﷻ په لویی باندی) نه پوهیږی (او دا یهود عام دی دبنو نضیرو اوغیر نضیرو څخه اومنافقان خو جلاجلا دي ، ستاسی دمقابلی به څه یې حوصله وسی) داخلګ (خو) که ټول جمع سی هم ستاسی سره جنګ نه سی کولی ، مګر په محفوظ کلو کی یاددیوال (دقلا اوښار) دخوا څخه (دحفاظت څخه مراد عام دی دخندق څخه وی اوکه دقلا او نورو څخه ، او ددی څخه دا نه لازمیږی چې یو ځای داسی واقعه دی پیښه سوی وی ، چې منافقانو دی دمسلمانانو مقابله دیو قلا او محفوظ مقام څخه کړی وی ځکه چې مقصود دا دی چې که یهود او منافقان ځان ځان ته یاپه جمع ستاسی مقابلی ته راسی هم نو د

دوی مقابله به دمحفوظو قلاګانو یادښار ددیوال دشاخخه وی ، لکه چې یهود دبنو قریظه او دخیبر خلګ دغه ډول په مقابله باندی راغلل اومنافقان نه د دوی ملګری سول او نه د دوی څه دومره حوصله وسوه چې په ډاګه دمسلمانانو مقابلې ته راسی په دی کی دمسلمانانو همت افزایی هم ده چې دهغوی څخه دي اندیښنه نه کوی او د دوی دځینو قبیلولکه داوس اوخزرج دجنګ دواقعاتو په لیدو باندی دا اندیښنه ونه کړی چې شاید دغه ډول دمسلمانانو په مقابله کی هم دوی څه وخت راسی ، خبره دا ده چې) د دوی جنګ په خپل مینځ کی ډیر تیزدی (مګر دمسلمانانو په مقابله کی هیڅ نه دی او دغسی دی دا احتمال نه کیږی چې که څه هم دمسلمانانو په مقابله کی یوازی دوی کمزوری دی ، مګر ډیر کمزوری چې یوځای سی نو قوی سی ، شاید چې دغسی دا ټول جمع سی او دمسلمانانو مقابله وسی ، دا احتمال څکه قابل التفات نه دی چې) ای مخاطبه! ته دوی (په ظاهرکی) متفق ګڼی ، حال دا دی چې د دوی زړونه غیر متفق دی (یعنی که څه هم داهل حقوسره د دوی دښمنی یوه وجه داشتراك ده ، مګر په خپله هم په دوی کی دعقیدو داختلاف په وجه افتراق او دښمنی ده ، لکه چې په سورة مائده کی تیر سوی دی ، وَاَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ الخ او د دوی په خپل مینځ کی دمجتمع کیدو داحتمال نفی هم دزیادت دتاکید او تقویت دمقصود دپاره ده ، کنه وي نو دالله ﷻ مشیت د دوی په مغلوبی او مقهوریت سره سوي دی ، نوکه اتفاقًا وسی هم نوځه په کار ورځی ، مخ ته د دوی دنا اتفاقی وجه بیانوی چې) دا (پراګندګی دزړونو) په دی وجه سره ده چې هغه داسی خلګ دی کوم چې (ددین) عقل نه لری (په دی وجه هر یو دخپل خپل خیال تابع دی نوکله چې نظریات اوغرضونه مختلف وی ددی دپاره اختلاف دزړونو لازم دی اوپردی دی دا شبهه نه کول کیږی چې په بی دینوکی ډیر واره اتفاق لیدل کیږی، خبره دا ده چې دلته مقصود قاعده کلیه بیانول نه دی ، بلکه په دوی کی چې کومه نا اتفاقی وه دهغه سبب بیانول مقصود دی چې د دوی دپاره دا امر سبب سوی وو لکه چې ظاهره ده، مخ ته خاص دبنو نضیرو او ددی منافقانو کومو چې وعده دمدد کړی وه ، په دوکه کی یی واچول اوپه عین وخت کی یی تګی وکړه ، د دوی دحالت بیان دی چې د دوی دمجموعی دوه مثالونه دی یومثال خاص دبنو نضیرو او دوهم دمنافقینو ، دبنو نضیرو مثال خو) دهغو خلګو په شان مثال دی کوم چې تر دوی مخکی تیر سوی دی کومو چې (په دنیا کی هم) دخپل کردارخوند څکلی دي او (په اخرت کی هم) دهغوی دپاره دردناك عذاب (کیدونکی) دی (مراد ددی څخه یهود دبنی قینقاع دی چې قصه یی داسی وسوه چې دبدر تر واقعی وروسته هغوی د دوی سره په سنه ۲ هجری کی وعده شکنی وکړه ، جنګ یی وکی بیامغلوب اومقهور سول او دقلا څخه د دوی په فیصله دباندی را ووتل، د دوی لاسونه وتړل سول ، بیا دعبدالله بن اُبیّ دزاری او اصرار په وجه د دوی په دی شرط سره ځان بخښنه وسوه چې دمدینی څخه دی ځی ، لکه چې هغه اَذْرُعَاتْ شام ته ولاړل او د دوی مالونه دمال غنیمت په شان تقسیم سول لکه په زادالمعاد کی داسی دی او ددی منافقانو مثال) دشیطان په شان دی (اول خو) انسان ته وایی چې ته کافر سه ، بیاچې کله هغه کافر سی (او دکفر په وبال کی اخته سی برابره خبره ده که په دنیاکی برابره خبره ده که په اخرت کی) نو (هغه وخت صفا جواب ورکی او) وایی چې زما ستاسره هیڅ

واسطه نسته ، زه خو د الله رب العٰلمین څخه بیریږم (په دنیاکی دداسی بیزاره کیدو قصه خو په سورة انفال کی په آیت ، وَاِذْ زَیَّنَ لَهُمُ الشَّیْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ الخ کی تیره سوي ده اوپه آخرت کی بیزاری دګمراه کوونکو دګمراهانو څخه په ډیرو آیتونوکی ذکر ده) نو اخری انجام د دواړو دا سو چی دواړه دوږخ ته ولاړل کوم خای چی به همیشه اوسیږی (یو دګمراهی په وجه دوهم دګمراه کولو په وجه) او دظالمانو دا سزا ده (نو لکه څنګه چی دی شیطان دی ، انسان یی اول ولمسوي ، بیایی په وخت باندی ورسره ملګرتیا ونه کړه او دواړه په تاوان کی ولویدل ، دغه شان دی منافقانو اول بنی نضیروته بده رایه ورکړه چی تاسی وزی مه بیاپه عین وخت کی یی دوی ته دوکه ورکړه او دواړه په مصیبت اخته سول ، بنی نضیر خو دجلا وطنی په مصیبت کی او منافقین دنا کامیابی په ذلت کی اخته سول)

معلومات اومسئلي: کَمَثَلِ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ الخ دا دبنو نضیرو دمثال بیان دی او د الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ : په تفسیر کی حضرت مجاهد رحمه الله فرمایی چی کفار دبدر ورڅخه مراد دی اوحضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمایی چی بنو قینقاع (دیهودو قبیله) ورڅخه مراد ده او د دواړو بد انجام اومقتول او ذلیل اومغلوب اوخواریدل دغه وخت واضح سوی وه ، څکه چی دبنو نضیرو دجلا وطنی واقعه دبدر او تراُحُد ورروسته واقع سوي ده او دبنو قینقاع واقعه هم تربدر ورروسته پیښه سوی وه ، په بدرکی دمکی دمشرکانو اویا ۷۰ سرداران مړه سول اوباقی په ډیرذلت اوخواری سره واپس سول ، اوپه قول دابن عباس رضی الله عنه دا مراد دی نو مطلب دایت واضح دی چی دهغوی په باره کی چی کوم په آیت کی فرمایی ، فَذَاقُوْا وَبَالَ اَمْرِهِمْ : یعنی هغوی دخپل عمل بدله وڅکله ، دا دآخرت څخه مخکی په دنیاکی دسترګو په مخکی راغله ، دغه شان که د ، اَلَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ : څخه مراد دیهودو قبیله دبنو قینقاع وی نو د دوی واقعه هم داسی عبرتناکه ده .

(دبنو قینقاع جلا وطنی)

واقعه دا وه چی کله نبی کریم ﷺ هجرت وکی او مدینی طیبی ته یی تشریف راوړی نو دمدینی خوا او شا ته چی دیهودو څومره قبیلی وی ، دټولو سره یی دصلح یوه وعده سوی وه ، دکوم په شرطونوکی چی دا داخله وه چی په دوی کی به هیڅوك دنبی کریم ﷺ او مسلمانانو دیو مخالف امداد نه کوی ، په دی وعده کوونکو کی دبنو قینقاع قبیله هم شامله وه مګر دوی یو څو میاشتی ورروسته غدر او وعده شکنی شروع کړه او دبدر په موقع باندی یی دمشرکینو سره پټ سازش اوڅه امداد وکی ، دغه وخت دقرآن دا آیت نازل سو ، وَاِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً فَانْبِذْ اِلَيْهِمْ عَلٰى سَوَآءٍ : یعنی که چیری (دوعدی اوصلح څخه ورروسته) دیو قوم څخه دخیانت خطره لاحقه سی نو ته د دوی وعده دصلح ختمولی سی ، بنو قینقاع دا وعده په خپلی غداری سره په خپله ماته کړی وه ، په دی وجه نبی کریم ﷺ د دوی خلاف دجهاد اعلان وکی او دجهاد جنډه یی حضرت حمزه رضی الله عنه ته ورکړه او دمدینی طیبی په ښار باندی یی حضرت ابولبابه رضی الله عنه خپل خلیفه مقرر کی نبی کریم ﷺ په خپله تشریف یووړی ، دغو خلګو چی دمسلمانانو لښکر ولیدی نو په خپله قلا کی یی خانونه بند کړل ، نبی کریم ﷺ دقلا محاصره وکړه ، تر پنځلسو ورځو پوری دغه خلګ

بند وه او صبر یی کوي ، آخر الله ﷺ د دوی په زړونو کی رعب واچوي اوپوه سول چی په مقابله کار نه کیږی ، دقلا دروازه یی خلاصه کړه اووي ویل چی مونږ دنبی کریم ﷺ په فیصله باندی راضی یو ، کومه چی دی ﷺ زمونږ په باره کی نافذه کړی .

دده ﷺ فیصله د دوی سره دسړو په باره کی دقتل کیدو والا وه چی عبدالله بن أُبیّ منافق په نبی کریم ﷺ باندی بی حده اصرار اوزاری وکړي چی دا خلک دی کلی خالی کړی ، جلاوطن دی سی او د دوی مالونه به دمسلمانانو مالِ غنیمت وی ، ددی قرار دا دمطابق دی خلګو مدینه منوره پرینبوده دشام دملك علاقی آذْرُعَات ته ولاړل او د دوی مالونه نبی کریم ﷺ دمالِ غنیمت دقانون مطابق داسی تقسیم کړل چی یو خمس یی په بیت المال کی کښینوي اوباقی څلور خمسونه یی په غانمینو تقسیم کړل ، دبدر ترغزا وروسته دا اولنی خمس وو کوم چی په بیت المال کی دا خل سو دا واقعه په ورځ دشنبی ۱۵ شوال سنه ۲ هجری دنبی کریم ﷺ تر هجرت شل میاشتی وروسته پیښه سوه .

كَمَثَلِ الشَّيْطٰنِ اِذْ قَالَ لِلْاِنْسَانِ اكْفُرْ : دا دوهم مثال دهغو منافقانو دی کومو چی بنونضیر دجلاوطنی دحکم په نه منلو او دنبی کریم ﷺ په مقابله کی دجنګ کولو دپاره را وپارول او د دوی دمدد کولو وعده یی وکړه ، مګر کله چی مسلمانانو محاصره وکړه نو یو منافق یی هم امداد ته ونه رسیدی ، د دوی مثال قرآن کریم دشیطان دیوی واقعی سره ورکړی دی چی شیطان انسان په کفر باندی اماده کي او دده سره یی قسم قسم وعدی وکړی ، مګر کله چی دی په کفرکی مبتلا سو نو هغه دتولو څخه منکر سو ، دشیطان داسی واقعات خدای خبر چی څومره سوی دی ، په هغه کی یوه واقعه خوپه خپله په قران کی منصوص ده چی بیان یی دسورة آنفال په دی آیتونو کی راغلی دی ، وَاِذْ زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ وَقَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ الْيَوْمَ مِنَ النَّاسِ وَاِنِّيْ جَارٌ لَّكُمْ فَلَمَّا تَرَآءَتِ الْفِئَتٰنِ نَكَصَ عَلٰى عَقِبَيْهِ وَقَالَ اِنِّيْ بَرِيْءٌ مِّنْكُمْ الاية : دا واقعه دبدر دغزا ده په کومه کی چی شیطان په طور دوسوسی یاپه شکل دانسان مخ ته ورغی ، دمکی مشرکان یی دمسلمانانو مقابلی ته راوپارول اودخپل مدد یقین یی ورکی ، مګرکله چی دمسلمانانو مقابله جوړه سوه نو دمدد کولو څخه یی صفا انکار وکی ، ددی واقعی پوره تشریح په سورة انفال کی تیره سوي ده .

که په ذکر سوی آیت کی دی واقعی طرف ته اشاره وی نو دا ارشاد چی شیطان انسان ته دکفر کولو وایی او کله چی هغه کفر وکی نو دی ورڅخه بیا بیزاره سی ، په دی دا شبهه کیږی چی په دی واقعه کی په ظاهره شیطان دوی ته دکفر کولو نه دی ویلی ، کافران خو هغوی دمخکی څخه وه ، شیطان خو دوی ته دمقابلی دپاره جمع کیدو ته ویلی وو ، جواب ظاهر دی چی په کفر پاته کیدل او دنبی کریم ﷺ په مقابله باندی دجنګ دپاره ویل هم په دی حکم کی دی چی دوی ته دکفر کولو ووایی .

او په تفسیرمظهری اوقرطبی اوابن کثیر او نوروکی دلته دشیطان ددی مثال واقعات په بنی اسرائیلو کی د ډیرو راهبانو او عبادت ګذارو دشیطان دلمسولو او کفر ته درسولو په حقله نقل کړی دی ، مثلاً دبنی اسرائیلو یو راهب عبادت ګذار کوم چی به په خپله عبادت خانه کی همیشه په عبادت کی مشغول

وو او رزق به یی داسی خوړي چی په لسمه ورځ به یی صرف روژه ماتوله ، اویا کاله دده په داسی حال
کی تیر سول ، شیطان لعین په ده پسی سو او خپل تر ټولو زیات مکار هوښیار شیطان یی په ده پسی په
صورت دراهب عبادت گذار جوړ کړی ولیږي کوم چی دده خواته راغی او ترده زیات عبادت یی شروع
کی ، تر دی چی دراهب پرده اعتماد راغی ، اخر دامصنوعی راهب شیطان په دی خبره کی کامیاب
سوچی دی راهب ته یی څه دعاگانی داسی وښوولی ، په کومو سره چی به دبیمارو شفا کیده ، بیا ده ډیر
خلک په خپل اثرسره بیمار کړل او په خپله یی ورته ددی راهب پته وښووله کله چی دی راهب به په
هغوی دعا ولوستله نو دی شیطان به دهغوی څخه خپل اثر لیری کوي هغه به جوړ سو او تر ډیری مودی
ددی سلسلی دجاری ساتلو څخه وروسته ده دیو اسرائیلی سردار پریوی ښاستهلور باندی خپل داعمل
وکی او دی ته یی هم مشوره ورکړه چی راهب ته ولاړه سی ، تردی چی دراهب صومعی ته ددی په رسولو
کی هم کامیاب سو چی په نتیجه کی یی ددی حمل سو نو درسوایی څخه دمحفوظ کیدو دپاره یی ده ته
دقتلولو مشوره ورکړه ، تر قتل کولو وروسته شیطان ټولو خلکو ته واقعه دقتل او نورو وښووله دراهب
خلاف یی ټول خلک راپورته کړل ، خلکو دده صومعه ونړوله او دده دقتلولو اوپه دارکولو فیصله یی
وکړه دغه وخت شیطان دده خواته بیاراغی چی اوس خوستا دمحفوظ کیدو هیڅ نسته ، البته که ته ماته
سجده وکی ، نو زه تامحفوظ کولی سم راهب ټول گناهونه مخکی کړی وه ، دکفر لاره هواره سوی وه ،
په دی وجه سجده یی هم وکړه ، دغه وخت ورته شیطان صفا وویل ، چی ته زمایه قبضه کی نه راتلی ، ما
دا هر څه مکر ستاپه کفر کی داختهکولو دپاره کړی وو اوس زه ستا هیڅ مدد نه سم کولی .
دا واقعه په قرطبی او مظهری کی په تفصیل سره لیکل سوي ده . والله تعالی اعلم

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ

ای ایماندارو ! بیره کوی دالله ﷻ څخه اوپه کار دی چی وگوری یونفس چی څه لیږي دصبا دپاره اوبیره کوی
دالله څخه بیشکه الله ﷻ خبر دی ،

بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨﴾ وَلَا تَكُونُوا۟ كَٱلَّذِينَ نَسُوا۟ ٱللَّهَ فَأَنسَىٰهُمْ

دهغه څه څخه چی تاسی یی کوی، اومه کیږی په شان دهغو چی هیر یی کی الله نو الله هیر کړل دهغوی څخه

أَنفُسَهُمْ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿١٩﴾ لَا يَسْتَوِىٓ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ

نفسونه دهغوی ، دغه خلق دی نافرمانه ، برابر نه دی خاوندان د دوزخ

وَأَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ ۚ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ هُمُ ٱلْفَآئِزُونَ ﴿٢٠﴾ لَوْ أَنزَلْنَا

او خاوندان دجنت خاوندان دجنت هم دغه دی مراد پیدا کوونکی . که مونږ نازل کړی وای

هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَاَيْتَهٗ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ

دا قرآن په غره باندې نو تا به ليدلى واى چې كښته سوى او ټوټې ټوټې سوى به واى د ويرې د الله ﷻ څخه

اللّٰهِ ؕ وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۱﴾

او دا مثالونه بيانوو مونږ دخلقو دپاره چې دوى فكر وكړى .

هُوَ اللّٰهُ الَّذِىْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ۚ هُوَ

هغه الله دى دكوم څخه چې ماسوا بل معبود نسته مگر هغه دى پوهه دى په پټو او په ښكاره وو باندې هغه

الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ﴿۲۲﴾ هُوَ اللّٰهُ الَّذِىْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ

دى لوى مهربانه رحم والا ، الله ﷻ هغه ذات دى چې دهغه څخه ماسوا بل څوك دعبادت لائق نسته ، هغه

السَّلٰمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيْزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ ؕ سُبْحٰنَ اللّٰهِ

بادشاه دى پاك ذات دټولو عيبونو څخه امن وركوونكى په پناه كى اخيستونكى زبردست دباؤ والا دلويى خاوند دى

عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۲۳﴾ هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ؕ

پاك دى الله ﷻ د دوى دشريك جوړولو څخه ، دغه الله دى پيدا كوونكى دى نوى جوړونكى ، صورت وركوونكى

يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۲۴﴾

هغه لره دى نومونه پاكه ، پاكى وايى هغه لره هغه څه چې په آسمانونو كى دى او په مځكه كى دى او هغه دى
زبردست حكمتونو والا .

تفسير: اى ايماندارو! (تاسى دنافرمانو انجام واورېدى نو تاسى) دالله ﷻ څخه بيره كوى او هريو سړى دى وگورى چې دصبا (يعنى قيامت) دپاره هغه څه (ذخيره) ليږلى ده (يعنى په نيكو عملونو كى كوشش كوى كومه چې ذخيره ده دآخرت) او (لكه څنگه چې دنيكو عملونو په حاصلولو كى دتقوىٰ حكم دى ، دغه شان دگناهونو څخه دساتلو په باره كي تاسى ته حكم دى چې) دالله ﷻ څخه بيره كوى ، بيشكه الله ﷻ ستاسى دټولو عملونو څخه خبردار دى (نو په گناهونو كى په اخته كيدو سره دعذاب بيره ده، نو اولنى اتَّقُوا اللّٰهَ دطاعتو په هكله دى چې قرينه يى قَدَّمَتْ لِغَدٍ ده ، او دوهم دگناهونو په هكله دى چې قرينه يى خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ده) او (مخ ته ددى احكامو دنورتاكيد دپاره ارشاددى چې) تاسى دهغو خلكو په شان

مه کیږی کومو چې د الله ﷻ (داحکامو) څخه بې پروایي وکړه (یعنې په احکامو یې عمل پرینښووی ، دغه شان داوامرو څخه یې خلاف وکړه او دنواهیو ارتکاب یې وکې) نو (ددی اثر دا سو چې) الله ﷻ په خپله دهغوی دځان څخه هغوی بې پروا کړل (یعنې د دوی عقل داسی ووهل سو چې په خپله یې خپله حقیقی نفع ونه پیژندله او نه یې حاصله کړه) داخلگ نافرمان دی (اودنا فرمانی سزا به وځکی اولوړ چې دکومو دوه قسمه خلگو ذکر وسو، یعنې یو هغه کوم چې اهل تقوٰی سول او بل هغه کوم چې داحکامو پرینښوونکی سول ، په دوی کی یو اهل جنت دی بل اهل دوزخ او) جنتیان او دوزخیان دیوبل سره برابرنه دی (بلکه) کوم چې جنتیان دی هغه خلگ کامیاب دی (اودوزخیان ناکامه دی ، لکه چې لوړپه أُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ : سره معلومه سوه نو تاسی ته په جنتیانوکی داخلیدل په کاردی په دوزخیانوکی نه دی په کار ، او دا څو نصیحتونه چې دکوم قرآن په ذریعه تاسی ته اورول کیږی ، هغه داسی دی چې) که مونږ دا قرآن په غره باندی نازل کړی وای (او په ده کی مو دپوهیدو ماده ایښی وای دشهواتو څخه) نو (ای مخاطبه) تابه دي لیدلی واي چې دخدای دبیری څخه به کښته سوی اوتوتی توتی سوی واي (یعنې قرآن فی نفسه داسی موثر اوقوی الاثر دی ، مګر په انسان کی په وجه دغلبې دشهواتو قابلیت فاسد سو چې ددی په سبب ورباندي اثر نه کیږی تو دوی ته په کار دی چې په حاصلولو دطاعاتو اوبه پرینښوولو دمعاصیو سره خپل شهوات مغلوب کړی چې دقرآن وعظونه اثر په وکی او په احکامو استقامت اومداومت او ذکر او فکر یې نصیب سی ، دکوم چې لوړ ذکر سوی دی) او دا عجیبه مضامین مونږ دخلګود (نفع) دپاره بیانوو چې هغوی فکر وکی (او نفع واخلی په دی وجه دا مضمون ، لَوْ أَنزَلْنَا الخ دلته بیان سو، مخ ته دالله ﷻ دکمال صفتونه بیانیږی په کومو سره چې دالله ﷻ عظمت په زړه نقش سی او داحکامو په ادا کولو کی مددګار ثابت سی ، نو ارشاد دی چې) هغه داسی معبود دی چې دهغه څخه ماسوا بل څوك معبود (لائق دعبادت) نسته هغه پوه دی په پټو شیانو او په ظاهرو شیانو هغه لوی مهربانه رحم والا دی (اوچې کله توحید یو لوی مهتم بالشان شی دی ، په دی وجه ددی دتاکید دپاره مکرر یې فرمایی چې) هغه داسی معبود دی چې دهغه څخه ماسوا څوك بل معبود (لائق دعبادت) نسته هغه بادشاه دی (دټولو عیبونو څخه) پاك دی ، سالم دی (یعنې نه په ماضی کی په هغه کی څه عیب وسو کوم چې مطلب دی دَقُدُّوسْ اونه ائنده ددی احتمال سته کوم چې مطلب دی دَسَّلَامُ، لکه داسی چې په تفسیرِ کبیرکی دی ، خپلو بندګانو ته دبیری دشیانو څخه) امن ورکوونکی دی (خپلو بندګانو ته دبیری دشیانو څخه) ساتونکی دی (یعنې دافتونو څخه یې هم ساتی اوراغلی آفتونه هم ورڅخه لیری کوی) زبردست دی دخرابی صحیح کوونکی دی ، لوی عظمت والا دی الله ﷻ (چې دهغه شان دا دی چې) دخلګو دشرك څخه پاك دی ، هغه معبود (برحق) دی پیدا کوونکی دی صحیح صحیح جوړوونکی دی (یعنې هرشی دحکمت موافق جوړوی) صورت (شکل) جوړونکی دی ، دهغه ښه ښه نومونه دی (کوم چې په ښو ښو صفتونو دلالت کوی) ټول شیان دهغه تسبیح (اوپاکی) بیانوی (حالاً یا قالاً) کوم چې په آسمانونو او په مځکه کی دی او هغه زبردست حکمت والادی (نو دداسی باعظمته دحکمونو منل ضروری اونهایت ضروری دی)

معلومات اومسئلې: په سورة حشر کې داول څخه دکفارو اهل کتابو او مشرکانو او منافقانو حالات او معاملات اوپه هغوی ددنیا او آخرت دوبال بیان فرمایلو څخه وروسته اوس [illegible] رة تر آخره پورې مومنانو ته دخبردار کولو او دنیکو عملونو دپابندۍ کولو هدایت دی، په د [illegible] سوو ایتونو کې په اولنی آیت کې په یو بلیغ انداز سره داخرت دفکر او ددې دپاره دتیارۍ حکم دی، په دې کې یې اول وفرمایل،

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ: یعنی ای ایماندارو، دالله ﷻ څخه وبیریږئ او په تاسې کې هر یوه نفس ته پردې غور کول په کار دي چې ده داخرت دپاره څه سامان لیږلی دی.

دلته څو خبرې دغور غوښتونکې دی، اول دا چې په دې آیت کې یې قیامت په لفظ دغد سره تعبیر کې چې ددې معنی ده راتلونکی صبا، په دې کې اشاره د دوو شیانو طرف ته ده اول دا چې دټولې دنیا په مقابله د آخرت کې ډیر کوچنیوالی دی چې ټوله دنیا په مقابله داخرت کې دیوې ورځې په مثل ده او دحساب په اعتبار سره خو دا نسبت والی هم مشکل دی، ځکه چې آخرت دائمی دی چې هیڅ انتها او انقطاع یې نسته، دانسانی دنیا عمر خو څو زره کاله ښوول کیږي، که دمځکې او آسمان دپیدائش څخه حساب ولګول سی نو څو لاکه کلونه به سی، مګر بیاهم یوه محدوده موده ده، دغیر محدود اوغیر متناهی سره ددې هیڅ هم نه سی کیدی.

دحدیث په ځینو روایتونو کې دی، اَلدُّنْيَا يَوْمٌ وَّلَنَا فِيْهِ صَوْمٌ: ټوله دنیا یوه ورځ ده او په دغه ورځ زمونږ روژه ده، اوکه فکر وسی نو چې دانسان دپیدائش څخه یې شروع کې اوکه دمځکې اوآسمان دپیدائش څخه دا دواړه شیان دانسان دیو فرد دپاره داهتمام قابل نه دي بلکه دهر فرد دنیا خو دده دعمر ورځې اوکلونه دي او دا دآخرت په مقابله کې څومره حقیره موده ده ددې هر سړی اندازه کولی سی.

دوهمه اشاره په دې کې دقیامت دیقیني کیدو طرف ته ده لکه دنن څخه وروسته چې دصبا راتلل یقیني امر دی، هیچاته په دې کې شبهه نه وي، دغه شان ددنیا څخه وروسته دقیامت او آخرت راتلل یقیني دي، دریمه اشاره دې طرف ته ده چې قیامت ډیر نژدې دی، لکه دنن څخه وروسته چې صبا څه لیرې نه دی ډیر نژدې ګڼل کیږي، دغه شان ددنیا څخه وروسته قیامت هم نژدې دی.

اوقیامت یو خو دټول عالم دی، کله چې مځکه او آسمانونه ټول فناسي، هغه هم که څه هم ترزرګونو لکونو کلونو څخه وروسته به وي، مګر په مقابله دآخرت دمودې بالکل نژدې دی، دوهم قیامت دهر انسان خپل دی، کوم چې دده دمرګ په وخت راځي لکه چې ویل سوي دي، مَنْ مَاتَ فَقَدْ قَامَتْ قِيَامَتُهٗ: یعنی کوم سړی چې مړ سی، دده قیامت اوس قائم سو، ځکه چې دقبر څخه دعالم اخرت اثار شروع کیږي او دعذاب اوثواب نمونې مخ ته راځي، ځکه چې دعالم قبرکوم ته چې عالم برزخ هم وایي، ددې مثال ددنیا دانتظارګاه په شان دی کوم چې دفرسټ کلاس (لومړي ټولګی) څخه واخله تر ترډ کلاس (دریم ټولګي) پورې دخلګو دپاره مختلف قسم وي او دمجرمانو انتظارګاه حوالات یاجیل خانه وي، ددې انتظارګاه څخه هر سړی خپله درجه او حقیقت متعین کولی سی، په دې وجه دمرګ سره دهر انسان

قیامت راسی ، او دانسان مرګ الله ﷻ یوه داسی معمیٰ جوړه کړي ده چی ترلوی لا لوی فلسفی اوسائنسدان ددی یقینی وخت نه سی مقررولی ، بلکه هر وخت هرانسان ددی خطری څخه دباندی نه وی چی شاید په راتلونکی ګینټه دده په ژوند کی رانه سی ، خصوصًا په دی برق رفتاره زمانه کی خو دهارټ فیل (دزړه دوره) واقعاتو خودا دروزمره خبره جوړه کړي ده.

لنډه دا چی په دی آیت کی یی قیامت په لفظ دغد سره تعبیر کړی دی ، بی فکره انسان یی خبردار کی چی قیامت څه لیری مه ګڼه هغه دراتلونکی صبا په شان نژدی دی او دا هم ممکنه ده چی ترصبامخکی راسی.

دوهم دغور طلب خبره په دی آیت کی دا ده چی الله ﷻ په دی کی انسان ته ددی غور اوفکر طرف ته دعوت ورکړی دی ، چی قیامت دکوم راتلل چی یقینی هم دی او نژدی هم ، دهغه دپاره تاسی څه سامان لیږلی دی ؟ ددێ څخه معلومه سوه چی دانسان اصل وطن او مقام اخرت دی ، په دنیاکی دده مقام دیو مسافر په شان دی ، دوطن ددائمی قیام اوقرار دپاره ددی ځای څخه څه سامان لیږل ضروری دی ، او دانسان ددی سفر اصل مقصد دا دی چی دلته پاته سی څه وګټی اوجمع یی کړی ، بیادا دخپل وطن اخرت طرف ته ولیږی او دا هم ظاهره ده چی ددنیا سامان مال دولت هیڅوك هلته دځان سره نه سی وړی نو دلیږلو یو صورت دا دی چی دیو ملك څخه بل ملك ته دمال منتقل کولو چی کومه طریقه په دنیاکی رائج ده چی ددی ځای دحکومت په بنك کی یی جمع کړی او دبل ملك کرنسی په حاصله کړی کومه چی هلته چلیږی ، دا صورت داخرت په معامله کی دی ، چی څه دلته دالله ﷻ په لاره کی او دالله ﷻ داحکامو په تعمیل کی خرڅ کولی سی ، هغه دآسمانی حکومت په بنك (اسټیټ بنك) کی جمع کیږی ، دهغه ځای کرنسی دثواب په صورت کی دده دپاره لیکل کیږی ، او هلته چی دی ورسی نو بغیر دڅه دعوی او مطالبی څخه ده ته حواله کیږی.

اولفظ د ، مَا قَدَّمَتْ لِغَدٍ عام دی ، دنیکو عملونو اوبدو عملونو دواړو دپاره چاچی نیك عملونه مخ ته لیږلی دی ، ده ته به دثواب په صورت کی داخرت نقد (کرنسی) حاصلیږي اوچاچی بدعملونه مخ ته لیږلی ، هلته به په ده فردِ جرم عایدوی ، تردی وروسته دلفظ د ، اِتَّقُوا اللّٰهَ اعاده وسوه ، دا دتاکید دپاره هم کیدی سی او هغه مراد هم کیدی سی کوم چی لوړ په لنډتفسیرکی بیان سوی دی ، چی په اولنی اِتَّقُوا اللّٰهَ سره یی دواجباتو اوفرائضو دادا کولو اهتمام ښوولی دی او په دوهم اِتَّقُوا اللّٰهَ سره یی دګناهونو څخه دساتلو اهتمام ښوولی دی.

او دا هم ممکنه ده چی په اولنی اِتَّقُوا اللّٰهَ سره دخدای پاك په احکامو اونیکو عملونو باندی دعمل کولو او اخرت ته دسامان لیږلو حکم وی ، او په دوهم اِتَّقُوا اللّٰهَ سره دی طرف ته هدایت وی چی ګوری کوم سامان چی هلته لیږی هغه ته فکر کوی چی هغه څه کوټه خراب سامان نه وی کوم چی هلته په کار نه درځی ، کوټه سامان دهغه ځای دپاره هغه دی چی دکوم صورت خو دعمل صالح وی ، مګر په دی کی اخلاص (دالله ﷻ درضا دپاره) نه وی بلکه نوم ښنبان یابل څه نفسانی غرض په کی شامل وی ، یادغه

عمل کوم چې په صورت کې خو عبادت دی ، مګر په دین کې ددغه دهیڅ ثبوت دنه کیدو په وجه بدعت او ګمراهي وي نو ددی دوهم اِتَّقُوا اللهَ خلاصه دا سوه چې دآخرت دپاره محض دسامان صورت جوړول کافي نه دی ، فکر کول او کتل په کار دی ، دلیږلو په وخت کې هسې نه چې کوټه سامان وی اوهلته بیاقبول نه سی ، فَاَنْسٰهُمْ اَنْفُسَهُمْ : یعنی دی خلګو الله ﷻ په هیره اونسیان کې نه واچوي ، په حقیقت کې دوی خپل ځانونه په دی هیره اونسیان کی واچول چې دخپلی نفع اونقصان څخه خبر نه سوه .

لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ : دا یو تمثیل دی چې که قرآن دغرونو په شان په سختو اودرنو شیانو باندی نازل سوی وای اولکه څنګه چې انسان ته پوهه او شعور ورکول سوی دی ، هغه ته هم ورکول سوی وی نو غر به هم ددی قرآن دعظمت په مخکی کښته سوی بلکه خاشه خاشه سوی به واي ، مګر انسان په خپله خواهش پرستی او خود غرضی کی اخته سو او خپل فطری شعور یی ختم کی ، هغه په قرآن سره نه متاثره کیږي ، ګویا دا یو فرضی مثال دی چې که په غرونوکی شعور وای اوځینی حضرات فرمايي چې په غرونو او درختو او ددنیا په ټولو شیانوکی دشعور او ادراك کیدل په عقل او نقل سره ثابت دی ، په دی وجه دا څه مثال نه دی ، حقیقت دی (مظهری) والله تعالی اعلم

انسان ته داخرت دفکر او دقرآن دعظمت ښولو څخه وروسته په آخر کی دحق تعالی دیوځو صفتونو دکمال په ذکر لوی سورة ختم کی .

عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ : یعنی الله ﷻ په هر پټ اوښکاره شی اوغائب اوحاضر په پوره شان سره خبردار دی اَلْقُدُّوْسُ په پیښ دقاف هغه ذات کوم چې دهرعیب څخه پاك اودهر داسی شی څخه بری وی کوم چې دده دشان سره لائق نه وی ، اَلْمُؤْمِنُ : دا لفظ کله چې دانسان دپاره ویل کیږي نومعنٰی یی ایمان راوړونکی او دالله ﷻ او رسول دخبری تصدیق کوونکی دی اوکله چې دالفظ دالله ﷻ دپاره ویل کیږي نومعنٰی یی امن ورکوونکی وی (لکه حضرت ابن عباس ؓ داسی ویلی دی) یعنی هغه په الله او رسول ایمان راوړونکوته دهرقسم عذاب اومصیبت څخه امن اوسلامتی ورکوونکی دی

اَلْمُهَيْمِنُ: ددی معنٰی ده نګرانی کوونکی (لکه چې داسی ابن عباس ؓ اومجاهداوقتاده ویلی دی) په قاموس کی دی چې د ، هَمَنَ يَهْمَنُ معنٰی حفاظت اونګرانی کول دی (مظهری)

اَلْعَزِيْزُ په معنٰی دقوی اَلْجَبَّارُ صاحب جبروت اوعظمت اوداهم کیدی سی چې دلفظ دجبرڅخه مشتق وی چې معنٰی یی مات هډوکی پیوندکول دی په دی وجه جبیره هغه پټی ته ویل کیږی کوم چې دمات هډوکی دپیونداخیستودپاره یی ورباندي سربیره تړی نومعنٰی دلفظ به داوی چې هغه دهرمات سوی بی کاره سوي شی اصلاح کوی اوصحیح کوونکی یی دی (مظهری)

اَلْمُتَكَبِّرُ دتکبر څخه او دا دکبریا څخه مشتق دی چې معنٰی یی لویی ده ، اوهره لویی په حقیقت کی دالله ﷻ دپاره مخصوص ده کوم چې په هیڅ شی کی چاته محتاج نه دی اوکوم چې محتاج وی هغه لوی نه سی کیدی ، په دی وجه دالله ﷻ څخه ماسوا دنورو دپاره دالفظ عیب اوګناه ده ، څکه چې په حقیقت کی

ورته لويي حاصله نه وي ، دلويي دعوىٰ كول دروغ دي اوهغه ذات كوم چي په حقيقت كي تر ټولو لوى او بې نيازه دى ، دهغه په خاص صفت كي دشركت دعوىٰ ده ، په دې وجه دمتكبر لفظ دالله ﷻ دپاره صفت دكمال دى او دغير الله دپاره د درواغو دعوىٰ ده .

اَلْمُصَوِّرُ: معنىٰ صورت جوړونكى مراد دا دى چي ټولو مخلوقاتو ته حق تعالىٰ خاص خاص شكل اوصورت وركړى دى ، دكوم په وجه چي هغه دنورو شيانو څخه ممتاز سو او وپيژندل سو ، ددنيا عام مخلوقات آسمانى اوزمينى په خاصو خاصو صورتونو سره پيژندل كيږي ، بياپه دوى كي دانواعو او اقسامو تقسيم او دهرنوع اوقسم جلا ممتاز شكل اوصورت ، او ديو نوع په انسانانوكي دسرو اوښځو دشكل اوصورت امتياز، بيا دټولو سرو او ښځو په شكلونو كي ديو بل څخه داسي فرقونه چي په اربونو كربونو انسانان په دنياكي پيدا سول ، ديوه صورت هوبهو دبل سره داسي نه پيدا كيږي چي فرق يې نه سي كيدى ، داكمال قدرت صرف ديو الله ﷻ دى ، په كوم كي چي دده سره هيڅوك شريك نسته ، څنګه چي دغير الله دپاره تكبر جائز نه دى چي كبرياء صرف دالله ﷻ صفت دى ، دغه شان تصوير سازى دغير الله دپاره جائزه نه ده څكه چي دا هم دالله ﷻ په مخصوص صفت كي دشركت عملى دعوه ده .

لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى : يعنى دالله ﷻ ښه ښه نومونه دى ، په قرآن كريم كي ددى شمير يې متعين نه دى فرمايلى ، په صحيح احاديثوكي يې يوكم سل شمير ښوولى دى ، دترمذى په يوحديث كي داټول يوځاى مذكوردى اوډيرو عالمانو پراسماء الحسنىٰ باندي مستقل كتابونه ليكلى دي ، داحقر هم يوه لنډه غوندي رساله داسماء حسنىٰ په نوم سره دمناجات مقبول په شروع كي چاپ سوي ده .

يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ : دا تسبيح په زبان حال سره كول خوظاهره ده چي ټول مخلوقات اوپه دوى كي اينبوول سوى عجيبه اونا اشنا صورتونه او صنعتونه په زبانِ حال سره دخپل جوړوونكى په حمد اوثنا كي مشغول دى ، اوكيدى سي چي حقيقي تسبيح مراد وي څكه چي تحقيق دا دى چي په ټولو شيانو دعالم كي په خپل حيثيت سره عقل اوشعور سته اودعقل اوشعور دټولو څخه اوله مقتضىٰ دخپل جوړونكى پيژندل او دهغه شكر ګذار كيدل دى ، په دى وجه هرشي په حقيقت كي تسبيح كوى ، نو په دى كي هيڅ بُعد نسته كه څه هم مونږ د دوى تسبيح په غوږو سره نه اورو، په دى وجه قرآن كريم په يوځاى كي فرمايلى دى ، وَلٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِيْحَهُمْ : يعنى تاسى د دوى تسبيح نه اورى نه په پوهيږى .

﴿دسورة حشر دآخرى آيتونو فائدى او بركتونه﴾

په ترمذى كي دحضرت معقل بن يسار﷛ څخه روايت دى چي نبى كريم ﷺ فرمايلى دى چي دسهارپه وخت كي څوك درى واره اَعُوْذُ بِاللهِ السَّمِيْعِ الْعَلِيْمِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ اوددى څخه وروسته درى واره دسورة حشرآخرى آيتونه دهُوَاللهُ الَّذِيْ لَآاِلٰهَ اِلَّاهُوَ:څخه ترآخردسورة پورى ووايى نوالله ﷻ اويازره ملائكى مقرري كړى كومى چي ترماښامه پورى دده دپاه درحمت دعاكوى كه په دغه ورځ دى مړسى نودشهادت مرګ به ورته حاصل سى اوچاچي ماښام داكلمى درى واره وويلى نودغه درجه به ده ته حاصله سى (مظهرى)

تمت: بِعَوْنِ اللّٰهِ تعالی سُبْحَانَهُ وَحَمْدِه سُوْرَةُ الْحَشْرِ لِعَاشِرِ جُمَادَی الْاُوْلٰی سـ ۱۳۹۱ هـ
ضحاك يَوْمَ الْاَحَدِ وَيَتْلُوْهَا اِنْشَآءَ اللّٰهُ تَعَالٰی سُوْرَةُ الْمُمْتَحِنَةِ .

﴿سورة الممتحنة﴾

سُوْرَةُ الْمُمْتَحِنَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثَ عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة الممتحنه په مدینه کې نازل سو او په دې کې دیارلس (۱۳) آیتونه او دوی (۲) رکوع ګانې دي.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نوم سره د الله ﷻ چې بې حده مهربانه نهایت رحم والا دی .

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَعَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ

ای ایماندارو ! مه نیسی زما او خپل دښمنان دوستان

تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوْا بِمَا جَآءَكُمْ مِّنَ الْحَقِّ ۚ

پیغام ورته لیږې په دوستی سره او هغوی منکر سوی دی د هغه څخه کوم چې تاسی ته راغلی دی د حق څخه

يُخْرِجُوْنَ الرَّسُوْلَ وَاِيَّاكُمْ اَنْ تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ رَبِّكُمْ ؕ اِنْ

او باسی رسول او تاسی په دې سره منی الله کوم چې رب دی ستاسی

كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَادًا فِيْ سَبِيْلِيْ وَابْتِغَآءَ مَرْضَاتِيْ ۖ

که تاسی وتلی یاست جهاد د پاره زما په لاره کې او په طلب زما د رضامندی ،

تُسِرُّوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ ۖ وَاَنَا اَعْلَمُ بِمَآ اَخْفَيْتُمْ وَمَآ

تاسی په پټه لیږې هغوی ته پیغام د دوی ستی ، او ماته ښه معلوم دی کوم چې پټ کړل تاسی او کوم

اَعْلَنْتُمْ ؕ وَمَنْ يَّفْعَلْهُ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ①

چې ښکاره کړل تاسی ، او څوک چې وکړی په تاسی کې دا کار نو هغه ګمراه سو د سیده لاری څخه ،

إِنْ يَثْقَفُوكُمْ يَكُونُوا لَكُمْ أَعْدَاءً وَيَبْسُطُوا إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ

که تاسی دهغوی په لاس ورسی نو سی به هغوی ستاسی دښمنان او وبه چلوی په تاسی خپل لاسونه

وَأَلْسِنَتَهُمْ بِالسُّوءِ وَوَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ ﴿٢﴾ لَنْ تَنْفَعَكُمْ أَرْحَامُكُمْ

او خپلی ژبی په بدی سره او غواړی چی په څه جوړ تاسی هم کافر سی ،هیڅکله به په کار رانه سی تاسی لره خپلوی

وَلَا أَوْلَادُكُمْ ۚ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ يَفْصِلُ بَيْنَكُمْ ۚ وَاللَّهُ بِمَا

او نه ستاسی اولاد ، دقیامت په ورځ هغه به فیصله وکړی په تاسی کی ، او الله ﷻ

تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٣﴾ قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ

وینی څه چی تاسی کوی ، تاسی ته چلیدل په کار دی په ښه چال باندی ، دابراهیم ؑ

وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَآءُ مِنْكُمْ وَمِمَّا

او دهغوی چی دده سره وه ، هرکله چی هغوی وویل خپل قوم ته چی مونږ جلا یُو تاسی څخه او دهغو څخه

تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ

دکومو چی تاسی عبادت کوی ماسوا دالله څخه ، مونږ منکر یُو تاسی څخه او ښکاره سوه په مونږ او تاسی کی

الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ إِلَّا

دښمنی او بغض ، همیشه دپاره ، تردی چی تاسی یقین وکړی په الله یو باندی مګر

قَوْلَ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَا أَمْلِكُ لَكَ

یو خبره دابرهیم ؑ خپل پلار ته چی زه به بخښنه غواړم تا دپاره او مالك نه یم زه ستادپاره

مِنَ اللَّهِ مِنْ شَيْءٍ ۖ رَبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ

دالله دنفع دڅه شی ، ای ربه زمونږ! په تاباندی توکل دی زمونږ او تا ته ده رجوع زمونږ او تا ته ده

الْمَصِيرُ ﴿٤﴾ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِلَّذِينَ كَفَرُوا وَاغْفِرْ لَنَا

ګرځیدل زمونږ، ای ربه زمونږ! مه ګرځوه مونږ امتحان دپاره دکافرانو او مونږ معاف کړی ای ربه زمونږ

رَبَّنَآ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٥﴾ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْهِمْ

بیشکه ته یی زبردست حکمت والا ، خامخا تاسی ته چلیدل په کار دی

اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ ۚ وَمَنْ

په ښه چال دهغو کوم چی امید لری دالله او د ورځی وروسته اوڅوك چی

يَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿٦﴾

مخ واړوی نو الله هغه دی بی حاجته ستایل سوی

تفسیر: ای ایماندارو! تاسی زما دښمنان او خپل دښمنان دوستان مه جوړوی چی د دوی سره د دوستی اظهار کول شروع کړی (یعنی که څه هم په زړه سره دوستی نه وی ، مگر داسی دوستانه سلوك ورسره هم مه کوی) حال دا دی چی تاسی ته کوم حق دین راغلی دی هغوی د دی څخه منکره دی (په کوم سره چی د دوی دخدای دښمنان کیدل معلوم سول کوم چی په آیت کی په لفظ دَعَدُوِّیْ سره بیان سوه) رسول ﷺ او تاسی یی په دی بناچی تاسی په خپل پروردگار ایمان راوړی دښار څخه ایستلی یاست (دا بیان دی دَعَدُوَّكُمْ یعنی دوی صرف دالله ﷻ دښمنان نه دی ستاسی هم دښمنان دی ، غرض دداسی خلکو سره دوستی مه کوی) که تاسی زماپه لاره کی دجهاد کولو په غرض سره او زما درضا لټولو په غرض سره (دخپلو کورونو څخه) وتلی یاست (دکفارو دوستی چی مطلب یی دکفارو درضا مندی فکر دی اودا دالله ﷻ درضا جویی او ددی دمناسب عملونو سره منافی ده) تاسی د دوی سره پټی پټی خبری د دوستی کوی (یعنی اول خو دوستی بد شی دی ، بیاپه پټه پیغام لیږل کوم چی دخصوصی ربط اوتعلق علامه ده دا نور زیات ناکاره دي) حال دا دی چی ماته ستاسی دټولو شیانو ښه خبردی تاسی چی څه په پټه کوی او څه چی په ښکاره کوی (یعنی په مثل دنورو ذکر سوو موانعو دا امرهم د دوی د دوستی څخه مانع په کار دی چی الله ﷻ دهر شی څخه خبر دی) او (مخ ته په دی وعید دی چی) کوم سړی په تاسی کی داسی کوی هغه دنیکی لاری څخه بی لاری سو (او انجام دگمراهانو خو معلوم دی ، مخ ته د دوی ددښمنی بیان دی چی دوی ستاسی داسی سخت دښمنان دی چی) که د دوی په تاسی لاس ورسیږی نو (فوراً به) ددښمنی اظهار وکی او (هغه اظهار ددښمنی دا چی) پرتاسی به دبدی (اوضرر رسانی) لاسونه اوژبی وچلوی (دا خو دنیوی نقصان دی) او (دینی ضرر دا چی) هغوی دا خبره غواړی چی تاسی کافران سی (نو داسی خلگ کله د دوستی قابل دی اوکه د دوستی په باره کی ستاسی سره دخپل اهل اوعیال خیال وی نو ښه پوه سی چی) ستاسی قریب او اولاد دقیامت په ورځ ستاسی (هیڅ) په کارنه درځی خدای به ستاسی په مینځ کی فیصله وکی او الله ﷻ ستا ټول عملونه ښه وینی (نو دهرعمل فیصله به سمه سمه وکی ، نو که ستاسی عملونه موجب دسزا وی نو ددغه سزا څخه اولاد او خپلوان تاسی نه سی ساتلی ، نو بیا د دوی درعایت

دپاره دخدای دحکمونه څخه خلاف کول ډیر بدکار دی او په دی سره دمالونو ناقابل رعایت کیدل نور زیات ظاهر دی ، مخ ته په ذکر سوی حکم باندی دتحریض (یعنی دعمل دتیزولو) دپاره دحضرت ابراهیم ﷺ قصه ارشاد ده چی) ستاسی دپاره په ابراهیم ﷺ کی او په هغو خلګو کی کوم چی (په ایمان او اطاعت کی) دهغه سره شریك حال وه یوه عمده نمونه ده (یعنی په دی باره کی دکفارو سره داسی سلوك ساتل په کاردی لکه څنګه چی ابراهیم ﷺ او دده تابعدارو کړی وو) کله چی دی تولو (په مختلفو وختونو کی د) خپل قوم (خلګو) ته وویل چی مونږ ستاسی څخه او دکومو چی تاسی دالله څخه ماسوا عبادت کوی د هغوی څخه بیزاره یو (مختلف وختونه ځکه وویل سوه چی ابراهیم ﷺ ځه وخت اول دا خبره خپل قوم ته کړی وه ، هغه وخت دی بالکل یوازی وو بیاچی به کوم کوم دده سره کیدل دکفارو څخه به یی قطع تعلق قولاً اوفعلاً کوي ، مخ ته ددی بیزاری بیان دی چی) مونږ تاسی (یعنی دکفارو او د دوی دمعبودانو) څخه منکر یو (یعنی ستاسی دعقیدی اودمعبودانو دعبادت څخه منکریو داخو بیزاری په اعتبار دعقیدی سوه) او (بیزاری په اعتبار دمعاملی اوسلوك دا ده چی) په مونږ اوتاسی کی دهمیشه دپاره دښمنی او بغض (زیات) ظاهر سو (ځکه چی بنا ددښمنی اختلاف دعقیدو دی او اوس ددی زیات اعلان وسو نو ددښمنی هم زیات اظهار وسو ، دښمنی اوبغض قریب دی او د دواړو جمع کول دتاکید دپاره دی اودا دښمنی به زمونږ ستاسی سره همیشه وی) ترڅو پوری چی تاسی په الله واحد ایمان رانه وړی (غرض ابراهیم ﷺ او دده تابعدارو دکفارو سره صفا قطع تعلق وکی) لیکن دابراهیم ﷺ دومره خبره خو دخپل پلار سره سوی وی (دکوم څخه چی په ظاهره دده سره دمحبت او دوستی احتمال وو) چی زه به ستا دپاره استغفار کوم او ستا دپاره (داستغفار څخه زیات) ماته دخدای په مخکی دهیڅ خبری اختیار نسته (چی دعا په قبوله کړم یا دا چی باوجود دایمان نه راوړو ستا تادعذاب څخه خلاص کړم ، مطلب دا دی چی دومره خبره خو ابراهیم ﷺ کړی وه چی مطلب یی په تاسی کی ځینو خلګو مطلق استغفار ګڼلی وو حال دا دی چی دلته داستغفار نوری معناوی دی یعنی دهغه دپاره دا دعا کول چی هغه ایمان راوړی او دمغفرت مستحق سی دکوم چی تولو ته اجازت دی اوپه واقع کی دا دتعلق دقطع څخه خلاف هم نه ده ، مګر دظاهری صورت دتعلق او دظاهری معنی داستغفار په اعتبار سره صورةً دا مستثنی کولی سی ، دا خبری خو دابراهیم ﷺ دخپل قوم سره وسوی ، مخ ته دده ﷺ ددعا مضمون دی یعنی دکفارو څخه یی قطع تعلق وکی ، هغوی ﷺ په دی باره کی حق تعالی ته عرض وکی چی) ای زما پروردګاره! مونږ (دکفارو سره دبیزاری او دښمنی داعلان په معامله کی) پرتا توکل کوو او (خاص ته زمونږ دټولو مهماتو او مشکلاتو کفالت او ددښمنانو دآزارونو څخه حفاظت وفرمایی ، او دارنګه په ایمان راوړلو کی) ستا طرف ته رجوع کوو او (عقیده لروچی) ستاطرف ته (دټولو) واپسی ده (نو ددی اعتقاد په وجه مونږ چی دکفارو څخه کوم چی اعلان دبیزاری کړی دی محض په خلوص سره موکړی دی په دی کی څه دنیوی غرض نسته او ددی څخه مقصود تفاخر هم نه دی بلکه عرضِ حال په غرض دسوال دی او) ای زمونږ پروردګاره! مونږ دکافرانو دپاره امتحان مه جوړوی (یعنی چی ددی بیزاری په وجه پر مونږ دا کفار ظلم او زیاتی ونه کړی) او ای

زمونږ پروردګاره! زمونږ ګناهونه معاف کړی ، بیشکه ته زبردست حکمت والا یی (او په هرشان تاته قدرت حاصل دی) بیشکه په دی خلګوکی (یعنی په ابراهیم علیه السلام او دده په متبعینو کی) ستاسی دپاره یعنی دداسی سړی دپاره عمده نمونه ده کوم چی دالله ﷻ (په مخکی دتللو) او دقیامت دورځی (دراتللو) عقیده لري (یعنی دا عقیده ده مقتضی ، په دی باره کی داتباع ابراهیمی) او (مخ ته په بل طرز وعید دی لکه چی ددی ځخه مخکی په وَمَنْ يَفْعَلْهُ کی وعیدراغلی دي یعنی) څوك چی (ددی حکم ځخه) مخ واړوی نو (ضرربه دده وی ځکه چی) الله ﷻ (خو) بالکل بی نیازه او (په وجه دجامع الکمالات کیدو) لایق دحمد دی

معلومات اومسئلي : ددی سورة په ابتدایی حصه کی دکفارو اومشرکانو سره دموالات او دوستانه تعلقاتو ساتلو حرمت او ممانعت راغلی دی او ددی دنزول یوه خاصه واقعه ده .

شانِ نزول : په تفسیر مظهری کی دقشیری اوثعلبی په حواله سره ذکر دی چی دبدر تر واقعی وروسته دمکی دفتح ځخه مخکی دمکی مکرمی یوه سروزګره ښځه چی نوم یی ساره وو اول مدینی طیبی ته راغله ، نبی کریم ﷺ ددی ځخه پوښتنه وکړه چی آیا تاهجرت وکی راغلی؟ نو هغی وویل چی نه ، ده ﷺ پوښتنه ورځخه وکړه چی آیاته مسلمانه سوی راغلی ؟ ددی ځخه هم هغی انکار وکی، ده ﷺ وفرمایل چی بیادلته په ځه غرض سره راغلی؟دی وویل چی تاسی خلق دمکی مکرمی داعلی خاندان خلګ واست، په تاسی باندی زماګزاره وه اوس دمکی لوی سرداران دبدرپه غزاکی مړه سول اوتاسی خلق دلته راغلاست ، زما ګزاره ګرانه سوه، زه په سخت حاجت اوضرورت سره اخته سوم، ستاسی ځخه دمدد اخیستو دپاره دلته راغلی یم، ده ﷺ وفرمایل چی ته خوپه مکه مکرمه کی کسب کاره سروزګره وی ، هغه دمکی ځوانان ځه سول (چی پرتا به یی دروپو اوپیسو باران کوی) هغی وویل چی دواقعی دبدر ځخه وروسته (دهغو جشنونه او خوشحالی ختمی سوی دی) تر دی وخته پوری هیچازه نه یم بللی ، نبی کریم ﷺ بنی عبد المطلب ته ددی دامداد کولو ترغیب ورکی هغوی دی ته نقدی اوکپړی او نور ورکړی رخصت یی کړه .

اوداهغه زمانه وه کله چی دصلح حدیبیه وعده دقریشوکافرانوماته کړی وه اونبی کریم ﷺ دمکی په کفارو دحملی اراده وکړه دپټی تیاری شروع یی کړی وه او دا دعایی هم کړی وه چی زمونږ راز دمکی خلګوته دوخت ځخه مخکی ښکاره نه سی دی خوا په اولنیو مهاجرینوکی یوصحابی حاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه وو کوم چی په اصل کی دیمن اوسیدونکي وومکی مکرمی ته راغلی اومقیم سوی وو ، دلته یی په مکه کی ځه خاندان اوقبیله نه وه دلته مسلمان سو اوبیا یی مدینی منوری ته هجرت وکی، دده اهل اوعیال هم په مکه مکرمه کی وو دنبی کریم ﷺ اودیرو صحابه کرامو رضی الله عنهم دهجرت ځخه وروسته به دمکی مشرکانو هغه مسلمانان کوم چی په مکه مکرمه کی پاته سوی وه آزارول اوپریشانه کول به یی دکومومهاجرینوچی خپلوان په مکه مکرمه موجود وه ، هغوی ته خو په ځه درجه کی تحفظ حاصل وو ، دحاطب رضی الله عنه سره دا فکر وو چی زما داهل اوعیال خو ددښمنانو ځخه ساتونکی هلته هیڅوك نسته، دی رضی الله عنه دخپل اهل اوعیال دتحفظ موقع غنیمت وګڼله چی پرمکی والاوو ځه احسان وکی نوهغوی به دده پر بچیانو ظلم نه کوی .

دده خو پرخپل ځای دا یقین وو چی نبی کریم ﷺ ته به حق تعالٰی فتح ورکوی ، ده ﷺ ته یا اسلام ته په دی راز لخیدو هیڅ نقصان نه رسیږی ، که زه هغوی ته خط ولیکم ، ددی اطلاع ورکړم چی دنبی کریم ﷺ اراده په تاسی خلکو دحملی کولو ده نو زما دبچیانو حفاظت به وسی ، دا غلطی دهغه ځخه وسوه چی یو پټ خط یی داهل مکی په نوم ولیکی او دی تلونکی ښځی ساره ته یی وسپاري (قرطبی اومظهری)

نبی کریم ﷺ ته حق تعالٰی په ذریعه دوحی ددی واقعی اطلاع ورکړه او دا یی ورته هم وښووله چی هغه ښځه به دا وخت روضه خاخ ته رسیدلی وی .

په صحیح بخاری او مسلم کی دحضرت علی ﷺ ځخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ ماته او ابومرثد ﷺ او زبیر بن عوام ﷺ ته حکم وکی چی پرآسونو سپاره سی او دهغی ښځی تعاقب وکی ، تاسی ته به په روضه خاخ مقام کی په لاس درسی او دهغی سره دمکی دمشرکانو په نوم دحاطب بن ابی بلتعه خط دی ، هغه ونیسی او خط ورځخه بیرته واخلی ، حضرت علی ﷺ فرمایی چی مونږ دحکم مطابق روضه خاخ ته ورسیدو ، نو هغه ښځه په اوښ سپره روانه وه ، مونږ ونیوله او ورته مو وویل چی هغه خط رااواخله کوم چی ستاسره دی ، هغی وویل چی زما سره دچا هیڅ خط نسته مونږ ددی اوښ کښینوي او ددی تلاشی مو واخسته ، مگر خط مونږ ته په لاس رانغی ، لیکن مونږ په زړه کی وویل چی دنبی کریم ﷺ خبره غلطیدی نه سی ، ضرور دی خط یوځاي پټ کړی دی نو اوس مونږ دی ته وویل چی یا خوخط راوباسه کنه وی نو مونږ ستا ځخه بیرته کالی اخلو .

کله چی هغی ولیدل چی اوس د دوی ځخه زما خلاصون نسته نو دخپل پرتوگ ځخه یی راوایستی ، مونږ دغه خط رااواخستی اودنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضرسو ، حضرت عمر ﷺ بن خطاب دواقعی اوریدو سره نبی کریم ﷺ ته عرض وکی چی دی سړی دالله ﷻ او دهغه درسول او ټولو مسلمانانو سره خیانت وکی چی زمونږ راز یی کفارو ته ولیکی ، ماته اجازت وکی چی زه دده سر پریکړم .

نبی کریم ﷺ دحاطب ﷺ ځخه پوښتنه وکړه چی ته ځه شی پردی حرکت کولو باندی اماده کړی ، حاطب ﷺ عرض وکی چی یارسول الله! زماپه ایمان کی اوس هم یوه ذره فرق نسته ، خبره دا ده چی زماپه زړه کی دا خیال راغی چی زه دمکی مکرمی پر خلکو یو احسان وکوم چی هغوی زما اهل اوعیال ته ځه نه وایی زما ځخه ماسوا دنورو مهاجرینو حضراتو ځخه هیڅوك داسی نسته دکوم چی ځه خاندان یاقبیله هلته موجود نه وی کوم چی د دوی داهل اوعیال حفاظت کوی .

نبی کریم ﷺ چی دحاطب ﷺ بیان واوریدی نووي فرمایل چی ده رښتیاوویل دده په معامله کی دخیر ځخه ماسوا هیڅ مه وایاست حضرت فاروق اعظم ﷺ (په خپل غیرت ایمانی سره) بیاخپله خبره دوباره وکړه او دده دقتل اجازه یی وغوښتله حضور ﷺ وفرمایل چی آیادی دبدریانو (یعنی دبدرپه جهاد کی دشریکوسو) ځخه نه دی؟ الله ﷻ دبدر دټولو شریکانو دمغفرت او د دوی دپاره دجنت دوعدی اعلان فرمایلی دی چی دا یی واوریدل نو حضرت فاروق اعظم ﷺ په سترگو کی اوښکی راغلی اوعرض یی وکی چی الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ په حقیقت پوه دی (دا دبخاری روایت په کتاب المغازی غزوه بدرکی دی) (از ابن کثیر)

اوپه ځینو روایتونو کې دحاطب دا قول هم دی چې ما داکار اسلام او مسلمانانو ته دضرر رسولو دپاره هیڅکله نه دی کړی ، ځکه چې زما یقین وو چې فتح به ستاسی وی که دمکې خلګ خبر هم سی نوتاسی ته هیڅ نقصان نه رسیږی .

ددی واقعې په بنا دسورة الممتحنه اولنی آیتونه نازل سول ، په کوموکې چې په دی واقعې باندی سر زنش او خبرداری او مسلمانانو ته دکفارو سره یو قسم دوستانه تعلقات ساتل حرام سول .

يَآ أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوْا لاَ تَتَّخِذُوْا عَدُوِّىْ وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَآءَ تُلْقُوْنَ إِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ : یعنی ای ایماندارو! زما دښمن اوخپل دښمن دوست مه جوړ وی چې تاسی هغوی ته د دوستی پیغام ورکوی ، په دی کی ددی ذکر سوی واقعې طرف ته اشاره ده چې دغسی خط کفارو ته لیکل هغوی ته ددوستی پیغام ورکول دی اوپه آیت کی یی لفظ دکفار پرېښوي دَعَدُوِّىْ اوعَدُوَّكُمْ په عنوان اختیارولو کی اول خو ددی حکم دعلت او دلیل طرف ته اشاره وسوه چې دخپلو او دخدای ددښمنانو څخه ددوستی توقع ساتل سخته دوکه ده ، ددی څخه ځان وساتی ، بله دی طرف ته هم اشاره وسوه چې کافر ترڅو چې کافر دیْ ، هغه دیوه مسلمان ترڅو چې هغه مسلمان دی نه سی دوست کیدی هغه دخدای دښمن دی ، نومسلمان چې دخدای دمحبت دعوېدار دی دده سره دهغه دوستی څنګه کیدی سی .

وَقَدْ كَفَرُوْا بِمَا جَآءَكُمْ مِنَ الْحَقِّ يُخْرِجُوْنَ الرَّسُوْلَ وَإِيَّاكُمْ أَنْ تُؤْمِنُوْا بِاللهِ رَبِّكُمْ : دحق څخه مراد قرآن یا اسلام دی په دی آیت کی د دوی کفرکوم چې اصلی سبب دی ددښمنی ددی بیانولو څخه وروسته یی د دوی ظاهری دښمنی هم وښووله چې دوی تاسی اوستاسی رسول دخپل خوږ وطن څخه وایستلاست او ددی ایستلو وجه څه دنیوی سبب نه وو ، بلکه ضرف ستاسی ایمان ددی سبب وو ، نودا خبره ښکاره سوه چې تر څو پوری تاسی مومنان یاست هغوی ستاسی دوستان نه سی کیدی ، اشاره دی طرف ته ده ، چې لکه څنګه چي حاطب خیال کړی وو چې پرهغوی څه احسان وکړم نوهغوی به زما دبچیانو حفاظت کوی داخیال غلط دی ځکه چې هغوی ستاسی دښمنان دایمان په وجه سره دی ، ترڅو چې خدای مه کړه ستاسی ایمان سلب نه سی ، د دوی سره دڅه دوستی اوتعلق توقع ساتل دوکه ده .

إِنْ كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَادًا فِيْ سَبِيْلِيْ وَابْتِغَآءَ مَرْضَاتِيْ : په دی کی هم اشاره دی طرف ته ده چې که ستاسی هجرت واقعی دالله ﷻ دپاره او دهغه درضا حاصلولو دپاره وی نو دیو کافر دخدای ددښمن څخه داسی څه توقع څنګه ساتلی سی چې هغه به ستاسی سره څه رعایت وکی .

تُسِرُّوْنَ إِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَأَنَا أَعْلَمُ بِمَآ أَخْفَيْتُمْ وَمَآ أَعْلَنْتُمْ : په دی کی دا هم وښوول سوه چې کوم خلګ دکفارو سره پټه دوستی ساتی ، هغوی دی دا نه ګڼی چې د دوی دا حرکت به پټ پاته سی ، الله ﷻ د دوی په پټ اوښکاره او هرحال اوهرعمل پوره خبر دی ، لکه چې په ذکر سوی واقعه کی الله ﷻ خپل رسول ﷺ په ذریعه دوحی خبرکی اوسازش یی ونیول سو .

إِنْ يَثْقَفُوْكُمْ يَكُوْنُوْا لَكُمْ أَعْدَآءً وَّيَبْسُطُوْا إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ وَأَلْسِنَتَهُمْ بِالسُّوْءِ : یعنی ددی خلګو څخه دا امید ساتل

چې هغوی به دموقعې پیدا کولو باوجود ستاسې سره څه روا داری وکی ، ددې هیڅ امید نسته دوی ته چې کله په تاسې غلبه حاصله سوه نو د دوی لاسونه او ژبې به ستاسې دبدی اوخرابی څخه ماسوا دبل هیڅ شي طرف ته پورته نه سي.

وَوَدُّوْا لَوْ تَكْفُرُوْنَ : په دې کې اشاره ده چې کله تاسې دوی ته د دوستی لاس وړاندې کوی نو د دوی دوستي به صرف ستاسې دایمان په قیمت وی ، ترڅو پورې چې تاسې په کفر کې اخته نه سي دوی هیڅکله ستاسې څخه نه راضي کیږي.

لَنْ تَنْفَعَكُمْ أَرْحَامُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَفْصِلُ بَيْنَكُمْ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ : یعنی دقیامت په ورځ به ستاسې خپلوان او اولاد ستاسې په کار درنه سي ، الله ﷻ به دقیامت په ورځ دا ټول تعلقات ختم کړی ، اولادبه دمور اوپلار څخه اومور اوپلار به داولاد څخه تښتي، په دې کې دحضرت حاطب ؓ دعذر تردید دی چې دکوم اولاد په محبت کې اخته سوی داکار دی وکی ، پوه سه چې دقیامت په ورځ به دغه اولاد ستا هیڅ په کار درنه سي او دالله ﷻ څخه څه راز اوپټ شي پټیدونکی نسته.

په راتلونکو آیتونو کې دکفارو څخه دترك موالات دتائید اوتاکید دپاره یې دحضرت ابراهیم ؑ واقعه ذکر کړي ده ، چې دده خو ټول خاندان مشرکان وه ، هغه دټولو څخه دبیزاری اوبراءت نه بلکه دهغوی سره یې ددښمنی اعلان وکی او دا یې ورته وښوول چې ترڅو پورې تاسې په یوه الله ایمان رانه وړی او دخپل شرك څخه واپس نه سي ، زمونږ اوستاسې په مینځ کې به دبغض اودښمنی دیوال حائل وی د ، قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِيْ إِبْرٰهِيْمَ : هم دا مطلب دی.

دیوې شبهې جواب: په لوړ آیت کې یې مسلمانانو ته دحضرت ابراهیم ؑ په اُسوه حسنه اوسنتو باندې دچلیدو تاکید فرمایلی دی او دحضرت ابراهیم ؑ څخه دخپل مشرك پلار دپاره استغفار کول ثابت دی، چې ذکر یې په سورة توبه او نوروکی راغلی دی نو دحضرت ابراهیم ؑ دسنتو دتابعداری په حکم سره چا ته دا شبهه کیدی سوه چې دخپلو مشرکانو مور او پلار او یا دخپلوانو دپاره دمغفرت دعا کول هم په دې کې داخل دی ، دا جائز کیدل په کار دی ، په دې وجه ددې اسوه ابراهیمی ؑ داتباع څخه یې دا مستثنی کی اووې فرمایل چې په نورو ټولو شیانوکی داسوه ابراهیمی اتباع لازم ده ، مګر دده ؑ ددی کار اقتداء دمسلمانانو دپاره جائز نه ده چې دمشرکانو مور اوپلار یا خپلوانو دپاره دمغفرت دعا وکی ، دآیت ، إِلَّا قَوْلَ إِبْرٰهِيْمَ لِأَبِيْهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ : هم دا مطلب دی او دحضرت ابراهیم ؑ عذر په سورة توبه کی راغلی دی چې ده ؑ دپلار دپاره داستغفار وعده ترممانعت مخکې کړی وه یاپه دې ګمان یې کړی وه چې دده په زړه کې ایمان راغلی دی ، کله چې معلومه سوه چې هغه دخدای دښمن دی نو دهغه څخه یې دبراءت اوبیزاری اعلان وکی ، د ، فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُ عَدُوٌّ لِلّٰهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ : هم دا مطلب دی.

اوځینی مفسرین حضرات د إِلَّا قَوْلَ إِبْرَاهِيْمَ استثنی استثنی منقطع ګرځوی مطلب یې دا دی چې دحضرت ابراهیم ؑ دخپل پلاردپاره استغفارددې اسوه ابراهیمی منافی نه دی ځکه چې هغه په دې بنا استغفار

کړی وو چی هغه ﷺ گمان کړی وو چی هغه مسلمان سو، بیا چی کله حقیقت معلوم سو نو استغفاریی پرېښوو ی اودبراءت اوبیزاری اعلان یی ورڅخه وکی او داسی کول اوس هم جائز دی چی چاته دیو کافر په حقله غالبٌ گمان دا وسی چی هغه مسلمان سو دهغه دپاره په استغفار کولو کی څه باك نسته (قرطبی) په لنډتفسیرکی هم دا صورت اختیار کړل سوي دی . والله سبحانه وتعالی اعلم

عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّجْعَلَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ الَّذِيْنَ عَادَيْتُمْ مِّنْهُمْ مَّوَدَّةً ۚ وَاللّٰهُ قَدِيْرٌ

امید دی چی وغورځوی الله په تاسی کی او کوم چی دښمنان دی ستاسی په دوی کی دوستی او الله هر څه کولی

وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝۷ لَا يَنْهٰىكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ لَمْ

او الله بخښنی والا مهربانه دی ، نه منع کوی الله تاسی دهغو خلقو څخه کوم

يُقَاتِلُوْكُمْ فِى الدِّيْنِ وَلَمْ يُخْرِجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ اَنْ

چی جنګ یی نه دی کړی تاسی سره په دین کی او ایستلی یی نه یاست تاسی دکورونو ستاسی څخه چی

تَبَرُّوْهُمْ وَتُقْسِطُوْٓا اِلَيْهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ۝۸ اِنَّمَا

ده وی سره ښه کوی او دانصاف سلوك ورسره کوی ، بیشکه الله خوښوی انصاف کونکی ،

يَنْهٰىكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ قٰتَلُوْكُمْ فِى الدِّيْنِ وَاَخْرَجُوْكُمْ

الله ﷻ خو منع کوی تاسی دهغو خلقو څخه چی جنګ یی کړی دی ستاسی سره په دین باندی او ایستلی یی یاست

مِّنْ دِيَارِكُمْ وَظٰهَرُوْا عَلٰٓى اِخْرَاجِكُمْ اَنْ تَوَلَّوْهُمْ ۚ وَمَنْ

تاسی دکورونو ستاسی څخه اوشریك سول ستاسی په ایستلو کی چی دوستی ورسره وکړی او

يَّتَوَلَّهُمْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝۹

څوك چی د دوی سره دوستی کوی نو هغه دی ګناهګار .

لنډتفسیر: (او چونکه ددښمنی په اوریدو یی دمسلمانانو سره فکر کیدی سواي ، اوڅه ورته دخپلولی په قطع کولو رنج کیدی سواي ، په دی وجه په طور دخوشخبری مخ ته پیش ګویی فرمایی چی) دالله ﷻ څخه امید دی (یعنی) دهغه (وعده ده) چی په تاسی کی او په هغو خلګوکی دکومو سره چی ستاسی دښمنی ده دوستی پیداکی (که څه هم دخپنو سره سهی ، یعنی هغوی مسلمانان کړی چی دښمنی په

دوستی کی بدله سی) او (دا څه بعیده مه ګڼی څکه چی) الله ﷻ لره لوی قدرت دی (لکه چی دمکی دفتح په ورځ ډیرخلګ په خوشحالی سره مسلمانان سول مطلب دا چی اول خوکه قطع تعلق دهمیشه دپاره وی بیا به هم په وجه دماموربه واجب العمل وو، بیا خصوصًا کله چی دلږ وخت دپاره دی اوبیاپه مشارکت دایمان سره به دوستی اوتعلق دپخوا په شان واپس سی نو هیڅ دفکر خبره نه ده) او (تراوسه چی دچا څخه ددی حکم خلاف خطا سوي ده دکومی څخه چی اوس هغه توبه ګار سوی دی نو) الله ﷻ (دده دپاره) بخښونکی مهربان دی (اوتردی ځاي پوري یی خو د دوستانه تعلقاتو په نسبت حکم فرمایلی وو چی دهغوی سره واجب ده، مخ ته داحسان مندو تعلقاتو دحکم تفصیل فرمایی هغه دا چی) الله ﷻ تاسی دهغوخلګوسره داحسان او انصاف دسلوك کولو څخه نه منع کوی کوم چی ستاسی سره ددین په باره کی نه دی جنګیدلی اوتاسی یی ستاسی دکورونو څخه نه یاست ایستلی (مراد هغه کافران دی کوم چی ذمی یامصالح دی، یعنی دنیکی سلوك د دوی سره جائز دی، باقی پاته سو دعدل اوانصاف منصفانه سلوك نو په دی کی دذمی یامصالح شرط نسته، بلکه دا خو دهرکافر بلکه دحیوان سره هم واجب دی په دی آیت کی دعدل اوانصاف څخه مراد محسنانه سلوك کول دی، په دی وجه یی په مصالحینو سره مخصوص کی) الله ﷻ دانصاف کوونکو سره محبت ساتی (البته) صرف دهغو خلګو سره د دوستی (یعنی نیکی اواحسان) کولو څخه الله ﷻ تاسی منع کوی کوم چی ستاسی سره ددین په باره کی جنګیدلی دی (برابره خبره ده که بالفعل یا بالعزم) اوتاسی یی ستاسی دکورونو څخه ایستلی یاست او (که ایستلی یی هم نه یاست لیکن) ستاسی په ایستلو کی (یی دایستونکو) مدد کړی وی (یعنی دهغوی سره شریك سوی وی برابره خبره ده که دهغوی په عمل کی یی شرکت کړی وی یاعزم اواراده یی لرلی وی په دی کی هغه ټول کافران راغلل دکوموسره چی دمسلمانانوځه وعده دصلح یاعقد دذمه نه وو، دهغوی سره دنیکی اواحسان معامله جائز نه ده بلکه دهغوی سره جنګ اومقابله مطلوب ده) او څوك چی دداسی خلګو سره ددوستی (سلوک یعنی نیکی اواحسان) کوی، نو هغه خلګ به ګناهګار وی.

معلومات اومسئلې: په تیرو آیتونوکی دکفارو سره د دوستانه تعلق ساتلو سخت ممانعت اوحرمت بیان راغلی دی که څه هم هغه کفار په رشته او قرابت کی هرڅومره نژدی وی، صحابه کرامو ﷺ به دالله ﷻ او دهغه درسول داحکامو په معامله کی نه دذاتی خواهش پرواه کوله نه دخپلولی اوعزیزولی په دی عمل وسو، چی په نتیجه کی یی په کور کور کی دا صورت پیښ سوچی پلار مسلمان زوی کافر یاد دی بر عکس نو دوستانه تعلقات قطع سول، ظاهره ده چی په انسانی فطرت اوطبعیت باندی داعمل اسان نه وو، په دی وجه په ذکر سوو آیتونو کی حق تعالی د دوی دا مشکل عنقریب دآسانولو خبر واوروي.

دحدیث په ځینی روایتونو کی دی چی یوالله ﷻ بنده چی کله دالله ﷻ درضاحاصولودپاره خپل یو محبوب شی پریږدی نوځینی وخت الله ﷻ هغه شی حلال کی او ده ته یی ورسوی اوځینی وخت تر هغه ښه شی ورلره ورکړی ....

په دی آیتونوکی حق تعالی دی طرف ته اشاره وفرمایله چی نن کوم خلګ په کفر باندی دی او ددی په وجه هغه ستاسی دښمنان اوتاسی دهغوی دښمنان یاست، قریبه ده چی الله ﷻ دا عداوت په دوستی

سره بدل کړي ، مطلب دا دی چې هغوی ته دایمان توفیق ورکړي او ستاسی په مینځ کی تعلقات بیا دنوی سره برابر کړي ، ددی پیش گویی ظهور دمکی دفتح په وخت کی داسی وسو چې بغیر دهغو کفارو څخه کوم چې قتل سول ، نور ټول مسلمانان سول (مظهری) په قرآن کریم ددی بیان په ، یَدْخُلُوْنَ فِیْ دِیْنِ اللهِ اَفْوَاجًا (سورة نصر) کی سوی دی ، چې دا خلګ به ډلی ډلی په ډیر شمیرکی دالله ﷻ په دین اسلام کی داخل سی او داسی وسوه .

په صحیح بخاري کی دحضرت اسماء بنت ابی بکر صدیق ﷺ څخه روایت دی چې ددی مور دکفر په حالت کی دمکی مکرمی څخه مدینی منوری ته ورسیده (دمسند احمد په روایت کی دی چې دا واقعه دهغه وخت ده کله چې دحدیبه دغزا څخه وروسته دمکی دقریشو سره دصلح وعده سوی وه او ددی دمور نوم قبیله دی ، دی دخپلی لور اسماء دپاره څه تحفی اوډالی واخستی اومدینی ته ورسیده نو حضرت اسماء ددی دتحفو قبلولو څخه انکار وکی او خپل کورته یی دراتلو هم ترهغه پوری اجازت ورنه کی ترڅو چې یی دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه ونه کړه) غرض حضرت اسماء ﷺ نبی کریم ﷺ ته عرض وکی چې زما مور زما سره دلیدو دپاره راغلی ده اوهغه کافره ده ، زه دهغه سره څه سلوم وکړم ؟ نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل چې دخپلی مور سره صله رحمی کوه یعنی ښه سلوك ورسره کوه ، په دی باندی دا آیت نازل سو ، لَا يَنْهٰكُمُ اللهُ عَنِ الَّذِيْنَ لَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ .

په څینو روایتونو کی دی چې دحضرت اسماء ﷺ مور قبیله ته صدیق اکبر ﷺ دجاهلیت په زمانه کی طلاق ورکړی وو ، حضرت اسماء ﷺ دهغی دنس څخه وه او ددی خور ام المؤمنین حضرت عائشه ﷺ دصدیق اکبر ﷺ دبلی بی بی ام رومان دنس څخه وه او دا مسلمانه سوی وه (ابن کثیر او مظهري)

په دی آیت کی دداسی کافرانو کومو چې دمسلمانانو سره جنګ نه وو کړی او د دوی دکورونو څخه په ایستلو کی یی هم حصه نه وه اخستی دهغوی سره داحسان معامله اوښه سلوك اوعدل انصاف کولو هدایت ورکول سوی دی ، عدل او انصاف خو دهر کافر سره ضروری دی ، په کوم کی چې کافر ذمی اومصالح اوکافر حربی دښمن ټول برابردی، بلکه په اسلام کی خوعدل اوانصاف دحیوانانو سره هم واجب دی چې دهغوی ترطاقت زیات باربه پردوی نه اچوی او د دوی دوښو اوارام به ساتنه کوی ، په دی آیت کی اصل مقصود دبر اواحسان هدایت دی ز

مسئله : ددی آیت څخه ثابته سوه چې نفلی صدقات ، ذمی اومصالح کافرته هم ورکول کیږی صرف حربی کافرته یی ورکول منع دی .

إِنَّمَا يَنْهٰكُمُ اللهُ عَنِ الَّذِيْنَ قَاتَلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ تر أَنْ تَوَلَّوْهُمْ پوري ، په دی آیت کی دهغو کفارو بیان دی کوم چې دمسلمانانو په مقابله کی جنګ اوقتال کوی او دمسلمانانو د دوی دکورونو څخه په ایستو کی حصه اخلی، د دوی په باره کی ارشاد دا فرمایی چې الله ﷻ د دوی سره دموالات او دوستی څخه منع فرمایی په دی کی دنیك سلوك کولو اواحسان دمعاملی کولو ممانعت نسته ، بلکه صرف دقلبی دوستی او

ددوستانه تعلقاتو ممانعت دی او دا ممانعت په دوی کی دبرسرِ اقتدار دښمنانو سره نه دی بلکه داهل ذمه او داهل صلح کافرانو سره هم قلبی موالات او دوستی جائز نه ده ، ددی څخه یې په تفسیرمظهری کی دا مسئله راایستلی ده چی دحربی یعنی دبرسرِ اختلاف کفارو سره عدل اوانصاف خو په اسلام کی ضروری دی او ممانعت صرف دموالات یعنی دوستی سوی دی ، دبر او احسان ممانعت نه دی سوی ، ددی څخه معلومیږی چی محسنانه سلوك دبرسرِ اقتدار دښمنانو سره هم جائز دی، البته دنورو نصوصو پربنا داشرط دی چی ددوی سره داحسان په معامله کولو کی دمسلمانانو دځه نقصان اوضرر خطره نه وی کوم ځای چی دا خطره وی هلته دهغوی سره بر اواحسان جائز نه دی ، البته عدل اوانصاف په هرحال کی دهر انسان سره ضروری او واجب دی ، والله سبحانه وتعالی اعلم بالصواب

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ مُهَٰجِرَٰتٖ فَٱمۡتَحِنُوهُنَّۖ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِإِيمَٰنِهِنَّۖ

ای مؤمنانو اهرکله چی راسی تاسی ته ایمانداری ښځی چی وطن پریږدی نو د دوی امتحان اخلی الله ښه پوه دی په

فَإِنۡ عَلِمۡتُمُوهُنَّ مُؤۡمِنَٰتٖ فَلَا تَرۡجِعُوهُنَّ إِلَى ٱلۡكُفَّارِۖ

ایمان د دوی ، نو که معلومی سوی تاسی ته مؤمنانی ، نو مه گرځوی دوی کافرانو ته ،

لَا هُنَّ حِلّٞ لَّهُمۡ وَلَا هُمۡ يَحِلُّونَ لَهُنَّۖ وَءَاتُوهُم مَّآ أَنفَقُواْۚ

دا ښځی حلالی نه دی هغو (کافرانو) ته او نه هغه (کافران) حلال دی دی ښځولره.. او ورکړی هغو(کافرانو) ته څه

وَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ أَن تَنكِحُوهُنَّ إِذَآ ءَاتَيۡتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّۚ

چی هغوی خرڅ کړی دی او گناه نسته په تاسی چی نکاح وکړی ددغوښځو سره ، کله چی ورکړی دهغو مهرونه

وَلَا تُمۡسِكُواْ بِعِصَمِ ٱلۡكَوَافِرِ وَسۡـَٔلُواْ مَآ أَنفَقۡتُمۡ وَلۡيَسۡـَٔلُواْ

اومه ساتی په خپله قبضه کی ناموس دکافروښځو ، او غواړی هغه کوم چی تاسی خرڅ کړی دی او هغه (کافر) دی

مَآ أَنفَقُواْۚ ذَٰلِكُمۡ حُكۡمُ ٱللَّهِ يَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡۖ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ

غواړی څه چی هغوی خرڅ کړی دی دا دالله ﷻ فیصله ده ، فیصله کوی په تاسی کی ، او الله ﷻ هرڅه پیژنی

حَكِيمٞ ۝١٠ وَإِن فَاتَكُمۡ شَيۡءٞ مِّنۡ أَزۡوَٰجِكُمۡ إِلَى ٱلۡكُفَّارِ فَعَاقَبۡتُمۡ

او حکمت والا دی ، او که ولاړی سی تاسی څخه څه ښځی کافرانو طرف ته بیا ستاسی لاس برسو

فَاٰتُوا الَّذِيْنَ ذَهَبَتْ اَزْوَاجُهُمْ مِّثْلَ مَآ اَنْفَقُوْا ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ

نو ورکوی هغوی ته دکومو چی ښځی تللی دی څومره چی هغوی خرڅ کړی وو ار بیریږ د الله څخه

الَّذِیْٓ اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ۝۱۱ یٰٓاَیُّهَا النَّبِیُّ اِذَا جَآءَكَ الْمُؤْمِنٰتُ

په کوم چی ستاسی یقین دی ، ای نبی ! هر کله چی راسی تا ته مسلمانانی ښځی

یُبَایِعْنَكَ عَلٰٓی اَنْ لَّا یُشْرِكْنَ بِاللّٰهِ شَیْـًٔا وَّلَا یَسْرِقْنَ وَلَا یَزْنِیْنَ

بیعت کوی په دی چی شریك به نه جوړوی الله ﷻ سره هیڅ شی ، او غلا به نه کوی ، اوزنا به نه کوی ،

وَلَا یَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ وَلَا یَاْتِیْنَ بِبُهْتَانٍ یَّفْتَرِیْنَهٗ بَیْنَ

او نه به قتلوی اولاد خپل او راتله نه کوی په درواغو چی جوړوی یی په مخکی

اَیْدِیْهِنَّ وَاَرْجُلِهِنَّ وَلَا یَعْصِیْنَكَ فِیْ مَعْرُوْفٍ فَبَایِعْهُنَّ

دلاسونو او پښو خپلو او نافرمانی به نه وی تا څخه په ښه کار کی نو ته بیعت وکړه

وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ۝۱۲ یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ

د دوی سره او معافی وغواړه د دوی دپاره دالله څخه ، بیشکه الله بخښنی والا مهربانه دی ، ای ایماندارو !

اٰمَنُوْا لَا تَتَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَیْهِمْ قَدْ یَئِسُوْا مِنَ

دوستی مه کوی دهغوی خلقو چی غضب کړی دی الله په هغوی او هغوی نا امیده سوی دی

الْاٰخِرَةِ كَمَا یَئِسَ الْكُفَّارُ مِنْ اَصْحٰبِ الْقُبُوْرِ ۝۱۳ ع

دآخرت څخه لکه چی نا امیده سوی دی منکران دخاوندانو څخه دقبروالا وو .

لنډتفسیر : سبب دنزول : دا آیتونه هم دیو خاص موقعی په حقله دی او هغه موقع دصلح حدیبیه ده چی بیان یی دسورة فتح په شروع کی سوی دی ، منجمله ددی شرطونو څخه کوم چی په صلح نامه کی لیکل سوی وه یو شرط دا هم وو چی کوم سړی دمسلمانانو څخه کافرانو ته ولاړ سی هغه به واپس نه ورکول کیږي ، او کوم شخص چی دکافرانو څخه دمسلمانانو طرف ته ولاړ سی هغه به واپس ورکول کیږی لکه

چې ځینې مسلمانان سړي راغلل اوواپس سول ، بیاځینې ښځې مسلمانانې سوې راغلې او دهغوی خپلوانو دواپسی درخواست وکی، په دې دا آیتونه په حدیبیه کې نازل سول په کوموکې چې دښځو دواپس کولو ممانعت وسو، بس عموم دمضمون دصلح نامې په دې سره مخصوص اومنسوخ سو او دداسې ښځو په باره کې څه خاص احکام مقرر سول او ددې سره څه احکام داسې دښځوپه باب کې مقرر سول ، کوم چې اول دمسلمانانو په نکاح کې وې ، مګر اسلام يې قبول نه کې او په مکه کې پاته سوې اوچې کله مدار ددې احکامو ددغو ښځو مسلمانیدل دي ، په دې وجه طریقه دامتحان يې هم وښووله نو په عام خطاب سره ارشاد فرمايي چې) اې ایماندارو! کله چې تاسې ته مسلمانانې ښځې (د دارالحرب څخه) هجرت وکې راسې (برابره خبره ده که په مدینه کې چې دارالاسلام دی اوکه په حدیبیه کې چې داسلامې لښکرځاى په حکم ددارالاسلام کې دی لکه چې په کتاب الحدود هدایة کې دي) نوتاسې د دوی (دمسلمانیدو) امتحان واخلئ (چې طریقه يې مخ ته په خاص خطاب ، ﴿يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ﴾ کې راځي اوپه دې امتحان کې پرظاهري امتحان باندې بس والې کوئ ځکه چې) دهغوی (حقیقي) ایمان (خو) الله ﷻ ښه پیژني (تاسې يې تحقیق نه سی کولی) نو که دوی (ددې امتحان له مخې) مسلمانانې وګڼئ نوهغوی کفارو ته مه واپس کوئ (ځکه چې) نه خوهغه ښځې هغو کافرانو ته حلالې دي اونه هغه کافران هغو ښځوته حلال دي (ځکه چې دمسلمانې ښځې نکاح دکافرسړي سره مطلقًانه پاته کیږي) او (په دې صورت کې) دې کافرانوچې څه (دمهرپه بابت کې په دغو ښځو) خرڅ کړي وي هغه هغوته واپس ورکئ اوتاسې ته به دهغو ښځو سره په نکاح کولوکې څه ګناه نه وي ، کله چې تاسې دهغوی مهرونه هغوی ته ورکئ او (اې مسلمانانو!) تاسې دکافرو ښځو سره تعلقات باقي مه ساتئ (یعنې کوم چې ستاسې بیبیانې په دار الحرب کې دکفر په حالت کې پاته سې ، دهغوی نکاح ستاسې سره ختمه سوه ، دهغوی دتعلقاتو هیڅ اثر باقي مه ګڼئ) او (په دې صورت کې) چې څه تاسې (دهغو ښځو په مهرکې) خرڅ کړي وي (دهغو کافرانو څخه) غواړئ او (دغه شان) څه چې هغو کافرانو (دمهرپه بابت کې) خرڅ کړي وي هغه (ستاسې څخه) دې غواړي (لکه چې لوړ ارشاد سوي دی ، ﴿اٰتُوْهُمْ مَّآ اَنْفَقُوْا﴾ شاید داتکرار معنون په اختلاف دعنوان ځکه وي چې ستاسې په ذمه چې کوم دنورو حق وي ، هغه زیات مؤکّد وګڼئ) دا (څه چې وویل سول) دالله ﷻ حکم دی (ددې تابعداري وکئ) هغه ستاسې په مینځ کې (داسې مناسب) فیصله کوي اوالله ﷻ لوی علم اوحکمت والا دی (دعلم اوحکمت مناسب احکام مقررفرمایي اوکه ستاسې په بیبیانو کې) څوك بې بې دکافرانو سره دپاته کیدوپه وجه (بالکل) ستاسې په لاس درنه سې (یعنې نه هغه پیداسې اونه يې دمهر بدل پیداسې اوبیا کافرانوته دمهر ورکولو) ستاسې نوبت راسې (یعنې ستاسې پرذمه دچا کافر حق دمهر واجب الاداوی) نو (تاسې دغه مهرهغوکافرانو ته مه ورکوئ بلکه) دکومو (مسلمانانو) چې بیبیانې دلاسه وتلې وي (دکوموچې اوس ذکر وسوپه فَاتَكُمْ کې) څومره (مهر) چې هغوی (په دې بیبیانو) خرڅ کړي وو دهغه برابر (ددې رقم واجب الادا څخه) تاسې هغوی ته ورکړئ او دالله څخه په کوم چې

تاسي ایمان لري بیره کوي (او په واجبو احکامو کې خلل مه اچوي، مخ ته په خاص خطاب کې دکافر دایمان دامتحان طریقه فرمایي چې) ای پیغمبر! ﷺ کله چې مسلمانانې ښځې تاته (په دې غرض سره) راسي چې ستاسره په دې خبره کې بیعت وکې چې دالله ﷻ سره به څوک نه شریکوي اونه به غلاکوي اونه به بدکاري کوي اونه به خپل بچیان قتلوي اونه به دبهتان اولاد راوړي کوم چې دلاسونو اوپښنو په مینځ کې (دخاوند دنطفې څخه دپیدا سوي اولاد کیدو دعوي کوي) جوړوي (لکه په جاهلیت کې چې به دځینو ښځو دستوروو چې دبل کوچني به یې راواخیستي او ویل به یې چې دا زما دخپل خاوند څخه کوچنی دی اویابه یې دچاسره بدکاري وکړه اودغه حرامي نطفې ته به یې دخپل خاوند نطفه ویله چې په دې کې علاوه دزنا دګناه څخه دخپل خاوند سره دبل چا دکوچني پیوست کول هم دی په کوم باندي چې په حدیث کې هم وعید راغلی دی، رواه ابوداؤد والنسايي) اوپه مشروع خبرو کې هغه به ستا خلاف نه کوي (په دې کې ټول شرعي احکام راغلل، نو دغه ښځې که دا شرطونه قبول کړي دکومو عقیده چې شرط دایمان دی او التزام دعمل شرط دکمال دایمان دی) نوته د دوی سره بیعت وکه او د دوی دپاره دالله ﷻ څخه (دتیروګناهونو) مغفرت طلب کوه بیشکه الله ﷻ بخښونکی مهربان دی (مطلب دا دی چې کله ددې احکامو حق والي او واجب العمل والي وګڼي او اظهار یې وکي نو هغه مسلماني وګڼې، اوهرڅومره که په خپله په اسلام سره دتیرو ګناهونو مغفرت کیږي مګردلته داستغفارحکم یاخوپه مکمل طور دمغفرت داثارو دحاصلولو دپاره دي اویاحاصل ددې دعاده، دایمان دقبول په کوم چې مغفرت مرتب کیږي) ای ایماندارو! دهغو خلګو سره (هم) دوستي مه کوي په کوموباندي چې الله ﷻ غضب کړی دی (مراد ددې څخه یهود دي، لکه چې دا قول دالله ﷻ دی، په مائده کې، مَنْ لَعَنَهُ اللّٰهُ وَغَضِبَ عَلَيهِ الاية) چې هغوی دآخرت (دخیر او ثواب) څخه داسي نا امیده سوي دي لکه چې کفار کوم چې په قبرونوکې (دفن) دي (دآخرت دخیر او ثواب څخه) نا امیده دي (کوم کافر چې مړ سي په وجه ددې چې ده ته معائنه دآخرت وسي، په حقیقت د امر باندي په یقین سره مطلع سي چې اوس زما بخشش هیڅکله نه سي کیدی، چې کله موافق دآیت، یعْرِفُونَهُ كَمَا يعْرِفُونَ اَبْنَآءَهُمْ: ستا نبوت او دغه شان دنبي ﷺ مخالف کافران اوغیر ناجي کیدل ښه پيژني، که څه هم دعار اوحسد په وجه یې اتباع نه کوله، په دې وجه د دوی په زړه سره یقین وو چې مونږ نجات پیدا کوونکی نه یو، که څه هم دحسدڅخه په ظاهره ددې خلاف کوي، نو حاصل دا سو چې دکومو ګمراهي داسي مسلمه ده چې هغوی په زړه سره دا تسلیموي دداسي ګمراهانو سره تعلق ساتل څه ضروري دی؟ او دا دې نه ګڼل کیږي چې کوم دسختي درجې ګمراه نه وي، دهغه سره دوستي جائز ده، د دوستي دجواز څخه خو مطلق کفر مانع دی، مګر په دې صفت سره دغه عدم جواز نور سخت سو اوشاید تخصیص دیهودو دلته څکه وي چې په مدینه کې یهود زیات وه او بل دغه خلګ مفسد او شریر هم زیات وه)

معلومات اومسئلې

(دصلح حُدیبیه دوعدی دځینو شرطونو تحقیق)

په سورةِ فتح کی دحدیبیه واقعه په پوره تفصیل سره تیره سوي ده ، په کومه کی چی بالآخره دمکی دقریشو اونبی کریم ﷺ په مینځ کی یوه وعده دصلح دلسو کالو دپاره ولیکل سوه ، ددی وعدی ځینی شرطونه داسی وه ، په کوموکی چی دکمزوری څخه صلح کول اودمسلمانانوپه ظاهره مغلوبیت محسوس کیدي ، په دی وجه په صحابه کرامو ﷺ کی په دی دغم اوغصی اظهار وسو مگر نبی کریم ﷺ په اشاراتو درب دامحسوسوله چی دا وخت خو دیو څو ورځو مغلوبیت دی خو بالآخر دهمیشه دپاره دفتح مبین پیش خیمه جوړیدونکی ده ، په دی وجه یی قبوله وفرمایله او بیا ټول صحابه کرام ﷺ هم مطمئن سول ، ددی صلحنامی یو شرط دا هم وو چی که دمکی مکرمی څخه یو سړی مدینی منوری ته ولاړ سی نو دوی به یی واپس کوی ،که څه هم هغه مسلمان سوی وی اوکه دمدینی طیبی څخه څوك مکی مکرمی ته ولاړ سی نو دمکی قریش به هغه نه واپس کوی ددی وعدی الفاظ عام وه په کوموکی چی په ظاهره سړی اوښځی دواړه شامل وه یعنی څوك مسلمان سړی یاښځه چی دمکی مکرمی څخه نبی کریم ﷺ ته راسی هغه به واپس کوی .

څه وخت چی دا وعده مکمله سوه اولا نبی کریم ﷺ په مقام حدیبیه کی تشریف فرماوو، څو داسی واقعات پیښ سول کوم چی دمسلمانانو دپاره ډیر صبر ازما وه ، په کومو کی چی یوه واقعه دابو جندل ده کوم چی دمکی قریشوپه قیدکی غورځولی وو هغه په یوچل سره دهغوی دقید څخه خلاص سو، نبی کریم ﷺ ته راورسیدی ، صحابه کرامو ﷺ چی دا ولیدل ډیر پریشانه سول چی دوعدی په وجه سره به اوس دی بیا واپس کړل کیږی او مونږ به دا خپل مظلوم ورور بیا دظالمانو په لاس کی ورکوو، دا به څنگه کیږی ؟ مگر نبی کریم ﷺ معاهده لیکلی وه او دشریعت داصولو حفاظت اوپه هغه باندی په خیدل یی دیوه فردپه وجه نسواي پریښوولی او په دی سره دده ﷺ دبصیرت سترگو ډیر ژر ددی ټولو مظلومانو فاتحانه نجات گویا مشاهده کوي ، طبعی رنځ اوغم خو دابو جندل په واپسی کی ده ﷺ ته هم یقینًا سوی وو، مگر ده ﷺ دمعاهدی دپابندی په بنا باندی هغه پوهه راپوهه کی او رخصت یی کی .

ددی سره یوه بله واقعه دا پیښه سوه چی سعیده بنت الحارث الاسلمیه ﷺ کومه چی مسلمانه وه مگر دصیفی بن انصب په نکاح کی وه کوم چی کافر وو په ځینو روایتونو کی دده نوم مسافر المخزومی ښوول سوی دی (تردغه وخته پوری په مسلمانانو او کفاروکی تعلق دنکاح دطرفینو څخه نه وو حرام سوی ، یعنی دکافر اومسلمان نکاح یو دبل سره کیدي سوه) دامسلمانه ښځه دمکی څخه وتښتیده، دحضور ﷺ په خدمت کی حاضره سوه او ددی سره ددی خاوند هم حاضر سو او دنبی کریم ﷺ څخه یی مطالبه وکړه چی زما ښځه ماته واپس کړی ، ځکه چی تاسی دا شرط قبول کړی دی اوتر اوسه دمعاهدی مُهر (ټاپه) لاهم نه دی وچ سوی .

په دی واقعه دا مذکوره آیتونه نازل سول په کوموکی یی چی په اصل کی دمسلمانانو اومشرکانو په

مینځ کی عقد دنکاح حرام کړی دی او ددی په نتیجه کی دا هم چی کومه ښځه مسلمانه برابره خبره ده که ددی مسلمانیدل دمخکی څخه معلوم وی لکه ذکر سوی سعیده چی وه یا دهجرت په وخت کی ددی مسلمانیدل په صحیح طور سره ثابت سی ، هغه که هجرت وکی اونبی کریم ﷺ ته را ورسیږی نو هغه به دکفارو په قبضه کی واپس نه ورکول کیږی ځکه چی هغه اوس دخپل کافر خاوند دپاره حلاله نه ده (قرطبی کی دا واقعه دابن عباس ؓ په روایت سره نقل سوي ده)

غرض ددی آیتونو نزول دا واضحه کړه چی دصلحنامی داشرط چی کوم یومسلمان تاته راسی ته به یی واپس کوی دخپل لفظی عموم سره په کوم کی چی سړی اوښځی دواړه شامل دی ، صحیح نه ده ، دا شرط صرف دسړو په حق کی قبلیدي سی دښځو په حق کی دا شرط قابل قبول نه دی ، د دوی په باره کی صرف دومره کول کیږی چی کومه ښځه مسلمانه سی هجرت وکی ، ددی کافر خاوند چی څه ددی دمهر په صورت کی خرڅ کړی دی ، هغه خرڅ به هغه ته ور واپس کیږی ، ددی آیتونو په بنا نبی کریم ﷺ ددی شرط مفهوم واضح کی او ددی مطابق یی مذکوره سعیده واپس نه کړه .

په ځینو روایتونوکی دی چی ام کلثوم بنت عتبه ابن ابی معیط دمکی څخه نبی کریم ﷺ ته را ورسیده ، ددی دخاوندان خلګو دواپسی مطالبه دشرط دعموم په وجه وکړه ، په دی دا آیتونه نازل سول او په ځینو روایتونوکی دی چی ام کلثوم ؓ دعمروبن عاص په نکاح کی وه کوم چی لا تردغه وخته پوری نه وو مسلمان سوی ، دا او ددی سره دوه وړونه دمکی څخه راوتښتیدل دنبی کریم ﷺ په خدمت کی ورسیدل او په دوی پسی عمر وبن عاص دام کلثوم ؓ خاوند اونور راغلل او د دوی دواپسی مطالبه یی دنبی کریم ﷺ څخه وکړه ، دوی دشرط مطابق دهغه دواړه وړونه عماره او ولید خو واپس کړل ، مګر ام کلثوم ؓ یی واپس نه کړه او ارشاد یی وفرمایی چی دا شرط دسړو دپاره وو ، ښځی په دی کی شاملی نه وی په دی دا آیتونه دنبی کریم ﷺ دتصدیق دپاره نازل سول .

دغه شان دنبی کریم ﷺ په خدمت کی درسیدونکو نورو ښځوهم څه واقعات په روایتونوکی مذکور دی او دا ظاهره ده چی په دی کی څه تضاد نسته ، کیدی سی چی داسی ګڼ واقعات ټول پیښ سوی وی .

(په مذکوره شرط سره دښځو استثناء وعده ماتول نه دی بلکه دیو شرط وضاحت دفریقینو په قبلولو سره دی)

دقرطبی دذکر سوو روایتونو څخه معلومه سوه چی دوعدی دشرط الفاظ که څه هم عام وه مګر دنبی کریم ﷺ په نزد هغه دښځو دپاره عام اوشامل نه وه ، په دی وجه ده ﷺ ددی وضاحت هلته دحدیبیی په مقام باندی وفرمایی او ددی په تصدیق باندی دا آیتونه نازل سول .

او دځینو روایتونو څخه دا معلومیږی چی ده ﷺ خو دا شرط دعموم سره قبول فرمایلی وو ، په کوم کی چی ښځی هم شاملی وی ، ددی آیتونو نزول ددی عموم منسوخ کی اونبی کریم ﷺ دمکی قریشوته دغه وخت دا واضحه کړه چی ښځی به په دی شرط کی داخلی نه وی ، چنانچه ښځو لره ده ﷺ واپس ونه فرمایل ، ددی څخه معلومه سوه چی دا صورت نه دنقضِ عهد وو ، دکوم چی دنبی کریم ﷺ څخه هیڅ امکان نه وو او نه دا دعهد ختمولو صورت وو ، بلکه دا دیو شرط دوضاحت معامله وه ، برابره خبره ده

که په خپله دنبي کريم ﷺ مراد دمخکي څخه دا وو يادايت دنزول څخه وروسته دوی ددی عموم صرف تر سرو پوری دمحدود کولو دپاره فرمایلی وی ، په هرحال سوی داسی ده چی ددی وضاحت څخه وروسته هم وعده دصلح طرفینو قبوله کړه او په دی تر یوی مودی پوری دطرفینو عمل وسو ، ددی صلح په نتیجه کی لاری په آمن سوی او نبی کریم ﷺ ددنیا بادشاهانو ته خطونه ولیږل او ددی په نتیجه کی دابو سفیان قافله په بی فکری سره دشام ملك ته ورسیده کوم ځای چی هرقل دی خپل دربارته راوغوښتی او دنبی کریم ﷺ دحالاتو او واقعاتو تحقیق یی ورڅخه وکی.

لنډه دا چی دصلح ددی شرط الفاظ عام دی ، دښځو په کی نه شاملیدل برابره خبره ده که دمخکی څخه دنبی کریم ﷺ په نظرکی وه یا دایت دنزول څخه ، نو دوی ﷺ ښځی ددی عموم څخه خارجی کړی ، په هرو دواړو صورتونو کی دقریشو دکفارو اومسلمانانو په مینځ کی داوعده ددی وضاحت څخه وروسته هم مکمله ګڼل کیده اوتر یوی مودی پوری په دی عمل کیدی ، په دی وجه ددی شرط وضاحت ته نقضِ وعده یاماتول دوعدی نه سی داخلولی. والله اعلم

مخ ته دآیتونو مطلب دآیتونو تر الفاظو لاندی وګوری.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا جَاءَكُمُ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ فَامْتَحِنُوهُنَّ اللهُ أَعْلَمُ بِإِيمَانِهِنَّ : مراد دآیت دا دی چی دښځو دصلح دشرط څخه دمستثنی کولو وجه د دوی مسلمانی او مومنانی کیدل دی ، دمکی څخه مدینی ته په راتلونکو ښځوکی احتمال ددی هم وو چی په دوی کی داسلام اوایمان په خاطر نه بلکه دخپل خاوند څخه دخفه کیدو په سبب یاپه مدینه کی دچا دمحبت په سبب یا دڅه بل دنیوی غرض په سبب یی هجرت کړی وی ، هغه دالله ﷻ په نزد ددی شرط څخه مستثنی نه دی ، بلکه د دوی به دصلح دشرط مطابق واپس کول ضروری وی ، په دی وجه مسلمانانو ته حکم ورکول سو چی په هجرت سره دراتلونکو ښځو امتحان اخلی ، ددی سره یی دا جمله وفرمایله چی ، اللهُ أَعْلَمُ بِإِيمَانِهِنَّ : په دی کی یی اشاره وکړه چی دحقیقی اواصل ایمان تعلق خو دانسان دزړه سره دی دکوم چی دالله ﷻ څخه ماسوا بل چاته یی خبر نسته البته دبنده دزبانی اقرار اوقرائنو نه دایمان اندازه لګول کیږی ، نومسلمانان ددی مامور اومکلف دی.

دحضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دی چی د دوی دامتحان طریقه دا وه چی دمهاجری ښځی څخه به قسم اخستل کیدی چی دا دخپل خاوند څخه دبغض او نفرت په وجه خونه ده راغلی اونه په مدینه منوره کی دچاسړی دمحبت په وجه اونه په څه بل دنیوی غرض سره، بلکه ددی راتلل خالص دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ دمحبت اورضا حاصلولو دپاره دی ، کله چی به هغی داقسم وکی نونبی کریم ﷺ به دی ته په مدینه منوره کی دپاته کیدو اجازت ورکی ، او ددی مهر او نور کوم چی دی دکافر خاوند څخه وصول کړی وه ، هغه به یی هغه خاوند ته واپس کړل (قرطبی)

او دحضرت عائشه صدیقه ؓ څخه په ترمذی کی روایت دی کوم ته چی ترمذی حسن صحیح ویلی دی ، دافرمایی چی د دوی دامتحان صورت هغه بیعت وو ، دکوم ذکرچی په راتلونکی آیت کی په تفصیل سره

راغلی دی ، إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ : گویا دراتلونکو مهاجرو ښځو دایمان دامتحان طریقه دا وه چی هغه دنبی کریم ﷺ په لاس مبارك دهغو شیانو وعده وکړی کوم چی ددی بیعت په بیان کی مخ ته راغلی دی اودا هم څه بعیده نه ده چی په اول کی به یی هغه کلمی په دی ویلی کوم چی دابن عباس ﷛ په روایت کی لوړ راغلی دی اوتکمیل به یی په دی بیعت سره وو دکوم چی مخ ته ذکر راځی . والله تعالی اعلم

فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَاتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى الْكُفَّارِ : یعنی هرکله چی په ذکرسوی طرز باندی ددی مهاجراتو امتحان واخلی نوبیا د دوی کفارو ته واپس کول جائز نه دی .

لَا هُنَّ حِلٌّ لَهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ : یعنی نه دا ښځی کافرو سړو لره حلالی دی اونه کافران سړی د دوی دپاره حلالیدی سی ، چی دوباره نکاح ورسره وکی .

مسئله : دی آیت دا واضحه کړه چی کومه ښځه دیوکافر په نکاح کی وه اوبیاهغه ښځه مسلمانه سوه نو دکافر سره ددی نکاح خود بخوده ماته سوه ، دا دهغه دپاره او هغه ددی دپاره حرام سوه او هم دا وجه دښځو په شرط دصلح کی دمستثنٰی کولو ده دواپسی څخه چی دا اوس دکافر خاوند دپاره حلاله نه ده .

وَآتُوهُمْ مَا أَنْفَقُوا : یعنی دمهاجری مومنی کافر خاوند چی ددی په نکاح کی کوم مهر او نور دی ته ورکړی دی هغه به ټول ددی خاوندته واپس ورکول کیږی ځکه چی دصلح دشرط څخه مستثنٰی صرف دښځو واپسی وه ، کومه چی په وجه د دوی دحرامیدو نه سی کیدی ، مگرکوم مال چی هغوی دوی ته ورکړی دی هغه دشرط مطابق واپس کول په کار دی ، ددی مال دواپسی خطاب مهاجرو ښځوته نه دی سوی چی تاسی یی واپس کړئ ، بلکه عامو مسلمانانو ته حکم سوی دی چی هغوی دی واپس کی ، ځکه چی ډیره ممکنه بلکه غالبه دا ده چی کوم مال د دوی خاوندانو دوی ته ورکړی وو هغه به ختم سوی وي اوس دهغه دواپس کولو صورت نه سی کیدی ، په دی وجه دا فریضه په عامو مسلمانانو وغورځول سوه دصلح دوعدی دپوره کولو دپاره د دوی دطرفه کافرو خاوندانو ته مال واپس کړی ، که دبیت المال څخه ورکول سو نو دهغه څخه که نی عام مسلمانان به چنده وکی او دهغه څخه به ورکول سی (من القرطبی)

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ إِذَا آتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ : په تیر ایت کی دا واضحه سوي ده چی په هجرت سره دراغلی مسلمانی ښځی نکاح ددی دکافر خاوند سره فسخ سوي ده او دا په هغه حرامه سوي ده ، په دی آیت کی ددی حکم تکمله دا ده ، چی اوس دمسلمان سړی سره ددی نکاح کیدی سی ، که څه هم تیرکافر خاوند ددی ژوندی هم دی اوهغه طلاق هم نه وی ورکړی ، مگر په شرعی حکم سره نکاح فسخ سوي ده ، په دی وجه دبل سړی سره ددی نکاح حلاله سوه .

دکافر سړی ښځه که مسلمانه سی نونکاح فسخ کیدل یی په ذکر سوی آیت سره معلوم سو ، لیکن دبل یو مسلمان سړی سره ددی نکاح څه وخت جائزه کیږی ددی په حقله دامام ابوحنیفه په نزد اصل قاعده خودا ده ، چی دکوم کافر سړی ښځه چی مسلمانه سی ، نو داسلام حاکم به ددی خاوند راوبلی وبه وایی ورته چی که ته هم مسلمانیږی نونکاح به برقراره پاته سی ، کنی نکاح به فسخ سی که هغه په دی هم داسلام

راوړو څخه انکار وکی نو اوس به ددی دواړو په مینځ کی دفرقت تکمیل وسی ، دغه وخت هغه دیو مسلمان سړی سره نکاح کولی سی مګر داظاهره ده چی حاکم اسلام خاوند هغه ځای حاضرولی سی کوم ځای چی داسلام حکومت وی ، په دار الکفر یادار الحرب کی که داسی واقعه پیښه سی نوخاوند ته یی داسلام دپاره ویل او دهغه دانکار صورت به نه وی په کوم سره چی په دواړوکی دتفریق فیصله وسی ، په دی وجه په دی صورت کی به دزوجینو په مینځ کی دتفریق تکمیل هغه وخت وی کله چی داښځه هجرت وکړی او دارالاسلام ته راسی یا دمسلمانانو لښکر ته راسی ، دارالاسلام ته دراتلو صورت په مذکوره واقعاتوکی مدینی طیبی ته درسیدو څخه وروسته کیدی سی اولښکر داسلام په حدیبیه کی هم موجود وو ، دی ته په رسیدو سره هم ددی تحقق کیږی کوم چی یی په اصطلاح دفقهاؤ کی په اختلاف ددارینو سره تعبیر کړی دی ، یعنی کله چی دکافر سړی اومسلمانی ښځی په مینځ کی ددارینو فاصله راسی ، یعنی یو په دارالکفر کی دی ، بل په دار الاسلام کی نو دا تفریق مکمل سو ، ښځه دبل زوج سره دنکاح کولو دپاره ازادیږی (هدایه او نور)

اوپه دی آیت کی چی کوم ، إِذَا آتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ: یی په طور دشرط وفرمایی چی تاسی د دوی سره نکاح کولی سی په دی شرط چی د دوی مهر ورکړی ، دا په حقیقت کی دنکاح شرط نه دی ، ځکه چی په اتفاق دامت دنکاح انعقاد په ادا دمهر باندی موقوف او مشروط نه دی ، البته په نکاح باندی ادا دمهر واجب لازم اوضروری ده ، دلته یی داپه طور دشرط شاید په دی وجه ذکر کړی دی چی اوس یو مهر خو ددی کافر خاوندته واپس سوی دی ، هسی نه چی اوس ددی سره نکاح کوونکی مسلمان دا وګڼی چی مهر خو ورکول سو او دنوی مهر وروکولو ضرورت نسته ، په دی وجه یی وفرمایل چی ددغه مهر تعلق دتیری نکاح سره وو ، دا به دوهمه نکاح وی نو ددی نوی مهر لازم دی.

وَلَا تُمْسِكُوا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ: عِصَمٌ دعِصْمَت جمع ده چی اصلی معنی یی حفاظت او استحکام دی ، مراد ددی څخه هغه عقد دنکاح او نور دی دکوم چی حفاظت کیږی.

كَوَافِر: جمع دکَافِرَه ده اومراد ددی څخه مشرکه ښځه ده ، ځکه چی دکتابی کافری سره دنکاح اجازت په قرآن کی راغلی دی ، مراد دایت دا دی چی تر اوسه کوم دمسلمانانو اومشرکانو په مینځ کی دنکاح اجازت وو ، هغه ختم سو اوس دیو مسلمان نکاح دمشرکی ښځی سره جائز نه ده اوکومه نکاح چی مخکی سوي ده هغه هم ختمه سوه اوس دمشرکی ښځی پخپل نکاح کی ساتل جائز نه دی ، څه وخت چی دا آیت نازل سو نو دکومو صحابه کرامو ؓ په نکاح کی چی څوك مشرکه ښځه وه هغه پریښوده ، دحضرت فاروق اعظم ؓ په نکاح کی دوی مشرکی ښځی وی ، تر هغه وخته پوری کومی چی په وخت دهجرت کی په مکه مکرمه کی پاته سوی وی ، حضرت فاروق اعظم ؓ ددی آیت دنازلیدو څخه وروسته دواړو ته طلاق ورکی (رواه البغوی په سند دزهری ، لکه داسی په مظهری کی دی) او دطلاق څخه مراد دلته پریښوول اوقطع تعلق کول دی ، داصطلاحی طلاق خو دلته ضرورت نسته ، ځکه چی ددی آیت په ذریعه نکاح ماته سوي ده

وَاسْأَلُوا مَا أَنْفَقْتُمْ وَلْيَسْأَلُوا مَا أَنْفَقُوا : یعنی کله چې معامله داسې مقرره سوه چې کومه ښځه مسلمانه سی هجرت وکی او مدینې طیبې ته راسی نو هغه به واپس مکې ته نه لیږل کیږی ، البته ددی خاوند چې کوم مهر اونور دی ته ورکړی وی ، هغه به ددی خاوندته واپس ورکول کیږی ، دغه شان که یوه مسلمانه ښځه خدای مه کړه مرتده سی ، مکې معظمې ته ولاړه سی یا دمخکې څخه کافره وه، مگر دمسلمان خاوند دقبضې څخه ووزی (په لنډ تفسیرکی داصورت شاید ځکه اختیار سویدی چې داسی هیڅ واقعه نه ده پیښه سوی چې یوه مسلمانه ښځه مرتده سوی وی اومکې ته تللې وی اوبیا هغه کافره پاته سوی وی ، البته داسی واقعات پیښ سوي دی ، چې کوم دمخکې څخه کافری وی هغه دخپلو خاوندانو دقبضې څخه وتلې دی اوپه مکه کی پاته سوي دي) دمکې کافران به هغه نه واپس کوی ، مگر دهغې مسلمان خاوند چې کوم مهر اونور هغې ته ورکړی دی دهغه واپسی به دمکې دکافرانو په ذمه وی ، په دی وجه ددی معاملاتو تصفیه دی په خپل مینځ کی په حساب سره کول کیږی ، دطرفینو دطرفه چې کوم مهر او نور خرڅ سوی دی هغه دی معلوم کړی دهغه مطابق دی معامله وکول سی .

په دی حکم خو مسلمانانو دزړه په خوشحالی عمل وکی ځکه چې دقرآن داحکامو پابندی د دوی په نزد فرض ده ، نو څومره ښځو چې هجرت وکی راغلی دتولو مهر اونور د دوی کافرو خاوندانو ته واپس ولیږل سو ، مگر دمکې دکافرانو په قرآن ایمان نه وو ، هغوی عمل نه په وکی ، په دی باندی راتلونکی آیت نازل سو (بغوی عن الزهری ، مظهری)

وَإِنْ فَاتَكُمْ شَيْءٌ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ إِلَى الْكُفَّارِ فَعَاقَبْتُمْ : الاية عَاقَبْتُمْ دَمعاقبې څخه مشتق دی چې یوه معنی یی انتقام اوبدله اخستل هم دی ، دلته دا معنی هم مراد کیږی (لکه دقتاده اومجاهد څخه چې روایت دی ، قرطبی) په دی صورت کی مطلب دایت به دا وی چې دمسلمانانو څه ښځې که دکفارو په قبضه کی راسی نو دصلحې دشرط لاندی په نورو باندی لازمه وه چې د دوی مسلمانانو خاوندانو ته د دوی ورکړی مهر او نور واپس کړی ، لکه چې دمسلمانانو دطرف څخه دهجرت کوونکو ښځو کافرانو خاوندانو ته د دوی مهر واپس سوی وو لیکن کله چې کفارو داسې ونه کړه او دمسلمانانو دښځو مهر یی دوی ته ادا نه کی نو د دوی ددی عمل که تاسې انتقام اوبدله داسی اخلی چې دمکې کفاروته چې کوم رقم دمهاجرو ښځو په مهر کی ادا کول دی ، هغه هم تاسې دخپل حق مطابق منع کوی نو ددی حکم دا دی چې ، فَآتُوا الَّذِينَ ذَهَبَتْ أَزْوَاجُهُمْ مِثْلَ مَا أَنْفَقُوا : یعنی تاسې ددغه رقم څخه کوم چې دمهاجراتو مهر مو منع کړی دی ، دهغو مسلمانانو خاوندانو خرڅ کړی مهر ادا کی ، دکومو ښځې چې دمکې دکفارو په قبضه کی راغلې دی .

دوهمه معنی د ، عَاقَبْتُمْ ، عَقَبْتُمْ ، أَعْقَبْتُمْ ، په جنگ کی دمال غنیمت حاصلولو هم ده او په دی آیت کی دا دری سره قراتونه هم دمختلفو قاریانو څخه منقول دی او دحضرت قتاده اومجاهد څخه ددی درو سره وو لفظونو معنی دغنیمت هم منقول ده ، په دی صورت کی به معنی دآیت داسی چې دکومو مسلمانانو خاوندانو ښځې چې دکفارو په قبضه کی ورغلې او دصلح دشرط مطابق کفارو دهغوی مهر مسلمانانو

خاوندانو ته ادا نه کی ، بیا مسلمانانو ته مال دغنیمت حاصل سو ، دهغوی ددی خاوندانو حق به دمال غنیمت څخه دوی ته ورکول سی (قرطبی)

(آیا دمسلمانانو ښځي مرتدی سوی اومکي ته تللي دی؟)

په دی آیت کی چی دکومی معاملی حکم بیان سوي دی ددی واقعه دځینو حضراتو په نزد صرف یوه پیښه سوی وه چی دحضرت عیاض ﷺ بن غنم ښځه ام الحکم بنت ابی سفیان مرتده سوی مکی ته تللی وه او بیا دا هم اسلام ته واپس سوه .

اوحضرت ابن عباس ﷺ دټولو شپږو ښځو دااسلام څخه دواپس کیدو او دکافرانو سره دحاصلیدو ذکر فرمایلی دی ، په کومو کی چی یوه خو دا امّ الحکم بنت ابی سفیان وه اوباقی پنځه ښځی هغه وی کومی چی دهجرت په وخت کی په مکه مکرمه کی پاته سوی او دمخکی څخه کافری وی ، کله چی دقرآن دا ایت نازل سو کوم چی دمسلمان اوکافر نکاح ماته کړه ، دغه وخت هم هغوی مسلمانیدو ته تیاری نه سوی ، ددی په نتیجه کی دا هم په هغو ښځو کی شمار سوی ، دکومو مهر چی د دوی مسلمانانو خاوندانو ته دمکی دکافرانو دطرف څخه واپس حاصلیدل په کار وو ، کله چی هغوی ورنه کی نو نبی کریم ﷺ دمال غنیمت څخه د دوی حق ادا کی .

ددی څخه معلومه سوه چی دمدینی څخه مکی ته دتلونکی او مرتده کیدونکی ښځی یوازی یوه واقعه وه ، باقی پنځه ښځی دمخکی څخه په کفر وی اوپه کفر دقائم پاته کیدو په وجه هغه دمسلمانانو دنکاح څخه ددی آیت په بنا سره ووتلی ، په دی وجه دوی یی هم په دی ضمن کی شمار کړی اویوه ښځه چی مرتده سوه اومکی ته ولاړه هغه هم بیا دوباره مسلمانه سوه (قرطبی) اوبغوی په روایت دابن عباس ﷺ نقل کړی دی چی باقی پنځه ښځی کومی چی په دوی کی شمار سوی دی ، هغه هم وروسته مسلمانی سوی دی (مظهری)

دښځو بیعت : يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ الآية : په دی آیت کی دمسلمانو ښځو څخه دیو تفصیلی بیعت اخیستو ذکر دی چی په دی کی دایمان اوعقیدو سره دشرعی احکامو دپابندی هم وعده ده ، تیر آیتونه دکومو په سیاق کی چی دا آیت دبیعت راغلی دی ، هغه که څه هم چی دهغو مهاجراتو دایمان دامتحان کولو په سلسله کی دی او دا بیعت د دوی دایمان دامتحان تکمیل دی ، لیکن الفاظ دایت عام دی ، دنوو مسلمو مهاجراتو سره مخصوص نه دی بلکه دټولو مسلمانانو ښځو دپاره عام دی او واقعه هم داسی پیښه سوه چی په ذکر سوی بیعت کی دنبی کریم ﷺ سره بیعت کوونکی صرف نوی مسلمی مهاجراتی نه وی نوری پخوانی ښځی هم شاملی وی ، لکه چی په صحیح بخاری کی دام عطیه ﷺ څخه اوپه سند دبغوی دأمیمه بنت رقیه ﷺ څخه منقول دی ، دحضرت أمیمه څخه روایت دی چی ما دځو نورو ښځو په ملګرتیا کی دنبی کریم ﷺ سره بیعت وکی نو دوی چی دکومو شرعی احکامو دپابندی وعده په دی بیعت کی واخسته ، ددی سره یی دا کلمی هم تلقین وفرمایلی چی ، فِيمَا اسْتَطَعْتُنَّ

وَأَطَقْتُنَّ : يعني مونږ ددغو شيانو دپابندي وعده تر هغه حده پورې كوو تر څو پورې چې زمونږ په اسطاعت او طاقت كې ده ، اميمه ﷺ ددې دنقل كولو څخه وروسته فرمايي چې ددې څخه معلومه سوه چې دنبي كريم ﷺ رحمت او شفقت په مونږ باندي په خپله زمونږ دذات څخه هم زيات وو چې مونږ خو بغير دڅه شرط اوقيد څخه وعده كول غوښتې وه، ده ﷺ ددې شرط تلقين وفرمايي چې كه په اضطراري حالت كې خلاف ورزي وسي نو په وعده شكني كې به دا خله نه وي (مظهري)
او په صحيح بخاري كې حضرت عائشه ﷺ دښځو ددې بيعت په حقله فرمايي چې دښځو دا بيعت صرف دخبرو اترو په ذريعه سوي دي ، دسړو په بيعت كې چې كوم لاس په لاس كې دايښوولو دستور دي ، دښځو په بيعت كې داسې نه دي سوي او دنبي كريم ﷺ لاس مبارك هيڅكله دغيرمحرمې ښځې لاس نه دي مسه كړي (مظهري) اودحديثو درواياتونو څخه ثابته ده، چې دابيعت دښځو صرف ددې واقعې دحديبې څخه وروسته نه بلكه بار بار سوي دي ، تردې چې دمكې دفتح په ورځ هم نبي كريم ﷺ چې دسړو دبيعت څخه فارغ سو نو دصفا په غره باندي يې دښځو څخه بيعت واخستې او دغره په لمنه كې جمع سوو ښځوته به حضرت عمر بن خطاب ﷺ دحضور ﷺ دطرف څخه دحضور ﷺ الفاظ بيا بيا ويل او هغوته به يې رسول كوم چې په دې بيعت كې شريكې وې .
دغه وخت په بيعت كوونكو ښځوكې دابو سفيان ښځه هنده هم شامله وه كوم چې په اول كې دحياء په سبب ځان پټ ساتل غوښتل ، بيا په بيعت كې دځينو احكامو تفصيل راغې نو په خبرو كولو اوپوښتنې كولو ...ندې مجبوره سوه څوسوالونه يې وكړل داواقعه په تفصيل سره په تفسيرمظهري كې ذكرسوي ده.

(دسړو په بيعت كې اجمال او دښځو په بيعت كې تفصيل)

دسړو څخه چې به كوم بيعت اخستل كيدى ، هغه په عام طورسره په اسلام اوجهادباندي اخستل كيدى دعملي احكامو تفصيل په كې نسته ، په خلاف دښځو دبيعت څخه ، چې په هغه كې هغه تفصيل دي ، كوم چې مخ ته راغې ، وجه دفرق دا ده چې دسړو څخه دايمان اواطاعت په بيعت كې دا ټول احكام دا خل وه ، په دې وجه دتفصيل ضرورت ونه ګڼل سو، او په ښځوكې په عام طور سره عقل او پوهه دسړو څخه كمه وي ، په دې وجه د دوی په بيعت كې تفصيل مناسب وګڼل سو، دا ددې بيعت ابتداء ده كوم چې دښځو څخه شروع سو، مګر مخ ته دا په ښځو پورې مخصوص پاته نه سو، دسړو څخه هم ددې شيانو بيعت اخستل دحديثو په روايتونو سره ثابت دي (لكه چې روايت يې دعبادة بن الصامت څخه سوي دي . قرطبي)
ددې څخه علاوه دكومو احكامو دپابندي وعده چې دښځو څخه واخستل سوه عمومًا ښځې په دې كې دبې لارې كيدو عادي وي ، په دې وجه هم په خصوصيت سره د دوی په بيعت كې دالاندې تفصيل راغې

يُبَايِعْنَكَ عَلَى أَنْ لَا يُشْرِكْنَ بِاللهِ : په دې كې اوله خبره خودغه دايمان او دشرك څخه دمحفوظ كيدو ده كومه چې په عامو مراد نه بيعتونو كې هم راغې ، دوهمه خبره غلا نه كول دي ، ډيرې ښځې دخپل خاوند په

مال کی دغلا عادی وی، په دی وجه یی ذکر وکی، دریمه خبره دزنا څخه ځان ساتل دی، په کوم کی چی ښځی پخی سی نو سرو ته به هم نجات اسان سی، څلورمه خبره دا ده چی خپل بچیان مه قتلوی، دجاهلیت په زمانه کی دجینکیو دژوندی ښخولو او قتلولو رواج وو، هغه یی منع کی، پنځمه خبره دا ده چی افتراء اوبهتان مه جوړ وی، دبهتان ددی ممانعت سره دا الفاظ هم دی، بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ: یعنی دخپلولاسونواوپښوپه مینځ کی بهتان مه جوړوی ددی ذکرځکه وسوچی دقیامت په ورځ به دانسان لاس اوپښی دده په عملونو شهادت ورکوی، مطلب دا سو چی دداسی گناه دکولو په وخت کی دا خیال ساتل په کار دی چی زه دځلورو شاهدانو په مینځ کی دا کار کوم کوم چی به زما خلاف شاهدی ورکوی.

دلته لفظ دبهتان عام دی په خپل خاوند باندی وی اوکه په بل ځکه چی افتراء او بهتان په هرسړی تردی چی په کافر هم حرام دی، خصوصًا په خپل خاوند بهتان نوره هم سخته گناه ده او په خاوند دبهتان لگولو یو صورت دا هم دی چی ښځه دبل سړی بچی راوړی اوښکاره کړی چی دا زما دخاوند بچی دی او په نسب کی یی ورته دا خل کی او دا هم چی معاذ الله بدکاری وکی اوحمل یی سی چی په نتیجه کی یی دا بچی دخاوند په نسب کی دا خل وگڼل سی.

شپږمه خبره یوه عامه قاعده ده چی، وَلَا يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ: یعنی چی هغه به په څه نیك کارکی ستا دحکم خلاف ورزی نه کوی، دلته دَ، معروف، یعنی دنیك کار قید لگول، کله چی دا یقینی ده چی دنبی کریم هیڅ حکم دمعروف اونیکی څخه ماسوا کیدی نه سی یاخو ځکه دی چی عام مسلمانان په پوره شان سره پوه سی چی دالله ﷻ دحکم خلاف دچا مخلوق اطاعت جائز نه دی، تردی چی درسول اطاعت هم په دی شرط سره مشروط سو.

او دا هم کیدی سی چی دلته معامله دښځو ده، د دوی څخه دعام اطاعت چی د دوی دځه حکم څخه خلاف به نه کوی، دچا په زړه کی په دی سره شیطان وسوسی پیدا کولی سی ددی دلاری بندولو دپاره یی دا قید ولگوی. والله سبحانه وتعالی اعلم

تمت: سُوْرَةُ الممتحنة بعون الله تعالى وحمده لشعرين خلت مني جمادى الاولى سـ ۱۳۹۱ سنه هـ يوم الثلاء

ويتلوها انشاء الله سورة الصّف

﴿سورة الصف﴾

سُوْرَةُ الصَّفِّ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ أَرْبَعَ عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة صف په مدینه کی نازل سو په دی کی څوارلس (۱۴) آیتونه او دوی (۲) رکوع گانی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نوم سره دالله ﷻ چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی.

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ

پاکی وایی دالله څه چې دی په آسمانونو کی او څه چې دی په مځکه کی او هغه دی زبردست حکمت

الْحَكِيْمُ ۝١ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ۝٢

والا ، ای ایماندارو ! ولی وایاست په خلو سره هغه چې نه یی کوی

كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ۝٣ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ

لویه دبیزاری خبره ده دالله په نزد چې وایی هغه څه چې نه یی کوی ، الله محبت ساتی

الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِىْ سَبِيْلِهٖ صَفًّا كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ ۝٤

دهغو خلقو سره چې جنګ کوی دهغه په لاره کی په قطار ترلو چې ګویا دیوالونه دی قلعی کړل سوی

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ لِمَ تُؤْذُوْنَنِىْ وَقَدْ تَّعْلَمُوْنَ

او کله چې وویل موسی ﷺ خپل قوم ته ای زما قومه ! ولی ازاروی ما او تاسی ته معلومه ده

اَنِّىْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ ۖ فَلَمَّا زَاغُوْۤا اَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ ۚ وَاللّٰهُ

چې زه دالله رالیږل سوی یم تاسی ، بیا چې هغوی بیرته وګرځیدل نو وګرځول الله دهغوی زړونه ، او

لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۝٥ وَاِذْ قَالَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ

الله لار نه ښیی نافرمانه خلقو ته ، اوهرکله چې وویل عیسی ﷺ زوی دمریم

يٰبَنِىْۤ اِسْرَآءِيْلَ اِنِّىْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ

ای بنی اسرائیلو ! زه رالیږل سوی یم دالله تاسی ته یقین کونکی په هغه چې زما څخه

يَدَىَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَمُبَشِّرًا بِرَسُوْلٍ يَّاْتِىْ مِنْ بَعْدِى اسْمُهٗۤ

مخکې دی دتورات څخه اوخوشخبری اورونکی دیو رسول چې راځی به زما څخه وروسته دهغه نوم

اَحْمَدُ ۚ فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٦

دی احمد ﷺ ، نو هرکله چې راغی دوی ته دښکاره نښانو سره وویل دوی دا خو جادو دی ښکاره ،

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعٰى

او څوك دي زيات بې انصافه دهغه چاڅخه چې جوړوي په الله پورې دروغ او هغه دوی رابلي

إِلَى الْإِسْلَامِ ۚ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِينَ ۝٧ يُرِيدُونَ

اسلام ته او الله ﷻ لار نه ښيي بې انصافه خلقو ته ، غواړي چې

لِيُطْفِئُوا نُورَ اللّٰهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللّٰهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ

مړه کړي رڼا دالله په خپلو خلو سره او الله پوره کوونکی دی دخپلې رڼا که څه هم بدګڼي

الْكٰفِرُونَ ۝٨ هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدٰى وَدِينِ الْحَقِّ

دا کافران ، هغه ذات دی چې ويې لېږی خپل رسول په هدايت اوحق دين سره

لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ ۝٩

چې غالب يې کړي په ټولو دينونو باندې که څه هم بد ګڼي دا مشرکان

لنډتفسير: ټول شيان دالله پاکی بيانوی (قالاً ياحالاً) څه چې په آسمانونوکی دی اوڅه چې په مځکه کی دی او هغه زبردست حکمت والا دی (نو کوم چې داسی دعظمت اوشان خاوند وی دهغه اطاعت په هر حکم کی ضروری دی ، په کوموکی چې يوحکم دجهاد دی کوم چې په دې سورة کی ذکر دی چې دنزول سبب يې دا دی چې يو وار ځينو مسلمانانو ديو بل سره خبرې کولې چې که مونږ ته څه داسی عمل معلوم سی کوم چې دحق تعالیٰ په نزد ډير زيات محبوب وی نو مونږ به يې په خپل عمل کی راولو او ددی څخه مخکی په جنګ اُحد کی ځينې دجهاد څخه تښتيدلی وه ، چې قصه يې په سورة آل عمران کی ده او دارنګه دجهاد دحکم دنزول په وخت کی ځينو ته ګران معلوم سوی وو چې قصه يې په سورة نساء کی تيره سوې ده ، په دی دا ارشاد نازل سو) ای ايماندارو! داسی خبره ولی کوی کومه چې کوی نه ، دخدای په نزد دا خبره ډيره دناراضګی ده چې داسی خبره واياست چې کوی يې نه ، الله ﷻ خو هغه خلک (په خاص طور سره) خوښوی کوم چې دده په لاره کی داسی يوځای جنګيږی چې ګويا هغه يوديوال دی چې قلعه په سوی وی (يعنی لکه څنګه چې داعمارت مستحکم اوناقابل شکست وی ، دغه شان دغه مجاهدين ددښمن دمقابلی څخه واپس کيږی نه ، مطلب دا سو چې تاسی کومه دا خبره کوی چې مونږ ته هغه کار معلوم وای کوم چې دالله ﷻ په نزد زيات محبوب دی نو هغه عمل خو جهاد دی ، بيا ددی دنزول په وخت ګرانی ولی وه او داحد څخه تښتيداست ولی ، نو باوجود ددی ټولو کارونو ترمخه کيدوچې نهايت نازيبا خبره او دخدای ناخوښه ده ، دداسی دعوی خبری کول چې خلاف کول يې معلوم سوی هم

دی ، نو په دی کی په لافو کولو اوغلطو دعوو باندی زجر وسو ، وعظ بی عمله ددی مفهوم څخه خارج دی) او (مخکی ددی خبری دعلت بیان دی چی داکفار مستحق دقتل اوقتال دی، یعنی ازار رسول ، تکذیب او دمخالفت درسول بیان فرمایل مقصود دی او په دی مناسبت سره دموسٰی ﷷ اوعیسٰی ﷷ قصه ذکر فرمایی ، نو ارشاد دی چی هغه وخت قابل ذکر دی) کله چی موسٰی ﷷ خپل قوم ته وفرمایل چی ای زماقومه! ماته ولی ازار رسوی، حال دا دی چی تاسی ته معلومه ده چی زه تاسی ته دالله ﷻ رالیږل سوی راغلی یم (دغه ازارونه په مختلف طورسره وو په کوموکی چی ځینی ځینی په قرآن کریم کی هم مخصوص په سورة بقره کی ذکر دی اومطلب ددی تولو سرکښی اومخالفت دی) بیاکله چی (ددی پوهولو څخه وروسته هم) هغه خلګ کږیدل (اوپه لاره راغلل) نوالله ﷻ دهغوی زړونه نور (زیات) کاږه کړل (یعنی ماده دمخالفت اونافرمانی یی نوره زیاته سوه لکه چی قاعده ده چی په ګناه باندی په مداومت کولوسره دالله ﷻ طرف ته دزړه میلان او داطاعت جذبه کمیږی) او (د) الله ﷻ (معمول دی چی هغه) داسی نافرمانو ته (د) هدایت (توفیق) نه ورکوی (دغه شان داخلګ نبی کریم ﷺ ته په قسم قسم مخالفتونو سره ازارونه رسوی ، په دی وجه د دوی کوږوالی اوفسق زیاتیږی چی امید داصلاح یی پاته نه سو، نو د دوی دفساد ختمولو دپاره دقتال حکم کول مصلحت سو) او (دغه شان هغه وخت هم قابل ذکر دی) کله چی عیسٰی زوی دمریم ﷷ ارشاد وفرمایي چی ای بنی اسرائیلو! زه تاسی ته دالله ﷻ رالیږل سوی راغلی یم چی زما څخه مخکی چی کوم تورات (راغلی) دی زه دهغه تصدیق کوونکی یم اوزما څخه نو چی یو رسول راتلونکی دی چی نوم (مبارك) به یی احمد وی ، زه دهغه خوشخبری ورکوونکی یم (اوددی خوشخبری دحضرت عیسٰی ﷷ څخه نقل کیدل په خپله داهل کتابودبیان څخه په حدیثوکی ثابت دی لکه چی په خازن کی په روایت دابوداود دحبشی دنجاشی بادشاه کوم چی دنصارااووعالم هم وودا قول راغلی دی (چی واقعی هغه شخص ته یی دکوم خوشخبری چی حضرت عیسٰی ﷷ ورکړی وه) اوپه خازن کی دترمذی څخه دعبد الله بن سلام قول کوم چی دیهودو دعالمانو نه وو راغلی دی ، چی په تورات کی دنبی کریم ﷺ صفت لیکلی دی اوداچی حضرت عیسٰی ﷷ به ددوی سره دفن کیږی اوچی کله حضرت عیسٰی ﷷ دتورات مبلغ وو، په دی وجه په تورات کی دده دخوشخبری کیدل دارنګه دحضرت ﷷ څخه منقول ویل کیږي اومولانا رحمت الله صاحب په اظهار الحق کی په خپله دتورات دموجوده نسخو څخه ډیر بشارتونه نقل کړی دی جلد دوهم صـ۱۶۴ مطبوعه قسطنطنیه ، او ددی مضامینوپه موجوده انجیلونوکی نه کیدل څکه مضرنه دی چی دمحققینو عالمانو دتحقیق مطابق داناجیلو نسخی محفوظی نه دی پاته سوی ، مګر بیاهم چی څه موجود دی په هغه کی هم ددی قسم مضمون موجود دی ، لکه چی دیوحنا انجیل مترجمه عربی مطبوعه لندن سنه ۱۸۳۱ وسنه ۱۸۳۲ په خوارلسم باب کی دی چی ستاسی دپاره زما تلل ښه دی څکه چی که زه ولاړ نه سم نو فارقلیط به تاسی ته رانه سی پس که زه ولاړ سم نوهغه به تاسی ته راولیږم ، فارقلیط ترجمه داحمد ده ، داهل کتابو عادت دی چی دوی دنومونو هم ترجمه کوی ، حضرت عیسٰی ﷷ په عبرانی کی احمد فرمایلی وو، کله چی په یونانی کی یی ترجمه وسوه نو، بیرکلوطوس، یی

ولیکی چې معنی یې ده احمد یعنی ډیر حمد کوونکی ، بیاچې کله دیونانی څخه په عبرانی کی ترجمه سو نو دا یې ، فارقلیط ، کې او په ځینو عبرانی نسخوکی تراوسه پوری نوم مبارك احمد موجود دی ، وګوری دپادری پارکهرست داعبارت ، دبا دحمده خل بکوتیم، ازحمایت الاسلام مطبوعه بریلی سنه ۱۸۷۳ صـ۸۴۸۱ ترجمه اپالوجی ګاوفری هینګنس مطبوعه لندن سنه ۱۸۲۹، او ددی فارقلیط په نسبت په دی انجیلِ یوحنا کی دا الفاظ دی ، هغه به تاسی ته ټول شیان وښیی ، ددی جهان سردار راځی هغه چی راسی دنیا ته به په ګناه او دراستی او عدالت (په خلاف) باندی سزا ورکوی دا دی هغه الفاظ کوم چی دنبی په مستقل والی دال دی اوپوره بحث ددی مقام په تفسیرحقانی کی دی ددی یوشمّه نقل سوه ، غرض دا چی عیسیٰ ﷺ دا ارشاد وفرمایی) بیا هرکله چی (دا ټول مضامین یی ارشاد وفرمایل دخپل نبوت داثبات دپاره) هغه (عیسیٰ ﷺ) هغو خلګو ته ښکاره دلیلونه راوړل نو هغو خلګو (ددغو دلیلونو یعنی معجزو په نسبت) وویل چی دا ښکاره جادو دی (اوجادو یی ورته وویل دنبوت تکذیب یی وکی لکه چی په سورة مائده کی دی، وَاِذْ كَفَفْتُ بَنِیٓ اِسْرَآءِیْلَ عَنْكَ اِذْ جِئْتَهُمْ بِالْبَیِّنٰتِ الخ دغه شان پس دحضرت عیسیٰ ﷺ څخه بیادنبی کریم ﷺ په دورِ رسالت کی موجوده کفارو ددوی تکذیب وکی اومخالفت یی وکی او دا ظلم عظیم دی پس ددی ظلم اوزیاتی ختمولو دپاره دقتال حکم ورکول مصلحت سو) او (واقعی) دهغه سړی څخه به زیات څوك ظالم وی کوم چی په الله ﷻ درواغ جوړ وی ، حال دا دی چی هغه داسلام طرف ته بلنه کوی اوالله ﷻ داسی ظالمانوته (دَ) هدایت (توفیق) نه ورکوی (په الله ﷻ دروغ جوړول دا دی چی دنبوت تکذیب یی وکی ، یعنی کوم شی چی دالله دطرف څخه په واقع کی وی دهغه نفی کول دواړه افتراء علی الله دی او وَهُوَ یُدْعٰی یی ځکه زیات کی چی په دی سره دهغوی زیات تقبیح وسو یعنی په خپله خوپه خبر ورکولو سره هم خبردار نه سوه او، وَاللّٰهُ لَا یَهْدِیْ : یی ځکه زیات کی چی د دوی موجوده حالت داصلاح څخه لیری سوی وو، په دی وجه دقتال سزا تجویز کول مصلحت سو، لکه چی چاته اوس هم داسلام خبر نه وی رسیدلی اول ده ته داسلام دعوت ورکول په کار دی ، کله چی ددی څخه انکار وکی کوم چی ظاهراً علامهٔ دنا اُمیدی ده ، بیا جهاد روا دی ، مخ ته دجهاد دترغیب دپاره وعده دنصرت اوغلبه دحق اومغلوبیت دباطل ارشاد دی چی) داخلګ دا غواړی چی دالله ﷻ نور (یعنی دین اسلام) په خپلو خلو سره (په پوکی کولو) مړ کړی (یعنی دعملی تدبیر سره په خلی هم درد او اعتراض خبری په دی غرض سره کوی چی حق دین وده نه کی پیدا اوځینی وخت قولی شبهات اثر کوی یا دا تمثیل دی چی د دوی داسی مثال دی لکه څوك چی په خلی سره دنور دآلی مړ کول غواړی یعنی په داسی طریقه سره یی مړ کوی چی ناکام په کی پاته سو) حال دا دی چی الله ﷻ خپل نور (ذکر سوی) به کمال ته رسوی که څه هم کافران خلګ څومره ناخوښه وی (لکه چی) هغه الله ﷻ داسی دی کوم چی (دداسی نور داتمام دپاره) خپل رسول ﷺ دهدایت (دسامان یعنی قرآن) اوربښتنی دین (یعنی اسلام) سره (دنیاته) لیږلی دی ، ددی دپاره چی دا (دین (چی دا مذکوره نور دی) په ټولو (بقیه) دینونو غالب کړی

(چی دا اتمام دی) که څه هم مشرکان هرڅومره ناخوښه وی (اوتفسیر داتمام اوظهور په سورة براءة کی ددی په شان په آیت کی تیر سوی دی)

معلومات اومسئلي : **شانِ نزول** : ترمذی دحضرت عبدالله بن سلام ﷺ څخه روایت کړی ... اوحاکم دا روایت کړی دی او سند یی ورته صحیح مقرر کړی دی چی دصحابه کرامو﵃ یو جماعت په خپل مینځ کی خبری اتری کولی چی که مونږ ته دا معلومه سی چی دالله ﷻ په نزد دټولو څخه محبوب عمل کوم یو دی نو مونږ به عمل په وکو بغوی په دی کی دا هم نقل کړی دی چی په دی حضراتوکی ځینو څه داسی الفاظ هم وویل چی که مونږ ته دالله ﷻ په نزد دټولو څخه ښه اومحبوب عمل معلوم سو نو مونږ به خپل ځان او مال ټول دهغه دپاره قربان کړو (مظهری)

ابن کثیر په حواله دمسنداحمد روایت کړی دی چی دا څو حضرات جمع سول ، په خپل مینځ کی یی دا مذاکره وکړه او دا یی غوښتل چی یو صاحب ولاړ سی اوس لا دغه خلګ په دی حالت کی وه چی نبی کریم ﷺ دهر یوه نوم واخستی او ځان ته یی را وبلل (ددی څخه معلومه سوه چی دوی ﷺ ته په وحی سره د دوی اجتماع او د دوی خبری معلومی سوی وی) کله چی دا ټول په خدمت کی حاضر سول نو نبی کریم ﷺ ټول سورة صف ورایه او دوی ته یی واوروی ، کوم چی په دغه وخت باندی نازل سوی وو .

دی سورة دا هم وښوله چی ښه په عملونوکی دکوم په تلاش کی چی دا حضرات وه ، هغه جهاد فی سبیل الله دی او ددی سره دی حضراتو چی کومی داسی کلمی ویلی وی چی که مونږ ته معلومه سی نو مونږ به په هغه عمل کولوکی داسی جانبازی وښیو او نوری ، په کومو کی چی یو قسم دعویٰ ده چی مونږ داسی کولی سو، په دی باندی دغو حضراتو ته خبرداری ورکول سوه چی دیو مومن دپاره داسی دعوی کول درست نه دی ، دوی ته څه معلومه ده چی پروخت به هغوی خپله اراده پوره هم کړی اوکه نه ، دهغه اسباب جمع کیدل او دموانعو لیری کیدل د دوی په اختیارکی نه دی ، بیا په خپله د دوی لاسونه اوپښی اواندامونه بلکه دزړه قصد اواراده په دی کی هیڅ شی هم بالکلیه د دوی په قبضه کی نه وو، په دی وجه په خپله نبی کریم ﷺ ته هم په قرآن کریم کی دا تلقین سوی دی چی کوم کار ستا صبا کول وی که دهغه بیان کوی نو دانشاء الله دقیل سره یی بیانوه چی که دالله ﷻ رضا سی نو زه به صبا دا کار کوم ، وَلَا تَقُولَنَّ لِشَيْءٍ إِنِّي فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ : دصحابه کرامو﵃ نیت اوقصد برابره خبره ده که ددعوی نه وو مګر صورت ددعوی وو، دغه دالله ﷻ په نزد خوښ نه وو چی یو سړی دڅه کار دکولو دعوٰی وکی ، بغیر ددی څخه چی دا دالله ﷻ ارادی ته حواله کړی او دانشاء الله سره یی ووایی ، ددی خبرداری دپاره دا آیت نازل سو، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ * كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ : ظاهری معنٰی خو دا ده چی کوم کار تاسی کولی نه سی دهغه دعوٰی ولی کوی په کوم سره چی دداسی کار ددعوی ممانعت خو واضح سو، دکوم دکولو قصد اواراده چی دانسان په زړه کی نه وی څکه چی دا خو محض د دروغو دعوٰی ده چی دنوم نمائش دپاره کول کیږی مګر ظاهره ده چی دشان نزول په واقعه کی

چې کومو صحابه وو مذاکره وکړه هغه داسې نه وه چې په زړه کې یې دڅه کولو اراده نه وې او دعوٰی کوي ، په دې وجه ددې په مطلب کې دا هم شامله ده چې که څه هم په زړه کې قصد او اراده دکار کولو وي ، بیاهم په خپل نفس توکل او دعوٰی کول چې مونږ به فلانی کار کوو دشان دعبدیت څخه خلاف ده ، اول خو ددې وینا څه ضرورت دی؟ خو کله چې موقع حاصل سی ودی کړی او که په څه مصلحت سره یې ویل هم ضرور کیږي نو دا دانشاء الله سره یو ځای کړی نو بیابه دغه دعوٰی پاته نه سی .

مسئله : ددې څخه معلومه سوه چې دداسې کار دعوٰی کول دکوم دکولو چې دسره اراده نه وي او دسره یې کوي نه نو دا خو گناهِ کبیره او دالله ﷻ دسختې ناراضګی سبب دی ، كَبُرَ مَقْتًا عِندَ اللهِ مصداق دا دی او کوم ځای چې دا صورت نه وي ، بلکه اراده یې دکولو وي ، هلته هم په خپل قوت او قدرت توکل او دعوٰی کول ممنوع او مکروه دي .

﴿په دعوٰی او دعوت کې فرق﴾

دذکر سوي تفسیر څخه دا معلومه سوه چې ددې آیتونو تعلق ددعوی سره دی چې کوم کار یوسړی کوي نه ، دهغه دعوٰی کول دالله ﷻ دناراضګی سبب دی ، پاته سوه معامله ددعوت او تبلیغ اووعظ اونصیحت چې کوم کار یوسړی په خپله نه کوي ، دهغه نصیحت نوروته کوي او نورو مسلمانانوته دهغه دعوت ورکوي ، ددې آیت په مفهوم کې خو دا خل نه دی ، ددې احکام په نورو ایتونو او احادیثو کې ذکر سوي دي ، مثلاً قرآن کریم فرمایي ، أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ : یعنی تاسې خلکو ته خو دنیك كارحکم کوي اوخپل ځانونه هیروي چې په خپله په دغه نیکی عمل نه کوي ، دې آیت امر بالمعروف او دنیکی نصیحت کوونکی په دې خبره شرمنده کړي دي چې خلګو ته دیو نیك کار دعوت ورکوي ، نو په خپله ځان ته نصیحت کول دهغه څخه مخکې دي دکوم کار طرف ته چې خلګ بلې په خپله هم په هغه عمل کوي .

لیکن دا یې ونه فرمایل چې کله یې په خپله نه کوي نوروته یې وینا هم پریږدي ، ددې څخه معلومه سوه چې دکوم نیك کارپه خپله دکولو همت اوتوفیق نه وي ، دهغه طرف ته دنورو درابللو او دنصیحت کولو سلسله دې نه پریږدي امید دی چې ددې وعظ اونصیحت په برکت سره څه وخت هم ده ته دعمل توفیق وسی ، لکه چې په ډیرو تجربو اومشاهدو سره معلومه سوی ده البته که دغه عمل واجب یا دسنت موکده په درجه کې وي نو په ذکر سوي آیت باندې نظر کول اوپه خپل زړه کې دپښیمانه اوشرمنده کیدو سلسله جاري ساتل هم واجب دي ، او که دمستحباتو متعلق وي نو دا سلسله دپښیمانه کیدو هم مستحب ده .

په راتلونکی آیت کې دهغه اصل معاملې ذکر دی کومه چې ددې سورة دنزول سبب جوړه سوه ، یعنی ددې بیان چې دالله ﷻ په نزد کوم عمل زیات محبوب دی ، ددې په حقله ارشاد فرمایي ، إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُم بُنْيَانٌ مَّرْصُوصٌ : یعنی دالله ﷻ په نزد محبوب هغه صف دجنګ دی کوم چې دالله ﷻ ددښمنانو په مقابله کې دالله ﷻ دکلمې لوړولو دپاره قائم وي او دمجاهدینو دعزم اوهمت

په وجه دیو سیکه پیوند سوی دیوال په شان وی چی ددوی په قدمونو کی هیڅ بنوئیدل نه راځی، ددی څخه وروسته دحضرت موسیٰ ﷺ دجهاد فی سبیل الله او دالله ﷻ په لاره کی ددښمنانو دطرفه دتکلیفونو برداشت کولو ذکر دی او ددی څخه وروسته بیا مسلمانانو ته دجهاد تلقین سوی دی دحضرت موسیٰ اوعیسیٰ واقعات دکومو ذکر چی دلته سوی دی ، په هغه کی ډیر علمی اوعملی فائدی اوهدایتونه دی ، دحضرت عیسیٰ ﷺ په قصه کی دی چی دوی کله بنی اسرائیلو ته دخپل نبوت دمنلو او اطاعت کولو دعوت ورکی ، نو د دوو شیانو یی په خصوصیت سره ذکر وفرمایی یو دا چی دا څه نوی رسول نه دی اونا اشنا خبری یی نه دی راوړی ، بلکه هغه خبری دی کوم چی تیرو انبیاؤ علیهم السلام ویلی دی ، او په مخکی آسمانی کتابونوکی ذکر دی او وروسته هم کوم نبی اخر زمان چی راتلونکی دی ، هغه به هم ددی قسم هدایتونه راوړی .

دلته په تیرو کتابونوکی دتورات په خصوصیت سره ذکر غالبًا ځکه وسو چی په بنی اسرائیلو باندی نژدی نازل سوی دغه کتاب وو ، ورنه تصدیق دانبیاؤ علیهم السلام خو ټولو تیرو کتابونو لره شامل اوعام دی دارنګه په دی کی اشاره دی طرف ته هم ده چی شریعت عیسوی که څه هم مستقل شریعت دی ، مګر ددی اکثره احکام دشریعت موسوی او دتورات داحکامو مطابق دی ، صرف څواحکام دی کوم چی بدل سوی دی ، دا خو دتیرو انبیاؤ اوکتابونو دتصدیق مضمون وو ، بل دا چی دوروستو راتلونکی پیغمبر خوشخبری یی واوروله ، په دی کی هم دی طرف ته اشاره ده چی دهغوی هدایتونه به هم ددی مطابق وی په دی وجه په دی ایمان راوړل عین تقاضا دعقل او دیانت ده .

ددی سره چی دکوم راتلونکی رسول خوشخبری حضرت عیسیٰ ﷺ بنی اسرائیلو ته واوروله ، دده نوم او پته هم په انجیل کی وښوول سوله ، په دی کی بنی اسرآئیلو ته ددی هدایت دی چی کله دغه رسول تشریف راوړی نو ستاسی به دا فرض وی چی په هغه ایمان راوړی او اطاعت یی وکی ، په ، مُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنْ بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ : کی ددی بیان دی ، په دی کی دراتلونکی رسول نوم ، احمد ، ښوول سوی دی ، زموږ دنبی خاتم الانبیاء علیهم السلام نوم مبارك محمد ﷺ هم وو او احمد هم او نور یی هم ډیر نومونه وه ، مګر په انجیل کی دده ﷺ داحمد نوم په ښوولو کی شاید دا مصلحت وی چی دمحمد نوم اېښوول دعربو پخوانی دستور وو ، په دی وجه په دی نوم نور سړی هم په عربو کی وه په خلاف داحمد دا نوم په عربو کی معروف نه وو دا دده ﷺ دذات سره مخصوص وو .

﴿ په انجیل کی دنبی کریم ﷺ خوشخبری ﴾

دا ټولو ته معلومه ده او په خپله یهودو او نصاراؤ ته هم معلومه ده او اقرار یی کړی دی چی په تورات او انجیل کی تحریف سوی دی اوحقیقت خو دا دی چی په دی دواړو کتابونو کی دومره تحریف سوی دی چی داصل کلام پیژندل هم اوس اسان نه دی پاته سوی ، دموجوده تحریف شده انجیل په بنا نن صبا عیسایان دقرآن داخبر نه تسلیموی چی په انجیل کی دی یو ځای دنبی کریم ﷺ نوم احمد اخستل سوی

وی ، او خوشخبری دی ورکول سوی وی ددی په لنډ تفسیر کی چی کوم په لنډه جواب ورکول سوی دی ، هغه کافی دی.

او دمفصل جواب دپاره دحضرت مولانا رحمت الله کیرانوی رحمه الله دکتاب اظهار الحق مطالعه په کار ده کوم چی دعیسائیت دمذهب حقیقت او په انجیل کی دتحریفاتو او سره دتحریفاتو په دی کی دنبی کریم ﷺ دخوشخبرو دموجود کیدو په حقله بی نظیره کتاب دی، په خپله دعیسایانو دمشرانو مقولی چاپ سوی دی چی که په دنیا کی دا کتاب شائع کیدل شروع سول نو عیسائیت به هیڅ ځای نه کی پیدا

دا کتاب په عربی ژبه کی لیکل سوی وو ، بیا په ترکی انګریزی کی ددی ترجمی چاپ سوی ، مګر ددی شواهد موجود دی چی عیسایی مشن ددی کتاب په ورکولو کی خپل پوره کوشش صرف کړی دی . فی الحال ددی اردو ترجمه ددارالعلوم کراچی مدرس مولانا اکبر علی صاحب او دموجوده انجیلونو څخه نوی مفید تحقیقات مولانا محمد تقی صاحب استاذ ددارالعلوم لیکلی دی کوم چی په دری جلدونو کی چاپ سوی دی ، ددی په دریم جلد کی دص۱۸۲ څخه ترص۳۶۲ پوری ددی زیروتفصیل دموجوده انجیلونو دحوالی څخه او دشبهاتو جوابونه ذکردی.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ تِجَارَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ

ای ایماندارو ! آیا زه وښییم تاسی ته داسی تجارت چی وساتی تاسی دعذاب

أَلِيمٍ ⑩ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ

دردناك څخه ، ایمان راوړی په الله او دهغه په رسول او جهاد کوی دالله ﷻ په لاره کی

اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ⑪

په مالو خپلو او ځانو خپلو دا غوره ده تاسی دپاره که تاسی پوهیږي ،

يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا

وبه بخښی هغه ستاسی ګناهونه او دا خل به کړی تاسی باغونو ته چی بهیږي به لاندی دهغه څخه

الْأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ⑫

نهرونه او پاکو کورونو ته داسیدو په باغونو کی ، دا دی لوی مراد پیدا کول ،

وَأُخْرَىٰ تُحِبُّونَهَا ۖ نَصْرٌ مِّنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ ۗ وَبَشِّرِ

او یو بل شی به در کړی کوم چی تاسی غواړی ، مدد دالله دطرف څخه او فتح نژدی ، او خوشخبری واوروه

الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۳﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْۤا اَنْصَارَ اللّٰهِ كَمَا قَالَ

ایماندارو ته ، ای ایماندارو ! تاسی سی مدد گار داالله ﷻ لکه چی وویل

عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيّٖنَ مَنْ اَنْصَارِيْۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ قَالَ

عیسی ؑ دمریم زوی خپلو خاصو یارانو ته څوک دی چی مدد وکړی زما دالله ﷻ په لاره کی وویل

الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ فَاٰمَنَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْۢ بَنِيْۤ

یارانو مونږ یُو مدد گار دالله بیا ایمان راوړو یوې فرقی دبنی اسرائیلو څخه

اِسْرَآءِيْلَ وَكَفَرَتْ طَّآئِفَةٌ ۚ فَاَيَّدْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا عَلٰى

او منکره سوه یوه فرقه ، بیا قوت ورکی مونږ هغو ته کومو چی ایمان راوړی وو

عَدُوِّهِمْ فَاَصْبَحُوْا ظٰهِرِيْنَ ﴿۱۴﴾

دهغوی په دښمنانو بیا سول غالب .

لنډتفسیر: (مخ ته اول دجهاد دآخرت ثمره بیاددنیادثمری وعده کوی اوترغیب ورکوی چی) ای ایماندارو! آیا زه تاسی ته داسی تجارت وښیم ، کوم چی تاسی دیو دردناك عذاب څخه وساتی (هغه دا چی) تاسی خلګ په الله ﷻ اودهغه په رسول ایمان راوړی اودالله ﷻ په لاره کی په خپل مال اوځان سره جهاد کوی دا ستاسی دپاره ډیره ښه ده که تاسی څه پوهه لری (چی داسی وکی نو) الله ﷻ به ستاسی ګناهونه معاف کړی اوتاسی به (دجنت) داسی باغونوته داخل کړی دکومو لاندی چی به نهرونه بهیږی او په ښائسته مکانونوکی (به مو داخل کړی) کوم چی به دهمیشه اوسیدوپه باغونوکی (جوړ سوی) وی دالویه کامیابی ده (او ددی حقیقی او اخروی ثمری څخه علاوه) یوه‌بله ثمره (ددنیا) هم ده ، چی تاسی دغه (هم په خاص طورسره) خوښوی (یعنی) دالله ﷻ دطرف څخه مدد او ژر فتح یابی ده او (ددی په خاص طور سره محبوب کیدل ، ځکه دی چی انسان طبعًا ژرثمره هم غواړی) او (ای پیغمبر ﷺ) ته (ددی تولو کارونو) مومنانوته خوشخبری ورکړه (لکه چی دفتح او نصرت دپیش ګویی ظهور داسلامی فتوحاتو څخه ظاهر دی ، مخ ته دعیسیٰ ؑ دملګرو قصه یادوی اوددین دنصرت ترغیب ورکوی چی) ای ایماندارو! تاسی دالله ﷻ (ددین) مددګارسی (په داسی طریقه سره کومه چی ستاسی دپاره مشروع ده یعنی جهاد) لکه چی (حواریان دخپل شریعت دطریقی موافق ددین مددګاران سوی وه ، کله چی خلګ په کثرت سره دعیسیٰ ؑ دښمنان اومخالف سوی وه او کله چی) عیسیٰ زوی دمریم (ؑ) دغو حواریانو ته

وفرمایل چې دالله ﷻ دپاره زما څوك مددگار کیږي ، دغو حواریانو وویل چې مونږ دالله ﷻ (ددین) مددگار یو (لکه چې دغو حواریانو ددین دا امداد وکې چې ددې په اشاعت کې یې کوشش وکې) نو (ددې کوشش څخه وروسته) دبنی اسرائیلو څخه ځینو خلګو ایمان راوړې او ځینی خلګ منکره سول (بیا د دوی په مینځ کې په مذهبی اختلاف سره دښمنی او خانه جنګی شروع سوې یامذهبی خبری وسوی) نو مونږ دایماندارو د دوی ددښمنانو په مقابله کې تائید وکې ، نو هغوی غالب سول (دغه شان تاسې ددین محمدی دپاره کوشش اوجهاد کوی اوکه ابتداء ددې خانه جنګو دکفارو دطرف څخه وې نو په دې سره په دین عیسوی کې دجهاد کیدل نه لازمیږي)

معلومات اومسئلې: تُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ: په دې آیت کې یې ایمان او په مال او نفس سره جهاد ته تجارت فرمایلی دی ، څکه چې لکه څنګه چې په تجارت کې دڅه مال خرڅولو او محنت کولو په صله کې نفعی حاصلیږي ، دایمان سره دالله ﷻ په لاره کې دځان اومال خرڅ کولو په بدله کې دالله ﷻ رضا او دآخرت دائمی نعمتونه حاصلیږي چې ذکر یې په راتلونکی آیت کې دی چې چا دا تجارت اختیارکې الله به دهغه گناهونه معاف کې اوپه جنت کې به ده ته پاکیزه اوبهترین مکانونه ورکی چې دهرقسم ارام اوعیش سامان به په کې وی ، لکه چې په حدیث کې دمساکین طیبه په تفسیرکې ددې بیان راغلی دی ، مخ ته دآخرت دنعمتونو سره ددنیا دڅه نعمتونوهم وعده فرمایی ،

وَأُخْرٰى تُحِبُّونَهَا نَصْرٌ مِنَ اللّٰهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ: لفظ دأُخْرٰى دنعمت صفت دی ، معنی دا ده چې دآخرت نعمتونه او دجنت مکانونه خو به حاصلیږي لکه چې وعده یې سویده یونعمت نقدپه دنیاکی هم حاصلیدونکی دی، هغه دا چې دالله ﷻ مدد او ددې په ذریعه نژدې فتح یعنی ددښمنانو دملکونو فتح کیدل ، دلته که قریب په معنی داخرت کې واخلی نو وروسته راتلونکی اسلامی فتوحات دعربو اوعجمو ټول په دې کې داخل دی اوکه عرفی قریب مراد واخستل سی نوددې اولنی مصداق دخیبر فتح ده اوددې څخه وروسته دمکې فتح ده او ددې نژدې فتح په حقله یې، تُحِبُّونَهَا یې وفرمایل، یعنی دانقد نعمت ستاسې پسند اوخوښ دی، څکه چې انسان په فطری ځور باندې تلوار کوونکی واقع سوی دی، په قرآن کریم کې دی، وَكَانَ الْاِنْسَانُ عَجُولًا: یعنی دی انسان تلواری کوونکی، ددې دامطلب نه دی چې داخرت نعمتونه دده خوښ نه وه، بلکه مطلب دا دی چې داخرت دنعمتونو طلب اومحبت خوظاهره ده چې دی، مګرپه طبعی طور څه نقد نعمت په دنیاکې هم ستاسې مطلوب اومحبوب دی ، هغه هم درکول کیږي.

كَمَا قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّينَ مَنْ أَنْصَارِي إِلَى اللّٰهِ : حَوَارِيِّين دحواری جمع ده چې معنی یې مخلص دوست دی کوم چې دهر عیب څخه پاك اوصفا وی (روح از ازهری) په دې وجه کومو خلګو چې په عیسیٰ ؑ ایمان راوړې هغوی ته حواریان ویل کیږي او هغه دولس کسان وه ، لکه چې په سورة آلِ عمران کې تیر سوی دی ، په دې آیت کې یې دعیسیٰ ؑ دزمانی یوه واقعه ذکر کړه اومسلمانانو ته یې ددې ترغیب ورکړی دی چې دالله ﷻ ددین دمدد دپاره تیارسی، لکه چې عیسیٰ ؑ کله ددښمنانو څخه تنګ

سونو خلگوته یی وویل مَنْ اَنصَارِیْ اِلَی اللهِ: یعنی دالله ﷻ ددین په اشاعت کی څوك زما مددگار کیږی
په دی باندی دولسو کسانو دوفا داری وعده وکړه اوبیا ددین دعیسیٰ ؑ اشاعت یی شروع کی، نو
مسلمانانو ته هم په کار دی چی دالله ﷻ ددین انصار اومددگار جوړ سی.
صحابه کرامو ؓ ددی حکم تعمیل داسی وکی چی په تیرو امتونوکی ددی نظیر نه پیدا کیږی، دنبی کریم ﷺ او
ددین په خاطر یی دټول عرب او عجم دښمنی واخسته، دهغوی ازارونه یی وزغمل اوخپل څانونه اومالونه او
اولاد یی په دی قربان کړل، او اخر الله ﷻ په خپل فتح اونصرت سره ولمانځل اوپه ټولو دښمنانو باندی یی دوی
غالب کړل دهغوی ملکونه یی د دوی په لاس کی ورکړل او ددنیا حکومت هم دوی ته نصیب سو.

فَآمَنَتْ طَائِفَةٌ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَكَفَرَتْ طَائِفَةٌ فَأَيَّدْنَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَى عَدُوِّهِمْ فَأَصْبَحُوا ظَاهِرِينَ.

دعیسایانو دری فرقي: بغوی ددی آیت په تفسیرکی دحضرت عبدالله بن عباس ؓ څخه روایت کړی دی
چی کله حضرت عیسیٰ ؑ آسمان ته پورته سو نو په عیسایانوکی دری فرقی جوړی سوی یوی فرقی
وویل چی هغه په خپله خدای وو او آسمان ته ولاړی، بلی فرقی وویل چی هغه خدای خو نه وو، بلکه
دخدای زوی وو الله ﷻ هغه پورته کی اوپه دښمنانو یی ورته فوقیت ورکی دریمی فرقی خبره وکړه کومه
چی صحیح اوحقه ده، چی هغه نه خدای وو اونه دخدای زوی بلکه دالله ﷻ بنده او دهغه رسول وو، الله
ﷻ هغه ددښمنانو دحفاظت او د درجی لوړولو دپاره پورته کی، دا خلک صحیح مومنان وه د دری سره
وو فرقو سره څه عوام سول او په مینځ کی یی جگړه زیاتیده، تردی چی نوبت جنگ جگړی ته ورسیدی،
په اتفاقی طور سره دواړی کافری ټولیانی په مومنانو غالبی سوی، تردی چی الله ﷻ خپل رسول خاتم
النبین ﷺ مبعوث وفرمایی کوم چی ددی مومنی فرقی تائید وکی، دغه شان اخر دغه مومنه ټولی په
حیثیت دحجت او دلیل غالبه سوه (مظهری)
ددی تفسیر مطابق به د اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا څخه مومنان دامت دعیسیٰ ؑ مراد وی کوم چی به دحضرت خاتم
الانبیاء علیه الصلوٰة والسلام په تائید اوحمایت سره مظفر اومنصور سی (مظهری)
اوځینی حضرات فرمایی چی دحضرت عیسیٰ ؑ دپورته کیدو څخه وروسته په عیسایانوکی دوی ټولی
جوړی سوی یوې عیسیٰ ؑ خدای یا دخداي زوی وگرځوی مشرکه سوه او بله په صحیح دین قائمه پاته
سوه کوم چی به هغه ته دالله ﷻ بنده اورسول وایه بیا ددغو مشرکانو اومومنانو په مینځ کی جنگ وسو
نوالله ﷻ دعیسیٰ ؑ دامت مومنان ددغه امت په کافرانوغالب کړل مگر مشهوره دا ده چی دعیسیٰ ؑ
په مذهب کی دجهاد او قتال حکم نه وو، په دی وجه دمومنانو قتال کول بعید معلومیږی (روح المعانی)
مگر لوړ په لنډتفسیرکی ددی جواب طرف ته اشاره سوي ده چی ددی امکان سته چی دجنگ ابتداء
دکفارو نصاراوو دطرف څخه سوی وه او مومنان په مدافعت مجبوره سوی وه نو دا دجهاد او قتال په
حکم کی راځی. والله تعالی سبحانه اعلم

تمّت: سورة الصف بحمد الله وعونه للحادی والعشرین من جمادی الاولی سنة ۱۳۹۱ﻫ یوم الخمیس
ویتلوها انشآء الله سورة الجمعة.

﴿ سورة الجمعة ﴾

سُوْرَةُ الْجُمُعَةِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ اِحْدٰى عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة جمعه په مدينه کې نازل سو او په دې کې يولس (۱۱) آيتونه او دوې (۲) رکوع گانې دي.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نوم سره دالله ﷻ چې ډير مهربانه نهايت رحم والا دی

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ

پاکي وايي دالله څه چې دي په آسمانونو کې او څه چې دي په مځکه کې بادشاه پاك ذات

الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ① هُوَ الَّذِيْ بَعَثَ فِي الْاُمِّيّٖنَ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ

زبردست حکمت والا ، هغه دی چا چې وليږي په نالوستو کې يو رسول د دوی څخه

يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ

چې وايي په هغوی باندې دهغه آيتونه اوپاکوي دوی او دزه کوي دوی ته کتاب اوعقلمندي

وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ② وَّاٰخَرِيْنَ مِنْهُمْ

او ددې څخه مخکې دوی پراته وه په ښکاره ناپوهي کې ، او (راويي ليږي دا رسول) دنور

لَمَّا يَلْحَقُوْا بِهِمْ ۗ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ③ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ

خلقو دپاره هم د دوی څخه چې لا د دوی سره نه دي يو ځاي سوي ، او هغه دی زبردست حکمت والا دافضل دالله دی چې ورکوي يې ،

مَنْ يَّشَآءُ ۗ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ④ مَثَلُ الَّذِيْنَ حُمِّلُوا

هغه چا ته چې وغواړي او دالله فضل ډير لوی دی ، مثال دهغو خلقو په کومو چې بار سو

التَّوْرٰىةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوْهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ اَسْفَارًا ۗ بِئْسَ

تورات بيا يې هغه پورته نه کې په شان دخر دی چې په شا دکتابونو بارگرځوي بد

مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۭ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ

مثال دی دهغو خلقو کومو چی دروا غجن کړی خبری دالله او الله لار نه ښیی بی انصاف خلقو ته

الظّٰلِمِيْنَ ۝۵ قُلْ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ هَادُوْٓا اِنْ زَعَمْتُمْ اَنَّكُمْ اَوْلِيَاۗءُ

ته وو ایه چی ای یهودیانو ا که ستاسی دعویٰ وی چی تاسی دوستان

لِلّٰهِ مِنْ دُوْنِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝۶

دالله یاست ما سوا دنورو خلقو څخه نو ارزو وکړی دخپل مرګ که تاسی رښتنی یاست ،

وَلَا يَتَمَنَّوْنَهٗٓ اَبَدًۢا بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ

او دوی به چیری تمنا ونه کړی دمرګ دهغو کارونو په وجه چی مخکې لیږلی دی د دوی لاسونو او الله پوه

بِالظّٰلِمِيْنَ ۝۷ قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِيْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَاِنَّهٗ

دی په ظالمانو ، ته وو ایه چی مرګ هغه دکوم څخه چی تاسی تښتئ نو هغه به

مُلٰقِيْكُمْ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝۸ ع

خامخا تاسی ته ورسیږي بیا به تاسی بیرته وګرځی پوه ته په پټه او په ښکاره باندی نو خبر به کړی تاسی په هغه چی تاسی کول

لنډتفسیر: ټول شیان څه چی په آسمانونو کی دی او څه چی په مځکه کی دی (قالاً یا حالاً) دالله ﷻ پاکی بیانوی کوم چی بادشاه دی (دعیبونو څخه) پاك دی زبردست دی حکمت والادی ، هغه دی کوم چی (دعربو) په ناخوانده خلګو کې په دوی (په قوم) کې (یعنی په عربو کې) یو پیغمبر ولیږی کوم چی دوی ته دالله ﷻ آیتونه اوری او دوی (دباطلو عقیدو او ناکاره اخلاقو څخه) پاکوی او دوی ته کتاب او پوهه (خبری یی په کومو کی چی ددین ضروری علمونه راغلل) ور ازده کوی او دا خلګ (د دوی دبعثت څخه) مخکی په ښکاره ګمراهی کی وه (یعنی په شرك او کفر کی، او مراد ورڅخه اکثر دی ځکه چی په جاهلیت کی هم ځینی موحد وه مګر بیاهم دهدایت دتکمیل هغوی هم مدّاح وه) او (علاوه ددی موجودینو څخه دنورو دپاره هم (یی دی ﷺ مبعوث وفرمایی) کوم چی (په اسلام راوړل) د دوی څخه کیدونکی دی لیکن لا اوس په دوی کی شامل سوی نه دی (برابره خبره ده که په وجه ددی چی موجود دی ، مګر اسلام یی نه دی راوړی یالا په وجه ددی چی اوس لا پیدا سوی نه دی ، په دی کی ټول امت ترقیامته پوری عجمی او عربی ټول راغلل او دوی ته یی ، منهم ، ځکه وفرمایل چی مسلمانان ټول په رشته داسلام کی منسلك

اومتحد دی ، لکه په خازن کی داسی دی) اوهغه زبردست حکمت والا دی (چی په خپل حکمت اوقدرت سره یی داسی نبی ولیږی اوپه اولنی آیت کی فی نفسه ددغو صفتونو اثبات مقصود وو نو تکرار رانه غی او) دا (درسول په ذریعه سره دګمراهی څخه وتل دکتاب اوحکمت دهدایت طرف ته راتلل) دخدای فضل دی ، هغه چاته چی غواړی فضل ورکوی اوالله ﷻ لوی فضل والا دی (اوکه پر ټولو فضل وکی نو وسعت دی ، مګر هغه په خپل حکمت سره چا ته چی وغواړی خاص فرمایی اوچا ته چی غواړی بی حصی کوی یی لکه چی لوړ د اُمِّیِیْن په ایمان راوړو سره اوپه راتلونکی آیت کی دیهودو دعالمانو په ایمان نه راوړو سره دا امر ظاهر دی ، مخ ته دځینو دروغجن کوونکو درسالت تقبیح دی چی) کومو خلګوته په تورات دعمل کولو حکم ورکول سو ، بیا هغوی په دی عمل ونه کی ، دهغوی حالت دهغه خر دحالت په شان دی ، په کوم چی د ډیرو کتابونو بار پروت وی (مګر هغه دهغو کتابونو دنفع څخه محرومه وی دغه شان اصل مقصود او نفع دعلم عمل دی ، کله چی دا نه وی اوصرف په تحصیل اوحفظ دعلم کی ځان ستړی کوی نوبالکل یی مثال دغسی سو او دخره تخصیص ځکه وسو چی دا په ځناورو کی بی وقوفه مشهور دی نو په دی زیات تنفیر وسو غرض) دهغو خلګو بدحالت دی کومو چی دخدای آیتونه دروغ کړل (لکه دا یهود چی دی) اوالله ﷻ داسی ظالمانوته (دَ) هدایت (توفیق) نه ورکوی (ځکه چی سره دپوهی عناد کوی اوکه هدایت ورته کیږی، نوپس دپریښوولو دعناد څخه به کیږی اوپه تورات دعمل کولو دلوازمو څخه ایمان راوړل دی په نبی کریم ﷺ لکه چی په دی کی دی ، نو ایمان نه راوړل مستلزم دی په تورات دعمل نه کولو ته اوکه داخلګ داوایی چی زمونږ سره ددی حالته هم دالله ﷻ مقبول یو نو) تهَ (دوی ته) ووایه چی ای یهودیانو! که ستاسی دا دعویٰ وی چی تاسی بغیر دشرکت دغیره دالله ﷻ مقبول (محبوب) یاست نوتاسی (ددی دتصدیق دپاره لږ) دمرګ تمنا وکړی (ونبیاست) که تاسی (په دی دعویٰ کی) رښتنی یاست او (مونږ ددی سره دا وایو چی) دا (خاص مدعیان) به هیڅکله ددی (مرګ) تمنا ونه کړی ، په وجه دَ (بیری دسزا د) هغو عملونو (دکفر) چی دوی په خپلو لاسونو مخکی لیږلی دی اوالله ﷻ بنه خبر دی (په حال) ددی ظالمانو باندی (کله چی تاریخ دمقدمی راسی اوفردِ جُرم واورول سی دسزا حکم وسی ، او ددی وعدی دسزا دتاکید دپاره) تهَ (دوی ته داهم) ووایه چی دکوم مرګ څخه تاسی تښتی (او ددی تمنا سره ددعوی دولایت ځکه نه کوی چی سزا به څکل وی درلره) دغه (مرګ) بهَ (یوه ورځ) تاسی ونیسی ، بیابه تاسی پټ اوظاهر پیژندونکی (خدای) ته بوتلل سی، بیابه هغه تاسی ته ستاسی ټول عملونه وښیي (اوسزابه درکړی)

معلومات اومسئلي: يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ : دقرآن کریم چی کوم سورتونه دَسَبَّحَ یا یُسَبِّحُ څخه شروع سوی دی ، دغو ته مسبحات وایی ، په دی ټولو کی دآسمانونو اومځکی اوڅه چی په دی کی دی ، دټولو دپاره دالله ﷻ تسبیح خوانی ثابته سوي ده داتسبیح حالی یعنی په ژبه دحال خو یی هرسړی پیژندی سی ، چی دالله ﷻ دمخلوقاتو ذره ذره دخپل صانع حکیم په حکمت اوقدرت شاهدی ورکوی دا ددوی تسبیح ده اوصحیح خبره داده چی هرشی په خپل طرزکی حقیقی تسبیح کوی ، ځکه چی حقیقت دا

دی چې شعور او ادراك الله ﷺ په هرې درختی ، هری ډبری اوهرشی کی دده دحوصلی مطابق ایښی دی ، ددی عقل اوشعور لازمی تقاضا تسبیح ده ، مګر ددی شیانو تسبیح خلګ اوری نه ځکه په قرآن کریم کی فرمایی ، وَلٰكِنْ لاَ تَفْقَهُوْنَ تَسْبِيْحَهُمْ داکثرو سورتونو په شروع کی سَبَّحَ په صیغه دماضی راغلی دی صرف په سورة جمعه اوسورة تغابن کی يُسَبِّحُ په صیغه دمضارع راغلی دی ، دعنوان په تغیرکی یو بلاغت او لطافت هم ددی سبب سوی دی ، هغه دا دی چې صیغه دماضی په قطعیت اویقین دلالت کوی په دی وجه اکثره دا استعمال سوي ده او دمضارع دصیغی دلالت پر استمرار اودوام دی ، دوه ځایه یی صیغه دمضارع ددی فائدی دپاره استعمال وفرمایله .

هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّنَ رَسُوْلًا مِنْهُمْ ، اُمِيِّنَ :د اُمّی ، جمع ده ناخوانده سړی ته ویل کیږی ، دعربو خلګ په دی لقب سره معروف دی ، ځکه چې په دوی کی دلیکلو او ویلو رواج نه وو ، ډیرکم خلګ په کی په لیکلو ویلو پوهیدل ، په دی آیت کی یی دحق تعالی دعظیم قدرت داظهار دپاره په خاص طور سره دعربو دپاره دا لقب اختیار وفرمایی او دا هم چې کوم رسول ولیږل سو ، هغه هم د دوی ځخه دی یعنی امی دی ، په دی وجه دا معامله ډیره دحیرانی ده چې ټول قوم امی اوکوم رسول چې ولیږل سو هغه امی ، اوکوم فرائض چې دی رسول ته وسپارل سول چې ذکر یی په راتلونکی آیت کی راروان دی، دا ټول علمی تعلیمی اصلاحی داسی دی چې نه څوك امی دا ښوول سی اونه امی قوم ددی دزده کولو قابل دی .

دا صرف دالله ﷻ په کامل قدرت سره دنبی کریم ﷺ اعجاز کیدی سی چې دوی کله دتعلیم اواصلاح کار شروع وفرمایی ، په دی امیانوکی هغه عالمان اوحکیمان پیدا سول ، دکومو علم اوحکمت عقل اوپوهی او دهرکار عمده صلاحیت چې په ټول جهان باندی خپله برایی (لوړوالی) ثابته کړه .

(دبعثت نبوی دری مقصدونه)

يَتْلُوعَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ ، په دی آیت کی دنبی کریم ﷺ دری صفتونه دالله ﷻ دنعمتونو په ضمن کی ښوول سوی دی ، یو تلاوت دقرآن کریم د ایتونو، یعنی قرآن کریم ویل او امت ته اورول ، دوهم هغه دظاهری اوباطنی هر قسم ګندګی اونجاست ځخه پاکول ، په کومه کښ چې دبدن لباس اونور ظاهری پاکی هم داخله ده او دعقیدو او عملونو او اخلاقو او عادتونو پاکوالی هم، دریم تعلیم دکتاب اوحکمت، دادری سره شیان دامت دپاره دحق تعالی انعامات هم دی اودنبی کریم ﷺ دبعثت مقصدونه هم .

يَتْلُــوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ : دتلاوت اصل معنی اتباع اوپیروی ده ، په اصطلاحي کي دالفظ دکلام الله دویلو دپاره استعمالیږی او دایتونو ځخه آیتونه دقرآن کریم مراد دی او په لفظ دعَلَيْهِمْ سره یی دا وښووله چې دنبی کریم ﷺ یو منصب او مقصد دبعثت دا دی چې دقرآن آیتونه خلګوته په ویلو سره اوروی .

په ذکر سوی آیت کی دبعثت نبوی دوهم مقصد يُزَكِّيْهِمْ ښوول سوی دی دا دتزکیه ځخه مشتق دی چې معنی یی پاکول دی، دډیرو معنوی اوباطنی پاکیو دپاره ویل کیږی یعنی دکفر شرك اوبدو اخلاقو

اوعادتونو څخه پاکیدل اوکله مطلق دظاهری اوباطنی پاکی دپاره هم استعمالیږی، دلته په ظاهره داعامه معنی مراده ده.

دریم مقصد يُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ : دکتاب څخه مراد قرآن حکیم اودحکمت څخه مراد هغه تعلیمات او هدایتونه دی کوم چی دنبی کریم ﷺ څخه قولاً یاعملاً ثابت دی، په دی وجه ډیرو مفسرینو حضراتو دلته دحکمت تفسیر په سنتو سره کړی دی.

یو سوال او جواب: دلته داسوال پیدا کیږی چی په ظاهره دترتیب تقاضا دا وه چی دتلاوت څخه وروسته یی دتعلیم ذکر کړی وای، ددی څخه وروسته یی دتزکیه، ځکه چی د دری سره وو وظیفو طبعی ترتیب داسی دی چی اول تلاوت یعنی تعلیم دالفاظو، بیا تعلیم دمعانی، او ددی دواړو په نتیجه کی داعمالو اواخلاقو درستی کوم چی دتزکیه مطلب دی، مګر په قرآن کریم کی دا آیت څو ځایه راغلی دی په اکثرو ځایونوکی یی ترتیب بدل کی او دتلاوت او تعلیم په مینځ کی یی دتزکیه ذکر فرمایلی دی.

په روح المعانی کی یی ددی دا کیفیت ښوولی دی چی که دطبعی ترتیب مطابق یی راوړی وای او دا دری واړه شیان به یوسی اویوشی به ورڅخه جوړ سوی وای لکه دعاجلانو په نسخوکی چی څو دوایانی یوځای کیږی نو مجموعی ته یی یوه دوا ویل کیږي اودلته هم داحقیقت واضح کول دی چی دادری سره شیان جلا جلا مستقل دخدای نعمتونه دی اودری سره جلا جلا درسالت فرائض مقرر سوی دی، په دی ترتیب بدلولو سره دی طرف ته اشاره کیدی سی.

ددی آیت مکمل تفسیر اوتشریح په ډیرو اهمو مسائلو اوفائدو باندی مشتمل په سورة بقره کی تیر سوی دی، هلته یی وګوری.

وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ : داخَرِيْنَ لفظی معنی نور خلک، دَلَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ معنی کوم چی لاتر اوسه ددغو خلکو یعنی اُمّیین سره نه دی یوځای سوی، مراد ددی څخه هغه ټول مسلمانان دی کوم چی به تر قیامته پوری په اسلام کی دا خلیږی (لکه چی روایت یی سوی دی دابن زید مجاهد اونورو څخه) په دی کی اشاره ده چی ترقیامته پوری راتلونکی مسلمانان ټول دمومنانو اولینو یعنی دصحابه کرامو ﷺ سره ملحق ګڼل کیږی، دا دوروسته مسلمانانو دپاره لویه خوشخبری ده (روح)

په عطف دلفظ داخرین کی دوه قوله دی، ځینو حضراتو داپه اُمّیّن باندی عطف مقرر کړی دی، چی مطلب یی دا کیږی چی الله ﷻ خپل رسول په امیانوکی ولیږی او په هغو خلګو کی کوم چی اوس لا د دوی سره نه دی یوځای سوی په دی چی کومه دا شبهه کیږی چی په موجوده اُمّیینوکی خو درسول لیږل ظاهره ده خوکوم خلک چی لانه دی راغلی، په هغوی کی دلیږلوبه څه مطلب وی، ددی جواب یی په بیان القرآن کی دا ورکړی دی چی په دوی کی دلیږلو څخه مراد ددوی دپاره لیږل دی، ځکه چی لفظ دفی په عربی ژبه کی ددی معنی دپاره هم راځی.

اوځینی حضرات فرمایی چی دَاخَرِیْن عطف دیُعَلِّمُهُمْ : په ضمیر منصوب باندی دی چی مطلب به یی دا

وی چی نبی کریم ﷺ تعلیم ورکوی اُمّیینو ته هم اوهغو خلګو ته هم کوم چی لا تراوسه د دوی سره نه دی یوځای سوی (مظهری دا خوښه کړي ده)

په صحیح بخاری اومسلم کی دحضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چی مونږ دنبی کریم ﷺ سره ناست وو، چی سورة جمعه په دوی نازل سو او دوی مونږ ته واوروی، کله چی دوی دا آیت ووایه، وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ: نو مونږ عرض وکی چی یا رسول الله ﷺ داکوم خلګ دی چی ذکر یی دا آخَرِينَ په لفظ سره سوی دی؟ دوی دغه وخت سکوت وفرمایی، دوباره دری سره ورڅخه پوښتنه وسوه نونبی کریم ﷺ خپل لاس مبارك په حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه باندی کښیښودی کوم چی دغه وخت په مجلس کی موجود وو اووي فرمایل چی که ایمان دثریا پرستوری سربیره هم وی نو دده دقوم ځینی خلګ به دهغه ځای څخه هم ایمان راوړی (مظهری)

په دی روایت کی هم داهل فارس دتخصیص څه ثبوت نسته بلکه دومره ثابته سوه چی دوی هم داخرینو په مجموعه کي داخل دی، په دی حدیث کی دعجمیانو لوی فضیلت دی (مظهری)

مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا اَسْفَار دسِفر په زیر دسین سره جمع ده لوی کتاب ته ویل کیږي، په تیرو ایتونوکی دنبی کریم ﷺ دبعثت اونبوت په اُمیینوکی کیدل او د دوی دبعثت ددرو مقصودونو ذکر چی په کومو الفاظو اوصفتونو سره راغلی دی، دهغه مقتضیٰ دا وه چی یهودو په نبی کریم ﷺ دلیدو سره ایمان راوړی وای، مګر دوی ددنیا جاه اومال دتورات داحکامو څخه رانده کړل اوسره ددی چی دتورات عالمان وه، دعمل په اعتبار سره داسی سول لکه بالکل جاهلان اوناپوهه چی وی، ددغو خلګو مذمت په ذکر سوی آیت کی داسی وسو چی داخلګ پرکومو چی تورات بار کړل سو یعنی بغیر دغوښتلو ورته دانعمت ورکول سو، مګر دوی ددی دپورته کولو حق ادانه کی، یعنی دتورات داحکامو پروا یی ونه کړه د دوی مثال دهغه خره دی چی په شایی دغټو غټو کتابونو دعلمونو باروی دغه خر دغه بوج خوپه شا ګرځوی مګر دمضامینو څخه یی نه دی څه خبر وی اونه ورڅخه ده ته څه فائده رسیږی، دیهودو هم داحال دی چی ددنیا جوړولو دپاره تورات خو ګرځوی اوپه خلګو کی ددی په ذریعه خپله مرتبه اومقام پیدا کول غواړی مګر دهدایاتو څخه یی هیڅ فائده نه اخلی.

دبي عمله عالم مثال: مفسرین حضرات فرمایی چی کوم مثال دیهودو ورکول سوی دی دامثال دهغه عالم دین دی کوم چی په خپل علم باندی عمل نه کوی.

نه محقق بودند دانشمند چارپائی برو کتابی چند

نه تحقیق کوونکی وو اونه پوه وو، صرف یوحیوان وو چی یوڅو کتابونه پر باروه.

قُلْ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ هَادُوا إِنْ زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَاءُ لِلَّهِ مِنْ دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ: یهودو دخپل کفر او شرك اوټولو بد اخلاقیو باوجود دا دعویٰ هم کوله، نَحْنُ اَبْنٰٓءُ اللهِ وَاَحِبّٰٓءُ هٗ، یعنی مونږ خو دالله ﷻ اولاد اومحبوب یو او دځان څخه ماسوا بل چاته به یی دجنت مستحق نه وایه، بلکه دا به یی ویل،

لَنْ يَدْخُلَ الْجَنَّةَ اِلاَّ مَنْ كَانَ هُوْدًا : گويا هغوی داخرت دعذاب څخه ځانونه بالکل محفوظ اوپه امن گڼل او دجنت نعمتونه يې خپل ذاتي جاي گير گڼي او دا ظاهره ده چې دکوم سړي دا ايمان وي چې داخرت نعمتونه ددنيا دنعمتونو څخه په زرگونو درجو افضل اوښه دي اوپه دنياکې داهم ليدل کيږي چې ددې ځای ژوند دغمو او تکليفو او محنتو څخه خالي نه دي اوناروغي هم راځي او دده دا هم يقين وي چې دمرگ دراتلو سره به ماته هغه عظيم او دائمي نعمتونه ضرور حاصليږي نو ددې مقتضا دا ده چې که په ده کې ذره هم عقل اوپوهه وي نو دده په زړه کې به دمرگ تمنا پيداکيږي او په زړه سره به غواړي چې مرگ ژر راسي چې ددنيا ددې غمو اوتکليفو څخه دډك ژوند خاتمه وسي دخالص راحت اوارام دائمي ژوند شروع سي .

په دې وجه په ذکر سوی آيت کې نبي کريم ﷺ ته هدايت وسو چې ته يهودو ته وفرمايه چې که ستاسی دا دعویٰ چې په ټول مخلوق کې تاسې دالله ﷻ محبوب او خواږه ياست اوتاسی ته دا خطره بالکل نه وي چې په اخرت کې تاسي ته څه عذاب کيدی نه سی نو بيا دعقل تقاضا دا ده چې تاسی دمرگ تمنا وکې اوشوق يې کوی .

بياپه خپله قرآن کريم ددې تکذيب وکی اووي فرمايل . وَلَا يَتَمَنَّوْنَهُ اَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيهِمْ : يعنی داخلگ هيڅکله دمرگ تمنانه کوی ، په وجه ددې چې د دوی لاسونو «دآخرت دپاره کفر اوشرك اوبد عملونه» مخکې ليږلي دي هغوی ښه پوه دي چې په آخرت کې زمونږ دپاره دعذاب دجهنم څخه ماسوا څه نسته او دعوی دالله ﷻ دمحبوب او مقبول کيدو بالکل دروغ دي چې دروغ والي يې په خپله دوی ته هم واضح دي ، مگر ددنيا دڅه فائدو حاصلولو دپاره داسي دعوی کوی او هغوی په دې هم پوه دي چې که مونږ دنبي کريم ﷺ په فرمايلو دمرگ تمنا وکړه نو ضرور به قبوله سي او مونږ به مړه سو ، په دې وجه فرمايي چې دوی هيڅکله داسي تمنا نه کوی ، په يو حديث کې دي چې نبي کريم ﷺ فرمايي چې که دغه وخت په دوی کې چا دمرگ تمنا کړي وای نوهغه وخت به مړ وای «روح»

(دمرگ تمنا جائز ده اوکه جائز نه ده ؟)

دا بحث په تفصيل سره په سورة بقره کې تير سوی دي په حديث کې دمرگ دتمنا کولو څخه منع فرمايل سوي ده ددی لوی سبب دا دی چې يو سړی ته په دنياکې ددې يقين کولو حق نسته چې دی به دمرگ سره جنت ته خامخا ځي او دهيڅ قسم عذاب خطره ده ته نسته ، نو په داسي حالت کې دمرگ تمنا کول دالله ﷻ په مخکې دخپلې بهادرۍ ښوولو مترادف دي .

قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ مِنْهُ فَاِنَّهُ مُلَاقِيكُمْ : يعنی يهود چې کوم ددې دعوی باوجود دمرگ دتمنا څخه منع کوی ، ددې مطلب دمرگ څخه تيښته کول دي ، دوی ته ته وفرمايه چې دکوم مرگ څخه تاسي تښتی هغه به خامخا راځي که دا وخت نه وي نو يو څو ورځې وروسته ، په دې وجه دمرگ څخه تيښته بالکليه دچاپه وس کې نه ده .

(دمرګ دا سبابو څخه دتيښتي احکام)

کوم شيان چي عادتًا دمرګ سبب وي دهغه څخه تيښته مقتضا دعقل هم ده اومقتضا دشرع هم ، نبی کريم ﷺ ديو کوږ سوي ديوال لاندي تيريدی نو په تيزی سره ولاړی ، دغه شان چی کوم ځای اور لګيدلی وی ، دهغه ځای څخه تښتيدل دعقل اوشرع دواړو څخه خلاف ده مګر دغه دمرګ څخه تيښته دکوم مذمت چي په ذکر سوی آيت کی وارده سوي ده ، په دی کی داخله نه ده ، کله چی عقيده سالمه وی اوپه دی پوه وی چی تيښته ما دمرګ څخه نه سی بچ کولی ، مګر چی کله ده ته معلومه نه ده چی دا اور يا زهر يابل مهلك شی په متعين طور سره زما مرګ په دی کی ليکل سوی دی ، په دی وجه دمرګ څخه تيښته کومه چی مذمومه ده په دی کی داخله نه ده .

باقی پاته سوطاعون ياوباچه په کوم کلی کی راسی ددی څخه تيښته يوه مستقله مسئله ده چی تفصيلات يی دفقه او احاديثو په کتابونو کی ذکردی هلته ليدل کيږی اوپه تفسير روح المعانی کی ددی آيت لاندی هم په دی کافی بحث سوی دی او مسئله يی واضحه کړي ده ، دلته دهغه دنقل کولو ګنجائش نسته .

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا نُودِىَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوْمِ

ای ايماندارو ! هرکله چی اذان وسی دلمانځه دپاره دجمعی په ورځ

ٱلْجُمُعَةِ فَٱسْعَوْا۟ إِلَىٰ ذِكْرِ ٱللَّهِ وَذَرُوا۟ ٱلْبَيْعَ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ

نو وخغلی دالله ﷻ يادو ته او اخستل خرخول پريږدی دا غوره دی تاسی دپاره

إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ⑨ فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُوا۟ فِى

که تاسی پوهيږي ؟ ، نو هرکله چی لمونځ وسی نو خواره سی

ٱلْأَرْضِ وَٱبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِ ٱللَّهِ وَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ كَثِيرًا

په مځکه کی او لټوی فضل دالله ﷻ ، او ياد وی الله دير

لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ⑩ وَإِذَا رَأَوْا۟ تِجَٰرَةً أَوْ لَهْوًا ٱنفَضُّوٓا۟ إِلَيْهَا

چی تاسی مراد پيدا کړی ، اوهرکله چی ووينی سودا خرخيدل يا څه تماشه نوروان سی دهغه

وَتَرَكُوكَ قَآئِمًا ۚ قُلْ مَا عِندَ ٱللَّهِ خَيْرٌ مِّنَ ٱللَّهْوِ وَمِنَ

طرف ته او تا پريږدی ولاړ ، ته ووايه هغه چی دالله سره دی غوره دی دتماشو او

التِّجَارَةِ ۚ وَاللّٰهُ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿۱۱﴾ ع

دتجارت څخه او الله ښه رزق ورکوونکی دی .

لنډتفسیر: ای ایماندارو! کله چې دجمعې په ورځ دلمونځ دَ (جمعې دَ) پاره اذان وسی ، نوستاسی دالله ﷻ دیادو (یعنی لمونځ اوخطبې) طرف ته (فوراً) روان سی او اخستل خرڅول (او دغه شان نورمشاغل مانعه عن السعی لکه په رد المحتار کی چې دی) پرېږدی (اوتخصیص دبیعی ، په وجه دزیات اهتمام دی چې ددی ترک دنفع فوت کیدل ګڼل کیږی) دا (تلل اونوری مشغلی دبیعی اونور پرېښوول) ستاسی دپاره زیات ښه دی که تاسی څه پوهیږی (ځکه چې ددی نفع باقی ده او دبیعی او نور نفع فانی ده) بیاچې کله لمونځ (دجمعې) پوره سی (اوکه په ابتداء کی خطبه وروسته وه نو دلمونځ پوره کیدو څخه مراد ددی سره دمتعلقاتو پوره کیدل دی چې مطلب یې لمونځ اوخطبه پوره کیدل دی نو دغه وخت ددنیادکارونو دپاره دګرځیدو اجازت دی) او (په دی کی هم) الله ﷻ ډیر یادوی (یعنی په دنیوی مشغلوکی داسی مه ورننوځی چې دضروری احکامو اوعبادتونو څخه غافله سی) چې تاسی فلاح پیدا کی (دځینو خلګو دا حال دی چې) هغه خلګ کله چې څه تجارت یادمشغولیدو څه بل شی ووینی نوهغه طرف ته دمنډی وهلو دپاره خپاره سی او تا ولاړ پرېږدی ته ووایه چې کوم شی (لکه ثواب اوقُرب) چې دخدای سره دی ، هغه دداسی مشغلی او تجارت څخه په ډیرو درجو ښه دی او (که ددی څخه درزق زیاتیدو طمع کوی نو پوه سی چې) الله ﷻ تر ټولو ښه رزق ورکوونکی دی (دهغه په ضروری اطاعت کی په مشغولیدو سره مقرر رزق ورکوی بیا ولی دهغه احکام پرېښوول کیږی)

معلومات اومسئلې: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ دی ورځ ته يَوْمُ الْجُمُعَه ځکه ویل کیږي چې دا دمسلمانانو داجتماع ورځ ده او دآسمانونو اومځکی اوټولو کائناتوتخلیق کوم چې الله ﷻ په شپږو ورځوکی فرمایلی دی په دی شپږوکی اخری ورځ جمعه ده په کومه کی چې دتخلیق تکمیل وسو ، په دی ورځ حضرت ادم ﷺ پیدا سو ، په دی ورځ جنت ته داخل سو ، بیاپه دی ورځ مځکی ته راکښته سو ، په دی ورځ به قیامت قائمیږی اوپه دی ورځ کی یوګړی داسی راځی چې په هغه کی انسان کومه دعا وکړی قبلیږی ، دا ټولی خبری په صحیح احادیثو سره ثابتی دی (ابن کثیر) الله ﷻ دخلګودپاره داجتماع اواخترپه هره هفته کی داورځ دجمعې مقررکړی وه مګردتیرو امتونو ددی توفیق ونه سو یهودو دشنبې ورځ (یوم السبت) خپله ورځ داجتماعی جوړه کړه نصاراؤ دیکشنبې الله ﷻ دی امت ته ددی توفیق ورکی چې دوی دجمعې دورځی انتخاب وکی (لکه چې دابخاری اومسلم دابو هریره ﷺ څخه روایت کړی دی (ابن کثیر) دجاهلیت په زمانه کی دی ورځی ته ، یوم عروبه ، ویل کیده ، دټولو څخه اول په عربو کی کعب بن لوی ددی نوم جمعه کښېښووی او قریش به په دغه ورځ جمع کیدل او کعب بن لوی به خطبه ورته ویله دا واقعه دنبی کریم ﷺ دبعثت څخه پنځه سوه شپیته ۵۲۰ کاله مخکی ده کعب بن لوی دنبی کریم ﷺ په نیکونوکی دی دالله ﷻ دبت پرستی څخه دجاهلیت په زمانه کی هم بچ کی

او دتوحید توفیق یی ورته ورکړی وو، دوی دنبی کریم ﷺ دبعثت خوشخبری هم خلګوته اوروله وه په قریشوکی دده دعظمت دا حالت وو چی د دوی وفات کوم چی دنبی کریم ﷺ دبعثت څخه پنځه سوه شپیته ۵۲۰ کاله مخکی سوی وو، ددی څخه یی خپل تاریخ شمیرل شروع کړل، دعربو دتاریخ ابتداء به دکعبی دبناء څخه اخستل کیده، دکعب بن لوی دوفات څخه وروسته ددی څخه تاریخ جاری سو، بیاچی کله واقعه دفیل دنبی کریم ﷺ دولادت په کال کی پیښه سوه، نو ددی واقعی څخه دعربو دتاریخ سلسله جاری سوه، لنډه دا چی دجمعی اهتمام په عربوکی داسلام څخه مخکی هم دکعب بن لوی په زمانه کی سوی وو او ددی ورځی نوم جمعه ایښوول هم ددوی طرف ته منسوب دی (مظهری)
په ځینو روایتونو کی دی چی دمدینی انصارو دهجرت څخه مخکی دجمعی دفرضیت څخه مخکی په خپل اجتهاد سره دجمعی په ورځ دجمع کیدو اوعبادت کولو اهتمام کړی وو (لکه چی روایت یی کړی دی، عبد الرزاق په اسناد صحیح سره دمحمد بن سیرین څخه مظهری)
نُودِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ دنداء الصلوۃ څخه مراد اذان دی او، من يَّوْمِ الْجُمُعَةِ: په معنیٰ د، فِیْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ دی، فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللهِ، دسعی معنٰی منډه هم راځی او دیوکار په اهتمام کول هم، دلته دا دوهمه معنٰی مراده ده ځکه چی دلمونځ دپاره په منډه راتلل نبی کریم ﷺ منع فرمایلی دی او دا ارشاد یی فرمایلی دی چی کله دلمونځ دپاره راځی نو په سکون او وقار سره راځی، دایت معنٰی دا ده چی کله دجمعی په ورځ دجمعی اذان وسی نو دالله ﷻ دذکر دپاره منډی وهی، یعنی دلمونځ اوخطبی دپاره مسجد طرف ته دتللو اهتمام کوی لکه چی دمنډی وهونکی سړی بل طرف ته توجه نه وی، داذان څخه وروسته تاسی هم څه بل کارطرف ته بغیر دلمونځ اوخطبی څخه توجه مه کوی (ابن کثیر)
دذِكْرِ اللهِ څخه مراد دجمعی لمونځ هم کیدی سی او دجمعی خطبه هم کومه چی دجمعی دلمونځ دشرطونو اوفرائضو څخه ده دا هم په دی وجه چی دا دواړه مجموعه مراد سی، نو دا ښه ده (مظهری اونور) وَذَرُوا الْبَيْعَ: یعنی پریږدی خرڅول اخستل، صرف دبیعی په لفظ یی بس وکی اومراد ورځخه اخستل خرڅول دواړه دی، وجه دبسوالی دا ده چی دیوه په پریښودو به بل خامخا پریښوول سی، کله چی یوخرڅ کوونکی خرڅول نه کوی نو داخستونکی دپاره به داخستو لار پاته نه سی.
په دی کی اشاره دی طرف ته معلومیږی چی دجمعی داذان څخه وروسته اخستل خرڅول دی آیت حرام کړی دی، په دی عمل کول خو په اخستونکو خرڅوونکو ټولو باندی فرض دی، مګر ددی عملی انتظام داسی کول کیږی چی دکانونه بند سی نو اخستل خرڅول به خودبخوده بند سی، په دی کی حکمت دادی چی دګراکانو او خریدارانو خوڅه حد اوشمیرنه وی، ددغو ټولو دمنع کولو انتظام اسان نه دی، خرڅوونکی دکانداران محدود اومتعین وی چی دوی دخرڅ څخه منع سی، نوباقی ټول به داخستو څخه منع سی، په دی وجه په ذَرُوا الْبَيْعَ کی صرف دبیعی دپریښوولو په حکم بسوالی وسو.
فائده: دجمعی داذان څخه وروسته دټولو مشاغلو منع کول مقصود وه، په کوموکی چی زراعت تجارت مزدوری ټول داخل دی، مګر قرآن کریم صرف دبیعی ذکر وکی، په دی سره دی طرف ته هم

اشاره کیږي چې دجمعې دلمونځ مخاطب ښارونو او لويوکلو والا دي، په وړوکلو او ځنګلونوکې جمعه نه کیږي ، په دې وجه په ښارونو اولويو کلوکې چې کوم مشاغل عامو خلګوته په مخکې راځي ، دهغه ممانعت يې وفرمايي او دغه بيع اوشراء وي ، په خلاف دکلو ځکه چې دهغوی مشاغل کاشت کاري او دمځکې سره متعلق وي او په اتفاق دفقهاؤ دامت دلته دبيعې ځخه مراد فقط خرڅول نه دي ، بلکه هر هغه کارکوم چې دجمعې طرف ته دتللو په اهتمام کې مخل وي ، هغه ټول دبيعې په مفهوم کې داخل دي په دې وجه دجمعې داذان ځخه وروسته خوړل چښل اوبيده کيدل دچا سره خبرې کول ، تردې چې دکتاب مطالعه کول اونور ټول منع دي ، صرف دجمعې دتياري په حقله چې کوم کارونه وي هغه کول کیږي ، دجمعې اذان په شروع کې صرف يو وو کوم چې دخطبې په وخت کې دامام په مخکې ويل کیږي ، دنبی کریم ﷺ په زمانه کې ، بيا دصديق اکبر ؓ او فاروق اعظم ؓ په زمانه کې دغه شان وو ، دحضرت عثمان غنی ؓ په زمانه کې چې کله دمسلمانانو تعداد زيات سو او دمدينې طيبې په اطرافوکې خپاره سول نو دامام دمخ ځخه دخطبې اذان نه اوريدل کيدی ، نو دحضرت عثمان غنی ؓ يوبل اذان دمسجد ځخه دباندې په خپل مکان زوراء باندې شروع کې چې اواز يې ټولې مدينې منورې ته رسيدی په صحابه کرامو ؓ کې چاپه دې اعتراض ونه کې ، په دې وجه دا اولنی اذان په اجماع دصحابه وو مشروع سو او دجمعې داذان په وخت داخستلو خرڅولو اونورو ټولو مشاغلو حراميدلو حکم کوم چې اول دخطبې داذان ځخه وروسته وو اوس داول اذان ځخه وروسته شروع سو ځکه چې دقرآن الفاظ ، نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ : په دې هم صادق دي ، دا ټولې خبرې په حديث، تفسير او دفقهې په عامو کتابونوکې بغير داختلاف ځخه مذکور دي .

په دې دټول امت اجماع او اتفاق دی چې دجمعې په ورځ دماپښين په ځای دجمعې لمونځ فرض دی اوپه دې هم اجماع او اتفاق دی چې دجمعې لمونځ دعامو پنځو لمونځونوپه شان نه دی، ددې دپاره ځه زياتي شرطونه دي پنځه لمونځونه بغير دجماعت ځخه يوازې هم کيدی سی او ددوو کسانو په جماعت سره هم اوجمعه بغير دجماعت ځخه نه کیږي او دجماعت په تعداد کې دفقهاوو اختلاف دی ، دغه شان پنځه لمونځونه هرځای په درياب ، غر اوځنګل کې اداکیږي، مګرجمعه په ځنګل اوصحراکې دهيچاپه نزد نه کیږي ، په ښځو، مسافرو اومريضانو باندې جمعه فرض نه ده، هغوی به دجمعې په ځای دماپښين لمونځ کوي ، جمعه دکوم کلي پرخلګو فرض ده ، په دې کې دفقهاؤ امامانو اختلاف دی دامام شافعي په نزد چې په کوم کلي کې څلويښت سړي ازاد بالغ عاقل اوسيږي په هغه کې جمعه کيدی سی ، چې ددې ځخه کم وي نه کیږي ، دامام مالك په نزد داسې کلي ضرور دي چې مکانات يې متصل وي اوبازار په کې هم وي دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد دجمعې دپاره دا شرط دی چې هغه يوښار يالوی کلي وي په کوم کې چې کوڅې بازارونه وي او يا قاضي حاکم په کې دمعاملاتو دفيصلې دپاره موجود وي ، دمسئلې او ددې ددليلونو د تفصيل دا موقوع نه ده ، علماؤ حضراتو په دې موضوع مستقل کتابونه ليکلي دي اوهرڅه يې واضح کړي دي .

لنډه دا چې، يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او فَاسْعَوْا: په اتفاق دجمهور امت عام مخصوص البعض دی، عَلَی الاطلاق په هر مسلمان جمعه فرض نه ده، بلکه څه قيدونه او شرطونه دټولو په نزد سته، اختلاف صرف دشرطونو په تعين کې دی، البته کوم ځای چې فرض ده، هلته ددی فرضو لوی اهميت اوتاکيد دی، په هغو خلکو کې چې بغير دشرعی عذر څخه څوك جمعه پريږدی نو په صحيح احاديثو کې په هغوی سخت وعدی راغلی دی او دجمعی دلمونځ سره دشرطونو او ادابو دادا کوونکو دپاره دخاصو فضيلتونو او برکتونو وعده ده.

فَاِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِي الْاَرْضِ وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ: په تيرو آيتونو کې يې دجمعې داذان څخه وروسته دبيعې شراء ټول دنيوی کارونه منع کړی وه په دی آيت کې يې ددی اجازت ورکی چې دجمعی دلمونځ څخه دفارغيدو څخه وروسته تجارتی کاروبار او دخپل خپل رزق دحاصلولو اهتمام ټول کولی سی.

(دجمعې دلمانځه څخه وروسته په تجارت اوكسب كې بركت)

حضرت عراك بن مالك ﷺ چې به کله دجمعی دلمانځه څخه فارغه سو دباندی به راتلی نو دجماعت په دروازه به ودريدی او دا دعابه يې غوښتله.

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَجَبْتُ دَعْوَتَكَ، وَصَلَّيْتُ فَرِيْضَتَكَ، وَانْتَشَرْتُ كَمَا اَمَرْتَنِيْ فَارْزُقْنِيْ مِنْ فَضْلِكَ، وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ، (رواه ابن حاتم، ازابن کثير)

يعنی يا الله ما ستا دحکم اطاعت وکی اوستا فرض می ادا کی اولکه چې تاحکم کړی دی دلمانځه څخه وروسته دباندی ځم ته په خپل فضل سره ماته رزق راکړی اوته دټولو څخه ښه رزق ورکوونکی يې.

او دځينو سلفو صالحينو څخه مذکور دی چې کوم سړی دجمعی دلمانځه څخه وروسته تجارتی کار وبار کوی الله ﷻ دهغه دپاره اويا واره برکتونه نازلوی (ابن کثير)

وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ: يعنی چې دجمعی دلمانځه څخه فارغه سی نو دمعاش په کسب تجارت او نور کې شروع سی، مگر دکافرانو په شان دخدای څخه غافله په کار کې مه لگيا کيږی، عين داخستلو خرڅولو او دمزدوری په وخت کې هم دالله ﷻ ياد جاری ساتی.

وَاِذَا رَاَوْا تِجَارَةً اَوْ لَهْوَا انْفَضُّوْا اِلَيْهَا وَتَرَكُوْكَ قَائِمًا قُلْ مَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ وَاللّٰهُ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ: په دی آيت کې هغه خلک خبرداره کړل سوی دی کوم چې دجمعی خطبه پريښوده او په تجارتی کار کې مشغول سوی وه، ابن کثير فرمايي چې دا واقعه دهغه وخت ده کله چې به نبی کريم ﷺ دجمعی خطبه دلمونځ څخه وروسته ورکوله، لکه چې په اخترونوکې اوس هم دا معمول دی ديوی جمعی په ورځ دا واقعه پيښه سوه، دجمعی دلمونځ څخه وروسته نبی کريم ﷺ خطبه ورکوله، چې ناڅاپه يوه تجارتی قافله دمدينی منوری بازارته را ورسيده او په نغاره وهلو سره يې اعلان وکی، دغه وخت دجمعی لمونځ سوی وو، خطبه ورکيده، ډير صحابه حضرات بازارته ولاړل او د دوی ﷺ سره ډير کم حضرات پاته سول چې شمير يې دولس ښوولی دی (داروايت ابوداود په مراسل کې بيان کړی دی) دحديث په ځينو

روايتونو کی دی چی نبی کریم ﷺ په دی واقعه وفرمایل چی که تاسی ټول تللی واست نو دمدینی ټوله وادی به د اور دعذاب څخه ډکه سوی وای (رواه ابو یعلی، ابن کثیر)
دتفسیر دامام مقاتل بیان دی چی دا تجارتی قافله ددحیه بن خلف کلبی وه کومه چی دشام دملك څخه راغلی وه او دمدینی منوری په تاجرانو کی به دی قافلی عمومًا ټول دضرورت شیان راوړل او کله چی به دمدینی منوری خلګو ته ددی دراتلو خبر حاصلیدی نو ټولو سړو او ښځو به ددی طرف ته منډی وهلی دا دحیه بن خلف تر دغه وخته پوری مسلمان نه وو وروسته په اسلام کی دا خل سو اوحسن بصری او ابو مالك فرمایی چی دا هغه زمانه وه چی په مدینه منوره کی دضرورت دشیانو کمی اوسخته ګرانی وه (مظهری) دا اسباب وه چی دصحابه حضراتو رضوان الله علیهم اجمعین لوی جماعت دتجارتی قافلی په اواز دمسجد څخه ووتی اول خوفرض لمونځ ادا سوی وو، دخطبی په حقله دا معلومه نه وه چی په جمعه کی دا هم دفرضو جزء دی، دوهم داشیاوو ګرانی، دریم پرتجارتی قافله دخلګو راغونډیدل په کوم سره چی هر یوه ته دا خیال کیدی سو چی که ناوخته کړم نو دخپل ضرورت شیان به بیانه کړم پیدا، په هرحال ددی اسبابو لاندی دصحابه کرامو ﷺ څخه دا خطا وسوه په کوم باندی چی په ذکر سوی حدیث کی دوعید الفاظ راغلل چی که ټول تللی وای نو دالله ﷻ عذاب به راغلی وای، په دی باندی دعار ورکولو او خبردارولو دپاره ذکر سوی آیت نازل سو، اِذَا رَاَوْا تِجَارَةً: او په دی سبب نبی کریم ﷺ دخطبی په معامله کی خپل طرز بدل کی چی دلمونځ څخه مخکی یی خطبه ورکول خپل معمول جوړ کی او دا اوس سنت ده (ابن کثیر)
په ذکر سوی آیت کی نبی کریم ﷺ ته حکم ورکول سوی دی چی ته دغو خلګو ته وروایه، هغه ددی تجارت او نورو څخه ښه دی چی په دی کی داخرت ثواب خو مراد دی، خو دا هم بعیده نه ده چی دلمونځ اوخطبی په خاطر دتجارت اوکسب معاش پریښوونکو دپاره دالله ﷻ دطرف څخه په دنیاکی هم خاص برکتونه نازل وی، لکه چی لوړ دسلفو صالحینو څخه په روایت دابن کثیر نقل سوی دی.
تمت: اَلحَمدُلِلّٰہِ سُوْرَۃُ الْجُمُعَۃِ یَوْمَ الْخَمِیْسِ (۲۸) جُمَادی الاولی سـ ۱۳۹۱ سنه هـ

﴿سورة المنافقون﴾

سُوْرَۃُ الْمُنٰفِقُوْنَ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ اِحْدٰی عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة منافقون په مدینه کی نازل سو په دی کی یولس (۱۱) آیتونه او دوې (۲) رکوع ګانی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی.

إِذَا جَاءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ ۘ وَاللّٰهُ

هر کله چې راسي تا ته منافقان وايي چې مونږ قائل يو چې ته رسول يې د الله او الله ﷻ

يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُوْلُهٗ ؕ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۱﴾

پوه دی چې ته دهغه رسول يې ، او الله ﷻ شاهدي کوي چې دا منافقان دروغجنان دي

اِتَّخَذُوْا أَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ إِنَّهُمْ سَاءَ

دوی جوړکړي دي دخپلو قسمونو څخه ډالونه نو منع کوي دالله ﷻ دلارې څخه ، دا خلق بد کارونه دي

مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۲﴾ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا فَطُبِعَ عَلٰى

چې کوي يې ، دا څکه چې دوی ايمان راوړی بيا منکر سول ، نو مهر ووهل سو

قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ ﴿۳﴾ وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ أَجْسَامُهُمْ ؕ

د دوی په زړونو نو دوی اوس نه پوهيږي ، او کله چې ته ويني دوی نو حيرانوي تا بدنونه د دوی

وَإِنْ يَّقُوْلُوْا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ ؕ كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ؕ

او که دوی خبرې کوي نو ته اورې خبرې د دوی ، دوی داسې وي لکه چې لرګي وي ديوال ته لګول سوي

يَحْسَبُوْنَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ ؕ هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ ؕ قَاتَلَهُمُ

ګمان کوي دهر اواز په خپل خان دهلاکت ، دوی دښمنان دي د دوی څخه خان ساته هلاک

اللّٰهُ ۫ أَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿۴﴾ وَإِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُوْلُ

کړل دوی الله چيرې واپس کيږي ،اوهرکله چې وويل سي دوی ته راسئ چې بخښنه وغواړي تاسې دپاره رسول

اللّٰهِ لَوَّوْا رُءُوْسَهُمْ وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّوْنَ وَهُمْ مُّسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۵﴾

دالله اړوي خپل سرونه او ته ويني دوی چې منع کوي او دوی تکبر کوي ،

سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ؕ لَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ

برابر ده په حق د دوی کې که ته بخښنه غواړې دوی لره او که بخښنه نه غواړې دوی لره بخښنه نه کوي الله

لَهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۝٦ هُمُ الَّذِيْنَ

دوی ته ، بیشکه الله لار نه ښیي نافرمانو خلقو ته ، دوی هغه دي

يَقُوْلُوْنَ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوْا ۗ

چې وايي خرچ مه کوی په هغه چا چې دوی د رسول دالله سره تردې چې خپاره سی ،

وَلِلّٰهِ خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ

او دالله ﷻ دي خزانی د آسمانونو او دمځکی اولیکن منافقان

لَا يَفْقَهُوْنَ ۝٧ يَقُوْلُوْنَ لَئِنْ رَّجَعْنَآ اِلَى الْمَدِيْنَةِ لَيُخْرِجَنَّ

نه پوهيږي ، وايی که البته مونږ واپس سو مدینی ته نو وبه باسی

الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ ۗ وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَلٰكِنَّ

عزتمند دهغه ځای څخه کمزوری ، او عزت خو الله لره دی او دهغه رسول لره او مؤمنانو لره اولیکن

الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝٨ ع

منافقان نه پوهيږي .

لنډتفسير: کله چې تاته دا منافقان راسی نو وایی چې مونږ (په زړه سره) شاهدی ورکوو چې ته بیشکه دالله ﷺ رسول یې او دا خو الله ته معلومه ده چې ته دالله رسول یې (په دی کی خو د دوی دقول تکذیب نه سی کولی) او (باوجود ددی) الله ﷻ شاهدی ورکوی چې دا منافقان (په دی ویناکی) دروغجن دی (چې مونږ په زړه سره شاهدی ورکوو ځکه چې دغه شاهدی محض زبانی ده ، دزړه په عقیده سره نه ده) دی خلکو خپل قسمونه (دخپل ځان اومال دمحفوظ کولو دپاره) ډالونه جوړکړی دی (ځکه چې که دکفر اظهار یی کولی نو د دوی حالت به هم په شان دنوروکفارو وای چې جهاد به ورسره کیدی سوای او قتل اولوټ کیدی به سوای) بیا (ددی لازمی خرابی سره متعدی خرابی هم ده چې) داخلک (نورو هم) دالله ﷻ دلاری څخه منع کوی ، بیشکه د دوی دا عملونه ډیر بد دی (اوزمونږ) دا (وینا چې د دوی عملونه ډیر بد دی) په دی سبب سره ده چې دی خلکو (اول په ظاهر کی) ایمان راوړی بیا (خپلو شیطانانو ته ولاړل ، دکفر کلمات ، اِنَّا مَعَكُمْ اِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِئُوْنَ : یی وویل) کافران سول (مطلب دا چې په دوی دبدوعملونو حکم کول د دوی دنفاق په سبب سره دی چې دا بدترین عمل دکفر دی) نو (ددی نفاق په وجه) د دوی په

زړونو مهر ولګول سو نو (په حقه خبره) نه پوهیږي او (په ظاهره دوی داسي پاسته اونرم دي) ګله چي ته دوی ته ګوري (نو دظاهري شان شوکت په وجه) د دوی قد اوقامت تاته خوشنمامعلومیږي او (په خبروکي داسي دي چي) که دوی خبري کوي نو ته به د دوی خبري (دډېر فصاحت اوخوږوالي په وجه) آوري (لیکن چي کله دننه خاوري هم نسته په دي وجه په ظاهري قداوقامت سره دباطني کمالاتو څخه دخالي کیدوپه سبب د دوی داسي مثال دي چي) ګویا دوی لرګي دي کوم چي (ددیوال) پرتکیه ولاړ وي (چي په بدنونو سره خوښه غټ غټ اواوږده دي مګرمحض بي جانه اوعام عادت دادي چي اکثره کم لرګي چي في الحال په کارکي نه لګیږي، هغه دغسي ایښوول کیږي، داسي لرګي بي نفعي محض هم وي دغه شان داخلګ په ظاهري لیدوکي خوشاندار دي، لیکن ددننه څخه محض بي کاره دي، اوچي کله په وجه دعدم اخلاص اوعدم ایمان هروخت د دوی سره اندیښنه وي چي هسي نه مسلمانان زمونږ دحال څخه په څه قرینه یاپه ذریعه دوحي خبرنه سي اوپه شان دنورو کفاروپر مونږهم جهاد اونور شروع نه سي په دي خیال سره داسي په بیره کي وي چي) پرهریوه شور اواز (په هره وجه چي وي) پرخپل ځان (دپریوتونکي) خیال کوي (یعني کله چي څه شور جوړسي نوداسي یي ګڼي چي هسي نه پرمونږ پټ رالویدونکي نه وي ، په حقیقت کي) دا خلګ (ستاسي پوره) دښمنان دي ته ددوی څخه هوښیار اوسه (یعني ددوی په څه خبره اعتمادمه کوه) خدای دي دوی خوار کړي چیري (دحق دین څخه) واپس کیږي (یعني روزانه ورڅخه لیري کیږي) او (ددوی دتکبر اوشرارت داکیفیت دي) چي کله دوی ته وویل سي چي (نبي کریم ﷺ ته) راسي چي ستاسي دپاره رسول الله (ﷺ) استغفار وکي نو دوی خپل سرونه وګرځوي اوته به دوی ته ګوري چي دوی (ددي خیر خواهي اواستغفار درسول څخه) په تکبر کولوسره بي مخي کوي (کله چي ددوی دکفر داحالت دي نو) ددوی په حق کي دواړه خبري برابردي برابره خبره ده که ددوی دپاره استغفارکوي اوکه استغفارنه کوي دوی به الله ﷻ هیڅکله ونه بخښي (مطلب دا دي چي که دوی تاته راسي هم اوته د دوی دظاهري حالت په سبب سره استغفار هم وکي، بیاهم دوی ته څه نفع نه رسیږي، داخو دماضي په اعتبار سره ددوی حالت سو اوداننده دپاره داده چي) بیشکه الله ﷻ داسي نافرمانو خلګوته (توفیق دَ) هدایت نه کوي ، دوی هغه دي کوم چي وایي چي کوم خلګ دنبي کریم ﷺ سره (جمع) دي په هغوی خرڅ مه کوي تردي پوري چي داخلګ خپاره سي او (ددوی داخبره محض جهل دي څکه چي) دالله ﷻ دي تولي خزاني دآسمانونو اودمځکي ، لیکن منافقان نه پوهیږي (چي درزق مدار دښار دخلګو ورکړه ګڼي او) دا (خلګ) داسي وایي چي که مونږ اوس مديني ته واپس سو نوعزت والابه دهغه ځای څخه ذلت والا دباندي وباسي (یعني مونږ به دا مسافر پردیسان وباسو دباندي به یي کو) او (په دي قول کي چي ځان ته عزات والا اومسلمانانو ته ذلت والا وایي، دامحض جهل دي، بلکه) دالله دي عزت (بالذات) اودهغه درسول دي (په واسطه دتعلق دالله سره) او دمسلمانانو دي (په واسطه دتعلق دالله اودرسول سره) لیکن منافقان نه پوهیږي (بلکه مدار فاني امورو لره ګڼي)

معلومات او مسئلې

(د سورة منافقون د نزول په تفصیل سره واقعه)

داواقعه دمحمدبن اسحٰق دروایت مطابق په شعبان سنه۶ھ کې او دقتاده اوعروه دروایت مطابق په شعبان سنه ۵ ھ کې دغزوه بني المصطلق دموقع په وخت کې پيښه سوه «مظهري» کومه چې دمحمدبن اسحاق اواکثرو عالمانو دمغازي اوسیرت دروایت مطابق دا ده چې نبي کریم ﷺ ته داخبر حاصل سو چې دبني المصطلق سردار حارث بن ضرار دنبي کریم ﷺ خلاف دجنګ تیاري کوي ، دا حارث بن ضرار دجویریه «رضـ» پلار دی کوم چې وروسته مسلمانه سوه او په ازواجو مطهراتوکي داخله سوه اوپه خپله حارث بن ضرار هم وروسته مسلمان سو ، نبي کریم ﷺ ته چې کله د دوی دجنګي تیاري خبر حاصل سو نو نبي کریم ﷺ دمسلمانانو دیو جماعت سره د دوی دمقابلې دپاره ووتی ، دی جهادته دوتونکو مسلمانانو سره ډیر منافقان هم په دی طمع ووتل چې مونږ ته هم په مالِ غنیمت کي حصه حاصله سي ، ځکه چې دی خلګو سره ددی چې په زړه کې منکر اوکافر وه دا یقین درلودی چې دالله ﷻ مدد د دوی سره دی او دوی به غالب او فاتح وي .

نبي کریم ﷺ چې کله دبني المصطلق مقام ته ورسیدی نودحارث بن ضرار دلښکر سره یې داوبوپه هغه چینه یاڅاه باندي مقابله وسوه کوم چې دمریسیع په نوم سره معروف وو په دی وجه دی غزاته دمریسیع غزاهم ویل کیږي ، دجانبینو څخه صفونه برابر سول ، په غشو مقابله وسوه په کومه کي چې دبني المصطلق ډیرسړي مړه سول، باقي وتښتیدل، الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته فتح ورکړه د دوی څه مالونه غنیمت سول او څه سړي اوښځي قید سول دمسلمانانو په لاس راغلل او ددی جهاد قضیه ختمه سوه .

(دوطني یانسبي قومیت په بنیاد تعاون اوتناصر دکفر اوجاهلیت نعره ده)

«مګر ددی څخه وروسته لادمسلمانانو لښکر په دی مریسیع باندي جمع وو چې یوه ناخوښه واقعه پيښه سوه چې دیو انصاري اومهاجرپه دی اوبو باندي جګړه راغله او نوبت جنګ ته ورسیدی ، مهاجر دخپل مدد دپاره مهاجرینو ته اواز وکی او انصاري انصارو ته ، د دواړو دمدد دپاره څه افراد ورسیدل اونژدی وه چې دمسلمانانوپه مینځ کې یوه فتنه راپورته سي، نبي کریم ﷺ ته ددی اطلاع وسوه نوفوراً یې موقعي ته تشریف یوړی اودسخت خفګان سره یې وفرمایل، مَابَالُ دَعْوَی الْجَاهِلِيَّةِ یعنی دا دجاهلیت نعره څنګه ده؟ چې وطني اونسبي قومیت بنیاد جوړوي او دامداد اودفاع معامله کیږي ، اووي فرمایل مَابَالُ دَعْوَی الْجَاهِلِيَّةِ : یعنی دا دجاهلیت نعره ده ، اووي فرمایل چې هر مسلمان ته دخپل مسلمان ورور مدد کول په کار دی برابره خبره ده که هغه ظالم وي اوکه مظلوم ، دمظلوم مدد کول خو ظاهره ده چې دی دظلم څخه بچ کي او دظالم دمدد کولو مطلب دا دی چې دی دظلم څخه منع کې ځکه چې دده حقیقي مدد دا دی ، مراد دا وو چې په هره معامله کې دی ته کتل په کار دي چې مظلوم څوک دی اوظالم څوك دی ، بیا دهر مسلمان برابره خبره ده که هغه مهاجر وي یا انصاري اودکومي قبیلي اوخاندان وي ، دا فرض وي چې مظلوم دظلم څخه خلاص کړي او دظالم لاس ونیسي برابره خبره ده که هغه خپل حقیقي ورور

اوپلار ولی نه وی ، دا نسبی اووطنی قومیت جاهلانه اوبدبوداره نعره ده چی دګندګی څخه ماسوا ورڅخه نورڅه په لاس نه راځی.

دنبی کریم ﷺ ددی ارشاد داوریدو سره جګړه ختمه سوه په دی معامله کی زیاتی دجهجاه مهاجری (رض) ثابت سو، دده مقابل سنان بن وبره جهنی انصاری ﷺ ته زخم راغلی وو، دحضرت عباده بن صامت ﷺ په پوهولو سره سنان بن وبره ﷺ خپل حق معاف کی اوجنګ کوونکی ظالم اومظلوم بیاوړونه وړونه سول.

دمنافقانو یوه ډله کومه چی دمالِ غنیمت په طمع کی دمسلمانانو سره تللی وه د دوی سردار عبدالله بن ابی وو کوم چی په زړه کی دنبی کریم ﷺ اومسلمانانو سره دښمنی لرله ، مګر ددنیوی فائدی په خاطری ځان ته مسلمان ویل ده ته چی کله دمهاجرینو او انصارو په مینځ کی دجګړی خبر حاصل سو نو ده دمسلمانانو په مینځ کی داختلاف غورځولو موقع غنیمت وګڼله اوپه خپل مجلس کی چی منافقان په کی جمع وه او دمسلمانانو څخه په کی صرف زیدبن ارقم ﷺ موجود وو، ده انصار دمهاجرینو خلاف راوپارول اووي ویل چی تاسی دوی خپل وطن ته راوغوښتل ، په خپلو سرونو مومسلط کړل ، خپل مالونه اوجائدادونه مو په دوی تقسیم کړل ، دا ستاسی په ډوډیو پالل سوی اوس ستاسی مقابلی ته راغلل که تاسی اوس هم خپل انجام ونه پیژندی نوآئنده به دوی ستاسی ژوند ګران کړی نو په دی وجه تاسی ته په کار دی چی آئنده په مال سره د دوی مددمه کوی نوپخپله به اخوا دیخواته خپاره سی اواوس تاسی ته په کاردی چی کله مدینی ته ورسیږی نوپه تاسی کی چی کوم عزت والادی هغه دی ذلیل وباسی دده مراد دعزت والاڅخه په خپله خپل جماعت اوانصار وه اوذلیلو څخه مرادمعاذ الله رسول الله ﷺ اومهاجرین صحابه ﷺ وه ، زیدبن ارقم ﷺ چی کله دده دا خبره واوریده نوفوراً یی وویل چی والله ته ذلیل اوخوار اومبغوض یی! اونبی کریم ﷺ دالله ﷻ دطرف څخه په ورکړل سوی عزت او دمسلمانانو دډلی په محبت سره کامیاب دی.

عبدالله بن ابی چي کله په خپل نفاق باندی دپردی اچولو کوشش کوی په دی وجه الفاظ یی صفانه وه ویلی ، دغه وخت دزیدبن ارقم ﷺ په غصه سره ده ته هوش راغلی چی زما کفربه ظاهر سی نوحضرت زید ﷺ ته یی عذروکی چی ماخودا خبره په خندا کړی وه ، زما مطلب دنبی کریم ﷺ خلاف څه کول نه وو.

حضرت زید ﷺ ددی مجلس څخه پورته سو او دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سو او دابّی دا ټوله واقعه یی ورته واوروله ، په نبی کریم ﷺ دا خبر ډیر ګرانه سوه، په مخ مبارك کی یی دتغیر اثار ظاهر سول حضرت زیدبن ارقم ﷺ کم عمر صحابی وو، ده ته یی وویل چی بچیه دروغ خوته نه وایی؟ زیدبن ارقم قسم واخستی چی ماپه خپلو غوږونو داخبری اوریدلی دی، دوی بیا وفرمایل چی تاته څه شبهه خونه ده سوی ، زیدبن ارقم ﷺ بیاهغه جواب ورکی اوبیا دابن ابی داخبره دمسلمانانوپه ټول لښکرکی خپره سول او دمسلمانانوپه مینځ کی ددی خبری څخه ماسوابله خبره نه وه ، اخوا انصارو حضراتو ټولو زیدبن ارقم ﷺ ملامتوی چی تا دقوم په سردار باندی تهمت ولګوی اوقطع رحمی دی وکړه ، زیدبن ارقم ﷺ وفرمایل چی په خدای ﷻ قسم دی ، دبنی خزرج په پوره قبیله کی ما ته دابی څخه زیات څوك

خوږ نسته، مګر کله چې ده دنبي کریم ﷺ خلاف دا کلمې وویلې نوما برداشت نه کړل او که زما پلار هم داسې خبرې کړي وای نو مابه دغه هم نبي کریم ﷺ ته رسوله.

بل طرف ته حضرت عمربن خطاب ؓ نبي کریم ﷺ ته عرض وکړ چې یارسول الله! ماته اجازه وکړه چې زه ددې منافق سرپریکړم او په ځینو روایتونو کې دي چې فاروق اعظم ؓ داعرض وکړ چې ته عبادبن بشرته حکم ورکړه چې دهغه سرقلم کړي او ستاپه مخکې يې پیش کي.

نبي کریم ﷺ وفرمایل چې ای عمره ؓ! ددې به څه وسي، چې په خلګو کې به دا شهرت وسي چې زه خپل اصحاب قتلوم، په دې وجه يې دوې دابن ابي دقتل څخه منع کړل، دحضرت فاروق اعظم ؓ ددې خبرې خبر دعبدالله بن ابي منافق زوی ته ورسیدی، دده نوم هم عبدالله وو او دې پوخ مسلمان وو دې فوراً دنبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سو او عرض يې وکې چې که ستاسې اراده زما پلار ته دهغه دخبروپه نتیجه کې دقتل کولووې نوته ماته حکم وکړه زه به دخپل پلار سرپریکړم، ستاسې په خدمت کې به يې ددې څخه مخکې حاضرکړم چې تاسې دخپل مجلس څخه پورته کیږې او عرض يې وکې چې ټوله قبیله دخزرج په دې خبره شاهده ده چې په دوی کې څوك هم زماپه شان دوالدینو خدمت او اطاعت کوونکې نسته، مګردالله اورسول خلاف ددوی هم هیڅ شی نه سم برداشت کولی او زما خطره ده چې که تاسې بل چاته زمادپلار دقتل حکم ورکې او هغه يې قتل کې نوهسې نه چې زه دخپل پلار قاتل ژوندی په ګرځیدو وینم او په مانسې غیرت غالب راسې اوزه هغه قتل کړم کوم چې به زما دپاره دعذاب سبب جوړسي، نبي کریم ﷺ وفرمایل چې نه زما اراده دده دقتل سته اونه ما چاته ددې حکم کړی دی.

ددې واقعې څخه وروسته نبي کریم ﷺ دعام عادت خلاف بې وخته دسفرکولوعام اعلان وفرمایی او په خپله ناقه قصوئ سپور سو، کله چې عام صحابه حضرات روان سول، نو دوی عبدالله بن ابي راوبلی اوپوښتنه يې ورڅخه وکړه چې آیا تاداسې ویلي دي؟ ده قسمونه واخستل چې ما هیڅکله داسې نه دي ویلي دا هلك (زیدبن ارقم) دروغجن دی، دعبدالله بن ابي په خپل قوم کې عزت وو ټولو دا مقرره کړه چې شاید زید بن ارقم ؓ ته څه مغالطه سوې وي ابن ابي داسې نه وه ویلي.

په هرحال نبي کریم ﷺ دابن ابي قسم اوعذر قبول کې او دخلګو زیدبن ارقم ؓ ته غصه او دده ملامت کول نور زیات سوه او دې ددغه رسوایی په سبب دخلګو څخه پټیدی، بیانبي کریم ﷺ داسلام دټول لښکرسره پوره یوه ورځ اویوه شپه سفروکې اوپه بله ورځ دسهارېې بیاسفر کوی تردې چې لمر تیز سو، دغه وخت ده ﷺ لښکر یوځای ددې دپاره پاته کې، دپوره یوه ورځ اویوې شپې دسفر څخه ستړی سوی صحابه کرام ؓ کله چې په دې منزل باندې کښېنته سول فوراً ټول بیده سول.

راوی وایي چې دنبي کریم ﷺ دعام سفر کولو دعادت څخه خلاف په فوري طور باندې دابّي وخته سفر شروع کولو اوبیا دسفر دومره اوږدولو مقصد دا وو چې دابن ابي دواقعې چرچا کومه چې په ټولو مسلمانانو کې خپره سوې وه، مسلمانانو ته دسفر په داسې شغل لګولو سره دا چرچا ختمه سي.

ددې څخه وروسته بیانبي کریم ﷺ سفرشروع کی ، په دې دوران کی کله چې لادابن ابی په باره کی دقرآن آیتونه نه وه نازل سوی نوعباده بن صامت ﷺ ده ته نصیحت وکی چې ته په خپله دنبي کریم ﷺ په خدمت کی حاضرسه او دخپل جرم اعتراف وکه نونبي کریم ﷺ به ستا دپاره استغفار وکی ، ستانجات به وسی ، ابن ابی دده نصیحت واوریدی او خپل مخ یی بل طرف ته واړوی ، حضرت عباده ﷺ دغه وخت وفرمایل چې خامخابه ستا ددی اعراض په باره کی قرآن نازلیږی .
اخوا نبي کریم ﷺ په سفرکی وو اوزید بن ارقم ﷺ به باربار دوی ته نژدې راتلی ځکه چې دده په خپل ځای یقین وو ، چې دی منافق زه په ټول قوم کی دروغجن مقرر کړم رسوایی کړم خامخابه زماپه تصدیق او دده په تکذیب کی قرآن کریم نازل سی ، ناڅاپه زیدبن ارقم ﷺ وکتل چې په نبي کریم ﷺ باندې هغه کیفیت خپور سوکوم چې دوحي په وخت کیدې چې ساه یی لنډه لنډه سوه او په تندي مبارك یی خوله روانه سوه اوسپرلی یی دبار څخه کښته سوه نو دده دا امید وسوچې اوس به څه وحی په دې باره کی نازله سی ، تردی چې دنبي کریم ﷺ داکیفیت ختم سو ، زما سپرلی چې کله دوی ته نژدې وه دوی دخپلی سپرلی څخه زما غوږ ونیوی اوویی فرمایل ، يَاغُلَامُ صَدَّقَ اللهُ حَدِيْثَكَ وَنَزَلَتْ سُوْرَةُ الْمُنٰفِقُوْنَ فِيْ ابْنِ اُبَيٍّ مِنْ اَوَّلِهَا اِلٰى آخِرِهَا ، یعنی ای هلکه! الله ﷻ ستا دخبری تصدیق وکی او پوره سورة المنافقون دابن ابی ددی واقعی متعلق نازل سو ، ددی روایت څخه معلومه سوه چې سورة منافقون په دوران دسفرکی نازل سوی وو ، مګردبغوی په روایت کی دی چې نبي کریم ﷺ مدینی منوری ته ورسیدی اوزید بن ارقم ﷺ درسوایی دبیرې څخه په کورکی پټ کښینستی دغه وخت دا سورة نازل سو . والله اعلم سبحانه تعالی
په یو روایت کی دی چې کله نبي کریم ﷺ مدینی منوری ته نژدې وادی عقیق ته ورسیدی نو دعبدالله بن ابی منافق مومن زوی عبدالله رامخ ته سو اوټولی سپرلی یی کتلی ، دخپل پلار سپرلی ته نژدې سو ، دپلار اوښه یی کښینوله اوپه زنګون یی پیښه ورکښیښوده پلارته یی وویل چې په خدای قسم دی ته به مدینی ته داخل نه سی ترڅوچې نبي کریم ﷺ تاته دداخلیدو اجازت ونه کی اوترڅو پوری چې ته داخبره واضحه نه کړی چې تاکومه خبره کړي ده چې عزت والابه ذلت والا باسی ، په دې کی عزت والاڅوك دی نبي کریم ﷺ که ته؟ عبدالله بن عبدالله بن ابی دخپل پلار لار بنده کړی وه ولاړ وو اوپه خواکی تیریدونکو خلګو عبدالله ملامتوی چې دپلار سره داسی معامله کوی ، په اخرکی چې دنبي کریم ﷺ سپرلی دوی ته نژدې راغله نودمعاملی په حقله یی پوښتنه وکړه ، خلګو ورته وویل چې مومن عبدالله دخپل پلار لار ځکه بنده کړي ده چې ترڅو پوری نبي کریم ﷺ ده ته مدینی منوری ته دداخلیدو اجازت ونه کی ، دی مدینی منوری ته نه سی داخلیدی ، اونبي کریم ﷺ ولیدل چې ابی منافق دزوی څخه مجبوره سوی دی ، دی وایی چې زه خو تر بچو او ښځو هم زیات ذلیل یم، نبي کریم ﷺ چې دا واوریدل نو زوی ته یی وویل چې لار ورته پریږده چې څی مدینی منوری ته ، نو زوی لار ورپریښوده .
دسورة المنافقون دنزول قصه خودومره وه کومه چې لوړه ولیکل سوه ، دقصی په شروع کی دا هم اجمالاً

ذکر سوی دی چی دبنی المصطلق دغزا اصل ذمه وار دام المومنین حضرت جویریه «رض» پلار حارث بن ضرار وو، وروسته حضرت جویریه «رض» ته الله ﷺ دشرفِ اسلام سره په امهات المومنین کی دداخلیدو شرف عطا کی او پلار یی هم مسلمان سو.

ددی واقعه په مسنداحمد، ابوداود اونورو کی دا منقول ده چی کله بنوالمصطلق شکست وخوړی نو دمال غنیمت سره د دوی څه قیدیان هم په لاس ورغلل، داسلامی قانون مطابق ټول قیدیان اومالِ غنیمت په مجاهدینوکی تقسیم سوو په قیدیانو کی دحارث بن ضرار لور جویریه «رض» هم وه، دا دحضرت ثابت بن قیس بن شماس په حصه کی راغله، ده جویریه «رض» په صورت دکتابت دازادولو اراده وفرمایله چی صورت یی دا وی چی په غلام یامینځی باندی څه رقم مقررسی اوده ته اجازت ورکول سی چی څه محنت مزدوری یاتجارت وکی اودغه مقرر سوی رقم وګټی، مالك ته یی ورکړی نوازاد سی په جویریه «رض» چی کوم رقم مقرر سړی وو هغه ډیر زیات رقم وو چی ادائیګی یی ددی دپاره اسانه نه وه دا دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضره سوه او درخواست یی وکی چی زه مسلمانه سوی یم، شاهدی کوم چی الله یو دی، دهغه سره څوك شریك نسته اوته دالله ﷺ رسول یی، بیایی خپله واقعه واوروله چی ثابت بن قیس ﷺ دکوم په حصه کی چی زه راغلی یم، هغه زه مکاتبه کړی یم، مګر دکتابت درقم ادائیګی زماپه وس کی نه ده، ته په دی کی زما څه مدد وکړه.

نبی کریم ﷺ ددی درخواست قبول کی او دازادولو سره یی په خپل نکاح کی داخستلو اراده ظاهره کړه، دجویریه «رض» دپاره دا ډیر لوی نعمت وو هغی به څنګه نه قبلوی، هغی په ډیره خوشحالی سره قبوله کړه او دا په ازواجو مطهراتو کی دا خله سوه، دام المومنین حضرت جویریه «رض» بیان دی چی دبنی المصطلق په غزا کی دنبی کریم ﷺ دتشریف راوړلو څخه دری ورځی مخکی ماخوب لیدلی وو چی دیثرب دطرف څخه سپوږمی رالوړه سوه او زماپه غیږ کی راولویده، دغه وخت ما دا خوب چاته نه وو ذکر کړی، اوس می ددی تعبیر په سترګو ولیدی.

دا دقوم دسردار لوروه، ددی په ازواجو مطهراتوکی په داخیلدو سره پر پوره قبیلی هم ښه اثرات مرتب سول اویوه فائده هغو ټولو ښځوته ورسیده کم چی ددوی په لاسونوګرفتاری وی اوددی قربانی وی څکه چی ددی ام المومنین کیدل معلومولو څخه وروسته چی دکوم مسلمان سره دهغی قریبه مینځه وه ټولو ازادی کړی چی ددی قریبی ښځی لره مینځه جوړول دخپل ځان سره ساتل یی دادب څخه خلاف وګڼله، دغه شان سل مینځی ددی دبرکته ازادی سوی، او بیا ددی پلار هم دنبی کریم ﷺ یوه معجزه ولیده او مسلمان سو.

(په ذکرسوی واقعه کي اهم هدايات اوفائدی)

دسورة المنافقون دنزول واقعه ددی دتفسیرپه پوهیدوکی خو مدد کوی، البته ددی په ضمن کی ډیر اهم هدایتونه، مسئلی، اخلاق، سیاست او دمعاشری په حقله راغلی دی، په دی وجه احقر ددی پوره تفصیل دلته نقل کړی دی، هغه هدایتونه دا دی،

(داسلامي سياست سنګ بنياد خالصه اسلامي برادري قائمول دي چې په دې کې ډرنګ، نسل ژبي اوملکي غير ملکي تول امتيازات بالکل ختم سي)

دبنی المصطلق په غزا کی پیښنه سوی دیوه انصاری اویوه مهاجر جګړه او د دواړو دطرف څخه انصارو اومهاجرینو ته دخپل خپل مدد دپاره رابلل دا هغه دجاهلیت بت وو کوم چی نبی کریم ﷺ مات کی او مسلمان که دکوم ځای اوسیدونکی وی ، دکوم رنګ اوژبی اوکوم نسل او قوم وی ، ټول یی په خپل مینځ کی وړونه وړونه کړل ، په انصارو اومهاجرو کی یی بیا وروروولی جوړه کړه ، د دوی مشترکه اسلامی وروروولی یی جوړه کړی وه، مګر دشیطان دا پخوانی جال دی په کوم کی چی خلک نښلوی په خپل مینځ کی دجګړو په وخت دقوم ، وطن او ژبی او رنګ اونور دتعاون اوتناصر بنیاد جوړ وی ، چی ددی لازمی نتیجه دا وی چی دتعاون او تناصر اسلامی معیار دحق اوانصاف دخلګو دذهنو څخه پټ سی ، صرف دوروروولی اوقومیت په بنیاد دیو بل دمدد کولو اصول جوړ سی ، دغه شان هغه مسلمانان دمسلمانانو سره جنګوی په دی واقعه کی هم څه داسی صورت جوړیدی ، مګرنبی کریم ﷺ فوراً موقعی ته ورسیدی او دا فتنه یی ختمه کړه اووې ښووله چی دا دجاهلیت اوکفر بدبوداره نعره ده ، ددی څخه ځان وساتی اوبیایی ټول دتعاون په قرآنی اصولو باندی قائم کړل ، په کوم کی چی ارشاد دی ، وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ : یعنی دمسلمانانو دپاره دچا دمدد کولو یامدد حاصلولو معیار دا کیدل په کار دی چی کوم سړی په عدل او انصاف اونیکی باندی دی دهغه مدد وکی ، که څه هم هغه په نسب او خاندان او ژبه او وطن کی ستاسی څخه جلاوی اوکوم سړی چی په څه ګناه اوظلم باندی وی دهغه هیڅکله مدد ونه کړی که څه هم هغه ستاسی پلار او ورور هم وی، دا هغه معقول اومنصفانه بنیاد دی کوم چی اسلام قائم وفرمایی اونبی کریم ﷺ په هرقدم په خپله ددی رعایت وفرمایی اوټولوته یی ددی دتابع اوسیدو هدایت فرمایلی دی اوپه خپله اخری خطبه دحجة الوداع کی یی اعلان وفرمایی چی دجاهلیت ټول رسمونه زما ترقدمونو لاندی ومړل سول ، اوس دعربی عجمی، تور اوسپین، دملکی اوغیرِ ملکی دامتیازاتو بت مات سو، دیو بل سره دتعاون اوتناصر اسلامی بنیاد صرف حق اوانصاف دی ، هرڅوک دی ددی تابع چلیږي .

دی واقعی مونږ ته داسبق هم راکړی دی چی داسلام دښمنان دنن څخه نه بلکه دهمیشه څخه دمسلمانانو دټوټی ټوټی کولو دپاره دبرادری اووطنی قومیت حربه استعمالوی کله اوڅه وخت چی موقع حاصلیږي ددی څخه کاراخلی اوپه مسلمانانو کی تفرقه اچوی .

افسوس دی چی ډیره زمانه وروسته بیا مسلمانانو خپل دا سبق هیر کی او دښمنانودمسلمانانو داسلامی وحدت په ټوټی کولو کی بیاهغه شیطانی جال وښوروی او ددین اوددی داصولو څخه دغفلت پربنا دعامی دنیا مسلمانان په دی جال کی ونښتل اوپه خپل مینځ کی دجنګونو ښکار سول او دکفر اوالحاد دمقابلی دپاره ددوی متحده قوت ذری ذری سو ، صرف عربی اوعجمی څخه په عربو کی مصری شامی حجازی ، یمنی، دیو بل سره متحد پاته نه سول ، په پاکستان اوهندوستان کی پنجابی ، بنګالی ،

سندهي، هندي، پښتون اوبلوڅ ديو بل سره دښمنتلو ښکار سول ، فَاِلَی اللهِ الْمُشْتَکٰی ، داسلام دښمنان زمونږ دمنځلولو سره لوبې کوي ، ددې په نتيجه کې هغوي په هرميدان کې په مونږ غالب راځي او مو هر ځاى په شکست خور ده غلامانه ذهنيت کې مبتلا د دوى په پناه اخستو باندې مجبوره په نظر راځو کاشکې! نن هم مسلمانانو په خپلو قرآني اصولو اودنبي کريم ﷺ په هداياتو عمل وکې دغيروپه پناه دژوندتيرولوپه ځاى يې په خپله خپله اسلامي برادري مضبوطه کړې واى درنګ نسل اوژبې اووطن بتان يې بيايووارمات کړې واى نونن به هم دخداى ﷻ دنصرت او امداد مشاهده په ښکاره بېترګو سره وسې

(دصحابه کرامو ﷺ په اسلامي اصولو بې نظيره ثابت قدمي اولوړ مقام)

دې واقعې دا هم وښوولـه چې که څه هم په وختي توګه شيطان څه خلګ دجاهليت په نعره کې اخته کړې وه ، مګر په حقيقت کې دټولو په زړونوکې ايمان راسخ اومضبوط سوى وو ، په لړشان خبرداريدو باندې ټول ددغو خيالاتو څخه توبه ګارسول اوپه زړونو يې دالله ﷻ او درسول ﷺ دمحبت اوعظمت داسې غلبه وه چې په هغه کې دبرادرى او قوميت هيڅ تعلق حائل نه سو ، ددې شهادت په خپله په دې واقعه کې اول دحضرت زيدبن ارقم ﷺ دبيان څخه واضح سو چې هغه په خپله هم دخزرج قبيلې سړى وو او ابن ابى ددې قبيلې سردار وو او زيد ابن ارقم ﷺ هم دده دعزت اوعظمت قائل وو ، ليکن څه وخت چې يې دهغه دژبې څخه دمومنانو مهاجرينو اوپه خپله دنبي کريم ﷺ خلاف الفاظ واوريدل نو برداشت يې نه سوه ، په دغه مجلس کې يې ابى ته مخامخ جواب ورکى ، بيايې دنبي کريم ﷺ په مخکې شکايت پيش کې که دنن صبا برادر پرستي وى نودخپلې برادرى دسردار داخبره به هغه هيڅکله نبي کريم ﷺ ته نه واى رسولې په دې واقعه کې په خپله دابن ابى دزوى عبدالله واقعې داڅومره واضحه کړه چې ددوى دمحبت اوعظمت اصل تعلق صرف دالله اودهغه درسول ﷺ سره وو ، کله چې دخپل پلار څخه يې دهغوى خلاف خبره واوريده نو دنبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر سو او په خپله يې دخپل پلار دسر قلم کولو پيش کش وکې او اجازه يې وغوښته حضور ﷺ ورڅخه منع کې ، نو چې مدينې منورې ته نژدې ورسيدل ، دپلار سپرلې يې کښينوله اومدينې منورې ته دتللو لار يې ورته بنده کړه اوپلار يې مجبوره کې چې هغه دا اقرار وکې چې عزتمند صرف نبي کريم ﷺ دى ، هغه په خپله ذليل اوخوار دى ، بيايې دحضور ﷺ داجازت حاصليدو څخه بغير دپلار دپاره لارنه پرېښووله ، ددې په ليدوسره بې اختياره په ژبه راځي .

تو نخلِ خوش ثمر کيستی که سرود سمن • همه زخويش بريدند وباتو پيوستند

يعنې ته څنګه دخوږې ميوې درخته يې ! چې دباغ ټولو درختو سروسمن اونور خپلې ټولې خپلولې پرېکړې ، په تاسې پورې يې ځانونه ونښلول او در پورې پيوست سول .

ددې څخه علاوه دبدر او احد او احزاب په جنګونوکې خو په ذريعه دتورې ددې قوم پرستي اووطن پرستي دابت توټې توټې کړو ، کوم چې ثابته کړه چې مسلمانان که دهرقوم اووطن اوهر رنګ او ژبې وى هغه ټول په خپل مينځ کې وروڼه وروڼه دي او څوک چې الله ﷻ او رسول ﷺ نه مني هغه که څه هم حقيقي ورور اوپلار ولې نه وى دښمن دى .

هزار خويش كه بى گانه ازخدا باشد فدائى يك تنِ بى گانه كه اشنا باشد

يعنى په زرگونو خپلوان چى دخداى څخه پردى وى دهغه يوتن څخه دى قربان سى چى دخداى سره اشناوى

(دمسلمانانو دعامو مصلحتونو رعايت او ددوى دغلط فهمي څخه دساتلو اهتمام)

دى واقعى يوسبق داْ را كى چى كوم كار فى نفسه جائز او درست وى مگر ددى په كولو سره څه دا خطره وى چى چامسلمان ته به په خپله غلط فهمى پيداسى يابه دښمنانوته دغلط فهمى ښوورولو موقع حاصله سى نو هغه كار دى نه كول كيږى ، لكه چى نبى كريم ﷺ درئيس المنافقين ابن ابى دنفاق دښكاره كيدو څخه وروسته هم دفاروق اعظم ﷛ دا مشوره قبوله نه كړه چى دى دى قتل سى ځكه چى په دى كى دا خطره وه چى دښمنانو ته به په عامو خلگوكى ددى غلط فهمى ښوورولو موقع حاصله سى چى نبى كريم ﷺ خپل صحابه هم قتل كوى .

مگر دنورو روايتونو څخه دا ثابته ده چى دغلط فهمى په خطره سره داسى كارونه پريښوول كيږى كوم چى دشرعى مقصدونو څخه نه وى مگر مستحب او دثواب كار وى ، يو شرعى مقصد په داسى خطره سره نه سى پريښوول كيدى بلكه دخطرى دليرى كولو فكر دى كول كيږى او هغه كار دى وكول سى .

دسورة ترجمه اولنډ تفسير لوړ ليكل سوى دى ، اوس ددى خاصوخاصو جملو زيات وضاحت وگورى .

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُولُ اللهِ الاية : عبدالله ابن ابى رئيس المنافقين دكوم په معامله كى چى دا سورة نازل سوى دى ، په كوم كى چى يى دده دقسمونو دروغوالى واضح كړي دى ، نو خلگو ده ته دخير خواهى په ډول وويل چى تاته معلومه ده چى ستاپه باره كى په قرآن كريم كى څه نازل سوى دى ، اوس هم وخت نه دى تللى نو دنبى كريم ﷺ په خدمت كى حاضر سه (او دجرم اعتراف وكړه) نو نبى كريم ﷺ به ستا دپاره استغفار وفرمايى ، ده په جواب كى وويل چى تاسى خلگو ماته وويل چى ايمان راوړه ما ايمان اختيار كى ، بيا تاسى ماته په خپل مال كى دزكوة وركولو وويل هغه مى وركى، اوس ددى څخه ماسوا نور څه پاته سوه چى زه محمد ﷺ ته سجده وكړم ، په دى دا ذكر سوى آيتونه نازل سول ، په كومو كى چى يى واضحه كړه چى كله دده په زړه كى ايمان نسته، نو دده دپاره دچا استغفار نه سى نافع كيدى ، ابن ابى ددى واقعى څخه وروسته په مدينه طيبه كى څوورځى ژوندى وو بيا ډير ژر مړ سو (مظهرى)

هُمُ الَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنْفِقُوا عَلَى مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ حَتَّى يَنْفَضُّوا: الاية دا هغه قول دى كوم چى دجهجاه اوسنان انصارى دجگړى په وخت كى ابن ابى كړى وو چى جواب يى الله ﷻ دا وركى چى دى بى وقوف داسى گڼى چى مهاجرين زمونږ د دادو او دهغه محتاج دى ، مونږ دوى ته وركوو، حال دا دى چى دټولو ځمكو او آسمانونو خزانى خو دالله ﷻ په لاس كى دى هغه كه وغواړى نو مهاجرينوته به ستاسى دامداد څخه بغير هرڅه وركى ، دده داسى گڼل چى كله دبى عقلى اوبى وقوفى دليل دى، په دى وجه قرآن حكيم دلته د ، لَا يَفْقَهُونَ : لفظ اختيار كى اووي ښووله چى داسى خيال كوونكى بى عقل او بى پوهى دى .

يَقُولُونَ لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ الاية : دا هم ددغه منافق ابن ابى قول دى په كوم چى

که څه هم صفا الفاظ يي ونه ويل ، مگر مطلب ظاهر وو چې ده خپل ځان ته او دمدينې انصارو ته عزت والا او د دوئ په مقابله کې نبي کريم ﷺ او مهاجرين يي معاذ الله ذليل مقرر کړل او دمدينې انصار يي د دوی په مقابله کې را پارول غوښتل چې دا کمزري او ذليله خلک دمدينې منوری څخه دباندې وباسي ، الله ﷻ ددې په جواب کې دده خبره په ده چپه کړه چې عزت خو دالله ﷻ اودالله ﷺ درسول او دمومنانو حق دی ، مگر تاسې دخپل جهالت په بنا ددې څخه بې خبر ياست ، دلته قرآن کريم دلَا يَعْلَمُوْنَ لفظ استعمال کې ، او ددې څخه اول يې دلَايَفْقَهُوْنَ لفظ فرمايلی وو ، وجه دفرق دا ده چې يو انسان خپل ځان دنورو انسانانو رازق وگڼي نو دا سراسر دعقل څخه خلاف ده ، دده دا گڼل دبې وقوفۍ او بې عقلۍ نښه ده او عزت او ذلت په دنيا کې کله چاته اوکله چاته حاصليږي په دې وجه په دې کې چې مغالطه وی نو دی دواقعاتو څخه دبې خبرۍ او نا واقفۍ نښانه ده ، په دې وجه يي دلته لَا يَعْلَمُوْنَ وفرمايل .

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَلَاۤ اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ

ای ايماندارو! غافله دې نه کړي تاسې ستاسې مالونه اونه ستاسې اولادونه دالله ﷻ دياده څخه ، اوڅوک چې دا کار وکړی

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۞٩ وَاَنْفِقُوْا مِنْ مَّا رَزَقْنٰكُمْ مِّنْ قَبْلِ

نو هغه دی په تاوان کې ، او خرڅ کوی زمونږ درکړی (مال) مخکې ددې څخه

اَنْ يَّاْتِيَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُوْلَ رَبِّ لَوْلَاۤ اَخَّرْتَنِيْۤ اِلٰۤى اَجَلٍ

چې راسي په تاسې کې چاته مرگ نو وايي ای ربه زما ولې دې مهلت را نه کې وماته لږ موده

قَرِيْبٍ ۙ فَاَصَّدَّقَ وَاَكُنْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۞١٠ وَلَنْ يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ

چې ما خيرات کړی وای او سوی وای دنيکانو څخه اوهيڅکله مهلت نه ورکوی الله

نَفْسًا اِذَا جَآءَ اَجَلُهَا ۚ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۞١١ ع

يو نفس ته هر کله چې راسي دده نيټه او الله خبردار دی په هغه چې تاسې کوی .

لنډتفسير: ای ايماندارو! تاسې دې ستاسې مال او اولاد (مراد ددې څخه ټوله دنيا ده) دالله ﷻ دياد (او اطاعت) څخه (مراد ددې څخه مجموعه دين دی) غافله نه کړی (يعنې په دنياکې داسې مه مشغوليږی چې په دين کې خلل را ولې) او څوک چې داسې وکې داسې خلک ناکامه وی (ځکه چې دنيوی نفع خو به ختمه سي او دآخرت ضرر اوخساره به دائمي پاته سي) او (منجمله دطاعاتو څخه ديومالي طاعت حکم کول کيږي چې دلَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ : دعام مضمون څخه يوخاص فرد دی يعنې) مونږ چې څه تاسې ته څه درکړی دی ددې څخه (حقوق واجبه) ددې څخه مخکې مخکې خرڅ کړی چې په تاسې کې چاته مرگ

راسي بیاهغه (په طور دتمنا او حسرت) ووايي چي اى زما پروردگاره! ماته لږ نوري ورځي مهلت تا ولى را نه کې چي ما خير او خيرات کړى واى او په نيکو خلکو کې شامل سوى واى (او دده دا تمنا او حسرت به څکه غير مفيد وي چي) الله ﷻ چاته کله چي دده ميعاد (دعمر په ختميدو) راسي هيڅکله مهلت نه ورکوى او الله ﷻ ستاسي په ټولو کارونو پوره خبردار دى (هم هغسي به دجزا مستحق ياست)

معلومات اومسئلې: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ: ددى سورة په اول رکوع کې دمنافقانو د دروغو قسمونو او د دوى دسازشونو ذکر وو او دټولو خلاصه ددنيا دمحبت څخه مغلوب کيدل وو، په دى وجه په ظاهره به يې داسلام دعوىٰ کوله چي دمسلمانانو دزوره هم محفوظ سي او دغنيمت او نور مالونو حصه ورته هم حاصله سي، په دى وجه ددوى داسازش وو چي په مهاجرينو صحابه وو باندى خرڅ بند کړى، په دى دوهمه رکوع کې خطاب مخلصينو مومنانوته دى په دى کې هغوى ددى څخه بيرول سوى دى چي ددنياپه محبت کې داسي مدهوش نه سي لکه منافقان چي سوى دى، ددنيا دټولو څخه لوى دوه شيان دى دوارو نوم يې واخستى کنه نو مراد ددى څخه ددنيا ټول اسباب دى اومطلب دارشاد دا دى چي دمال او اولاد سره محبت په يوه درجه کې مذموم نه دى، ددى سره تر يوى درجي پورى اشتغال صرف جائز نه بلکه واجبيږى، مگر ددى داحد فاصل هر وخت دنظر په مخکې ساتل په کار دى چي داشيان انسان دالله ﷻ ديادو څخه غافله نه کړى، دلته دذکر څخه مراد ځينو مفسرينو پنځه وخته لمونځ، ځينو حج اوزکوٰة ځينو قرآن مقرر کړى دى حضرت حسن بصرى فرمايي چي دذکر څخه مراد دلته ټول طاعات او عبادات دى او دا قول دټولو جامع دى (قرطبى)

لنډه دا چي ددى دنيوى معيشت په سامان کې د دومره مشغوليدو خو اجازت سته چي دا دالله ﷻ دذکر يعنى طاعت څخه انسان غافله نه کړى چي ددى په محبت کې اخته سى او دفرائضو او واجباتو په ادائيگى کې کوتاهى کول شروع کړى ياپه حرامو اومکروهاتو کې اخته سى اوڅوک چي داسي کوى دهغوى په باره کې داسي دى، فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ. يعنى هغه خلک دى په خساره کې پريوتونکى، څکه چي دوى دآخرت عظيم او هميشه پاته کيدونکو نعمتونو په بدله کې ددنياحقير او فاني نعمتونه اختيار کړل، ددى څخه لويه خساره به څخه وي.

وَأَنْفِقُوا مِنْ مَا رَزَقْنَاكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ: په دى آيت کې دمرګ راتلو څخه مراد دمرګ داثارو مشاهده ده اومراد دا دى چي دمرګ داثارو مخ ته دراتلو څخه مخکې دصحت اوقوت په حالت کې خپل مالونه دالله ﷻ په لاره کې خرڅ کړى او دآخرت درجي حاصلى کړى ورنه دمرګ څخه وروسته دا مال اونور به ستاسى هيڅ په کار درنه سى، لوړ معلومه سوي ده چي دذکر څخه مراد دټولو طاعاتو اوشرعى احکامو پابندى ده په کوم کې چي دضرورت په موقعو مال خرڅ کول هم دا خل دى، بيا دلته دمال خرڅ کولو په جلا بيان کولو کې دوى وجهى بيانيږى، اول دا چي دالله ﷻ او دهغه داحکامو دتعميل څخه دانسان په غفلت کې غور ځوونکى دټولو څخه لوى شى مال دى په دى وجه په کومو شيانوکې چي مال

خرخول وی لکه زکوة، عشر، حج اونور دایی مستقلاً بیان کړل، دوهمه وجه دا هم کیدی سی چی دمرګ داثارو دلیدوپه وخت کی، داخونه دچاپه وس کی ده نه دچاښخه داتصورکیدی سی چی دغه وخت قضاسوی روژی ونیسی، مګر مال یی په مخکی وی او دا یی یقین کیدی سی چی وی دا مال زما دلاس ښخه ولاړی، نودغه وخت هم تمنا کیدی سی چی ژر تر ژره مال خرخ کړی او دمالی عبادت دکوتاهی ښخه نجات حاصل کړی، دارنګه داچی صدقه دټولو نورو بلاګانو اوعذاب ښخه په منع کولوکی هم اثرکوی.

په صحیح بخاری اومسلم کی دحضرت ابوهریره ﷺ ښخه روایت دی چی یوسړی دنبی کریم ﷺ ښخه پوښتنه وکړه چی کومه صدقه دټولو ښخه زیات اجر اوثواب لری، نبی کریم ﷺ وفرمایل چی په داسی وخت کی دالله ﷻ په لاره کی خرخ کول کله چی انسان تندرست وی او دخپلو آئنده ضرورتونو ترمخه دا بیره یی هم وی چی که مال خرخ کړم نو هسی نه چی بیا محتاجه سم اووي فرمایل چی دمال خرخ کول تر هغه وخته پوری مه پریږدی چی روح ستاسی حلق ته راسی اومړه کیږی، نو هغه وخت ووایاست چی دومره مال فلانی ته ورکی او دومره فلانی ته او دومره په فلانی کارکی خرخ کی.

فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلَا أَخَّرْتَنِي إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ : حضرت ابن عباس ﷺ ددی آیت په تفسیرکی فرمایی چی دکوم سړی په ذمه زکوة واجب وو او ادا یی نه کی یاحج فرض وو او ادایی نه کی، هغه به دمرګ دلیدوپه وخت کی الله ﷻ ته ددی تمنا کوی چی زه بیا دنیاته واپس سم یعنی په مرګ کی راته ښه مهلت حاصل سی چی زه صدقه اوخیرات وکوم اودفرضو ښخه خپله غاړه خلاصه کړم أَكُن مِّنَ الصَّالِحِينَ، یعنی دمرګ په وخت کی به دا تمنا کوی چی ښه مهلت راته حاصل سی نوداسی عملونه به وکړم چی په صالحانوکی به داخل سم یعنی کوم فرائض او واجبات چی راښخه پاته دی هغه را وګرځوم، کوم حرام اومکروه چی می کړی دی دهغه ښخه توبه وباسم، لیکن الله ﷻ په راتلونکی آیت کی دا وفرمایل چی دمرګ راتلو ښخه وروسته چا ته مهلت نه ورکول کیږی، دا تمناګانی خطا اوفضول دی.

تمت: بحمد الله سورة المنافقون قبل صلوة الجمعة لثالث عشر من جمادی الثانیة ۱۳۹۱ھ

﴿سورة التغابن﴾

سُوْرَةُ التَّغَابُنِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ ثَمَانِيَ عَشْرَةَ آيَةً وَفِيهَا رُكُوعَانِ

سورة تغابن په مدینه کی نازل سو په دی کی اتلس (۱۸) آیتونه او دوې (۲) رکوع ګانی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی.

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ لَهُ الْمُلْكُ

پاکی وایی دالله ښه چی دی په آسمانونو کی اوښه چی دی په مځکه کی دهغه حکومت دی او هغه لره

وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ① هُوَ الَّذِىْ خَلَقَكُمْ

ثنا ده ، او هغه هرڅه کولی سی ، هغه دی چا چی تاسی پیدا کړاست

فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ ۚ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ②

نو ځینی په تاسی کی منکر دی او ځینی په تاسی ایماندار ؛ او الله څه چی تاسی کوی وینی ،

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ وَصَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ ۚ

پیدا کړی یی دی آسمانونه او ځمکه په تدبیر سره او صورتونه یی درکړل تاسی ته ، بیا یی ښه جوړ

وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ③ يَعْلَمُ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَيَعْلَمُ

کړل ستاسی صورتونه ، او هغه ته دئ تولو رجوع ده ، پیژنی هغه چی په آسمانونو کی دی او په ځمکه کی او پیژنی

مَا تُسِرُّوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ ۚ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ ۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ④

څه چی تاسی پټوی او څه چی ښکاره کوی ، او الله ﷻ پوه دی په خبرو دزړونو ،

اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ ۫ فَذَاقُوْا وَبَالَ

آیا نه دی رسیدلی تاسی ته خبر دهغو خلقو چی کافران وه مخکی ، نو دوی وڅکله سزا

اَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ⑤ ذٰلِكَ بِاَنَّهٗ كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ

دخپل کار او دوی لره عذاب دی دردناک ، دا ځکه چی راغلی وو دوی ته رسولان د دوی

رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَقَالُوْٓا اَبَشَرٌ يَّهْدُوْنَنَا ۫ فَكَفَرُوْا وَتَوَلَّوْا

په ښکاره نښانو سره نو دوی وویل آیا انسان مونږ ته لار ښیی ؟ نو منکر سول او مخ یی واړوی

وَّاسْتَغْنَى اللّٰهُ ۗ وَاللّٰهُ غَنِىٌّ حَمِيْدٌ ⑥ زَعَمَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ

او الله ﷻ بی پرواهی وکړه ، او الله بی پرواه ستایل سوی دی ، دعوی کوی منکران چی

لَّنْ يُّبْعَثُوْا ۚ قُلْ بَلٰى وَرَبِّىْ لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ۗ

دوی به هیڅوک پورته نه کړی ته وواېه ولی نه او قسم دی په رب زما چی خامخا به تاسی پورته کړل سی بیا به

وَذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ﴿٧﴾ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالنُّوْرِ الَّذِيْٓ

خبر کړل سی په هغه چی تاسی کړی دی او دا الله ﷻ ته اسان دی، نو ایمان راوړی په الله او په رسول دهغه او په هغه

اَنْزَلْنَا ۚ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿٨﴾ يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ الْجَمْعِ

نورکوم چی مونږ نازل کی او الله ﷻ ستاسی دتولو کارونو څخه خبردار دی په کومه ورځ چی تاسی جمع کړی دجمع کیدو په ورځ

ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ ۗ وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُّكَفِّرْ

دغه ورځ ده دګټلو بایللو، او څوک چی یقین وکړی په الله او نیک عمل وکړی لیری به کړی دده

عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

څخه بدی او داخل به کړی دی باغونو ته چی بهیږي به لاندی دهغو څخه نهرونه

خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۗ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿٩﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

همیشه به وی په هغه کی همیشه، دا ده لویه کامیابی، او کوم خلق چی منکر سول

وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۗ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿١٠﴾ ع

او درواغجن یی کړل آیتونه زمونږ دغه دوږخیان دی اوسی به په هغه کی همیشه، او بدځای دی دورتلو.

لنډتفسیر: ټول شیان کوم چی په آسمانونو کی دی او کوم چی په مځکه کی دی، دالله ﷻ پاکی (قالاًیا حالاً) بیانوی دهغه حکومت دی او هغه دثنا لائق دی او هغه په هرشی قادر دی (دا تمهید دراتلونکی بیان دی چی هغه په داسی کمالی صفتونو سره متصف دی نو دهغه اطاعت واجب او معصیت قبیح دی) هغه دی چاچی تاسی پیدا کړاست (ددی مقتضی دا وه چی ټول ایمان راوړی) نو (سره ددی هم) په تاسی کی ځینی کافران دی او ځینی مومنان دی، الله ﷻ ستاسی عملونه (دایمان اوکفر) وینی (بس دهریوه به مناسبه جزا درکړی) هغه آسمانونه او مځکی په صحیح طور (یعنی پُر حکمت او پُر منفعت) پیدا کړل او ستاسی صورتونه یی جوړ کړل، نو ښکلی صورتونه یی جوړ کړل (ځکه چی دانسان داندامونو په شان دبل حیوان په اندامونو کی تناسب نسته) او هغه ته (دټولو) واپسی ده (او) هغه ټول شیان پیژنی کوم چی په آسمانونو کی دی او په مځکه کی دی او ټول شیان پیژنی کوم چی تاسی پټ کوی او کوم چی په ښکاره یی کوی او الله ﷻ دزړونو په خبرو پوه دی (او دا ټول کارونه مقتضی ددی دی چی تاسی دهغه اطاعت کوی او علاوه ددغو مقتضیانو څخه) آیا تاسی ته دهغو خلګو خبر نه دی رسیدلی (چی دغه خبر هم

مقتضی دوجوب داطاعت دی) کومو چی (ستاسی څخه) مخکی کفر وکی ، بیاهغوی دخپلو (دغو) عملونو وبال (په دنیاکی هم) وڅکی او (ددی څخه علاوه په اخرت کی هم) دهغوی دپاره دردناك عذاب کیدونکی دی دا (وبال ددنیا اوعذاب داخرت) په دی سبب سره دی چی هغو خلګو ته دهغوی پیغمبرانو واضح دلیلونه راوړی وه ، نوهغو خلګو (دهغه رسولانو په نسبت) وویل چی آیا انسان به مونږ ته هدایت کوی؟ (یعنی بشر کله پیغمبر یاهادی کیدی سی) غرض هغوی کفر وکی اوخدای (هم دهغوی څه) پرواه ونه کړه (بلکه قهر یی پر وکی) اوالله ﷻ (دتولو څخه) بی نیاز (او) ستایل سوی په صفات دی (ده ته نه دچا په معصیت سره ضرر اونه دچاپه طاعت سره نفع رسیږی، په خپله دمطیع او عاصی نفع اوضرر دی او) دا کافران (چی مضمون دعذاب دآخرت واوری لکه چی په لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ : کی ذکر دی) دا دعوی کوی چی هغوی به هیڅکله دوباره بیا ژوندی نه سی (دکوم څخه وروسته چی دعذاب الیم وقوع ښوول کیږی) ته ووایه چی ولی نه ، په خدای قسم دوباره به ژوندی سی ، بیاچی څه تاسی کړی دی ، تاسی تولو ته به وښوول سی (اوپه دی به سزا درکول سی) اودا (بیاپورته کیدل اوجزا) الله ﷻ ته (په وجه دکمال قدرت) بالکل آسانه ده نو (کله چی دا مقتضیات دایمان مجتمع دی نو تاسی ته په کار دی چی) تاسی په الله او دهغه په رسول او په هغه نور (یعنی په قرآن) کوم چی مونږ نازل کړی دی ایمان راوړی اوالله ﷻ ستاسی دتولو عملونو پوره خبرلری (اوهغه ورځ یاده کی) په کومه ورځ چی به تاسی تول دهغه جمع کیدوپه ورځ جمع سی ، دا ورځ ده دسود او دزیان (دظاهریدو ، یعنی دمسلمانانو دنفع او دکافرانو دنقصان ظهور به په دغه ورځ حاصل سی) او (بیان دهغه دا دی چی) کوم سړی په الله ﷻ ایمان راوړی وی او نیك عمل یی کړی وی الله ﷻ به دهغه ګناه لیری کړی او هغه به دی (دجنت) داسی باغونو ته دا خل کړی چی لاندی به ورڅخه نهرونه جاری وی په کوموکی چی به دهمیشه همیشه دپاره اوسیږی (او) دالویه کامیابی ده اوکومو خلګو چی کفر کړی وی او زمونږ آیتونه یی دروغ کړی وی دا خلګ دوږخیان دی په دی کی به همیشه اوسیږی او دا ناکاره ځای دی.

معلومات اومسئلي : خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَمِنْكُمْ مُؤْمِنٌ : یعنی الله ﷻ تاسی پیدا کړاست بیاپه تاسی کی ځینی کافران سول ، ځینی مومنان پاته سول ، په دی کی په لفظ دفَمِنْكُمْ کی حرف دفا کوم چی په تعقیب (یعنی دیوشی څخه په وروستو کیدو) دلالت کوی ددی څخه معلومه سوه چی په اول تخلیق اوپیدا کیدو کی یوهم کافر نه وو ، دا دکافر اومومن تقسیم وروسته ددی دکسب اواختیار په وجه په دی ثواب اوګناه عائد کیږی دیوحدیث څخه هم ددی مطلب تائید کیږی په کوم کی چی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی كُلُّ مَوْلُوْدٍ يُوْلَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْ يُنَصِّرَانِهِ : الحدیث ، یعنی هر پیدا کیدونکی انسان په فطرت سلیمه پیدا کیږی (چی تقاضایی مومن کیدل دی) مګر بیا دده مور او پلار دی یهودی یانصرانی اونور جوړ وی (قرطبی)

دوي قومي نظريه : قرآن حکیم دلته انسانان په دوه ډلو کی تقسیم کړی دی ، کافر او مومن دکوم څخه چی معلومه سوه چی دادم ﷺ اولاد توله یوه برداری ده او ددنیا تول انسانان ددی برادری افراد دی ، ددی

برادري قطع کوونکی اوځان ته ډله جوړونکی شی صرف کفر دی ، کوم سړی چی کافر سو ده دانسانی برادری تعلق پریکی دغه شان په ټوله دنیاکی دانسانانو پارټی اوګروپ بندی صرف دایمان اوکفر په بنا کیدی سی ، درنګ اوژبه ، نسب اوخاندان ، وطن اوملك څخه هیڅ شی داسی نه دی کوم چی انسانی برادری په مختلفی ډلوکی تقسیم کړی ، دیو پلار اولاد که په مختلفو ښارونوکی اوسیږی یامختلفی ژبی وایی یاددوی په رنګ کی تفاوت وی نوهغه جلاجلاډلی نه سی کیدی داختلاف درنګ اوژبی او وطن اوملك باوجودداټول په خپل مینځ کی وروڼه وی یوپوهه انسان دوی ته مختلفی ډلی نه سی ویلی .
دجاهلیت په زمانه کی دنسب اوقبیلو تفریق دقومیت او د ډله بندی بنیاد جوړ سوی وو ، دغه شان دملك او قوم په بنیاد څه ډله بندی سوی وی ، نبی کریم ﷺ داټول بتان مات کړل اومسلمان برابره خبره ده که دکوم ملك اوکوم ځای وی ، دکوم رنګ اوخاندان وی هره ژبه چی وایی ددی ټولو یی یوه برادری جوړه کړه ، په نص دقرآن سره ، اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ (مومنان ټول په خپل مینځ کی وروڼه دی) دغه شان کفار دهر ملك اوقوم چی وی ، هغه داسلام په نظرکی یو ملت دی ، یعنی یوقوم دی .
دقرآن کریم ذکر سوی آیت هم په دی شاهد دی ، چی الله ﷻ ټول بنی آدم صرف مومن اوکافر دوو ډلوکی تقسیم کړل ، اختلاف درنګ او ژبی قرآن کریم دالله ﷻ دقدرت کامله نښی او دانسان دپاره په ډیرو معاشی فائدومشتمل کیدو پربنا یوعظیم نعمت خو مقرر کړی دی ، مګر دا یی په بنیادم کی دډله بندی دذریعی جوړولو اجازت نه دی ورکړی .
اودایمان اوکفر په بنا د دوو قومونو تقسم دا په یو اختیاری امر مبنی دی ځکه چی ایمان هم اختیاری امر دی اوکفر هم ،که یو سړی یو قومیت پریږدی په بل کی شاملیدل غواړی نو په ډیره آسانی سره خپلی عقیدی بدلول کیږی او په بل کی شاملیدی سی ، په خلاف ددی چی نسب بدل کړی یارنګ بدل کړی ژبه او وطن که څه هم بدلولی سی ، مګر دژبی او وطن په بنیاد جوړ سوی قومونه نورو ته عادتًا په خپل ځان کی جذب کولو ته هیڅکله نه تیاریږی ، برابره خبره ده که دهغوی ژبه وایی او دهغوی په وطن کی آبادسی دا هغه اسلامی برادری اوایمانی اخوت وو کوم چی په لږ زمانه کی دمشرق اومغرب ، شمال اوجنوب، تور اوسپین دعربو اوعجمو بی شمیره افراد په یوه تارکی پییللی وه ، دکومو دطاقت اوقوت مقابله چی ددنیا قومونو نه سوه کولی ، نو هغوی بیادغه بتان ژوندی کړل ، کوم چی نبی کریم ﷺ اواسلام ټوټی ټوټی وو ، دمسلمانانو عظیم ترین ملت واحده یی دملك وطن او ژبی او رنګ اونسب اوخاندان په مختلفو ټکړو کی تقسیم کی ، دیو بل سره یی وجنګول ، دغه شان داسلام ددښمنانو دیلغار دپاره میدان صفاسو چی نتیجه یی نن په سترګولیدل کیږی چی دمشرق اومغرب مسلمانان کوم چی یوقوم یوزړه وو ، اوس په ورو ورو ډلو کی پاته سول او دیو بل سره په جنګ دی او د دوی په مقابله کی دکفر طاغوتی قوتونه په خپل مینځ کی داختلاف لرلو باوجود دمسلمانانوپه مقابله کی ملت واحده معلومیږی .

وَصَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ : هغه ستاسی صورتونه جوړکړل بیایی ستاسی صورتونه ښه جوړکړل ، صورت

گرى په حقيقت كى دخالق كائنات مخصوص صفت دى ، په دى وجه په الهى اسماووكى دالله ﷻ نوم مصوّر راغلى دى او چى فكر وسى نو په كائناتوكى چى څومره مختلف اجناس دى او په هر جنس كى څومره مختلف انواع دى ، په هرنوع كى مختلف اصناف او په هرصنف كى په لكونو كروړونو مختلف افراد پيدا كيږى ، ديوه صورت دبل سره نه لګيږي ، په يو نوع انسانى كى دملكونو اوخايونو په اختلاف سره دنسلونو اوقومونو په اختلاف سره په شكل اوصورت كى ښكاره امتيازات ، بيا په دوى كى دهرفرد شكل اوصورت دنورو ټولو څخه ممتاز كيدل ، يو داسى حيرت انګيز صنعت اوصورت ګرى ده چى عقل حيران پاته سى ، انسانى مخ كوم چى دشپږ يا اوو مربع انچ څخه زيات نه دى، په اربونو او پدمونو انسانانو ديوشان څيرو كيدو باوجود ديوه صورت بالكليه دبل سره نه لګيږي چى پيژندل يى ګران سى ، په ذكر سوى آيت كى يو نعمت دصورت ګرى دى ، ددى ذكر يى وفرمايى او ددى څخه وروسته يى وفرمايل ، فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ: يعنى دانسان شكل مونږ دټولو مخلوقاتو اوكائناتو په صورتونو كى زيات حسين اوبهتر جوړكړى دى ، يو انسان په خپل جماعت كى كه هرڅومره بد شكله اوبد صورت ګڼل كيږى مګر دباقى ټولو حيواناتو دشكلونو په اعتبارسره داهم حسين دى . فَتَبَارَكَ اللّٰهُ اَحْسَنَ الْخَالِقِيْنَ.

فَقَالُوا أَبَشَرٌ يَهْدُونَنَا: لفظ دبشر كه څه هم مفرد دى مګر په معنٰى كى جمع دى په دى وجه يَهْدُوْنَ دجمع لفظ يى ددى دپاره استعمال وفرمايى ، بشريت دنبوت اورسالت منافى ګڼل دټولو كفارو باطل خيال ؤو، په كوم چى په قرآن كريم كى ځاى په ځاى رد سوى دى ، افسوس دى چى اوس په مسلمانانو كى هم ځينى خلګ دنبى كريم ﷺ دبشريت څخه منكر پيدا كيدى سى ، دوى ته سوچ كول په كار دى چى دوى كوم طرف ته روان دى بشركيدل نه دنبوت منافى دى نه درسالت دلوړ مقام منافى دى اونه درسول دنور كيدو منافى دى دا نورهم دى بشرهم، د دوى نور دچراغ، لمر، او سپوږمۍ پرنور باندى قياس كول غلطى ده .

فَآمِنُوا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ وَالنُّوْرِ الَّذِيْ أَنْزَلْنَا: نو ايمان راوړى په الله او دهغه په رسول او په هغه نوركوم چى مونږ نازل كړى دى ، دنور څخه مراد دلته قرآن دى ځكه چى دنورحقيقت دا دى چى هغه په خپله هم ظاهر او روښانه وى او نور شيان هم ظاهر او روښانه كوى ، دقرآن دخپل اعجاز په وجه په خپله روښانه كيدل او ظاهريدل ښكاره خبره ده ، او ددى په ذريعه دالله ﷻ دراضى كيدو او ناراضه كيدو اسباب ، احكام او شرائع اوټول حقيقتونه دعالم اخرت دكومو دپيژندو چى انسان ته ضرورت دى هغه روښانه كيږى .

(قيامت ديوم تغابن ويلو وجه)

يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ الْجَمْعِ ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ: په كومه ورځ چى تاسى الله ﷻ جمع كى دجمع كولو په ورځ هغه ورځ به وى دتغابن يعنى دخسارى، يَوْمُ الْجَمْعِ اويَوْمُ التَّغَابُنِ: دواړه دقيامت نومونه دى ، يَوْم الجمع كيدل خو ددغى ورځى ظاهر دى چى ټول مخلوق اول او اخرين به په دغه ورځ دحساب كتاب، جزا او سزا دپاره جمع كيږى اويوم التغابن ځكه چى تغابن دغبن څخه مشتق دى چى معنٰى يى خساره اونقصان دى ، مالى نقصان اوخسارى ته هم غبن ويل كيږي او درايى اوعقل نقصان ته هم ، امام راغب اصفهانى رحمه الله

په مفردات القرآن کی فرمایی چی دمالی خساری دپاره دالفظ په صیغه دمجهول ، غُبِنَ فُلَانٌ فَهُوَ مَغْبُوْنٌ استعمالیږی او دعقل درایی اونقصان دپاره دباب سمع څخه غَبِنَ استعمالیږی ، لفظ دتغابن داصل په اعتبار سره د دوه طرفه کار دپاره ویل کیږي چی یوسړی بل ته اوبل ده ته نقصان ورسوی اویا دده نقصان اوخساره ظاهره کړی، دلته مراد یك طرفه اظهارِغبن دی لکه چی یك طرفه استعمال هم ددی لفظ معروف اومشهور دی قیامت ته دیوم التغابن ویلو وجه دا ده چی په صحیح احادیثوکی دی چی الله ﷻ دهر انسان دپاره په اخرت کی دوه کورونه پیدا کړی دی ، یو په جهنم کی بل په جنت کی ، جنتیانو ته به جنت ته دداخلولو څخه مخکی د دوی هغه مقام هم وښوول سی ، کوم چی دایمان اوعمل نه کیدو په صورت کی دده دپاره مقرر وو چی ددی دلیدو څخه وروسته دجنت دمقام زیات قدر دده په زړه کی پیداسی او دالله ﷻ زیات شکر گذارسی ، دغه شان به جهنمیانو ته په جهنم کی دداخلیدوڅخه اول ده ته دجنت هغه مقام وښوول سی کوم چی دایمان اوعمل صالح په صورت کی دده دپاره مقررو چی ده ته نور زیات حسرت پیداسی ، په دی روایتونوکی دا هم ده چی بیاپه جنت کی چی کوم مقامات د دوږخیانو وو، هغه به هم جنتیانو ته حاصلیږي او په جهنم کی چی کوم مقامات دجنتیانو وه هغه به هم ددوږخیانو په حصه کی راسی دحدیث دا روایتونه په صحیحینو او دحدیثو په نورو کتابونو کی په مختلفو الفاظو سره په تفصیل سره راغلی دی ، دغه وخت چی دکافرانو او فاجرانو جنتی مقامات هم دجنتیانو په قبضه کی راسی ، نو دوی ته به دخپل غبن اوخساری احساس وسی چی څه مو پریښوول او څه مو پیدا کړل .

په صحیح مسلم اوترمذی اونورو کی دحضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی ، چی نبی کریم ﷺ دصحابه کرامو رضی الله عنهم څخه پوښتنه وکړه چی تاسی پوه یاست چی مفلس کوم سړی دی؟ اصحابو رضی الله عنهم عرض وکی چی دکوم سړی سره مال او متاع نه وی هغه مفلس گڼل کیږی ، دوی وفرمایل چی زما دامت مفلس هغه څوك دی کوم چی قیامت ته دخپلو نیکو عملونو لمونځ روژی زکوٰة او نورو ذخیره راوړی مگر حال دا وی چی ده په دنیاکی چاته ښکنځل کړی وی ، په چایی بهتان لگولی وی څوك یی وهلی یاقتل کړی وی دچایی مال په ناحقه اخستی وی (نو دا ټول به جمع وی او دخپلو حقونو مطالبه به کوی) څوك به دده لمونځ واخلی ، څوك روژه ، څوك زکوٰة او نوری نیکی اوکله چی دده نیکی ختمیږی نو دمظلومانو گناه به په دی ظالم واچول سی ، بدله به ورڅخه واخستل سی چی انجام به یی دا وی چی دی به جهنم ته واچول سی او په صحیح بخاری کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دکوم سړی په ذمه دچاڅه حق وی ده ته په کار دی چی په دنیاکی یی ادا یامعاف کړی اوغاړه خلاصه کړی ، ورنه دقیامت په ورځ به روپی پیسی خو نه وی چی مطالبه به یی وسی ده ته به ددغه سړی نیك عملونه ورکول کیږی ، بدله به یی خلاصیږی ، چی نیك عملونه ختم سی نو په قدر دحق به دمظلوم گناه په ده غورځول کیږی (مظهری)

حضرت ابن عباس رضی الله عنه او دتفسیر نور امامان قیامت ته دیوم التغابن ویلو دا وجه بیان کړي ده ، اوډیر امامان دتفسیر فرمایی چی په دغه ورځ به دغبن اوخساری احساس صرف کافرانو اوفاجرانو اوبدبختانو ته نه وی ، بلکه صالحانو مومنانو ته به هم داسی وی چی کاشکی! مونږ نور زیات عمل کړی وای چی دجنت زیاتی درجی موحاصلی کړی وای په دغه ورځ به هرسړی ته دخپل عمر په وختونو باندی

حسرت وي کوم چي يي فضول ضائع کړي وي لکه چي په حديث کی دی .

مَنْ جَلَسَ مَجْلِسًا لَمْ يَذْكُرِ اللهَ فِيْهِ كَانَ عَلَيْهِ حَسْرَةً يَوْمَ الْقِيٰمَةِ .

څوك چي په يو مجلس کی کښينستي او په ټول مجلس کی دالله ﷻ ذکر ونه سو نو دا مجلس به دقيامت په ورځ دده دپاره حسرت سی ، په قرطبی کی دی چي هرمومن به هم په دغه ورځ په نيك عمل کی په خپلی کوتاهي دخپل غبن اوخساري احساس کوی ، دقيامت دورځي نوم يوم التغابن اېښوول داسی دی لکه چي په سورة مريم کی ددی نوم يوم الحسرة راغلی دی ، وَاَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ اِذْ قُضِيَ الْاَمْرُ . په روح المعانی کی يي ددی آيت تفسير داليکلی دی چي په دغه ورځ به ظالمان او بد عمله خلک په خپلو تقصيراتو باندی حسرت کوی اومومنان صالحان به هم کومو چي په نيك عمل کی کوتاهي کړي ده په دی به دهغوی حسرت وي دغه شان دقيامت په ورځ به ټول په خپله خپله کوتاهي نادم اودعمل په کمی به دغبن اوخساري احساس کوی ، په دی وجه دی ته يوم التغابن وويل سوه .

مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ

نه رسېږي څه تکليف بغير دحکم دالله څخه ، اوڅوك

يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ يَهْدِ قَلْبَهٗ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ⑪ وَاَطِيْعُوا

چي يقين وکړی په الله هغه لاربښيي دده زړه ته ، او الله ﷻ ته هرڅه معلوم دی ، او حکم منی

اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاِنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ

دالله او حکم منی درسول ، نو که تاسی مخ واړوی نو زمونږ په رسول باندی خو ښکاره رسول دی

الْمُبِيْنُ ⑫ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ⑬

، الله دهغه څخه ما سوا بل معبود نسته ، او په الله توکل په کار دی ايماندارو لره ،

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ وَاَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ

ای ايماندارو ، ځيني ستاسی دښځو څخه او اولاد څخه دښمنان دی ستاسی

فَاحْذَرُوْهُمْ ۚ وَاِنْ تَعْفُوْا وَتَصْفَحُوْا وَتَغْفِرُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

نو د دوی څخه ځان ساتی او که معاف کړی او درګذروکړی او بخښنه وکړی ، نو الله بخښنی والا

رَّحِيۡمٌ ﴿۱۴﴾ اِنَّمَاۤ اَمۡوَالُكُمۡ وَاَوۡلَادُكُمۡ فِتۡنَةٌ ؕ وَاللّٰهُ عِنۡدَهٗۤ اَجۡرٌ

مهربانه دی ، بیشکه ستاسی مالونه اوستاسی اولاد ازمائش دی ، او دالله سره دی لوی ثواب

عَظِيۡمٌ ﴿۱۵﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسۡتَطَعۡتُمۡ وَاسۡمَعُوۡا وَاَطِيۡعُوۡا وَاَنۡفِقُوۡا

، نو وبیریږئ دالله څخه څومره چې ستاسی طاقت وی ، او واورئ او خبره ومنئ اوخرڅ وکړئ

خَيۡرًا لِّاَنۡفُسِكُمۡ ؕ وَمَنۡ يُّوۡقَ شُحَّ نَفۡسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡمُفۡلِحُوۡنَ ﴿۱۶﴾

ښه دی ستاسی دپاره او چا چې وساتل دلالچ څخه خپل ځان نو دغه خلق دی مراد ته رسیدونکی

اِنۡ تُقۡرِضُوا اللّٰهَ قَرۡضًا حَسَنًا يُّضٰعِفۡهُ لَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ؕ وَاللّٰهُ

او که قرض ورکړئ الله ته ښه قرض هغه به دوچنده کړی تاسی ته او وبه بخښی تاسی او الله

شَكُوۡرٌ حَلِيۡمٌ ﴿۱۷﴾ عٰلِمُ الۡغَيۡبِ وَالشَّهَادَةِ الۡعَزِيۡزُ الۡحَكِيۡمُ ﴿۱۸﴾ ع

قدردان دی تحمل والا ، پوهه په پټو او په ښکاره زبردست دی حکمت والا .

لنډتفسیر: (خنګه چې کفر دآخرت دفلاح څخه کلیتًا مانع دی ، دغه شان په مال او اولاد ښخو او نور کې مشغولیدل دخدای په احکامو کې کوتاهی کول هم په یوه درجه کې دآخرت دفلاح څخه مانع دی ، په دې وجه په مصیبت کې خو دا ګڼل په کار دی چې) هیڅ مصیبت بغیر دخدای دحکمه نه راځي (اوچې داسی وګڼي نو صبر او رضا اختیارول په کار دی) اوکوم سړی چې په الله ﷻ (پوره) ایمان لری ، الله ﷻ دهغه زړه ته (دصبر اورضا) لارښیی اوالله ﷻ هرشی ښه پیژنی (چې چا صبر اختیار کی اوچا اختیار نه کی او هر یوه ته دحکمت مطابق جزا اوسزا ورکوی) (لنډه خبره دا ده چې په هر کار کې په کوم کې چې مصیبتونه هم دا خل دی) دالله ﷻ خبره منی او درسول خبره منی اوکه تاسی (داطاعت څخه) اعراض وکی نو (یادساتی چې) زمونږ درسول په ذمه صرف صفا صفا رسول دی (کوم چې هغه په ښه طریقه سره کړی دی په دی وجه دهغه هیڅ ضرر نسته ، ستاسی ضرر به وی اوچې کله الله ﷻ ته خو دضرر رسیدو احتمال نسته ، په دی وجه یې دلته دا بیان نه کی اوتاسی خلګو لره اوخصوصًا اهل مصیبت لره داسی ګڼل په کار دی چې) دالله ﷻ څخه ماسوا بل معبود (دجوړیدو قابل) نسته اومسلمانانو ته هم په الله ﷻ باندی (په مصیبتونو او نورو کې) توکل ساتل په کار دی ، ای ایمان والاوو (لکه چې په مصیبت کې تاسی ته دصبر او رضا حکم سوی دی ، دغه شان دنعمت په باره کې تاسی ته دنه مشغولیدو حکم کول کیږی ، نو دنعمت په باره کې داسی ګڼل په کار دی چې) ستاسی ځینې بیبیانی او اولاد ستاسی (ددین) دښمنان دی

(کله چې هغوی دخپلې دنیوی نفعې دپاره تاسې ته دداسې خبرې حکم کوی کوم چې ستاسې داخرت دپاره مضروی) نو تاسې د دوی څخه (یعنې دداسې څخه) هوښیار اوسیږی (اوددوی په داسې امرعمل مه کوی) او (که تاسې لره په داسې فرمائشونو باندې غصه درځی اوپه دوی سختی کوی اوهغوی دغه وخت معذرت اوتوبه وکی او) تاسی (دغه وخت دهغوی دغه خطا) معاف کی (یعنې سزا مه ورکوی) او درګذر کوی (یعنې زیات یې مه ملامت کوی) اوبخښنه کوی (یعنې په زړه اوپه ژبه سره یې هیرکی) نوالله ﷻ (ستاسې دګناهونو) بخښنې والا (او ستاسې په حال) رحم کوونکی دی (په دې کې ترغیب دی دعفوی او دا ښینې وخت واجب ده ، کله چې په سزاسره غالب احتمال دبی باکی وی اوښینې وخت مستحب ده ، مخ ته د اولاد سره دمال په حقله همدا قسمه مضمون دی چې) ستاسې مالونه او اولاد بس ستاسې دپاره دیو ازمائش شی دی (چې وګورو چې څوك په دې کې مشغولیږی دخدای احکام هیروی اوڅوك یې یادساتی) او (څوك چې په دې مشغول سې الله یادساتی نو) دالله ﷻ سره (دده دپاره) لوی اجر دی نو (دا تولې خبرې واوری) ترځو پوری چې ستاسې څخه کیدی سی ، دالله ﷻ څخه بیره کوی او (دهغه احکام) اوری اومنی او (بالخصوص دحکم په موقعوکی) خرڅ (هم) کوی دا به ستاسې دپاره ښه وی (غالبًا ددې تخصیص څکه دی چې دا په نفس باندی زیات ګران دی) اوکوم سړی چې دنفس دحرص څخه محفوظ سوداسې خلګ (په اخرت کی) مراد موندونکی دی (مځکې ددې دبهتروالی اوموجب دفلاح کیدو بیان دی چې) که تاسې الله ﷻ ته په ښه شان (په اخلاص سره) قرض ورکی نو هغه به دا ستاسې دپاره زیاتوی اوستاسې ګناهونه به وبخښی اوالله ﷻ لوی قدردان دی (چې نیك عمل قبلوی) اولوی بردباره دی (چې دګناه په کار باندې فی الفور مواخذه نه فرمایی او) پټ اوظاهر (عملونه) پیژنی (او) زبردست دی (او) حکمت والا دی (دشَکُوْرٌ څخه تر حَکِیْمٌ پوری دټولو مضامینو دسورة دپاره په منزله دعلت دی چې ټول مضامین په دغو مرتب او متفرع کیدی سی)

معلومات اومسئلی : مَا أَصَابَ مِنْ مُصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ وَمَنْ يُؤْمِنْ بِاللَّهِ يَهْدِ قَلْبَهُ : یعنی چاته څه مصیبت دالله ﷻ داذن څخه بغیر نه رسیږی او څوك چې په الله ﷻ ایمان راوړی الله ﷻ دهغه زړه ته هدایت فرمایی ، مطلب دا دی چې دا امر خو په خپل ځای یو یقینی حقیقت دی چې دالله ﷻ داذن اومشیت څخه بغیر هیڅکله هیڅ ځای یوه ذره هم نه سی ښوریدی ، دالله ﷻ داذن څخه بغیر نه څوك چاته څه نقصان اوتکلیف رسولی سی ، نه نفع او راحت ، مګر دکوم سړی چې په الله ﷻ او دهغه په تقدیر ایمان نه وی ، دمصیبت په وخت کی دهغه دپاره دقرار اوسکون څه سامان نه وی ، هغه دمصیبت دلیری کیدو دپاره لاس اوپښی وهی په خلاف دمومن څخه دکم چې په تقدیر الهی ایمان دی، الله ﷻ دده زړه په دې مطمئن کوی چې څه وسوه دالله ﷻ په اذن او مشیت سره وسوه اوکوم مصیبت چې ماته ورسیدی هغه رسیدونکی وو ، داهیڅانه سوای منع کولی اودکوم مصیبت څخه چې راته نجات حاصل سو دهغه څخه نجات حاصلیدونکی وو ، دهیڅا مجال نسته چې دا مصیبت په ما وغورځوی ، ددې ایمان اواعتقادپه نتیجه کی ده ته داخرت دثواب وعده هم په مځکې وی په کومې سره چې ددنیا دلوی څخه لوی مصیبت اسانیږی .

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ وَأَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَكُمْ فَاحْذَرُوهُمْ: يعني اى مسلمانانو! ستاسي ځيني بيبياني او اولاد ستاسي دښمنان دي، ددوی دشر څخه ځان ساتي.

ترمذي اوحاكم اونور په صحيح سندسره دحضرت ابن عباس ﷺ څخه نقل کړي دي چي دا آيت دهغو مسلمانانو په باره کي نازل سوی دی کوم چي دمديني منوري دهجرت څخه وروسته په مکه مکرمه کي په اسلام کي داخل سوي وه او اراده یي وکړه چي هجرت وکي، دنبی کریم ﷺ په خدمت کي حاضرسی، مګر د دوی اهل او عيال دوی پری نښول چي هجرت وکي ولاړ سي «روح»

«او دا زمانه هغه وه چي دمکی څخه هجرت کول په هرمسلمان فرض وو» دقرآن کريم په ذکرسوی آيت کي داسي ښځو اواولادته يي دانسان دښمن وويل او د دوی دشر څخه يي دځان ساتلو تاکيد وکی ځکه چي ددی څخه لوی دښمن دانسان څوك كيدی سی کوم چي دی دهميشه هميشه عذاب او دجهنم په اور کی مبتلا کړی.

او دحضرت عطاء بن ابی رباح روايت دا دی چي دا آيت دعوف بن مالك شجعي په باره کي نازل سو دکوم چي دا واقعه وه چي دی په مدينه کي موجود وو اوکله چي به دجهاد اوغزا موقع راتله نوجهاد ته به يي دتللو اراده کوله، مګر دده ښځي اوبچوبه فرياد کوی چي ته ځي نو مونږ چاته پرېږدې ده به دهغوی فرياد او ريدی اوپاته کيدی به «روح، ابن کثير»

په دی دواړورواياتونو کي تضاد نسته، دواړه دايت دنزول سبب کيدی سی، ځکه چي دالله ﷻ برابره خبره ده که هجرت وي ياجهاد، کومی ښځي اواولادچي دفرضوپه اداتيکي کي مانع وی، هغه دده دښمنان دي

وَإِنْ تَعْفُوا وَتَصْفَحُوا وَتَغْفِرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ: په تير آيت کي یی چي دکومی ښځي او بچي دښمنان مقرر کړي وه، هغوی ته چي کله په خپله دغلطي خبرداري وسو نو اراده یی وکړه چي اننده به دخپل اهل اوعيال سره دسختي اوتشدد معامله کوی، په دی باندی دايت په دی حصه کي دا ارشاد نازل سوچي که دی ښځو اوبچيانو ستاسي دپاره ددښمني په شان کار وکی چي تاسي ته دفرضو په اداکولو کي مانع سول، مګر ددی باوجود د دوی سره دتشدد اوبی رحمی معامله مه کوی، بلکه دعفو درګزر اومعافی معامله کوی، نو دا ستاسی دپاره ښه ده ځکه چی دالله ﷻ عادت هم دمغفرت او رحمت دی.

(دخپلو ګناهګارو ښځو اوبچو سره بيزاری او ورسره بغض نه دی په کار)

مسئله: علماؤ ددی آيت څخه استدلال کړی دی چي داهل اوعيال څخه که څه کار خلاف دشرع هم وسی نو د دوی څخه بيزاره کيدل او د دوی سره بغض ساتل يا د دوی دپاره ښرا کول مناسب نه دی «روح»

إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ: دفتنی معنی ابتلاء او امتحان دی، مراد دآيت دا دی چي دمال او اولاد په ذريعه الله ﷻ دانسان ازمائش کوی چي د دوی په محبت کي اخته کيږي، داحکامو اوفرائضو څخه غفلت کوی، يامحبت په خپل حد کي ساتي دخپلو فرائضو څخه نه غافله کيږي.

(مال او اولاد دانسان دپاره لويه فتنه ده)

حقيقت دا دی چي دمال او اولاد محبت دانسان دپاره لويه فتنه او ازمائش دی، انسان اکثره په ګناهونو کي خصوصًا په حرامه کمايي کي د دوی دمحبت په وجه اخته کيږي په يوحديث کي دی چي دقيامت په

ورځ به ښيني خلګ را وستل سي چي دوی ته وګوري نوخلګ به ووايي ، اَکَلَ عِيَالُهُ حَسَنَاتِه : يعني د دوی نيکی د دوی عيال وخوړی (روح)

په يو حديث کی نبی کريم ﷺ د اولاد په باره کی فرمايي مَبْخَلَةٌ مَجْبَنَةٌ : يعني دا د بخل او جبن يعني نامردی او کمزوری اسباب دی چي د دوی د محبت په وجه سړی د الله ﷻ په لاره کی د مال خرڅ کولو څخه منع کيږي د دوی د محبت په وجه په جهاد کی د شرکت نه پاته کيږي ، د ځينو سلفو صالحانو قول دی ، اَلْعِيَالُ سُوْسُ الطَّاعَاتِ يعني عيال د انسان د نيکيو د پاره چينجي دی لکه چينجي چي غله خوري دا د ده نيکی خوری

فَاتَّقُوا اللهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ : يعني تقوی اختيار کی ، څومره چي در څخه کيدی سی ، کله چي آيت ، اتَّقُوا اللهَ حَقَّ تُقَاتِه : نازل سو چي معنی يی دا ده چي د الله ﷻ څخه داسی بيره اختيار کی ، څنګه چي د الله ﷻ څخه د بيری حق دی نو په صحابه کرامو ﷺ باندی ډيره ګرانه او سخته سوه چي د الله ﷻ د حق مطابق تقوی د چا په وس کی ده ، په دی دا آيت نازل سو کوم چي وښوول چي الله ﷻ په انسان د ده د وس او طاقت څخه زيات تکليف نه دی اچولی ، تقوی هم د خپل طاقت مطابق واجبه ده ، مطلب دا دی چي د تقوی په حاصلولو کی خيله پوره توانايي او کوشش وکی ، نو په دی سره به د الله ﷻ حق اداسی (روح المعانی ، مع الاختصار)

تمت : سُوْرَةُ التَّغَابُنِ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ

﴿ سورة الطلاق ﴾

سُوْرَةُ الطَّلَاقِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ اثْنَتَا عَشَرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الطلاق په مدينه کی نازل سو په دی کی دولس (۱۲) آيتونه او دوی (۲) رکوع ګانی دی .

شروع کوم په نوم سره د خدای ﷻ چي ډير مهربانه نهايت رحم والا دی .

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَاَحْصُوا

ای نبی ﷺ ! هر کله چي تاسی طلاق ورکوی ښځو ته نو طلاقوی يی په عده کی او شماری

الْعِدَّةَ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ رَبَّكُمْ ۚ لَا تُخْرِجُوْهُنَّ مِنْ بُيُوْتِهِنَّ وَلَا

عده ،او بيره کوی د الله څخه چي رب ستاسی دی، مه باسی دوی د کورونو د دوی څخه

يَخْرُجْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۚ وَتِلْكَ حُدُوْدُ

او دوی دی هم نه وزی مګر چي وکړی ښکاره بی حيايي او دا حدونه دی

اللّٰهِ ۚ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ۚ لَا تَدْرِیْ

ترلی سوی دالله ، او څوک چی تجاوز وکړی دحدونو دالله څخه ، نو ده ظلم وکی په خان ، ده ته خبر نسته

لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا ۝١ فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ

شاید الله پیدا کړی دطلاق څخه وروسته نوی صورت ، بیا چی هر کله ورسیږي خپلی وعدی ته

فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ فَارِقُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ وَّاَشْهِدُوْا ذَوَیْ

نو ساتی دوی د دستور موافق یا پریږدی دوی د دستور موافق اوشاهدی کوی دوه معتبر

عَدْلٍ مِّنْكُمْ وَاَقِيْمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ ۚ ذٰلِكُمْ يُوْعَظُ بِهٖ مَنْ كَانَ

په خپلو کی او برابر اداکوی شاهدی الله دپاره ، دا تاسی دپاره دی چی وعظ پر کیږي هغه چا

يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۚ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ

ته چی یقین لری په الله او په ورځ دآخرت ، اوڅوک چی بیریږي دالله څخه هغه به وکړی دده گزاره

مَخْرَجًا ۝٢ وَّيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۚ وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ

او رزق به ورکړی ده ته دهغه ځای څخه چی دده گمان نه وی ، اوڅوک چی توکل وکړی

عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ ۚ اِنَّ اللّٰهَ بَالِغُ اَمْرِهٖ ۚ قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لِكُلِّ

په الله ﷻ نو هغه ده لره کافی دی ، بیشکه الله ﷻ پوره کوی خپل کار ، الله ﷻ مقرر کړی ده هرشی

شَیْءٍ قَدْرًا ۝٣ وَالّٰٓـِٔیْ يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيْضِ مِنْ نِّسَآئِكُمْ اِنِ

دپاره اندازه ، او کومی ښځی چی نا امیده سی دحیض څخه ستاسی په ښځو کی که

ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلٰثَةُ اَشْهُرٍ ۙ وَّالّٰٓـِٔیْ لَمْ يَحِضْنَ ۚ وَاُولَاتُ

تاسی ته شك وی نو د دوی عده ده دری میاشتی او داسی دی دکومو چی حیض نه کیږي ، او دکومو چی

الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنْ يَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ

په نس کی اولاد وی د دوی عده دا ده چی حمل یی پیدا سی ، اوڅوک چی بیره کوی دالله څخه پیدا به کی

لَهٗ مِنْ اَمْرِهٖ يُسْرًا ④ ذٰلِكَ اَمْرُ اللّٰهِ اَنْزَلَهٗۤ اِلَيْكُمْ ؕ وَمَنْ يَّتَّقِ

دده په کار کی آسانی ، دا حکم دی دالله چی نازل یی کی تاسی ته ، او څوك چی بیره کوی

اللّٰهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُعْظِمْ لَهٗۤ اَجْرًا ⑤ اَسْكِنُوْهُنَّ مِنْ

دالله څخه لیری به کړی دده څخه گناهونه دده او زیات به کړی ده لره اجر ، وسوی دوی لکه څنګه

حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِّنْ وُّجْدِكُمْ وَلَا تُضَآرُّوْهُنَّ لِتُضَيِّقُوْا

چی تاسی اوسی دخپل وس مطابق اوضرر مه رسوی دوی ته چی په تنګی راولی

عَلَيْهِنَّ ؕ وَاِنْ كُنَّ اُولَاتِ حَمْلٍ فَاَنْفِقُوْا عَلَيْهِنَّ حَتّٰى

په دوی باندی ، او که وی د دوی په نس کی بچی نو په دوی خرڅ کوی ترهغه چی

يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ فَاِنْ اَرْضَعْنَ لَكُمْ فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ ۚ وَاْتَمِرُوْا

بچی یی پیدا سی ، بیا که هغوی تی ورکوی تاسی دپاره نو ورکوی دوی ته دهغوی بدله اوامر کوی

بَيْنَكُمْ بِمَعْرُوْفٍ ۚ وَاِنْ تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهٗۤ اُخْرٰى ؕ ⑥

په خپل مینځ کی دنیکی ، او که ضد کوی په خپل مینځ نو شیدی ورکوی دهغه دپاره بله ښځه ،

لِيُنْفِقْ ذُوْ سَعَةٍ مِّنْ سَعَتِهٖ ؕ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهٗ

په کار دی چی خرڅ کوی وسعت والا دخپل وسعت موافق او دچا چی تنګ وی رزق دده ،

فَلْيُنْفِقْ مِمَّاۤ اٰتٰىهُ اللّٰهُ ؕ لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا مَاۤ اٰتٰىهَا ؕ

نو خرڅ دی کوی دهغه څخه چی ورکړی وی ورته الله ، الله په چا تکلیف نه اچوی مگر په قدر دهغه چی ور

سَيَجْعَلُ اللّٰهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُّسْرًا ⑦

لره یی ورکړی وی ، ژر ده چی پیدا به کړی الله دتنګی څخه وروسته آسانی .

تفسیر: ای پیغمبر (ﷺ ته خلګوته ووایه چی) کله تاسی (داسی) ښځوته طلاق ورکوی (دکوموسره چی خلوت سوی وی څکه چی دعدی حکم دداسی ښځوسره متعلق دی، لکه چی په نورو ایتونوکی دی، ثُمَّ

طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ) نو دوی ته (دزمانی) دعدی (یعنی حیض) څخه مخکی (یعنی په طهر کی) طلاق ورکی (اودا په صحیح احادیثو سره ثابته ده چی په دغه طهرکی صحبت نه وی سوی په کوم کی چی طلاق ورکول وی) او (دطلاق ورکولو څخه وروسته) تاسی عدی په یاد ساتی (یعنی ښځه سړی اودی دواړه یادساتی ، لیکن په خطاب کی دتخصیص دصیغی دمذکر اشاره دی طرف ته ده چی په ښځوکی غفلت غالب وی نو سړو لره هم ددی اهتمام ساتل په کار دی ، لکه چی په مدارك کی دی) او دالله ﷻ څخه بیره کوی کوم چی ستاسی رب دی (یعنی په دی بابونوکی کوم چی دهغه احکام دی ، ددی خلاف مه کوی یعنی دا چی دری طلاقه په یوځای مه ورکوی ، او دا چی په حالت دحیض کی طلاق مه ورکوی لکه چی په صحیح احادیثوکی راغلی دی او دا چی په عده کی) دا ښځی د (اوسیدو د) کورونو څخه مه باسی (ځکه چی دحق دسکونت دمطلقی په مثل دمنکوحی واجب دی) اونه دی هغه ښځی په خپله دکوره وځی (ځکه چی دا داوسیدو ځای محض دخاوند حق نه دی کوم چی ددی په رضاسره ساقط سی بلکه حق دشرع دی) مگر هاٴ کله چی ښکاره بی حیایی وکی نو بله خبره ده (یعنی مثلاً بدکاری یاغلا وکی نو دسزا دپاره دی ایستل کیږی یاپه قول دځینو عالمانو زبان درازی اوهروخت تکرار کوی نو بیا دغه وخت هم ایستل کیږی) او دا ټول دخدای مقرر کړی احکام دی اوکوم سړی چی دخدای داحکامو څخه تیری کوی (مثلاً دا ښځه یی دکوره وایستله) ده په خپل ځان ظلم وکی (یعنی گناهگار سو، مخ ته طلاق ورکوونکی ته ترغیب ورکوی چی په طلاقوکی طلاقِ رجعی ښه وی ، نو ارشاد دی چی ای طلاق ورکوونکیه!) ته څه خبر یی چی شاید الله ﷻ وروسته ددی (طلاق ورکولو) څخه څه نوی خبره (ستا په زړه کی) پیدا کړی (مثلاً په طلاق پښیمانه سی نو په طلاق رجعی کی ددی تدارك په اسانی سره کیدی سی) بیا چی کله هغه (طلاقی سوی) ښځی (چی دوی ته طلاق رجعی ورکول سوی وی په قرینه دفَأَمْسِكُوهُنَّ) خپل عده تیریدوته نژدی ورسیږی (اوعده یی نه وی ختم سوی) نو (تاسی ته دوه اختیاره دی یاخو) دوی دقاعدی موافق (په رجعت کولو سره) په نکاح کی پریږدی یادقاعدی موافق دوی ازادی کړی (یعنی دعدی ترختمیدوپوری رجوع مه کوی ، مطلب دا چی دریمه خبره مه کوی چی ساتل مو هم مقصود نه وی ، مگر دا وږدوالی دعدی په ذریعه ښځی ته دتکلیف رسولو په غرض سره رجوع وکی) او (هرڅه چی هم کوی جدایی یاواپسی په هغه کی) په خپل مینځ کی دوه معتبر سړی شاهدان کوی (دامستحب دی لکه چی په هدایه او نهایه کی دی ، په رجعت کی خو ځکه چی نو دتیریدو دعدی څخه هسی نه چی ښځه اختلاف ونه کړی او په مفارقت کی ځکه چی هسی نه چی خپل نفس شرارت ونه کی چی د دروغو دعویٰ وکی چی مارجعت کړی وو) او (ای شاهدانوکه دشاهدی حاجت پیښ سی نو) تاسی صحیح صحیح دالله ﷻ دپاره (بغیر درعایت څخه) شاهدی ورکوی ، په دی مضمون سره هغه سړی ته نصیحت کول کیږی کوم چی په الله ﷻ اوپه ورځ دقیامت یقین لری (مطلب دا دی چی ایماندار دنصیحت څخه نفع اخلی اوهسی خو نصیحتونه دټولو دپاره عام دی) او (لوړ چی کوم دتقویٰ حکم دی ، داحکامو

څخه وروسته ددې ډېر فضیلتونه ارشاد فرمایي ، اول فضیلت دا چې) کوم سړی دالله ﷻ څخه بیرېږی الله ﷻ دهغه دپار (دضررونو څخه) دنجات لاره راباسي او (نفع ورته رسوی لکه چې یوه لویه نفع دی رزق، پس) ده ته دداسې ځای څخه رزق رسوی دکوم ځای څخه چې دده ګمان به هم نه وی او (یوه شعبه ددې تقوٰی توکل دی ، ددې داخاصیت دی چې) کوم سړی په الله ﷻ توکل کوی نو الله ﷻ دده (دمشکلاتو داصلاح) دپاره کافي دی (یعنی دخپل کفایت اثرخاص په اصلاح دمهماتوکی ښکاره کوی کنه نو دده کفایت خو دټول عالم دپاره عام دی او دا اصلاح دمهماتو هم عامه ده ، حسًا وی اوکه باطنًا وی ځکه چې) الله ﷻ خپل کار (څنګه چې غواړی) پوره کوی (او دغه شان داصلاح دمهماتو وخت هم دده په اراده دی ځکه چې) الله ﷻ دهر شي یو انداز (په خپل علم کی) مقرر کړی دی (او دهغه موافق دهغه واقع کول قرین حکمت وی ، مخ ته بیا واپسی داحکامو طرف ته یعنی لوړ خو دعدی اجمالاً ذکر وو) او (تفصیل دهغه را روان دی هغه داچې) ستاسې (دطلاقو سوو) بیبیانو څخه چې کومې ښځې (په وجه دزیات عمر دحیض دراتللو څخه نا امیده سوی وی که ستاسې (د دوی دعدی په تعین کی) شبهه وی (لکه چې په واقع کی شبهه سوی وه او پوښتنه یی کړی وه) نو د دوی عده دری میاشتې ده او دغه شان دکومو ښځو چې (تر اوسه په وجه دکوم عمری) حیض نه وی راغلی (د دوی عده هم دری میاشتې ده) او دحملدارو ښځو عده د دوی ددغه حمل پیدا کیدل دی (برابره خبره ده که کامل وی اوکه ناقص ، په دی شرط چې څه اندام په کی جوړ سوی وی که څه هم یوه ګوته وی) او (چې کله تقوی په خپله هم مهتم بالشان ده اوپه ذکرسوو احکاموکی کم چې ددنیادمعاملوسره متعلق دی په عامو طبائعوکی خیال راتلی سی چې ددی دنیوی معاملاتو ددین سره څه تعلق دی، مونږچې څنګه فکر کوو ، په دی وجه مخ ته بیا دتقوٰی مضمون دی یعنی) کوم سړی چې دالله ﷻ څخه بیرېږی الله به دهغه په کارکی اسانی پیداکی (داخرت یاددنیا ظاهرًا یاباطنًا ، مخ ته بیاتاکید دامتثال داحکامو دپاره ارشاد دی چې) دا (څه چې ذکرسول) دالله ﷻ حکم دی کوم چې هغه تاسې ته رالیږلی دی اوکوم سړی چې (په دی معاملاتوکی اوپه نورو کارونوکی هم) دالله ﷻ څخه بیرېږی الله ﷻ به دهغه ګناهونه لیری کړی (کوم چې نجات دی دټولو څخه دلوی نفع حصول دی ، مخ ته بیا دمطلقاتو داحکامو بیان دی یعنی په عده کی علاوه دعدم تطویل دعدی اوحق دسکنٰی د دوی نور حقونه هم دی هغه دا چې) تاسې دی (طلاقو سوو) ښځوته دخپل وسعت موافق داوسیدو مکان ورکړی کوم ځای چې تاسې اوسیږی (یعنی په عده کی دمطلقی دپاره داوسیدو کور هم ورکول واجب دی ، البته په طلاق بائن کی په یومکان کی په خلوت سره د دواړو اوسیدل جائز نه دی ، بلکه پرده حائل کول ضروری دی) او دوی لره دتنګولو دپاره (داوسیدو دکور په باره کی) تکلیف مه ورکوی (مثلاً څه داسې خبره وکی چې هغه په پریشانه سی او ووزی) اوکه چیری هغه (طلاقی سوی) ښځې حملداری وی نو دحمل ترپیدا کیدو پوری دوی ته (دخوراك څښاك) خرڅ ورکوی (په خلاف دغیر حملدارو څخه چې دهغوی دنفقی حددری حیضونه یادری میاشتې دی، اودا احکام خودعدی په حقله

و« بیاکه چیری (دعدی ځخه وروسته) دغه (طلاقي سوي) ښځي (کله دمځکي ځخه بچو والا وي یا یې دبچي په پیدا کیدوسره عده ختم سوي وي) ستاسي دپاره (بچي ته په اجرت باندي) تي ورکوي نو تاسي دوی ته (مقرره) اجرت ورکوي او (داجرت په باره کي) په خپل مینځ کي په مناسب طور مشوره کوي (یعني نه دي ښځه دومره زیات غواړي چي سړی دبلي تي ورکوونکي لټون شروع کړي اونه دي سړی دومره کم ورکوي چي دهغه ګذاره نه په کیږي، بلکه حتی الامکان دواړه دي ددي خیال ساتي چي تي ورلره مور ورکي چي دکوچني په دي کي زیات خیر دی) اوکه تاسي دیو بل سره کشمکشي کوي نو یو بله ښځه دي تي ورلره ورکوي (مقصود ددي خبري ځخه امر دی یعني بله دایی دي ورته تلاش سی ، نه دي مور مجبوره کوي او نه دي پلار او په صورت دخبر کي دا نکته ده چي سړی ته په کم اجرت تجویز کولو زورنه دي ځکه چي اخر یوه ښځه خو به ورلره تي ورکوي اوهغه خو به کم نه اخلي ، نوبیا داکمه مزدوري دمور دپاره ولي تجویز کول کیږي اوښځي ته په زیات اجرت غوښتلوزورنه دي ځکه چي که ته تي ورنه کي نو بله به پیداسي ، څه په دنیاکي یوازي ته نه یې چي دومره ګراني کوي ، مخ ته دبچي دنفقي په باره کي ارشاد دی چي) وسعت والا لره دخپل وسعت موافق (دبچي) خرڅ کول په کار دی اودچاچي امدني کمه وي ، ده ته په کار دي چي الله ﷻ ده لره څومره ورکړي دي ، دهغه ځخه خرڅ کوي (یعني مالدار سړی دي دخپل حیثیت موافق خرڅ کوي اوغریب سړی دي دخپل حیثیت موافق ځکه چي) الله ﷻ په چاباندي زیات تکلیف دهغه ځخه نه اچوي کوم څه چي یې ورته ورکړي وي (اوتنګدست سړی دي په خرڅ کولو کي ددي ځخه نه بیریږي چي په خرڅ کولوسره به ختم سی، لکه چي ځیني خلګ ددي بیري ځخه اولادقتلوی نو ارشاد دی چي) خدای ﷻ به دتنګي ځخه وروسته ژر فراخي هم ورکړي (که څه هم په قدر دحاجت اوضرورت وي او دا لکه داقول دالله ﷻ چي دی ، وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ)

معلومات اومسئلي

(دنکاح اوطلاق شرعي حیثیت او ددی حکیمانه نظام)

په سورة بقره کي ددي عنوان لاندي پوره تفصیل لیکل سوي دی ، هغه وګوری ، دهغه خلاصه دا ده چي دنکاح اوطلاق معامله په هرمذهب اوملت کي دعامو معاملو اخستلو خرڅولو اواجاري په شان نه ده چي دطرفینوپه رضامندی سره یې ځنګه وغواړي کوی یې ، بلکه دهرملت اومذهب خلګ همیشه پردی متفق دي چي دي معاملاتوته یوخاص مذهبی تقدس حاصل دی ، ددي دهدایاتو لاندي داکار پوره کول په کار دی ، اهل کتاب یهود اونصارا خو په هر حال دیو آسماني دین اوآسماني کتاب سره نسبت لری ، په هغه کي دسوونو تحریفاتو باوجود دومره قدر مشترك اوس هم باقي دی چي په دی معاملاتو کي دمذهبی حدودو اوقیودو پابند دی ، کفار اومشرکان چي څه مذهبی کتاب اومذهب نه لری ، مګر په څه ناځه صورت کي دخدای ﷻ قائل دی ، لکه هند ، اریا ، سکه ، مجوس ، اتش پرست نجوم پرست خلګ، هغوی هم دنکاح او طلاق معاملات دعامو معاملاتو بیع اوشراء اویا داجاره په شان نه ګني ، د دوی په نزد څه مذهبی رسمونه دی دکومو پابندی چي په دی معاملاتوکي لازمی ګني اوپه دغو اصولو او

رسمونو باندی دټولو مذهبونو او فرقو عائلی قوانین چلیږی.
صرف ددهریانو اوبی مذهبو دخدای څخه دمنکرو خلګویوه فرقه ده کومه چی دخدای اومذهب څخه بیزاره ده، هغوی دا شیان هم داجاری په شان دباهمی رضا مندی په طور کیدونکی یوه معامله ګڼی چی مقصد یی دخپلو شهوانی جذباتو دتسکین څخه اخواته نور هیڅ نسته، افسوس دی چی نن صباپه دنیا کی داسی نظریه عامه کیږی کوم چی انسانان دځنګل دځناورو په صف کی درولی دی، اِلَّا لِلّٰهِ وَاِلَیْهِ الْمُشْتَکٰی
شریعت اسلام دیو مکمل اوپاکیزه نظام حیات نوم دی، په دی کی نکاح ته صرف یوه معامله اوو عده نه بلکه دی ته یی دیوقسم عبادت حیثیت ورکړی دی، په کوم کی چی دخالق کائنات دطرف څخه په انسانی فطرت کی دایښوول سوی شهوانی جذباتو دتسکین بهترین اوپاکیزه سامان هم دی اودسړی اوښځی دکورنی ژوند دتعلقاتو سره چی کوم عمرانی مسائل دنسل دبقاء اواولاد دتربیت په حقله دی، دهغوی هم معتدلانه اوحکیمانه نظام موجود دی.
اوچونکه دښځی اوخاوند دژوند په صحیح کیدو باندی دعام نسل انسانی صحیح والی موقوف دی، په دی وجه په قرآن کریم کی یی عائلی مسائلو ته دنورو ټولو معاملو څخه زیات اهمیت ورکړی دی، دقرآن کریم په فکر سره ویونکی ته دا عجیبه مشاهده کیږی چی ددنیاپه عامو معاشی مسئلوکی دټولو څخه اهم، تجارت، شرکت اجاره اونور دی، قرآن کریم ددغو خو صرف په اصولو ښوولو بس والی فرمایلی دی ددی فروعی مسائل په قرآن کریم کی کم دی، په خلاف دنکاح او طلاق څخه چی ددی یی صرف په اصولو ښوولو باندی بس نه والی دی فرمایلی بلکه ددی ډیر فروع او جزئیات هم سیده په سیده حق تعالی په قرآن کریم کی نازل فرمایلی دی.
دا مسئلی دقرآن په اکثرو سورتونو کی جدا جدا او په سورة نساء کی په څه زیات تفصیل سره راغلی دی، دا سورة کوم چی دسورة طلاق په نوم سره موسوم دی، په دی کی په خصوصیت سره دطلاق عده او نور احکامو ذکر دی، په دی وجه په ځینو روایتونو دحدیث کی دی ته سورة نساء صغری هم ویل سوی دی یعنی وړوکی سورة نساء (قرطبی په حواله دبخاری)
داسلامی اصولو مخ دا دی چی په کوم سړی اوښځه کی داسلامی اصولو مطابق ازدواجی تعلق قائم وی دغه دی پائیدار اوټول عمری وی، په کوم سره چی د دوی دواړو دنیا او دین هم صحیح وی او د دوی څخه دپیدا کیدونکی اولاد اعمال او اخلاق هم صحیح وی، په دی وجه دنکاح په معامله کی دشروع څخه تر آخره پوری په هر قدم داسلام هدایتونه دا دی چی دا تعلق دتلخیو او رنځونو څخه دپاك صفا ساتلو، اوکه چیری پیداسی نو ددی دلیری کولو پوره کوشش سوی دی، لیکن ددی ټولو کوششونو باوجود ځینی وخت دطرفینو دژوند فلاح په دی کی منحصر کیږی چی دا تعلق ختم سی، په کومو مذهبونو کی چی دطلاق اصول نسته په هغه کی په داسی وختونوکی سخت مشکلات پیدا کیږی اوپه ځینی وختونوکی انتهایی بدی نتیجی مخ ته راځی، په دی وجه اسلام دنکاح دقوانینو په شان دطلاق هم اصول اوقواعد مقرر کړل، مګر ددی سره یی دا هدایتونه هم ورکړل چی طلاق دالله ﷻ په نزد ډیر

مبغوض اومکروه کار دی ، ترخو پوری چی ممکنه وی ، ددی څخه پرهیزکول په کار دی .
په حدیث کی په روایت دحضرت عبدالله بن عمر منقول دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی په حلالو شیانو کی دټولو څخه زیات مبغوض دالله ﷻ په نزد طلاق دی او دحضرت علی کرم الله وجهه څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، تَزَوَّجُوْا وَلَا تُطَلِّقُوْا فَاِنَّ الطَّلَاقَ يَهْتَزُّ مِنْهُ عَرْشُ الرَّحْمٰنِ : یعنی نکاح کوی او طلاق مه ورکوی ، ځکه چی په طلاق سره درحمن خدای ﷻ عرش ښوری ، او دحضرت ابو موسیٰ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی ښځو ته طلاق مه ورکوی بغیر ددی څخه چی بدکاری وکی ځکه چی الله ﷻ هغه سړی نه خوښوی کوم چی صرف خوند اخستونکی وی او هغه ښځی نه خوښوی کومی چی صرف خوند اخستوونکی وی (قرطبی په روایت دثعلبی)
او دار قطنی دحضرت معاذ بن جبل څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ کوم شیان په مځکه باندی پیدا کړی دی په دی ټولو کی دالله ﷻ په نزد محبوب دغلامانو ازادول دی اوځومره شیان چی یی په مځکه باندی پیدا کړی دی په هغه ټولو کی مبغوض اومکروه طلاق دی (ازقرطبی)
په هرحال اسلام که څه هم دطلاق حوصله افزایی نه ده کړی ، بلکه تر وسه وسه یی ددی څخه منع کړي ده لیکن دضروت په ځینو موقعوکی یی ددی اجازت ورکړی دی ، نو دهغه دپاره یی څه اصول اوقواعد جوړ کړی دی او اجازت یی کړی دی چی مطلب دا دی چی که دازدواج ددی تعلق ختمول ضرورکیږی نو چی دغه هم په خوبصورتی او حسنِ معاملی سره انجام سی ، محض دغصی ایستلو او انتقامی جذباتو لوبی جوړولو صورت جوړنه سی ، په دی صورت کی یی دطلاق احکام داسی شروع کړل ، چی اول یی نبی کریم ﷺ ته دیٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ : په عنوان سره خطاب وکی کوم چی دامام قرطبی دبیان مطابق په داسی موقعوکی استعمالیږی کوم ځای چی حکم دټول امت دپاره عام وی اوکوم ځای چی څه حکم درسول دذات په حقله وی نوهلته په ، يٰٓاَيُّهَا الرَّسُوْلُ : سره خطاب کول کیږی .
ددی جملی، يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ، تقاضا دا وه چی مخکی هم په صیغه دمفرد سره داحکامو بیان دی ، مگر دلته یی دهغه خلاف په صیغه دجمع خطاب وفرمایی اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ کوم چی که څه هم بلاواسطه خطاب نبی کریم ﷺ ته دی اوپه صیغه دجمع دخطاب په عام کولو کی دنبی کریم ﷺ تعظیم اوتکریم هم دی ، ددی سره دی طرف ته اشاره هم ده چی دا حکم ستا دپاره مخصوص نه دی ، ټول امت په دی کی شریك دی ، او ځینو حضراتو دلته جمله محذوفه ګرځولی ده اودایت تفسیریی داسی کړی دی ، يٰٓاَيُّهَاالنَّبِيُّ قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ، یعنی ای نبی! ته مسلمانانو ته ووایه چی کله دوی طلاق ورکوی نو دمخ ته بیان سوی قانون پابندی دی کوی لورپه لنډتفسیرکی دا اختیار سوي ده چی مخ ته دطلاق دځینی احکاموبیان دی.
اولني حکم: فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ : دعدت لفظی معنی عدد شمیرل دی ، په شرعی اصطلاح کی هغه مودی ته ویل کیږي ، په کومه کی چی ښځه دیوخاوند دنکاح څخه دوتو څخه وروسته دبل سره دنکاح څخه منع سی، دغه وخت دانتظارته عده ویل کیږی اودیوه خاوند دنکاح څخه دوتلو دوه صورتونه وی ، یو دا چی

دخاوند یې انتقال «وفات» وسي ، دې عدې ته عده دوفات وايي کوم چې دغیرحاملې دپاره څلور میاشتې لس ورځې مقرر دي ، دوهم صورت دنکاح څخه دوتلو طلاق دی ، دطلاق عده دغیرحاملې دپاره دامام ابوحنیفه رحمه الله او دځینو نورو امامانو په نزد پوره درې حیضونه دي او دامام شافعي رحمه الله او ځینو نورو امامانو په نزد درې طهره عده دطلاق ده ، په هرحال ددې دپاره څه ورځې یا میاشتې مقررې نه دي ، په څومره میاشتوکې چې درې حیضونه یادرې طهرونه پوره سي دغه به دعدې دطلاق وي او دکومو ښځو چې لا دکم عمرې په وجه حیض نه دی راغلی یا دزیات عمر په سبب یې حیض بندی سوی وي ، د دوی حکم مخ ته مستقل راځي او دغه شان دحملدارو ښځو حکم هم مخ ته راځي ، د دوی دپاره عده دوفات اوعده دطلاق دواړه یوشان دي .

فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ : او دصحیح مسلم په حدیث کې دي چې نبي کریم ﷺ دا: فَطَلِّقُوهُنَّ لِقُبُلِ عِدَّتِهِنَّ : تلاوت وفرمایي اودحضرت ابن عمر رضي الله عنه اوابن عباس رضي الله عنه په قرآئت کې هم په یو روایت کې لِقُبُلِ عِدَّتِهِنَّ : او په بل یو روایت کې فِيْ قُبُلِ عِدَّتِهِنَّ : منقول دي «روح» او په بخاري اومسلم کې دحضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې دوی خپلې ښځې ته دحیض په حالت کې طلاق ورکړی وو حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه ددې ذکر نبي کریم ﷺ ته وکی نو دوی ﷺ سخت ناراضه سو ، بیایي وفرمایل .

لِيُرَاجِعْهَا ثُمَّ يُمْسِكْهَا حَتّٰى تَطْهُرَ ثُمَّ تَحِيضَ فَتَطْهُرَ فَإِنْ بَدَا لَهُ أَنْ يُطَلِّقَهَا فَلْيُطَلِّقْهَا طَاهِرًا قَبْلَ أَنْ يَمَسَّهَا فَتِلْكَ الْعِدَّةُ الَّتِيْ أَمَرَهَا اللّٰهُ تَعَالٰى أَنْ يُطَلَّقَ بِهَا النِّسَآءُ.

یعنې ده ته په کار دي چې دحیض په حالت کې دورکول سوي طلاق څخه رجوع وکی بیایي په خپله ښځوالۍ کې ونیسي ، تردې چې دحیض څخه پاکه سي ، بیا ددې څخه وروسته یې حیض راسي او هغه حیض څخه پاکه سي دغه وخت که طلاق ورکول غواړي نو په دغه طهرکې دې دکوروالۍ اوصحبت کولو څخه بغیر طلاق ورکړي ، دا هغه عده ده چې الله ﷻ یې په «ذکر سوی» آیت کې ذکر کړې دی .

ددې حدیث څخه څو خبرې ثابتې سوې ، اول دا چې په حالت دحیض کې طلاق ورکول حرام دي ، بل دا چې که چا داسې وکړل ، نو ددې طلاق څخه واپس کیدل واجب دي «په دې شرط چې طلاق قابل درجعت وي لکه چې دابن عمر رضي الله عنه په واقعه کې وو» دریمه دا چې په کوم طهرکې طلاق ورکول وي ، په هغه کې دښځې سره مباشرت اوصحبت نه وي سوی څلورمه داچې دقرآن دایت ، فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ : دا تفسیر دی .

دذکر سوي آیت د دواړو قرآتونو څخه بیا دحدیث دروایت څخه دذکر سوي آیت دا مطلب متعین سو چې کله ښځې ته طلاق ورکول وي ، نو دعدې شروع کیدو څخه دې مخکې طلاق ورکول سي ، دامام اعظم رحمه الله په نزد چې کله عده دحیض څخه شروع کیږي ، نو معنی دایت دا مقرره سوه چې په کوم طهر کې دطلاق ورکولو اراده وي په هغه کې دې دښځې سره کوروالی نه کوي اودطهر په اخرکې دحیض شروع کیدو څخه مخکې دې طلاق ورکړي او دامام شافعي رحمه الله او نورو په نزد چې کله عده دطهر څخه شروع کیږي ، په دې وجه د ، لِقُبُلِ عِدَّتِهِنَّ : مطلب دا مقرر سو چې بالکل په شروع دطهرکې دې طلاق ورکول سي

او دا بحث چې عده درې حیضونه دي ، یادرې طهرونه ددې بیان دسورة بقره دایت، ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ په تفسیرکې تیرسوی دی.
په هرحال دطلاق په حقله اولنی حکم ددې آیت څخه په اجماع دامت داثابت سوچې دحیض په حالت کې طلاق ورکول هم حرام دي اوپه داسې طهرکې په کوم کې چې دښځې سره کوروالی سوی وي په دې کې هم طلاق ورکول حرام دي او وجه دحرمت په دواړوکې دا ده چې په دې دواړو صورتونوکې دښځې عده اوږدیږي ، کوم چې ددې دپاره دتکلیف باعث دي ، ځکه چې په کوم حیض کې یې طلاق ورکړی دی ، دا حیض خو په عده کې شماریږي نه بلکه دحیض ورځې پوره وي او دمذهب دابو حنیفه رحمه الله مطابق ددې څخه وروسته طهر به هم خالي تیر سي بیاچې کله بل حیض راسي نو دغه وخت به عده شروع سي چې په دې کې دیر اوږدوالی دی ، او دشافعي رحمه الله دمذهب مطابق به هم کم ازکم دحیض باقي ورځې کمې چې دعدې څخه مخکې تیریږي هغه به زیاتي سي ، دطلاق دا اولنی حکم دی چې په دې اهمو هدایاتو مشتمل دی ، چې طلاق څه دغصې ایستلو یاانتقام اخستلو شی نه دی بلکه په درجه دمجبوري دطرفینو دراحت انتظام دی ، په دې وجه دطلاق دورکولو دوخت څخه ددې خیال ساتل ضروري دي چې ښځې ته داوږدې عدې بلا وجهې تکلیف ونه رسیږي ، او دا حکم صرف دهغو ښځو دپاره دی په کومو چې عده تیرول دحیض یاطهر څخه لازم وي اوپه کومو ښځوچې عده واجب نه وي ، مثلاً هغه ښځه چې لاخلوت هم ورسره نه وي سوی ، په هغوی دسره عده لازمه نه ده ، هغوی ته په حالت دحیض کې هم که طلاق ورکول سي ، نو جائز دي ، دغه شان هغه ښځه دکومې چې دکم عمر یا زیات عمر په سبب حیض نه راځي په دې وجه د دوی په عده کې دحیض اوطهر څه اعتبار نسته ، بلکه د دوی عده دمیاشتو په حساب سره درې میاشتې ده ، دوی ته چې په هرحالت کې طلاق ورکول سي یادکوروالي څخه وروسته طلاق ورکول سي ، ټول جائز دي ، لکه چې په راتلونکو ایتونو کې راځي (ازمظهري مع بعض تشریحات)
دوهم حکم : وَاَحْصُوا الْعِدَّةَ : دی ، داحصاء معنٰی شمیرل دي ، معنٰی دایت دا ده چې دعدې ورځې په اهتمام سره یادې ساتل په کار دي ، هسې نه چې هیرې مو سي او دعدې ختمیدو څخه مخکې یې ختم وګڼي او دعدې دورځو دشمیرلو دا ذمه واري په سړو اوښځو دواړو باندې عائده ده مګر دلته صیغه دمذکر استعمال سوه ، ځکه چې په عام طور سره کوم احکام چې په ښځو اوسړو کې مشترك وي په هغه کې خطاب په صیغه دمذکر راځي ، ښځې تبعًا په هغه کې داخلې ګڼل کیږي اوپه دې خاص مسئله کې هغه حکمت هم کیدی سي کوم چې په لنډ تفسیرکې لیکل سوی دی چې په ښځوکې دغفلت احتمال زیات دی ، په دې وجه سیده په سیده ذمه واري په سړیانو واچول سوه .
دریم حکم: لَا تُخْرِجُوْهُنَّ مِنْ بُیُوْتِهِنَّ وَلَا یَخْرُجْنَ : مه باسې دوی د دوی دکورونو څخه او دوی دي هم نه وځي ، په دې کې په لفظ دبُیُوْتِهِنَّ کې ددې ښځو کورونه یې وفرمایل او دې طرف ته یې اشاره وکړه چې تر څو پورې چې د دوی حق داوسیدو دسړي په ذمه دی ، په دې کورکې ددې حق دی ، په دې کې ددې

اوسیدل په خپل حال ساتل څه احسان کول په دی نه دی ، بلکه دواجبو ادا کول دی ، دښځی په حقونو کی یو حق داوسیدو کور هم دی ، دی آیت وښووله چی دا حق صرف په طلاق ورکولو سره نه ختمیږی ، بلکه دعدی تر ورځو پوری ښځی ته په دی کور کی دپاته کیدو استحقاق دی اودعدی پوره کیدو څخه مخکی ددی دکور څخه ایستل ظلم اوحرام دی دغه شان په خپل اختیارهم ددی کور څخه ددی وتل حرام دی که څه هم خاوند هم اجازت ورکی څکه چی په دی کورکی دعدی ورځی تیرول دخاوند حق نه دی بلکه دالله ﷻ حق هم دی کوم چی دالله ﷻ دطرف څخه پرعده تیروونکی لازم دی (داامام ابوحنیفه رحمه الله مذهب دی)

څلورم حکم : اِلاَّ اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ : یعنی عده تیروونکو ښځوته د دوی دکورونو څخه وتل حرام دی ، مگر په دی کی دا صورت مستثنٰی دی چی ښځه ښکاره بی حیایی وکړی ، ددی ښکاره بی حیایی څخه څه مراد دی؟ په دی کی دتفسیر داامامانو دری قولونه دی .

اول قول : دا چی دبی حیایی څخه مراد په خپله ددی دکور څخه وتل دی نو په دی صورت کی دا استثنٰی صرف صورتًا استثنٰی ده چی په دی سره دکوره دوتلو اجازت ورکول مقصودنه دی، بلکه ددی ممانعت زیات مؤکد کول دی ددی مثال داسی دی لکه چی وویل سی چی چالره فلانی کارکول نه دی په کار بغیر ددی څخه چی هغه دسړی توب څخه ووزی ، یاخپلی مورته کښنځل مه کوه ، بغیر ددی څخه چی ته بالکل نافرمانه سی نو دا ظاهره ده چی په اول مثال کی په دی صورت داستثنٰی سره ددغه کار جواز ښوول مقصود نه دی ، او په دوهم مثال کی دمور دنافرمانی جواز ثابتول نه دی ، بلکه په بلیغ اندازکی ددی نور زیات ممانعت اوناکاروالی بیانول دی ، نو دایت دمضمون خلاصه په دی صورت کی دا سوه چی طلاقی سوی ښځی دی دخپلو خاوندانو دکورونو څخه نه وځی ، مگر دا چی هغوی بی حیایی ته جوړی سی او ووزی ، نو دوتلو مطلب یی جواز نه دی بلکه دنور زیات مذمت او ممانعت اثبات دی ،

دفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ : دا تفسیر دحضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنه ، سدی رحمه الله ، ابن السائب رحمه الله، نخعی رحمه الله وغیره څخه نقل دی او امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله دا اختیار کړی دی (روح المعانی)

دوهم قول : دا دی چی دفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ څخه مراد زنا اوبدکاری ده ، په دی صورت کی استثنٰی په خپله معنٰی کی ده چی که طلاقی سوی ښځی زنا وکړه اوجرم په دی ثابت سو نو دا به دحد شرعی جاری کولو دپاره لامحاله دعدی دکور څخه وایستل سی ، دا تفسیر حضرت قتاده رحمه الله ، حسن بصری رحمه الله شعبی رحمه الله زیدبن اسلم رحمه الله ضحاک رحمه الله او عکرمه رحمه الله او نورو څخه نقل دی ، امام ابویوسف رحمه الله دا قول اختیار کړی دی .

دریم قول : دا دی چی دفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ : څخه مراد زبان درازی اوجنگ جګړه ده نو معنٰی دآیت به داسی چی طلاقی سوی ښځی د دوی دکورونو څخه ایستل جائز نه دی بغیر ددی صورت څخه چی ښځه بد زبانه جګړه کوونکی سی او دخپل خاوند او دده دمتعلقینو سره بدزبانی راواخلی نو په داسی صورت کی دا دعدی دمکان څخه ایستل کیدی سی، دفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ دا تفسیر دحضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه په ډیرو

روایتونو سره منقول دی او په ذکر سوی آیت کی دحضرت ابن ابی بن کعب ﷺ اوعبدالله ابن مسعود ﷺ قرأئت داسی دی ، الا ان یفحش : ددی لفظ ظاهری معنٰی فحش کلامی اوبدزبانی ده ، په دی قرآت سره هم داخری تفسیر تائید کیږی ﴿روح﴾ په دی صورت کی هم استثنٰی په خپل حقیقت باندی ده چی دبدزبانی او جګړی کولو په صورت کی یی دکوره ایستلی سی .

تردی ځایه دطلاق په حقله دځلورو احکامو بیان راغلی دی اومخ ته به نور احکام بیانیږی ، مګر ددی په مینځ کی دذکرسوو احکامو دپابندی تاکید او ددی دمخالفت څخه دځان ساتلو دپاره دځو وعظونو اونصیحتونو بیان کیږی ، دا دقرآن کریم خاص انداز دی چی دهر حکم هغه څخه وروسته دخدای ﷻ بیره او دآخرت فکر وریاد وی او دخلاف ورزی څخه یی منع کوی ، ځکه چی دښځی اوخاوند دتعلق اوپه خپل مینځ کی دحقونو دپوره ادا کولو انتظام دڅه قانون په ذریعه نه سی کیدی، ددی دپاره دخدای او اخرت بیره منع کوونکی شی دی .

وَتِلْكَ حُدُودُ اللهِ وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ لا تَدْرِي لَعَلَّ اللهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ أَمْرًا دحدود الله څخه مراد دشریعت مقرر کړی قوانین دی، وَمَنْ يَتَعَدَّ : یعنی کوم سړی چی دحدود الله څخه تجاوز وکی ، یعنی ددی احکامو خلاف ورزی وکی ، فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ : نو ده په خپل ځان ظلم وکی یعنی دالله ﷻ یا داسلامی شریعت یی هیڅ تاوان ونه کی ، خپل نقصان یی وکی دانقصان عام دی دینی هم او دنیوی هم ، دینی نقصان خو دشریعت څخه دخلاف کولو ګناه اوداخرت وبال دی، اودنیوی نقصان دا دی چی کوم سړی دشرعی هدایاتو څخه بغیر طلاق ورکی ، هغه اکثر دری طلاقو ته رسیږی چی وروسته په کی بیا رجوع یانوی نکاح نه سی کیدی اوسړی اکثر دطلاق ورکولو څخه وروسته پښیمانه وی ، اومصیبت زغمی اوخصوصًا چی بیا صاحب اولاد هم وی ، دده دپاره خو دا مصیبت په دنیاکی دځان وبال سی اودیر خلګ کوم چی ښځی ته دتکلیف اونقصان رسولو په نیت ظالمانه طلاق ورکوی ، که څه هم ددی څه تکلیف ښځی ته هم رسیږی ، لیکن دده دپاره ظلم په ظلم او دوچنده وبال جوړسی ، یو دالله ﷻ دمقرر کړی حد ماتولو دوهم په ښځی دظلم کولو چی حقیقت یی دا دی .

پنداشت ستمگر که جفا برما کرد بر گردن وی بماند وبر ما بگذشت

ظالم خودا خیال کوی چی په ماظلم وکی خو دهغه په غاړه دظلم کولو وبال پاته سو ﴿چی سزا به یی په اخرت کی پیدا کی﴾ اوپر ما تیر سو .

لَا تَدْرِي لَعَلَّ اللهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ أَمْرًا : یعنی ته نه پوهیږی چی شاید الله ﷻ ددی غیظ اوغضب څخه وروسته څه بل حالت پیدا کړی چی دښځی څخه کوم راحتونه درته حاصلیدل او داولاد دپرورش او دکور دانتظام سهولتونه وه، دهغه خیال وکی نوته به بیا پرخپل طلاق پښیمانه سی اودوباره ددی په نکاح کی دساتلو اراده وکی نو دوباره په نکاح کی دراوستلو صورت هلته کیدی سی کله چی نه دطلاق ورکولو په وخت کی دشرعی حدونو رعایت وکی چی بی وجهی طلاق بائن نه کړی بلکه رجعی یی

پریږدي چې خاوند ته په کې درجعت کولو اختیار وي په رجعت کولو سره اولنی نکاح په خپل ځای بر قراره وي او دا چې دری طلاقو ته خبره نه رسوي چې بیا وروسته ورڅخه درجعت حق نه وي او ددواړو درضا مندی باوجود هم نکاح شرعًا حلاله نه وي.

فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ فَارِقُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ ، په اَجَلَهُنَّ کې لفظ داَجَلَ په معنٰی دعدّت دی او دبلوغ اجل څخه مراد عدّت ختمیدو ته رسیدل دي.

(دطلاق په حقله پنځم حکم)

په دې آیت کې دا ارشادسوی دی چې کله دطلاقی سوی ښځی عده ختمیدو ته نژدې ورسیږي نو اوس دنکاح څخه دوتلو وخت راغی ، تردغه وخت پوری په کار دی چې وقتی تاثرات اودغم اوغصی کیفیت هم ختم سوی وی ، دغه وخت بیاپه سنجیدګی سره فکر وکی چی نکاح ساتل ښه دی اوکه بالکل یی ختمول ، که په نکاح کی ساتل مو زړه غواړي نو ویی ساتی چی ددې سنت طریقه دراتلونکی آیت داشاری اودحدیث دارشاد مطابق دا ده چې په ژبه سره ووایي چی ما دخپلو طلاقو څخه رجوع وکړه اوپه دې دوه شاهدان هم ونیسي ، اوکه اوس هم دا غواړي چې نکاح ختمه کړي نو بیادی یی په ښه طریقه سره ازاده کی ، یعنی عده ختمیدوته صبروکی ، دعدی دپوره کیدوسره به هغه ازاده اوخود مختاره سی.

شپږم حکم: دعدی دختمیدو په وخت کی دښځی په نکاح کی پریښوول وی اوکه ازادول، په دواړوکی قرآن حکیم دمعروف قید لګولی دی ، دمعروف لفظی معنی پیژندلی طریقه ده اومراد ددی څخه دا دی چی کومه طریقه دشریعت اوسنتو څخه ثابته او په اسلام اومسلمانانوکی په عام طور معروفه ده هغه اختیار کی هغه دا ده چی که په نکاح کی ساتل او رجعت کول غواړي نو اتنده به دی ته زباني یاعملی ازار نه رسوي اوپر دی به احسان نه اړوي او ددی چی کوم عملی یا اخلاقی کمزوری دطلاق سبب جوړه سوی وه ، مخ ته په خپله هم په هغه دصبر کولو قصد وکی چی بیا هغه تلخی پیدانه سی اوکه ازادول یی غواړي نو په هغه کی معروف اومسنون طریقه دا ده چی دا په ذلت اوخواری یابدو ردو ویلو دکوره مه باسی ، بلکه په ښو اخلاقو سره یی رخصت کړي اولکه چی دقرآن کریم دنورو ایتونه څخه ثابته ده ، دتللو په وخت کی دی ته یو جوړه جامی ورکړي او رخصت یی کی ، داکم ازکم مستحب خامخادی او په ځینو صورتونو کی واجب دی ، چی تفصیل یی دفقهه په کتابونو کی دی.

اووم حکم: په ذکر سوی آیت کی دپاته کولو یا ازادولو په دوه اختیاره ورکولو سره دارنګه ددی څخه په مخکی آیت کی په لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ أَمْرًا: سره په ضمنی طور دامستفاده سوه چی منشاء رباني دا ده چی که طلاق ورکول په مجبوری سره پیښ سی نوطلاق دی داسی ورکول سی چی درجعت حق په کی باقی وی چی سنت صورت یی دا دی چی په صفا لفظونوکی دی صرف یو طلاق ورکړي او ددی سره دی دغیظ اوغضب داظهار دپاره څه داسی لفظ نه وایي چی دنکاح دتعلق په بالکلیه قطع کولو باندی دلالت کوي ، مثلاً ووایی چی زما دکوره ووزه یا ووایی چه تاته ډیر سخت طلاق درکوم یا ووایی چه

اوس زما ستا سره دَ نکاح څه تعلق باقي پاتي نه سو داسي الفاظ که دصريحو طلاقو سره هم ووايي يا په خپله دا الفاظ په نيت دطلاق سره ووايي نو په دې سره درجعت حق باطل سي دا په اصطلاح د شرع کي طلاقِ بائن دي چي نکاح فوراً ماتيږي او درجعت حق باقي پاته نه دي او ددې څخه زيات سخت دا دي چي طلاق درو ته ورسوي ، ددې نتيجه دا وي چي دخاوند صرف درجعت حق سلب نه سي ، بلکه اتنده که خاوند اوښځه دواړه راضي سي نکاح کول وغواړي نو هم نوې نکاح نه سي کولی ، لکه چي دسورة بقره په آيت کي دي چي. فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ .

(دري طلاقه په يو وار ورکول حرام دي مګر که چاداسي وکړل نو دري سره به واقع سي په دې دامت اجماع ده)

نن صبا ددين څخه بې پرواهي ددين داحکامو څخه غفلت په بده طريقه سره عاميږي دجاهلانو به څه وي ، تعليم يافته منشيان هم ددري طلاقو څخه کومو ته ګويا طلاق نه وايي اوشپه اوورځ داليدل کيږي چي دري طلاقه ورکوونکي وروسته پښيمانه وي اوپه دې فکرکي وي چي په څه شان مي دا ښځه دلاس څخه ونه وزي ، په صحيح حديث کي په يوځاى په دري طلاقه ورکوونکي باندې دنبي کريم ﷺ سخت غضبناك کيدل امام نسايي په روايت دمحمود بن لبيد نقل کړي دي ، په دې وجه په يو وخت دري طلاقه ورکول په اجماع دامت حرام اوناجائز دي اوکه يو سړى په دري طهرونو کي جلا جلا دري طلاقونه ورکي نو ددې ناکاروالي هم په اجماع دامت اودقرآن دايت داشاري څخه ثابت دي ، صرف په دې کيَ اختلاف دي چي دا صورت هم حرام دي ، امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله او شافعي رحمه الله حرام خو ورته نه وايي يعني په طلاق بدعي کي يې شميري ، بلکه په سنت کي يې دا خل ګني مګر ناخوښه فعل د دوى په نزد هم دي تفصيل يې په سورة بقره کي تير سوى دي ، مګر لکه څنګه چي د دري طلاقوپه يوځاى دورکولوپه حراموالي دټول امت اجماع ده ، دغه شان په دې هم اجماع ده چي دحراموالي باوجود که څوك داسي وکي نو دري سره طلاقه به واقع سي ، آئنده به د دوى په مينځ کي نوى نکاح هم حلاله نه وي ، په ټول امت کي دڅينو شيعه ګانو اواهلِ حديثو څخه ماسوا ټول څلور سره مذهبونه پردې متفق دي چي که دري طلاقه په يو ځاى ورکول سي ، دري سره به واقع سي ، څکه چي ديو فعل په حراموالي سره دده اثر واقع کيدل نه متاثره کيږي ، لکه يوسړى چي څوك بې ګناه قتل کي ، نو دفعل دحراميدو باوجود مقتول خو په هر حال به مري دغه شان دري طلاقه په يوځاى دحراميدو باوجود ددري واړو وقوع لازمي امر دي اوصرف دڅلورو مذهبونو نه بلکه پردې دصحابه کرامو رضي الله عنهم اجماع دحضرت فاروق اعظم رضي الله عنه په زمانه کي منقول اومعروف ده ، ددې بيان هم مخکي په سورة بقره کي په تفصيل سره تير سوى دي .

وَأَشْهِدُوا ذَوَيْ عَدْلٍ مِنْكُمْ وَأَقِيمُوا الشَّهَادَةَ لِلَّهِ : يعني شاهدان جوړ کي په خپلو مسلمانانو کي دوه معتبر سړيان اوقائم کي شهادت صحيح صحيح .

اتم حکم: ددې آيت څخه دا معلومه سوه چي دعدې دختميدو په وخت کي برابره خبره ده که رجعت وکي او بې بي دځان سره ساتل وغواړي ياعدې څخه وروسته يې ازادول وغواړي ، په دواړو صورتونو کي دي

په خپل دی کار رجعت یا ازادولو دوه معتبر شاهدان ونیسی ، دا حکم داکثرو امامانو په نزد استحبابی دی ، رجعت په دی موقوف نه دی او دشاهدانو حکمت درجعت په صورت کی خو دا دی چی هسی نه صبا ښځه درجعت څخه انکار وکی او دده دنکاح څخه دوتلو دعویٰ ونه کړی او دازادولو په صورت کی ځکه چی صبا په خپله دخپل نفس په شرارت یادښځی په محبت سره مغلوب نه سی اودا دعوی ونه کی چی دعدی تیریدو څخه مخکی می رجعت کړی وو ، ددی دوو شاهدانو دپاره یی ذَوَیْ عَدْلٍ وفرمایل اووی ښووله چی په شرعی او اصطلاحی معنٰی کی عَدْلْ یعنی ثقه اومعتبر کیدل دشاهدانو ضروری دی، کنه نو د دوی په شهادت به قاضی څه فیصله نه وزکوی اوپه ، اَقِيْمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ کی عامو مسلمانوته خطاب دی چی که تاسی په څه داسی واقعه درجعت یانکاح ماتولو کی شاهد سی او دقاضی په عدالت کی دشاهدی نوبت راسی نو دڅه رعایت یامخالفت اوعداوت په وجه په رښتینی شاهدی ورکولو کی یوه ذره فرق مه کوی.

ذٰلِكُمْ يُوعَظُ بِهٖ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ : یعنی په دی مذکوره مضمون سره هغه سړی ته نصیحت کول کیږی کوم چی ایمان لری په الله ﷻ او په ورځ داخرت باندی ، په دی کی داخرت په خصوصیت سره ذکر ځکه وسو چی دښځی اوخاوند په خپل مینځ کی دحقونو ادائیگی بغیر دتقوٰی اوفکرِ اخرت څخه په چا نه کول کیږی.

(دجرم اوسزا په قوانینو کی دقرآن حکیم عجیبه حکیمانه او مربیانه اصول)

دد: ا په حکومتونو کی دقواعدو او قوانینو تدیون او دجرمونو دسزا او تعزیر دپخوا څخه دستور دی ، په هرملك اوقوم کی دقوانینو اوتعزیراتو کتابونه لیکل سوی دی ، اودا هم ظاهره ده چی قرآن حکیم هم دالله ﷻ دقانون کتاب دی ، مگر دده طرز دټولی دنیا دقوانینو دکتابونو څخه منفرد او عجیبه دی چی دهر قانون څخه مخکی او وروسته دخدای ﷻ بیره او دآخرت فکر مخ ته کول کیږی چی هرانسان دقانون پابندی دیو پولیس اونگران دبیری څخه نه بلکه دالله ﷻ دبیری څخه وکی که څوك یی وینی یایی نه وینی ، خلوت وی که جلوت ، په هر صورت کی دقانون پابندی ضروری وگڼی ، صرف دا سبب دی چی په قرآن باندی په صحیح ایمان لرونکی کی دسخت څخه سخت قانون نافذ کول هم زیات دشوارنه وی په دی وجه اسلامی حکومت ته دپولیس اوپر دوی داسپیشل پولیس اوپر دوی دخفیه پولیس دجال اچولو ضرورت نه راځی.

دقرآن کریم دامربیانه اصول په ټولو قوانینو کی عام دی ، په خصوصیت سره دښځی اوخاوند په تعلقاتو او د دوی په مینځ کی دحقونو په قوانینو کی تردی ټولو زیات اهتمام سوی دی ، ځکه چی دا تعلقات داسی دی چی په دی کی په هرکارنه شهادت مهیا کیدی سی اونه عدالتی تحقیق دزوجینو په خپل مینځ کی دحقونو دکوتاهی صحیح اندازه لگولی سی ، ددی ټول دار اومدار په خپله دزوجینو په زړونو او د دوی په عملونو باندی دی ، دا وجه ده چی دنکاح په مسنونه خطبه کی چی دقرآن کریم کوم آیتونه ویل

په سنتو سره ثابت دی ، دا دری سره آیتونه دتقوٰی دحکم څخه شروع کیږی اوپه دی ختمیږی، په کومو کی چی دا اشاره ده چی نکاح کوونکی دی داوس څخه په دی پوه سی چی که څوك یی وینی یایی نه وینی مگر الله ﷻ زمونږ دټولو عملونو څخه بلکه دزړه دپټو خیالاتو څخه خبردی که مونږ په خپل مینځ کی دحقونو په اداتیگی کی کوتاهی وکو اویو بل ته تکلیف ورسوو نو دعالم السرائر په مخکی به جواب ورکول وی ، دغه شان په سورة الطلاق کی یی چی کله دطلاق یوڅو احکام بیان کړل نو داول حکم څخه وروسته یی وَاتَّقُوا اللّٰهَ رَبَّكُمْ وفرمایل او دتقوٰی هدایت یی وفرمایی ، بیادڅلورو احکامو دذکر کولو څخه وروسته یی دا وعظ او نصیحت وکی چی کوم سړی ددی خلاف ورزی کوی ، هغه په بل څانه بلکه په خپل څان ظلم کوی ددی وبال به دی تباه کړی ، وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللّٰهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ : بیا دنورو څلورو ضمنی احکامو اوقوانینو دذکر کولو څخه وروسته دوباره داهدایت گردان سو، ذٰلِكُمْ يُوعَظُ بِهِ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ : مخکی په یوآیت کی دتقوٰی فضیلتونه او ددی ددینی او دنیوی برکتونو بیان فرمایی ، بیا ددی آیت په اخرکی یی په الله ﷻ دتوکل اوبروسی ساتلو برکتونه ارشاد وفرمایل ، بیاددی څخه وروسته دعدی څو احکام بیان سول اوددی څخه وروسته بیاپه دوو ایتونوکی دتقوٰی دزیاتو برکتونو اوثمراتو بیان رالی او ددی څخه وروسته بیاځه دنکاح اوطلاق متعلقات ، دښځی نفقه او داولاد تی ورکول اونور احکام وښوول سو، دطلاق اوعدی اودښځی دنفقی اودتی اونورو په احکامو کی بار بار یی کله ذکر داخرت، کله دتقوٰی فضیلت اوبرکت اوکله دتوکل برکتونه اوځه احکام بیان کړل بیادتقوٰی د دوباره سه باره فضیلتونو بیانول په ظاهره بی ربطه معلومیږی ، مگر دقرآن کریم ددی مربیانه اصولو په حکمت دپوهیدو څخه وروسته ددی تعلق اوژور ربط هم معلوم سو اوس دذکر سوو ایتونو تفسیر اوتشریح وگوری.

وَمَنْ يَتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا ° وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ : یعنی کوم سړی چی دالله ﷻ څخه بیریږی نوالله ﷻ به دهغه دپاره دهرمشکل اومصیبت څخه دنجات لار را وباسی اوهغه ته به بی گمانه رزق ورکړی ، دلفظ دتقوٰی اصلی اولغوی معنٰی محفوظ کیدل دی ، په شرعی اصطلاح کی دگناه څخه دمحفوظ کیدو دپاره دالفظ ویل کیږي اوکله چی یی اضافت اونسبت دالله ﷻ طرف ته وی نوترجمه یی دالله ﷻ څخه دبیری کول کیږی اومطلب یی دا وی چی دالله ﷻ دنافرمانی څخه محفوظ سی او وبیریږی ، په دی آیت کی یی دتقوٰی دوه برکتونه بیان فرمایلی دی ، اول دا چی دتقوٰی اختیاروونکی دپاره الله ﷻ دمحفوظ کیدو لار راباسی ، دیوشی څخه په محفوظ کیدلوکی صحیح خبره دا ده چی دا عام دی ددنیا دټولو مشکلاتو او مصیبتونو دپاره هم او دآخرت دټولو مصیبتونو اومشکلاتو دپاره هم ، اومطلب دایت دا دی چی الله ﷻ دمتقی یعنی دگناهونو څخه دمحفوظ کیدونکی بنده ددنیا اواخرت دهرمشکل او مصیبت څخه دنجات لاره راباسی ، او دوهم برکت یی دا دی چی ده ته دداسی طرف څخه رزق ورکوی دکوم طرف څخه چی دده خیال اوگمان هم نه وی صحیح خبره دا ده چی دررزق څخه مراد هم دلته دهر

ضرورت شی دی ، برابره خبره ده که ددنیا وی یا داخرت ، دمومن متقی دپاره دالله ﷻ وعده په دی آیت کی دا ده چی دده هرمشکل هم اسانوی او دده ضرورتونه هم پوره کوی او دداسی لارو څخه دده ضرورتونه مهیا کوی دکومو چی ده ته وهم او گمان هم نه وی (روح)

دمقام دمناسبت په وجه ځینو مفسرینو حضراتو ددی آیت په تفسیرکی دافرمایلی دی چی طلاق ورکوونکی خاوند او طلاقه سوی ښځه دواړه یا په دوی کی چی کوم تقوىٰ اختیاروونکی وی الله ﷻ به هغه ته دطلاق او جدا کیدو څخه وروسته دپیښیدونکی هرمشکل او تکلیف څخه نجات ورکی او سړی ته به دده مناسب ښځه او ښځی ته به ددی مناسب خاوند ورکړی او ظاهره ده چی دایت اصل مطلب کوم چی دټولو مشکلاتو او هرقسم رزق دپاره عام او شامل دی، په دی کی دزوجینو دامشکلات او ضرورتونه هم شامل دی (کذا فی روح المعانی)

(دذکر سوی آیت شان نزول)

دحضرت عبدالله ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چی عوف بن مالك اشجعی ﷺ دنبی کریم ﷺ په خدکت کی حاضر سو او عرض یی وکی چی زما زوی سالم دښمنانو نیولی دی او بیولی یی دی دده مورسخته پریشانه ده ، زه څه وکړم؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل چی زه تاته او دهلك مور ته حکم کوم چی تاسی په کثرت سره لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلاَّ بِاللهِ : وایاست ، دغو دواړو دحکم تعمیل وکی ، دا کلمی یی په کثرت سره ویلی ، ددی اثر دا وسو چی کومو دښمنانو هلك قیدکړی وو ، هغوی یوه ورځ غافله سول ، هلك دهغوی دقید څخه را ووتی او دهغوی څخه یی څه بیزی راوشړلی او پلار ته راورسیدی ، او په ځینو روایتونوکی دی چی دهغوی یو اوښ ده ته په لاس ورغی ، په هغه سپور سو او نور اوښان یی دځان سره راروان کړل او پلارته راورسیدی، دده پلار داخبر دنبی کریم په خدمت کی وړاندی کی او په ځینو روایتونوکی دی چی داپوښتنه یی هم وکړه چی دا اوښان او بیزی چی زمازوی راوستی دی، دازمونږ دپاره حلال دی که نه؟ په دی دا ایت نازل سو، وَمَنْ یَّتَّقِ اللهَ الخ

اوپه ځینو روایتونوکی دی چی عوف بن مالك اشجعی ﷺ او دده ښځه چی کله دزوی په جدایی کی زیات پریشانه سول نونبی کریم ﷺ دوی ته دتقوىٰ اختیارولو حکم ورکی او په دی کی څه بعد نسته چی دتقوىٰ حکم یی هم ورکړی وی او په کثرت سره دلَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلاَّ بِاللهِ، ویلو هم (دا ټول روایتونه په روح المعانی کی دابن مردویه څخه په طریق دکلبی دابی صالح دابن عباس ﷺ څخه نقل سوی دی)

ددی شان نزول څخه دا هم معلومه سوه چی که څه هم په دی مقام کی دا آیت دطلاق سره دتعلق لرونکی سړی او ښځی په حقله راغلی دی مگر مطلب ددی عام دی او ټولو ته شا مل دی .

مسئله : ددی حدیث څخه دا هم ثابته سوه چی که یو مسلمان دکفارو په قیدکی راسی او هغه په واپسی کی دځان سره دهغوی څه مال راوړی نو دا مال په حکم دمالِ غنیمت حلال دی او دمالِ غنیمت دعامی قاعدی مطابق ددی پنځمه حصه بیت المال ته ورکول هم په ده لازم نه دی ، لکه چی په واقعه دحدیث کی ددی مال څخه خمس نه دی اخستل سوی، فقهاء رحمهم الله فرمایی چی که یو سړی په پټه بغیر دامان او

اجازت اخستو څخه دار الحرب ته ولاړ سي او دهغه ځای څخه دکفارو څه مال وتښتوی او دارالاسلام ته یی را ورسوی نو دهغه هم دا حکم دی ، لیکن کوم سړی چی دکفارو څخه امان اواجازت واخلی او دهغوی ملك ته ولاړسی ، لکه چی نن صبا دویزی دستور دی نو دهغه دپاره جائز نه دی چی دهغوی څه مال دهغوی داجازت څخه بغیر راوړی ، دغه شان کوم سړی چی قیدسی اودهغوی ملك ته ولاړسی ، بیا په کفاروکی څوك دهغه سره امانت کښیږی نو ددی امانت راوړل هم جائز نه دی ، په اول صورت کی په دی وجه چی په امان ورکولو سره یوه وعده د دوی په مینځ کی وسوه اوس د دوی داجازت څخه بغیر د دوی په ځان اومال کی تصرف کول په وعده شکنی کی داخله ده اوپه دوهم صورت کی هم دامانتونو په ایښوولو سره عملی وعده وسوه چی کله یی هغه وغواړی نو واپس کوی به یی، اوس امانت نه واپس کول بد وعدی او وعده شکنی ده کومه چی شرعًا حرامه ده (مظهری)

دنبی کریم ﷺ سره دهجرت څخه مخکی به ډیرو کفارو خپل امانتونه ایښوول ، دهجرت په وخت کی د دوی په قبضه کی داسی څه امانتونه وه ، دوی هغه دځان سره رانه وړل بلکه حضرت علی کرم الله وجهه یی ددی کار دپاره دځان څخه وروسته پرېښوول چی هغه امانتونه خپلو خپلو حقدارو ته واپس کی .

(دمصیبتونو څخه دنجات او دمقاصدو دحصول مجربه نسخه)

په ذکر سوی حدیث کی نبی کریم ﷺ عوف بن مالك ﷺ ته دمصیبت څخه دنجات اودمقصد دحصول دپاره دا تلقین وفرمایی چی په کثرت سره لاحول ولاقوّة الاّ بالله : ووایه ، حضرت مجدد الف ثانی فرمایی چی ددین اودنیوی هرقسم مصیبتونو اوتکلیفونو څخه دمحفوظ کیدو اونفعو اومقصدونو دحاصلولو دپاره دا کلمه په کثرت سره ویل ډیر مجرب عمل دی او ددی کثرت مقدار حضرت مجدد داښوولی دی چی روزانه پنځه سوه (۵۰۰) واره دا، لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلاّ بِاللهِ : وایی اوسل سل واره یی په اول اواخر کی درود شریف وایی او دخپل مقصد دپاره دعا کوی (مظهری)

اوامام احمد، حاکم، بیهقی، ابونعیم اونورو دحضرت ابوذر ﷺ څخه روایت کړي دی اوحاکم ددی اسنادو ته صحیح ویلی دی چی نبی کریم ﷺ یوه ورځ ددی آیت ، وَمَنْ يَّتَّقِ اللهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا الاية، تلاوت بار بار فرمایی تردی چی ماته خوب راغی ، بیایی وفرمایل چی ای ابوذر! ﷺ که ټول خلک صرف داآیت اختیار کی نو دټولو دپاره کافی دی (روح المعانی) دکافی کیدو مراد ظاهر دی چی په ټولو دینی او دنیوی مقاصدو کی دکامیابی دپاره کافی دی .

وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ اِنَّ اللهَ بَالِغُ اَمْرِهٖ قَدْ جَعَلَ اللهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا : یعنی کوم سړی چی په الله ﷻ توکل او بروسه کوی ، الله ﷻ دهغه دمهماتو دپاره کافی دی ، ځکه چی الله ﷻ خپل کارځنگه چی غواړی پوره کوی یی ، هغه دهر شی یوه اندازه مقرره کړي ده ، دهغه مطابق ټول کارونه کیږی ، په ترمذی او ابن ماجه کی دحضرت عمربن خطاب ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی .

لَوْ اَنَّكُمْ تَوَكَّلْتُمْ عَلَى اللهِ حَقَّ تَوَكُّلِهٖ لَرَزَقَكُمْ كَمَا يَرْزُقُ الطَّيْرَ تَغْدُو خِمَاصًا وَتَرُوحُ بِطَانًا .

که تاسی په الله ﷻ توکل کولی لکه څنګه چی دهغه ﷻ حق دی نو بیشکه الله ﷻ به تاسی ته داسی رزق درکولی لکه چی مرغانو ته یی ورکوی چی دخپلوزالوڅخه اوږی وزی او مابنام په مړه خیټه راواپس کیږی .
اوپه صحیح بخاری اومسلم کی دحضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی زما په امت کی به اویا زره سړی بی حسابه جنت ته داخلیږی د دوی په صفتونو کی یو دا هم دی چی دوی به په الله ﷻ توکل کوونکی وی (مظهری)
دتوکل معنی دا نه ده چی دالله ﷻ پیدا کړی اسباب اوالات پریږدی بلکه مراد دا دی چی اختیاری اسباب ضرور اختیارکی ، مګر توکل پراسبابو دکولو په ځای په الله ﷻ باندی کوی چی ترڅو دهغه مشیت او اراده نه وی هیڅ کار نه سی کیدی ، په ذکر سوی آیت کی دتقوٰی او توکل دبرکتونو اوفضیلتونو دبیانولو څخه وروسته یی نورځو احکام دطلاق اوعدی بیان کړی دی .

وَاللَّائِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِنْ نِسَائِكُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ : په دی آیت کی دطلاقو سوو ښځو دعدی زیات تفصیل دی ، په کوموکی چی د دری قسمه ښځو دعدی دعامی قاعدی دعدی څخه جلا حکم ذکر دی .
دعدی په حقله نهم حکم : دطلاق عده په عامو حالاتوکی دری پوره حیضونه دی چی بیان یی په سورة بقره کی تیرسوی دی ، لیکن هغه ښځی دکومو عمر چی زیات سوی وی یادڅه بیماری اونورو په سبب یی حیض راتلل بندسوی وی ، دغه شان هغه ښځی چی دکم عمر په سبب یی لاحیض راتلل نه وی شروع سوی ، د دوی عده په ذکر سوی آیت کی د دری حیضونو په ځای دری میاشتی مقرری سوی دی ، او دحامله ښځو عده دحمل پیدا کیدل مقرر سوی دی برابره خبره که هغه په هرڅومره ورځوکی چی وی .
اِنِ ارْتَبْتُمْ : یعنی که ستاسی شك وی ، مراد دشك څخه دا دی چی اصل عده دحیض څخه شروع کیږی او ددی ښځو حیض خو بند دی نو بیا دعدی شمیر به څنګه وی ، دا تردُّد مراد دی .
مخ ته بیا دتقوٰی دفضیلت اوبرکت بیان دی ، وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْرًا : یعنی کوم سړی چی دالله ﷻ څخه بیریږی ، الله ﷻ به دهغه په کارکی اسانی پیدا کړی یعنی ددنیا اواخرت کار به دهغه دپاره اسانه سی ددی څخه وروسته بیا دطلاق اوعده دذکر سوو احکامو دپابندی تاکید دی .

ذَٰلِكَ أَمْرُ اللَّهِ أَنْزَلَهُ إِلَيْكُمْ : دا حکم دی دالله ﷻ چی تاسی ته نازل سوی دی ، ددی څخه وروسته دتقوا دیو بل فضیلت بیان دی ، وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ وَيُعْظِمْ لَهُ أَجْرًا : یعنی کوم سړی چی دالله ﷻ څخه بیریږی نو الله ﷻ به دهغه دګناهونو کفاره وکی او دهغه اجر به زیات کی .

(دتقوٰی پنځه برکتونه)

په ذکر سوو آیتونوکی چی کوم دتقوٰی دفضیلتونو اوبرکتونو بیان راغلی ، ددی خلاصه پنځه شیان دی ، یو دا چی الله ﷻ دمتقیانو دپاره ددنیا او آخرت دمصیبتونو اومشکلاتو څخه دخلاصون لار راباسی ، دوهم دا چی د دوی دپاره درزق داسی دروازی خلاصوی ، دکومو طرف ته چی دده خیال هم نه وی تللی ،

دریم دا چی د دوی په ټولو کارونو کی آسانی پیدا کوی ، څلورم دا چی دده دګناهونو کفاره کوی ، پنځم دا چی دده اجر زیاتوی اویو بل ځای دتقوی دا فضیلت هم ښوول سوی دی چی ددی په وجه ده ته دحق اوباطل پیژندل اسان سی، دایت ، اِنْ تَتَّقُوا اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّكُمْ فُرْقَانًا : هم دا مطلب دی ، مخ ته بیا دطلاقو سوو ښځو دعدی او د دوی دنفقی بیان اودعامو ښځو دحقوقو داداثیګی تاکید دی چی ، أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِنْ وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ : ددی آیت تعلق دهغه اولنی حکم سره دی کوم چی لوړ راغلی دی چی طلاقی سوی ښځی د دوی دکورونو څخه مه باسی ، په دی آیت کی دهغه ایجابی اړخ ذکر وسو چی دوی ته تر عدی پوره کیدو پوری دخپل وسعت اوقدرت مطابق داوسیدو مکان ورکی ، کوم ځای چی تاسی په خپله اوسی ، ددغه مکان په څه حصه کی یی ساتی که مطلقه په رجعی طلاق سره وی نو بیا خو دپردی ضرورت نسته اوکه طلاق بائن وی یادری طلاقه وی نو اوس دنکاح تعلق پری سوی دی دابه ددی خاوند څخه پرده کوی په دی وجه به په هغه مکان کی دپردی سره ددی داوسیدو انتظام کوی .

(لسم حکم طلاقي سوی ښځي دعدی په ورځوکي مه پریشانه کوی)

لَا تُضَارُّوهُنَّ : ددی مطلب دا دی چی دعدی په ورځوکی کله چی طلاقه سوی ښځه ستاسی سره اوسیږی نو په بد رد ورسره کولو یا په ضروریاتو کی په تنګی کولو سره یی مه پریشانه کوی چی هغه په وتلو مجبوره سی .

وَإِنْ كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنْفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ :

یعنی که طلاقی سوی ښځی حملداری وی نو تر حمل پیدا کیدو پوری خرڅ ورلره ورکوی .

(یوولسم حکم دطلاقو سوو دعدی نفقه)

په دی آیت کی دا وښوول سوه چی طلاقی سوی ښځی که حاملی وی نونفقه یی ترهغه وخته پوری په خاوند لازمه ده ترڅو چی حمل نه وی پیدا سوی په دی وجه دطلاقی سوی حاملی په حقله دپوره امت اجماع ده چی دحمل تر پیداکیدو پوری ددی نفقه دعدی په خاوند باندی واجب ده ، باقی کومه طلاقه سوی چی حامله نه وی که دی ته طلاقِ رجعی ورکول سوی وی ، نو دعدی نفقه یی هم په خاوندپه اجماع سره واجب ده ، باقی هغه طلاقه سوی کومی ته چی طلاقِ بائن یادری طلاقه ورکول سوی وی یاکومو چی په خلع اونور سره خپل نکاح فسخ کری وی ، ددی په حقله دامام شافعی رحمه الله اواحمد رحمه الله اوځینو نورو امامانو قول دا دی چی د دوی نفقه په خاوند واجب نه ده اودامام اعظم رحمه الله په نزد ددی نفقه هم په خاوند لازمه ده، دده په نزد لکه څنګه چی حق دسکنٰی دمطلقاتو دپاره واجب دیٰ ، دغه شان نفقه هم دټولو قسمونو مطلقاتو دپاره واجب ده او دلیل یی دا آیت دی په کوم کی چی یی دعامو مطلقاتو دپاره حق دسکنٰی ورکول لازم کی، یعنی ، أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِنْ وُجْدِكُمْ : څکه چی په دی آیت کی دحضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه قرآئت دا دی ، أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ وَأَنْفِقُوا عَلَيْهِنَّ مِنْ وُجْدِكُمْ : او یوقرآئت دبل قرآئت دپاره مفسر وی ، ددی څخه معلومه سوه چی دذکر سوی آیت مشهور

قرآئت په کوم کې چې لفظ دَاَنْفِقُوْا مذکور نه دی ، په دې کې هم دالفظ محذوف دی او دې چې لکه څنګه دتولو مطلقاتو دپاره حق دسکنٰی په خاوندانو لازم کړي دی دغه شان حق دنفقې یې هم تروروځو دعدې پورې لازم کړی دی او ددې تائید دحضرت فاروق اعظم ؓ او دنورو ډیرو صحابه کرامو ؓ ددې قول څخه کیږي چې دوی فاطمه بنت قیس ؓ کومې ته چې ددې خاوند درې طلاقه ورکړی وه ، دهغوی دا روایت چې نبی کریم ﷺ ددې نفقه ددې په خاوندنه وه لازمه کړې ، دا وویل او رد یې وفرمایی چې مونږ د دوی ددې روایت په بنا کتاب الله او سنت رسول الله ﷺ نه سو پرېښوو په کوم کې چې یې دتولو مطلقاتو نفقه دعدې په خاوندانو باندې لازمه کړې ده . مسلم

په دې کې دکتاب الله دحوالې څخه خو په ظاهره دا ایت مراد دی ، اودفاروق اعظم ؓ په نزد دآیت په مطلب کې نفقه هم دا خله ده او دسنتو څخه مراد هغه حدیث دی کوم چې په خپله دعمربن خطاب ؓ څخه طحاوی ، دارقطنی اوطبرانی روایت کړی دی ، عمربن خطاب ؓ فرمایي چې مادنبي کریم ﷺ څخه اوریدلی دی چې دوی دمطلقې ثلاثې دپاره هم خرڅ او استوګنه واجبه کړې ده .

لنډه دا چې دحملدارو ښځو دعدې نفقه خو صراحتًا دې آیت واجبه کړې ده ، په دې وجه په دې خواجماع دامت ده ، دغه شان درجعي مطلقې چې کله لا تراوسه خو دهغه نکاح ماته نه ده ، ددې نفقه هم په اتفاق واجب ده ، دمطلقې بائنې یاثلاثې اونورو په معامله کې دامت دفقهاؤ اختلاف دی دامام اعظم ؒ په نزد ددې هم نفقه واجب ده ، ددې مکمل تفصیل په مظهري کې ددې آیت لاندې لیدلی سي .

فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ : یعنې طلاقې سوې ښځې که حاملې وې اوبیا دحمل څخه بچې پیدا سي نو ددې عده خو دوضع دحمل په وجه پوره سوه ، په دې وجه ددې نفقه خو په خاوند لازمه پاته نه سوه ، مګر کوم بچې چې پیدا سوی دی ، که دا مطلقه مور ده ته تې ورکوی نو دتې ورکولو معامضه اخستل او ورکول جائز دي .

دوولسم حکم: رضاعت یعنې بچې ته دتې ورکولو أجرت (مزدوري) ترڅو چې ښځه دخاوندپه نکاح کې وي ، ترهغه وخته پورې بچیانوته تې ورکول په خپله دمورپه ذمه په حکم دقرآن واجب دی ، وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ : اوکوم کار چې دچا په ذمه په خپله واجب وي ، په هغه معاوضه اخستل درشوت په حکم کې دی چې اخستل یې هم ناجائز دي او ورکول یې هم او دعدې په ورځوکې په دې معامله کې په حکم کې دنکاح دی ، څکه چې دښځې نفقه چې لکه څنګه دنکاح په حالت کې په خاوند لازمه وه ، په عده کې هم واجبه ده البته چې دحمل پیدا کیدو په وجه عده ختمه سوه اوښځه ازاده سوه ددې نفقه هم په خاوند واجبه پاته نه سوه اوس که دا دې بچې ته تې ورکوي ، نو ذکر سوی آیت ددې معاوضه اخستل او ورکول جائز کړل.

دیارلسم حکم: وَأْتَمِرُوا بَيْنَكُمْ بِمَعْرُوفٍ، دَاِئْتِمَار لفظي معنٰی په خپل مینځ کې مشوره اودیوبل خبره قبلول دي ، مطلب دا دی چې دتې ورکوونکې په اجرت کې زوجینوته ددې هدایت ورکول سوچې په خپل مینځ

کی دجګړې نوبت رانه ولی ، مطلقه ښځه دی دعام أجرت څخه زيات نه غواړی ، اوخاوند دی دعام أجرت مطابق د... کولو څخه انکار نه کوی ، ديو بل سره دی دهمدردی اومحبت معامله کوی .

څوارلسم حکم: وَإِنْ تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهُ أُخْرَىٰ : يعنی که دتی ورکولو معامله په خپل مينځ کی په مشوره سره حل نه سی ياکه مطلقه ښځه په معاوضه سره هم خپل بچی ته تی نه ورکوی ، نو دا دی حکما نه سی مجبوره کولی بلکه داسی دی وګټل سی چی سره ددی چی دمور شفقت پربچی باندی دتولو څخه زيات دی او ددی باوجود دا انکار کوی ، نوځه واقعی عذر به وی ، ليکن که په واقع کی دی ته څه عذرنه وی محض دغصی اوخفګان په وجه انکار کوی نو دخدای په نزدبه ګناهګاره وی ، مګر دقاضی په عدالت کی دا په تی ورکولو نه سی مجبوره کيدلی .

دغه شان دتی داجرت ورکولو څخه که خاوندپه وجه دافلاس عاجزه وی اوبله ښځه بچی ته بغير دمعاوضی يادمطلقی دمعاوضی څخه په کمه تی ورکولو ته تياره وی ، نوکومه معاوضه چی طلاقه سوی مور غواړی خاوند به په هغه نه سی مجبوره کولی چی دی دمور مطالبه منظوره کی ، په دی دی تی ورکوی ، بلکه په دواړو صورتونو کی بله ښځه ده ته تی ورکولی سی البته که بله ښځه هم دومره معاوضه غواړی څومره چی مور غواړی ، نو دخاوند دپاره په اتفاق دفقهاؤ جائزه نه ده، چی مور پريږدی او په بله ښځی باندی په دغه معاوضه تی ورکوی .

مسئله: که په بلی ښځی تی ورکول مقرر سی نودا ضروری ده چی تی ورکوونکی ښځی دی بچی دمور سره ساتی ، تی دی ورته ورکوی ، دمور څخه يی جلا کول ، تی ورته ورکول جائز نه دی ، ځکه چی د اولاد تربيت او په خپله نګرانی اوسرپرستی کی يی ساتل په صحيح احاديثو سره دمور حق دی ، ددی څخه دا حق اخستل جائز نه دی (تفسيرِ مظهری)

پنځلسم حکم: دښځی دنفقی په مقدارکی به دخاوند دحيثيت اعتبار وی ، لِيُنْفِقْ ذُو سَعَةٍ مِنْ سَعَتِهِ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنْفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ : يعنی خرڅ دی کوی وسعت والا سړی دخپل وسعت مطابق اوپه کوم سړی چی رزق تنګ وی ، هغه دی دخپلی آمدنی مطابق خرڅ کوی ، ددی څخه معلومه سوه چی دښځی په نفقه کی دښځی دحالت اعتبار نه کول کيږی بلکه دخاوند دحالت مطابق نفقه ورکول واجب دی ، که خاوند مالدار وی نو اميرانه نفقه ورکول واجب دی که څه هم ښځه مالداره نه وی بلکه فقيره وی ، اوکه خاوند غريب وی نو غريبانه نفقه به دهغه دمقدور مطابق واجب وی که څه هم ښځه مالداره وی ، داامام اعظم رحمه الله دا مذهب دی ، دځينی نورو فقهاؤ اقوال ددی خلاف هم دی (مظهری)

لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا، دا ددغه تيری جملی زياته تشريح ده چی الله ﷻ چاته دده دوسعت اوقدرت څخه زيات تکليف نه ورکوی ، په دی وجه په نادار مفلس خاوند باندی دده دحيثيت مطابق نفقه واجب ده کوم حيثيت چی دده داوخت دی ، مخکی ښځی ته په غريبانه نفقه باندی دقناعت اوپه هغه دصبر دتلقين دپاره فرمايی ، سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا : يعنی چاته دا خيال کول نه دی

په کار چی په موجوده حالت کی تنگی ده ، نو دا تنگی به همیشه وی ، بلکه تنگی اوفراخی دالله ﷻ په لاس کی ده ، هغه دتنگی څخه وروسته فراخی هم کولی سی.

فائده : په دی آیت کی دداسی خاوندانو دپاره دالله ﷻ دطرف څخه دفراخی حاصلیدو طرف ته اشاره ده کوم چی دخپل وس مطابق دواجبو نفقو پوره کولو کوشش کوی او دښځی دتنگولو عادت یی نه وی (والله اعلم ، روح المعانی)

وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ عَتَتْ عَنْ اَمْرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهٖ فَحَاسَبْنٰهَا حِسَابًا شَدِيْدًا وَّعَذَّبْنٰهَا

او ډیر دکلو څخه چی ووتل دحکم دخپل رب څخه اودهغه درسولانو څخه نو مونږ په حساب کی ونیول په سخت حساب کی ، او په عذاب مو کړل ،

عَذَابًا نُّكْرًا ﴿۸﴾ فَذَاقَتْ وَبَالَ اَمْرِهَا وَكَانَ عَاقِبَةُ اَمْرِهَا

په عذاب نا آشناء سره ، نو وڅکله هغوی سزا دخپل کار او وو آخر کار دهغوی

خُسْرًا ﴿۹﴾ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ۙ فَاتَّقُوا اللّٰهَ يٰۤاُولِى

تاوان ، تیار کړی دی الله دهغوی دپاره سخت عذاب نو وبیریږی دالله څخه ای دعقل

الْاَلْبَابِ ۖ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۛ قَدْ اَنْزَلَ اللّٰهُ اِلَيْكُمْ ذِكْرًا ﴿۱۰﴾ رَّسُوْلًا

خاوندانو ، کوم چی یقین کوی ، بیشکه الله نازل کړی دی په تاسی نصیحت ، رسول دی

يَّتْلُوْا عَلَيْكُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ مُبَيِّنٰتٍ لِّيُخْرِجَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

چی وایی په تاسی آیتونه دالله ښکاره چی وباسی هغوی لیرئ کوم چی یقین کوی

الصّٰلِحٰتِ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۗ وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ

او نیک عملونه کوی دتیارو څخه رڼا ته اوخوک چی یقین وکړی په الله او عمل وکی

صَالِحًا يُّدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَاۤ

نیک داخل به کړی هغه باغونو ته چی بهیږی به لاندی ترهغه نهرونه همیشه به وی په هغه

اَبَدًا ۗ قَدْ اَحْسَنَ اللّٰهُ لَهٗ رِزْقًا ﴿۱۱﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَّ

همیشه ، البته ښه ورکی الله دوی ته رزق ، الله هغه دی چا چی جوړ کړل اووه آسمانونه او

مِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ يَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ بَيْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى

مځکې هم دومره ، نازليږي دهغه حکم په دې کې چې تاسې پوه سې چې الله ﷻ

كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا ﴿۱۲﴾

هرڅه کولی سی او دالله ﷻ دعلم په احاطه کې دي هر يو شي.

لنډتفسير: اوډير کلي وه کومو چې دخپل رب دحکم (منلو) څخه اودهغه درسولانو څخه مخ واړوی نو مونږ دهغوی (دعملونو) سخت حساب وکی (مطلب دا چې د دوی دکفر په عملونوکی یې یوعمل ور معاف نه کی بلکه په ټولو باندي يې سزا منتخب کړه ، دلته دحساب څخه پوښتنه په طور دحساب مراد نه ده) اومونږ دوی ته ډيره لويه سزا ورکړه (چې دعذاب په ذريعه هلاك سول) غرض هغوی دخپلو عملونو وبال وڅکی او د دوی انجام دکار خساره اوخساره سوه (دا خو په دنيا کې وسو او په اخرت کې) الله ﷻ د دوی دپاره يو سخت عذاب تيار کړی دی (اوکله چې انجام دنافرمانی دا دی) نو ای هوښيارانو! کومو چې ايمان راوړی دی دخدای څخه وبيرېږی (چې ايمان هم ددی مقتضی ده اوبيره دا چې اطاعت کوی ، او ددی اطاعت دطريقی ښوولو دپاره) خدای تاسی ته يوه نصيحت نامه وليږله (اوهغه نصيحت نامه يې درکړه) يو داسې رسول (يې درولیږی) کوم چې تاسی ته دالله ﷻ صفا صفا احکام وايي اودر اوروی يې چې داسې خلک کوم چې ايمان راوړی او ښه عمل وکی (دکفر اوجهل) دتيارو څخه (دايمان اوعمل اوعلم) دنور طرف ته راولی (مطلب دا چې کوم نصيحت ددی رسول په ذريعه راغی ، په دی عمل کول هم اطاعت دی) او (مځکې په اطاعت يعني ايمان او عمل صالح باندي وعده ده چې) کوم سړی په الله ﷻ باندي ايمان راوړی او نيك عمل وکی، الله ﷻ به دی (دجنت) داسې باغونوته دا خل کړی دکومو لاندی چې به نهرونه بهيږی په هغه کی به هميشه هميشه اوسيږی بيشکه الله ﷻ (دوی ته ډير) ښه رزق ورکی (مخ ته دالله ﷻ واجب الاطاعت کيدل بيانيږی يعنی) الله ﷻ داسې دی کوم چې اووه آسمانونه پيداکړل او ددی په شان مځکی يې هم (اووه پيدا کړی لکه چې دترمذي او نورو په حديث کی دی چې ديوی مځکی څخه لاندی بله دوهمه مځکه ده اودغه شان د دوهمی څخه لاندی دريمه ، دغه شان اووه مځکی دی او) په دی ټولو (آسمانونو اومځکو) کی (دالله ﷻ) احکام (تشريعي ياتکويني يادواړه) نازليږی (او دا ځکه وښوول سوه) چې تاسی ته معلومه سی چې الله ﷻ په هر شي قادر دی او الله ﷻ هرشی د (خپل) علم په احاطه کی راګير کړی دی (په دی وجه ظاهره ده چې الله ﷻ واجب الاطاعت دی)

معلومات اومسئلې: فَحَاسَبْنَاهَا حِسَابًا شَدِيدًا وَعَذَّبْنَاهَا عَذَابًا نُكْرًا : په آيت کی دهغه قومونو دحساب اوعذاب چې کوم ذکر دی ، هغه په آخرت کی کيدونکی دی مګر دلته دا په لفظ دماضی حَاسَبْنَا اوعَذَّبْنَا سره تعبير کول ياخو ددی ديقيني والی طرف ته اشاره کول دی چې ګويا دا کاروسو (روح) او دا هم کيدی سی

چي دحساب څخه مراد دلته سوالات اوپوښتنه نه وي بلکه ددغو دسزا تعين وي لکه چي په لنډتفسير کې اخستل سوي دي او دا هم احتمال دی چي حساب شديد که څه هم په اخرت کې به وي ، مګرپه عملنامو کې ددی کتابت خو سوی دی او کيږي ، دايې په حساب کولو سره تعبيرکی اوکه دعذاب څخه مراد ددنيا عذاب وي کوم چي په ډيرو مخکنيو قومونو باندې نازل سوی دی په دی صورت کې به وروسته راتلونکي جمله : أَعَدَّ اللهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا صرف داخرت دعذاب په حقله پاته سي، قَدْ أَنزَلَ اللهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا * رَسُولًا ددی آيت اسانه توجيه دا ده چي دلته لفظ دَ أَرْسَلَ محذوف ومنل سو، نومعنٰى به داسي چي نازل يې کې ذکريعنی قرآن اوويی ليږی رسول ، په لنډتفسيرکی يې دا اختيارکړي ده اوتفسير يې کړی دی ، مفسرينو حضراتو نور توجيهات هم ليکلي دي مثلاً داچي دذکر څخه مرادپه خپله رسول وي چي دذکر الله دکثرت په سبب ددوی وجود ګويا په خپله ذکر الله جوړ سو او داسي نور (روح)

(اووه مځکي کوم کوم ځاى په څه صورت کي دي؟)

اَللهُ الَّذِي خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَّمِنَ الْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ : ددی آيت څخه دومره خبره خو په واضح طور سره ثابته ده ، چي څنګه اسمانونه اووه دي ، دغسی مځکی هم اووه دي ، بيا دا اووه مځکی کوم کوم ځای اوپه څه وضع اوصورت کې دي؟ دالاندی باندی دطبقاتوپه صورت کی دی اوکه دهری يوی مځکی مقام جدا جدا دی؟ که لاندی باندی طبقات وي نوايا لکه څنګه چي په اوو اسمانونوکی دهرو دوو اسمانونوپه مينځ کې لويه فاصله ده اوپه هر آسمان کی جداجدا ملائکی ابادی دی ، دغه شان ديوی مځکی اوبلی مځکی په مينځ کی هم فاصله اوهوا اوفضاء اونور دی او په دی کی څوك مخلوق اباد دی اوکه دا دمځکی طبقی ديو بل سره پيوست دی؟ قرآن مجيد ددی څخه ساکت دی او دحديثو روايتونه کوم چي په دی باره کی راغلی دی ، په دغو اکثرو احاديثوکی دحديثو داامامانو اختلاف دی ، ځينوصحيح ثابت کړی دی اوځينو ورته موضوع او بی اصله ويلی دی اوعقلاً داټول صورتونه ممکن دی اوزمونږ څه دينی يادنيوی ضرورت ددی په تحقيق موقوف نه دی، نه زمونږ څخه په قبرکی ياپه محشرکی ددی څخه سوال کيږی چي مونږ ددی اوو مځکو وضع اوصورت اومحل وقوع اوپه دی کی داوسيدونکو مخلوقاتو تحقيق وکی ، په دی وجه اسلم صورت دا دی چي بس په دی باندی ايمان راوړی اويقين وکی چي مځکی هم دآسمانونوپه شان اووه دي اوټولی الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره پيداکړی دی ، دومره خبره قرآن بيان کړي ده ، کوم چي قرآن بيانول ضروری نه دی ګڼلی، مونږولی دهغه په فکر اوتحقيق کی راځو، دسلفو صالحينو حضراتو په داسی صورتونوکی داطرز عمل پاته سوی دی چي هغوی فرمايلی دی اَبْهِمُوْا مَا اَبْهَمَهُ اللهُ يعنی کوم شی چي الله ﷻ مبهم پری ايښی دی تاسی هم هغه مبهم پريږدی ، کله چي په دی کی ستاسی دپاره څه عملی حکم نسته اوستاسی څه دينی يادنيوی ضرورت دهغه متعلق نه دی ، خصوصًا دا تفسير دعوامو دپاره ليکل سوی دی نو داسی خالص علمی اختلافی بحثونه په دی کی نه دی راخستل سوی ، دکومو چي عواموته ضرورت نسته .

يَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ بَيْنَهُنَّ: يعنى دالله ﷻ حكم ددى اوو اسمانونو او ددى اوو مځكوپه مينځ كى نازليږى او دحكم الهى دوه قسمونه دى يو تشريعى كوم چى دالله ﷻ دمكلفو بندګانو دپاره په ذريعه دوحى په واسطه دانبياء عليهم السلام راليږل كيږى ، لكه په مځكه كى دانسانانو اوپيريانو دپاره دآسمانونو څخه ملائكى دا تشريعى احكام انبياوو عليهم السلام ته راوړى چى عقائد، عبادات، اخلاق، معاملات دمعاشرت قوانين وى، ددى په پابندى ثواب اوپه خلاف ورزى باندى عذاب وى، دوهم قسم حكم، حكم تكوينى دى، يعنى دالله دتقدير دنافذ كولوپه حقله احكام چى په دى كى دكائناتو تخليق او ددى تدريجى ترقى اوپه دى كى كمى او زياتى او مرګ او ژوند داخل دى، دا احكام دالله ﷻ په ټول مخلوق حاوى دى ، په دى وجه كه دهرو دوو مځكو په مينځ كى فضاء اوفاصله اوپه دى كى دمخلوق ابادى‌دل ثابت سى ، برابره خبره ده كه مخلوق مكلف دشرعى احكامو نه وى، نو په دى هم، يَتَنَزَّلُ الاَمْرُ، صادق دى چى دالله ﷻ تكوينى امر په دى هم صادق اوحاوى دى . والله سبحانه وتعالى اعلم

تمت: سورة الطلاق بعون الله وحمده لى آخر يوم من جمادى الثانيه سنه ١٣٩١هـ يوم الاحد والله الموفق والمعين

﴿سورة التحريم﴾

سُوْرَةُ التَّحْرِيْمِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ اثْنَتَا عَشَرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة تحريم په مدينه كى نازل سو په دى كى دولس (۱۲) آيتونه او دوه (۲) ركوع ګانى دى .

شروع كوم په نوم سره دخداى ﷻ چى ډير مهربانه او نهايت رحم والا دى .

يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَاۤ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ ۚ تَبْتَغِيْ مَرْضَاتَ اَزْوَاجِكَ ؕ

اى نبى ﷺ ! ته ولى حراموى كوم چى حلال كړى دى الله ﷻ تاله غواړى ته رضامندى دخپلو ښځو

وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ① قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ اَيْمَانِكُمْ ۚ

او الله ﷻ بخښنى والا مهربانه دى ، مقرر كړى دى الله ﷻ تاسى دپاره ماتول دقسمونو ستاسى

وَاللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ۚ وَهُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ② وَاِذْ اَسَرَّ النَّبِيُّ اِلٰى

او الله ﷻ ستاسى مالك دى ، او هغه دى په هرڅه پوه حكمت والا ، اوكله چى پټه وكړه نبى ﷺ خپلى

بَعْضِ اَزْوَاجِهٖ حَدِيْثًا ۚ فَلَمَّا نَبَّاَتْ بِهٖ وَاَظْهَرَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ

يوې ښځى ته يوه خبره ، بيا چى كله هغه خبر وركى ددغه او ښكاره كړه الله نبى ﷺ

عَرَّفَ بَعْضَهٗ وَاَعْرَضَ عَنْۢ بَعْضٍ ۚ فَلَمَّا نَبَّاَهَا بِهٖ قَالَتْ

ته هغه خبره نو ښوولـه نبي ﷺ دهغه ځنې خبره او مخ یې واړوی دځینې خبرې څخه ، نو هرکله چې هغه خبر ورکی هغه ته ددغه خبر نو هغه وویل ،

مَنْ اَنْۢبَاَكَ هٰذَا ؕ قَالَ نَبَّاَنِیَ الْعَلِیْمُ الْخَبِیْرُ ③ اِنْ تَتُوْبَاۤ اِلَى

ته چا خبرکړې په دې ، وویل ده زه خبر کړم پوه خبردار ، که توبه کوی تاسی

اللّٰهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا ۚ وَاِنْ تَظٰهَرَا عَلَیْهِ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ

دواړه الله ته نو مائله سوې دي ستاسی زړونه او که چیرې زبردستي کوی په ده نو الله ﷻ دی دده

مَوْلٰىهُ وَجِبْرِیْلُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِیْنَ ۚ وَالْمَلٰٓىِٕكَةُ بَعْدَ ذٰلِكَ

ملګری او جبریل ﷺ اونیك بخت ایماندار ، او ملائکی ددې څخه وروسته

ظَهِیْرٌ ④ عَسٰى رَبُّهٗۤ اِنْ طَلَّقَكُنَّ اَنْ یُّبْدِلَهٗۤ اَزْوَاجًا خَیْرًا

مددګاري دي ، که نبي ﷺ پرېږدي تاسي نو نژدې ده چې دده رب په بدله کې ورکړي ده ته ښځې تاسي څخه

مِّنْكُنَّ مُسْلِمٰتٍ مُّؤْمِنٰتٍ قٰنِتٰتٍ تٰٓىِٕبٰتٍ عٰبِدٰتٍ سٰٓىِٕحٰتٍ ثَیِّبٰتٍ وَّاَبْكَارًا ⑤

غوره حکم برداري یقین لرونکي په لمانځه کی ودریدونکي توبه کوونکي عبادت کوونکي روژه لرونکي واده سوي اوانجوني

لنډتفسیر: ای نبي! ﷺ کوم شی چې الله ﷻ ستا دپاره حلال کړی دی ، ته (په قسم کولو سره) هغه (په ځان باندې) ولې حراموې (بیاهغه هم) دخپلو بیبیانو دخوشحالولو دپاره (یعني که څه هم دڅه مباح شی پرېښوول خو جائز دی او ددې پرېښولو په قسم سره موکد کول هم په یو مصلحت سره جائز دی لیکن بیاهم خلاف اولی دی خصوصًا کله چې دهغه داعی هم ضعیف وی ، یعني دبیبیانو رضا حاصلول په داسی کار کی په کوم کی چې د دوی راضي کول ضروري نه وو) اوالله ﷻ بخښنی والامهربانه دی (چې ګناه هم معاف کوی اوتانه خو څه ګناه نه ده سوی ، په دې وجه داعتاب نه دی ، بلکه په شفقت اورافت سره ورته ویل کیږی چې تایوه جائزه نفع پرېښووله ولې دې ځان په تکلیف کې اوچونکه ده ﷺ قسم کړی وو ، په دې وجه په عام خطاب سره دکفاری دقسم ورکولو په نسبت ارشاد فرمایي چې) الله ﷻ تاسي ته ستاسی دقسمونو ماتولو (یعني دقسم ماتولو څخه وروسته دهغه دکفاری طریقه) مقرر فرمایلې ده اوالله ﷻ ستاسی کار ساز دی اوهغه لوی پوهه لوی حکمت والا دی (په دې وجه هغه په خپل علم اوحکمت سره ستاسی مصلحتونه اوضرورتونه پیژني ، په تاسي د ډیرو ګرانو شیانو داسانولو طریقې مقرروی ، لکه

چي دکفاري په ذريعه يې دقسم دپابندي دتکليف علاج وکي، او (مخ ته بيبيانوته اوروي چي هغه وخت ديادولو قابل دی) کله چي پيغمبر ﷺ خپلې يوې بي بي ته په پټه يوه خبره وفرمايله (هغه خبره دا وه چي زه به بياگبين نه چښم، مگر چاته څه وايه مه) بياکله چي هغه بي بي هغه خبره (بلې بي بي ته) وښووله ، او پيغمبر ته الله ﷻ (په ذريعه دوحي) ددی خبر ورکي نوپيغمبر (ﷺ دغه ظاهروونکې بي بي ته) لږ څه خبره خو وښووله (چي تازما دا خبره بلې ته کړي ده) اولږ خبره يې پرينښووله (يعني دده ﷺ دکرم انتها دومره ده چي دده ﷺ دحکم څخه چي کومې بي بي خلاف کړي وو هغه ته يې چي شکايت کوي نو دشکايت په وخت کې يې هم دهغه کړې خبرې ټول اجزاء دوباره بيان نه کړل چي تازما دا خبره کړې ده او دا دی هم ويلی دی بلکه دځينو اجزاوو ذکر يې وکي او دځينو څخه ، چي کومه بي بي مخاطبه ده ، ددی گمان وسو چي ده ﷺ ته د دومره خبرې سوې دی ، زياتې نه دی سوی نوشرمندگي به يې کمه وي، اودا په تفسير ددی دواړو ټوټو کې دټولو څخه اسانه تفسير دی) نو کله چي پيغمبر ﷺ هغه بي بي ته هغه خبره وښووله نوهغې وويل چي تاسي چادی څخه خبر کړاست ده ﷺ وفرمايل چي زه لوی پوه لوی خبر لرونکی (يعني خدای پاک) خبردار کړم (دا يې بيبيانوته شايد څکه واوروله چي دنبي کريم ﷺ په ټول راز خبريدل واوري، دده ﷺ په کريمانه معامله سره په خپلې کار روايي زياتي شرمنده سی اوتوبه وکي ، لکه چي مخ ته خپله بيبيانوته دتوبې اونورو خطاب دی چي) ای (دپيغمبرﷺ) دواړو بيبيانوکه تاسي دالله ﷻ په مخکې توبه وکی نو (ښه ده څکه چي مقتضٰی دتوبې موجوده ده هغه داچي) ستاسي زړونه (دی طرف ته) مائل کيږي (چي دنورو بيبيانو څخه واوړی تاسي خپلې کړی، اوگويا داکارپه اعتبار ددی چي اصل مقتضی ددی حب رسول ﷺ دی ، قبيح نه دی ، ليکن چي کله په دی کې دنورو دحقونو تلف کيدل اوزړه ماتيدل لازميږي اومستلزم دقبيح قبيح دی ، په دی اعتبار سره قبيح اوموجب دتوبې دی) اوکه چيری (دغه شان) دپيغمبر ﷺ په مقابله کې تاسي دواړه کارونه کوی نو (ياد ساتي چي) دپيغمبر ﷺ ملگری الله ﷻ دی اوجبرائيل ﷺ دی اونيك مسلمانان دی او ددی څخه علاوه فرښتی (د دوی) مددگاري دی (مطلب داچي ستاسي په دی سازشونو سره دوی ته هيڅ ضررنه رسيږی بلکه ستاسي خپل ضرردی څکه چي دچا حامي داسي وی دهغه دمزاج خلاف په کار روايي کولو سره انجام خوظاهره ده چي تربدو هم بددی اوچي کله په ځينو اسبابو دنزول کې دحضرت عائشي ﷺ اوحفصي ﷺ څخه علاوه نوري بيبياني هم شريکې وی لکه حضرت سوده ﷺ اوصفيه ﷺ، په دی وجه مخ ته په صيغه دجمع سره خطاب فرمايي چي تاسي دا وسوسه په زړه کې مه راولي چي سړی ته خواخر بياهم دبيبيانو ضرورت وی اوزمونږ څخه ښې بيبياني به چيری وي په دی وجه به زمونږ ټولې خبرې هرومرو زغمي، نو په دی پوره پوه سی چي) که پيغمبر ﷺ تاسي ښځو ته طلاق درکړی نو دده پروردگاربه ډير ژرستاسي په بدله کې دوی ته ترتاسي ښې بيبياني ورکړي کومې چي به مسلماناني ، ايمانداري، فرمان برداري کوونکې ، توبه کوونکې، عبادت کوونکې، روژه لرونکې څه به کونډې او څه انجونې وي (په ځينو مصلحتونو سره کونډه هم ښه وي ، لکه تجربه، سليقه، هم عمري اونور، په دی وجه دا يې هم په اوصافو درغبت کې شمار کړل)

معلومات اومسئلې

(دتحريم دآيتونو دنزول واقعه)

په صحيح بخاري اونورو کې دحضرت عائشې ﷺ اونورو څخه نقل دي چې دنبي کريم ﷺ عادت شريف ور چې دماځديگر څخه وروسته به په ولاړې ولاړې دټولو بيبيانو کره (دخبر اخستو دپاره) تلی، يوه ورځ دحضرت زينب ﷺ سره تر عادت زيات ودريدې اوگبين يې وڅښلو نوماته غيرت راغی اوما دحفصې ﷺ سره مشوره وکړه چې په مونږ کې دهرې يوې خواته تشريف راوړي نو دا به ورته وايو چې تاسې مغافير څښلي دي، مغافير يوخاص قسم گوند دی، په کومو کې چې څه بدبوي وي، لکه چې داسې وسوه ده ﷺ وفرمايل چې ماخوگبين څښلي دي دي بي بي وفرمايل چې شايد يوځاى به مچمې دمغافيرو په درخته ناسته وې او دهغه څخه رس به يې خوړلی وي (په دې وجه به په گبين کې بدبوي راغلي وي) نبي کريم ﷺ به دبدبويه شيانو څخه ډير سخت نفرت کوی، په دې وجه ده ﷺ قسم واخستی چې بيابه زه گبين نه څښم اوپه دې خيال سره چې حضرت زينب ﷺ خفه نه سي ددې راز دپټ ساتلو تاکيد يې وفرمايې، مگردې بي بي بلې ته وويل اوپه ځينو روايتونوکې دي چې حضرت حفصه ﷺ گبين څښوونکی ده اوحضرت عائشه ﷺ سوده ﷺ او صفيه ﷺ صلاح اومشوره کوونکې دي اوپه ځينو روايتونوکې داقصه په بل شان هم راغلې ده ممکنه ده چې ډيرې واقعې وي اوددغو ټولو څخه وروسته داآيتونه نازل سوي وي (بيان القرآن) خلاصه ددې آيتونو دا ده چې په دې واقعه کې نبي کريم ﷺ کوم حلال شی يعنې گبين په ذريعه دقسم په ځان باندې حرام کړی وو دا کارکه په څه ضرورت اومصلحت سره وي نوجائز دی گناه نه ده، مگر په دې واقعه کې ضرورت داسې نه وو چې دهغه په وجه دوی ځان په څه تکليف کې واچوی اويو حلال شی پريږدي، ځکه چې نبي کريم ﷺ داکار دپاکو بيبيانو (رض) دراضي کولو دپاره کړی وو اوپه داسې معامله کې د دوی راضي کول دده ﷺ پرذمه لازم نه وو، په دې وجه الله ﷻ دشفقت اوعنايت له وجه وفرمايل.

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكَ تَبْتَغِي مَرْضَاةَ أَزْوَاجِكَ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ: په دې آيت کې دقرآن کريم دعام اسلوب مطابق نبي کريم ﷺ ته د دوی په نوم اخستو خطاب نه دی سوی، بلکه دیَآ أَيُّهَا النَّبِيُّ په لقب سره يې خطاب فرمايلی دی کوم چې ددوی خصوصي اعزاز اواکرام دی اوبيافرمايې چې دخپلوبيبيانو درضا کولو دپاره ته په خپل ځان يوحلال شی ولې حراموې داکلام که څه هم په وجه دشفقت وسو، مگر صورت دجواب طلبۍ وو، په کوم سره چې داخيال کيدی سو، چې شايد د دوی څخه څه لويه غلطي وسوه په دې وجه يې ددې سره وفرمايل، وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ يعنې که گناه وي هم نوالله ﷻ مغفرت اومعاف کوونکی دی

مسئله: ديوحلال شي په ځان دحرامولو ډرې صورتونه دي چې په تفصيل سره ذکر يې دسورة مائده دايت يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكُمْ: لاندې تير سوی دی، چې دهغه خلاصه دا ده چې که څوك قطعي حلال شی عقيدةً حرام کړي نو دا کفر اوعظيمه گناه ده اوکه عقيدةً يې حرام گڼي مگريې دڅه ضرورت اومصلحت څخه قسم واخلي اوپه ځان يې حرام کړي نودا گناه ده، دقسم ماتول اوکفاره اداکول

په ده واجب دی، چې ذکر يې مخکې راروان دی اوکه څه ضرورت اومصلحت وي نو جائز دی، مگر خلافِ اولی دی او دريم صورت دا دی چې نه يې عقيدةً حرام گڼي، نه يې په قسم اخستوپه ځان حرام کړي مگرعملاً هغه دهميشه پاره پريږدي او ددې عزم وکې داعزم که په دې نيت سره وکې چې ددې دائمي پريښوولو ثواب دی نوبيا دادبدعت اورهبانيت دی کوم چې شرعًا گناه اوبددی اوکه دائمي پريښوول يې ثواب نه گڼي بلکه دخپل جسماني ياروحاني مرض دعلاج په طوريې کوي نوبغير دکراهت څخه جائز دی، دځينو صوفياءِ کرامو ﷭ څخه چې دخوندونو پريښوولو کومې قصې نقل دی، هغه په دې باندې محمول دی.

په ذکرسوي واقعه کې چې نبي کريم ﷺ قسم کړی وو، دآيتونو دنزدول څخه وروسته يې دغه قسم مات کې اوکفاره يې ادا کړه لکه چې ددرِ منثور په روايت کې دی چې دوی يوغلام دقسم په کفاره کې ازاد کې (بيان القرآن)

قَدْ فَرَضَ اللَّهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَانِكُمْ: يعنې الله ﷻ په داسې صورتونو کې کوم ځای چې دقسم ماتول ضروري يابنه وي، ستاسې دقسمونو ماتولو اوکفارې ادا کولو لار يې را ايستلې ده چې ذکر يې په نورو ايتونو کې په تفصيل سره دی.

وَإِذْ أَسَرَّ النَّبِيُّ إِلَىٰ بَعْضِ أَزْوَاجِهِ حَدِيثًا يعنې کله چې نبي کريم ﷺ خپلې يوې بي بي ته دراز يوه خبره وکړه، هغه دراز خبره صحيح او داکثرو روايتونوپه وجه سره دا وه چې دوی دحضرت زينب ﵂ سره کوم گبين وچښې اونورو بيبيانوته گرانه معلومه سوه نوده ﷺ دهغوی دراضي کولو دپاره دگبين چښلو څخه قسم وکې، مگر دا يې وفرمايل چې ددې څخه څوك خبر نه سي چې حضرت زينب ﵂ خفه نه سي، مگر دې بي بي داراز نوروته ظاهرکې چې ذکر يې په راتلونکې آيت کې دی، ددې راز په حقله په نورو روايتونو کې نور هم څو شيان نقل دي، مگر په اکثرو او صحيح روايتونو کې دا دی کوم چې وليکل سوه.

فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهِ وَأَظْهَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهُ وَأَعْرَضَ عَنْ بَعْضٍ: يعنې کله چې هغه بي بي دغه دراز خبره بلې بي بي ته وکړه اوالله ﷻ نبي کريم ﷺ ته دې خبر ورکې چې ستا راز يې ښکاره کې، نوده ﷺ دې بي بي ته دراز ښکاره کولو گله څو ورکړه، مگر ټولې خبرې يې ورته ښکاره نه کړې که دا دنبي کريم ﷺ کرم اوحسن خلق وو چې په ټوله خبره ښکاره کولو سره به دا زياته شرمنده سي، دکومې بي بي سره چې يې دراز خبره کړې وه هغه څوك وه اوکومې ته يې راز ظاهر کې؟ قرآن کريم ددې بيان نه دی کړی، دحديثو داکثرو روايتونو څخه معلوميږي چې دراز خبره يې حضرت حفصې ﵂ ته کړې وه، هغه حضرت عائشه ﵂ ته ظاهره کړه چې دصحيح بخاري په حديث کې به دحضرت ابن عباس ﵄ څخه ددې بيان مخ ته راسي.

دحديث په ځينو روايتونوکې دي چې دحضرت حفصه ﵂ دراز په ظاهرولو باندې نبي کريم ﷺ دې ته دطلاق ورکولو اراده وفرمايله، مگر الله ﷻ جبرائيل امين را وليږی اودطلاق ورکولو څخه يې منع کې اووي فرمايل چې دير لمونځ گزاره، ديره روژه نيوونکې ده او ددې نوم په جنت کې ستاپه بيبيانوکې

ليکل سوي دي (مظهري)

إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا : په پاکو بيبيانوکې چې دکومو دوو بيبيانو ذکر لوړ راغلی دی چې دوی په خپل مينځ کې مشوره وکړه او دنبي کريم ﷺ په گبين چښلو يې داطرز اختيارکې چې ده ﷺ دگبين چښلو څخه قسم واخستی اوبيايي ددی دپټ ساتلو دپاره فرمايلي وه هغوی پټه نه کړه بلکه يوی بلی ته يې خبره ښکاره کې، دا دواړه څوك دی؟ د دوی په حقله په صحيح بخاري اونوروکې دحضرت ابن عباس ﷺ يو اوږد روايت دی په کوم کې چې دوی فرمايي چې تر ډيره وخته پورې زماپه زړه کې دا خواهش وو چې زه ددی دوو ښځو په حقله دحضرت عمربن خطاب ﷺ څخه پوښتنه وکړم دکومو په حقله چې په قرآن کې راغلي دي ، ان تتوبا الی الله : تردې چې يوه موقع راغله چې عمر بن خطاب ﷺ دحج دپاره ووتی اوزه هم ورسره په سفرکې شريك سوم، په سفرکې يوه ورځ عمربن خطاب ﷺ دقضاء حاجت دپاره ځنګل ته تشريف يووړې اوواپس راغي نوما داودس دپاره داوبو انتظام کړی وو، ما د دوی په لاسونو اوبه واچولې او دوی اودس کوی ما پوښتنه ورڅخه وکړه چې هغه دوی ښځې دکومو په حقله چې په قرآن کې ان تتوبا راغلي دي کمی دي؟ حضرت عمرﷺ وفرمايل چې تعجب دی تاته چې تاته خبرنسته چې دا دواړي ښځې حفصه ﷺ اوعائشه ﷺ دي ، ددی څخه وروسته حضرت عمرﷺ خپله يوه اوږده قصه ددی واقعې په حقله ذکر وفرمايله په کومه کې چې ددی واقعې دراتلو څخه مخکې ځينې حالات يې هم بيان وفرمايل ددی پوره تفصيل په تفسير مظهري کې دی ، په ذکر سوی آيت کې دی دواړو پاکو بيبيانوته مستقل خطاب کوی، ارشاد فرمايي چې که تاسي توبه وکړي لکه چې ددی واقعې تقاضا ده چې ستاسي زړه دحق څخه مائله سو، ځکه چې دنبي کريم ﷺ محبت او د دوی رضا لټول دهر مومن فرض دی، مګر تاسي دواړو په خپل مينځ کې مشوره وکړه اوداسي صورت مو اختيارکې، په کوم سره چې دوی ته تکليف ورسيدی ، داپوه داسي ګناه ده چې ددی څخه توبه کول ضروري دی اومخ ته فرمايي .

وَإِنْ تَظَاهَرَا عَلَيْهِ فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ مَوْلَاهُ : الآية : په دی کې يې دا وښوولله چې که تاسي په توبه کولوسره نبي کريم ﷺ راضي نه کې نو داسي مه ګڼي چې دوی ته به څه نقصان ورسيږی ، ځکه چې د دوی خو الله ﷺ مولا او کفيل دی اوجبرائيل امين اونول نيك مسلمانان او ددی څخه وروسته ټولي فرښتي چې ټول يې ملګرتيا اواعانت کوی، دوی ته هيڅوك څه نقصان نه سی رسولی نقصان اوضرر که څه دی ستاسي دی، مخ ته ددوی په حقله فرمايي .

عَسَىٰ رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبْدِلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ : په دی کې دښځوددی خيال جواب دی چې که مونږ ته طلاق راکړی نو زمونږ په شان نوري ښځې شايد دوی ته حاصلی نه سی ، دارشاد مطلب دا دی چې دالله ﷺ دقدرت څخه څه نه دی وتلی دی که دوی تاسي ته طلاق درکړی نو ستاسي په شان نه بلکه تر تاسي ښې ښځې به هغه ورته ورکړی ، په دی سره دالازمه نه سوه چې د دوی څخه ښه ښځې دغه وخت موجودی وی ، کيدی سی چې دغه وخت نه وی اوکله چې ضرورت سی نو الله ﷺ به نوری ښځې د دوی څخه ښه جوړی

کړي ، په دی آيتونوکی چی لکه څنګه پاکو بيبيانوته د دوی دعملونو او اخلاقو داصلاح اوتاديب اوتربيت بيان وو ، مخ ته عامو مومنانوته ددی حکم ورکول کيږي .

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ

ای ايماندارو ! وساتی خپل ځانونه ! اوخپل کور والا

نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ

دهغه اور څخه چی خشاك يی انسانان او ډبری دی ، په هغه مقرردی ملائکی تند خويه سختی

لَّا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ۝٦ يَا أَيُّهَا

نافرمانی نه کوی دالله څخه چی کومه خبره يی ورته فرمايلي وی اوکوی هغه چی ورته حکم وی ، ای

الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَعْتَذِرُوا الْيَوْمَ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝٧

منکرانو ! مه جوړوی بهانی نن ورځ هغه بدله به پيدا کی کوم څه چی تاسی کول .

لنډتفسير: ای ايماندارو! (کله چی درسول ﷺ بيبيانوته هم دعمل صالح او اطاعت څخه خلاصون نسته لکه چی لوړ معلومه سوه او نبی کريم ﷺ هم په دی ماموردی چی خپلو بيبيانوته نصيحت وکی او عمل صالح ته يی اماده کړي، نو په باقی ټول امت باندی هم دا فريضه زياته مؤکده سوه چی دخپل اهل وعيال په اصلاح او عملونو اواخلاقوکی غفلت نه کوی ، په دی وجه حکم درکول سوچی) تاسی خپل ځانونه اوخپل کوروالا د (دوږخ د) اور څخه وساتی دکوم خشاك چی بنيادم اوډبری دی (ځان بچ کول په خپله داحکامو اطاعت کول او دکوروالاو ساتل دوی ته دالله ﷻ احکام ښوول اوعمل په کول په ژبه سره، په لاسونو سره په قدر دامکان کوشش کول دی، مخ ته ددغه اورډېل حالت بيان دی چی) په کوم چی تندخويه (او) مضبوطی قوی فرښتی (متعينی) دی (چی نه هغه په چارحم کوی اونه څوك دهغو سره مقابله کولی سی چی ځان ورڅخه خلاص کړي) کوم چی دخدای (څخه يو ذره) نافرمانی نه کوی په څه خبره کی کوم چی دوی ته حکم کول کيږي ، اوڅه چی دوی ته حکم ورکول سی هغه (فوراً) په ځای کوی (غرض په دغه دوږخ داسی ملائکی مقرري دی کوم چی به کافران په دوږخ کی داخل کړي اوپرېږدی به يی اودغه وخت به کافرانو ته وويل سی چی) ای کافرانو! تاسی نن عذر (اومعذرت) مه کوی (چی بی ګټی ده) بس تاسی ته خو دهغه سزا حاصليږي څه چی تاسی (په دنيا کی) کوی .

معلومات اومسئلې: قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ : په دی آيت کی عامو مسلمانانو ته حکم دی چی دجهنم داور څخه خپل ځان هم بچ کی اوخپل اهل اوعيال هم، بيا دجهنم داور دهولناك شدت ذکر يی وفرمايی اوپه

اخرکی یی دا هم وفرمایل چی څوك ددغه جهنم داورمستحق سی هغه به دځه زور طاقت ډلی یاخوشامد یا رشوت په ذریعه ددغو فرشتو دګرفت څخه نه سی محفوظ کیدی کومی چی په جهنم باندی مسلطی دی دکومو نوم چی زبانیه دی ، په لفظ د: أَهْلِيكُمْ کی اهل وعیال ټول داخل دی په کوموکی چی ښځه، اولاد، غلامان، مینځی ټول دا خل دی اوبعیده نه ده چی دټول وخت نوکر اوچاکر هم دمینځو اوغلامانو په حکم کی وی ، په یوه روایت کی دی چی کله دا آیت نازل سو، نوحضرت عمربن خطاب ﷺ عرض وکی یا رسول الله ﷺ خپل ځان دجهنم څخه دساتلو په طریقه خو پوه یو (چی مونږ ځان دګناهونو څخه وساتو او دالله ﷺ دحکمونو پابندی کوو) مګر اهل اوعیال به مونږ څنګه دجهنم څخه بچ وساتو ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل چی دهغه طریقه دا ده چی الله ﷺ دکومو کارونو څخه تاسی منع کړی یاست دهغو کارونو څخه هغه ټول منع کی او دکومو کارونو دکولو چی یی تاسی ته حکم کړی دی، دهغه دکولو اهل وعیال ته هم حکم کوی نو دا عمل به هغوی دجهنم داور څخه محفوظ کی (روح المعانی)

(دښځي او اولاد تعليم او تربيت په هر مسلمان فرض دی)

فقهاء حضرات فرمایی چی ددی آیت څخه ثابته سوه چی په هر سړی فرض دی چی خپلی ښځی اواولاد ته دشرعی فرضو اوحلالو حرامو داحکامو تعلیم ورکی اوپه دی باندی په عمل کولو په هغوکوشش وکی ، په یو حدیث کی دی چی الله ﷺ دی په هغه سړی خپل رحمت نازل کړی کوم چی وایی ای زمانبځو اوبچو! ستاسی لمونځ، ستاسی روژه، ستاسی زکوٰة، ستاسی مسکین، ستاسی یتیم، ستاسی ګاوندی، اُمید دی چی الله ﷺ دا ټول دده سره په جنت کی جمع کړی ، د، ستاسی لمونځ، ستاسی روژی اونور فرمایلو مطلب دا دی چی ددی شیانو خیال ساتی ، په دی کی درڅخه غفلت ونه سی اودمسکین یتیم اونور فرمایلو مطلب دا دی چی د دوی کوم حقوق ستاسی په ذمه دی هغه په خوشحالی اوپابندی سره ادا کوی اوځینی بزرګانو فرمایلی دی چی دقیامت په ورځ به دټولو څخه زیات په عذاب کی هغه سړی وی ، دکوم اهل اوعیال چی ددین څخه غافل اوجاهل وی (روح)

دعامو مومنانو څخه وروسته کفارو ته خطاب دی چی اوس ستاسی عمل ستاسی مخ ته راځی اوس هیڅ عذرنه سی قبلیدی ، د ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَعْتَذِرُوا الْيَوْمَ : هم دا مطلب دی .

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَّصُوحًا عَسَىٰ رَبُّكُمْ

ای ایماندارو ! توبه کوی الله ته په‌صفا زړه سره ، امید دی چی ستاسی رب

أَن يُكَفِّرَ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا

به‌لیری کړی تاسی څخه ستاسی ګناهونه او دا خل به کړی تاسی باغونو ته چی بهیږي به لاندی

الْأَنْهٰرُ يَوْمَ لَا يُخْزِي اللّٰهُ النَّبِيَّ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ نُورُهُمْ

دهغه څخه نهرونه ، په کومه ورځ چې ذليله به نه کړي الله نبي او هغه خلق چې ايمان راوړي دده سره ، د دوی

يَسْعَىٰ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَتْمِمْ لَنَا نُورَنَا

رڼا به ځغلي د دوی په مخکې او د دوی راسته طرف ته وايي به ای ربه زمونږ ! پوره کړې مونږ لره رڼا

وَاغْفِرْ لَنَا إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٨﴾ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ

زمونږ او وبخښې مونږ ، بيشکه ته هرڅه کولی سې ، ای نبي جنگ کوه

الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ

دکفارو سره او دمنافقانو سره او سختي کوه په دوی باندې او د دوی ځای دی دوزخ ، اوبد ځای

الْمَصِيرُ ﴿٩﴾ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ كَفَرُوا امْرَأَتَ نُوحٍ وَامْرَأَتَ

دی د ورتلو ، الله ﷻ بيانوي يو مثال دکافرانو دپاره دښځې دنوح ؑ اودښځې

لُوطٍ كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَالِحَيْنِ فَخَانَتَاهُمَا

دلوط ؑ په کورکې وې د دوو نيکو بندگانو ،زمونږ دنيکو بندگانو څخه نو بيا دغو ښځو دهغوی سره خيانت وکې

فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا وَقِيلَ ادْخُلَا النَّارَ مَعَ

نو په کار ورنغی د وی ته دالله ﷻ څخه څه شی او وويل سو ورته چې داخل سی اور ته سره

الدَّاخِلِينَ ﴿١٠﴾ وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ آمَنُوا امْرَأَتَ فِرْعَوْنَ

دداخليدونکو ، او الله ﷻ بيانوي يو مثال دايماندارو دپاره دښځې دفرعون

إِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِي عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِنْ

هرکله چې وويل دې ای ربه زما ! جوړ کړې ما لره په خپله خواه کې يو کور په جنت کې او نجات راکړې ماته

فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهِ وَنَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿١١﴾ وَمَرْيَمَ

دفرعون څخه او دده دعمل څخه او نجات راکړې ما ته دقوم ظالمانو څخه ، او دمريم

ابْنَتَ عِمْرٰنَ الَّتِيْٓ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيْهِ مِنْ رُّوْحِنَا

لور دعمران کومې چې وساتلو خپل دشهوت ځاى نو مونږ پو کل وهي په دې کې دخپل روح څخه

وَصَدَّقَتْ بِكَلِمٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهٖ وَكَانَتْ مِنَ الْقٰنِتِيْنَ ﴿۱۲﴾

او رښتنې يې کړې دخپل رب کلمې او دهغه کتابونه او هغه وه دبندګۍ کوونکو څخه

لنډتفسير: (په دې آيتونو کې د دوږخ څخه دمحفوظ کيدو طريقه ښوول سوې ده او دا اهل وعيال ته ښوول دجهنم داور څخه دمحفوظ کيدو طريقه ده هغه دا ده) اى ايماندارو! تاسې دالله ﷻ په مخکې رښتيني توبه وکې (يعني چې په زړه کې په ګناه کامله پښيماني وي او آئنده دهغه دنه کولو پوخ قصدوى ، په دې کې تول احکام ددين فرائض واجبات هم دا خل سول چې دهغه پرېښوول ګناه ده اوټول محرمات او مکروهات هم په کې راغلل چې دهغه کول ګناه ده) اميد (يعني وعده) دى چې ستاسې رب به (ددې توبې په وجه) ستاسې ګناه معاف کړي او تاسې به (دجنت) په داسې باغونو کې دا خل کړي دکومو لاندې چې به نهرونه بهيږي (او دا به په هغه ورځ وي) په کومه ورځ چې الله ﷻ نبي کريم ﷺ اوکوم مسلمانان چې (دايمان او دين په وجه سره) ددوى سره دى ، هغوى به رسوا نه کړي دهغوى نور به دهغوى په مخکې او دهغوى په راسته طرف منډې وهونکې وي (لکه چې په سورة حديد کې تير سوى دى او هغه به) داسې دعا کوى چې اى زمونږ ربه زمونږ دا نور تر آخره پورې وساتې (يعني په لاره کې مړ نه سي) اومونږ وبخښې ته په هر شي باندې قادر يې (او ددې دعا وجه به وي چې په قيامت کې به هر مومن ته څه ناڅه نور ورکول سي ، څه وخت چې پل صراط ته ورسيږي دمنافقانو نور به مړ سي، لکه چې ذکر يې په سورة حديد کې تيرسوى دى ، دغه وخت به مومنان دادعا کوى چې دمنافقانوپه شان زمونږ دا نورهم ختم نه سي لکه چې داسې په درمنثور کې دابن عباس ﷺ څخه نقل دى) اى نبي ﷺ دکفارو سره (په توره) جهاد کوه او دمنافقانو سره (په ذريعه دژبې اوبيان جهاد کوه) اوپر هغوى سختي کوه (په دنياکې خو دوى دسزا مستحق سول) او (په آخرت کې) د دوى ځاى دوږخ دى او هغه ډير بدځاى دى (مخ ته ددې بيان دى چې په اخرت کې به هر سړي ته خپل ايمان په کار ورځي ، کافر دده دخپلوانو ايمان دعذاب څخه نه سي محفوظ کولى ، دغه شان دمومن خپلوان اوعزيزان که کافران وي نومومن ته به دهغوى څخه هيڅ نقصان نه رسيږي) الله ﷻ دکافرانو (دعبرت) دپاره دنوح ﷺ دبي بي اودلوط ﷺ دبي بي حال بيانوي اوهغوى دواړې زمونږ دخاصوبندګانو په نکاح کې وې، نو هغو ښځو دهغو دواړو بندګا حق ضائع کې (يعني په وجه د دوى دنبي کيدو د دوى دا حق هم وو چې ايمان يې په راوړي واى او په ديني احکاموکې يې د دوى اطاعت کولى ، کوم چې هغوى ونه کى) نوهغه دواړه نيک بندګان دالله ﷻ په مقابله کې دهغوى هيڅ په کار ورنغلل اوهغه دواړو ښځوته (په وجه دکافر کيدو) حکم وسوچې تاسې دواړې (هم) دنورو دوږخ ته

دداخليدونكو سره جهنم ته داخل سی (تر دی ځایه پوری دكافرانو دعبرت دپاره واقعه بيان سوي وه، مخ ته دمسلمانانو دعبرت دپاره فرمايي) الله ﷻ دمسلمانانو د (تسلی د) پاره دفرعون دبي بي (حضرت آسيه ﷺ) حال بيانوی كله چي دغه بي بي دعا وكړه چي ای زما پروردگاره! زما دپاره په جنت كي په خپله خواكي كور جوړكړی اوماد فرعون (دشر) څخه او دده دعمل (دكفر دضرر او اثر) څخه محفوظه وساتي او مادتولوظالمانو (يعنی كافرانو) خلكو (دظاهري اوباطني ضرر) څخه محفوظه وساتي او (دا رنگه دمسلمانانو دتسلی دپاره الله ﷻ) دعمران دلور حضرت مريم حال بيانوي كومي چي خپل ناموس (دحرامو اوحلالو دواړو څخه) محفوظ وساتي نو موږ ددی په گريبان كي (په واسطه دجبرائيل ﷺ) خپل روح پف وهی او دی دپروردگار دپيغامونو (كوم چي دملائكو په ذريعه رسيدلی وه) او دهغه دكتابونو (په كوموكی چي تورات او انجيل هم دی) تصديق وكی (دا بيان دی دهغه دعقيدو) اوهغه داطاعت كوونكو څخه وه (دا بيان دی ددی دعملونو)

معلومات اومسئلي: تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَصُوحًا: دتوبی لفظي معني واپس كيدل او رجوع كول دی، مراد دگناهونو څخه واپس كيدل او دقرآن اوسنت په اصطلاح كي توبه ددی نوم دی چي بنده په خپلو تيرو گناهونو پښيمانه سي او دآئنده دپاره هغه ته دنه نژدي كيدو پوخ قصد وكی، اونصوح كه دمصدر نصح او نصيحت څخه واخستل سي نو ددی معني خالص كول دی اوكه دمصدر نصاحت څخه مشتق وگرځول سي نو ددی معني په كپړه گنډل اوپيوند لگول وی، داولی معني په اعتبار سره دنصوح معنی به دا وی چي دريا اونمائش څخه خلاصه وي، محض دالله ﷻ درضا حاصلولو اودعذاب دبيری څخه پرگناه پښيمانه سي اوپريږدي او د دوهمي معني په اعتبارسره به نصوح ددی مطلب دپاره وي چي دنيكو عملونو جامه كومه چي دگناهونو په وجه څيري سوي وه نو دا توبه ددغه څيري والي دپاره گنډونكی وی حضرت حسن بصری رحمه الله فرمايي چي توبه نصوح دا ده چي بنده په خپل تيرعمل پښيمانه سی اوبيا هغه ته دنه نژدي كيدو پخه اراده اوقصد لری اوعلامه كلبي وايي چي توبه نصوح دا ده چي په ژبه استغفار كوی او په زړه كي نادم وي اوخپل بدن اواندامونه دائنده دپاره دهغه گناه څخه منع كي او دحضرت علي كرم الله وجهه څخه پوښتنه وسوه چي توبه څه شي ده؟ نوده وفرمايل په كوم كي چي شپږشيان جمع وي (۱) په خپلو تيرو بدوعملونو پښيماني (۲) كوم فرائض اوواجبات چي ورڅخه دالله ﷻ پاته سوي وي دهغه قضا راوړي (۳) دچا مال چي يی په ظلم اخستی وي يالوټ كړی وي هغه بيرته وركی (۴) چاته يي چي په لاسونو يا په ژبه آزار رسولی وي يايي تكليف رسولی وي نو دهغه څخه معافي وغواړي (۵) ائنده هغه گناه ته دنه نژدي كيدو پوخ قصد اواراده وكی (۶) او دا چي لكه څنگه ده خپل نفس دالله ﷻ په نافرمانيو كولوكي ليدلی دي اوس يي په اطاعت كولو ووينی (مظهری)

حضرت علي كرم الله وجهه چي دتوبي كوم شرطونه بيان كړي دي، هغه دتولو په نزد مسلم دی، څينو په لنډه او څينو په تفصيل سره بيان كړی دی.

عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ : دلفظ دعسٰی ترجمه امید ده او دلته مراد ددی څخه وعده ده ، مگر دا وعده یې په لفظ دامید سره تعبیر کړه او دی طرف ته یې اشاره وکړه چې توبه وی او که نور نیك عملونه په دی کې یو هم دجنت اومغفرت قیمت نه دی اونه دالله ﷻ په ذمه دانصاف په وجه سره دا لازمیږی چې څوك نیك عمل وکی نو دی به خامخا جنت ته دا خلوی ، څکه چې دنیکو عملونو دابدله خوهر انسان ته ددنیا په ژوند کی دنعمتونو په ورکولو سره حاصلیږي، ددی په بدله کی په قانونی طور جنت حاصلیدل ضروری نه دی ، هغه محضی دالله ﷻ په فضل او انعام سره دی لکه چې په حدیث کی نبی کریم ﷺ فرمایی چې په تاسی کی چاته صرف دده عمل نجات نه سی ورکولی، صحابه کرامو ؓ عرض وکی ، یارسول الله ﷺ ! آیاتاسی ته هم؟ وي فرمایل ماته هم، ترڅو پوری چې الله ﷻ دخپل فضل اوکرم معامله ونه فرمایی (بخاری اومسلم ازمظهری)

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوا امْرَاَتَ نُوْحٍ الاية دسورة په اخرکی الله ﷻ دڅلورو ښځو مثالونه بیان کړی دی ، مخکنی دوی ښځی د دوو پیغمبرانو ښځی دی کومو چې ددین په معامله کی دخپلو خاوندانو مخالفت وکی او دکفارو اومشرکانو امداد اوموافقت به یې په پټه کوی ، ددی په نتیجه کی دوږخ ته ولاړی ، دالله ﷻ دمقبولو پیغمبرانو ښځوالی هم دوی دعذاب څخه محفوظ نه کړی ، په دوی کی یوه دحضرت نوح ؑ بی بی وه چې نوم یې واغلَه وه (قرطبی) او دوهمه دحضرت لوط ؑ بی بی وه چې نوم یې والهَه وه (قرطبی) په دی نومونوکی نور هم مختلف اقوال دی ، دریمه هغه ښځه ده کومه چې دغټ کافر دخدایی دعوه کوونکی فرعون ښځه وه مگر په حضرت موسٰی ؑ یې ایمان راوړی ، الله ﷻ ورته دا درجه ورکړه چې په دنیاکی یې ورته دجنت مقام وښووی او دخاوند فرعونیت ددی په لاره کی هیڅ خند جوړ نه سو، څلورمه حضرت مریم ؑ ده چې دچابی بی نه ده ، مگر دایمان اونیك عمل په وجه سره الله ﷻ دی ته دنبوت دکمالاتو درجه ورکړه که څه هم دجمهور امت په نزد نبیّه نه ده .

په دی ټولو مثالونو سره یې دا واضحه کړه چې دیومومن ایمان دده دکافر عزیز په کارنه ورځی اودیو کافر کفردده مومن عزیزته نقصان نه سی رسولی په دی وجه دانبیاؤ ؑ اواولیاؤ ښځی دی په دی نه بی فکره کیږی چې دخاوندانو په وجه به زمونږ نجات وسی اودیو کافرفاجر ښځه دی دافکرنه کوی چې دده کفربه ماته څه ضرر ورسوی، بلکه هرسړی اوښځی لره دخپل ایمان اوعمل فکرپه خپله کول په کار دی .

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ اِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِيْ عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ : دا مثال دفرعون دښځی اسیه بنت مزاحم دی ، څه وخت چې موسٰی ؑ دجادوگرو په مقابله کی کامیاب سو اوجادوگران مسلمانان سول ، نو دی بی بی دخپل ایمان اظهار وکی ، فرعون دی ته سخته سزا ورکول وټاکل ، په څینو روایتونوکی دی چې ددی په لاسونو اوپښو یې میخونه ټك وهل پرسینه یې درنه ډبره ور کښینښوده ، په دی حالت کی دی دالله ﷻ څخه هغه دعا وغوښتله کومه چې په آیت کی ذکر ده او په څینو روایتونوکی دی چې ددی په سر یې دلوړی څخه درنه ډبره راوغورځول وټاکل ، لادغه ډبره ددی پرسر نه

وه را ایله سوی چی دی دعا وکړه اوالله ﷻ ددی روح قبض کی دبره دمړینی په حالت پهٔ را ولوېده ، او په دعا کی یی دا وفرمایل چی زمارپه ماته په جنت کی په خپله خواکی کور راجوړ کړی نوالله ﷻ ورته په دنیا کی ددی دجنت کور وښوروی (مظهری)

وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَاتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِ : دکلمو درب څخه مراد دالله ﷻ نازلی کړی صحیفی دی کومی چی په انبیاؤ علیهم السلام نازلیږی ، او دکتب څخه مراد معروف اسمانی کتابونه انجیل، زبور اوتورات دی. وَكَانَتْ مِنَ الْقَانِتِينَ : قانتین دقانت جمع ده چی معنی یی عابد دی کوم چی په خپل طاعت اوعبادت باندی همیشوالی کوی ، دا دحضرت مریم ؑ صفت دی ، دحضرت ابوموسی ؓ په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی په سړیانو کی ډیر خلک کامل اومکمل سول ، مګرپه ښځوکی صرف اسیه ؓ دفرعون ښځه او مریم لور دعمران کاملی سوی بخاری اومسلم ، ازمظهری

ظاهره ده چی مراد کمالات دنبوت دی چی سره دښځوالی دوی ته حاصل سوه (مظهری) والله اعلم.

تمّت : سورة التحريم بعون الله وحمده فی غرّة رجب سنه۱۳۹۱ھ یوم الثلثآء

تفسیر

معارف القرآن

په قندهاري پښتو کی

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمہ اللہ

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیراحمد حقّانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیراحمد (حقّانی) اومولوی آمین الله (حقّانی)

دکمپوز او ترجمي چارې .... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

پاره (۲۹)

خپرونکي

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي روډ حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ ځای ..... لاهور

مضمون	فهرست تفسیر معارف القرآن	مخ

﴿سورة الجن﴾ ۶۸

﴿سورة المزمل﴾ ۸۳

﴿سورة المدثر﴾ ۱۰۱

اللهم اختم لنا بالخيروالسعادة والبشارة والايمان

﴿سورة الملک﴾

سُوْرَةُ الْمُلْكِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة ملك په مكه كې نازل سو په دې كې ديرش (۳۰) آيتونه او دوې (۲) ركوع گانې دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع كوم په نوم سره د الله ﷻ چې ډير مهربانه نهايت رحم والا دى .

تَبٰرَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ①

لوى بركت دى هغه لره د چا په لاس كې چې حكومت دى ، او هغه هرڅه كولى سي

الَّذِيْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا

چا چې پيدا كې مرګ او ژوند چې ستاسي آزمائش وكړې چې څوك په تاسي ښه عمل كوى

وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفُوْرُ ② الَّذِيْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا مَا

او هغه زبردست دى بخښنى والا ، چا چې پيدا كړل اووه آسمانونه لاندې باندې آيا

تَرٰى فِيْ خَلْقِ الرَّحْمٰنِ مِنْ تَفٰوُتٍ فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ

ته وينې په پيدائش د رحمن كې څه فرق ؟ بيا دوباره وګوره ! آيا ته

تَرٰى مِنْ فُطُوْرٍ ③ ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ يَنْقَلِبْ اِلَيْكَ

په نظر راځي څه ماتوالى ؟ بيا نظر وكرځوه دوه وارې واپس به سى تا ته

الْبَصَرُ خَاسِئًا وَّهُوَ حَسِيْرٌ ④ وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ

ستا نظر رد سوى ، ستړى سوى او مونږ ښائسته كړې دى آسمان د دنيا په چراغو سره

وَجَعَلْنٰهَا رُجُوْمًا لِّلشَّيٰطِيْنِ وَاَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابَ السَّعِيْرِ ⑤

او جوړ كړې دي مونږ ويشتونكې د پاره د شيطانانو او تيار كړې دي مونږ د دوى د پاره عذاب د ګرم اور ،

وَلِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿٦﴾ اِذَآ

او د منکرانو دپاره د دوی د رب د طرف څخه دی عذاب د دوزخ او بد ځای دی د ورتلو ، هرکله

اُلْقُوْا فِيْهَا سَمِعُوْا لَهَا شَهِيْقًا وَّهِيَ تَفُوْرُ ﴿٧﴾ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ

چی وغورځول سی په هغه کی اوری به د هغه کرپهاری او هغه به جوشیږی ، نژدې ده چی جلا سی

الْغَيْظِ ۖ كُلَّمَآ اُلْقِيَ فِيْهَا فَوْجٌ سَاَلَهُمْ خَزَنَتُهَآ اَلَمْ يَاْتِكُمْ

د قهر څخه هرکله چی وغورځول سی په دی کی یوه ډله پوښتنه به ورڅخه وکړی نوکران د هغه چی آیا نه وو راغلی

نَذِيْرٌ ﴿٨﴾ قَالُوْا بَلٰى قَدْ جَآءَنَا نَذِيْرٌ ۙ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ اللّٰهُ

تاسی ته بیرونکی وبه وایی ولی نه راغلی وو مونږ ته بیرونکی بیا مونږ دروغجن کی او وویل مونږ نه دی نازل

مِنْ شَيْءٍ ۚ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ كَبِيْرٍ ﴿٩﴾ وَقَالُوْا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ

کړی الله ﷻ څه شی ، لویدلی یاست تاسی په یوه لویه گمراهی کی ، او وبه وایی که مونږ اوریدی

اَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِيْٓ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ﴿١٠﴾ فَاعْتَرَفُوْا بِذَنْۢبِهِمْ ۚ

یا پوهیدی نو نه به کیدی د دوزخیانو څخه ، نو قائل به سی په خپله گناه

فَسُحْقًا لِّاَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ﴿١١﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ

نو لعنت دی په دوزخیانو باندی ، بیشکه کوم خلق چی بیریږي د خپل رب څخه په پټه

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ﴿١٢﴾ وَاَسِرُّوْا قَوْلَكُمْ اَوِ اجْهَرُوْا بِهٖ ۖ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ

د هغوی دپاره معافی ده او لوی ثواب ، او که تاسی پټه کوی خپله خبره یا په ښکاره ، هغه ښه پوهه دی

بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿١٣﴾ اَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ ۖ وَهُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ ﴿١٤﴾ ع

د سینو په رازونو ، آیا نه پوهیږي هغه چی پیدا یی کړل ، او هغه دی په راز پوه خبرار ،

هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ ذَلُوْلًا فَامْشُوْا فِيْ مَنَاكِبِهَا وَكُلُوْا

هغه دی چا چی جوړه کړه تاسی دپاره مځکه مسخره اوس گرځی ددی په اوږو باندی او خوری

مِنْ رِّزْقِهٖ ۭ وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ ﴿۱۵﴾ ءَاَمِنْتُمْ مَّنْ فِي السَّمَاۗءِ اَنْ

دهغه د درکړی رزق څخه او هغه طرف ته دی بیا راجمع کیدل ، آیا تاسی په امن سواست دهغه څخه چی په آسمان

يَّخْسِفَ بِكُمُ الْاَرْضَ فَاِذَا هِيَ تَمُوْرُ ﴿۱۶﴾ اَمْ اَمِنْتُمْ مَّنْ فِي السَّمَاۗءِ

کی دی که ننباسی تاسی په مځکه کی نو هغه به ونبوری ، آیا تاسی په امن سواست دهغه څخه چی په آسمان

اَنْ يُّرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ۭ فَسَتَعْلَمُوْنَ كَيْفَ نَذِيْرِ ﴿۱۷﴾ وَلَقَدْ

کی دی ، که را ولیږي په تاسی باران دکانو ، پس پوهه به سی چی څنګه دی زما بیرول ، او

كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿۱۸﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اِلَى الطَّيْرِ

درواغجن کړی دی کوم چی ددوی څخه مخکې وو نو څه رنګ سوزما څخه انکار ، آیانه ګوری الوتونکو مرغانو ته

فَوْقَهُمْ صٰۗفّٰتٍ وَّيَقْبِضْنَ ڪ مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا الرَّحْمٰنُ ۭ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍ

په خپل سر سر بیره ، وزرونه ښوررونکی او ارتولونکی ، نه دی ټینګ کړی دوی مګر رحمن دهغه هرشی په نظر

بَصِيْرٌ ﴿۱۹﴾ اَمَّنْ هٰذَا الَّذِيْ هُوَ جُنْدٌ لَّكُمْ يَنْصُرُكُمْ مِّنْ دُوْنِ

کی دی ، آیا هغه څوک دی چی فوج دی ستاسی چی مدد وکړی ستاسی ماسوا

الرَّحْمٰنِ ۭ اِنِ الْكٰفِرُوْنَ اِلَّا فِيْ غُرُوْرٍ ﴿۲۰﴾ اَمَّنْ هٰذَا الَّذِيْ يَرْزُقُكُمْ

درحمن څخه ، منکران په لویه دوکه کی لویدلی دی ، آیا هغه څوک دی چی رزق درکړی تاسی ته

اِنْ اَمْسَكَ رِزْقَهٗ ۚ بَلْ لَّجُّوْا فِيْ عُتُوٍّ وَّنُفُوْرٍ ﴿۲۱﴾ اَفَمَنْ يَّمْشِيْ مُكِبًّا

که هغه خپل رزق بند کړی ، داسی نه ده بلکه دوی ټینګ دی په شرارت اونفرت باندی ، آیا نو هغه څوک ځی نسکور

عَلٰي وَجْهِهٖٓ اَهْدٰٓى اَمَّنْ يَّمْشِيْ سَوِيًّا عَلٰي صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۲۲﴾

پر مخی ډیر په هدایت دی یا هغه سړی چی ځی برابر په سیده لاره باندی ،

قُلْ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ

ته ووایه هغه ذات دی چی پیدا یی کړاست تاسی اوجوړ یی کړل تاسی دپاره غوږونه اوسترګی او زړونه

قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿٢٣﴾ قُلْ هُوَ الَّذِيْ ذَرَاَكُمْ فِي الْاَرْضِ وَاِلَيْهِ

تاسي ډير لږ حق مني ، ته ووايه هغه ذات دی چې تاسي يې خپاره په مځکه کې او هغه ته

تُحْشَرُوْنَ ﴿٢٤﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٢٥﴾

به جمع کړل سي ، او وايي کله به وي دا وعده که تاسي رښتيني ياست ؟

قُلْ اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهِ ۖ وَاِنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٢٦﴾ فَلَمَّا رَاَوْهُ زُلْفَةً

ته ووايه علم يې دالله ﷻ سره دی ، او زما کار خو بيره اورول دي ښکاره ، بيا چې کله ووينی چې هغه

سِيْٓـَٔتْ وُجُوْهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَقِيْلَ هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ

ورته نژدې سي نو وران به سي مخونه دمنکرانو او ورته وبه ويل سي دا هغه ده چې تاسي

بِهٖ تَدَّعُوْنَ ﴿٢٧﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَهْلَكَنِيَ اللّٰهُ وَمَنْ مَّعِيَ

رښتله ، ته ووايه آيا وينی تاسي که هلاك کړي ما الله ﷻ او هغه چې چې زماسره دي

اَوْ رَحِمَنَا ۙ فَمَنْ يُّجِيْرُ الْكٰفِرِيْنَ مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٢٨﴾ قُلْ

او يا را باندې رحم وکړي ، بيا هغه څوك دی چې وساتي منکران دعذاب دردناك څخه ؟ ته ووايه

هُوَ الرَّحْمٰنُ اٰمَنَّا بِهٖ وَعَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا ۚ فَسَتَعْلَمُوْنَ مَنْ هُوَ

هغه رحمن دی مونږ پر ايمان راوړی دی او په هغه موتوکل کړی دی ، پس ژر به تاسي پوه سي چې څوك دی

فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٢٩﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَصْبَحَ مَآؤُكُمْ

په ښکاره گمراهی کی ، ته ووايه آيا وينی که اوبه ستاسي سي سهار ته وچی

غَوْرًا فَمَنْ يَّاْتِيْكُمْ بِمَآءٍ مَّعِيْنٍ ﴿٣٠﴾ ع

نو څوك دی چې راوړي تاسي دپاره اوبه چينه داری ؟

لنډتفسير: هغه (خدای) لوی عالی شان دی دکوم په قبضه کی چی ټول حکومت دی او هغه په هرڅه قادر دی چاچی مرگ اوژوند پيدا کی چی ستاسی ازمائش وکی چی په تاسی کی کوم سړی په عمل کی زيات

ښه دی (په حسن عمل کی دمرګ دخل خودا دی چی دمرګ په فکر سره انسان دنیا فاني اودقیامت په عقیده سره اٰخرت باقي وګڼی ، دهغه ځای دثواب حاصلولو او دهغه ځای دعذاب څخه دبچ کیدو دپاره تیاریدی سی او دژوند دخل دادی چی که ژوند نه وی نو عمل به څه وخت وکی ، نو دنیك عمل دپاره مرګ په منزله دشرط او ژوند په منزله دظرف دی اوچونکه مرګ عدم محض نه دی په دی وجه پرده دمخلوقیت حکم صحیح دی) اوهغه زبردست (او) بخښنی والادی (چی په بدو عملونو عتاب اوپه نیکو عملونو مغفرت اوثواب مرتب فرمایی) هغه اووه اٰسمانونه لاندی باندی پیدا کړل (لکه چی په صحیح حدیث کی دی چی تر یوه آسمان لوړ په اوږده فاصله بل آسمان دی ، اوبیا دغه شان ترده لوړ دریم اودغه شان بل اوبل ، مخ ته دآسمان داستحکام بیان فرمایی چی ای لیدونکیه!) ته به دخدای په دی صنعت کی خلل نه سی لیدی (نو اوس) بیا ورته وګوره چی چیری تاته څه خلل په نظر راځی (یعنی بغیر دتامل څخه خو به ورته تادیر کتلی وی اوس دا پیره په تامل سره ورته وګوره) بیا بار بار نظر ورته وکړه وګوره (اٰخر) نظر به دی ذلیل او ستړی ستومانه ستاطرف ته واپس سی (اوهیڅ سوری به په کی درته په نظر درنه سی یعنی هغه چی هر شی څنګه غواړی جوړولی یی سی ، چنانچی دآسمان یی مضبوط جوړول وغوښتل چی سره داوږدی زمانی تیریدو څخه تر اوسه پوری په کی څه خلل رانه لی اودا لکه داقول دالله ﷻ دی ، وَمَالَهَا مِنْ فُرُوْجٍ : او دغه شان یی ځینی شیان ضعیف او ژر اثر په کیدونکی جوړ کړل، غرض داچی هغه ته هر ډول قدرت دی) او (زمونږ دقدرت دلیل دا دی چی) مونږ نژدی آسمان په چراغونو (یعنی ستورو) سره ښائسته کی او مونږ دا (ستوری) دشیطانانو دویشتلو ذریعه هم جوړه کړي ده (دکوم حقیقت چی په سورة الحجر کی تیر سوی دی) اومونږ د دوی (شیطانانو) دپاره (دشهاب دویشتلو څخه علاوه کوم چی په دنیا کی کیږی ، په اٰخرت کی هم په وجه د دوی دکفر) د دوږخ عذاب (هم) تیارکړی دی اوکوم خلګ چی دخپل رب (دتوحید) څخه انکارکوی دهغوی دپاره د دوږخ عذاب دی اوهغه بدځای دی ، هرکله چی داخلګ هغه ته وغورځول سی، نودده یولوی زوردار اواز به اوری اوهغه به داسی جوش وهی چی معلومیږی به چی (اوس) دغصی څخه څیریږی (یاخوبه الله ﷻ په هغه کی ادراك اوغصه پیدا کی چی دحق په مبغوضینو به ده ته هم غصه ورځی او یا مقصود تمثیل دی ، لکه چی څوك دغصی څخه په جوش کی راځی ، دغه شان به هغه دسخت اشتعال څخه په جوش کی راځی او) کله چی په هغه کی یوه ډله (دکافرانو) واچول سی نودهغه محافظین به دهغوخلګو څخه پوښتنه وکی چی اٰیاتاسی ته یو بیرونکی (پیغمبر) نه وو راغلی (کوم چی تاسی یی ددی عذاب څخه بیرولی وای چی مقتضا یی دا وه چی ددی څخه دساتنی تیاری موکړی وای او اوس ددی څخه محفوظ سوی وای، داسوال به په طور دزورنی وی یعنی پیغمبر خو راغلی وو او دا پوښتنه به دهری نوی راتلونکو ډلی څخه کول کیږی ، ځکه چی دوږخ ته به دتفوت اومرتبو مطابق ټولی فرقی دکفارو په یوبل پسی ورځی) هغه کافران به (په طور داعتراف) ووایی چی واقعی مونږ ته بیرونکی (پیغمبر) راغلی وو نو (زمونږ بدبختی وه چی) مونږ هغه دروغ کړی وه او ومو ویل چی خدای ﷻ (دقبیلی څخه داحکامو اوکتابونو) هیڅ نه دی نازل کړی (او)

تاسي په لويه غلطي کې لويدلي ياست او (دغه کافران به ملائکو ته دا هم) ووايي چې که مونږ اوريدي
او پوهيدي (يعني د پيغمبرانو خبره موقبلولي او منلي) نو مونږ به په دې دوږخ کې (شامل) نه واي ، غرض
دخپل جرم اقرار به وکي ، نو په دوږخيانو باندې لعنت دی ، بيشکه کوم خلګ چې دخپل پروردګار څخه
بې ليدلو وبيريږي (اوايمان او اطاعت اختياروي) دهغوی دپاره مغفرت اولوی اجر (مقرر) دی اوتاسی
خلګ برابره خبره ده که پټه خبره کوی يابښکاره (هغه دټولو څخه خبر دی څکه چې) هغه دزړونو په خبرو
ښه پوه دی (او) آياهغه (به څنګه) نه پوهيږي چاچي پيدا کړي دي اوهغه باريك بين دی (او) پوره باخبره
دی (حاصل داستدلال دا دی چې هغه دهر شي مختارخالق دی نو ستاسي دعملونو او اقوالوهم خالق دی
اوديوشي تخليق بغير دعلم څخه نه سي کيدی ، په دې وجه الله تعالی ته دهرشي علم ضروري سو او
تخصيص داقوالو مقصود نه دی بلکه حکم عام دی افعال هم په دې کې داخل دي ، تخصيص دذکر شايد
په دې بناوي چې اقوال ډير واقع کيږي ، غرض هغه ته دهرڅه علم دی ، هغه به هريوه ته مناسبه جزا ورکی)
هغه داسي (منعم) دی کوم چې ستاسي دپاره مځکه مسخره کړه (چې تاسي په دې کې هر قسم تصرفات
کولی سی) نو تاسي ددې په لارو باندې ګرځئ اودالله ﷻ درزق څخه (کوم چې يې په مځکه کې پيداکړی
دی) خوری (چښی) او (خوری چښی هغه يا د وی چې) هغه ته دوباره ژوندی کيدل ورتلل دی (نو دا ددی
متقضی ده چې دهغه دنعمتونو شکر ادا کی کوم چې ايمان اوطاعت دی) آياتاسي خلګ ددې څخه بې
بيری سوی ياست کوم چې په آسمان کی (هم خپل حکم اوتصرف لری) دی چې هغه تاسي (په مثل دقارون)
په مځکه کی دننه کی ، بيا هغه مځکه په رپيدو (يعني کښته پورته کيدو) کيږي (چې تاسي په کی نور
هم دننه ننوځی اولوړ درباندې دمځکی اجزاء يوځای کيږي) ياتاسي خلګ ددې څخه بې بيری سوی
ياست کوم چې په آسمان کی (هم خپل حکم اوتصرف لری) دی چې هغه پرتاسي باندې (دعاديانو په شان)
يوه تنده هوا راوليږي (په کوم سره چې تاسي هلاك سی ، يعني مقتضا ستاسي دکفر دا ده) نو (که په يو
مصلحت سره سمدستي عذاب ستاسي څخه بنديږي نوڅه وسو) ډير ژر به (دمړکيدو سره) تاسي ته
معلومه سي چې زما بيرول (دعذاب څخه) څنګه (واقع اوصحيح) وه او (که بغير دفوری عذاب څخه دکفر
په مبغوض والي دوی نه پوهيږي نو ددې نمونه هم موجوده ده چنانچې) د دوی څخه مخکی چې کوم
خلګ تير سوي دي ، هغوی (حق دين) دروغ کړی وو ، نو (وګوره چې په هغوی) زماعذاب څنګه (واقع)
سو (دکوم څخه چې صفا معلومه سوه چې کفر مبغوض دی ، نو که په يو مصلحت سره دلته عذاب واپس
سو نو په بل عالم کی به دوعدی مطابق واقع سی اولوړ په، خَلَقَ سَبۡعَ سَمٰوٰتٍ الخ کی هغه دتوحيد
دليلونه بيان سول کوم چې دآسمان په حقله دي بياپه ، هُوَ الَّذِيۡ جَعَلَ لَكُمُ الۡاَرۡضَ الخ کی دمځکي په حقله
شيان بيان سول، مخ ته دآسماني فضاپه حقله ددليلونو بيان دی) آيا دی خلګو په خپلو سرونو سربيره
دمرغانو طرف ته نه دي کتلي چې وزرونه ښوروی (الوزی) او (کله په دې حالت کی) وزرونه راټولوی
(اوسره دثقل اووزنی کيدو په دواړو حالتونو کی دمځکي اوآسمان په درمياني فضاکی ګرځی ، مځکي
ته نه راولويږي او) بغيرد (خدای) رحمٰن څخه دوی لره څوك تينګوونکی نسته ، بيشکه هغه هرشي وينی

(اوځنګه چې غواړي تصرف په کې کوي) ها (دخداي تصرفات خومو واوريدل اوس وښاياست چې) درحمٰن څخه ماسوا هغه څوك دي چې هغه ستاسي لښكرسي (دآفاتوڅخه) (ستاسي حفاظت وسي (او) كافران (كوم چې دخپلو معبودانو په نسبت داسي خيال كوي) نو (هغه) په خالصه دوكه كي دي (او) ها (دا هم وښياست چې هغه) څوك دي كوم چې تاسي ته رزق دركي كه الله ﷻ خپل رزق بند كړي (مګر دوی په دې سره هم متاثره نه سول) بلكه دا خلګ (دحق څخه) په سركښي اونفرت باندې ټينګ دي (لنډه دا چې ستاسي باطل معبودان بتان اونور نه دڅه ضررپه دفع كولو قادردي اودا مراد دي ، په دې قول دالله ﷻ سره، يَنۡصُرُكُمۡ، اونه په رسولو دنفع قادردي اودا مراد دي په دې قول دالله ﷻ يَرۡزُقُكُمۡ بيا د دوی عبادت محض بې علقي ده ، يعني دكوم كافر حال چې لوړ واوريدل سو ، اِنِ الۡكٰفِرُوۡنَ اِلَّا فِيۡ غُرُوۡرٍ ° بَلۡ لَّجُّوۡا فِيۡ عُتُوٍّ وَّنُفُوۡرٍ: نو دا مو واوريدل (فكر وكي چې) آيا كوم سړي چې (په وجه دنا همواري دلاري غورځي او) پرمخ غورځيدونكی روان وي هغه به منزل مقصود ته زيات رسيدونكی وي ياهغه سړی (به زيات منزل مقصودته رسيدونكی وي) كوم چې سيده په هوار سړك روان وي (دا حال دی دمومن اوكافرچې دمومن دتللو لار هم دين مستقيم دي او دی ځی هم سيده ، دافراط اوتفريط څخه ځان ساتي اودكافر دتللو لارهم كږه اوګمراهي ده او په تللوكي ورته هم هر وخت هلاكتونه اوبيرې رامخ ته كيږي روان وي، نو په داسي حالت كي به څه منزل ته ورسيږي اولوړ دتوحيد دليلونه داٰفاق په حقله وو ، مخ ته دانفس په حقله ارشاد دی) ته (دوی ته) ووايه چې هغه (داسي قادر او منعم) دی كوم چې تاسي پيدا كړاست اوتاسي ته يې غوږونه اوسترګی اوزړونه دركړل (مګر) تاسي خلګ ډيركم شكر كوی (او) ته (دا هم) ووايه چې ، هغه دی كوم چې تاسي يې په مځكه خپاره كړاست اوتاسي به هغه ته (دقيامت په ورځ) ورجمع كيږی، اودا خلګ (چې هركله دقيامت ذكر اوري، لكه چې په دې سورة كي داقول دالله ﷻ دی ، اِلَيۡهِ النُّشُوۡرُ او دا قول ، اِلَيۡهِ تُحۡشَرُوۡنَ نو) وايي چې دا وعده به كله وي كه تاسي (يعني پيغمبر ﷺ او دده متبعين مومنان) رښتيني ياست (نووښاياست) ته (په جواب كي) ووايه چې دا (دتعين) علم خو هم خداي ﷻ ته دی او زه خومحض (په اجمال سره مګر) صفاصفا بيروونكی يم بياچې هركله دوی (دقيامت عذاب) په خپل خواكي راغلی ووينی (خواته راغلی ليدل داچې دعملونو محاسبه وسي، دوږخ ته دتللو حكم وسي چې په دې سره به دوی ته يقين وسي چې اوس عذاب پرسر باندی راغی، غرض دا چې كله چې يې ددوی خواته راغلی ووينی) نو (دغم په وجه به) دكافرانو مخونه وران سي (لكه دا قول دالله ﷻ دی ، وُجُوۡهٌ يَّوۡمَئِذٍ عَلَيۡهَا غَبَرَةٌ ° تَرۡهَقُهَا قَتَرَةٌ) او (دوی ته به) وويل سي دا دی هغه كوم چې تاسي غوښتی (چې عذاب راوله ، عذاب راوله اودا كفار چې دا مضامين حقه دتوحيد اوبعث اونورو اوري كوم چې داسي خبري كوی ، شاعرٌ نَتَرَبَّصُ بِهٖ رَيۡبَ الۡمَنُوۡنِ، اِنۡ كَادَ لَيُضِلُّنَا عَنۡ اٰلِهَتِنَا لَوۡلَآ اَنۡ صَبَرۡنَا عَلَيۡهَا : چې مطلب يې انتظار ستا دهلاكت اوتا نعوذ بالله دګمراهي طرف ته منسوب كول دي مخ ته ددی جواب تعليم دي په كوم كي چې دكفارو دعذاب تقرير اوپه نورو مضامينو سره ددي تتميم دی ، ارشاد دی چې) ته (دوی ته) ووايه چې تاسي دا

وانبیاست چی که خدای ﷻ ما اوزما ملګری (ستاسی دارزو موافق) هلاك كړی یا (زمونږ دامید او دخپلی وعدی مطابق) په مونږ رحمت وفرمایی نو (په دواړو حالتونو کی خپل خبر واخلی او دا وښیاست چی) کافران به د دردناك عذاب څخه څوك محفوظ كړی (یعنی زمونږ خوچی څه حالت وی په دنیاکی به وی او ددی انجام په هرحال کی ښه دی ، لکه دا قول دالله ﷻ دی ، هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَا إِلَّا إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ : الخ مګر دخان څخه واياست چی په تاسی کوم عظیم مصیبت راتلونکی دی هغه به څوك منع کی؟ اوزمونږ په دنیوی حادثو سره به ستاسی دغه مصیبت څنګه منع سی نودخان فکر پرینبوول او زمونږ دحادثو انتظار یوفضول حرکت دی ، دا جواب دی دنَتَرَبَّصُ الخ او) ته (دوی ته داهم) ووایه چی هغه لوی مهربان دی مونږ په هغه (دهغه دحکم موافق) ایمان راوړی دی اومونږ په هغه توکل کوو (نو دایمان په برکت سره به هغه مونږ داخرت دعذاب څخه محفوظ وساتی او دتوکل په برکت سره به مو ددنیوی حادثو څخه په امن کړی یابه یی راباندی اسانی کړی دا هم دنَتَرَبَّصُ دجواب تتمه ده) نو (هرکله چی په تاسی دردناك عذاب راتلونکی دی اومونږ انشاء الله ﷻ دایمان په برکت سره به ددی عذاب څخه محفوظ یونو) ډیر ژربه تاسی ته معلومه سی (کله چی خپل ځانونه په عذاب کی مبتلا اومونږ دهغه څخه محفوظ ووینی) چی په ښکاره ګمراهی کی څوك دی (یعنی تاسی یاست لکه چی مونږ وایو یامونږ لکه چی تاسی وایاست ، دا جواب دی د: انْ کَادَ لَيُضِلُّنَا الخ مخ ته تقریر دی دلوړ مضمون د: فَمَنْ يُجِيْرُ الْكٰفِرِيْنَ الخ یعنی لوړ چی ویل سوی وه چی تاسی دعذاب دردناك څخه څوك نه سی ساتلی ، د دوی که په خپلو باطلو خدایانو باندی فخر وی چی هغه به مو وساتی نو ددی خیال دباطلولو اولیری کولو دپاره دوی ته) ته (دا) ووایه چی ښه دا وښیاست چی که ستاسی اوبه (کومی چی په څاهانوکی دی) لاندی ولاړی سی ورکی سی نو هغه څوك دی چی تاسی ته په دغه څاهانوکی اوبه راولی؟ (یعنی دڅاه رګونه جاری کړی او دمځکی دبیخ څخه اوبه پورته راولی اوکه څوك په دی نازیږی چی وبه یی کیندم، نو الله ﷻ په دی هم قادر دی چی هغه یی ښه کښته بوزی او دغه شان یی پرمخ کښته کوی نو هرکله چی دخدای په مقابله کی چاته دومره اختیار هم نسته چی په معمولی طبعی واقعاتوکی تصرف وکی نو دآخرت دعذاب څخه دبچ کولوبه یی څه قدرت وی)

معلومات اومسئلي (دسورة ملك فضیلتونه)

دی سورة ته یی په حدیث کی واقیه اومنجیه هم فرمایلی دی ، دواقیه معنٰی حفاظت کوونکی اودمنجیه معنٰی نجات ورکوونکی، په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، هِيَ الْمَانِعَةُ الْمُنْجِيَةُ تُنْجِيْهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ: یعنی دا سورة عذاب منع کوونکی اودعذاب څخه نجات ورکوونکی دی ، دی به خپل لوستونکی دقبر دعذاب څخه بچ کوی (رواه الترمذی وقال حدیث حسن غریب) قرطبی، اودحضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی زما زړه غواړی چی سورة ملك دهر مومن په زړه کی وی (ذکره الثعلبی) او دحضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی په

قرآن کریم کی یو داسی سورة دی دکوم چی آیتونه خوصرف دیرش دی ، دقیامت په ورځ به دی دیوه سړی سفارش کوی تردی چی دی به دجهنم څخه وباسی اوجنت ته به یی داخل کړی اوهغه سورة تبارك دی (قرطبی از ترمذی)

تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ : لفظ دتَبَارَكَ دبرکت څخه مشتق دی چی لفظی معنٰی یی لویدل او زیاتیدل ده دالفظ چی کله دالله ﷻ په شان کی وویل سی نو دټولو څخه دبالا اوبرترپه معنٰی کی راځی، لکه الله اکبَر، بِيَدِهِ الْمُلْكُ، دالله ﷻ په لاس کی دی ملك ، دالله ﷻ دپاره ځای په ځای په قرآن کریم کی ید په معنٰی دلاس استعمال سوی دی ، الله ﷻ دجسم او اندامونو څخه بالا اوبرتردی په دی وجه دالفظ دمتشابهاتو څخه دی ، دکوم په حق کیدو چی ایمان راوړل واجب دی او ددی کیفیت اوحقیقت چاته معلومیدی نه سی په دی پسی کیدل صحیح نه دی اودملك څخه مراد داسمانونو اومځکو اودنیا او آخرت حکومت دی ، په دی آیت کی دحق تعالی دپاره دڅلورو صفتونو دعوٰی ده ، اول دده موجود کیدل ، دوهم دانتهایی درجی دکمالی صفتونو مالك او دټولو څخه بالا اوبرتر کیدل ، دریم په آسمانونو اومځکه باندی دده حکومت کیدل ، څلورم په هر شی دده قادر کیدل په راتلونکی آیت کی ددی دعوی دلیلونه دی کوم چی دالله ﷻ په مخلوقاتو کی په غور اوفکر کولو سره واضح کیږی ، په دی وجه په راتلونکو ایتونوکی دټولو کائناتو او مخلوقاتو په مختلفو انواعو اواقسامو سره دالله ﷻ په وجود اوتوحید او دده په کمالِ علم اوقدرت استدلال سوی دی ، دټولو څخه اول داشرف المخلوقات انسان په خپل وجودکی چی کوم دقدرت دلیلونه دی دهغه طرف ته یی متوجه وفرمایله ، الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ الخ کی ددی بیان دی ، ددی څخه وروسته په څو آیتونوکی دآسمانونوپه تخلیق کی په غور اوفکر سره استدلال فرمایی ، الَّذِي خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ : ددی څخه وروسته دمځکی په تخلیق او ددی سره په متعلقه فائدو کی دغور اوفکر بیان یی د ، هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا : څخه په دوو آیتونو کی وفرمایی ، بیا په آسمانی فضاکی داوسیدونکی مخلوق مرغانو ذکر یی وفرمایی ، أَوَ لَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ الخ غرض په دی ټول سورة کی اصل مضمون دالله ﷻ په وجود او دده په کمال علم او قدرت باندی دکائناتو دعالم دمشاهدی څخه دلیلونه پیش کول دی ، ضمنًا نور مضامین دکفارو دسزا او دمومنانو دجزا هم په کی راغلی دی ، په خپله دانسان په نفس کی چی کوم دلیلونه دالله ﷻ دکمالِ علم او قدرت دی دهغو طرف ته یی په دوو لفظونو سره هدایت وفرمایی

دمرګ اوژوند حقیقت : خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ : یعنی پیدا کی هغه مرګ اوژوند ، دانسان په حالاتو کی یی دلته صرف ددوو شیانو مرګ اوژوند بیان وکی ځکه چی دا دوه دانسان دټول عمر په حالاتو اوکارونو باندی ، حاوی دی دژوند دپاره دپیدا کولو لفظ خو په خپل ځای ځای ظاهر دی چی ژوند یو وجودی شی دی ، دتخلیق اوتکوین دده سره متعلق کیدل خو ظاهر دی ، لیکن مرګ چی په ظاهره دیوعدم نوم دی ، ددی سره دتخلیق تعلق څه رنګه وسو؟ ددی په جواب کی دتفسیر داماما نو څخه ډیر اقوال منقول دی ،

دټولو څخه زياته واضحه خبره دا ده چې مرګ دعدم محض نوم نه دی . بلکه دروح اوبدن تعلق قطع کول دروح ديو مکان څخه بل مکان ته دمنتقل کولو نوم دی او دا يو وجودي شی دی . غرض لکه څنګه چې حيات يو حال دی کوم چې په جسم انساني باندې طاري کيږي ، دغه شان مرګ هم يو حال دی اوحضرت عبدالله بن عباس ﷺ اوځينو نورو امامانو دتفسير څخه چې دا منقول ده چې مرګ اوژوند دوه مجسم مخلوق دي ، مرګ ديوه پسه په شکل کې اوژوند ديو آس په شکل کې دی، ددې څخه مراد په ظاهره دغه صحيح حديث بيان دی په کوم کې چې دا ارشاد دی چې کله په قيامت کې جنتيان جنت نه او دوږخيان دوږخ ته دا خل سي نو مرګ به ديو پسه په شکل کې را وستل سي او دپل صراط په خوا کې به يې ذبح کړي او اعلان به وسي چې اوس څوك په كوم حالت كې دي هغه دائمي او ابدي دی ، اوس به چاته مرګ نه راځي ، مګر ددې حديث څخه دا نه لازميږي چې په دنياکې دی دمرګ څه جسم وي ، بلکه څنګه چې ددنيا ډير حالات اوعملونه به په قيامت کې مجسم او متشکل سي کومه چې په ډيرو صحيح احاديثو سره ثابته ده، دغه شان مرګ کوم چې انسان ته راپيښيدونکی يوحالت دی، هغه به هم په قيامت کې مجسم سي دپسه په شکل کې به ذبح سي (قرطبي) اوپه تفسيرمظهري کې فرمايي چې مرګ که څه هم عدمي شی دی مګرعدم محض نه دی بلکه دداسې شي عدم دی کوم چې يو وخت په وجود کې راتلونکی دی او دداسې ټولو معدوماتو شکلونه په عالم مثال کې مخ ته دوجود ناسوتي څخه موجود وي ، کومو ته چې اعيان ثابته ويل کيږي ، ددې شکلونو په وجه دوی ته مخکې دوجود څخه هم يوقسم وجود حاصل دی اودعالم مثال په موجود ګيدو دډيرو روايتونو دحديث څخه يې استدلال فرمايلی دی ، والله اعلم

(دمرګ اوژوند مختلفي درجې)

په تفسير مظهري کې دی چې الله ﷻ په خپل قدرت اوبالغ حکمت مخلوقات اوممکنات په مختلفو قسمونو کې تقسيم کړي دي ، هر يوه ته يې دحيات يوقسم ورکړی دی ، دټولو څخه زيات کامل اومکمل حيات يې انسان ته ورکړی دی ، په کوم کې چې يې داصلاحيت هم ايښی دی چې دی دالله ﷻ دذات اوصفاتو معرفت تر يو خاص حده پوري حاصل کړل سي اوددې معرفت په بنياد شرعي احکامو تکليف ، اوهغه بار دامانت دی دکوم دپورته کولو څخه چې آسمان اومځکه اوغرونه ټول وبيريدل اوانسان دخپل دی خدای ورکړي صلاحيت په سبب پورته کې ، ددې ژوند په مقابله کې هغه مرګ دی دکوم ذکر چې دقرآن کريم په دې آيت ، اَفَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَاَحْيَيْنٰهُ : کې ذکرسوی دی ، چې کافر يې مړ او مومن يې ژوندی مقرر کړی دی ، ځکه چې کافر خپل هغه معرفت ضائع کې کوم چې دانسان مخصوص حيات وو او په ځينو اصنافو اواقسامو دمخلوقاتو کې دا درجه دحيات خو نسته ، مګر حس اوحرکت په کې موجود دی ددې مقابل هغه مرګ دی ، دکوم ذکر چې دقرآن په ايت، كُنْتُمْ اَمْوَاتًا فَاَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ : کې راغلی دی چې دلته دحيات څخه مرادحس اوحرکت اودمرګ څخه مراد دده ختميدل دی اوپه ځينو اقسامو دممکناتو کې داحس اوحرکت هم نسته صرف نمو (يعني دزياتيدو صلاحيت) ده ، لکه په عامو درختو اوبوټو کې ، ددې بالمقابل هغه مرګ دی دکوم ذکر چې دقرآن په آيت، اُحْيِي الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ،

کې راغلې دی ، دژوند داری قسمونه په انسان، حیوان اونبات کې منحصردی، ددی څخه علاوه په بل شي کې داقسم حیات نسته، په دی وجه حق تعالی دډېرو څخه دجوړو بتانوپه حقله فرمایي چې اَمْوَاتٌ غَيْرُ اَحْيَآءٍ: لیکن ددی باوجود په جماداتوکې هم یوخاص حیات موجود دی کوم چې دوجود سره لازم دی ددی حیات اثر دی چې ذکر یې په قرآن کریم کې دی ، وَاِنْ مِنْ شَيْءٍ اِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ : یعنی یو شی داسی نسته کوم چې دالله ﷻ دحمد تسبیح نه کوی .

او په آیت کې دمرګ دذکر مقدم کولو وجه هم ددی بیان څخه واضحه سوه چې داصل په اعتبارسره مرګ مقدم دی ، هر شی کوم چې په وجودکې راغلی اول دمرګ په علم کې وو ، وروسته ده ته حیات ورکول سوی دی ، په دی وجه دموت ذکر مقدم سو او دا هم ویل کیږی چې مخ ته یې چې دکوم مرګ اوژوند دتخلیق په وجه دانسان ازمائش اوابتلاء ګرځولی ده ، لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا : دا ازمائش په نسبت دحیات په مرګ کې زیات دی ، ځکه چې کوم سړی خپل مرګ حاضر وینی هغه دښو عملونو پابندی دزیات څخه زیات کوی اوکه څه هم دا ازمائش په حیات کې هم دی چې دژوند په قدم قدم ده ته خپل عجز اودالله ﷻ قادر مطلق کیدل مخ مخ ته کیږی کوم چې دنیك عمل طرف ته داعی دی ، لیکن دمرګ فکر په اصلاح دعمل او نیك عمل کې دټولو څخه زیات موثر دی .

دحضرت عماربن یاسر﷛ په مرفوع حدیث کې دی ، كَفٰى بِالْمَوْتِ وَاعِظًا وَكَفٰى بِالْيَقِيْنِ غِنًى : یعنی مرګ دوعظ دپاره کافی دی اویقین دغنٰی دپاره (رواه الطبراني) مطلب دا دی چې دخپلو دوستانو، عزیزانو دمرګ مشاهده دټولو څخه لوی واعظ دی، څوك چې ددی څخه نه متاثره کیږی، دهغه په بل شی سره متاثره کیدل مشکل دی ، او چاته چې الله ﷻ دایمان اویقین دولت ورکی، ددی برابر بله غنی اوبی نیازی نه وی ، اوربیع بن انس﷛ فرمایي چې مرګ دانسان ددنیا څخه دبیزاره کولو اوداخرت طرف ته درغبت ورکولو دپاره کافی دی .

اَحْسَنُ عَمَلًا: دلته دا خبره دغور قابله ده چې دانسان په دی ازمائش کې کوم چې دده دمرګ اوژوند سره ترلې دی ، حق تعالی دا فرمایي چې مونږ دا کتل غواړو چې په تاسی کې دچا عمل ښه دی ، دا یې ونه فرمایل چې دچا عمل زیات دی ، ددی څخه معلومه سوه چې دالله ﷻ په نزد دچا دعمل دمقدار زیاتوالی قابل توجه نه دی ، بلکه دعمل ښه صحیح او مقبول کیدل معتبر دی ، په دی وجه دقیامت په ورځ به دانسان عملونه شمیرل کیږی نه بلکه تلل کیږی به په کومو کې چې به دځینو یوعمل وزن دزرګونو عملونو څخه زیات سی .

حسن عمل څه شي دی؟ حضرت ابن عمر﷛ فرمایي چې نبی کریم ﷺ دا آیت تلاوت وفرمایی ، تردی چې، اَحْسَنُ عَمَلًا ته ورسیدی نووي فرمایل ، چې اَحْسَنُ عَمَلًا هغه سړی دی کوم چې دالله ﷻ دحرام کړو شیانو څخه زیات پرهیز کوی او دالله ﷻ په اطاعت کې هر وخت مستعد اوتیار وی (قرطبی)

فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ تَرٰى مِنْ فُطُوْرٍ : ددی آیت څخه په ظاهره دا معلومیږی چې ددنیا خلګ آسمان په سترګو لیدی سی ، اودا ضروری نه ده چې داشنه فضا کومه چې ښکاریږی دا آسمان وی ، بلکه کیدی سی چې

آسمان ددې ځخه ډیرلوړ وی ، او دا شین رنګ دفضا اوهوا وی، لکه چی فلاسفه وایی مګر ددی ځخه داهم نه لا مبری چی آسمان دی انسان ته په نظرنه راځی کیدی سی چی داشنه فضاء دشفاف والی په سبب اصل آسمان ترډ کوم چی ددی ځخه ډیر پورته دی مانعه نه وی ، اوکه په څه دلیل سره داثابته سی چی ددنیا ځخه آسمان په سترګو سره نه سی لیدل کیدی نوبیا په دی آیت کی به درؤیت ځخه مراد رویت عقلی یعنی غور اوفکر وی (بیان القرآن)

وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ وَجَعَلْنَاهَا رُجُومًا لِلشَّيَاطِينِ : دمصابیح ځخه مراد ستوری دی او دلاندی آسمان په ستورو سره دښائسته کولو دپاره دا ضروری نه ده چی ستوری دی په آسمان کی دننه یاپه ده پوری لګیدلی وی ، بلکه دا ښائست په دی صورت کی هم صادق دی چی ستوری دآسمان ځخه ډیر لاندی په خلا کی وی ، لکه چی په نوی تحقیق سره ددی مشاهده کیږی دا دهغه منافی نه ده اوستوری دشیطانانو ددفع کولودپاره دانګار جوړولو دامطلب کیدی سی چی دستورو ځخه څه اتشین ماده د دوی طرف ته وروغورځول سی ، ستوری دی په خپل ځای وی، دعوامو په نظرکی چونکی داشغله دستوری په شان حرکت کوونکی په نظر راځی ، په دی وجه دی ته ستوری ماتیدل اوپه عربی کی انقضاض الکوکب وایی (قرطبی) ددی ځخه دا هم معلومه سوه چی شیطانان کوم چی دآسمانی خبرونو دغلا کولو دپاره خیژی هغه دستارو اوستورو ځخه لاندی دفع کولی سی (قرطبی) تردی پوری په مختلفو مخلوقاتو کی دغور اولکر په ذریعه دالله ﷻ دکمال قدرت دلیلونه بیان سول ، مخ ته دمنکرانو اوکفارو دعذاب اوبیا دمومنانو اواطاعت شعارو خلکو ثواب بیان سوی دی ، وَلِلَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ ځخه تر اوږ ایترنو پوری دا مضمون روان دی ، مخ ته بیا هغه دعلم او قدرت بیان دی .

هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا ذَلُولًا : لفظی معنی منقاد اومطیع دی هغه حیوان ته ذلول ویل کیږی کوم چی په سپریدوکی شوخی نه کوی مَنَاكِبْ دمنکب جمع ده اوږی ته وایی، دیوحیوان اوږه هم دسپرلی ځای نه وی بلکه ملا اوشایی وی کوم حیوان چی دسپریدونکو دپاره خپلی اوږی هم پیش کی هغه ډیر تابعدار منقاد اومسخر کیدی سی ، په دی وجه یی وفرمایل چی مځکه مونږ ستاسی دپاره داسی مسخره کړې ده چی تاسی دهغه په اوږو باندی ګرځی ، مځکی ته الله ﷻ یو داسی قوام وربخښلی دی چی نه داوبو په شان سیاله او بهیدونکی ده ، نه دپنبه اوختو په شان ننباسونکی ده، ځکه چی که مځکه داسی وای نو په دی به دهیڅ انسان اوسیدل اوپاته کیدل ممکن نه وای، دغه شان مځکه یی داوسپنی او ډبری په شان سخته هم نه ده جوړه کړی ، که داسی وای نو په دی کی به درختی اوفصل نه سوای کرل کیدی ، په دی کی به دلوړو دلوړو ابادیو بنیادونه نه سوای کیندل کیدی ، ددی قوام سره یی دی ته داسی سکون ورکی چی ابادی پرتینګی سی پرګرځیدونکو ښوری نه .

وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ : اول یی دمځکی په اطرافو دګرځیدو هدایت وفرمایی ، ددی ځخه وروسته یی وفرمایل چی دالله ﷻ رزق خوری ، په دی کی اشاره کیدی سی چی دتجارت دپاره سفر اودمال درآمد

اوبرآمد دالله ﷻ درزق دروازه ده، په اِلَيْهِ النُّشُوْرُ. کي يي وښوولـه چي دخوړلو څښلو اوسيدلو دفائدو دمځکې څخه دحاصلولو اجازت دی ، مگر دمرګ او آخرت څخه بې فکره کېږی مه . ځکه چي آخر هغه ته ورتلل دی ، په مځکه چي اوسيږی نو دآخرت تياری کوی . په دی کی خو ددی خبری څخه وېرول سول چي آخر په قيامت کی دالله ﷻ طرف ته رجوع ده، مخ ته پردی خبرداری دی چي پردی مځکه داوسيدو په حالت کي هم دالله ﷻ عذاب راتلی سی . فرمايي

ءَاَمِنْتُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ اَنْ يَخْسِفَ بِكُمُ الْاَرْضَ فَاِذَا هِيَ تَمُوْرُ : آيا تاسی ددی څخه بې بيری ياست چي آسمان والا تاسی په مځکه کی ننباسی اومځکه تاسی تيرکی، يعنی که څه هم الله ﷻ مځکی ته داسی برابرساخت ورکړی دی چي بنده بغيرددی دکيندلو څخه په دی کی نه سی دننه کيدی. ليکن هغه په دی هم قادردی چي داداسی جوړه کړی چي دامځکه په دی سربيره اوسيدونکی تيرکی . ددی څخه وروسته په دنياکی اوسيدونکی په يوبل قسم عذاب سره بير وی چي که الله ﷻ وغواړی نو په تاسی سربيره دآسمان څخه ډيری هم اوروِلی سی اوتاسی هلاکولی سی . دالله ﷻ څخه منکر اونافرمانه دی په دنيا کی ددی څخه نه بی فکره کيږی .

اَمْ اَمِنْتُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ اَنْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا فَسَتَعْلَمُوْنَ كَيْفَ نَذِيْرِ : يعنی آياتاسی ددی څخه بی بيری ياست چي آسمان والا په تاسی دآسمان څخه کاڼی واوروی ، دغه وخت به تاسی ته دهغه دبيرولو انجام معلوم سی مگر هغه وخت معلومېدل به بی فائدی وی ، نن چي تاسی صحيح سالم محفوظ اوپه امن ياست ددی فکر وکی . ددی څخه وروسته يي دتيرو هغو قومونو دواقعاتو طرف ته اشاره وکړه په کومو چي په دنياکی دالله ﷻ عذاب نازل سوی دی ، مطلب دا دی چي دهغوی دحال څخه عبرت حاصل کی .

د. وَلَقَدْ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ هم دا مطلب ددی څخه وروسته بيا اصل مضمون دسورة طرف ته رجوع ده چي دممکناتو اومخلوقاتو دحالاتو څخه دحق تعالی په توحيد اوعلم اوقدرت باندی استدلال دی . په خپله دانسان دنفسونو، آسمان ستورو مځکی اونورو دحالاتو بيان مخ ته تيرسوی دی مخ ته دهغو مرغانو ذکر دی کوم چي دآسمان په فضاء کی الوزی، اَوَلَمْ يَرَوْا اِلَى الطَّيْرِ . يعنی آياهغوی مرغان په خپلو سرونو الوتونکی نه وينی کوم چي خپل وزرونه کله ښوروی اوکله يي را ټولوی ، په دی فکر وکی چي داوزنی جسمونه دی ، دعامی قاعدی په وجه سره وزنی جسم کله چي لوړ پريښوول سی ، نو دهغه مځکی ته را ايله کيدل ضروری دی ، هوا دغه وزنی جسمونه نه سی ټينګولی ، مگرالله ﷻ په خپل کامل قدرت سره دا مرغان په داسی وضع سره جوړکړی دی چي داپه هواکی ټينګ سی اوپه هوا باندی دخپلو جسمونو دبوج غورځولو اوپه دی کی دالوتو او ګرځيدو دپاره حق تعالی په ظاهر دی بی عقله اوبی شعوره حيواناتوته داسليقه ښوولی ده چي هغوی دخپلو وزرونو دښورولو اورا ټولولو په ذريعه هوا مسخر کوی اوظاهره ده چي په هواکی داصلاحيت پيداکول، دمرغانو وزرونه په دی وضع باندی جوړول، بيا دوی ته دخپلو وزرونو په ذريعه په هوا دکنټرول کولو سليقه ښوول . دا ټول دالله ﷻ

په کامل قدرت سره دی ، تردی ځای پوری یی دممکناتو او موجوداتو دمختلفو اقسامو په حالاتو کی دغور اوفکر په ذریعه دحق تعالی دوجود اوتوحید اوبی نظیره علم اوقدرت دلیلونه جمع کړل، په کومو کی چی ذره هم غور اوفکر کوونکو ته په حق تعالی دایمان راوړلو څخه ماسوا بله چاره نه پاته کیږی ، مخ ته دسورة ترختمیدو پوری کافران فاجران منکران اوبدعمله خلګ دالله ﷻ دعذاب څخه بیرول سوی دی اول یی په دی خبرداری ورکړی دی چی که الله ﷻ په یو قوم باندی عذاب نازلول غواړی نو ددنیا یو طاقت یی نه سی منع کولی ، ستاسی لښکری اوسپایان دهغه څخه تاسی نه سی ساتلی ارشادفرمایی ،

أَمَّنْ هَٰذَا الَّذِي هُوَ جُندٌ لَّكُمْ يَنصُرُكُم مِّن دُونِ الرَّحْمَٰنِ ۚ إِنِ الْكَافِرُونَ إِلَّا فِي غُرُورٍ : ددی څخه وروسته یی په دی سره وبیرول چی الله ﷻ کوم رزق تاسی ته دآسمان څخه په اوبو اورولو اودمځکی څخه په بوټو راټوکولو سره درکوی داځه ستاسی ذاتی جای ګیرنه دی، بلکه دالله ﷻ عطاء اوبخشش دی هغه دابندولی هم سی .

د ، أَمَّنْ هَٰذَا الَّذِي يَرْزُقُكُمْ إِنْ أَمْسَكَ رِزْقَهُ : هم دا مطلب دی مخ ته دکفارو په حال باندی افسوس دی کوم چی نه دقدرت په آیتونوکی په خپله غور کوی ، نه دنورو ښوونکو خبره اوری ، بَل لَّجُّوا فِي عُتُوٍّ وَنُفُورٍ یعنی دا خلګ برابر په خپله سرکښی اودحق څخه په لیری والی کی زیاتیږی، مخ ته دقیامت په میدان کی دکافر اومومن چی کوم حال کیدونکی دی دهغه ذکر دی چی دقیامت په میدان کی به کفار داسی حاضر سی چی پرپښو دتللو په ځای به نسکور روان وی ، په صحیح بخاری اومسلم کی دحضرت انس ﷺ روایت دی چی صحابه کرامو ﷺ پوښتنه وکړه چی کفاربه نسکور څنګه ځی؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل چی کوم ذات دوی پرپښو روان کړی دی ایا هغه پردی قادرنه دی چی دوی پر مخونو او سرونو باندی روان کی ، دایی په دی آیت کی بیان فرمایلی دی .

أَفَمَن يَمْشِي مُكِبًّا عَلَىٰ وَجْهِهِ أَهْدَىٰ أَمَّن يَمْشِي سَوِيًّا عَلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ : یعنی آیا هغه سړی کوم چی پرمخی نسکور روان وی ، زیات هدایت موندونکی دی یاهغه چی سیده روان وی ، دسیده تلونکی څخه مراد مومن دی چی هدایت موندونکی دی ،مخ ته بیاپه انسانی تخلیق کی دحق تعالی دقدرت اوحکمت دڅو نښانو بیان دی .

قُلْ هُوَ الَّذِي أَنشَأَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ ۖ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ : یعنی ته ووایه چی الله ﷻ هغه ذات دی کوم چی تاسی پیدا کړلاست اوستاسی غوږونه اوسترګی اوزړونه یی جوړکړل ، مګرتاسی خلګ شکر نه کوی .

(دغوږونو سترګو اوزړه تخصیص)

په دی کی دانسان په اندامونوکی دهغه درو اندامونو ذکردی په کومو چی علم ادراک اوشعور موقوف دی فلاسفه وو دعلم اوادراک پنځه ذریعی بیان کړی دی کوم ته چی حواس خمسه ویل کیږی ، یعنی اوریدل ، لیدل ، بویول، څکل، مسه کول، دبویولو دپاره پوزه، دڅښلو دپاره ژبه، اودمسه کولو قوت په ټول بدن کی الله ﷻ ایښی دی ، داوریدو دپاره غوږونه، اودلیدو دپاره یی سترګی جوړی کړی دی،

دلته حق تعالی په دې پنځو شیانوکې صرف د دوو ذکر کړی دی ، یعنې غوږونه اوسترګې ، وجه دا ده چې په بویولو ، څښلو سره دډیروکمو شیانو علم انسان ته حاصلیږي دده دمعلوماتو لوی دارمدار په اوریدو اولیدو دی اوپه دې کې یې هم اوریدل مقدم کړل، چې فکروکې نومعلومه به سي چې انسان ته په خپل عمرکې څومره معلومات سوي دي په هغه کې اوریدل سوي شیان په نسبت دلیدل سوو ډیر زیات دي په دې وجه یې دلته په حواس خمسه وو کې صرف په دووب اندې بس والی کړي دی چې ډیر انساني معلومات صرف په دې دوو لارو باندې حاصلیږي او دوهم شی یې زړه ښوولی دی چې دا په اصل کې دعلم بنیاد اومرکز دی ، په غوږونو سره داوریدل سوو او په سترګو سره دلیدل سوو شیانو علم هم په زړه موقوف دی ، دقرآن کریم ډیر آیتونه په دې باندې شاهد دي چې زړه یې دعلم مرکز مقرر کړی دی ، په خلاف دفلاسفه وو چې هغوی دماغ ددې مرکز مني .

ددې څخه وروسته بیا کفارو اومنکرانو ته خبرداری او دعذاب دوعدې بیان دی ، دسورة په اخرکې بیا په یوه جمله کې دا ارشاد فرمایي چې ای په مځکه اوسیدونکو اوپه دې کې دڅاهانو کیندونکو اوددې داوبو څښونکو اوپه دې دبوټو دراخیژولو کار اخستونکو دا خبره مه هیروی چې دا ټول شیان څه ستاسې ذاتي جای ګیرنه دی ، صرف دالله ﷻ ورکړه ده چې هغه اوبه واورولې اوهغه اوبه یې دواورې په شکل کې بحرِ منجمد یعنې یخې دریاب جوړکې ، دغرونو په سرونو یې محفوظې کړې چې سخا او خرابي نه سي ، بیاهغه واوره کرار کرار ویلې کوي ، دغرونو په رګونوکې یې مځکې ته دننه بیایي اوبیا بغیر دڅه پائپ لائن څخه یې په ټوله مځکه کې داسې جال خپور کړی دی چې کوم ځای مځکه وکیندی اوبه درته راوزي ، مګردا اوبه کومې چې ده دمځکې په لوړه سطح باندې ساتلې دي کومې چې په یوڅو فټه مځکه کیندلوسره راوزي ، دا دمالك اوخالق عطیه ده ، که هغه وغواړي نو دا اوبه به دمځکې لاندې سطح ته کښته کړي کوموته چې به بیا ستاسې رسیدل ممکن نه وي ، قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَاؤُكُمْ غَوْرًا فَمَنْ يَأْتِيكُمْ بِمَاءٍ مَعِينٍ : یعنې ته دې خلګوته ووایه چې په دې خبره فکر وکې چې کومې اوبه دڅاه په ذریعه په آساني راباسې اوچښي یې که هغه اوبه دمځکې بیخ ته کښته سي نوستاسې څه طاقت دی چې دهغه څخه به جاري اوبه حاصلې کړي په حدیث کې دي چې کله بنده دا ایت تلاوت کړي نوهغه ته دا ویل په کار دي، اَللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ یعنې هم الله رب العٰلمین بیادا را وستلې سي په مونږ کې دهیچا دا طاقت نسته .

تمّت سورة الملك بحمد الله فی ثالث رجب سنه ۱۳۹۱ھ یوم الخمیس

﴿ سورة القلم ﴾

سُوْرَةُ الْقَلَمِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ اثْنَتَانِ وَخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَفِيْهَا رُكُوْعَانِ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة قلم په مکه کې نازل سو په دې کې دوه پنځوس (۵۲) آیتونه اودوې (۲) رکوع ګانې دي .

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چې ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی .

نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ ۝١ مَآ أَنتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُونٍ ۝٢ وَإِنَّ

قسم دی په قلم او څه چی لیکی ، ته نه یی دخپل رب په فضل سره دیوانه ، او

لَكَ لَأَجْرًا غَيْرَ مَمْنُونٍ ۝٣ وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ۝٤ فَسَتُبْصِرُ

ستا دپاره بدله ده بی انتها ، او ته پیدا سوی یی په لوی خلق باندی ، نو ژر به ته هم وويني

وَيُبْصِرُونَ ۝٥ بِأَييِّكُمُ الْمَفْتُونُ ۝٦ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن

او دوی به هم وويني ،چی څوك دی په تاسی کی لیونی ، بیشکه ستا رب ښه پیژنی هغه څوك

ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ۝٧ فَلَا تُطِعِ

چی گمراه سو دلاری دهغه څخه ، او هغه ښه پیژنی لار پیداکوونکی ، نو ته خبره منه

الْمُكَذِّبِينَ ۝٨ وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ ۝٩ وَلَا تُطِعْ كُلَّ

د درواغجن کوونکو ،او غواړی چی په څه شان ته نرم سی دوی به هم نرم سی ، او ته خبره مه منه دچا

حَلَّافٍ مَّهِينٍ ۝١٠ هَمَّازٍ مَّشَّآءٍۭ بِنَمِيمٍ ۝١١ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ

قسم خوړونکی بی قدره ،طعن کوونکی چغلی خوړونکی ، منع کوونکی دنیکی څخه دحدڅخه

أَثِيمٍ ۝١٢ عُتُلٍّۭ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ ۝١٣ أَن كَانَ ذَا مَالٍ وَبَنِينَ ۝١٤

زیاتیدونکی لوی گناهگار ، سخت مزاجه او ددی څخه وروسته بدنام ، په دی وجه چی مال او اولاد لری ،

إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ الْأَوَّلِينَ ۝١٥ سَنَسِمُهُۥ عَلَى

هرکله چی وویل سی ده ته زمونږ خبری وایی دا نقلونه دی دمخکنیو ، اوس به داغ ورکړ ده ته

الْخُرْطُومِ ۝١٦ إِنَّا بَلَوْنَٰهُمْ كَمَا بَلَوْنَآ أَصْحَٰبَ الْجَنَّةِ إِذْ أَقْسَمُوا

په شونډ باندی ، مونږ د دوی ازمائش کړی دی لکه چی مونږ ازمائش کړی وو دباغ والا وو ، هرکله چی هغوی

لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِينَ ۝١٧ وَلَا يَسْتَثْنُونَ ۝١٨ فَطَافَ عَلَيْهَا طَآئِفٌ

قسمونه وخوړل چی میوه به وشکوو دهغه په سهار کی . او نشاء الله بی ونه ویل ، نو وگرځیدی په هغه یو گرځیدونکی

مِّنْ رَّبِّكَ وَهُمْ نَآئِمُوْنَ ﴿۱۹﴾ فَاَصْبَحَتْ كَالصَّرِيْمِ ﴿۲۰﴾ فَتَنَادَوْا

ستا درب دطرف څخه او هغوی بیده وه ، نو سهار سو لکه رودل سوی ، بیا یې یو بل ته اوازونه

مُصْبِحِيْنَ ﴿۲۱﴾ اَنِ اغْدُوْا عَلٰى حَرْثِكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰرِمِيْنَ ﴿۲۲﴾

وکړل په صبا کیدوکی ، چې وختې ولاړ سي خپل فصل ته که تاسي شکوونکي یاست

فَانْطَلَقُوْا وَهُمْ يَتَخَافَتُوْنَ ﴿۲۳﴾ اَنْ لَّا يَدْخُلَنَّهَا الْيَوْمَ عَلَيْكُمْ

پس روان سول او په خپل مینځ کی یې پټی پټی خبرې کولې ، چې دا خل نه سی دی ته نن په تاسی باندی

مِّسْكِيْنٌ ﴿۲۴﴾ وَّغَدَوْا عَلٰى حَرْدٍ قٰدِرِيْنَ ﴿۲۵﴾ فَلَمَّا رَاَوْهَا قَالُوْٓا اِنَّا

څوك محتاج ، او سهار وختې ولاړل بخل کوونکي په زور سره ، بیا یې هرکله چې هغه ولیدی وې ویل چې

لَضَآلُّوْنَ ﴿۲۶﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ ﴿۲۷﴾ قَالَ اَوْسَطُهُمْ اَلَمْ اَقُلْ

مونږ لارهیره کړه ، داسی نه ده مونږ خو بدقسمته سو ، وویل په دوی کی کوم چې ښه وو آیا ما تاسی ته نه وو

لَّكُمْ لَوْلَا تُسَبِّحُوْنَ ﴿۲۸﴾ قَالُوْا سُبْحٰنَ رَبِّنَآ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿۲۹﴾

ویلی چې پاکی ولی نه وایاست دالله ، وېې ویل پاك ذات دی زمونږ رب چې مونږ کوتاهي کوونکي وو ،

فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَلَاوَمُوْنَ ﴿۳۰﴾ قَالُوْا يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا

بیا یې مخ کی یو بل ته شروع سول په ملامتولو وې ویل ای هلاکت دی مونږ لره

طٰغِيْنَ ﴿۳۱﴾ عَسٰى رَبُّنَآ اَنْ يُّبْدِلَنَا خَيْرًا مِّنْهَآ اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا

بیشکه مونږ دحد څخه تجاوزکوونکي یو ، شایدزمونږ رب بدله راکړی مونږته ددې څخه ښه ، مونږ خپل رب ته

رٰغِبُوْنَ ﴿۳۲﴾ كَذٰلِكَ الْعَذَابُ ۭ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ ۘ لَوْ كَانُوْا

ارزولرونکي یو ، داسي راځي آفت او دآخرت آفت خودېرلوڅخه لوی دی که دوی

يَعْلَمُوْنَ ۝۳۳ إِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝۳۴ أَفَنَجْعَلُ

پوهېدل ، بیشکه بیرېدونکي به په نزد د رب خپل په باغونو دنعمتونو کي وي ، آیا مونږ گرځوو

الْمُسْلِمِيْنَ كَالْمُجْرِمِيْنَ ۝۳۵ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ۝۳۶ أَمْ لَكُمْ

حکم بردار دمجرمانو برابر ؟ څه سوي دي تاسي لره څنگه فیصله کوي ؟ آیا تاسي سره

كِتٰبٌ فِيْهِ تَدْرُسُوْنَ ۝۳۷ إِنَّ لَكُمْ فِيْهِ لَمَا تَخَيَّرُوْنَ ۝۳۸ أَمْ لَكُمْ

کتاب دی چي تاسي په کي وایاست ؟ په دې کي رسیږي تاسي ته کوم چي تاسي خوښوي ،آیا تاسي زمونږ

أَيْمَانٌ عَلَيْنَا بَالِغَةٌ إِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ إِنَّ لَكُمْ لَمَا تَحْكُمُوْنَ ۝۳۹

قسمونه اخستي دي سم رسیدونکي دقیامت تر ورځي پوري چي تاسي ته به رسیږي کوم چي تاسي مقرروی

سَلْهُمْ أَيُّهُمْ بِذٰلِكَ زَعِيْمٌ ۝۴۰ أَمْ لَهُمْ شُرَكَآءُ فَلْيَأْتُوْا

پوښتنه وکړه د دوی څخه چي کوم په دوی کي ددې ذمه اخلی ، آیا د دوی دپاره څوك شریکان سته ؟ نو په کار دی

بِشُرَكَآئِهِمْ إِنْ كَانُوْا صٰدِقِيْنَ ۝۴۱ يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ

چي راولي خپل شریکان که دوی رښتیني وي ، په کومه ورځ چي ښکاره سي پنډۍ

وَّيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُوْدِ فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ۝۴۲ خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ

او دوی وبلل سي سجدې ته پس و به نه کړل سي ، کښنته به وي د دوی سترگي چي

تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ وَقَدْ كَانُوْا يُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُوْدِ وَهُمْ

خپور به وي وربانډي ذلت او مخکي به دوی بلل کیدل سجدې ته او دوی وه سالم (او سجده یی نه کوله)

سٰلِمُوْنَ ۝۴۳ فَذَرْنِيْ وَمَنْ يُّكَذِّبُ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ سَنَسْتَدْرِجُهُمْ

، اوس پریږده ما او هغه چي دروغجنه کوي دا خبره او مونږ به پوري په پوري را کښنته کړو

مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝۴۴ وَأُمْلِيْ لَهُمْ إِنَّ كَيْدِيْ مَتِيْنٌ ۝۴۵

دوی دهغه خای څخه چي دوی وربانډي خبرهم نه وي، او مونږ مهلت ورکوو دوی لره ، بیشکه زما تدبیر محکم دی

أَمْ تَسْـَٔلُهُمْ أَجْرًا فَهُم مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ﴿٤٦﴾ أَمْ

آیا ته غواړې د دوی څخه څه حق پس په دوی دغه دتاوان بار لوېږي ، آیا

عِندَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿٤٧﴾ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ

د دوی سره خبر دی دغیبو چې دوی يې کوي ؟ نو ته صبر کوه حکم درب خپل ته

وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ الْحُوتِ إِذْ نَادَىٰ وَهُوَ مَكْظُومٌ ﴿٤٨﴾ لَّوْلَا

او مه کیږه دماهي والا په شان ، کله چې هغه اواز وکی او هغه دغم څخه ډك وو ، که نه وی

أَن تَدَارَكَهُ نِعْمَةٌ مِّن رَّبِّهِ لَنُبِذَ بِالْعَرَاءِ وَهُوَ مَذْمُومٌ ﴿٤٩﴾

سنبال کړی ده لره ، احسان درب ستا نو غورځول سوی به وای په ډاګ میدان او هغه بد حاله وو ،

فَاجْتَبَاهُ رَبُّهُ فَجَعَلَهُ مِنَ الصَّالِحِينَ ﴿٥٠﴾ وَإِن يَكَادُ الَّذِينَ

بیا پالنه وکړه دهغه رب دهغه ، بیا یې کی هغه په نیکانو کی ، او نژدې دی

كَفَرُوا لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ وَيَقُولُونَ

کافران چې وغورځوی تا په خپلو سترګو سره هر کله چې اوری قرآن او وایی

إِنَّهُ لَمَجْنُونٌ ﴿٥١﴾ وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِينَ ﴿٥٢﴾

چې هغه خو لیونی دی ، او دا قرآن خو نصحیت دی دټول مخلوق دپاره .

تفسیر: نٓ (ددی معنی الله ﷻ ته معلومه ده) قسم دی په قلم (په کوم چې دخلګو تقدیرونه په لوح محفوظ کی ولیکل سول) او (قسم دی) دهغو (ملائکو) په لیکلو (کوم چې کاتبانی دعملونو دی ، حضرت ابن عباس ؓ دقلم او د ،مَايَسْطُرُونَ دا تفسیر کړي دی ، درِ منثور ، مخ ته جواب دقسم دی) چې ته دخپل رب په فضل سره مجنون نه یی (لکه چې منکرین درسالت وایی ، لکه چې په دُر کی دابن جریج څخه نقل دی په سبب دنزول کی ، مطلب دا دی چې ته نبی برحق یی او دا قسمونه ددی مدعا سره نهایت مناسب دی څکه چې منجمله دمقادیرو څخه نزول دقرآن هم دی ، نو په دی آیت کی اشاره ده چې ستا نبوت په علم الهی کی د اول څخه محقق اوموکد دی نو ثبوت ددی یقینی سو اوعملونه لیکونکی ملائکی دتصدیق کوونکو اومنکرینو عملونه لیکی، نو په انکار دنبوت به سزا وی ، ددی څخه بیریدل او ایمان راوړل

واجب دی) او بیشکه ستا دپاره (په تبلیغ داحکامو) داسی اجر (حاصل کیدونکی) دی کوم چی (هیڅکله) ختمیدونکی نه دی (په دی کی هم تقریر دی دنبوت کوم چی مستلزم دی نفی دطعن کوونکو لره او دنبوت دتقریر سره متضمن دی تسلی لره هم ، چی ته څو ورځی برداشت وکړه چی انجام ددی اجرعظیم دی) او بیشکه ستا (ښکلی) اخلاق په اعلی پیمانه باندی دی (چی هرکار ستاموصوف په اعتدال اوفرین په رضا دالله ﷻ پوری دی او په مجنون کی داخلاقو کمال کله وی ، دا هم جواب دی دذکرسوی طعن ، مخ ته تسلی ده ، یعنی دا دوی چی کوم داسی مهمل کلام کوی) نو (ددغه غم مه کوه څکه چی) ډیر ژر به ته هم ووینی او دا خلګ به هم ووینی چی په تاسی کی (حقیقی) لیونتوب په چاوو (یعنی حقیقت دجنون دی زوال دعقل اودعقل انتها ده، ادراك دنفع اوضرر اوضرر معتدبه هغه دی چی ابدی وی، پس په قیامت کی به دوی ته معلومه سی چی عاقل اهل حق وو کومو چی دا نفع حاصله کړه اومجنونان دوی په خپله وه کوم چی ددی نفع څخه محروم پاته سول او په ابدی ضررکی اخته سول اوچونکه) ستا رب هغه سړی هم ښه پیژنی کوم چی دده دلاری څخه بی لاری سوی دی او هغه په (سیده) لاره تلونکی هم ښه پیژنی (په دی وجه به هر یوه لره مناسبه جزا اوسزا ورکړی او ددی جزا اوسزا مناسب والی به هم دی منکرانوته هغه وخت معلوم سی کله چی حقیقت ښکاره سی چی عاقل څوك وو اومجنون څوك وو ، مخ ته دمنکرانو دذم بیان دی چی کله ته په حق یی او دغه خلګ پرباطله دی) نوته ددی دروغ کوونکو خبره مه منه (لکه چی تراوسه دی نه ده منلی او دا خبره هغه ده کومه چی مخ ته راځی چی) داخلګ داغواړی چی ته (نعوذ بالله په خپل منصبی کارکی چی تبلیغ دی لږڅه) سست سی نو دوی هم سست سی (ستا سستیدل دا چی دبت پرستی مذمت نه کوی او د دوی سستیدل دا چی ستامخالفت نه کوی دسورة کافرون په تفسیرکی حضرت ابن عباس ﷺ دسُستیدو دا تفسیر بیان کړی دی ، درمنثور) اوته دچاداسی سړی خبره مه منه کوم چی ډیر قسمونه اخستونکی وی (مراد ورڅخه په دروغ قسم کوونکی دی ، عادتًا اکثره دروغجن سړی قسمونه ډیر اخلی اوکوم چی دخپلو بدو حرکتونو په وجه عندالله اوعندالخلق) بی وقعته وی (دزړه خفه کولو دپاره) طعنی کوونکی وی چغلی کوی ګرځی ، دنیك کار څخه منع کوونکی وی دحد (اعتدال) څخه تیریدونکی وی دګناه کوونکی وی، سخت مزاجه وی (او) ددی (تولو) څخه علاوه بدنام (هم) وی (مراد ولدزنا دی ، او مطلب دا دی چی نورکارونه اواخلاق هم دده خبیث وی چونکی غالبًا دولد زنا اخلاق اوافعال ښه نه وی ، په دی وجه مجازًا ددی څخه دامراد واخستل سو ، لنډه داچی اول خومطلقًا د دروغ کوونکو بیاپه خصوص سره چی کله دغه دروغ کوونکی په دی ذمائمو سره هم متصف وی لکه چی ستاپه دروغ کوونکو کی څینی لوی لوی داسی وه او په دی درخواست کی شریك بلکه ددی بانی وه ، غرض دا چی ته دداسی سړی خبره مه منه او) هغه هم محض) په دی سبب چی هغه مال او اولاد والا وی (یعنی ددنیا وجاهت لری ، او دداسی سړی داطاعت څخه څکه منع کیږی چی ددی سړی دا حالت دی چی) کله زما آیتونه دده په وړاندی اورول کیږی نوهغه وایی چی دابی سنده خبری دی کومی چی دمخکنیو څخه منقول راروانی دی (مطلب داچی دایتونو تکذیب کوی، لنډه داچی ددوی دخبری دمنلو

څخه دمنع کولو اصل علت ددوی تکذیب دی اوپر دی بنایی ، اول لاَ تُطِعِ الْمُكَذِّبِيْنَ : وفرمایل بیاپه طور دتخصیص نو دتعمیم څخه په دی مکذبینوکی دداسی خلکو داطاعت څخه ممانعت وسوکوم چی علاوه دتکذیب څخه نور بد عادتونه هم لری، دداسی خلکو داطاعت څخه ممانعت دمطلق مکذبینو داطاعت دممانعت څخه زیات سخت وی ، لیکن اصل علت به یی دغه تکذیب وی مخ ته دداسی سړی دسزا بیان دی چی) مونږ به ډیر ژر دده په پزه داغ کښیږدو (یعنی په قیامت کی به دده په مخ اوپزه دده دکفر په وجه سره یو نښه دذلت اودپیژندو ولګوو په کوم سره چی به هغه ښه رسواسی، په مرفوع حدیث کی داسی راغلی دی ، لکه چی داسی په دُرمنثور کی دی ، مخ ته دمکی خلګوته یوه قصه اوروی او هغوی دعذاب څخه بیرول کیږی) مونږ (چی کوم مکی والاوو ته دعیش سامان ورکړی دی او په کوم چی دوی مغروره دی نو مونږ) د دوی ازمائش کړی دی (چی وګورو چی دوی ددی نعمتونو په شکر کی ایمان راوړی اوکه ناشکری اوبی قدری کوی اوکفر کوی) لکه چی (د دوی څخه مخ کی مونعمتونه ورکړل) مونږ دباغ والاوو ازمائش کړی وو (داباغ په قول دحضرت ابن عباس ؓ په ملك دحبشه کی وو اوپه قول دسعید بن جبیر ؓ په یمن کی ، لکه چی په درمنثورکی دی اوداقصه په مکه کی مشهوره اومعروفه وه او دکوم باغ والاوو چی دا قصه ده ، د دوی دپلارپه خپل وخت کی داعادت وو چی یوه لویه حصه ددی باغ دمیوی به یی په مسکینانو باندی خرڅ کوله ، هرکله چی هغه مړسو نودغو خلکو وویل چی زمونږ پلار احمق وو چی دومره امدنی یی مسکینانوته ورکوله که داټوله یوسو نوڅومره فراغت به وی ، چنانچی په دی آیتونو کی د دوی باقی قصه ذکر ده یعنی دا راتلونکی واقعه هغه وخت وسوه) هرکله چی هغو خلکو (یعنی اکثرو یاځینو لکه دا قول دالله ﷻ چی دی ، قَالَ اَوْسَطُهُمْ) په خپل مینځ کی قسم وکی چی ددی (باغ) میوه به سهار خامخا خو شکوو به یی او (داسی وثوق یی وسو چی) هغوی انشاء الله هم ونه ویل ، نو په دی باغ ستا درب دطرف څخه یو ګرځیدونکی (عذاب) وګرځیدی (اوهغه یو اور وو لکه چی په دُرکی دابن جریج څخه نقل دی برابره خبره ده که خالص اور وو یاپه هواکی ګډ سوی لکه هغه ګرمه هوا چی دګرمی په موسم کی دغرمی دخوا چلیږی) اوهغوی بیده وه ، بیاسهار هغه باغ داسی سولکه پریکړی فصل (چی خالی مځکه پاته سی اوځینی ځای رودل سوی اوسوزیدلی هم وی ، مګر هغوی ته ددی هیڅ خبرنه وو) نو دسهارپه وخت کی (چی دخوبه پورته سوه نو) یوبل ته یی اوازونه وکړل چی خپل فصل ته وختی ولاړسی که تاسی میوه شکوی (فصل یی ورته مجازاً وویل یاپه دی کی څه داسی شی هم وو کوم چی تنه دارنه وی لکه انګور اونور، یاددی باغ متعلق فصل هم وو) بیاهغو خلګو په خپل مینځ کی پټی پټی خبری کولی روان سول چی نن تاسی ته څوك محتاج رانه سی او (په خپل خیال) ځان یی ددی په نه ورکولو قادر وګڼی روان سول (چی ټوله میوه به کورته راوړو اوچاته به ورڅخه څه ورنه کو، لکه په دُرمنثور کی دحضرت ابن عباس ؓ څخه نقل دی) بیاچی هرکله (هلته ورسیدل او هغه باغ یی (په دغه حالت کی) ولیدی نووی ویل چی بیشکه مونږ لارهیره کړه (اوبل طرف ته رالو څکه چی دلته خوباغ ماغ هیڅ نسته بیاچی هرکله موقع اوحدود یی ولیدل نویقین یی وکی چی داهغه ځای

دی نو دغه وخت یې وویل چې لار مو نه ده هیره کړه) بلکه (ځای خوهغه دی لیکن) زمونږ قسمت تباه سو (چې باغ په دی حال سو) په دوی کې چې کوم (څه قدر) ښه سړی وو هغه وویل چې ولی ماتاسی ته نه وه ویلی (چې داسی نیت مه کوی ، مسکینانوته په ورکولو سره برکت وی ، په دی وجه دی سړی ته الله ﷻ ښه وویل ، مگر عملاً دا سړی هم سره دکراهت دزړه دټولو سره شریك سوی وو ، په دی وجه په ترجمه کی احقر لفظ د: څه قدر، زیات کی لأنّ الاوسط امرٌ اضافی، بیا اولنی خبره وریادوی، دی سړی وویل چې خپل شامت اوبدوالی داعمالو خومو وځکی ، مگر، اوس (توبه او) تسبیح (اوپاکی) ولی نه کوی (چې دغه گناه معاف سی اوددی څخه زیات عذاب رانه سی) تولو (په طور دتوبی) وویل چې زمونږ پروردگار پاك دی (دا تنزیه ده کومه چې داستغفار تمهید دی) بیشکه مونږ قصور درلودونکی یو (دا استغفار دی) بیا یو بل ته مخاطب سول په یوبل یې الزامونه لگول (لکه چې دکار دخرابیدوپه وخت کی داکثرو خلگو عادت وی چې هر یو سړی بل دفاسدی رایی ذمه وار گرځوی ، بیاټول متفق سول) وي ویل چې بیشکه مونږ (ټول) دحد څخه وتونکی وو (دچا یوتن خطایی نه وه په یوبل باندی الزام لگول بی کاره دی ټول په جمع توبه وباسی) شاید (دتوبی په برکت سره) زمونږ پروردگار مونږ ته ددی څخه ښه باغ په بدله کی راکی (اوس) مونږ دخپل رب طرف ته رجوع کیږو (یعنی توبه کوو اوبدّلنا عام دی برابره خبره ده که په دنیاکی نعم البدل ورکول سی او برابره خبره ده که په اخرت کی اوظاهراً دامعلومیږی چې داخلگ مومنان وه اوپه معصیت کی اخته سوی وه اوداخبره هیڅ ځای په سندسره دنظر څخه نه ده تیره سوی چې آیا ددی باغ په عوض کی دوی ته په دنیاکی یو باغ ورکول سو اوکه نه البته بغیر دسند څخه په روح المعانی کی دحضرت ابن مسعود ﷺ قول لیکلی دی چې ددی څخه ښه باغ دوی ته ورکول سو ، والله اعلم مخ ته دقصی غرض یعنی دبیرولو وضاحت دی چې دحکم څخه په خلاف کولو) دغسی عذاب راځی (هرکله چې داسی عذاب راځی نوای دمکی خلگو تاسی هم دداسی عذاب مستحق یاست، بلکه ددی څخه هم دزیات ، څکه چې مذکوره عذاب خومحض پرمعصیت باندی وو اوتاسی خوکفر کوی) او داخرت عذاب ددی (دنیوی عذاب) څخه هم زیات دی څه ښه به وای که داخلگ (په دی خبره) پوهیدی (چې ایمان یې راوړی وای ، مخ ته ددی سزاگانو دتحقیق دپاره دکفارو دباطل خیال ابطال فرمایی چې هغوی به ویل ، لَئِنْ رُجِعْتُ إِلَىٰ رَبِّي إِنَّ لِي عِندَهُ لَلْحُسْنَىٰ : یعنی) بیشکه دپرهیزگارو دپاره د دوی درب په نزد دارام جنتونه دی (یعنی سبب ددخول دجنت تقوٰی ده ، او په کافروکی دسره تقوٰی نسته نو دوی ته به جنت څنگه ورکول سی) آیا مونږ به فرمان برداره دنافرمانو سره برابرکو (یعنی که کافروته نجات وی نو په فرمانبردارو اونافرمانو کی به څه فرق اوامتیاز پاته سی چې دفرمانبردارو فضیلت پر ثابت وی ، لکه دا قول دالله ﷻ دی ، په سورة ص کی ، أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِينَ الخ) تاسی ته څه وسول تاسی څنگه فیصله کوی آیاستاسی سره څه (آسمانی) کتاب دی په کوم کی چې وایاست چې په دی کی ستاسی دپاره هغه شی وی (لیکلی) کوم چې تاسی خوښوی (یعنی په دی کی یې لیکلی دی چې

تاسي ته به په اخرت کې حسنی یعنې نعمت درکول کیږي) آیا زمونږ پرذمه څه قسمونه ختلی دي کوم چې ستاسي دپاره خوړل سوي وي اوهغه قسمونه ترقیامته پوري باقي پاته کیدونکی وي (دکومو چې دا مضمون وي) چې تاسي ته به هغه شي درکول کیږي کوم چې تاسي فیصله کوي (یعنې ثواب اوجنت) د دوي څخه پوښتنه وکړه چې په دې کې د دوي څوك ذمه وار سته آیا ددوي مقرر کړي څه شریکان (په خدایي کې) دي (چې هغوي دوي لره دثواب ورکولو ذمه اخستی دہ) نو دوي ته په کار دي چې خپل هغه شریکان پیش کړي که دوي رښتیني وي (غرض دا چې کله چې دا مضمون په څه آسماني کتاب کې نسته دغسي بغیر دکتاب څخه دنورو طریقو دوحي زمونږ وعده نسته کومه چې په مثل دقسم وي، بیاپه داسي حالت کې څوك د دوي څخه یا د دوي دشریکانو څخه ذمه واري اخستی سي؟ هیڅکله نه ، بیا دعوی په کومه بناده ، مخ ته ددي خلګو دقیامت درسوایي ذکر دي ، هغه ورځ دیادولو قابله ده) په کومه ورځ چې دپنډي تجلي وفرمایل سي اوخلګ دسجدي طرف ته راوبلل سي (ددي قصه په حدیث دشیخینو کې مرفوعًا داسي راغلی ده) چې الله ﷻ به دقیامت په میدان کې خپل ساق ظاهر کړي (ساق پنډي ته وایي) او دا څه خاص صفت دی کوم ته چې یې په څه مناسبت سره ساق وفرمایل ، لکه په قرآن کې چې لاس راغلی دی او دی ته متشابهات وایي او په دې حدیث کې دي چې دا تجلي ووینی نو ټول مومنان سړي او مومنانی ښځی به پرسجده پریوزي ، مګرکوم سړي چې به په ریاسره سجده کوله دهغه ملا به دتختی په شان سي ، سجده به ونه سي او سجدي ته په بللو سره دا شبهه نه سي کیدی چې دا خو دارالتکلیف نه دی ځکه چې دبللو څخه مراد بالسجودنه دی بلکه په هغه تجلي کی به دا اثروي چې ټول به په اضطراري طورسره سجده کول وغواړي ، چې مومنان به پردي باندي قادرسي اوریاکار منافقان به قادر نه سي او دکفارو نه قادریدل خوپه درجه اولي معلومیږي دکوم چې مخ ته ذکردي یعنې کفاربه هم سجده کول وغواړي) نو دوي (کافران) به سجده ونه کړل سي (او) د دوي سترګی به (دشرمندګی څخه کښته وي (او) په دوي به ذلت خپوروي او (وجه ددي دا ده چې) دا خلګ (په دنیاکی) دسجدي طرف ته بلل کیدل (داسي چې ایمان راوړي او عبادت وکي) اوهغوي صحیح سالم وه (یعنې په سجده باندي قادر هم وه، چنانچې ظاهره ده چې ایمان اوعبادت فعل اختیاری دی نو په دنیاکی دحکم په نه منلوسره نن دوي ته دارسوایي اوذلت وسو اوپه بل آیت کې چې کوم دسترګو پورته ساتل راغلی دی ، هغه ددي معارض نه دی ځکه چې کله به دحیرت دغلبې څخه داسي وي اوکله به دندامت دغلبې څخه داسي وي . مخ ته دکفارو ددي خیال رددي چې ژرعذاب نه راتلل یې دخپل مقبول کیدو دلیل ګڼي اوددي په ضمن کې دوي ته تسلي هم ده یعنې هرکله چې د دوي دعذاب مستحق کیدل دلوړو آیتو څخه معلوم سو) نوما اوکوم چې دا کلام دروغ کوي هغوي (پردي موجوده حال) پریږده (یعنې په ژرعذاب نه راتللو رنج مه کوه) مونږ به دوي پوړ پر پوړ (دجهنم طرف ته) بوزو په دې طورچې دوي خبرهم نه وي او (په دنیاکی په دوي دعذاب دنه غورځولو سره) هغوي ته مهلت ورکوو ، بیشکه زما تدبیر ډیر مضبوط دی (مخ ته د دوي په انکار دنبوت باندي تعجب دی) آیاته د دوي څخه څه معاوضه غواړي چې تاوان یې په دوي دروند دی

(په دې وجه يې سنا داطاعت څخه نفرت دی اولکه داقول دالله ﷻ اَمْ تَسْئَلُهُمْ خَرْجًا) اوکه د دوی سره (د) غيب (علم) دی چې دوی (دغه دمحفوظ ساتلو دپاره) لیکی (يعنی آيادوی ته دالله ﷻ احکام په خپله څه طريقه سره معلوميږی دکوم په وجه چې هغوی دصاحب وحی دانباع څخه مستغنی دی ، اوظاهره ده چې دواړه خبری نسته ، بيا دنبوت څخه انکار عجيبه دی مخ نه ده ﷺ ته تسلی ده ، هرکله چې د دوی مستحقوالی دعذاب، اوكفر چې موجب داستحقاق دی معلوم سو اوداچې دوی ته مهلت ورکول استدراج يعنی يوقسم وخت ورکول دی اوپر موعود وخت به عذاب وی) نوته دخپل رب پر (دی) انتخاب صبرکوه (په تنګدلی کی) دماهی (دګيډی) والا (پيغمبر يونس ﷺ) په شان مه کيږه (چې هغه دعذاب په نه نازليدو تنګ دله سو او ولاړی چې قصه يې څوځايه لږ لږ راغلی ده ، دقصی دتشبيه مضمون ختم سو مخ ته په طور دتتميم دقصی ارشاد دی چې هغه وخت هم يادکړه) هرکله چې يونس (ﷺ خپل رب ته) دعا وکړه او دی دغم څخه ويلی کيدی (دا غم مجموعه وه دڅو غمونو ، يودقوم دايمان نه راوړو ، يودعذاب واپس کيدو يوبغير دواضح اجازت دالله ﷻ څخه دهغه ځای څخه دوتلو ، يو دماهی په نس کی دقيد کيدو اوهغه دعا دا ده ، لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ ، چې په دی سره مقصود معافی او طلب دنجات دی دقيد څخه چنانچی په ده دالله ﷻ فضل وسو اودماهی دنس څخه يې نجات پيداکی ، ددی په اړوند ارشاد دی چې) که دخدای احسان دده دستګيری نه وای کړی نوهغه به په (کوم ميدان چې دماهی دنس څخه غورځول سوی وو، په هغه) ميدان کی به په بدحالی سره غورځول سوی وای (ددستګيری څخه مراد دتوبی قبليدل دی او دبد حالی څخه مراد دا دی چې دده په اجتهادی غلطی به دالله ﷻ دطرف څخه دده ملامتيا سوی وای ، مطلب ددی او دسورة صفت دايت دا دی چې که توبه او استغفار يې نه کولی نو دګيډی دماهی څخه به يې نجات نه وای سوی لکه چې فرمايی ، فَلَوْ لَا أَنَّهُ كَانَ الخ اوکه توبه اواستغفاريې کولی خوالله ﷻ نه قبلولی نو ددی توبی اواستغفار دومره قدر دنيوی برکت خو به وای چې دماهی دنس څخه خو به يې نجات سوی وای اوپه ميدان باندی به لکه څنګه چې اوس غورځول سوی وو ، دغه شان به غورځول سوی وای ليکن دغه وخت به دغه غورځول مذموم وای اودا اوسنی غورځول يې دمذموم والی په حالت کی نه سو ، څکه چې دتوبی دقبليدو څخه وررسته په خطا مذمت اوملامتيا نه وی) بياده رب دی (نور زيات) برګزيده کی اودی يې په (زيانه) مرسه دصالحينو کی کی (شايد ددی قصی په دی تتميم سره داهم مقصود وی چې په خپل اجتهاد عمل کول ده لره څومره مضر سول او توکل څومره نافع سو دغه شان دعذاب په باره کی ته هم په خپله رايی سره تلوارمه کوه ، بلکه په الله ﷻ توکل کوه چې انجام بهتر سی) او (مخ ته دده ﷺ په شان کی دکفارو دمجنون ويلو به يوبل انداز سره ابطال دی ، دسورة په شروع کی يې په بل اندازسره ددی ابطال کړی وو يعنی) دا کافران چې هرکله قرآن کريم اوری نو (دشدت اوعداوت څخه) داسی معلوميږی چې ګويا تا په خپلو نظرونو سره ښويوی غورځوی (دا يوه محاوره ده ، لکه چې داسی وايی چې فلانی سړی داسی ګوری لکه چې سړی خوری لکه په روح المعانی کی دی ، نَظَرَ إِلَيَّ نَظَرًا يَكَادُ يَصْرَعُنِي أَوْ يَكَادُ يَأْكُلُنِي مطلب دا دی چې دسختی

دښمنی په وجه تاته په بدو بدو نظرونو سره ګوری) او (په دی عداوت سره ستاپه نسبب) وایی چی (نعوذبالله) دامجنون دی حالانکی دا قرآن (په کوم سره چی ته خبری کوی) دټول جهان دپاره نصیحت دی (او مجنون سړی داسی عامه اصلاح نه سی کولی ، په دی کی خو جواب دجنون دطعن ظاهر دی او په بیان دعداوت سره هم ددی طعن ضعیفوالی ثابت سو ، ځکه چی دکوم قول منشاء شدت عداوت وی هغه قابل التفات نه وی)

معلومات اومسئلي : په سورة ملك کی دالله ﷻ دوجود اوتوحید اوعلم اوقدرت دلیلونه دکائناتو په مشاهده سره بیان سوی دی او په کفارو اومنکرانو دسخت عذاب ذکر دی ، په سورة نون کی دکفارو دهغو طعنو جواب دی کوم چی به هغوی په نبی کریم ﷺ باندی کول ، دټولو څخه اوله طعنه دهغوی داوه چی دالله ﷻ رالیږل سوی کامل العقل، کامل العلم، جامع الفضائل رسول ﷺ ته یی معاذ الله مجنون ویل یاپه دی وجه چی په نبی کریم ﷺ کومی وحی دملائکی په ذریعه نازلیدی نو دوحی دنزول په وخت به ددی اثار د دوی ﷺ په جسم مبارك لیدل کیدل ، بیابه ده ﷺ دوحی په ذریعه حاصل سوی ایتونه اورول ، دا معامله دکفارو دفهم اوادراك څخه دباندی وه په دی وجه یی دا جنون مقررکی ، اویاپه دی وجه چی دوی ﷺ دخپل قوم اوټولی دنیا دموجوده عقائدو خلاف دادعوی وکړه چی دعبادت قابل دالله ﷻ څخه ماسوا بل څوك نسته ، کوم په خپله تراش کړی بتان چی به هغوی خدایان ګڼل، هغه ته یی بی علمه بی شعوره اوناقابل نفع اوضرر یی بیان کړل ، د دوی ﷺ ددی عقیدی هیڅوك ملګری نه وو، دوی ﷺ یوازی دا دعوی وکړه ، بغیر دڅه ظاهری ساز اوسامان څخه دټولی دنیاپه مقابله کی ودریدی، په ظاهرو نظرونو کی ددی دکامیابی هیڅ امکان نه وو، دداسی دعوی سره راپورته کیدل یی جنون وګڼل ، اوبغیر دڅه سبب څخه هم طعن برانی طعن کیدی سی چی مجنون یی ویلی وی ، دسورة په ابتدایی ایتونوکی یی د دوی ددی باطل خیال تردید په قسم سره موکد کړی بیان کړی دی ، نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ (۱) مَا أَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُونٍ : دنون حرف دمقطعه حروفو څخه دی ، کوم چی دقرآن کریم په ډیرو سورتونو کی په اول کی راوړل سوی دی ، ددی معنی الله ﷻ ته معلومه ده یادهغه رسول ﷺ ته، امت ددی په تحقیق کی دپریوتو څخه منع سوی دی

(دقلم څخه څه مراد دی اودقلم فضیلت)

په وَالْقَلَمِ کی راوحرف قسم دی او دقلم څخه مراد عام قلم هم کیدی سی ، په کوم کی چی قلم دتقدیر اوملائکو اوانسانانو ټول قلمونه په کوموسره چی څه لیکل کیږی ، ټول دا خل دی (لکه چی دا قول دابی حاتم البستی دی) او خاص قلمُ دتقدیرهم مراد کیدی سی (لکه چی دا قول دحضرت ابن عباس ﷛ دی) او دتقدیر ددی قلم په حقله دُحضرت عباده بن الصامت ﷛ په روایت کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دټولو څخه اول الله ﷻ قلم پیدا کی او ده ته یی حکم وکی چی ولیکه قلم عرض وکی چی څه ولیکم؟ نوحکم یی ورکی ، چی تقدیر الهی، قلم (دحکم مطابق) تر ابده پوری کیدونکی ټول واقعات اوحالات ولیکل (رواه الترمذی وقال هذا حدیث غریب) اوپه صحیح مسلم کی دحضرت عبدالله بن عمر ﷛ حدیث

دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ دټول مخلوق تقدیر دآسمان اومځکی دتخلیق څخه پنځوس زره کاله مخکی لیکلی وو

اوحضرت قتاده ؓ فرمایی چی قلم دالله ﷻ یو لوی نعمت دی کوم چی ده خپلو بندګانوته ورکړی دی اوځینی حضرات فرمایی چی الله ﷻ اول یو قلم دتقدیر قلم پیدا وفرمایی کوم چی دټولو مخلوقاتو اوکائناتو تقدیرونه ولیکل ، بیایی بل قلم پیداکی په کوم سره چی دمځکی اوسیدونکی لیك کوی اولیکی به یی ، ددی دوهم قلم ذکر په سورة اقرا کی راغلی دی . عَلَّمَ بِالْقَلَمِ، والله اعلم

په آیت کی که دقلم څخه مراد قلم دتقدیر واخستل سی کوم چی دټولو څخه اول پیدادی نو دهغه عظمت اوپه ټولو شیانویی یوه برتری خوظاهره ده په دی وجه په دی قسم اخستل مناسب سو ، اوکه دقلم څخه مراد عام قلم واخستل سی ، په کوم کی چی دتقدیر قلم او دملائکو دقلمونو څخه علاوه دانسانانو قلمونه هم داخل دی ، نو په دی قسم ځکه وخوړل سو چی په دنیاکی دلوی څخه لوی کارټول په قلم سره کیږی ، دملکونو په فتح کولوکی دتوری څخه زیات دقلم موثر کیدل منقول اومعروف دی ، ابوحاتم بستی دا مضمون په دوه شعرونوکی فرمایلی دی .

اِذَا قَسَمَ الْاَبْطَالُ یَوْمًا بِسَیْفِهِمْ ********** وَعَدُّوْهُ مِمَّا یَکْسِبُ الْمَجْدُ وَالْکَرَمِ

هرکله چی قسم اخلی بهادران خلګ یوه ورځ په خپله توره اودا شمیری په هغو شیانوکی کوم چی انسان ته عزت اوشرف بخښی .

کَفٰی قَلَمُ الْکُتَّابِ عِزًّا وَرِفْعَةً ********** مَدَی الدَّهْرِ اِنَّ اللهَ اَقْسَمَ بِالْقَلَمِ

خوکافی دی دلیکونکو قلم د دوی دعزت دپاره دهمیشه همیشه دپاره ځکه چی الله ﷻ قسم اخستی دی په قلم باندی

په هرحال په دی آیت کی یاپه قلم دتقدیر یاعام قلم دمخلوق اوبیاپه لفظ دَمَایَسْطُرُوْنَ کی چی څه په دی قلمونو ولیکل سول اویاڅه لیکل کیږی په دی یی قسم وکی، حق تعالی دکفارو داباطله طعنه رد وفرمایله چی ته مجنون یی، ارشادوسو: مَا اَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُوْنٍ : یعنی ته دخپل رب په نعمت اوفضل سره هیڅکله مجنون نه یی ، په دی کی ، بِنِعْمَةِ رَبِّكَ : یی زیات کی ، ددعوی دلیل یی هم ورکی چی په کوم سړی دالله ﷻ نعمت او رحمت مکمل وی ، هغه څنګه مجنون کیدی سی ، ده ته مجنون ویونکی په خپله مجنون دی .

فائده : علماؤ فرمایلی دی چی په قرآن کریم کی حق تعالی په کوم شی قسم اخلی هغه په مضمون دقسم یوشهادت وی، دلته دَمَایَسْطُرُوْنَ په لفظ سره ددنیاپه تاریخ کی چی څه لیکل سوی دی اوڅه لیکل کیږی دایی په طوردشهادت پیش کړی دی چی ددنیاتاریخ وګوری دداسی اعلی اخلاقواواعمالو والا یو ځای مجنون وی هغه خو دنورو عقلونه برابر وی ، مخ ته دذکر سوی مضمون دزیات تائید دپاره فرمایی .

وَاِنَّ لَكَ لَاَجْرًا غَیْرَ مَمْنُوْنٍ اوبیشکه ستا دپاره اجرِ عظیم دی چی هیڅکله منقطع کیدونکی نه دی ، مطلب

دا دی چې ستاکوم کارته دا لیونی جنون وایی ، دا خو دالله ﷻ په نزد دتولو څخه لوی مقبول عمل دی ، په دی تاته اجر عظیم رسیدونکی دی او اجر هم داسی چې دائمی دی هیڅکله به منقطع نه سی ، یو ځای دیو مجنون په عمل هم مجنون ته اجر ورکول کیږی ، مخ ته ددی مضمون زیات تائید او تاکید یی په دی جملی سره وفرمایی .

وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ : په دی کی یی دنبی کریم ﷺ په اخلاق فاضله اوکامله کی دغور کولو هدایت فرمایلی دی، چې لیونو لرِ خووګوری ، آیا دمجنونانو اولیونو داسی اخلاق کیدی سی ؟

(دنبي کريم ﷺ خلقِ عظيم)

حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چې دخلق عظیم څخه مراد دین عظیم دی چې دالله ﷻ په نزد ددی دین اسلام څخه زیات بل محبوب دین نسته ، حضرت عائشه ﷺ فرمایی چې د دوی ﷺ خلق په خپله قرآن دی یعنی قرآن کریم چې دکومو اعلی اخلاقو تعلیم ورکوی ، دی ﷺ دهغو ټولو عملی نمونه ده ، حضرت علی کرم الله وجهه فرمایی چې دخلق عظیم څخه مراد اداب القرآن دی ، یعنی هغه اداب کوم چې قرآن ښوولی دی ، حاصل دټولو تقریبًا یودی دنبی کریم ﷺ په وجود باجود کی حق تعالی ټول اخلاق فاضله په درجه دکمال جمع کړی وه، په خپله نبی کریم ﷺ فرمایی ، بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الْأَخْلَاقِ : یعنی زه ددی کاردپاره رالیږل سوی یم چې زه داعلی اخلاقو تکمیل وکړم (ابوحیان)

حضرت انس ﷺ فرمایی چې مالس کاله دنبی کریم ﷺ خدمت وکی ، په دی ټوله وخت کی چې ماکوم کار وکی ، ده ﷺ هیڅکله دا نه دی فرمایلی چې داسی دی ولی وکړل اوکوم کار چې می نه دی کړی په هغه یی هیڅکله دا نه دی فرمایلی چې دا کار دی ولی ونه کی حال دا دی چې داظاهره ده چې دلسو کالوپه وخت کی دخدمت کوونکی څخه ډیر کارونه خلافِ طبع کیدی سی (بخاری اومسلم)

حضرت انس ﷺ فرمایی چې ده ﷺ دمکارم اخلاق داحال وو چې دمدینی یوی مینځی به هم ده ﷺ لاس ونیوی هر ځای چې به یی بیول غوښتل بیوی به یی (بخاری)

حضرت عائشه ﷺ فرمایی چې نبی کریم ﷺ هیڅکله په خپل لاس سره څوك نه دی وهلی بغیر دجهاد فی سبیل الله څخه ، چې په دی کی دکفارو وهل اوقتلول ثابت دی اونه ده ﷺ هیڅکله یوخادم یاښځه وهلی ده په دوی کی چې به کله دچا څخه خطا هم وسوه نو انتقام یی نه دی ورڅخه اخستی ، بغیر ددی څخه چې دالله ﷻ دحکم څخه یی خلاف ورزی کړی وی نوپه هغه یی شرعی سزاجاری فرمایلی ده (رواه مسلم)

حضرت جابر ﷺ فرمایی چې دنبی کریم ﷺ څخه هیڅکله دیو شی سوال نه دی سوی چې په جواب کی یی دوی ﷺ ، نه فرمایلی وی (بخاری مسلم)

اوحضرت عائشه ﷺ فرمایی چې نبی کریم ﷺ نه فحش ګو وو نه به فحشوته نژدی کیدی اونه په بازارونو کی شور او شغب کوونکی وو ، دبدی بدله یی هیڅکله په بدی سره نه ورکوله ، بلکه دمعافی اودرګزر معامله به یی فرمایله اوحضرت ابودرداء ﷺ فرمایی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې دعمل په میزان کی به دحسن خلق برابر دهیڅ عمل وزن نه وی ، اوالله ﷻ دښکنځل کوونکی بدزبانه سره بغض لری (رواه

الترمذی وقال حدیث حسن صحیح)
اوحضرت عائشه ﷺ فرمايي چې نبی کریم ﷺ وفرمایل چې مسلمان دخپل حسن خلق په وجه دهغه سړی درجه حاصلوی کوم چې همیشه دشپې په عبادت کې ویښ وی او توله ورځ روژه نیسی (ابوداود)
اوحضرت معاذ ﷺ فرمايي چې زه یې دیمن عامل مقررکړم نواخری وصیت دلیږلوپه وخت کې چې دوی ﷺ ماته وفرمايي اوځه وخت چې مایوه پښه په رکاب کې ایښې وه هغه داوو ،یَامَعَاذُاَحْسِنْ خُلُقَكَ لِلنَّاسِ (ای معاذه! دخلکوسره دښه خوی سلوك کوه (رواه مالك) داټول روایتونه دحدیث دتفسیر مظهری څخه نقل سوی دی

فَسَتُبْصِرُ وَيُبْصِرُونَ (٥) بِأَيِّكُمُ الْمَفْتُونُ : ډیر ژر به ته هم وويني اودا کفار به هم وويني چې په تاسی کې کوم يو مجنون دی ، مفتون دلته په معنی دمجنون دی، په تیرو ایتونو کې دوی ﷺ ته دمجنون ویونکو طعنه یې په دلیلونو سره رد فرمايلې ده ، په دی آیت کې دپیشگویی په طور دا وښوول سوه چې دا خبره دغسی پټه پناه نه ده ، په نزدی راتلونکی وخت کې به ټول په سترگو سره وويني چې معاذ الله ته مجنون وی یاتاته مجنون ویونکی پاگلان اولیونی وه ، چنانچې لږ زمانه وروسته داخبره ښکاره سوه، دنیا ولیده اوپه هغو مجنون ویونکو کی په زرگونو مسلمانان سول اوددوی تابعداری اومحبت یې سرمایه دسعادت وګڼله اوډیر بدبخته کومو ته چې توفیق ونه سو هغه په دنیاکی هم ذلیل اوخوار سول .

فَلَا تُطِعِ الْمُكَذِّبِينَ (٨) وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ : یعنی ته د درواغ کوونکو خبره مه منه ، دوی خو دا غواړی چې ته دتبلیغ په احکامو کې څه نرم سی او دشرك اوبت پرستی څخه د دوی منع کول پریږدی ، نو دوی به هم نرم سی چې تاته بدی ردی ویل اوتاته ازار رسول به پریږدی (قاله ابن عباس ﷺ قرطبی)
مسئله : ددی آیت څخه معلومه سوه چې دکفارو اوفاجرانو سره دا سودا کول چې مونږ به تاسی ته څه نه وایو ، تاسی مونږ ته څه مه وایاست ، دا مداهنت فی الدین اوحرام دی (مظهری) یعنی بغیر دڅه اضطرار اومجبوری څخه داسی وعده جائز نه ده .

وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِينٍ * هَمَّازٍ مَّشَّاءٍ بِنَمِيمٍ * مَنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ * عُتُلٍّ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ (ته خبره مه منه دهر داسی سړی چې ډیر قسمونه اخستونکی وی، ذلیل وی اوپه خلکو عیب لگوونکی وی، چغلی کوونکی وی، دنیکو کارونو څخه دخلکو منع کوونکی وی په ظلم او زیاتی کی دحد څخه زیاتیدونکی وی، ډیرگناه کوونکی اوډیر قسمونه اخستونکی بدخویه بخیل وی اوددی ټولو رذیلو صفتونو سره هغه زنیم هم وی، دزنیم معنی هغه سړی دی دچاچې نسبت دیو پلار څخه ثابت نه وی، دکوم سړی چې دا اوصاف بیان سوی دی هغه داسی غیر ثابت النسب وو.
په اولنی آیت کی دعامو کفارو دخبری نه منلو او ددین په معامله کی د دوی په وجه دڅه مداهنت نه کولوعام حکم وو، په دی آیتونوکی یی دیوخاص شریر کافر ولید بن مغیره رذیله صفتونه بیان کړی دی، دده څخه داعراض کولو اودده دخبری دنه منلو خصوصی حکم ورکول سوی دی (لکه چې روایت یی کړی دی ، ابن جریر دحضرت ابن عباس ﷺ څخه ، مخ ته بیاپه څو آیتونوکی ددغه سړی دبد اخلاقی اوسر کښی دذکر فرمایلو څخه وروسته فرمايي، سَنَسِمُهُ عَلَى الْخُرْطُومِ : یعنی مونږ به دقیامت په ورځ دده پر

پزه داغ ولګوو ، په کوم سره چې به په اولین او اخرین کې دده رسوايي وسي ، دده پزه يې په غرض دتقبيح په خرطوم سره تعبير کړي ده ، کوم چې دفيل ياخنزير دشوند دپاره مخصوص دى .

إِنَّا بَلَوْنَاهُمْ كَمَا بَلَوْنَا أَصْحَابَ الْجَنَّةِ : يعني مونږ په ازمائش کې واچول دا (مکي والا) لکه څنګه چې په ازمائش کې مو غورځولي وه باغ والا ، په تيرو آيتونو کې دمکي دکفارو په نبي کريم ﷺ دطعن اوتشنيع جواب وو ، په دې آيتونو کې حق تعالى دتيرى زماني يوه قصه ذکر کړي ده اومکي والا يې خبردارکړي دي او دعذاب څخه يې بيرولي دي ، دمکي دخلګو په ازمائش کې دغورځولو څخه دامراد هم کيدى سي چې لکه څنګه چې په دې راتلونکې قصه کې باغ والا الله ﷻ په خپلو نعمتونو سره سرفرازه وفرمايل ، دوى ناشکري وکړه ، دکوم په نتيجه کې چې عذاب رالي او د دوى نعمت سلب سو ، الله ﷻ په مکي والاوو خپل دټولو څخه لوى انعام خودا وفرمايي چې نبي کريم ﷺ يې په دوى کې پيداکې ، ددې څخه علاوه د دوى په تجارتونو کې يې برکت واچوى او دوى ته يې خوشحالي جوړه کړل ، دا د دوى ازمائش دى چې دالله ﷻ ددې نعمتونو شکر ګذار سي اوپه الله ﷻ او په رسول ﷺ ايمان راوړى ، ياپه خپل کفر اوعناد ټينګ پاته کيږي په دوهم صورت کې دوى ته دباغ والاوو دقصې څخه عبرت حاصلول په کار دي چې داسي ونه سي چې په کفران نعمت سره په دوى هم داسي عذاب راسي، داتفسيرپه دې صورت کې هم صادق دى ، هر کله چې دا آيتونه په مثل داکثرو سورتونو مکي مقررسي ، ليکن ډيرو مفسرينو حضراتو دا آيتونه مدني مقرر کړي دئ او دکوم ازمائش چې دلته ذکر دى ، ددې څخه مراد هغه دقحط عذاب دى کوم چې دنبي کريم ﷺ په ښراوو سره په هغو خلګو مسلط سوى وه، په کوم کې چې هغوى دلوږې څخه مړه کيدل او دمردارو حيواناتو اوددرختو په پاڼو خوړلو مجبوره سوي وه، دا واقعه دهجرت څخه وروسته وه .

دباغ والاوو قصه: دا باغ دځينوسلفولکه حضرت ابن عباس ؓ اونورو په قول باندي په يمن کې وو او دحضرت سعيدبن جبير ؒ يو روايت دا دى چې دصنعاء کوم چې ديمن مشهور ښار اودار السطنت دى ، دهغه څخه دشپږ ميله په فاصله وو اوځينو حضراتو ددې محل وقوع حبشه ښوولي ده (ابن کثير) هغه خلق داهل کتابو څخه وه اودا واقعه دحضرت عيسىٰ ؑ دپورته کيدوڅخه څه زمانه وروسته ده (قرطبي) په ذکرسوي آيت کې يې دوى په اصحٰب الجنه يعني دباغ والاووپه نوم سره تعبير کړى دى مګر دايتونو دمضمون څخه معلوميږي چې ددوى سره صرف باغ نه بلکه دکروندې مځکي هم وې کيدى سي چې دباغ سره دکروندې مځکي هم وې، مګر دباغونو دشهرت په سبب يې ورته باغ والا وويل، ددوى واقعه دمحمدبن مروان په روايت دحضرت عبدالله ابن عباس ؓ څخه داسي منقول ده، چې دصنعاء ديمن څخه په دوه فرسخه باندي يوباغ وو کوم ته چې صروان ويل کيږي داباغ يوصالح اونيك سړي لګولى وو، دده کاردا وو چې هرکله به يې فصل پريکوى نودريبولو څخه چې به څه باقي پاته کيدل، هغه به يې فقيرانو او مسکينانوته پريښوول ، دغه خلګو به ددې څخه غله حاصلوله ، اوخپل ګزاره به يې کوله .

دغه شان چې به يې کله فصل غوبل کې اوکومې داني چې به دبوسو سره والوتې اوپاتې به سوى ، هغه

دانې به يې هم فقيرانو او مسکينانو ته پرېښولې دغه شان چې کله به يې د باغ د درختو څخه ميوه شکوله او د شکولو په وخت کې به چې کومه ميوه لاندې پرېوتله هغه به يې هم فقيرانو ته پرېښووله (دا وجه وه چې هر کله به د هغه د فصل يا ميوې شکولو وخت راتلې نو ډېر فقيران او مسکينان به جمع کېدل) د دې نيک سړي انتقال وسو ، د ده دري ځامن د باغ او مځکې وارثان سول ، دوی په خپل مينځ کې دا خبره وکړه چې اوس زمونږ عيال زيات سوی دی او پيداوار د دوی د ضرورت څخه کم دی په دې وجه اوس د دې فقيرانو د پاره دومره غله او ميوه پرېښوول زمونږ دوس خبره نه ده ، او په ځينو روايتونو کې دي چې دې هلکانو د ازادو ځوانانو په شان دا وويل چې زمونږ پلار خو بې عقل وو چې دومره په ډېر مقدار غله او ميوه به يې خلګو ته پرېښووله، مونږ ته دا طريقه بندول په کار دي ، مخ ته د دوی قصه په خپله د قرآن کريم په الفاظو کې داسې ده .

إِذْ أَقْسَمُوا لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِينَ * وَلَا يَسْتَثْنُونَ : يعنې دوی په خپل مينځ کې قسم وکې او دا وعده يې وکړه چې د اوار به مونږ سهار وختي ځو او فصل به پرې کوو چې مسکينان او فقيران خبر نه سي او هغوی راپسې رانه سي او په خپله دې منصوبه باندې د هغه دومره يقين وو چې د انشاء الله ويلو توفيق يې هم ونه سو لکه چې سنت دی چې صبا کوم کار کول وي ، هر کله چې د هغه ذکر کوی نو داسې به وايي چې مونږ به انشاء الله صبا دا کار کوو .

د ، لَا يَسْتَثْنُونَ : معنې استثناء نه کول دي او مراد د دې استثناء څخه انشاء الله ويل دي ، او ځينو مفسرينو حضراتو د استثناء څخه مراد دا اخستی دی چې مونږ به پوره پوره غله او ميوه راوړو د فقيرانو حصه نه مستثناء کوو (مظهري)

فَطَافَ عَلَيْهَا طَائِفٌ مِنْ رَبِّكَ : بيا وګرځېدې په هغه باغ او فصل باندې يو ګرځېدونکی ستا د رب د طرف څخه، د ګرځېدونکی څخه مراد يو بلاء او آفت دی په کوم سره چې فصل او باغ تباه سي ، په ځينو روايتونو کې دي چې هغه يو اور وو کوم چې ټول ولاړ فصل يې وسوزی او ايره يې کی، وَهُمْ نَائِمُونَ يعنې د عذاب د نزول دا واقعه د شپې داسې وخت وسوه، کله چې دا خلګ بيده وه، فَأَصْبَحَتْ كَالصَّرِيمِ د صرم معنې ميوه او نور شکول دي، صريم په معنې د مصروم او مقطوع ده، مطلب دا دی چې اور دا فصل داسې کی لکه چې د فصل پرېکولو څخه وروسته صفا مځکه پاته سي او د صريم معنې د شپې هم راځي ، د دې معنې په لحاظ سره مطلب به دا وي چې لکه د توری شپې په شان دغه فصل هم تور سو (مظهري)

فَتَنَادَوْا مُصْبِحِينَ : يعنې سهار په تياره کې يې يو بل ته اوازونه وکړل او وېښول يې شروع کړل چې که فصل پرېکوی نو وختي ولاړسي ، وَهُمْ يَتَخَافَتُونَ يعنې د کوره د وتلو په وخت کې يې پټې پټې خبرې کولې چې څوک فقير او مسکين خبر نه سي او را سره نه سي .

وَغَدَوْا عَلَى حَرْدٍ قَادِرِينَ : د حرد معنې منع کول او غيظ او غضب ښوول دي مطلب دا دی چې دې خلګو په خپل خيال کې دا وګڼل ولاړل چې زمونږ په دې قدرت سته چې مونږ چا فقير او مسکين ته څه ورنه کو ،

که خوك راهم سي نوهغه به دفع کوو.
فَلَمَّا رَأَوْهَا قَالُوا إِنَّا لَضَالُّونَ: مگر هرکله چې يې هلته فصل باغ هيڅ پيدا نه کړل نو اول خو يې دا وويل چې مونږ ځاى هيرکى، يو بل طرف ته راغلو، دلته خونه باغ سته نه فصل، مگربياچې يې دخواوشا مقاماتو ته وکتل نو معلومه سوه چې ځاى خو دا دى او فصل سوى دى ختم سوى دى نو وي ويل، بَلْ نَحْنُ مَحْرُومُونَ: يعنى مونږ ددى نعمت څخه محرومه سو.
قَالَ أَوْسَطُهُمْ أَلَمْ أَقُلْ لَكُمْ لَوْلَا تُسَبِّحُونَ: په دوى کى چې کوم درميانه سړى وو، يعنى دپلار په شان نيك صالح، دالله ﷻ په لاره کى په خرڅ کولو خوشحاله کيدونکى وو، دنورو وروڼو په شان بخيل اوسخت زړه والانه وو ده وويل چې آياماتاسى ته اول نه وه ويلى چې تاسى دالله ﷻ دنوم تسبيح ولى نه کوى، دتسبيح لفظى معنى پاکى بيانول دى، مطلب دا دى چې دفقيرانو مسکينانو څخه دخپل مال ساتلو دتدبير منشاء دا ده چې تاسى دا گڼى چې الله ﷻ به تاسى ته ددى په ځاى نور درنه کى، حال دا دى چې الله ﷻ ددى څخه پاك دى، هغه خرڅ کوونکو ته دخپل طرف څخه نور زيات ورکوى (مظهرى)
قَالُوا سُبْحَانَ رَبِّنَا إِنَّا كُنَّا ظَالِمِينَ: ددى وروروخبره خو هغه وخت چانه اوريدله، مگر اوس ټولو اقرار وکى، چې الله ﷻ پاك دى دهر نقص اوکمى څخه اومونږظالمان سوچې مونږ دفقيرانو حصه هم خوړل غوښتل.
تنبيه: هغه درميانه سړى چاچې صحيح خبره کړى وه که څه هم دنوروڅخه ښه وو بيا دنورو سره سوى وو او د دوى په غلطه رايى دعمل کولو دپاره تيارسوى وو، په دى وجه دده حشر هم دهغوى په شان سو ددى څخه معلومه سوه چې کوم سړى ديو گناه څخه خلك منع کوى، مگرهغوى منع نه سى، بياپه خپله هم دهغوى سره سى اوپه گناه کې شريك سى نو دى هم دهغوى په حکم سى، ده ته په کار دى چې که هغوى منع نه سى نو چې په خپله خو ځان دهغه گناه څخه وساتى.
فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ يَتَلَاوَمُونَ: يعنى دى خلکو دخپل جرم خو اقرار وکى، ليکن اوس يې الزام په يوبل باندى غورځول شروع کړل چې تا اول داسى غلطه رايه راکړى وه چې دهغه په نتيجه کى داعذاب راغى حال دا دى چې دا جرم په دوى کى دچا يوازى نه وو، بلکه ټول يا اکثر په کى شريك وه.
تنبيه: نن صباپه دى معامله کى عامه ابتلاده چې د ډيرو جماعتونو په مجموعى عمل سره څه ناکامى يامصيبت پيښ سى نو دغه وخت يو بل عذاب په دوى دا وى چې ددى په يوبل دالزام په لگولوکى وخت ضائع کوى.
قَالُوا يَا وَيْلَنَا إِنَّا كُنَّا طَاغِينَ: يعنى په اول کى په يوبل دالزام غورځولو څخه وروسته چې يې هرکله فکروکى نوبيا ټولو اقراروکى چې مونږ ټول سرکښه گناهکار يو، دندامت سره دا اعتراف د دوى دتوبى قائم مقام وو، په دى بنا دوى ته دالله ﷻ څخه دا اميد پيدا سو چې الله ﷻ به مونږ ته ددى باغ څخه ښه باغ راکړى.
امام بغوى رحمه الله دحضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه څخه نقل کړى دى چې ابن مسعود رضی الله عنه فرمايى چې ماته دا خبر رسيدلى دى چې هرکله دى خلکو په رښتينى زړه سره توبه وکړه نو الله ﷻ دوى لره ددى څخه ښه

باغ ورکې چې دانګورو غنچې يې دومره غټې وې چې يوه غنچه به يوې قچرې په بار وړه (مظهری)

كَذٰلِكَ الْعَذَابُ: دمکي دخلګو دقحط دعذاب اجمالي اودباغ والاوو دفصل سوزيدو دتفصيلي واقعې ذکر کولو څخه وروسته عامه قاعده ارشاد فرمايي چې کله دالله ﷻ عذاب راځي نو دغه شان راځي، او په دنياکې دعذاب راتلو سره هم ددوى داخرت دعذاب کفاره نه کيږي، بلکه دآخرت عذاب ددې څخه علاوه او ددې څخه به زيات سخت وي.

په راتلونکو آيتونوکې اول دنيکانو متقيانو بندګانو دجزاء ذکر دی او ددې څخه وروسته دمکې دمشرکانو ديوې بلې باطلې دعوی رد دی، هغه دا چې دمکې کفارو به ويل چې اول خوقيامت راتلونکی نه دی اود دوباره ژوند اوحساب کتاب قصه محض افسانه ده اوکه بالفرض داسې وسي هم نو مونږ ته به هلته هم داسې نعمتونه اومال دولت راکول کيږي لکه چې په دنياکې راکول سوي دي، ددې جواب په څو ايتونوکې ورکول سوی دی چې ايا الله ﷻ نيك بندګان اومجرمان برابر وي؟ دا څه عجيبه او نا اشنا فيصله ده په کومه چې نه څه سند نه دليل، نه په څه آسماني کتاب سره ددې ثبوت سته نه دالله ﷻ دطرف څخه څه وعده او وعيد چې هلته به هم تاسې ته نعمت درکوي.

دقيامت يوعقلي دليل: ددې ذکر سوو آيتونو څخه ثابته سوه چې قيامت راتلل اوحساب کتاب په کې کيدل او دنيکيو بديو جزاء اوسزا داتول عقلاً ضروري دي، ځکه چې داخوپه دنياکې هرسړی وينی اوڅوك انکارنه سي ورڅخه کولی چې په دنياکې کوم عموماً فاسقان اوفاجران، بدکار اوظالمان، غله اوډاکوګان، په نفع کې وي اومزې کوي، يوغل ډاکوپه يوه شپه کې ځينې وخت دومره ګټې چې شريف سړی يې په ټول عمرکې هم نه سي ګټلی بياهغه نه دخدای بيره او اخرت پيژني اونه دڅه شرم اوحياء پابند دي، دخپل نفس خواهشات چې څنګه غواړي پوره کوی اونيك شريف سړی اول خودخدای څخه بيريږي که دا هم نه وي نو دخلګو دشرم اوحياء څخه مغلوب سی لنډه دا چې ددنياپه کارخانه کې خو بدکار بد معاش کامياب اونيك شريف سړی ناکامه په نظر راځي اوس که مخ ته هم څه داسې وخت رانه سي په کوم کې چې دحق اوناحق صحيح انصاف وي، نيك ته ښه بدله ورکول سي اوبد ته سزا ورکول وسي نو بيا خو اول څه بدی ته بدی اوګناه ته ګناه ويل لغو اوبې معنی کيږي چې دا يو انسان بې وجهې دده دخواهشاتو څخه منع کوي، دوهم بيا دعدل او انصاف څه معنی باقي نه پاته کيږي کوم خلګ چې دخدای دوجود قائل دي، هغوی به ددې څه جواب ورکې چې دخدای ﷻ انصاف چيرې ولاړی.

پاته سوه دا شبهه چې په دنياکې ډير واره مجرم نيول کيږي، دهغه رسوايي کيږي اوسزا پيداکې، دشريف سړی امتيازپه دې سره دلته واضح کيږي اوعدل اوانصاف دحکمتونو په قوانينوسره قائميدی سي، داځکه غلطه ده چې اول خوهر ځای اوپه هرحال کې دحکومت نګرانی کيدی نه سي، کوم ځای چې وسې هلته عدالتی ثبوت هرځای پيدا کيدل اسان نه دي، دکوم په ذريعه چې مجرم سزاپيدا کې اوکوم ځای چې ثبوت پيدا هم سی نو دزور او زرو اورشوت اوسفارش اودباو چې څومره چور دروازې دي، په کومو سره چې مجرم ازاديدی اوتلی تښتيدی سي، او ددې زمانی دحکومتې اوعدالتی جرم اوسزا

جائزه (معاینه، سر وی) چې واخستل سي نو دا وخت خو سزا صرف هغه بې وقوف، بې عقل او بې څوکه سړي پیدا کې کوم چې په هوښیارۍ سره یو دچور دروازه را ونه باسي او دچاسره چې نه درشوت دپاره پیسې وي، نه څه لوی سړي دده مدد ګار وي یا بیا دی په خپله بې وقوفي سره داشیان استعمال نه کي، باقي ټول مجرمان ازاد ګرځي.

دقرآن کریم دی الفاظو، اَفَنَجۡعَلُ الۡمُسۡلِمِیۡنَ کَالۡمُجۡرِمِیۡنَ: دا حقیقت واضح کی چې عقلاً دا کیدل ضروري دي چې یو داسي وخت راسي کوم ځای چې دټولو حساب وسي اوکوم ځای چې دمجرمانو دپاره څه دچور دروازه نه وي اوکوم ځای چې انصاف اوانصاف وي اودنیکو او بدو په ډاګه امتیاز وسي اوکه دانه وي، نو په دنیا کې یو بدکار بدنه دی اویو مجرم مجرم نه دی او بیا دخدای ﷻ دعدل اوانصاف هیڅ معنی نه پاته کیږي.

اوهرکله چې قیامت راتلل او دعملونو جزا اوسزا یقیني سول نو مخ ته دقیامت څه احوال اودمجرمانو دسزا ذکر سوی دی، په کومو کې چې دقیامت په ورځ دکشفِ ساق اعجاز بیان سوی دی چې حقیقت یې په لنډتفسیرکې تیر سوی دی.

فَذَرۡنِیۡ وَمَنۡ یُّکَذِّبُ بِهٰذَا الۡحَدِیۡثِ: یعني ته ددی قیامت دخبری دروغ کوونکي اوما پریږده، بیابه وګورو چې مونږ څه کوو، دلته پریښوول دیوی محاوری په طور فرمایل سوی دی، مراد ددی څخه په الله ﷻ تکیه اوتوکل کول دی اوحاصل ددی کلام دا دی چې دکفارو دطرف څخه دا مطالبه هم باربار پیش کیده چې که مونږ واقعي دالله ﷻ په نزد مجرمان یو اوالله ﷻ مونږ ته په عذاب راکولو قادر دی نوبیا مونږ ته عذاب اوس ولې نه راکوی، د دوی دداسي دل ازاره مطالبوپه وجه به کله کله په خپله دنبي کریم ﷺ په زړه مبارك کې هم داخیال پیدا کیدی اوممکنه ده چې څه وخت یې دعاهم کړی وي چې په دی خلګو دا وخت عذاب راسي نو دباقیمانده خلګو داصلاح توقع ده، په دی یې دا وفرمایل چې مونږخپل حکمت ښه پیژنو، تر یو حده پوری دوی ته مهلت ورکوو، فوراً عذاب نه په رالیږو، په دی کی د دوی ازمائش هم کیږي او دایمان راوړلو مهلت هم، په اخرکې یې دحضرت یونس ؑ واقعه ذکر وفرمایله اونبي کریم ﷺ ته یې دانصیحت وفرمایي چې لکه څنګه چې حضرت یونس ؑ دخلګو دمطالبي څخه تنګ راغی نو دعذاب دعایي وکړه او دعذاب اثارمخ ته هم راغلل اوحضرت یونس ؑ دعذاب دځای څخه بل ځای ته منتقل هم سو، مګر بیا دټول قوم په فریاد اوزاری اواخلاص سره په توبه کولو الله ﷻ دوی معاف کړل اوعذاب یې پورته کی نواوس حضرت یونس ؑ داشرمندګی محسوسه کړه چې زه به هغو خلګو ته دروغجن سم، ددی بدنامي دبیری څخه دالله ﷻ دواضح اذن څخه بغیر یې په خپل اجتهاد سره دالار اختیار کړه چې اوس دغو خلګو ته واپس ولاړ نه سي، په دی الله ﷻ ده ؑ ته دخبرداررولو دپاره د دریاب دسفر بیا دماهي دتیرولو معامله وفرمایله اوبیا حضرت یونس ؑ خبردار سو او داستغفار او معافي طرف ته په متوجه کیدو دوباره پرده یې دخپلو سابقه انعاماتو دروازی خلاصي کړی، دا واقعه په سورة یونس او نورو سورتونوکی تیره سوي ده، نبي کریم ﷺ ته یې دا واقعه وریاده کړه او ددی

نصیحت یې وفرمایې چې ته ددې خلکو په داسې مطالبو مه مغلوب کیږه اوپه دوی دژرعذاب نازلیدو خواهشمند کیږه مه، خپل حکمتونه او دعالم مصلحتونه مونږ ښه پیژنو په مونږ توکل کوه.

وَلَا تَكُنْ كَصَاحِبِ الْحُوتِ : دلته یې حضرت یونس علیه السلام ته صاحب حوت په دې مناسبت سره وویل چې دی علیه السلام څه زمانه دماهي په نس کې وو.

وَإِنْ يَكَادُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَارِهِمْ لَيُزْلِقُونَكَ : دَ ازلَاق څخه مشتق دی، چې معنی یې ده ښویول او غورځول (راغب) مطلب دا دی چې دمکې کفارتاته په غضبناکو او ژورو سترګو سره ګوري اوغواړي چې تاته دخپل ځای اومقام څخه خطا درکړي، هرکله چې هغوی ستاکلام اوري اووایې چې دی خومجنون دی، وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِلْعَالَمِينَ حال دا دی چې دا کلام خو دټول جهان والاوو دپاره ذکر اونصیحت او د دوی دصلاح اوفلاح ضامن دی داسې کلام والا ته کله مجنون ویل کیږي، دکفارو دکومې طعنې چې ددې سورة په ابتداء کې جواب ورکول سوی وو، دسورة په ختمیدو یې دهغه په بل انداز سره جواب ورکې.

اوامام بغوی رحمه الله (اوعلامهٔ آلوسی رحمه الله) اونورو مفسرینو ددې آیتونو یوه خاص واقعه نقل کړې ده چې دانسان بد نظر لګیدل او په دې سره انسان ته نقصان او بیماري بلکه هلاکت ته رسیدل لکه چې حقیقت دی او په صحیح احادیثوکې ددې حقوالي ثابت دی، او په عربو کې هم معروف او مشهور وو او په مکه کې یو سړی بدنظر لګوونکی مشهور وو، اوښان یاحیوانان چې به یې دنظره کړل نوهغه به فوراً مړه کیدل، دمکې دکفارو خو دنبي کریم ﷺ سره دښمني وه او هرقسم کوشش یې د دوی دقتلولو اودازار رسولو کوی د دوی دې ته خیال سو چې په دغه سړي دی ﷺ دنظره کې اوهغه یې راوغوښتی، هغه دنظره کولو خپل پوره کوشش وکی، مګرالله ﷻ د دوی ﷺ حفاظت وفرمایې، دا آیتونه په دې سلسله کې نازل سول او په لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَارِهِمْ، کې یې دا دنظره کولو واقعه بیان کړي ده.

فائده : دحضرت حسن بصري رحمه الله څخه منقول دی چې کوم سړي ته دیوانسان څخه بدنظرلګیدلی وي په هغه داآیتونه ویل اودمول دبدنظراثرزائله کوي د،وَإِنْ يَكَادُ الَّذِينَ كَفَرُوا:څخه دسورة ترآخره پوري (مظهري)

تمّت سورة القلم بحمدالله تعالى يوم الاحد لست مضين من رجب سنة ۱۳۹۱هـ

(سورة الحاقة)

سُوْرَةُ الْحَاقَّةِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ اثْنَتَانِ وَخَمْسُونَ آيَةً وَفِيهَا رُكُوعَانِ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

سورة حاقه په مکه کې نازل سو په دې کې دوو پنځوس (۵۲) آیتونه دوې رکوع ګاني دي.

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چې دیر مهربانه نهایت رحم والا دی.

الْحَاقَّةُ ﴿١﴾ مَا الْحَاقَّةُ ﴿٢﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحَاقَّةُ ﴿٣﴾ كَذَّبَتْ ثَمُودُ

هغه ثابتیدونکې، څه دی هغه ثابتیدونکې او تاڅه فکر وکی څه دی هغه ثابتیدونکې، دروا غجن کړل ثمودیانو

وَعَادٌ بِالْقَارِعَةِ ۴ فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهْلِكُوا بِالطَّاغِيَةِ ۵ وَأَمَّا عَادٌ

اوعادیانو ټکوونکی ، نو هغه کوم چی ثمودیان وه پس هلاك سول په چغه سره ، او هرڅه چی عادیان وه

فَأُهْلِكُوا بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ ۶ سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ

نو هلاك سول په تیزه تنده هوا سره ، مقرر یی کړه هغه په هغوی باندی اووه شپی

وَثَمَانِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومًا فَتَرَى الْقَوْمَ فِيهَا صَرْعَىٰ كَأَنَّهُمْ

او اته ورځی پرله پسی پس تاولیدل چی دغه قوم په هغه کی ارتا سوی ،گویا چی هغه تنی

أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ۷ فَهَلْ تَرَىٰ لَهُمْ مِنْ بَاقِيَةٍ ۸ وَجَاءَ

دخرما ددوړی ، نو وینی په هغوی کی باقی پاته سوی ، او راغی

فِرْعَوْنُ وَمَنْ قَبْلَهُ وَالْمُؤْتَفِكَاتُ بِالْخَاطِئَةِ ۹ فَعَصَوْا رَسُولَ

فرعون اوکوم چی دده څخه مخکې وو او پا ستر سوی کلی په گناهونو سره ، بیا یی نافرمانی وکړه درسول

رَبِّهِمْ فَأَخَذَهُمْ أَخْذَةً رَابِيَةً ۱۰ إِنَّا لَمَّا طَغَا الْمَاءُ حَمَلْنَاكُمْ

درب خپل بیا ونیول هغه په نیولو سختو سره ، مونږ هرکله چی جوش وکی اوبو سپاره کړاست

فِي الْجَارِيَةِ ۱۱ لِنَجْعَلَهَا لَكُمْ تَذْكِرَةً وَتَعِيَهَا أُذُنٌ وَاعِيَةٌ ۱۲

تاسی په کښتی روانه کی ، اوچی کړو دا ستاسی دپاره یادگار او یاده کړی دا یادونکی غوږونه ،

فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ نَفْخَةٌ وَاحِدَةٌ ۱۳ وَحُمِلَتِ الْأَرْضُ

بیا چی کله پوکل وسی په شپیلی کی پوکل یو وار ، اوپورته کړل سی مځکه

وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَاحِدَةً ۱۴ فَيَوْمَئِذٍ وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ۱۵

اوغرونه نو مات به کړل سی په یو وار ، نو په دغه ورځ به واقع سی واقع کیدونکی ،

وَانْشَقَّتِ السَّمَاءُ فَهِيَ يَوْمَئِذٍ وَاهِيَةٌ ۱۶ وَالْمَلَكُ عَلَىٰ أَرْجَائِهَا

اوشیری به سی آسمان نو هغه به په دغه ورځ نسوریږي ، او ملائکی به وی ددې په کنارو

وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمٰنِيَةٌ ﴿۱۷﴾ يَوْمَئِذٍ

اوپورته به کړي عرش درب ستا په ځان دلوړه په دغه ورځ اته کسان ، په دغه ورځ

تُعْرَضُوْنَ لَا تَخْفٰى مِنْكُمْ خَافِيَةٌ ﴿۱۸﴾ فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ

به مخامخ کړل سی چی پټ به نه وی ستاسی څه پټه خبره ، نو چا ته چی ورکول سوه دده عملنامه

بِيَمِيْنِهٖ فَيَقُوْلُ هَآؤُمُ اقْرَءُوْا كِتٰبِيَهْ ﴿۱۹﴾ اِنِّيْ ظَنَنْتُ اَنِّيْ

په راسته لاس ، هغه به وایي واخلی وایاست زما لیکلی ، زما خیال وو ددې خبری چی ماته به

مُلٰقٍ حِسَابِيَهْ ﴿۲۰﴾ فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿۲۱﴾ فِيْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿۲۲﴾

رسیږي زما حساب ، پس هغوی به وی دخوښی په ګزران کی ، په اولوړ باغ کی ،

قُطُوْفُهَا دَانِيَةٌ ﴿۲۳﴾ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِيْٓئًا بِمَآ اَسْلَفْتُمْ فِي الْاَيَّامِ

چی میوی به یی را کښته وی ، خوری او چښی په خوند سره بدله دهغه چی تاسی مخکې لیږلی دی په

الْخَالِيَةِ ﴿۲۴﴾ وَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِشِمَالِهٖ ۙ فَيَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ

مخکې ورځو کی ، او چا ته چی ورکول سوه دده عملنامه په چپه لاس کی ، پس وایی به چی څه به ښه وای

لَمْ اُوْتَ كِتٰبِيَهْ ﴿۲۵﴾ وَلَمْ اَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ ﴿۲۶﴾ يٰلَيْتَهَا كَانَتِ

چی ماته نه وای راکول سوی زما عملنامه ، او ما ته خبر نه وی چی څه دی زما حساب ، چی په څه شان دغه مرګ

الْقَاضِيَةَ ﴿۲۷﴾ مَآ اَغْنٰى عَنِّيْ مَالِيَهْ ﴿۲۸﴾ هَلَكَ عَنِّيْ سُلْطٰنِيَهْ ﴿۲۹﴾

ختم کړی وای ، هیڅ په کار رانه غی ما ته زما مال ، برباد سو زما څخه حکومت زما ،

خُذُوْهُ فَغُلُّوْهُ ﴿۳۰﴾ ثُمَّ الْجَحِيْمَ صَلُّوْهُ ﴿۳۱﴾ ثُمَّ فِيْ سِلْسِلَةٍ

دی ونیسی بیا ورته طوق واچوی ، بیا د اور په ډیران کی واچوی ، بیا په یو ځنځیر کی چی

ذَرْعُهَا سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوْهُ ﴿۳۲﴾ اِنَّهٗ كَانَ لَا يُؤْمِنُ

اوږدوالی یی اویا (۷۰) ګزه دی دی وتړی ، دغه وو چی یقین یی نه کوی

بِاللّٰهِ الْعَظِيْمِ ﴿٣٣﴾ وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ﴿٣٤﴾ فَلَيْسَ

په الله چی دټولو څخه لوی دی ، او تاکید یی نه کوی په طعام ورکولو مسکین ته ، نو نشته

لَهُ الْيَوْمَ هٰهُنَا حَمِيْمٌ ﴿٣٥﴾ وَّلَا طَعَامٌ اِلَّا مِنْ غِسْلِيْنٍ ﴿٣٦﴾

نن دده دلته دوستدار ، او نه څه خوراك مگر د زخمونو نوونه

لَّا يَأْكُلُهٗٓ اِلَّا الْخَاطِـُٔوْنَ ﴿٣٧﴾ فَلَآ اُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُوْنَ ﴿٣٨﴾ وَمَا

نه به خوری دغه مگر دغه گناهگاران ، پس قسم خورم په هغه شیانو چی وینی ، او کوم

لَا تُبْصِرُوْنَ ﴿٣٩﴾ اِنَّهٗ لَقَوْلُ رَسُوْلٍ كَرِيْمٍ ﴿٤٠﴾ وَّمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ

چی تاسی نه وینی ، دا خبره ده دیو پیغام راوړونکی سردار ، او نه ده دا خبره دچا شاعر

قَلِيْلًا مَّا تُؤْمِنُوْنَ ﴿٤١﴾ وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٤٢﴾

تاسی ډیر لږ یقین کوونکی یاست ، او نه ده وینا دکاهن ، تاسی ډیرکم فکر کوی ،

تَنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٣﴾ وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ

دا نازل سوی دی درب دمخلوقاتو څخه ، او که دی جوړه کړی په موږ باندی څه

الْاَقَاوِيْلِ ﴿٤٤﴾ لَاَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِيْنِ ﴿٤٥﴾ ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِيْنَ ﴿٤٦﴾

خبره ، نو موږ به ونیسو دده راسته لاس ، بیا به پریکړو دده غاړه ،

فَمَا مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ عَنْهُ حٰجِزِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَاِنَّهٗ لَتَذْكِرَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٨﴾

نو نشته په تاسی کی څوك ددې څخه ساتونکی ، او دا نصیحت دی دبیریدونکو دپاره

وَاِنَّا لَنَعْلَمُ اَنَّ مِنْكُمْ مُّكَذِّبِيْنَ ﴿٤٩﴾ وَاِنَّهٗ لَحَسْرَةٌ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٥٠﴾

او موږته معلوم دی چی په تاسی کی ځینی درواغجن کوونکی دی ، او دغه افسوس دی په کافرانو باندی

وَاِنَّهٗ لَحَقُّ الْيَقِيْنِ ﴿٥١﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿٥٢﴾

او دا چی دی دیقین کولو قابل دی ، نو وایه پاکی دخپل رب دنوم چی دټولو څخه لوی دی .

لنډتفسیر: هغه کیدونکې شی ، څه شی دی هغه کیدونکی شی؟ اوتاته څه خبر دی چی څه دی هغه کیدونکی شی؟ (مقصود ددی څخه دقیامت عظمت اودهولناك کیدوبیان دی ، دا استفهامان دتهویل دپاره دی) ثمودیانو اوعادیانو هغه کرپیدونکی شی (یعنی قیامت یې) دورغ کې، نو ثمودیان خو په زوردار اواز سره هلاك سول اوعادیان چی وه نو هغوی په یوه تیزه تنده هوا سره هلاك سول کومه چی الله ﷻ په دوی اووه شپې او اته ورځی متواتر مسلط کړی وه نو (ای مخاطبه که) ته (هغه وخت هلته موجود وای نو) دغه قوم به دی داسی پریوتلی لیدلای چی گویا هغوی دلویدلو خرماو تنی (پرتی) دی (څکه چی هغوی ډیر دراز قدوه) نو آیاتاته په دوی کی څوك ساتل سوی په نظر راځی؟ (یعنی هیڅوك ورڅخه نه دی بچ سوی ، لکه چی دا قول دالله ﷻ دی ، هَلْ تُحِسُّ مِنْهُمْ مِنْ اَحَدٍ اَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا) او (دغه شان) فرعون او دده څخه مخ ته خلگو (په کوموکی چی قوم دنوح ﷺ عاد اوثمود ټول راغلل) او (قوم دلوط ﷺ) یوځای سوو کلو لوی لوی گناهونه وکړل (یعنی کفر اوشرك او په دی دوی ته رسولان ولیږل سول) نو هغوی دخپل رب درسولانو (کوم چی دوی ته لیږل سوی وه) خبره ونه منله (اودکفر اوشرك څخه واپس نه سول په کوم کی چی دقیامت تکذیب هم دا خل دی) اوالله ﷻ هغوی ډیرسخت ونیول (په کوموکی چی دعاد اوثمودقصه خواوس تیره سوه اودقوم دلوط ﷺ اوقوم دفرعون عذابونه په ډیرو آیتونوکی مخ ته تیر سوی دی اودقوم دنوح ﷺ عذاب په ضمن دامتنان کی مذکور دی یعنی) مونږ هرکله چی (دنوح ﷺ په وخت کی) اوبو جوش وکی تاسی (یعنی ستاسی مشران کوم چی مومنان وه اودهغوی نجات ستاسی دوجه سبب سو) په کښتی کی سپاره کړل (اوباقی موغرق کړل) چی مونږ دا معامله ستاسی دپاره یویادگار (اوعبرت) جوړکی اودیادساتلو والا غوږونه دا یاده کی (غوږونوته یی یادساتلو والا مجازاً وویل ، مطلب دا دی چی دا یاده کی ، دسزا داسبابو څخه ځان وساتی ، دا قصې خو دقیامت د درواغ کوونکو سوی ، مخ ته دقیامت دهیبت دبیری بیان دی یعنی) بیاچی کله په شپیلی کی یو وار پوکی وسی (مراد اوله شپیلی ده) او (دغه وخت) مځکه اوغرونه (دخپل ځای څخه پورته سی (یعنی دخپلو ځایونو څخه په ځنگ سی) بیا دواړه په یو وار خس خس سی نو په دغه ورځ به هغه کیدونکی شی وسی او آسمان به څیری سی اودا (آسمان) به په دغه ورځ بالکل خپریدونکی وی (چنانچی څیریدل دلیل دضعف دی ، یعنی څنگه چی دا وخت دا مضبوط دی اوپه دی کی هیڅ ځای نقصان اوتاوان نسته ، په دغه ورځ به په ده کی دا خبره پاته نه سی بلکه ضعف اوڅیری والی به په کی راسی) اوملائکی (کوم چی په آسمان کی خپری دی ، څه وخت چی دغه څیریدل شروع سی) ددی غاړوته به راسی (ددی څخه ظاهراً معلومیږی چی آسمان به دمینځ څخه څیری سی ، څلور طرف ته به غونډیدل شروع سی ، په دی وجه به ملائکی هم دمینځ څخه غاړوته راځی بیا دآیت ، صَعِقَ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِی الْاَرْضِ الخ په مطابق به په دی ملائکو هم مرگ مسلط سی (کَذَافِی الْکَبِیْرِ اَحَدُ الْوَجْهَیْنِ)

اودا (ټول واقعات خو داولی شپیلی دوخت دی) او (مخ ته د دوهمی شپیلی دوخت واقعات دی چی) ستا دپروردگار عرش به په دغه ورځ اتو ۸ ملائکو پورته کړی وی (په حدیث کی دی چی اوس عرش څلور ۴

ملائکو پورته کړی دی ، په قیامت کی به یی اته ملائکی پورته کوی (لکه په در منثورکی داسی دی مرفوعًا (غرض دا چی اته ملائکی به عرش پورته کی ، میدان دقیامت ته به یی راوړی اوحساب به شروع سی چی مخ ته یی بیان دی یعنی) په کومه ورځ چی تاسی (خدای ته مخامخ دحساب دپاره) پیش سی (او) ستاسی څه خبره به (دالله ﷻ څخه) پټه نه وی بیا (عملنامی به والوزول سی په لاس کی به ورکول سی نو) دکوم سړی عملنامه چی دهغه په راسته لاس کی ورکول سی هغه خو به (دخوشحالی څخه خپل خواوشا خلګوته) وایی چی زماعملنامه ووایاست زما (خو دمخکی څخه) اعتقاد وو چی ماته به زماحساب راپیښیږی (یعنی زماپه قیامت اوحساب باندی عقیده وه ، مطلب دا چی ماایمان اوتصدیق درلودی په الله ﷻ ، نوالله ﷻ ددی په برکت سره زماپالنه وکړه) غرض هغه سړی به په خوښ یعنی لوړجنت کی وی دکوم میوی چی به (دومره قدر) کښته وی (چی په هرحالت یی غواړی اخستی به یی سی اوحکم به وسی) چی خوری اوڅښی په مزه سره دهغو علمونوپه بدله کی کوم چی تاسی په امید دصلی په تیرو ورځو (یعنی په زمانه دقیام ددنیا) کی کړی دی اودکوم عملنامه چی دهغه په چپه لاس کی ورکول سی نو هغه به (په نهایت افسوس سره) وایی چی ښکه به ښه وای چی ماته زماعملنامه نه وای راکول سوی اوماته دا خبر هم نه وای چی زماحساب څه دی ښکه به ښه وای چی (اولنی) مرګ می خاتمه کړی وای (اودوباره ژوندی سوی نه وای په کوم چی داحساب کتاب مرتب سو افسوس (زما مال زما هیڅ په کار رانغی زما اقتدار (هم) زما څخه ولاړی (یعنی مال اومرتبه ټول بی فائدی سول ، دداسی سړی دپاره به ملائکوته حکم وسی چی) دا سړی ونیسی او ده ته په مری کی طوق ورواچوی ، بیاپه دوږخ کی دی دا خل کړی ، بیا په یو زنځیرکی چی پیمانش یی اویاګزه دی دی وتړی (ددی ګز مقدار خدای ﷻ ته معلوم دی ، ځکه چی دا به دهغه ځای ګزوی مخ ته دهغه عذاب وجه ښیی چی) دی سړی په لوی خدای ایمان نه درلودی (یعنی لکه ښکه چی دانبیاؤ علیهم السلام دتعلیم مطابق ایمان راوړل ضروری وو هغه ایمان یی نه درلودی) او (په خپله خو به یی څه ورکول چی نوروته یی هم) غریب سړی ته دخوراك ورکولو ترغیب نه ورکوی (مطلب دا دی چی دخدای ﷻ عظمت اودمخلوق شفقت کوم چی اصل عبادتونه په حقله دحقوق الله او حقوق العباد دی ، ددی دواړو تارك اومنکر وو په دی وجه مستحق دعذاب سول) نو نن ددی سړی څخه خوك دوستدار سته اونه به ده ته څه دخوراك شی نصیب سی بغیر دزخمونو دنوونو څخه (یعنی بغیر دیو داسی شی څخه کوم چی به په کراهت اوصورت کی په مثل دغسلین وی په کوم سره چی زخم مینځل سوی وی او دا حصر اضافی دی او مقصود ددی څخه نفی ده دمرغوبو خوراکونو کنه وی دزقوم خوراك خوپه خپله په آیت سره ثابت دی غرض دا چی د دوی طعام به غسلین وی) کوم چی بغیر دلویو ګناهګارو څخه به بل څوك نه خوری (مخ ته دقرآن دحقانیت ارشاد فرمایی ، په کوم کی چی په قیامت کی دجزاء اوسزا کیدو بیان دی ، ددی تکذیب موجب دتعذیب مذکور دی) بیا (نو دبیان دمضمون دمجازات څخه زه قسم اخلم په هغو شیانو هم کوم چی تاسی وینی او په هغو شیانو هم کوم چی تاسی نه وینی (ځکه چی ښینی مخلوقات بالفعل یابالقوة داصلاحیت نه لری دی قسم لره دمقصود سره یوخاص مناسبت دی چی

قرآن راوړونکي په نظر نه راتلي او په چاچي قرآن راتلي هغه په نظر راتللو مراد دا دي چي په ټول مخلوق قسم دي) چي دا قرآن (دالله) کلام دي ديوي معززي فريښتي راوړل سوي (نو په چاچي دا کلام نازل سوهغه ضرور رسول دي) اودا ديو شاعر کلام نه دي (لکه چي کفاروبه دوي ته شاعر وايه) مګر تاسي ډيرکم ايمان راوړي (دلته دقلت څخه مراد عدم دي) اودانه دچاکاهن کلام دي (لکه چي ځينو کفاروبه دوي ته ويل مګر) تاسي ډيرکم پوهيږي (دلت هم دقلت څخه مراد عدم دي، غرض دا چي نه شعردي نه کهانت دي بلکي) درب العٰلمين دطرف څخه ليږل سوي (کلام) دي او (مخ ته ددي دحقانيت ديو عقلي دليل ارشاد دي چي) که دي (پيغمبر) زمونږ په ذمه څه (دروغ) خبري لګولي (يعني کوم کلام چي زمانه وي او ده ورته زماکلام ويلي او د درواغو دعوٰی يي دنبوت کولي) نو مونږ به دده راسته لاس نيولي واي، بيا به مونږ دده دزړه رګ پريکړي واي بيابه څوك په تاسي کي دده دسزا څخه ساتونکي نه واي (دزړه درګ په پری کيدو سره سړی مري، مراد ددي څخه قتل دي) او بيشکه دا قرآن دمتقيانو دپاره نصيحت دي (يعني في نفسه حق والي ددي صفتِ کمالي ذاتي دي، اوموجب دنصيحت کيدل ددي صفت کمالي اضافيه دي) او (مخ ته دمکذبين وعده ده چي) مونږ ته معلومه ده چي په تاسي کي ځيني تکذيب کوونکي هم دي (نو مونږ به دوي ته سزا ورکو) او (په دي اعتبار سره) دا قرآن دکافرانو په حق کي موجب دحسرت دي (ځکه چي د دوي دپاره په وجه دتکذيب سبب دعذاب سو) او دا قرآن تحقيقي يقيني خبره ده نو (دچاچي دا کلام دي) دخپل (دي) عظيم الشانه پروردګار دنوم پاکي (اوثنا) بيانوي.

معلومات اومسئلي: په دي سورة کي دقيامت هولناك واقعات اوبيا هلته دکفارو فاجرانو دسزا اومومنانو متقيانو دجزا ذکر دي، دقيامت نومونه په قران کريم کي ډير راغلي دي، په دي سورة کي يي قيامت ته حَآقّة بيا قَارِعَة بيا واقعة ويلي دي اوداټول دقيامت نومونه دي، دلفظ دحَآقّه معنٰی حق اوثابت هم راځي اونور شيان حق کول اوثابتول هم، په قيامت دالفظ د دواړو معانيو په اعتبار سره صادق راځي ځکه چي قيامت په خپله هم حق دي اوددي واقعي کيدل ثابت اويقيني دي اوقيامت دمومنانو دپاره جنت اودکفارو دپاره جهنم ثابت اومقرر کوونکي دي، دلته دقيامت په دي نوم سره دسوال مکرر کولو ددی مافوق القياس اوحيرت انګيز هولناك کيدو طرف ته اشاره ده.

دقَارِعَه: لفظي معنٰی ګرځيدونکي شی دي، دقيامت دپاره دالفظ ځکه وويل سو چي دا ټولو خلګولره مضطرب اوبي ارامه کوونکي او دټولو آسمانونو اومځکو جسمونو لره منتشر کوونکي دي.

طَاغِيَة: دطغيان څخه مشتق دي دکوم معنٰی چي دحد څخه وتونکي ده مراد داسي سخت اوازدي کوم چي دټولي دنيا داوازونو دحد څخه بهر او زيات دي کوم چي دانسان زړه او دماغ برداشت نه کي، دقوم ثمود نافرماني چي دحد څخه زياته سوه نوپه دوي دالله ﷻ عذاب ددي سخت اواز په صورت کي راغلي وو په کوم کي چي دټولي دنيا دتندرونو دګرز او دټولي دنيا دټولو سختو اوازونو مجموعه وه چي په هغه سره دهغوی زړونه وچاودل، رِيحٍ صَرْصَرٍ: هغه سختي هوا ته ويل کيږي کومه چي زياته يخه هم وي.

سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَانِيَةَ أَيَّامٍ: په ځينو روايتونوکي دي چي دچار شنبي په ورځ دسهار دهوا دا عذاب شروع سو

او دبلې چار شنبې ترماښام پورې وو ، دغه شان ورځې خواته سوې اوشپې اووه سوې .
حُسُوْمًا : دحاسم جمع ده چې معنىٰ يې قطع کول او استيصال کول يعنې بالکل فنا کول دي .
دَمُؤْتَفِکٰت، معنىٰ ديوبل سره خلط اوپيوست ده ، دحضرت لوط ﷺ کلو ته موتفکات ياځوځکه وويل سوه چې دا ټول ديوبل سره پيوست وه اوياځکه چې دعذاب راتلوپه وخت کې هرکله دغه کلي پاسترکړل سول نوټول ديوبل سره ګډوډ سول .
فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ نَفْخَةٌ وَاحِدَةٌ : په ترمذي کې دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه مرفوع روايت دي چې شپيلې دښکر (په شکل باندې يوشی) دی چې دقيامت په ورځ به په کې پُف کړل سي ، د: نَفْخَةٌ وَاحِدَةٌ څخه مراد دا دی چې په يو وار به ناڅاپه دا دشپيلې اوازوې اويو اواز به مسلسل وي ، تردې چې په دې اوازسره به ټول مړه سي ، دقرآن اوسنت په نصوصو سره په قيامت کې دوې شپيلې وهل ثابت دي ، اولې شپيلې ته نفخه صعق وايي چې ددې په حقله په قرآن کريم کې ، فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ : دی ، يعنې په دې شپيلې سره به دآسمانونو والا ټولې ملائکې اوپه مځکه اوسيدونکې ټول پيريان او انسان اوټول ځاروې اوحيوانان بې هوښه سي (بيابه په دغه بې هوښۍ کې ټول مړه سي) دوهمه شپيلې ته نفخه بعث وايي ، دبعث معنىٰ پورته کيدل دی ، ددې شپيلې په ذريعه به ټول مړي بياژوندي سي وبه دريږي ، چې ذکر يې دقرآن کريم په دې آيت کې دی ، ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرٰى فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنْظُرُوْنَ : يعنې بيابه دوباره شپيلې ووهل سي په کوم سره چې به ناڅاپه ټول مړي ژوندي سي وبه دريږي اوګوري به .
په ځينو روايتونوکې چې ددې دواړو شپيلو څخه مخ ته ديوې دريمې شپيلې ذکر دی چې نوم يې نفخه فزع ښوول سوی دی ، په ټولو روايتونو اونصوصو کې په غور کولو سره معلوميږي چې دا هم دغه اوله شپيلې ده دې ته يې په ابتداء کې نفخه فزع ويلې ده اوپه انتهاکې دغه ته نفع صعق ويل سوي ده (مظهري)
وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمَانِيَةٌ : يعنې دقيامت په ورځ به عرشِ رحمٰن اتو ملائکو پورته کړی وي ، دحديث په ځينو روايتونوکې دي چې دقيامت څخه مخ ته خوداکار څلورو ملائکو ته سپارل سوی دی ، دقيامت په ورځ به ورسره نورې څلور زياتې سي .
پاته سوه دا معامله چې عرش رحمٰن څه شی دی ، ددې حقيقت او حقيقې شکل اوصورت څه دی؟ او دملائکو دی لره لوړول په څه صورت سره دي؟ دا ټول شيان هغه دي چې نه عقل انسانې ددې احاطه کولی سي اونه په دې شيانوکې دوی ته دغور اوفکر کولو اوسوالونو کولو اجازه سته دسلفو صالحينو صحابه کرامو ﷺ اوتابعينو مسلك په داسې ټولو معاملو کې دا دی چې په دې ايمان راوړل سي چې ددې څخه دالله ﷻ څه مراد دی هغه حق دی او ددې حقيقت اوکيفيت نامعلوم دی .
يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُوْنَ لَا تَخْفىٰ مِنْكُمْ خَافِيَةٌ : يعنې په دغه ورځ به ټول دخپل رب مخ ته پيش سي څوك پټيدونکې به پټ نه سي ، دالله ﷻ دعلم او بصرڅخه خو نن هم څوك نه سي پټيدی ، په دغه ورځ کې خصوصيت شايد دا وی چې په ميدان دحشرکې به ټوله مځکه يو هواره مستوې سطح جوړه سي ، نه به

څه غار په کې پاته سي، نه غر، نه څه آبادي اوکور نه څه درختنه اونور دپناه ځای، دا شیان دي دکومو په شاکې چې په دنیاکې پټیدونکي پټیږي، هلته به په دي کې هیڅ شی نه وي، چاته به ددي پټیدو هیڅ امکان هم نه وي.

هَاؤُمُ اقْرَءُوا كِتَابِيَهْ لفظ دهَآؤُمُ دخُذُوا په معنٰی کې دی دجمع دپاره ویل کیږي، مطلب دا دی چې دچا عملنامه په راسته لاس کې راسي، هغه به دخوشحالي څخه دخوا اوشا خلګو ته وایي چې واخله دا زما عملنامه ووایه.

هَلَكَ عَنِّي سُلْطَانِيَهْ: دسلطان لفظي معنٰی غلبه اوتسلط ده، په دي وجه حکومت ته سلطنت اوحاکم ته سلطان ویل کیږي، مطلب دا دی چې په دنیاکې چې ماته کومه په خلګو غلبه او لویي حاصله وه اوزه په ټولوکې مشر منل کیدم، نن خو هغه غلبه اولویي هم هیڅ په کار رانه غله، اوسلطان په معنٰی دحجت هم اخستی سي، نو معنٰی به دا وي چې افسوس نن زما په لاس کې هیڅ حجت اوسند نسته دکوم په ذریعه چې دعذاب څخه نجات حاصل سي.

خُذُوهُ فَغُلُّوهُ: دا حکم به ملائکوته وي چې دا مجرم ونیسی او دده په غاړه کې طوق واچوی لیکن دآیت په الفاظو کې ددي ذکر نسته چې څوك ونیسی اوطوق ورته واچوی، په دي وجه په ځینو روایتونوکې دي چې داحکم صادرسي، نو هر ذر اودیوار اوهر شی به دمطیع اوفرمانبردارو نوکرانو په شان دده نیولو لره منډی کړي.

ثُمَّ فِي سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوهُ: یعني بیادوی په یو زنځیرکې وتړي چې مقداریې اویا ګزه دی په زنځیرونوکې دتړلو دغه مفهوم هم مجازًا اخستل کیږي، کوم چې په لنډتفسیر کې را اخستل سوی دی، چې په زنځیر کې یې وتړي، لیکن ددي حقیقي معنٰی دا ده چې زنځیر دده په بدن کې دننه کړي، بل طرف ته یې ورځخه وباسی، لکه تسبیح چې پیل کیږي، دځینو روایتونو دحدیث څخه ددي حقیقي معنٰی تائید هم کیږي (ازمظهري)

فَلَيْسَ لَهُ الْيَوْمَ هَاهُنَا حَمِيمٌ * وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنْ غِسْلِينٍ: حمیم مخلص او ژور دوست ته ویل کیږي اوغسلین په زیر دغین هغه اوبه دي، په کوموکې چې د دوږخیانو نوونه اونور مینځل کیږي مطلب دایت دا دی چې نن به د دوی څوك دوست اوعزیز د دوی حمایت ونه کړل سي او دوی به دعذاب څخه خلاص نه سی او د دوی دخوراك دپاره به ماسوا دهغه ګنده اوبو څخه په کومو کې چې د دوږخیانو ویني زوی پرتی وي نور هیڅ نه وي اود (نورڅه نه وي) مطلب لوړ په لنډتفسیرکې داښوول سوی دی چې په خوند او خوراکونوکی به هیڅ نه وي. دغسلین په شان دبل مکروهه بد ذائقه شی نفی نه ده، په دي وجه په بل آیت کې چې د دوږخیانو زقوم خوړل راغلی دی، هغه ددي منافي نه دي.

فَلَا أُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُونَ * وَمَا لَا تُبْصِرُونَ: یعني قسم دی په هغو ټولو شیانوکوم چې تاسی وینی یالیدی سی اوکوم چې تاسی نه وینی یانه سی لیدی په دي کې ټول مخلوقات راغلل، ځینی حضرات فرمایی چې

دشیانو دنه لیدلو څخه مراد دالله ﷻ ذات اوصفات دی ، ځینی فرمایی چی دشیانو دلیدو څخه مراد ددنیا شیان دی او دنه لیدونکو شیانو څخه مراد داخرت شیان دی (مظهری ، والله تعالی اعلم)

وَلَوۡتَقَوَّلَ عَلَيۡنَا الخ دَتقَوّلْ معنی خبره جوړول دی اووَتِیْنَ دزړه څخه وتونکی هغه رګ دی په کوم سره چی روح په انسانی جسم کی ښوریږی ، ددی په پریکولو سره مرګ فوراً واقع کیږی .

په تیرو آیتونوکی دمکی دکفارو ددی بی هوده خیال رد سوی وو ، چابه دوی ﷺ ته شاعر او د دوی کلام ته شعر وایه ، چا به دوی ته کاهن اوکلام ته یی کهانت وایه ، کاهن هغه سړی وی چی څه خبری دشیطانانو څخه پیدا کی ، څه دنجوم دلاری څخه معلومی کړی او په راتلونکی واقعاتوکی په اټکل خبری کوی ، غرض دوی ته دشاعر او کاهن دوونکو دالزام حاصل دا وو چی دوی کوم کلام اوروی دا دالله ﷻ دطرف څخه نه دی ، نبی کریم ﷺ په خپله دخپلو خیالاتو یا دکاهنانو په شان دشیطانانو څخه څه کلمی جمع کړی دی ، دهغه نسبت دالله ﷻ طرف ته کوی ، په ذکر سوو آیتونوکی الله ﷻ د دوی ددی باطل خیال په یوبل صورت سره په ښه سخته داسی رد وکی چی لیونو! که دی رسول معاذ الله زمونږ طرف ته د دروغو خبرو نسبت کولی او په مونږ یی دروغ جوړولی نو آیا مونږ به ورته دغسی کتلی او ده ته به موڅه نه ویلی چی دخدای مخلوق ګمراه کوی ، په دی خبره هیڅ دعقل خاوند باورنه سی کولی ، ځکه چی په دی آیت کی په طور دفرضِ محال ارشاد فرمایی چی که دی رسول ﷺ څه خبره هم جوړه کړی وای او مونږ ته یی دهغه نسبت کولی نو مونږ به دده راسته لاس نیولی وای ، دده دروح رګ به مو پریکړی وای اوبیابه دی زمونږ دسزا څخه هیڅاهم نه وای ساتلی ، دلته دا دشدت الفاظ دغو جاهلانوته داورولو دپاره دفرض محال په طور باندی استعمال فرمایل سوی دی ، دراسته لاس دنیولو تخصیص غالبًا ځکه دی چی هرکله یومجرم قتل کیږی نو قتل کوونکی ده ته مخامخ ودریږی ، دقتل کوونکی چپه لاس دمقتول راسته لاس ته مخامخ وی نو دا قتل کوونکی مقتول په خپل چپه لاس دراسته لاس څخه ونیسی او په راسته لاس په هغه ګذار کوی .

خبرداری : په دی آیت کی یی دیوخاص واقعی په حقله دافرمایلی دی چی که خدای مه که معاذالله رسول الله ﷺ دخپل طرف څخه څه خبره جوړولای اودهغه نسبت یی الله ﷻ ته کولی نو دا معامله به ورسره سوی وای ، په دی کی څه عامه قاعده نه ده بیان سوی چی ګوندی هرڅوك چی په دروغو دنبوت دعوه کوی ، همیشه به هغه هلاکول کیږی ، وجه دا ده چی په دنیاکی ډیرو خلکو په دروغ دنبوت دعویٰ وکړه اوداسی عذاب را نه غیورباندی .

فَسَبِّحۡ بِاسۡمِ رَبِّكَ الۡعَظِيۡمِ : ددی څخه په مخکی تیرو آیتونوکی دا ښوول سوی وه چی نبی کریم ﷺ دخپل طرف څخه څه نه فرمایل څه چی دی هغه دالله ﷻ کلام دی او دا دتقویٰ اختیارونکو دپاره تذکره اونصیحت دی، مګر مونږپه دی هم پوه یوچی ددی تولو قطعی او یقینی امورو دپیژندو باوجودپه تاسی کی به ډیر خلګ ددی تکذیب هم کوی چی نتیجه یی په اخرت کی د دوی حسرت نا امیدی اودائمی عذاب به وی اوپه اخرکی فرمایی ، وَاِنَّهٗ لَحَقُّ الۡيَقِيۡنِ یعنی دا خبره بالکل حقه اویقینی ده په دی کی دڅه شك اوشبهی

گنجائش نسته دتولو په آخر کی نبی کریم ﷺ ته خطاب کوی ، فرمایی ، فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ : په دی کی اشاره ده چی ته ددی عنادگرو کفارو خبروته مه گوره اوغمجن کیږه مه ، بلکه دخپل عظیم رب تسبیح اوپاکی بیانول خپله مشغله جوړه کړه چی داددی تولوغمونوځخه دنجات ذریعه ده اودا داسی ده لکه چی بل ځای په قرآن کریم کی فرمایی، وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ ° فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ مِنَ السَّاجِدِينَ : یعنی مونږ پوهیږو چی ته ددی کفاروپه عبثو خبرو زړه تنگی کیږې، ددی علاج دادی چی ته دخپل رب په ثناکی مشغول سه اوپه سجده کوونکو کی شامل سه، ددوی خبروته مه گوره .

په ابوداودکی دحضرت عقبه ابن عامر جهنی روایت دی چی کله داآیت ، فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ نازل سونبی کریم ﷺ وفرمایل چی داپه خپله رکوع کی وایاست اوکله چی آیت: سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى نازل سو نووې فرمایل چی داپه خپل سجده کی وایاست ، په دی وجه په اجماع دامت په رکوع اوپه سجده کی دا دواړه تسبیحات ویل کیږې دجمهوروپه نزدددی ویل اودری واره تکرارسنت دی اودځینوپه نزدواجب دی

تمّت سورة الحاقّة بحمد الله تعالی

﴿سورة المعارج﴾

سُورَةُ الْمَعَارِجِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ أَرْبَعٌ وَأَرْبَعُونَ آيَةً وَفِيهَا رُكُوعَانِ

سورة المعارج په مکه کی نازل سو او په دی کی څلوېښت (۴۰) آیتونه او دوې (۲) رکوع گانی دی .

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی .

سَأَلَ سَائِلٌ بِعَذَابٍ وَاقِعٍ ۝١ لِّلْكَافِرِينَ لَيْسَ لَهُ دَافِعٌ ۝٢

وغوښتل یو غوښتونکی عذاب واقع کیدونکی ، دکافرانو دپاره نسته دغه لره دفع کوونکی ،

مِّنَ اللَّهِ ذِي الْمَعَارِجِ ۝٣ تَعْرُجُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ إِلَيْهِ فِي

دالله څخه چی ختونکو درجو والا دی، ختېږی دده طرف ته ملائکی او روح په هغه

يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ ۝٤ فَاصْبِرْ صَبْرًا

ورځ کی چی اوږدوالی یې پنځوس زره کاله دی ، نو ته صبر کوه صبر

جَمِيلًا ۝٥ إِنَّهُمْ يَرَوْنَهُ بَعِيدًا ۝٦ وَنَرَاهُ قَرِيبًا ۝٧ يَوْمَ تَكُونُ

ښه ، هغوی وینی دا لیری ، او مونږ وینو دا نژدی ، په کومه ورځ چی سی

السَّمَآءُ كَالْمُهْلِ ﴿٨﴾ وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ ﴿٩﴾ وَلَا يَسْـَٔلُ

آسمان په شان دويلى سوى اوسپنى ، اوسى غرونه لكه وړى رنگ سوى ، او پوښتنه به نه كوى

حَمِيْمٌ حَمِيْمًا ﴿١٠﴾ يُّبَصَّرُوْنَهُمْ يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِيْ مِنْ

دوست د دوست څخه ، چى تول به وينى ، غواړى به گناهكار چى په څه شان په فديه كى وركى

عَذَابِ يَوْمِئِذٍ بِبَنِيْهِ ﴿١١﴾ وَصَاحِبَتِهٖ وَاَخِيْهِ ﴿١٢﴾ وَفَصِيْلَتِهِ

ددغه ورځى دعذاب څخه خپل زامن ، او خپله بى بى او خپل وړونه ، اوخپل كور

الَّتِيْ تُـْٔوِيْهِ ﴿١٣﴾ وَمَنْ فِى الْاَرْضِ جَمِيْعًا ثُمَّ يُنْجِيْهِ ﴿١٤﴾ كَلَّا اِنَّهَا

په كوم كى وسيږي ، اوځومره چى په مځكه دى تول بيا خپل خان وساتى ، هيڅكله داسى

لَظٰى ﴿١٥﴾ نَزَّاعَةً لِّلشَّوٰى ﴿١٦﴾ تَدْعُوْا مَنْ اَدْبَرَ وَتَوَلّٰى ﴿١٧﴾ وَجَمَعَ

نه ده ، دغه گرم اور دى ، ايستونكى دى دځرمنى ، رابلى هغه چا چى مخ واړوى په په شا ولاړى ، اوجمع

فَاَوْعٰى ﴿١٨﴾ اِنَّ الْاِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوْعًا ﴿١٩﴾ اِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ

يى كى اوډير يى كى ، بيشكه انسان جوړ دى په زړه كمزورى ، هر كله چى ورسيږي ده ته بدى

جَزُوْعًا ﴿٢٠﴾ وَّاِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوْعًا ﴿٢١﴾ اِلَّا الْمُصَلِّيْنَ ﴿٢٢﴾ الَّذِيْنَ

نو بې صبره سى ، او كله چى ورته ورسيږي خير بى توفيقه سى ، مگر هغه لمونځ كوونكى ، كوم چى په

هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ دَآئِمُوْنَ ﴿٢٣﴾ وَالَّذِيْنَ فِيْٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ

خپلو لمونځونو باندى قائم وى ، او دكومو په مال كى چى حصه

مَّعْلُوْمٌ ﴿٢٤﴾ لِّلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُوْمِ ﴿٢٥﴾ وَالَّذِيْنَ يُصَدِّقُوْنَ بِيَوْمِ

مقرر ده ، دسوال كوونكى او نه سوال كوونكى دپاره ، او كوم چى يقين كوى په ورځ

الدِّيْنِ ﴿٢٦﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ عَذَابِ رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ ﴿٢٧﴾

دانصاف ، او كوم چى د عذاب د رب خپل څخه بيريږي ،

إِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَأْمُونٍ ﴿٢٨﴾ وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ

بیشکه د دوی درب دعذاب څخه چاته بې غمه کیدل نه دي په کار ، او څوک چې دخپلو ځایو دشهوت

حَافِظُونَ ﴿٢٩﴾ إِلَّا عَلَىٰ أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ

حفاظت کوي ، مگر دخپلو بیبیانو ، یا دخپلو مینځو سره ، نو په دوي

غَيْرُ مَلُومِينَ ﴿٣٠﴾ فَمَنِ ابْتَغَىٰ وَرَاءَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْعَادُونَ ﴿٣١﴾

نسته ملامتیا ، او څوک چې ولټوي ددې څخه ما سوا پس هغه دي دحد څخه تیریدونکي ،

وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ ﴿٣٢﴾ وَالَّذِينَ هُمْ

او کوم خلق چې دخپلو اما نتونو او دخپلو قولو ساتنه کوي ، او کوم چې خلق چې په

بِشَهَادَاتِهِمْ قَائِمُونَ ﴿٣٣﴾ وَالَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ

خپلو شهادتونو باندې قائم وي ، او کوم خلق چې د خپلو لمونځونو خبرداروي

يُحَافِظُونَ ﴿٣٤﴾ أُولَٰئِكَ فِي جَنَّاتٍ مُكْرَمُونَ ﴿٣٥﴾ فَمَالِ الَّذِينَ

، دغه خلق به وي په جنتونو دعزت کې ، پس څه سوي دي

كَفَرُوا قِبَلَكَ مُهْطِعِينَ ﴿٣٦﴾ عَنِ الْيَمِينِ وَعَنِ الشِّمَالِ

منکرانو لره چې تاته را څغلي ، دراسته طرف څخه او دچپه طرف څخه

عِزِينَ ﴿٣٧﴾ أَيَطْمَعُ كُلُّ امْرِئٍ مِنْهُمْ أَنْ يُدْخَلَ جَنَّةَ نَعِيمٍ ﴿٣٨﴾

تولي تولي ، آیا طمع لري هر یو سړی د دوی څخه چې دا خل به سي باغ دنعمتونو ته ،

كَلَّا إِنَّا خَلَقْنَاهُمْ مِمَّا يَعْلَمُونَ ﴿٣٩﴾ فَلَا أُقْسِمُ بِرَبِّ الْمَشَارِقِ

هیڅکله نه مونږ جوړ کړي دي دوی دهغه څخه چې پیژني یې ، نو زه قسم خورم په رب دمشرقونو

وَالْمَغَارِبِ إِنَّا لَقَادِرُونَ ﴿٤٠﴾ عَلَىٰ أَنْ نُبَدِّلَ خَيْرًا مِنْهُمْ وَمَا نَحْنُ

او مغربونو بیشکه مونږ کولی سو ، چې په بدل کې راولو تر دوی ښه ، او زمونږ

بِمَسْبُوقِينَ ﴿٤١﴾ فَذَرْهُمْ يَخُوضُوا وَيَلْعَبُوا حَتَّىٰ يُلَاقُوا يَوْمَهُمُ

دواك څخه به ونه وزی ، نو پرېږده دوی چې خبرې جوړوي اولوبې کوي تردې چې یوځای سی دخپلی

الَّذِي يُوعَدُونَ ﴿٤٢﴾ يَوْمَ يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ سِرَاعًا

هغه ورځې سره دکومې چې د دوی سره وعده ده په کومه ورځ چې راوزي دقبرونو څخه خفستا وهونکی

كَأَنَّهُمْ إِلَىٰ نُصُبٍ يُوفِضُونَ ﴿٤٣﴾ خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ

لکه یوی نښانی ته چې په خفستا ځي ، کښته به وي د دوی سترګی خپور به وي وربانډی

ذِلَّةٌ ۚ ذَٰلِكَ الْيَوْمُ الَّذِي كَانُوا يُوعَدُونَ ﴿٤٤﴾

ذلت دا ده هغه ورځ دکومې چې د دوی سره وعده وه .

لنډتفسير: يو غوښتونکی (په وجه دانکار) هغه عذاب غواړي کوم چې په کافرانو واقع کيدونکی دی (او) دکوم چې څوك دفع کوونکی نسته (او) کوم چې به دالله ﷻ دطرف څخه واقع کيږي چې دپوړو (يعنی آسمانونو) مالك دی (په کومو پوړو سره) چې ملائکی او (دايماندارو) روحونه هغه ته خيژی ځي د (هغه ته) څخه مراد دا دی چې په عالم بالا کی کومه موقع د دوی دعروج منتها چې مقرر سوي ده هلته ځي اوچونکی ددی عروج لار آسمان دی ، په دی وجه یی ورته معارج (يعنی پوړی (څيني) وفرمايل او دغه عذاب) په داسی ورځ کی (به واقع) سی دکوم مقدار چې (ددنياد) پنځوسو زرو کالو (برابر) دی (مراد ورځ دقيامت ده څه دحقيقی مقدارپه وجه څه ددی دسختوالی په وجه کفاروته دومره اوږدوالی محسوسيږي اوچونکی دکفر اوسرکښی دمرتبوپه اعتبارسره به ددی سختوالی او اوږدوالی مختلف وی دچادپاره ډير زيات دچادپاره څه کم ، په دی وجه په يوآيت کی كَأَلْفَ سَنَةٍ راغلی دی اودکافرانو تخصيص یی ځکه وکی چې په حديث کی دی چې مومن ته به دغه ورځ دومره سپکه معلوميږي لکه دڅلور رکعته فرضو دويلو وخت (لکه په در منثورکی داسی دی دابي سعيد څخه مرفوعًاپه روايت داحمد اوبيهقی اونورو کی) نو (هرکله چې دعذاب راتلل ثابت دی نو) ته (ددوی په مخالفت) صبرکوه اوصبرهم داسی چې دشکايت نوم په کی نه وی (يعنی ددوی دکفر اوخلاف څخه دومره مه تنګيږه چې څه شکايت دی پرژبه باندی راسی ، بلکه داسی یی ګڼه اوتحمل کوه چې دوی لره سزا ورکيدونکی ده او ددغی ورځی دسزا څخه چې کوم دوی انکار کوی نو) داخلګ دغه ورځی لره (په قيامت دايمان نه کيدوپه سبب ددی وقوع) بعيد وينی اوموږ (ته ددغه وقوع يقينی معلوم دی ، په دی وجه) دا (په قوع سره) قريب وينو (او دغه عذاب به په هغه ورځ واقع کيږي) په کومه ورځ چې آسمان (په رنګ کی) دتيلو دخيری په شان سی (اوپه يو آيت کی كَالدِّهَانِ دی چې تفسير یی په سری خرمنی سره سوی دی نو جمع په دواړوکی دا ده چې

دزیات سوروالی په وجه دتور مشابه رنگ پیدا کیږی ، نو تور اوسور دواړه ویل صحیح دی یاداچی اول
به یی یورنگ وی بیابه بل بدل سی، لکه چی نقل یی کړی دی ابن کثیرپه سورة الرحمان کی دحسن څخه
چی رنګونه به بدلوی اوکه ددی تفسیرهم په مثل دخینو دزیتون دتیلو دخیری په شان وسی نو د دواړو
مفهوم به یوسی ، غرض دا چی آسمان به تور سی اوخیری به هم سی) اوغرونه به درنگ داری وړی په
شان (کمه چی وهل سوی وی لکه داقول دالله ﷻ ، كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوْشِ) سی (یعنی الوتلی به گرځی او
درنگ دار سره یی تشبیه ځکه ورکړه چی غرونه هم دمختلفو رنګونو وی لکه چی دا ذکر دی په دی قول
دالله ﷻ کی ، وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ او (په دغه ورځ) به څوك دوست دچا
دوست پوښتنه ونه کړی (لکه داقول دالله ﷻ ، لَا يَتَسَآءَلُوْنَ) سره ددی چی یو بل به وینی هم (یعنی یو بل
به وینی ، مگر څوك به دچا همدردی نه کوی او په سورة صافات کی چی کوم په خپل مینځ کی دپوښتنی
کولو ذکر دی ، هغه په طور داختلاف دی په طور دهمدردی نه دی ، په دی وجه هغه ددی آیت منافی نه
دی ، په دغه ورځ به) مجرمان (یعنی کافران) ددی خبری تمناکوی چی ددغه ورځی دعذاب څخه
دخلاصیدو دپاره خپل زامن اوښځی او ورور اوکور په کوم کی چی دی اوسیدی اودتولی مځکی خلګ
په خپله فدیه کی ورکړی، بیادا (په فدیه کی ورکول) دی (دعذاب څخه) وساتی (یعنی په دغه ورځ به
داسی نفسا نفسی وی چی هر سړی به په خپل فکرکی وی اوتر پرونه پوری چی یی پرچا ځان قربانوی ،
نن به دهغه دخپلی فائدی دپاره عذاب ته دسپارلو دپاره تیاروی که دده دواك خبره وای لیکن) داسی به
هیڅکله نه سی کیدی (یعنی دعذاب څخه به یی نجات مطلقًانه وی ، بَلکه) هغه اور داسی شغلی
کوونکی دی ، کوم چی به څرمنه باسی (او) دغه به هغه سړی (په خپله) رابلی کوم چی (په دُنیاکی دحق
څخه) مخ اړولی وی او (داطاعت څخه یی بی مخی کړی وی او (دنورو حق وهی یاپه حرص سره یی مال)
جمع کړی وی بیا یی هغه خزانه کړی وی (مطلب دا چی حقوق الله اوحقوق العبادیی ضائع کړی وی یا
اشاره ده فساد دعقائدو اوفساد داخلاقو طرف ته، اوبلل په حقیقی معنیٰ محمول کیدی سی، لنډه دا
چی داسی صفتونه موجب دمستحق کیدو داوردی اوپه دی مجرم کی داسی صفتونه پیدا کیږی، نوبیا
دعذاب څخه دنجات گرسره تصورنه سی کیدی اوپه جمع ،فَاَوْعٰی، سره دکفاروپه فروعاتو سره مکلف
کیدل نه لازمیږی ځکه چی ددی رذائلوپه وجه کفاروته به اصل عذاب نه وی بلکه سخت عذاب به وی
اونفس عذاب به په کفر وی ، په خلاف دمومنانو گناهګارو څخه چی دوی ته په ګناهونو نفس عذاب هم
ورکیدی سی ، والله اعلم) (مخ ته دنورو رذائلو ذکر دی کوم چی دعذاب سبب وی ، د دوی څخه داهل
ایمانو استثناء اوبیا داستثناء دنتیجی بیان دی یعنی) انسان کوم پیدا سوی دی (مراد دانسان څخه په
استثناء کی دشاملولو څخه وروسته انسان کافردی اوډپیدا کیدو څخه دا مطلب نه دی چی دوخت داول
پیدائش څخه هغه داسی دی ، بلکه مطلب دا دی چی دده په جبلت (طبیعت) کی داسی ماده ایښول سوي
ده چی هغه خپل وخت ته ورسیږی یعنی دبلوغ څخه وروسته درذیلو صفتونو عادی سی، نو دکم همتی
څخه مراد طبعی کم همتی نه ده بلکه دکم همتی بداثارِ اختیار به مراد دی ، کوم چی مخ ته بیان فرمایی

یعنی) هرکله چی ده ته تکلیف رسیږی نو (دحدِ جواز څخه په زیاته) جزع فزع شروع کړی اوکله چی ده ته فارغ بالی ورکول سی نو (دضروری حقونو څخه) بخل شروع کړی (داتتمه سوه دموجباتو دعذاب کوم چی دَمَنْ اَدبَرَ څخه شروع دی) مګرهغه لمونځ کوونکی (یعنی مومن ددی موجباتو دعذاب څخه مستثناء دی) کوم چی په خپل لمونځ باندی برابره توجه ساتی (یعنی په لمونځ کی ظاهراً یاباطنًا بل طرف ته توجه نه کوی کوم چی یی په ، قَدْاَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ کی په خَاشِعُوْنَ سره تعبیر کړی دی ، لکه چی دارنګه نقل کړی دی ابن کثیر دعقبه بن عامر څخه په ، قَوْلِهِ الدَّآئِمُ السَّاكِنُ وَعَنْهُ فِي الدُّرِّ الْمَنْثُوْرِ، اِذَا صَلُّوْا لَمْ يَلْتَفِتُوْا عَنْ يَّمِيْنٍ وَّلاَ شِمَالٍ) اودکومو په مالونوکی چی دسوال کوونکی اونه سوال کوونکی تولو حق دی (ددی په حقله مضمون په سورة الذاریات کی تیر سوی دی) اوکوم چی دقیامت په ورځ عقیده لری اودخپل پروردګار دعذاب څخه بیره کوی (او) واقعی د دوی درب عذاب دبی بیری کیدو شی نه دی (دا دجملی معترضی په طورده) اوکوم چی خپل شرمګاهونه (دحرامو څخه) محفوظ ساتی لیکن دخپلو بیبیانو څخه اودخپلو (شرعی) مینځو څخه یی (حفاظت نه کوی) ځکه چی په دوی (په دی کی) څه الزام نسته، البته کوم چی ددی څخه علاوه (بل ځای دشهرت پوره کولو) طلب ګار وی داسی خلک د (شرعی) حد څخه وتونکی دی اوکوم چی دخپل (سپارل سوی اواخستل سوی) امانتونو اوخپلو وعدو خیال ساتونکی دی اوکوم چی خپلی شاهدیانی سمی سمی ادا کوی (په دی کی کمی اوزیاتی نه کوی) اوکوم چی دخپلو (فرضو) لمونځونو پابندی کوی (نو) داسی خلک به په عزت سره په جنتونوکی داخلیږی (ددی آیتونو تفسیر په سورة مومنون کی کتلی سی مخ ته دکفارو عجیبه حالات کیدل او دقیامت وقوع مستبعدنه کیدل بیان فرمایی یعنی موجبات دسعادت اوشقاوت خولوږ په واضحو دلیلونو سره معلوم سول نو (په دلیل سره دمعلومیدو څخه وروسته بیا) کافرانو ته څه وسوه چی (ددی مضامینو دتکذیب دپاره) ستاطرف ته دراسته اوچپه اړخ څخه ډلی ډلی رامنډی وهی (یعنی په کار وه چی ددی مضامینو تصدیق یی کړی وای لیکن داخلک ډلی ډلی کیږی تاته په دی غرض سره راځی چی ددی مضامینو تکذیب اوپه دی پوری مسخری وکی لکه چی دعربو کفاروبه دنبوت خبرونه اوریدل اوپه دی غرض سره به راتلل اوداسلام په باطل ګڼلو سره به یی خپل ځانونه په حق ګڼل اودحق کیدو ثمره جنت ته تلل دی په دی بنابه هغوی خپل ځانونه دجنت مستحق هم ګڼل لکه داقول دالله ﷻ دی ، لَئِنْ رُّجِعْتُ اِلٰى رَبِّيْ اِنَّ لِيْ عِنْدَهٗ لَلْحُسْنٰى فَلَنُنَبِّئَنَّ : په دی وجه ددی په حقله په طور دانکار فرمایی چی) آیاپه دوی کی هرسړی ددی هوس لری چی هغه به دارام په جنت کی داخل سی داسی به هیڅکله نه وی (ځکه چی سره دموجباتو دجهنم به جنت څنګه ورکول سی او دا خلک ددی مضامینوپه تکذیب کی دنفس قیامت هم تکذیب کوی او دا به یی محال ګڼی ، مخ ته ددی په حقله ارشاد دی چی د دوی استبعاد محض بی وقوفی ده ځکه چی) مونږ دوی دداسی شی څخه پیداکړی دی دکوم چی دوی ته هم خبردی (نو هرکله چی دوی ته معلومه ده چی دنطفی څخه یی انسان جوړکړی دی اوظاهره ده چی دنطفی څخه په کومه کی چی هیڅکله حیات نه دی راغلی ترسړی جوړیدو پوری چی څومره بعددی ، دومره بعد دمړی داجزاوو څخه د دوهم وار سړی تر جوړیدو پوری نسته ،

ځکه چې په دې اجزاؤ کې یو وار ژوند مخکې راغلې دی ، دا محال ګڼل د دوی بې وقوفي ده» بیا (په بل طورسره ددفع داستبعاد دقیامت دوقوع دپاره) زه قسم اخلم دمشرقونو اومغربونو په مالك (ددې معنیٰ دسورة صافات په شروع کې تیره سوې ده ، مخ ته دقسم جواب دی) چې مونږ په دې قادر یو چې (په دنیا کې) د دوی په ځای د دوی ځخه ښه خلګ راولو (یعنې پیدا کو) اومونږ ددې ځخه عاجزه نه یو (نو هرکله چې نوې مخلوق اوهغه هم داسې په کوم کې چې صفتونه دکمال زیات وی ، په کوموکې چې زیات اشیاء پیداکول دې مونږته یې پیداکول اسان دي نوتاسې لره پیداکول کوم چې ګران کاردی اولنی استدلال په خپله ددې منکرینودحالت په اعتبارسره دی اودوهم استدلال ددوی دامثالو اونظائرو دمخلوقیت د امکان سره اوهرکله چې سره ددې چې حق په دلیلونو سره واضح سودخپل انکار اوعناد ځخه نه واپس کیږي) نوته دوی په دغه شغل اوتفریح کې پریږده تردې چې دوی ته دخپلې دغې ورځې سره واسطه واقع سې دکوم چې د دوی سره وعده کول کیږي په کومه ورځ چې دوی دقبرونو ځخه راوزي داسې منډې وهي لکه چې دیوعبادت ځای ته منډې وهل کیږي (او) د دوی سترګې (دشرم دوجهې ځخه) کښته سوې وي (او) په دوی ذلت خپور سوی وی دا ده هغه ورځ د دوی دکوم چې د دوی سره وعده وکول سوه (کومه چې اوس واقع سوه)

معلومات اومسئلې : سَاَلَ سَآئِلٌ سوال کله دځه شي دتحقیق دپاره وي ددې سره په عربي ژبه کې صله دحرف عن استعمالیږي اوکله سوال په معنیٰ ددرخواست اودځه شي دطلب وي دلته داسې دی ، په دې وجه ددې په صله کې په ځای دعن حرف با راغلې د ، بِعَذَابٍ معنیٰ دا ده چې یوغوښتونکې عذاب وغوښتې .
په نسایي کې دحضرت ابن عباس ﷠ ځخه روایت دی چې دا غوښتونکې نضربن حارث وو ، کوم چې دقرآن او دنبي کریم ﷺ په تکذیب کې د دومره زره ورتیا ځخه کار واخستې چې وېې ویل ، اَللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ هٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَاَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَآءِ اَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ : یعنې دا دعا یې وکړه چې یاالله ! که دا قرآن حق اوستا دطرف ځخه وی نو په مونږ دآسمان ځخه کاڼي را واوروه یابل دردناك عذاب راولیږي (مظهری) الله ﷻ ده ته دبدرپه غزاکې دمسلمانانوپه لاس عذاب ورکی (مظهری په روایت دابن ابی حاتم) دی سرې چې په خپله خوله داالله ﷻ کوم عذاب غوښتلې وو مخ ته ددې دځه حقیقت بیان دی چې دا عذاب پرکافرانو خامخا واقع کیدونکې دی (برابره خبره ده که په دنیاکې وی یاپه اخرت کې یاپه دواړوکې) ددې عذاب دفع کول دچاپه وس کې نه دی ، دا عذاب داالله ﷻ دطرف ځخه دی کوم چې دلوړو درجو والا دی ، دا اخرې جمله داولې جملې دلیل هم دی چې کوم عذاب داالله ﷻ بالا اوبرتر دطرف ځخه وي ، دهغه دفع کول اومنع کول دچادپاره ځنګه ممکن کیدی سي .
مَعَارِجْ ، دمَعْرَج جمع ده او دعروج ځخه مشتق دی، چې معنیٰ یې لوړ ختل دی اومعرج او معراج هغه اندرپایه (پوړۍ) ته ویل کیږي ، په کومه کې چې دلوړ ختلو دپاره ډیرې درجې وی ، داالله ﷻ صفت په دې آیت کې ذِي الْمَعَارِجِ په دې معنیٰ سره دی چې الله ﷻ لوړو درجو والا دی (لکه چې داسې ویلې دی سعید بن جُبیر) اودا درجاتِ عالیه لاندې باندې اووه آسمانونه دی ، حضرت ابن مسعود ﷠ فرمایي چې دَذِي

الْمَعَارِجُ معنی ده ذی السَّمٰوٰتِ یعنی مالك دآسمانونو .

تَعْرُجُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوحُ : یعنی دا درجی کومی چی پریوبل سربیره لاندی باندی دی ، په دی درجوکی خیژی ملائکی اوروح الامین یعنی جبرائیل ﷺ ، دی که څه هم دملائکو په تولی کی شامل دی ، لیکن دده دخصوصی اعزاز دپاره دده نوم جلا ذکر سوی دی .

فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ : دا جمله دیو محذوف فعل سره متعلق ده ، یعنی يَقَعُ، مطلب دا دی چی دا عذاب دکوم ذکر چی لوړ راغلی دی چی په کافرانو به ضرور واقع کیږی ، ددی وقوع به په هغه ورځ وی دکوم مقدار چی پنځوس زره کاله وی ، دحضرت ابوسعید خدری ﷺ څخه روایت دی چی صحابه کرامو ﷺ دنبی کریم ﷺ څخه ددغی ورځی په حقله پوښتنه وکړه دکوم مقدار چی به پنځوس زره کاله وی چی دا ورځ به څومره اوږده وی؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل چی قسم دی په هغه ذات دکوم په قبضه کی چی زما روح دی ، چی دا ورځ به په مومن دومره سپکه وی چی دیو فرض لمونځ دادا کولو دوخت څخه به هم کمه وی (رواه احمد وابو یعلی وابن حبان اوبیهقی بسند حسن ، مظهری)

او دحضرت ابوهریره ﷺ څخه داحدیث روایت سوی دی چی .

يَكُوْنُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كَمِقْدَارِ مَا بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ اَخْرَجَهُ الْحَاكِمُ وَالْبَيْهَقِيُّ مَرْفُوْعًا وَمَوْقُوْفًا (مظهری)

یعنی داورځ به دمومنانو دپاره دومره وی څومره وخت چی دماپښین اوماښیگر په مینځ کی وی ، دا روایت دحضرت ابو هریره ﷺ څخه مرفوعًا اوموقوفًا هم منقول دی .

دحدیث ددی روایتونو څخه معلومه سوه چی ددغی ورځی دا اوږدوالی چی پنځوس زره کاله به وی یو اضافی امر دی ، دکفارو دپاره به دومره اوږده او دمومنانو دپاره به دومره لنډه وی .

(دقیامت دورځي داوږدوالي دزرو کالو یاپنځوسو زرو کالو تحقیق)

په دی آیت کی دقیامت دورځی مقدار پنځوس زره کاله ښوول سوی دی او دسورة تنزیل السجده په آیت کی زر کاله راغلی دی ، آیت دا دی ، يُدَبِّرُ الْاَمْرَ مِنَ السَّمَآءِ اِلَى الْاَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ اِلَيْهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ اَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ : یعنی تدبیر کوی دامرِ الٰهی دآسمان څخه مځکی ته بیاخیژی دهغه طرف ته په داسی ورځ کی دکوم مقدار چی زرکاله دی دعام شمیر په اعتبارسره ، په ظاهره د دواړو ایتونوپه مضمون کی تعارض او تضاد دی ، ددی جواب دذکر سوو روایتونو دحدیث څخه وسوچی ددغی ورځی اوږدوالی به دمختلفو ډلو په اعتبار سره مختلف وی ، دټولو کفارو دپاره پنځوس زره کاله اودمومنانو صالحانو دپاره دیولمونځ وخت او د دوی په مینځ کی دکفارو طائفی دی ممکنه ده چی دځینو دپاره به صرف دزرو کالو برابر وی او دوخت اوږدوالی اولنډوالی دسختی اوبی ارامی اودارام اوخوشحالی په وختونوکی مختلف والی مشهور اومعروف دی چی دبی ارامی اوسختی اوتکلیف یوه گنټه هم ځینی وخت انسان ته دیوی ورځی بلکه دهفتی اولسو ورځو څخه هم زیاته محسوسیږی او دارام اوعیش دلوی څخه لوی وخت لنډ معلومیږی .

اوپه آیت دتنزیل السجده کی چی دزرو کالو ورځ بیان سوي ده ددی یوه توجیه په تفسیر مظهری کی دا بیان سوي ده چی په دی آیت کی دکومی ورځی ذکر دی ، هغه ددنیاپه ورځوکی یوه ورځ ده ، په دی کی حضرت جبرائیل ﷺ او دملائکو دآسمان ځخه مځکی ته را تلل اودمځکی ځخه آسمان ته تلل دومره لوی مسافت قطع کوی چی انسان که قطع کولی نو زرکاله به په لګیدلی ، ځکه چی په صحیح احادیثو کی راغلی دی چی دآسمان ځخه مځکی ته پنځه سوه کاله مسافت دی ، نو پنځه سوه کاله دلوړ ځخه کښته دراتلو اوپنځه سوه کاله دواپس تللو دا ټول زرکاله دانسانی حال په اعتبار سره دی چی که بالفرض انسان دا مسافت قطع کوی نو په تللو راتللو کی به یی زرکاله لګیږی ، که څه هم ملائکی دامسافت په ډیر لنډ وخت کی قطع کوی نو دسورة سجده په آیت کی ددنیا دورځو ځخه دیوی ورځی بیان وسو، اوپه سورة المعارج کی دقیامت دورځی بیان دی کومه چی به ددنیا ترورځو ډیره لویه وی او ددی اوږدوالی اولنډوالی به دمختلفو خلګو دخپلو خپلو حالاتو په اعتبار سره وی . والله سبحانه وتعالی اعلم

إِنَّهُمْ يَرَوْنَهُ بَعِيدًا ° وَنَرَاهُ قَرِيبًا : دلته دقریب او بعید په اعتبار دمسافت یازمانی نه دی ، بلکه بعید از امکان یابعید از وقوع مراد دی او معنی دآیت دا ده چی دا خلګ خو دقیامت وقوع بلکه امکان هم بعید ګڼی او مونږ وینو چی ددی وقوع یقینی ده .

وَلَا يَسْأَلُ حَمِيمٌ حَمِيمًا (۱۰) يُبَصَّرُونَهُمْ : دَحمیم معنی ژور او مخلص دوست دی ، دقیامت دسختی بیان دی چی په دغه ورځ به دیو دوست دچا دوست ځخه پوښتنه ونه سی ، مدد کول خو پریږده ، مخ ته یی دا هم ونه‌ وله چی دا پوښتنه نه کول په دی وجه نه دی چی دغه دوست به ورته مخامخ نه وی، بلکه دالله ﷻ قدرت به دا ټول یو بل ته مخامخ هم کړی مګر هر سړی به دنفسی نفسی په عالم کی وی څوک به دبل راحت اوتکلیف ته خیال نه سی کولی .

كَلَّا إِنَّهَا لَظَى ° نَزَّاعَةً لِلشَّوَى : دإِنَّهَا ضمیر داور طرف ته راجع دی اودلظی معنی خالصه شغله بغیر دخلط ځخه ، اوشوی دشواة جمع ده چی معنی یی دسر څرمن هم ده او دلاسونو اوپښو څرمن هم یعنی دجهنم اوربه یوسخته شغله کوونکی لمبه وی چی ددماغو یا لاسونو اوپښو څرمن به وباسی ، تَدْعُوا مَنْ أَدْبَرَ وَتَوَلَّى ، وَجَمَعَ فَأَوْعَى په خپله به را بلی دا اور هغه سړی چاچی حق ته شاکړه اومخ یی واړوی اومال یی جمع کی بیایی هغه خزانه کی ، مراد دجمع کولو ځخه هغه دی چی خلاف دشرعی په ناجائزو طریقو سره یی جمع کړی او دخزانه کولو ځخه مراد دا دی چی په مال عائد کیدونکی فرائض اوواجبات ادانه کی ، لکه چی په صحیح احادیثو سره ثابته ده .

إِنَّ الْإِنسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا دَهلوع لفظی معنی بی صبره ، حریص، کم همته سړی دی ، حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی په آیت کی دهلوع ځخه مراد هغه سړی دی ، کوم چی دحرام مال په حرص کی اخته وی اوحضرت سعیدبن جبیر ﷺ فرمایی چی ددی ځخه مراد بخیل سړی دی اومقاتل فرمایی چی زړه تنګی بی صبره سړی ورځخه مراد دی اودا ټولی معناوی یو بل ته نژدی دی دهلوع په مفهوم کی ټولی داخلی

دى ددى هلوع تشريح په خپله دقرآن په الفاظو كى راځى ، دلته دى دا شبهه نه كول كيږى چى كله يى دى پيدا كړى په دى حال كى دى اودا عيب دده په تخليق كى اينبوول سوى دى ، نو بيادده قصورڅه سو ، دى مجرم څنګه وګرځول سو ، وجه دا ده چى مراد ددى څخه په انسانى فطرت اوجبلّت كى اينبوول سوى ماده او استعداد دى نو په ده كى الله ﷻ دهر خير اواصلاح ماده اواستعداد هم اينبى دى اودشر اوفساد هم او ده ته يى عقل اوهوښ هم وركړى او دخپلو رسولانو او كتابونو په ذريعه يى دهر كار انجام هم وښووى ، نو ده په خپل اختيار سره دشر اوفساد دمادى پرورش وكړى اوخپل اختيارى عملونه يى په دغه طرف روان كړل نو دى ددغو اختيارى اعمالو په وجه مجرم مقرر سو ، كومه ماده چى دده په پيدائش كى اينبوول سوي ده دهغه په وجه دى مجرم مقررنه سو ، لكه چى مخ ته دهلوع دمعنى تشريح په خپله قرآن كريم كړي ده ، په دى كى يى صرف داختيارى عملونو ذكر فرمايلى دى هغه دا دى.

إِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوعًا ۝ وَإِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوعًا : يعنى ددى انسان دكم همتى اوبى صبرى دا حالت دى چى كله ده ته څه تكليف اومصيبت پيښ سى نودصبر څخه كار نه اخلى ، اوكله چى ورته څه راحت اومال او دولت حاصل سى نو په دى كى بخل كوى ، دلته دبى صبرى او جزع فزع څخه مراد هغه دى كوم چى دشرعى حدودو څخه وتلى وى ، دغه شان دبخل څخه مراد دفرائضو او واجباتوپه ادا كولو كى كوتاهى ده (لكه چى تير سوه) مخ ته دعامو انسانانو ددى ذكر سوى خصلت څخه يى مومنان صالحان مستثنى كړى دى او د دوى دنيكو عملونو ذكر يى كړى دى ، كوم چى دَالاَّ الْمُصَلِّيْنَ څخه شروع سوى دى ، تر صَلَاتِهِمْ دَائِمُونَ پورى بيان سوى دى ، دلته استثنى په لفظ دمصلين سره سوي ده يعنى لمونځ كوونكى او مراد ددى څخه مومنان دى په دى كى اشاره دى طرف ته ده چى لمونځ دمومن اولنى اودټولو څخه لوى علامه ده ، دمومنين ويلو مستحق هغه خلك دى كوم چى لمونځ كوونكى وى ، مخ ته يى ددى مصلينو دا صفت ښوولى دى ، الَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَاتِهِمْ دَائِمُونَ مراد ددى څخه هغه لمونځ ګذاردى كوم چى په ټول لمونځ كى دخپل لمونځ طرف ته متوجه وى ، اخوا ديخوا توجه نه كوى ، امام بغوى په خپل سند سره دابوالخير څخه روايت كوى چى مونږ دحضرت عقبه بن عامر رضى الله عنه څخه ددى آيت ، عَلَى صَلَاتِهِمْ دَائِمُونَ دا مطلب پوښتنه وكړه چى آيا ددى څخه مراد دا دى كوم چى هميشه هميشه لمونځ كوى؟ دوى وفرمايل چى نه، دامرادنه دى ، بلكه مراد دا دى چى څوك داول څخه تراخره پورى خپل لمونځ ته متوجه وى ، راسته چپه طرف ته ، مخ ته وروسته خيال نه كوى ، ددى مطلب هغه سوكوم چى په سورة مومنون كى د، الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ : دى نو په دى جمله كى دلمونځ دخشوع ذكرسو ، اومخ ته چى كومه جمله ، وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ راځى ، په دى كى په لمونځ اودلمونځ په ادابو دمداومت ذكر دى ، په دى وجه په مضمون كى تكرار ونه سو ، مخ ته دمومنانو صالحانو چى كوم صفتونه بيان سوى دى ، دا ټول تقريبًا هغه دى ، كوم چى په سورة مومنون كى بيان سوى دى او په دغه سورة كى ددغو دمعناوو پوره تفسير مكمل ليكل سوى دى ، هغه وګورى.

(مقدارونه دزكوة دالله ﷻ دطرف څخه مقرر سوي دي په هغه كي دكمي يا زياتي هيڅانه اختيارنسته)

وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ : ددي آيت څخه معلومه سوه چي مقدارونه د زكوة دالله ﷻ دطرف څخه متعين اومعلوم دي دكومو تفصيل چي دنبي كريم ﷺ څخه په صحيح احاديثوكي نقل دي ، په دي وجه مقدارونه دزكوة برابره خبره ده كه دزكوة دنصاب په حقله وي يا دواجب مقدار په حقله ، دواړه دالله ﷻ دطرف څخه مقرر سوي دي ، دا د زماني او حالاتو په بدليدو سره نه بدليږي .

فَمَنِ ابْتَغَىٰ وَرَاءَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْعَادُونَ : ددي څخه په مخكي آيت كي يي دنفساني خواهش او شهوت جائز مصرف منكوحه ښځه ياشرعي مينځه ښوولي وه ، په دي آيت كي يي ددي دواړو صورتونو څخه ماسوا دشهوت پوره كولو هرصورت ممنوع او ناجائز مقرر كړي دي ، په دي كي دنكاح هغه صورتونه هم داخل دي كوم چي شرعًا حلال نه دي ، لكه دهغو ښځو سره نكاح دكومو سره چي شرعًا نكاح حرامه ده ، دغه شان متعه كومه چي شرعًا نكاح نه ده .

(په خپل لاس سره شهوت پوره كول حرام دي)

اواكثرو فقهاوو رحمهم الله په خپل لاس سره شهوت پوره كول هم په دي عموم كي داخل كړي دي اوحرام يي مقرر كړي دي ، ابن جريج فرمايي چي مادحضرت عطاء څخه ددي په حقله پوښتنه وكړه نوهغوی وفرمايل چي مكروه دي ، ما اوريدلي دي چي په محشركي به ځيني خلگ داسي راسي دكومو چي به لاسونه بلارب وي ، زماگمان دا دي چي دا به هغه خلگ وي كوم چي په خپل لاس سره شهوت پوره كوي اوحضرت سعيدبن جبير رضي الله عنه فرمايي چي الله ﷻ په يو داسي قوم عذاب نازل كړي دي كومو چي په خپلو لاسونو دخپلوشرمگاهونوسره لوبي كولي په يو حديث كي دي چي نبي كريم ﷺ فرمايلي دي ، مَلْعُونٌ مَنْ نَكَحَ يَدَهُ: يعني څوك چي دخپل لاس سره نكاح كوي هغه ملعون دي سند ددي حديث ضعيف دي (مظهري)

(ټول حقوق الله اوټول حقوق العباد په امانت كي داخل دي)

وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ : په دي آيت كي امانات دجمع صيغه استعمال سوي ده ، لكه بل ځاى يي هم ، إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا: فرمايلي دي ، دواړه ځايه په لفظ دجمع راوړو سره دي طرف ته اشاره ده چي امانت صرف هغه مال نه دي كوم چي چا ستاسره ايښي وي ، بلكه ټول واجب حقونه دكومو ادا كول چي ستاپه ذمه فرض دي هغه ټول امانتونه دي په هغه كي كوتاهي كول خيانت دي ، په دي كي ټول حقوق الله لمونځ، روژه، حج زكوة هم داخل دي ، اوټول حقوق العبادكوم چي دالله ﷻ دطرف څخه په چا واجب دي يادي يي پخپله دخه وعدي اومعاملي په ذريعه په ځان لازم كړي ، هغه ټول دامانتونو په په فهرست كي داخل او ادا كول يي فرض اوكوتاهي په كي خيانت دي (مظهري ملخصًا)

وَالَّذِينَ هُمْ بِشَهَادَاتِهِمْ قَائِمُونَ : دلته هم لفظ دشهٰدٰت په لفظ دجمع راوړلوكي دي طرف ته اشاره كيدى سي چي دشهاداتو ډير قسمونه دي او هرقسم شهادت قائم ساتل واجب دي ، په دي كي شهادت دايمان توحيد او رسالت هم داخل دي ، درمضان دمياشتي او دشرعي حدودو شهادت هم ، او دخلكو په مينځ

کي معاملي چي دچا مخ ته سوي وي دهغو شهادت هم، ددي شهادتونو پټول او په دي کي کمي يا زياتي کول حرام دي دا په صحيح طور قائم ساتل ددي آيت په روسره فرض دي . والله اعلم (مظهري)

(تمت بحمد الله يوم الثلثاء ۸ رجب ۱۳۹۱هـ)

﴿ سورة نوح ﴾

سُوْرَةُ نُوْحٍ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ ثَمَانٌ وَعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَفِيْهَا رُكُوْعَانِ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة نوح ﷺ په مکه کي نازل سو په دي کي اته ويشت (۲۸) آيتونه او دوه (۲) رکوع گاني دي

شروع کوم په نوم سره دخداى ﷻ چي ډير مهربانه نهايت رحم والا دي .

اِنَّآ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖٓ اَنْ اَنْذِرْ قَوْمَكَ مِنْ قَبْلِ

مونږ وليږي نوح ﷺ دده قوم طرف ته وبيره خپل قوم مخکي

اَنْ يَّاْتِيَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ① قَالَ يٰقَوْمِ اِنِّيْ لَكُمْ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ②

ددې څخه چي ورسيږي دوى ته عذاب دردناک ، وې ويل اى زما قومه ! زه تاسي لره ښکاره بيرونکى يم

اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاتَّقُوْهُ وَاَطِيْعُوْنِ ③ يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ

چي بندگي کوى دالله ﷻ او دهغه څخه وبيرېږئ او زما خبره ومنئ چي وبخښي هغه تاسي لره څه گناهونه ستاسي

وَيُؤَخِّرْكُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ اِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ اِذَا جَآءَ لَا يُؤَخَّرُ ۘ

او مهلت درکړى تاسي ته ديو مقرر وخت پوري هغه کومه چي وعده کړى ده الله، هرکله راسي بيا به وروسته نه سي

لَوْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ④ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ دَعَوْتُ قَوْمِيْ لَيْلًا وَّنَهَارًا ⑤

که تاسي پوهيږئ ، وې ويل اى ربه ! ما را وبلى خپل قوم شپه او ورځ ،

فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَآءِيْٓ اِلَّا فِرَارًا ⑥ وَاِنِّيْ كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ

بيا زما په رابللو نوره زياته سوه د دوى تيښته ، او زما چي کله دوى وبلل چي ته بخښنه وکړى دوى ته

جَعَلُوْٓا اَصَابِعَهُمْ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ وَاَصَرُّوْا

نو کړځوى گوتي خپلي په غوږونو خپلو کي ، او راتولوى ځان ته کپړې خپلي او ضد يې وکى

وَاسْتَكْبَرُوا اسْتِكْبَارًا ۝٧ ثُمَّ إِنِّي دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا ۝٨ ثُمَّ إِنِّي

او تکبر یې وکې لوی تکبر ، بیا ما دوی وبلل په ډاګه ، بیا ما دوی ته

أَعْلَنْتُ لَهُمْ وَأَسْرَرْتُ لَهُمْ إِسْرَارًا ۝٩ فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ

په ښکاره وویل اوپټ می ورته وویل په پټه سره ، نو ما وویل بخښنه غواړئ درب

إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا ۝١٠ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا ۝١١ وَيُمْدِدْكُمْ

خپل څخه بیشکه هغه دی بخښنی والا ، را وبه لیږي دآسمان څخه په تاسی باران ، او مدد به وکړی

بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَارًا ۝١٢

ستاسی په مال او په اولاد باندی او جوړ به کړی تاسی دپاره باغونه او جوړ به کړی تاسی دپاره نهرونه ،

مَا لَكُمْ لَا تَرْجُونَ لِلَّهِ وَقَارًا ۝١٣ وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا ۝١٤ أَلَمْ تَرَوْا

څه سو ی دی تاسی لره ولی امید نه ساتی دالله دلویی ،اوهغه پیداکړی یاست تاسی په قسم قسم سره ، آیاتاسی نه وینی،

كَيْفَ خَلَقَ اللَّهُ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ طِبَاقًا ۝١٥ وَجَعَلَ الْقَمَرَ

چی څنګه پیدا کړی دی الله اووه آسمانونه په یوبل سربیره ، او جوړه کړی یې ده سپوږمی

فِيهِنَّ نُورًا وَجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا ۝١٦ وَاللَّهُ أَنْبَتَكُمْ مِنَ

په دی کی رڼا او جوړ کړی دی لمر څراغ بل ، او الله ﷻ شنه کړی دی تاسی ته

الْأَرْضِ نَبَاتًا ۝١٧ ثُمَّ يُعِيدُكُمْ فِيهَا وَيُخْرِجُكُمْ إِخْرَاجًا ۝١٨ وَاللَّهُ

دمځکی څخه په شنه کولو ،بیابه بیرته ورګرځوی تاسی په دی کی او را وبه باسی تاسی په را ایستلو ، او الله

جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ بِسَاطًا ۝١٩ لِتَسْلُكُوا مِنْهَا سُبُلًا فِجَاجًا ۝٢٠

جوړه کړی ده تاسی دپاره مځکه فرش ، چی ولاړ سی په دی کی په پراخو لارو باندی ،

قَالَ نُوحٌ رَبِّ إِنَّهُمْ عَصَوْنِي وَاتَّبَعُوا مَنْ لَمْ يَزِدْهُ مَالُهُ

وویل نوح ﷺ ای زما ربه ! دوی زما خبره ونه منله او وې منله دهغوی چی په مال اولاد کی

وَوَلَدُهٗٓ اِلَّا خَسَارًا ﴿۲۱﴾ وَمَكَرُوْا مَكْرًا كُبَّارًا ﴿۲۲﴾ وَقَالُوْا لَا تَذَرُنَّ

یی نور زیات کی تاوان ، او تدبیر یی وکی تدبیر لوی ، او ویی ویل هیڅکله مه پرېږدی ،

اٰلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَّلَا سُوَاعًا ۙ وَّلَا يَغُوْثَ وَيَعُوْقَ

خپل معبودان او مه پرېږدی ود اونه سواع ، اونه یغوث ، او یعوق

وَنَسْرًا ﴿۲۳﴾ وَقَدْ اَضَلُّوْا كَثِيْرًا ۚ وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا ضَلٰلًا ﴿۲۴﴾

او نسر ، اوبی لاری یی کړل ډیر او ته مه زیاتوه ظالمان مګر بی لاری کیدل .

مِمَّا خَطِيْٓـٰٔتِهِمْ اُغْرِقُوْا فَاُدْخِلُوْا نَارًا ۙ فَلَمْ يَجِدُوْا لَهُمْ مِّنْ

څه هغوی په خپلو ګناهونو سره ډوب کړل سول نو داخل سول اور ته ، نو بیا کی پیدا هغوی دځان

دُوْنِ اللّٰهِ اَنْصَارًا ﴿۲۵﴾ وَقَالَ نُوْحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْاَرْضِ

دپاره دالله ﷻ څخه ماسوا څوك مدد ګار ، او وویل نوح ﷺ ای ربه ! مه پرېږدی په مځکه

مِنَ الْكٰفِرِيْنَ دَيَّارًا ﴿۲۶﴾ اِنَّكَ اِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوْا

دکافرانو یو کور وسیدونکی ، بیشکه ته که پرېږدی دوی ګمراه به کړی

عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوْٓا اِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴿۲۷﴾ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ

بندګان ستا او نه به زیږوی مګر فاجران کافران ، ای ربه ! معاف کړی ما

وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَّلِلْمُؤْمِنِيْنَ

او زما مور او پلار او څوك چی داخل سی زما کور ته ایماندار اوټول مؤمنان سړی

وَالْمُؤْمِنٰتِ ۭ وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا تَبَارًا ﴿۲۸﴾

او مؤمنانی ښځی او زیاتوه په ګناهګارو باندی دا برباد کیدل .

لنډتفسیر: مونږ نوح ﷺ دده قوم طرف ته (پیغمبر جوړ کړی) ولیږی چی ته خپل قوم (دکفر دوبال څخه) وبیروه مځکی دهغه څخه چی په دوی دردناك عذاب راسی (یعنی دوی ته ووایه چی که ایمان مو را نه

وړی نو په تاسی به دردناك عذاب راسی برابره خبره ده که دنیوی وی یعنی طوفان یا اخروی وی یعنی دوږخ غرض داچی) هغوی (خپل قوم ته) وویل چی ای زماقومه! ستاسی دپاره صفا صفا بیرونکی یم (اووایم) چی تاسی دالله ﷻ عبادت (یعنی توحید اختیار) کی اودهغه څخه بیره کوی اوزما خبره ومنی نو هغه به ستاسی گناهونه معاف کړی (دمِنْ ذُنُوبِكُمْ تحقیق په سورة الاحقاف کی تیرسوی دی) اوتاسی ته به تر مقرر وخت (یعنی دمرګ تروخت) پوری (بی دعذاب څخه) مهلت درکی (یعنی په ایمان نه راوړو چی دمرګ څخه مخ ته دکوم عذاب وعده کول کیږی که ایمان راوړی نو دغه عذاب به رانه سی اوباقی دمرګ دپاره چی کوم) دالله ﷻ مقرر کړی وخت دی (هغه) چی هرکله راسی نو واپس کیږی به نه (یعنی دمرګ راتلل خو په هرحال کی ضروری دی ، په ایمان کی هم اوپه کفرکی هم ، لیکن په دواړو حالتونوکی دومره فرق دی چی په یوحالت کی به داخرت دعذاب څخه علاوه په دنیاکی هم عذاب وی اوپه یوحالت کی به ددنیا اواخرت دواړو عذابونو څخه محفوظ اوسیږی) څه ښه به وای که تاسی (په دی خبرو) پوهیدی (هرکله چی تراوږدی مودی پوری دده ﷻ دنصیحتونوڅه اثر په قوم ونه سونو) نوح (ﷺ حق تعالی ته) دعا (اوالتجا) وکړه چی ای زماپروردگاره! ماخپل قوم دشپی هم اودورځی هم (دحق دین طرف ته) راوبلی ، نو زماپه بللو باندی (ددین څخه) نوره زیاته تیښته کوی او (دغه تښتیدل داسی چی) ما هر کله چی دوی (دحق دین طرف ته) را وبلل چی (د دوی دایمان په سبب) ته دوی وبخښی نو دغوخلکو خپلی گوتی په غوږونوکی ورکړی (چی حق خبره گرسره وانه وری او دا دنفرت انتهاده) او (دارنگه دانتهایی بغض څخه دوی) خپل کالی (پرځان) را ټول کړی (چی حق خبره کوونکی هم ونه وینو اوویونکی هم دوی ونه وینی) او (دوی په خپل کفر اوانکار باندی) اصرار وکی او (زما داطاعت څخه یی) زیاته درجه تکبر وکی (مگرسره ددی نفرت اوتکبر څخه) بیا (هم مادوی ته په مختلفو طریقوسره نصیحت وکی چنانچی) مادوی (دحق دین طرف ته) په لوړ اواز سره را وبلل (مراد ددی څخه خطاب اوعام وعظ دی ، په کوم کی چی عادتًا اوازلوړوی) بیامادوی (دخاص خطاب په طور) په ډاگه هم پوه کړل اودوی می بالکل په پټه هم پوه کړل (یعنی څومره طریقی چی دنفع کیدی سوی په ټولو باندی می پوه کړل غرض داچی په اوقاتوکی هم عموم وسولکه چی فرمایی ، لَیْلاً وَّنَهَارًا او په کیفیاتوکی هم لکه چی فرمایی ، دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا الخ) او (په دی پوهولوکی) ما (دوی ته دا) وویل چی دخپل پروردگار څخه بخښنه وغواړی (یعنی ایمان راوړی چی گناه مووبخښل سی) بیشکه هغه بخښنی والادی (که تاسی ایمان راوړی نوعلاوه داخرت دنعمتونو څخه) چی (مغفرت دی، دنیوی نعمتونه به هم تاسی ته درکړی چنانچی) په کثرت سره به پرتاسی باران راولیږی اوستاسی په مال او اولادکی به تاسی ته ترقی درکړی اوستاسی دپاره به باغونه ولگوی اوستاسی دپاره به نهرونه جاری کی (ددی نعمتونوپه ذکرسره شاید دا فائده وی چی په اکثرو طبیعتونوکی دنقد اوژر حاصلیدونکو شیانو طلب زیات دی ، په در منثورکی دقتاده قول دی چی دغه خلگ ددنیا زیات حریصان وه ، په دی وجه یی دا وفرمایل ، اوپه دی دا شبهه نه سی کیدی چی ډیر واره دا دنیوی کارونه په ایمان اواستغفار نه مرتب کیږی، خبره دا ده چی یاخو به دا خاص وعده ددغو خلگو

دپاره وي ، اوکه عامه وي نو قاعده دا ده چې تر موعود افضل يو شي حاصليدل هم دوعدې پوره کول وي بلکې تروعدې زيات، نو په کامل ايمان باندې روحاني خوشحالي اوقناعت اورضا بالقضا ضرور کيدې سي کومه چې ددې اشياوو څخه هم افضله اواکمله ده، بلکه دټولې دنيا دمال اسباب اودټولو دې ذکرسوو شيانو اصلي مقصد خوهم دزړه سکون اوارام دی، مخ ته دحضرت نوح ﷺ دکلام تتمه ده يعني مادوي ته دا هم وويل چې) تاسې ته څه وسوه چې تاسې دالله ﷻ دعظمت معتقد نه ياست حال دا دی چې (مقتضيات داعتقاد دعظمت موجود دي چې) هغه تاسې په قسم قسم سره جوړ کړاست (چې دعناصرو اربعه وو څخه يې ستاسې غذا بيا دغذا څخه نطفه دنطفې څخه ورروسته علقه اومضغه اونور دمختلفو صورتونو څخه دتيريدو څخه ورروسته يې درڅخه مکمل انسان جوړکې، دادليل خوپه خپله دانسان دذات سره متعلق وو، مخ ته آفاقي (عمومي) دليل فرمايي چې) آياتاسې ته معلومه نه ده چې الله ﷻ څه رنګه اووه آسمانونه لاندې باندې پيدا کړل اوپه دې کې يې سپوږمې (د) رڼا (شي) جوړکې اولمر يې (په مثل) څراغ (روښانه) جوړکې (اوسپوږمۍ که څه هم په ټولو آسمانونو کې نه ده، مګر فِيهِنَّ يې په اعتبار دمجموعي وفرمايل اوددې په حقله څه بحث په سورة فرقان کې تير سوی دی) اوالله ﷻ تاسې دمځکې څخه په يوخاص طورسره پيدا کړاست (ياخوپه دې طور سره چې حضرت ادم ﷺ دخاورې څخه جوړ سو، اوياپه دې طور چې انسان دنطفې څخه جوړسو اونطفه دغذا څخه اوغذا دعناصرو څخه جوړه سوه او په عناصروکې غالب اجزاء دخاورې دي) بيابه تاسې (نو دمرګ څخه) دغه مځکې ته بوځي او (په قيامت کې به بيا ددې مځکې څخه) تاسې دباندې راوباسي اوالله ﷻ ستاسې دپاره مځکه (په مثل دَ) فرش جوړه کړه چې تاسې ددې په پراخو لارو باندې ځی (دا ټول هغه کلام دی دکوم حکايت چې حضرت نوح ﷺ حق تعالٰى ته په طور دفرياد وکې او ټول حکايت يې عرض کې) نوح (ﷺ دا) وويل چې ای زما پروردګاره! دې خلګو زما داخبره ونه منله اووداسې خلګو پيروي يې وکړه دکومو مال اواولاد چې دوی ته زيات نقصان ورسوی (مراد ددغو خلګو څخه سرداران دي دکومو چې عوام اتباع کوی ، او دمال او اولاد دې سردارانو ته نقصان رسول په دې معنٰى دی چې مال اواولاد يې دسرکښۍ سبب جوړ سو) او (هغو چې دچا اتباع کړيده هغه داسې دي) کوموچې (دحق په ختمولوکې) لوی لوی تدبيرونه وکړل اوکومو چې (خپلو تابعينوته دا) وويل چې تاسې خپل معبودان هيڅکله مه پريږدې اومه (په خاص طورسره) ود اوسواع اويغوث اويعوق اونسر پريږدی (خصوصيت د دوی دذکر ځکه دی چې دابتان زيات مشهوروه) اودې (سردارانو) خلګ ډير (ولمسول) ګمراه (يې) کړل (دغه لوی مکر داګمراه کول دی) او (چونکې ماته ستاپه ارشاد ، لَنْ يُؤْمِنَ مِنْ قَوْمِكَ إِلَّا مَنْ قَدْ آمَنَ : څخه معلومه سوه چې دوی اوس ايمان نه راوړي ، په دې وجه دا دعا هم کوم چې) ددې ظالمانو ګمراهي نوره زياته کړې (چې داخلګ مستحق دهلاکت سی ، ددې څخه معلومه سوه چې مقصود ددعا کولو زيات ګمراه کيدل نه دی ، بلکه مستحق کيدل دهلاکت دی ، اوتحقيق ددې دعا په سورة يونس کې دموسٰى ﷺ په قصه کې تير سوی دی غرض دا چې انجام دهغه کسانو دا سو چې) دخپلو دغو ګناهونو په سبب هغوی غرق سول بيا (نو دغرقيدو څخه په برزخي

یا اخروی) دوزخ کی داخل سول اودخدای څخه ماسوا ددوی هیڅوك حمایتي نه سو اونوح (ﷺ دا هم وویل چی ای زما پروردگاره! دکافرانو څخه په مځکه باندی اوسیدونکی هم مه پریږدی (بلکه ټول هلاك کړی اودعموم هلاکت اوعمومی بعثت بحث په سورة صافات کی تیرسوی دی، مخ ته ددی دعا علت دی څکه چی) که ته دوی پرمخ دمځکی باندی پریږدی نو (موافق دارشاد دلَنْ يُؤْمِنَ الخ) داخلگ به ستا بندگان گمراه کړی او (مخ ته به هم) ددوی به فاجران اوکافران اولاد پیداکیږی (او کافرانوته دښراوو کولو څخه وروسته یی دمومنانو دپاره دعا وفرمایله چی) ای زما ربه ماته اوزما مور اوپلار ته اوکوم چی دمومن کیدوپه حالت کی زماکورته داخل سی دوی ته (یعنی اهل اوعیال په استثنا دبی بی اوکنعان) اوټولو مسلمانانو سړو اومسلمانانو ښځو ته بخښنه وکی او (چونکی مقصود په مقام کی ښرا ده دکافرانو دپاره اودمومنانو دپاره دعا محضی دمقابلی په مناسبت سره سوي ده ، په دی وجه بیا مضمون دښرا وطرف ته واپس سوي دی په کومه کی چی د ، لَاتَزِدِالظّٰلِمِیْنَ اِلَّاضَلٰلًا دمقصود تفسیر دی یعنی) ددی ظالمانو هلاکت نور زیات کی (یعنی چی د دوی دنجات هیڅ صورت پاته نه سی ، هلاك سی او دا مقصود وو ددی دعا څخه چی د دوی گمراهی زیاته سی اوپه ظاهره معلومیږی چی دنوح ﷺ والدین مومنان وه اوکه ددی خلاف ثابته سی نو دوالدینو څخه به مراد لری مور اوپلار وی ، اول یی دعا دڅان دپاره وکړه بیا داصولو دپاره بیا داهل او عیال دپاره بیا دعامو تابعینو دپاره)

معلومات اومسئلي : يَغْفِرْ لَكُمْ مِنْ ذُنُوبِكُمْ : حرف مِن اکثر دتبعیض یعنی دجزئیت ښوولو دپاره راځی ، که دا معنی واخستل سی نو مطلب دا دی چی په ایمان راوړوسره به ستاسی هغه گناهونه معاف سی دکومو تعلق چی دحقوق الله سره دی څکه چی دحقوق العباد دمعافی دپاره دایمان راوړلو څخه وروسته هم داشرط دی چی کوم حقونه دادا کولو قابل وی هغه اداکی ، لکه مالی واجبات اوکوم چی قابل دادائیگی نه وی ، لکه په ژبه یالاس سره یی چاته ازار رسولی وی دهغه معافی وغواړی ، په حدیث کی چی کوم دا راغلی دی چی په ایمان راوړلو سره مخکنی ټول گناهونه معاف کیږی ، په دی کی دحقوق العباد ادائیگی یامعافی شرط ده اوځینی مفسرین فرمایی چی حرف دمن دلته زائددی اومراد دا دی چی په ایمان راوړلو سره به ستاسی ټول گناهونه معاف سی ، مگر دنورو نصوصوپه بناباندی مذکوره شرط په هر حال ضروری دی .

وَيُؤَخِّرْكُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُسَمًّى : دَاَجَلْ معنی موده ده اودمسمّٰی څخه مراد متعین سوی، مطلب دا دی چی که تاسی ایمان راوړی نوالله ﷻ به تاسی ته تردغه وخت پوری مهلت درکی کوم چی ستاسی دپاره مقرر اومتعین دی ، یعنی دعمر دمقرری مودی څخه مخکی به تاسی په څه دنیوی عذاب نیولو سره نه هلاکوی ، ددی مطلب دا سو چی که ایمان نه راوړی نو دا هم ممکنه ده چی دمقرری مودی څخه مخکی په تاسی عذاب راولی اوهلاك موکی ، معلومه سوه چی دعمرپه مقرره وخت کی ځینی وخت څه شرط وی چی که ده فلانی کاروکی نو دده عمربه مثلاً اتیا کاله وی اوکه ویی نه کی نوپه شپیته کاله کی به په ده مرگ مسلط سی ، یاپه منفی کارونوکی دالله ﷻ په ناشکری سره عمر کمیدل اوپه شکر گذاری سره زیاتیدل ،

دغه شان ځینی عملونه، مثلاً دمور اوپلار په اطاعت اوخدمت باندی په عمرکی برکت اوترقی کیدل کوم چی په صحیح احادیثو سره ثابته ده، ددی هم دا مطلب دی.

(دانسان په عمرکې دکموالې اوزیاتووالې بحث)

ددی تشریح په تفسیرمظهری کی دا ده چی دتقدیر اوقضاءِ الٰهی دوه قسمونه دی، یوقطعی بل معلق یعنی کوم چی په څه شرط پوری معلق وی، یعنی په لوحِ محفوظ کی مثلاً داسی ولیکل سی چی فلانی سړی که دالله ﷻ اطاعت وکی نو دهغه عمربه مثلاً اویا کاله وی اوکه یی ونه کی نوبه پنځوسو کالوکی به مړکیږی، په دی دوهم قسم تقدیرکی په شرط نه پیدا کیدو سره تبدیلی کیدی سی، په قرآن کریم کی ددی دواړو قسمونو دقضا اوتقدیر ذکرپه دی آیت کی دی: يَمْحُوا اللهُ مَا يَشَاءُ وَيُثْبِتُ وَعِنْدَهُ أُمُّ الْكِتَابِ: یعنی الله ﷻ په لوح محفوظ کی تر میم اوتبدیلی محو اواثبات کوی اودالله ﷻ سره دی اصل کتاب، داصل کتاب څخه مراد هغه کتاب دی، په کوم کی چی تقدیر مبرم لیکل سوی دی، ځکه چی په تقدیر معلق کی چی کوم شرط لیکل سوی دی، الله ﷻ ته دمخکی څخه دامعلومه ده چی دغه سړی به دا شرط پوره کوی یابه یی نه پوره کوی، په دی وجه په تقدیر مبرم کی قطعی فیصله لیکل کیږی.

دحضرت سلمان فارسی رضی الله عنه په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی، لاَ يَرُدُّ الْقَضَاءَ اِلاَّ الدُّعَاءُ وَلاَ يَزِيْدُ فِي الْعُمُرِ اِلاَّ الْبِرُّ (رواه الترمذی، مظهری) یعنی قضاءِ الٰهی هیڅ شی بغیر ددعا څخه نه سی ردکولی او دچاپه عمرکی زیاتی بغیر دوالدینو سره دنیکی څخه نه سی کیدی دبر معنٰی د دوی سره ښه سلوك کول دی اومطلب ددی حدیث دا دی چی په تقدیر معلق کی ددی عملونوپه وجه سره تبدیلی کیدی سی.

لنډه دا ده چی په دی آیت کی یی چی تر: اَجَلٍ مُسَمًّى پوری وروسته کول د دوی دایمان په راوړلو باندی موقوف کړی دی، دا د دوی دعمرپه باره کی دتقدیرِ معلق بیان دی، دکوم چی به الله ﷻ حضرت نوح ﷺ ته علم ورکړی وی، ددی په سبب سره دوی خپل قوم ته وښوول چی که تاسی ایمان راوړی نوکوم اصلی عمر چی ستاسی دپاره الله ﷻ مقرر فرمایلی دی، ترهغه پوری به تاسی ته مهلت حاصل سی، او په څه دنیوی عذاب سره به هلاك نه سی، اوکه ایمان رانه وړی نو ددغه اصلی عمرڅخه مخکی به دالله ﷻ عذاب تاسی هلاك کړی، اوداخرت عذاب به په دی صورت کی ددی څخه علاوه وی، مخ ته یی دا هم وښوول چی په ایمان راوړوبه دهمیشه دپاره دمرگ څخه نجات نه وی، بلکه په تقدیرِ مبرم کی چی کوم عمر ستاسی لیکل سوی دی، په هغه مرگ راتلل ضروری دی، ځکه چی الله ﷻ په خپل بالغ حکمت سره داعالم دنیا دائمی نه ده جوړه کړی، دلته هرشی فنا کیدل دحکمت تقاضاده، په دی کی په ایمان اواطاعت اوکفر اومعصیت سره څه فرق نه راځی، اِنَّ اَجَلَ اللهِ اِذَا جَاءَ لَا يُؤَخَّرُ: ددی بیان دی، مخ ته دحضرت نوح ﷺ دخپل قوم داصلاح اوایمان دپاره په مسلسل مختلف قسم کوششونوکی دلگیدو اودقوم دطرف څخه دده دمخالفت اوتکذیب بیان په تفصیل سره راغلی دی، په اخرکی دمایوسه کیدو اوښراوو کولو اودټول قوم په عذاب کی دغرقیدو ښوولو بیان دی.

دحضرت ابن عباس ﷺ څخه منقول دی ، چی حضرت نوح ﷺ ته دڅلویښتو کالوپه عمرکی نبوت ورکول سو اودقرآن دوضاحت مطابق دده عمر نهه نیم سوه کاله وو ، په دی ټوله اوږده وخت کی نه هیڅکله ده خپل کوشش پریښووی، نه هیڅکله مایوسه سو، دقوم دطرف څخه ورته قسم قسم تکلیفونه ورکول سول، په ټولو یی صبر کوی.

په روایت دضحاك دحضرت ابن عباس ﷺ څخه منقول دی چی دده قوم به دی دومره ووهی چی دی به راغوڅار سو نو په یو کمبله کی به یی ونغښتی ، په یوځای کی به یی واچوی او دابه یی وګڼله چی دی مړ سو ، مګر بیاچی به بله ورځ دی په هوش کی راغی نو بیابه یی هغوی دالله ﷻ طرف ته رابلل او دتبلیغ په کار کی به بیا شروع سو.

محمدبن اسحٰق دعبید بن عَمرو الیثی څخه روایت کړی دی چی ده ته داخبر رسیدلی دی چی دحضرت نوح ﷺ قوم دده مری ویپچله چی دی به بی هوښه سو اوکله چی به پرهوښ راغی نودا دعابه یی کوله ، رَبِّ اغْفِرْ لِقَوْمِىْ اِنَّهُمْ لاَ يَعْلَمُوْنَ : ای زما پروردګاره! زماقوم معاف کی ځکه چی دوی نه پوهیږی ، د دوی دیو نسل دایمان راوړلو څخه چی به نا امیده سو نو دا امید به یی کوی چی د دوی په اولادکی به څوك ایمان راوړی ، هغه نسل به هم تیر سو ، نو د دریم نسل څخه به یی دا توقع ساتله اوپه خپل منصبی فرضو کی به مشغول وو ، ځکه چی ددغو نسلونو عمرونه دومره اوږده نه وه څومره چی حضرت نوح ﷺ ته په طور دمعجزی ورکول سوی وو ، هرکله چی ددوی نسل په نسل تیر سو اوهر راتلونکی نسل داول څخه زیات شریر اوبدتر ثابت سونو حضرت نوح ﷺ درب العزت په بارګاه کی خپله شکایت پیش کی، په کومه کی چی یی وښوولہ چی مادوی ته شپه او ورځ، په جمع اویو یوته په ډاګه اوپه پټه کومه کومه طریقه چی دچا په لار کولو دپاره کیدی سوه ، هغه ټولی می اختیار کړی ، کله می دالله ﷻ دعذاب څخه وبیرول کله می ورته دجنت دنعمتونو ترغیب ورکی ، او دا هم چی دایمان اونیك عمل په برکت سره به تاسی ته په دنیا کی هم فراخی اوخوشحالی نصیب سی ، کله می ورته دالله ﷻ دکامل قدرت نښی پیش کړی پوه می کړل ، مګر دوی یوه وانه وریده ، بل طرف ته الله ﷻ ده ته دا هم وښووله چی ستاپه ټول قوم کی چی دکومو ایمان راوړل وو ، هغوی ایمان راوړی ، مخ ته په دوی کی نورڅوك ایمان نه سی قبلولی ، د ، اَنَّهُ لَنْ يُّؤْمِنَ مِنْ قَوْمِكَ اِلَّا مَنْ قَدْ آمَنَ : هم دغه مطلب دی ، دغه وخت دحضرت نوح ﷺ په ژبه دښراوو کلمی راغی چی مخ ته یی ذکر دی ، دکوم په نیتجه کی چی ټول قوم غرق اوهلاك سو ، بغیر دمومنانو څخه کوم چی یی په یوه کښتی کی سپاره کړی وه، دقوم دپوهولو په سلسله کی حضرت نوح ﷺ دوی ته دالله ﷻ څخه داستغفار کولو یعنی دایمان راوړو څخه وروسته دالله ﷻ څخه دمعافی غوښتو دعوت ورکی او ددی دنیوی نفع یی داوښووله چی ، يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا او: يُمْدِدْكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ : په دی سره اکثرو عالمانو استدلال کړی دی چی دګناهونو څخه په توبه او استغفار سره الله ﷻ باران پروخت اوځای برابر اوروی ، قحطی نه راځی اوپه مال اوپه اولاد کی په استغفار سره برکت کیږی ، خوکله کله دځه حکمت الهی په تقاضا سره ددی خلاف هم کیږی، مګردالله ﷻ عادت دعامو خلګوسره دا دی چی په توبه ، په استغفار

اوترك معصيت سره ددنيا بلاګانې واپس کيږي ، دحديث په روايتونو سره هم ددې تائيد کيږي .

أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللهُ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا * وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا : په دې آيت کې يې د دليلونو دتوحيد اوقدرت په سلسله کې داوو آسمانونو په يوبل سربيره کيدل اوبياپه دې کې دسپوږمۍ نورکيدل ارشاد سوی دی په کوم کې چې دلفظ د: فِيهِنَّ څخه په ظاهره دا ګڼل کيږي چې سپوږمۍ دآسمانونوپه جرم کې دننه داخله ده ، نن صبا دنوو تحقيقاتو او دمشاهداتو څخه ددې خلاف دامعلوميږي چې سپوږمۍ دآسمانونو څخه ډيره لاندې په فضاء کې ده کم ته چې نن صبا خلا ويل کيږي، ددې مفصل تحقيق دسورة الفرقان دآيت ، جَعَلَ فِي السَّمَاءِ بُرُوجًا وَجَعَلَ فِيهَا سِرَاجًا وَقَمَرًا مُنِيرًا : په تفسير کې تيرسوی دی .

دقوم څخه دشکايت په سلسله کې يې وفرمايل وَمَكَرُوا مَكْرًا كُبَّارًا ، کبارا داکبر مبالغه ده چې معنی يې ډير لوی دی ، مطلب دا دی چې دوی ډيرلوی مکر وکی ، هغه دا وو چې په خپله خو يې تکذيب وکی ازارونه يې رسول دکلې غنډه شريران يې هم په ده پسې لګولي وه، په دې شکايت کې يې دکفارو دا قول نقل وفرمايې چې دوی په خپل مينځ کې معاهده وکړه چې ، لَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا : يعنی دخپلوبتانو خصوصًا ددې پنځو لويو بتانو عبادت مه پريږدی ، دا پنځه نومونه دی دپنځو بتانو.

امام بغوی رحمه الله نقل کړی دی چې دا پنځه سره په اصل کې دالله ﷻ نيك اوصالح بندګان وه کوم چې دحضرت ادم عليه السلام اوحضرت نوح عليه السلام په درميانی وخت کې تيرسوی وو، ډيرخلګ د دوی معتقد اوتابعدار وه ، دې خلګو د دوی دوفات څخه وروسته هم تر يوی زمانی پوری د دوی په نقش قدم عبادت او دالله ﷻ داحکامو اطاعت جاري وساتی ، څه زمانه وروسته شيطان دوی پوه کړل چې تاسې دخپلو کمو بزرګانو تابع عبادت کوی که دهغوی تصويرونه جوړکی اومخ ته يې کښيږدې نوستاسې عبادت به ډير مکمل سی ، خشوع او خضوع به حاصله سی، داخلګ په دې فريب کې راغلل اودهغوی مجسمې يې جوړې کړې ، په عبادت خانوکې په ايښوولو او د دوی په ليدو دبزرګانو په ياد تازه کيدو سره يوخاص کيفيت ورته محسوسيدل شروع سو، تردې چې په دې حال کې دا خلګ ټول په يو بل پسې مړه سول او بالکل نوی نسل د دوی په ځای راغی ، نوشيطان هغوی ته وويل چې ستاسې دبزرګانو خدای اومعبود هم بتان وه، هغوی به ددې عبادت کوی، ددې ځای څخه بت پرستې شروع سوه اوددې پنځو بتانو عظمت د دوی په زړونو کې چونکې دټولو څخه زيات ننوتلی وو، په دې وجه په خپل مينځ کې په وعده کې يې د دوی نومونه په خاص طور سره واخستل .

وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا ضَلَالًا : يعنی ددې ظالمانو ګمراهی نوره زياته کړې دلته دا شبهه نه سی کيدی چې دانبياء عليهم السلام فرضِ منصبی قوم ته هدايت کول دی ، حضرت نوح عليه السلام د دوی دګمراهی ښرا وی څنګه وکړې څکه چې حقيقت دا دی چې حضرت نوح عليه السلام ته الله ﷻ ددې خبر خو ورکړی وو چې اوس په دوی کې څوك نه مسلمانيږي ، په دې وجه د دوی ګمراهی اوپه کفر باندې مرګ خو يقينی وو، حضرت نوح عليه السلام د دوی دګمراهی زياتولو دعا څکه وفرمايله چې وخت يې ژر پوره سی اومړه سی هلاك سی .

مِّمَّا خَطِيْٓـٰٔتِهِمْ اُغْرِقُوْا فَاُدْخِلُوْا نَارًا : يعنى داخلگ دخپلو خطاگانو كفر اوشرك په وجه په اوبو كي غرق سول نو په يو اور كي داخل سول دامتضاد عذاب چي دوب په اوبو كي سول او ووتل اورته ، دالله ﷻ دقدرت څخه څه بعيده ده؟ اوظاهره ده چي دلته دجهنم اورخو مراد نه دى ځكه چي په هغه كي داخله خو دقيامت دحساب كتاب څخه به پس وى ، دابرزخي اوردى په كوم كي چي دداخليدوقرآن كريم خبر وركړى دى.

﴿ عذاب قبر دقرآن څخه ثابت دى ﴾

ددى آيت څخه معلومه سوه چي په عالم برزخ يعنى په قبركي داوسيدو په زمانه كي هم په مړو عذاب وى ددى څخه داهم ظاهره ده چي هركله په قبركي بدعملولره عذاب وى نو نيك عملولره به ثواب اونعمت وى په صحيح متواترو احاديثوكي دقبر دعذاب اوثواب كيدو بيان دومره زيات په وضاحت راغلى دى چي انكارنه سي ورڅخه كيدى په دى وجه په دى دامت اجماع او ددى اقرار داهل سنت والجماعت نښانه ده.

تمّت سورة نوح بحمد الله ليلة الاربعاء ۸ رجب سنه ۱۳۹۱ هجرى.

﴿ سورة الجن ﴾

سُوْرَةُ الْجِنِّ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانٍ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الجن په مكه نازل سو او په دى اته ويشت (۲۸) آيتونه او دوې (۲) ركوع گاني دى.

شروع كوم په نوم سره دخداى ﷻ چي ډير مهربانه نهايت رحم والا دى.

قُلْ اُوْحِيَ اِلَيَّ اَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ فَقَالُوْٓا اِنَّا سَمِعْنَا

ته ووايه چي ماته حكم راغلى چي واوريدى يوڅو كسانو دپيريانو څخه بيايى وويل چي مونږ اوريدلى دى

قُرْاٰنًا عَجَبًا ۙ﴿۱﴾ يَّهْدِيْٓ اِلَى الرُّشْدِ فَاٰمَنَّا بِهٖ ۭ وَلَنْ نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ

قرآن عجيبه ، چي ښيى نيكه لار نو مونږ يقين وربانده راوړو ، اوهيڅكله به شريك جوړ

اَحَدًا ۙ﴿۲﴾ وَّاَنَّهٗ تَعٰلٰى جَدُّ رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَّلَا وَلَدًا ۙ﴿۳﴾

نه كړو دخپل رب سره څوك ، او دا چي لوى دى شان درب زمونږ نه ده نيولى هغه بي بي او نه زوى ،

وَّاَنَّهٗ كَانَ يَقُوْلُ سَفِيْهُنَا عَلَى اللّٰهِ شَطَطًا ۙ﴿۴﴾ وَّاَنَّا ظَنَنَّآ اَنْ

او دا چي په مونږ كي بي وقوفو به په الله ﷻ لوى خبرى كولى ، اودا چي زمونږ خيال

لَّنْ تَقُوْلَ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ۙ﴿۵﴾ وَّاَنَّهٗ كَانَ رِجَالٌ

وو چي هيڅكله به ونه وايى انسانان او پيريانان په الله ﷻ باندى دروغ ، او دا چي وو سړى

مِّنَ الْإِنْسِ يَعُوْذُوْنَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوْهُمْ رَهَقًا ﴿٦﴾ وَّأَنَّهُمْ

دانسانانو چي پناه به يي اخسته په سرو دپيرانو نو زياتول به يي هغوى لره غرور ، او دا

ظَنُّوْا كَمَا ظَنَنْتُمْ أَنْ لَّنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ أَحَدًا ﴿٧﴾ وَّأَنَّا لَمَسْنَا السَّمَآءَ

چي دهغوى هم خيال وو لكه چي ستاسى خيال وو چي هيڅكله به راپورته نه كړي الله ﷻ يو سړى ، اودا چي

فَوَجَدْنٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيْدًا وَّشُهُبًا ﴿٨﴾ وَّأَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ

مونږ تلاش وكړ د آسمان پس بيا مو پيدا كړ مونږ هغه ډك دڅوكيدارانو سختو څخه اودلمبو څخه ، اودا چي

مونږ به كښينستو د آسمان ،

مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ ۖ فَمَنْ يَّسْتَمِعِ الْاٰنَ يَجِدْ لَهٗ شِهَابًا

په ځايونو كي دپاره داوريدو ، نو څوك چي اوس اوريدل غواړي هغه به پيدا كي دځان دپاره

رَّصَدًا ﴿٩﴾ وَّأَنَّا لَا نَدْرِيْٓ أَشَرٌّ أُرِيْدَ بِمَنْ فِي الْأَرْضِ أَمْ أَرَادَ بِهِمْ

يوه لمبه تياره ، او دا چي مونږ نه پوهيږو چي بده اراده سوى ده دمځكي په خلقو يا اراده كړى ده د دوى

رَبُّهُمْ رَشَدًا ﴿١٠﴾ وَّأَنَّا مِنَّا الصّٰلِحُوْنَ وَمِنَّا دُوْنَ ذٰلِكَ ۖ كُنَّا

دپاره رب د دوى دلار پيدا كولو ، او دا چي ځيني په مونږ كي نيكان دي او ځيني ددې څخه ماسوا دي ، وو مونږ

طَرَآئِقَ قِدَدًا ﴿١١﴾ وَّأَنَّا ظَنَنَّآ أَنْ لَّنْ نُّعْجِزَ اللّٰهَ فِي الْأَرْضِ وَلَنْ

په ډيرو لارو باندى خپاره سوى ، اودا چي زمونږ خيال راغى چي مونږ به خلاص نه سو د الله ﷻ څخه په مځكه كي

نُّعْجِزَهٗ هَرَبًا ﴿١٢﴾ وَّأَنَّا لَمَّا سَمِعْنَا الْهُدٰٓى اٰمَنَّا بِهٖ ۖ فَمَنْ يُّؤْمِنْ

او ور څخه خلاص به نه سو ، په تيښته سره ، اودا چي هركله مونږ واوريدى هدايت مونږ ومنى ، نو څوك چي ايمان

بِرَبِّهٖ فَلَا يَخَافُ بَخْسًا وَّلَا رَهَقًا ﴿١٣﴾ وَّأَنَّا مِنَّا الْمُسْلِمُوْنَ

راوړى په رب خپل ، نه به ېيريږي د نقصان څخه او نه د زبردستى څخه ، اودا چي په مونږ كي ځيني مسلمانان دي

وَمِنَّا الْقٰسِطُوْنَ ۭ فَمَنْ اَسْلَمَ فَاُولٰۗىِٕكَ تَحَرَّوْا رَشَدًا ﴿١٤﴾ وَاَمَّا

اوځيني بې انصافه ، نو چا چې اسلام راوړی پس هغوی فکر وکی دنیکی لاری ، اوخوک

الْقٰسِطُوْنَ فَكَانُوْا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا ﴿١٥﴾ وَّاَنْ لَّوِ اسْتَقَامُوْا عَلَي الطَّرِيْقَةِ

چې بې انصافه دي هغوی سول د دوزخ لرګی ، او حکم راغی چې که خلق برابرسی په لاره باندی

لَاَسْقَيْنٰهُمْ مَّاۗءً غَدَقًا ﴿١٦﴾ لِّنَفْتِنَهُمْ فِيْهِ ۭ وَمَنْ يُّعْرِضْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهٖ

نو مونږ به وچیښو ورته اوبه په مرتیاسره چې د دوی آزمائش وکی په دی کی اوخوک چې مخ واړوی دیاد څخه درب خپل

يَسْلُكْهُ عَذَابًا صَعَدًا ﴿١٧﴾ وَّاَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ اَحَدًا ﴿١٨﴾

نو به غورځوو دی په عذاب لوی ختونکی کی ، اودا چې مسجدونه دالله دیاد دپاره دی نو مه بولی دالله سره بل څوک

وَّاَنَّهٗ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللّٰهِ يَدْعُوْهُ كَادُوْا يَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِ لِبَدًا ﴿١٩﴾

او دا چې کله ودریدی دالله بنده چې هغه وبولی نو خلق په ده باندی سی پریوتونکی ،

قُلْ اِنَّمَآ اَدْعُوْا رَبِّيْ وَلَآ اُشْرِكُ بِهٖٓ اَحَدًا ﴿٢٠﴾ قُلْ اِنِّىْ لَآ اَمْلِكُ

ته ووایه زه خو بلم بس خپل رب او نه شریکوم دهغه سره څوک ، ته ووایه زما په اختیار کی نه دی

لَكُمْ ضَرًّا وَّلَا رَشَدًا ﴿٢١﴾ قُلْ اِنِّىْ لَنْ يُّجِيْرَنِيْ مِنَ اللّٰهِ اَحَدٌ ڏ

ستاسی بد او نه په لاری کول ، ته ووایه ما به خلاص نه کړی دالله دلاسه څوک ،

وَّلَنْ اَجِدَ مِنْ دُوْنِهٖ مُلْتَحَدًا ﴿٢٢﴾ اِلَّا بَلٰغًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِسٰلٰتِهٖ

او بیا به زه پیدا نه کړم دهغه څخه ماسوا ځای دپناه ، مګر رسول دالله دطرف څخه او دهغه پیغام راوړل

وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاِنَّ لَهٗ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ

اوخوک چې ونه مني حکم دالله او دهغه درسول نو ده ته اور دی د دوزخ وسیږي به په کی همیشه

اَبَدًا ﴿٢٣﴾ حَتّٰٓي اِذَا رَاَوْا مَا يُوْعَدُوْنَ فَسَيَعْلَمُوْنَ مَنْ اَضْعَفُ

، تردی چې کله ووینی هغه چې وعده یې ورسره سوی ده نو پوه به سی چې دچا مددګار کمزوری دی

نَاصِرًا وَّاَقَلُّ عَدَدًا ﴿۲۴﴾ قُلْ اِنْ اَدْرِیْٓ اَقَرِیْبٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ

او په شمیر کې کم ، ته ووایه چې زه نه پوهیږم چې نژدې دی دکوم چې تاسې سره وعده سوې ده

اَمْ یَجْعَلُ لَهٗ رَبِّیْٓ اَمَدًا ﴿۲۵﴾ عٰلِمُ الْغَیْبِ فَلَا یُظْهِرُ عَلٰی غَیْبِهٖٓ

یا به مقرر کړي هغه زما رب لیرې زمانه ، پوه په غیبو نو نه ظاهروي خپل غیب هیچاته

اَحَدًا ﴿۲۶﴾ اِلَّا مَنِ ارْتَضٰی مِنْ رَّسُوْلٍ فَاِنَّهٗ یَسْلُكُ مِنْ بَیْنِ

، مګر کوم چې خوښ کړي یو رسول ، نو هغه چلوي دده په مخکې

یَدَیْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ رَصَدًا ﴿۲۷﴾ لِّیَعْلَمَ اَنْ قَدْ اَبْلَغُوْا رِسٰلٰتِ رَبِّهِمْ

او دده په وروسته چوکیداران ، چې معلوم کړي چې دوی ورسوي پیغام درب خپل

وَاَحَاطَ بِمَا لَدَیْهِمْ وَاَحْصٰی كُلَّ شَیْءٍ عَدَدًا ﴿۲۸﴾

او په واک کې یې راوستي دي هغه چې د دوی سره دي او په حساب کې یې دي دهر شي شمیر.

لنډتفسیر: شان نزول: دآیتونو دتفسیر څخه مخکې په یوڅو واقعاتو پوهیدل په کار دي دکومو ضرورت چې په تفسیر کې پیښیږي ، اوله واقعه دنبی کریم ﷺ دبعثت څخه مخکې به شیطانان آسمان ته رسیدل او دملائکو خبرې به یې اوریدې ، دده ﷺ دبعثت څخه وروسته دوی دشهاب ثاقب په ذریعه ددې اوریدو څخه منع سول او ددې حادثې دتحقیق په ضمن کې دا پیریان دوی ته ورسیدل لکه چې په سورة احقاف کې تیرسوې دي ، دوهمه واقعه دجاهلیت په زمانه کې عادت وو چې کله به په یو ځنګل یابیابان کې دسفر په دوران دقیام کولو نوبت راتلی نو په دې عقیده سره چې دپیریانو سرداربه زمونږ حفاظت کوي دا الفاظ به یې ویل ، اَعُوْذُ بِعَزِیْزِ هٰذَا الْوَادِیْ مِنْ شَرِّ سُفَهَآءِ قَوْمِهٖ : یعنی زه ددې ځنګل په سردار سره پناه اخلم دده دقوم دبې وقوفانو شریرانو څخه ، دریمه واقعه په مکه مکرمه کې دده ﷺ په ښراوو سره قحط راغلی وو او ترڅو کاله پورې وو ، څلورمه واقعه هرکله چې دوی ﷺ داسلام دعوت شروع کې نومخالفو کفارو د دوی خلاف جمع جوړه کړه او دوی یې په واک کې واخستل اولنی دوی واقعې دتفسیر درِ منثور څخه او آخري دوی دتفسیر ابن کثیر څخه را اخستل سوي دي.

ته (دې خلګوته) ووایه چې ماته ددې خبرې وحی راغلې ده چې دپیریانو یوې ډلې قرآن واوریدی بیا (خپل قوم ته بیرته ولاړې) هغوی وویل چې مونږ یو عجیبه قرآن اوریدلی دی کوم چې نیکه لار ښیي ، نو مونږ ایمان په راوړی (قرآن والې خو یې دمضمون څخه معلوم سو او عجیب والې یې ددې څخه چې ددې

مشابه كلام دبشر نسته) اومونږ به (اوس) دخپل رب سره څوك هيڅكله شريك نه جوړوو (دابيان دی دامَنّا به) او (دوی ددی مضامينو هم په خپل مينځ کی ذکروکی کوم چی لاندی راغلی دی اوهغه مضامين دا دی چی) زمونږ دپروردګار لوی شان دی هغه نه چا ته خپله ښځه جوړه کړي ده اونه اولاد (ځکه چی داسی کيدل عقلاً محال دی دابيان دی دلَنْ نُشْرِكَ) اوپه مونږکی چی کوم احمقان سوی دی هغوی دالله ﷻ په شان کی دحدڅخه زياتی سوی خبری کولی (مراد ددی څخه دشرك كلمات دښځی او د اولاد داثبات او نورو دی) او زمونږ (مخکی) داخيال وو چی انسانان اوپيريان هيڅکله هم دخدای په شان کی دروغ خبره نه کوی (ځکه چی دلويی بی باکی خبره ده، په دی کی يی وجه دخپل مشرك كيدو بيان کړه چی چونکی اکثرو پيريانو او انسانانو به شرك كوی ، مونږ ګڼله چی دخدای په شان کی به دومره خلګو په درواغو اتفاق نه وی کړی ، بس مونږ هم دغه طريقه اختيار کړه ، حال دا دی چی نه مطلق دخلګو اتفاق څه دليل دحقانيت دی اونه دهر اتفاق اتباع عذردی او دا ذكر سوی شرك خومشترك وو) او (يوشرك خاص وو دځينو سړيانو سره په كوم سره چی به دپيريانو كفر نور زياتيدی هغه دا چی) ډير خلګ دانسانانو څخه داسی وه چی هغوی به په جناتوکی دځينو څخه پناه اخسته نو هغو انسانانو ددغو پيريانو بد دماغی نوره زياته کړه (چی هغوی په دی وهم کی اخته سول چی مونږ دپيريانو سرداران خو دمخه دومره نه وو اوس انسان هم مونږ دومره لوی ګڼی ، بس په دی سره يی بد دماغی زياته سوه اوپه كفر اوعناد نور زيات اصرار كوونكی سول تر دی پوری دتوحيد په حقله مضمون وو) او (مخ ته دبعثت يعنی دقيامت په حقله ی يعنی دی پيريانو په خپل مينځ کی داتذکره هم وکړه چی) څنګه تاسی داخيال کړی وو داسی انسانانو هم خيال کړی وو چی الله ﷻ به څوك دوباره ژوندی نه کی (مګردا مضمون هم غلط ثابت سو او دبعثت حق کيدل معلوم سول) او (مخ ته درسالت په حقله مضمون دی يعنی دی پيريانوپه خپل مينځ کی دا ذکر هم وکی چی) مونږ دآسمان (دخبرو څخه دتير عادت موافق) تلاش كول وغوښتل نو مونږ دا دسختی پهری (يعنی محافظو ملائکو) اوشغلو څخه (دکومو په ذريعه چی حفاظت کول کيږی) ډك پيداكی (يعنی اوس پهره په ودريده چی يو پيری آسمانی خبر نه کی پيدا اوکوم چی ورځی په شهاب ثاقب سره ويشتل کيږی) او(ددی څخه مخکی به) مونږ دآسمان (دخبر اوريدو) په موقعوکی د (خبر) اوريدو دپاره کښينستلو (او دا موقعی برابره خبره ده که دآسمان اجزاء وی يادهوا يادڅه خلاء داجزاوو څخه وی ، کوم چی آسمان ته نژدی وی اوپيريان دخپل لطافت اوعدم ثقل په وجه په هغه مستقر کيدی سی لکه چی ځينی مرغان په هواکی په روانی روانی کی ودريږی) نو څوك چی اوس اوريدل غواړی نو دځان دپاره به يوه تياره شغله پيدا کی (اودشهاب دبحث تحقيق دسورة حجرپه دوهمه ركوع كی تيرسوی دی ، دا مضمون درسالت په حقله دی ، مطلب دا دی چی نبی کريم ﷺ ته الله ﷻ رسالت ورکړی دی او ددفع دالتباس دپاره يی دکهانت دروازه بنده کړي ده او ددی خبرونو پټول او بنديدل سبب سو ددی پريانو درسيدو تاته لکه چی په اوله واقعه کی ذکر دی) او (مخ ته دذكر سوو مضامينو متممّات دی چی) مونږ نه پوهيږو چی (ددی نوی پيغمبر په مبعوث كولو سره) مخکی والاؤ ته څه تكليف رسول مقصود دی ياكه

د دوی رب دوی ته دهدایت کولو قصد فرمایلی دی (یعنی تکوینی مقصود درسول لیږلو معلوم نه دی ، ځکه چی درسول په اتباع سره رشد اوهدایت کیږی اوپه مخالفت سره یی مضرت اوعذاب راځی، او دراتلونکی اتباع اومخالفت مونږ ته علم نسته ، په دی وجه مونږ په دی نه پوهیږو ، چی دده په لیږلو سره قوم لره سزا ورکول مقصود دی یا ورته هدایت کوی شاید دا یی ځکه وویل چی دوی ته دخپل قوم اندازه وه چی ایمان راوړونکی به کوم وی اوهغوی به دسزامستحق سی اودارنګه په نفی دعلم غیب سره تقویت دی دتوحید دمضمون چی وګوری، ځینی خلګ دجناتو علم ته نسبت کوی ، مګر دوی ته دومره هم خبر نسته) او په مونږ کی (دمخکی ځخه هم) ځینی نیکان (راغلی) دی اوځینی بل شان (راغلی) دی (غرض) مونږ په مختلفو طریقو باندی وو (دغه شان ددی نبی په خبر اوریدو سره اوس هم په مونږ کی د دواړو طریقو خلګ موجود دی) او (زمونږ طریقه خو دا ده چی) مونږ پوه سو چی مونږ دمخکی (په یوه حصه) کی (په تللو سره) خدای نه سوعاجزه کولی اونه (بل ځای ته) تښتیدلی سوچی هغه عاجزه کو (دتښتیدو ځخه مراددمخکی ځخه علاوه آسمان اونوروته تښتیدل دی کوم چی دفی الارض دمقابلی ځخه معلومیږی لکه چی دا قول دالله ﷻ دی ، مَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ : شاید ددی ځخه هم مقصود بیرول وی چی که کفر وکو نو دخدای دعذاب ځخه نه سو بچ کیدی اودخپلومخکنیومختلفو طریقو په بیانولو سره شاید دا مقصود وی چی سره دحق واضح کیدو دځینو ایمان نه راوړل دحق په حق کیدوکی ځه شبهه نه سی کولی ځکه چی داسی خو دهمیشه ځخه را روانه ده) اومونږچی هرکله دهدایت خبره واوریده نومونږ خو په هغه یقین وکی نو (زمونږ په شان) چی کوم سړی په خپل رب ایمان راوړی نو دهغه سره به نه دځه کمی بیره وی او نه دزیاتی (کمی دا چی دهغه ځه نیکی به دلیکلو ځخه پاته نه سی اوزیاتی دا چی ځه ګناه یی زیاته ولیکل سی ، شاید مقصودپه دی سره ترغیب وی) اوپه مونږکی ځینی خو (په دی مضامینو دبیری اوترغیب پوه سول) مسلمانان (سوی) دی اوځینی په مونږکی (په تیره طریقه) بی لاری دی ، نوکوم سړی چی مسلمان سو هغه دخیر لار ولټوله (په کومه چی به ثواب مرتب سی) اوځوك چی بی لاری دی هغه د دوږخ خشاك دی (تردی ځای پوری خبره دجناتو ختمه سوه کومه چی معمول دی دقالوا) او (مخ ته دَاُوحِیَ اِلَیَّ نورمعمولات دی یعنی ماته ددی مضامینوهم وحی راغلی ده یو دا چی) که دا (دمکی) خلګ په (سیده) لاری قائمیدی نو مونږ به دفراغت په اوبو سره سیراب کړی وای چی په هغه کی ددوی امتحان وکی (چی دنعمت شکر ادا کوی اوکه ناشکری اونافرمانی کوی، مطلب داچی که دمکی خلګو شرك نه کولی دکوم مذمت چی لوړپه ضمن دکلام دجناتوکی راغلی دی نوپه دوی به قحطی نه وای مسلطه سوی لکه چی په دریمه واقعه کی یی ذکر دی ، مګر دوی په ځای دایمان راوړو مخ واړوی ، په دی وجه په قحطی کی اخته سول) او (دکفر په عذاب کی دمکی والاؤ ځه تخصیص نسته بلکه) کوم سړی چی دخپل پروردګار دیادو (یعنی ایمان اواطاعت) ځخه روی ګردانی کوی الله ﷻ به هغه په سخت عذاب کی داخل کړی او (په دغه وحی سوو مضامینوکی یو دا دی چی) ځومره سجدی دی هغه ټولی دخدای حق دی (یعنی دا جائز نه دی چی ځینی سجدی الله ﷻ ته وسی اوځینی غیر الله ته وسی لکه چی مشرکینو به

کولی، نو دالله ﷻ سره دبل چاعبادت مه کوی (په دی مضمون کی هم دتوحید تقریر دی دکوم چی لوړ ذکر وو) او (ددغو وحی سوو مضامینو څخه یو دا دی چی) کله دخدای خاص بنده (مراد نبی کریم ﷺ دی) دخدای عبادت کولوته ودریږی نودا (کافران) خلک په دی بنده راټول سی (یعنی په تعجب اودښمنی سره ورته هرسړی داسی ګوری لکه چی اوس دحملی کولو دپاره پر ورپنډیږی داهم تتمه ده دتوحید دمضمون څکه چی په دی کی مذمت دی دمشرکانو چی دتوحید سره د دوی دښمنی اونفرت وو ، مخ ته ددی تعجب اوعداوت په حقله دجواب ورکولو دپاره دوی ته ارشاد دی یعنی) ته (دوی ته) دا ووایه چی زه خوف صرف دخپل پروردګار عبادت کوم او دهغه سره څوك نه شریکوم (نو دا څه دتعجب اوعداوت خبره نه ده دا ټول مضمون دتوحید په حقله وو ، مخ ته درسالت په حقله مضمون دی چی) ته (دا هم) ووایه چی زه ستاسی دپاره نه دڅه ضرر اختیار لرم او نه دګټی (یعنی تاسی چی کوم داسی فرمائشونه کوی چی که ته رسول یی نو په مونږ عذاب نازل کړه ! نو ددی جواب دا دی چی دا زما په اختیارکی نه ده او دغه شان کوم خلک چی دا وایی چی په یو شان به مونږ تا رسول ومنو چی که ته په مضامینو دتوحید او قرآن کی څه تغیر اوبدلون وکی نو ددی په جواب کی) ته ووایه چی (که خدای مه کړه زه داسی وکړم نو) مابه دخدای (دغضب) څخه څوك محفوظ نه کړی او نه زه دهغه څخه ماسوا څه (ځای د) پناه پیدا کولی سم (مطلب دا چی نه به په خپله څوك زمامحفوظ کوونکی وی او نه به زما په تلاش سره پیدا سی ، او دکفارو داسی خبری دعذاب ژر غوښتو او دبدلولو دقرآن او دین په قرآن کی ځای په ځای ذکر دی اولوړ په ، لَآ اَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّلَارَشَدًا : کی یی نفی داختیار دنفع او ضرر وفرمایله ، مخ ته اثبات دمنصب درسالت فرمایی چی دضرر اونفع مالك کیدل خو لازمه دنبوت نه ده دغه خومنفی ده) لیکن دخدای دطرف څخه درسول خبره نه منی نویقیناً دهغو خلګو دپاره د دوږخ اوردی په کوم کی چی به هغوی همیشه همیشه اوسیږی (مګر کفار دغه وخت په دی مضامینونه متاثره کیدل بلکه چیه به یی مسلمانان حقیر او ذلیل ګڼل، اوویل به یی ، اَیُّ الْفَرِیْقَیْنِ خَیْرٌ مَّقَامًا وَّاَحْسَنُ نَدِیًّا : او دوی به ددی جهالت څخه واپس نه سی) تردی چی کله هغه شی ووینی دکوم چی د دوی سره وعده کول کیږی ، هغه وخت به پوه سی چی دچا مددګار کمزوری دی او دچا جماعت کوم دی (یعنی کافر به داسی وی دکومو چی به څه په کار ورنه سی ، نو مراد دجماعت څخه جماعت مطیعه دی ، په ناصراً کی دنافع اعلی نفی وسوه او په عدداً کی دنافع ادنی ، مخ ته دقیامت په حقله کلام دی ، چی دا خلک دقیامت دوخت په طور دانکار پوښتنه کوی نو) ته (دوی ته) ووایه چی ماته معلومه نه ده چی دکوم شی تاسی سره وعده کیږی آیاهغه نژدی (راتلونکی) دی یازما پروردګار دهغه دپاره زمانه اوږده مقرره کړي ده (لیکن په هرحال کی به هغه خامخا راځی ، پاته سوعلم تعین نو هغه محض غیب دی او) په غیبو پوهیدونکی هغه دی نو (په کومو غیبو چی دچاخبرول مصلحت نه وی) هغه په خپلو (داسی) غیبو څوك نه خبروی (اوعلم تعین دقیامت داسی دی چی په دی باندی دچا په خبرولو کی څه مصلحت نسته ، څکه چی دغه علوم دنبوت سره متعلق نه دی دکوموحصول چی په قرب الهی کی دا خل وی ، نو په داسی غیبو څوك نه خبر وی) ها! مګر یو چا خپل برګزیده پیغمبر ته (که په څه

داسي علم باندي خبردار کول غواړي کوم چي دعلم نبوت څخه وي برابره خبره ده که دنبوت ثابتونکي وي لکه پيش گويي اوبرابره خبره ده که دنبوت دفروعاتو څخه وي لکه علم احکام، نو (دغه شان اطلاع ورکوي چي) ددغه پيغمبر مخ ته او وروسته (يعني هرطرف ته دوحي په وخت کي) محافظي ملائکي راليږي (چي هلته دشيطانانو گذر ونه سي کوم چي دملائکي څخه وحي واوري او ولاړ سي اوبل چاته يي ووايي ياخه وسوسه اونور په کي واچوي، چنانچي دنبي کريم ﷺ دپاره داسي محافظي ملائکي څلوروي لکه په روح المعاني کي دي او دا انتظام ځکه کول کيږي) چي (په ظاهري طور) الله ﷻ معلومه کړي چي دده ملائکو دخپل پروردگار پيغام (رسولانو ته په حفاظت) ورسوي (اوپه دي کي دچا دخل او تصرف ونه سو او رسوونکي خو صرف دوحي ملائکه ده ليکن دمعصيت په وجه دمحافظو ملائکو طرف ته هم اسناد دفعل وسو) اوالله ﷻ د دوي (پهره دارانو) ټول حالات احاطه کړي دي (په دي وجه پهره دارداسي مقرر سوي دي کوم چي ددي کار پوره پوره اهل دي) او ده ته دهر شي شمير معلوم دي (نو دوحي ټول اجزاء يو يو ده ته معلوم دي او هغه دټولوحفاظت کوي، مطلب دمقام دا دي چي دقيامت دتعين علم دعلومو دنبوت څخه نه دي، په دي وجه ددي علم نه کيدل دنبوت منافي نه دي البته دنبوت علوم ورکول کيږي او په دي کي احتمال دخطانه وي نو په داسي علومو سره فائده اخلي او دزياتو تحقيق پريږدي)

معلومات اومسئلي: لَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ: لفظ دنفر د درو څخه تر لسو پوري شمير ته ويل کيږي دکومو پيريانو چي دلته ذکر دي، روايت دا دي چي دانهه ۹ حضرات وه او دنصيبين اوسيدونکي وه.

دجناتو حقيقت: جن دالله ﷻ په مخلوق کي ديو داسي مخلوق نوم دي کوم چي دجسم خاوندان هم دي او دروح هم، او دانسان په شان عقل اوشعور والا هم دي، مگر دخلکو دنظرونو څخه پټ دي په دي وجه د دوي نوم جن اينبوول سوي دي چي دجن لفظي معنی پټ ده، د دوي دتخليق غالبه ماده اوردي، لکه دانسان دتخليق غالبه ماده چي خاوره ده، په دي نوع کي هم دانسان په شان نر اوماده يعني سړي اوښځه دي او دانسان په شان په دوي کي دتولد اوتناسل سلسله هم ده اوظاهره دا ده چي په قرآن کي يي جنّ ته شياطين ويلي دي، دا هم په جناتو کي دشريرو خلکو نوم دي، دجناتو او ملائکو وجود دقرآن اوسنت قطعي دليلونو سره ثابت دي چي انکار ورڅخه کفر دي (مظهري)

د، لَقَدْ اُوْحِيَ اِلَيَّ: څخه معلومه سوه چي دجناتو دکومي واقعي چي دلته ذکر دي په هغه کي دوی قرآن کريم اوريدونکي پيريان ليدلي نه وه الله ﷻ دوحي په ذريعه دوی ته اطلاع ورکړه

(دسورة جن دنزول دواقعي تفصيل)

په صحيح بخاري اومسلم اوترمذي اونورو کي دحضرت ابن عباس ﷺ روايت دي چي (په دي واقعه کي) نبي کريم ﷺ جناتو ته قرآن بالقصد نه دي اورولي بلکه هغوی يي ليدلي هم نه دي، بلکه واقعه دا پيښه سوه چي دوی ﷺ دخپلو ځينو صحابه کرامو ﷺ سره دعکاظ بازارته تلل، او دا واقعه دهغه وخت ده کله چي شيطانان دآسمان دخبرونو اوريدو څخه دشهاب ثاقب په ذريعه منع سوي وه اوپيريانو په خپل مينځ کي مشوره وکړه چي داحادثه په موږ چي دآسماني خبرونو دمنع کيدو پيښه سوه، دا څه اتفاقي خبره نه

معلومیږي ، په دنیاکې څه نوې شي پیښ سوې دی کوم چې ددې سبب سو ، اودایې مقررکړه چې دمځکې مشرق اومغرب اوهرطرف ته دپیریانو وفدونه دی لاړسي او ددې تحقیق دې وکې رادې سي چې دا نوی شی څه پیښ سوی دی ، د دوی کوم وفد چې تهامه دحجاز طرف ته لیږل سوی وو هغه مقام نخله ته ورسیدل ، هلته نبی کریم ﷺ دخپلو صحابه کرامو﷡ سره دسهار لمونځ په جماعت سره ادا کوی ، دپیریانو دی وفد چې کله قرآن واوریدی نو قسمونه یې واخیستل او په خپل مینځ کی یې وویل چې په خدای قسم دی چې داهغه کلام دی کوم چې زمونږاودآسمانی خبرونوپه مینځ کی حائل اومانع جوړسوی دی داخلق ددی خای څخه واپس سول اولاړل خپل قوم ته یې داقصه واوروله دکوم ذکرچې په دې آیتونو کې راغلی دی، إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا : الله ﷻ ددې تولې واقعې خبرخپل رسول ﷺ ته په دې آیتونوکې ورکی .

(دابو طالب وفات اودنبي کریم ﷺ دطائف سفر)

او اکثرو مفسرینو فرمایلي دي چې دابو طالب دوفات څخه وروسته نبی کریم ﷺ په مکه مکرمه کی بی یار اومددګار پاته سو نو دوی ﷺ تنِ تنها (یوازې) دطائف سفروکی چې هلته دبنو ثقیف دقبیلې څخه دخپل قوم دمظالمو په مقابله کی څه مدد اومعاونت حاصل کی ، دمحمد بن اسحاق روایت دی چې کله نبی کریم ﷺ طائف ته ورسیدی نو دثقیف قبیلې د درو وږونو خواته ولاړی کوم چې دقبیلې سرداران اوشریف ګڼل کیدل ، دا دری وږونه دعمیر زامن عبد یالیل ، سعود او حبیب وه ، د دوی په کورکی یوه ښځه دقریشو وه ، نبی کریم ﷺ دوی ته داسلام دعوت ورکی او دخپل قوم دمظالمو ذکر یې وکی او دوی ته یې دمعاونت دپاره وفرمایل . مګر دی درو وارو ډیر سخت جواب ورکی او د دوی ﷺ سره یې نوری هیڅ خبری ونه کړی .

نبی کریم ﷺ چې کله ولیدل چې دبنو ثقیف دا دری سری داسی شریفان ګڼل کیدل ، دکوموڅخه چې دمعقول جواب امید وو ، د دوی څخه هم مایوسه سو نو دوی ﷺ ورته وفرمایل چې ښه ده که تاسی خلګ زما مددنه کوی نوکم ازکم زما دراتلو خبره زما قوم ته مه ظاهروی ، مطلب یې دا وو چې که هغوی خبر سی ، نو زیات ازار به راته ورسوی ، مګر دی ظالمانو دا خبره هم ونه منله ، بلکه دخپلی قبیلې بی قوفه اوغلامان یې په ده پسی کړل چې ده ته ښکنځل کوی اوشور وریسی کوی ، د دوی په شور او وږ سره نور شریران جمع سول ، حضور ﷺ دهغوی دشرڅخه دمحفوظ کیدو دپاره په یوباغ کی کوم چې د دوو وږونو عتبه اوشیبه باغ وو ، په هغه کی پناه واخسته ، دغه دواړه هم په دغه باغ کی موجود وه ، دغه وخت شریرانو خلګو دوی پریښوول واپس سول او دی ﷺ دانګورو دباغ ترسایې لاندی کښینستی ، دی دواړو وږونو ده ﷺ ته کتل او دا یې هم لیدلی وه چې د دوی دقوم دبی وقوفو دلاسه دوی ﷺ ته تکلیف اوازار پیښ سو ، په دی مینځ کی هغه قریشی ښځه هم دنبی کریم ﷺ سره یوځای سوه کومه چې ددغو ظالمانو په کور کی وه ، دوی ﷺ ورته شکایت وکی چې ستا دخسرګنی خلګو زما سره څه معامله وکړه .

کله چې نبی کریم ﷺ ته په دی باغ کی څه اطمینان حاصل سو نو دوی ﷺ دالله ﷻ په بارګاه کی دعا غوښتل شروع کړل ددی دعا الفاظ هم څه عجیبه اونا اشنادی ، په یو بل موقع باندی د دوی ﷺ څخه

داسې الفاظ ددعا منقول نه دي ، هغه دعا دا ده .

اَللّٰهُمَّ اِلَيْكَ اَشْكُوْا اِلَيْكَ ضُعْفَ قُوَّتِيْ وَقِلَّةَ حِيْلَتِيْ وَهَوَانِيْ عَلَى النَّاسِ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرَّاحِمِيْنَ وَاَنْتَ رَبُّ الْمُسْتَضْعَفِيْنَ فَاَنْتَ رَبِّيْ اِلٰى مَنْ تَكِلُنِيْ اِلٰى بَعِيْدٍ يَتَجَهَّمُنِيْ اَوْ اِلٰى عَدُوٍّ مَلَّكْتَهُ اَمْرِيْ اِنْ لَّمْ تَكُنْ سَاخِطًا عَلَيَّ فَلاَ اُبَالِيْ وَلٰكِنْ عَافِيَتُكَ هِيَ اَوْسَعُ لِيْ اَعُوْذُ بِنُوْرِ وَجْهِكَ الَّذِيْ اَشْرَقَتْ لَهُ الظُّلُمٰتُ وَصَلُحَ عَلَيْهِ اَمْرُ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ مِنْ اَنْ تُنْزِلَ عَلَيَّ غَضَبَكَ لَكَ الْعُتْبٰى حَتّٰى تَرْضٰى وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ اِلاَّ بِكَ . مظهري په اختصار سره .

ژباړه : ياالله زه تاته شکايت کوم دخپل قوت دکمزوري اوکمی اودخپل تدبير دناکامی او دخلکو په نظرونو کی دخپل سپکوالی اوبی وقعتی ، او ته خو دټولو رحم کوونکو څخه زيات رحم کوونکی يی او ته دکمزورو پرورش کوونکی يی ، ته زمارب يی ، ته ما چاته سپاری آيا يو غير سړی ته چی په ماحمله وکی يادښمن ته کوم چی تا زما دمعاملی مالك جوړکړی دی (چی څه غواړی هغه وکی) که ته زماڅخه ناراضه نه يی نو زما په دی ټولو خبرو پرواه نسته ، ليکن ستاعافيت زمادپاره زيات ښه دی (هغه درڅخه غواړم) زه ستادذات مبارك دنورپناه غواړم په کوم سره چی ټولی تياری روښانه کيږی اوددی په بنا ددنيا او آخرت ټول کارونه صحيح کيږی ، ددی خبری څخه چی په ماخپل غضب نازل وفرمايی ، زماکار دا دی چی ستاپه راضی کولو او په خوشحاله کولوکی اخته سم ترڅو چی ته راضی سی او مونږ دهيڅ بدی څخه محفوظ کيدی نه سو ، نه څه خير حاصلولی سو ، بغير ستا دمدد څخه .

هرکله چی دربيعه دواړو زامنو عتبه اوشيبه دا حال وليدی نو په زړونوکی يی رحم راغی اوخپل يو نصرانی غلام عداس نومی ته يی وويل چی دانګورو يوه غنچه په غاب کی واخله اودغه سړی ته يی يوسه او ورته ووايه چی دا وخوره عداس داسی وکړل او دانګورو غاب يی د دوی ﷺ مخ ته کښيښووی ، دوی بسم الله وکړه اولاس يی کی ورته ، عداس چی دا وليدل نو وي ويل چی په خدای قسم دی ، دا خبره يعنی ، بسم الله الرحمٰن الرحيم خو ددی ښارخلګ نه وايی ، بيانبی کريم ﷺ دده څخه پوښتنه وکړه چی عدّاس ! ته دکوم ځای اوسيدونکی يی؟ اوستاڅه مذهب دی؟ هغه وويل زه نصرانی يم او دنينوا اوسيدونکی يم ، نبی کريم ﷺ وفرمايل چی ښه نوته خو دخدای ﷻ دنيك بنده يونس بن متی ﷺ دکلی اوسيدونکی يی ، هغه وويل چی ته ديونس بن متی ﷺ څخه څه خبريی؟ نبی کريم ﷺ وفرمايل چی هغه زما ورور دی ځکه چی هغه هم دالله ﷻ نبی وو او زه هم نبی يم .

چی دا يی واوريدل نو عدّاس د دوی ﷺ په قدمونو پريوتی او د دوی ﷺ لاسونه اوسر مبارك يی مچ کړل ، عتبه اوشيبه داليدل ، يو بل ته يی وويل چی ده خو زمونږ غلام خراب کی ، کله چی عداس واپس هغوی ته راغی نو هغوی ورته وويل ، چی عداسه ! په تاڅه وسوه چی ددغه سړی لاسونه اوپښی دی مچ کړل ، هغه وويل چی زما سردارانو ! داوخت په مزکه باندی ترده ښه هيڅوك سړی نسته ، ده ماته يوه داسی خبره وښووله کومه چی دنبی څخه ماسوا بل څوك نه سی ښوولی ، هغوی وويل کوم بخته ! هسی نه چی دغه سړی تاستادمذهب څخه واړوی ، ځکه چی ستا دين په هرحال دهغه ددين څخه ښه دی ، ددی څخه

وروسته نبي کريم ﷺ دطائف څخه دمکي طرف واپس سو کله چي دثقيف دهرخيرڅخه مايوسه سو، په واپسي کي دوي ﷺ په مقام نخله باندي قيام وفرمايي او دشپي په اخرکي دتهجد په لمونځ شروع سو نو ديمن دملك دنصيبين دپيريانو دا وفد هم هلته را رسيدلي وو هغوي قرآن واوريدي او ايمان يي پراوړي او دخپل قوم طرف ته واپس سوه ، واقعه يي ورته بيان کړه دکوم ذکرچي الله ﷻ په دي ذکرسوو آيتونو کي فرمايلي دي (مظهري)

ديو پيري صحابي واقعه : ابن جوزي په کتاب الصفوة کي په خپل سند سره دحضرت سهل بن عبدالله څخه نقل کړي دي چي دوي په يومقام يو بوډا پيري وليدي چي دبيت الله طرف ته يي لمونځ کوي او دوړي جبه يي اغوستي وه چي لوي رونق په کي معلوميدي ، چي دلمونځ څخه فارغ سونو حضرت سهل فرمايي چي ماورته سلام وکي او هغه دسلام جواب راکي اوراته يي وويل چي ته ددي جبي په رونق باندي تعجب کوي دا جبه دا وو سوو کالوڅخه زما پربدن باندي ده ، په دي جبه کي مادحضرت عيسٰي ؑ سره ملاقات کړي دي بياپه دي جبه کي مادحضرت محمد ﷺ زيارت وکي او زه دهغو پيريانو څخه يم دکومو په باره کي چي سورة جنّ نازل سوي دي (مظهري)

او دحديث په روايتونوکي چي کومه د، ليلة الجن واقعه ذکر ده ، په کومه کي چي حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ ددوي ﷺ سره وو، په دي کي د دوي ﷺ په اراده جناتوته دتبليغ اودعوت دپاره دمکي مکرمي ته نژدي ځنګل ته تلل او قرآن اورول منقول دي ، دا په ظاهره ددي واقعي څخه وروسته قصه ده چي ذکر يي په سورة جن کي راغلي دي

اوعلامه خفاجي فرمايي چي په معتبرو احاديثو سره ثابتيږي چي دپيريانو وفدونه دنبي کريم ﷺ په خدمت کي شپږ واره حاضرسوي دي په دي وجه په دي دواړو خبرو کي څه تضاد نسته ، چي په سورة جن والا واقعه کي دوي ﷺ ته دجناتو دراتلو اوقرآن داوريدو خبر هم نه وو، ترڅوچي په ذريعه دوحي دوي ته ونه ښوول سوه او دا چي دا واقعه دمقام نخله اوطائف څخه دواپسي دوخت ده اونور آيتونه دکومو څخه چي معلوميږي چي دمکي ښارته نژدي ځنګل ته دوي ﷺ بالقصد ددي کار دپاره تشريف يووړي چي پيريانو ته داسلام دعوت ورکي او قرآن ورته واوري ، دا ددي څخه وروسته پيښه سوي ده ، (مظهري)

وَاَنَّهٗ تَعٰلٰى جَدُّ رَبِّنَا: د ، جَدُّرَبِّنَا : دجدّ معنٰي دشان ده ، دالله ﷻ دپاره ويل کيږي ، تَعَالٰى جَدُّهٗ يعني بلند اوبالا دي دهغه شان ، دلته دجده دضمير راجع کولو په ځاي يي لفظ درب ظاهر کښيښووي چي په دي کي ددي لوي شان دليل هم راغي ، ځکه چي کوم ذات دمخلوق پروردګار دي دهغه دټول مخلوق څخه لوي شان کيدل ظاهر دي .

په دي آيت کي د ، وَاَنَّهٗ په عطف اوترکيب نحوي کي دمفسرينو کلام اوږددي دعوامو هغه ته حاجت نسته.

وَاَنَّهٗ كَانَ يَقُوْلُ سَفِيْهُنَا عَلَى اللّٰهِ شَطَطًا ° وَاَنَّا ظَنَنَّا اَنْ لَّنْ تَقُوْلَ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا : دلفظ دشطط معنٰي دعقل څخه بعيده خبره ، او دظلم او جور راځي ، مراد دا دي چي ايمان راوړونکو پيريانو تر اوسه په کفر اوشرك کي دمبتلاکيدو دا عذر بيان کي چي زمونږ دقوم بي وقوفو خلکو دالله ﷻ په شان کي بي سر اوپښو خبري

کولي او زمونږ دا ګمان نه وو چې څوك انسان یا پیري دالله ﷻ طرف ته د دروا‌غو دخبرې نسبت کولی سي په دې وجه ددغو بې وقوفو په خبروکې راغلو تر ننه پورې مونږ په کفر اوشرك کې اخته وو اوس مو قرآن واوریدې نو حقیقت ښکاره سو.

وَأَنَّهُ كَانَ رِجَالٌ مِنَ الْإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِنَ الْجِنِّ فَزَادُوهُمْ رَهَقًا: په دې آیت کې مومنانو پیریانو دا بیان کړی دی چې دجاهلیت خلګو چې به کله په یو ځنګل کې قیام کوی نو دهغه ځنګل دپیریانو څخه به یې پناه غوښته په دې سره پیریانو دا وګڼله چې مونږ دانسانانو څخه هم افضل یو چې انسان هم زمونږ پناه اخلي، دې خبرې دپیریانو په ګمراهۍ کې نوره اضافه وکړه.

(دپیریانو په سبب دحضرت رافع بن عمیر ﷺ اسلام)

په تفسیرمظهری کې دې چې په هواتف الجن کې په سند سره دحضرت سعیدبن جبیر ﷺ څخه یې دا نقل کړی دی چې رافع بن عمیر ﷺ صحابي دخپل اسلام قبلولو یوه واقعه دا ښوولې ده چې مایوه شپه په یوبیابان کې سفر کوی، ناڅاپه په مادخوب غلبه سوه زه دخپلې اوښې څخه کښته سوم اوبیده سوم، دخوب څخه مخ ته ما دخپل قوم دعادت مطابق دا الفاظ وویل، اِنِّیْ اَعُوْذُ بِعَظِیْمِ هٰذَا الْوَادِیْ مِنَ الْجِنِّ: یعنی زه پناه اخلم ددې ځنګل دپیریانو په سردار، ماپه خوب کې ولیدل چې دیو سړي په لاس کې یوه وسله ده اوهغه زمادا اوښې په سینه اېښوول غواړي، زه وبیریدم اوپورته سوم او اخوا دیخوا ته می وکتل، هیڅ نه وو نو ما په زړه کې وویل چې دا شیطاني خیال دی اصلي خوب نه دی اوبیا بیده سوم اوبالکل غافله سوم، نوبیامې دغه خوب ولیدې نوبیا پورته سوم او دخپلې اوښې څخه پرشاوخوا وګرځیدم، هیڅ می ونه لیدل، مګر چې اوښې ته می وکتل نو هغه رپیده، زه بیا بیده سوم نوبیامې دغه خوب ولیدې چې بیدار سوم نو څه ګورم چې زما اوښه رپیږي اوبیامې ولیدل چې یو ځوان دی په لاس کې یې وسله ده، دا هغه سړی وو چې په خوب کې می په اوښه حمله کوونکی لیدلی وو او ورسره می ولیدل چې یو بوډا سړی دده لاس نیولی دی او په اوښه یې دحملې کولو څخه منع کوی، په دې وخت کې درې صحرایي خره رامخامخ سول نو بوډا دغه ځوان ته وویل چې په دغو درې واړوکې کوم ستا خوښ وی هغه واخله او ددې انسان دا اوښه پرېږده، هغه ځوان یو صحرایي خر واخستی اورخصت سو، بیاهغه بوډا ماته وکتل، وي ویل چې ای بې عقله! کله چې ته په یو ځنګل کې پاته کیږې اوهلته دپیریانو او شیطانانو بیره وی نو دا وایه، اَعُوْذُ بِرَبِّ مُحَمَّدٍ مِنْ هَوْلِ هٰذَا الْوَادِیْ: یعنی زه پناه اخلم په رب دمحمد ﷺ ددې ځنګل دبیرې اوشر څخه، او دچا پیرې پناه مه غواړه، ځکه چې هغه زمانه تیره سوه، کله چې به انسان دپیریانو پناه اخسته، مادهغه څخه پوښتنه وکړه چې هغه څوك دی؟ هغه وویل چې هغه نبي عربي دی، نه شرقي، نه غربي، د دوشنبې په ورځ هغه مبعوث سوی دی، ماپوښتنه وکړه چې هغه کوم ځای اوسیږي، هغه وویل چې په یثرب کې اوسیږي کوم چې دخرماؤ کلی دی، ماسم دسهار څخه دمدینې لار ونیوله اوسپرلی می تیزه وچلوله، تردې چې مدینې منورې ته ورسیدم، نبي کریم ﷺ چې زه ولیدم نو زما ټوله واقعه یې ماته واوروله، ددې څخه مخکې چې زه دوی ﷺ ته څه ذکر وکړم اوماته یې دا اسلام دعوت راکې او زه مسلمان

سوم ، حضرت سعیدبن جبیر ﷺ ددی واقعی دنقل کولو څخه وروسته وفرمایل چې زما په نزد ددی معاملې په حقله په قرآن کریم کی دا آیت نازل سوی دی ، وَأَنَّهُ كَانَ رِجَالٌ مِنَ الْإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِنَ الْجِنِّ.

وَأَنَّا لَمَسْنَا السَّمَاءَ فَوَجَدْنَاهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيدًا وَشُهُبًا لفظ دسماء په عربی لغت کی څنګه چې آسمان ته ویل کیږي دغه شان وریځی ته هم سماء ویل عام اومعروف دی، دلته په ظاهره دسماء څخه مراد دا وریځ ده.

(پیریان به دآسماني خبرونو اوریدو دپاره صرف تروریځو پوري تلل ترآسمان پوری نه)

اودپیریانو شیطانانو دآسمانی خبرو داوریدو دپاره آسمان ته دتللو مطلب دا دی چې تر وریځو پوري به تلل او دهغه ځای څخه به یی آسمانی خبرونه اوریدل ، او ددی دلیل دحضرت عائشه صدیقه ﷺ حدیث کی کوم چې په صحیح بخاري کی په لاندی الفاظو سره راغلی دی .

قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ إِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَنْزِلُ فِي الْعَنَانِ وَهُوَ السَّحَابُ فَتَذْكُرُ الْأَمْرَ الَّذِي قُضِيَ فِي السَّمَاءِ فَتَسْتَرِقُ الشَّيَاطِينُ السَّمْعَ فَتَسْمَعُهُ فَتُوحِيهِ إِلَى الْكُهَّانِ فَيَكْذِبُونَ مَعَهَا مِائَةَ كَذْبَةٍ مِنْ عِنْدِ أَنْفُسِهِمْ (حدیث نمبر - ۲۹۷۱) (مظهری)

حضرت عائشه ﷺ فرمایی چې مادنبی کریم ﷺ څخه اوریدلی دی چې ملائکی عنانِ سماء ته نازلی سی چې معنی یی وریځ ده هلته دهغو فیصلو ذکر کوی کوم چې الله ﷻ په آسمان کی جاری کړی وي نو دغه ځای څخه شیطانان دا خبرونه غلا کړی او واوری اوکاهنانو ته یی راوړی او دخپل طرف څخه په کی سل دروغ ګډ کړی هغوی ته یی وښیی .

او په صحیح بخاري کی دحضرت ابوهریره ﷺ دروایت څخه او په مسلم کی دحضرت ابن عباس ﷺ دروایت څخه چې دا معلومیږی چې دا واقعه په اصل آسمانونو کی پیښیږی ، چې کله الله ﷻ یو حکم په آسمان کی جاری کی نو ټولی ملائکی په غرض داطاعت خپل وزرونه وهی اوکله چې خبره ختمه سی نو په خپل مینځ کی تذکره کوی چې ستاسی رب څه وفرمایل ، دا تذکره دآسمانی خبرو څخه غلا کوونکی شیطانان اوری او ډیر دروغ په کی شامل کړی او خپلو کاهنانو ته یی رسوی .

دا حدیث دحضرت عائشه ﷺ دذکر سوی حدیث منافی نه دی ځکه چې ددی څخه دا نه ثابتیږی چې شیطانان آسمانونوته ځی دا خبرونه غلا کوی اوراوړی یی بلکه دا کیدی سی چې اول دا خبرونه درجه په درجه په آسمانونو کی په ملائکو کی خپریږی بیاملائکی عنانِ سماء یعنی وریځی ته راسی او ددی تذکره کوی ددغه ځای څخه شیطانان دخبرونو غلا کوی، لکه چې دحضرت عائشه صدیقه ﷺ په حدیث کی دی په هرحال دنبی کریم ﷺ دبعثت څخه مخکی به دشیطانانو آسمانی خبرونه اوریدل او کاهنانو ته درسولو سلسله بغیر دڅه خنډ اومشکل څخه جاری وه شیطانان به وریځوته رسیدل او دملائکو څخه به یی اوریدل ، مګر دنبی کریم ﷺ دبعثت په وخت کی د دوی ﷺ دآسمانی وحی دحفاظت دپاره داسلسله داسی بنده سوه چې کله به یوشیطان ددی خبر اوریدو دپاره پورته تلی نو دشهاب ثاقب په سکروټو ویشتل کیدی اودفع کیدی به داهغه نوی حادثه وه دکمی چې دشیطانانو اوپیریانو سره فکر سو اودحال

دتحقیق دپاره یې ددنیا مشرق اومغرب ته وفدونه ولیږل، بیاپه مقام نخله کې دنبي کریم ﷺ څخه دپیریانو دیو وفد قرآن اوریدل ، ایمان راوړل په سورةِ جن کې ذکر سو .

(شهابِ ثاقب دبعثت نبوي ﷺ څخه مخکې هم وو مګر ددوی په ذریعه دشیطانانودفع کولو کار دده ﷺ دزماني څخه شروع سو)

دلته دا شبهه کیدی سي چي شهابِ ثاقب کوم ته چي په عرف کې ستوری ماتیدل یاپه عربي کې انقضاض الکوکب وايي ، دا خو په دنیاکي دپخواني زماني څخه راروان دي اوددې آیت څخه معلومیږي چي دادعهدِ نبوي تخصیص دی جواب دادی چي دشهاب ثاقب وجود خو دمخکې څخه وو برابره خبره ده که دده حقیقت هغه وي کوم چي فلاسفران بیانوي چي دمځکې څخه څه اتشینه مادي فضاء ته رسیږي، هغه څه وخت اوراخلي یادا وي چي په خپله دیو ستاري یاستوري څخه دا اتشینه ماده وزي په هرحال ددې وجود که څه هم دابتداء دعالم څخه دی مګر ددې اتشیني مادي څخه دشیطانانو ددفع کولو کار دنبي کریم ﷺ دبعثت څخه شروع سو اودا هم ضروري نه ده چي څومره شهاب ثاقب په نظر راځي، دټولو څخه دي داکار اخستل کیږي ددې پوره تفصیل دسورةِ حجرپه تفسیرکي تیرسوی دی، هلته یې وګوري .

أَشَرٌّ أُرِيدَ بِمَن فِي الْأَرْضِ أَمْ أَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا : یعنی دپیریانو اوشیطانانو دآسماني خبرونو د اوریدو څخه منع کول په طور دسزا هم کیدی سي ، چي مځکې والاؤ ته دآسمان خبرونه ونه رسیږي او دا هم کیدی چي په دې سره الله ﷻ ددې خلګو دپاره دا دهدایت سامان کړی وي چي پیریان اوشیطانان په آسماني وحی کې څه خلل وا نه چوي .

فَمَن يُؤْمِن بِرَبِّهِ فَلَا يَخَافُ بَخْسًا وَلَا رَهَقًا : بخس په زبر دباء اوسکون دخاء سره معنی دحق څخه کومول اوکوم ورکول دي، اود ، رَهَق معنی ذلت اورسوايي طاري کیدل دي مراد دادی څوك چي په الله ﷻ ایمان راوړي نه به دهغه په جزاء کې څه کمي کیدی سي او نه به په اخرت کې ده ته څه ذلت اورسوايي وررپیښه سي .

وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا مساجد جمع دمسجد ده دلته ددې معروفه اومشهوره معنی هم مراد کیدی سي ، یعنی هغه دعبادت ځایونه کوم چي دلمونځ دپاره وقف سي او مسجد ورته وايي ، په دې صورت کې به معنی دایت دا وي چي کله ټول جماتونه صرف دالله ﷻ دعبادت دپاره جوړسوي دي نو تاسي چي جماتونوته ولاړسی ، دالله ﷻ څخه ماسوا بل څوك دمدد دپاره مه رابلی لکه څنګه چي یهود اونصارا په خپلو عبادت خانو کې داسي شرك کوي، مطلب ددې جماتونو دفاسدو عقیدو اوباطلو عملونو څخه پاك ساتل دي ، او دا هم کیدی سي چي مساجدپه زبر دجیم جمع وي کوم چي مصدر میمي په معنی دسجدې راځي ، نومعنی دایت به دا وي چي ټولي سجدې صرف دالله ﷻ دپاره مخصوص دي اوکوم سړي چي غیرالله دمدددپاره رابلي ګویاهغه هغه ته سجده کوي دغیر الله دسجدې څخه ځان ساتی **مسئله** : په اجماع دامت سره غیرالله ته سجده حرامه ده ، او دځینو عالمانو په نزد کفر دی .

قُلْ إِنْ أَدْرِي أَقَرِيبٌ مَّا تُوعَدُونَ أَمْ يَجْعَلُ لَهُ رَبِّي أَمَدًا ٭ عَالِمُ الْغَيْبِ : په دې آیتونو کې په اولني آیت کې خوالله ﷻ خپل رسول ﷺ ته دا حکم وفرمايي چي ته دې منکرانوته کوم چي تادقیامت په معین وخت ښوولو مجبوره کوي او اصرار کوي ، دا وفرمایه چي دقیامت راتلل اودهغه ځای جزا اوسزا کیدل خویقیني دي لیکن

ددغې واقعې کېدو صحیح تاریخ او وخت خو الله ﷻ چاته نه دی ښوولی ، په دی وجه زه نه پوهیږم چې هغه ورځ دقیامت نژدې راغلی ده او که به زمارب دهغه دپاره څه لیری موده مقرر کړې وي ، په بل آیت کې ددی دلیل ارشاد فرمایي ، عَالِمُ الْغَیْبِ فَلَا یُظْهِرُ عَلٰی غَیْبِهٖ اَحَدًا : یعنی دقیامت دمعین وخت څخه زمابې خبری ځکه ده چې زه عالم الغیب نه یم بلکه عالم الغیب کیدل صرف دالله رب العالمین خصوصي صفت دی ، په دی وجه هغه په خپلو غیبو باندی هیڅوك هم غالب اوقادرنه جوړوي، دلته په عالم الغیب کې د: الغیب الف لام داستغراق دجنس دپاره دی (لکه چې داسې په روح کې دی درضی څخه) یعنی عالم په هرفرد دغیب اوجنس غیب او په علی غیبه کې دغیب اضافت دالله ﷻ طرف ته په کولو سره هم ددی استغراق او جامعیت اظهار مقصوّد دی یعنی دهرهر فرد اوجنس دغیبو علم کوم چې دالله رب العٰلمین مخصوص وصف دی، په دی باندی هغه څوك قادر اوغالب کوی نه چې څوك کوم غیب چې وغواړی معلوم کړی ، مقصود ددی کلام څخه دکُلِّي علم غیب چې دجهان یوه ذره ورڅخه پټه نه وي ددی دغیر الله څخه نفی اوصرف دالله ﷻ دپاره اثبات دی ، لیکن یو بې عقل ته په دی سره دا شبهه کیدی سوه چې نبی کریم ﷺ ته دهیڅ شي دغیبو خبر نسته نو بیا هغه رسول څنګه سو؟ ځکه چې رسول ﷺ ته خو په زرګونو دغیبو خبرونه الله ﷻ په ذریعه دوحی رالیږی اوچاته چې دالله ﷻ وحی رانه سی ، هغه ته نبی او رسول نه سی ویل کیدی ، په دی وجه په راتلونکی آیت کې یې دیوی استثناء ذکر وفرمایي .

(په علم غیب اوغیبي خبرونو کې فرق)

اِلَّا مَنِ ارْتَضٰی مِنْ رَّسُوْلٍ فَاِنَّهٗ یَسْلُكُ مِنْ بَیْنِ یَدَیْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ رَصَدًا : مطلب داستثناء دبی وقوفانه شبهی دا جواب دی چې دکلی علم غیب په نفی سره دهر غیب نفی مطلقًا مرادنه ده، بلکه درسالت دمنصب دپاره چې څومره دعلم غیب دخبرونو اودغیب دشیانو علم یورسول لره دورکولو ضرورت دی دغه هغوته دالله ﷻ دطرف څخه په ذریعه دوحی ورکول کیږی او دا په داسې محفوظ طریقه ورکول کیږی چې کله په دوی دالله ﷻ دطرف څخه څه وحی نازلیږی نو دده هرطرف ته دملائکو پهره وي چې شیطانان په هغه کې څه مداخلت ونه کې په دی کې اول خو دلفظ درسول څخه دهغو غیبت نوعیت متعین سو دکوم علم چې رسول اونبی ته ورکول کیږی او ددغه څخه ظاهره ده چې علم شرائع اواحکام بتمامه او دغیبو خبرونه په قدر دضرورت دوخت، ددی څخه وروسته چې کوم علم غیب رسول او نبی ته ورکول کیږی دهغه نوعیت یې په راتلونکی جملی سره داسې متعین کې چې هغه په ذریعه دملائکو لیږل کیږی او دوحی راوړونکی ملائکی څخه چاپیره دنورو ملائکو پهره وي ، ددی څخه دا خبره واضحه سوه چې په دی استثناء سره دکوم علم چې دنبی اورسول دپاره اثبات دی هغه ځینی اومخصوص علم غیب دی دکوم ضرورت چې درسالت منصب ته پیښیږي .

ددی څخه معلومه سوه چې دا استثناء په اصطلاحی لفظونو کې استثناء منقطع ده ، یعنی دکوم کلی علم غیب چې په اصل کلام کې دغیرالله څخه نفی سوی وه، په مستثناء کې ددی نفی نسته بلکه دمخصوصو غیبی علومو اثبات دی کوم چې قرآن کریم ځای په ځای د، اَنْبَاءِ الغیب په الفاظو سره تعبیر کړی دی ،

تِلْكَ مِنْ اَنْبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهَا اِلَيْكَ الخ
ځيني ناواقفه په غيب اوپه انباء الغيب کې فرق نه کني ، په دې وجه دانبياء اوخصوصاً دخاتم الانبياء ﷺ دپاره علم غيب کلي ثابتوي اوده ﷺ ته بالکل دالله ﷻ په شان عالم الغيب دهرې يوې ذرې دکائناتو علم لرونکی وايي کوم چې ښکاره شرك او رسول ته دخدايي درجه ورکول دي ، نعوذ بالله منه ، كه يو سړى خپل پټ راز خپل يو دوست ته وښيي کوم چې دبل چاپه علم کې نه وي نوپه دې سره په دنيا کې څوك هم دى دوست ته عالم الغيب نه سي ويلى ، دغه شان انبياء عليهم السلام ته دزرګونو غيبو دشيانو په ذريعه دوحې ښوول دوى عالم الغيب نه جوړ وي ، ښه پوه سي .
جاهل عوام کوم چې په دې دواړوخبروکې فرق نه کوي کله چې ددوی په مخکې وويل سي چې نبي کريم ﷺ عالم الغيب نه دی هغوی ددې دامطلب ګڼي چې دوی ته معاذ الله دڅه غيبودشي خبرنسته دکوم چې په دنيا کې هيڅوك قائل نسته اونه کيدی سی ځکه چې په داسې کيدوسره خوپه خپله دنبوت اورسالت نفي کيدی سي دکوم چې ديومؤمن څخه امکان نسته دسورة په اخرکې فرمايي ، وَاَحْصٰى كُلَّ شَيْءٍ عَدَدًا يعني خاص دالله ﷻ ذات دی دکوم په علم کې چې دهرشي اعداد اوشمار دی په غرونوکې دننه چې څومره ذرې دي دهغه عددهم هغه ته معلوم دی ، دټولې دنياپه دريابونوکې چې څومره قطرې دي ، دهغو شمير دهغه په علم کې دی ، دهرباران دقطرو اودټولې دنيا ددرختو دپاڼو داعداد اوشمار هغه ته علم دی ، په دې کې يې بيادکلي علم غيب دذات حق سبحانه تعالى سره مخصوص کيدل واضح کړل چې دمذکوره استثناء څخه غلط فهمي پيدانه سي ، دعلم غيب دمسئلې معنی او ددې احکام دسورة النمل تر آيت ، قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اِلَّا اللّٰهُ : لاندې په پوره تحقيق اوتفصيل سره تيرسوي دي ، هلته يې وګوري .
تمت بحمد الله تعالى سورة الجن ليلة الجمعة ۱۰رجب سنه ۱۳۹۱ هجرى .

﴿سورة المزمل﴾

سُوْرَةُ الْمُزَّمِّلِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ عِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة المزمل په مکه کې نازل سو او په دې کې شل (۲۰) آيتونه اوپه دې کې دوې (۲) رکوع ګانې دي .

شروع کوم په نوم سره دخداى ﷻ چې ډير مهربانه نهايت رحم والا دى .

يٰۤاَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ ۙ﴿۱﴾ قُمِ الَّيْلَ اِلَّا قَلِيْلًا ۙ﴿۲﴾ نِّصْفَهٗۤ اَوِ انْقُصْ

اى جامه اغوستونکى ، ودريږه دشپې مګر څه شپه ، نيمه شپه يا ددې څخه کمه ،

مِنْهُ قَلِيْلًا ۙ﴿۳﴾ اَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا ؕ﴿۴﴾ اِنَّا سَنُلْقِيْ

کړه لږ ، يا زياته کړه په دې او واضح وايه قرآن صفا ، مونږ غورځوونکى يو

عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيْلًا ۝٥ اِنَّ نَاشِئَةَ الَّيْلِ هِيَ اَشَدُّ وَطْاً وَّ اَقْوَمُ

په تا دیوی خبری وزن داری ، بیشکه پورته کیدل دشپی سخت دی په پائمال کولو (دنفس)

قِيْلًا ۝٦ اِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيْلًا ۝٧ وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ

اوبرابر وزی خبره ، خامخا تاته د ورځی ډیری مشغلی دی اوږدی ، او وایه نوم درب خپل

وَتَبَتَّلْ اِلَيْهِ تَبْتِيْلًا ۝٨ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ

اویوازی سه هغه ته په یوازی کیدوسره ، مالك دمشرق او دمغرب نسته لائق دعبادت دهغه

فَاتَّخِذْهُ وَكِيْلًا ۝٩ وَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا

څخه ماسوا نو ونیسه هغه کارساز، اوصبر کوه په هغه چی دوی وایی او پریږده دوی په غوره پرینښوولو سره

جَمِيْلًا ۝١٠ وَذَرْنِيْ وَالْمُكَذِّبِيْنَ اُولِي النَّعْمَةِ وَمَهِّلْهُمْ قَلِيْلًا ۝١١

، او پریږده ما او درواغجن کونکی چی خاوندان دنعمت دی اومهلت ورکړه دوی ته لږ شان

اِنَّ لَدَيْنَآ اَنْكَالًا وَّجَحِيْمًا ۝١٢ وَّطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَّعَذَابًا اَلِيْمًا ۝١٣

بیشکه زمونږ سره طوقونه دی او داور سوځونکی ، اوخوراك په غاړه نیونکی اوعذاب درد ناك ،

يَوْمَ تَرْجُفُ الْاَرْضُ وَالْجِبَالُ وَكَانَتِ الْجِبَالُ كَثِيْبًا مَّهِيْلًا ۝١٤

په کومه ورځ چی وښوری مځکه اوغورونه اوسی غرونه ډیرکی ښوئیدونکی

اِنَّآ اَرْسَلْنَآ اِلَيْكُمْ رَسُوْلًا ۵ شَاهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَآ اَرْسَلْنَآ اِلٰى

مونږ لیږلی دی تاسی ته رسول ښوونکی ستاسی دخبرو لکه چی لیږلی وو مونږ

فِرْعَوْنَ رَسُوْلًا ۝١٥ فَعَصٰى فِرْعَوْنُ الرَّسُوْلَ فَاَخَذْنٰهُ اَخْذًا

فرعون ته رسول ، نو خبره ونه منله فرعون درسول بیا ونیول مونږ هغه په نیولو

وَّبِيْلًا ۝١٦ فَكَيْفَ تَتَّقُوْنَ اِنْ كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَّجْعَلُ الْوِلْدَانَ

دوبال سره ، نو څنګه به خلاص سی که منکران سی دهغه ورځی څخه چی کړی هلکان

شِيبًا ﴿١٧﴾ السَّمَآءُ مُنفَطِرٌۢ بِهِۦ ۚ كَانَ وَعْدُهُۥ مَفْعُولًا ﴿١٨﴾ إِنَّ هَٰذِهِۦ

زاړه ، آسمان خيرى سى په دغه ورځ ، ده وعده درب كيدونكى ، دا خو

تَذْكِرَةٌ ۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ﴿١٩﴾ إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ

نصيحت دى ، بيا چې خوك غواړى ودې نيسى خپل رب طرف ته لار ، بيشكه ستا رب پوه دى

أَنَّكَ تَقُومُ أَدْنَىٰ مِن ثُلُثَىِ ٱلَّيْلِ وَنِصْفَهُۥ وَثُلُثَهُۥ وَطَآئِفَةٌ

چې ته پورته كيږې نژدې دريمى حصى ته دشپې اونيمى شپې ته او په دريمه حصه كې اويوه ډله

مِّنَ ٱلَّذِينَ مَعَكَ ۚ وَٱللَّهُ يُقَدِّرُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ۚ عَلِمَ أَن لَّن

دهغوى څخه چې ستا سره دى ، او الله په اندازه كړى ده شپې او ورځې ، پوه سو چې تاسى به دا

تُحْصُوهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ ۖ فَٱقْرَءُوا۟ مَا تَيَسَّرَ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ ۚ عَلِمَ

پوره نه كړى نو معافى يې وكړه په تاسى ، او واياست خومره چې آسانه وى دقرآن څخه ، پوه سو

أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرْضَىٰ ۙ وَءَاخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِى ٱلْأَرْضِ

چې خومره به په تاسى كې بيمار وى ، اوخومره خلق به ګرځى په مځكه كې

يَبْتَغُونَ مِن فَضْلِ ٱللَّهِ ۙ وَءَاخَرُونَ يُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ

چې لټوى دالله فضل اوخومره خلق به جنګ كوى دالله ﷻ په لاركې

ٱللَّهِ ۖ فَٱقْرَءُوا۟ مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ ۚ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ

، نو واياست خومره چې آسانه وى ددې څخه ، اوقائم ساتى لمونځ او وركوى زكوٰة

اللهَ ۭ اِنَّ اللهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٢٠﴾

دالله څخه ، بیشکه الله بخښنی والا مهربانه دی.

تفسیر: ای په کالوکی نغښتل سویه (وجه په دی عنوان سره دخطاب کولو دا ده چی په ابتداء دنبوت کی قریش په دارالندوه کی جمع سول د دوی ﷺ په باره کی یی مشوره وکړه چی د دوی دحالت مناسب یو لقب تجویز کول په کار دی چی په دی ټول متفق سی ، چا وویل چی کاهن دی نو دا نورو ردکی چا وویل چی مجنون دی ، نو دا هم ټولو ردکړه ، بیایی ساحر وویل نوځینو دا هم ردکی ، لیکن بیایی دا وویل چی ساحر ځکه دی چی دوست د دوست څخه جدا کوی دوی ﷺ ته داخبر ورسیدی غمجن سو اوپه دغه غم کی یی ځان په کالوکی ونغښتی ، اکثره په سوچ او رنج کی بنده داسی کوی په دی وجه ددوی دخوشحالولو اودلطف داظهار کولو دپاره یی په دی عنوان سره خطاب وفرمایی ، لکه چی په حدیث کی دی چی دوی حضرت علی ﷺ ته ابوتراب فرمایلی وو ، غرض دا چی دوی ته خطاب دی چی ددی خبرو غم مه کوه بلکه دالله ﷺ طرف ته په مداومت سره نوره زیاته توجه ساته په دی شان سره چی) دشپی (په لمونځ کی) دریږه ، مګر لږڅه شپه یعنی نیمه شپه (چی په دی کی ارام کوه) یاددغی نیمی څخه څه قدر کموه (یعنی دنیمی شپی څخه څه کوم قیام کوه ، اودنیمی څخه زیات ارام کوه او ددی نیمی څخه دکمی مصداق دریمه حصه ده ، په قرینه ددی قول دالله ﷺ چی وروسته راځی یعنی وَ ثُلُثَهٗ) یادنیمی څخه څه زیاتوه (یعنی دنیمی څخه زیات قیام کوه اونیمی څخه کم ارام کوه اوددی نیمی څخه زیات مصداق دوه ثلثه ته نژدی دی ، په قرینه ددی قول دالله ﷺ چی وروسته راځی یعنی ، اَدْنٰى مِنْ ثُلُثَيِ الَّيْلِ : غرض دشپی قیام خوپه امر وجوبی سره فرض سو مګر دقیام دوخت په مقدارکی د دری صورتونو اختیار دی ، نیمه شپه په دری حصوکی دوی حصی شپه ، دریمه حصه شپه) او (په دی قیام لیل کی) قرآن ښه صفا صفا وایه (چی یو یو حرف جلاجلا وی اودا حکم په غیر دلمونځ کی هم دی اوتخصیص محض دمقام په وجه دی مخ ته دقیام اللیل دحکم دعلت اومصلحت بیان دی چی) مونږ په تا یو درونډ کلام غورځوونکی یو (مرادقرآن مجید دی کوم چی به دنزول په وخت کی هم د دوی حالت متغیر کوی لکه چی په احادیثوکی دی چی یووار دوی ﷺ ورون دزید بن ثابت ﷺ پر ورون باندی ایښی وو ، دغه وخت وحی نازله سوه نودزید بن ثابت ﷺ ورون ډیر درونډ سو او کله چی به دی ﷺ دوحی دنزول په وخت کی پر اوښه سپور وو نو اوښی به ځپ ایله کی او حرکت به یی نه سوکولی اوپه سخت یخ کی به دی ﷺ ټول خوله خوله سو ، بیاعلاوه ددی څخه ددی محفوظ ساتل بیانورو ته په رسولو کی تکلیفونه برداشت کول په دی اعتبارا تو سره یی ورته درونډ وویل او مقصد دادی چی دشپی دریدل ګران مه ګڼه ، مونږ خو ددی څخه هم درانه کارونه ستاڅخه اخستونکی یو ، دشپی د دریدو حکم تاته ځکه درکول سوی دی چی ته عادت سی دریاضت چی دنفس استعداد په قوی اواکمل سی ځکه چی مونږ په تادرنه خبره نازلوونکی یونو دغه دپاره دخپل استعداد قوی کول ضروری دی مخ ته دقیام اللیل نور مصلحت دی چی) بیشکه دشپی پورته کیدل ښه اثرکوی (دنفس) په

پائمال کولوکی او (قرآت وی که دعا ظاهراً اوباطنًا) خبره ښه وزی (ظاهراً خوداسی چی دفرصت وخت وی الفاظ ددعا او دقرآت ښه په اطمینان سره ادا کیږی او باطنًا داسی چی زړه په کی ښه لګیږی او دموافقت دزړه او دژبی دا مطلب دی او ددی علت کیدل ظاهر دی ، مخ ته دریم علت دی په کوم کی چی دشپی دتخصیص دحکمت بیان دی هغه دا چی) بیشکه ستا دورځی ډیر کارونه دی (دنیوی هم لکه دکور دکارونو تدبیر کول اودینی هم لکه تبلیغ، په دی وجه ددی کارونو دپاره شپه منتخب سوه) او (علاوه دشپی ددریدو ځخه دکوم چی لوړ ذکر وسوپه نورو وختونوکی هم) دخپل رب نوم یادوه اودټولو ځخه (تعلق قطع) کړه دهغه طرف ته متوجه سه (یعنی ذکر اوتبتل دا هر وخت فرض دی او دتعلق قطع کولو مطلب دا دی چی دخالق سره تعلق دمخلوق په ټولو تعلقاتو غالب وی، مخ ته دتوحید سره ددی تاکید اوتصریح ده یعنی) هغه دمشرق اومغرب مالك دی دهغه ځخه ماسوا څوك دعبادت لائق نسته نوهغه ته خپل کارونه سپارل مقررکړه اوداخلګ چی کومی کومی خبری کوی په هغه صبر کوه اوپه ښه شان سره ددوی ځخه جدلاسه (جلا کیدل داچی هیڅ تعلق مه ساته اوپه ښه شان سره داچی ددوی ځخه دشکایت اوانتقام په فکرکی مه لویږه) او (مخ ته دهغوی دعذاب خبر ورکوی نبی کریم ﷺ ته تسلی ورکول سوي ده) ما او دادروغجن کوونکی په ناز اونعمت کی اوسیدونکی (په موجوده حالت) پریږده (او ددی تفسیر په آیت ، فَذَرۡنِیۡ وَمَنۡ یُّکَذِّبُ بِهٰذَا الۡحَدِیۡثِ. کی تیر سوی دی) اودی خلګو لره لږ ورځی نور مهلت ورکړه (دا کنایه ده دصبر اوانتظار ځخه ، یعنی څه ورځی نور صبر وکړه ډیر ژر دوی ته سزا ورکیدونکی ده ځکه چی) زمونږ سره دلته بیړی دی او دوږخ دی اوپه مری کی منبتونکی خوراك دی (اودالکه داقول دالله ﷻ دی ، یَتَجَرَّعُهٗ وَلَا یَکَادُ یُسِیۡغُهٗ) او دردناك عذاب دی (نو دی خلګولره به په دغو شیانو سزا ورکول سی اودا سزابه په هغه ورځ وی) په کومه ورځ چی مځکه اوغرونه ونښوریږی اوغرونه (ځس ځس سی) الوتونکی شګه سی (بیاپه هوا الوزی ، مخ ته دی ذکر سوو دروغ کوونکوته په طور دالتفات خطاب دی ، په کوم کی چی اثبات درسالت اوتحقیق دوعید هم دی یعنی) بیشکه مونږتاسی ته یوداسی رسول رالیږلی دی کوم چی به په تاسی (دقیامت په ورځ) شاهدی ورکوی (چی دی خلګو دتبلیغ ځخه وروسته څه سلوك وکی) لکه چی مونږفرعون ته یورسول لیږلی وو، بیافرعون ددغه رسول خبره ونه منله نومونږ دی په سختو نیولو ونیوی ، نو که تاسی (هم دبعثت درسول ځخه وروسته نافرمانی او) کفر وکی (نو دغه شان به په تاسی هم مصیبت راسی یو ورځ چنانچی دادمصیبت ورځ راتلونکی ده نو تاسی به) ددغی ورځی (دمصیبت) ځخه څنګه خلاص سی کومه چی به (دخپل شدت اواوږدوالی په وجه) بچیان بوډاګان کړی په کومه کی چی به آسمان څیری سی ، بیشکه دهغه وعده به خامخا پوره کیږی (دا هم احتمال نسته چی دغه وخت واپس سی) دا (ټول مضمون) یو (بلیغ) نصیحت دی دچاره چی غواړی دخپل پروردګار طرف ته دی لار اختیارکی (یعنی هغه ته درسیدو دپاره دی ددین لار قبوله کړی ، مخ ته ددی قیام لیل دفرضیت نسخ دی کوم چی دسورة په شروع کی مذکور وو یعنی) ستارب ته معلومه ده چی ته اوستاپه

ملګروکې ځينې سرې (کله) په دروکې دوې حصې شپې ته نژدې نژدې او (کله) نيمه شپه او (کله) په دريمه حصه شپه (په لمونځ کې) دريږي اودشپې اوورځې پوره اندازه الله ﷻ کولی سی هغه ته معلومه ده چې تاسې دا (مقدار دوخت) لره کنترول کولی نه سی (اوپه دې وجه تاسې ته سخت مشقت لاحق کيږي ځکه چې په اندازه سره په تخمينه کولوکې خوشبهه راځي دکمې اوپه اندازه سره په زياتولوکې تولې شپې ته نژدې صرف کيږي چې مقرر وخت يقيناً پوره سې اوپه دې دوارو کارونوکې سخت مشقت دې روحاني ياجسماني) نو (په دې وجهو سره) هغه ستاسې پرحال داعنايت وکې (اوددې ځخه مخکې حکم يې منسوخ وفرمايې) نو (اوس) تاسې خلک چې څومره قرآن په آساني سره ويلې سې واياست يې (مراد ددې قرآن ويلو ځخه تهجد ويل دې چې په دې کې قرآن ويل دې اودا امر داستحباب دې، مطلب دا چې دتهجد فرضيت منسوخ سو، نو اوس څومره وخت چې درته آسان وي په طور داستحباب که غواړې نو کوې اودمنسوخ کيدو اصل علت مشقت دې په کوم چې ، عَلِمَ أَنْ لَنْ تُحْصُوهُ قرينه ده او ددې ځخه مخکې مضمون ددې تمهيد دې مخ ته ددې نسخ دبل علت بيان دې چې) هغه ته (داهم) معلومه ده چې ځينې خلک به په تاسې کې ناروغ وي او ځينې به دمعاش په تلاش کې سفر کوې اوځينې به دالله ﷻ په لاره کې جهاد کوې (په دې وجه يې هم داحکم منسوخ کې ځکه چې په دې حالتونوکې پابندي دتهجد اوددې وختونه مشکل وه) نو (په دې وجه هم تاسې ته اجازت دې چې اوس) تاسې خلک څومره قرآن په آساني سره ويلې سې واياست يې او (که څه هم تهجد منسوخ سو مګردا احکام اوس هم باقي دې ، يعني داچې) لمونځ (فرض) په پابندي سره کوې اوزکوة ورکوې (اوددې تفسيرپه اول دسورة المومنين کې تيرسوی دې) اوالله ﷻ لره په ښه شان سره (يعني په اخلاص سره) قرض ورکې اوکوم نيك عمل چې دخپل ځان دپاره مخ ته (داخرت ذخيره جوړوې) ليږې هغه به الله ﷻ ته په رسيدو ددغه ځخه ښه اوپه ثواب کې لوی پيداکې (يعني په دنيوی غرضونوکې چې په خرڅ کولوسره کم عوض اونفع مرتب کيږي دهغه ځخه ښه اولوی نفقې دخيربه په حاصل سې) اودالله ﷻ ځخه بخښنه غواړې ، بيشکه الله ﷻ غفور رحيم دې (استغفار هم په دې باقي احکامو کې دې)

معلومات اومسئلي : يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ، دَمُزَّمِّلْ : لفظي معنی خپل ځان په کالوکې نغښتل دې تقريباًددې هم معنی لفظ دمدثر دې کوم چې په راتلونکې سورة کې راځي ، په دې دوارو سورتونوکې نبي کريم ﷺ ته په يو وقتي حالت او مخصوص صفت سره خطاب سوی دې ځکه چې دغه وخت نبي کريم ﷺ دسختي بيرې اوترهې په سبب سخت يخ محسوسوی، په دې وجه يې په ځان دکپړو اچولو دپاره وفرمايل اودا کپړې پر واچول سوې او دوی په کې ځان ونغښتې ، ددې واقعه په صحيحينو بخاری اومسلم کې دحضرت جابر ؓ په روايت سره دا ده چې نبي کريم ﷺ دفترتِ وحي دزماني ذکر فرمايې ، دفترت معنی سست يابنديدل دې ددې واقعه داپيښه سوی وه چې دتولو ځخه اول په غارِحرا کې په نبي کريم ﷺ باندې جبرائيل امين نازل سو او دسورةِ اقْرَا ابتدائي آيتونه يې دوی ته واورول ، دا دملائکې نزول او دوحې شدت اول اول وو چې اثر يې په طبعي طور سره وسو اونبي کريم ﷺ ام المونين حضرت خديجه ؓ ته

تشریف راوړی ، سخت یخ یې محسوسوی په دې وجه یې وفرمایل ، زَمِّلُوۡنِیۡ زَمِّلُوۡنِیۡ یعنی ماپټ کړئ ماپټ کړئ ، ددې په تفصیل سره اوږده قصه دصحیح بخاری په اول باب کې ذکر ده ، ددې څخه وروسته ترڅه ورځو پورې داسلسله دوحې بنده سوه ، دغه زمانې ته په کومه کې چې سلسله دوحې بنده سوه ، زمانه دفترت الوحی ویل کیږي ، دوی ﷺ دفترت ددې زمانې ذکر کوی ، ویې فرمایل چې یوه ورځ زه روان وم ، چې ناڅاپه ما اواز واوریدی نو آسمان ته می نظر وکې څه ګورم چې هغه ملائکه کومه چې په غارِحرا کې ماته راغلی وه ، دآسمان اومځکې په مینځ کې په یوه معلقه کرسی ناسته وه ، ماچې ددې هیئت ولیدی نوبیا راباندې هغه رعب اوهیبت راغی کوم چې داول ملاقات په وخت کې سوی وو ، واپس خپل کورته راغلم اوخپل کوروالاؤ ته می وویل چې ماپټ کې ، په دې دا آیت نازل سو ، يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ، په دې حدیث کې دایت يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ دنزول ذکر دی کیدی سی چې ددې حالت دبیانولو دپاره يٰٓاَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ خطاب هم راغلی وی ، او دا هم کیدی سی چې دلفظ دَمزَمّل دلقب واقعه جلاوی کومه چې په لنډ تفسیر کې بیان سوي ده ، په دې عنوان سره په خطاب کولو کې یوخاص لطف اوعنایت طرف ته اشاره ده لکه په محبت اوشفقت کې چې چاته دهغه دوقتی حالت په عنوان سره محض دتلطف دپاره خطاب کول کیږي «روح المعانی» په دې خاص عنوان سره یې خطاب وفرمایی او دوی ﷺ ته یې دلمونځ دتهجد حکم او ددې څه تفصیل ښوولی دی .

(دتهجد دلمانځه احکام اوپه دې کې تبدیلي)

لفظ دمزمل اومدثر په خپله ددې پته ورکوی چې دا آیت بالکل داسلام په شروع او دقرآن دنزول په ابتدایی زمانه کې نازل سوی دی کله چې دغه وخت پنځه لمونځونه په امت فرض سوی نه وه ، ځکه چې دپنځو لمونځونو فرضیت خو دمعراج په شپه سوی دی ، امام بغوی رحمه الله دحضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها اونورو داحادیثوپه بنا دا فرمایلی دی چې ددې آیت په وجه سره دشپې لمونځ په نبی کریم ﷺ اوټول امت فرض وو اودا دهغه وخت واقعه ده کله چې پنځه لمونځونه نه وه فرض سوی ، په دې آیت کې قیام اللیل یعنی دتهجد لمونځ صرف فرض سوی نه دی ، بلکه په دې کې کم ازکم څلورمه حصه دشپې مشغول پاته کیدل هم فرض ګرځول سوی دی ځکه چې په دې ایتونوکې اصل حکم داوو چې ټوله شپه په استثناء دقلیل په لمونځ کې مشغول اوسی او داستثناء قلیل بیان اوتفصیل مخ ته راځي .

امام بغوی رحمه الله داحادیثو دروایتونو په بنا فرمایی چې ددې حکم په تعمیل کې نبی کریم ﷺ اوصحابه کرامو رضي الله عنهم به دشپې اکثره حصه په تهجد کې تیروله، تردې چې ددوی قدمونه به وپړسیدل اوداحکم کافی ګران معلوم سو ، کال پس ددې سورة اخره حصه ، فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ : نازله سوه ، کوم چې ددې اوږد قیام پابندی منسوخه کړه اواختیار یې ورکې چې څومره څومره وخت دچا دپاره آسان وی دومره وخت خرڅ کول دتهجد په لمونځ کې کافی دی ، دا مضمون په ابوداود، نسایی کې دحضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها څخه منقول دی او حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمایی چې کله دپنځو لمونځونو فرضیت په شپه دمعراج کې

نازل سو نو دتهجدو فرضیت منسوخ سو، البته سنت بیاهم پاته سول اونبی کریم ﷺ همیشه پردی مدا ومت وفرمایی، دغه شان اکثرو صحابه کرامو ﷺ به په ډیره پابندی سره دتهجد لمونځ ادا فرمایی، (مظهری) اوس دایت دالفاظو تفسیر وګوری ارشاد فرمایی.

قُمِ اللَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا په اللَّيل: باندی دالف لام په داخلیدو سره دی دپوره شپی معنٰی ورکړه نو دآیت معنٰی دا سوه چی ته ټوله شپه په قیام دشپه کی مشغول اوسه بغیر دلږی حصی دشپی څخه، مګر چونکی دالفظ دقلیل مبهم وو په دی وجه مخ ته یی ددی تشریح داسی وفرمایله، نِصْفَهُ أَوِ انْقُصْ مِنْهُ قَلِيلًا، أَوْ زِدْ عَلَيْهِ یعنی اوس ته نیمه شپه قیام فرمایه یادنیمی څخه څه کموه یادنیمی څخه څه زیاتوه، دابیان دالاَّ قَلِيْلاً داستثناء دی، په دی وجه په دی داسوال کیدی سی چی نصف ته خوکم نه سی ویلی، جواب دا دی چی دشپی ابتدایی، حصه خو په ماښام بیاپه ماخستن اونورو کی تیره سی اوس دنیمی څخه مرادبه دا باقیمانده نیمه وی، هغه دمجموعی شپی په اعتبار سره لږده اوپه دی آیت کی چونکی دنیمی څخه دکمولو هم اجازت دی اودنیمی څخه دزیاتی کولو هم په دی وجه دمجموعی په طور ددی مطلب داسو چی کم از کم دڅلورمی حصی څخه څه زیات په قیام اللیل کی مشغولیدل به فرض وی.

دترتیل قرآن مطلب: وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا: دترتیل معنٰی کلمه په سهولت اواستقامت سره دخلی څخه ایستلی دی (مفردات امام راغب) مطلب دایت دا دی چی دقرآن په تلاوت کی تلواری مه کوی، بلکه په ترتیل اوتسهیل سره یی ادا کوی او ورسره ددی په معانیوکی تدبر اوغور کوی (قرطبی) د، وَرَتِّلْ عطف په، قُمِ اللَّيْل باندی دی او په دی کی ددی بیان دی چی دشپی په قیام کی څه کول دی، ددی څخه معلومه سوه چی دتهجد لمونځ که څه هم په قرآنت اوتسبیح، رکوع اوسجده ټول دلمونځ په اجزاؤ باندی مشتمل دی، مګر په دی کی اصل مقصود دقرآن قرآئت دی، په دی وجه صحیح احادیث په دی شاهد دی چی نبی کریم ﷺ به دتهجد لمونځ ډیر اوږد ادا فرمایی، داعادت په صحابه اوتابعینو کی معروف راغلی دی.

مسئله: ددي څخه دا هم معلومه سوه چی دقرآن صرف ویل مطلوب نه دی، بلکه ترتیل مطلوب دی په کوم کی چی هره یوه کلمه صفا صفا او صحیح ادا سی، حضرت نبی کریم ﷺ به دغه شان ترتیل فرمایی دحضرت ام سلمه ﷺ څخه ځینو خلقو دشپی په لمونځ کی د ده ﷺ دقرآن دتلاوت دکیفیت پوښتنه وکړه نوده ﷺ دهغوی ﷺ په شان تلاوت نقل کی وي فرمایل چی یو یو حرف په کی واضح وو (ترمذی، ابوداود، نسائی ازمظهری)

مسئله: په ترتیل کی تحسین داواز یعنی په قدر داختیار په خوش اوازی سره ویل هم شامل دی، دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ دچاقرآنت اوتلاوت داسی نه اوری لکه چی دهغه نبی تلاوت اوری کوم چی په خوش اوازی سره په جهر تلاوت کوی (مظهری)

حضرت علقمه ﷺ یو سړی په خوش اوازی سره په تلاوت کولو ولیدی نووي فرمایل، لَقَدْ رَتَّلَ الْقُرْآنَ فِدَاهُ أَبِيْ وَأُمِّيْ: یعنی دی سړی دقرآن ترتیل کړی دی، زما مور اوپلار دی په ده قربان سی (قرطبی)

او اصل ترتیل هغه دی چی دحروفو او الفاظو ادائیگی هم صحیح اوصفاوی او ویونکی ددی په معانیو فکر وکی اومتاثره ورځخه هم سی لکه چی دحسن بصری څخه منقول دی چی دنبی کریم ﷺ گذر په یو داسی سړی وسوکوم چی دقرآن یو آیت وایه اوژړل یی ، دوی ﷺ خلگو ته وفرمایل چی تاسی دالله ﷻ دا حکم اوریدلی دی ، وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلاً ، بس دا ترتیل دی (کوم چی دا سړی کوی) (قرطبی)

إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلاً : دثقیل معنی دروند دی او دقولِ ثقیل څخه مراد قرآن دی ځکه چی ددی دبیان کړو حلالو حرامو جائزو او ناجائزو دحدودو دآئمی پابندی په طبعی ډول دَرَنه ده بغیر دهغه څخه چی دچا دپاره یی الله ﷻ اسانه کړی اوقرآن ته قولِ ثقیل په دی وجه هم ویل کیږی چی ددی دنزول په وخت کی به نبی کریم ﷺ یو خاص وزن اوشدت محسوسوی په کوم سره چی به دسخت یخ په وخت کی هم د دوی ﷺ پرتندی خوله راتله او که دغه وخت به په اوښه سپور وو نو هغه به ددی دبار څخه ځپ کښته کی لکه چی صحیح احادیث په دی شاهد دی (بخاری اونور) په دی آیت کی دی طرف ته اشاره موندل کیږی چی دتهجد دلمونځ حکم ځکه ورکول سو چی انسان دمشقت تیرولو سره عادت سی ، دادشپی دخوب دغلبی اودنفس دراحت خلاف یوجهاد دی ، ددی په ذریعه ددرنو وزن دارو احکامو برداشت اسانیږی کوم چی په قرآن کی نازلیږی .

إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّيْلِ : لفظ د ، نَاشِئَة په وزن د ، عافیت، مصدر دی چی معنی یی ده دشپی دلمونځ دپاره دریدل حضرت عائشه ﷺ فرمایی چی دخوب څخه وروسته دشپی دلمونځ دپاره پورته کیدل، نَاشِئَةَ اللَّيْل ، دی ددی معنی په لحاظ سره نَاشِئَةَ اللَّيْل : په معنی دتهجد سو ، ځکه چی دتهجد لفظی معنی هم دشپی دخوب څخه وروسته دلمونځ دپاره پورته کیدل دی اولمونځ کول دی ، ابن کیسان فرمایی چی دشپی په اخرکی پورته کیدو ته ، نَاشِئَةَ اللَّيْل وایی ، ابن زید فرمایی چی دشپی په کومه حصه کی هم چی څه لمونځ وسی هغه په ، نَاشِئَةَ اللَّيْل : کی داخل دی اوحضرت حسن بصری رحمه الله فرمایی چی دماختن دلمونځ څخه وروسته هرلمونځ په نَاشِئَةَ اللَّيْل : کی داخل دی ، ابن ابی ملیکه رحمه الله فرمایی چی ما دحضرت ابن عباس ﷺ او ابن زبیر ﷺ څخه د ، نَاشِئَةَ اللَّيْل : دمعنی پوښتنه وکړه نو هغوی وفرمایل ، اَللَّيْلُ كُلُّهَا نَاشِئَةٌ : یعنی دشپی په هره حصه کی لمونځ په نَاشِئَةَ اللَّيْل : کی داخل دی (مظهری)

په دی ټولو اقوالوکی څه تضاد نسته ، حقیقت دا دی چی د ، قِيَامُ اللَّيْل او ، نَاشِئَةَ اللَّيْل : مطلب په اصل کی عام دی ، دشپی په هره حصه کی چی هم لمونځ وسی په دی ددی دواړو لفظونو اطلاق کیدی سی خصوصًا کم لمونځ چی دماختن څخه وروسته وی لکه چی دحضرت حسن بصری رحمه الله قول دی لیکن دنبی کریم ﷺ او جمهورو اصحابو ﷺ اوتابعینو او صالحانو دامت همیشه داعمل راغلی دی چی دالمونځ به یی دخوب څخه وروسته (په پورته کیدو سره) دشپی په اخرکی ادا کوی ، په دی وجه دا افضل اواعلی او دبرکتونو موجب دی اونفسِ سنت د ، قیام اللّیل اوناشئة اللّیل : دماختن دلمونځ څخه وروسته په هر نفل لمونځ سره ادا کیږی .

هِيَ اَشَدُّ وَطْاً، په وَطْاً کې دوه قراتونه دي ، مشهور قرآئت په زبر دواو اوسکون دطاء دي ، په وزن دَضَرْبٌ چې معنٰی يې پائمال کول اومړل دي ، په دي اعتبار سره به مطلب دا وي چې دشپې لمونځ په نفس کُشی اونفس میده کولو کې ډير مدد ګاردی یعني دنفس په واك کې دساتلو او دناجائزو خواهشاتو څخه يې په منع کولو کې دتهجد په لمونځ سره ډيرمدد ورکول کيږي په ذکر سوی لنډ تفسير کې يې دا اختيار کړي ده په بل قرآئت کې وِطَآءً په زير دواو او الف ممدوده سره په وزن دکِتَابٌ دي، په دي صورت کې دا مواطاء په معنٰی دموافقت ، مصدر دی دقرآن کريم په آيت ، لِيُوَاطِئُوْا عِدَّةَ مَاحَرَّمَ اللهُ : کې ددې موافقت معنٰی ده ، دتفسير په امامانو کې دحضرت ابن عباس ﷺ اوابن زيد ﷺ څخه ددې دامعنٰی منقول ده، ابن زيد فرمايي چې مراد دا دی چې دشپې په وخت کې دلمانځه دپاره پورته کيدل په زړه غوږونو ژبې ټولو کې ديووالی په پيدا کولو کې اشد دی يعني ډير زيات موثر دي .

حضرت ابن عباس ﷺ فرمايي چې د، اَشَدُّوِطَآءً معنٰی دا ده چې په غوږونو او زړه کې دغه وخت زيات موافقت وي ، چې دشپې وخت عموماً دکارونو څخه دفراغت او دشور ږغ څخه دنجات اوسکون وخت وي ، دغه وخت چې کوم الفاظ دژبې څخه وزي ، خپل غوږونه هم هغه اوري او زړه هم حاضر وي .

وَاَقْوَمُ قِيلاً، د ، اَقْوَم معنٰی زيات مستقيم او درست اوزيات ثابته ده مراد دا دی چې دشپې په وخت کې دقرآن تلاوت په زيات درست اوثبات سره کيدی سی ، ځکه چې دمختلف قسم اوازونو اوشور اوشغب څخه زړه اوذهن نه پريشانه کيږي .

لنډه دا چې په دې آيت دقيام الليل دحکم حکمت بيانول دي ددې څخه په مخکې آيت کې چې کوم ددې حکمت ارشاد فرمايل سوی وو، اِنَّا سَنُلْقِيْ عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا داخو دنبي کريم ﷺ دذات اقدس سره خاص وو چې دقول ثقيل يعني دقرآن دنزول تعلق ددوی دذات سره دي، په دې دوهم آيت کې چې کوم حکمت بيان سو هغه دټول دامت دپاره عام دی ، چې دشپې په لمانځه کې دوی فائدی دي اول دزړه اوژبې موافقت دوهم دسکون په وجه دقرآن په تلاوت کې اسانی .

اِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلًا : دلفظ دسبح لفظي معنٰی جاری کيدل اوګرځيدل دي ، په دي وجه په اوبو کې لامبو وهلو ته هم سَبْحٌ اوسباحت وايي چې په اوبو کې بغير دڅه خنډ څخه ګرځيدل په لامبوسره اسان وي دلته مراد دسبح څخه دټولی ورځې مشغلی دي په کوموکې چې تعليم تبليغ اودخلګو داصلاح دپاره يا دخپل معاش دمصالحو دپاره ګرځيدل اونور ټول دا خل دي ، په دي آيت کې دقيام الليل دحکم د دريم حکمت اومصلحت بيان دی دا هم دنبي کريم ﷺ او دټول امت دپاره عام دی ، هغه دا چې په ورځ کې خو دنبي کريم ﷺ اودغه شان دنورو ټولو حضراتو ډيری مشغلی اوګرځيدل وي، په خاطر جمعي سره په عبادت کې توجه ګرانه وي ، دشپې وخت ددې کار دپاره پاته کول په کار دي چې په قدر دضرورت خوب او ارام هم وسي او دقيام الليل عبادت هم .

فائده : فقهاء حضرات فرمايي چې ددې آيت څخه ثابتيږي چې علماء اومشائخ کوم چې په تعليم

اوتربیت او دمخلوق داصلاح په خدمتونوکی اخته وی ، هغوی لره هم داکارونه تر ورځی پوری محدود پریښوول په کار دی ، دشپی وخت دالله ﷻ په حضورکی دحاضری او عبادت دپاره فارغ ساتل په کار دی لکه چی دتیرو عالمانو تعامل په دی باندی شاهد دی ، کله وختی ضرورت دینی ، تعلیمی ، تبلیغی کله اتفاقاً دشپی هم په دی کی دمشغولیدو داعی وی نو هغه په قدر دضرورت مستثنا ده ، ددی شهادت هم د ډیرو حضراتو فقهاؤ علماؤ دعمل څخه ثابت دی .

وَاذْكُرِاسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا دتبتل لفظی معنی دمخلوق څخه منقطع کیدل دخالق په عبادت کی لګیدل دی د ، وَاذْكُرِاسْمَ رَبِّكَ عطف په قم اللیل باندی دی ، په کوم کی چی نبی کریم ﷺ ته دشپی دلمونځ حکم ورکول سوی دی ، اوپه دی ضمن کی یی دورځی دخاص خاص عبادتونو طرف ته هم اشاره وکړه ، لکه په دی قول دالله ﷻ کی إِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِسَبْحًاطَوِيلًا په دی آیت کی دیو داسی عبادت حکم دی کوم چی دشپی یادورځی سره مخصوص نه دی، بلکه په هروخت اوهرحال کی جاری وی ، هغه دی ذکرالله اومراد دذکر الله دحکم څخه په هغه مداومت دی څکه چی دنبی کریم ﷺ څخه ددی خو تصور نه سو کیدی چی دی ﷺ دی بالکل ذکر نه کوی ، په دی وجه ددی حکم منشاء دوام ذکر کیدی سی (مظهری) اومراد دایت دا دی چی نبی کریم ﷺ ته حکم ورکول سوچی ذکر الله شپه اوورځ هروخت جاری ساته په دی کی نه هیڅکله غفلت په کار دی نه سستی او دا مراد هغه وخت کیدی سی کله چی دذکر الله څخه مراد عام واخستل سی ، برابره خبره ده که په ژبه سره وی اوکه په زړه سره یاپه اندامونو او جوارحو سره چی دا دالله ﷻ په احکاموکی مشغول وساتی ، او په یوحدیث کی کوم چی دحضرت عائشه ﷺ څخه روایت دی ، دا راغلی دی چی ، كَانَ يَذْكُرُ اللهَ عَلَى كُلِّ حِيْنٍ : یعنی نبی کریم ﷺ به هر وخت دالله ﷻ په ذکر کی مشغول وو ، دا هم ددی عامی معنی په وجه سره صحیح کیدی سی ، څکه چی په بیت الخلاء اونورو ځایوکی د دوی لسانی ذکر نه کول په روایتونو دحدیث سره ثابت دی ، مګر قلبی ذکر هروخت جاری پاته کیدی سی او دذکرِ قلبی دوه صورتونه دی ، یو دداسی الفاظو په ذریعه سره چی په خیال کی راوستل سی ، دوهم دالله ﷻ په صفاتو او کمالاتو کی په غور اوفکر کولو سره (لکه چی داسی شیخ تهانوی رحمه الله فرمایلی دی)

دوهم حکم په دی آیت کی دا ورکول سوچی ، تَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا : یعنی ته دټولو مخلوقاتو څخه قطع نظر وکړه صرف دالله ﷻ په رضا لټولو او دهغه په عبادت کی اخته سه ، ددی په عام مفهوم کی دالله ﷻ په عبادت کی غیرالله نه شریکول بلکه خالص دالله ﷻ دپاره عبادت کول په کی هم داخل دی اوداهم چی په خپلو ټولو کارونو، عملونو، حرکاتو او سکناتو کی نظر او توکل صرف په الله ﷻ وی څوك مخلوق دنفع او ضرر مالك یا حاجت روا او مشکل کشاء نه ګڼل ، حضرت ابن زید ﷺ فرمایی چی دتبتّل معنی دا ده چی ټوله دنیا او ما فیها پریږدی اوصرف دهغه شی طرف ته متوجه سی کوم چی دالله ﷻ سره وی (مظهری)

لیکن دکوم تبتّل اومخلوق څخه دقطع تعلق حکم چی په دی آیت کی ورکول سوی دی ، هغه ددی ترکِ تعلقات اوترکِ دنیا څخه بالکل مختلف دی ، کوم ته چی یی په قرآن کی رهبانیت ویلی دی او ددی

دمذمت طرف ته یی اشاره کړي ده ، وَرَهْبَانِيَّةَ نِ ابْتَدَعُوْهَا: او دکوم په حقله چې په حدیث کې دی ، لَارَهْبَانِيَّةَ فِي الْاِسْلَامِ : ځکه چې رهبانیت په اصطلاح دشرع کې دهغه ترکِ دنیا او ترکِ تعلقات نوم دی په کوم کې چې ټول لذتونه او حلال طیب شیان په نیت دعبادت پریښوول کیږي ، یعني داعقیده وي چې ددی حلالو شیانو دپریښوولو څخه بغیر دالله ﷻ رضانه سی حاصلیدی یاعملاً ترک تعلقات داسی وکی چې دخلګو دواجبو حقونو رعایت نه کوی او په هغه کي خلل راسی اودلته چې دکوم تبتل اوترکِ تعلق حکم دی هغه دا دی چې دالله ﷻ سره په تعلق باندی دیوبل مخلوق تعلق غالب رانه سی برابره خبره ده که اعتقاداً وی یاعملاً ، او داسی ترکِ تعلق په دنیوی ټولومعاملو دښځو نکاح ، اوقرابت دتعلقاتو اونورو سره منافی نه دی ، بلکه ددی ټولوسره جمع کیدی سی لکه چې دټولو انبیاء علیهم السلام سنت خصوصًا دسیدالانبیاء علیه السلام ټول ژوند اوشمائل پردی شاهد دی، دلته چې کوم مفهوم په لفظ دتبتل سره تعبیرسوی دی ددی دوهم عنوان دسلفو صالحینو په ژبه کی اخلاص دی (مظهری)

مهمه فائده : دذکرالله په کثرت اودترک دنیاپه معامله کی صوفیاءِ کرام مخ ته او وروسته دټولو څخه مخ ته پاته سوی دی دوی فرمایی چې مونږ په کوم مسافت طی کولواولاره قطع کولو کی شپه اوورځ لګیدلی یو، په حقیقت کی دهغه دوه قدمونه دی اولنی قدم دمخلوق څخه انقطاع ده اودوهم قدم الله ﷻ ته رسیدل دی او دا دواړه دیو بل دپاره لازم اوملزوم دی ، په ذکرسوی آیت کی یی دا دوه قدمونه په دووجملوکی په عطف سره بیان کړی دی ، وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا دلته دذکر الله څخه مراد پردی داسی مداومت دی په کوم کی چې هیڅکله قصور اوفتور (سستی) نه وی اوهیڅ وخت دهغه څخه ذهول (غفلت) نه وی یعنی هغه مقام دی کوم ته چې دصوفیاءِ کرامو په اصطلاح وصول الی الله ویل کیږی دغه شان په اوله جمله کی یی داخری قدم ذکر وفرمایی اوپه دوهمه جمله کی یی داولنی قدم، داترتیب شاید ځکه بدل سو چې که څه هم په عمل کی تبتل یعنی قطع تعلقات (په معنٰی مذکوره سره) مقدم دی اووصول الی الله ددی څخه وروسته په هغه مرتب کیږی ، مګر چونکه مقصد دسالك دا دوهم قدم دی او دا چونکی دمقصدونو مقصد دی ، ددی داهمیت اوافضلیت دښوولو دپاره یی طبعی وقوعی ترتیب بدل کی ، ذکر الله یی مخ ته وفرمایی ، شیخ سعدی رحمه الله دا دواړه قدمونه څه ښه بیان فرمایلی دی .

تعلق حجاب است وبی حاصلی چو پیوندها بُگسلی واصلی

دمخلوق سره تعلق ساتل الله ﷻ ته درسیدو په لاره کی په ده اوتعلق نه حاصلیدل دی کله چې دتعلقاتو دمخلوق پیوندونه وشلوی ، نو دالله ﷻ سره به واصل سی .

(ذکر داسم ذات یعنی دالله الله تکرار هم ماموربه ذکر اوعبادت دی)

په دی آیت کی یی دذکر الله حکم په لفظ داسم سره مقید کی، وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ یی فرمایلی دی، وَاذْكُرْ رَبَّكَ یی نه دی فرمایلی ، په دی کی اشاره دی طرف ته راوزی چې درب داسم یعنی دالله الله تکرار هم مطلوب اوماموربه دی (مظهری) ځینی عالمانو چې صرف داسم ذات الله الله تکرار ته بدعت ویلی دی ، ددی څخه معلومه سوه چې دی ته بدعت ویل صحیح نه دی . والله تعالی اعلم

رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيلًا : وكيل په لغت کی هغه چاته ویل کیږی چاته چی یو کار وسپارل سی ، د ، فَاتَّخِذْهُ وَكِيلًا مطلب دا سو چی خپل ټول کاروبار حالات او معاملات الله ﷻ ته وسپاره ددی نوم په اصطلاح کی توکل دی ، په دی سورة کی چی کوم احکام نبی کریم ﷺ ته ورکول سوی دی ، دا په هغه کی پنځم حکم دی امام یعقوب کرخی رحمه الله فرمایی چی دسورة دشروع څخه تردی آیت پوری دسلوك دمقاماتو طرف ته اشاره ده ، یعنی ، ۱، په شپه کی دالله ﷻ دعبادت دپاره خلوت ۲، په قرآن کریم کی اشتغال . ۳، په ذکر الله باندی دوام، ۴، دماسوی الله څخه پرهیز کول اوترك تعلقات، ۵، په الله ﷻ باندی توکل ، دتوکل داخری حکم څخه مخکی یی دالله ﷻ صفت ، رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ : بیان کی او دی طرف ته یی اشاره وکړه چی کوم پاك ذات دمشرق اومغرب یعنی ټول جهان پالونکی او ددی ټولو دضرورتونو دابتداء څخه ترانتهاء پوری دپوره کولو متکفل دی دتوکل او تکیی کولو قابل صرف هغه ذات کیدی سی اوپه هغه تکیه کوونکی هیڅکله محروم نه سی پاته کیدی لکه چی دقرآن کریم ارشاد دی ، وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ : یعنی کوم سړی چی په الله ﷻ توکل (بروسه) کوی ، الله ﷻ دهغه د (ټولو مهماتو اومشکلاتو دپاره) کافی کیدی سی .

دتوکل شرعي معني : په الله ﷻ دتوکل اوبروسی دا معنی نه ده چی دکسبِ معاش اودفعِ بلا کوم اسباب او الات قدرتِ چی حق تعالی ﷻ ده ته ورکړی دی هغه معطل کړی اوپه الله ﷻ بروسه کوی بلکه دتوکل حقیقت دا دی چی دخپلو مقصدونو دپاره دالله ﷻ ورکړی قوت اوطاقت اوکوم اسباب چی ورسره وی هغه ټول پوره استعمال کړی ، مگر په مادی اسبابو کی غلواوزیات انهماك مه کوی داختیاری عملونو دکولو څخه وروسته نتیجه الله ﷻ ته وسپاری او بی فکره سی .

دتوکل دا مطلب په خپله نبی کریم ﷺ ارشاد فرمایلی دی امام بغوی رحمه الله په شرح السنة کی اوبیهقی په شعب الایمان کی دا حدیث روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی .

اِنَّ نَفْسًا لَنْ تَمُوْتَ حَتّٰى تَسْتَكْمِلَ رِزْقَهَا اَلَا فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَجْمِلُوْا فِي الطَّلَبِ .

یعنی روح القدس (جبرائیل امین علیه السلام) زما په زړه کی دا خبره غورځولی ده چی یو سړی تر هغه وخته پوری نه مړ کیږی ترڅو پوری چی هغه په خپل مقدر کی لیکل سوی دالله ﷻ رزق پوره پوره حاصل نه کی ، په دی وجه تاسی دخدای څخه وبیریږی او دخپلو مقصدونو په طلب کی داختصار څخه کاراخلی (زیات په کی منهمك کیږی مه چی دزړه ټوله توجه په دی مادی اسبابو کی پاته سی) اوپه الله ﷻ توکل کوی .

اوپه ترمذی کی دحضرت ابوذرِ غفاری رضی الله عنه څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی ترکِ دنیا دهغه نوم نه دی چی تاسی په ځان دالله ﷻ حلال شیان حرام کی یاکوم مال چی ستاسی سره وی هغه خامخا والوزوی بلکه ترکِ دنیا دهغه نوم دی چی ستاسی اعتماد په هغه شی کوم چی دالله ﷻ سره دی ، زیات وی په نسبت دهغه کوم چی ستاسی په لاس کی دی (مظهری)

وَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيْلًا : په قول دامام کرخی داشپږم حکم دی کوم چی نبی کریم ﷺ ته

ورکول سوی دی یعنی دخلګو په ازارونو اوښکنځلو صبرِ جمیل ، دا دسلوك په مقاماتوکی دټولوڅخه اعلی مقام دی چی ددښمنانو په زیاتی اوازار صبر وسی ، یعنی دا حضرات چی دکومو خلګو په خیر خواهی اوهمدردی کی خپل ټول قوت اوتوانایی اوټول عمر خرڅ کوی ، دهغوی دطرف څخه په بدل کی ښکنځل ، ازارونه اوقسم قسم زور او زیاتی د دوی په مقابله کی کوی ، په هغه صبرجمیل کول یعنی دبدل اخستلو اراده هم نه کول دا هغه اعلی مقام دی کوم چی دصوفیانوپه اصطلاح کی دکاملی فناء څخه بغیر نه نصیب کیږی .

وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيلاً د ، هَجْرْ په زبر دهاء لفظی معنی یو شی په رنج اوملال اوبی زاری سره پریښوول دی ، معنی دا سوه چی دروغ کوونکی کفارچی دآزار رسولو کلمی تاته وایی ، ته ددغو بدل خو د دوی څخه نه اخلی مګر د دوی سره تعلقات هم مه ساته ، مګر دترکِ تعلق په وخت کی دانسان طبعی عادت دا دی چی دچاسره تعلق پریږدی ، دهغه څخه شکوه اوشکایت کوی او هغه ته بدی ردی وایی ، په دی وجه نبی کریم ﷺ ته دکفارو سره دترکِ تعلق چی کوم حکم ورکول سو نو ورسره یی د ، هَجْرًا جَمِيلاً قید ولګوی چی ستا دلوړ منصب اوخُلقِ عظیم تقاضا دا ده چی دکومو کفارو سره ترکِ تعلق کوی خپله ژبه هم هغوی ته دبدو ویلو څخه محفوظه وساته .

ځینو مفسرینو حضراتو فرمایلی دی چی دجهاد اوقتال کوم آیتونه چی وروسته نازل سول په هغوسره ددی آیت حکم منسوخ سو ، لیکن چی فکر وسی نو دمنسوخ ویلو ضرورت نسته ، ځکه چی په ذکر سوو ایتونو کی دکفارو په ازارونو دصبر او دهجرت تلقین دی ، دا دزجر اوسزا اوقتال منافی نه دی ددی آیت حکم هر وخت په هرحال کی دی او په جهاد اوقتال کی چی کومه سزا اوزجر دی دهغه حکم په خاصو خاصو وختونوکی دی اواسلامی قتال او جهاد په حقیقت کی څه انتقام یا خپله غصه ایستل نه دی کوم چی دصبر او هجرجمیل منافی وی ، بلګه خالص دحکم خداوندی تعمیل دی ځنګه چی صبراوهجرجمیل په عامو حالاتوکی ددی تعمیل دی ، تردی ځای پوری نبی کریم ﷺ ته دکفارو په ازارونو اودصبر اوترکِ انتقام تلقین وو اوس مخ ته دوی ته دتسلی دپاره په دغوکفارو چی کوم عذاب په اخرت کی راتلونکی دی دهغه بیان دی ، مقصد دا دی چی د دوی په دی دخو ورځو غلبی اوظلم زیاتی ته خفه کیږه مه، دوی خوالله ﷻ په سخت عذاب کی نیوونکی دی ، البته دالله ﷻ دحکمت تقاضا څه مهلت ورلره ورکړی دی ، په دی کی ته دتلواری فکرمه کوه ، دامطلب دی دورپسی آیت ، وَذَرْنِي وَالْمُكَذِّبِينَ أُولِي النَّعْمَةِ وَمَهِّلْهُمْ قَلِيلاً په دی کی یی دروغجن کوونکو کفاروته أُولِي النَّعْمَةِ فرمایلی دی ، دنعمت په زبر دنون معنی تَنَعُّم یعنی دعیش عشرت اومال او اولاد زیاتوالی دی ، په دی کی اشاره ده چی ددنیاپه مال اولاد اوناز او نعمت کی مستیدل دهغه سړی څخه کیدی سی کوم چی داخرت تکذیب کوونکی وی ، مومن ته هم دیر وار دا شیان نصیب کیږی ، مګر هغه په دی کی داسی نه مستیږی ، په دی وجه ددنیا دهر عیش او راحت په وخت کی هم دده زړه دفکرِ اخرت څخه خالی نه وی ، خالص عیش او عشرت اوبالکل بی فکری په دی دنیا کی دکافرانو او دآخرت دتکذیب کوونکو حصه کیدی سی .

مخ ته دآخرت ددی سخت ترین عذاب ذکر دی ، په کوم کی چی یی اول د ، أنکال ذکر وکی چی معنیٰ یی قید اوبند او زنځیرونه دی ، بیایی دجهنم دسخت اور ذکر وفرمایی ، بیا د دوږخیانو د دردناك خوراك ذکر دی ، طَعَامًا ذَا غُصَّةٍ ، دغصه لفظی معنیٰ په مری کی دمښتونکی دودی ده چی یو دودی په مری کی داسی ومښلی چی نه تیریږی نه دباندی راوزی ، ضریع او زقوم کوم چی دوږخیانو ته دخوراك دپاره ورکول کیږی ، دهغوی به هم دا حال وی ، حضرت ابن عباس ﷛ فرمایی چی په دی کی به داور تونی وی چی په مری کی به ومښلی (نعوذ بالله منه) په اخرکی فرمایی، وَعَذَابًا اَلِيمًا ، ددغو معینو عذابونو دذکر کولو څخه وروسته دا مبهم لفظ یی راوړی او دی طرف ته یی اشاره وکړه چی نورعذاب ددی څخه هم زیات شدید اوسخت دی چی هیڅ انسان یی تصورنه سی کولی (یا الله! مونږ ورڅخه محفوظ وساتی)

(دسلفِ صالحینو دآخرت بیره)

دامام احمد ، ابن ابی داود ، ابن عدی اوبیهقی څخه روایت دی چی یوسړی دقرآن داآیت واوریدی نو دبیری څخه بی هوښه سو ، اویوه ورځ دحضرت حسن بصری ﷫ روژه وه ، دروژه مات په وخت کی ورته خوراك راوړل سو ، نودی آیت ته یی خیال ولاړی خوراك یی ونه خوړی اوپورته یی کی ورڅخه بله ورځ بیا ماښام داسی وسوه اوخوراك یی ورڅخه پورته کی، په دریمه ورځ بیا داسی وسوه نو دده زوی حضرت ثابت بنانی ﷫ او یزید ضَبّی اویحییٰ بکار خواته ولاړی او حال یی ورته ووایه ، دا دری سره حضرات راغلل اوپه حضرت حسن ﷫ یی دخوراك خوړلو اصرار وکی چی مجبوره سو ، نو څه خوراك یی وکی (روح المعانی)

مخ ته دقیامت څه هیبتناك واقعات بیان فرمایی ، يَوْمَ تَرْجُفُ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ : ددی څخه وروسته یی دمکی کفاروته دفرعون اوحضرت موسیٰ ﷵ قصه واوروله اوددی څخه یی وبیرول چی لکه څنګه چی فرعون دخپل رسول حضرت موسیٰ ﷵ تکذیب وکی ، اوپه عذاب کی ګرفتارسو ، تاسی هم پردی تینګ یاست نوپوه سی چی پرتاسی هم داسی یوعذاب په دنیاکی راتلی سی په اخرکی فرمایی چی که په دنیاکی کی څه عذاب راهم نه سی نودقیامت ددغی ورځی دعذاب څخه به تاسی څوك خلاص کی چی دهیبت او اوږدوالی په وجه به کوچنیان بوډاګان سی، ظاهره ده چی دادقیامت دورځی دسختوالی اوهیبتوالی بیان دی چی په دی کی به په خلګو داسی بیره اوهیبت خپور سی چی که څوك کوچنی وی نوبوډا به سی ، غرض دا چی مراد ددی څخه یوتمثیل دی اوځینی حضرات فرمایی چی مراد حقیقت دی او ورځ دقیامت به دومره اوږده وی چی په دی کی به یو کوچنی هم دبوډاوالی عمرته ورسیږی (قرطبی اوروح)

(دقیام اللیل فرضیت منسوخ سو)

دسورة په شروع کی په قُمِ اللَّيْلَ سره په نبی کریم ﷺ او ټولو مسلمانانو دشپی قیام فرض سوی دی او ددی قیام اوږدوالی هم فرض وو ، مګر په دی اوږدوالی کی اختیار ورکول سوی وو چی دنیمی شپی څخه څه کم یازیات اودکم څخه کم دریمه حصه دشپی قیام په کار دی ، نبی کریم ﷺ او د دوی سره دصحابه کرامو ﷡ یوجماعت ددی فرضوپه اداییګی کی اکثره په عزیمت عمل کوی اودشپی زیات تر زیات وخت

به یې په دې لمونځ کې تیروې کوم چې به دوه ثلثه دشپې ته نژدې وو ، هره شپه دا عمل بیا دورځې ددین دعوت اوتبلیغ اوذاتي ضرورتونه خصوصاً اکثرو صحابه کرامو ﷺ به محنت مزدوري یاتجارت کوی ، ددې اوږد اودروند لمونځ په پابندۍ سره دنبی کریم ﷺ اوصحابه کرامو پښې وپرسیدې ، د دوی دا مشقت اومحنت دالله ﷻ په مخکې وو ، هغه په دې ښه پوه وو ، مګرپه علم الهی کې دمخکې څخه متعین وه ، چې دا دوره محنت فریضه دځو ورځو دپاره ده چې دوی اوصحابه کرام ﷺ دمحنت او رياضت سره عادت سي ، دکوم طرف ته چې په ذکر سوی آیتونوکې هم په ، إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا کې اشاره پیدا کیدی سي چې ستا څخه دامحنت اومشقت ځکه اخستل کیږي چې تاته قولِ ثقیل یعنی دقرآن خدمت سپارل کیدونکی دی کوم چې ددې مشقت څخه لوی مشقت دی،په هرحال دعلم ازلی مطابق کله چې داحکمت درياضت اومحنت دعادت جوړول پوره سو نودا فرض دقيام اللیل منسوخ سو ، اودحضرت ابن عباس ﷺ درواىت مطابق دا هم کیدی سي چې په ذکر سوو آیتونوسره صرف داوږد قیام فرضیت منسوخ سوی وی ، داصل لمونځ دتهجد فرضیت په خپل ځای وی ، بیا دمعراج په شپه کې دپنځو دفرضیت په وخت دتهجد دلمونځ فرضیت منسوخ سوی وی . والله تعالى اعلم

اوظاهره ده چې دنبی کریم ﷺ اوتول امت څخه دافرض منسوخ سو البته متسحبوالی او دالله ﷻ په نزد ښه والی یې اوس هم باقي دی اوپه دې کې داآسانی وسوه چې دوخت اودقرآن دتلاوت څه تحدید په کې مقرر نه سو ، هرسړی دخپل خپل طاقت اوفرصت مطابق چې په څومره وخت کې یې ادا کولی سي ادا دی کړی اوپه دې کې چې څومره قرآن په اسانی سره ویل کیږي وایی دی .

(دشرعي احکامو دمنسوخ کیدو حقیقت)

ددنیاحکمتونه یا اداری چې په خپلو قوانینو کې تر میم اوتنسیخ کوی ، دهغه ډیره وجه خو دا وی چې دتجربې څخه وروسته یو نوی صورتِ حال مخ ته راسی کوم چې داول څخه معلوم نه وی نو ددې صورت حال مطابق اولنی حکم منسوخ کړی او دوهم حکم جاری کول کیږي ، مګر دالله ﷻ احکام په کوموکې چې ددې هیڅ تصور اواحتمال نه سي کیدی ځکه چې دالله ﷻ دعلم محیط ازلی ابدی څخه خوڅه شی بهر نه دی ، دیو شرعی حکم دجاری کولو څخه وروسته به دخلګو حالت څه وی ، څه څه صورتونه به ورته پیښیږي ، حق تعالی ته داول څخه معلوم دی ، لیکن په اقتضا دحکمت اومصلحت څه حکم دڅه زمانی دپاره جاری کول کیږي، داول څخه دهغه همیشه جاری ساتل مقصودنه وی بلکه یوه موده دالله ﷻ په علم کې متعینه وی چې تر دغه مودی پوری به داحکم جاری وی، مګر ددغه وخت اظهار مخلوق ته دمصلحت په وجه نه کول کیږي دالفاظو په عموم سره خلګ داسې ګڼي چې داحکم غیرِ موقت اودائمی دی دالله ﷻ په نزد چې ددې کمه موده مقرره ده چې هغه هروخت ختمه سي اوحکم واپس واخستل سي نو دمخلوق په نظرکې هغه حکم منسوخ سي ، اوپه حقیقت کې دغه بیان دمودی وی ، یعنی دغه وخت مخلوق ته ښکاره سي چې مونږ دا حکم دهمیشه دپاره نه بلکه صرف ددې وخت دپاره جاری کړی وو اوس هغه وخت ختم سو اوحکم باقي پاته نه سو .

په قرآن کريم کې ددېرو آيتونو په منسوخ کېدو چې کومه عامه شبهه کول کېږي ، په دې تقرير سره دغه شبهه رفع سوه، آيا دتهجد لمونځ په نبي کريم ﷺ ددې آيت څخه وروسته هم فرض پاته سو؟ ځينو امامانو دتفسير دا اختيار کړي ده ، د دوی استدلال دسورة بني اسرائيل آيت ، وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ نَافِلَةً لَكَ : دی په کوم کې چې يې دتهجد لمونځ خاص دده ﷺ په ذمه ديو زيات فرض په حيث سره عائد کړی وو څکه چې دنافلة لغوی معنٰی زائد راځي اومراد ورڅخه زائد فرض دی ، مګر دجمهورو عالمانو په نزد صحيح دا ده چې فرضيت ددې لمونځ دامت اونبي کريم ﷺ دواړو څخه منسوخ سو، البته په طور داستحباب ددې ادائيګي دتولو دپاره باقي پاته سوه او په ذکر سوی آيت کې نَافِلَةً لَكَ په خپله اصطلاحي معنٰی کې په حکم دنفلو دی ، بيا ددې خصوصيت درسول کريم ﷺ سره کوم چې په آيت کې په لفظ د، لَكَ سره مفهوم کېږي ، ددې څه وجه ده؟ ددې پوره تفصيل او دتهجد دلمونځ دفرضيت منسوخ کېدو څخه وروسته دا لمونځ صرف دنفل اومستحب په درجه کې پاته سو اوکه دسنت موکدپه درجه کې دا پوره تحقيق دسورة بني اسرائيل دذکر سوی آيت لاندې تېرسوی دی ، هلته دتهجد دلمونځ دخاصو فضيلتونو اومسائلو هم ذکر سوی دی ويې ګوری .

دا آيت دکوم په ذريعه چې دتهجد دلمونځ فرضيت منسوخ سو د، إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ څخه شروع سو، د، فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ : پوري راغلی دی ، دا آيت دسورة دشروع دايت څخه يوکال يا اته مياشتي وروسته نازل سوی دی ، پوره کال وروسته دقيام الليل فرضيت منسوخ سو .

په مسند احمد ، مسلم، ابوداود، ابن ماجه اونسايي کې دحضرت عائشه ﵂ څخه روايت دی چې الله ﷻ ددې سورة په شروع کې قيام الليل فرض کړی وو نبي کريم ﷺ او صحابه کرامو﵃ تر يوکال پوري ددې پابندي کوله دسورة آخري حصه الله ﷻ تر دوولسو مياشتو پوري په آسمان کې وساتله ، يوکال وروسته يې اخري حصه نازله سوه ، په کومه کې چې دقيام الليل فرضيت منسوخ سو او تخفيف په کې وسو او ددې څخه وروسته قيام الليل صرف نفل او مستحب پاته سول (روح المعاني)

بيا په دې آيتونو کې يې دتنسيخ دحکم علت دا ښوولی دی چې ، عَلِمَ أَنْ لَنْ تُحْصُوهُ : يعني دالله ﷻ په علم کې ده چې تاسي به ددې احصاء ونه کړل سی، داحصاء لفظي معنٰی شميرل دی ، دآيت مطلب ځينو حضراتو مفسرينو دا مقرر کړی دی ، چې په قيام الليل کې الله ﷻ که څه هم دوخت دمقدار پوره تعين نه وو فرمايلی ، بلکه ديو ثلث څخه تر دوه ثلثه پوري دشپې درمياني وخت يې مقرر کړی وی ، مګر صحابه کرام ﵃ چې به کله په دې لمونځ کې مشغول سوه نودلمونځ داشتغال سره به دامعلومول ګران وو چې شپه نيمه تيره سوه اوکه کمه اوکه زياته ، څکه چې دوختونو معلومولو داسې الات لکه ګړی (ساعت) او نور په هغه زمانه کې موجودنه وه اوکه وی هم نوبيا هم دلمونځ دشغل سره بار بار ګړی ته کتل ددغو حضراتو دحالاتو او د دوی دخشوع اوخضوع سره آسانه نه وو دامعنٰی سوه د ، لَنْ تُحْصُوهُ اوځينی دلته داحصاء څخه مراد عملِ احصاء يعني په داسې اوږد وخت او دخوب په وخت کې په لمونځ دمداومت طاقت نه

لري ، مراد کړی دی ، لفظ د ، احصاء ددی معنی دپاره هم استعمالیږی لکه چی په حدیث کی داسماء الله الحسنی په باره کی راغلی دی مَنْ اَحْصَاهَادَخَلَ الْجَنَّةَ: په دی کی دلفظ د احصاء مطلب ډیروعالمانو عمل داحصاء اخستی دی یعنی داسماء الٰهیه په مقتضٰی باندی پوره عمل کیدل لکه چی په معارف القرآن کی ترایت ، وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَةَ اللهِ لاَ تُحْصُوْهَا (سورة ابراهیم : آیة ۳۴) لاندی ددی تفصیل لیکل سوی دی .

فَتَابَ عَلَيْكُمْ : دلفظ دتوبی اصلی معنٰی رجوع ده ، دګناه څخه توبی ته هم په دی وجه توبه ویل کیږی چی هغه دخپل تیر جرم اوګناه څخه رجوع کوی دلته مرادصرف رجوع ده ، یعنی الله ﷻ خپل دا حکم دقیام اللیل دفرضیت واپس واخستی ، په اخرکی فرمایی .

فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ یعنی دتهجدلمونځ کوم چی اوس په ځای دفرضو مستحب یاسنت باقی پاته سوی دی ، په دی کی چی څومره قرآن په آسانی سره څوك ویلی سی هغه دی وایی دڅه خاص مقدارتعین نسته ددی آیت څخه ډیری فقهی مسئلی راوزی کوم چی دفقهی په کتابوکی ذکردی هلته یی کتلی سی .

وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَقْرِضُوا اللهَ قَرْضًا حَسَنًا : کی دجمهورو مفسرینو په نزد فرض لمونځ مراد دی او دا ظاهره ده چی فرض لمونځونه پنځه دی کوم چی دمعراج په شپه فرض سوی دی ددی څخه معلومیږی چی دقیام اللیل فرضیت کوم چی تر یو کال پوری جاری وو ، په دغه زمانه کی دمعراج واقعه پیښه سوه په کومه کی چی پنځه لمونځونه فرض سول او ددی څخه وروسته دذکر سوو آیتونو په ذریعه دتهجد فرضیت منسوخ سو او دسورة په آخر کی چی داقامت صلوٰة حکم راغلی دی ددی څخه مراد پنځه فرض لمونځونه دی (ابن کثیر، قرطبی، بحرِ محیط)

دغه شان په اٰتُوا الزَّکٰوةَ کی دزکوٰة څخه فرض زکوٰة مراددی مګر مشهوره دا ده چی زکوٰة دهجرت په دوهم کال فرض سوی دی او دا آیت مکی دی داسلام په ابتداء کی نازل سوی دی ، په دی وجه ځینی مفسرین خاص دی آیت ته مدنی وایی ، مګرابن کثیر فرمایی چی زکوٰة خوپه مکه مکرمه کی په اول داسلام کی فرض سوی وو مګر ددی نصاب اودواجب مقدار تفصیلات په مدینه طیبه کی دهجرت په دوهم کال کی بیان سول، دغه شان دایت دمکی کیدوپه صورت کی هم داپه فرض زکوٰة محمول کیږی، په روح المعانی کی یی هم دا اختیار کړي ده اوددی پوره تفصیل داحقر په رساله (نظام زکوٰة) راغلی دی .

وَأَقْرِضُوا اللهَ قَرْضًا حَسَنًا : دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کول یی په دی عنوان سره تعبیر کړی دی ، چی ګویا دا خرڅ کوونکی الله ﷻ ته قرض ورکوی ، په دی کی دده په حال دلطف اوکرم طرف ته اشاره هم ده او ددی بیان هم دی چی الله ﷻ دغنیانو غنی دی هغه ته ورکول سوی قرض هیڅکله نه خوړل کیږی خامخابه وصولیږی اوچونکی دفرض زکوٰة حکم ددی څخه مخکی راغلی دی ، په دی وجه په اَقْرِضُو اللهَ کی چی دکوم خیرات اوفی سبیل الله خرڅ کولو ذکر دی ، دا اکثرو حضراتو په نفل صدقو محمول کړی دی لکه خپلوانو عزیزانو ته څه ورکول یادمیلمه په میلمستیا باندی خرڅ کول یادعالمانو نیکانو خدمت کول اونور ، اوځینو حضراتو ددی مطلب دا مقرر کړی دی چی دزکوٰة څخه علاوه نور هم ډیر مالی واجبات په

انسان عائد کیږی ، لکه دمور او پلار ښځی اوبچیانو واجبه نفقه یانور شرعی واجبات ، نو په اٰتُوا الزَّکوٰةَ کی یی دزکوٰة ادا کولو دحکم څخه وروسته دنورو واجباتو ذکر په اَقْرِضُوا اللهَ سره وکی.

وَمَا تُقَدِّمُوا لِاَنْفُسِكُمْ مِنْ خَيْرٍ الآية ، د مَا تُقَدِّمُوا لِاَنْفُسِكُمْ : مطلب دا دی چی کوم نیك کار په خپل ژوند کی وکی هغه ښه دی دهغه څخه چی دمرګ په وخت کی وصیت کوی ، په دی کی مالی عبادتونه صدقه او خیرات هم دا خل دی اولمونځ روژه او نور هم چی دچا په ذمه قضاوی نو په خپلو لاسونو خپل وړاندی دالله ﷻ په لار کی خرځ کول او خپله غاړه خلاصول غوره دی ، وروسته خبره دوارثانو په لاس کی وی ، هغوی به یی کوی یانه.

په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ دصحابه کرامو؆ څخه پوښتنه وکړه چی په تاسی کی داسی څوك سته چی دخپل وارث دمال سره تر خپل مال زیات محبت کوی؟ صحابه کرامو؆ عرض وکی چی داسی خو په مونږ کی هیڅوك نسته چی دخپل وارث دمال سره محبت دخپل مال څخه زیات کوی حضورﷺ وفرمایل فکر وکی خبره ووایاست ، صحابه وو ؆ عرض وکی چی ددی څخه ماسوا بل صورت مونږ ته معلوم نه دی ، ده ﷺ وفرمایل (پوه سی) ستاسی مال هغه دی چی تاسی په خپلو لاسونو دالله ﷻ په لاره کی خرځ کی او کوم چی پاته سو هغه دوارث مال دی ، ستاسی نه دی (ابن کثیر نقل کړي دی دابی یعلی موصلی څخه بیا وایی چی بخاری دا دحفص بن غیاث دحدیث څخه روایت کړي دی)

تمت سورة المزمل بحمد الله یوم الثلثآء ۲۲ رجب سنه ۱۳۹۱هجری.

﴿سورة المدثر﴾

سُوْرَةُ الْمُدَّثِّرِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ سِتٌّ وَّخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة المدثر په مکه کی نازل سو او په دی کی شپږپنځوس (۵۶) آیتونه او دوی (۲) رکوع ګانی دی.

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی.

يٰۤاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ﴿۱﴾ قُمْ فَاَنْذِرْ ﴿۲﴾ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ﴿۳﴾ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴿۴﴾

ای جامه اغوستونکی ، پورته سه بیا وبیره وه ، اودخپل رب لویی بیان کړه ، او خپلی جامی پاکی کړه

الْكٰفِرِيْنَ غَيْرُ يَسِيْرٍ ﴿۱۰﴾ ذَرْنِيْ وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيْدًا ﴿۱۱﴾ وَّجَعَلْتُ

منکرانو باندی نه ده آسانه ، پریږده ما او هغه چی پیدا کړی می دی یو ، او ورکړی می

لَهٗ مَالًا مَّمْدُوْدًا ﴿۱۲﴾ وَّبَنِيْنَ شُهُوْدًا ﴿۱۳﴾ وَّمَهَّدْتُّ لَهٗ تَمْهِيْدًا ﴿۱۴﴾

ده ته مال ډیر ، او زامن په مجلس کی ناست ، او تیاری می وکړه دده دپاره ښه تیاری

ثُمَّ يَطْمَعُ اَنْ اَزِيْدَ ﴿۱۵﴾ كَلَّا ۭ اِنَّهٗ كَانَ لِاٰيٰتِنَا عَنِيْدًا ﴿۱۶﴾ سَاُرْهِقُهٗ

بیا طمع کوی چی نور زیات ورکړم ، هیڅکله نه ، دغه دی زمونږ دآیتونو مخالف ، نو ژر به وخیژوم

صَعُوْدًا ﴿۱۷﴾ اِنَّهٗ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ﴿۱۸﴾ فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿۱۹﴾ ثُمَّ قُتِلَ

دی په لوړ ځای، ده فکر وکی او په زړه کی یی اندازه وکړه ، نو قتل دی سی څنګه اندازه یی وکړه ، بیا دی قتل

كَيْفَ قَدَّرَ ﴿۲۰﴾ ثُمَّ نَظَرَ ﴿۲۱﴾ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ﴿۲۲﴾ ثُمَّ اَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ ﴿۲۳﴾

سی څنګه اندازه یی وکړه، بیایی وکتل ، بیا یی تندی تریو کی او خله یی خرابه کړه ، بیایی شاکړه او تکبریی وکی

فَقَالَ اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ يُّؤْثَرُ ﴿۲۴﴾ اِنْ هٰذَآ اِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ ﴿۲۵﴾ سَاُصْلِيْهِ

بیایی وویل هیڅ نه دی جادو دی نقل سوی ، نه دی دا خو مګر وینا ده دسړی ، اوس به دی وغورځوم

سَقَرَ ﴿۲۶﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا سَقَرُ ﴿۲۷﴾ لَا تُبْقِيْ وَلَا تَذَرُ ﴿۲۸﴾ لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ ﴿۲۹﴾

اور ته، او ته څه پوه سوی چی دغه اور څنګه دی ؟ نه باقی پریږدی او نه پاته کوی ، سوځونکی دی انسانانو لره

عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ ﴿۳۰﴾ وَمَا جَعَلْنَآ اَصْحٰبَ النَّارِ اِلَّا مَلٰۗىِٕكَةً

په دی مقرر دی نولس (۱۹) ملائکی ، او مونږ چی مقرر کړی دی په دوږخ چوکیدارنی هغه ملائکی دی ،

وَّمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ اِلَّا فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۙ لِيَسْتَيْقِنَ الَّذِيْنَ

او د دوی چی مونږ کوم شمار ایښی دی دا امتحان دی دپاره دمنکرانو چی یقین وکړی هغه خلق چی

اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَيَزْدَادَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِيْمَانًا وَّلَا يَرْتَابَ الَّذِيْنَ

ورکړل سوی دی ورته کتاب او زیات کړی دایماندارو ایمان او دوکه نه سی چا ته چی

أُوتُوا الْكِتٰبَ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ۙ وَلِيَقُوْلَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ

ورکول سوي دي کتاب او مؤمنان او چې ووايي هغه خلق دکومو په زړونو کې چې مرض دي ،

وَّالْكٰفِرُوْنَ مَاذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِهٰذَا مَثَلًا ؕ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ

او کافران څه غرض وو دالله په دې مثال سره ، دارنګه بې لارې کوي الله

يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَمَا يَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ اِلَّا هُوَ ؕ

څوك چې وغواړي ، او په لارې کوي څوك چې وغواړي ، او نه دي معلومې ستا درب لښکرې مګر هغه ته ،

وَمَا هِيَ اِلَّا ذِكْرٰى لِلْبَشَرِ ۟ ﴿۳۱﴾ كَلَّا وَالْقَمَرِ ۙ﴿۳۲﴾ وَالَّيْلِ اِذْ اَدْبَرَ ۙ﴿۳۳﴾

او هغه خو نصيحت دی دپاره دخلقو رښتيا وايم قسم دی په سپوږمۍ ، او په شپه کله چې پر شاسي ،

وَالصُّبْحِ اِذَآ اَسْفَرَ ۙ﴿۳۴﴾ اِنَّهَا لَاِحْدَى الْكُبَرِ ۙ﴿۳۵﴾ نَذِيْرًا لِّلْبَشَرِ ۙ﴿۳۶﴾ لِمَنْ

او په سهار چې روښانه سي ، دغه يو دی دلويو شيانو څخه ، بيرونکې خلق ، څوك

شَآءَ مِنْكُمْ اَنْ يَّتَقَدَّمَ اَوْ يَتَاَخَّرَ ؕ﴿۳۷﴾ كُلُّ نَفْسٍۢ بِمَا كَسَبَتْ رَهِيْنَةٌ ۙ﴿۳۸﴾

چې غواړي په تاسې کې چې مخکې سي او يا وروسته سي ، هر يو نفس په خپلو عملونو کې ګير دی ،

اِلَّآ اَصْحٰبَ الْيَمِيْنِ ؕ﴿۳۹﴾ فِيْ جَنّٰتٍ ؕ يَتَسَآءَلُوْنَ ۙ﴿۴۰﴾ عَنِ الْمُجْرِمِيْنَ ۙ﴿۴۱﴾

مګر راسته لاس والا ، په باغونو کې به وي ، ديو بل څخه به پوښتنه کوي ، دګناهګارو دحال ،

مَا سَلَكَكُمْ فِيْ سَقَرَ ﴿۴۲﴾ قَالُوْا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ ۙ﴿۴۳﴾ وَلَمْ نَكُ

څه شي ورسولاست تاسې دوږخ ته ، هغوی به ووايي مونږ نه وو لمونځ کوونکي ، او نه وو

نُطْعِمُ الْمِسْكِيْنَ ۙ﴿۴۴﴾ وَكُنَّا نَخُوْضُ مَعَ الْخَآئِضِيْنَ ۙ﴿۴۵﴾ وَكُنَّا نُكَذِّبُ

خوراك ورکوونکي محتاج ته ، او مونږ به بحث کوی دبحث کونکو سره ، او مونږ به دروواغ کوله

بِيَوْمِ الدِّيْنِ ۙ﴿۴۶﴾ حَتّٰىٓ اَتٰىنَا الْيَقِيْنُ ؕ﴿۴۷﴾ فَمَا تَنْفَعُهُمْ شَفَاعَةُ

ورځ دانصاف ، تردې چې راغله مونږ ته يقيني خبره ، نو په کار به ورنه سي دغولره سفارش

الشّٰفِعِيْنَ ﴿٤٨﴾ فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِيْنَ ﴿٤٩﴾ كَاَنَّهُمْ

کوونکو ، بیا څه سوی دی دوی لره چې د نصیحت څخه ددوی کوی ، ګویا هغه

حُمُرٌ مُّسْتَنْفِرَةٌ ﴿٥٠﴾ فَرَّتْ مِنْ قَسْوَرَةٍ ﴿٥١﴾ بَلْ يُرِيْدُ كُلُّ امْرِئٍ

خره دی ترهیدلی ، تښتی د شور کولو څخه بلکه غواړی هر یو سړی

مِّنْهُمْ اَنْ يُّؤْتٰى صُحُفًا مُّنَشَّرَةً ﴿٥٢﴾ كَلَّا بَلْ لَّا يَخَافُوْنَ الْاٰخِرَةَ ﴿٥٣﴾

د دوی څخه چې ورکړل سی ورته پاڼی خلاصی ، هیڅکله نه ، بلکه نه بیریږي د آخرت څخه ،

كَلَّآ اِنَّهٗ تَذْكِرَةٌ ﴿٥٤﴾ فَمَنْ شَآءَ ذَكَرَهٗ ﴿٥٥﴾ وَمَا يَذْكُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ

هیڅ نه ده دا خو نصیحت دی ، نو څوک چې غواړی یاد دی کړی ، او دوی به یی یاد هله کړی چې

يَّشَآءَ اللّٰهُ هُوَ اَهْلُ التَّقْوٰى وَاَهْلُ الْمَغْفِرَةِ ﴿٥٦﴾

وغواړی الله هغه دی کوم څخه چې بیره په کار ده او هغه دی دبخښنی لائق .

لنډتفسير: ای په کېږو کی نغښتل سوی پورته سه (یعنی دخپل ځای څخه پورته سه یاتیارسه) بیا (کافران) وبیروه (کومه چې مقتضاده دنبوت دمنصب اودلته یی دتبشیریعنی دجنت دخوشخبری څخه ذکر ونه فرمایی چې داآیت بالکل دنبوت دابتدایی وخت دی دغه وخت په استثناء دیو دوو نور مسلمانان نه وه نو بیرول یی زیات مناسب وه) اودخپل رب لویی بیانوه (چې په تبلیغ کی دټولو څخه اول شی توحیددی) او (مخ ته دځینو ضروری عملونو عقیدو اواخلاقو تعلیم دی په کومو چې په خپله هم عمل په کار دی چې دتبلیغ سره خپل اصلاح هم ضروری ده یعنی یوځو) خپلی کېړی پاکی ساته (دا دعملونو څخه دی اوچونکی بالکل په ابتداء کی لمونځ نه وو په دی وجه ددی حکم ونه سو) او (دوهم داچې) دبتانو څخه جلا اوسه (لکه چې تر اوسه ورڅخه جلا وی ، دا دعقائدو څخه دی، یعنی پرتیره طریقه دتوحید باندی دوام ساته ، اوسره ددی چې دنبی کریم ﷺ څخه په شرک کی داختہ کیدو څه احتمال نه وو ، بیاهم داحکم څکه ورکول سوچې دتوحید دعقیدی اهمیت معلوم سی چې معصوم ته هم سره ددی چې حاجت یی ورته نسته ، ددی تعلیم ورکول کیږی) او چاړه په دی غرض سره څه مه ورکوه چې (بل وخت به) زیاته بدله غواړی (داحکم داخلاقو په حقله دی که څه هم دنورو خلکو دپاره داکار جائز دی خوبیاهم خلافِ اولی دی ، لکه چې دسورة روم دایت، وَمَآ اٰتَیْتُمْ مِّنْ رِّبًا الخ دتفسیر څخه معلومیږی، لیکن دحضور ﷺ شان چونکی اعلی اولوړ دی ، په دی وجه یی دا هم په دوی باندی حرام کړل ، لکه چې په روح المعانی کی دی

اوصحیح دا ده چې نهی دتحریم دپاره ده اودا دخواصو څخه ده ﷺ ده) اوبیا (په بیرولو اوتبلیغ کې چې کوم ازار درپیښ سي په هغه) دخپل رب د (خوشنودۍ د) پاره صبرکوه (دا خاص داخلاقو په حقله بالتبلیغ دی ، نو دا آیتونه جامع سول داصلاح داعمالو اواخلاقو دځان دپاره هم او دنورو دپاره هم) بیا (ددی بیرولو څخه وروسته چې څوك ایمان رانه وړی دهغه دپاره دا وعده ده چې) څه وخت شپیلۍ ووهل سي نو دغه وخت یعني دغه ورځ په کافرانو باندی یوه سخته ورځ به وي په کومه کې چې به هیڅ هم آساني نه وي (مخ ته دځینو خاصو کفارو ذکر دی یعني) ما او هغه سړی (په خپل خپل حال) پریږده (چې مونږ به ورسره پوه سو) کوم چې ما (دمال اولاد څخه خالي او) یوازی پیداکی (لکه چې دپیدا کیدوپه وخت کی دسړی سره نه مال وی او نه اولاد او مراد ددی څخه ولید بن مغیره دی چې قصه به یی تر (معلوماتو اومسائلو) لاندی راسی) او ده لره می ډیر مال ورکی اوپه خواکی اوسیدونکی زامن (می ورکړل) او هر قسم سامان می ده دپاره تیار کی بیاهم (سره ددی چې ددی مال اواولاد شکریی ادانه کی چې ایمان یی راوړی وای ، بلکه دا پریمانه نعمت یی په ناشکری اوبی قدری سره کم وګڼی) ددی خبری هوس لری چې (ده ته) نور ورزیات ورکړم، هیڅکله (دغه دزیات ورکولو قابل) نه دی (ځکه چې) هغه زمونږ دایتونو مخالف دی (اودمخالفت سره عدم قابلیت ظاهر دی داستدراج معامله ددی څخه جدا ده ، ددی سړی دآیتونو دنزول دورځی څخه ظاهراً هم ترقی بنده سوه ، چنانچې بیایی نه څه اولاد وسو اونه یی مال زیات سو او دا سزا خو په دنیاکی ده او په اخرت کی به) دی ډیر ژر (یعنی دمرګ څخه وروسته) ددوږخ غرونوته وخیژوم (دترمذی په حدیث کی مرفوعًا دی چې صعودپه دوږخ کی یوغردی په اویا کاله کی به ده سرته ورسیږی بیا به دهغه ځای څخه راورغړی، بیابه دغه شان همیشه خیژی اوراغړی به اووجه ددی سزا هغه عناد دی کوم چې لوړ ذکرسو ، اومخ ته هم ددی څه تفصیل دی هغه دا چې) دی سړی (په دی باره کی) سوچ وکی (چې دقرآن په شان کی څه خبره منتخب کړم) بیا (یی سوچ وکی) یوه خبره یی منتخب کړه (دا مکرر تعجب ده پرسخت مذمت اوقابل تعجب خبره باندی دی یعنی څنګه بی جوړه خبره یی منتخب کړه دکوم چې احتمال نه سی کیدی) بیایی (دحاضرینو مخونوته) وکتل (چې دغه منتخب سوی خبره دوی ته وکړم) بیایی خله خرابه کړه (چې لیدونکی وګڼی چې دی دقرآن څخه ډیر کراهت لری) اوزیاته خله یی خرابه کړه ، بیایی مخ واړوی اوتکبر یی ظاهرکی (لکه چې عادت دی چې کوم شی قابل اعراض ګڼی دهغه دذکر کولو سره مخ اړوی اودنفرت اظهار کوی) بیایی وویل چې بس داخو جادو دی (کوم چې دنورو څخه) نقل دی بس دا دسړی کلام دی (دا بیان دی ددغه مذکوره تجویز مطلب دا چې دالله ﷻ کلام نه دی ، بلکه دبنده کلام دی کوم چې دی دیو جادوګر څخه نقل کوی یایی په خپله مصنف دی، لیکن دامضامین دتیرو مدعیانو دنبوت څخه منقول دی اواسلوب دعبادت نعوذ بالله د دوی دسحراثردی، مخ ته ددی عناد دسزا تفصیلاً بیان فرمایی لکه چې لوړ په ، سَأُرْهِقُهُ صَعُودًا کی یی اجمالاً فرمایلی وه نو په عَنِیدًا کی دجرم ذکر اوپه سَأُرْهِقُهُ کی دسزا ذکر اجمالاً اوپه ، إِنَّهُ فَكَّرَ کی یی تفصیل دی او، سَأُصْلِيهِ د، سَأُرْهِقُهُ تفصیل دی یعنی) زه به دی ژرپه دوږخ کی دا خل کړم او ته څه خبر یی چې دوږخ څه شی دی؟

هغه داسې دي چې) نه خو (دداخليدو ځخه وروسته به داخليدونكي څه شي دسوزيدو ځخه) باقي پاته كړي او نه به (دداخليدو ځخه مخكې چې كوم كفار دغه وخت بهر وي نه به ددغو ځخه څوك بغير دځپل ځانته دداخليدو ځخه) پرېږدي (او) هغه (به اوسيږي) دبدن حيثيت به وران كړي (او) په دې به نولس ۱۹ ملائكي (كوم چې به كافرانو ته قسم قسم عذابونه وركوي ، مطلب دا چې ملائكي دكوموقوت چې معلوم دي سره ددې چې د دوی ځخه يوه هم دټولو دوږخيانو دعذاب دپاره كافي ده بياپه نولسو ۱۹ ملائكو مقررولو سره ظاهره ده چې دعذاب به ډير اهتمام وي اوخاص نكته دنولس په عددكې الله ﷻ ته حقيقتًا معلومه ده ، ليكن نورو حضراتو چې كوم ذكر كړی دی په هغه ټولوكې اقرب هغه دی كوم چې الله ﷻ ددې حقيرپه زړه كې القاء فرمايلي دی هغه دا چې اصل عذاب دكفارو دحقو عقيدو پرمخالفت باندي دی او قطعي عقيدي كومې چې دعملياتو په حقله نه دي ، دفروغ الايمان رسالې دتفصيل مطابق نه ۹ دي ، ۱ ايمان راوړل په الله ﷻ ۲عقيده لرل چې عالم حادث دی ۳ ايمان راوړل په ملائكو (۴) ايمان راوړل دالله ﷻ په ټولو كتابونو ۵ ايمان راوړل په پيغمبرانو ۶ ايمان راوړل په تقدير ۷ ايمان راوړل دقيامت په ورځ ۸ په جنت يقين كول ۹په دوږخ يقين كول ، باقي ټولې عقيدې ددې ملحقات اوفروع دي اوقطعي عقيدې كومې چې دعملياتو په حقله دي۱۰ لس دي ، پنځه دماموراتوپه حقله يعني د دوی دوجوب اعتقاد ضروري دی ، هغه پنځه مامورات كوم چې شعائرِ اسلام دي دا دي ۱ تلفظ په شهادتينو ۲ اقامت صلوٰة ۳وركړه دزكوٰة ۴روژه درمضان ۵حج دبيت الله شريفې ، اوپنځه دمنهياتوپه حقله يعني ددي دحراموالي عقيده واجب ده او دغه پنځه منهيات كوم چې په آيت دامتحان اونورو ذكر دي دا دي ۱غلا ۲زنا ۳قتل خصوصًا قتل داولاد ۴بهتان ۵عصيان في المعروف ، په كوم كې چې غيبت ، ظلم، ديتيمانومال په ناجائز طور خوړل اونور ټول راغلل ، نو دا ټولې عقيدې چې يوځای سوی نولس ۱۹ سوی ، شايد ديوی يوی عقيدی په مقابله كې يوه يوه ملائكه مقرره وي اوچونكې په دې ټولوكې يوه عقيده دټولو ځخه لويه ده يعني توحيد ، په دې وجه په دې ملائكوكې هم يوه ملائكه دټولو ځخه لويه مقرر سوی وي يعني مالك ، الله ﷻ په خپلو رازونو ښه پوه دی) او (ددې ايتونوپه اوريدو چې كفارو كومې مسخرې وكړې چې بيان به يې تر (معلومات اومسئلې) لاندې راسي ، په دې باندې دامخ ته مضمون نازل سوچې) مونږ ددوږخ كار كوونكې (انسانان نه بلكه) صرف ملائكې جوړې كړې دي (كوم چې په يوه يوه ملائكه كې دټولو انسانانو اوپيريانو برابر قوت دی ، لكه چې داسې په درمنثوركې مرفوعًا دي اوالفاظ يې دا دي ، لَهُمْ مِثْل قُوَّةِ الثقلين) اومونږ كوم شمير چې د دوی (په ذكر اوحكايت كې) صرف داسې اينبې دی كوم چې دكافرانو دگمراهئ ذريعه وي (مراد ددې ځخه دنولسو عدد دی) نوپه دې وجه (چې دا نتيجې په دې مرتب سي يعني) چې اهل كتاب (داوريدو سره) يقين په وكې او دايماندارو ايمان نور زيات سي اواهل كتاب اومومنان شك ونه كې اوچې دكوموخلكوپه زړونوكې (دشك) مرض دی هغه اوكافران خلگ ووايي چې په دې عجيبه مضمون سره دالله ﷻ څه مقصود دی؟ (داهل كتابو ديقين دوی توجيه كيدی سی، يو دا چې ددوی په كتابونوكې هم داعدد ليكل سوی وی نو

فوراً به یی ومنی اوکه اوس د دوی په کتابونوکی دا عدد نه وی نو ممکنه ده چی دکتابونوپه ضائع کیدو یابدلیدو سره ضائع سوی وی او دوهمه دا توجیه کیدی سی چی عدد د دوی په کتابونوکی نه وی لیکن هغوی دملائکو دقوت قائل وه اودیر امور توقیفیه د دوی په کتابونوکی موجودوه نو د دوی سره څه مبنی دانکار نه وه ، نو په یقین سره مراد عدم انکار اوعدم استهزاء به وی لیکن اوله توجیه ظاهره ده او دایماندارو دایمان دزیادت هم دوی توجیه کیدی سی یوه داچی داهل کتابو یقین ووینی د دوی ایمان به کیفًا قوی سی چی دوی ﷺ سره ددی چی داهل کتابو سره یی اختلاط نسته دسابقی وحی مطابق خبر ورکوی ضرور نبی برحق دی، دوهمه توجیه داچی کله به یونوی مضمون نازلیدی په هغه به یی ایمان راوړی ، نو یو فرد دتصدیق بل زیات سو، په دی سره په حیثیت دکمیت په ایمان کی زیاتی وسو او بَرتاب یی دتاکید دپاره زیات کی چی داثبات یقین اونفی دشك د دواړو وضاحت وسی او په مرض کی دوه احتماله دی یو خوشك څکه چی دحق دظهور څخه وروسته ځینی جاحد اومنکر کیږی ځینی متردد کیږی نو په مکه کی به هم داسی خلک وه ، دوهم په معنٰی دنفاق نو په دی کی به پیش گویی سی چی په مدینه کی به منافقان وی او دا به یی قول وی او دمومنانو اواهل کتابو اثبات اونفی شك یی جلا جلا څکه وفرمایی چی داهلِ کتابو یقین اونفی شك لغوی دی اودمومنانو دا شرعی، مخ ته د دواړو فریقو حال په طور دتفریع فرمایی چی څنګه حق تعالٰی ﷺ ایماندارو ته په دی باب کی خاص هدایت وکی اوکافران یی په دی باب کی خاص گمراه کړل) دغه شان الله ﷻ چالره چی غواړی گمراه کوی اوچالره چی غواړی هدایت ورته کوی (اومخ ته تتمه ده دتیر مضمون چی دجهنم دخازنو ملائکو تعداد نولس دیوخاص حکمت پربنا باندی دی کنه نو) ستاسی درب د (دی) لښکرو (یعنی دملائکو شمیرپه دومره کثرت سره دی چی دا) بغیردرب څخه بل هیڅوك نه پیژنی (که هغه غوښتلی نوبی انتها ملائکی به یی خازنانی جوړی کړی وای ، او اوس هم که څه هم خازنان نولس دی ، مگر د دوی نور اعوان اوانصار په ډیر کثرت سره دی چنانچی دمسلم په حدیث کی دی چی جهنم به په داسی حال کی حاضر سی چی دده به اویا زره واگی وی اوهره یوه واگه به یی اویا زره ملائکو نیولی وی) او (کوم چی اصل مقصود دی دجهنم په حال بیانولو سره هغه دعددپه قلت یاکثرت یاتعین یا انکشاف حکمتِ تخصیص یاعدم انکشاف باندی موقوف نه دی اودغه اصل مقصود دادی چی د) دوزخ (حال بیانول) صرف دانسانانو دنصیحت دپاره دی (چی دهغه څای عذاب واوری وبیریږی او ایمان راوړی اودا مقصود پرڅه خاصو خاصیاتو باندی موقوف نه دی، پس مقتضا دعقل هم داده چی اصل مقصود محفوظ اوملحوظ وساتل سی، په دی لوړو امرو پسی نه سی، مخ ته دجهنم دعذاب څه قدر بیان دی په کوم کی چی دذکرٰی للبَشَر، داجمال تفصیل دی، نو ارشاد دی چی) په تحقیق قسم دی په سپوږمی اوپه شپه کله چی روانه سی اوپه سهار کله چی روښانه سی چی دوزخ ډیر لوی دروند شی دی کوم چی دانسان دپاره لویه بیره ده یعنی په تاسی کی چی کوم (دخیرڅخه) مخ ته شی دهغه دپاره هم یاکوم چی (دخیر څخه) وروسته سی دهغه دپاره هم (مطلب داچی دټولو مکلفینو دپاره بیره ده اوچونکی نتیجی ددی بیری به په قیامت کی ظاهریږی، په

دی وجه قسم په داسی شیانو وخوړل سوکوم چی دقیامت سره ډیر مناسب دی، چنانچی دسپوږمی اول زیاتیدل بیا کمیدل نمونه ددی عالم دنشو اونما اوبیا دمړاوی کیدو اوفنا کیدو ده چنانچی دسپوږمی دمحاق یعنی بی نوره کیدو په شان داهم محض فانی سی، دغه شان دی عالم دنیا لره دعالم اخرت سره په پټیدو اوښکاره کیدو دحقائقوکی داسی نسبت دی لکه دشپی چی دورځی سره دی نو ددی عالم ختمیدل مشابه دی دشپی تیریدو سره اوددی عالم ظهور مشابه دی دصبا کیدو سره، مخ ته ددنیا اوداهل دنیا دځینو احوالو بیان دی یعنی) هریو سړی به دخپلو (کفریه) عملونو په بدله کی (په دوږخ کی) قیدوی مگر راسته طرف والا (یعنی مومنان چی تفصیل یی په سورة واقعه کی تیر سوی دی اوچونکی دلته داصحاب الیمین په مقابل اصحاب الشمال دی په دی وجه مقربینو لره هم شامل دی، مطلب داچی مومنان ددی قید څخه مستثنا دی) چی هغوی به په جنتونو کی وی (او) دمجرمانو (یعنی کفارو) دحال به (په خپله ددغو کفارو څخه) پوښتنه کوی (اوکیفیت ددغو باهمی خبرو باوجود دهغه لیری والی چی ددوږخ او جنت په مینځ کی دی، په سورة اعراف کی دایت: وَنَادٰی اَصْحَابُ الْجَنَّةِ اَصْحَابَ النَّارِ، په تفسیرکی تیر سوی دی اودا پوښتنه به دزجر اوخبرداروللو دپاره وی مطلب داچی مومنان به دکفارو څخه پوښتنه وکی چی) تاسی په دوږخ کی کومی خبری داخل کړاست هغوی به ووایی چی مونږ به نه خولمونځ کوی اونه به موغریب ته (کوم چی دهغه واجب حق وو) خوراك ورکوی او (کوم خلګ چی دحق دین دباطلولو په مشغله کی وو، ددغو) مشغله کوونکو سره به مونږهم (په دغه) مشغله (ددین دابطال) کی وو او دقیامت ورځ به مودروغ جن کوله تردی چی (په دی حالت کی) مونږلره مرګ رالی (اومونږ ددغو حرکتونو څخه منع نه سو یعنی خاتمه موپه دغه نافرمانی وسوه، په دی وجه مونږدوږخ ته راغلو اوددی څخه دا نه لازمیږی چی کفاردی مکلف بالفروع یعنی په لمونځ روژه اوشرعی احکامو مامور وی څکه چی په جهنم کی به دوه شیان وی، یوعذاب دوهم شدت عذاب نو ممکنه ده چی مجموعه مذکوره عملونه سبب وی دمجموعی دعذاب اودشدت عذاب داسی چی کفر اوشرك خوسبب وی دعذاب اوپریښوول دلمونځ اونورو سبب وی دزیادت دعذاب او دکفارو دغیر مکلف کیدو په فرعو باندی به دامعنٰی کیږی چی په دی فروعو به نفس عذاب نه وی اوزیات عذاب څکه کیدی سی چی داصولو په ضمن کی فروع هم تبعًا راځی، په دی وجه ضمنًا مکلف کیدل دعذاب دزیاتوالی سبب کیدی سی) پس (په ذکر سوی حالت کی) دوی ته دسفارش کوونکو سفارس به نفع ورنه کی (اوددی عدم نفع تحقق به دعدم شفاعت په تحقق سره وی، یعنی هیڅوك به ددغو کافرانو شفاعت هم ونه کړل سی، لکه چی داقول دالله ﷻ دی، فَمَا لَنَا مِنْ شَافِعِيْنَ: مخ ته ددوی په اعراض باندی تفریع ده چی کله په کفر اواعراض باندی د دوی داحال کیدونکی دی) نو دوی لره څه وسوه چی ددی نصیحت (قرانی) څخه روی ګردانی کوی چی ګویا هغه وحشی خره دی کوم چی دزمری څخه تښتی (په دی تشبیه کی دځو کارونو رعایت دی اول خو خرپه بی عقلی اوحماقت کی مشهور دی، دوهم یی دی وحشی فرض کی کوم ته چی ګورخر وایی چی هغه کوم شیان چی دبیری نه وی دهغه څخه هم بلا وجهی بیریږی اوترهیدلی وی منډی وهی

دریم یې دده بیره دزمري څخه فرض کړه چې په دې صورت کې دده تیښته دانتهایي درجې وي، اوددې تیښتې په اسبابو کې یو سبب دا هم دی چې داخلک په خپل خیال سره داقرآن کافي حجت نه ګڼي) بلکه په دوی کې هرسړی داغواړي چې ده ته ښکاره (اسماني کتاب) لیکلی ورکول سي (لکه چې په در منثور کې دحضرت قتاده ﷺ څخه روایت دی چې ځینو کفارو دوی ﷺ ته وویل ، چې که ته داغواړې چې مونږ دې ستا تابعداري وکو نوخاص زمونږپه نوم دآسمان څخه داسې لیکلی راوړه په کومو کې چې ستا دتابعداري کولو حکم لیکل سوی وي اولکه چې داقول دالله ﷻ دی ، حَتّٰى عَلَيْنَا كِتٰبًا نَّقْرَؤُهٗ : اود: مُنَشَّرَةً زیاتول دمقصود دوضاحت دپاره دی ، لکه دعادي خط په شان چې خلاصیږي او ویل کیږي ، داسې لیکلی مونږ ته راوړل په کار دي ، مخ ته ددې بې هوده درخواست رددی چې) داسې هیڅکله نه (سي کیدی څخه چې نه ددې ضرورت سته اونه په دې خلګو کې دومره لیاقت، خصوصًا په دې وجه چې ددې درخواست سبب دانه دی چې ددوی په زړه کې اراده وي چې که داسې وسي نوتابعداري به وکي) بلکه (سبب دا دی چې) داخلک داخرت (دعذاب) څخه نه بیریږي (په دې وجه دحق طلب په کې نسته اودا درخواستونه محض په ضد اوعناد سره دي، تردې چې که دا درخواستونه بالفرض پوره هم سي، بیاهم داخلک اتباع نه کوي لکه چې داقول دالله ﷻ دی ، وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتٰبًا فِيْ قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوْهُ بِاَيْدِيْهِمْ لَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اِنْ هٰذَا اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ : مخ ته په طور دنتیجې ددې رد اوپردې زجردی چې کله ددې درخواست بې هوده والی ثابت سو نودا) هیڅکله نه (سي کیدی بلکه) دا قرآن (د) نصیحت (دپاره کافي) دی (دنورو صحیفو ضرورت نسته) نو (په دې حالت کې) دچا زړه چې غواړي ددې څخه دې نصیحت حاصل کې (اودچا زړه چې غواړي نه دې حاصلوي جهنم ته دې ولاړ سي زمونږهیڅ ضرورت نسته چې ددوی غوښتل سوي صحیفې نازلې کړو) او (دقرآن په هدایت کیدو کې دې شك څکه نه کول کیږي چې ځینو خلګوته پښ دې سره هدایت نه سي کیدی، خبره داده چې قرآن کریم که څه هم في نفسه نصیحت دی لیکن) بغیر دخدای پاك درضا څخه داخلک نصیحت نه سي قبلولی (اوپه دې نه رضاکې ځیني حکمتونه دي لیکن قرآن في نفسه نصیحت ضرور دی، نو ددې څخه نصیحت حاصل کړي اودخدای اطاعت کوي څکه چې) هغه دی دکوم (دعذاب) څخه چې بیریدل په کار دي او (هغه دی) کوم چې (دبندګانو ګناه) معاف کوي (لکه چې دا قول دالله ﷻ دی ، اِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيْعُ الْعِقَابِ وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ)

معلومات اومسئلې: سورة مدثر دقرآن کریم دهغو سورتونو څخه دی کوم چې دقرآن کریم دنزول په بالکل ابتدایي دورکې نازل سوی دی ، په دې وجه ځیني حضرات دې سورة ته دټولو څخه اول نازلیدونکی سورة هم وایي او دصحیح او معروفو روایتونو په وجه سره دټولو څخه اول دسورة اقراء ابتدایي ایتونه نازل سوي دي ، بیاترڅو مودې پورې دقرآن دنزول سلسله بنده سوه کوم ته چې زمانه دفترتِ وحی ویل کیږي ، دفترت ددې زماني په اخرکې داواقعه پیښه سوه چې نبي کریم ﷺ په مکه مکرمه کې یو ځای ته تشریف وړی ، دلوړې څخه یې یو اواز واوریدی نودوی ﷺ دآسمان طرف ته نظر پورته کې اووي لیدل چې

هغه ملائکه کومه چې په غارحراء کې د سورة اقراء آیتونه راوړي وه هغه دآسمان لاندې په فضاء کې په یوه معلقه کرسۍ ناسته ده چې دا یې په دې حال کې ولیده نو په نبي کریم ﷺ هغه دطبعي رعب اوهیبت کیفیت خپور سو کوم چې په غارحراکې داقراء دنزول په وخت کې سوی وو، دسخت یخ اوړپیدو داحساس سره دوی ﷺ کورته واپس تشریف راوړی اوویې فرمایل ، زَمِّلُوْنِيْ زَمِّلُوْنِيْ : یعنی ماپټ کې ما پټ کې ، دوی په کپړوکې ځان ونغښتی ، په دې باندې دسورة مدثر ابتدایي آیتونه نازل سول لکه چې دصحیحینو په حدیث کې دی ، په دې وجه په دې سورة کې دوی ته خطاب ﴿يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾ په الفاظو سره وسو، دالفظ ددِثار څخه مشتق دی کوم چې هغه زیاتو کپړو ته وایي کوم چې بنده په عام لباس سربیره دیخ اونوروددفع کولو دپاره استعمالوی ، په دې لفظ سره خطاب یوحبیبانه مشفقانه خطاب دی ، لکه چې په مزمل کې یې بیان سوی دی دلفظ دمزمل معنٰی هم دې ته نژدې ده .

په روح المعاني کې دجابربن زیدتابعي رحمه الله څخه منقول دی ، دوی فرمایي چې سورة مدثر دسورة مزمل څخه وروسته نازل سوی دی اوځیني حضراتو دا روایت دحضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه هم نقل کړی دی ، مګر دصحیحینو کوم روایت چې لوړنقل سوی دی په هغه کې ددې وضاحت دی چې دټولوڅخه اول سورة مدثرنازل سوی دی (اومراد دا دی چې دفترت دوحي څخه وروسته دټولوڅخه اول دا سورة نازل سو) که دسورة مزمل نزول ددې څخه مخکې سوی وای نوحضرت جابر بن عبد الله دحدیث راوي به دابیان کړی وای اودا ظاهره ده چې لفظ دمزمل اومدثر دواړه تقریبًا هم معنٰی دي، کیدی سي چې په یوه واقعه کې ددې دواړو نزول سوی وي اودغه واقعه هغه دجبرائیل امین علیه السلام دآسمان لاندې په کرسی دناست لیدو اوکور ته دبیرته راتلو او په کپړوکې دځان نغښتو وي کومه چې لوړ ذکر سوې ده ، ددې څخه کم ازکم دومره ثابتیږي چې دسورة مزمل اومدثر ابتدایي آیتونه دفترتِ وحي څخه وروسته دټولوڅخه اول نازل سوي آیتونه دي ، په دې دواړو کې کوم مخ ته اوکوم وروسته دی په دې کې روایتونه مختلف سول، اودسورة اقرا دابتدایي ایتونو ددې ټولو څخه اول نازلیدل په ټولو صحیح روایتونو سره ثابت دي، اودا دواړه سورتونه که څه هم په نژدې زمانه کې په یوه واقعه کې نازل سوي دي، مګر فرق په دواړوکې دادی چې دسورةِ مزمل په شروع کې کوم احکام نبي کریم ﷺ ته ورکول سوي دي ، هغه دخپل ذاتي شخصي اصلاح په حقله دي اودسورة مدثرپه شروع کې چې کوم احکام ورکول سوي دي دهغه تعلق زیات تر ددعوت او تبلیغ او اصلاح دخلکو سره دي .

په سورة مدثرکې دټولو څخه اولني حکم دا ورکول سوی دی چې ﴿قُمْ فَاَنْذِرْ﴾ یعني پورته سه ددې حقیقي معنٰی دریدل هم کیدی سي چې تاپه کومو کالو کې ځان نغښتی دی هغه لیرې کړه پورته سه اودا معنٰی هم بعیده نه ده چې دقیام څخه مراد دکار دپاره مستعد او تیاریدل وي اومطلب دا وي چې داوس څخه همت وکړه ، دخدای دمخلوق خدمت سنبال کړه، ﴿فَاَنْذِرْ﴾ دانذار څخه مشتق دی چې معنٰی یې بیرول دي مګر داسي بیرول کوم چې په شفقت اومحبت باندې مبني وي لکه پلار چې خپل بچي دمار، لړم او اور څخه بیروي ، دانبیاوو علیهم السلام هم دا شان وي ، په دې وجه دده ﷺ لقب بشیر اونذیر دی ، نذیر معنٰی دشفقت

اوهمدردی پربنا دمضرو شیانو څخه بیروونکی اودبشیر معنٰی خوشخبری ورکونکی، دنبی کریم ﷺ هم دا دواړه لقبونه په قرآن کی راغلی دی ، مګر دلته صرف دانذار په ذکر بسوالی ځکه وسوچی دا وخت خو مومنان اومسلمانان په شمیر څو دانی وه باقی ټول منکرین اوکفار وه کوم چی دخوشخبری مستحق نه بلکه دبیرولو مستحق وه .

دوهم حکم یی دا ورکی وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ: یعنی صرف دخپل رب لویی بیانوه په قول سره هم ، په عمل سره هم ، لفظ درب دلته ځکه اختیار سوچی دا په خپله علت ددی حکم دی چی کوم دټول جهان پالونکی دی ، صرف هغه دهری لویی اوکبریایی مستحق دی ، دتکبیر لفظی معنٰی الله اکبر ویل هم راځی ، په کوم کی چی دلمانځه تکبیرِ تحریمه او نور تکبیرونه هم دا خل دی او دلمونځ څخه خارج هم داذان اواقامت اونورو تکبیرونه په دی کی شامل دی ، دا حکم دلمانځه دتکبیرِ تحریمه سره دمخصوص ګرځولو دقرآن په الفاظوکی هیڅ اشاره نسته .

دریم حکم یی داورکی وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ : ثیاب دثوب جمع ده ددی اصلی اوحقیقی معنٰی یی کالی دی اوپه مجازی طور عمل ته هم ثوب اولباس ویل کیږی ، زړه اونفس ته هم او اخلاقو اودین ته هم، دانسان جسم هم په لباس سره تعبیر کیږی، چی شواهد یی په قرآن اودعربوپه محاوروکی ډیردی ، په دی آیت کی دمفسرینو حضراتو څخه ټولی معناوی منقولی دی اوظاهره ده چی داځه تضاد اواختلاف نه دی ، په طور دعمومِ مجاز که ددی الفاظو څخه ټولی معناوی مراد واخستل سی نوهیڅ بعد نسته او معنٰی ددی حکم به دا وی چی خپل کالی اوجسم دظاهری ناپاکیو څخه پاك ساته، زړه اونفس دباطلو عقیدو او خیالاتو څخه او درذیلو اخلاقو څخه پاك ساته، دپرتوګ یالنګ ترلوړ هډوکی (بجلکی) څخه دلاندی کولو ممانعت هم ددی څخه مستفاد کیږی ځکه چی دکښته زړیدلو کپړو ګنده کیدل بعیدنه دی، نو دکپړو دپاکوالی په حکم کی داهم راله چی دکپړو استعمال داسی کوی چی دپلیتی څخه لیری وی او دکپړو په پاکولوکی داهم داخله ده چی هغه په حرام مال سره جوړی نه سی، په داسی وضع اوهیئت جوړی نه سی کوم چی شرعًا ممنوع وی او دایت څخه ظاهره دا ده چی دادکپړو دپاکوالی حکم دلمانځه سره مخصوص نه دی بلکه په ټولو حالاتوکی عام دی، په دی وجه فقهاوو فرمایلی دی چی دلمانځه څخه بغیر حالت کی هم بغیر دځه ضرورت څخه جسم پلیت ساتل یا ناپاکی کپړی اغوستل یاپه ناپاك ځای کی کښینستل جائزنه دی، دضرورت وختونه مستثناء دی (مظهری)

الله ﷻ پاکوالی خوښوی ، إِنَّ اللهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ : او په حدیث کی یی طهارت ته نیم ایمان ویلی دی ، په دی وجه مسلمان لره په هرحال کی دخپل جسم اومکان اوکپړو دظاهری پاکوالی هم اهتمام ساتل ضروری دی او دزړه دباطنی طهارت هم . والله تعالی اعلم

څلورم حکم دا ورکول سو ، وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ رُجز په پیښ دراء او زیر دواړو په یوه معنٰی کی دی دتفسیر امامان مجاهد ، عکرمه، قتاده زهری، ابن زید اونورو دلته درجز معنٰی بتان مقرر کړی دی اودحضرت

ابن عباس ﷺ په یو روایت کی ددی څخه مراد هره ګناه او معصیت منقول دی معنی دایت دا سوه چی بتان یاګناه او معصیت پریږده ، نبی کریم ﷺ خو دمخ ته څخه هرڅه پرینبی وه ، دوی ته ددی دحکم کولو معنی دا ده چی اننده هم ددی شیانو څخه لیری اوسه اوپه حقیقت کی دا حکم دامت دپاره تعلیم دی ، کوم چی یی ددیر تاکید دپاره نبی کریم ﷺ مخاطب کی چی هغوی پوه سی چی کله معصوم پیغمبر ته هم ددی حکم دی نو مونږ لره خو ددی څومره اهتمام کول په کار دی .

پنځم حکم : وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ: یعنی په چا احسان په دی نیت سره مه کوه چی تا څه ورلره ورکړی وی ترهغه به زیات ورڅخه وصول سی ، ددی څخه معلومه سوه چی چا ته هدیه تحفه په دی نیت سره ورکول چی هغه به ددی په معاوضه کی ده لره زیات ورکړی دا مذموم اومکروه دی، دقرآن دنورو ایتونو څخه که څه هم ددی جواز دعامو خلګو دپاره سته مګر هغه هم دکراهت څخه خالی نه ده او دشریفانه اخلاقو منافی ده خصوصًا دنبی کریم ﷺ دپاره خویی دا حرام کړل (قاله ابن عباس ﷺ)

شپږم حکم وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ : دصبر لفظی معنی خپل نفس منع کول اوپه منع کی ساتل دی ، په دی وجه دصبر په مفهوم کی دا هم داخله ده چی دالله ﷺ داحکامو په پابندی خپل نفس قائم وساتی او دا هم په کی دا خله ده چی دالله ﷺ دحرام کړل سوو شیانو څخه خپل نفس منع کړی، اودا هم په کی داخله ده چی په مصیبتونو اوپه تکلیفونوکی دخپل اختیار تر حده پوری دجزع فزع اوشکایت څخه ځان وساتی، په دی وجه داحکم یوجامع حکم دی کوم چی تقریبًا ټول دین لره شامل دی ، پردی موقع ددی حکم خصوصیت ممکنه ده چی په دی وجه هم وی چی په پورته ایتونوکی دوی ته حکم ورکول سوی دی چی دخدای ﷺ عام مخلوق ته دحق دین طرف ته دعوت ورکړه اودکفر اوشرك اوګناهونو څخه یی منع کړه ، داظاهره ده چی ددی په نتیجه کی به ډیرخلګ مخالفت دښمنی اوازار رسولوته تیارسی ، په دی وجه دحق داعی لره دصبر اوضبط عادت جوړول په کار دی ، داڅو احکام نبی کریم ﷺ ته دورکولو څخه وروسته دقیامت او ددی دهولناکو ذکر دی ، دناقور معنٰی شپیلی ده اودنقر څخه مرادپه شپیلۍ کی پوکی کول اواواز ایستل دی اودقیامت دټولو کفارودپاره دسخت اوشدید کیدو دبیان فرمایلو څخه وروسته یی دیوخاص شریر کافر حالات اودده دسخت عذاب بیان وکی .

(دولیدبن مغیره امدني یو کروړ ګنیان سالانه)

داکافر ولیدبن مغیره دی کوم ته چی الله ﷺ ددنیا مال ، دولت او اولاد په پریمانی سره ورکړی وو په قول دحضرت ابن عباس ﷺ دده مځکه جائداد اوباغونه دمکی څخه ترطائفه پوری خپاره سوی وه او په قول دثوری دده سالانه آمدنی یوکروړ دیناره وه ، ځینو ددی څخه کمه هم ښوولی ده ، دومره دټولو په نزد مسلمه ده چی دده دکښتو اوباغونو امدنی اوپیداوار ټول کال دیغ اوګرمی په هرموسم کی به مسلسل وه ، په قرآن کریم کی یی ده ته فرمایلی دی ، وَجَعَلْتُ لَهُ مَالًا مَمْدُودًا او دی دعربو سردار منل کیدی په خلګوکی دده لقب ریحانه قریش مشهور وه ، ده به په خپله خپل ځان ته په طور دفخر اوتکبر، وحید ابن الوحید، یعنی دیکتا زوی یکتا ویل چی نه په قوم کی زما څوك نظیر سته ، نه زما دپلار مغیره (قرطبی)

مگر دی ظالم دالله ﷻ دنعمتونو ناشکری وکړه اوقرآن ته یې دکلام الهی په یقین کولو سره ده دروغ خبره جوړه کړه اوقرآن ته یې سحر اونبی کریم ﷺ ته یې ساحر وویل ددی واقعه یې په تفسیر قرطبی کی دا بیان کړي ده چی کله دقرآن آیت ، حٰمٓ، تَنْزِیْلُ الْکِتَابِ مِنَ اللهِ الْعَزِیْزِ الْعَلِیْمِ : څخه تر: اِلَیْهِ الْمَصِیْرِ پوری نازل سو، نبی کریم ﷺ ددی تلاوت کوی ، ولیدبن مغیره دا قرائت واوریدی نو بی اختیاره ددی کلام الهی په منلو او په دی ویلو مجبوره سو چی.

وَاللهِ لَقَدْ سَمِعْتُ مِنْهُ کَلَامًا مَا هُوَ مِنْ کَلَامِ الْاِنْسِ وَلَا مِنْ کَلَامِ الْجِنِّ، وَاِنَّ لَهُ لَحَلَاوَةً، وَاِنَّ عَلَیْهِ لَطَلَاوَةً، وَاِنَّ اَعْلَاهُ لَمُثْمِرٌ، وَاِنَّ اَسْفَلَهُ لَمُغْدِقٌ، وَاِنَّهُ لَیَعْلُوْ وَلَا یُعْلٰی عَلَیْهِ، وَمَا یَقُوْلُ هٰذَا بَشَرٌ .

ژباړه: په الله ﷻ قسم دی ما دمحمد ﷺ څخه داسی کلام اوریدلی دی چی نه دیو انسان کلام کیدی سی نه دیو پیری او په دی کی لوی حلاوت (خوږوالی) دی اوپه ده کی خاص رونق دی ، دده اعلی میوه ورکوونکی اولاندی اوبه جاری کوونکی دی ، اوهغه به بیشکه چی دټولو څخه بلند اوبالا وی په ده هیڅوك نه سی غالب کیدی ، دا دبشر کلام نه دی.

دعربو دټولو څخه دلوی مالدار سردار داسی وینا وه چی په ټولو قریشوکی یی یوه زلزله وغورځوله اوهغه ټول داسلام اوایمان طرف ته په سرکښته کیدو سول ، دقریشو دکافرو سردارانو سره فکر سو اوجمع سول ، مشوره یې وکړه ابوجهل وویل چی فکر مه کوی زه اوس ځم ، دی به سم کړم .

(دابو جهل او ولید بن مغیره مکالمه او دنبی کریم ﷺ په حقانیت دده اقرار و اتفاق)

ابوجهل خپل صورت غمگین جوړکی اوولید بن مغیره ته ورسیدی (اودا صورت یی قصداً جوړکی چی هغه ته درد ورسی) ولید ورڅخه پوښتنه وکړه چی څه خبره ده چی غمجن ښکاری، ابوجهل وویل چی غمجن به ولی نه یم، داټول خلگ چنده کوی تاته مال درکوی چی ته اوس بوډا سوی یی، ستا مدد کول په کار دی ، مگر اوس دوی ته دا معلومه سوه چی ته دمحمد ﷺ او ابن ابی قحافه (ابوبکرؓ) خواته ځکه ځی چی تاته څه دخوراك څښاك دپاره پیدا سی او دهغوی په خوش آمدید کی دهغوی دکلام تحسین اوتعریف کوی (ظاهره ده چی دقریشو چنده کول او ولید ته مال ورکول هم دروغ وه کوم چی دده دغصه کولو دپاره ویل سوی وه ، اودنبی کریم ﷺ څخه دخوراك شیان اخستل خودسره دروغ وه) په دی ولید ډیر سخت غصه سو او ددی په نتیجه کی په ده دخپل تکبر اولویی جنون سپور سو اووي ویل چی زه دمحمد ﷺ او دده دملگرو دټکړو محتاج یم ؟ آیا تاسی ته زما دمال او دولت پریمانی معلومه نه ده، قسم دی په لات اوعزّی (دا د دوو بتانو نومونه دی) زه دهغه هیڅکله محتاج نه یم البته تاسی خلگ چی دا وایاست چی محمد ﷺ مجنون دی ، دا خبره داسی غلطه ده چی هیڅوك یقین نه سی پرکولی ، آیاپه تاسی کی یو چا هغه دلیونتوب په کارونو کولو لیدلی دی؟ ابو جهل اقرار وکی چی والله هیڅکله نه ؛ مونږ هیڅکله دهغه څخه داسی کار نه دی لیدلی ولید وویل تاسی هغه ته شاعر وایاست ، آیا تاسی هغه یو وخت په اشعارو ویلو لیدلی دی؟ (داسی غلطه خبره کول خپل ځان رسوا کول دی) ابوجهل پردی هم وویل چی نه! والله، بیا ولید وویل چی تاسی هغه ته کذاب وایاست، نوایا تاسی په ټول عمرکی یووخت دهغه څخه

خبره ددروغو اوریدلی ده؟ په دی هم ابوجهل دا اقرار وکی چی نه؛ والله، بیا ولید وویل چی تاسی خلګ ده ته کاهن وایاست نوایا تاسی یووخت دده داسی حالات اوکلمات لیدلی یا اوریدلی دی ؟ کوم چی دکاهنانو وی، مونږ خو دکاهنانو خبری ډیری ښی پیژنو، دده کلام کهانت نه سی کیدی، په دی هم ابوجهل دا اقرار وکی چی نه؛ والله ، او په ټولو قریشوکی نبی کریم ﷺ دصادق اوامین په لقب سره معروف وو اوس ابوجهل ددی خپلو ټولو بهتانونو څخه خپله لاس په سر سو، خو دا یی فکر سو چی اخر بیاڅه ووایو چی خلګ داسلام څخه منع سی ، په دی وجه ولید یی مخاطب کی او وویی ویل چی بیاته ووایه چی ده ته څه وویل سی، په دی باندی اول هغه په خپل زړه کی سوچ وکی ، بیایی ابوجهل ته وکتل اوبیایی خله خرابه کړه چی دنفرت اظهار ورڅخه وسی او په آخر کی یی وویل چی ده ته یعنی رسول الله ﷺ ته مجنون ، شاعر، کاهن، کذاب خوهیڅ نه سی ویل کیدی البته ده ته ساحرکه ووایو نوخبره به وچلیږی ، دا کم بخت ښه پوهیدی چی نبی کریم ﷺ ساحرهم نه دی اونه دده کلام ته دساحرانو کلام ویل کیږی ، مګر ده دخبری جوړولو دا صورت منتخب کی چی د دوی دکلام آثار هم داسی دی لکه دساحرانو څکه چی لکه څنګه چی جادوګر په خپل عمل سره دښځی خاوند او وړونو په مینځ کی جدایی راولی اونفرت پیدا کوی (معاذ الله) ددوی دکلام هم دا اثردی چی څوك ایمان راوړی نودخپلو کافرو پلار اومور اوخپلوانو څخه نفرت کوونکی سی ، ددی واقعی اخری اجزاء قرآن کریم په دی آیتونوکی بیان کړی دی ، اِنَّهٗ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ۝ فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ۝ ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ۝ ثُمَّ نَظَرَ ۝ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ۝ ثُمَّ اَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ ۝ فَقَالَ اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ يُّؤْثَرُ ۝ اِنْ هٰذَآ اِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ : په دی کی قَدَّرَ دتقدیر څخه مشتق دی چی لفظی معنیٰ یی تجویز کول دی ، مراد ددی څخه دا دی چی دی کم بخت دنبی کریم ﷺ په نبوت او رسالت باندی دیقین کامل کیدو باوجود دغصی او غیرت څخه مغلوب سو، مخالفت کول یی تجویز کړل ، مګر دصفا دروغ ویلو څخه یی ځان ساتی چی خپله رسوایی یی ونه سی ، په دی وجه ددیر غور اوفکر څخه وروسته یی داتجویز راوایستی چی ده ته ساحرپه دی بنا ووایی چی دده په کلام اوتلقین سره په پلار زوی او وړونو کی جلاوالی راځی لکه په جادو سره چی کیږی په دی تقدیر اوتجویز سره حق تعالی په ده مکرر لعنت په قرآن کی وفرمایی ، فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ۝ ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ .

(د درواغو څخه به کفارو هم ځان ساتي)

فکر وکی چی دا قریشی سردار او ټول فُجّار په نور هرقسم ګناهونو اوفواحشو کی اخته وه ، مګر دروغ یوداسی عیب دی چی داکفار هم ددی څخه تښتیدل دابوسفیان واقعه مخکی داسلام څخه کومه چی دقیصر دروم په دربارکی پیښه سوه ، دهغه څخه هم دامعلومه سوه چی هغه خلګ دنبی کریم ﷺ په دښمنی کی خپل ځان او اولاد قربانولو ته خو تیار وه ، مګر داسی درواغو ویلو ته تیار نه وو په کومو سره چی دوی ته په دنیاکی درواغ جنان وویل سی افسوس دی چی ددی سرچپه ترقی په زمانه کی دا عیب ګر سره عیبت پاته نه سو، بلکه تر ټولو لوی هنر جوړ سو، او دکفارو فاجرانو څخه نه بلکه دنیکو دیندارو مسلمانانو دزړونو څخه هم ددی نفرت ووتی، بی دریغه دروغ ویل او اوریدل په فخر سره

بیانیږي (الله ﷻ دې مونږ ته پناه راکړي آمین)

(داولاد دخپل ځان سره موجود کیدل یو مستقل نعمت دی)

په ولید بن مغیره باندې چې الله ﷻ په دنیاکې کوم انعامات کړي وه په هغه کې یې یو دا هم فرمایلي دي چې بَنِیْنَ شُهُوْدًا یعنې اولاد حاضر اوموجود، ددې څخه معلومه سوه چې لکه څنګه چې د اولاد پیدا کیدل او ددې باقي اوسول دالله ﷻ انعامات دي، دغه شان اولادپه خپله خواکې حاضر اوموجود کیدل هم یو لوی انعام دی کوم چې دمور اوپلار دپاره دسترګو یخوالي او دزړه دسکون دټولو څخه لویه ذریعه ده، د دوی په حاضرۍ سره په خپل خدمت او کار وبار کې دامداد فائده په دې سربیره ده، دې سرچپه ترقۍ چې دا زمانه یې کوي، صرف دسرو او سپینو دسکو بلکه ددې سکو داقرارنامو (نوټونو) نوم یې عیش اوارام ایښې دی دکومو دپاره چې مور اوپلار په لوی فخر سره اولاد نورو ملکونو ته غورځوي او په دې خوشحالیږي چې که په کلونو کلونو بلکه ټول عمر د اولاد صورت هم ونه ویني خیر دی خو چې د دوی دغټو غټو تنخواه ګانو او آمدنی خبر د دوی غوږونو ته را رسیږي او دوی دهغه خبر په ذریعه په برادرۍ کې خپله برتري ثابتوي، معلومیږي چې دا خلګ دارام اوراحت دمطلب څخه هم ناخبره سول او دالله ﷻ دهیرولو دا نتیجه سوه چې دوی په خپله خپل ځان یعنې خپل اصلي ارام او راحت هم هیرکې، لکه چې قرآن کریم فرمایي، نَسُوا اللّٰهَ فَاَنْسَاهُمْ اَنْفُسَهُمْ .

وَمَا یَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ اِلَّا هُوَ: دتفسیر په امامانوکې مقاتل فرمایي چې دا جواب دابو جهل دخبرې دی، ده چې کله دا آیت واوریدی چې د دوږخ خازنان نو لس ملائکې دي، نودقریشو ځوانانوته یې خطاب وکې اووې ویل چې دمحمد ﷺ ملګري خوفقط نولس دي ددې تاسې سره هیڅ فکرنه دی کول په کار، اوبیهقي دسدي څخه نقل کړي دي چې کله دا آیت نازل سو، عَلَیْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ: نو یو بې هوده کافر دقریشوکوم ته چې به ابو الاسلین ویل کیدل، وې ویل چې ای دقریش قومه! هیڅ فکرمه کوی، ددغو نولسو (۱۹) دپاره خو زه یوازې کافي یم زه به په خپل راسته لاس سره لس (۱۰) اوپه چپه لاس سره نه دفع کړم ددغو نولسو (۱۹) خاتمه به وکړم، په دې دا آیت نازل سوچې ای احمقانو! اول خو یوه ملائکه هم تاسې ټولو لره کافي ده او دنولسو(۱۹) شمیر چې کوم دلته ښوول سوی دی دا خو ددغو ملائکو دمشرانو او ذمه وارو عدد دی، په دوی کې دهرې یوې فرښتې لاندې دخدایي خدمتونو اوکفارو او فاجرانو ته دعذاب ورکولو دپاره بې شمیره ملائکې مقرر دي، دکومو شمیر چې دالله ﷻ څخه ماسوا بل هیچاته نه دی معلوم مخ ته دقیامت او دقیامت داحوالو ذکر دی، په دې کې فرمایي، اِنَّهَا لَاِحْدَی الْکُبَرِ دَاِنَّهَا ضمیر دسَقَر طرف ته راجع دی چې ذکر یې په لوړ آیت کې راغلی دی، کُبَر په پیښ دکاف اوزبر دباء دکبرٰی جمع ده داصفت دی د، وَاهِیَةٌ یا د، مُصِیْبَةٌ، معنٰی دایت دا ده چې دا سقر یعنې جهنم په کوم کې چې دوی داخلول کیږي دلویو لویو مصیبتونو او افتونو څخه یودی، ددې څخه علاوه نور قسم قسم عذابونه دي.

لِمَنْ شَاءَ مِنْکُمْ اَنْ یَّتَقَدَّمَ اَوْ یَتَاَخَّرَ: دلته دتقدم څخه مراد تقدم الی الایمان والطاعة دی اودتاخرڅخه مراد

دايمان اوطاعت څخه ګرځيدل دي مطلب دا دی چې دجهنم دعذاب څخه بيرول کوم چې په لوړ آيت کی دی دا دهر انسان دپاره عام دی ، بياڅوك دا بيره واوري دايمان اوطاعت طرف ته پيشقدمی کوی ، څوك بد نصيب ددی باوجود شاته پاته کيږی.

كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ * إِلاَّ أَصْحَابَ الْيَمِينِ رَهِينَة : په معنی دمرهونه دی اومراد ددی څخه ددی محبوس اومقيد کيدل دی ، لکه څنګه چې يو سړی دقرض په بدله کی يوشی ضامن کنښيږدی نو هغه شی دقرض برابره خبره ده که په قبضه کی محبوس وی ، مالك دهغه څخه څه فائده نه سی اخستی دغه شان دقيامت په ورځ به هر يو نفس دخپلو ګناهونو په بدله کی محبوس اومقيد وی مګر اصحاب اليمين به ددی حبس او قيد څخه مستثناوی.

دلته دحبس څخه مراد په جهنم کی محبوس کيدل هم کيدی سی لکه چې په لنډ ذکر سوی تفسيرکی اخستل سوی دی ، نو معنی به داسی چې هر سړی به دخپلو خپلو ګناهونو دسزا تيرولو دپاره په جهنم کی محبوس وی ، مګر اصحاب اليمين به ددی څخه مستثنی وی ، ددی سياق څخه دا هم معلومه سوه چې داصحاب اليمين څخه مراد هغه خلګ دی کومو چې خپل قرض ادا کی ، يعنی دالله ﷻ او دبندګانو دټولو حقونه يی په دنيا کی ادا کړی وه ، ياالله ﷻ او بندګانو معاف کړل ، هغوی فرض او قرض ټول ادا کړل د دوی دنفسونو دمرهون کيدو هيڅ وجه نسته ، دا تفسير په ظاهره صفا او بی تکلفه دی اوکه دحبس څخه مراد حساب کتاب او جنت ته دداخليدو څخه مخکی په يو ځای کی محبوس کيدل وی ، نو مطلب به يی دا وی چې ټول نفسونه به دخپل خپل حساب دپاره محبوس وی ، ترڅو پوری چې حساب ونه سی ، څوك به هيڅ چيری نه سی تللی ، په دی صورت کی اصحاب اليمين چې مستثنی سول ، د دوی څخه مراد يا خوهغه معصومين کيدی سی ، دکومو په ذمه چې حساب نسته لکه نابالغ کوچنيان ، لکه چې داقول دعلی کرم الله وجهه دی يابياهغه خلګ دکومو په باره کی چې په حديث کی راغلی دی چې ددی امت ډير خلګ به دحساب څخه مستثنی سی ، هغوی به بغير دحساب څخه جنت ته داخليږی او په سورة واقعه کی چې يی دمحشر دحاضرينو دری قسمونه ښوولی دی ، يو دسابقينو مقربينو، دوهم داصحاب اليمين دريم داصحاب الشمال ، دلته يی مقربين هم په اصحاب اليمين کی شامل کړل او صرف داصحاب اليمين په ذکر يی بسوالی وکی ، ليکن ددی معنی په اعتبار سره دټولو اصحاب اليمين دحساب دپاره دمحبوس کيدو استثنی په څه نص سره ثابته نه ده ، دا معنی داول تفسير يعنی دحبس فی جهنم سره صحيح کيدی سی. والله تعالی اعلم

فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشَّافِعِينَ : دتَنفَعُهُمْ ضمير دهغو مجرمانو طرف ته راجع دی ، دکومو ذکر چې ددی څخه په مخکی آيت کی راغلی دی ، چې دوی دخپلو څلورو جرمونو اعتراف وکی ، يو دا چې هغوی لمونځ نه کوی ، دوهم دا چې هغوی به چامسکين غريب ته خوراك نه ورکوی ، مراد دا دی چې دغريبانو په ضرورتونو کی به يی خرڅ نه کوی ، دريم دا چې اهل باطل کومو چې به داسلام او ايمان خلاف خبری کولی يابه په ګناهونو او فواحشو کی اخته کيدل ، دوی به هم دهغوی سره کيدل ، دهغوی څخه دبی

زاري اظهار به يې نه كوي ، څلورم دا چې دقيامت څخه به يې انكار كوي.
ددې آيت څخه ثابته سوه چې داسې مجرمان كوم چې ددې ټولو گناهونو مرتكب سول چې دقيامت تكذيب په كې هم داخل دی كوم چې عين كفردی ، دداسې مجرمانو دپاره به دچا شفاعت نافع نه سي څكه چې هغه كفار دي ، ديو كافر دشفاعت كولو به هم چاته اجازت نه وي اوكه څوك يې كوي نو قيديږي به نه ، برابره خبره ده كه ټول شفاعت كوونكي جمع سي او دشفاعت زور ولگوي ، هيڅكله به نفع ورنه كړي ، دې طرف ته يې داشاري كولو دپاره شفاعة الشافعين په صيغه دجمع راوړې دي.

(دكافر دپاره دچا شفاعت نافع نه دی دمومن دپاره به نافع وي)

ددې آيت څخه دا هم مستفاده سوه چې دكفارو څخه علاوه دمسلمانانو دپاره كه څه هم هغه گناهگار وي شفاعت به نفع وركې لكه چې په ډيرو صحيح احاديثوكي دانبياء اواولياوو صالحانو بلكه دعامو مومنانو دنورو دپاره شفاعت كول اوقبليدل ثابت دي.

فائده: حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمايي چې په آخرت كې به دالله ﷻ ملائكې ، انبياء اوشهداء اوصالحين دگناهگارانو شفاعت كوي اوهغوى به د دوى په شفاعت دجهنم څخه وايستل سي ، بغير دهغو څلورو قسمو مجرمانو څخه دكومو ذكر چې لوړ راغلی دی ، يعنې كوم چې دلمانځه زكوٰة پريښودونكي وي اوكوم چې دكفارو سره داسلام په خلاف خبروكي شريكيږي اوكوم چې دقيامت څخه انكار كوي ، ددې څخه معلوميږي چې دبې نمازه او زكوٰة نه وركوونكي دپاره شفاعت نه قبليدل ذكردی هغه مراد دی كوم چې ددې څلورو جرمونو مجرمان وي ، په كوموكي چې دقيامت تكذيب هم داخل دی ، دتكذيب څخه علاوه دجلا جلا نورو جرمونو كوونكو دپاره دا سزا ضروري نه ده ، مگر دحديث په ځينو روايتونو كې دخاصو خاصو گناهونو كوونكو په حقله هم داراغلي دي چې هغه به دشفاعت څخه محروم وي ، لكه چې په حديث كې دي چې كوم سړي دشفاعت دحق كيدو څخه منكر وي يادحوض كوثر دوجود څخه منكر وي ، دهغه په شفاعت او حوض كوثر كې هيڅ حصه نسته.

فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِينَ : دلته دتذكرې څخه مراد قرآن حكيم دی، څكه چې دتذكرې لفظي معنیٰ يادونكي شی دی اوقرآن دالله ﷻ دكمال دصفتونو اوده درحمت اوغضب اوثواب اوعذاب په يادولوكي بې نظيره دی اوپه آخركې فرمايي، كَلَّا إِنَّهُ تَذْكِرَةٌ يعنې بيشكه قرآن تذكره ده كوم چې تاسې پريښنې دي د ، قَسْوَرَةٍ معنیٰ دزمري هم راغلی اودغشي ويشتونكي ښكاري هم دلته دصحابه كرامو رضی الله عنهم څخه دواړه منقول دي هُوَ أَهْلُ التَّقْوَىٰ وَأَهْلُ الْمَغْفِرَةِ : دالله ﷻ اهلِ تقوىٰ كيدل په دې معنیٰ دی ، چې صرف هغه ددې مستحق دی چې دهغه څخه بيره وسي او دهغه دنافرماني څخه وساتل سي او داهل مغفرت كيدو مطلب دا دی چې هغه داسې ذات دی كوم چې دلوى څخه لوى مجرم اوگناهگار ته دهغه ټول گناهونه كله چې غواړي بخښې دبل چا داحوصله نه سي كيدې.

تمّت سورة المدثر بحمدالله يوم الجمعة ۲۵ رجب سنه۱۳۹۱هـ

﴿ سورة القيامة ﴾

سُوْرَةُ الْقِيٰمَةِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ اَرْبَعُوْنَ اٰيَةً فِيْهَا رُكُوْعَانِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة قیامت په مکه کی نازل سو او په دی کی څلویښت (۴۰) آیتونه او دوه (۲) رکوع گانی دی.

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی.

لَآ اُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ ﴿١﴾ وَلَآ اُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ ﴿٢﴾ اَيَحْسَبُ

زه قسم کوم دقیامت په ورځ ، او قسم کوم په نفس ملامتوونکی په بدی باندی، آیا خیال

الْاِنْسَانُ اَلَّنْ نَّجْمَعَ عِظَامَهٗ ﴿٣﴾ بَلٰى قٰدِرِيْنَ عَلٰٓى اَنْ نُّسَوِّيَ

کوی انسان چی جمع به نه کی دده هډوکی ، ولی نه مونږ قادر یو په دی چی برابر کی

بَنَانَهٗ ﴿٤﴾ بَلْ يُرِيْدُ الْاِنْسَانُ لِيَفْجُرَ اَمَامَهٗ ﴿٥﴾ يَسْـَٔلُ اَيَّانَ

دده بندونه ، بلکه غواړی انسان چی ناوړی وکی دده په مخکی، پوښتنه کوی چی کله

يَوْمُ الْقِيٰمَةِ ﴿٦﴾ فَاِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ ﴿٧﴾ وَخَسَفَ الْقَمَرُ ﴿٨﴾ وَجُمِعَ الشَّمْسُ

به وی ورځ دقیامت، هرکله چی برگی سی سترگی ، او خړه سی سپوږمی ، او جمع سی لمر

وَالْقَمَرُ ﴿٩﴾ يَقُوْلُ الْاِنْسَانُ يَوْمَئِذٍ اَيْنَ الْمَفَرُّ ﴿١٠﴾ كَلَّا لَا وَزَرَ ﴿١١﴾

او سپوږمی، وبه وایی انسان په دغه ورځ چی چیری دی ځای دتیښتی؟ داسی نه ده چیری نسته ځای دخلاصون

اِلٰى رَبِّكَ يَوْمَئِذِ ِۨالْمُسْتَقَرُّ ﴿١٢﴾ يُنَبَّؤُا الْاِنْسَانُ يَوْمَئِذٍۭ بِمَا قَدَّمَ

ستا رب پوری دی په دغه ورځ ځای دقرار، خبر به کړل سی انسان په دغه ورځ په هغه څه چی

وَاَخَّرَ ﴿١٣﴾ بَلِ الْاِنْسَانُ عَلٰى نَفْسِهٖ بَصِيْرَةٌ ﴿١٤﴾ وَّلَوْ اَلْقٰى مَعَاذِيْرَهٗ ﴿١٥﴾

مخکښ لیږلی دی ، او وروسته یی پاته کړی دی بلکه انسان دخپل ځان دپاره په خپله دلیل دی ، او که غورځوی خپلی بهانی

لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ ﴿١٦﴾ اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهٗ

مه چلوه په دی خپله ژبه چی تلوار وکړی ددې په زده کولو باندی ، په مونږ دی ددی جمع کول

وَقُرْاٰنَهٗ ﴿١٧﴾ فَاِذَا قَرَاْنٰهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ ﴿١٨﴾ ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهٗ ﴿١٩﴾

ستا په سینه کی او ویل ستا په ژبه، نو کله چی مونږ دا ووایو د ملائکو په ژبه نو ته ورسره وایه، بیا زمونږ په ذمه دی ددې بیانول،

كَلَّا بَلْ تُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ ﴿٢٠﴾ وَتَذَرُوْنَ الْاٰخِرَةَ ﴿٢١﴾ وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ

داسی نه بلکه تاسی غواړی دنیا ، او پریږدی آخرت ، ډیر مخونه به په دغه ورځ

نَّاضِرَةٌ ﴿٢٢﴾ اِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿٢٣﴾ وَوُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍۭ بَاسِرَةٌ ﴿٢٤﴾ تَظُنُّ

تازه وی ، خپل رب طرف ته کتونکی ، او ډیر مخونه به په دغه ورځ پریشانه وی ، خیال کوی

اَنْ يُّفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ﴿٢٥﴾ كَلَّآ اِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ ﴿٢٦﴾ وَقِيْلَ مَنْ ۜ

چی هغه په دوی راسی چی ملا ماتوی ، داسی نه ده هر کله چی روح راسی غاړی ته ، او خلق وایی څوک دی

رَاقٍ ﴿٢٧﴾ وَّظَنَّ اَنَّهُ الْفِرَاقُ ﴿٢٨﴾ وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ ﴿٢٩﴾ اِلٰى

دم کوونکی ، او هغوی وګنی چی راغی وخت د جدایی ، او تاؤ سی پنډی د پنډی څخه

رَبِّكَ يَوْمَئِذِ ِالْمَسَاقُ ﴿٣٠﴾ فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلّٰى ﴿٣١﴾ وَلٰكِنْ

ستا درب طرف ته په دغه ورځ تلل ، نو نه یی یقین وکی او نه یی لمونځ وکی ، او لیکن

كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ﴿٣٢﴾ ثُمَّ ذَهَبَ اِلٰٓى اَهْلِهٖ يَتَمَطّٰى ﴿٣٣﴾ اَوْلٰى لَكَ فَاَوْلٰى ﴿٣٤﴾

درواغ یی کړو او مخ یی واړوی ، بیا ولاړل خپل کور ته تکبر کوونکی ، خرابی ده تا لره خرابی په خرابی

ثُمَّ اَوْلٰى لَكَ فَاَوْلٰى ﴿٣٥﴾ اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَنْ يُّتْرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾

بیا خرابی ده تالره خرابی په خرابی ، آیا خیال کوی انسان چی پریښوول به سی ازاد ،

اَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّنْ مَّنِيٍّ يُّمْنٰى ﴿٣٧﴾ ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوّٰى ﴿٣٨﴾

آیا نه وو هغه یو څاڅکی دمنی چی وڅاڅی ، بیا ده دوینی توټه بیا یی جوړ کی او سم یی کی

فَجَعَلَ مِنْهُ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى ﴿٣٩﴾ اَلَيْسَ ذٰلِكَ

بیا یی جوړه کړه په دوی کی جوړه نر او ښځه ، آیا دا (خدای)

بِقٰدِرٍ عَلٰۤى اَنْ يُّحْیِۦَ الْمَوْتٰى ﴿۴۰﴾

مړي نه سي ژوندي کولی .

تفسير: زه قسم اخلم دقيامت په ورځ اوقسم اخلم په داسی نفس چی خپل ځان ملامت کی (يعنی نيکی وکی او دا ووايی چی ماځه وکړل ، په دی کی اخلاص نه وو ، په دی کی فلانی خرابی پاته سوی وه اوچی ګناه ورځخه وسی نو ډير ستومانه وی ، لکه په درمنثور کی دحضرت ابن عباس ؓ ځخه اوحسن ؒ ځخه داسی نقل دی ، نو ددی معنٰی په اعتبار سره دا نفس مطمئنه ته هم شامل دی اوجواب دقسم محذوف دی يعنی تاسی به ضرور پورته سی او ددی دواړو قسمونو دمقام سره مناسبت ظاهر دی ، دقيامت خوځکه چی هغه ظرف دی دحشر نشر اودنفس لوامه ځکه چی داسی نفس دقيامت عملی تصديق کوونکی وی ، مخ ته په منکرينو دبعث باندی رد دی يعنی) آيا انسان خيال کوی چی مونږ به دهغه هډوکی هيڅکله جمع نه کو (دانسان ځخه مراد کافر اودهډوکو تخصيص ځکه چی اصل ستن دبدن دا دی ، مخ ته ددی انکار جواب دی يعنی) مونږ به ضرور جمع کو (اوجمع کول مونږ ته څه ګران نه دی) ځکه چی مونږ په دی قادر يو چی دده دګوتو بندونه لا برابر کو (دګوتو دبندونو ذکری تخصيص په دوو وجهو سره دی يو دا چی دا دبدن اطرف دی او تکميل دهرشی دجوړيدو دده په اطرافو باندی وی ، چنانچی زمونږ په محاوره کی هم په ځينو موقعو باندی وايی چی زماپه بند بندکی درد دی يعنی په ټول بدن کی، دوهم دا چی دګوتو په بندونوکی سره دکوچنيوالی دصنعت رعايت زيات دی اوعادتًا دا زيات ګران دئ ، نو ځوك چی په دی قادر وی هغه به په آسمان باندی په طريقه اولی قادر وی ليکن ځينی انسانان په قدرت کامله کی غورنه کوی او دقيامت نه قائل کيږی) بلی (داسی) ځينی خلګ (دقيامت ځخه منکر سی) داسی غواړی چی په خپل راتلونکی ژوندکی هم (بی بيری او ترهی) فسق فجور کوی (په دی وجه په طور دانکار) پوښتنه کوی چی دقيامت ورځ به کله راځی (يعنی خپل ټول عمريی چونکی په ګناهونو اوشهواتو کی تيرول مقرر کړی وی ، په دی وجه دحق دطلب نوبت ورلره نه ورکول کيږی چی دقيامت کيدل ده ته ثابت سی په دی وجه پرانکار اصرار کوی او په انکار سره پوښتنه کوی چی کله به راځی) نو څه وخت چی (دحيرت په وجه) سترګی برګی سی (او وجه ددی حيرت به دا وی چی کوم کارونه يی دروغ ګڼل هغه به ورته ناڅاپه په نظر راسی ، لکه په جلالين کی داسی دی) اوسپوږمی بی نوره سی (او دسپوږمی څه تخصيص دی بلکه) لمر اوسپوږمی (دواړه) به په يوحالت باندی سی (يعنی دواړه به بی نوره سی لکه دچی دبخاری په حديث کی راغلی دی ، لُکَوَّرَانِ، وَمَعْنٰی کُوِّرَتْ قَالَ ابْنِ عَبَّاسٌ اُظْلِمَتْ، رواهما فی الدر المنثور، سورة التکوير او دسپوږمی جلا بيانول به شايد په دی وجه وی عربو ته په وجه دقمری حساب ساتلو ددی دحال ليدلو زيات اهتمام وو) په دغه ورځ به انسان ووايی چی اوس چيری وتښتم (ارشاد کيږی چی) هيڅکله (تيښته به ممکنه) نه (وی ځکه چی) هيڅ چيری دپناه ځای نسته، په

دغه ورځ صرف ستا درب خواته ټکانه (دتللو) ده (بیایې برابره خبره ده که جنت ته لیږي یادوزخ ته او درب مخ ته دتللو په وخت) په دغه ورځ به انسان ته دده ټول مخکې او وروسته کړې ورياد سي (اودانسان دخپلو عملونو څخه خبریدل به څه په دې ښوولو باندې موقوف نه وي) بلکه انسان به په خپله په خپل حالت (په وجه دضروري انکشاف) ښه خبروي که څه هم (په اقتضا دطبيعت دغه وخت هم) خپلې حیلې (حوالې) پیش کوي (لکه چې کفاربه وايي ، وَاللهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ : مگر په زړه کې به په خپله هم پوه سي چې مونږ دروغ جنان یو ، غرض دا چې انسان به خپل ټول حال ښه پیژني، په دې وجه ورښوول به دخبردار کولو دپاره نه وي بلکه دپوهولو اوحجت تمامولو اوجواب قطع کولو دپاره به وي او) اې پیغمبر ﷺ دیُنَبَّؤُا او بَلِ الْاِنْسَانُ څخه دوه مضمونه مستفاد سول يودا چې الله ﷻ په ټولو اشياؤ عالم اومحيط دی دوهم دا چې دحق تعالى عادت دی چې کله حکمت مقتضي وي نو علوم غائبه کثیره دمخلوق په ذهنونو کې حاضر وي ، که څه هم ددغو غائبو علومو حاضرول خلاف دعادت طبعي نه وي ، لکه چې په قيامت کې به ددې وقوع وي ، هرکله چې دا خبره ده نو ته دوحی دنزول په وخت لکه چې تر اوسه ستا عادت دی ، دومره قدر مشقت چې اوري يې هم ، او وايي يې هم اوخيال ورته هم کوي ، محض په دې احتمال سره ولې برداشت کوي چې شاید یو مضمون زما دذهن څخه وزي، ځکه چې کله مونږ ته نبي جوړ کړی یې اوستا څخه دتبليغ کار اخستل دي ، نو دلته به مقتضاء دحکمت دا وي چې دغه مضامين به ستا په ذهن کې حاضر ایښوول کيږي اوزمونږ پردې قادریدل خو ظاهره ده ، په دې وجه ته دا مشقت مه برداشت کوه اوکله چې وحي نازليږي نو) ته (مخکې دوحی دختمیدو څخه) په قرآن خپله ژبه مه ښوروه چې ته يې ژر ژر واخلې (ځکه چې) زمونږ ذمه ده (ستا په زړه کې) ددې جمع کول او (ستا پرژبه) ددې ويل (کله چې دا زمونږ ذمه ده (نو کله چې مونږ دغه وايو (يعنې زمونږ ملائکه يې وايي) نو ته (په خپل ذهن اوفکرسره همه تن) دهغه تابع کيږه (يعنې هغه ته متوجه کيږه او په خپله يې په ويلوکې مه مشغوليږه ، لکه چې داقول دالله ﷻ دی ، وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْآنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يُّقْضٰى اِلَيْكَ وَحْيُهُ الخ) بیا (ستا په ژبه سره دخلګو په مخکې) دهغه بیانول (هم) زمونږ په ذمه دی (يعنې تاته یادول اوستا په ژبه يې جاري کول ، بيا دتبليغ په وخت کې دهغه دريادول اودخلګو په مخکې يې درباندې ويل داټول زمونږ په ذمه دي او دا مضمون استطراداً راغلی وو، مخ ته بيا عود دی دمنکرينو دخطاب طرف ته يعنې) اې منکرانو (دانسانانو په مخکنيو او وروستنيو عملونو مطلع کول په قيامت کې ضروري دي اولکه چې تاسې ګنئ چې قيامت به نه وي) هيڅکله داسې نه ده (او نه ستاسې سره ددې دنفي څه دليل سته) بلکه صرف خبره دا ده چې) تاسې ددنيا سره محبت ساتئ او (په هغه محبت کې ورننوتاست د) اخرت (څخه غافله یاست اودغفلت په سبب هغه) مو پريښې دی (نو بناء ستاسې ددې نفي محض فاسده ده ، نو قيامت به ضرور وي او هر يوه ته به دده دعملونو اطلاع ورکول سي ، مناسبه جزا به ورکول کيږي چې تفصيل یې دا دی چې) ډير مخونه به په دغه ورځ بارونقه وي دخپل پروردګار طرف ته به ګوري او ډير مخونه به په دغه ورځ بې رونقه وي (اوهغه خلک به) خيال کوي چې د دوی سره به ملا ماتوونکې معامله کول کيږي (يعنې سخت عذاب به ورلره وي

مخ ته ددنیا په محبت زجر دی چی تاسی کومه دنیامحبوبه اوآخرت دپرینبوولو وړ گڼئ) هیڅکله داسی نه ده (څکه چی ددنیا څخه یوه ورځ جلا کیدل دی اوبالاخر اخرت ته تلل دی دکوم چی دا بیانˆ دی چی) کله چی روح مری ته را ورسیږی او (په نهایت حسرت سره به دغه وخت) ویل کیږی (یعنی تیمار دار وایی) چی (ای) څوك دم (چف کوونکی) والا سته ؟ (مراد مطلق علاج کوونکی دی چونکی په عربوکی ددم او چف زیاته چرچه وه ، په دی وجه یی په راق سره تعبیر وکی) او (دغه وخت به) هغه (مرده) یقین کوی چی دا دجدایی (ددنیا څخه) وخت دی او (دشدت سکرات دمرگ څخه) یوه پنډی به پربلی پنډی پیچل کیږی (مراد ددی څخه ظهور دسکرات دمرگ داثاور دی ، څه تخصیص دپنډیو پیچلو نسته ددی ذکر تمثیلاً دی ، کله چی داسی حالتونه پیښیږی نو ای انسانه!) په دغه ورځ به ستادرب طرف ته تلل وی (نو په داسی حالت کی ددنیامحبت او دآخرت پرینبول څومره نادانی ده ، بیاخدای ته درسیدو څخه وروسته که هغه کافر وی نو دهغه به بدحال وی څکه چی) ده څونه (دخدای او رسول) تصدیق کړی وو او نه یی لمونځ کړی وو لیکن (دخدای اورسول) تکذیب یی کړی وو او (داحکامو څخه یی) مخ اړولی ووبیا (پردی سربیره داچی دداعی دحق څخه یی مخ واړوی اوپه دی فخر کوونکی او) ناز کوونکی خپل کورته به تلل (مطلب داچی اول خوکفر اوعصیان بیا پردی پښیمانی نه وه بلکه چیه به یی فخرکوی چی مونږحق داسی ردکی اوپه باطل ټینگ پاته سو اوبیاددی څخه وروسته دحق طلب نسته ، بلکه چی خپلوخادمانو نوکرانوته ولاړ سی ، نور زیات مغروره اوغافله سی ، مخ ته ددی کافر دبدحالی بیان دی چی داسی سړی ته ، وویل سی چی) ستا کم بختی سربیره په کم بختی راتلونکی ده بیا (مکرر واوره چی) ستا پرکم بختی سربیره کم بختی راتلونکی ده (دتکریر دمفرد څخه مقدار دزیادت مستفاد سو اودتکریر دمجموع څخه دکیفیت زیادت ، اوچونکی وقوع دذکر سوی جزاء موقوف ده، په دوو کارونو، یو دانسان په مکلف کیدو، دوهم دده په مړکیدو اوبیا ژوندی کیدو، دکوم په امکان کی چی د دوی خبری وی ، په دی وجه مخ ته دواړه مضامین دی یعنی) آیا انسان دا خیال کوی چی هم دغسی مهمل به پرینبوول سی (نه به په ده احکام عائدسی اونه به دده سره حساب وی ، بلکه مکلف کیدل یی هم یقینی دی او په دی سربیره ورڅخه پوښتنه کیدل هم یقینی دی اوبیادی کوم پورته کیدل چی محال گڼی دا هم دده حماقت دی) آیا داسړی (په ابتداء کی محض) یوه قطره دمنی نه وه کمه چی (دښځی په رحم کی) څڅول سوی وه ، بیاهغه دوینی ټکره سوه ، بیا الله ﷻ (دا انسان) جوړکی ، بیا یی ورلره اندامونه برابر کړل ، بیایی دهغه (انسان) دوه قسمونه کړل سړی اوښځه او دا فاء تفسیر یه ده نو) آیاهغه (خدای کوم چی په ابتداء کی په خپل قدرت سره دا هرڅه وکړل) په دی خبره قدرت نه لری چی (په قیامت کی) مړی ژوندی کړی (حال دا دی چی دوباره پیدا کول داول پیدا کولو په نسبت اسان دی)

معلومات اومسئلی : لَآ اُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ ، وَلَآ اُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ : دلته دقسم څخه اول حرف دلا زائد دی ، کوم قسم چی دمخالفی خبری درد کولو دپاره خوړل کیږی نو په شروع کی یی حرف دلا دهغه سړی دباطل خیال دنفی دپاره زائد استعمالیږی او دعربو په محاوروکی دا استعمال معروف اومشهور دی ، زمونږ

په ژبه کې هم ځينې وخت دتاکيد قابل مضمون دبيان څخه اول ويل کيږي ، نه٭ بيامخ ته خپل مقصد بيانيږي ، په دې سورة کې دقيامت او اخرت منکرانو ته خبرداري او د دوی دشکونو اوشبهو جواب دی ، سورة يې اول دقيامت بيادنفس لوامه دقسمونو څخه شروع فرمايلې دی اوجواب دقسم په قرينه دمقام محذوف دی ، يعنې قيامت به ضرور راځي ، په قيامت قسم خو دده دعظمت ثابتولو دپاره دمقام سره مناسبت خومعلوم دی، دغه شان دنفس لوامه په قسم کې دده عظمت او مقبوليت دالله ﷻ په نزد ظاهرول دی ، دنفس معنٰی ځان ياروح معروف دی اولوّامه لوْم په زبر دلام سره مشتق دی چې معنٰی يې ملامت کول دی ، دنفسِ لوامه څخه مراد هغه نفس دی کوم چې په خپله دخپلو عملونو محاسبه وکې اوخپل ځان ملامت کوی يعنې کومه گناه چې ورڅخه وسی ياورڅخه په واجب عمل کې کوتاهي وسی په هغه په خپله خپل ځان ملامت کوی چې تاداسی ولې وکړل او دښو اونيکو عملونو په حقله هم خپل ځان په دی ملامت کړی چې ددی څخه زيات نيك كار دی ولې نه وکې چې اعلٰی درجې دی حاصلې کړې وای غرض داچې کامل مومن په خپل هرعمل خير اوشکر اونيکو اوبدوکې خپل ځان ملامت کوی په گناه يا واجبوکې پرکوتاهي ملامتول خوظاهره ده، په نيکو کارونوکې دملامت کولو وجه داده چې ای نفسه! تاخو دانيکې ددی څخه زياته هم کولی سوه ددغه زيات څخه ولې محرومه پاته سوی، داتفسير دحضرت ابن عباس ؓ او دتفسير دنورو امامانو څخه منقول دی (ابن کثير اونور)

او ددی مفهوم په وجه حضرت حسن بصری رحمه الله دنفس لوامه تفسير په نفس مؤمنه سره کړی دی اوفرمايي چې والله مومن خوهميشه په هرحال کې خپل نفس ملامتوی ، په بدو خوظاهره ده په خپلو نيکو کارونو کې هم هغه په مقابله دشان دحق تعالٰی کې کمی اوکوتاهي محسوسوی ځکه چې دعبادت پوره حق ادا کول خو دچا دوس خبره نه ده ، په دی وجه ددی حق په ادا کولوکې تقصير دده په مخکې وی ، په هغه خپل ځان ملامت کوی.

(دنفس لوّامه تفسير)

دحضرت ابن عباس ؓ اوحسن بصری رحمه الله په دی تفسيرباندی دنفس لوّامه قسم اخستل دحق تعالٰی دطرف څخه دداسی مومنونفسونوداکرام اوشرف داظهار دپاره دی کوم چې په خپله دخپلو عملونو محاسبه کوی په کوتاهي باندی پښيمانی کوی اوخپل ځان ملامت کوی

(نفس لوّامه اومُطمَئنَه)

اودنفس لوّامه ددی تفسيرمطابق دانفس مطمئنه لره هم شامل دی لوامه اومطمئنه دواړه دنفسِ متقی لقبونه دی

(نفسِ امّاره لوّامه اومُطمئنّه)

اوصوفياءِ کرامو حضراتو په دی کې دا تفصيل کړی دی چې نفس دخپل جبلت اوفطرت په اعتبارسره ، اَمّاره بالسُّوْء، وی ، يعنې دانسان دبدو کارونو طرف ته بلونکی او په دی کې داخته کولو داعي وی ، مگر په ايمان او عمل صالح او رياضت اومجاهدی سره دا نفس لوّامه جوړ سی چې په بدی اوکوتاهي باندی

پښېمانه کېدونکې سي ، مگر دېدې څخه بالکل شکېدلې نه وي ، مخ ته په عمل صالح کې دترقۍ او دالله ﷻ په قرب حاصلولو کې کوشش کوي ، کله چې دده دا حال سي چې شریعت دده طبیعت جوړ سي او دخلاف شرع کار څخه یې طبعي نفرت پیدا کېدل شرع سي نو دهغه نفس لقب مطمئنّه سي . والله تعالیٰ اعلم
مخ ته دقیامت دمنکرینو ددې عامیانه شبهې جواب دی چې دمرگ څخه وروسته هر انسان خاوري سي اوهډوکي یې ذره ذره خپاره واره سي ، هغه به دوباره ځنگه جمع کوي او ژوندي کوي ، نو ددې په جواب کې فرمایي ، بَلٰى قٰدِرِیْنَ عَلٰٓى اَنْ نُّسَوِّیَ بَنَانَهٗ : چې مطلب یې دا دی چې تاسې په دې تعجب کوي چې دمړي ذرې خپرې سي او ورستې سي نو ځنگه به جمع سي او په دوی کې دوباره به ژوند ځنگه واچول سي حال دا دی چې دا خبره یو وار اول په مشاهده کې راغلې ده ، چې دهر انسان وجود کوم چې په دنیا کې ترقي کوي اولوئېږي ، هغه دټولې دنیامختلفې حصې داجزاؤ او ذرّاتو دیو انسان په وجودکې جمع کړې وي ، اوس دوباره یې جمع کول به دهغه دپاره ځنگه گران سي ، اولکه ځنگه چې یې اول دده په بدن کې روح اچولی او ژوندی کړی وو ، دوباره په داسې کولو کې څه دحیرانتیا خبره ده .

(په حشر دجسمو کې دحق تعالیٰ دقدرت عجیبه اوناآشنا عمل)

غورپه دې وکې چې یو انسان په کوم هیئت اوجسامت اوشکل اوصورت باندې یې چې اول پیداکړی وو ، دحق قدرت به دوباره هم دده په وجودکې دغه ټوله شیان بغیر دڅه ادنٰی فرق څخه به جمع کې حال دا دی چې دا په اربونو پدمونو انسانان دابتداء ددنیاڅخه ترقیامته پورې پیدا کېږي اوفنا کېږي، دچامجال دی چې ددې ټولوشکلونه اوصورتونه او دقد اوقامت کیفیتونه جلاجلا یادهم وساتي ، ددې په شان دوباره جوړول خو لوی کار دی ، مگرحق تعالیٰ په دې آیت کې فرمایي چې مونږ صرف په دې قادر نه یو چې دمړي ټول لوی لوی اعضاء دوباره دغه شان جوړکو، بلکه دانسان دوجود دوړوکې څخه وړوکې شې به هم خاص هغه شان کو، لکه ځنگه چې اول وو، په دې کې یې دبنان، یعني دگوتو دبندونو خاص ذکر وفرمایي چې دا دټولو څخه وړوکې اجزاء دي کله چې ددې ټولو څخه د دواړو اجزاؤ په جوړښت کې فرق رانه غی نوپه لویو لویو اندامونو لاسونو پښو اونورو کې به څه فرق راسي .
اوکه فکر وسي نوشاید دبنان یعني دگوتو دبندونو په تخصیص کې دې طرف ته هم اشاره وي چې حق تعالیٰ دیوه انسان دبل انسان څخه دممتاز کولو دپاره دده په ټول بدن کې داسې خصوصیات ایښې وي په کومو سره چې دې پېژندل کېږي او دیو بل څخه ممتاز وي ، خصوصاً انساني مخ کوم چې دڅو مربع انچ څخه زیات نه دی ، په دې کې قدرتِ حق داسې امتیازات ایښې دي چې په اربونو پدمونو انسانانو کې دیومخ بالکل دبل سره داسې نه یوشې کېږي چې فرق په کې باقي پاته نه سي ، دانسان ژبه اوحلقوم بالکل دیو شان کېدو باوجود، دیو بل څخه داسې جلا دي چې دکوچنې بودا ښځې سړي اوازونه جلا جلا پېژندل کېږي او دانسان اواز جلا جلا پېژندل کېږي ، ددې څخه هم زیات په حیرت اچوونکې دانسان دگوتو بندونه دي چې په دې کوم نقش اونگار دخطونو دجال په صورت کې قدرت جوړکړی دی دغه هیڅکله دیوه انسان دا دبل انسان سره نه یوشې کېږي ، صرف په نیم انچ ځای کې هم داسې فرق چې

داربونو انسانانو ددې بندونو دمشترك كيدو باوجود ديوه خطوط دبل سره نه يوشي كيږي ، او په پخوانى اونوى هره زمانه كې دبنې ګوتې نښانه يو امتيازى شي مقرر سوى دى، عدالتى فيصلې په هغه باندې كيږي اوپه فنى تحقيق سره معلومه سوه چې دا خبره صرف په بټه ګوته كې نه ده ، دهرې ګوتې دبند خطونه هم دغه شان ممتاز وى .

ددې پوهيدو څخه وروسته دګوتو دبندونو دبيان تخصيص خود بخوده معلوميږي او مطلب دا دى چې تاسى ته خو په دې تعجب دى چې دا انسان به دوباره څنګه ژوندى سي ، لږ ددې څخه مخ ته سوچ وكې او فكر وكې چې صرف ژوندى به نه سي ، بلكه دخپل تير شكل اوصورت او ددې دهر امتيازى وصف سره به ژوندى سي ، تردې چې دبنې ګوتې او نورو ګوتو دبندونو خطونه په اول پيدائش كې چې څنګه وه ، په دغه دوهم ژوند كې به هم بالكل هغه وى ، فَتَبَارَكَ اللّٰهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ .

لِيَفْجُرَ أَمَامَهُ: لفظ دامام به زبر دهمزه دمخامخ اومستقبل په معنى كې راځى ، په دې وجه معنى دايت دا سوه چې كافر او غافل انسان دالله ﷻ دكامل قدرت په دې مشاهداتوكې غورنه كوى چې دماضى په انكار پښيمانه سى او خپل مستقبل سم كې ، بلكه په مستقبل كې هم دا غواړى چې په خپل كفر اوشرك اوانكار اوتكذيب باندې ټينګ پاته سى .

فَإِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ وَخَسَفَ الْقَمَرُ وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ: دا دقيامت دحالاتو بيان دى ، بَرِقَ په زبر دباء اوزير دراء معنى يې ده سترګې خړې سوى چې ليدل نه سى كولى ، دقيامت په ورځ به ټول نظرونه خړسى ، څه شى به وينى نه ، خَسَفَ القمر دخسوف څخه مشتق دى چې معنى يې ده رڼا ختميدل او توريدل، معنى دا ده چې سپوږمى به بې نوره سى ، مخ ته يې په ، وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ كې يې دا وښوولـه چې صرف سپوږمى به بې نوره نه سى بلكه لمر به هم بې نوره سى ، دكوم په حقله چې ددنياد فلاسفرانو دا وينا وه چې اصل رڼا په لمر كې ده ، دسپوږمى رڼا هم دلمر دشغلو څخه حاصليږي ، حق تعالى فرمايې چې دقيامت په ورځ به دا سپوږمى اولمر په يوحالت جمع سى چې دواړه به بې نوره وى اوځينى حضرات فرمايې چې دسپوږمى او دلمر دجمع كيدو مطلب دا دى چې په دغه ورځ به سپوږمى اولمر دواړه ديومطلع څخه را وخيژى لكه چې په ځينو روايتونو كې را غلى دى .

يُنَبَّأُ الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ : يعنى په دغه ورځ به انسان ته وښوول سى چې ده څه مخ ته ليږلى دي اوڅه يې وروسته پريښى دى ، حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ اوابن مسعود ﷺ فرمايې چې كوم نيك كار دخپل مرګ څخه مخكې چاكړى وى هغه يې مخكې وليږى اوكومه نيكه يا بده مفيده يامضره څه طريقه يا رسم چې يې داسى پريښى وى چې دده څخه وروسته خلګ په هغه عمل كوى هغه يې وروسته پريښى دى (ددې ثواب ياعذاب به ده ته دركول كيږي) اوحضرت قتاده ﷺ فرمايې چې د، مَاقَدَّمَ څخه مراد هغه صالح عمل دى كوم چې ده په خپل ژوند كې كړى دى اود، مَاأَخَّرَ څخه مراد هغه عمل صالح دى كوم چې يې كوى مګر ويې نه كې اوفرصت يې ضائع كې .

بَلِ الْإِنسَانُ عَلَى نَفْسِهِ بَصِيرَةٌ وَلَوْ أَلْقَى مَعَاذِيرَهُ : دبصيرٌ او بصيرةٌ معنٰی دلیدونکی هم راځی او دبصیرة معنٰی حجت هم راځی ، لکه چی په قرآن کریم کی دی ، قَدْ جَآئَكُمْ بَصَآئِرُ مِنْ رَّبِّكُمْ : په دی کی بَصَائِر دبصیرت جمع ده او معنٰی یی حجت دی اومَعَاذِیر دَمِعْذَار په معنٰی دعذر جمع ده، معنٰی دا یت دا ده چی که څه هم دعدالت دقاعدی په وجه سره دانسان ټول عملونه به په محشر کی ده ته یو یو وښوول سی ، مگر په حقیقت کی ده ته ددی ضرورت نسته ځکه چی هغه خپل عملونه ښه پیژنی ، په خپله ده ته معلومه ده چی ده څه څه کارونه کړی دی ، دارنګه داچی په محشرکی به ټول خپل عملونه نیك اوبد په مشاهده سره هم په خپل مخکی ووینی ، لکه چی په قرآن کریم فرمایی ، وَوَجَدُوْا مَاعَمِلُوْا حَاضِرًا: یعنی کوم عملونه چی دوی په دنیاکی کړی وی ، هغه به په محشرکی حاضر ووینی ، دلته چی یی انسان ته کوم چی خپل نفس بصیره وفرمایی ددی هم دا مطلب دی .

که دبصیره معنٰی حجت واخستل سی ، نومعنٰی دا ده چی انسان به په خپله په خپل نفس باندی حجت او دلیل وی که دی انکار هم کوی نو دده اندامونه اقرار کوی ، مگر انسان به دخپلو جرمونو اوتقصیر دپیژندو باوجود عذر تراشی نه پریږدی او دخپلو کړو عذر به بیانوی دا معنٰی ده د، وَلَوْ أَلْقَى مَعَاذِيرَهُ : تردی ځای پوری دقیامت داحوالو اوحالاتو تذکره وه اومخ ته هم داراتلونکی دی ، په مینځ کی په څلورو آیتونوکی نبی کریم ﷺ ته یوخاص هدایت ورکول سوی دی کوم چی دنزول په وخت کی دنازل سوو آیتونو په حقله دی هغه دا چی کله به جبرائیل امین دقرآن کریم څه ایتونه راوړل (نازل به سول) نودنبی کریم ﷺ سره به دده دویلو په وخت کی یو خو دا فکر وو چی هسی نه ددی په اوریدو اوبیا ددی په ویلو کی څه فرق رانه سی ، دوهم فکر ورسره دا وسو چی هسی نه ددی څه حصه څه کلمه دذهن څخه ونه زی اوهیره نه سی، په دی وجه چی څه وخت به جبرائیل امین یو آیت اوروی نو نبی کریم ﷺ به ورسره ورسره وایه او ژبه مبارکه به یی ژر ژر ښوروله چی باربار یی ووایی یادیی کی دده ﷺ ددی محنت اومشقت دلیری کولو دپاره په دی څلورو ایتونو کی الله ﷻ دوی ته دقرآن کریم دصحیح صحیح وریادولو اوبیا دمسلمانانو په مخکی په دغه شان دپیش کولو ذمه واری په خپله واخسته اونبی کریم ﷺ ته یی وفرمایل چی ته ددی غرض دپاره ژبی ته دژر ژر حرکت ورکولو زحمت مه پورته کوه، د، لَاتُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ هم دا مطلب دی ، بیا فرمایی ، إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ : یعنی ددی ټولو آیتونو ستاپه زړه کی جمع کول بیا ددی هم دغه شان په تا باندی ویل ، دا ټول زمونږ په ذمه دی په دی وجه ته ددی فکر پریږده اوفرمایی ، فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ قرآن دلته په معنٰی دقرآئت دی ، معنٰی دا ده چی کله مونږ یعنی زمونږ دطرف څخه جبرائیل امین قرآن وایی نوته یی دده سره مه وایه ، بلکه زمونږ دویلو څخه وروسته یی وایه او دغه وخت خاموش اوسه اوره یی ، دلته په اتفاق داامامانو داتباع دقرآن څخه مراد دا دی چی کله جبرائیل امین یی وایی نو ته خاموش اوسه اورهٔ یی .

(په امام پسې دمقتدي دقرآت نه کولو یو دلیل)

په صحيح حدیث کې چې کوم دا راغلي دي چې امام داقتداء اواتباع دپاره جوړ سوی دی په دی وجه مقتديانو ته دده اتباع کول په کار دي ، کله چې هغه رکوع کوي نوټول مقتديان دي رکوع کوي ، کله چې هغه سجدې ته ځي نو ټول دي سجدې لره ځي ، دصحيح مسلم په روایت کې ددې سره داهم ارشاد دی چې کله امام قرآت کوي نو تاسې خاموش اوسې اوري یې ، اِذَا قَرَءَ فَاَنْصِتُوْا، دا هم ددې بيان دی چې مقصود دامام اتباع ده ، په رکوع سجده کې دامام داتباع صورت دا دی چې دده سره سره دې هغه افعال درکوع اوسجدې اداکوي مگر دقرآئت اتباع دا نه ده چې ورسره ورسره دي وایي بلکه دقرآئت اتباع دا ده چې کله امام قرآئت کوي نو تاسې خاموش اوسې اوري یاست ، دا استدلال دی دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله او دځينو نورو امامانو چې په امام پسې مقتدي ته قرآت کول نه دي په کار . والله تعالی اعلم

په آخرکې فرمايي ، ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ ددې مطلب دا دی چې ته دا فکر په خپل ځان مه کوه چې دنازل سوو آیتونو صحيح مطلب او مراد څه دی؟ ددغه ښول او پوهول هم زمونږ په ذمه دي ، مونږ به دقرآن هر يولفظ او مراد تاته واضح کړو، په دی څلورو آیتونوکې دقرآن او ددې دتلاوت او نورو دمتعلقه احکامو بیانولو څخه وروسته مخ ته بیا دقیامت داحوالو اوحالاتو باقي تذکره راځي ، دلته يوسوال داپیدا کیږي چې ددې څلورو آيتونو دمخکې او وروسته آیتونو سره ربط اوجوړ څه دی؟ په لنډ تفسيرکې ددی ربط دا بيان سوی دی چې دڅلورو آيتونو څخه مخکې چې دقیامت په حالاتوکې ددې بيان دی چې دالله ﷻ علم دومره وسیع دی چې یو انسان په کم کیفیت اوشکل کې چې مخکې وو په هغه کې به دی دوباره پيدا کې تردې پورې چې دده دگوتو بندونه اوپه دی جوړونه او امتیازي خطونه اونشانات به هم بالکل داول په شان جوړ کړي ، په هغه کې به دویښته هومره فرق نه وي، داځکه چې دذات حق تعالی علم هم بې انتهادی اودده حساب اومحفوظ ساتل هم بې مثاله دي ، ددې په مناسبت سره نبي کریم ﷺ ته په دې څلورو آيتونوکې داتسلي ورکول سوه، چې ستا څخه هیریدی هم سي، په نقل کولوکې درڅخه غلطي هم کیدی سي ، مگر حق تعالی په خپله ذمه اخستي ده ، په دی وجه ته دقرآن دکلماتو دمحفوظ ساتلو یا ددې دمعانيوپه پوهيدلوکې دفکر کولو زحمت پریږده ، داټول کاربه الله ﷻ په خپله کوي ، مخ ته بیا دقيامت دحالاتو بيان دی .

وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ اِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ : ناضره په معنی دتر او تازه یعنی په دغه ورځ به څه مخونه تر او تازه هشاش بشاش وي ، اِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ یعنی دامخونه به خپل رب ويني ، ددې څخه ثابته سوه چې په جنت کې به جنتيانوته دالله ﷻ ديدار دسر په سترګو نصيب وي ، په دی داهل سنت والجماعت اوټولو علماؤ فقهاؤ اجماع ده ، صرف معتزله او خوارج ورڅخه منکر دی ، وجه دانکار يې فلسفیانه شبهات دي چې په سترګو سره دليدو دپاره دليدونکي اوځوك چې ليدل کيږي او ددې دواړو په مینځ کې دمسافت دپاره چې کوم شرطونه دي دخالق اودمخلوق په مینځ کې دهغه تحقيق نه سي کيدی ، داهل سنت والجماعت

مسلك دا دی چی په اخرت کی به دالله ﷻ ليدل او زيارت ددی تولو شرطونو څخه بی نيازه وی ، نه به دڅه جهت اوطرف سره دهغه تعلق وی ، نه دڅه خاص شکل اوصورت اوهيئت سره ، دحديثو درواياتونو څخه دا مضمون نور هم زيات په وضاحت سره ثابت دی ، البته په دی ليدو او زيارت کی به دجنتيانو مختلفی درجی وی ، څينو ته به دا زيارت ، هفته وار په جمعه کی حاصليږی ، څينو ته به روزانه سهار ماښام او څينو ته به هر وخت په هرحال کی وی (مظهری)

كَلَّا إِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ، وَقِيلَ مَنْ رَاقٍ ، وَظَنَّ أَنَّهُ الْفِرَاقُ، وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ، إِلَى رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمَسَاقُ : په تيرو آيتونو کی دقيامت دحساب کتاب او دجنتيانو او دوږخيانو دڅه حال بيانولو څخه وروسته په دی آيت کی يی انسان متوجه کی چی خپل مرګ مه هيروه، دمرګ څخه اول اول دايمان اونيك عمل طرف ته راسه چی په آخرت کی درته نجات حاصل سی ، په ذکر سوی آيت کی دمرګ نقشه داسی وړاندی سوي ده چی غافله انسان په غفلت کی وی تردی چی مرګ په سر راسی ودريږی او روح راسی په مری کی ومښلی او تيمار دار (قريبان) خلګ دعلاج اومعالجی څخه عاجزه سی، ددم چف کوونکی په تلاش کی سی او ديوی پښی پنډی پربلی پيچل شروع سی نو دا وخت الله ﷻ ته دتللو راغی ، اوس نه توبه قبليږی نه څه عمل ، په دی وجه په عقلمند لازمه ده چی ددغه وخت څخه اول اول دخپلی اصلاح فکر وکی .

په ، وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ : کی دلفظ دساق مشهوره معنی دپښی پنډی ده اوديوی پنډی پربلی دپيچل کيدو دا مطلب هم کيدی سی چی دغه وخت دپريشانی اوبی ارامی څخه يوه پنډی بله پربږدی اودا معنی هم کيدی سی چی که دغه وخت يوه پښه پربله باندی پرته وی اودی حرکت ورلره ورکوی، ليری کوی يی نو دا به دده په قدرت کی نه وی (شعبی اوحسن داسی ويلی دی) اوحضرت ابن عباس ﷺ فرمايی چی دلته د دوو پنډيو څخه مراد دوه عالمه ددنيا او آخرت دی او مطلب دآيت دا دی چی په دغه وخت به ددنيا آخری ورځ او دآخرت اوله ورځ جمع کيږی ، په دی وجه په دوچنده غم کی مبتلا دی ، ددنيا څخه دجدايی غم او دآخرت دمعاملی فکر . والله تعالی اعلم

أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ، ثُمَّ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ لفظ د، أَوْلَىٰ دُويلٌ مُقلوب دی دويل معنی هلاکت او بربادی ده ، دلته دهغه سری دپاره کوم چی کفر اوتکذيب خپل شعار جوړکی او ددنيا په مال او دولت کی مست سو، بيا په دی حال مړ سو دده دپاره څلور واره لفظ دهلاکت او بربادی استعمال سو، چی دمرګ په وخت بيا دمرګ څخه وروسته په قبرکی ، بيا دحشر او نشر په وخت ، بيا جهنم ته دداخليدو په وخت دا مصيبت او بربادی ستا حصه ده .

أَلَيْسَ ذَٰلِكَ بِقَادِرٍ عَلَىٰ أَنْ يُحْيِيَ الْمَوْتَىٰ : يعنی آيا هغه حق ذات دچاپه قبضه دقدرت کی چی مرګ اوژوند اوټول جهان دی آيا هغه پردی قادر نه دی چی مړی دوباره ژوندی کړی (ولی نه دی) نبی کريم ﷺ فرمايلی دی چی کوم سړی دسورة قيامه دا آيت تلاوت کی نو هغه ته په کار دی چی داکلمی ووايی ، بَلَىٰ وَأَنَا عَلَىٰ ذَٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ : يعنی بيشکه هغه په دی قادر دی او زه هم په هغو خلګو کی دا خل يم کوم چی ددی

شاهدی ورکوی، په دی حدیث کی یی دا الفاظ دسورة تین داخری آیت، اَلَیْسَ اللّٰهُ بِاَحْكَمِ الْحٰكِمِیْنَ: په ویلو باندی هم تلاوت کول ښوولی دی او هم په دی حدیث کی یی دا هم فرمایلی دی چی کوم سړی دسورة مرسلت دی آیت ته ورسیږی، فَبِاَیِّ حَدِیْثٍۭ بَعْدَهٗ یُؤْمِنُوْنَ: نو ده لره اٰمَنَّا بِاللّٰهِ ویل په کار دی.

تمّت سورة القیامة بحمد اللّٰه (۲۷) رجب سنه ۱۳۹۱ھ

﴿سورة الدهر﴾

سُوْرَةُ الدَّهْرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اِحْدٰى وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً فِيْهَا رُكُوْعَانِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة دهر په مکه کی نازل سو او په دی کی یو دیرش (۳۱) آیتونه او دوه رکوع گانی دی.

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی.

هَلْ اَتٰى عَلَى الْاِنْسَانِ حِيْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ شَيْـًٔا مَّذْكُوْرًا ①

آیا تیر سوی ده په انسان یو وخت په زمانه کی چی نه وو څه شی چی په ژبه راسی،

اِنَّا خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ اَمْشَاجٍ ۖ نَّبْتَلِيْهِ فَجَعَلْنٰهُ سَمِيْعًا

مونږ پیدا کړی دی انسان دمنی دڅاڅکی څخه داسی څاڅکی چی وازمایو نو وگرځوو مونږ دی اوریدونکی

بَصِيْرًا ② اِنَّا هَدَيْنٰهُ السَّبِيْلَ اِمَّا شَاكِرًا وَّاِمَّا كَفُوْرًا ③ اِنَّآ اَعْتَدْنَا

لیدونکی، مونږ ده ته وښووه لار یا حق منی او یا ناشکری کوی، مونږ تیار کړی دی

لِلْكٰفِرِيْنَ سَلٰسِلَا۠ وَاَغْلٰلًا وَّسَعِيْرًا ④ اِنَّ الْاَبْرَارَ يَشْرَبُوْنَ مِنْ

دمنکرانو دپاره ځنځیرونه اوطوقونه او اورگرم، بیشکه نیک خلق به چښی

كَاْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُوْرًا ⑤ عَيْنًا يَّشْرَبُ بِهَا عِبَادُ اللّٰهِ يُفَجِّرُوْنَهَا

پیالی چی گډ به وی په کی کافور، دا یوه چینه ده چی چښی به ورڅخه بندگان دالله چلوی

تَفْجِيْرًا ⑥ يُوْفُوْنَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُوْنَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهٗ مُسْتَطِيْرًا ⑦

هغه ددی نهرونه، پوره کوی په هغه نذر او بیریږی د هغه ورځی څخه چی دهغه شر به خپور سی،

وَيُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ عَلٰى حُبِّهٖ مِسْكِيْنًا وَّيَتِيْمًا وَّاَسِيْرًا ﴿٨﴾ اِنَّمَا

او ورکوی خوراك دهغه پهٔ محبت باندی محتاج ته او یتیم ته او قیدی ته، مونږ

نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللّٰهِ لَا نُرِيْدُ مِنْكُمْ جَزَآءً وَّلَا شُكُوْرًا ﴿٩﴾ اِنَّا نَخَافُ

خوراك درکوو تاسی ته دالله درضا دپاره نهٔ غواړو ستاسی څخه بدله او نه شکر گذاری غواړ، مونږ بیریږو

مِنْ رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوْسًا قَمْطَرِيْرًا ﴿١٠﴾ فَوَقٰىهُمُ اللّٰهُ شَرَّ ذٰلِكَ الْيَوْمِ

دخپل رب څخه دیوې ورځی خفه کوونکی دسختی څخه، نو خلاص کړل دوی الله دشر ددغه ورځی څخه

وَلَقّٰىهُمْ نَضْرَةً وَّسُرُوْرًا ﴿١١﴾ وَجَزٰىهُمْ بِمَا صَبَرُوْا جَنَّةً وَّحَرِيْرًا ﴿١٢﴾

او ورکول سول دوی ته دتازگی او خوشحالی سره، اوبدله ورکړه دوی ته د دوی پهٔ صبر باغونه او جامی وریښمنی

مُتَّكِـِٕيْنَ فِيْهَا عَلَى الْاَرَآئِكِ لَا يَرَوْنَ فِيْهَا شَمْسًا وَّلَا زَمْهَرِيْرًا ﴿١٣﴾

تکیه لگوونکی بهٔ وی پهٔ دی کی پهٔ تختو باندی نه بهٔ وینی هلته غرمه او نه یخ

وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلٰلُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوْفُهَا تَذْلِيْلًا ﴿١٤﴾ وَيُطَافُ

او راکښته بهٔ وی دوی ته سایه دهغه او کښته سوی دی دوی ته میوی دهغه باغ تیتیدو سره، او خلق بهٔ گرځی

عَلَيْهِمْ بِاٰنِيَةٍ مِّنْ فِضَّةٍ وَّاَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيْرَا۠ ﴿١٥﴾ قَوَارِيْرَا۠

پهٔ دوی دلوښو دسپینو زرو سره او پیالی چی وی بهٔ دښیښو، ښیښی

مِنْ فِضَّةٍ قَدَّرُوْهَا تَقْدِيْرًا ﴿١٦﴾ وَيُسْقَوْنَ فِيْهَا كَاْسًا كَانَ مِزَاجُهَا

دسپینو زرو برابر کړی بهٔ یی وی پهٔ اندازه سره، او اوبهٔ کیږی بهٔ دوی پهٔ هغه کی پیالی چی گډ

زَنْجَبِيْلًا ﴿١٧﴾ عَيْنًا فِيْهَا تُسَمّٰى سَلْسَبِيْلًا ﴿١٨﴾ وَيَطُوْفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ

بهٔ وی پهٔ کی اَدرك (زنجبیل) یوه چینه ده پهٔ هغه کی چی نوم یی دی سلسبیل، او گرځی بهٔ پهٔ دوی باندی هلکان

مُّخَلَّدُوْنَ اِذَا رَاَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنْثُوْرًا ﴿١٩﴾ وَاِذَا رَاَيْتَ

همیشه پاته کیدونکی، هرکله چی ته وینی هغه خیال بهٔ کوی چی ملغلری دی خپور سوی، او هرکله چی ته وینی

ثُمَّ رَاَيْتَ نَعِيْمًا وَّمُلْكًا كَبِيْرًا ﴿٢٠﴾ عٰلِيَهُمْ ثِيَابُ سُنْدُسٍ خُضْرٌ

هلته نو وبه وینی نعمت او حکومت لوی ، په دوی به جامی وی دباریکو وریښمو شنې

وَّاِسْتَبْرَقٌ وَّحُلُّوْٓا اَسَاوِرَ مِنْ فِضَّةٍ وَسَقٰهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا

او دغټو وریښمو او دوی ته به ورکول سی پرتوګان دسپینو زرو ، او وبه څښی په دوی رب د دوی شراب

طَهُوْرًا ﴿٢١﴾ اِنَّ هٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَآءً وَّكَانَ سَعْيُكُمْ مَّشْكُوْرًا ﴿٢٢﴾

چی پاکوی زړه ، دا ده تاسی دپاره بدله او سو کوشش ستاسی مقبول

اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ تَنْزِيْلًا ﴿٢٣﴾ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ

مونږ نازل کړی دی تاته قرآن په لږ نازلولو سره ، نو ته انتظار کوه دخپل رب دحکم

وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ اٰثِمًا اَوْ كَفُوْرًا ﴿٢٤﴾ وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ﴿٢٥﴾

او خبره مه منه په هغوی کی دیو ګناهګار او یا نا شکره ، او یا دوه نوم درب خپل په سهار او ماښام ،

وَمِنَ الَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهٗ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيْلًا ﴿٢٦﴾ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّوْنَ

او په څه وخت دشپی سجده کوه هغه ته او پاکی وایه دهغه اوږده شپه ، دا خلق غواړی

الْعَاجِلَةَ وَيَذَرُوْنَ وَرَآءَهُمْ يَوْمًا ثَقِيْلًا ﴿٢٧﴾ نَحْنُ خَلَقْنٰهُمْ

دنیا اوپرېښی یې ده دخان څخه وروسته یوه ورځه لویه ، مونږ دوی پیدا کړی دی

وَشَدَدْنَآ اَسْرَهُمْ وَاِذَا شِئْنَا بَدَّلْنَآ اَمْثَالَهُمْ تَبْدِيْلًا ﴿٢٨﴾ اِنَّ

اومضبوط کړی دی مونږ د دوی جوړونه اوکله چی وغواړی نو په بدل کی به راولو خلق د دوی په شان په بدل سره

هٰذِهٖ تَذْكِرَةٌ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ﴿٢٩﴾ وَمَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ

دا خو نصیحت دی نو څوک چی غواړی ودی نیسی خپل رب ته لار ، او تاسی نه سی غوښتی مګر

اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿٣٠﴾ يُّدْخِلُ مَنْ يَّشَآءُ

څه چی غواړی الله ، بیشکه الله ﷻ دی په هرڅه پوه حکمتونو والا ، دا خلوی چا لره چی غواړی

فِيْ رَحْمَتِهٖ ۗ وَالظّٰلِمِيْنَ اَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۳۱﴾

په خپل رحمت کی ، او دگناهگارو دپاره تیار دی عذاب دردناك .

تفسیر: بیشکه په انسان باندی یو داسی وخت هم په زمانه کی راغلی دی په کوم کی چی دی څه قابلِ ذکر شی نه وو (یعني انسان نه وو بلکه نطفه وه او ددی څخه مخکی غذا او ددی څخه مخکی دعناصرو جزء وو) مونږ دی دمخلوطی نطفی څخه پیدا کی (یعني دسړی اوښځی دواړو دنطفی څخه ځکه چی دښځی منی هم دننه دننه په رحم کی لویږی بیا کله درحم دخلی څخه راووزی ضائع سی اوکله دننه پاته سی او دمخلوط معنیٰ داهم کیدی سی چی دا دمختلفو اجزاوو څخه مرکب ده چنانچی دمنی ترکیب دمختلفو اجزاوو څخه ظاهردی، غرض داچی مونږدی دداسی نطفی څخه پیداکی) په داسی طورچی مونږدی مکلف جوړکی نو (په دی واسطه سره) مونږدی اوریدونکی لیدونکی (پوهیدونکی) جوړ کی (اوچونکی په محاوره کی سمیع بصیر دعاقل دپاره استعمالاً مخصوص دی ، په دی وجه دعقل ورکولو چی کم مداردی دملکف کیدو دهغه وضاحت یی ونه فرمایی ، مگر مراد دغه هم دی ، مطلب داچی مونږ په داسی هیئاتو اوصفاتو سره پیداکی چی په ده کی دشرعی احکامو دمکلف جوړیدو قابلیت وی، تردی وروسته کله چی دمکلف کیدو وخت رالی نو) مونږدی (په ښه اوبد خبرکی) لار مووړته وښووله (یعني داحکامو مخاطب مو جوړ کی ، بیا) یا خو هغه شکر گذار (اومومنان) سول یاناشکره (اوکافران) سول (یعني په کومه لاره چی دچلیدو دوی ته ویل سوی وه کوم چی په هغه باندی ولاړی هغه مومن سو، کوم چی بالکل نه په ولاړی هغه کافرسو، مخ ته دفریقینو دجزا ذکر دیٰ چی) مونږ دکافرانو دپاره زنځیرونه اوطوقونه اوسوزوونکی اورتیار کړی دی (او) کوم چی نیکان (خلگ) دی ، هغوی به داسی جامونه (دشرابو) ښښی په کوموکی چی به دکافورو گډون وی یعني دداسی چینو څخه (به یی ښښی) دکومو څخه چی به دخدای خاص بندگان ښښی (او) کوم چی به هغه (خاص بندگان کوم ځای ته چی وغواړی) چی ویی بهوی نو بیایی به (او دا به دجنتیانو یو کرامت وی چی نهرونه دجنت به د دوی تابع وی لکه چی په درمنثور کی دابن شوذب څخه مروی دی چی دجنتیانوپه لاسونوکی به دسرو زرو لښتی وی په دغو سره چی کوم طرف ته اشاره کوی ، نهرونه به هغه طرف ته جاری کیږی او دا کافور ددنیا کافور نه دی ، بلکه دجنت کافور دی کوم چی په سپینوالی اوخنکی اوتفریح اوتقویت دزړه او ددماغو کی ددی سره شریك دی ، په شرابوکی دخاص کیفیتونو حاصلولو دپاره عادت دی ، دځینو مناسبو شیانو دگډولو، نو هلته به په دی جام کی کافور گډیږی او دغه دشرابو جام به دداسی چینی څخه ډکیږی دکوم څخه چی به مقرب بندگان ښښل کوی ، نو ظاهره ده چی هغه به داعلی درجی وی نو په دی سره دابرارو دبشارت تقویت وسو اوکه دابرارو اوعباد الله مصداق یو وی نو دوه ځایه په بیانولو سره جلا جلا مقصود دی ، یوځای ددی گډون مقصود دی ، دوهم ځای ددی ډیروالی اومسخر کیدل چی دعیش داسبابو کثرت او دطبیعت تابع کیدل، دعیش لذت زیاتوی، مخ ته ددی ابرارو دصفتونو ذکر دی چی)

هغه خلک واجبات پوره کوي او (ادا کوي يې هم په خلوص سره څکه چې هغوي) د داسي ورځې څخه بيرېږي دکومې سختي چې به عامه وي (يعني په کوم اوپيش پرتولو به ددغه سختي اثر وي ، مراد دقيامت ورځ ده الاّ مَنْ شَآءَ اللّٰهُ تعالى) او (دغه خلک داسي مخلص دي چې په مالي عبادتونوکي هم په کومو کي چې غالبًا اخلاص کم وي کمال درجه اخلاص لري چنانچې) هغه خلک (محض) دخداى په محبت سره غريب او يتيم اوقيدي ته خوراك ورکوي (قيدي که مظلوم وي چې په ظلم سره قيد سوي وي، نوبيا خو دده مدد کول ښه دي اوکه ظالم وي چې دظلم په سزا قيد سوي وي نو دشدت حاجت په وخت کي هغه لره خوراك ورکول هم مستحسن دي اودغه خلګ چې خوراك ورکي نوپه ژبه سره يا په زړه سره داسي وايي چې) مونږ خو محض دخداى دپاره خوراك ورکوو ، نه مونږ ستاسي څخه (ددې عملي) بدله غواړو اونه (قولي) شکريه (غواړو اومونږ دخداى درضا مندي دپاره په دې واسطه تاسي ته خوراك درکوو چې) مونږ دخپل رب دطرف څخه ديوې سختي اوترخې ورځي بيره لرو (نو اميد لرو چې ددې مخلصانه عملونو په وجه دهغه ورځي دتلخي او سختي څخه محفوظ سو اوددې څخه معلومه سوه چې داخرت په بيره سره يو کار کول داخلاص او دالله ﷻ درضا حاصلولو منافي نه دي) نو الله ﷻ به دوي (ددې اطاعت او اخلاص په برکت سره) ددغې ورځې دسختي څخه محفوظ وساتي او دوي ته به تازګي اوخوشحالي ورکي (يعني مخونه به يې تازه سي اوزړونه به يې خوشحاله سي) اودهغوي د پختګي (يعني استقامت في الدين) په بدله کي به هغوي لره جنت او وريښمين لباس ورکي ، په دې حالت کي چې هغوي به هلته (په جنت کي) پر صوفو (بالښتو) باندې (په ارام اوعزت سره) تکيه لګوونکي وي (او) نه به هلته تاؤ (اوګرمي) پيدا کي اونه يخ (يعني ساړه بلکه فرحت بخش معتدل موسم به وي) اودا حالت به وي چې (هلته يعني دجنت) ددرختو سايه به پردې (جنتيانو) راکښته سوي وي (يعني نژدې به وي اوسايه داسبابو دنعمتونو څخه دي، په جنت کي به لمر او سپوږمۍ نه وي نوبيا دسايې څه مطلب دي ، کيدې سي چې دنورو نوراني اجسامو دړنا سايه مقصود وي اوفائده دسايې غالبًا دا ده چې حالت بدليږي ، يوحالت که هرڅومره دارام اولذت وي اخر دهغه څخه طبيعت ستړي کيږي) او دهغوي ميوې به دهغوي په اختيارکي وي (چې هر وخت په هرحالت کي به بغير دمشقته حاصليږي) او دوي ته به (دخوراك اوڅښاك دشيانو درسولو دپاره) دسپينو زرو لوښې راوړل سي اوپيالې چې دچيښې به وي (او) هغه چيښې به دسپينو زرو وي کومې چې به ډکوونکي په مناسب انداز سره ډکې کړې وي (يعني دڅښلو شي به په کي په داسي انداز سره ډك سوي وي چې نه به په کي ددغه وخت دخواهش څخه کمې وي اونه به ورڅخه څه پاته سي ، چې په دې دواړوکي بې خوندي وي، او دسپينو زرو دچيښې معنى داده چې سپينوالي خوبه يې دسپينو زرو په شان وي اوشفاف به لکه دچيښې په شان داسي وي او ددنيا په سپينو زروکي پوري راپوري څه نه ښکاري اوپه چيښه کي دلته داسي سپينوالي نه وي ، نو دابه يو عجيبه شي وي) اوهلته به دوي ته (علاوه دذکرسوي جام دشرابو څخه چې دکافورو ګډون په کي وي نور هم) داسي جام دشرابو څښل کيږي په کوموکي چې به داَدْرَكْ (شونډ) ګډون وي (چې دحرارت غريزي دچالاکي او دخولې دخوند بدلولو

دپاره به یې په شرابوکې دا هم اچول یعنې دداسې چینې څخه کومه چې به هلته وي (اوبه په دوی وچښل سي) چې نوم به یې (هلته) سلسبیل (مشهور) وي (دمجموعي لوړ مقام څخه اودوی مقام څخه معلومېږي چې دلوړې چینې په شرابوکې به ګډون دزنجیل وي، والله اعلم باسراره) او دوی ته به (داشیان) داسې هلکان راوړې راځي کوم چې به همیشه هلکان وي (اوهغه به دومره ښائسته وي چې) ای مخاطبه! که ته دوی (په ګرځیدوکې) ووینې نوداسې به یې ګڼې چې ملغلرې دي خپرې سوي (دملغلرو سره تشبیه په صفایي اورونوالي کې اوخپرل سوي وصف د دوی دګرځیدو راګرځیدو په لحاظ سره لکه ملغلرې چې خپرې سي اخوا دیخواته رواني وي او دا داعلي درجې تشبیه ده) او (په دغو ذکر سوو اسبابو دنعمتونو کې انحصار نسته ، بلکه هلته به نور هم هر سامان په دومره افراط اورفعت سره وي چې) ای مخاطبه! که ته دغه ځای ووینې نوتاته به لوی نعمت اولوی حکومت ښکاره سي (او) په هغوجنتیانو باندې به دباریکو شنو وریښمو کپړې وي او دپیړه وریښمو کپړې به وي (څکه چې په هرلباس کې جدا لطف دی) اودوی ته به دسپینو زرو بنګړې په لاسونوکې اچول کیږي (په دې سورة کې درې ځایه دسپینو زرو دسامان ذکر راغلی دی اوپه نورو ایتونوکې دسرو زرو مګرپه دواړوکې تعارض نسته، څکه چې دواړه قسمه سامان به وي اوحکمت په دې کې هغه تفنن اوتغیر دطبائعو او نعمتونو دی اودا شبهه چې سرو ته خوکالي وراغوستل معیوب دي ، په دې وجه مندفع ده چې دهرمقام متقضا جلاده ، ددې ځای عیب کیدل دهغه ځای دعیب کیدو مستلزم نه دی) او د دوی رب (چې کوم شراب دوی ته دچښلو دپاره ورکوي دکوم چې لوړ ذکر راغلی دی هغه به په مثل ددنیا دشرابو ناپاك اوعقل لیرې کوونکې اونشه راوستونکې نه وي بلکه الله ﷻ) به دوی ته پاکیزه شراب دچښلو دپاره ورکوي (په کوموکې چې به نه نجاست وي اونه خړوالي اولکه چې داقول دالله ﷻ دی ، لَا يُصَدَّعُونَ عَنْهَا وَلَا يُنزِفُونَ : او درې ځایه چې کوم په سورة کې ذکر دشرابو راغلی دی ، هرځای یې غرض جلادی لکه چې دترجمې دتقریر څخه واضحه ده ، بیاپه اول کې يَشْرَبُونَ دی ، بل ځای يُسْقَوْنَ کوم چې په زیادت داکرام او اعزاز دلالت کوي ، دریم ځای په سَقَاهُمْ رَبُّهُمْ کې نهایت تشریف اوتکریم دی ، نو دتکرار شائبه پاته نه سوه او ددې ټولو نعمتونو د ورکولو څخه وروسته به دجنتیانو دروحاني مسرت زیاتولو دپاره وویل سي چې) داستاسې بدله ده اوستاسې کوشش (کوم چې په دنیاکې تاسې کوي) مقبول سو (مخ ته دفریقینو دجزا ذکر کولو څخه وروسته په طور دتفریع معنوي د دوی دتسلي دپاره بیان دی یعنې ددې مخالفینو سزا تا واوریده ، نو ته د دوی په مخالفت غم مه کوه اوپه خپل عادت او ددعوت اواصلاح په کارکې مشغول اوسه چې علاوه دطاعت څخه په دې کې دزړه هم تقویت دی، اوبیان ددې طاعت دادی چې) مونږ پرتا قرآن لږ لږ نازل کړی دی (چې لږ لږ خلکو ته ورسیږي او دوی فائده ورڅخه واخلي اودوی ته ددې څخه په فائده اخستوکې اساني وي، لکه چې دسورة اسراء په اخرکې دی ، وَقُرْآنًا فَرَقْنَاهُ الخ) نو ته دخپل رب په حکم (چې په دې کې تبلیغ هم دا خل دی) مستقل اوسه اوپه دوی کې دیوکافر بافاسق په خبروکې مه راځه (یعنې دا کوم چې دتبلیغ څخه منع کوي لکه چې په درمنثورکې په سورة کافرون کې دی ، چې د دوی

موافقت مه کوه ، مقصود ددې څخه اظهار داهتمام شان دی ، کنه نو دنبي کریم ﷺ څخه د دوی دموافقت کولو هیڅ احتمال نه وو دا خو دعادتي عبادت امرسو) او (مخ ته دلازمي عبادت امر دی یعني) دخپل پروردگار سهار ماښام نوم اخله اوڅه قدر دشپې په حصه کښ هم هغه ته سجده کوه (یعنی فرض لمونځ کوه) اودشپې په لویه حصه کی دهغه تسبیح (او پاکي) کوه (مراد ددی څخه تهجد دی، علاوه دفرائضو څخه اومخ ته دتقویت دتسلی دپاره یوبل مضمون دی په کوم کی چی دکفارو مذمت هم دی ، یعنی ددې خلکو دمخالفت اصل وجه ستاسی دا ده چی) داخلګ ددنیا سره محبت ساتی اوخپل مخ ته یی (راتلونکی) یوه درنه ورځ پرېښې ده (نو ددنیا محبت ړانده کړی دی ، په دی وجه دحق دوینا سره بغض ساتی اوددرنی ورځی ذکرېږی چی واورېدی چونکی احتمال د دوی دانکار وو ، په دی وجه مخ ته ددغه درنی ورځی داستبعاد دفع فرمایی یعنی) هم مونږ دوی پیدا کړل او هم مونږ ددوی جوړ بندونه مضبوط کړل او (دارنګه) کله چی مونږ وغواړو نوددوی په شان به نور خلګ ددوی پرځای بدل کړو ، اواولنی امر خو مشاهده ده اودوهم امرپه ادنی تنبیه سره معلومیدی سی نو په دواړو امرو سره قدرت الهیه ظاهر دی بیادمړوپه دوباره ژوندی کولو کښ کومه ګرانه خبره ده چی قدرت به یی نه وی پر ،مخ ته پردغوتولو سابقه مضامینو باندی په طور دتفریع فرمایی چی) دا (تول کوم چی ذکرسول کافی) نصیحت دی ، نو کوم سړی چی غواړی دخپل رب طرف ته دی لار اختیارکی (اودا په مزمل کی تیرسوی دی) او (دقرآن په نصیحت کیدوکی دی په دی سره شبهه نه کیږی چی ځینو ته خوپه دی سره هدایت نه کیږی، خبره داده چی قرآن في نفسه نصیحت اوکافی هدایت دی لیکن) بغیر دخدای درضا څخه تاسی خلګ هیڅ خبرنه سی غوښتی (او دځینو خلګو دپاره دخدای په نه رضاکی ځینی حکمتونه وی ځکه چی) خدای ﷻ لوی علم والا اوحکمت والا دی ، هغه څوك چی وغواړی په خپل رحمت کی داخلوی او (څوك چی وغواړی په کفر او ظلم کی یی مبتلا ساتی بیا) دظالمانو دپاره هغه دردناك عذاب تیار کړی دی .

معلومات اومسئلي

دسورة دهر نوم سورة انسان اوسورة ابرار هم دی (روح) په دی کی دانسان دپیدائش ابتداء اوانتهاء اوپه عملونو جزا اوسزا ، دقیامت اوجنت او دوږخ خاص حالت په نهایت بلیغ اندازکی بیان سوی دی .

هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنسَانِ حِينٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُن شَيْئًا مَّذْكُورًا : حرف دهل په اصل کی داستفهام دپاره راځی او ځینی وخت ظاهر اوښکاره شیان په صورت داستفهام ځکه تعبیرکیږی چی واضح والی یی نور موکد سی چی دچا څخه پوښتنه کوی دغه جواب ورکی ، بل احتمال په کی دسره نه وی ، لکه یوسړی په نیمه ورځ چاته ووایی چی آیا دا ورځ نه ده ، په دی صورت کی خویی استفهام کړی دی، مګرپه حقیقت کی ددی دانتهایی واضح کیدو بیان دی ، په دی وجه په داسی موقع کی ځینی حضرات فرمایی چی دلته صرف هَلْ په معنی د: قَدْ دی کوم چی دواقعی تحقیق دپاره ویل کیږی په هر دوه صورته مطلب دایت دا دی چی په انسان یوه زمانه اوږده داسی تیره سوي ده ، چی په دنیا کی هیڅ ځای دده نوم او نښان ، تردی چی ذکر اوتذکره هم نه وه، لفظ دحِينٌ په تنوین سره په ذکر کولو کی ددغه وخت اوزمانی داوږدوالی طرف ته

اشاره ده اوپه دی آیت کی یی دا اوړده زمانه پرانسان تیریدل بیان کړی دی، په کومه کی چی دده فی الجمله په څه ناڅه شان وجود کیدل لازمی دی ، ځکه محض عدم زمانی ته خو پرانسان تیریدل نه سی ویل کیدی ، په دی وجه اکثره مفسرین حضرات فرمایی چی دغه اوږده زمانه کومه چی په انسان تیره سوه ، هغه زمانه مراد ده کومه چی دحمل کیدو څخه وروسته تر پیدائش پوری وخت دی کوم چی عادتًا نه ۹ میاشتی وی ، چی په دی کی دانسان په تخلیق باندی دومره دورونه تیریږی ، دنطفی څخه واخله دجسم اواعضاء، بیاپه دی کی دروح اوژوند ترراتلو پوری داټول شامل دی ، په دی ټوله زمانه کی که څه هم دده وجود په یوشان سره قائم سوی دی ، مگر نه څوك دی پیژنی چی هلك دی كه انجلۍ نه دده څه نوم سته ، نه چاته دده شکل اوصورت معلوم دی، په دی وجه دده هیڅ ځای ذکر اوتذکره نسته ، اوکه دی ته زیاته وسیعه معنٰی ورکول سی ، نو دتخلیق انسانی ابتداء لکه څنگه چی دنطفی څخه گڼل سوي ده ، هغه نطفه هم چی دکومی غذا څخه پیدا سوه ، دغه غذا او دغذا څخه مخکی ددغی غذا ماده په څه ناڅه صورت کی په دنیاکی هغه زمانه هم شامله سی نوداوږده زمانه دزرگونو کالو کیدی سی په هرحال الله ﷻ په دی آیت کی دانسان دیوداسی کارطرف ته توجه راوگرځوله چی که په ده کی یوه ذره هم شعورروی اوڅه فکر هم وکی نو ده ته به دخپل حقیقت دښکاره کیدو سره دخپل پیدا کوونکی اوجوړوونکی په وجود او علم اوقدرت باندی دمکمل ایمان اویقین څخه ماسوا هیڅ چاره نه وی پاته ، که داویا کالو یوانسان ددی مراقبه وکی اوپه دی فکروکی چی داوس څخه یو اویا کاله مخکی دده نوم اونښانه نه وه اونه دده په څه ع‍َ‍ن ان سره چا ذکر کولی سوای، دمور اوپلار اونیا اونیکه په زړه کی هم دده دمخصوص وجودڅه خطره قدرنه وه که څه هم دمطلق بچی تصوریی وو، هغه وخت دده دایجاد اوتخلیق څه شی باعث سو اوکوم دعقلونوحیرانوونکی قدرت په ټوله دنیاکی خپرو ذرو لره دده په وجودکی ځای ورکی اودی یی یو هوښیار پوه اوریدونکی لیدونکی انسان کی، نودغه انسان به بی ساخته په دی وینا مجبوره سی .

ما نبودیم وتقاضا ما نبود لطفِ تو ناگفته ما می شنود

نه زه وم نه زما تقاضاوه ، ستا لطف اوکرم زما ناویلی ارزوگانی اوریدی .

ددی څخه وروسته دانسان دتخلیق ابتدا داسی بیان فرمایی ، اِنَّا خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ اَمْشَاجٍ یعنی مونږ انسان دیومخلوطی نطفی څخه پیداکی اَمْشَاج دمَشِیْج یامشج جمع ده چی معنٰی یی مخلوط راځی او دلته ظاهره ده چی دسړی او ښځی ملخوطه نطفه مراد ده ، لکه چی اکثرو مفسرینو فرمایلی دی او په روح المعانی کی یی دځینو مفسرینو څخه نقل کړی دی چی دامشاج څخه مراد اخلاط اربعه یعنی وینه ، بلغم ، سودا ، صفراء دی دکومو څخه چی نطفه مرکب کیږی .

(دهر انسان په تخلیق کي دټولي دنیا داجزاؤ او فرو شمولیت)

که فکر وسی نودا اخلاط اربعه مذکوره هم دغذا داقسامو څخه حاصلیږی اودهر انسان پرخوراك چی فکر وسی ، نو په دی کی دلیرو لیرو ملکونو اوخطُّو اجزاء داب اوهوا اونورو په ذریعه شاملیږی ، دغه شان دیو انسان دموجوده جسم تجزیه اوتحلیل چی وسی نو معلومه به سی چی دا دداسی اجزاوو او

ذراتو مجموعه ده کوم چې ددنیاپه کونج کونج خپاره وی ، دقدرت عجیبه نظام په حیرانوونکی طریقه باندی دغه دده په وجودکی ځای کړي دی ، که دامشاج مطلب داواخستل سی نودلته دلفظ دامشاج په ذکر سره دقیامت دمنکرانو دټولو څخه لویه شبهه لیری سوه ځکه چې ددغوخدای نه پیژندونکو خلګوپه نزد دقیامت په قائمیدو اومړو دوباره ژوندی کیدوکی دټولو څخه لوی اشکال دادی چې انسان مرسی، خاوری سی اوبیا ذره ذره سی اوپه دنیا کی خپری سی ، ددغو دوباره جمع کول بیاپه کی روح اچول د دوی په نزد ګویا ناممکنه ده .

دا مشاج په معنۍ داخلاط په تفسیرکی د دوی ددی شبهی یو واضح جواب دی چې دانسانی تخلیق په ابتداء کی هم دټولی دنیا اجزاء او ذری شاملی وی ، چاته چې دا ابتدایی تخلیق مشکل نه سو، دهغه دپاره دده دوباره پیدا کول ولی مشکل سو، او په دی تفسیر باندی دلفظ دا مشاج دلته اضافه هم دیوی مستقلی فائدی دپاره کیدی سی . والله تعالی اعلم

نَبْتَلِيهِ : دابتلاء څخه مشتق دی چې معنی یی امتحان اوازمائش دی ، دا دتخلیق انسانی دغرض او حکمت بیان دی چې دانسان په دی شان سره دپیدا کولو مقصد دده ازمائش دی چې بیان یی په راتلونکو آیتونوکی راځی ، چې مونږ دانبیاء علیهم السلام اوآسمانی کتابونو په ذریعه ده ته لار وښوولہ چې دالار دجنت طرف ته او دوهمه د دوږخ طرف ته ځی او ده ته اختیار ورکول سو چې په دی کی کومه غواړی اختیار کی چنانچې په دوی کی دوی ډلی سوی، إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا : یعنی یوه ډله دهغوخلګو سوه کومو چې خپل پیدا کوونکی او نعمت ورکوونکی وپیژندی او دهغه شکر یی ادا کی اوپه هغه یی ایمان راوړی ، دوهمه ډله هغه سوه کوم چې دالله ﷻ دنعمتونو ناشکری وکړه اوکافران پاته سول ، ددی څخه وروسته د دواړو ډلو دجزاء اوانجام ذکر یی وفرمایی چې دکافرانو دپاره زنځیرونه او طوقونه اوجهنم دی او دابرابرو یعنی دایمان اواطاعت دپابندو خلګو دپاره لوی لوی نعمتونه دی ، دټولو څخه اول یی دچښلو دشیانو ذکر وفرمایی چې دوی ته به داسی جامونه دشرابو ورکول سی ، په کوموکی چې به دکافورو ګډون وی ، يَشْرَبُونَ مِنْ كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا : یعنی مفسرین فرمایی چې کافور دجنت دیوی چینی نوم دی ، په دی شرابو کی به دلذت اوکیفیت زیاتولو دپاره ددغه چینی اوبه شاملیږی اوکه دکافورو مشهوره معنی واخستل سی نو دا ضروری نه ده چې دجنت کافور به هم دددنیا دکافورو په شان وی چې دخوړلو چښلو قابل به نه وی دهغوی کافورو خصوصیات به جلا وی .

عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ اللهِ : لفظ د ، عَيْنًا په ترکیب نحوی کی دکافوراً بدل هم کیدی سی ، په دی صورت کی به دا متعینه سی چې په ذکر سوی آیت کی دکافورو څخه مراد دجنت چینه ده اودعباد الله څخه مراد دالله ﷻ هغه نیک بندګان دی دکومو ذکر چې اول دابرارو په عنوان سره سوی دی اوکه عیناً د ، مِنْ كَأْسٍ څخه بدل مقرر سی نو بیا دا دیوی بلی چینی اواوبو بیان اوپه دی صورت کی به دعباد الله څخه مراد دجنیتانو یو بل جماعت وی کوم چې دابرارو څخه په کمه درجه کی دی .

يُوۡفُوۡنَ بِالنَّذۡرِ: دا بيان دهغه دي چي ابرارو اوعبادالله ته به دا انعامات په څه بنا ورکول کيږي ، معنٰى دا ده چي دا هغه خلک دي دکومو کار چي دالله ﷻ دپاره نذر (مننه) منل ، دهغه پوره کول کوي ، دنذرلفظي معنٰى ده چي په خپل ځان يو داسي کار واجب کي چي دشريعت څخه پرده واجب نه وي ، داسي نذر پوره کول شرعًا پرده واجب سي ، ددي څه تفصيل مخ ته راځي ، دلته دجنتيانو دعظيمي جزا اوانعاماتو سبب يي دنذر پوره کول مقرر کړي دي، په دي کي اشاره دي طرف ته ده چي داخلک چي کله دخپل طرف څخه دواجبو کړو شيانو دادا کولو اهتمام کوي نوکوم فرائض اوواجبات چي د دوي داختيار نه دي ، بلکه دالله ﷻ دطرف څخه په دوي لازم سوي دي دهغه اهتمام خو به په درجه اولٰى کوي ، دغه شان په لفظ دايفاء نذرکي په حقيقت کي دټولو شرعي واجباتو او فرائضو ادائيګي شامله سوه او دجنت دانعاماتو سبب مکمل اطاعت او دټولو فرائضو او واجباتو ادا کول به وي، په هر حال ددي جملي څخه دنذر دپوره کولو اهميت او وجوب ثابت سو .

مسئله : دنذر (مننی) دمنعقد کيدو دپاره څو شرطونه دي ، اول دا چي دکوم کار نذر منل کيږي هغه جائز اوحلال وي معصيت نه وي ، که چا ديو ګناه اوناجائز کار نذر ومنی نو په ده لازمه ده چي هغه ناجائز کار نه کوي ، خپل قسم مات کي اودقسم کفاره اداکي، بل شرط دا دي چي هغه دالله ﷻ دطرف څخه واجب نه وي ، په دي وجه که څوك دفرض لمونځ يا وترو واجبو نذر ومنی نو دا نذر به لغوه وي ، دغه فرض يا واجب داول څخه په ده واجب الادا دي .

دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په نزد دا هم شرط دي چي کوم کار يي په ذريعه دنذر په ځان واجب کړي دي دهغه دجنس څخه يو عبادت په شريعت کي واجب سوي وي لکه لمونځ ، روژه، صدقه، قرباني اونور او دکوم دجنس څخه چي شرعًاڅه عبادت مقصود نه وي، دهغه په نذر منلو باندي نذر نه لازميږي، لکه ديو مريض پوښتنه کول ياپه جنازه پسي تلل او نور کوم چي که څه هم عبادت دي خوعبادت مقصودي نه دي دنذر او يمين داحکامو تفصيل دفقهي په کتابونو کي کتلي سي .

وَيُطۡعِمُوۡنَ الطَّعَامَ عَلٰى حُبِّهٖ مِسۡكِيۡنًا وَّيَتِيۡمًا وَّاَسِيۡرًا : يعني دجنتيانو دا انعامات په دي سبب سره هم دي چي هغه په دنياکي يتيمانو، مسکينانو اوقيديانو ته خوراك ورکوي ، په عَلٰى حُبِّهٖ کي حرف دعلٰى په معنٰى دمعَ دي مطلب دا دي چي دا خلک په داسي حالت کي هم غريبانو ته خوراك ورکوي کله چي دغه خوراك په خپله هم دځان دپاره دوي ته محبوب اوخوښ وي ، دانه چي دخپل ځان څخه زيات فالتو خوراك مسکينانو ته ورکوي ، يتيم اومسکين ته دخوراك ورکولو عبادت اوثواب والي خو ظاهردي ، دقيدي څخه مراد ظاهره ده چي هغه قيدي دي ، کوم چي دشريعت داصولو مطابق قيد سوي وي ، برابره خبره ده که کافر وي يامسلمان مجرم ، مګر په هرحال ده ته خوراك ورکول داسلامي حکومت ذمه واري ده ، کوم سړي چي ده ته خوراك ورکوي ، هغه ګويا دحکومت اوبيت المال اعانت کوي ، په دي وجه قيدي برابره خبره ده که کافرهم وي هغه ته خوراك ورکول به ثواب وي، خصوصًا داسلام په ابتداء کي خو دقيديانو خوراك اوڅښاك او د دوي حفاظت په عامو مسلمانانو تقسيم سوي او د دوي په ذمه وو لکه دبدر

دقیدیانو سره چې داسې معامله سوې وه.

قَوَارِيرَ مِنْ فِضَّةٍ : په دنیا کې دسپینو زرو لوښي کثیف وي ، دآئینې په شان نه سي کیدی اوکوم چې دکانچ څخه جوړیږي هغه سپین زر نه سي کیدی ، په دې دواړو کې تضاد دی ، مګر دا دجنت خصوصیت دی چې دهغه ځای سپین زر به دائینې په شان شفاف وي حضرت ابن عباس ﷺ فرمایي چې په جنت کې څومره شیان ورکول کیږي دهغوتولو نظیر اوشبیه په دنیا کې هم ورکول کیږي ، ماسوا دهغو ګلاسونو اولوښو څخه دکومو ساخت چې دسپینو زرو څخه دی ، مګر دائینې په شان شفاف نه دی.

وَيُسْقَوْنَ فِيهَا كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنْجَبِيلًا : دزنجبیل معروفه معنیٰ شونډ ده او دعربو خلګو به په شرابو کې ددې ګډون خوښوی ، په دې وجه یې دا په جنت کې هم اختیار کړل او ځینې حضرات فرمایي چې دجنت په نعمتونو او ددنیا په شیانو کې دنوم داشتراك څخه ماسوا هیڅ شی مشترك نه دی په دې وجه دهغه ځای زنجبیل نه سي قیاس کیدلی.

وَحُلُّوا أَسَاوِرَ مِنْ فِضَّةٍ : اساور دسوار جمع ده ، بنګړو ته ویل کیږي ، کوم چې په لاسونوکې داچولو کالي دي ، په دې آیت کې دسپینو زرو دبنګړو ذکر دی او په بل آیت کې ، أَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ راغلی دی ، یعنی دسرو زرو بنګړي ، په دې دواړو کې څه تضاد نسته ، بلکه کیدی سي چې یو وخت دسپینو ، یو وخت دسرو زرو بنګړي استعمالیږي یا دځینو بنګړي دسرو وي دځینو دا دسپینو، مګربو سوال دلته پرهر حال دی چې دسپینو زرو بنګړي وي اوکه دسرو په هرحال داکالي دي کم چې دښځو داستعمال دپاره وي، دسړو دپاره داسې زیور اچول عیب ګڼل کیږي، جواب دا دی چې دیو شي دسړو یادښځو دپاره مخصوص کیدل او د دوی دپاره ښه یابد کیدل ، دا دعرف اوعادت تابع وي ، په ځینو ملکونو یا قومونو کې یو شی لوی عیب اوبد ګڼل کیږي ، په نورو قومونوکې هغه ډیر ښائسته ګڼل کیږي ، په دنیا کې دکسرٰی بادشاهانو به په لاسونوکې دبنګړو اوپه سینه اوتاج کې دکالو استعمال کوی اودا به د دوی خاص امتیاز اواعزاز ګڼل کیدی، دکسرٰی دملك فتح کیدو څخه وروسته چې کومې خزانې دکسرٰی دمسلمانانو په لاس ورغلې په هغه کې دکسرٰی بنګړي هم وه ، کله چې ددنیا دمختلفو ملکونو او قومونو په معمولي جغرافیایي اوقومي فرق سره دا معامله مختلفه کیدی سي ، نو جنت په دنیا دقیاس کولو خو هیڅ معنیٰ نه سي کیدی ، هلته به بنګړي اچول دسړو دپاره هم ښه ګڼل کیږي.

إِنَّ هَٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَاءً وَكَانَ سَعْيُكُمْ مَشْكُورًا : یعنی جنتیانو ته به جنت ته درسیدو څخه وروسته دحق تعالیٰ دطرف څخه داخطاب وي چې دجنت دا عقل حیرانوونکي نعمتونه ټول ستاسې دهغو عملونو جزا ده کوم چې تاسې په دنیاکې کړې وه اوستاسې عمل دالله ﷻ په نزد مقبول سو، دا کلمې به دوی ته په طور دمبارکباد ویل کیږي ، داهل عشق اومحبت څخه پوښتنه وکې ، نو دجنت ټول نعمتونه یوطرف ته او دربّ العٰلمین دا فرمان بل طرف ته دټولو نعمتونو څخه زیات دی ځکه چې په دې کې الله ﷻ دوی ته دخپلې کاملې رضا سندورکوی دعاموجنتیانو دانعاماتو دذکر کولو څخه وروسته دخاص هغو انعاماتو

ذکر کوی کوم چی په نبی کریم ﷺ باندی مبذول سول ، په هغه کی دټولو څخه لوی انعام تنزیل دقرآن دی ددی عظیم انعام ذکر کولو څخه وروسته اول خو دوی ته ددی هدایت وسو چی دمخالفینو اوکفارو دطرف څخه چی په کوم ضداوانکاراو د دوی په ازارونو تکلیف چی تاته رسیږی ، په هغه دصبرڅخه کار اخله بل دالله ﷻ عبادت شپه او ورځ خپله مشغله جوړه کړه په دی سره به دکفارو داذیّت هم ازاله وسی.

په آخرکی دعنادګرو کفارو په کفر باندی دټینګ پاته کیدو وجه ښوول سوی ده چی دا جاهلان ددنیاپه سطحی اوسرسری اوفانی لذتونوکی داسی مست سول چی انجام یعنی اخرت یی هیرکی،حال دا دی چی مونږ په دنیاکی هم په خپله ددوی په وجودکی داسی شیان اینبی وه چی که په هغه کی یی فکرکولی نو خپل خالق اومالك به یی پیژندلی وای مثلاً ، نَحْنُ خَلَقْنٰهُمْ وَشَدَدْنَا أَسْرَهُمْ : یعنی مونږ دوی پیدا کړل او د دوی دوجود په صنعت کی مو یو خاص کمال دا کښیښنوی چی دده جوړونه او بندونه مو مضبوط اومستحکم جوړکړل.

(په انساني جوړونو اوبندونوکي دقدرت کرشمه)

په دی کی اشاره ددی خبری طرف ته ده چی انسان خپل یویو جوړ اوبند ته نظر وکی چی په مقتضا دحکمت اوانسانی راحت دا جوړونه په لیدوکی نرم اونازك معلومیږی او دنرمو نرمو پټو په ذریعه دیو بل سره مبنتی دی ، چی ددی طبعی تقاضا دا وه چی په کال دوه کی دا سولیدی اوماتیدی خصوصاً هرکله چی شپه او ورځ دا په حرکت کی وی کتیږی راکتیږی ، په دومره شپه او ورځ حرکت سره خو داوسنی اسپرنګ هم په کال دوه کاله کی وسولیږی مات سی ، دی نرمو اونازکو پټو ته وګوری چی څنګه یی داندامونو جوړونه رانیولی دی ، نه سولیږی نه ماتیږی ، انسان دی دخپل لاس دګوتو جوړونو ته وګوری اوحساب دی ولګوی چی په ټول عمر کی به دی جوړونو څومره حرکتونه کړی وی ، څومره زور اودباؤ به په دوی راغلی وی چی که فولاد هم وای نو سولیدلی به وای ، مګر دا جوړونه دی چی په اویا (۷۰) اتیا (۸۰) کاله چلیدو باندی هم پرخپل ځای قائم دی ، فَتَبٰرَكَ اللهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِیْنَ.

والحمدلله رب العلمین

(سورة المرسلات)

سُوْرَةُ الْمُرْسَلٰتِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة المرسلت په مکه کی نازل سو او په دی کی پنځوس (۵۰) آیتونه او دوه (۲) رکوع ګانی دی.

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه او نهایت رحم والا دی.

وَالْمُرْسَلٰتِ عُرْفًا ۝١ فَالْعٰصِفٰتِ عَصْفًا ۝٢ وَّالنّٰشِرٰتِ نَشْرًا ۝٣

قسم دی په چلیدونکوهواګانوپه نرمی سره ، بیا په ښوروونکو په زور سره ، بیا په ښوروونکو په پورته کولوسره

فَالْفٰرِقٰتِ فَرْقًا ﴿۴﴾ فَالْمُلْقِیٰتِ ذِكْرًا ﴿۵﴾ عُذْرًا اَوْ نُذْرًا ﴿۶﴾ اِنَّمَا

بیا په خیرونکو جلا جلاکوونکو ، بیا په ملائکو چی نازلوی وحی ، دالزام لیری کولو یابیرولو دپاره ، چی

تُوْعَدُوْنَ لَوَاقِعٌ ﴿۷﴾ فَاِذَا النُّجُوْمُ طُمِسَتْ ﴿۸﴾ وَاِذَا السَّمَآءُ فُرِجَتْ ﴿۹﴾

بیشکه دکوم شی تاسی سره وعده وسوه هغه ضرورواقع کیدونکی دی بیاچی کله ستوری مات سی اوکله چی آسمان وچوی

وَاِذَا الْجِبَالُ نُسِفَتْ ﴿۱۰﴾ وَاِذَا الرُّسُلُ اُقِّتَتْ ﴿۱۱﴾ لِاَیِّ یَوْمٍ اُجِّلَتْ ﴿۱۲﴾

اوکله چی غرونه والوزول سی،اوکله چی درسولانووخت مقرر سی ، دکومی ورځی دپاره په دغو شیانو کی حصار تیا ده

لِیَوْمِ الْفَصْلِ ﴿۱۳﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا یَوْمُ الْفَصْلِ ﴿۱۴﴾ وَیْلٌ یَّوْمَئِذٍ

دفیصلی د ورځی دپاره ، اوته څه پوه سوی چی دفیصلی ورځ څه ده ؟ ، خرابی ده په دغه ورځ

لِّلْمُكَذِّبِیْنَ ﴿۱۵﴾ اَلَمْ نُهْلِكِ الْاَوَّلِیْنَ ﴿۱۶﴾ ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ الْاٰخِرِیْنَ ﴿۱۷﴾

درواغجن کوونکو دپاره ، آیا مونږ نه دی هلاک کړی اولنی ، بیا په دوی پسی رالیږو وروسته

كَذٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِیْنَ ﴿۱۸﴾ وَیْلٌ یَّوْمَئِذٍ

داسی کوو مونږ دګناهګارو سره ، خرابی ده په دغه ورځ

لِّلْمُكَذِّبِیْنَ ﴿۱۹﴾ اَلَمْ نَخْلُقْكُّمْ مِّنْ مَّآءٍ مَّهِیْنٍ ﴿۲۰﴾ فَجَعَلْنٰهُ فِیْ

درواغجن کونکو لره ، آیا مونږ نه یاست جوړ کړی تاسی دیو بی قدره اوبو څخه ، بیا مو کښیښوول هغه

قَرَارٍ مَّكِیْنٍ ﴿۲۱﴾ اِلٰی قَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿۲۲﴾ فَقَدَرْنَا فَنِعْمَ الْقٰدِرُوْنَ ﴿۲۳﴾

په یوځای دقرار کی ، تر یوی وعدی مقرری پوری ، بیا مونږ هغه پوره کی ، نو مونږ څه ښه قدرت والایو

وَیْلٌ یَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِیْنَ ﴿۲۴﴾ اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ كِفَاتًا ﴿۲۵﴾

خرابی ده په دغه ورځ درواغجنانو لره ، آیا مونږ نه ده جوړه کړی مځکه ځای کوونکی ؟

اَحْیَآءً وَّاَمْوَاتًا ﴿۲۶﴾ وَّجَعَلْنَا فِیْهَا رَوَاسِیَ شٰمِخٰتٍ وَّاَسْقَیْنٰكُمْ

ژوندی او مړو لره ، او ایښی دی مونږ په مځکه بار دغرونو لیری اوچښولی دی مونږ تاسی ته

مَّآءً فُرَاتًا ﴿۲۷﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۲۸﴾ اِنْطَلِقُوْٓا اِلٰى مَا

اوبه خوږې تنده مړه کوونکې ، خرابي ده په دغه ورځ دروغجن کونکو لره ، وګرځې وګورې چې

كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۲۹﴾ اِنْطَلِقُوْٓا اِلٰى ظِلٍّ ذِىْ ثَلٰثِ

کوم شی تاسی دروغجن کوی ، ولاړ سی یو سایې ته چې دری

شُعَبٍ ﴿۳۰﴾ لَّا ظَلِيْلٍ وَّلَا يُغْنِىْ مِنَ اللَّهَبِ ﴿۳۱﴾ اِنَّهَا تَرْمِىْ بِشَرَرٍ

ښاخونه یې دی ، نه ګڼی سایې دی او نه منع کولی سی غرمی ، هغه اور غورځوی سکروټی

كَالْقَصْرِ ﴿۳۲﴾ كَاَنَّهٗ جِمٰلَتٌ صُفْرٌ ﴿۳۳﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۳۴﴾

لکه محل ، ګویا هغه اوښان دی ژړ ، خرابي ده په دغه ورځ دروغجن کونکو لره ،

هٰذَا يَوْمُ لَا يَنْطِقُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُوْنَ ﴿۳۶﴾

دا هغه ورځ ده چې خبری به و نه کړ سی ، او نه به حکم وی دوی ته چې توبه وکاږی

وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۳۷﴾ هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ جَمَعْنٰكُمْ

خرابي ده په دغه ورځ دروغجن کونکو لره ، دا ده ورځ دفیصلې جمع کړاست مونږ تاسی

وَالْاَوَّلِيْنَ ﴿۳۸﴾ فَاِنْ كَانَ لَكُمْ كَيْدٌ فَكِيْدُوْنِ ﴿۳۹﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ

او مخکنی ، نو که څه داؤ ستاسی وی نو وچلوی په مونږ باندی ، خرابي په دغه ورځ

لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۴۰﴾ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِىْ ظِلٰلٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿۴۱﴾ وَّفَوَاكِهَ

دروغجن کونکو لره ، بیشکه بیریدونکی به وی په سایو کی او نهرونو کی ، او میوو کی

مِمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿۴۲﴾ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِيْٓـًٔا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۴۳﴾ اِنَّا

څه قسم چې دوی غواړی ، خوری او څښی په خوند سره په بدله دهغو کارونو کی چې تاسی کړی دی

كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۴۴﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۴۵﴾ كُلُوْا

مونږ دغسی بدله ورکوو نیکی کوونکو ته ، خرابي ده په دغه ورځ دروغجن کوونکو لره ، خوری

وَتَمَتَّعُوا قَلِيلًا إِنَّكُم مُّجْرِمُونَ ﴿۴۶﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿۴۷﴾

او نفع اخلی لږ ورځې بیشکه تاسی گناهگار یاست ، خرابی ده په دغه ورځ درواغجن کونکو لره ،

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ارْكَعُوا لَا يَرْكَعُونَ ﴿۴۸﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ

او کله چی وویل سی دوی ته چی رکوع وکړی نو رکوع نه کوی ، خرابی ده په دغه ورځ

لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿۴۹﴾ فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ ﴿۵۰﴾

درواغجن کوونکو لره ، نو اوس به په کومه خبره ددې څخه وروسته یقین وکړی .

لنډتفسير: قسم دی په هغو هوا گانو کومی چی دنفع رسولو دپاره لیږل کیږی ، بیا په هغو هواگانو کومی چی په سختی سره چلیږی (دکومو څخه چی دخطرو احتمال وی) او په هغو هواگانو کومی چی وریځی (پورته کوی) ښوروی (دکومو څخه وروسته چی باران کیږی) بیا په هغو هواگانو کوم چی وریځی جلا جلا کوی (لکه دباران څخه وروسته چی کیږی) بیا په هغو هواگانو کوم چی (په زړه کی) دالله ﷻ یاد یعنی دتوبی یا دبیری القاء کوی (یعنی دا ذکر سوی هواگانی دالله ﷻ په کامل قدرت باندی ددلالت په وجه دخالق کائنات طرف ته دمتوجه کیدو سبب کیږی او دغه توجه په دوو طریقو سره وی یو دبیری څخه کله چی ددی هواگانو څخه دخوف نښانی ښکاره وی او دوهم په توبه او معذرت سره او دا خوف اورجاء په دواړو صورتونو کی کیدی سی ، که هواگانی نفع ورکوونکی وی نو بیا خو ذخدای ﷻ نعمتونه یاد وی ، دهغه شکر او په خپلو تقصیراتو عذر کوی او که دغه هواگانی خوفناکی وی نو دخدای ﷻ دعذاب څخه بیره کوی ، دخپلو گناهونو څخه توبه کوی ، مخ ته جواب دقسم دی) چی دکوم شی ستاسی سره وعده کول کیږی هغه ضرور کیدونکی دی (مراد قیامت دی او دا ټول قسمونه دقیامت سره نهایت مناسب دی ځکه چی داولی شپیلی څخه وروسته دټول عالم دفنا کیدو واقعه دتیزو هواگانو مشابه ده او د دوهمی شپیلی څخه وروسته واقعات دمړو ژوندی کیدل او نور دنفع مندی هوا دواقعاتو سره مشابه دی دکومو څخه چی باران او په باران باندی ژوندی نباتات پیدا کیږی مخ ته په دی واقع کیدو باندی تفریع فرمایی) نو هر کله چی ستوری بی نوره سی او کله چی آسمان څیری سی او کله چی غرونه الوتلی گرځی او کله چی ټول پیغمبران په معین وخت جمع سی (دغه وخت به دټولو فیصله وی مخ ته ددغی ورځی دهولناکوالی ذکر دی چی څه معلومه ده) چی دکومی ورځی دپاره دپیغمبرانو معامله ځنډول سوي ده (مخ ته جواب دی چی) دفیصلی دورځی دپاره (ځنډول سوي ده ، مطلب ددی سوال او جواب دامعلومیږی چی کفارو کومو چی درسولانو تکذیب کړی دی او اوس هم ددی امت کفار دنبی کریم ﷺ تکذیب کوی او کله چی پر دی تکذیب داخرت دعذاب څخه بیرول کیږی نو داخرت هم تکذیب کول کیږی او دا تکذیب فی نفسه

مقتضي ددې دې چې درسولانو کومه قصه دکفارو سره پېښېږي ، ددې فيصله اوس وسي ، او ددې په تاخير سره کفارو ته زياته موقع دانکار اوتکذيب ورکول کيږي اومسلمانان په طبعي طور ددې ډېر کيدو خواهشمند وي ، نو په دې آيت کي داستعجال جواب دې چې الله ﷻ په ځينو حکمتونو سره دا وروسته کړي ده ليکن واقع کيږي به ضرور) او (مخ ته ددغي فيصلي دورځي دهولناکوالي بيان دې چې) تاته معلومه ده چې هغه دفيصلي ورځ څنګه ده؟ (يعني ډېره سخته ده اوکوم خلګ چې داحق امر يعني واقع کيدل دقيامت درواغجن کوي پوه دې سي چې) په دغه رځ به (دحق) درواغجن کوونکو لره لويه خرابي وي (مخ ته دتيرو نظائرو په ذريعه دموجوده خلګو بيرول دي) ايا مونږ مخکني کافران خلګ (په عذاب سره) نه دي هلاك کړي بيا وروسته به هم (په عذاب کي) ددغو (مخکنيو) سره کړي (يعني ستا دامت پرکفارو به هم وبال دهلاکت نازل کي لکه چې دبدر اونورو په غزاګانوکي وسوه) مونږ دمجرمانو سره هم دغسي کوو (يعني په کفر سزا ورلره ورکوو ، برابره خبره ده که په دواړه جهانوکي وي اوبرابره خبره ده که په اخرت کي، اوکوم چې په دې حق امر يعني کفر باندي مستحق دعذاب کيدل درواغجن کوي پوه دې سي چې) په دغه ورځ به (دحق) درواغجن کوونکو لره لويه خرابي وي (مخ ته دقيامت وقوع او دمړو ژوندي کيدل ذهنونوته نژدې کوي فرمايي) ايا مونږ تاسي ديو بې قدره اوبو (يعني نطفي) څخه نه ياست پيدا کړي؟ (يعني په ابتداء کي تاسي نطفه واست) بيا مونږ هغه تر يو وخت مقرر پوري په يو محفوظ ځاى (يعني) دښځي (رحم) کي کښېښووې غرض دا چې مونږ (ددې ټولو تصرفاتو) يوه اندازه مقرره کړه ، نو مونږ څنګه ښه اندازه مقرر کوونکي يو (ددې څخه دمړو پرژوندي کيدو باندي قدرت ثابت سو ، بياچې کوم خلګ دا حق کار يعني دبيا پورته کولو قدرت درواغجن کوي پوه دې سي چې) په دغه ورځ به (حق) درواغجن کوونکو لره لويه خرابي وي (مخ ته په خپلو ځينو نعمتونو سره داطاعت اوايمان طرف ته ترغيب ورکوي يعني) ايا مونږ مځکه دژوند اومړو ځاى کوونکي نه ده جوړه کړې ؟ (چې ژوند په دې تيريږي ، دمرګ څخه وروسته ددفن کيدو اوغرقيدو اوسوزيدو په صورت کي اخر خاوري سي او دمځکي په اجزاؤ کي شامل سي او دا دمرګ څخه وروسته حالت څکه نعمت دې چې که مړي نه خاوري کيدې نو ژوندي به پريشانه واى اوتر مړو به بدتر واى چې دوي ته به دخپلو اوسيدو بلکه دګرځيدو ځاى هم نه حاصليدې) اومونږ په دې (مځکه) کي دنګ دنګ غرونه جوړ کړل (دکومو سره چې ډېرې نفعي متعلق دي) اومونږ په تاسي خوږې اوبه څښو (دې نعمت ته برابره خبره ده که مستقل وويل سي يادمځکي متعلق ورته وويل سي څکه چې مرکز داوبو هم مځکه ده او ددې نعمتونو مقتضا وجوب دتوحيد دې ، نو کوم خلګ چې دې حق کار يعني دتوحيد وجوب درواغجن کوي پوه دې سي چې) په دغه ورځ به (حق) درواغجن کوونکو لره لويه خرابي وي (مخ ته دقيامت دځينو سزاګانو بيان دې ، يعني دقيامت په ورځ به کفارو ته وويل سي چې) تاسي دهغه عذاب طرف ته ځئ کوم چې تاسي درواغجن کوئ (په کوم کي چې پوه سزا هغه ده چې بيان يې په دې حکم کي دې چې) ديو سائبان طرف ته ولاړسئ دکوم چې دڅانګي ښاخونه دې چې نه په کي (يخه) سايه سته اونه دغه دګرمي څخه محفوظ کيدل کوي (مراد

ددی سائبان څخه یو دود، دی کوم چی به دجهنم څخه راوزی اوچونکی ډیربه وی نوچی لوړ ولاړسی
خیری به سی او دری توتی به سی ، لکه چی داسی دی په طبری کی دقتاده رضی الله عنه څخه، او دحساب څخه تر
فارغ کیدو پوری به کفار ددی دود په احاطه کی وی لکه چی مقبولین به دعرش ترسایی لاندی وی ، لکه
په خازن کی چی داسی دی ، مخ ته ددی دود دنور حال ذکر دی چی، دغه به سکروټی اوروی په شان
دلویو لویو محلونو داسی لکه تور تور اوښان (دا قاعده ده چی کله بخری داور څخه لوړسی نولوی وی
بیاوړی وړی توتی سی مزکی ته رالویږی، نو اولنی تشبیه دابتدایی حالت په اعتبارسره ده، او دوهمه
تشبیه دانتهایی حالت په اعتبار سره، لکه په روح کی چی داسی دی ، بیاکوم خلک چی داحق کار یعنی
دا واقعه درواغجنه کوی پوه دی سی چی) په دغه ورځ به (دحق) درواغجن کونکو لره خرابی وی (مخ ته
دکفارو متعلق بله واقعه ده یعنی) دابه هغه ورځ وی په کومه کی چی به دغه خلک خبری نه سی کولی او
نه به دوی ته (دعذرپیش کولو) اجازت وی نو عذر به هم ونه سی (څکه چی په واقع کی څه معقول عذر به
وی نه اوکوم خلک چی داحقه واقعه هم درواغجن کوی پوه دی سی چی) په دغه ورځ به (دحق) درواغجن
کونکو لره لویه خرابی وی (مخ ته هم ددغه ورځی بیان دی چی دی خلکوته به وویل سی چی) دا ده ورځ
دفیصلی (کومه چی تاسی دروغ گڼله) مونږ (نن) تاسی اومخکی (دفیصلی دپاره) جمع کړلاست نو که
ستاسی سره (دنن دنتیجی اوفیصلی څخه دمحفوظ کیدو) څه تدبیر وی نو پرما تدبیر وچلوی (اودا
کفار داحقه واقعه هم درواغجن کوی پس پوه دی سی چی) په دغه ورځ (دحق) درواغجن کونکولره لویه
خرابی وی (مخ ته دکفارو په مقابله کی دایماندارو دثواب بیان دی یعنی) پرهیزگاران خلک به په سایو
کی اوپه چینوکی اوپه زړه غوښتونکو میووکی وی (او دوی ته به وویل سی چی) دخپلو (نیکو) عملونو
په بدله کی ښه په خوند سره خوری چښی مونږ نیکو خلکو ته داسی بدله ورکوو (او داکفار دجنت
نعمتونه هم دروغجن کوی نو پوه دی سی چی) په دغه ورځ به (دحق) درواغجن کونکو لره لویه خرابی وی
(مخ ته بیا زورنه اوخبرداری دی کفاروته ، یعنی ای کافرانو!) تاسی (په دنیاکی) لږ ورځی نور خوری
چښی اوارام کوی (ډیره ژرکوم بختی راتلونکی ده څکه چی) تاسی بیشکه مجرمان یاست (او دمجرمانو
داحال کیدونکی دی اوکوم خلک چی دجرم سزا دروغجن کوی نو پوه دی سی چی) په دغه ورځ به (دحق)
درواغجن کونکو لره لویه خرابی وی (او ددی کافرانو دسرکښی اوجرم دا حالت دی چی) کله دوی ته
وویل سی چی (دخدای طرف ته) کښته سی (یعنی ایمان اوبندگی اختیار کړی) نونه کښته کیږی (ددی
څخه زیات جرم به څه وی اوداخلک ددی جرم کیدل هم درواغجن کوی نو پوه دی سی چی) په دغه ورځ
به (دحق) درواغجن کونکوله لویه خرابی وی (او ددی قرآنی تقریعاتو اوتهدیداتو مقتضا دا وه چی په
اوریدو سره بیریدلی وای اوایمان یی راوړی وای ، مگر کله چی په دی سره هم په دوی اثر ونه سو) نو بیا
ددی (قرآن چی الفاظ یی بلیغ اوبیرونکی دی) څخه وروسته په بله کومه خبره به دوی ایمان راوړی (په
دی کی کفاروته زورنه ده اودایمان راوړلو څخه د دوی مایوسه کول دی)

معلومات اومسئلي: په صحیح بخاری کی د حضرت [...] مسعود ؓ څخه روایت دی چی مونږ د نبی کریم ﷺ سره دمنی په یو غار کی وو ناڅاپه سو [...] نازل سو، نبی کریم ﷺ دا وایه اومایی دمبار کی خلی څخه اوریدی اویاد وی می، د دوی [...] ه ددی سورة په حلاوت سره رطب (شاداب) کیده چی ناڅاپه یو مار په مونږ حمله وکره، نبی [...] یم ﷺ دهغه دقتل کولو حکم وکی، مونږ په هغه پسی سو، هغه ولاړی وتښتیدی نبی کریم ﷺ وفرمایل چی لکه څنګه چی تاسی دهغه دشر څخه محفوظ سواست، دغسی هغه ستاسی دشر څخه محفوظ سو (ابن کثیر)

په دی سورة کی حق تعالی په څوشیانو قسم اخستی دی دقیامت په یقینی طورسره دراتلو ذکر یی فرمایلی دی، ددغو شیانوپه قرآن کی نومونه نه دی بیان سوی البته دلته یی پنځه صفتونه بیان سوی دی، مرسلات، عاصفات، ناشرات، فارقات، مُلقیات الذکر، په یو مرفوع حدیث کی هم ددی پوره تعین نه دی راغلی چی ددی صفتونو موصوفات څه دی، په دی وجه داصحابو ؓ اوتابعینو تفسیرونه په دی معامله کی مختلف سوی دی.

څینی حضرات ددی پنځو سره وو صفتونو موصوف ملائکی مقرر وی او دا کیدی سی چی دملائکو مختلف جماعتونه ددی مختلفوصفتونوحامل وی څینی حضرات ددی صفتونو موصوف هواګانی مقرر وی داهم دمختلفواقسامو اونوعیت وی په دی وجه دامختلف صفتونه په دی کی کیدی سی څینی حضراتو ددی موصوف په خپله انبیاء اورسولان مقررکړی دی، ابن جریرطبری په دی وجه په دی معامله کی توقف اوسکوت اسلم مقرر کړی دی چی احتمال ددواړو دی مونږ دخپل طرف څخه یو نه سو متعین کولی.

اوپه دی کی شبهه نسته چی کوم پنځه صفتونه دلته ذکرسوی دی په دغو کی څینی خوپه ملائکو داالله ﷻ پوری زیات چسپیدونکی او د دوی مناسب دی که دا دهواګانو صفتونه جوړوی نوتاویل به په کی کول وی، اوڅینی صفتونه داسی دی چی په هواګانو پوری زیات چسپیدونکی اوواضح دی که دملائکو صفتونه یی جوړوی نو بغیر دتاویل څخه نه جوړیږی په دی وجه په دی مقام کی ښه فیصله دابن کثیر معلومیږی، دوی فرمایی چی اولنی دری صفتونه دهواګانو صفتونه دی، په دی کی په هواګانو قسم وسو او اخری دوو دملائکو صفتونه دی نو دا دملائکو قسم سو.

دهوا په صفت مقرر کولو کی چی په اخری دوو صفتونو کی کوم تاویل کیدی سی، دغه تاسی په لنډ تفسیر کی ولیدی، څکه چی په لنډ تفسیر کی یی دا اختیار کړی دی، دغه شان کومو حضراتو چی دا ټول صفتونه دملائکو مقرر کړی دی، دوی اولنی دری صفتونه یعنی مرسلات، عاصفات، ناشرات په ملائکو پوری دچسپ کولو دپاره په کی دغه شان تاویلات کوی.

دابن کثیر داختیار مطابق معنی ددی آیتونو داسوه چی قسم دی په هغه هواګانو کوم چی لیږل کیږی عُرفًا دلته دعُرفًا معنی هغه هم کیدی سی کومه چی په لنډتفسیرکی لوړ ذکر سوه یعنی جود اوسخا اونفع رسانی، کومی هواګانی چی باران راوړی دهغو جود اوسخا اونفع رسانی ظاهره ده، اوبله معنی دعُرفًا پرلپسی هم راځی، که دا معنی واخستل سی نو مراد به هغه هواګانی وی کومی چی دوریځی او

باران سره پرلپسې چلیږي او عٰصِفٰت دعصف څخه مشتق دی چې لغوي معنٰی یې دهوا تیز تلل دي ، ددې څخه مراد هغه سیلي اوتیزي هواګانې دي کوم چې څینې وخت په دنیاکې راځي او ونّاشِرٰت څخه مراد هغه هواګانې دي کومې چې دباران ختمیدو څخه وروسته وریځ خپره وره کوي او فٰارِقٰت دا صفت دملائکو دی کوم چې وحي نازلوي په حق اوباطل کې فرق واضح کوي او مُلْقِيٰتِ ذِكْرًا هم دملائکو صفت دی اوذکر څخه مرادقرآن یامطلق وحي ده اومطلب دادی چې قسم دی په هغوملائکوکومې چې په ذریعه دوحي په حق اوباطل کې فرق اوامتیازواضح کوي اوقسم دی په هغوملائکوکومې چې په انبیاء عليهم السلام ذکریعنې وحي اوقرآن القاء کوي په دې شان سره په یوصفت کې دڅه تاویل ضرورت نه پاته کیږي.

پاته سو دا سوال چې ددې تفسیر په بنا اول دهواګانو په مختلفو اقسامو قسم واخستل سو بیا په ملائکو، په دې دواړوکې تړون اوجوړښه دی؟ نودکلام الٰهي دحکمتونو احاطه خوهیڅوك نه سي کولی، دامناسبت هم کیدی سي چې دهواګانو دواړه قسمونه باران والا نفع بخش اوتیزي ضرر رسوونکې دا دواړه دمحسوساتو څخه دي ، هر سړی دا پیژندی سي ، اول یې دغور اوفکر کولو دپاره دانسان مخ ته دغه راوړي ، ددې څخه وروسته یې ملائکې اووحي پیش کړل ، کوم چې محسوس نه دي ، مګر په لږ فکر اوغور کولو سره په دغو هم یقین کیدی سي.

عُذْرًا أَوْ نُذْرًا دا د ، مُلْقِيٰتِ ذِكْرًا : سره متعلق دی چې دا وحي او ذکر په انبیاء عليهم السلام باندې څکه نازلیږي سي چې دا داهل حقو مومنانو دپاره د دوی دکوتاهیو څخه دمعذرت سبب جوړ سي او داهل باطلو کفارو دپاره نذیر او دعذاب څخه بیروونکی ثابت سي.

په هواګانـ ـاملائکو یادواړو قسمونو دقسم خوړلو څخه وروسته الله ﷻ فرمایي ، إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَوَاقِعٌ یعنې سـ ـ ـ ـرًا چې کوم دقیامت اوحساب، کتاب، جزا اوسزا وعده په ذریعه دانبیاوو کول کیږي ، هغه به خامخا واقع اوپوره کیږي ، مخ ته ددې دواقع کیدو دوخت دڅو حالاتو ذکر دی ، اول دا چې تول ستوري به بې نوره سي ، دکومو چې دا صورت هم کیدی سي ، چې ټول به فناسي یا دا چې موجود به وي مګر رڼابه په کې نه وي ، دغه شان ټوله دنیابه په یوه انتهایي سخته تیاره کې ډوبه سي ، دوهم حال یې دا بیان وفرمایي چې آسمان به څیري سي ، دریم دا چې غرونه به دپنبه وه په شان په هواکې ګرځي ، څلورم حال یې دا وښووی چې ، وَإِذَا الرُّسُلُ أُقِّتَتْ اُقِّتَتْ د ، توقیت څخه مشتق دی چې اصل معنٰی یې تعیین دوخت اوتحدید دوخت دی او په قول دزمخشري کله ددې معنٰی یومقرر وخت ته درسیدوهم راځي (لکه چې داسې په روح کې دي) دلته دا دوهمه معنٰی مناسب ده او معنٰی دآیت دا سوه چې دانبیاوٗ عليهم السلام او رسولانو دپاره کوم میعاد او وخت مقرر سوی وو چې په دې کې دخپلو خپلو امتونوپه معامله کې دشهادت دپاره حاضر سي هغه دغه میعادته ورسیدل او د دوی دحاضرۍ وخت راغی ، په دې وجه په مذکوره لنډ تفسیرکې ددې ترجمه دانبیاوٗ عليهم السلام په جمع کولوسره سوي ده ، مخ ته دقیامت دورځې دعظیم والي اوهیبتناکوالي بیان دی چې دغه دفیصلې ورځ ده په کومه کې چې به د دروا غجنانو او

کفارو دپاره دتباهي او بربادی څخه ماسوا هیڅ نه وی .
د: وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِلْمُكَذِّبِينَ : هم دامعنی ده ، د ، وَيْل معنی هلاکت اوبربادی ده او دحدیث په ځینو روایتونو کی دی چی ویل دجهنم دیوی کندی نوم دی په کوم کی چی به د دوږخیانو دزخمونو وینی او زوی جمع کیږی ، دا ځای به د درواغجن کوونکو داوسیدو دپاره مقرر سی ددی څخه وروسته موجوده خلګو ته دتیرو خلګو او امتونو دحالاتو څخه دعبرت اخستو دپاره فرمایي ، أَلَمْ نُهْلِكِ الْأَوَّلِينَ ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ الْآخِرِينَ یعنی آیا مونږ اولنی خلګ د دوی دکفر اوعناد په وجه نه دی هلاك کړی دقوم عاد اوثمود اوقوم لوط او قوم فرعون او نورو طرف ته اشاره ده ، دمشهور او معروف قرآئت مطابق په سکون دعین سره عطف دی په ، نُهْلِكِ باندی چی معنی یی دا ده ، آیامونږ داولنیو څخه وروسته اخرنی هم په دوی پسی وروسته نه دی هلاك کړی ، په دی وجه به داخرینو څخه مراد هم دتیرو امتونو اخرین وی دکومو هلاکت چی دقرآن دنزول څخه اول واقع سوی دی اوپه بل یوقرآت کی نُتْبِعُهُمْ په ضمه دعین هم راغلی دی ، په دی قرآئت کی دا جمله جلا ده ، او داخرین څخه مراد دامت محمدیه کفار دی ، دتیرو امتونو دهلاکت اوعذاب دخبر ورکولو څخه وروسته موجوده کفارو دمکی ته اننده پردوی دراتلونکی عذاب خبر ورکول مقصود دی لکه چی دبدر او نورو په غزاګانو کی دمسلمانانو دلاسه پردوی دهلاکت عذاب نازل سو .
فرق دا دی چی په تیرو امتونو به آسمانی عذاب راتلی چی تول کلی به په تباه کیدل ، او په امت محمدیه دنبی کریم ﷺ په وجه دا خاص اکرام دی چی ددی پرکفارو اسمانی عذاب نه راځی بلکه په دوی عذاب دمسلمانانو په تورو سره راځی چی عام هلاکت په کی نه بلکه صرف سرکښ اومجرم په کی قتلیږی .
أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ كِفَاتًا أَحْيَاءً وَأَمْوَاتًا : یعنی مونږ مځکه کِفات جوړه کړي ده ، دژوندو اومړو انسانانو دپاره کفات دکِفْت څخه مشتق دی چی معنی یی ده حاصلول اوجمع کول ، کفات هغه شی دی کوم چی ډیر شیان په خپل ځان کی جمع کی ، مځکه الله ﷻ داسی جوړه کړي ده چی ژوندی انسانان سرپیره پرګرځی او مړه تول ددی په خیټه کی جمع دی .
إِنَّهَا تَرْمِي بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ ‎﴿﴾‏ كَأَنَّهُ جِمَالَتٌ صُفْرٌ : دقصر معنی عالیشان محل اوجِمَالَةٌ په معنی دجمل اوښ ته ویل کیږی ، صفر دا اصفر جمع ده معنی یی ژړ دی ، مراد دآیت دا دی چی ددی جهنم داور څخه به دومره غټ غټ بخری پورته کیږی ، کوم چی به دیو مستقل عالیشان محل برابر وی بیابه دغه خپاره سی ، په وړو وړو توټو کی به تقسیم سی ، دغه توټی به دژړو اوښانو برابر وی اوځینو حضراتو دلته دصُفر ترجمه په تورو سره کړي ده ځکه چی دژړ اوښ ژړوالی سیاهی ته مائل وی (روح)
هَٰذَا يَوْمُ لَا يَنطِقُونَ ‎﴿﴾‏ وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُونَ : یعنی په دغه ورځ به څوك خبری نه سی کولی او نه به چاته دخپل کړی عمل دعذر پیش کولو اجازه وی او دقرآن په نورو آیتونو کی چی کوم دکفارو دخبری او عذر پیش کول مذکور دی هغه ددی منافی نه دی ، ځکه چی په محشرکی به مختلف مواقف او مقامات راځی په ځینی مقام کی به خبری کول اوعذر پیش کول ممنوع وی په ځینی کی به اجازه وی (روح المعانی)

كُلُوا وَتَمَتَّعُوا قَلِيلًا إِنَّكُمْ مُجْرِمُونَ: يعنى خوري چښي او ارام وكې لږ ورځې ځکه چې تاسې مجرمان یاست اخر سخت عذاب ته تلل دي، دا دروا غجن کونکو ته خطاب دی په دنیاکي، دانبیاؤ ﷺ په ذریعه دوی ته ویل سوي دي چې داستاسې عیش او آرام دځو ورځو دي، بیا عذاب او عذاب دی ځکه دا تفسير چې پې ابو حيان کړی دی،

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ارْكَعُوا لَا يَرْكَعُونَ: دلته داکثرو مفسرينو په نزد درکوع څخه مراد ددې لغوي معنٰى يعني کښته کیدل او اطاعت کول دي، مطلب دا دي چې کله به په دنیاکي دوی ته دالله ﷻ داحکامو داطاعت دپاره وویل سوه نو دوی به اطاعت نه کوی او ځینی حضرات درکوع اصطلاحي معنٰى هم مراد اخلي، او مطلب دایت دا دي چې کله به دوی دلمانځه طرف ته را وبلل سول نو دوی به لمونځ نه کوی، رکوع یې ویلی ده او ټول لمونځ یې مراد اخستی دی دروح المعانی،

فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ: یعنی کله چې دا خلک دقرآن په شان عجیب او غریب، بلیغ او دحکمتونو څخه ډک په واضحو دلیلونو والا کتاب باندې ایمان نه راوړی نو ددې څخه وروسته به اوس په کومه خبره ایمان راوړي، مراد د دوی دایمان څخه دمایوسی اظهار دی.

په حدیث کی دي چې کله تلاوت کوونکی دی آیت ته ورسیږي نو ده لره دا ویل په کار دي، مثلاً بالله: یعنی مونږ په الله ﷻ باندې ایمان راوړو، دلمانځه څخه دباندې او په نفلوکی دا الفاظ ویل په کار دي، مګر په فرضوکی او په سنتوکی ددې زیادت څخه ځان ساتل دحدیث په روایتونو سره ثابت دي، په دې وجه دې یې په فرضو اوسنتو کی نه وايي. والله سبحانه وتعالی اعلم وعلمه اتم واکمل.

تمت سورة المرسلت بحمد الله لاخر يوم من رجب سنه ۱۳۹۱هـ

وبه تم الجزء التاسع والعشرون من القرآن والله الموفق لاتمام الباقی

تفسیر

معارف القرآن

په قندهاری پښتوکی

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمة الله علیه

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیر احمد حقانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیر احمد (حقانی) او مولوی آمین الله (حقانی)

دکمپوز او ترجمي چارې .... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

پاره (۳۰)

خپرونکي

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي روډ حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ ځای .... لاهور

مضمون	فهرست تفسیر معارف القرآن	مخ
	﴿سورة النباء﴾	**۸**
دآیت ۱ څخه د سورة تر آخره پوری		۸
معلومات او مسئلی		۱۲
خوب دیر لوی نعمت دی		۱۳
دجهنم په خلود او دوام باندی اشکال او جواب		۱۷
	﴿سورة النزعات﴾	**۱۹**
آیت ۱ څخه د سورة تر آخره پوری		۱۹
معلومات او مسئلی		۲۳
په قبر کی ثواب او عذاب		۲۵
د نفس د مخالفت دری درجی		۲۷
	﴿سورة عبس﴾	**۲۹**
آیت ۱ څخه د سورة تر آخره پوری		۲۹
لنډ تفسیر: شان نزول		۳۱
معلومات او مسئلی		۳۳
د تبلیغ او تعلیم د پاره د قرآن یو اهم اصول		۳۵
	﴿سورة التکویر﴾	**۳۸**
آیت ۱ څخه د سورة تر آخره پوری		۳۸
معلومات او مسئلی		۴۱
د څلورو میاشتو څخه وروسته حمل غورځول د قتل په حکم کی دی		۴۳
	﴿سورة الانفطار﴾	**۴۵**
آیت ۱ څخه د سورة تر آخره پوری		۴۵
معلومات او مسئلی:		۴۷
	﴿سورة التطفیف﴾	**۴۸**
آیت ۱ څخه د سورة تر آخره پوری		۴۸
معلومات او مسئلی		۵۳
تطفیف صرف په ناپ او تول کی نه دی بلکه حقدار له د هغه د حق څخه کم ورکول چی په هرشی کی وی په تطفیف کی داخل دی		۵۴
د فقر او فاقی او قحط او د رزق قطع کیدو، مختلف صورتونه		۵۵
د جنت او دوزخ مقام		۵۷

اللهم اختم لنا بالخير والسعادة والبشارة والايمان

....

﴿سورة النباء﴾

سُوْرَةُ النَّبَاِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة نباء په مکه کی نازل سو او په دی کی څلویښت (۴۰) آیتونه او دوې (۲) رکوع ګانی دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی.

عَمَّ يَتَسَآءَلُوْنَ ۝١ عَنِ النَّبَاِ الْعَظِيْمِ ۝٢ الَّذِيْ هُمْ فِيْهِ

دغه خبری پوښتنه کوی خلق په خپل مینځ کی؟ پوښتنه کوی ددغه لوی خبری، په کوم کی چی دغه خلق

مُخْتَلِفُوْنَ ۝٣ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ۝٤ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ۝٥ اَلَمْ نَجْعَلِ

مختلف دی ، حقه ده چی ژر به پوه سی ، نو حقه ده چی ژر به پوه سی ، آیا مونږ نه ده جوړه

الْاَرْضَ مِهٰدًا ۝٦ وَّالْجِبَالَ اَوْتَادًا ۝٧ وَّخَلَقْنٰكُمْ اَزْوَاجًا ۝٨ وَّجَعَلْنَا

مځکه فرش ؟ او غرونه میخونه ، اوتاسی مونږ جوړ کړی یاست جوړی جوړی ، اوګرځولی

نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ۝٩ وَّجَعَلْنَا الَّيْلَ لِبَاسًا ۝١٠ وَّجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشًا ۝١١

مودی خوب ستاسی ارام ورکوونکی ، او ګرځولی موده شپه جامه ، او ګرځولی موده ورځ دګټی کولو دپاره

وَّبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ۝١٢ وَّجَعَلْنَا سِرَاجًا وَّهَّاجًا ۝١٣ وَّاَنْزَلْنَا

اوبیناکړی مودی په تاسی سربیره اووه آسمانونه مضبوط ، او ګرځولی مودی یو څراغ روښانه ، اونازلی کړی

مِنَ الْمُعْصِرٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا ۝١٤ لِّنُخْرِجَ بِهٖ حَبًّا وَّنَبَاتًا ۝١٥ وَّجَنّٰتٍ

مونږ دښتیڅونکو وریځو څخه داوبو داری ، چی را وباسو په دی سره دانی او وابنه ، اوباغونه

اَلْفَافًا ۝١٦ اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيْقَاتًا ۝١٧ يَّوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ

دک دپاڼو ، بیشکه ورځ دفیصلی ده یو وخت مقرر سوی ، په کومه ورځ چی پو کل وسی په شپیلی کی

فَتَاْتُوْنَ اَفْوَاجًا ﴿۱۸﴾ وَّفُتِحَتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ اَبْوَابًا ﴿۱۹﴾ وَّسُيِّرَتِ

نو تاسی به راځی ډلی ډلی ، او خلاص به سی آسمان نو سی به په کی دروازی ، او روان به سی

الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿۲۰﴾ اِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ﴿۲۱﴾ لِّلطّٰغِيْنَ

غرونه نو سی به دشګو په شان ، بیشکه دوږخ دی په انتظار کی تیار ، دشریرانو

مَاٰبًا ﴿۲۲﴾ لّٰبِثِيْنَ فِيْهَآ اَحْقَابًا ﴿۲۳﴾ لَا يَذُوْقُوْنَ فِيْهَا بَرْدًا وَّلَا شَرَابًا ﴿۲۴﴾

ځای ، اوسیږی به په دی کی په قرنونو ، نه به څکی هلته څه خوند دیخ اونه دڅښلو ،

اِلَّا حَمِيْمًا وَّغَسَّاقًا ﴿۲۵﴾ جَزَآءً وِّفَاقًا ﴿۲۶﴾ اِنَّهُمْ كَانُوْا لَا يَرْجُوْنَ

مګر ګرمی اوبه او نوونه ، بدله ده پوره ، دهغوی امید نه وو

حِسَابًا ﴿۲۷﴾ وَّكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا كِذَّابًا ﴿۲۸﴾ وَكُلَّ شَيْءٍ اَحْصَيْنٰهُ كِتٰبًا ﴿۲۹﴾

دحساب ، او دروغجن کول به یی زمونږ آیتونه دروغجن کول ، او هر شی مونږ شمیرلی دی په لیکلو سره

فَذُوْقُوْا فَلَنْ نَّزِيْدَكُمْ اِلَّا عَذَابًا ﴿۳۰﴾ اِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ مَفَازًا ﴿۳۱﴾

نو وڅکی عذاب د دوږخ نو هیڅکله به زیات نه کړل وتاسی لره ، بیشکه بیریدونکو ته د دوی مراد رسیدونکی دی

حَدَآئِقَ وَاَعْنَابًا ﴿۳۲﴾ وَّكَوَاعِبَ اَتْرَابًا ﴿۳۳﴾ وَّكَاْسًا دِهَاقًا ﴿۳۴﴾ لَا

باغونه دی او انګور ، او ځوانانی ښځی دیو عمر تول ، او پیالی ډکی ، نه به

يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا وَّلَا كِذّٰبًا ﴿۳۵﴾ جَزَآءً مِّنْ رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا ﴿۳۶﴾

اوری په دغه ځای کی بکواس او نه دروغ ، بدله ستا درب ښخه ورکړل سوی په حساب سره

رَّبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الرَّحْمٰنِ لَا يَمْلِكُوْنَ مِنْهُ

چی رب دی دآسمانونو او دمځکی او څه چی دډ په مینځ کی دی لوی رحمت والا دچا قدرت نسته چی دهغه سره

خِطَابًا ﴿۳۷﴾ يَوْمَ يَقُوْمُ الرُّوْحُ وَالْمَلٰٓئِكَةُ صَفًّا لَا يَتَكَلَّمُوْنَ اِلَّا

خبره وکړی ، په کومه ورځ چی ودریږی روح او ملائکی په قطار ، خبری به نه سی کولی څوک مګر

مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴿۳۸﴾ ذٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ فَمَنْ

چاته چي حکم وکړي رحمن ووايي به خبره صحيح ، دغه ورځ ده برحقه نو څوك چي

شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ مَاٰبًا ﴿۳۹﴾ اِنَّآ اَنْذَرْنٰكُمْ عَذَابًا قَرِيْبًا ۚ يَّوْمَ

غواړي و دې نيسي دخپل رب په خوا کي ځاى ، مونږ خبر او روو تاسي ته ديو عذاب نژدې راتلونکي ،

يَّنْظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدٰهُ وَيَقُوْلُ الْكٰفِرُ يٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ تُرٰبًا ﴿۴۰﴾

په کومه ورځ چي ووينی سړی هغه چي مخکي ليږلي دي لاسونو دده او وبه وايي کافران چي کاشکی ، زه واى خاورې سوى

لنډتفسير: دا (دقيامت انکار کوونکي) خلګ دڅه شي دحال پوښتنه کوي ، دهغه لوى واقعي دحال پوښتنه کوي په کومه کي چي داخلګ (داهل حقوسره) اختلاف کوي (مراد قيامت دی اودپوښتني کولو څخه مرادپه طور دانکار پوښتنه کول دي اومقصود ددي سوال اوجواب څخه ذهنونه دي طرف ته متوجه کول ، او دتفسير بعد الابهام څخه ددي دشان اهتمام ظاهرول دي مخ ته د دوی داختلاف بی وجهي والی اوباطلوالی بيان سوی دی چي لکه څنګه چي داخلګ ګنی چي قيامت به نه راځي) هيڅکله داسي نه ده (بلکه قيامت به راځي او) دوی ته به اوس معلومه سی (يعنی کله چي ددنياڅخه درخصتيدو څخه وروسته په دوی عذاب واقع سی نو دغه وخت به حقيقت اوحقيت دقيامت ښکاره سی اومونږ) بيا (مکرر وايو چي لکه څنګه چي داخلګ ګنی چي قيامت) به نه (راځي) هيڅکله داسی نه ده (بلکه راځي به او) دوی ته به اوس معلومه سی (اوچونکي دغه خلګ دا مستبعد يامحال ګنی مخ ته ددي دامکان اودوقوع بيان دی چي ددي په محال ګنلو سره زمونږ دقدرت څخه انکار لازميږي او زمونږ دقدرت څخه انکار خو ډير عجيبه دی ځکه چي) آيامونږ مځکه فرش اوغرونه (دمځکي) ميخونه نه دي جوړ کړي (يعنی په مثل دميخونو موجوړ کړل ، لکه چي په يو شي دميخونو دلګولو څخه وروسته هغه شي دخپل ځاى څخه نه ښوری ، دغه شان مځکه په غرونوسره په ځاى ټينګه سوه ، ددي تحقيق په سورة نحل کي تير سوی دی) او (ددي څخه علاوه مونږ نور هم دقدرت دليلونه ظاهرکړل چنانچي) مونږ تاسي جوړي جوړي (يعنی سړي او ښځه) جوړکړاست اومونږ ستاسی خوب دراحت شي جوړ کی اومونږ شپې دپردې شي جوړکی او مونږ ورځي دمعاش وخت جوړکی اومونږ په تاسي لوړ اووه مضبوط آسمانونه جوړ کړل اومونږ (په آسمان کي) يو روښانه څراغ جوړ کی (مراد لمر دی لکه دا قول دالله ﷻ ، وَجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا) اومونږ داوبو څخه ډکو وريځو څخه اوبه واورولي چي مونږ ددي اوبو په ذريعه غله اوسبزي اوګڼ باغونه پيدا کړل (او ددي ټولو څخه زمونږ دقدرت کمال ظاهر دی بياپه قيامت باندي زمونږ دقادريدو څخه ولی انکار کول کيږي ، دابيان وو دامکان مخ ته دوقوع ذکردی چي) بيشکه دفيصلي ورځ يو معين وخت دی يعنی په کومه ورځ چي شپيلی ووهل سی، بيابه تاسی خلګ ډلی ډلی راځي (يعنی هر امت به جلاجلا

وی، بیامومن جلا، کافر جلا، بیا ابرار جلا، اشرار جلا، ټول به دیوبل څخه جلاسی، میدان دقیامت ته به حاضریږی) اوآسمان به خلاص سی، بیا به په دی کی دروازی جوړی سی (یعنی دومره زیات به خلاص سی، لکه ډیری دروازی چی یوسی اولوی ځای پراخ سی، نو کلام مبنی دی په تشبیه باندی اوس دا شبهه نه سی کیدی چی دروازی خو په آسمان کی اوس هم دی، بیاپه دغه ورځ د دروازی کیدو څه معنیٰ او دا خلاصول به دملائکو دنزول دپاره وی لکه چی په سورة فرقان کی یی په ، تشقق السّمآءُ سره تعبیر فرمایلی دی او ددی تشریح هلته تیره سوي ده) اوغرونه به (دخپل ځای څخه) لیری سی نو هغه به دشګی په شان سی (لکه دا قول دالله ﷻ ، کَثِیْبًا مَّهِیْلًا، اودا واقعات به د دوهمی شپیلی په وخت کی وی البته دغرونو روانیدل دلته هم اوکوم کوم ځای چی واقع سوی دی دواړه احتماله دی یاخو د دوهمی شپیلی څخه وروسته چی په دی سره به دعالم ټول شیان په خپل هیئت بیرته ګرځی ، کله چی دحساب وخت راسی نوغرونه به دمځکی سره برابر سی چی په مځکه څه پناه، غر اونور پاته نه سی ، ټول به یومیدان سی اویابه دااولی شپیلی په وخت کی وی، په کوم سره چی فنا کیدل په خپله د دوی مقصود بالذات به وی ، بیا په دی تقدیر باندی به یوم ته ددی ټولو واقعاتو ظرف فرمایل په دی بنا باندی وی چی داولی شپیلی څخه تر دوهمی پوری مجموعه یوه ورځ مقرر سوی وی، والله تعالی اعلم، مخ ته په دی یوم الفصل کی چی کومه فیصله وی ، دهغه بیان دی یعنی) بیشکه دوزخ دیو انتظار ځای دی (یعنی دعذاب ملائکی په انتظار اوتاك کی دی چی کافران راسی ویی نیسی او عذاب ورکی او دغه) دسرکښانو ځای (دی) په کوم کی چی به دوی دبی انتها زمانی پوری پراته وی (او) په دی کی به هغه نه دڅه یخوالی (یعنی راحت) خوند وڅکی (په د: سره دزمهریر یعنی سختی یخ نفی نه کیږی) اونه دڅښلو دشی (چی تنده په ماته سی) بغیر دګرمو اوبو اوورینو زوو څخه دا (دوی ته) پوره بدله ورکول کیږی (اوهغه عملونه دکومو چی دا بدله ده دا دی چی) هغه خلګو دحساب (دقیامت) بیره نه درلودله اوزمونږ (هغه) آیتونه (یی په کومو کی چی دحساب اوحقونو اونورو کارونو خبر وو) بنه درواغجن کول اومونږ (د دوی داعمالو څخه هر شی (د دوی په عملنامه کی) لیکلی محفوظ کړی دی نو (په دغو عملونو به دوی خبر سی اوویه ویل سی ورته چی اوس ددغو عملونو) خوند وڅکی چی مونږ به ستاسی سزا پرمخ زیاتوو (دا دکافرانو فیصله سوه ، مخ ته دایماندارو فیصله ذکرده چی) دخدای دبیریدونکو دپاره بیشکه چی کامیابی ده یعنی (دخوراك اوسیل دپاره) باغونه (چی قسم قسم میوی به وی په کی) او انګور (داتخصیص وروسته دتعمیم څخه دشان داهتمام دپاره دی) او (دزړه خوشحالولو دپاره) ځوانانی هم عمره ښځی به وی او (دڅښلو دپاره به) ترخلی خلی ډك جامونه دشرابو (او) هلته به نه څه بی هوده خبری اوری اونه دروغ (ځکه چی داخبری هلته محض معدومی دی) دا (دوی ته ددوی دنیکیو) په بدله ورکول کیږی کومه چی به پوره انعام وی ستادرب دطرف څخه کوم چی مالك دی دآسمانونو اودمځکی او دهغو شیانو کوم چی د دواړو په مینځ کی دی (اوکوم چی) رحمٰن دی (او) چاته به دهغه دطرف څخه (مستقل) اختیارنه وی چی (دهغه په مخکی) عرض وکی په کومه ورځ چی ټول خاوندان دروحونو اوملائکی (دخدای ﷻ مخامخ) صف بسته

(په خشوع او خضوع سره) ودریږي (په دغه ورځ) څوك به خبرې نه سي كولى بغير دهغه څخه چاته چي رحمٰن (دخبرو) اجازه وركې او هغه سړى به خبره هم سمه كوي (د سمي خبرې څخه مراد هغه خبره ده دكومې چي اجازه وركول سوي ده ، يعني خبر به هم محدوده او مقيده وي دا نه چي څه غواړي بس وايي به او په مستقل اختيار سره، لوړ دامراد دى مخ ته دلوړو ټولو مضامينو خلاصه ده چي) دا (ورځ دكومې چي لوړ ذكر وسو) يقيني ورځ ده نو دچا زړه چي غواړي (ددې حالات يې واوريدل) دخپل رب طرف ته دې (خپل ځاى جوړكي (يعني نيك عمل دې كوي چي هلته ورته نيك ځاى وركول سي)، مخ ته اتمام دحجت دې چي خلګو) مونږ تاسي دېونږدې راتلونكى عذاب څخه بيرولي ياست (كوم چي په داسي ورځ كي واقع كيدونكي دى) په كومه ورځ چي به هر سړى هغه عملونه (په خپل مخكې حاضر) ووينى كوم چي به هغه په خپلو لاسونو كړي وي او كافران به (دحسرت څخه) ووايي ، چي كاشكي! زه واى خاورې سوى (چي دعذاب څخه محفوظ سم او دا به هغه وايي هلته كله چي حيوانان او ځناوران خاورې سي ، دا روايت په در منثور كي دابوهريره ﷺ څخه دى)

معلومات اومسئلې : عَمَّ يَتَسَاءَلُونَ لفظ د ، عَمَّ د دوو حرفونو څخه مركب دى دعَنْ او دَما څخه، حرف دما داستفهام دپاره راځي ، په دې تركيب كي يې دما څخه الف ساقط كړى دى ، معنٰى دا سوه چي داخلګ دكوم شي په باره كي په خپل مينځ كي سوال اوجواب كوي؟ بيا په خپله ددې جواب وركول سو ، عَنِ النَّبَإِ الْعَظِيمِ، الَّذِي هُمْ فِيهِ مُخْتَلِفُونَ : دلفظ د ، نَبَأ معنٰى خبر دى ، مګر هر خبر نَبَأ نه دى ، بلكه كله چي يو عظيم الشان خبر وي هغه ته نَبَأ ويل كيږي مراد ددې نَبَأ يعني عظيم الشان خبر څخه قيامت دى او معنٰى دايت دا ده چي دا دمكې خلګ ددې عظيم الشان خبر يعني قيامت په باره كي بحث اوسوال جواب كوي ، په كوم كي چي د دوى په مينځ كي اختلاف دى.

دحضرت ابن عباس ﷺ څخه نقل دى چي كله قرآن كريم نازليدل شروع سوه نو دمكې كفارو به په خپلو مجلسونو كي ددې په حقله خپلي خپلي رايې اوګپ شپ كوي ، په قرآن كي دقيامت ذكر په اهميت سره راغلى دى او د دوى په نزد ګويا دا محال شى وو، په دې وجه په دې كي خبرې ډيرې چليدې چا به يې تصديق كوى چا به انكار، په دې وجه ددې سورة په شروع كي يې د دوى دا حال ذكر كى ، مخ ته دقيامت واقع كيدل بيان سوي دى او د دوى په نزد چي كوم ددې په واقع كيدو كي اشكال او استبعاد وو ، دهغه جواب وركول سو او ځيني مفسرين حضرات فرمايي چي دا سوال جواب ديو واقعي تحقيق دپاره نه وو ، بلكه محض دخندا او مسخرو دپاره وو، والله تعالى اعلم، قرآن كريم د دوى په جواب كي يوه جمله دتاكيد دپاره دوه واره وفرمايله ، كَلَّا سَيَعْلَمُونَ، ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ د ، كَلَّا معنٰى ده هيڅكله نه، مراد دا دى چي دا په سوال جواب او بحث او تحقيق سره په خيال كي راتلونكى شى نه دى ، دا خو چي كله مخ ته راسي ، هغه وخت به حقيقت معلوم سي ، دا يو داسي يقيني شى دى په كوم كي چي دبحث او سوال او انكار څه ګنجائش نسته ، بيا يې وفرمايل چي ددې حقيقت به په خپله دې خلګو ته ډير ژر واضح سي ، يعني دمرګ څخه وروسته به دوى ته دبل عالَم شيان ښكاره سي او دهغه ځاى هولناك مناظر به په سترګو

سره ووینی ، هغه وخت به حقیقت ښکاره سی ، ددی څخه الله ﷻ دخپل کامل قدرت اوحکمت اوصنعت یو څو مناظر ذکر وفرمایل په کومو سره چی دا واضحه کیږی چی دالله ﷻ دکامل قدرت څخه دا څه بعیده نه ده چی هغه دا ټول عالم په یو وار فنا کی اودوباره یی بیا دغسی کړی په دی کی دمځکی او ددی دغرونو دتخلیق ، بیا دانسان دتخلیق دسړی او ښځی دجوړی په صورت کی یی بیان وفرمایی ، بیا دانسان دراحت اوصحت اوکاروبار دپاره دمناسبو حالاتو پیدا کولو ذکر وفرمایل سو ، په دی کی یودا ارشاد دی ، وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا : سبات دسبت څخه مشتق دی چی معنی یی پرېکول ، قطع کول دی خوب الله ﷻ داسی شی جوړ کړی دی چی دا دانسان ټول غمونه اوفکرونه قطع او دده زړه اودماغ ته داسی راحت ورکوی چی ددنیا هیڅ راحت ددی بدل نه سی کیدی ، په دی وجه دسُبات ترجمه ځینو حضراتو په راحت سره هم کړي ده .

(خوب ډیر لوی نعمت دی)

دلته حق تعالی دانسان دجوړی جوړولو دذکر فرمایلو څخه وروسته دده دراحت په ټولو سامانونو کی په خاص طورسره دخوب ذکر فرمایلی دی چی فکر په وسی نو دا یو داسی عظیم الشان نعمت دی چی دانسان دټولو راحتونو مدار دا دی او دا نعمت الله ﷻ دټول مخلوق دپاره داسی عام فرمایلی دی چی امیر، غریب، عالم، جاهل، بادشاه، اومزدور ټولوته دادولت یوشان په یووخت ورکول کیږی ، بلکه ددنیا دحالاتو تجزیه چی وسی نوغریبانو اومحنت کشوونکو ته چی دانعمت څنګه حاصلیږی دامالدارو او ددنیا لویو خلګو ته نه نصیب کیږی ، د دوی سره دراحت سامان ، دراحت مکان ، دهوا اودیخ ، ګرمی داعتدال ځای ، نرمی بستری ، تکیی هرڅه وی کوم چی دغریبانو سره ډیرکم وی مګر دخوب نعمت ددی تکیو، بسترو یاکوټو بنګلو دفضا تابع نه دی، دا خو دحق تعالی یونعمت دی، سیده په سیده دهغه دطرف څخه ورکول کیږی ، ځینی وخت مفلس بی سامان ته بغیردڅه بستری اوتکیی پرډاګه مځکه دا نعمت په پریمانی سره ورکول کیږی اوځینی وخت سازوسامان والاؤ ته نه ورکول کیږی دوی ته خوب په ګولو ورځی ، اوځینی وخت دغه ګولی هم کارنه کوی ، بیاچی فکر وکی چی دا نعمت الله ﷻ څنګه دټول مخلوق انسانانو اوحیوانانو دپاره عام فرمایلی دی او مفت بغیر دڅه محنت څخه یی ټولو ته ورکړی دی ددی څخه لوی نعمت دا دی چی صرف مفت بغیر دڅه محنت څخه نه بلکه په خپل کامل رحمت سره یی دانعمت جبری جوړ کړی دی چی انسان ځینی وخت دکارپه ډیروالی سره مجبوره سی اوغواړی چی ټوله شپه وینښ وی مګر رحمت حق ﷻ په ده جبراً خوب مسلط کی او دی بیده کړی چی دټولی ورځی ستړی والی یی لیری سی اودزیات کار کولو دپاره یی قوی تیزه سی، مخ ته دخوب ددی عظیم نعمت تکمله بیان فرمایی چی ، وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ لِبَاسًا یعنی شپه مونږ دپټیدو شی جوړه کړي ده ، اشاره دی طرف ته ده چی انسان ته فطرتًا خوب هغه وخت ورځی کله چی رڼا زیاته نه وی هرطرف ته سکون وی شور اوشغب نه وی حق تعالی شپی ته لباس یعنی داغوستلو او دپټولو شی وفرمایی او اشاره یی وکړه چی قدرت تاسی ته صرف دخوب کیفیت درنه کی ، بلکه په ټول عالم کی یی داسی حالات پیداکړل چی دخوب دپاره مناسب

وی اول دشپې تیاره دوهم په ټول عالم انسان اوحیوانانو ټولوپه یووخت دخوب مسلط کیدل چې کله ټوله بیده سی نو په پوره عالم کې به سکون وی کنه نو دنورو کارونو په شان که دخوب وختونه هم دمختلفو خلګو مختلف وای ، نو چاته به دخوب په وخت کې سکون نه وای حاصل .

ددی څخه وروسته ارشاد فرمایي ، وَجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشًا : چې دانسان دراحت اوسکون دپاره دا هم ضروری ده چې ده ته دخوراك اونور ضرورتونه ورکول سی ، کنه نو خوب به مرګ سی که هر وخت شپه اوشپه وی اوبنده پرمخ بیده وی ، نو دا شیان به څنګه حاصلیدلی، ددی دپاره دجد اوجهد اومحنت اومنډی ترنډی ضرورت دی ، کوم چې په رڼا کې کیدی سی ، په دی وجه فرمایي چې ستاسی دراحت مکمل کولو دپاره مونږ یوازی شپه او ددی تیاره نه ده جوړه کړی بلکه یوه رڼا ورځ موهم درکړه ، په کومه کې چې تاسی کاروبار کوی اوخپل معاشی ضرورتونه حاصل کړی سی . فَتَبَارَكَ اللهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ .

ددی څخه وروسته دانسان دهغه سامان دراحت ذکردی کوم چې دآسمان سره متعلق دی په دغوکی دټولو څخه نفع بخش شی دلمر رڼا ده ، ددی ذکر فرمایي ، وَجَعَلْنَا سِرَاجًا وَّهَّاجًا : یعنی مونږ لمر یو روښانه بلیدونکی څراغ جوړ کی ، بیا تر آسمان لاندی چې یی کوم شیان دانسان دراحت دپاره پیدا کړل ، په دغو کی زیات دضرورت شی اوبه اوورونکی وریخ ده ، ددی ذکر فرمایي ، وَأَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرَاتِ مَاءً ثَجَّاجًا : مُعْصِرٰت دمُعْصِرَةٌ جمع ده کوم چې داوبو څخه ډکی داسی وریځی ته ویل کیږی چې اوریدونکی وی ددی څخه معلومه سوه چې باران دوریځو څخه کیږی اوپه کومو آیتونوکی چې یی دآسمان څخه دنازلیدو ذکردی یاخوبه په دغوکی هم دآسمان څخه مراد فضاءِ آسمانی وی لکه چې په قرآن کې دسماء لفظ ډیر ددی معنی دپاره راغلی دی ، اویابه دا وویل سی چې ځینی وخت سیده په سیده دآسمان څخه هم باران راتلی سی ددی څخه دانکار هیڅ وجه نسته ، دقدرت ددی ټولو صنائعو او انعامات ربانی دذکر کولو څخه وروسته بیا داصل مضمون قیامت طرف ته رجوع ده .

إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيقَاتًا : یعنی دفیصلی ورځ دکومی څخه چې مراد قیامت دی ، هغه یو موقت او متعین حددی چې دا دنیا په کی ختمیږی کله چې شپیلی ووهل سی او دنورو آیتونو څخه معلومیږی چې شپیلی به دوه واره ووهل سی ، په اولی شپیلی سره به ټول عالم فنا سی ، په دوهمی شپیلی سره به بیا ژوندی اوقائم سی، ددی دوهمی شپیلی په وخت کی به ټول عالم مخکنی او وروستنی انسانان دخپل رب په مخکی فوجونه فوجونه حاضریږی ، دحضرت ابوذرِ غفاری ؓ څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې خلګ به دقیامت په ورځ په دری فوجونوکی تقسیم سی ، یو فوج به دهغو خلګو وی کوم چې به په ډك نس ، لباس اغوستی، پرسپرلیو سپاره میدان دحشرته راځی ، دوهم فوج به دپیاده خلګو وی کوم چې به پیاده میدان دحشرته راځی ، دریم فوج به دهغو خلګو وی کوم چې به پرمخی میدان دحشرته راکشیږی (مظهری په روایت دنسایی اوحاکم اوبیهقی)

په ځینو روایتونوکی دفوجونو تشریح په لس قسمه فوجونه سره سوي ده او ځینو حضراتو فرمایلی دی ، چې دمحشر دحاضرینو به بی شمیره جماعتونه دخپلو خپلو عملونو اوکردار په اعتبار سره وی ، په دی

اقوالو کی څه تضاد نسته ټول جمع کیدی سی.

وَسُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا د: سُيِّرَتْ څخه مراد دا دی چی غرونه کوم چی په ثبات اوقرار کی په طور دمثال پیش کیږی ، دا ټول به خپل خپل ځایونه پریږدی ، خَسْ خَسْ به سی په هوا کی به والوزی ، دسراب لفظی معنٰی ذهاب یعنی تلل دی دځنګل هغه شګه کومه چی دلیری څخه داوبو په شکل په نظر راځی ، دی ته هم سراب په دی بنا ویل کیږی چی دی ته څومره نژدی کیږی نو دنظر څخه لیری وزی (لکه چی داسی په صحاح او راغب کی دی)

إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا : مِرْصَاد هغه ځای دی کوم ځای چی څوك کښیني او دیو چا نګرانی یا انتظار کوی دلته دجهنم څخه مراد دجهنم پل یعنی پلِ صراط دی کوم ځای چی ثواب ورکوونکی اوعذاب ورکوونکی دواړه قسمه ملائکی انتظار کوی ، دوږخیان به دعذاب ملائکی نیسی اوجنتیان به دثواب ملائکی د دوی مقام ته رسوی (مظهری)

حضرت حسن بصری رحمه الله فرمایی چی دجهنم پر پُل باندی به دنګرانو ملائکو پوسته وی چی دچاسره دجنت دتلو پروانه وی هغوی به پریږدی چی په پل باندی پوری وزی ، دچاسره چی پروانه نه وی هغه به منع کوی (قرطبی)

لِلطَّاغِينَ مَآبًا : ظاهره ده چی لِلطغين د، مَآبًا متعلق دی او دا د، إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ دوهم خبر دی ، دغه شان معنٰی د دواړو جملو دا ده چی دجهنم پل خو دهرنیك اوبد دپاره انتظارګاه ده، دټولو به پردی باندی تیریدل وی اوجهنم دطاغینو دپاره مستقر اوټکانه ده ، طاغین دطاغی جمع ده او دطغیان څخه مشتق دی چی معنٰی یی ده سرکښی اوطاغی هغه سړی ته ویل کیږی کوم چی په سرکښی اونافرمانی کی دحد څخه تیرسی ، اوداهله کیدی سی کله چی هغه دایمان څخه ووزی، په دی وجه دطاغین څخه مرادبه دلته کفاروی او دا هم احتمال دی چی ددی څخه مراد هغه بدعقیده ګمراه دمسلمانانو فرقی وی کوم چی دقرآن اوسنت دحدودو څخه وتلی وی که څه هم صراحةً یی کفر نه وی اختیار کړی لکه روافض، خوارج، معتزله اونور (مظهری)

لَبِثِينَ فِيهَا أَحْقَابًا، لَابِثِينَ د: لَابِث جمع ده چی معنٰی یی پاته کیدل اوقیام کول دی ، احقَاب دحِقَبه جمع ده، اوږدی زمانی ته حِقَبه ویل کیږی ، ددی په مقدارکی اقوال مختلف دی ، ابن جریر دحضرت علی کرم الله وجهه څخه ددی مقدار اتیا کاله نقل کړی دی اوهر کال دولس میاشتی اوهره میاشت دیرش ورځی اوهره ورځ زر کاله ، دغه شان تقریبًا دوه کروړه اته اتیا لکه کاله یوه حقبه سوه، اوحضرت ابوهریره رضی الله عنه دعبد الله ابن عمر رضی الله عنه ابن عباس رضی الله عنه اونورو څخه مقدار دحقبی داتیا په ځای اویا کاله مقرر کړل سوی دی ، باقی حساب هم دغه دی (ابن کثیر)

مګرپه مسندبزازکی دحضرت عبد الله ابن عمر رضی الله عنه څخه مرفوعًا دا منقول دی چی نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی

لَايَخْرُجُ اَحَدُكُمْ مِنَ النَّارِحَتّٰى يَمْكُثُ فِيهِ اَحْقَابًا وَالحقب بِضْعٌ وَثَمَانُوْنَ سَنَةً كُلُّ سَنَةٍ ثَلٰثُ مِئَةٍ وَسِتُّوْنَ يَوْمًامِمَّا تَعُدُّوْنَ (مظهری)

په تاسي کي چي کوم خلګ دګناهونو په سزا کي جهنم ته وغورځول سي ، څوك به ترهغه وخته پوري دجهنم څخه ونه وزي ترڅو چي په هغه کي څو احقابه پاته نه سي اوحقبه څه دپاسه اتيا کاله دي اوهرکال دري سوه شپيته ورځي دي ، ستاسي دموجوده ورځو مطابق .
په دي حديث کي که څه هم ددي ذکر سوي آيت تفسير بيان نه دي ، مګرپه هرحال دلفظ داحقاب دمعنٰی بيان دي ، دڅو اصحابو کرامو ﷺ څخه چي کومه په دي کي هره ورځ دزرو کالو منقول ده که دايي هم دنبي کريم ﷺ څخه اوريدلي وي نو دحديث په روايتونوکي تعارض وسو، ددي تعارض په وخت کي پريوه باندي جزم اويقين خونه سي کيدی ، مګر دومره خبره خو په دواړو روايتونوکي مشترك ده چي حقبه ياحقب ډيري اوږدي زماني نوم دي په دي وجه بيضاوي دَاحقابًا تفسير په ، دُهُورِ مُتَتَابِعه ، سره کړي دي ، يعني پرله پسي ډيري زماني .

﴿دجهنم په خلود او دوام باندي اشکال اوجواب﴾

دحقبه مقدارکه هرڅومره داوږد څخه اوږد مقررسي ، په هرحال دغه متناهي اومحدود دي ، ددي څخه دا معلوميږي چي ددي اوږدي مودي څخه وروسته به دجهنم کفارهم دجهنم څخه وزي حال دا دي چي دا دقرآن دنورو واضحونصوصو څخه خلاف ده په کوموکي چي، خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا : الفاظ راغلي دي او په دي وجه دامت پردي اجماع ده چي نه به جهنم هيڅکله فناسي ، نه به کفار هيڅکله ددي څخه ويستل سي .
سُدّي دحضرت مرّه بن عبدالله څخه نقل کړي دي چي دجهنم کفاروته که داخبر ورکول سي چي ددوی قيام به په جهنم کي دټولي دنيا دشګو برابروی نوهغوی به په دي هم خوشحاله سي چي داشګي که داربونو کربونو په شميرکي هم وي خوختم به سي اويو وخت نه يو وخت خوبه ددي عذاب څخه خلاص سو اوکه جنتيانو ته داخبر ورکول سي چي ددوی قيام به په جنت کي دټولي دنيا دشګو دشمير برابر وي نوغمجن به سي چي که هرڅومره دازمانه اوږده ده خوبيا به هم ختميږي اوددي څخه وروسته به دجنت څخه ويستل سو (مظهري) په هرحال په دي آيت کي د، احقابًا په لفظ سره که دامعلوميږي چي دڅواحقابو څخه وروسته به جهنميان کفار هم دجهنم څخه ويستل سي دټولو نصوصو اودامت داجماع څخه دخلاف کيدو پربنا به دامفهوم معتبرنه وي، څکه چي په دي آيت کي خو ددي وضاحت هم نسته چي داحقاب تيريدو څخه وروسته به څه وي صرف دومره ذکردي چي داحقابو تروخت پوري به دوی په جهنم کي وي يا دا چي خلګ به ددي څخه ويستل سي ، په دي وجه حضرت حسن رحمه الله ددي په تفسيرکي فرمايي چي په دي آيت کي الله ﷻ دجهنميانو دپاره دجهنم څه ميعاد او وخت نه دي مقرر فرمايلي چي ددي څخه وروسته د دوی وتل وګنل سي ، بلکه مطلب دا دي چي کله يوه حقبه زمانه تيره سي نوبله به شروع سي ، دغه شان د دوهمی څخه وروسته دريمه څلورمه تردي چي ترابد الاباد پوري به دا سلسله جاري وي اوسعيدبن جبير رضي الله عنه دقتاده رضي الله عنه څخه هم دا تفسير روايت کړي دي چي داحقاب څخه مراد هغه زمانه ده دکومي انقطاع اوانتهاء چي نسته ، بلکه چي يو حقب ختم سي نو بل حقب بد شروع سي اودا سلسله به ترابده پوري وي (ابن کثير اومظهري)

اودلته یوبل دوهم احتمال هم دی کوم چی ابن کثیر د، یَحْتَمِلُ په لفظ سره بیان کړی دی اوقرطبی فرمایی چی دا خبره هم ممکنه ده اومظهری دا اختیار کړي ده ، هغه احتمال دا دی چی په دی آیت کی دلفظ دطاغین څخه مراد کفار وانه خستل سی ، بلکه هغه اهلِ توحید کوم چی دباطلو عقیدوپه سبب داسلام په ګمراه فرقوکی شمارکیږی کوموته چی دمحدثینو په اصطلاح کی اَهْلِ اَهْوا وایی هغه مراد ری نو دآیت مطلب به دا وی چی داسی اهل توحید کلمه ویونکی کوم چی دباطلو عقیدو دساتلوپه سبب دکفر حدونو ته رسیدلی وی مګر صریح کافرنه وی ، هغوی به داحقابو تروخت پوری په جهنم کی دپاته کیدو څخه وروسته اخر دتوحید دکلمی په برکت دجهنم څخه ویستل سی .

مظهری ددی احتمال په تائید کی هغه مرفوع حدیث هم پیش کړی دی کوم چی لوړ دحضرت عبدالله ابن عمر‌ؓ څخه په حواله دمسند بزار نقل سوی دی په کوم کی چی دوی دابیان فرمایلی دی چی داحقاب دوخت دتیریدو څخه وروسته به دغه خلګ دجهنم څخه راویستل سی ، مګر ابوحیان فرمایی چی وروپسی آیت ، اِنَّهُمْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ حِسَابًا، وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا كِذَّابًا : ددی احتمال منافی دی چی دطاغینو څخه مراد دلته داهل توحید ګمراه فرقی وی څکه چی په دی اخری ایتونوکی دقیامت دانکار اودتکذیب درسولانو وضاحت دی، دغه شان ابوحیان دمقاتل داقول هم فاسد مقررکړی دی چی دا آیت منسوخ ومنل سی .

اودمفسرینو یوجماعت دریم احتمال ددی آیت په تفسیرکی دامقررکړی دی چی ددیٰ آیت څخه وروسته جمله ، لَا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَلَا شَرَابًا، إِلَّا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا دا د: اَحْقَابًا څخه جمله حالیه وی اومعنیٰ دایت دا وی چی داحقاب تراوږدی زمانی پوری به داخلګ نه دیخی خوند داری هوا خوند وځکی اونه به دخوراك اوڅښلو شی بغیر دحمیم اودغساق څخه ، بیا داحقاب تیریدو څخه وروسته کیدی سی چی داحال بدل سی اوبل قسم عذاب شروع سی ، حمیم هغه ګرمی اوبه دی چی کله مخ ته نژدی سی نوغوښه به ورڅخه وسوزی اوکله چی خیټی ته ورواچول سی نو دننه ټول اعضاء به ټوټی ټوټی سی اوغسّاق هغه وینه نوونه اونور دی کوم چی د دوږخیانو دجسمونو څخه راوزی .

جَزَاءً وِفَاقًا : یعنی کومه سزا چی دی دوږخیانوته ورکول کیږی ، هغه به د دوی دباطلو عقیدو او بدو عملونو مطابق وی ، دعدل او انصاف په وجه به په هغه کی څه زیاتی نه وی .

فَذُوقُوا فَلَنْ نَزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا : یعنی لکه څنګه چی تاسی په دنیاکی په خپل کفر اوانکارکی په مخه زیاتوب کوی اوکه جبراً تاسی ته مرګ نه وی راغلی نو نوربه زیاتیداست، دغه شان نن دهغه جزاء دا ده چی ستاسی عذاب پرمخ زیاتیږی تردی ځایه پوری دکفارو اوفاجرانودسزا بیان وو مخ ته ددی په مقابله کی دمومنانو متقیانو دثواب او دجنت دنعمتونو ذکر دی ، ددی نعمتونو دذکر کولو څخه وروسته فرمایی .

جَزَاءً مِنْ رَبِّكَ عَطَاءً حِسَابًا : یعنی لوړ چی دجنت دکومو نعمتونو ذکر راغلی دی ، داجزاء ده دمومنانو دپاره او عطاء ده د دوی درب دطرف څخه عطا ډیره دلته یی دا نعمتونه اول دعملونو جزاء وښوولې ، بیا یی عطاء ربانی ، په ظاهره په دی دواړوکی تضاد دی ، څکه چی جزاء هغه شی ته ویل کیږی کومه چی دڅه شی په بدله کی وی اوعطاء هغه ده کومه چی بغیر دڅه بدلی څخه په طور دانعام اواحسان وی ،

قرآن کریم دا دواړه لفظونه یوځای جمع کړل او دی طرف ته یی اشاره وکړه چی په جنت کی داخلیدل او ددی نعمتونه صرف په ظاهره اوصورت په اعتبار سره خو دجنتیانو دعملونو جزاده ، لیکن دحقیقت په اعتبار سره دغه خالصه عطاء ربانی ده ، ځکه چی انسانی عملونه خودهغو نعمتونو بدله هم نه سی جوړیدی کوم چی دوی ته په دنیاکی ورکول کیږی ، داخرت دنعمتونو حصول خوصرف دحق تعالی فضل اوانعام اومحضی عطاء ده ، لکه چی په حدیث کی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی یو سړی په خپل عمل سره جنت ته نه سی تللی ترڅو چی دالله ﷻ فضل اوکرم نه وی ، صحابه کرامو﷢ عرض وکی ، چی آیا تاسی هم ؟ دوی وفرمایل چی هوا زه هم په خپل عمل سره جنت ته نه سم تللی .

او دلفظ د ، حِسَابًا دوی معناوی کیدی سی دتفسیرپه امامانوکی ځینو اوله اوځینودوهمه معنیٰ اخستی ده ، اوله معنیٰ ، حِسَابًا عَطَاءً، کَافِيًا كَثِيرًا، یعنی داسی عطاء کومه چی دده دټولو ضرورتونو دپاره کافی او ډیره وی ، دا معنیٰ ددی محاوری څخه اخستل سوي ده ، اَحْسَبْتُ فُلَانًا، یعنی د ، اَحْسَبْتُ لفظ ددی معنیٰ دپاره راځی ، چی ماهغه ته دومره ورکړل چی دهغه دپاره بالکل کافی سوه ، تردی چی ویی ویل ، بس دا زما دپاره ډیر دی او دوهمه معنیٰ دحساب موازنه اومقابله هم راځی ، حضرت مجاهد دلته دامعنیٰ اخستی ده او دآیت معنیٰ یی دامقرر کړی ده چی داعطاءِ ربّانی به په جنتیانو د دوی دعملونو په حساب سره ښندل کیدونکی وی ، په دی عطآء کی درجی په حساب داخلاص اواحسانِ عمل وی لکه چی په صحیح احادیثوکی یی دصحابه کرامو﷢ دعملونو درجه دباقی امت دعملونو په مقابله کی دامقرر کړي ده چی صحابی که دالله ﷻ په لاره کی یو مُد خرخ کړی کوم چی تقریبًایو سیردی اوغیرصحابی دا ُحد دغره هومره خرخ کړی نو دصحابی ﷜ دغه یومُد به ددغه غره څخه زیات وی . والله تعالی اعلم

لَا يَمْلِكُونَ مِنْهُ خِطَابًا : ددی جملی تعلق داولی جملی ، جَزَاءً مِنْ رَبِّكَ عَطَاءً : سره هم کیدی سی ، نومعنیٰ به یی دا وی چی حق تعالی چاته دکومی درجی ثواب ورکی په هغه کی به چاته دخبرو کولو مجال نه وی ، چی فلانی ته زیات فلانی ته کم ولی ورکول سول اوکه داجدا جمله مقرر سی نومطلب به دا وی چی په محشر کی به چاته بغیر دحق تعالی داجازت څخه دخطاب کولو اختیارنه وی ، اودا اجازت به په ځینو مواقفو دحشر کی وی ، په ځینوکی به نه وی .

يَوْمَ يَقُومُ الرُّوحُ وَالْمَلَائِكَةُ صَفًّا : دروح څخه مراد دځینو امامانو دتفسیر په نزد جبرائیل امین دی ، د دوی ذکر دعامو ملائکو څخه اول د دوی دعظمت شان داظهار دپاره دی اوپه ځینو مرفوعو روایتونوکی دی چی روح دالله ﷻ یو عظیم الشان لښکر دی کوم چی ملائکی نه دی ، دوی سرونه لاسونه اوپښی لری ددی تفسیر په بنا ګویا دوه صفونه به وی ، یو صف دروح اوبل دملائکو .

يَوْمَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ : ظاهره ده چی ددی څخه مراد دقیامت ورځ ده او په محشرکی به هرسړی خپل عملونه په خپلو سترګو سره وويني برابره خبره ده که داسی وی چی عملنامه به دده په لاس کی راسی هغه به وويني یا داسی چی عملونه به په محشرکی مجسم او متشکل سی اومخ ته به راسی لکه چی دحدیثو دځینو روایتونو څخه ثابته ده اواحتمال داهم دی چی ددی ورځی څخه مراد دمرګ ورځ وی او دخپلو

عملونو لیدل په قبر او برزخ کی وی (لکه په مظهری کی دا سی دی)
وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَا لَيْتَنِي كُنتُ تُرَابًا : دحضرت عبد الله ابن عمرؓ څخه روایت دی چی دقیامت په ورځ به ټوله
مځکه یوه هواره سطح جوړه سی چی انسانان ، پیریان په مځکه گرځیدونکی پالتو ځناوران اووحشی
حیوانان ټول به پرجمع سی اوپه حیوانانوکی چی چا پرچا ظلم کړی وی په دنیاکی نودهغه څخه به دهغه
بدل واخستل سی ، تردی چی که یوی ښکرو والا بیزی بی ښکرو والا بزه وهلی وی نوپه دغه ورځ به
دهغه بدله هم واخستل سی کله چی ددی څخه فارغه سی نوټولو حیوانانوته به حکم وسی چی خاوری
سی نو هغه به ټول خاوری سی ، دغه وخت به کافران خلگ دا ارزو وکی چی کاشکی! مونږ هم حیوانان
وای اوخاوری سوی وای او دحساب کتاب او جهنم دسزا څخه محفوظ سوی وای ، نعوذ بالله منه .
والله سحبانه وتعالی اعلم

تمّت سورة النّبَا بحمد الله لیلة الجمعة ۲ شعبان سنه ۱۳۹۱ھ

﴿سورة النزعات﴾

سُوْرَةُ النّٰزِعٰتِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ سِتٌّ وَّاَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة نازعات په مکه کی نازل سو او په دی کی شپږ څلویښت (۴۶) آیتونه او دوه (۲) رکوع گانی دی .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی .

وَالنّٰزِعٰتِ غَرْقًا ۝١ وَّالنّٰشِطٰتِ نَشْطًا ۝٢ وَّالسّٰبِحٰتِ سَبْحًا ۝٣

قسم دی په راکښونکو په غوټه وهونکو ، اوبند خلاصوونکو کلا وهونکو ، او په لامبو وهونکو په تیزی سره

فَالسّٰبِقٰتِ سَبْقًا ۝٤ فَالْمُدَبِّرٰتِ اَمْرًا ۝٥ يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ ۝٦

بیا په مخکی کیدونکو په خفستا سره ، بیا په تدبیر کوونکو دحکم سره ، په کوم ورځ چی وښوری ښوریدونکی

تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ ۝٧ قُلُوْبٌ يَّوْمَئِذٍ وَّاجِفَةٌ ۝٨ اَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ ۝٩

وروپسی راسی ، خومره زړونه به په دغه ورځ ټوپونه وهی ، د دوی سترگی به کښته وی ،

يَقُوْلُوْنَ ءَاِنَّا لَمَرْدُوْدُوْنَ فِي الْحَافِرَةِ ۝١٠ ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا نَّخِرَةً ۝١١

خلق به وایی چی آیا مونږ بیرته گرځیدونکی یو اول حال ته ، آیا هرکله چی مونږ سو هډوکی رژیدلی

قَالُوا تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ﴿١٢﴾ فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ ﴿١٣﴾ فَإِذَا
وایي دغه خو بیا به واپسی وی دتاوان ، نو بیشکه دغه خو یو اواز دی ، نو دغه
هُمْ بِالسَّاهِرَةِ ﴿١٤﴾ هَلْ أَتٰىكَ حَدِيثُ مُوسٰى ﴿١٥﴾ إِذْ نَادٰهُ
به وی په ډاګ میدان ، آیا راغلی ده تاته خبره دموسی ﷺ ، هرکله چی اوازوکی
رَبُّهُ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٦﴾ اذْهَبْ إِلٰى فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغٰى ﴿١٧﴾
ده ته رب دده په پاک میدان کی چی نوم یی طوی دی ، ولاړسه فرعون ته چی هغه سرکښه سوی دی ،
فَقُلْ هَلْ لَكَ إِلٰى أَنْ تَزَكّٰى ﴿١٨﴾ وَأَهْدِيَكَ إِلٰى رَبِّكَ فَتَخْشٰى ﴿١٩﴾
بیا ورته ووایه آیا ستا زړه غواړی چی ته پاك سی ، او لار وښییم تاته ستا درب طرف ته نو ته بیریږي
فَأَرٰىهُ الْآيَةَ الْكُبْرٰى ﴿٢٠﴾ فَكَذَّبَ وَعَصٰى ﴿٢١﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ يَسْعٰى ﴿٢٢﴾
بیایی وښووی هغه ته لوی غټی نښانی ، بیا هغه دروا غجن کی او وې نه منله ، بیا په شا سو تلاش یی وکی
فَحَشَرَ فَنَادٰى ﴿٢٣﴾ فَقَالَ أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلٰى ﴿٢٤﴾ فَأَخَذَهُ اللّٰهُ نَكَالَ
بیا یی جمع کړل پس اوازیی وکی ، نو پس وویی ویل زه ستاسی رب یم لوی ، بیا ونیوی دی الله ﷻ په سزا
الْآخِرَةِ وَالْأُولٰى ﴿٢٥﴾ إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِمَنْ يَخْشٰى ﴿٢٦﴾ ءَأَنْتُمْ
دآخرت کی او ددنیا کی ، بیشکه په دی کی عبرت دی دهغو دپاره چی بیره په کی وی ، آیا
أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ السَّمَاءُ ۚ بَنٰىهَا ﴿٢٧﴾ رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوّٰىهَا ﴿٢٨﴾ وَأَغْطَشَ
ستاسی جوړول مشکل دی اوکه دآسمان ، جوړ یی کی هغه ، اولوړ یی کی دهغه جسم ، بیایی برابر کی تیاره
لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحٰىهَا ﴿٢٩﴾ وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ دَحٰىهَا ﴿٣٠﴾
یی کړه شپه ددې اوښکاره یی کړه ددې غرمه ، او مځکه یی ددې څخه وروسته صفا خپره کړه ،
أَخْرَجَ مِنْهَا مَاءَهَا وَمَرْعٰىهَا ﴿٣١﴾ وَالْجِبَالَ أَرْسٰىهَا ﴿٣٢﴾ مَتَاعًا لَكُمْ
را وی ایستل دمځکی څخه ددې اوبه او وابنه ، او غرونه یی قائم کړل ، کار چلول ستاسی

وَّلِاَنْعَامِكُمْ ٣٣ فَاِذَا جَآءَتِ الطَّآمَّةُ الْكُبْرٰى ٣٤ يَوْمَ يَتَذَكَّرُ

اوستاسي دحيوانانو ، بيا چي كله راسي هغه لويه هنگامه ، په كومه ورځ چي ياد كړي

الْاِنْسَانُ مَا سَعٰى ٣٥ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيْمُ لِمَنْ يَّرٰى ٣٦ فَاَمَّا مَنْ طَغٰى ٣٧

انسان څه چي ده كړي دي، او ظاهر كړل سي دوږخ هغه چاته چي يي غواړي ليدل ، نوچاچي كړي وي شرارت

وَاٰثَرَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ٣٨ فَاِنَّ الْجَحِيْمَ هِيَ الْمَاْوٰى ٣٩ وَاَمَّا مَنْ

او خوښ كړي يي وي ددنيا ژوند ، پس بيشكه دوږخ دده خاى دي ، او څوك چي وبيريدى

خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى ٤٠ فَاِنَّ الْجَنَّةَ

دخپل رب په مخكې د دريدو څخه اومنع يي كې خپل نفس دخواهشاتو څخه ، پس بيشكه جنت

هِيَ الْمَاْوٰى ٤١ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ مُرْسٰهَا ٤٢ فِيْمَ اَنْتَ

دده خاى دي ، پوښتنه كوي ستا څخه دهغه وخت چي كله به وي قيام دهغه ، ستا څه واسطه ده

مِنْ ذِكْرٰىهَا ٤٣ اِلٰى رَبِّكَ مُنْتَهٰىهَا ٤٤ اِنَّمَآ اَنْتَ مُنْذِرُ مَنْ يَّخْشٰىهَا ٤٥

دهغه دذكرسره، ستارب ته دي رسيدل دهغه ، ته خو بيروونكى يي دهغو دپاره چي دهغه څخه بيريږي

كَاَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوْٓا اِلَّا عَشِيَّةً اَوْ ضُحٰىهَا ٤٦

گوياداسي به وي كومه ورځ چي ووينى هغه چي دوى نه دي پاته سوي په دنياكي مگر يوماښام يا يو سهارددي

لنډتفسير: قسم دي په هغو ملائكوكوم چي (دكافرانو) روح په سختي سره باسي اوكوم چي (دمسلمانانو) روح په اساني سره باسي گويا د دوى) بند خلاصوي اوكوم چي (روحونه واخلي دمځكي څخه داسما طرف ته په داسي سرعت اوسهولت سره لكه چي گويا) لامبو وهي رواني وي بيا (ددي ارواحو متعلق دثواب حكم وي يا دعذاب په دواړو كارونو كي) دهركار تدبير كوي (په دي ټولو قسم اخلي وايي چي) قيامت به خامخا راځي په كومه ورځ چي ښورونكي شي وښوروي (مراد ورڅخه اوله شپيلۍ ده دكوم څخه وروسته چي به يو كرار ستر) راتلونكي شي راسي (مراد دوهمه شپيلۍ ده) ډير زړونه به په دغه ورځ درزيږي دهغوى ستر گي به (دپښيماني څخه) كښته وي (مگر داخلگ دقيامت څخه انكار كوي او) وايي چي آيا مونږ به په اول حالت كي بيا راپورته سو (د اولني حالت څخه مراد دمرگ څخه مخكي ژوند دي

یعني آیا دمرګ څخه وروسته به بیا دوهم ژوند وی ؟ (مقصود استبعاد دی چې داځنګه کیدی سی) آیا کله چې مونږ رژیدلی هډوکی سو بیابه (ژوندته) را وګرځو (مقصود ورڅخه استبعاد دی چې دا خو سخته ګرانه ده) وي ویل چې (که داسی وسی نو) په دی صورت کی خو داواپسی (زمونږ دپاره) دلویې خساری به وی (ځکه چې مونږ خو ددی دپاره هیڅ سامان نه دی تیار کړی ، مقصود ددی څخه مسخری وی په اهل حق پوری په دی عقیده درلودلو سره یعنی د دوی په عقیده به مونږ په لویه خساره کی یو ، لکه څوك چې یو څوك په خیر خواهی سره وبیروی چې په دی لار مه ځه زمری به دربانده ی پیښ سی او مخاطب د تکذیب په طور باندی چاته ووایی چې وروره ! که په دی لار ولاړی نو زمری به دی وخوری مطلب دا چې په دغه لاری زمری اونور هیڅ هم نسته ، مخ ته ددی مذکوره استبعاد اوګرانوالی رد دی چې داخلګ کوم چې قیامت ته بعید او مشکل وایی) نو (پوه دی سی چې مونږ ته هیڅ مشکل نسته بلکه) هغه خو به یو سخت اواز وی په کوم سره چې به ټول خلګ فوراً په میدان کی راسی موجود سی (مخ ته د درواغجن کوونکو په بیرولو او درواغجن کولو باندی دوی ﷺ ته دتسلی دپاره دموسیٰ ؈ قصه دفرعون سره بیانوی نو فرمایی چې) آیا تاته دموسیٰ ؈ قصه رسیدلی ده کله چې هغوی ته دهغه پروردګار په یوپاك میدان یعنی طوٰی کی (دا ددغه میدان نوم دی) اواز وکی چې ته فرعون ته ولاړسه هغه لوی شرارت اختیارکړی دی نو هغه ته ولاړسه) ووایه چې آیا تاته ددی خبری خواهش سته چې ته سم سی او (ستا دسموالی په غرض سره) زه تاته ستادرب طرف ته (دهغه دذات اوصفاتو) رهنمایی وکړم نوچې ته (دالله ﷻ ذات او صفات واوری اودهغه څخه) وبیریږی (اوپه دی بیره سره ستا دسموالی وسی غرض داچې حکم یې واوریدی نوموسیٰ ؈ هغه ته ولاړی اوپیغام یې ورسوی) بیا (کله چې هغه دنبوت دلیل طلب کی نو) هغه ته یې لویه نښانه (دنبوت) وښووله (مراد معجزه دهمساده یاپه اراده دجنس مجموعه عصًا اوید بیضاء دی) نو هغه (فرعون دی) درواغجن کی او (دده) خبره یې ونه منله بیا (دموسیٰ ؈ څخه) جلا سو (دهغه خلاف یې) کوشش کول شروع کړل او (خلګ) جمع یې کړه بیا (دهغوی په مخکی) په لوړ اواز یې تقریر وکی وېی ویل چې زه ستاسی رب اعلیٰ یم (داعلیٰ قیدیې دواقعې په طور وویل ، نو اصل مقصود اَنَارَبُّکُمْ دی او اعلیٰ یې صفت مادحه زیات کی اواحترازی نه دی په کوم سره چې دغیر اعلیٰ بل رب ثبوت هم وی) نو الله ﷻ هغه داخرت اوددنیاپه عذاب کی ونیوی (ددنیا عذاب خو غرقیدل دی اواخروی عذاب سوزول وی) بیشکه په دی (واقعه) کی دداسی سړی دپاره لوی عبرت دی کوم چې (دالله ﷻ څخه) بیریږی (مخ ته دقیامت دبعید یامشکل ګڼلو دپاره عقلي جواب دی یعنی) ښه ستاسی (دوباره) پیدا کول (فی نفسه) زیات سخت دی اوکه دآسمان (اوفی نفسه ځکه وویل سول چې دالله ﷻ دقدرت په نسبت سره خو ټول مساوی دی او ظاهره ده چې دآسمان پیداکول زیات سخت دی بیاچې کله دا یې پیدا کی نو ستاسی پیدا کول څه مشکل دی ، مخ ته دآسمان دپیدا کولو کیفیت بیان فرمایی چې) الله ﷻ دا جوړ کی (داسی چې) دده چت یې لوړکی اودی یې برابر جوړکی (چې په دی کی هیڅ ځای څیری ځای چاودونه، پیوند یاجوړ نسته) او دده شپه یې تیاره جوړه کړه او دده ورځ یې ښکاره کړه (دشپې او ورځی نسبت یې

آسمان ته څکه وکی چی شپه اوورځ دلمر په ختو اولویدو سره وی اودلمر تعلق دآسمان سره دی) او ددی څخه وروسته یی مځکه خپره کړه (او دخپرولو څخه وروسته یی) ددی څخه ددی اوبه او وابنه راویستله او غرونه یی (پردی) قائم کړل تاسی ته اوستاسی حیواناتوته دفائدی رسولو دپاره (اصل استدلال دپیدائش دآسمان څخه وو، مګر دمځکی ذکر یی شاید څکه وکی چی ددی حالات هر وخت دنظر په مخکی دی ، اوکه څه هم دآسمان برابرنه ده لیکن فی نفسه دانسان دتخلیق څخه دمځکی تخلیق هم سخت دی ، نو حاصل داستدلال دا سو چی کله داسی شیان مونږ جوړ کړی دی نو ستاسی دوباره ژوندی کول څه مشکل دی مخ ته ددوباره ژوندی کیدو څخه وروسته چی کوم واقعات دجزا اوسزا سره متعلق دی دهغه تفصیل دی یعنی دقیامت امکان اودهغه واقع کیدل خوثابت سوه) نو کله چی هغه لویه هنګامه راسی یعنی په کومه ورځ چی انسان خپل کړی (افعال) یادکی اودلیدونکوپه مخکی دوږخ ظاهرسی نو (په دغه ورځ به داحالت وی چی) کوم سړی سرکښی کړی وی (دحق څخه او داخرت څخه منکر سوی وی په دی یی ددنیا ژوندته ترجیح ورکړی وی نو دوږخ به دهغه ځای وی اوکوم سړی چی (په دنیاکی) دخپل رب په مخکی ددریدو څخه بیریدلی وی (چی په قیامت اواخرت اوحساب اوکتاب دده ایمان مکمل وی) اونفس یی د (حرام) خواهش څخه منع کړی وی (یعنی دصحیح عقیدی سره یی نیك عمل هم کړی وی) نو جنت به دهغه ټیکانه وی (اوعمل صالح لار دجنت ده موقوف علیه نه دی، چونکی کفاروبه دقیامت څخه دانکارپه قصدسره ددی دوخت پوښتنه کوله، مخ ته ددغه جواب دی یعنی) داخلګ ستا څخه دقیامت پوښتنه کوی چی ددی وقوع به کله وی (نو) ددی دبیان کولو سره ستاڅه تعلق دی (څکه چی دبیان موقوف علیه علم دی اودقیامت متعین وخت مونږ هیچاته نه دی ښوولی بلکه) دهغه (دتعین دعلم) مدار صرف ستادرب طرف ته دی (او) ته خوصرف (په اجمالی خبرونو سره) دداسی سړی بیروونکی یی کوم چی ددی څخه بیریږی (اوبیریږی ایمان راوړونکی وی اوداخلګ چی دتلواری شور کوی نو پوه دی سی چی) کومه ورځ دوی هغه ووینی نو (دوی ته) به داسی معلومیږی چی ګویا (په دنیاکی) صرف دیوی ورځی په اخری حصه کی یایی په اوله حصه کی دوی پاته سوی دی (اوبس، یعنی ددنیا اوږده موده به ورته لنډه معلومیږی اوګنی به یی داسی چی عذاب ډیر ژر راغی دکوم چی دوی استدعا کوی مطلب دا دی چی تلواری ولی کوی دقوع په وخت کی به هغه داسی ګنی چی ډیر ژر واقع سو کوم څنډ چی اوس څنډ ګنی دا به څنډ نه معلومیږی)

معلومات اومسئلی: وَالنّٰزِعٰتِ غَرْقًا : نازعات دنزع څخه مشتق دی چی معنی یی یوشی په راکښولو ایستل دی ، اوغرقًا ددی تاکید دی څکه چی دغرق اواغراق معنی په یوکارکی پوره قوت اوشدت خرڅ کول دی ، په محاوره کی ویل کیږی ، اَغْرَقَ النَّازِعُ فِی الْقَوْسِ ، یعنی لینده راکښوونکی ، ددی په راکښولو کی خپل پوره قوت خرڅ کی، ددی سورة په شروع کی یی دملائکو یوڅو صفتونه اوحالات بیان کړی دی او قسم یی په خوړلی دی او جواب دقسم په دلالت دحال حذف سوی دی ، مراد ددی څخه دقیامت او حشر نشر یقینًا واقع کیدل دی ، په ملائکو قسم شاید په دی مناسبت سره خوړل سوی دی چی

که څه هم ملائکی دا وخت هم دټول عالم په نظم اونسق کی دخل لری اوخپل خپل خدمت پوره کوی لیکن دقیامت په ورځ به دمادی اسبابو تعلق پریکړل سی ، غیر معمولی حالات او واقعات به پیښ سی ، په دی واقعاتو کی به ملائکی کار کوی.

دلته دملائکو هغه پنځه صفتونه بیان سوی دی ، دکومو تعلق چی دانسان دمرګ او روح ختلو سره دی ، مقصد خو دقیامت حقوالی بیانول دی ، ددی شروع یی دانسان دمرګ څخه وکړه چی دهرانسان مرګ په خپله دده دپاره یو جزوی قیامت دی ، او دقیامت په عقیده کی ددی لوی دخل دی په دی پنځو صفتونو کی اولنی صفت ، وَالنّٰزِعٰتِ غَرْقًا یعنی په سختی سره راکشوونکی ، ایستونکی ، مراد ددی څخه دعذاب هغه ملائکی دی کومی چی دکافر روح په سختی سره باسی ، مراد ددی سختی څخه روحانی سختی اوتکلیف دی ، دا ضروری نه ده چی لیدونکو ته هم ددی سختی احساس وی ، په دی وجه ډیر واره داهم لیدل کیږی چی دکافر روح په ظاهره په آسانی سره ووزی ، مګر دا آسانی زمونږ په لیدو کی ده کومه سختی چی دده په روح وی هغه څوك لیدی سی؟ دغه خو دالله ﷻ په خبر ورکولو سره معلومیدی سی په دی وجه په دی جمله کی دا خبر ورکول سوی دی چی دکفارو روح په راکشولو اوسختی سره ایستل کیږی.

دوهم صفت دی ، وَالنّٰشِطٰتِ نَشْطًا : ناشطات دنشط څخه مشتق دی چی معنی یی ده بند خلاصول په کوم شی کی چی اوبه یاهوا اونور ډك وی ددغه په بند خلاصولو سره دغه اوبه اونور په آسانی سره وزی ، په دی کی یی دمومن روح وتلو ته ددی سره تشبیه ورکړي ده اوښوولی یی ده چی کومی ملائکی دمومن پر روح قبض کولو مقرر دی ، هغوی په آسانی سره هغه قبض کوی په شدت سره نه ، دلته هم روحانی آسانی مراد ده ، جسمانی نه ده ، په دی وجه یومسلمان بلکه نیك سړی ته په وخت دمرګ کی په روح وتلوکی په وخت لګیدو سره دا نه سی ویل کیدی چی په ده سختی کیږی ، که څه هم په جسمانی طور دا سختی لیدل کیږی ، اصل وجه دا ده چی کافر ته دروح ختلو په وخت کی دبرزخ عذاب رامخ ته سی ، دده روح دهغه څخه بیریږی ، په بدن کی پټیدل غواړی ، ملائکی یی را کاږی او را باسی یی ، او دمومن روح ته دعالم برزخ ثواب نعمتونه اوخوشخبری رامخ ته سی نو دده روح په تیزی سره دهغه طرف ته تلل غواړی.

دریم صفت دا دی ، وَالسّٰبِحٰتِ سَبْحًا د ، سَبْح لغوی معنٰی لامبووهل راځی مراددلته په تیزی سره تلل دی لکه په دریاب کی چی څه بندیز اونور نه وی، لامبو وهونکی یاکښتی اونور تلونکی سیده دخپل منزل مقصود طرف ته ځی دملائکو دا صفت چی تیزی تلونکی دی ، دا هم دمرګ دملائکو سره متعلق دی چی دانسان دروح قبض کولو څخه وروسته دا په تیزی سره دآسمان طرف ته وړی.

څلورم صفت دی : فَالسّٰبِقٰتِ سَبْقًا : ددی څخه مراد دا دی چی بیا دا روح چی دکومو ملائکو په قبضه کی دی دده ښه یابد ځای ته په رسولوکی دتیزی اوتلوار څخه کار اخلی ، دمومن روح دجنت دهواګانو او نعمتونو ځای ته او دکافر روح د دوزخ دهواګانو او عذابونو ځای ته رسوی.

پنځم صفت دی : فَالْمُدَبِّرٰتِ اَمْرًا دامرالهی تدبیر اوتنفیذ کوونکی یعنی دمرګ ددی ملائکو اخری کار دا

وی چې کوم روح ته دثواب او راحت ورکولو حکم وی ، دده دپاره دراحت سامانونه جمع کوی اودچا دپاره چې دعذاب اوتکلیف حکم وی هغه ته ددی انتظام کوی.

(په قبر کې ثواب اوعذاب)

دمرګ په وخت کې دملائکو راتلل او دانسان روح قبض کول ، دآسمان طرف ته یې وړل ، بیادده بنه یابدځای ته په تلواری رسول اوهلته دثواب یاعذاب، دتکلیف یاراحت انتظامات کول، ددی ذکر سوو ایتونو څخه ثابته سوه چې داعذاب او ثواب به په قبر یعنی برزخ کې وی، دحشر عذاب اوثواب ددی څخه وروسته دی، په صحیح احادیثوکی ددی ډیر تفصیلات ذکردی، دبراء بن عازب ﷛ یواوږد حدیث په مشکوٰة کې په حواله دمسند احمد مذکور دی.

دنفس اوروح په حقله دحضرت قاضی ثناء الله ؒ مفید تحقیق: دتفسیرِ مظهری په حواله سره دنفس او روح پرحقیقت څه کلام دسورةِ حجر ترایت ۲۹ لاندی تیرسوی دی ددی سلسلی زیات تحقیق او وضاحت دوخت بیهقی حضرت قاضی ثناء الله پانی پتی قدس سره دلته تحریر فرمایلی دی ، په کوم سره چې ډیر اشکالات حل کیږی ، هغه دا دی چې دمذکوره حدیث څخه داواضحه کیږی چې نفسِ انسانی یولطیف جسم دی کم چې دده په کثیف جسم کې دننه ځای سوی دی اودغه ددی مادی څلورو عناصرو څخه جوړدی، فلاسفه او اطباء دی ته روح وایی، مګرپه حقیقت کې دانسان روح یوجوهرِ مجرد اولطیفه ربانی ده کوم چې ددی طبعی روح یعنی نفس سره یوخاص تعلق لری اودطبعی روح یعنی نفس ژوند په خپله پردی لطیفه ربانی باندی موقوف دی ګویا دا ته روح الروح ویل کیږی ، چې دجسم ژوندپه نفس سره دی اودنفس ژوند په دی روح پوری تړل سوی دی، ددی روح مجرد اولطیفه ربانی تعلق ددی لطیف جسم یعنی نفس سره څنګه اوڅه دی ، ددی حقیقی علم ددی دپیدا کوونکی څخه ماسوابل چاته نسته اودالطیف جسم دکوم نوم چې نفس دی داحق تعالیٰ په خپل قدرت سره دیوی ائینی په مثال جوړکړی دی کومه چې لمرته مخامخ ایښوول سوی وی، نودلمر رڼا په دی کې داسی راځی چې داپه خپله دلمرپه شان رڼا خپروی، نفس انسانی که دوحی دتعلیم مطابق ریاضت او محنت کوی نوهغه هم منور کیږی، که نه وی نوهغه دکثیف جسم په خرابو اثراتوکی ککړسی ، دغه جسم لطیف دی کوم چې ملائکی پورته وړی ، اوبیایی په عزت سره لاندی راوړی، کله چې هغه منور سوی وی، که نه وی نودآسمان دروازی دده دپاره نه خلاصیږی، دپورته څخه لاندی راغورزول کیږی داجسم لطیف دی دکوم په باره کې چې په ذکرسوی حدیث کې دی چې مونږدا دمزکی دخاوری څخه پیداکی، بیایی دی ته واپس کوو، بیابه یې ددی څخه دوباره پیداکوودا جسم لطیف په نیکوعملونوسره منوراوخوشبوداره جوړیږی اوپه کفراوشرك سره بدبوی داره کیږی، باقی دروح مجرد تعلق دجسم کثیف سره په واسطه دجسم لطیف یعنی نفس وی، پرهغه مرګ نه راځی دقبرعذاب اوثواب هم ددی جسم لطیف یعنی نفس سره تړلی دی اوددی نفس تعلق دقبرسره وی اوروح مجردپه علیین کې وی اوروحِ مجرد دده دثواب اوعذاب څخه بالواسطه متاثره کیږی دغه شان دروح په قبرکی کیدل په معنیٰ دنفس صحیح دی اودده په عالم ارواح یاعلّیین کې اوسیدل په معنیٰ

دروځ مجرد صحيح دي، په دې سره ددغو مختلفو روايتونو تطبيق هم کيږي، والله اعلم.
مخ ته دقيامت وقوع او په دې کې په اوله شپيلۍ سره دټول عالم فنا ، بيا په بلې سره دټول عالم دوباره ايجاد او پردې دکفارو دشبهې داستبعاد جواب ذکردی ، ددې په اخرکې فرمايي ، فَاِذَاهُمْ بِالسَّاهِرَةِ، ساهره دمځکې سطح ته وايي ، په قيامت کې چې کومه مځکه دوباره پيدا کيږي، هغه به يوه هواره سطح وي په هغه کې به څه دپناه ځای غار ياغر او نور هيڅ نه وي، دې ته ساهره ويل کيږي، ددې څخه وروسته دکفارو اودقيامت دمنکرانو په ضد اوعنادسره چې نبی کريم ﷺ ته کوم ازار رسيدی دهغه ازاله دفرعون اوموسٰی عليه السلام په قصه بيانولو سره سوې ده ، چې دمخالفينو داسې ازارونه په تاسې پورې مخصوص نه دي، تيرو انبياوو عليهم السلام ته هم لوی لوی ازارونه د دوی څخه رسيدلي دي ، هغوی صبر کړی دی ، ته هم دصبر څخه کار اخله.

فَاَخَذَهُ اللّٰهُ نَكَالَ الْاٰخِرَةِ وَالْاُوْلٰى : نَكَال داسې عذاب ته ويل کيږي دکم په ليدوچې نورخلک عبرت اخلي اوټول ورپيږي ، نکالِ اخرت دفرعون دپاره داخرت عذاب دی اود ، نَكَالِ اُوْلٰى څخه مرادهغه عذاب دی کوم چې په دنياکې دده دټول قوم سره په درياب کې په غرقيدو سره ده ته ورسيدی، مخ ته بيا دمنکرانو دحشر اونشر ددې استبعاد اوشبهې ازاله ده چې دمرګ اوخاوری کيدو څخه وروسته به څنګه دوباره ژوندي سي، په دې کې الله ﷻ دآسمان اومځکې اوپه دې کې يې دپيدا سوو عظيمو مخلوقاتو ذکر وکی اوغافل انسان يې پردې خبردارکی چې کوم ذات داسې عظيم مخلوقات ته ابتدايي وجود بغيردڅه مادې اوآلې ورکی هغه که دوی ته دنيست اونابود کولو وروسته دوباره وجود ورکی نوستاسې دتعجب څه ځای دی مخ ته بيا دقيامت دسخت والي اوپه دغه ورځ هرسړی ته دده دعملونومخ ته دراتللو اودجنتيانو اودوږخيانو دواړو دځايونوبيان اوپه اخرکې دجنتيانو اودوږخيانو دخاصو خاصو نښانو بيان دی په کومو سره چې يوانسان په دنياکې دافيصله کولی سي، چې په قاعده سره زماځای په جنت کې دی يا په دوږخ کې، قاعده څکه وويل سوه چې دچاپه شفاعت ياپه بې واسطې دالله ﷻ په رحمت سره يو جهنمي دهغه څخه ازادول جنت ته رسول لکه چې ددېرو ايتونو او روايتونو دحديث څخه پردې دلالت کيږي دغه يو استثنايي حکم دی اواصل قاعده په جنت يادوږخ کې داستوګنې هغه ده کومه چې په دې ايتونوکې بيان سوې ده.

اول د دوږخيانو خاص نښانې بيان سوې دي ، هغه دوې دي ، فَاَمَّا مَنْ طَغٰى، وَاٰثَرَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا اول طغيان يعني دالله ﷻ او دهغه درسول داحکامو دپابندۍ پرځای سرکښې کول، دوهم ددنيا ژوندته په آخرت ترجيح ورکول يعنې کله چې داسې څه کار مخ ته راسي چې دهغه په اختيارولو سره په دنياکې خوارام بالذات ورکول کيږي مګرپه اخرت کې پرهغه عذاب مقرردی، دغه وخت هغه ددنيا لذت لره ترجيح ورکی اوداخرت فکر دپامه وغورځوی کوم سړی چې په دنياکې په دې دوو بلاګانو کې اخته وي ، دهغه دپاره يې وفرمايل ، فَاِنَّ الْجَحِيْمَ هِيَ الْمَاْوٰى يعنې جهنم دده ټيکانه ده ، ددې څخه وروسته يې دجنتيانو دوې نښې ښوولې دي: وَاَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى اول داچې کوم سړی په دنياکې دخپل هر

عمل اوهرکارپه وخت کی دابیره کوی چی زه به یوه ورځ دالله ﷻ په مخکی پیش کیږم او ددی عملونو حساب به ورکوم ، دوهم چاچی خپل نفس په واك کی وساتی او دناجائزو خواهشاتو څخه یی دی منع کی کوم چی په دنیا کی دا دوه وصفونه حاصل کړل ، قرآن کریم هغه ته داخوشخبری واوروله ، ﴿فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوٰى﴾ : یعنی جنت دده ټیکانه ده .

دنفس دمخالفت دری درجي: په ذکرسوی آیت کی یی دجنت دټیکانی دوه شرطونه ښوولی دی اوچی فکروسی نودغه دنتیجی په اعتبارسره یودی څکه چی اولنی شرط دالله ﷻ په حضورکی دجواب ورکولو بیره ده ، دوهم شرط نفس دخواهشاتوڅخه منع کول دی اوحقیقت دا دی چی دخدای بیره نفس لره دخواهشاتو څخه منع کوونکی شی دی ، حضرت قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله په تفسیر مظهری کی فرمایی چی دخواهشاتو دمخالفت دری درجی دی، اوله درجه خوداده چی بنده دهغو باطلو عقیدو څخه ځان وساتی کوم چی دظاهرو نصوصو اواجماع دسلفو څخه خلاف وی ، چی دی درجی ته ورسیږی هغه دسُنّی مسلمان ویلو مستحق سی ، متوسطه درجه دا ده چی هغه دیو معصیت اوګناه اراده وکی ، بیاده ته دا خبره وریاده سی چی ماته به دالله ﷻ په مخکی حساب ورکول وی او ددی خیال پربنا ګناه پریږدی ، ددی متوسطی درجی تکمله دا ده چی بنده دشبهاتوڅخه هم پرهیز وکی او دکوم مباح اوجائز کار په مشغولیدو سره چی په یو ناجائز کارکی داخته کیدو خطره وی، هغه جائز کارهم پریږدی، لکه چی دحضرت نعمان بن بشیر رضی الله عنه په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، چی چادمشتبهاتوڅخه پرهیز وکی ، هغه خپل ابرو اودین وساتی اوکوم سړی چی په مشتبهاتوکی اخته سوهغه اخرپه محرماتو کی اخته کیږی ، مراد دمشتبهاتو څخه هغه کارونه دی په کوموکی چی دجائزو اوناجائزه کیدو دواړه احتماله وی ، یعنی عمل کوونکی ته داشبهه وی چی زما دپاره داکار جائزدی اوکه ناجائز، مثلاً یو سړی ناجوړه دی پراودس کولو قادر خودی اودده یقین پوره نه وی چی زما دپاره اودس په دی حالت کی مضردی نوْدتیمم جواز اوعدم جوازمشتبه سو، دغه شان په ولاړی لمونځ خوکولی سی، مګر مشقت ډیر زیات دی په دې وجه دا اشتباه وسوه چی په ناستی لمونځ زما دپاره درست دی، اوکه نه دی په داسی موقعوکی مشتبه شی پریښوول دیقینی جواز اختیارول تقوٰی ده اودمخالفت متوسطه درجه دا ده .

دنفس مکرونه : دنفس دمخالفت په دی شیانوکی چی کوم په صریح طور سره ګناه اوسیئات دی ، داخوکه یو سړی کوشش کوی نوپه خپل اختیارهم په دی کی کامیاب کیدی سی، لیکن یوه هوٰی دنفس هغه ده کومه چی په عبادتونو اونیکو عملونوکی شاملیږی، ریاء، ځان ښوول، خودپسندی، داداسی باریك ګناهونه اوسخت خواهشات دی دنفس په کومو کی چی انسان اکثره په خپله هم دوکه کیږی، خپل عمل صحیح اودرست ګنی، اودا هغه هوٰی دنفس ده دکومی مخالفت چی دټولو څخه اول اودټولو څخه زیات ضروری دی ، مګر ددی څخه دمحفوظ کیدو صحیح علاج اومجربه نسخه ددی څخه ماسوا نسته چی انسان یوداسی شیخ کامل تلاش کی کوم چی دیوماهرشیخ په خدمت کی پاته سوی مجاهدات یی کړی وی دنفس په عیبونواوددی په علاج واقف وی خپل ځان هغه ته حواله کړی اودهغه په مشوره عمل وکی.

شیخ امام حضرت یعقوب کرخی رحمه الله فرمایی چی زه په ابتدایی عمر کی ترکاڼ (نجار) وم، ما په خپل نفس کی سستی او په باطن کی یوقسم ظلمت محسوس کی نواراده می وکړه چی یو څو ورځی روژی ونیسم چی دا ظلمت او سستی می لیری سی، اتفاقًا د دغو روژو په حالت کی یوه ورځ زه د حضرت شیخ اجل امام بهاؤ الدین نقشبندی رحمه الله په خدمت کی حاضر سوم او شیخ د میلمنو دپاره خوراك راوغوښتی او ماته یی هم د خوراك حکم وکی او ویی فرمایل چی ډیر بد بنده دی کوم چی د خپل خواهش نفسانی بنده وی کوم چی دی گمراه کوی اووي فرمایل چی خوراك خوړل د هغه روژی څخه ښه دی کوم چی د خواهش نفسانی سره وی ، دغه وخت ماته احساس وسو چی زما نفس د غرور او خود پسندی ښکار کیدی کوم چی شیخ محسوسه کړه او ماته ثابته سوه چی په ذکر شغل او نفلی عبادتونو کی دیو کامل شیخ اجازت او هدایت په کار دی ځکه چی هغه د نفس د مکرونو څخه واقف وی ، په کوم نفلی عمل کی چی د نفس څه مکر وی د هغه څخه به یی منع کوی ، دغه وخت ما حضرت شیخ نقشبند رحمه الله ته عرض وکی چی حضرت که داسی شیخ کوم ته چی په اصطلاح کی فانی فی الله او باقی بالله ویل کیږی، چاته حاصل نه وی نو هغه به څه کوی، شیخ وفرمایل چی هغه ته په کار دی چی د استغفار کثرت کوی او د هر لمانځه څخه وروسته شل واره د استغفار کولو پابندی کوی چی پنځه وخت سل واره استغفار سی، ځکه چی د نبی کریم ﷺ ارشاد دی چی ځینی وخت زه په خپل زړه کی خړوالی محسوسوم او زه هره ورځ د الله ﷻ څخه سل واره طلب د مغفرت کوم .

دریمه اعلی درجه د نفسانی خواهش د مخالفت دا ده چی د ډیر ذکر او مجاهدو او ریاضت په ذریعه خپل نفس داسی پاك جوړ کړی چی په ده کی هغه خواهش نفسانی باقی پاته نه سی کوم چی انسان د شر طرف ته راکشوی دا مقام د ولایتِ خاصه مقام دی او دا هغه سړی ته حاصلیږی کوم ته چی د صوفیاؤ په اصطلاح کی فانی فی الله او باقی بالله وایی، دا خلگ د قرآن د دی آیت مصداق دی کوم چی شیطان مخاطب کوی اِنَّ عِبَادِیْ لَیْسَ لَكَ عَلَیْهِمْ سُلْطَانٌ : یعنی زما پرخاصو بندگانو ستا واك نه سی چلیدی ، او دا مصداق دی د هغه حدیث په کوم کی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، لَا یُؤْمِنُ اَحَدُکُمْ حَتّٰی یَکُوْنُ هَوَاهُ تَبْعًا لِمَا جِئْتُ بِهٖ : یعنی په تاسی کی یو سړی ترهغه وخته پوری کامل مومن نه سی کیدی ترڅو پوری چی د ده خواهش نفسانی زما د تعلیماتو تابع نه سی (یاالله ته یی زمونږ نصیب کړی په خپل فضل او کرم سره)

د سورة په اخر کی د کفارو د دی عنادی سوال جواب ورکول سوی دی چی هغوی به د نبی کریم ﷺ څخه د قیامت د معین تاریخ او وخت په ښوولو باندی اصرار کوی ، د جواب خلاصه دا ده چی هغه الله ﷻ په خپل بالغ حمت سره صرف د خپل ذات دپاره مخصوص کړی دی، د دی اطلاع یی چا ملائکی یا رسول ته هم نه ده ورکړی ، په دی وجه دا مطلب عبث ده .

تمّت سورة النازعات الحمد لله ۶ شعبان سنه ۱۳۹۱ هـ دوشنبه

﴿ سورة عبس ﴾

سُوْرَةُ عَبَسَ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ اثْنَتَانِ وَاَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَفِيْهَا رُكُوْعٌ وَاحِدٌ كَذَا الخ

سورة عبس په مکه کې نازل سوا او په دې کې دوڅلويښت (۴۲) آيتونه او يو (۱) رکوع ده او دارنګه تر آخره .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چې ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی .

عَبَسَ وَتَوَلّٰۤى ۝۱ اَنْ جَآءَهُ الْاَعْمٰى ۝۲ وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّهٗ يَزَّكّٰۤى ۝۳

تندی یې تریو کې اومخ یې واړوی ، په دې خبره چې راغی ده ته ړوند ، او ته څه خبر کړې چې امید دی چې هغه به پاك سی

اَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنْفَعَهُ الذِّكْرٰى ۝۴ اَمَّا مَنِ اسْتَغْنٰى ۝۵ فَاَنْتَ لَهٗ

یابه سوچ وکړي نو هغه ته به نفع ورسوی نصیحت ، هغه کوم چې پرواه نه کوی ، نو ته دهغه په

تَصَدّٰى ۝۶ وَمَا عَلَيْكَ اَلَّا يَزَّكّٰى ۝۷ وَاَمَّا مَنْ جَآءَكَ يَسْعٰى ۝۸

فکرکې یې ، اوپه تاهیڅ الزام نسته چې هغه نه پاکیږي ، او هغه چې راغی تا ته په خغستا ،

وَهُوَ يَخْشٰى ۝۹ فَاَنْتَ عَنْهُ تَلَهّٰى ۝۱۰ كَلَّآ اِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ۝۱۱ فَمَنْ

او هغه بیریږي ، نو ته دهغه څخه بې پروایي کوی ، داسې نه ده دا خو نصیحت دی ، نو

شَآءَ ذَكَرَهٗ ۝۱۲ فِيْ صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ۝۱۳ مَّرْفُوْعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ ۝۱۴ بِاَيْدِيْ

څوك چې غواړي دادې یادکړي ،لیکل سوی دی دعزت په پاڼوکې، پورته اېښول سوی نهایت پاکې ، په لاسونو

سَفَرَةٍ ۝۱۵ كِرَامٍ بَرَرَةٍ ۝۱۶ قُتِلَ الْاِنْسَانُ مَآ اَكْفَرَهٗ ۝۱۷ مِنْ اَيِّ

دلیکونکو کې ، کوم چې لوی درجې والا نیکوکار دی ، قتل دې سی بنده څومره ناشکره دی ، دڅه شی څخه

شَيْءٍ خَلَقَهٗ ۝۱۸ مِنْ نُّطْفَةٍ خَلَقَهٗ فَقَدَّرَهٗ ۝۱۹ ثُمَّ السَّبِيْلَ

یې جوړ کې دی ، دیوڅاڅکي څخه یې جوړکې دی ، نو په اندازه یې کې ، بیایې لارآسانه کړه ده ته

يَسَّرَهٗ ﴿۲۰﴾ ثُمَّ اَمَاتَهٗ فَاَقْبَرَهٗ ﴿۲۱﴾ ثُمَّ اِذَا شَآءَ اَنْشَرَهٗ ﴿۲۲﴾ كَلَّا لَمَّا

بيا يې دې مړ کړی په قبر کې کښيښووی ، بيا چې يې کله وغوښتل را ويستی يې دی ، هيڅکله

يَقْضِ مَآ اَمَرَهٗ ﴿۲۳﴾ فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ اِلٰى طَعَامِهٖٓ ﴿۲۴﴾ اَنَّا صَبَبْنَا

داسی نه ده پوره يې نه کړل څه چې يې ده ته وفرمايل ، نو ودې ګوری انسان خپل خوراك ته ، چې مونږ راتويی

الْمَآءَ صَبًّا ﴿۲۵﴾ ثُمَّ شَقَقْنَا الْاَرْضَ شَقًّا ﴿۲۶﴾ فَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا

کړی اوبه دلوره ښخه رالويدونکی ، بياخيری کړه مونږ مځکه په خيرلو ، بيا شنی کړی مونږ په دی کی

حَبًّا ﴿۲۷﴾ وَّعِنَبًا وَّقَضْبًا ﴿۲۸﴾ وَّزَيْتُوْنًا وَّنَخْلًا ﴿۲۹﴾ وَّحَدَآئِقَ غُلْبًا ﴿۳۰﴾

دانی ، او انګور او ترکارانی ، او زيتون او خرما ، اوباغونه ګڼ

وَّفَاكِهَةً وَّاَبًّا ﴿۳۱﴾ مَّتَاعًا لَّكُمْ وَلِاَنْعَامِكُمْ ﴿۳۲﴾ فَاِذَا جَآءَتِ

او ميوی او وابنه ، په کار راتلونکی ستاسی اوستاسی دحيوانانو ، نو هرکله چی راسی

الصَّآخَّةُ ﴿۳۳﴾ يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ اَخِيْهِ ﴿۳۴﴾ وَاُمِّهٖ وَاَبِيْهِ ﴿۳۵﴾

غوږ خيرونکی ، په کومه ورځ چی تښتی سړی دخپل ورور څخه ، او دخپلی مور او پلار څخه

وَصَاحِبَتِهٖ وَبَنِيْهِ ﴿۳۶﴾ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَاْنٌ

ار خپلی ښځی او دخپلو زامنو څخه ، دهر يو سړی سره به په دغه ورځ يوفکروی چی

يُّغْنِيْهِ ﴿۳۷﴾ وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ﴿۳۸﴾ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ ﴿۳۹﴾

دده دپاره به کافی وی ، ډيرمخونه به په دغه ورځ روښانه وی ، خنديدونکی خوشحالی کوونکی ،

وَوُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿۴۰﴾ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿۴۱﴾

او ډير مخونه به په دغه ورځ ګرد آلوده وی ، پټوی به هغه توروالی

اُولٰٓئِكَ هُمُ الْكَفَرَةُ الْفَجَرَةُ ﴿۴۲﴾

دا هغه خلق دی چی بدکاره منکران دی .

لنډتفسیر: شانِ نزول : ددی آیتونو دنزول قصه دا ده چی یووار نبی کریم ﷺ دمشرکانو ځینو سرداران پوهول په ځینو روایتونو کی دهغوی دځینو نومونه هم راغلی دی ، ابوجهل بن هشام، عتبه بن ربیعه، ابی بن خلف، امیه بن خلف، شیبه، په دی کی حضرت عبدالله ابن ام مکتوم ړوند صحابی راغی اویو پوښتنه یی وکړه ، داقطع کلامی دده ﷺ خوښه نه سوه او دده طرف ته یی توّجه ونه کړه اودنا خوښی په وجه یی تندی مبارك ګنجی کی، کله چی ددی مجلس څخه پورته سو کورته تلی نودوحی نښانی ښکاره سوی نو دا آیتونه عَبَسَ وَتَوَلّٰی نازل سوه ، ددی څخه وروسته کله چی به هغه دده ﷺ خواته راتلی نوده ﷺ به یی لوی خاطر کوی (داټول روایتونه په درمنثورکی دی، غرض داچی دذکر سوی واقعی په حقله ارشاد کیږی چی) پیغمبر ﷺ تندی ګنجی کی اومتوجه نه سوپه دی خبره چی ده ته یو ړوند راغی (دلته خویی صیغه دغائب وفرمایله اودا دمتکلم انتهایی لطف اوکرم اودمخاطب عزت دی چی مخامخ یی ورته ددی کارنسبت ونه فرمایی) او (مخ ته یی دخطاب صیغه په طور دالتفات څکه اختیار کړه چی شبهه داعراض نه وی ، ارشاد کیږی) چی تاته څه خبردی چی شاید هغه (نابینا ستاپه تعلیم سره په پوره طور) پاکیدی یا (کم از کم په یوخاص کارکی) نصیحت قبول کی، پس ده ته به نصیحت کول (څه ناڅه) فائده ورسوی نوکوم سړی چی (ددین څخه) بی پرواهی کوی ، ته خو دهغه فکر کوی حال دا دی چی پرتا هیڅ الزام نسته چی هغه نه پاکیږی (دهغه دبی پرواهی ذکریی وکی ، دهغه طرف ته دزیاتی توجه نه ورکولو هدایت دی) اوکوم سړی چی تاته (ددین په شوق کی) په منډه راځی اوهغه (دخدای ﷺ څخه) بیریږی ته دهغه څخه بی توجهی کوی (په دی ایتونو کی یی د دوی ﷺ په اجتهادی خطاسره دی خبردار کړی دی ، منشاء ددی اجتهاد داوه چی دا امر خومتیقن اوثابت دی چی مهم کار مقدم کول غواړی، ده ﷺ دکفر سختوالی موجب داهمیت وګنی لکه چی دوه بیماران وی یو هیضه وی اوبل زکام نودهیضی دمریض علاج اول وی ، او دحق تعالی ددی ارشادمطلب دا دی چی دمرض شدت هغه وخت موجب داهمیت دی کله چی دواړه مریضان دعلاج طلب کوونکی وی، لیکن که سخت مرض والا دعلاج طلب نه کوی بلکه مخالف وی نوبیامقدم هغه دی کوم چی طالب دعلاج دی که څه هم دهغه مرض سپك وی، مخ ته ددی مشرکانو طرف ته ددومره توجه ضروری نه کیدل ارشاد فرمایی چی ته اننده) هیڅکله داسی مه کوه (څکه چی) قرآن (محض یو) دنصیحت شی دی (اوستاپرذمه صرف ددی تبلیغ دی) نو دچازړه چی غواړی دا دی قبول کی (اوڅوك چی یی نه قبلوی هغه پوه سه ستا هیڅ ضرر نسته، بیاته دومره اهتمام ولی فرمایی، مخ ته دقرآن صفتونه بیان فرمایی چی) هغه (قرآن دلوحِ محفوظ) په صحیفوکی (ثبت) دی کوم چی (دالله ﷺ په نزد) مکرمی دی (یعنی پسندیده اومقبولی دی او) لوړی درجی والادی (څکه چی لوح محفوظ تحت العرش دی، لکه چی په درمنثور سورة البروج کی دی: اوهغه) مقدس دی (دخبیثو شیطانانو هلته رسیدل نسته ، لکه دا قول دالله ﷻ دی ، لَا يَمَسُّهٗ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ) کوم چی دداسی لیکونکو (یعنی ملائکو) په لاسونوکی وی چی هغه مکرم (او) نیك دی (دا ټول صفتونه دده دالله ﷻ دطرف څخه په کیدو دلالت کوی ، لکه چی دسورةِ واقعه په آیت: لَا يَمَسُّهٗ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ کی یی بیان سوی دی ، اولوحِ محفوظ که هر

څومره سی واحد دی ، مگر ددی اجزاء یی په صحف سره تعبیر وفرمایل او دی ملائکوته یی کاتبانی څکه وویلی چی دوی دلوحِ محفوظ څخه په امرِ الهی نقل کوونکی دی، مطلب دایت داسو چی قرآن من جانب الله دنصیحت دپاره دی، ته نصیحت کوه دخپلو فرضوڅخه به فارغه کیږی برابره خبره ده که څوك ایمان راوړی اوکه یی نه راوړی، پس ددی قسم تقدیم اوتاخیر هیڅ ضرورت نسته، تردی ځای پوری اداب دتذکیر او تبلیغ سوه، مخ ته دکفارو ددی څخه په فائده نه اخستو باندی تشنیع دی چی په منکر، بنده باندی (کوم چی په داسی تذکره سره نصیحت حاصل نه کی لکه ابوجهل اونور کوم چی تاپوهول اوهغه نه پوهیدل نوپر داسی سړی) دخدای لعنت دی چی هغه څومره ناشکره دی (هغه نه گوری چی) الله ﷻ دی دڅنگه (حقیر) شی څخه پیداکی (مخ ته جواب دی چی) دنطفی څخه (یی پیداکی، مخ ته ددی کیفیت ذکر دی چی دډیرو انقلاباتو اوتغیراتو څخه وروسته) دده صورت یی جوړکی ، بیایی دده (اندامونه) په اندازه سره جوړکړه (لکه چی دسورةِ قیامه په آیت، فَخَلَقَ فَسَوّٰی کی تیرسوی دی) بیایی دده (دوتلو) لار اسانه کړه (چنانچی ظاهره ده چی دداسی تنگ ځای څخه دخاص تن لرونکی کوچنی محفوظ او صحیح سالم راوتل صفا دلیل دی دالله ﷻ دقادر اودبنده دمقدور کیدو) بیا (وروسته دعمر دختمیدو څخه) یی ده لره مرگ ورکی، بیایی دی قبرته بوتلی (برابره خبره ده که داول څخه یی په خاوروکی کنبیږدی یاڅه موده وروسته خاوری سی اوپه خاوروکی یو ځای سی) بیاچی کله الله ﷻ وغواړی ده ته به دوباره ژوند ورکی (مطلب داچی ټول تصرفات دلیل دی دانسان په قدرت کی دداخلیدو اونعمتونه هم دی، ځینی حسی معنوی چی مقتضٰی یی وه وجوب طاعت اوایمان مگرده) هیڅکله (شکر) ونه کی (او) ده ته چی کوم حکم سوی ووهغه یی پرځای نه کی، نو انسان ته په کاردی چی (دخپل پیدائش په ابتدایی حالاتو دنظر کولو څخه وروسته پراسبابو دبقا اوژوند باندی نظر وکی مثلاً) دخپل خوراك طرف ته وگوری (چی هغه باعث سی دحق پیژندو اواطاعت اوایمان، اومخ ته دنظرکولو طریقه ښیی هغه دا) چی مونږ په عجیبه طورسره اوبه واورولی بیاموپه عجیبه طورسره مځکه څیری کړه بیامونږ په دی کی غله اوانگور اوترکاریانی اوزیتون اوخرماوی اوگڼ باغونه اومیوی اوگیاه پیدا کړل بعضی شیان) ستاسی او (ځینی شیان) ستاسی دحیواناتو دفائدی دپاره دی (اوداټول هم نعمتونه اودلیلونه دقدرت دی اوپه دی مجموعه کی هرشی مقتضی دی دوجوب دشکر دایمان تردی ځایه تشنیع سو پرنصیحت نه قبلولو اومخ ته پرنصیحت نه قبلولو سزا اوپرقبلولو ثواب داخرت مذکور ږی، یعنی اوس خودا خلك ناشکری اوکفر کوی) بیاکله چی غوږونه کوڼ کونکی شور راپورته سی (یعنی قیامت، دغه وخت دټولی ناشکری خوند معلوم سی، مخ ته ددغی ورځی بیان دی چی) په کومه ورځ (داسی) بنده (دکوم چی لوړ بیان وسو) دخپل ورور څخه اودخپلی مور څخه او دخپل پلار څخه اودخپلی ښځی څخه اودخپلو زامنو څخه تبنتی (یعنی څوك به دچاسره همدردی نه کوی ، لکه داقول دالله ﷻ دی لاَ یَسْئَلُ حَمِیْمًا ، وجه دا ده چی) په دوی کی به هرسړی ته (خپله) داسی مشغله وی کم چی به دی بل طرف نه متوجه کوی (داخو دکفارو حال سو مخ ته دټولو مومنانو اوکفارو تفصیل دی چی) ډیر مخونه به په دغه ورځ (دکفر په وجه)

تور وي (اوددغه توروالي سره به) پردوي (دغم) خړوالي بښوروي، داخلګ فاجران اوکافران دي (په کافر سره اشاره ده دعقيدې دفساد طرف ته اوپه فاجر سره فساد دعملونو طرف ته)

معلومات اومسئلي: په شان نزول کې چې کومه واقعه دحضرت عبدالله ابن ام مکتوم نابينا صحابی ﷜ ذکر سوي ده، په دې کې بغوي دازيات روايت کړی دی چې حضرت عبدالله ﷜ ته دنابينا کيدو په سبب دا معلومه نه سوه چې ده ﷺ دنورو سره په خبروکې مشغول دی، په مجلس کې داخل سو، نبی کريم ﷺ ته يې اوازونه کول شروع کړل اوبار بارېې اوازونه ورکول (مظهری)

او دابن کثيرپه يوروايت کې داهم دي چې دوی دنبی کريم ﷺ څخه دقرآن ديوايت ويلو سوال وکی او ددې سوال په فوری جواب ورکولو يې اصرار وکی اونبی کريم ﷺ دغه وخت دمکې دکفارو سردارانو ته ددين په تبليغ ورکولو اوپوهولو کې مصروف وو، دا سرداران عتبه بن ربيعه، ابوجهل ابن هشام اودنبی کريم ﷺ تره حضرت عباس ﷜ وو کوم چې لا تردغه وخته پوری مسلمان سوی نه وو، نبی کريم ﷺ ته په دغه وخت دعبدالله ابن مکتوم ﷜ داسې خطاب کول اوديو ايت دالفاظو دسمولوپه معمولي سوال باندی دفوری جواب دپاره اصرار کول ناخوښه سول چې ددې لويه وجه داوه چې عبدالله ابن ام مکتوم ﷜ پوخ مسلمان اوهروخت حاضرباش وو، په نورو وختونوکې يې هم سوال کولی سو، دده په جواب وروسته کولوکې دڅه ديني نقصان خطره نه وه، په خلاف دسردارانو دقريشو چې نه هروخت داخلګ په خدمت کې حاضريدل اونه هروخت دوی ته دالله ﷻ کلمه رسول کيده، دغه وخت هغو خلګو د دوی خبره اوريده په کومې سره چې د دوی دايمان راوړو توقع کيدی سوه او د دوی دخبر په پرېکولو سره خو دايمان څخه د دوی محرومي ظاهره وه، ددې مجموعه حالاتوپه وجه نبی کريم ﷺ دابن ام مکتوم ﷜ څخه مخ واړ وی اودخپلې ناخوښې اظهار يې وفرمايي او دحق دتبليغ کومې خبرې چې دقريشو دسردارانو سره جاري وې هغه يې جاري وساتلې په دې باندې دمجلس څخه دفارغ کيدوپه وخت کې دسورة عَبَس ذکر سوی ايتونه نازل سول په کوموکې چې ددوی ﷺ داطرز عمل يې ناخوښه مقرر کی او دوی ﷺ ته يې هدايت وفرمايي.

دنبی کريم ﷺ داطرزِعمل پرخپل اجتهاد باندې مبني وو چې کوم مسلمان دمجلس دادابو څخه خلاف دخبرو طرز اختيار کی، هغه ته څه تنبيه کول په کار دي چې اننده دی دادابو دمجلس رعايت کوی، په دې وجه خو ده دابن ام مکتوم ﷜ څخه مخ واړوی او دوهمه خبره دا وه چې په ظاهره حال کفر او شرک دټولو څخه لويه ګناه ده، ددې دليرې کولو فکر دټولو څخه مخکې کول په کار دي په مقابله کې ددين دفروعي احکامو دتعليم کم چې عبد الله ابن ام مکتوم ﷜ غوښتی، مګرحق تعالی ﷻ د دوی ﷺ دا اجتهاد د سم مقررنه کی اوپر دې باندې يې خبرداری وفرمايله چې دلته قابل فکر دا خبره وه چې يو سړی کوم چې ستا څخه ددينی تعليم طالب سی، سوال کوی، دهغه دجواب فائده خو يقيني ده اوکوم چې ستا مخالف دی ستاخبره اوريدل هم نه خوښوی دهغه سره دخبرو فائده موهومه ده، موهوم لره په يقيني ترجيح نه دی ورکول په کار او دعبدالله ابن ام مکتوم ﷜ څخه چې کومه دمجلس دادابو خلاف خبره صادره سوه، دهغه عذر قرآن په لفظ داعمٰی ويلو وښووی چې هغه نابيناوو، په دې وجه يې دانه ليدل

چې دوی ﷺ داوخت په یو شغل کې دی، دچاسره خبرې رواني دي، په دې وجه هغه معذور وو، مستحق داعراض نه وو، ددې څخه معلومه سوه چې دیو معذور سړي څخه که په بې خبرۍ کې څه خبره دمجلس دادابو څخه خلاف وسي نو هغه قابل عتاب نه وي.

عَبَسَ وَتَوَلّٰی: دعبس معنٰی ترش رويي اختیارول یعنی په مخ سره اظهار دناخوښي کول اود، تولّٰی معنٰی مخ اړول دي، دلته موقع ددې وه چې دا الفاظ ده ﷺ ته په صیغه دخطاب ویل سوي وای چې تاسي داسي وکړل، لیکن قرآن کریم دمخاطب دصیغې پر ځای صیغه دغائب اختیارکړه اودا ایهام یې اختیارکې چې لکه چې داکار یوبل چاکړی وي په دې کې اشاره دې طرف ته ده چې داکار ستاسي دشان مناسب نه دی اوپه بله جمله کې یې په خپله دنبي کریم ﷺ دعذر طرف ته اشاره وفرمایله، وَمَا يُدْرِيكَ (یعنی تاته څه پته ده) په دې کې یې وښوولە چې داعراض وجه داپیښه سوه چې ستادې طرف ته خیال نه ولاړی چې داصحابي کومه پوښتنه کوي ددې اثر یقیني دی اودنورو سره دخبرو اثر موهوم اوپه دې دوهمه جمله کې یې دغائب صیغه پرېښووله، په صیغه دمخاطب اختیارولو کې هم دنبي کریم ﷺ تکریم اودلجويي ده چې که بالکل دمخاطب صیغه نه وای استعمال سوي نودا شبهه کېدی سوه چې ددې طرز عمل ناخوښي دترك خطاب سبب جوړ سوکوم چې دنبي کریم ﷺ دپاره یوناقابل برداشت غم اوتکلیف وو، په دې وجه لکه څنګه چې په اوله جمله کې دمخاطب پرځای دغائب صیغه استعمالول دنبي کریم ﷺ تکریم دی، دغه شان په دوهمه جمله کې خطاب کول هم د دوی تکریم او دلجويي ده.

لَعَلَّهُ يَزَّكّٰى، أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنْفَعَهُ الذِّكْرٰى: یعنی تاته څه معلومه ده چې دا صحابي دکومې خبرې پوښتنه کوي دهغه فائده یقیني وه چې که ته ده ته تعلیم ورکړی نودی به ددې په ذریعه دخپل نفس تزکیه وکي اودا کمال به حاصل کي، اوکه داهم نه وی نوکم از کم ددې ذکر الله څخه به هغه ابتدايي نفع اخستې وه چې په دې سره به دده په زړه کې دالله ﷻ دمحبت اوبیرې ترقي سوې وای، دلفظ دذکرٰی معنٰی کثرت ذکردی (لکه چې په صحاح کې دی)

دلته قرآن کریم دوې جملې اختیار کړې، يَزَّكّٰى او يَذَّكَّرَ داولې معنٰی پاك صفا کېدل دي او د دوهمې معنٰی نصیحت حاصلول اوذکرڅخه متاثره کېدل دي اول مقام دابرارو متقیانو دی، کوم چې خپل نفس دظاهري اوباطني هرقسم ګندګیو څخه پاك صاف کړي، اودوهم مقام پردین دچلیدو دلاري ابتدايي حال دی چې مبتدي ته دالله ﷻ دیادو ړریادول دي، په کوم سره چې دالله ﷻ عظمت اوخوف دده په زړه کې مستحضر کیږي خالي نه وو، برابره خبره ده که نفع کامله وي چې تزکیهٔ نفس ورته مکمله حاصله سوې وي اوکه ابتدايي نفع ورته حاصله سوې وي چې دالله ﷻ یاد اوعظمت اوخوف به دده په زړه کې زیات سوی وي اودواړې جملې یې په حرف دتردید یعنی أَوْ سره استعمال کړې چې په دې دواړو کې به یوحال ضرورحاصل سوی وای په‌دې کې اصطلاحي مانعة الخلوده یعنی احتمال داهم دی چې دواړه نفع جمع سي چې په ابتداء کې تذکره وي اوددې څخه وروسته تزکیه مانعة الجمع نه ده چې دواړه جمع نه سي (مظهری)

(دتبلیغ اوتعلیم دپاره دقرآن یو اهم اصول)

په دې موقع کې خو دا ظاهره ده چې دنبي کریم ﷺ په مخکې دوه کارونه په یو وخت راغلل یو مسلمان ته تعلیم او دهغه تکمیل او دلجویي دوهم غیرِ مسلمو ته دهدایت دپاره د دوی طرف ته توجه، دقرآن کریم دې ارشاد دا واضحه کړه چې اولني کار پر دوهم مقدم دی، ددوهم کار په وجه په اول کار کې تاخیر کول یا څه خلل راوستل صحیح نه دی، ددې څخه معلومه سوه چې دمسلمانانو تعلیم او ددوی داصلاح فکر دغیرِ مسلمو په اسلام کې دداخلولو دفکر څخه مهم او مقدم دی.

په دې کې دهغو عالمانو دپاره مهم هدایت دی کوم چې دغیرمسلمو دشبهاتو لیرې کولو او د دوی داسلام سره دمانوس کولو په خاطر ځینې داسې کارونه کوي په کومو سره چې دعامو مسلمانانو په زړونو کې شکوک او شبهات یاشکایتونه پیدا کیږي، دوی لره ددې قراني هدایت مطابق دمسلمانانو حفاظت او اصلاحِ حال مقدم ساتل په کار دي، اکبر مرحوم څه ښه فرمایلي دي.

ددې خبرې څخه ځان وساته چې مسلمانان دې بې وفا وګڼي که کافران درته بې سلوکه او بې رواجه

وواییِ نو خیر دی دا بده نه ده.

په راتلونکې آیتونو کې قرآن کریم دا خبره په پوره وضاحت سره بیان کړې ده چې، أَمَّا مَنِ اسْتَغْنَىٰ * فَأَنتَ لَهُ تَصَدَّىٰ: یعنې کوم سړي چې ستا څخه او ستا ددین څخه استغنى او بې مخي کوي ته په هغه پسې یې چې په څه ډول به دې مسلمان سي، حال دا دی چې دا ستا ذمه واري نه ده او که هغه مسلمان نه سي نو پر تا څه الزام نسته او کوم سړی چې په منډه دعلم دطلب دپاره رالې او هغه دخدای ﷻ څخه بیریدونکې هم دی ته دهغه طرف ته توجه نه کوي په دې کې په واضح طور سره نبي کریم ﷺ ته دا هدایت ورکول سوچې دمسلمانانو تعلیم او اصلاح او تربیت کول او ددوی پاخه مسلمانان او قوي مومنان جوړول دا دغیرِ مسلمو په اسلام کې دداخلولو دفکر څخه زیات اهم او مقدم دی، ددې زیات فکر کول په کار دي والله تعالى اعلم ددې څخه وروسته یې دقرآن مجید دالله ﷻ دطرف څخه تذکره او نصیحت کیدل او دده مکرم او عالي شان کیدل بیان فرمایلي دي.

فِي صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ، مَّرْفُوعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ د: صُحُف څخه مراد لوح محفوظ دی دا که څه هم یو دی مګر دا یې په صیغه دجمع په صحف سره ځکه تعبیر کې چې په دې کې ټولې آسماني صحیفې لیکلې دي یا ځکه چې ملائکې خپلې صحیفې ددې څخه نقل کوي، د، مَرْفُوعَة څخه مراد دالله ﷻ په نزد عالي شان کیدل دي او دمطهره څخه مراد دا دی چې جنابت والا سړي ښځه او دبې اودسه پاره ددې مسح کول جائز نه دي.

بِأَيْدِي سَفَرَةٍ، كِرَامٍ بَرَرَةٍ سَفَرَ: په دوه زبرونو سره دسافر جمع هم کیدې سي چې معنی یې کاتب دی، په دې صورت کې به ددې څخه ملائکې کرام کاتبین یا انبیاء او د دوی دوحې لیکونکې حضرات وي، دحضرت ابن عباس ﷺ او مجاهد څخه دا تفسیر منقول دی.

اولفظ د: سَفَره، دسفیر په معنى دقاصد جمع هم کیدې سي، په دې صورت کې به ددې څخه مراد رسولان ملائکې او انبیاء او دوحې کتابت کوونکې حضرات صحابه وي او دامت علماء هم په دې کې

داخل دی څکه چی دوی هم درسول ﷺ او دامت په مینځ کی سفیران او قاصدان دی ، په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی قرآن وایی اوهغه په قرآئت کی هم ماهروی نوهغه دسَفَرہ کرام ابرار سره دی اوکوم سړی چی ماهرنه وی ، مګر په تکلف سره مشقت کوی قرآئت صحیح کوی ، دهغه دپاره دوچنده اجر دی (رواه الشیخان عن عائشه ؓ) مظهری

ددی څخه معلومه سوه چی غیرِ ماهر ته دوه اجره ورکول کیږی یو دقرآن دقرآئت ، دوهم دمشقت کولو ددی څخه دا هم معلومه سوه چی ماهرته بی شمیره اجر ورکول کیږی (مظهری)

په تیرو آیتونوکی دقرآن کریم عالی شان واجب الایمان کیدل دبیانولو څخه وروسته کافر انسان کوم چی دقرآن څخه منکردی په هغه لعنت اودالله ﷻ دنعمت په ناشکری خبرداری دی اودقرآن دالله ﷻ دطرف څخه یو عظیم نعمت کیدل خو یو معنوی شی دی په کوم چی اهل علم اوفهم پوهیدی سی، مخ ته دهغو الهی انعاماتو ذکر دی کوم چی دانسان دتخلیق څخه تراخره پوری پرانسان مبذول کیږی، دامادی اومحسوس شی دی په کومو چی ادنٰی شعور لرونکی انسان هم پوهیدی سی ، په دی وجه دتخلیق انسانی ذکر فرمایی ، مِنْ اَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهٗ، مِنْ نُّطْفَةٍ : اول خو په دی کی یوسوال وسوچی ای انسانه ! ته فکر وکړه چی ته الله ﷻ دڅه شی څخه پیداکړی یی! اوچونکی ددی جواب متعین دی ددی څخه ماسوایی بل جواب کیدی نه سی په دی وجه یی بیاپه خپله وفرمایل مِنْ نُّطْفَةٍ، یعنی انسان یی دنطفی څخه پیداکی، بیافرمایی: خَلَقَهٗ فَقَدَّرَهٗ یعنی صرف دانه چی دنطفی څخه یی دیو جاندار وجود جوړکی، بلکه دی یی په یوه خ ص اندازه اولوی حکمت سره جوړکی دده په قد او قامت اوجسامت اوشکل صورت اودا ندامونو اوږدوالی اوپلنوالی اوجوړونو اوبندونو اوپزه، سترګو اوغوږونوکی یی دتخلیق داسی اندازه قائمه کړه چی که یوه ذره ددی خلاف سی نو دانسان صورت به خراب سی اوکار او روزګار یی مصیبت جوړ سی .

او دلفظ د ، قَدَّرَهٗ : څخه دلته داهم مراد کیدی سی چی انسان څه وخت دمور په نس کی زیر تخلیق وی ، دغه وخت الله ﷻ دده دځلورو شیانو مقدار لیکی هغه دا چی دی به څه څه اوڅنګه عمل کوی ،دده عمربه څومره وی ، ده ته به رزق څومره ورکول کیږی ، او دی به په انجام کی سعید اونیك بخت وی اوکه شقی او بد بخت به وی (لکه چی په حدیث دابن مسعود ؓ کی په نزد دشیخینو دی)

ثُمَّ السَّبِيْلَ يَسَّرَهٗ : یعنی الله ﷻ په خپل حکمت بالغ سره دانسان تخلیق دموره‌په نس کی په دری تیاروکی دننه په داسی محفوظ مقام کی وفرمایی چی دچا په نس کی دا کار کیږی هغه هم ددی تخلیق دتفصیل څخه هیڅ خبرنه لری ، بیا دا ژوندی په ټولو اعضاوو او اندامونو سره مکمل انسان چی په کوم ځای کی جوړ دی ، دهغه ځای څخه دی دنیاته دراتلو لار هم باوجود دتنګیدو دالله ﷻ کامل قدرت آسانه کړه چی څلور پنځه پونډه دروند جسم صحیح سلامت راوزی اودمور وجود ته هم په دی سره څه خاص نقصان نه رسیږی ، فَتَبَارَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ

ثُمَّ اَمَاتَهٗ فَاَقْبَرَهٗ : دانسان دابتدایی تخلیق بیانولو څخه وروسته دده انتها په مرګ اوپه قبر باندی ده ، ددی ذکر یی په سلسله دانعاماتوکی فرمایلی دی، ددی څخه معلومه سوه چی دانسان مرګ په حقیقت کی څه

مصيبت نه دي . نعمت دي . په حديث کي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي . تُحْفَةُ الْمُؤْمِنِ الْمَوْتُ چي دمومن تحفه مرگ دي اوپه دي کي دعالم دمجموعي په اعتبار سره لوي حکمتونه دي اود . فَأَقْبَرَهُ معنی . بيايي دي په قبرکي داخل کي . دا هم يو انعام دي چي انسان الله ﷻ دعامو حيواناتو په شان نه دي پريښی چي مړ سي اوبيا په هغه ځاى په مځکه سخا او وروست سي بلکه دده اکرام يي دا وکی چي دی ولمبوی په نور پاکو صافو کپړوکی يي ونغاړی اوپه احترام سره يي په قبرکي دفن کي

مسئله ددي آيت څخه معلومه سوه چي دمړ انسان دفن کول واجب دي

كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَا أَمَرَهُ په دي کي دانسان دتخليق دابتدا او انتها او په دي کي دحق تعالی دکامل قدرت او انعاماتو دذکرکولو څخه وروسته غافل انسان ته خبرداري وسوچي دحق تعالی ددي ټولو انعاماتو تقاضا دا وه چي انسان په دي کي فکر کړی وای . په الله ﷻ يي ايمان راوړی وای او دده داحکامو تعميل يي کولی . مگر دي بد نصيبه داسي ونه کړل . مخ ته بيا دهغو الهي انعاماتو ذکر دی کوم چي دانسان دتخليق دابتداء اوانتها زماني په درمياني موده کي په انسان مبذول کيږی . چي دانسان رزق څنگه پيدا کيږی . چي دآسمان څخه اوبه اوروی . تخم دا نه چي په مځکه کي پټه ده . دا باران په دی کي يو نباتی ژوند پيدا کوی . دکوم په ذريعه چي يو کمزوری اونری تيغ مځکه چوی . لوړ راخيژی اوبيا ددي څخه قسم قسم غلی ميوی اوباغونه په وجود کي راځی په دي ټولو الهي انعاماتو باندي دبلر يار خبردار کولو څخه وروسته دسورة په آخر کي بيا دقيامت ذکر دی

فَإِذَا جَاءَتِ الصَّاخَّةُ : صاخة داسي شور او سخت اواز ته وايي په کوم سره چي دانسان غوږونه کاڼه سي . مراد ددي څخه دقيامت شور يعني دشپيلی پوك وهل دی

يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ : دا په محشر کي دټولو دجمع کيدو دوخت بيان دی چي هرسړی به په خپل فکر کي او دنفسي نفسي په عالم کي به وی په دنياکي چي کوم داسي تعلقات دي چي خلک په يوبل باندي خپل ځان قربانوی په هغه عالم کي به هرسړی په خپل خپل داسي فکرکي اخته وی چي څوك به دچا هيڅ خبر نه سي اخستی. بلکه چي مخامخ يي ووينی نوهم به مخ ورڅخه اړوی. انسان به دخپل ورور څخه. مور او پلار څخه . ښځي او اولاد څخه مخ پټوی تښتی به . په دنياکي تعاون، تناصر اوديو بل سره امداد به په دوړنو کي وی . ددي څخه زيات دمور اوپلار دامداد اواعانت فکروی. په طبعی طور ددي څخه هم زيات دښځي او اولاد تعلق وی . په دي کي يي دادنی تعلق څخه داعلی تعلق طرف ته په ترتيب سره بيان فرمايلی دی مخ ته دحشرپه دي ميدان کي دمومنانو اوکفارو دانجام په ذکر کولو يي سورة ختم کړی دی

تمت سورة عبس والحمد لله ليلة الاربعاء ۷ شعبان سنه ۱۳۹۱هـ

﴿سورة التكوير﴾

سُورَةُ التَّكْوِيرِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ هِيَ تِسْعٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً

سورة تكوير په مكه كې نازل سو او په دې كې نه ويشت (۲۹) آيتونه دي.

شروع كوم په نوم سره دخداى ﷻ چې ډير مهربانه نهايت رحم والا دى.

إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ① وَإِذَا النُّجُومُ انْكَدَرَتْ ② وَإِذَا الْجِبَالُ

هر كله چې لمر خړ سي (يعنى بې نوره سي) ، او هر كله چې ستورې خړ سي ، او هر كله چې غرونه

سُيِّرَتْ ③ وَإِذَا الْعِشَارُ عُطِّلَتْ ④ وَإِذَا الْوُحُوشُ حُشِرَتْ ⑤

روان كړل سي ، او هر كله چې دلسو مياشتو بلار به اوښه بې كاره پاته كړل سي ، او كله چې صحرايي حيوان راجمع سي

وَإِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ ⑥ وَإِذَا النُّفُوسُ زُوِّجَتْ ⑦ وَإِذَا الْمَوْءُدَةُ

او هر كله چې دريابونه گرم كړل سي ، او كله چې نفسونه جوړې جوړې كړل سي ، او كله چې دژوندې

سُئِلَتْ ⑧ بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ ⑨ وَإِذَا الصُّحُفُ نُشِرَتْ ⑩ وَإِذَا

ښخې سوې لور (ښځه پوښتنه وكړل سي ، چې په كومه گناه دا مړه سوې ده ، او كله چې عملنامه خلاص سي ، او كله

السَّمَاءُ كُشِطَتْ ⑪ وَإِذَا الْجَحِيمُ سُعِّرَتْ ⑫ وَإِذَا الْجَنَّةُ

چې آسمان سپين كړل سي ، او كله چې دوزخ گرم كړل سي ، او كله چې جنت نژدې

أُزْلِفَتْ ⑬ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا أَحْضَرَتْ ⑭ فَلَا أُقْسِمُ بِالْخُنَّسِ ⑮

كړل سي ، پوه به سي هر يو نفس چې څه يې راوړي دي ، نو قسم اخلم په وروسته كيدونكي

الْجَوَارِ الْكُنَّسِ ⑯ وَاللَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ ⑰ وَالصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ ⑱

سيده تلونكي پټيدونكي ، او په شپه چې كله خپره سي ، او په سبا كله چې سا ته واخلي ،

إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ⑲ ذِي قُوَّةٍ عِنْدَ ذِي الْعَرْشِ

خامخا دا وينا ده ديو ليږل سوي عزتمند ، قوت والا دعرش دمالك سره مرتبه پيدا كوونكي

مَكِينٍ ﴿٢٠﴾ مُّطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ ﴿٢١﴾ وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ ﴿٢٢﴾

، دتولو منل سوی دهغه خای امانتدار ، او دا ستاسی ملګری څه لیونی نه دی ،

وَلَقَدْ رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ ﴿٢٣﴾ وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍ ﴿٢٤﴾

او ده لیدلی ده هغه ملائکه دآسمان په ښکاره کناره ، او دی دغیبو په خبره ښوولو کی بخیل نه دی ،

وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَانٍ رَّجِيمٍ ﴿٢٥﴾ فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ ﴿٢٦﴾ إِنْ هُوَ

او دا وینا نه ده دشیطان مردود ، نو تاسی کوم طرف ته ځی ، دا خو یو

إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِينَ ﴿٢٧﴾ لِمَن شَاءَ مِنكُمْ أَن يَسْتَقِيمَ ﴿٢٨﴾ وَمَا

نصیحت دی دجهان دمخلوق دپاره ، څوک چی غواړی په تاسی کی چی برابر سی او

تَشَاءُونَ إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴿٢٩﴾

تاسی نه سی غوښتی مګر چی رضاسی دالله دټول جهان دمالك .

لنډتفسیر: هرکله چی لمریی نوره سی اوکله چی ستوری مات سی او ولویږی اوکله چی غرونه روان سی اوکله چی دلسو میاشتو بلار بی اوښی ازادی پریښوول سی اوکله چی وحشی خیوانان (دبیری څخه) ټول جمع سی اوکله چی دریابونه بل کړه سی (دا شپږ واقعات خو به داولی شپیلی په وخت کی وی کله چی دنیا آباده وی اوپه دی شپیلی سره به دا تغیرات اوتبدیلی واقع سی او دغه وخت به اوښی او نور هم به خپل خپل حالت باندی وی ، په کومو کی چی به څینی لنګیدو ته نژدی وی ، کوم چی دعربو په نزد دټولو څخه قیمتی مال دی چی هروخت یی ساتنه کیږی مګردغه وخت به په هله بله کی چاته هوش نه وی او وحشی حیوانان به هم دبیری څخه ټول په یو بل کی ګډوډ سی او په دریابونو کی به اول جوش راسی اوپه مځکه کی به چاودونی واقع سی ، په کوم سره چی به ټول خواږه او تروه دریابونه یو سی چی ذکر یی په راتلونکی سورة کی په ، وَاِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ، کی فرمایل سوی دی بیاپه شدت حرارت سره به ټولی اوبه اورسی ، شاید اول به هواسی، بیابه هوا اور جوړ سی ، ددی څخه وروسته به عالم فناسی) او (ددی شپږو واقعاتو څخه وروسته به دوهمه شپیلی وی دکومی بیان چی دا دی چی) کله دیو یوقسم خلګ جمع سی (کافران جلا ، مسلمانان جلا ، بیا په دوی کی دیوی یوی طریقی والا جلا جلا) اوکله چی دژوندی ښخی سوی انجیلی څخه پوښتنه وسی چی هغه په څه ګناه قتل سوی وه (مقصود ددی پوښتنی څخه دژوندی ښخوونکو ظالمانو اظهار دجرم دی) اوکله چی عملنامی خلاصی کړل سی (چی ټول خپل خپل

عملونه ووينى لكه دا قول دالله ﷻ، يَلْقَاهُ مَنْشُوْرًا اوكله چې آسمان خلاص كړل سي (او دده په خلاصيدو سره به دآسمان څخه دوريځې نزول وسي لكه چې ذكر يي په نولسمه (۱۹) پاره ، وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ الخ آيت ، وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ الخ كي راغلى دى) اوكله چې دوزخ (نورز يات) گرم كړل سى اوكله چې جنت نژدى سى (لكه په سورت قٓ ، وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِيْنَ كي دى، كله چې داټول واقعات دنفخ اولى اونفخ ثانيه واقع سى نودغه وخت) هرسړى به هغه عملونه وپيژنى كوم چې يي راوړى دى (اوكله چې داسى هيبتناكه واقعه كيدونكى ده) نو (زه منكرانو ته ددى حقيقت ښيم اوتصديق كوونكى ددى دپاره تياروم اودا دواړه امرونه دقرآن په تصديق اوپه دى په عمل كولو سره حاصليږى چې په دى كى ددى داثبات اونجات طريقه ده ، په دى وجه) زه قسم اخلم په هغو ستوروكوم چې (سيده روان وى) پرشا واپس سى (اوبيا پرشا باندى) روان وى (اوكله په شاځى ځى په خپلو مطلعونوكى) پټ سى (داسى كار پنځو ستوروته پيښيږى چې كله سيده ځى كله پرشا ځى او دوى ته خمسه متحيره وايى ، زحل، مشترى، عطارد، مريخ، زهره) اوقسم دى په شپه كله چې روانه سى اوقسم دى په سهاركله چې هغه راسى (مخ ته جواب دقسم دى) چې داقرآن (دالله ﷻ) كلام دى ديوى معززى ملائكى (يعنى جبرائيل عليه السلام) راوړل سوى كوم چې قوت والادى (لكه چې په نجم كى دى ، عَلَّمَهٗ شَدِيْدُ الْقُوٰى، او) دعرش ذمالك په نزد خاوند دمرتبى دى (او) هلته (يعنى په آسمانونوكى) دده خبره منل كيږى (يعنى ملائكى دده خبره منى لكه چې دمعراج دحديث څخه هم معلوميږى چې دده په وينا سره ملائكو دآسمانونو دروازى خلاصى كړى او) امانت داردى (چې وحى صحيح رسوى نو وحى راوړونكى خو داسى دى) او (مخ ته په چا چې وحى نازليږى ، دهغه په اړوند ارشاد دى چې) داستاسى سره اوسيدونكى (محمد ﷺ دكوم حال چې په ښه شان سره تاسى ته معلوم دى) مجنون نه دى (لكه چې دنبوت منكرانو به ويل) اوده دا ملائكى (په اصلى صورت كى دآسمان) په صفا كناره ليدلى هم ده (دصفا كنارى څخه مراد لوړه كناره ده چې صفا په نظر راځى لكه چې په نجم كى دى ، وَهُوَ بِالْاُفُقِ الْاَعْلٰى اوددى مفصل بيان په سورة نجم كى تيرسوى دى) اودا پيغمبرپه پټو (دوحى په ښوول سوو) خبرو باندى بخل كوونكى هم نه دى (لكه چې دكاهنانو عادت وو چې روپى به يى اخستى اوبيو خبره به يى ښوولە، په دى سره دكهانت هم نفى وسوه اوددى هم چې دى ﷺ په خپل يوكار دچا څخه معاوضه واخلى) اودا قرآن ديو شيطان مردود ويل سوى خبره نه ده (په دى سره دكهانت دنفى نور تاكيد وسو، مطلب دا چې نه دى كاهن دى ، نه مجنون نه صاحب غرض او وحى راوړونكى پيژنى هم او وحى راوړونكى داسى داسى دى ، نو لامحاله دا دالله ﷻ كلام دى اوته دالله ﷻ رسول يى ، او دا قسمونه دمطلب دمقام سره نهايتى مناسب دى چنانچى دستورو سيده تلل ، اوبيرته گرځيدل اوپټيدل مشابه دى دملائكى دراتلو، واپس تلو اوپه عالم ملكوت كى دورپټيدو سره، اودشپى تيريدل اودسهار راتلل مشابه دى دقرآن چې سبب دظلمت دكفر درفع كيدو اودنور هدايت دظاهريدو دى ، كله چې دا خبره ثابته ده) نو تاسى خلگ (په دى باره كى) كوم خواته روان ياست (چې دنبوت څخه منكريږى) بس دا خو (بالعموم) دټول جهان دمخلوق دپاره يوه لويه نصيحت نامه ده (اوبالخصوص) دداسى سړى دپاره

کوم چې په تاسې کې سیده تلل غواړي (دعامو خلګو دپاره هدایت په دې معنیٰ سره دی چې دوی ته یې سیده لار وښوولـه اودمومنانو متیقیانو دپاره په دې معنیٰ سره چې دوی یې منزل مقصودته ورسول) او (دځینو په نصیحت نه قبلولو سره ددې په نصیحت نامه کیدو کې دې شبهه نه کول کیږي ځکه چې) تاسې بغیر درب العٰلمین درضا څخه هیڅ نه سې کولی (یعنی فی نفسه خونصیحت دی لیکن تاثیر ددې موقوف دی په مشیت باندې کوم چې دځینو سره متعلق کیږي او دځینو سره په یو حکمت باندې نه متعلق کیږي)

معلومات اومسئلې : إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ دتکویر څخه مشتق معنیٰ یې بې نوره کیدل هم راځي ، دحضرت حسن بصري رحمه الله دا تفسیر دی او ددې معنیٰ غورځول او غوځارول هم دي ، ربیع ابن خیثم یې دا تفسیر کړی دی چې مراد ددې څخه دادی چې لمر به په سمندرکې وغورځول سي چې دده په ګرمی سره به ټول سمندر اور جوړ سي او په دې دواړو کې څه تضاد نه سي کیدی چې اول به لمر بې نوره سي ، بیابه دې په سمندکې وغورځول سي .

په صحیح بخاری کې دحضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چې لمر او سپوږمۍ به دقیامت په ورځ په دریاب کې وغورځول سي او په مسندبزارکې ددې سره دا هم دي چې په جهنم کې به وغورځول سي ، ابن ابی حاتم ، ابن ابی الدنیا ، اوابو الشیخ ددې آیتونو په حقله دا نقل کړي دي چې دقیامت په ورځ به الله ﷻ لمر اوسپوږمۍ اوټول ستوري په سمندرکې وغورځوي اوبیابه تیزه هوا په راسي چې په دې سره به ټول سمندر اور جوړ سي ، دغه شان دا وینا هم صحیح سوه چې لمر او سپوږمۍ به په دریاب کې [illegible] رځول سي او دا وینا هم سمه سوه چې په جهنم کې به وغورځول سي ، ځکه چې ټول سمندر به دغه وخ [illegible] جهنم جوړ سي (مظهری او قرطبی)

وَإِذَا النُّجُومُ انْكَدَرَتْ : د ا نکدار څخه مشتق دی ، ددې معنیٰ سقوط اوغورځیدل دي ، دسلفو څخه دا تفسیر منقول دی او مراد دا دی چې دآسمان ټول ستوري به په سمندرکې وغورځیږي ، لکه چې په ذکر سوو روایتونو کې ددې تفصیل راغلی دی .

وَإِذَا الْعِشَارُ عُطِّلَتْ : دا یې دعربو دعادت مطابق په طور دمثال فرمایلي دي ، ځکه چې ددې اولنی مخاطب عرب خلګ وه ، د دوی په نزد دلسو میاشتو بلاربه اوښه یولوی دولت ګڼل کیدی چې دهغه څخه دشیدو اوبچیانو امیدکیدی اودوی به یې په لکې ورپسې وه ، هیڅ وخت به یې یوازې نه پرېښوولـه .

وَإِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ : سُجِّرَت دتسجیر څخه مشتق دی چې معنیٰ یې اورلګول اوبلول هم راځي، حضرت ابن عباس رضی الله عنه دلته دا معنیٰ اخستې ده او ددې معنیٰ ډکول هم راځي او شریك اوخلط ملط کیدل هم راځي ، دتفسیر ځینو امامانوهم دامعنیٰ اخستې ده او حقیقت دا دی چې په دې کې هیڅ اختلاف نسته ، اول به سمندر او خواږه دریابونه یوکړل سي ، په مینځ کې به یې خندونه ختم سي په کوم سره چې به دخوږ او تریخ دریاب اوبه ګډې وډې هم سي او زیاتې هم ، بیابه لمر او سپوږمۍ اوستوري په دې کې وغورځول سي ، بیابه ددې ټولې اوبه اور جوړ سي کوم چې به په جهنم کې شامل سي (مظهری)

وَإِذَا النُّفُوسُ زُوِّجَتْ : يعني كله چي دمحشرحاضرين جوړي جوړي اوټولګي ټولګي جوړ سي ، دا ډلي اوټولګي به دعمل په اعتبار سره وي، چي كافران به جدا اومومنان به جداوی ، بيا به په كافرانو اومومنانو كي هم دعملونو اوعادتونو فرق وي ، ددغو په اعتبار سره به په كافرانوكي هم مختلفي ډلي جوړي سي اوپه مسلمانانو كي هم ، دا ډلي به دعقيدي او عمل داشتراك په بناباندي وي ، لكه چي بيهقي دحضرت نعمان بن بشيرؓ، حضرت عمربن خطابؓ څخه روايت كړي دي چي كوم خلك يو شان عملونه كوي هغوی به يوځای سي نيك عملونه وه او كه بد ، مثلاً په ښو مسلمانانوكي به دعلم دين خدمت كوونكي عالمان يوځاى ، عابدان زاهدان يوځاى ، جهاد كوونكي غازيان يوځاى په صدقه اوخيرات كي خصوصيت لرونكي يوځاى ، دغه شان په بدعمله خلكو كي به غله ډاكوګان يوځاى ، زناكار فحّاش يوځاى اوپه نورو خاصو خاصو ګناهونه كي به په خپل مينځ كي شريك يو ځاى سي، نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چي په محشركي به هرسړي دخپل قوم سره وي (مګر داقوميت به نسبي ياوطني نه وي بلكه دعمل اوعقيدي په اعتبار سره به وي) نيك عمل كوونكي به يوځاى وي، بدعمل كوونكي به بل ځاى وي اوپر دي باندي يې دقرآني آيت څخه استشهاد وفرمايي ، وَكُنْتُمْ أَزْوَاجًا ثَلٰثَةً : يعني په محشركي به دخلكو غټي ډلي دري وي، لكه چي دسورة واقعه په آيت كي ددي تفصيل راغلي دي چي يوه ډله به دسابقينو اولينووی، بله داصحاب اليمين، دادواړي ډلي به نجات پيدا كوونكي وي، دريمه ډله به داصحاب الشمال وي كومه چي به په كفارو فجارو مشتمله وي .

وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ : موءودة هغه انجلۍ كومه چي ژوندی دفن سوې ده ، لكه چي دعربو په جاهليت كي دا رواج وو چي لور به يې دځان دپاره سبب دعار ګڼله اوژوندی به يې ښخوله ، اسلام دابد رسم ختم كي په دي آيت كي دمحشر او قيامت دحالاتو په بيان كي ارشاد وسو ، چي كله دهغه انجلۍ څخه پوښتنه وسي كومه چي ژوندی ښخه سوی وي ، دالفاظو دظاهر څخه داسي ده چي دا پوښتنه به په خپله دانجلۍ څخه وي ، دهغه څخه به پوښتنه وسي چي ته په څه جرم كي قتل سوی وي اوداهم ظاهره ده چي مقصود ددي سوال څخه دادي چي دابه دخپلي بی ګناهي اومظلوم والي پوره فرياد په دربار درب العزت كي پيش كي چي ددي دقاتلانو څخه انتقام واخستل سي، اوداهم ممكنه ده چي مراد داوي چي دژوندی ښخي سوی دقاتلانو څخه به سوال وسي چي داتاسي په كم جرم كي قتل كړي ده .

يوه مهمه فائده: دلته په هرحال داسوال پيداكيږي چي دقيامت خو نوم يوم الحساب ، يوم الجزاء او يوم الدين ده ، په دي كي خو به دهر سړي څخه دهغه دټولو عملونو محاسبه او سوال وي، دلته دخصوصي احوالو اواهوالو دقيامت په سلسله كي خاص دژوندی ښخي سوی انجلۍ په معامله كي اوددي په حقله دسوال كولو په دومره اهميت اوخصوصيت سره ذكر كولوكی څه حكمت دی؟ په فكر كولوسره معلوميږي چي وجه دخصوصيت دا ده چي دا مظلومه انجلۍ كومه چي په خپله ددي مور اوپلار قتل كړي ده ددي دقتل دانتقام اخستو دپاره ددي دطرف څخه څوك دعوٰی كوونكي خونسته خصوصاً كله چي داپه پټه ښخه سوی وي نوڅوك خوبه ددي څخه خبر سوی هم نه وي چي شاهدي وكي، دمحشرپه

میدان کی چی کم دعدل او انصافِ الهی عدالت قائم وی، هغه به داسی ظلمونه هم مخ ته راولی، دکومو په ظلم چی نه څه شهادت وی، نه څوك ددغه مظلوم دحال پوښتنه کوونکی وی. والله تعالی اعلم

(دځلورو میاشتو څخه وروسته حمل غورځول دقتل په حکم کي دی)

مسئله: دبچیانو ژوندی په قبرکی دفن کول یاقتل کول سخته گناه کبیره اوظلم عظیم دی او دځلورو میاشتو څخه وروسته حمل غورځول هم په دی حکم کی دی ځکه چی په ځلورو میاشتوکی په حمل کی روح راځی او دغه دژوندی انسان په حکم کی وی، دغه شان کوم سړی چی دحاملی ښځی گیډی ته گذار ورکی او دهغه څخه بچی وغورځیږی، نو په اجماع دامت په گذار کوونکی باندی په دیت کی غرّه یعنی یو غلام یاددی قیمت واجب وی، اوکه دگیډی څخه ددباندی راتلوپه وخت کی هغه ژوندی وو، بیا مړ سو نو پوره دیت به دلوی سړی برابر واجب وی، او دځلورو میاشتو څخه مخکی حمل ساقطول هم بغیر داضطراری حالت څخه حرام دی، مگر ددی مخکنی صورت په نسبت کم دی، ځکه چی په دی کی دژوندی انسان صریحی قتل نسته (مظهری)

مسئله: یو داسی صورت اختیارول په کوم سره چی حمل قرارونه نیسی لکه چی نن صباپه دنیاکی دضبط تولید په نوم سره ددی په سوونو صورتونه رائج سوی دی، دی ته هم نبی کریم ﷺ وَاْدِ خَفِیْ فرمایلی دی یعنی په پټه سره بچی ژوندی دفن کول (لکه چی روایت یی کړی دی مسلم دحذامة بنت وهب څخه) اوپه ځینو روایتونو کی چی کوم عزل یعنی داسی تدبیر کول چی نطفه رحم ته ولاړه نه سی، په دی دنبی کریم ﷺ څخه سکوت یاعدمِ ممانعت منقول دی، دا دضرورت دځایو سره مخصوص ده، هغه هم داسی چی دهمیشه دپاره دنسل قطع کولو صورت جوړ نه سی (مظهری)

نن صباچی دضبطِ تولیدپه نوم سره کم دوایانی یاعلاجونه کول کیږی، په هغه کی ځینی داسی هم دی په کومو سره چی دهمیشه دپاره داولاد اونسل سلسله منقطع سی، ددی په هیڅ حال کی شرعًا اجازت نسته (والله تعالی اعلم

وَإِذَا السَّمَاءُ كُشِطَتْ: دکشط لغوی معنیٰ دحیوان څرمن ایستل دی په ظاهره داحال دقیامت داولی شپیلی وخت دی کوم چی به په دی دنیاکی پیښیږی چی داسمان زینت په کومو ستورو اولمر اوسپوږمی سره دی هغه به ټول بی نوره سی، په دریاب کی به وغورځول سی او دآسمان موجوده حالت به بدل سی، دا یی دکشط په لفظ سره تعبیرکی اوځینی مفسرینو حضراتو دکشط معنیٰ راټولول لیکلی ده اومعنیٰ دایت داسوه چی آسمان کوم چی په سرونو دچت اوبام په شان احاطه کوونکی دی، دا به را ونغښتل سی

عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا أَحْضَرَتْ: یعنی کله چی دقیامت دا ذکر سوی حالات پیښ سی، دغه وخت به هرانسان پوه سی چی ده دځپل ځان سره څه سامان راوړی دی، دسامان څخه مراد دده نیك یابد عمل دی چی هغه ټول عملونه به دده مخ ته راسی کوم چی یی په دنیاکی کړی وه، برابره خبره ده که داسی چی په عملناموکی لیکل سوی به د دوی په لاس کی راسی یا داسی چی داعملونه به په یو خاص شکل اوصورت کی د دوی په مخکی راسی لکه چی دحدیثو دځینو روایتونو څخه معلومیږی. والله تعالی اعلم

دقیامت داحوالو اوهولناکو مناظرو اودهغه ځای دعملونو دحساب دذکر فرمایلو څخه وروسته الله ﷻ په څو ستورو قسم اخلی اوفرمایی چی داقرآن حق دی اودالله ﷻ دطرف څخه په لوی حفاظت سره لیږل سوی دی او په کوم ذات باندی چی نازل سوی دی هغه ذات یوه لویه هستی ده ، وحی راوړونکی ملائکه هغه دمخکی څخه پیژنی ، په دی وجه ددی په حق کیدوکی دڅه شك اوشبهی ځای نسته ، په کومو ستورو چی یی دلته قسم اخستی دی ، هغه پنځه ستوری دی کومو ته چی په علم هیئت (فلکیاتو) کی خمسه متحیره وایی او دمتحیره ویلو وجه دا ده چی ددی پنځو ستورو حرکت په دنیاکی داسی لیدل کیږی چی کله دمشرق څخه مغرب طرف ته ځی، کله بیا پرشا دمغرب څخه مشرق طرف ته روان سی، ددی وجه څه ده او د دوو مختلفو حرکتونو سبب څه دی؟ ددی په باره کی دپخوانیو یونانی فلسفیانو مختلف اقوال دی اودنوو فلسفیانو تحقیق په دغوکی دځینو مطابق دی دځینو څخه خلاف اودحقیقت علم یی دپیدا کوونکی څخه ماسوا بل چاته نسته، ټول تخمین اواندازی دی کوم چی غلطیدی هم سی او صحیح هم ، قرآن کریم امت په دی فضول بحث کی نه دی مښلولی څومره خبره چی د دوی دفائدی وه هغه یی وښوولـه ، چی دوی دحق تعالی ﷻ کامل قدرت اوبالغ حکمت په دی کی وویني او ایمان راوړی .

إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ : ذِي قُوَّةٍ په ستورو دقسم خوړلو څخه وروسته فرمایی چی دا قرآن قول دی دیو رسول کریم ، مخ ته یی ددی رسول کریم صفت یو خو دا بیان کی چی هغه ذی قوت دی ، بل دا چی درب العرش په خوا کی مطاع دی چی دده احکام عرش والا منی ، دریم دا چی هغه دالله ﷻ په نزد امین دی دده څخه په پیغام راوړلو او رسولو کی دڅه خیانت او کمی یازیادت امکان نسته، دلته درسول کریم څخه مراد په ظاهره جبرائیل امین دی ځکه چی دلفظ درسول اطلاق لکه څنګه چی په انبیاؤ علیهم السلام کیږی ، داسی دملائکو دپاره هم دالفظ ویل کیږی اومخ ته چی درسول څومره صفتونه بیان سوی دی هغه ټول په جبرائیل امین بغیر دڅه تکلیف او تاویل څخه منطبق دی ، دده ذی قوت کیدل په سورة نجم کی صراحتًا مذکور دی ، عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَىٰ : په اهل عرش اوسمٰوت کی دده مطاع کیدل اَو دده داحکامو پیروی کول دلیلة المعراج دحدیث څخه ثابت دی چی کله جبرائیل امین نبی کریم ﷺ دځان سره واخستی اوآسمان ته ورسیدل او داسمانونو ددروازو خلاصولو اراده یی وکړه نوپر دروازو مقررو ملائکو دده دحکم اطاعت وکی اوامین کیدل دجبرائیل علیه السلام خو ظاهر دی ، اوځینی امامانو دتفسیر دلته درسول کریم څخه مراد نبی کریم ﷺ اخستی دی او ذکر سوی صفتونه یی په څه قدر تکلف سره دده ﷺ په ذات پوری منطبق کړی دی . والله تعالی اعلم

مخ ته دنبی کریم ﷺ عظمت شان او دکفارو بی هوده الزامونو جواب دی ، وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ دا دکفارو دهغه بی هوده اعتراض جواب دی کوم چی معاذ الله نبی کریم ﷺ ته به یی مجنون ویل .

وَلَقَدْ رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ : یعنی نبی کریم ﷺ جبرائیل امین په ښکاره افق لیدلی دی لکه چی دسورة نجم په آیت کی دی فَاسْتَوَىٰ وَهُوَ بِالْأُفُقِ الْأَعْلَىٰ: اومقصود ددی ذکرڅخه دا دی چی دوحی راوړونکی ملائکی جبرائیل علیه السلام سره نبی کریم ښه واقف وو ، دی علیه السلام یی په اصلی صورت اوهیئت سره هم لیدلی وو ، په دی وجه په

دی وحی کی دځه شك او شبهې ګنجائش نسته ، باقي دآیتونو مضمون دلنډ تفسیرڅخه واضح سوی دی

تمّت سورة التکویر بحمد الله تعالی یوم الاربعاء ۸ شعبان سنه ۱۳۹۱هـ

﴿سورة الانفطار﴾

سُوْرَةُ الْاِنْفِطَارِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ هِيَ تِسْعَ عَشْرَةَ اٰيَةً

سورة انفطار په مکه کی نازل سو او په دی کی نولس (۱۹) آیتونه دی .

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی .

اِذَا السَّمَآءُ انْفَطَرَتْ ۝١ وَاِذَا الْكَوَاكِبُ انْتَثَرَتْ ۝٢ وَاِذَا الْبِحَارُ

هرکله چی آسمان خیری سی ، اوهرکله چی ستوری مات سی خواره واره سی ، اوکله چی دریابونه

فُجِّرَتْ ۝٣ وَاِذَا الْقُبُوْرُ بُعْثِرَتْ ۝٤ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ

وبهول سی ،اوکله چی قبرونه لاندی باندی کړل سی ، پوه به سی هر یو نفس چی څه یی مخکی لیږلی دی

وَاَخَّرَتْ ۝٥ يٰۤاَيُّهَا الْاِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيْمِ ۝٦ الَّذِيْ

اوڅه یی وروسته پریښی دی ، ای انسانه ! څه شی مغروره کړی ته په خپل رب کریم باندی ، کوم چی

خَلَقَكَ فَسَوّٰىكَ فَعَدَلَكَ ۝٧ فِيْۤ اَيِّ صُوْرَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ۝٨

ته پیدا کړی بیایی ته صحیح کړی،بیا یی برابر کړی ، هر صورت کی چی دهغه رضا سوه ته یی جوړ کړی ،

كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُوْنَ بِالدِّيْنِ ۝٩ وَاِنَّ عَلَيْكُمْ لَحٰفِظِيْنَ ۝١٠ كِرَامًا

هیڅکله نه ده بلکه درواغ ګڼی انصاف کیدل ، او په تاسی نګهبانان مقرر دی ، عزت والا

كَاتِبِيْنَ ۝١١ يَعْلَمُوْنَ مَا تَفْعَلُوْنَ ۝١٢ اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِيْ نَعِيْمٍ ۝١٣

عمل لیکونکی ، پیژنی څه چی تاسی کوی ، بیشکه نیك خلق دی په جنت کی ،

وَاِنَّ الْفُجَّارَ لَفِيْ جَحِيْمٍ ۝١٤ يَّصْلَوْنَهَا يَوْمَ الدِّيْنِ ۝١٥ وَمَا هُمْ

او بیشکه ګناهګار په دوږخ کی دی ، وبه غورځول سی په هغه کی دانصاف په ورځ ، او نه به وی

عَنْهَا بِغَآئِبِيْنَ ﴿۱۶﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿۱۷﴾ ثُمَّ مَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ

دهغه ځخه جلا کيدونکي ، او تاته څه خبر دي چي څنګه ده دانصاف ورځ ، بيا تا ته څه خبر دي چي څنګه

الدِّيْنِ ﴿۱۸﴾ يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْـًٔا ۭ وَالْاَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ﴿۱۹﴾

ده دانصاف ورځ، په کومه ورځ چي مالك نه وي يو نفس دبل نفس دپاره دڅه شي او حکم په دغه ورځ دالله ﷻ دی.

لنډتفسير: هرکله چي آسمان څيری سی او ستوری (مات سی) ورژيږی او کله چي ټول دريابونه (خواږه او ترخه) وبهيږی (اووبهيږی يوشی لکه چي په لوړسورة کی دسُجِّرت په تفسيرکی بيان سوی دی ، دا دری سره واقعات خو داولی شپيلی دی ، مخ ته د دوهمی شپيلی ځخه وروسته واقعه ده يعني) او کله چي قبرونه خلاص سی (يعني مړی ورځخه را پورته سی ودريږی دغه وخت) هر سړی به خپل مخکی او وروسته وپيژني (او ددی واقعاتو مقتضٰی دا وه چي انسان دغفلت دخوب ځخه بيدار سوی وای ، په دی وجه مخ ته په غفلت زجر او خبرداری دی چي) ای انسانه ! ته څه شی ستادداسی رب کريم ځخه په غفلت کی غورځولی يی کوم چي ته (انسان) جوړ کړی ، بيايی ستا اندامونه برابر کړل ، بيايی ته په (مناسب) اعتدال باندی جوړکی (يعني ستاپه اندامونوکی يی تناسب کښيښووی او) په کوم صورت کی چي يی غوښتل ته يی مرکب کړی ، هيځکله (مغرور) نه (دی کيدل په کار مګر تاسی دغرورځخه واپس کيږی نه) بلکه (په دومره درجه کی مو غرور زيات سوی دی چي) تاسی (په خپله) جزا او سزا (په کومه سره چي دا غرور دفع کيدی سوای) درواغجن کوی او (دا درواغجن کول به ستاسی خالي نه ځی ، زمونږ دطرف ځخه) په تاسی (ستاسی دټولو عملو) يادساتونکی (کوم چي زمونږ په نزد) معزز (او ستاسی دعملونو) ليکونکی (دی) مقرر دی کوم چي ستاسی ټوله عملونه پيژني (اوليکی يی ، نو په قيامت کی به دا ټول عملونه پيش کيږی په کومو کی چي ستاسی دا تکذيب او کفر هم دی او په ټولو به مناسبه جزا ورکول کيږی چي تفصيل يی مخ ته دا دی چي) نيك خلك به بيشکه په ارام کی وی او بدکار (يعني کافران) خلك به بيشکه په دوزخ کی وی ، په ورځ دجزا به په هغه کی دا خليږی او (بياچي دا خل سی) دهغه ځخه به دباندی نه سی (بلکه په هغه کی به هميشه وی) تاته څه خبردی چي دغه ورځ دجزا څنګه ده (مقصود ددی استفهام ځخه هولناك کيدل دی، مخ ته جواب دی چي) هغه داسی ورځ ده په کومه کی چي به دهيچا دبل چا دنفع دپاره څه وس نه چليږی او ټول حکومت به په دغه ورځ خاص دالله ﷻ وی .

معلومات اومسئلي: عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَاَخَّرَتْ : يعني کله چي دقيامت هغه حالات پيښ سی دکومو ذکر چي دسورة په شروع کی سوی دی ، دآسمان څيريدل ، دستورو رژيدل ، ټول خواږه او ترخه دريابونه يو کيدل ، دقبرونو ځخه دمړو پورته کيدل ، دغه وخت به هرانسان پوه سی چي ده څه مخ ته راليږلی دی اوڅه يی وروسته پريښی دی، دمخ ته ليږلو ځخه مراد په دی عمل کول دی او د وروسته پريښودو ځخه مراد ترك عمل دی ، نو دقيامت په ورځ به هر سړی پوه سی چي ده نيك او بد کوم کوم عمل کړی دی او په

نیکی اوبدی کې یې څه پرینبې وه ، اودا معنٰی هم کیدی سی چې دمخ ته لیږل سوو عملو څخه مراد هغه عملونه وي کوم چې ده په خپله کړي وي ، برابره خبره ده که نیك وي اوكه بد ، او د وروسته پرینبیدو څخه مراد هغه عملونه دي کوم چې ده په خپله خونه وي کړي لیکن دهغه رواج یې په دنیا کې پرینبی وي که هغه نیك کار وي نو ثواب به یې ده ته ورکول کیږي اوکه بدوي نو بدي به یې دده په عملنامه کې لیکل کیږي لکه چې په حدیث کې دي چې کوم سړي په اسلام کې یو ښه سنت اوطریقه جاري کړه دهغه ثواب به همیشه ده ته ورکول کیږي اوچاچې یو بدرسم اودګناه کارپه دنیاکې جاري کې نوترڅو پوري چې خلګ په هغه بدکار کې اخته وي، دهغه ګناه به دهغه سړي دپاره هم لیکل کیږي، دا مضمون مخکې هم په آیت ، یُنَبَّؤُا الْاِنْسَانُ یَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَاَخَّرَ کې تیر سوی دی .

یٰاَیُّهَا الْاِنْسَانُ مَاغَرَّكَ : ددې څخه په مخکې آیتونو کې یې دقیامت دهولناکومعاملوذکر وفرمایې اوپه دې آیت کې یې دانسان دپیدائش دابتدایې مرحلو ذکر وفرمایې ددې مجموعې تقاضا دا وه چې که انسان دڅه هم غور اوفکر څخه کاراخستی نوپه الله ﷻ اودهغه په رسول به یې ایمان راوړی او د دوی داحکامو څخه به یې دوربینته په اندازه هم انحراف نه کوی ، مګرانسان په غفلت اوهیره کې پریوتی، پردې باندې یې په طور دزجر اوخبردارولو داسوال وفرمایې چې ای انسانه ستادابتداء اوانتها داحالات تاته په مخکې دی ، ددې باوجود ته څه شي په غفلت اودوکه کې غورځولی چې دالله ﷻ نافرمانی دې شروع کړه دلته دانسان دپیدائش دابتدایې مرحلوپه ذکرکې یې اول وفرمایل ، خَلَقَكَ فَسَوّٰكَ یعنی الله ﷻ ته پیدا کړې او صرف پیدا یې نه کړې ، بلکه ستاوجود او ټول اندامونه یې په یوخاص مناسبت سره برابرکړی جوړکړل ، هر یوه اندام ته یې دهغه مناسب ځای ورکی ، دهر یوه اندام جسامت اوطول عرض یې په یو تناسب سره جوړکې چې که یوه ذره مختلف سی نو دانسانی اندامونو هغه فائدې باقی نه پاته کیږي ، کوم چې په دې موجوده صورت کې دې ددې څخه وروسته یې وفرمایل فَعَدَلَكَ یعنی ستاوجودته یې یو خاص اعتدال ورکی کوم چې ددنیا په یو بل جاندارکې نسته ، داعضاؤ دتناسب په پیدائش کې متضاد او مختلف مواد شامل دي وینه ، بلغم، سوداء، صفراء، ځینې ګرم ځینې یخ، مګر حکمت ربانی ددې متضاد شیانو څخه یومعتدل مزاج تیار کې ، ددې څخه وروسته یې یو دریم خصوصیت بیان وفرمایې .

فِیْٓ اَیِّ صُوْرَةٍ مَّاشَآءَ رَكَّبَكَ : یعنی سره ددې چې پیدائش دټولو انسانانو په یو خاص وضع او هیئت او مزاج باندې دکیدو په وجه په ټولوکې مشترك دی ددې نتیجه په ظاهره دا په کار وه چې ټول په یو شکل اوصورت وای ، د دوی په مینځ کې فرق کول ګران وای ، مګر دحق تعالی ﷻ کامل قدرت او بالغ حکمت دکروړونو بلکه داربونو کربونو انسانانو په شکل او صورت کې داسې امتیازات پیدا کړل کوم چې دیو بل سره مشتبه کیږي ، صفا او ښکاره فرق او امتیاز په کې وي .

دانسان دابتدایې پیدائش دقدرت داکمالات یې بیان کړل ، ارشادیې وفرمایې ، مَاغَرَّكَ بِرَبِّكَ الْکَرِیْمِ : چې ای غافل انسانه ! کوم پروردګار چې ستاپه وجودکې داسې داسې کمالات پیداکړل، دهغه په معامله کې تاولې دوکه اوفریب وخوړې چې هغه دې هیرکې او دهغه داحکامو نافرمانی دې شروع کړه ، تاته خو په

خپله ستادجسم يو يو بند دالله ﷻ ديادولو اودهغه پراطاعت دمجبورولو كافي وو ، بياداهير اوغفلت دا غرور او دوكه درته څنګه ولګيدل ، دلته يي درب صفت كريم ذكركي ، ددي جواب طرف ته يي هم اشاره وكړه چي دانسان په هيره او دوكه كي دپريوتو سبب دالله ﷻ كريم كيدل دي چي هغه په خپل لطف اوكرم سره دانسان په ګناه فوراً سزانه وركوي ، بلكه دده په رزق اوعافيت اودنيوي ارام او راحت كي هم څه كمي نه كوي ، دالطف اوكرم دده دغرور او دوكي سبب جوړ سو ، حال دا دي چي كه لږ څه يي دعقل څخه كار اخستي نو دا لطف اوكرم دغرور اوغفلت دسبب جوړيدو په ځاى به نور زيات دخپل رب كريم داحساناتو ممنون سوي په اطاعت كي دلګيدو سبب جوړيدل په كار وو .

حضرت حسن بصري رحمه الله فرمايي چي ، كَمْ مِنْ مَغْرُوْرٍ تَحْتَ السَّتْرِوَهُوَلَايُشْعِرُ: يعني څومره انسانان داسي دي چي الله ﷻ د دوي په عيبونو اوګناهونو په ده اچولي ده ، دوي يي رسوا نه كړل او دوي په دي لطف اوكرم سره نور زيات په غرور او دوكه كي اخته سول .

إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ، وَإِنَّ الْفُجَّارَ لَفِي : جَحِيمٍ ددي تعلق دهغه جملي سره دي كومه چي مخكي تيره سوه يعني ، عَلِمَتْ نَفْسٌ مَا قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ : چي دقيامت په ورځ به هر انسان ته خپل خپل عمل مخ ته راسي ، په دي جمله كي ددي عمل دجزا اوسزا ذكر دي چي اطاعت شعار ابرار به په دغه ورځ دالله ﷻ په نعمتونو كي خوشحالي كوونكي وي او سركښ اونافرمانه به دجهنم په اوركي وي ، وَمَاهُمْ عَنْهَا بِغَائِبِينَ : يعني دوږخيان خلګ به هيڅ وخت هم د دوږخ څخه غائب نه سي ځكه چي د دوي دپاره دهميشه پاته كيدو او دائمي عذاب حكم دي ، لَاتَمْلِكُ نَفْسٌ لِنَفْسٍ شَيْئًا : يعني يو سړى به په خپل اختيار يوبل چاته په محشركي څه نفع ونه رسولي سي او نه به دچا تكليف كم كړل سي ، په دي سره دشفاعت نفي نه كيږي ځكه چي شفاعت به دچاپه خپل اختيار سره نه وي ، تر څو پوري چي الله ﷻ چاته دشفاعت اجازه وركي او بيايي شفاعت قبول كي نو دا هم دهغه حكم دي . والله تعالى اعلم

تمت سورة الانفطار بحمد الله ليلة الاربعاء ٨ شعبان سنه ١٣٩١هجرى

﴿ سورة التطفيف ﴾

سُوْرَةُ الْمُطَفِّفِيْنَ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَهِيَ سِتٌّ وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً

سورة تطفيف په مكه كي نازل سو او په دي كي شپږ (۳۶) ديرش آيتونه دي .

شروع كوم په نوم سره دخداى ﷻ چي ډير مهربانه نهايت رحم والا دي .

وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَ ① الَّذِيْنَ إِذَا اكْتَالُوْا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُوْنَ ②

خرابي ده كمونكو لره ، هغه خلق هركله چي ناپ كوي ـ خلقو څخه نو پوره اخلي ،

وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ ۝٣ أَلَا يَظُنُّ أُولَٰٓئِكَ أَنَّهُم

اوکله چی ناپ کوئ هغوی ته نو کموی یی ، آیا خیال نه کوی هغه خلق چی دوی لره

مَّبْعُوثُونَ ۝٤ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ ۝٥ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَٰلَمِينَ ۝٦

بیا پورته کیدل دی ، دهغه لوی ورځی دپاره ، په کومه ورځ چی ودریږي خلق په انتظار درب العلمین کی

كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ الْفُجَّارِ لَفِي سِجِّينٍ ۝٧ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا سِجِّينٌ ۝٨

هیڅکله نه بیشکه عملنامی به دمجرمانو په سجن کی وی ، او تاته څه خبردی چی سجین څه دی ،

كِتَٰبٌ مَّرْقُومٌ ۝٩ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ۝١٠ الَّذِينَ يُكَذِّبُونَ

یو دفتر دی لیکل سوی ، خرابی ده په دغه ورځ درواغجن کوونکو لره ، کوم چی درواغ گنی

بِيَوْمِ الدِّينِ ۝١١ وَمَا يُكَذِّبُ بِهِۦٓ إِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ۝١٢ إِذَا

ورځ دانصاف ، او دغه درواغجن کوی هغه کوم چی لوی دحد څخه وتونکی گناهکاردی ، هرکله

تُتْلَىٰ عَلَيْهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ الْأَوَّلِينَ ۝١٣ كَلَّا ۖ بَلْ ۜ رَانَ

چی وویل سی ده ته زمونږ آیتونه وایی نقلونه دی دپخوانیو ، هیڅ نه بلکه ، زنگ

عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ۝١٤ كَلَّآ إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ

راغلی دی د دوی په زړونو دهغو عملونو چی دوی کول ، هیڅ نه هغوی به دخپل رب څخه په دغه ورځ

لَّمَحْجُوبُونَ ۝١٥ ثُمَّ إِنَّهُمْ لَصَالُوا۟ الْجَحِيمِ ۝١٦ ثُمَّ يُقَالُ هَٰذَا الَّذِي

منع کړل سی ، بیا خامخا دوی غورځونکی دی په دوږخ کی ، بیا به ورته وویل سی دا هغه دی کوم

كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ۝١٧ كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ الْأَبْرَارِ لَفِي عِلِّيِّينَ ۝١٨ وَمَآ

چی تاسی درواغ گڼل ، هیڅکله نه بیشکه عملنامه دنیکانو په علین کی ده ، او تاته

أَدْرَىٰكَ مَا عِلِّيُّونَ ۝١٩ كِتَٰبٌ مَّرْقُومٌ ۝٢٠ يَشْهَدُهُ الْمُقَرَّبُونَ ۝٢١

څه خبردی چی څه دی علین ؟ ، یو دفتر دی لیکل سوی ، چی دغه وینی نژدیکان یعنی ملائکی

إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ﴿٢٢﴾ عَلَى الْأَرَائِكِ يَنظُرُونَ ﴿٢٣﴾ تَعْرِفُ فِي

بیشکه نیکان خلق دی په ارام کی ، په تختونو باندی ناست گوری به ، پیژنی به ته په

وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ النَّعِيمِ ﴿٢٤﴾ يُسْقَوْنَ مِن رَّحِيقٍ مَّخْتُومٍ ﴿٢٥﴾ خِتَامُهُ

مخونو د دوی کی تازگی دآرام ، چیښل کیږي به دوی ته د شرابو خالصو مهر لگول سوو څخه چی مهر

مِسْكٌ ۚ وَفِي ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ ﴿٢٦﴾ وَمِزَاجُهُ مِن

به یی وی په مشکو سره ، او په دی سره دی مینه وکړی مینه کوونکی ، او گډ به وی ددې

تَسْنِيمٍ ﴿٢٧﴾ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُونَ ﴿٢٨﴾ إِنَّ الَّذِينَ أَجْرَمُوا

سره د تسنیم څخه ، هغه یوه چینه ده چی چښی به ورڅخه نژدیکان ، بیشکه هغه خلق چی گناهکار

كَانُوا مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا يَضْحَكُونَ ﴿٢٩﴾ وَإِذَا مَرُّوا بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ ﴿٣٠﴾

وو په مؤمنانو پوری به یی خنداگانی کولی ، او کله چی به تیریدل په دوی نو په خپل مینځ کی به یی سترکی وهلی

وَإِذَا انقَلَبُوا إِلَىٰ أَهْلِهِمُ انقَلَبُوا فَكِهِينَ ﴿٣١﴾ وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوا

او کله چی به وگرځیدل خپل کورته نو گرځیدل به خبری جوړونکی ، او کله چی به یی دوی لیدل ویل

إِنَّ هَٰؤُلَاءِ لَضَالُّونَ ﴿٣٢﴾ وَمَا أُرْسِلُوا عَلَيْهِمْ حَافِظِينَ ﴿٣٣﴾ فَالْيَوْمَ

به یی چی بیشکه دا خلق بی لاری سوی دی ، او نه دی لیږل سوی په هغوی باندی دوی نگهبانان ، پس نن به

الَّذِينَ آمَنُوا مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ ﴿٣٤﴾ عَلَى الْأَرَائِكِ يَنظُرُونَ ﴿٣٥﴾

ایماندار په کفارو پوری خندا کوی ، په تختونو به ناست وی گوری به ،

هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾

آیا اوس بدله پیدا کړه کافرانو دهغه چی دوی کول .

لنډتفسیر: لویه خرابی ده په ناپ تول کی کمی کوونکو لره چی کله دخلکو څخه (خپل حق) اخلی ناپ کوی

نو پوره اخلی او کله چی هغوی ته ناپ کوی یا تول کوی نو کمی کوی (که څه هم دخلکو څخه خپل حق پوره

اخستل مذموم نه دی ، مگر ددی په ذکر کولوسره مقصود په خپله په دی مذمت کول نه دی بلکه په کم ورکولو دمذمت تاکید اوتقویت دی یعنی کم ورکول که څه هم فی نفسه مذموم دی ، لیکن ددی سره که دنورو یوه ذره رعایت ونه سی نو نور زیات مذموم دی په خلاف درعایت کوونکی څخه چی که په ده کی عیب وی نو یو هنر هم په کی دی ، په دی وجه داولنی سړی عیب اشد دی اوچونکی اصل مقصود مذمت دی دکم ورکولو ، په دی وجه په دی کی دناپ اوتول دواړو ذکر وسوچی ښه وضاحت وسی چی په پیمانه کی هم کم ورکوی او په تول کی هم کم ورکوی اوچونکی پوره اخستل فی نفسه مدار دمذمت نه دی ، په دی وجه یی هلته دپیمانی او تول دواړو ذکرونه کی ، بلکه دیوه ذکر یی وکی ، بیاتخصیص دپیمانی شاید ځکه وی چی په عربو کی زیات دستور دپیمانی وو ، خصوصًاکه آیت مدنی وی لکه چی په روح المعانی کی په روایت دنسایی اوابن ماجه اوبیهقی یی ددی نزول دمدینی والاوو په باب کی لیکلی دی نو دغه وخت ددی تخصیص وجه زیاته ظاهره ده ځکه چی په مدینه کی دپیمانی دستور دمکی څخه هم زیات وو ، مخ ته یی داسی کوونکی بیرولی دی چی) آیادی خلگوته ددی یقین نسته چی هغوی به په یوه سخته ورځ کی ژوندی پورته کیږی په کومه ورځ چی ټول خلګ درب العٰلمین په مخکی ودریږی (یعنی ددغی ورځی څخه بیرول په کار دی او دتطفیف یعنی دخلگو دحق وهلو څخه توبه ایستل په کار دی چی دا بیا پورته کیدل او جزا یی واوریده کوم چی مومنان وه ، هغه وبیریدل اوکوم چی کافران وه هغوی انکار وکی ، په دی وجه مخ ته په انکار باندی خبرداری ورکوی ، دفریقینو دجزاء تفصیل فرمایی چی لکه ځنګه چی کافران خلګ دجزا اوسزا څخه منکردی) هیڅکله (داسی) نه ده (بلکه سزا او جزا ضرور واقع کیدونکی ده په کومو عملونو چی جزا اوسزا وی هغه هم لیکلی اومحفوظ دی او ددی مجموعی بیان دا دی چی) دبد کارو (یعنی کافرانو) خلګو عملنامه به په سجین کی وی (هغه یومقام دی په اوومه مځکه کی کوم چی مقام دی دکفارو دارواحانو ، لکه چی په تفسیرِ ابن کثیرکی دکعب څخه اوپه درمنثور کی دحضرت ابن عباس ﷺ مجاهد او فرقد اوقتاده اوعبدالله ابن عمر څخه موفوعًا اودکفارو دعملونو هم په دی مقام کی کیدل ، دعبدالله ابن عمر څخه په درمنثورکی منقول دی مخ ته دبیرولو دپاره سوال دی چی) اوتاته څه معلومه ده چی په سجین کی ایښوول سوی عملنامه څه شی دی هغه یو نښانه سوی دفتردی (دنښان څخه مراد مهردی لکه په درمنثور کی دکعب احبار څخه نقل دی . لِيُخْتَمُ وَيُوْضَعُ اَیْ بَعْدَ الْمَوْتِ : مقصود به دا وی چی په دی کی دتغیر اوتبدل هیڅ احتمال نسته ، نومطلب ددغو عملونو محفوظ کیدل دی په کومو سره چی دجزا په حق کیدل ثابت سوه ، مخ ته ددی عملونو دجزا بیان دی چی) په دغه ورځ (یعنی دقیامت په ورځ) به درواغجن کوونکو لره لویه خرابی وی کوم چی ورځ دجزا درواغجن کوی اودغه (ورځ دجزا) خوهغه سړی درواغجن کوی، کوم چی دحد (دبندګی) څخه تیریدونکی اومجرم وی اوکله چی دده په مخکی زمونږ آیتونه ویل کیږی نو داسی وایی چی دا بی سنده خبری دمخکنیو څخه منقول راروانی دی (مطلب دا ښوول دی چی کوم سړی دقیامت ورځ درواغجن کوی هغه زیاتی کوونکی ، ګناهګار دی ، درواغجن کوونکی دقرآن دی ، مخ ته دورځی دجزاپردرواغجن کوونکو

باندی چی کوم صراحتًا مذکور دی خبرداری ورکړی دی چی داخلګ داغلطه ګنی) هیڅکله داسی نه ده (اوچاته دی داشبهه نه وی چی ددوی سره به څه دلیل دنفی وی، په کوم سره چی دااستدلال کوی هیڅکله نه ده) بلکه (اصل وجه دتکذیب دا ده چی) د دوی په زړونو د دوی دبدو عملونو زنګ پریوتلی دی (په دی سره یی دحق قبلولو استعداد فاسدسو، په دی وجه دعناد په بنا انکار کوونکی سول ، مخ ته بیاپر انکار زجر دی چی لکه څنګه چی داخلګ ګنی) هیڅکله داسی نه ده (مخ ته دوَیل څه تفصیل دی چی هغه خرابی داده چی) داخلګ به په دغه ورځ (یوخو) دخپل رب (ددیدار) څخه منع سی بیا (صرف پردی به بسوالی نه وی بلکه) دوی به په دوږخ کی داخل سی بیا(ده ته) به وویل سی چی دادی کوم چی تا درواغجن کوی (اودی خلګوبه چی لکه څنګه دانصاف دورځی په درواغجن کولو کی خپله سزادرواغجن کوله دغه شان به یی دمومنانو جزاهم درواغجن کوله مخ ته په دی خبرداروَل فرمایی چی دوی چی کوم دمومنانو داجر اوثواب څخه منکردی) هیڅکله داسی نه ده (بلکه د دوی اجر اوثواب ضرورکیدونکی دی ، دکوم بیان چی دا دی چی) دنیکانو خلګو عملنامه به په علیین کی وی (هغه یومقام دی په اووم آسمان کی کوم چی مستقردی دروحونو دمومنانو لکه چی په تفسیر ابن کثیرکی دکعب څخه دی) او (مخ ته دپوهولو دپاره فرمایی اوسوال کوی چی) تاته څه معلومه ده چی په علیین کی اینبوول سوی عملنامه څه شی دی هغه یونښانه سوی دفتردی کوم چی مقربی ملائکی (په شوق سره) ګوری (اودادومومن ډیرلوی اکرام دی لکه چی په روح المعانی کی په تخریج کی دعبدبن حمید دحضرت کعب څخه روایت دی چی کله دمومن روح ملائکی قبض کوی وړی یی نو دهر آسمان مقربی ملائکی دده سره کیږی تردی چی اووم آسمان ته ورسیږی دده روح کښیږدی بیاملائکی عرض کوی چی مونږ دده عملنامه کتل غواړو، چنانچی دغه عملنامه ښکاره کی) ښوولی کیږی (په لنډه سره مخ ته د دوی دآخرت دجزا بیان دی چی) نیک خلګ به ډیر په ارام کی وی په تختونو به (ناست دجنت دعجائبات به) ګوری (ای مخاطبه) ته به دهغوی په مخونو کی داسائش تازګی پیژنی او دوی ته به دڅښلودپاره خالص شراب سر بمهرپه کوموچی به دمشکو مهر وی ورکول کیږی اوحرص کوونکو ته دداسی شی حرص کول په کار دی (چی دا حرص لائق دی ، برابره خبره ده که شراب مراد واخستل سی اوکه دجنت ټول نعمتونه ، یعنی دشوق او رغبت شی دا نعمتونه دی نه چی ددنیا ناقص اوفانی لذتونه اوددی دحاصلولو طریقه نیک عملونه دی ، نو په دی کی کوشش کول په کار دی) او ددی شرابو ګډون به دتسنیم داوبو سره وی (عربو به عمومًاپه شرابو کی اوبه ګډولی اوڅښل به یی نودهغه شرابو دګډون دپاره به دتسنیم اوبه وی، مخ ته دتسنیم تشریح ده) یعنی یوه داسی چینه دکومی څخه چی به مقرب خُلګ اوبه څښی (مطلب دا چی سابقینو یعنی مقربینوته به خالص دڅښلو دپاره دهغه اوبه ورکول کیږی او اصحاب الیمین یعنی ابراروته به دهغه اوبه په نورو شرابو کی ګډی ورکول کیږی ، لکه چی په درمنثورکی دقتاده اومالك بن الحارث اوابن عباس اوابن مسعود اوحذیفه څخه دی ، او دا مهر لګول علامه داکرام دی کنه نو هلته دداسی حفاظت ضرورت نسته اودمشکو دمهر مطلب دادی چی لکه څنګه چی قاعده ده چی لاك اونور ولګوی پرهغه مهروهی اوداسی

شی ته طينِ ختام وايي هلته به دشرابو دلوښي پرځله باندي مشك ولګوی اوٌمهربه پرووهي، تردې ځای پوري دفريقينو داخروی جزا جدا جدا بيان وو، مخ ته دمجموعه فريقينو دمجموعي حال ددنيا اواخرت ذکر دی يعني) کوم خلګ چي مجرمان (يعني کافران) وه، هغوی به په ايماندارو پوري (په دنياکی په طور دسپك ګڼلو) خنداګاني کولي اودا (ايمان والا) کله چي به دکافرانوپه مخکی تيريدل نوپه خپلو کی به يی په سترګو سره اشاري کولي (مطلب داچي ددوی سره به په تحقير اومسخروسره مخ ته ورتلل) اوکله چي به خپلو کورونوته تلل نو (هلته به يی هم ددوی ذکرکوی) پشاله (اومسخری) به يی کولی (مطلب داچي په پناه اومخامخ دواړو حالتونوکی به يی په دوی پوري دمسخرو اوخنداګانو کولو مشغله وه، البته مخامخ به يی اشاري کولي اوپشاله يی په ډاګه تذکری کولي) اوکله چي به يی دوی ليدل نوداسی به يی ويل چي داخلګ يقيناً په غلطی باندي دی (ځکه چي کفاروبه اسلام پرغلطه ګڼي) حال دادی چي داکافران پرمسلمانانو باندي نګرانی کوونکی نه وه ليږل سوی (يعني دوی لره دخپل ځان فکر کول په کار وو په هغوی ولي پسي سول، نو د دوی څخه دوی غلطياني وسوی اول په اهلِ حق پوري مسخری بيادخپلي اصلاح څخه بي فکري) نو نن دقيامت په ورځ به مومنان په کافرانو پوري خنداګاني کوی، په تختونو به ناست وی د دوی حال به ګوری (په درمنثورکی دقتاده څخه مذکور دی، چي ځيني کړکی به داسی وی په کوموکی چي به جنتيان دوږخيانوته کتلی سی نو د دوی بدحال به ويني په طور دانتقام به په دوی پوری خنداګانی کوی، مخ ته تقريردی ددی سزا يعني) واقعي کافرانو ته د دوی دعمل پوره بدله ورکول سوه.

معلومات اومسئلي : سورة تطفيف دحضرت عبدالله ابن مسعودؓ په قول مکی سورة دی په عامو مصاحفو دقرآن کی پردی بنا دامکی ليکل سوی دی، اودحضرت ابن عباسؓ قتاده، مقاتل، ضحاك په نزد مدني سورة دی، مګر ددی اته آيتونه مکی دی، امام نسايي دحضرت ابن عباسؓ څخه روايت کړی دی چي کله نبی کريمﷺ مدينی طيبی ته تشريف راوړی نو وي ليدل چي دمدينی منوری دخلګوعام معاملات په ناپ يعني پيمانه سره کيدل، هغوی په دي معامله کی دغلا کولو اوکوم ورکولو عادت وه په دی باندي دا سورة تطفيف نازل سو، دحضرت ابن عباسؓ څخه روايت دی چي دا اولني سورة دی، کوم چي په نبی کريمﷺ مدينی طيبی ته درسيدو سره نازل سو، وجه دا وه چي دمدينی په خلګوکی دارواج دغه وخت عام وو چي کله به يی په خپله دچا څخه څه سودا اخيسته نو ناپ اوتول به يی پوره پوره اخستی اوکله چي به يی پرنورو باندی سودا خرخوله نوپه هغه کی به يی کمی اوغلا کوله، ددی سورة په نازليدو باندي داخلګ ددی بد رسم څخه منع سول او داسی ورڅخه منع سول چي ترننه پوری دمدينی منوری خلګ په ناپ اوتول پوره پوره ورکولو کی معروف اومشهور دی (رواه الحاکم، النسائی وابن ماجه بسند صحيح، از مظهری)

وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ مطففين: دتطفيف څخه مشتق دی چي معنٰی يی په ناپ اوتول کی کمی کول دی او داسی کوونکی ته مطفف وايي، دقرآن حکيم ددی ارشاد څخه ثابته سوه چي تطفيف کول حرام دی

(تطفيف صرف په ناپ اوتول کي نه دي بلکه حقدار لره دهغه دحق څخه کم ورکول چي په هرشي کي وي په تطفيف کي داخل دي)

په قرآن اوحديث کی په ناپ اوتول کی کمی کول يی حرام مقررکړی دی ځکه چی په عام طورسره دمعاملاتو طرز اوطريقه په دی دوو طريقو سره کيږی ، ددی په ذريعه دا ويل کيږی چی دحقدارحق ادا سو يا نه سو ، ليکن دا معلومه ده چی مقصود ددی څخه دهر يوه حقدار حق پوره پوره ورکول دی ، په دی کی کمی کول حرام دی ، نو معلومه سوه چی دا صرف دناپ اوتول سره مخصوص نه دی بلکه هرهغه شی په کوم سره چی دچاحق پوره کول يانه پوره کول معلوميږی دهغه هم داحکم دی ، برابره خبره ده که په ناپ اوتول سره وی ياپه عدد اوشمير سره وی ياپه څه بله طريقه سره ، په هر يو کی دحقدار دحق څخه کم ورکول په حکم دتطفيف حرام دی .

په موطاء امام مالك کی دی چی حضرت عمربن خطاب ﷺ يو سړی وليدی چی هغه دلمانځه رکوع سجده اونورنه پوره کول ژرژر يی لمونځ ختموی ، نو ده ته يې وفرمايل لَقَدْ طَفَّفْتَ : يعنی تادالله ﷻ په حق کی تطفيف وکی ، دحضرت فاروق اعظم ﷺ ددی قول نقل کولو څخه وروسته فرمايي ، لِكُلِّ شَيْءٍ وَفَاءٌ وَتَطْفِيفٌ : يعنی پوره حق ورکول ياکمول په هرشی کی دی ، تردی چی په لمانځه اوداسه اوطهارت کی هم او دغه شان په نورو حقوق الله اوعبادتونوکی کمی اوکوتاهی کوونکی دتطفيف کولو مجرم دی ، دغه شان په حقوق العبادکی چی کوم سړی يی ترمقرر حق کموی ، هغه هم دتطفيف په حکم کی دی ، مزدور ملازم چی څومره وخت دخدمت وعده کړي ده ، دهغه څخه وخت کمول اوپټول هم په دی کی داخل دی ، په وخت کی دننه چی څنگه په محنت سره کار کول په عرف کی معمول دی په دی کی سستی کول هم تطفيف دی ، په دی کی په عامو خلکوکی تردی چی په اهل علم کی هم غفلت پيداکيږی دخپل ملازمت په فرائضوکی کمی کول څه گناه هم نه گڼی ، اعاذنا الله منه .

حديث ، دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه روايت دی چی نبی کريم ﷺ فرمايلی دی چی خَمْسٌ بِخَمْسٍ يعنی دپنځو گناهونو سزا پنځه شيان دی (۱) کوم سړی چی وعده ماتوی الله ﷻ په هغه باندی دهغه دښمن مسلط اوغالب کوی (۲) کوم قوم چی دالله ﷻ قانون پريږدی په نورو قوانينو فيصلی کوی په هغوی کی فقر او احتياج عام سی (۳) په کوم قوم کی چی بی حيايي او زنا عامه سی په هغه کی الله ﷻ طاعون (اونور وبايي مرضونه) مسلط کوی (۴) اوکوم خلک چی په ناپ اوتول کی کمی کول شروع کی الله ﷻ هغوی په قحط کی اخته کوی (۵) کوم خلک چی زکوة نه ادا کوی الله ﷻ دهغوی څخه باران منع کوی (قرطبی دا حديث ذکر کړی دی او ويلی يی دی چی دا يی هم په دی معنیٰ سره بزار را ايستلی دی اومالك بن انس دارنگه دحديث دابن عمر ﷺ څخه)

اوطبرانی دحضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت کړی دی چی نبی کريم ﷺ فرمايلی دی چی په کوم قوم کی دغنيمت دمال څخه غلا رواج سی ، الله ﷻ دهغه قوم په زړونوکی ددښمن رعب اوهيبت واچوی اوپه کوم قوم کی چی سود خوری رواج سی ، په هغه قوم کی مرگونه ډير سی اوکوم قوم چی په ناپ اوتول

کی کمی کوی نو الله ﷻ دهغوی رزق قطع کړی او کوم خلګ چی دحق خلاف فیصلی کوی ، په هغوی کی قتل اوخون عام سی ، اوکوم خلګ چی په وعدو کی غداری کوی الله ﷻ په هغوی باندی دهغوی دښمن مسلط کی (رواه مالك موقوفًا) ازمظهری

(دفقر اوفاقي اوقحط او درزق قطع کیدو، مختلف صورتونه)

په حدیث کی چی دکومو خلګو درزق قطع کیدو ارشاد دی ، ددی دا صورت هم کیدی سی چی دی درزق څخه بالکل محرومه سی ، او دا صورت هم په قطع درزق کی دا خل دی چی رزق موجود وی خو دی بی خوړی نه سی یایی استعمالولی نه سی لکه چی په ډیرو بیماریو کی ددی مشاهده کیدی سی او په دی زمانه کی خو ډیر عام دی ، دغه شان دقحط دا صورت هم کیدی سی ، چی دضرورت شیان ورك سی او دا هم کیدی سی چی موجود وی بلکه دډیروالی باوجود دومره ګران سی چی اخستل یی مشکل سی، لکه نن صباچی لیدل کیږی چی اکثره شیان څومره ګران سوی اوپه حدیث کی چی دفقر مسلط کولو ارشاد دی ددی معنٰی صرف دانه ده چی روپی اوپیسی اودضرورت شیان دده سره نه وی بلکه دفقر اصل معنٰی محتاجی او حاجتمندی ده هرسړی چی په خپل کاروبار او دژوند په ضرورتونو کی څومره دنورو محتاجه وی دومره دی فقیردی ددی زمانی پرحالاتو چی فکر وسی نوانسان دخپلی استوګنی اونقل اوحرکت اوخپلو ارادوپه پوره کولو کی په داسی داسی قوانینو کی ګیر سوی په نظر راځی چی دده ترګولی اوخبری پوری پرده پابندی دی ، سره ددی چی خپل مال ورسره موجود دی خوپه اخستلو کی ازادنه دی چی دکم ځای څخه غواړی څه واخلی، په سفرکی ازادنه دی چی کله چیری تلل وغواړی ولاړسی ، په داسی داسی پابندیو کی انسان مبتٰلی دی چی دهرکار دپاره ددفترونو چکری اودافسرانو څخه واخله تر چپړاسیانو پوری دخوشامندو کولو څخه بغیر ژوند تیرول ګران دی، داټوله محتاجی ده دکوم دوهم نوم چی فقر دی ، ددی تفصیل په کولو سره هغه شبهی رفع سوی ، کوم چی دحدیث د ارشاد په حقله دظاهری حالاتو په اعتبار سره کیدی.

سِجِّین او عِلِّیِّن: كَلَّاۤاِنَّ الْفُجَّارِلَفِىْ سِجِّيْنٍ : سِجِّیْن په زیر دسین اوشد دجیم پروزن دسکین دسجن څخه مشتق دی چی معنٰی یی په تنګ ځای کی قیدول دی ، په قاموس کی دی چی دسجِّین معنٰی دائمی قید دی او داحادیثو اواثارو څخه دا معلومیږی چی سجین دیوخاص مقام نوم دی او دکافرانو اوفاجرانو دروحونو مقام هم دا دی او په دی مقام کی د دوی عملنامی پرتی وی چی مطلب یی دا هم کیدی سی چی د دوی علمنامی په دغه ځای کی محفوظ کیږی او دا هم ممکنه ده چی دلته یو داسی جامع کتاب وی په کوم کی چی دټولی دنیا دکافرانو او فاجرانو عملونه لیکل کیږی.

دا مقام کوم ځای دی ؟ ددی په حقله دحضرت براء بن عازب ﷺ په یواوږد حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی سجِّین داوومی ځمکی په لاندی طبقه کی دی او علیین په اووم آسمان کی دعرش لاندی دی (اخرجه بغوی بسنده واخرجه احمد او نور) ازمظهری

دحدیث په ځینو روایتونو کی دا هم دی چی سجین دکفارو او فاجرانو دروحونو داوسیدو ځای دی او

عليين دمومنانو متقيانو دروحونو ځای دی .

(دجنت او دوږخ مقام)

بیهقی په دلائل النبوة کی دحضرت عبدالله بن سلام څخه روایت کړی دی چی جنت په آسمان کی دی او جهنم په مځکه کی او ابن جریر په خپل تفسیر کی دحضرت معاذ بن جبل څخه روایت کړی دی چی دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وسوه چی په قرآن کریم کی چی داراغلی دی چی دقیامت په ورځ به جهنم راوړل سی وَجِائَ يَوْمَئِذٍم بِجَهَنَّم : ددی څه مطلب دی؟ جهنم به دکوم ځای څخه را وړل سی نوده ﷺ وفرمایل چی جهنم به داوومی مځکی څخه راوړل سی ، ددی روایتونو څخه معلومیږی چی جهنم په اوومه مځکه کی دی ، دهغه ځای څخه به شغله وکی، ټول سمندر اودریابونه به په دغه اوروکی شامل سی اوټولوته به مخامخ راسی ، دجهنم دراوړلو دا هم مطلب کیدی سی ، دغه شان په کومو روایتونوکی چی دا راغلی دی چی سجین دجهنم دیومقام نوم دی ، هغه هم په دی منطبق سو(مظهری ، والله اعلم)

كِتٰبٌ مَّرْقُوْمٌ : دمرقوم معنی دلته مختوم ده یعنی مهر لګول سوی امام بغوی رحمه الله او ابن کثیر رحمه الله فرمایی چی دا جمله دمقام سجین تفسیر نه دی بلکه ددی څخه مخکی چی کوم كِتٰبُ الْفُجَّارِ راغلی دی ، دهغه بیان دی ، معنی دا ده چی دکفارو او فجارو په عملنامو به مهر ولګول سی ، محفوظی به سی چی په دغو کی دڅه کمی زیاتی اوتغیر امکان پاته نه سی ، او ددغو دمحفوظ کولو ځای سجین دی ، دغه ځای به دکفارو روحونه جمع کیږی .

كَلَّا بَلْ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ رَانَ : درين څخه مشتق دی چی معنی یی زنګ اوخیری دی ، مطلب دا دی چی د دوی په زړونو باندی د دوی دګناهونو زنګ لګیدلی دی اولکه څنګه چی زنګ اوسپنه خوری خاوری کوی یی دغه شان د دوی دګناهونو زنګ د دوی دزړونو داصلاحیت ختم کړی دی په کوم سره چی دښه اوبد تمیز کیږی ، دحضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی مومن بنده چی کله څه ګناه وکی نو دده په زړه یوه توره نقطه ولګیږی ، که دی توبه وکاږی ، په هغه پښیمانه سی اومخ ته خپل عمل درست کی نو دغه توره نقطه ختمه سی او زړه په خپل اصلی حالت منورسی اوکه دی توبه ونه کاږی بلکه په خپلوګناهونوکی زیاتی کوی نوداتوروالی دده په ټول زړه باندی وګرځی ددی نوم رَيْن دی کوم چی دقرآن په آیت، بَلْ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ کی مذکور دی (روایت یی کړی دی ، بغوی او دارنګه احمد او ترمذی او صحیح کړی دی نسایی او ابن ماجه اوابن حبان اوحاکم ، ازمظهری)

لفظ د ، كَلَّا چی دآیت په شروع کی دی ، دی ته حرفِ ردع وایی چی معنی یی دفع کول اوزجر اوخبرداول دی ، په او لنیو آیتونوکی دکفارو دتکذیب ذکر وو چی هغوی دقرآن آیتونوته قصی وایی او درواغجن کوی یی ، په دی آیت کی دلفظ د ، كَلَّا څخه په دی زجر اوخبرداری دی چی داجاهلان دخپلو ګناهونو په انبارونوکی اخته سول دخپلو زړونو هغه نورانیت اوصلاحیت یی ختم کړی دی په کوم سره چی حق او باطل پیژندل کیږی او دا صلاحیت یی ختم کړی دی په کوم سره چی حق او باطل پیژندل کیږی اودا

صلاحیت حق تعالی دهرانسان په جبلت اوفطرت کی اینبی دی ، مطلب دا دی چی د دوی دا تکذیب دعقل اوفهم دڅه دلیل په بنا باندی نه دی ، بلکه ددی وجه دا ده چی د دوی زړونه رانده سوی دی ، دوی ته بنه اوبد په نظر نه ورځی .

إِنَّهُمْ عَنْ رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ : یعنی دقیامت په ورځ به دا کافران او فاجران دخپل رب دزیارت څخه محرومه دپردی څخه پناه منع سی ، دا به د دوی ددی عمل سزا وی چی دوی په دنیا کی حق نه وو پیژندلی نو اوس دخپل رب دزیارت قابل نه سول ، حضرت امام مالك رحمه الله اوشافعی رحمه الله فرمایی چی ددی آیت څخه معلومه سوه چی مومنانو او اولیاؤ الله ته به دحق تعالی زیارت نصیب وی ، کنه نوبیا دکفارو اوفجارو په حجاب کی دپاته کیدو به څه فائده نه وی .

فائده : ځینی لوی عالمان فرمایی چی دا آیت ددی دلیل دی چی هر انسان په خپل فطرت سره دحق تعالی په محبت مجبوردی په دی وجه ددنیا عام کفار اومشرکان برابره خبره ده که هرڅومره په کفر اوشرك کی اخته وی او دالله ﷻ دذات په حقله باطلی عقیدی لری، مګر دومره خبره په ټولوکی مشترکه ده چی دالله ﷻ عظمت او محبت دټولو په زړونوکی وی او دخپلی خپلی عقیدی مطابق دهغه دلټون اورضا حاصلولو دپاره عبادتونه کوی ، لاره غلطه وی ، په دی وجه منزل مقصودته نه رسیږی ، مګرطلب ددغه منزل دحق وی ، وجه داستدلال دا ده چی که په کافرانوکی دحق تعالی دزیارت شوق نه وای نو د دوی په سزا کی به یی دا نه وای ویلی چی هغوی به دزیارت څخه محروم وی ، ځکه چی کوم سړی دچادزیارت طلب نه کوی بلکه نفرت یی کوی ، دهغه دپاره خو دا څه سزا نه ده چی دی دهغه دزیارت څخه محرومه کړل سی .

إِنَّ كِتَابَ الْأَبْرَارِ لَفِي عِلِّيِّينَ : علّیین : دځینو حضراتو په نزد دعُلُوجمع ده او مراد ورڅخه داعلی درجی عُلُو اوبلندی ده او دفراء په نزد دا دیو ځای نوم دی ، په وزن دجمع راغلی دی ، جمع نه ده اودلفظ دسجّین په تحقیق کی لوړ تیرسوی دی چی دحضرت براء بن عازب رضی الله عنه دمرفوع روایت څخه ثابته ده چی علیین په اووم آسمان کی ترعرش لاندی یومقام دی په کم کی چی دمومنانو روحونه اوعملنامی اینبوول کیږی ، او مخ ته چی کوم كِتَابٌ مَّرْقُومٌ ذکردی هغه هم دعلّیین تفسیر نه دی ، بلکه دابرارو دعملنامو بیان دی چی ذکر یی لوړ په ، إِنَّ كِتَابَ الْأَبْرَارِ کی راغلی دی .

يَشْهَدُهُ الْمُقَرَّبُونَ : يَشْهَدُ دمشهود څخه مشتق دی چی معنی یی حاضریدل اومشاهده کول راځی ، ځینی مفسرین فرمایی چی مراد دآیت دا دی چی دابرارو اوصالحانو عملنامی به مقربین ګوری او مراد دمقربینو څخه ملائکی دی او دلیدو څخه مراد د دوی نګرانی او حفاظت دی ، مطلب دا دی چی دابرارو اوصالحانو عملنامی به دمقربو ملائکو په نګرانی کی وی (قرطبی) اوکه دشهود څخه دحضور معنی مراد واخستل سی نود ، يَشْهَدُهُ ضمیر به دکتاب په ځای دعلیین طرف ته راجع وی اومعنی دایت به دا وی چی دمقربینو دبارګاه روحونه به په دی مقام دعلیین کی حاضروی ، ځکه چی دغه مقام د دوی دروحونو دقرار ځای جوړ سوی دی ، ددی دلیل هغه حدیث دی کوم چی په صحیح مسلم کی دحضرت

عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دشهیدانو روحونه به دالله ﷻ په خوا کی دشنو مرغانو په ججورو کی وی ، کوم چی به دجنت په باغونو اونهرونوکی سیل کوی او د دوی داوسیدو ځای به یوقندیل وی ، کوم چی دعرش لاندی معلق دی ، ددی څخه معلومه سوه چی دشهیدانو روحونه به ترعرش لاندی وی اودجنت سیل به کوی ، اوپه سورة یٰس کی چی دحبیب نجار په واقعه کی راغلی دی ، قِيلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ قَالَ يَالَيْتَ قَوْمِي يَعْلَمُونَ بِمَا غَفَرَ لِي : ددی څخه معلومه سوه چی حبیب نجاردمرګ سره جنت ته دا خل سو اودحدیث دځینو روایتونو څخه هم دمومنانو دروحونو په جنت کی کیدل معلومیږی ، ددی ټولوخلاصه یوه ده چی مستقر ددی روحونو په اووم آسمان کی ترعرش لاندی دی او دغه مقام دجنت هم دی ، دی روحونو ته دجنت دسیل کولو اختیار ورکول سوی دی او دلته که څه هم دا حال صرف دمقربینو د دوی داعلی خصوصیت او فضیلت په وجه بیان سوی دی ، مګرپه حقیقت کی دا مستقر دټولو مومنانو دروحونو هم دی لکه چی دحضرت کعب بن مالک رضي الله عنه په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی .

إِنَّمَا نَسَمَةُ الْمُؤْمِنِ طَائِرٌ يَعْلَقُ فِي شَجَرِ الْجَنَّةِ حَتَّى تُرْجَعُ إِلَى جَسَدِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ (رواه مالك والنسايی بسند صحيح) دمومن روح به دیومرغه په شکل کی دجنت په درختوکی معلق وی ، تردی پوری چی دقیامت په ورځ به خپل جسم ته واپس سی ، او ددی مضمون یو حدیث دام هانی په روایت سره په مسند احمد اوطبرانی کی راغلی دی (مظهری)

(دمرګ څخه وروسته دآنساني روحونو مقام کوم ځای دی ؟)

په دی معامله کی دحدیث روایتونه په ظاهره مختلف دی ، دسجین اوعلیین په تفسیرکی چی کوم روایتونه لوړ ذکر سول دهغه څخه معلومیږی چی دکفارو روحونه به په سجین کی وی کوم چی په اوومه مځکه کی دی او دمومنانو رحونه به په علیین کی وی کوم چی په اووم آسمان کی دعرش لاندی دی او په ذکر سوو روایتونوکی دځینو څخه داهم معلومیږی چی دکفارو روحونه به په جهنم کی اودمومنانو روحونه به په جنت کی وی اودځینو روایتونو څخه دامعلومیږی چی دمومنانو اوکفارو دواړو روحونه به د دوی په قبرونوکی وی لکه چی دحضرت براء بن عازب ﷺ په اوږد حدیث کی دی چی کله دمومن روح آسمان ته ملائکی یو سی نوحق تعالی فرمایی چی زما ددی بنده عملنامه په علّیین کی ولیکی اودی دمځکی ظرف ته واپس کړی ځکه چی دی ما دمځکی څخه پیدا کړی دی اودمرګ څخه وروسته به بی هغه ته واپس کوم اوبیابه ددی مځکی څخه دی دوباره ژوندی راوباسو په دی حکم به ملائکی دده روح قبرته واپس کی دغه شان دکافر دروح دپاره به دآسمان دروازی نه سی خلاصیدلی اوددغه ځای څخه به حکم وسی چی‌دی دده قبرته واپس کی ، امام ابن عبد البر دی ته ترجیح ورکړي ده چی دټولو روحونه به دمرګ څخه وروسته په قبرکی وی ، په دی کی په اولنی او دوهم روایتونوکی چی کوم اختلاف پیدا کیږی چی دځینو څخه دمومنانو دروحونوپه علیین کی اوسیدل معلومیږی اودځینو څخه په جنت کی اوسیدل، چی فکر پروسی نودا څه اختلاف نه دی ځکه چی مقام علیین هم په اووم آسمان کی دعرش

لاندې دی اوجنت هم دامقام په خپله دقرآن دوضاحت څخه ثابت دی ، عِندَ سِدرَةِ المُنتَهٰى، عِندَهَا جَنَّةُ المَاْوٰى، په دې کې وضاحت دی چې جنت دسدرة المنتهٰی سره دی او دسدرې په اووم آسمان کې کیدل په حدیث سره ثابت دی ، په دې وجه دروحونو مقام چې کله علیین وی نو دغه دجنت متصل دی او دی روحونو ته دجنت دباغونو سیل نصیب دی ، په دې وجه د دوی مقام جنت هم ویل کیږی ، دغه شان دکفارو روحونه په سجین کې دی او هغه په اوومه مځکه کې دی او دحدیث څخه داهم ثابته ده چې جهنم هم په اوومه مځکه کې دی اوسجین والاوته به دجهنم ګرمی اوتکلیفونه رسیږی، په دې وجه د دوی مقام په جهنم کې ویل هم صحیح دی، البته لوړ چې په کومو روایتونوکې دروحونو په قبرونوکې پاته کیدل معلومیږی دا په ظاهره دتیرو دواړو آیتونو څخه ډیره مختلفه ده ، ددې تطبیق حضرت قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله په تفسیرمظهری کې دا بیان کړی دی چې دا خبره څه بعیده نه ده چې اصل مستقر دروحونو علیین اوسجین وی ، مګر ددې روحونو یوه خاص رابطه دقبرونو سره هم قائمه وی، ددې رابطې حقیقت خو دالله ﷻ څخه ماسوا بل هیچاته نه سی معلومیدی ، مګر لکه څنګه چې لمر اوسپوږمی په آسمان کې دی او ددغو شغلې په مځکه پریوځی ، روښانه کوی یې هم اوګرموی یې هم ، دغه شان دعلیین اوسجین دروحونو څه معنوی رابطه دقبرونوسره کیدی سی او ددې ټولو اقوالوپه تطبیق کې دحضرت قاضی ثناء الله رحمه الله تحقیق دسورة نازعات په تفسیرکې اوس تیر سوی دی چې خلاصه یې دا ده چې دروح دوه قسمونه دی یوجسمِ لطیف دی کوم چې دانسان په بدن کې حلول کوی او دا مادی اوعنصری جسم دی مګرلطیف دی په نظرنه راځی ، دی ته نفس وایی ، دوهم روح جوهرِ مجرد دی ، مادی نه دی اودغه روح مجرد دروح اول حیات دی، په دې وجه ده ته روح الروح ویل کیږی، دانسان دجسم سره تعلق خوددې دواړو روحونو دی، مګر اول قسم په جسم انسانی کې دننه اوسیږی، ددې دوتلو نوم مرګ دی، ددوهم روح دمخکنی روح سره تعلق نژدې خوسته، مګر دده تعلق دالله ﷻ څخه ماسوا هیچاته معلوم نه دی دمرګ څخه وروسته روح اول خو آسمانونو ته پورته سی، بیاقبرته واپس سی دده مستقر دغه قبردی، پرده عذاب اوثواب وی اوروح مجردپه علیین یاسجین کې وی، دغه ډول ټول اقوال جمع سول ، مستقر دروحونو په جنّت یاپه علیّین کې یاددې بالمقابل په جهنم یاسجین کې کیدل دروح مجردپه اعتبارسره دی اوددې مستقرپه قبرکې کیدل دروح دقسم اول یعنی دنفس په اعتبار سره دی کوم چې جسم لطیف دی او دمرګ څخه وروسته به په قبرکې وی. والله تعالٰی اعلم

وَفِي ذٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ دتنافس معنٰی ده دځوکسانودیوخاص مرغوب اومحبوب شی دحاصلولو دپاره ورمنډه کول او را اخیستل چې دنورو څخه یې مخکې حاصل کی ، دلته دجنت دنعمتونو دذکر فرمایلو څخه وروسته حق تعالٰی غفلت شعارِ انسان دې طرف ته متوجه کړی دی چې نن چې تاسی خلګ کوم شیان مرغوب اومطلوب ګڼی اوددې په حاصلولو کې دنوروڅخه دمخ ته کیدو کوشش کوی داناقص اوفانی نعمتونه ددې قابل نه دی چې دادژوند مقصد وګڼی ددې دپاره دیوبل څخه مخ ته کیږی بلکه په دې کې خوکه دقناعت څخه کار واخلې او دا وګڼی چې دا دیو څوورځو دراحت سامان که دلاس څخه ووتی

نوهیڅ غم نسته دا داسی خساره نه ده دکوم چی تلافی نه سی کیدی البته دتنافس اومسابقت شی دا دجنت نعمتونه دی کوم چی په هرحیثیت سره مکمل هم دی او دائمی هم اکبر مرحوم څه ښه فرمایلی دی.

ددی دنیا سود او زیان هیڅ خبره نه ده څه چی ولاړه ولاړه اوڅه چی پیدا سوه پیدا سوه خپل ذهن ته ووایه چی دعمر فرصت کوم دی څه چی کوی دخدای یاد کوه.

إِنَّ الَّذِينَ أَجْرَمُوا كَانُوا مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا يَضْحَكُونَ: په دی آیتونوکی حق تعالی داهل حقوسره داهل باطلو دطرز عمل پوره نقشه راپیش کړي ده چی کفار اهل باطل په مومنانو اهل حقو پوری په طور دمسخری خاندی توقی کوی اوکله چی اهلِ حق ددوی مخ ته راځی نودا خلک په خپل مینځ کی یوبل ته په سترګو سره اشاری کوی په کومو سره چی د دوی مقصود په مومنانو پوری خنداګانی اومسخری کول دی، د دوی په خپل مینځ کی تذکره په خوند اخستو سره کوی چی مونږ داخلک ښه ذلیل کړل اوکله چی داکفار مومنان وینی نو په ظاهره دهمدردی په لهجه کی اوپه حقیقت کی دمسخرو دپاره داوایی چی دابی چاره ګان ډیرساده بی وقوفه دی، دوی محمد ﷺ ګمراه کړی دی (نعوذ بالله تعالی من هذا القول)

دنن صبا دحالاتوکه جائزه واخستل سی نو دا وخت هغه خلک کوم چی دڅه نوی تعلیم دنحوست په وجه ددین او آخرت څخه بی فکره سوی دی، په خدای اورسول باندی ایمان خوتش په نامه پاته سوی دی، هغوی دعالمانو اوصالحانو سره بعینه دغه شان معامله کوی، حق تعالی دی مسلمانان ددی عذاب الیم څخه خلاص کړی دمومنانو او صالحانو دپاره په دی آیت کی دتسلی کافی سامان دی چی دهغوی دخندا پروا دی نه کوی، چاڅه ښه ویلی دی.

تمّت سورة التطفيف والحمد لله ليلة يوم الاثنين ۱۲ شعبان سنه ۱۳۹۱هـ

﴿ سورة الانشقاق ﴾

سُورَةُ الْانْشِقَاقِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ هِيَ خَمْسٌ وَعِشْرُونَ آيَةً

سورة انشقاق په مکه کی نازل سو او په دی کی پنځویښت (۲۵) آیتونه دی.

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی.

إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ ۝١ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ۝٢ وَإِذَا الْأَرْضُ

اوکله چی آسمان څیری سی، او واوری حکم دخپل رب او آسمان ددې لائق دی، اوکله چی مځکه

مُدَّتْ ۝٣ وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ ۝٤ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ۝٥

خپره کړل سی، او وغورځوی څه چی په دی کی دی اوخالی سی، او واوری حکم درب خپل اومځکه ددې لائقه ده

يَاَيُّهَا الْاِنْسَانُ اِنَّكَ كَادِحٌ اِلٰى رَبِّكَ كَدْحًا فَمُلٰقِيْهِ ۚ﴿۶﴾ فَاَمَّا

اى انسانه ! تا لره تكليف پورته كول دى خپل رب ته په رسيدو كى پورته كول پس دهغه سره يو ځاى كيدل دى

مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ ۙ﴿۷﴾ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَّسِيْرًا ۙ﴿۸﴾

پس چاته چى وركول سى عملنامه په راسته لاس دده كى ، نودده څخه به حساب واخلى حساب آسان ،

وَّيَنْقَلِبُ اِلٰى اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا ۗ﴿۹﴾ وَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ وَرَآءَ ظَهْرِهٖ ۙ﴿۱۰﴾

او بيرته به راسى خپلو خلقو ته په خوشحالى سره ، اوچاته وركول سى دده عملنامه دشا دطرف څخه ،

فَسَوْفَ يَدْعُوْا ثُبُوْرًا ۙ﴿۱۱﴾ وَّيَصْلٰى سَعِيْرًا ۗ﴿۱۲﴾ اِنَّهٗ كَانَ فِيْۤ اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا ۗ﴿۱۳﴾

نو هغه به بولى مرګ مرګ ، او وبه غورځيږي اورته ، هغه وو په خپل كور كى بى غمه ،

اِنَّهٗ ظَنَّ اَنْ لَّنْ يَّحُوْرَ ۚ﴿۱۴﴾ بَلٰۤى ۚ اِنَّ رَبَّهٗ كَانَ بِهٖ بَصِيْرًا ۗ﴿۱۵﴾ فَلَاۤ

ده خيال كړى وو چى دى به بيرته ولاړ نه سى ، ولى نه ، دده رب دى ليدى ، نو قسم

اُقْسِمُ بِالشَّفَقِ ۙ﴿۱۶﴾ وَالَّيْلِ وَمَا وَسَقَ ۙ﴿۱۷﴾ وَالْقَمَرِ اِذَا اتَّسَقَ ۙ﴿۱۸﴾

اخلم دمابنام په سرخى ، او شپه اوڅه چى په دى كى راټوليږي ، اوپه سپوږمى كله چى پوره سى

لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ ۗ﴿۱۹﴾ فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۙ﴿۲۰﴾ وَاِذَا قُرِئَ

چى تاسى لره ختل دى تولى په تولى ، پس څه سوى دى دوى لره چى ايمان نه راوړى ، اوكله چى وويل سى

عَلَيْهِمُ الْقُرْاٰنُ لَا يَسْجُدُوْنَ ۩﴿۲۱﴾ بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُكَذِّبُوْنَ ۖ﴿۲۲﴾

په دوى باندى قرآن هغوى سجده نه كوى ، بلكه كافران درواغجن كوى ،

وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا يُوْعُوْنَ ۖ﴿۲۳﴾ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۙ﴿۲۴﴾ اِلَّا

او الله ﷻ ښه پيژنى هغه چى دوى جمع كوى ، پس خوشخبرى واوروه دوى ته په عذاب دردناك ، مګر

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ۧ﴿۲۵﴾

كوم خلق چى ايمان راوړى ، اونيك عمل كوى د دوى دپاره بى انتها ثواب دى .

تفسیر: هرکله چی (د دوهمی شپیلی په وخت کی) آسمان څیری سی (چی ددی څخه دوریځی په شکل دیوشی نزول وی ، په کوم کی چی به ملائکی وی چی ذکریې په نولسمه پاره ، وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ آیت ، وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ کی دی) او دخپل رب حکم به واوری (اوومنی ، دلته دحکم څخه مرادحکم تکوینی دانشقاق دی اودمنلو څخه مراد ددی وقوع دی) او هغه (آسمان په وجه دقدرت دمحکوم کیدو) ددی لایق دی (چی دکوم امر مشیت دده په حقله وی دهغه وقوع خامخا وسی) اوکله چی مځکه راچپه سی لویه سی (لکه څرمن یاربړ چی راکش کړل سی) نو ددی وخت په مقدار سره به ددغه وخت مقدار زیات سی (چی ټول اولین اواخرین په دغه کی ځای سی لکه چی په درمنثورکی په روایت دحاکم په سند جیدسره مرفوعًا وارد دی ، تُمَدُّ الْاَرْضُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مَدَّ الْاَدِيْمِ الخ نو دآسمان دا انشقاق اودمځکی دا اوږدول دواړه دحساب محشر دمقدماتو څخه دی) او (دغه مځکه) به خپل دننه شیان (یعنی مړی به) دباندی راوغورځوی او (دټولو مړو څخه به) خالی سی او (هغه مځکه) دخپل رب حکم به واوری اوهغه ددی لائقه ده (ددی تفسیر هم په مثل دتیرد‌ی پس دغه وخت به انسان خپل عملونه ووینی لکه چی مخ ته ارشاد دی چی) ته خوخپل رب ته تررسیدو پوری (یعنی دمرګ تروختـه پوری) په کارکی کوشش کوی (یعنی څینی په نیك کارکی لګیدلی دی، څینی په بدکارکی) بیا (په قیامت کی) دهغه (کار دجزاء) سره یوځای سی نو (په دغه ورځ) دکوم سړی عملنامه چی ده ته په راسته لاس کی ورکول سی ، نو دهغه څخه به اسان حساب واخستل سی اوهغه به (چی ددی څخه فارغ سی) دخپلو متعلقینو خواته به په خوشحالی خوشحالی راسی (داسان حساب څخه مراد مختلف مراتب دی یو دا چی پرده به بالکل عذاب مرتب نه وی دځینو دپاره خوبه داوی اوپه حدیث کی ددی تفسیر داراغلی دی چی په کوم حساب کی مناقشه (په وړه وړه خبره نیول) نه وی صرف پیشی وسی دابه دهغه چادپاره وی کوم چی بغیرد‌ه عذاب څخه نجات پیدا کی دوهم دا چی په ده به عذاب دائمی نه وی او دا به دعامو مومنانو دپاره وی اومطلق عذاب ددی منافی نه دی) اودکوم سړی عملنامه چی (ده په چپه لاس کی) دده دشا څخه ورکول سی (مراد ددی څخه کفار دی او دشا دطرف څخه دورکول کیدو دوه صورتونه کیدی سی ، یودا چی دده لاسونه به تړل سوی وی نوچپه لاس به یی هم شاته وی ، دوهم صورت دمجاهد قول دی چی دده چپه لاس به شاته ویستل سی، لکه په درمنثور کی چی دی) پس هغه به مرګ رابلی (لکه چی په مصیبت کی عادت دی چی دمرګ ارزو کوی) اوپه جهنم کی به داخل سی داسړی (په دنیاکی) په خپلو متعلقینو کی (یعنی په اهل اوعیال خادمانو اونوکرانوکی) خوشحاله خوشحاله اوسیدی (تردی چی په ډیره خوشحالی کی داخرت درواغجن کوونکی سوی وو ، لکه چی مخ ته ارشاد دی چی) هغه خیال کړی وو چی هغه ته (دخدای طرف ته) بیرته ګرځیدل نسته (مخ ته رد دی ددی ګمان چی بیرته ګرځیدل به) ولی نه وی (مخ ته دبیرته ګرځیدوڅخه وروسته دجزا اثبات دی چی) ددوی رب دوی ښه لیدل (او ددوی په عملونو یی دجزا ورکولو سره مشیت متعلق کړی وو ، په دی وجه دجزا وقوع ضروری وه) نو (په دی بنا) زه قسم خورم وایم په شفق اوپه شپه اوپه هغو شیانوکم چی شپه راغونډوی (جمع کوی یی مراد هغه ټول جاندار دی کم چی دشپی دارام دپاره

خپلو خپلو ځایونو ته راځي) اوپه سپوږمۍ کله چې هغه پوره سي (یعنې بدر کامل ورځخه جوړسي، په دې تولو شیانو شیانو قسم اخلم وایم) چې تاسې خلګ به خامخا دیوحالت ځخه وروسته بل حالت ته رسیږئ (داتفصیل دی د: یَآیُّهَا الْاِنْسَانُ تر: مُلٰقِیْهِ پوري، نو هلته جنس ته خطاب وو، دلته دجمع افرادو ته خطاب دی ، هلته یې دملاقي کیدو دعمل ذکر مجملاً وفرمایې دلته دهغه شي تفصیل دی په کوم سره چې ورځ دمحشر پیدا کیږي یادده مخ ته راځي او دغه حالتونه یو مرګ دی ، ددې ځخه وروسته دبرزخ حالات ددې ځخه وروسته دقیامت حالات، بیاپه خپله په دوی کې هم تعداد اوکثرت دی اوددې قسمونو دمقام سره مناسبت داسې دی ، چې دشپې حالات مختلف کیدل ، اول شفق ښکاره سي بیا زیاته شپه راسي نوټول بیده سي اوبیا دیوې شپې ځخه دبلې شپې دسپوږمۍ دړنا زیاتوالي اوکموالي مختلف کیدل ، داټول مشابه دي داختلاف داحوالو سره وروسته دمرګ ځخه، اودارنګه دمرګ ځخه عالم اخرت شروع کیږي لکه دشفق ځخه چې شپه شروع کیږي ، بیاپه عالم برزخ کې پاته کیدل مشابه دي دخلګو دبیده کیدلو سره او دسپوږمۍ پوره کیدل وروسته دنړۍ والي ځخه مشابه دي دقیامت دحیٰوة سره وروسته دفنا دعالم ځخه) نو (سره ددې مقتضیاتو دبیرې اوایمان داجتماع ځخه) دې خلګو لره څه وسوه چې ایمان نه راوړي او (په خپله خودایمان اوحق طلب څه دی، ددوی دعناد خو داحالت دی چې) کله ددوی په مخکې قرآن ویل کیږي نو (دغه وخت هم دخدای طرف ته) نه کښته کیږي بلکه (په ځای دکښته کیدو) داکافران (نور چپه) تکذیب کوي اوالله ﷻ دهرڅه ځخه خبردی څه چې داخلګ (دبدو عملونو ذخیره) جمع کوي نو (ددې کفریه عملونو په سبب) ته دوی ته دیو دردناك عذاب خبر ورکړه لیکن خلګ چې ایمان راوړي اوهغوی نیك عملونه وکړي دهغوی دپاره (په اخرت کې) داسې اجر دی کوم چې هیڅکله موقوف کیدونکی نه دی (دعمل صالح قید دشرط په طور نه دی دسبب په طریقه دی)

معلومات اومسئلې : په دې سورة کې دقیامت حالات او دحساب کتاب او دنیکیو او بدیو دجزا اوسزا، بیاغافل انسان لره په خپله دده په ذات اودخوا اوشاپه حالاتوکې دفکر کولو اوددغوځخه په الله ﷻ ایمان اوقرآن ته درسیدو هدایت دی په دې کې اول دآسمان دځیریدلو ذکردی ، بیادمځکې چې څه ددې په نس کې دي برابره خبره ده که خزانې اودفینې وي یادانسان مړه جسمونه هغه ټول به بهرته راوغورځوي اودمحشر دپاره به یوه نوې مځکه تیاره سي چې نه به په کې څه غار اوغروي ، نه ابادي اودرخته، یوه صفا هواره سطح به وي دا به راکش کړي زیاته به یې کړي چې ټول اولین اواخرین پرجمع سي، دابیان په نوروسورتونوکې په مختلفوعنوانونو سره راغلی دی، دلته یو نوی زیاتوب دادی چې په آسمان اومځکه دواړوباندې چې کوم تصرف دحق تعالی دطرف ځخه دقیامت په ورځ وي دهغه په حقله فرمایی ، وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَاوَحُقَّتْ د: اذن معنی ده واوریده، اومراد داوریدو ځخه اوریدل اواطاعت کول دي اوحُقَّتْ په صیغه دمجهول معنی داده چې حُقَّ لَهَا الْاِنْقِیَاد یعنی حق واجب وو چې هغه دالله ﷻ ددې حکم اطاعت وکي.

(دالله ﷻ داحکامو دوه قسمونه)

دلته دآسمان اومځکې داطاعت اوتعمیل دحکم دوې معناوې کیدی سی ځکه چې دالله ﷻ احکام په دوه

قسمه دي ، يوتشريعي احكام په كوموكې چې يوقانون ښوول كيږي اودهغه دخلاف ورزې سزا ښوول كيږي مګر كوونكې دهغه پريو جانب مجبور محض نه كول كيږي، بلكه ده ته په يوه درجه كې اختيار وركول كيږي هغه په خپل اختيار سره دهغه قانون پابندي كوي ياخلاف ورزې اوداسې احكام عمومًا پرهغه مخلوقات عائد كيږي كموته چې ذوي العقول وايي لكه انسانان اوپيريان، ددې څخه په دوى كې دمومن اوكافر، فرمانبردار اونافرمانه دوه قسمونه پيداكيږي دوهم قسم احكام احكامِ تكويني او تقديري احكام دي ددې نافذ كيدل جبري وي دچا طاقت نه وي چې دوريښته دسر هومره خلاف ورڅخه وكي ددې احكامو تعمل ټول مخلوقات جبرًا كوي، په دې كې انسان اوپيرې هم اخل دي، په تكويني احكاموكې چې د دوى دپاره څه مقدر سوي وي مومن وي ياكافر، متقي وي يافاسق ، ټول دهغه تقديري قانون تابع په چليدو مجبوره وي .

دلته داكيدې سي چې آسمان اومځكې ته به حق تعالى يو خاص ادراك اوشعور وركې كوم چې په مكلفينو كې وي اوكله چې دوى ته څه حكم دحق تعالى دطرف څخه وركول سي، دوى يې په خپل اختيار سره تعميل او اطاعت وكي او دا هم كيدې سي چې ددې حكم څخه مراد حكم تكويني واخستل سي په كوم كې چې دچا ارادې اواختيار ته دخل نه وي د ، اَذِنَتۡ لِرَبِّهَا وَحُقَّتۡ : الفاظ دمځكې معنى دپاره زيات اقرب دي ، بله معنٰى هم په طور دمجاز جوړيدې سي .

وَاِذَا الۡاَرۡضُ مُدَّتۡ د: مدّ: معنى راكښول اواوږدول دي ، دحضرت جابر بن عبد الله ﷺ څخه روايت دي چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې دقيامت په ورځ به مځكه داسې راكش كړل سي او خپره به سي لكه څرمنه (يارېږ) چې راكشيږي اولوييږي، مګر ددې باوجود ميدان دحشركوم چې به په دې مځكه وي ، په دې كې به دابتداء ددنيا څخه ترقيامته پورې ټول انسانان جمع وي نوصورت به دا وي چې ديو سړي په حصه كې به صرف دومره مځكه وي ، په كومه كې چې ددهٔ پښې وي (حاكم بسند جيد ، ازمظهري)

وَاَلۡقَتۡ مَا فِيۡهَا وَتَخَلَّتۡ : يعنى را وبه غورځوي مځكه هرهغه شي كوم چې ددې په نس كې دي اوبالكل خالى به سي ، دمځكې په نس كې خزانې او دفينې او كانونه هم دي ، او ددنيا دابتداء څخه دمړه كيدونكو انسانانو جسمونه اوذرې هم، مځكه به په يوه زلزله سره داهر څه دخپل نس څخه دباندې راوغورځوي .

يٰۤاَيُّهَا الۡاِنۡسَانُ اِنَّكَ كَادِحٌ د: كَدۡح معنى په يو كار كې پوره جد اوجهد اوخپله توانايي خرڅ كول دي اود ، اِلٰى رَبِّكَ څخه مراد اِلٰى لِقَاءِ رَبِّكَ دي يعنى دانسان دهر كوشش اوجد اوجهد انتها دده درب طرف ته كيدونكې ده .

الله ﷻ ته رجوع: په دې آيت كې الله ﷻ بني نوع انسان ته خطاب فرمايلى دى او ده ته يې دفكر دپاره يوه داسې لار ښوولې ده چې كه په ده كې څه عقل اوشعور وي نو دې دخپل جد اوجهد مخ صحيح طرف ته ګرځولى سي كوم چې ده ته په دين اودنيا كې دسلامتى او عافيت ضمانت وركوي ، اوله خبره خو يې دا ارشاد وفرمايله چې انسان نيك وي اوكه بد مومن وي اوكه كافرپه خپل فطرت سره ددې عادت دى چې څه ناڅه حركت وكي اوڅه ناڅه شي خپل مقصود جوړكې اودهغه دحاصلولو دپاره جد اوجهد اومحنت

برداشت کی ، لکه څنګه چی یو شریف اونیك خویه انسان په خپل معاش او ژوند په ضرورتونو حاصلولو کی فطری اوجائزی طریقی اختیاروی اوپه هغه کی خپل محنت اوتوانایی صرف کوی، بدکار اوبدخویه انسان هم خپل مقصد ونه هیڅکله بی محنته بی ځانه اوجیده نه سی حاصلولی، غلو ډاکوګانو بدمعاشانو په دوکه اوفریب سره لوټ مار کوونکوته وګوری، څومره ذهنی اوجسمانی محنت برداشت کوی نوهله بیا دوی ته ددوی مقصود حاصلیږی، بله خبره یی داوښووله چی عاقل انسان که فکر وکی نو دده ټول حرکات بلکه سکنات هم دیو سفر منزلونه دی کوم چی هغه په غیرشعوری طور سره قطع کوی چی انتهایی دالله ﷻ په مخکی حاضری یعنی مرګ دی په اِلٰی رَبِّكَ کی ددی بیان دی ، او دا انتها داسی حقیقت دی چی هیڅوك ورڅخه انکارنه سی کولی چی دانسان دهرجداوجهد اومحنت په مرګ سره ختمیدل یقینی دی ، دریمه خبره یی دا وښووله چی دمرګ څخه وروسته دخپل رب په مخکی دحاضری په وخت کی دده دټولو حرکاتو اوسکناتو اوعملونو اوهرجد اوجهد حساب کیدل دعقل اوانصاف پربنا ضروری ده چی دنیکو اوبدو انجام جلا جلا معلوم سی کنی په دنیاکی خو ددی هیڅ امتیاز نسته ، یو نیك سړی چی په ټوله میاشت کی کوم محنت اومزدوری کوی ، اوخپل رزق او ضرورتونه حاصلوی ، غل او ډاکو هغه په یوه شپه کی حاصلوی ، که یو وخت دحساب اوجزا اوسزا رانه سی نو دواړه برابر سول کومه چی دعقل اوانصاف څخه خلاف ده ، په اخرکی فرمایی ، فَمُلٰقِیْهِ د، مُلٰقِیه ضمیر دکدح طرف ته هم راجع کیدی سی نومعنی به داسی چی کوم جد اوجهد دلته انسان کوی ، اخرخپل رب ته به ورسیږی ، دخپلی دی ګټی سره به یوځای سی اوددی ښه یابده نتیجی به دده مخ ته راسی اوداهم کیدی سی چی دملاقیه ضمیر درب طرف ته راجع وی اومعنی به دا وی چی هرانسان په اخرت کی دخپل رب سره یوځای کیدونکی اودحساب دپاره دهغه په مخکی پیش کیدونکی دی ، مخ ته دنیك اوبد اومومن اوکافر انسانانو دانجام جلاجلا ذکردی چی ابتداء یی دعملنامی په راسته یاچپه لاس کی راتلل دی راسته لاس والاووته دجنت ددائمی نعمتونو خوشخبری اوچپه لاس والاووته ددوزخ دعذاب اطلاع ورکول کیږی ، په دی مجموعه که انسان فکروکی چی دژوند ضرورتونه، بلکه دخپل نفس غیرضروری مرغوبات هم خو نیك اوبد دواړه حاصلوی ، دغه شان ددنیا ژوند د دواړو تیریږی ، مګر ددی دواړو په انجام کی دمځکی اواسمان فرق دی ، دیوه په نتیجه کی دائمی غیرمنقطع راحت اوراحت دی ، دبل په نتیجه کی دائمی مصیبت اوعذاب دی بیا ولی انسان په دی انجام نن سوچ نه کوی چی دخپلی سعی اوعمل مخ هغه طرف ته وګرځوی کوم چی په دنیاکی هم دده ضرورتونه پوره کړی اوداخرت دائمی نعمت هم ده ته حاصل سی .

فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ، فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا، وَيَنْقَلِبُ إِلَىٰ أَهْلِهِ مَسْرُورًا : په دی کی یی دمومنانو حال بیان فرمایلی دی ، چی دوی ته به عملنامی په راسته لاس کی ورکول سی او د دوی څخه به ډیر اسان حساب واخیستل سی دجنت خوشخبری به ورکول سی او دوی به خپل کوروالاؤ ته په خوشحالی خوشحالی بیرته وګرځی .

دصحیح بخاری په یوحدیث کی دحضرت عائشه ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، مَنْ

خُوْسِبَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عُذِّبَ: يعنی دقيامت په ورځ چې دچاسره حساب وسی هغه به دعذاب څخه محفوظ نه سی، په دی باندی حضرت عائشه صديقه ﷺ پوښتنه وکړه چې آيا په قرآن کی دالله ﷻ دا ارشادنه دی، يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا: نبی کريم ﷺ وفرمايل چې په دی آيت کی يې چې کوم حساب يسير فرمايلی دی هغه په حقيقت کی مکمل حساب نه دی بلکه صرف درب العزت په مخکی پيشی ده اودکوم سړی څخه چې دده دعملونو پوره پوره حساب واخستل سی هغه به هيڅکله دعذاب څخه محفوظ نه سی.

ددی حديث څخه معلومه سوه چې دمومنانوعملونه به هم درب العزت په مخکی پيشيږی خو تول، مګر د دوی دايمان په برکت سره به ددوی پرهرهر عمل مناقشه نه وی ددی نوم حسابِ يسيردی اوخپل کوروالاوو ته په خوشحالی خوشحالی دبيرته ګرځيدو دوی معنی کيدی سی، ياخو دکوروالاؤ څخه مراد دجنت حوری دی کوم چې به هلته دده اهل وی او دا هم ممکنه ده چې په دنياکی چې کوم دده اهل او عيال ؤ دمحشرپه ميدان کی چې کله دحساب څخه وروسته کاميابی وسی نوددنيادعادت مطابق به ددی خوشخبری اورولو دپاره دوی ته ورسيږی، دتفسير امامانو دواړه احتمالات بيان کړی دی (قرطبی)

إِنَّهُ كَانَ فِي أَهْلِهِ مَسْرُورًا: يعنی چاته چې عمل نامه دده په چپه لاس کی دشا دطرف څخه ورکول سی، هغه به هلته ددی تمناکوی چې کاشکی! دی بيامړسوی خاوری سوی اودعذاب څخه محفوظ سوی وای، مګر دابه هلته ممکنه نه وی، بلکه دی به جهنم ته داخل سی، ددی يوه وجه يی دا ارشاد وفرمايله چې هغه په دنياکی په خپل اهل اوعيال کی داخرت څخه بی فکره مشغول اوخوشحاله اوسيدی، په خلاف دمومنانوڅخه چې دوی ددنياپه ژوندکی هيڅکله بی فکره نه وه دهری خوشحالی اوراحت په وخت کی به ورسره هم ضرورداخرت فکروو لکه چې قرآن کريم يی ددوی حال بيان فرمايلی دی إِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِي أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ: يعنی مونږخوپه خپل اهل اوعيال کی داوسيدوسره هم داخرت څخه بيره درلودله، په دی وجه ددی دواړو فريقو انجام ددوی مناسب سو کومو چې په دنياکی دخپل اهل اوعيال سره داخرت څخه بی فکره په خوشحالی اوعيش اوعشرت کی ژوند تيروی، نن ددوی په حصه کی به دا دجهنم عذاب راځی، اوکوم خلق چې په دنياکی داخرت دعذاب څخه بيريدل هغوی ته به هلته خوشحالی حاصله وی او اوس به هغوی په خپل اهل اوعيال کی په دائمی مسرت سره اوسيږی، ددی څخه معلومه سوه چې ددنياپه راحتونوکی مستيدل دمومن کارنه دی، دی به په هيڅ حال په هيڅ وخت کی داخرت دحساب څخه بی فکره نه وی.

فَلَا أُقْسِمُ بِالشَّفَقِ: په دی آيت کی الله ﷻ دڅلورو شيانو په قسم سره تاکيد کړی دی او انسان يی بيا دهغه شيانو طرف ته متوجه کړی دی دکومو څه چې ذکر چې اول په، إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ کی تير سوی دی، دا څلور شيان په کومو چې قسم اخيستل سوی دی، چې فکر په وسی نو دهغه مضمون شاهدی ورکوی کوم چې په جواب دقسم کی راتلونکی دی، يعنی انسان ته په يوحال باندی قرار نسته، دده حالات او درجی هروخت بدليږی اول شی شفق دی يعنی هغه سرخی کمه چې دلمر پريوتو څخه وروسته پر افق دمغرب باندی وی، دادشپی ابتداء ده کمه چې په انسانی حالاتوکی ديولوی انقلاب مقدمه ده چې رڼا ځی او دتياری سيلاب راځی، ددی څخه وروسته په خپله په شپه قسم کومه چې ددی انقلاب تکميل

کوی، ددی څخه وروسته په هغو ټولو شیانو قسم دی کم چی دشپی تیاره په خپل ځان کی جمع کوی، دوسق اصل معنٰی جمع کول دی، ددی عامه معنٰی چی مراد واخستل سی، نوپه دی کی دټولی دنیا کائنات داخل دی کوم چی دشپی په تیاره کی پټیږی، په دی کی حیوانات، نباتات، جمادات، غرونه اودریابونه ټول شامل دی اودجمع کولوپه مناسبت سره دامعنٰی هم کیدی سی چی هغه شیان کوم چی دورځی په رڼا کی عادتًا خپاره وی ، دشپی په وخت کی دغه ټول را یوځای سی په خپلو خپلو ځایونوکی جمع سی ، انسان په خپل کورکی جیوانات په خپلو خپلو کورونو اوجالوکی جمع سی، په کار وبارکی خپاره سوی سامانونه یوځای ته راجمع کیږی، دایو عظیم انقلاب په خپله دانسان اودده په متعلقاتوکی دی، څلورم شی په کوم چی قسم اخیستل سوی دی هغه ، وَالْقَمَرِ إِذَا اتَّسَقَ دی : داهم د ، وَسَقَ څخه مشتق دی چی معنٰی یی جمع کول دی د ، سپوږمی د ، اِتِّسَاق څخه مراد دا دی چی هغه خپله رڼاجمع کړی او دا په څوارلسمه شپه وی کله چی سپوږمی بالکل مکمله سی، د ، اِذَا اتَّسَقَ په لفظ سره دسپوږمی دمختلفو اطوارو اوحالاتو طرف ته اشاره ده چی اول دیوی ډیری باریکی نری لیندۍ په شکل کی وی ، بیا ددی رڼا ورځ په ورځ ترقی کوی، ترڅو چی بدرِ کامل جوړسی په پرلپسی انقلاباتو اوحالاتو باندی په شهادت ورکوونکو څلورو شیانو قسم اخلی حق تعالی فرمایی: لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ کوم شیان چی په یو بل سربیره وی دهغه یوی برخی ته طبق یاطبقه وایی، جمع یی طبقات راځی، لَتَرْكَبُنَّ درکوب په معنٰی دسپریدو څخه مشتق دی، معنٰی دا ده چی ای بنی نوع انسان! تاسی همیشه دیوی برخی څخه بلی برخی ته ځی اوپرمخ پورته خیژی، یعنی انسان دخپل تخلیق دابتداء څخه ترانتهاء پوری څه وخت پریو حال نه پاته کیږی، بلکه دده پربدن باندی درجه په درجه انقلابات راځی .

(دانسان په بدن کي بیشمیره انقلابات اودائمي سفر اودده اخری منزل)

دنطفی څخه دوینی ټوټه جوړه سوه بیا دهغه څخه دغوښی ټوټه جوړه سوه ، بیاپه کی هډوکی جوړ سول بیاپه هډوکو باندی غوښه راله او اندامونه یی مکمل سول، بیاپه ده کی روح واچول سو اوهغه یوژوندی انسان جوړسو، چی خوراك یی دموربه نس کی درحم گنده وینه وه، نهه میاشتی وروسته الله ﷻ دده دی دنیا ته دراتلو لار آسانه کړه اوگنده خوراك پرځای یی ورته دمور تی ورکول کیدل شروع سوه، ددنیا وسیعه فضا اوهوا یی ولیده، لوئیدل اوغټیدل یی شروع سوه، دوه کاله وروسته یی دگرځیدو اوخبرو کولو طاقت پیدا سو دمور تی یی پرینښووی دهغه څخه زیات خوند دار اوقسم قسم خوراکونه ورته ورکول کیدل شروع سول لوبی اومنډی ترنډی دده شپه اوورځ مشغله جوړه سوه، چی څه هوش اوشعور یی زیات سونو دتعلیم اوتربیت په شکنجه کی ورکول سو ، چی ځوان سو نومخ ته ټول کارونه پاته سول، دهغه ځای دځوانی خواهشاتو واخستی اویو نوی عالَم شروع سو ، نکاح، واده، اولاد اودکور مشغلی یی دشپی ورځی شغلونه جوړسول، اخردا دورهم پرختمیدو سو، په قوتونوکی یی کمزوری اوضعف پیدا سو ، روزانه بیماریدل شروع سو ، زوروالی رالی او ددی دنیا څخه اخری منزل یعنی قبرته درسیدو سامان شروع سو ، داټول شیان خو دټولو دسترگوپه مخکی وی، هیڅوك ورڅخه دانکار کولو طاقت نه

لري ، مګر دحقیقت څخه نااشنا انسان داګڼي چې دامرګ اوقبر دده اخري منزل دی مخ ته هیڅ نسته ، الله ﷻ کوم چې خالقِ کائنات اوعلیمِ خبیر دی، هغه راتلونکي مرحلې دخپلو انبیاوو علیهم السلام په ذریعه غافل انسان ته راورسولی چې قبرستان اخري منزل نه دی، بلکه داصرف یو انتظارګاه (ویټنګ روم) (Waiting Room) دی اومخ ته یولوی جهان راتلونکی دی او په هغه کې دیولوی امتحان څخه وروسته به دانسان اخری منزل مقررسی کوم چې به یا دائمي ارام اوراحت وی یابیا دائمي عذاب اومصیبت، اوپه دی اخری منزل باندی به انسان خپل حقیقی مستقرته ورسیږی او دانقلاباتو دچکر څخه به ووزی، قرآن کریم په ، اِنَّ اِلٰی رَبِّکَ الرُّجْعٰی، او، اِنَّ اِلٰی رَبِّکَ الْمُنْتَھٰی، او ، کَادِحٌ اِلٰی رَبِّکَ کی دا مضمون بیان کړی دی ، غفلت شعار انسان یې په حقیقت او دده داخری منزل څخه خبردار اواګاه کړی دی چې ددنیا دعمر ټول حالات او انقلابات اخری منزل ته دِتللو سفر اوددې مرحلې دی اوانسان په تلو راتلو، په وینبیدو بیده کیدو دریدو کښینستو هرحال کی ددی سفر منزلونه قطع کوی اواخر خپل رب ته رسیږی اودټول عمر دعملونو حساب ورکوی ، په آخری منزل کی قرار پیداکوی کوم ځای چې به بیاراحت اوراحت اوغیرقطع کیدونکی ارام وی یابیامعاذالله عذاب اوعذاب اوغیرقطع کیدونکی مصیبتونه وی نودعقلمند انسان کار دا دی چې په دنیاکی خپل ځان یومسافر وګڼی او دخپل اصلی وطن دپاره دسامان تیارولو اولیږلو فکر ددنیا دټولو څخه لوی مقصد جوړکی ، نبی کریم ﷺ فرمایی ، کُنْ فِی الدُّنْیَا کَاَنَّکَ غَرِیْبٌ اَوْعَابِرُ سَبِیْلٍ : یعنی په دنیا کی داسی او سیږه لکه یومسافر چې دځو ورځو دپاره په یوځای کی پاته سوی وی یا پرلاره تیریدونکی چې په تګ تګ کی دلږ ارام دپاره ودریږی، د: طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ تفسیرکوم چې لوړبیان سوی دی ابونعیم دحضرت جابربن عبدالله په روایت سره په خپله دنبی کریم ﷺ څخه ددی مضمون روایت کړی دی ، دا اوږد حدیث دلته قرطبی په حواله دابی نعیم اوابن کثیرپه حواله دابن ابی حاتم مفصل نقل کړی دی ، په دی ایتونوکی یی غافل انسان ته دده دتخلیق اوعمرپه دنیاکی ده ته پیښیدونکی حالات او انقلابات رامخ ته کړی اودا هدایت یی ورته کړی دی چې غافله اوس هم وخت دی چې په خپل انجام فکر او داخرت فکر وکی ، مګر ددی ټولو روښانه هدایتونو باوجود ډیرخلګ دخپل غفلت څخه نه منع کیږی، په دی وجه په اخرکی ارشاد فرمایی ، فَمَا لَهُمْ لَا یُؤْمِنُوْنَ یعنی په دی غافل اوجاهل انسان څه وسوه چې ددی هرڅه اوریدو اوپوهیدو څخه وروسته هم په الله ﷻ ایمان نه راوړی ، وَاِذَا قُرِئَ عَلَیْهِمُ الْقُرْاٰنُ لَا یَسْجُدُوْنَ : یعنی کله چې د دوی په مخکی ددی واضح هدایت څخه ډک قرآن ویل کیږی ، دغه وخت هم دوی الله ﷻ ته نه کښنته کیږی .

دسجدی اوسجود معنٰی په لغت کی کښته کیدل دی اوپه دی سره داطاعت اوفرمان برداری څخه کنایه کول کیږی ، ظاهره ده چې دلته دسجدی څخه مراد سجده اصطلاحی نه ده بلکه دالله ﷻ په مخکی په اطاعت سره کښته کیدل کوم ته چې خشوع اوخضوع وایی ، هغه مراد دی او ددی دا ښکاره وجه ده چې په دی آیت کی حکم دسجدی دڅه خاص آیت په حقله نه دی ، بلکه دټول قرآن په حقله دی ، که ددی څخه اصطلاحی سجده مراد واخیستل سی ، نو دا به لازمه سی چې دټول قرآن په هرایت سجده لازمه وی

کومه چې په اجماع دامت نه سي مراد کيدی ، په سلفو اوخلفوکی څوك ددی قايل نه دی ، اوس پاته سوه دا مسئله چې ددی آيت په ويلو اواوريدو سجده واجب ده يانه ده، نو که څه هم په څه قدر تاويل سره په دی آيت هم پروجوب دسجدی استدلال کيدی سی لکه چې ځينو احنافو فقهاؤ ويلی دی چې دلته د: القرآن څخه مراد پوره قرآن نه دی بلکه الف لام دعهد دی اومراد ددی څخه خاص دا ايت دی، مگر دا يو قسم تاويل دی کوم ته چې داحتمال په درجه کی خوصحيح ويل کيدی سی مگر ددی مراد قرآن کيدل دظاهر عبارت څخه بعيد معلوميږی . والله تعالی اعلم

په دی وجه صحيح خبره دا ده چې ددی فيصله دحديثو په روايتونو اودنبی کريم ﷺ او دصحابه کرامو ﷺ په تعامل سره کيدی سی ، مگر دحديث روايتونه دتلاوت دسجدی په حقله مختلف قسم راغلی دی ، دځينو څخه وجوب معلوميږی او دځينو څخه رخصت ، په دی وجه دمجتهدينو امامانوپه دی معامله کی اختلاف دی ، داامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په نزد په دی آيت هم سجده واجب ده، لکه چې دمفصل په نورو ايتونو واجب ده، داامام اعظم رحمه الله استدلال ددی په وجوب باندی ددی لاندی حديث څخه دی .

په صحيح بخاری کی دی چې حضرت ابو رافع ﷺ فرمايی چې ما يوه ورځ دماخستن لمونځ په حضرت ابوهريره ﷺ پسی وکی ، ده ﷺ دسورة انشقاق تلاوت په لمانځه کی وکی اوپه دی آيت يی سجده وکړه، ما دحضرت ابوهريره ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې داڅنگه سجده ده؟ دوی وفرمايل چې ما په ابو القاسم ﷺ پسی په لمانځه کی په دی آيت سجده کړي ده ، په دی وجه زه به هميشه په دی آيت سجده کوم ترهغه پوری چې په محشرکی می د دوی ﷺ سره ملاقات وسی .

اوپه صحيح مسلم کی دحضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چې مونږ دنبی کريم ﷺ سره په إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ کی اوپه: اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ کی سجده کړي ده ، قرطبی دابن عربی څخه نقل کړی دی چې صحيح دا ده چې دا آيت هم دسجدی دآيتونو څخه دی ، ددی په ويونکی او اوريدونکی سجده واجب ده مگر ابن عربی چې په کومو خلکو کی اوسيدی په هغوی کی په دی آيت دسجدی کولو رواج نه وو هغوی ديو داسی امام مقلدوه دکوم په نزد چې سجده واجب نه ده نو ابن عربی وايی چې ما داسی طريقه اختيار کړه چې کله به می امامت کوی نو سورة انشقاق به می نه وايه ، ځکه چې زماپه نزد په دی سجده واجب ده که سجده نه کوم نو گناهگاريږم اوکه سجده کوم نوټول جماعت زما دافعل بدگڼی، بلا وجهی اختلاف ولی وغورځوم . والله تعالی اعلم

تمت سورة الانشقاق بحمد الله تعالی ۱۶ شعبان سنه ۱۳۹۱هـ

﴿سورة البروج﴾

سُوْرَةُ الْبُرُوْجِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اثْنَتَانِ وَعِشْرُوْنَ اٰيَةً

سورة بروج په مکه کی نازل سو او په دی کی دويشت (۲۲) آيتونه دی .

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی .

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ ۝١ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ ۝٢ وَشَاهِدٍ وَّمَشْهُوْدٍ ۝٣

قسم دی په آسمان په کوم کی چی برجونه دی ، او په هغه ورځ دکومی چی وعده ده ، او په هغه ورځ چی حاضریږي او په هغه کوم چی حاضریږي ،

قُتِلَ اَصْحٰبُ الْاُخْدُوْدِ ۝٤ النَّارِ ذَاتِ الْوَقُوْدِ ۝٥ اِذْ هُمْ عَلَيْهَا

قتل دی سی خندقونه کیندونکی ، چی اور دی زیات لرگی والا ، کله چی هغوی په دغه

قُعُوْدٌ ۝٦ وَّهُمْ عَلٰى مَا يَفْعَلُوْنَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ شُهُوْدٌ ۝٧ وَمَا

کښیناستل ، او څه چی هغوی کول د مسلمانانو سره په خپلو سترگو یی لیدل

نَقَمُوْا مِنْهُمْ اِلَّآ اَنْ يُّؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ۝٨ الَّذِيْ

اوددوی څخه یی بدله نه اخسته مگرددې خبری چی هغوی ایمان راوړی په الله چی زبردست دی تعریفونو والا

لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۗ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۝٩

دکوم چی حکومت دی په آسمانونو کی او په مځکه کی ، او دالله ﷻ په مخکې دی هر شی ،

اِنَّ الَّذِيْنَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوْبُوْا فَلَهُمْ

بیشکه کوم چی ددین څخه په ازمائش کی وغورځوی مؤمنان سری اومؤمنانی ښځی بیا توبه ونه کړی نوهغوی

عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيْقِ ۝١٠ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

دپاره عذاب د جهنم دی او د دوی دپاره عذاب سځونکی دی ، بیشکه کوم خلق چی ایمان راوړی

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۗ ذٰلِكَ

او نیک عملونه وکړی دهغوی دپاره باغونه دی چی بهیږي به تر لاندی نهرونه ، دا ده

الْفَوْزُ الْكَبِيْرُ ۝١١ اِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيْدٌ ۝١٢ اِنَّهٗ هُوَ يُبْدِئُ

لویه کامیابی ، بیشکه ستا درب نیول سخت دی ، بیشکه هغه اول پیدا کوی

وَيُعِيدُ ﴿١٣﴾ وَهُوَ الْغَفُورُ الْوَدُودُ ﴿١٤﴾ ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيدُ ﴿١٥﴾ فَعَّالٌ

او دوباره ، او هغه دی بخښنی والا او محبت کوونکی ، مالك دعرش لوی شان والا ، کوونکی

لِّمَا يُرِيدُ ﴿١٦﴾ هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْجُنُودِ ﴿١٧﴾ فِرْعَوْنَ وَثَمُودَ ﴿١٨﴾

دهغه چی څه وغواړی ، آیا تاته رسیدلی ده خبره دلښکرو ، دفرعون او دثمود

بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي تَكْذِيبٍ ﴿١٩﴾ وَاللَّهُ مِن وَرَائِهِم

داسی نه ده بلکه منکران درواغجن کوی ، او الله ﷻ دوی دهر طرف څخه راګیر

مُّحِيطٌ ﴿٢٠﴾ بَلْ هُوَ قُرْآنٌ مَّجِيدٌ ﴿٢١﴾ فِي لَوْحٍ مَّحْفُوظٍ ﴿٢٢﴾

کړی دی ، داسی نه ده بلکه دا قرآن دی دلوی شان والا ، لیکل سوی په لوح محفوظ کی.

تفسیر: شان نزول: په دی سورة کی دیوی قصی اجمالاً ذکر دی کوم چی په صحیح مسلم کی ذکرده خلاصه دهغه داده چی یو کافر بادشاه وو، دهغه سره یو کاهن وو (کاهن هغه چاته وایی کوم چی دشیطانانو په ذریعه یادنجووم داثارو په ذریعه دمستقبل څه غیبی خبرونه معلوموی، خلګوته یی وایی) دی کاهن بادشاه ته وویل چی ماته دی یو هوښیار هلك راکول سی چی زه ورته خپل علم وښیم، نو یو هلك ورته ورکول سو، دده په لاره کی یو راهب یعنی عیسایی پادری اوسیدی او په دغه زمانه کی دعیسیٰ ﷺ دین حق دین وو اودا راهب په دی قائم عبادت ګزار وو، دغه هلك به ده ته تلی راتلی او په پټه مسلمان سو، یو واردی هلك ولیدل چی یو زمری لار بنده کړیده اودخدای مخلوق پریشانه دی، نو ده یوه ډبره په لاس کی واخیسته، دعایی وکړه چی یاالله! که دراهب دین رښتینی وی نودا حیوان زما په لاس مړکی او که کاهن رښتینی وی نو مه یی مړ کوی، دایی وویل او زمری یی په ډبره وویشتی اوهغه په مړسو. په خلګوکی شور جوړ سو چی ددی هلك خو یو عجیبه علم زده دی، یو ړوند واوریدل، رالی اودرخواست یی ورته وکی چی زما سترګی بیناسی هلك ورته وویل، په دی شرط چی ته مسلمان سی نو هغه قبوله کړه، هلك دعاوکړه هغه ښه سو اومسلمان سو، بادشاه ته داخبر وریسیدی نو هغه راهب او هلك اوهغه ړوند ګرفتار کړل راویی غوښتل، هغه راهب اوړوند خویی قتل کړل اودده دپاره یی حکم وکی چی دی غرته وخیژوی او کښته یی راوغورځوی ، مګر کومو خلګو چی دی غرته خیژولی وو هغه خپله هلاك سول او هلك صحیح سلامت راغی ، بیا بادشاه په سمندرکی دغرقولو حکم وکی، هغه ددی څخه هم محفوظ سو او کومو خلګو چی دی بیولی وو هغه تول ډوب سول، بیا په خپله هلك بادشاه ته وویل چی بسم الله ووایه، ما په غشی وولہ نو زه به مړسم چنانچی داسی یی وکړل او هلك مړسو، وروسته داعجیبه واقعه چی یی ولیده نو فوراً دعامو خلګو دخلو څخه دا اواز لوړ سو چی مونږ ټولو په الله ﷻ ایمان راوړی بادشاه ډیر

پریشانه سو او دحکومت دارکانو سره یې مشوره وکړه لوی لوی خندقونه یې داورڅخه ډك کړل او اشتهار یې ورکی چې کوم سړی داسلام څخه نه منع کیږي هغه به په اورکی وسوزو، چنانچې ډیرخلگ یې وسوزل په دی صورت کی دغضب الهی نازلیدو بیان په قسم سره فرمایل سوی دی، قسم دی په برجونو والا آسمان (مراد دبرجونو څخه لوی لوی ستوري دی، لکه په درمنثورکی مرفوعًا راغلی دی) اوقسم دی په وعده سوی ورځی (یعنی دقیامت په ورځ) اوقسم دی په حاضریدونکی ورځ اوقسم دی په هغه ورځ په کومه کی چې دخلگو حاضري وي (په حدیث کی مرفوعًا دی چې یوم موعود دقیامت ورځ ده اوشاهد دجمعی ورځ ده اومشهود دعرفی ورځ ده اویوی ورځی ته شاهد اوبلی ته یې مشهود شاید ځکه وفرمایل چې په جمعه کی ټول په خپل خپل ځای وی نوگویا دغه ورځ په خپله راځی، اوپه یوم عرفه کی حاجیان دخپلو خپلو ځایونو څخه په عرفات کی ددغی ورځی په قصدسره جمع کیږي نوگویادغه ورځ مقصود اومشهود اونور خلگ دحاضري قصد کوونکی دی، مخ ته جواب دقسم دی) چې خندق والا یعنی دډیر خشاك اور والا ملعونان سول څه وخت چې هغه خلگ دهغه اور خواته ناست وه اوهغوی چې دمسلمانانوسره کوم (ظلم اوستم) کوی هغه یې لیدی (ددوی دملعون کیدوپه خبرورکولو سره مسلمانانو ته تسلی ورکول ظاهردی چې دغه شان کوم کافران چې داوخت پرمسلمانانو ظلم کوی، هغه به هم په لعنت کی گرفتارسی چې اثربه یې برابره خبره ده که په دنیاکی هم مرتب وی لکه دبدر اونورو په غزا کی چې قتل اورسوا سول یاصرف په اخرت کی لکه چې دعامو کفارو دپاره یقینی ده اوددښمن دعذاب په خبرسره تسلی کیدل طبعی امردی اوددغو خلگو کښینستل ددی ظلم اوستم دانتظام اونگرانی دپاره وو اوپه لفظ دشهود کی علاوه دنگرانی څخه اشاره ددغوخلگو دسنگدلی طرف ته هم کیدی سی چې په لیدو یې هم ترحم پردوی نه راتلی اوددی دخدای ﷻ په لعنت کی خاص دخل دی چې داسنگدلی سبب دلعنت دی) اودغو کافرانوپه دغو مسلمانانوکی بل هیڅ عیب نه وو پیدا کړی بغیر ددی څخه چې هغوی په خدای ایمان راوړی وو کوم چې زبردست اولائق درحمت دی داسی چې دهغه حکومت دی په آسمانونو اوپه مځکه کی (یعنی په ایمان راوړلو یې دا معامله وکړه اوایمان راوړل یې څه خطانه وه نو بې خطایې په هغوظلم وکی ، په دی وجه دغه خلگ ملعونان سول اومخ ته دظالمانو دپاره دعام عذاب او دمظلومانو دپاره عامه وعده ده) چې الله ﷻ دهر څه څخه واقف دی (دمظلوم دمظلومیت څخه هم پس دهغه مددبه کوی اودظالم دظالمیت څخه هم نوهغه لره به سزا ورکوی برابره خبره ده که دلته وی اوبرابره خبره ده که هلته وی چنانچې مخ ته دامضمون دی) چې چا مسلمانانو سرو او مسلمانانو ښځوته تکلیف ورسوی اوبیایې توبه ونه کړه نو دهغوی دپاره دجهنم عذاب دی او (په جهنم کی بالخصوص) دهغوی دپاره دسوزیدو عذاب دی (په عذاب کی هرقسم تکلیف داخل دی، ماران، لړمان، طوقونه، زنځیرونه، حمیم، غساق اونور اودټولو څخه لوی دسوزیدو عذاب دی، په دی وجه ددی یې په تخصیص سره ذکر وفرمایی، داخویې دظالم په حق کی وفرمایل، مخ ته دمومنانوپه حق کی په کوموکی چې مظلومان هم راغلل ارشاد دی چې) بیشکه کوموخلگوچې ایمان راوړی اوهغوی نیک عمل وکی دهغوی دپاره (دجنت)

باغونه دي دکومو لاندې چې به نهرونه بهیږي اودا لویه کامیابي ده (اولوړ دوه مضمونونه وه، دکفارو دپاره دجهنم کیدل او دمومنانو دپاره دجنت کیدل، مخ ته ددوی مناسب خپل ځیني صفتونه اواعمال ددې مضمونونو دتقریر دپاره ارشاد فرمایي چې) ستادرب نیول ډیر سخت دي (نو په کفارو دسختی سزا واقع کیدل څه مستبعد نه دي او دارنګه) هغه اول وارهم پیداکوي اودوباره به یې په قیامت کې هم پیداکوي (نو داشبهه هم پاته نه سوه چې که څه هم نیول یې سخت دي مګر قیامت به واقع نه سي کوم چې وخت دې دنیولو، په دې سره دکفارو دعذاب تقریر وسو اومخ ته تقریر دې دوعدې دمومنانو چې) هغه لوی بخښنې والادی (او) لوی محبت کوونکی اودعرش مالك اوعظمت والادی (نو دایماندارو ګناه به معاف کړي اوددوی به خپل محبوب جوړکي اوذو العرش اومجید که څه هم دعذاب اوثواب دواړو سره متعلق کیدی سی چې دواړه فرع دي دصاحب سلطنت اوکمال صفات والا، لیکن دلته دمقابلې په قرینه سره پردوی باندې دثواب متفرع کول مقصود دي اومخ ته ددواړو داثبات دپاره یوصفت ارشاد دي چې) هغه چې څه غواړي هرڅه کولی سي (مخ ته دمومنانو دزیاتي تسلي او دکفارو دزیات خبردار کولو دپاره دځینو خاصو مغضوبینو حال بیان فرمایي چې) ایا تاته دهغو لښکرو حال رسیدلی دی یعني فرعون (اوآلِ فرعون) اوثمودیانو (چې څنګه یې کفروکی اوڅنګه په عذاب کی اخته سول، په دې سره مومنانولره تسلي حاصلول په کار دي اوکفارو لره بیرول په کار دي مګر کفار بالکل دعذاب څخه نه بیریږي) بلکه داکفار (په خپله دقرآن) په تکذیب کی (لګیدلی) دی (نو دتعذیب دا مضمون هم اونور مضامین هم درواغجن کوي) او (په انجام کی دکار ددې سزابه څکې څکه چې) الله ﷻ دوی دشاوخوا څخه راګیرکړی دی (دهغه دقدرت دقبضې اوعذاب څخه نه سي محفوظ کیدی او د دوی قرآن لره درواغجن کول محض حماقت دی څکه چې قرآن داسې شي نه دی کوم چې ددرواغجن کولوقابل وي) بلکه هغه یوباعظمته کتاب دی کوم چې په لوحِ محفوظ کی (لیکل سوی) دی (په کوم کی چې دڅه تغیر اوبدلون احتمال نسته، دهغه ځای څخه په ډیر حفاظت سره صاحبِ وحی ته رارسیږي، لکه چې الله ﷻ په سورةِ جن کی فرمایي. ﴿فَإِنَّهُ يَسْلُكُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ رَصَدًا﴾ : نو په داسې صورت کی دقرآن درواغجن کول بیشکه چې جهالت اوموجب دعذاب دی)

معلومات اومسئلې: ﴿وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْبُرُوجِ﴾ : بُرُوج د ، بُرج جمع ده، لوی محل یاقلعه ته ویل کیږي په قرآن کریم کی دی ، ﴿وَلَوْ كُنْتُمْ فِي بُرُوجٍ مُشَيَّدَةٍ﴾ : دلته دبروج څخه مراد محلونه او مانۍ دي اواصلي لغوي معنی دمادې دبرج (یعنی ، ب، ر، ج،) ظهور ده، د: تبرج معنی بې پردې ښکاره ګرځیدل په قرآن کریم کی دی ، ﴿وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ﴾ : په دې آیت کی دبروج څخه مراد دجمهورو مفسرینوپه نزد لوی لوی ستوري دي ، حضرت ابن عباس ؓ، مجاهد ، ضحاك، حسن بصري، قتاده، سدي دټولو دا قول دی او دتفسیر ځینې نور امامان دلته دبروج څخه مراد قصور یعنی محلات اخلي اوددې څخه مراد هغه مکانات دي کوم چې په آسمان کی دپهره دارانو اونګرانانو ملائکو دپاره مقرر دي اوځینې وروستني عالمان دبروج څخه مراد هغه برجونه اخلي کوم چې دفلاسفوپه اصطلاح کی دي چې ټول آسمان یې په

دولسو حصوکی تقسیم کړی دی ، هری حصی ته یو برج وایی، ددوی خیال دادی چی ثوابت ستوری په دی برجونوکی پرخپل ځای مقیم دی اوستوری دآسمان دحرکت سره متحرك کیږی اوپه دی برجونوکی دستورو نزول وی مګر داسراسر غلطه ده قرآن کریم ستوری په آسمان کی مرکوزنه مقررکوی بلکه هر ستوری په خپل ذاتی حرکت سره متحرك ګرځوی لکه چی دسورة یٰس په آیت کی دی وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ دفلك څخه مرادپه دی کی آسمان نه دی بلکه دستوری مداردی په کوم کی چی دی حرکت کوی (مظهری)

وَالْيَوْمِ الْمَوْعُودِ، وَشَاهِدٍ وَمَشْهُودٍ: په لنډتفسیر کی دترمذی دمرفوع حدیث په حواله سره ددی الفاظو تفسیر لیکل سوی دی چی د ، يَوْمِ موعود څخه مراد ورځ دقیامت، اودشاهد څخه مراد ورځ دجمعی اودمشهود څخه مراد ورځ دعرفی ده، په دی آیت کی الله ﷻ په څلورو شیانو قسم واخیستی ، اول په برجونو والا آسمان ، بیادقیامت په ورځ، بیادجمعی اوعرفی په ورځو، مناسبت ددی شیانو دقسم دجوابِ قسم سره دا دی چی دا شیان دالله ﷻ په کامل قدرت باندی اوبیا دقیامت دورځی په جزا اوسزا باندی دلیلونه دی اودجمعی او عرفی ورځی دمومنانو دپاره داخرت دذخیری جمع کولو مبارکی ورځی دی ، مخ ته په جواب دقسم کی پرهغو کفارو لعنت راغلی دی کوموچی مسلمانان د دوی دایمان په وجه په اورکی وسوزول اوبیایی دمومنانو داخرت ددرجو بیان وفرمایی .

(داصحاب اخدود دواقعي څه تفصیل)

دا واقعه ددی سورة دنزول سبب ده چی خلاصه یی دصحیح مسلم دحدیث په حواله سره په لنډتفسیرکی بیان سوی دی ، دا سری کوم چی په دی واقعه کی کاهن ویلِ کیږی په څینو روایتونوکی دکاهن په ځای ساحر راغلی دی اودا بادشاه دکوم ذکر چی په دی قصه کی دی ، دیمن دملك بادشاه وو چی نوم یی دحضرت ابن عباس ؓ په روایت کی یوسف ذونواس وو، دده زمانه دنبی کریم ﷺ دولادت با سعادت څخه اویا کاله مخکی وه اودغه هلك کوم چی کاهن یاساحر ته دده دفن ښوولو دپاره بادشاه ماموره کړی وو، دده نوم عبدالله بن تامردی اوراهب دعیسایی مذهب عابد اوزاهد دی اوپه دغه زمانه کی چونکی دعیسٰی ؑ دین حق وو په دی وجه داراهب ددغه وخت رښتنی مسلمان وو ، داهلك عبدالله بن تامرکوم چی دکهانت یاسحر ازده کولو دپاره بادشاه ماموره کړی وو اودی به په لاره کی راهب ته ورتلی اودهغه کلام به یی اوریدی اومتاثره کیدی به ورڅخه، اوپه اخرکی بیا مسلمان سوی وو ، الله ﷻ ده ته ایمان هم داسی پوخ نصیب کی چی دایمان په خاطریی دخلګو تکلیفونه برداشت کول ، څکه چی کله به دتلوپه وخت کی په لاره کی دراهب سره کښینستی، دلته به یی څه وخت لګیدی، نوکله به چی ساحر یاکاهن ته ناوخته رسیدی نوهغه به دی وهی او دبیرته راتلو په وخت کی چی به کله بیا دراهب سره کښینستی، نوکورته به په راتلوکی ناوخته کیدی، پردی به کوروالاوو دی وهی، مګرده به دهیڅچا پرواه نه کوله اودراهب صحبت به یی نه پریښوی ددی په برکت سره الله ﷻ ده ته هغه کرامات ورکړل دکومو ذکر چی لوړ راغلی دی ، دی ظالم بادشاه ایمان راوړونکو ته دعذاب ورکولو دپاره خندقونه وکیندل اوهغه یی داور څخه ډك کړل ، بیابه یی دایمان راوړونکو څخه یویوحاضروی اوهغه ته به یی ویل چی یاایمان

پرېږده یادی خندق ته ورودانګه، الله ﷻ دی مومنانوته داسی استقامت نصیب کی چی په هغوی کی یوهم پرایمان پرېښیدو باندی راضی نه سو او اورته یی غورزیدل قبول کړل، صرف یوه ښځه دکومی په غیږ کی چی بچی وو، هغه اورته دغورزیدو څخه لږ پس اوپیش سوه نوورړوکی بچی ورته وویل چی موری! صبرکوه ځکه چی ته پر حقه یی، کوم خلګ چی په دغه بل اورکی وسوزیدل او دی ظالم قتل کړل ددغو شمیر په ځینو روایتونوکی دولس زره اوپه ځینو کی ددی څخه زیات منقول دی.

اوهغه هلك دکوم دکرامتونو چی لوړ ذکر تیر سوی دی او دا چی هغه په خپله بادشاه ته دخپل قتل کولو دا صورت وښووی چی ته زما دترکش (غشی دانی) څخه غشی راواخله اوپه هغه بِاسْمِ اللهِ رَبِّیْ ووایه اوما په وولہ نوزه به مړ سم، په دی ترکیب سره هلك خوروح ورکی، مګر ددی واقعی په لیدو دبادشاه توله قوم په جمع چغه کړه او دخپل مسلمانیدو اعلان یی وکی، کافر ظالم الله ﷻ په دنیاکی هم تاوانی او رسوا کی اونا مراده سو.

دمحمدبن اسحاق په روایت کی دی چی داهلك عبدالله بن تامرچی کوم ځای ښخ وو، اتفاقاًپه یوضرورت سره هغه مځکه دحضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کی وکیندل سوه، نو په هغه کی دعبدالله بن تامرلاش (مړی) صحیح سلامت داسی پیدا سو چی هغه ناست وو او لاس یی پرخپل زخم ایښی وو کوم ځای چی غشی لګیدلی وو، یولیدونکی دده لاس ددغه ځای څخه لیری کی نودزخم څخه وینه جاری سوه، بیایی هم هغسی کښیښووی نووینه بنده سوه، دده په لاس کی یوه ګوتمی وه، په کومه چی لیکل سوی وه اَللهُ رَبِّیْ، دیمن عامل ددی واقعی اطلاع حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه ته ورکړه نو دوی په جواب کی ولیکل چی هغه په خپل هیئت باندی دګوتمی سره هم هغه شان پټ کی لکه څنګه چی وو (ابن کثیر)

فائده: ابن کثیر په حواله دابن ابی حاتم نقل کړی دی چی داور دخندق واقعه په دنیاکی کی یوه نه په ډیرو مختلفو ملکونو اوزمانو کی سویده، بیا ابن ابی حاتم په دغو واقعاتو کی ددریوپه خصوصیت سره ذکر کړی دی چی یوخندق په یمن کی وو (دکوم واقعه چی دفترت په زمانه کی دنبی کریم ﷺ څخه اویا کاله مخکی پیښه سوي ده) دوهم خندق په شام کی، دریم په فارس کی وو، مګر په قرآن کریم کی چی دکوم خندق ذکر په دی سورة کی دی هغه خندق دنجران دملك یمن خندق دی، ځکه چی دا دعربو په ملك کی دی.

إِنَّ الَّذِينَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِينَ: دا دهغه ظالمانو دسزا بیان دی کومو چی مسلمانان صرف دهغوی دایمان پربنا باندی د اور په خندق کی وغورځول اوویی سوزل اوپه سزاکی یی دوی خبری ارشاد وفرمایلی، فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ: یعنی دهغوی دپاره په اخرت کی دجهنم عذاب دی، دوهم، وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيقِ، یعنی دهغوی دپاره دسوزیدو عذاب دی کیدی سی چی دوهمه جمله داولی جملی بیان اوتاکید وی اومعنی داوی چی جهنم ته به ولاړسی، دوی لره به همیشه په اورکی دسوزیدو عذاب وی اوداهم ممکنه ده چی په دوهمه جمله کی ددوی په دی دنیا کی دسزا ذکروی لکه چی په ځینو روایتونوکی دی چی کوم مومنان دغو خلګو داورپه خندق کی غورزولی وه، الله ﷻ خو دوی دتکلیف څخه داسی محفوظ کړل چی اور ته

درسیدو څخه مخکې یې ددوی روحونه قبض کړل او په اورکې مړه جسمونه وغورزیدل بیادی اور دومره شغلې وکړې چې دخندق دحدونو څخه ووتی او په ښار کې خپور سو او هغه ټول خلګ کومو چې دمسلمانانو دسوزیدو تماشه کول ، دی اور وسوزل، صرف بادشاه یوسف ذونواس وتښتیدی اوداور څخه دمحفوظ کیدو دپاره یې خپل ځان دریاب ته وغورځوی ، په هغه کې غرق سو اومړ سو (مظهري)

ددې خلګو دپاره دجهنم اوسوزونکې عذاب دخبر ورکولوسره قرآن کریم داقیدهم ولګوی چې ثُمَّ لَمْ يَتُوْبُوْا یعنې داعذاب په هغو خلګو باندې راځي کوم چې په خپل دې کار پښیمانه اوتوبه ګارنه سو، په دې کې هغو خلګوته دتوبې کولو دعوت ورکول سوی دی .

حضرت حسن بصري رحمه الله فرمایي چې دالله ﷻ دې جود او کرم ته ګوری چې هغو خلګو دالله ﷻ دوستان ژوندي وسوزل اوتماشه یې وکړه ، اوالله ﷻ په دې سربېره هم دوی ته دتوبې او مغفرت طرف ته دعوت ورکوی (ابن کثیر)

تمّت سورة البروج والحمد لله ۱۲ شعبان سنه ۱۳۹۱ هـ

﴿ سورة الطارق ﴾

سُوْرَةُ الطَّارِقِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ هِيَ سَبْعَ عَشْرَةَ اٰيَةً

سورة طارق په مکه کې نازل سو او په دې کې اوولس (۱۷) آیتونه دي .

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چې ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی .

وَالسَّمَآءِ وَالطَّارِقِ ۝۱ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الطَّارِقُ ۝۲ النَّجْمُ

قسم دی په آسمان اوپه تیاره کې په راتلونکی، اوته څه پوه سوی په تیاره کې راتلونکی څه شی دی ؟ هغه ستوری

الثَّاقِبُ ۝۳ اِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ ۝۴ فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ مِمَّ

برېښېدونکې دی ، هیڅ یو نفس داسې نسته چې په هغه یونګهبان نسته ، نو ودې ګوري بنده چې دڅه شي

خُلِقَ ۝۵ خُلِقَ مِنْ مَّآءٍ دَافِقٍ ۝۶ يَّخْرُجُ مِنْۢ بَيْنِ الصُّلْبِ

څخه پیدا سوی دی ؟ پیدا سوی دی دتوپ کوونکو اوبو څخه ، کومې چې وزي دشا دمینځ څخه اوسینې

وَالتَّرَآئِبِ ۝۷ اِنَّهٗ عَلٰى رَجْعِهٖ لَقَادِرٌ ۝۸ يَوْمَ تُبْلَى السَّرَآئِرُ ۝۹ فَمَا لَهٗ

دمینځ څخه ، بیشکه هغه دده په ګرځولو قادر دی ، په کومه ورځ چې ښکاره سي ، رازونه نو

مِنْ قُوَّةٍ وَّ لَا نَاصِرٍ ﴿۱۰﴾ وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجْعِ ﴿۱۱﴾ وَالْاَرْضِ ذَاتِ

نه به وی ده لره څه زور او نه مددگار ، او قسم دی په آسمان گرځونکی ، او په مځکه بهر

الصَّدْعِ ﴿۱۲﴾ اِنَّهٗ لَقَوْلٌ فَصْلٌ ﴿۱۳﴾ وَّمَا هُوَ بِالْهَزْلِ ﴿۱۴﴾ اِنَّهُمْ يَكِيْدُوْنَ

راوتونکی ، بیشکه دا خلاصه خبره ده ، او نه ده خبره دخندا ، خامخا هغه لګیدلی دی

كَيْدًا ﴿۱۵﴾ وَّاَكِيْدُ كَيْدًا ﴿۱۶﴾ فَمَهِّلِ الْكٰفِرِيْنَ اَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا ﴿۱۷﴾

په یو تدبیر کولو کی ، اوزه لګیدلی یم په یو تدبیرکی ، نو مهلت ورکړه منکرانو ته مهلت دلږ وړخو .

تفسیر: قسم دی په آسمان اوپه هغه شی کوم چی دشپی ښکاره کیدونکی دی اوتاته څه معلومه ده چی هغه دشپی ښکاره کیدونکی شی څه دی؟ هغه روښانه ستوری دی (یو ستوری به وی لکه داقول دالله ﷻ وَالنَّجْمِ اِذَا هَوٰى : مخ ته جواب دقسم دی چی) یو سړی داسی نسته په کوم چی یوڅوک عملونه یادوونکی (ملائکه) مقررنه وی (لکه دا قول دالله ﷻ دی ، وَاِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِيْنَ، كِرَامًا كَاتِبِيْنَ، يَعْلَمُوْنَ مَاتَفْعَلُوْنَ : مطلب دا چی په دی عملونو محاسبه کیدونکی ده او ددی قسم دمقصود سره مناسبت دا دی چی لکه څنګه چی په آسمان کی ستوری هر وخت محفوظ دی مګر ظهوریی خاص په شپه کی وی، دغه شان عملونه ټول په عملنامه کی داوخت محفوظ دی، مګر ظهوربه ددی خاص په قیامت کی وی، کله چی خبره داده) نوانسان لره (دقیامت فکر په کار دی اوکه ددی داستبعاد شبهه یی وی نوده لره) کتل په کار دی چی هغه دڅه شی څخه پیدا سوی دی هغه دیوټوپ وهونکو اوبو څخه پیدا سوی دی کوم چی دشا اوسینی (یعنی ټول بدن) دمینځ څخه وزی (مراد ددی اوبو څخه منی دی برابره خبره ده که دسړی وی یادسړی اوښځی د دواړو، اودښځی په منی کی که څه هم ټوپ وهل دسړی دمنی برابرنه وی، لیکن څه ټوپ په کی خامخاوی اوپه بل تقدیر یعنی کله چی داوبو څخه مراد دسړی اوښځی ددواړو نطفه وی نولفظ د: مَاء مفرد راوړل په دی بنا باندی دی چی دواړه مادی مخلوطی سی اوپه مثل دیوشی وګرځی اوشا اوسینه چونکی دبدن دوه طرفونه دی، په دی وجه کنایه دټول بدن څخه کیدی سی، حاصل دادی چی دنطفی څخه دانسان جوړول زیاته عجیبه ده په نسبت ددوباره جوړولو ، اوکله چی زیات عجیبه کارددہ دقدرت څخه ظاهریږی نوددی څخه ثابت سوه چی) هغه دده پردوباره پیدا کولو خامخا قادری دی (نو دغه دقیامت داستبعاد شبهه دفع سوه اودادوباره پیدا کول به په هغه ورځ وی) په کومه ورځ چی به ټول هرڅه رازونه ښکاره سی (یعنی ټولی پټی خبری باطلی عقیدی، فاسد نیتونه به ظاهرسی اوپه دنیاکی چی لکه څنګه چی پرموقع دجرم څخه منکریږی، هغه پټوی، داخبره به هلته ممکنه نه وی) نو دی انسان ته به نه په خپله (دمدافعت) قوت وی اونه به دده څوک حمایتی وی (چی عذاب دده څخه دفع کی او که وویل سی

چي امکان دقیامت که څه هم عقلي دی مګر وقوع یې نقلي ده اودلیل نقلي قرآن دی اودغه اوس هم محتاج داثبات دی نوددی په حقله واوری چی) قسم دی په آسمان دکم څخه چی پرلپسی باران کیږی اوپه مځکه کومه چی (دتخم را ایستلو په وخت کی) څیری سی (مخ ته جواب دقسم دی) چی داقرآن دحق اوباطل په مینځ کی یوفیصله کوونکی کلام دی اوهغه څه لغوه شی نه دی (په دی سره دقرآن حق کلام دالله ﷻ دطرف څخه کیدل ثابت سوه ، مګر باوجود داثبات دحق ددی خلګو حال دا دی چی) داخلګ (دحق دنفی کولو دپاره) قسم قسم تدبیرونه کوی اوزه هم (د دوی دناکامی اوسزا دپاره) قسم قسم تدبیرونه کوم (اوظاهره ده چی زما تدبیر به غالب کیږی اوکله چی زما تدبیر کول مو واوریدل) نوته ددی کافرانو (دمخالفت څخه بیریږه مه اوپه دوی کی دژر عذاب راتلو خواهش مه کوه بلکه دوی) هم دغسی پریږده (اوزیاتی ورځی نه) بلکه لږ ورځی یې پریږده (بیابه زه په دوی عذاب نازل کړم برابره خبره ده که دمرګ څخه مخکی وی یادمرګ څخه وروسته، داخری قسم داخری مضمون سره دامناسبت دی چی قرآن دآسمان څخه راځی اوپه چاکی چی قابلیت وی هغه ما لامال کوی لکه باران چی دآسمان څخه راځی او مځکه ښه فیضیابه کوی)

معلومات اومسئلي: په دی سورة کی حق تعالی په آسمان اوستوری قسم اخیستی دی اودا یې ارشاد فرمایلی دی چی په هرانسان باندی یومحافظ اونګران دی، کوم چی دده ټول کارونه اوعملونه اوحرکات اوسکنات وینی اوپیژنی، ددی عقلي تقاضا داده چی انسان په خپل انجام فکروکی چی په دنیاکی دی څه کوی هغه دالله ﷻ سره محفوظ دی اودامحفوظ ساتل دحساب دپاره دی کوم چی به په قیامت کی وی ، په دی وجه په کار دی چی په هیڅ وخت کی دی داخرت اوقیامت دفکرڅخه غافله نه وی ددی څخه وروسته دهغه شبهې جواب دی کومه چی شیطان دخلګوپه زړونوکی غورځوی چی دمړکیدو خاوری او ذری ذری کیدو څخه وروسته بیا دټولو اجزاوو جمع کیدل اوپه دی کی ژوند پیدا کیدل یوموهوم خیال بلکه دعوامو په نظرکی محال اوناممکن دی، په جواب کی دانسان پر ابتدایی پیدائش دفکر کولو هدایت دی، چی هغه څنګه دمختلفو ذرو اومختلفو موادو څخه وی، لکه چی په ابتدایی پیدائش کی دټولی دنیا مختلفی ذری جمع سوی یوژوندی اوریدونکی لیدونکی انسان یې جوړ کړی دی، دهغه به په دی قدرت ولی نه وی، چی بیا دی دغه شان دوباره ژوندی کړی، ددی څخه وروسته یې څه حال دقیامت بیان کړی دی، دوهم قسم یې په مزکه اوآسمان اخیستی دی اوغافل انسان ته یې دا وریاده کړي ده چی ده ته کوم دآخرت دفکر تلقین سوی دی هغه دی مذاق اوخندانه ګڼی، دایو حقیقت دی کوم چی به خامخامخ ته راځی ، په اخرکی دکفارو ددی شبهې جواب ورکول سوچی کفر اوشرك او نافرمانی که دالله ﷻ خوښی نه ده نوبیا په دنیاکی په دوی عذاب ولی نه راځی ، په دی سورة ختم کړل سوی دی.

په اول قسم کی دآسمان سره دطارق قسم دی ، دطارق معنٰی دشپی راتلونکی دی ، ستوری چونکی دورځی پټ وی ، په دی وجه یې ستوری ته طارق وفرمایی اوپه خپله قرآن ددی تفسیر وکی ، وَمَا أَدْرَاكَ مَا الطَّارِقُ : یعنی ته څه خبریې چی طارق څه شی دی؟ بیافرمایی ، النَّجْمُ الثَّاقِبُ یعنی ستوری روښانه

دنجم معنٰی ستوری دی، قرآن کریم یوستوری متعین کړی نه دی، په دی وجه هرستوری ددی مصداق کیدی سی، ځینو مفسرینو حضراتو دنجم څخه خاص ستوری ثریا یازحل مراد اخستی دی اودعربو دکلام څخه یی په لفظ دانجم سره په دی اطلاق ثابت کړی دی، دثاقب معنٰی روښانه بریښیدونکی دی.

اِنْ کُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ: داجواب دقسم دی په دی کی دشروع حرف اِنْ نافیه دی اوحرف لَمَّا په تشدید دمیم په معنٰی د: اِلاّ دی کوم چی دهذیل قبیلی په لغت کی داستثناء معنٰی ورکوی اومعنٰی دایت دا ده چی یونفس داسی نسته پرکم چی حافظ نه وی، دحافظ معنٰی نګران هم راځی کوم چی دچا پرعملونو باندی نظرساتی چی دهغه سره حساب وکی اوحافظ په معنٰی دمحافظ هم راځی چی معنٰی یی دتکلیفونو اوافتونو څخه حفاظت کوونکی دی، داولی معنٰی په اعتبار سره دحافظ څخه مراد عملونه لیکونکی ملائکه ده اودلته یی دا که څه هم په لفظ دمفردسره په معنٰی دجنس بیان کړي ده مګر د دوی دیروالی په نورو ایتونو سره ثابت دی، وَاِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِيْنَ، كِرَامًا كَاتِبِيْنَ او د دوهمی معنٰی په اعتبار سره هغه ملائکی مراد دی کوم چی الله ﷻ دهرانسان دحفاظت دپاره مقررکړی دی هغه شپه اوورځ دټولو افتونو اومصیبتونو څخه دانسان حفاظت کوی، بغیر دهغه مصیبت او افت څخه کوم چی الله ﷻ دده دپاره مقدرکړی دی لکه چی په یوبل آیت کی ددی صراحةً بیان سوی دی: لَهٗ مُعَقِّبَاتٌ مِّنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ يَحْفَظُوْنَهٗ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ. یعنی دانسان دپاره وخت په وخت راتلونکی محافظی ملائکی مقرر دی، کوم چی دده مخ ته وروسته دده حفاظت دالله ﷻ په حکم سره کوی.

په یوحدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی په هر مومن دالله ﷻ دطرف څخه دری سوه شپیته ملائکی دده دحفاظت دپاره مقرردی کوم چی دانسان دهراندام حفاظت کوی په دوی کی اووه ملائکی صرف دانسان دسترګودحفاظت دپاره مقرری دی داملائکی انسان دهری بلااومصیبت څخه کوم چی دده دپاره مقدرنه وی داسی دانسان څخه دفع کوی لکه په ګبین کی داینبوول سوی لوښی څخه چی راتلونکی مچی په پکی یابل شی سره دفع کوی اوکه په انسان داحفاظتی پیره نه وای نو شیطانانو به دی تښتولی وای (قرطبی)

خُلِقَ مِنْ مَّاءٍ دَافِقٍ: یعنی انسان پیدا سوی دی دیوټوپ وهونکو اوبوڅخه کومی چی وزی دشا اوسینی دهډو کو دمینځ څخه، په عام طور سره مفسرینو حضراتو ددی دا مطلب مقرر کړی دی چی نطفه دسړی دشا او دښځی دسینی څخه وزی.

مګر دانسانی اندامونو دماهرو طبیبانو تحقیق اوتجربه دا ده چی نطفه په حقیقت کی دانسان دهر اندام څخه وزی اودبچی هراندام ددغه جزء دنطفی څخه جوړیږی کومه چی دسړی اوښځی دهغه اندام څخه وزی، البته ددماغو په دی معامله کی دټولو څخه زیات دخل دی، په دی وجه مشاهده کیږی چی په کثرت سره جماع کوونکی اکثرپه ضعف دماغ کی مبتلا وی، ددی سره د دوی دا تحقیق هم دی چی نطفه دټولو اندامونوڅخه راجلاسی دحرام مغز په ذریعه په خصیتینو کی جمع سی او بیا دهغه ځای څخه وزی که دا تحقیق صحیح دی نو مفسرینو حضراتو چی کوم دنطفی وتل دسړی دشا اودښځی دسینی څخه متعلق مقرر کړي دی ددی توجیه هم څه بعیده نه ده ځکه چی په دی دطبیبانو اتفاق دی چی دنطفی په

پیدائش کی دتولو څخه لوی دخل ددماغو دی اوددماغو خلیفه اوقائمقام حرام مغزدی کوم چی دملا دهډو کی دننه ددماغو څخه شاته اوبیا خصیتینو ته راغلی دی ، ددی څه ښاخونه دسینی هډوکوته راغلی دی ، کیدی سی چی دښځی په نطفه کی دسینی دهډوکو څخه دراتلونکی نطفی او دسړی په نطفه کی دشا څخه دراتلونکی دخل زیات وی (ذکره البیضاوی)

اوکه دقرآن کریم پرالفاظو فکروسی، نوپه دی کی دسړی اوښځی څه تخصیص نسته، صرف دومره ده چی نطفه دشا اوسینی دمینځ څخه وزی، ددی دامطلب بی تکلفه کیدی سی چی نطفه دسړی اوښځی ددواړو دټول بدن څخه وزی او دټول بدن تعبیر یی دمخ او شا په اهمو اندامونو سره وکی دمخ په حصه کی سینه اودشا په حصه کی شا دټولو څخه اهم اندامونه دی ددی دواړو څخه دوتلو دامطلب اخیستل کیږی چی دټول بدن څخه وزی لکه چی په لنډ تفسیر کی لیکل سوي دی .

إِنَّهُ عَلَى رَجْعِهِ لَقَادِرٌ: درجع معنی بیرته ورکول دی مطلب دادی چی کوم خالقِ کائنات اول انسان دنطفی څخه پیداکړی دی هغه دده په دوباره پیداکولو یعنی دمرګ څخه وروسته په ژوندی کولو په درجه اولی قادردی

يَوْمَ تُبْلَى السَّرَائِرُ د: تُبْلَى لفظی معنی امتحان اخیستل اوازمائش کول دی اود ، سَرَآئِرْ معنی ده پټ کارونه مطلب دادی چی دقیامت په ورځ به دانسان دټولوعقیدو خیالاتو اونیت اوارادو کوم چی په زړه کی پټی وی په دنیاکی هغه هیچاته معلومی نه وی دغه شان هغه عملونه اوکارونه کوم چی ده په پټه کړی وه اوپه دنیاکی ورځخه هیڅوك خبرنه وو ، په محشرکی به دټولو امتحان واخیستل سی، یعنی ټول به ظاهرسی .

حضرت عبدالله ابن عمر﷜ فرمایی چی الله ﷻ به دقیامت په ورځ دانسان هر پټ راز ښکاره کړی ، دهری ښی اوبدی عقیدی اوعمل نښانه به دانسان په مخ باندی یاښائست جوړ سی ، یابه دتیاری اوتوروالی په صورت کی ظاهر کړل سی (قرطبی)

وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الرَّجْعِ : درجع معنی دهغه باران ده کوم چی پرلپسی وی چی یو وار باران وسی ختم سی اوبیا شروع سی .

إِنَّهُ لَقَوْلٌ فَصْلٌ : یعنی قرآن کریم یوفیصله کن قول دی کوم چی پرحق اوباطل فیصله کوی اوپه دی کی دڅه شك اوشبهی ګنجائش نسته .

حضرت علی﷜ فرمایی چی مادنبی کریم ﷺ څخه اوریدلی دی چی دقرآن په حقله یی فرمایل كِتَابٌ فِيهِ خَبَرُ مَاقَبْلَكُمْ وَحُكْمُ مَابَعْدَكُمْ وَهُوَ الْفَصْلُ لَيْسَ بِالْهَزْلِ : یعنی دا یو داسی کتاب دی په کوم کی چی ستاسی څخه دمخکی امتونو حالات اوخبرونه دی اوستاسی دوروستو راتلونکو دپاره احکام دی، دافیصله کن قول دی خندا اومذاق نه دی ،

تمّت سورة الطارق بحمد الله تعالی ۱۷ شوال سنه ۱۳۹۱هـ

﴿سورة الاعلي﴾

سُوْرَةُ الْاَعْلٰى مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ هِيَ سَبْعَ عَشْرَةَ اٰيَةً

سورة اعلی په مکه کې نازل سو او په دې کې نولس (۱۹) آیتونه دي

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چې ډير مهربانه نهايت رحم ؤالا دی .

سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلَى ﴿۱﴾ الَّذِيْ خَلَقَ فَسَوّٰى ﴿۲﴾ وَالَّذِيْ

پاکي بيانوه دخپل رب دنوم چې دټولو څخه لوړ دی ، چاچې پيدا کې بيا يې صحيح کې ، او چاچې

قَدَّرَ فَهَدٰى ﴿۳﴾ وَالَّذِيْ اَخْرَجَ الْمَرْعٰى ﴿۴﴾ فَجَعَلَهٗ غُثَآءً

اندازه جوړه کړه بياي ی لار ونبووه ، او چا چې را ویستله وا بنه ، بيا يې کړه هغه خشاك

اَحْوٰى ﴿۵﴾ سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسٰى ﴿۶﴾ اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ اِنَّهٗ يَعْلَمُ

تور ، خامخا به مونږ ووايو تاته نو ته به نه هيروی ، مگر څه چې وغواړی الله ﷻ هغه پيژنی

الْجَهْرَ وَمَا يَخْفٰى ﴿۷﴾ وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرٰى ﴿۸﴾ فَذَكِّرْ اِنْ نَّفَعَتِ

ښکاره بلنه او پټه ، او په کراره به ورسوو تا آساني ته ، نو ته نصيحت کوه که فائده کوی

الذِّكْرٰى ﴿۹﴾ سَيَذَّكَّرُ مَنْ يَّخْشٰى ﴿۱۰﴾ وَيَتَجَنَّبُهَا الْاَشْقَى ﴿۱۱﴾ الَّذِيْ

نصيحت کول ، نصيحت به قبلوی هغه څوك چې بيريږي ، او منع به کوی ددی څخه بدقسمته ، هغه چې

يَصْلَى النَّارَ الْكُبْرٰى ﴿۱۲﴾ ثُمَّ لَا يَمُوْتُ فِيْهَا وَلَا يَحْيٰى ﴿۱۳﴾ قَدْ

داخل به سی لوی اور ته ، بيا به نه مری په هغه کی او نه به ژوندی وی ،

اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى ﴿۱۴﴾ وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى ﴿۱۵﴾ بَلْ تُؤْثِرُوْنَ

بيشکه بامراده سو څوك چې پاك سو ، اوياد يې کې نوم دخپل رب نو لمونځ يې وکی ، داسی نه ده بلکه

الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿۱۶﴾ وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ﴿۱۷﴾ اِنَّ هٰذَا لَفِى

تاسی زياتوی ژوند ددنيا ، اوآخرت ښه دی اوباقی پاته کيدونکی دی ، دا ليکل سوی دی

الصُّحُفِ الْأُولَىٰ ﴿١٨﴾ صُحُفِ إِبْرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ ﴿١٩﴾

په مخکنيو صفحو کی ، په صحيفو دابراهيم ﷺ او دموسى ﷺ کی.

لنډتفسير: (ای پيغمبر ﷺ) ته (اوکوم مومنان چی ستاسره دی) دخپل پروردګار عاليشان دنوم تسبيح (اوپاکی) بيانوی کوم چی (هرشی) جوړکی بيايی (هغه) سم جوړکی (يعنی هرشی يی په مناسب طور باندی جوړکی) اوچاچی (دجاندارو دپاره ددوی مناسب شيان) منتخب کړل بيايی (دغه جاندارو لره ددغو شيانو طرف ته) لار وښووله (يعنی دهغوی په طبيعتونوکی يی ددغو شيانو تقاضا پيدا کړه) اوچاچی (شنه ښانسته) ګياه (دمځکی څخه راوايستله) بيايی داتورخشاك کی (اول عام تصرفات مذکور دی ، بيا دحيواناتو په حقله، بيا دنباتاتوپه حقله، مطلب دا دی چی دطاعاتوپه ذريعه داخرت تياری کول په کار دی ، کوم ځای چی پرعملونوجزا اوسزا ورکيدونکی ده اوددی طاعتونو دطريقی ښوولو دپاره مونږ قرآن نازل کړی دی اوته موددی دتبليغ دپاره ماموره کړی دی، نو ددی قرآن په اړوند مونږ وعده کوو چی) مونږ (ځومره) قرآن (به نازلوو) تاته به يی وايو (يعنی دريادوو به يی) بيا به ته (ددغه څخه يو جزء) نه هيروی مګر ځومره (هيريدل) چی الله ﷻ ته منظور وی (چی دنسخ يوه طريقه دا هم ده لکه چی الله ﷻ فرمايی ، مَا نَنسَخْ مِنْ اٰيَةٍ اَوْ نُنسِهَا الخ نو هغه به خامخا ستا اودټولو دذهنونو څخه هيريږی اودا ياد ساتل اوهيرول به ټول قرين دحکمت وی ځکه چی) هغه ظاهر اوپټ پيژنی (په دی وجه دهغه څخه دڅه شی مصلحت پټ نه دی نوکله چی ديوشی محفوظ ساتل مصلحت وی نومحفوظ يی ساتی او کله چی يی هيرول مصلحت وی نوهيروی يی) او (لکه څنګه چی مونږ ستا دپاره دقرآن يادول اسانوو دغه شان) مونږبه ددی اسان (شريعت په هرحکم باندی چليدلو) دپاره تاته سهولت درکو (يعنی په پوهيدل به هم اسان وی اوعمل په کول به هم اسان وی اوتبليغ به هم اسان وی اومزاحمتونه به دفع کو اودشريعت صفت يُسْرٰی راوړل په طور دمدح دی يا په دی وجه چی داسبب دی د: يُسْر اوکله چی مونږ ستا دپاره دوحی په حقله دهرکار اسانولو وعده کوو) نوته (لکه څنګه چی په خپله تسبيح اوپاکی کوی دغه شان نوروته هم) نصيحت کوه که نصيحت کول مفيدوی (مګر لکه څنګه چی ظاهره اومعلومه ده چی نصيحت په خپل ذات کی هميشه مفيدوی لکه چی الله ﷻ فرمايی: فَاِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِيْنَ : حاصل دا سو چی کله نصيحت دنفع شی دی نو ته دنصيحت کولو اهتمام کوه مګرسره ددی چی نصيحت په خپل ذات کی نافع او مفيد دی ، په دی سره دامه ګڼه چی دابه دټولو دپاره مفيدوی اوټول به دا ومنی بلکه) هغه سړی نصيحت منی کم چی (دخدای څخه) بيريږی اوکوم چی بدنصيبه دی هغه ددی څخه منع کوی کوم چی (اخر) په لوی اورکی (يعنی په اور ددوږخ کی کوم چی ددنيا داور څخه ډير لوی دی) به داخل سی بيا به (ددی څخه زياته لا داچی) نه به په دی کی مړه کيږی اونه به (دارام په ژوند) ژوندی وی (يعنی کوم ځای چی دنصيحت قبلولو شرط موجود نه وی ، هلته که څه هم ددی اثر ظاهرنه وی مګر نصيحت فی نفسه نافع اومفيد دی اوستا پرذمه ددی دواجب کيدو دپاره داکافی ده لنډه داول دسورة څخه تردی ځای

پوری دا سوه چی ته خپل تکمیل هم کوه اونوروته هم ددی تبلیغ کوه چی مونږ ستا مددگار یو، مخ ته ددی تفصیل دی چی دالله ﷻ څخه بیریدونکی دنصیحت څخه فائده اخلی، بامراده سوکوم سړی چی «دقرآن په اوریدو دباطلو عقیدو اورذیلو اخلاقو څخه» پاك سو او دخپل رب نوم اخلی اولمونځ کوی «مگر ای منکرانو! تاسی قرآن اوری اونه یی منی اوداخرت سامان نه تیاروی» بلکه تاسی ددنیا ژوند مخ ته کوی حال دادی چی اخرت «ددنیا څخه» په ډیرو درجو ښه اوپائیدار دی «اودا مضمون صرف دقرآن دعوٰی نه ده بلکه» دا مضمون په مخکنیو صحیفوکی هم دی یعنی دابراهیم اوموسٰی علیهما السلام په صحیفوکی «په روح المعانی کی دعبدبن حمیدپه روایت سره مرفوع حدیث مذکوردی چی په ابراهیم علیه السلام لس صحیفی نازلی سوی اوپه موسٰی علیه السلام دتورات دنزول څخه مخکی لس صحیفی نازلی سوی»

معلومات اومسئلی: **مسئله**: علماء فرمایی چی قاری کله د، سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلَى تلاوت وکی نومستحب دی چی دا ووایی سُبْحَانَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی، دصحابه کرامو حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه ابن عمر رضی الله عنه ابن زبیر رضی الله عنه ابوموسٰی رضی الله عنه اوابن مسعود رضی الله عنه اجمعین دامعمول وو چی کله به یی داسورة شروع کوی نو سُبْحَانَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی به یی ویل «قرطبی»

یعنی دلمانځه څخه دباندی چی کله تلاوت کوی نوداسی ویل مستحب دی.

مسئله: دحضرت عقبه بن عامرجهنی رضی الله عنه څخه روایت دی چی کله سورة، سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلَى نازل سو نو نبی کریم ﷺ وفرمایل چی دا کلمه سُبْحَانَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی په خپلو سجدو کی وایاست.

سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلَى: دتسبیح معنٰی پاك درلودل اوپاکی بیانول دی، د: سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ معنٰی دا ده چی دخپل رب نوم پاك ساتی، مراد دا دی چی درب دنوم تعظیم ساتی اودهر داسی شی څخه دده نوم پاك لری کوم چی دده دشان لائق نه وی، په دی کی داهم داخله ده چی الله ﷻ صرف په هغو نومونو باندی بلی کوم چی په خپله الله ﷻ دځان دپاره بیان کړی دی یاالله ﷻ خپل رسول ﷺ ته ښوولی دی ددی څخه ماسوا په یو بل نوم سره هغه بلل جائز نه دی.

مسئله: دغه شان په دی حکم کی داهم داخله ده چی کوم نوم دالله ﷻ سره مخصوص دی هغه دیو مخلوق دپاره استعمالول دهغه دتنزیهه اوتقدیس څخه خلاف ده په دی وجه جائزنه دی «قرطبی» لکه رحمٰن، رزاق، غفار، قدوس اونور، نن صباپه دی معامله کی ډیرغفلت کول کیږی، دخلگو دنومونو دلنډولو شوق دی، عبدالرحمٰن ته رحمٰن، عبد الرزاق ته رزاق، عبد الغفارته غفار بی تکلفه وایی، اودانه گنی چی ددی ویونکی اواوریدونکی دواړه گناهگاریږی اودابی لذته گناه شپه اوورځ کیږی اوځینی مفسرین حضرات دلته داسم څخه مرادپه خپله دمسمٰی ذات مراد اخلی اودعربی ژبی په اعتبارسره ددی گنجائش هم دی اوپه قرآن کریم کی هم ددی معنٰی دپاره استعمال سوی دی اوپه حدیث کی چی کوم نبی کریم ﷺ ددی کلمی دلمانځه په سجده کی دویلو حکم وکی، ددی په تعمیل کی هم چی کومه اختیارسوه هغه سُبْحَانَ اسْمِ رَبِّكَ الْاَعْلَى نه دی بلکه سُبْحَانَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی دی، ددی څخه هم معلومیږی چی دلته اسم مقصود

نه دی ، په خپله مسمیٰ مراد ده . والله اعلم (قرطبی)

(دکائناتو په تخلیق کې لطیف اودقیق حکمتونه)

اَلَّذِیْ خَلَقَ فَسَوّٰی، وَالَّذِیْ قَدَّرَ فَهَدٰی، داټول درب اعلی دصفاتو ذکردی کوم چې دکائناتو په پیدا کولوکی دهغه دبالغ حکمت اوکامل قدرت دمشاهدی سره متعلق دی په دی کی اولنی صفت خَلَقَ دی، د: خَلَقَ معنیٰ محض صنعت ګری نه ده، بلکه دعدم څخه بغیر دڅه مخکی مادی څخه په وجودکی راوړل دی او دا کار دیو مخلوق په وس کی نه دی، صرف دالله ﷻ کامل قدرت دی چې بغیر دڅه مخ کی مادی څخه چې کله وغواړی اوڅه شی وغواړی ، دعدم څخه یی په وجودکی راولی ، دوهم صفت ددی تخلیق سره تړل سوی فَسَوّٰی دی کوم چې دتسویه څخه مشتق دی اوددی لفظی معنیٰ برابرول دی، اومراد دبرابرولو څخه دادی چې هرشی ته یی چې کوم وجود ورکی دهغه دجسامت اوشکل اوصورت او اعضاوو او اجزاؤ په وضع اوهیئت کی یی دیوخاص تناسب لحاظ وساتی اودا وجودیی ورته بخښلی دی، انسان اوحیوان ته یی دده دضرورتونو مناسب اندامونه ورکړل اوددغو اندامونو جسامت اووضع اوهیئت یی دده دضرورتونو مناسب جوړ کړی دی ، په لاسونو پښو اوددی دګوتو په بندونوکی یی داسی پیوندونه ایښی دی اوقدرتی اسپرنګونه یی په کی لګولی دی چې هغه هرطرف ته کړولی ماتولی اورا تولیدلی سی، دغه شان نور یویو اندام ته وګوری، دا حیرانوونکی تناسب په خپله انسان ته دخالق کائنات په حکمت اوقدرت باندی دایمان راوړلو دپاره کافی دی .

دریم شی په دی سلسله کی فرمایی ، قَدَّرَ، دتقدیر معنیٰ یوشی په خاص انداز سره جوړول اوپه خپل مینځ کی دموازنت په معنی هم راځی اوپه معنیٰ دقضا اوقدر هم استعمالیږی چې معنیٰ یی دهرشی په حقله دالله ﷻ فیصله اوخاص انتخاب دی په دی آیت کی دا معنیٰ مرادده اومطلب دا دی چې الله ﷻ د دنیا شیان صرف پیدا کړی نه دی پریښی بلکه هرشی یی دڅه خاص کار دپاره پیدا کی اودهغه مناسب یی ده ته وسائل ورکړل اوپه هغه کارکی یی هغه ولګول چې فکرپه وسی نودا خبره دڅه خاص جنس یانوع دمخلوق سره مخصوصه نه ده ټول کائنات او مخلوقات داسی دی چې دوی الله ﷻ دخاصوخاصو کارونو دپاره جوړ کړی دی اوهغوی یی په هغه کار کی لګولی دی اوهرشی دخپل رب په مقررکړی وظیفی لګیدلی دی ، آسمان او ددی ستوری، دبرق اوباران څخه واخله دانسان اوحیوان اونباتات اوجمادات په ټولوکی ددی مشاهدی کیږی چې څوك په کوم کار باندی خالق لګولی دی هغه په هغه باندی لګیدلی دی

ابر وباد ومه وخورشید وفلك در کارند

وریځ هوا او سپوږمی او آسمان په خپل خپل کار کی لګیدلی او اخته دی .

اومولانا رومی رحمه الله فرمایی

خاك وباد وآب وآتش بنده اند بامن وتو مرده باحق زنده اند

خاوری هوا اوبه اواور بندګان دی ، ما اوتاته مړه اودحق تعالی په نزد ژوندی دی.

خصوصًادانسان اوحیوان هره نوع اوهرصنف چې حق تعالی دکوموخاصوخاصوکارونو دپاره پیدا کړی دی

هغه په قدرتی طورسره په هغه کارکی لګیدلی دی ددوی رغبت اوشوق ټول دهغه کار په شاوخوا څرخی .

هر یکی را بهر کاری ساختند میل او را دردلش انداختند

هر یو یی دیو کار دپاره جوړ کړی دی ، مینه دهغه یی په زړه دده کی اچولی ده

څلورم شی یی دا وفرمایی ، فَهَدٰی یعنی خالق کائنات چی کوم شی دکوم کار دپاره پیدا کی ، هغه ته یی دهغه هدایت هم وفرمایی چی هغه په پوشان سره هغه کاروکی ، حقیقت خودا دی چی داهدایت ټول کائناتو اومخلوقاتو لره شامل دی ، آسمان اوآسمانی مخلوقات وی اوکه مځکه او ددی مخلوقات څکه چی یو خاص قسم عقل اوشعور الله ﷻ دوی لره هم ورکړی دی که څه هم دغه دانسان دعقل اوشعور څخه کم وی ، لکه دقرآن کریم په نورو ایتونوکی چی ارشاددی ، اَعْطٰی کُلَّ شَیْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰی : یعنی الله ﷻ هر شی پیدا کی اویو وجود یی ورلره ورکی ، بیایی ده ته دده دمتعلقه کار هدایت وکی ، ددی عام هدایت اثر دی چی آسمان اومځکه، ستوری اوسیاری، غرونه اودریابونه ټول چی په کوم خدمت باندی دپیدا کیدو داول وخت څخه ماموره سوی دی هغه خدمت صحیح صحیح هغه ډول بغیر دڅه کمی، کوتاهی یاسستی څخه پرځای کوی، خصوصًا انسان اوحیوانات دکمو عقل او شعور چی هروخت په مشاهده کی راځی ، په دی کی هم چی فکروسی نومعلومیږی چی په دوی کی هرنوع هریوصنف، بلکه هرفردته حق تعالی دخپلو خپلو ضرورتونو دژوند حاصلولو اودخپلو مخالفو شیانو ددفع کولو دپاره څنګه باریک هنرونه ښوولی دی چی عقل ورته حیران پاته کیږی، انسان خو دټولو څخه زیات عقل اوشعور والا دی، دځنګل حیوانانو، درنده ګانو اوحشرات الارض ته وګوری چی هریوه ته دخپل ژوند دضرورتونو حاصلولو، او داوسیدلو او دخپلو انفرادی اوجنسی ضرورتونو دپوره کولو دپاره څنګه هنرونه ښوول سوی دی اودا ټول بلاواسطی دخالق دکائناتوپه تعلیم سره دی هغوی په یو اسکول اوکالج کی په پاته کیدو یا داستاذ څخه داشیان نه دی ازده کړی، بلکه داټول ددی عام هدایت ربانی اوعام تلقین ثمرات دی چی ذکریی په آیت اَعْطٰی کُلَّ شَیْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰی کی اوددی سورة په قَدَّرَ فَهَدٰی کی فرمایلی دی

(انسان ته سائنسي تعليم هم په حقيقت کي عطاء رباني دى)

انسان کوم ته چی حق تعالی عقل اوشعور دټولو څخه زیات مکمل ورکی اودی یی مخدوم دکائناتو جوړ کړی دی ټولی مځکی اوغرونه اودریابونه اوپه دی کی پیدا کیدونکی شیان دانسان دخدمت اودده دنفع دپاره پیدا سوی دی مګرددی څخه پوره پوره فائده اخیستل اومختلف قسم نفع حاصلول اومختلف شیان یوځای کول اویونوی شی پیداکول دالوی علم اوهنر غواړی، قدرت په انسان کی دننه په فطری طور داعقل اوفهم اینبی دی چی غرونه کیندی اوپه دریابونوکی غوټی وهی، په سوونو معدنی او دریابی شیان حاصلوی اوبیا لرګی، اوسپنه، تانبه، پیتل اونور دیوبل سره یوځای کوی، ددی څخه نوی شیان دخپل ضرورت جوړوی اوداعلم او هنر دفلاسفه وو په تحقیقاتو اودکالجونو په تعلیماتو موقوف نه دی ، ددنیا دابتداء څخه ناخوانده جاهل خلګ داکارونه کوی راروان دی اودافطری سائنس دی کوم چی حق تعالی انسان ته فطرتًا ښوولی دی، مخ ته دفنی اوعلمی تحقیقاتوپه ذریعه په دی کی دترقی

کولو استعداد هم ددغه قدرت ربانی عطیه ده.
په دی هرسړی پوه دی چی سائنس یوشی پیدا کولی نه سی بلکه دقدرت دپیدا کړو شیانو استعمال ښیی اوودی استعمال ادنی درجه خوحق تعالی انسان ته فطرتاً ښوولی دی، مخ ته یی په دی کی دفنی تحقیقاتو اوترقی لوی پراخ میدان یی ایښی دی، دکم مظاهری چی په دی سائنسی دورکی روزانه نوی نوی مخ ته راځی اومعلومه نه ده چی مخ ته ددی څخه به هم زیات څه څه مخ ته راځی، چی فکروسی نو دا ټول دقرآن دلفظ فَهَدٰی شرح ده چی الله ﷻ انسان ته ددی ټولو کارونو لار وښووله اوپه ده کی یی دهغه دپوره کولو استعداد پیداکی، مگر افسوس دی چی په سائنس کی ترقی کوونکی ددی حقیقت څخه نورزیات نا آشنا بلکه ړانده دی.
وَالَّذِي أَخْرَجَ الْمَرْعٰى : فَجَعَلَهٗ غُثَاءً أَحْوٰى د: مرعٰی معنی چراگاه دی کوم ځای چی حیوانان څریدل کوی او غُثَآء هغه شگوته وایی کومی چی داوبو دسیلاب پرسر راځی أَحْوٰى د: حَوَّةٌ څخه مشتق دی، په تیز شینوالی کی چی کوم توروالی وی هغه ته حوة وایی په دی آیت کی الله ﷻ دنباتاتوپه حقله څه دخپل قدرت اوحکمت بیان فرمایلی دی چی دمځکی څخه شنه گیاه راباسی بیاهغه وچه کړی توره سی اوشینوالی ورڅخه ولاړسی، په دی کی انسان ته دده دانجام طرف ته هم اشاره ده چی ددی بدن دا شادابی، خوبصورتی اوچستی چالاکی دحق تعالی عطیه ده، مگر اخر بیا ددی هرڅه ختمیدل دی.
سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسٰى، إِلَّا مَا شَاءَ اللّٰهُ په تیرو ایتونوکی حق تعالی دخپل قدرت اوحکمت دځو مظاهرو بیانولو څخه وروسته نبی کریم ﷺ ته دده دپیغمبری دوظیفی طرف ته ځو هدایتونه ورکړی دی اودهدایتونو څخه مخکی یی دده دکار داسانولوخوشخبری اورولی ده هغه داچی په ابتداء کی به کله په ی قرآن نازلیدی اوجبرائیل امین ﷺ به دقرآن یوایت اوروی، نو د دوی سره به دافکر کیدی چی هسی نه دآیت الفاظ می دذهن څخه ووزی، په دی وجه دجبرائیل امین ﷺ دویلو سره به دوی هم دقرآن الفاظ ویل، په دی آیت کی حق تعالی داکار یعنی دقرآن وریادول په خپله ذمه واخیسته اودی یی بی فکره کی، چی دجبرائیل امین دتللو څخه وروسته دقرآن ایتونه په تاسی ویل صحیح صحیح اوبیا ددی په یادولوکی محفوظ کول زمونږ ذمه واری ده، ته فکر مه کوه چی ددی نتیجه به داوی چی، فَلَا تَنْسٰى، إِلَّا مَاشَاءَ اللّٰهُ یعنی ته به دقرآن هیڅ شی هیرنه کی، بغیر دهغه څخه چی کوم شی الله ﷻ دخپل حکمت اومصلحت په بناباندی ستاذذهن څخه هیرول اومحوه کول وغواړی، مراد دا دی چی الله ﷻ دقرآن کوم آیتونه منسوخ کول وفرمایی نو دهغه یوه طریقه خومعروفه ده چی صفاحکم داولنی حکم خلاف راسی، او یو صورت یی دمنسوخ کولو دا هم دی چی هغه آیت دنبی کریم ﷺ اودټولو مومنانو دذهنو څخه محوه اوهیرسی، لکه چی دقرآن دایتونو دمسنوخ کولوپه بیان کی یی فرمایلی دی، مَانَنْسَخْ مِنْ اٰيَةٍ أَوْ نُنْسِهَا: یعنی مونږ چی کوم آیتونه منسوخ کوو یایی ستا دذهن څخه هیروو الخ اوځینی حضرات د، إِلَّا مَاشَآءَ اللّٰهُ داستثناء دا مطلب مقرروی چی داکیدی سی چی الله ﷻ دڅه مصلحت اوحکمت په بنابانذی په عارضی طورسره یو

آیت ستا دذهن څخه هیرکې بیا یادسی لکه چې په ځینې روایتونو دحدیث کې دي چې یو ورځ نبي کریم ﷺ یو سورة تلاوت کوی چې یو آیت په کې دویلو څخه پاته سو، حضرت ابي بن کعب ﷺ کوم چې کاتب دوحي وو هغه داسي وګڼله چې شاید دا آیت منسوخ سو، مګر کله چې یې د دوی ﷺ څخه پوښتنه وکړه نو دوی ﷺ وفرمایل چې منسوخ نه دی، زما څخه په سهوه سره پاته سو (قرطبي)

نو مطلب به ددي استثناء دا وي چې په وقتي اوعارضي طور دیو آیت هیریدل اوبیایي یادیدل ددي وعدي منافي نه دي. والله تعالی اعلم

وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرٰى : ددي لفظي ترجمه دا ده چې مونږ به تا دطریقه یُسْرٰی دپاره آسان کو، دطریقه یُسْرٰی څخه مراد شریعتِ اسلام دی، په ظاهره مقتضا دمقام دا وه چې داسي یې فرمایلي وای چې مونږ به دا طریقه او شریعت ستا دپاره اسان کو، مګر قرآن کریم دا پرېښوولو اودایي وفرمایل چې مونږ به تا ددي طریقي دپاره اسان کو، حکمت په دي کې داښوول دي چې الله ﷻ به تا په طبعي اومادي طور سره داسي جوړکي چې شریعت به ستا طبیعت جوړسي اوته به دشریعت په سانچه کې برابرسي.

فَذَكِّرْ اِنْ نَّفَعَتِ الذِّكْرٰى : په تیرو آیتونوکی نبي کریم ﷺ ته ددوی دپیغمبري دفرضوپه ادا کولوکې دحق تعالی دطرف څخه ډورکول سوو اسانیو بیان وو، په دي آیت کې دوی ته ددي فرضو دادا کولو حکم دی او دایت دالفاظو معنٰی دا ده چې ته خلګو ته تبلیغ او نصیحت کوه که نصیحت نفع ورکوی، دا الفاظ که څه هم دشرط راغلي دي، مګر په حقیقت کې مقصود څه شرط نه دی، بلکه ددي تاکیدي حکم کول دي چې مثال یې زمونږ په عرف کې دادي چې یوسړي ته په طور دخبردارولو وویل سي چې که ته سړي یې نو فلاني کاربه کوی یاکه ته دفلاني زوی یې نوفلاني کاربه وکې، دلته مقصود شرط نه وي بلکه ددي اظهار وي چې کله ته دانسان زوی یې یاکله چې ته دفلاني شریف یابزرګ سړي زوی یې نوپرتا داکار لازم دی، مطلب دادی چې دنصیحت اوتبلیغ نفع مند اومفید کیدل خو متعین اویقیني دی، په دي وجه دانفع مند شي ته په هیڅ وخت کې مه پریږده.

قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى، تَزَكّٰى دزکوٰة څخه مشتق دي چې اصل معنٰی یې پاکول دي دمال زکوٰة ته هم په دي وجه زکوٰة وایي چې هغه باقي مال دانساني دپاره پاکوی، دلته دلفظ دتَزَكّٰى مفهوم عام دی، چې ایماني اواخلاقي پاکي اوطهارت په کې هم داخل دي اودمال زکوٰة ورکول هم.

وَذَكَرَاسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى : یعنی دخپل رب نوم اخلي اولمونځ کوی ظاهره ده چې په دي کې دهرقسم لمانځه فرض نفل شامل دي ځیني مفسرینوچې کوم خاص داخترلمونځ ددي تفسیرکړی دی هغه هم په دي کې داخل دی.

بَلْ تُؤْثِرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا : حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ فرمایي چې په عاموخلګوکې دنیاته په آخرت دترجیح ورکولو وجه دا ده چې ددنیا نعمت اوراحت خونقد اوحاضر دی او داخرت نعمت اوراحت دنظرو څخه پناه اونسیا دی، دحقیقت څخه نااشنا خلګ حاضرته په غائب باندي اونقدته په نسیا باندي ترجیح ورکړه کوم چې ددوی دپاره ددائمي خساري سبب جوړسو، ددي خساري څخه دمحفوظ کیدو دپاره الله

ﷺ دخپلو کتابونو اورسولانو په ذریعه داخرت نعمتونه اوراحتونه داسي واضح کړل چي ګویاهغه حاضر اوموجود دي اودايي وښوولـه چي کوم شي تاسي نقد ګڼي او اختيار وي يي، هغه ناقص اوفاسد متاع اوډير ژر فنا کيدونکي دي، دعقلمند کار دانه دي چي په داسي شي پوري خپل زړه وتړي اوخپل ټول توان دده دپاره خرڅ کي ، ددي حقيقت دواضح کولو دپاره مخ ته ارشاد فرمايي ، وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى دنيا لره په آخرت باندي ترجيح ورکوونکو ته خبرداري ده چي لږ دعقل څخه کار واخلي، څه شي اختياروی اوڅه شي پريږدي، دنيا په کومه چي تاسي عاشقان ياست اول خوددي لوی لوی راحتونه اولذتونه هم درنج اوغم اوکلفت اومشقت دګډون څخه خالي نه دي، دوهم ددي څه قرار اوثبات نسته، دنن بادشاه صبا فقير، دنن ځوان زورور صبا ضعيف اوعاجز کيدل شپه اوورځ ويني، په خلاف داخرت څخه چي هغه ددي دواړو عيبونو څخه پاك دي، دهغه هرنعمت اوراحت، خير اوخير دي اوددنيا دنعمت اوراحت سره دهغه هيڅ نسبت نسته اوددي څخه لويه خبره داده چي هغه اَبْقٰى دي يعني هميشه پاته کيدونکي دي انسان که لږ فکر وکړي چي که ده ته وويل سي چي ستاپه مخ کي دوه کورونه دي، يوعالي شان محل اوبنګله په ټول ساز اوسامان سره اراسته ده او دوهم يومعمولي کچه کور دي اودا سامان هم په هغه کي نسته اوتاته مونږ اختيار درکوو چي ياخو دا بنګله واخله مګر صرف دمياشت دوو مياشتو دپاره، ددي څخه وروسته به داخالي کول وي يادا کچه کور واخله کوم چي به ستادپاره دائمي ملکيت وي ، نوعقلمند انسان به په دي دواړوکي کوم يوه ته ترجيح ورکوي ددي مقتضاخو دا ده چي دآخرت نعمتونه که بالفرض ناقص او ددنيا څخه دکمي درجي هم وي مګر دهغو ددائمي کيدوپه وجه به هغه قابلِ ترجيح واي اوکله چي دغه نعمتونه ددنيا دنعمتونو په مقابله کي ښه او افضل اواعلى هم دي اودائمي هم نوځوك احمق بدنصيبه هغه پريږدي اوددنيا نعمتونوته ترجيح ورکوي .

اِنَّ هٰذَا لَفِي الصُّحُفِ الْاُوْلٰى ، صُحُفِ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى يعني ددي سورة ټول مضامين يااخري مضمون يعني آخرت په نسبت ددنياښه اوباقي کيدل په تيروصحيفوکي هم موجود وو چي بيان يي مخ ته دافرمايي چي دحضرت ابراهيم ﷺ اودحضرت موسٰى ﷺ په صحيفوکي دامضمون وو، حضرت موسٰى ﷺ ته دتورات څخه مخکي څه صحيفي هم ورکول سوي وي هغه مراد دي اوکيدي سي چي دصحف موسٰى ﷺ څخه تورات مراد وي .

(دصحف ابراهيم مضامين)

آجري دحضرت ابوذرغفاري ﷺ څخه روايت کړي دیَ چي دوی دنبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي دحضرت ابراهيم ﷺ صحيفي څنګه اوڅه وي؟ دوی وفرمايل چي په دغو صحيفوکي دعبرت مثالونه بيان سوي وه، په دغوکي يي په يومثال کي ظالم بادشاه ته خطاب کړی وو اوفرمايلي يي وه چي، اې په خلګو مسلط کيدونکي مغروره مبتلا ، ماتا لره حکومت ددي دپاره نه وو درکړی چي ته پرمخ ددنيا مال جمع کوی، بلکه ما تا ته اقتدار ځکه درکړی وو چي ته دمظلوم ښراوی ماته را رسيدوته پري نه ږدي ځکه چي زما قانون دا دي چي زه دمظلوم دعانه ردوم که څه هم هغه دکافر دژبی څخه وتلی وی .

او په يومثال کې يې عامو خلګوته په خطاب کې فرمايلي دي چې دعقلمند کار دا دی چې خپل وختونه دری حصی کړی ، په يوه حصه کې دخپل رب عبادت اودده سره دمناجات وی، دوهمه حصه دخپلو عملونو دمحاسبې اودالله ﷻ په عظيم قدرت کې دغور اوفکر، دريمه حصه دخپلو ضرورتونو دمعاش حاصلولو او دطبعي ضرورتونو دپوره کولو .

او فرمايلي يې دي چې په عقلمند سړی لازمه ده چې دخپلې زمانې دحالاتو څخه خبر وی اودخپل مقصود په کارکې اخته وی ، دخپلې ژبې حفاظت وکې اوکوم سړی چې خپل کلام خپل عمل وګڼی ، دهغه کلام ډير کم صرف په ضروری کارونوکې پاته سی .

(دحضرت موسي ؑ دصحيفو مضامين)

حضرت ابوذر؄ فرمايي چې بياماعرض وکې چې دحضرت موسیٰ ؑ په صحيفوکې څه وه؟ نو دوی ﷺ وفرمايل چې په هغه کې ټول عبرتونه اوعبرتونه وه په کومو کې چې څو کلمې دا دی .

زه تعجب کوم په هغه سړی دکوم چې دمرګ يقين وی بياهغه څنګه خوشحاله اوسيږی ، او زماتعجب دی په هغه سړی کوم چې په تقدير ايمان لری هغه څنګه عاجزه درمانده اوغمګين وی ، اوزما تعجب دی په هغه سړی کوم چې دنيا او ددې انقلابات اودخلګو عروج اونزول وينی، هغه څنګه په دنيامطمئن کېښينی او زماتعجب دی په هغه سړی دکوم چې دآخرت په حساب باندې يقين وی هغه عمل څنګه پريږدی ،

حضرت ابوذر؄ فرمايي چې مابيا دا پوښتنه وکړه چې ايا په دې صحيفوکې څه شی تاته په راتلونکې وحې کې هم سته ، دوی ﷺ وفرمايل ای ابوذره؄! دا آيتونه ووايه ، قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى، وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى : دسورة اعلى تر آخره پورې (قرطبي)

تمّت سورة الاعلى بحمد الله تعالى ليلة يوم الاحد ۱۸ شعبان سنه ۱۳۹۱هـ

(سورة الغاشية)

سُوْرَةُ الْغَاشِيَةِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ هِيَ سِتٌّ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً

سورة غاشيه په مکه کې نازل سو او په دې کې شپږويشت (۲۶) آيتونه دي .

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چې ډير مهربانه نهايت رحم والا دی .

هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ ۝۱ وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ۝۲

آيا رسيدلې دی تاته دهغه پټونکې خبر ، ډير مخونه په دغه ورځ ذليل کيدونکې دی ،

عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ۝۳ تَصْلٰى نَارًا حَامِيَةً ۝۴ تُسْقٰى مِنْ عَيْنٍ اٰنِيَةٍ ۝۵

محنت کوونکې ستړی سوی ، وبه رسيږي اور ګرم ته ، څښل کيږي به ورته دچينې جوش وهونکې څخه

لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ اِلَّا مِنْ ضَرِيْعٍ ۝۶ لَّا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِيْ مِنْ جُوْعٍ ۝۷

نه به وی دوی لره خوراك مگر ازغی داره خوزه ، چې نه به غټول کوی او نه به لوږه مړه وی

وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ۝۸ لِّسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ ۝۹ فِيْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ۝۱۰

ډیر مخونه په دغه ورځ تروتازه دی ، په خپله گټه به راضی سی ، په لوړ باغ کی

لَّا تَسْمَعُ فِيْهَا لَاغِيَةً ۝۱۱ فِيْهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ۝۱۲ فِيْهَا سُرُرٌ

نه به اوری په هغه کی بکواس ، په هغه کی یوه چینه ده بهیدونکی ، په دی کی تختونه دی

مَّرْفُوْعَةٌ ۝۱۳ وَّاَكْوَابٌ مَّوْضُوْعَةٌ ۝۱۴ وَّنَمَارِقُ مَصْفُوْفَةٌ ۝۱۵ وَّزَرَابِيُّ

لوړ خپاره سوی ، اوپیالی په مخکی ایښوول سوی ، او غالیانی برابری ایښوول سوی ، اودمخمل فرشونه

مَبْثُوْثَةٌ ۝۱۶ اَفَلَا يَنْظُرُوْنَ اِلَى الْاِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ۝۱۷ وَاِلَى السَّمَآءِ

غوړول سوی ، آیا دوی نه گوری اوښانو ته چی څنگه پیدا کړل سوی دی ، اواسمان ته

كَيْفَ رُفِعَتْ ۝۱۸ وَاِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ۝۱۹ وَاِلَى الْاَرْضِ

چی څنگه پورته کړل سوی دی ، او غرونو ته چی څنگه درول سوی دی ، او مځکی ته

كَيْفَ سُطِحَتْ ۝۲۰ فَذَكِّرْ اِنَّمَآ اَنْتَ مُذَكِّرٌ ۝۲۱ لَسْتَ عَلَيْهِمْ

چی څنگه خپره کړل سوی ده ، نو ته پوهوه ستا کار خو دا پوهول دی ، ته نه یی په دوی باندی

بِمُصَيْطِرٍ ۝۲۲ اِلَّا مَنْ تَوَلّٰى وَكَفَرَ ۝۲۳ فَيُعَذِّبُهُ اللّٰهُ الْعَذَابَ

متصرف ، مگر چا چی مخ واړوی او منکران سوه ، پس عذاب به کړی دوی الله ﷻ په لوی عذاب

الْاَكْبَرَ ۝۲۴ اِنَّ اِلَيْنَآ اِيَابَهُمْ ۝۲۵ ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُمْ ۝۲۶

سره ، بیشکه مونږ ته ده د دوی واپسی ، بیشکه زمونږ په ذمه دی د دوی حساب اخیستل .

لنډتفسیر: تاته دهغه احاطه کوونکی عامی واقعی څه خبر رسیدلی دی (مراد ددی واقعی څخه قیامت دی چی په ټول عالم به دهغه اثر احاطه کوونکی وی او ددی استفهام څخه مقصود تشویق دی چی دخبری

داوریدو اهتمام په پیداسی ، مخ ته په صورت دجواب ددی خبر تفصیل دی یعنی) ډیرمخونه به په دغه ورځ ذلیل (او) مصیبت تیرونکی ستړی ستومانه وی (او) په سوزونکی اورکی به داخلیږی (او) دجوشیدلی چینی څخه به اوبه په چنبل کیږی (او) دوی ته به بغیر دازغی دارو گیاه څخه نورڅه خوراك نصیب نه وی چی نه به خوړونکی چاغوی اونه به یی لوږه دفع کوی (یعنی نه به په کی دغذا جوړیدو صلاحیت وی نه دلوږی دفع کولو اودمصیبت برداشت کولو څخه مرادپه حشرکی پریشان گرځیدل اوپه دوږخ کی دزنځیرونو اوطوقونو پیتی پورته کول دی او ددوږخ پر غرونو ختل اوددی داثر څخه ستړی کیدل ظاهردی اوجوشیدلی چینه هغه کمی ته چی یی په نورو ایتونوکی حمیم فرمایلی دی، اوددی آیت څخه معلومیږی چی هلته به ددی هم چینه وی اودا فرمایل چی ددوی طعام به بغیر دضریع څخه بل څه نه وی، ددی مطلب دادی چی څه خوندور خوراك به نه وی، دضریع په شان دزقوم یاغسلین ددوی په خوراك کی شاملیدل ددی منافی نه دی اودمخونو څخه مراد خاوندان دمخونو دی، داخو ددوږخیانو حال سو مخ ته ددجنتیانو حال دی یعنی) ډیر مخونه به په دغه ورځ بارونقه (او) دخپلو نیکو کارونوپه وجه به خوشحاله وی (او) په لوړ جنت کی په کم کی چی به څه لغوه خبره نه اوری (او) په دی جنت کی به بهیدونکی چینی وی (او) په دی (جنت) کی لوړلوړتختونه (خپاره) دی اوایښوول سوی پیالی موجودی دی (یعنی داسامان به ددوی په مخکی موجودوی چی کله یی اوبه زړه وغواړی وخت به نه په کی لگیږی) اوبرابری لگیدل سوی تکیه گانی دی اوهر طرف ته قالینونه خپاره پراته دی (چی کم ځای غواړی ارام به کوی دیوځای څخه بل ځای ته دتللو ضرورت به ورته هم نه وی داتفصیل سو دجزا ، اوددی مضامینوپه اوریدوچی کم ځینی خلک دقیامت څخه انکار کوی په کوم کی چی به داټول واقعات وی نوددوی غلطی ده ځکه چی) آیا هغه خلک اوښ ته نه گوری چی څنگه په عجیبه طور سره پیدا سوی دی (چی هیئت اوخاصیت یی دواړه په نسبت دنورو حیوانانو په ده کی عجیبه دی) اوآسمان ته (نه گوری) چی څنگه لوړ سوی دی اوغرونوته (نه گوری) چی څنگه درول سوی دی اومځکی ته (نه گوری) چی څنگه خپره سوي ده (یعنی دی شیانو ته په کتلو دالله ﷻ په قدرت باندی استدلال نه کوی ، چی په قیامت دهغه په قادروالی باندی پوه سی ، اوتخصیص ددی څلورو شیانو ځکه دی چی دعربوخلک به اکثره په ځنگلونوکی گرځیدل ، دغه وخت د دوی په مخکی اوښ وو، لوړ آسمان لاندی مځکه اوشا اوخوا غرونه ، په دی وجه یی په دی علاماتو کی دفکر کولو دپاره ارشاد وفرمایی، اوکله چی داخلک سره دوجوده ددلیلونو فکرنه کوی) نوته (هم ددوی زیات فکرمه کوه بلکه صرف) نصیحت کوه ځکه چی ته خوبس صرف نصیحت کوونکی یی اوته پر دوی مسلط نه یی (چی په زیات فکرکی راسی) ها! مگرکم چی مخ اړوی اوکفر کوی نوخدای به ده لره (په اخرت کی) لویه سزا ورکی (ځکه چی) مونږته به ددوی راتلل وی، بیا زمونږ کار ددوی څخه حساب اخیستل دی (ته زیات غم مه کوه)

معلومات اومسئلي : وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ : عَامِلَةٌ نَاصِبَةٌ په قیامت کی به مومنان اوکافران دواړه فریقی جلا جلاسی ، د دوی مخونه به جلاجلا پیژندل کیږی په دی آیت کی دکافرانو دمخانو یی یوحال ښوولی

دی چی هغه به خاشعه وی، دخشوع معنٰی کښته کیدل اوذلیل کیدل دی، په لمونځ کی دخشوع دامطلب دی چی دالله ﷻ په مخکی کښته سی دذلت اوپستی اثارپه خپل وجودکی راولی کوموخلګوچی په دنیا کی دالله ﷻ په مخکی خشوع اوتذلل اختیارنه کی ، ددی سزا به هغوی ته په قیامت کی دا ورکول کیږی چی هلته به د دوی په مخونو دذلت او رسوایی نښانی ښکاره وی.

دوهم او دریم حال یی دهغوی دمخونو دا وفرمایی چی عامله ، ناصبه به وی دعامله لفظی معنٰی عمل اومحنت کوونکی دی، په محاوره کی عامله اوعامل دهغه سړی دپاره ویل کیږی کوم چی په مسلسل عمل کولو سره ستړی ستومانه سوی وی اوناصبه دنصب څخه مشتق دی، ددی معنٰی هم په ستړی والی اومشقت کی زیاتیدل دی، دکفارو او مجرمانو دادوه حاله ددوی ددنیا دی، ځکه چی په اخرت کی خوڅه عمل اومحنت نسته، په دی وجه قرطبی اونورو مفسرینو ددی دامطلب مقرر کړی دی چی اول حال یعنی پر مخونو باندی ذلت اورسوایی داخوبه په اخرت کی وی اوعامله اوناصبه دواړه حاله په دنیاکی به ددغو خلګو وی، ځکه چی ډیر کافران فاجران په مشرکانه عبادتونو اوباطلو طریقوکی مجاهدی اوریاضت په دنیاکی کوی، دهندوانو جوګیان، دنصاراوو راهبان ډیر داسی هم دی کوم چی په اخلاص سره دالله ﷻ درضا لټولو دپاره په دنیاکی عبادتونه اوریاضتونه کوی اوپه دی کی سخت محنتونه برداشت کوی، مګر دغه عبادت دمشرکانه اوباطله طریقه باندی دکیدلو په وجه دالله ﷻ په نزد هیڅ اجر اوثواب نه لری نوددی خلګو مخونه په دنیاکی هم عامله اوناصبه دی اوپه اخرت کی به پردوی دذلت اورسوایی توروالی خپور سوی وی.

حضرت حسن بصری رحمه الله روایت کړی دی چی حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه چی کله شام ته تشریف یوړی نو یونصرانی راهب ده ته راغی کوم چی بوډا وو اودخپل مذهب په عبادت اوریاضت اومجاهده کی لګیدلی وو، په ډیر محنت سره دده مخ وران سوی وو، بدن یی وچ، کپړی خرابی اوبد هیئته وو، کله چی حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه دی ولیدی نوپه ژړا سو، خلګو ورڅخه دژړا پوښتنه وکړه نوحضرت فاروق اعظم رضی الله عنه وفرمایل چی ماته ددی بوډا پرحال رحم رالی چی دی عاجز ډیو مقصد دپاره لوی محنت اوکړاو وکی، مګرده هغه مقصد یعنی دالله ﷻ رضا نه کړه پیدا اوپه دی باندی حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه دا آیت تلاوت وفرمایی ، وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ * عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ (قرطبی)

نَارًا حَامِيَةً، دحامیه لفظی معنٰی ګرم ده ، اوداور ګرموالی دهغه طبعی حال دی ، بیا ددی خاص صفت بیانول ددی ښوولو دپاره دی چی دهغه اور ګرمی ددنیا داور په شان یووخت کمه یاختمیدونکی نه ده، بلکه دغه همیشه ګرم اوردی.

لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٍ : یعنی دوږخیانو ته به دخوراك دپاره دضریع څخه ماسوا نورڅه نه ورکول کیږی، ضریع په دنیاکی یوه ازغی داره ګیاه ده کمه چی پرمزکه خپریږی، یو حیوان هغه ته نژدی کیږی نه، بدبوی داره زهریلی اوازغی داره ده (لکه دا تفسیر یی عکرمه اومجاهد کړی دی قرطبی)

(په دوزخ کي گیاه اودرختي څنګه ؟)

دلته دی دا شبهه نه کول کیږي چې وابنه اودرختي خو په اور باندی سوزیدونکی شیان دی، په دوزخ کی به داځنګه وی، ځکه چې کم خالق او مالك هغه په دنیاکی په اوبو اوهوا سره پالی دهغه داقدرت هم سته چې په جهنم کی ددی درختو خوراك اور جوړ کړی اوهغه په دی سره پاللی اولویولی سی .

دیوی شبهي جواب: په قرآن کی ددوزخیانو دخوراك په باره کی دمختلفو شیانو ذکر راغلی دی ، دلته ضریع د دوی خوراك ښوول سوی دی ، بل ځای زقوم او دریم ځای غسلین نو په دی آیت کی چې کوم په حصر سره بیان سوی دی ، چې دوزخیانو ته به هیڅ شی بغیر دضریع څخه نه ورکول کیږي دا حصر په مقابله دهغه خوراك کی دی کوم چې دخوړلو لایق خوند دار دبدن جزء جوړیدونکی وی ، اوضریع په طور دمثال راوړل سوی دی ، مطلب دا دی چې دوزخیانوته به هیڅ دخوړلو لایقه غذا نه ورکول کیږي، بلکه دضریع په شان تکلیف ورکوونکی مضر شیان به ورکول کیږي، په دی وجه په ضریع کی حصر مقصود نه دی، بلکه زقوم اوغسلین هم په ضریع کی شامل دی اوقرطبي فرمایی چې کیدی سی چې د دوزخ په مختلفو طبقو کی مختلف خوراکونه وی، یوځای ضریع یوځای زقوم یوځای غسلین .

لَا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي مِنْ جُوعٍ : په تیر آیت کی چې ددوزخیانوکوم خوراك ضریع ښوول سوی وو، دمکی ځینو کفاروچی کله دا ایت واوریدی نوویی ویل چې زمونږ اوښان خو ضریع خوری اوښه چاغیږي، دهغوی په جواب کی یی وفرمایل چې دجهنم ضریع ددنیا پر ضریع مه قیاس کوی، دهغه ځای په ضریع باندی نه چاغ والی پیدا کیږي اونه لوږه ختموی .

لَاتَسْمَعُ فِيهَا لَاغِيَةً : یعنی په جنت کی به یو داسی کلام داسی خبره دجنتیانوپه غوږونکی نه راځی کومه چې لغوه ، بی هوده اوخفه کوونکی وی په دی کی دکفر باطلی کلمی هم راغلی اوښکنځل، افتراء، بهتان، الزام لګول اوداسی ټولی خبری په کی راغلی دکومویه اوریدو چې انسان ته ازار رسیږي، بل ځای یی په قرآن کریم کی دا داسی بیان کړي ده ، لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا: یعنی جنتیان به په جنت کی څه خطا خبره یاد الزام لګولو خبره نه اوری، ددی څخه علاوه هم څو ځایه دامضمون په قرآن کی ذکردی .

ددی څخه معلومه سوه چې الزام تراشی اوبی سنده خبری لوی دازارشی دی، په دی وجه قرآن کریم دجنتیانوپه حالاتو کی په اهتمام سره ددی بیان وفرمایی چې دجنتیانو په غوږونو کی به هیڅکله څه داسی کلمه نه راځی په کموسره چې د دوی زړه بد اوخفه سی .

دمعاشرت ځیني اداب : وَأَكْوَابٌ مَوْضُوعَةٌ أَكْوَاب د: كُوكَب جمع ده، داوبو چښلو لوښی ته ویل کیږي لکه پیالی ګلاسونه اونور، ددی په صفت کی لفظ دموضوعه، یعنی پرخپل ځای داوبوپه خواکی به ایښوول سوی وی، ددی په فرمایلوسره یی دمعاشرت دیواهم باب تلقین وفرمایی چې داوبو چښلو لوښی داوبو پرمقرر ځای ایښوول په کار دی چې دهغه ځای څخه اخوا دیخواته سی او داوبو چښلوپه وخت کی بیا تلاش کول وی نو دا تکلیف دی په دی وجه هر سړی ته ددی اهتمام په کار دی چې داسی داستعمال شیان کوم چې دکور دټولو خلګو په کار راځی ، لکه لوټی ګلاسونه اونور ددی ځای مقرر کول په کار دی

او داستعمالولو څخه وروسته یی هلته ایښوول په کار دی چی نورو ته تکلیف نه وی دا اشاره دلفظ موضوعة څخه څکه راووتله چی حق تعالی دجنتیانو دراحت اوارام دپاره ددی ذکر اهتمام وفرمایی ، چی د دوی داوبو چښلو لوښی به داوبو په خواکی پراته وی .

اَفَلَا يَنۡظُرُونَ إِلَى الۡإِبِلِ كَيۡفَ خُلِقَتۡ الایة، دقیامت احوال اوپه دی کی دمومن اوکافر دجزا او سزا بیان فرمایلوڅخه وروسته یی دعناد کوونکو دهدایت طرف ته توجه وفرمایله کوم چی په خپله بی وقوفی سره دقیامت څخه انکار په دی بناکوی چی دوی ته دمرکیدو اوخاوری کیدوڅخه وروسته دوباره ژوندی کیدل ډیربعیدبلکه محال په نظرراځی د دوی دهدایت دپاره حق ﷻ دخپل قدرت په نښانوکی دفکر کولو په دی آیتونوکی ارشاد فرمایلی دی او دالله ﷻ دقدرت نښانی خو په آسمان اومځکه کی بی شمیره دی ، دلته یی ددغو څخه دداسی څلورو شیانو ذکر وفرمایی کوم چی دعربو دصحرا نشینوخلګودحال مناسب دی چی هغوی پراوښانو سپاره سی لوی لوی سفرونه کوی دغه وخت دوی ته دټولو څخه زیات نژدی اوښ وی، لوړ آسمان اولاندی مځکه اوشاخوا غرونه وی په دی څلورو شیانوکی دوی ته دفکر کولو حکم ورکول سوچی دقدرت نوری نښانی هم پریږدی په دی څلورو شیانوکی فکروکی نودحق تعالی په هرشی دکامل قدرت مشاهده به وسی .

په نورو حیوانانوکی داوښ څه داسی خصوصیات هم دی کم چی په خاص طورسره دفکر کوونکو دپاره دحق تعالی دحکمت اوقدرت ائینه جوړیدی سی ، اول خو په عربوکی دټولو څخه زیات لوی حیوان دخپل اهمیت په اعتبار سره اوښ دی فیل خوهلته دسره وو نه، بل حق تعالی داعظیم الجثه حیوان داسی جوړ کړی دی چی دعربو صحرایی اوغریب مفلس سړی هم ددومره لوی حیوان په پاللوکی څه مشکل نه محسوس کوی ، څکه چی دی پریښوول سی نوخپله ګیډه خپله مړ وی ، دجګو درختوڅخه دپاڼو شکولو زحمت هم تاته نه درکوی دی خپله ددرختو دښاخونو څخه پاڼی خوری ګزاره کوی ، دفیلانو او دنورو حیوانانو په شان د دوی خوراك نه دی چی ګران پریوزی ، دعربو په ځنګلونوکی اوبه ډیری کمی پیداکیږی ، هر ځای هر وخت نه پیداکیږی قدرت دده په ګیډه کی یوه داسی محفوظه ټانکی لګولی ده چی داوو اتو ورځو اوبه وچښی اوپه دغه ټانکی کی یی محفوظی کوی اوپه تدریجی رفتار سره هغه ددی اوبو ضرورت پوره کوی پردومره جګ حیوان دسپریدو دپاره ځینی ته ضرورت پریوزی، مګر قدرت دده پښی پردرو حصوکی تقسیم کړی، یعنی په هره پښه کی یی دوه زنګونان جوړکړل چی دارا ټولوی اوکښینی نو پرده سپریدل اوکښته کیدل ورڅخه اسان وی، محنت کش خودومره دی چی دټولو حیوانانو څخه زیات بار پورته کوی دعربو په میدانونو کی دورځی سفر دغرمو په وجه سخت مشکل دی قدرت داحیوان توله شپه دتللو عادی جوړ کړی دی، مسکین طبع داسی دی چی یو کوچنی هلك دده مهار ونیسی کوم ځای ته چی وغواړی بیایی، ددی څخه علاوه نور ډیر خصوصیات دی کوم چی انسان ته دحق تعالی دقدرت اوبالغ حکمت سبق ورکوی .

دسورة په آخرکی دنبی کریم ﷺ دتسلی دپاره فرمایی چی ته مونږ په دوی مسلط کړی نه یی چی تول

مومنان جوړ کړی ، لَسْتَ عَلَيْهِمْ بِمُسَيْطِرٍ بلکه ستا کار تبلیغ کول او نصیحت کول دی ، دا کوه ته بی فکره
اوسه د دوی حساب کتاب او جزا او سزا ټول زمونږ کار دی .

تمّت سورة الغاشیه بحمد الله لیلة یوم الاثنین ۱۹ شعبان سنه ۱۳۹۱هـ

﴿سورة الفجر﴾

سُوْرَةُ الْفَجْرِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَهِيَ ثَلٰثُوْنَ اٰيَةً

سورة فجر په مکه کی نازل سو او په دی کی دیرش (۳۰) آیتونه دی .

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی .

وَالْفَجْرِ ﴿۱﴾ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ﴿۲﴾ وَّالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ ﴿۳﴾ وَالَّيْلِ إِذَا يَسْرِ ﴿۴﴾

قسم دی په سهار ، او په لسو شپو ، او په جفت او په طاق ، او په هغه شپه کله چی روانه سی

هَلْ فِيْ ذٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِيْ حِجْرٍ ﴿۵﴾ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ

آیا دا قسم دعقلمندو دپاره پوره دی ؟ ، تا ونه لیدل چی ستا رب دعادیانو سره څه وکړل ؟

بِعَادٍ ﴿۶﴾ إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ ﴿۷﴾ الَّتِيْ لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ ﴿۸﴾

، هغه چی په ارم کی وو لویو ستنو والا ، هغه چی نه دی پیدا سوی دهغوی په شان په ښارونو کی

وَثَمُوْدَ الَّذِيْنَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ ﴿۹﴾ وَفِرْعَوْنَ ذِي الْأَوْتَادِ ﴿۱۰﴾

اودثمودیانو سره کومو چی ډبری تراشلی په وادی کی ، او دفرعون سره چی میخونو والا وو

الَّذِيْنَ طَغَوْا فِي الْبِلَادِ ﴿۱۱﴾ فَأَكْثَرُوْا فِيْهَا الْفَسَادَ ﴿۱۲﴾ فَصَبَّ عَلَيْهِمْ

داټول وه کومو چی سرکشی کړی وه په ملکونو کی، نو ډیره یی کړه په هغه کی خرابی ، نو وغورځوله په دوی باندی

رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ ﴿۱۳﴾ إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ ﴿۱۴﴾ فَأَمَّا الْإِنْسَانُ

ستا رب شلاخه دعذاب ، بیشکه ستا رب په انتظار کی دی ، نو په انسان باندی

إِذَا مَا ابْتَلٰهُ رَبُّهُ فَأَكْرَمَهُ وَنَعَّمَهُ فَيَقُوْلُ رَبِّيْ أَكْرَمَنِ ﴿۱۵﴾

چی کله امتحان وکړی دده رب نو ده ته عزت ورکړی او نعمت ورکړی نو وایی زما رب ماته عزت را کی ،

وَأَمَّآ إِذَا مَا ابْتَلٰهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهٗ ۙ فَيَقُوْلُ رَبِّيْٓ أَهَانَنِ ﴿۱۶﴾

او هغه څه وخت چې ده امتحان وکړي نو تنګ کړي په ده رزق نو وايي زمارب زه ذليل کړم ،

كَلَّا بَلْ لَّا تُكْرِمُوْنَ الْيَتِيْمَ ﴿۱۷﴾ ۙ وَلَا تَحٰٓضُّوْنَ عَلٰى طَعَامِ

داسې نه ده بلکه عزت نه کوئ ديتيم ، اوتاکيد نه کوئ په خپل مينځ کې په خوراک

الْمِسْكِيْنِ ﴿۱۸﴾ ۙ وَتَأْكُلُوْنَ التُّرَاثَ أَكْلًا لَّمًّا ﴿۱۹﴾ ۙ وَّتُحِبُّوْنَ الْمَالَ حُبًّا

ورکولو محتاج ته ، او خورئ دميراث مال په راجمع کولو تول ، اوخوښوئ مال دزړه

جَمًّا ﴿۲۰﴾ ؕ كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا ﴿۲۱﴾ ۙ وَّجَآءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا

په مينه ، داسې نه ده کله چې ماته کړل سي مځکه ذرې ذرې ، او راسي ستارب اوملائکې راسي

صَفًّا ﴿۲۲﴾ ۚ وَجِايْٓءَ يَوْمَئِذٍۭ بِجَهَنَّمَ ۙ يَوْمَئِذٍ يَّتَذَكَّرُ الْإِنْسَانُ وَأَنّٰى لَهُ

قطار قطار، او راوړل سي په دغه ورځ دوږخ ، په دغه ورځ به سوچ کوي انسان نو کله به فائده

الذِّكْرٰى ﴿۲۳﴾ ؕ يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ قَدَّمْتُ لِحَيَاتِيْ ﴿۲۴﴾ ۚ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ

ده لره سوچ ، وايي به څه به ښه واى که ما مخکې څه ليږلي واى په خپل ژوند کې ، نو په دغه ورځ به عذاب نه سي

عَذَابَهٗٓ أَحَدٌ ﴿۲۵﴾ ۙ وَّلَا يُوْثِقُ وَثَاقَهٗٓ أَحَدٌ ﴿۲۶﴾ ؕ يٰٓأَيَّتُهَا النَّفْسُ

ورکولی په شان دعذاب دهغه يو تن ، اونه تړل کولی سي دهغه دتړلو په شان يو تن ، اى نفسه

الْمُطْمَئِنَّةُ ﴿۲۷﴾ ۖ ارْجِعِيْٓ إِلٰى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿۲۸﴾ ۚ فَادْخُلِيْ

داطمينان ، وګرځه خپل رب طرف ته ته دهغه څخه راضي هغه ستا څخه راضي ، نو داخل سه

فِيْ عِبٰدِيْ ﴿۲۹﴾ ۙ وَادْخُلِيْ جَنَّتِيْ ﴿۳۰﴾ ع

زما په بندګانو کې ، او داخل سه زما جنت ته .

لنډتفسير: قسم دى دسهار په خت او (دذى الحجه) په لسوشپو (يعنى لسو تاريخونو) باندى (چې دغه نهايتي فضيلت والاده لکه چې په حديث کې يې تفسير سوى دى) اوپه جفت اوپه طاق (دجفت څخه مراد

لسم تاریخ دذی الحجی اوطاق څخه نهم تاریخ، کذا فی الحدیث، اوپه یوحدیث کی ورڅخه لمونځ
مراددی چی دبعضو طاق رکعتونه وی او دبعضو جفت، دحدیث اولنی روایت ته روایةً هم صحیح ویل
سوی دی لکه چی په روح کی دی اودرایةً هم هغه ارجح دی، ځکه چی په دی سورة کی په کوموشیانوچی
قسم واخیستل سی هغه ټول په زمانه اووختونو قسمونه دی، په مینځ کی جفت اوطاق هم چی دوختونو
قسم وی، نوتناسب یی واضح کیدی سی اودا تطبیق هم کیدی سی چی دجفت اوطاق څخه مراد هرهغه
جفت اوطاق وی، کم چی لائق دتعظیم دی اووختونه اوورځی هم په دی کی داخلی دی اوشمیر دلمانځه
درکعتونو هم) او (قسم دی) په شپه کله چی هغه روانه سی (یعنی تیریږی لکه چی داقول دالله ﷻ دالله دی
وَالَّيْلِ اِذَا اَدْبَرَ: مخکی په طور دجملی معترضی دتاکید دپاره ددی قسم عظیم والی فرمایی چی) آیاپه
دی قسم کی دعقلمند دپاره کافی قسم هم دی؟ (دا استفهام دتقریر اوتاکید دپاره دی ، یعنی په دی
مذکوره قسمونوکی هرقسم دتاکید دکلام دپاره کافی دی او که څه هم ټول قسمونه کوم چی په قرآن کی
مذکور دی، هم داسی دی مګر داهتمام دپاره ددی دکافی کیدو وضاحت یی وفرمایی، لکه چی تیر
سوی دی په دی قول دالله ﷻ په سورة واقعه کی ، وَاِنَّهٗ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُوْنَ عَظِيْمٌ اوجواب دقسم مقدردی چی
ضروربه دوی لره سزاوی ، لکه چی په جلالین کی دی چی انَّنده کلام پرقرینه ده په کوم کی چی دتیرو
منکرانو دعذاب ذکردی یعنی) آیا تاته معلومه نه ده چی ستا پروردګار دقوم عاد یعنی قومِ ارم سره څه
معامله وکړه دکومو قد ارقامت چی دستنو دتنو په شان اوږد وو اودکمو دزور اوقوت برابر چی په دنیا
کی په یوښارکی هیڅ سړی نه دی پیدا سوی (ددی قوم دوه لقبونه دی عاد اوارم، ځکه چی عاد زوی دی
دعاص او دغه دارم اودغه دسام بن نوح ﷺ نو کله دوی ته دپلار په نوم عادوایی اوکله ورته دنیکه په
نوم اِرم وایی او ددی اِرَم یوزوی عابردی اودعابرزوی ثمود دکوم په نوم سره چی یوقوم مشهوردی ، نو
عاد اوثمود دواړه په اِرَم کی یوځای دی ، عاد په واسطه دعاص اوثمودپه واسطه دعابر اودلته اِرَم څکه
زیات سوچی په دی قوم دعاد کی دوی طبقی دی یوه طبقه مخکنی کومو ته چی عادِ اولی وایی ، دوهمه
وروستنی طبقه کومو ته چی عادِ اخرٰی وایی ، نو په اِرم زیاتولو سره اشاره وسوه چی عادِ اولی مراد دی
څکه چی په وجه دقرب اولړوالی دواسطو دارم اطلاق په عادِ اولی باندی کیږی (لکه داسی چی په روح
کی دی ، وَهٰذا التحقيق عندی قاضٍ عَلٰی ماسبق فی الاعراف والنجم، والله تعالی اعلم) او (مخ ته دعاد
څخه وروسته دنورو هلاکیدونکو امتونو بیان فرمایی چی تاته معلومه ده چی) دقوم ثمودسره (څه
معامله وکړه) کوم چی په وادی القری کی (دغرونو) ډبری به یی تراشولی (اوکورونه به یی جوړول، وادی
القرٰی د دوی په ښارونوکی دیو ښارنوم دی لکه چی دیونوم حجردی اوداټول دحجاز اوشام په مینځ کی
دی اوپه ټولوکی ثمودیان اوسیدل، لکه په ځینو تفسیرونوکی داسی دی) اودمیخونو والا فرعون سره
(په درِ منثورکی دابن مسعود ؓ اوسعیدبن جبیر ؓ اومجاهد اوحسن اوسدی څخه ددی په تفسیرکی
منقول دی چی هغه به چاته سزاورکوله نودهغه پرڅلورو لاسونو اوپښنو به یی څلور میخونه ووهل
اوسزابه یی ورکوله اوددی یوتفسیرپه سورة صٓ کی تیر سوی دی، مخ ته دټولوپه شریکه صفت فرمایی

چي) كومو چي په ښارونو كي سرپورته كړي وو او په دې كې يې ډېر فساد خپور كړى وو، نو ستارب په دوى دعذاب شلاخه راواوروله (يعني عذاب يې په نازل كې، نو عذاب يې په شلاخي سره سره او ددى نازلول يې په اورولو سره تعبير وفرمايى، مخ ته ددې عذاب دعلت او دموجودينو دعبرت دپاره ارشاد دى چې) بيشكه ستارب (دنافرمانو) په انتظاركي دى (دكوموڅخه چي ذكرسوى خوبيي هلاك كړل اود موجودينو په عذابوونكي دى) نو (ددى مقتضا داوه چي موجوده كفارو عبرت اخستي واى اودهغو عملونو څخه چي دعذاب واجبوونكي دى محفوظ سوى واى ليكن دكافرانو) خلګو (داحال دى چي هغه عملونه كوم چي دعذاب واجبوونكي دي اختياروي چي ددى تولو اصل ددنيا محبت دى چنانچي دوى) كله چي ددوى پروردګار په ازمائش كي واچوى يعني دوى لره (په ظاهره) انعام اواكرام وركى (لكه مال اوجاه اونور په كوم سره چي مقصود دهغوى شكر ګزارى كتل وى اوپه دى وجه يې داپه ازمائش كولو سره تعبير وفرمايى) نودوى (دى خپل لازمي حق ګڼي په فخر اوغرور سره) وايي چي زما رب زما قدرزيات كى (يعني زه دهغه مقبول يم چي ماته يي داسي داسي نعمتونه راكړل) اوكله چي دى (په بل شان) په ازمائش كي واچوى يعني دده رزق پرده تنګ كړي (چي په دى سره مقصود دده صبر اورضا كتل وى او په دى وجه يي داپه ازمائش كولوسره تعبير وفرمايى) نودى (شكايت كوى) وايي چي زما رب زما قدركم كى (يعني زه يي سره ددى چي مستحق داكرام وم دخپل نظر څخه نن صبا وغورځولم چي دنيوى نعمتونه كم سول ، مطلب دا چي كافر دنيامقصود بالذات ګڼي چي ددى فراخي دليل دمقبوليت اوخپل ځان ددى مستحق ګڼي، نو په دى كي دوى غلطي دى يوه دنيا مقصود بالذات ګڼل، په كم سره چي داخرت څخه انكاراوددى څخه اعراض پيداكيږى اودوهمه دعوٰى داستحقاق په كوم سره چي په نعمت فخر اوغرور اوناشكرى اوپه مصيبت شكايت اوبى صبري پيداكيږى اودا تول عملونه سبب دعذاب دى، مخ ته پردى زجر اوخبردارى دى چي) هيڅكله داسي نه ده (يعني نه دنيا مقصود بالذات ده اونه ددى كيدل يانه كيدل دليل دمقبوليت يا مخذوليت دى اونه ځوك داكرام مستحق دى اونه ځوك دصبر اوشكر دوجوب څخه مستثنٰى دى، مخ ته په صيغه دخطاب په طور دالتفات فرمايى چي په تاسى خلګوكى صرف داعملونه سبب دعذاب نه دى) بلكه (په تاسى كي نور عملونه هم مذموم اودنا رضايى دالله ﷻ اوموجب دعذاب دى چنانچي) تاسى خلګ ديتيم (هيڅ) قدر (اوخاطر دارى) نه كوى (مطلب داچي ديتيم سپكوالى اوپرده ظلم كوى چي دهغه مال خورى) او نوروته هم دمسكين دخوراك ترغيب نه وركوى (يعني دنورو واجب حقونه نه په خپله اداكوى اونه نوروته دواجب حقونو اداكولو واياست اوعملاً ددى پريښوونكى اواعتقاداً ددى منكر ياست اودكافرو دپاره پريښوول دواجبو دعذاب دزياتي سبب وى اودعقيدى فساد يعني كفر اوشرك دعذاب اصل بنياد دى) او (تاسى) دميراث مال تول راټولوى خورى يې (يعني دنورو حق هم خورى اوميراث په موجوده تفصيل سره كه څه هم په مكه مكرمه كي مشروع نه وو، مګر نفسِ ميراث په شرع ابراهيمى اواسماعيلى سره متوارث را روان وو، چنانچي په جاهليت كي يې كوچنيان اوانجونى دميراث مستحق نه ګڼل ددى دليل دى چي دميراث حكم دمخكى

ځکه وو چې بیان یې دسورةِ نسآء داولې رکوع ترآیت لِلرِّجَال نَصِیْبٌ الخ لاندې تیرسوی دی) او (تاسې خلګ) دمال سره ډیر محبت ساتئ (اوذکر سوی عملونه ټول ددې قولي اوفعلي اوحالي موجب دعذاب دی، وروسته دانسان داحال دی چې دعبرت مضامین واوری، په ځای ددی چې عبرت یې اخستی داسې عملونه اختیاروی کوم چې نورزیات موجب دعذاب دی په دی وجه الله ﷻ ده ته عذاب ورکوونکی دی لکه چې الله ﷻ فرمایي، اِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ: مخ ته دغو خلګوته زجر او خبرداری دی کوم چې داکارونه سبب دعذاب نه ګڼي) هیڅکله داسې نه ده (لکه چې تاسې ګڼئ چې په دی عملونوبه عذاب نه وی ضروربه وی ، مخ ته دجزا اوسزا وخت بیې په کوم کی چې به دوی ته عذاب اواهل طاعت ته اجر اوثوب ورکول کیږي، ارشاد دی چې) څه وخت چې مځکه (جګ جګ اجزایې لکه غرونه اونور) مات رامات (او) خس خس کړل سی (مځکه هوراه سی لکه چې داقول دالله ﷻ دی لَاتَرٰی فِیْهَاعِوَجًا وَّلَاۤاَمْتًا) اوستا پروردګار اوصف درصف ملائکې (په میدان دحشرکی) راسی (دابه دحساب وخت وی او دالله ﷻ راتلل دمتشابهاتو څخه دی چې حقیقت یې دالله ﷻ څخه ماسوا بل چاته نه دی معلوم) اوپه دغه ورځ به جهنم راوړل سی (لکه چې په سورة مدثرکی د، وَمَا یَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ اِلَّا هُوَ، په حقله بیان سوی دی) په دغه ورځ به انسان ته پوه راسی اواوس دپوهې راتلو موقع چیری پاته ده (یعنی اوس دپوهیدو څخه څه فائده کیدی سی ځکه چې دغه دار الجزاء ده، دار العمل نه دی، مخ ته دپوهې راتلو څخه وروسته چې دده کومه خبره وی دهغې بیان دی چې هغه) به وایی چې کاشکې ماددی اخروی ژوند دپاره څه عمل نیك مخ ته لیږلی وای، نو په دغه ورځ به نه دخدای دعذاب برابر څوك عذاب ورکوونکی راوزی اونه به دده دبندولو برابر څوك بندونکی راوزی (یعنی داسې سخته سزا اوقیدبه ورکوی چې په دنیا کی به نه چیری چاداسې سخته سزا ورکړی وی اونه به یې داسې سخت قید ورکړی وی، داسزاخوبه دهغو خلګووی کموچې دعذاب عملونه کړی وی اوکوم چې دالله ﷻ فرمانبردار وه هغوی ته به ارشاد وسی چې) ای اطمینان والا روحه! (یعنی دچاچې پرحق کاریقین اوګمان وو اوڅه قسم شك اوانکاریې نه وو اوتعبیر دروح څخه په اعتبار دجزاء اشرف دی) ته دخپل پروردګار درحمت خواته ځه، داسې چې ته دهغه څخه خوشحاله اوهغه ستا څخه خوشحاله وی بیا هلته ولاړسه ته زماپه خاصو بندګانو کی شامل سه (داهم روحانی نعمت دی چې دانسان دپاره داحبابو څخه لوی هیڅ شی نسته) اوزماپه جنت کی داخل سه (په لفظ دمطمئنه کی ددغو خلګو دنیکو عملونو وطرف ته اشاره وسوه او دنیکو عملونو طرف ته اشاره او دعملونو دعذاب تفصیل بیان فرمایل شایدپه دی وجه دی چې زیات مقصود دلته دمکی خلګوته اورول دی اودغه وخت هلته دداسې عملونو مرتکب زیات وه)

معلومات اومسئلې : په دی سورة کی دپنځو شیانوپه قسم اخیستو سره دهغه مضمون تاکید سوی دی کم چې مخ ته په: اِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ کی بیان سوی دی، یعنی په دی دنیاکی چې تاسې څه کوی په هغه جزا اوسزا ورکولیدل لازمی اویقینی دی، ستاسې رب ستاسې دټولو عملونوپه نګرانی کی دی، برابره خبره ده که دی جملې: اِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ ته جواب دقسم وویل سی ، یامحذوف مقرر سی.

هغه پنځه شیان په کومو چې قسم اخیستل سوی دی ، په هغه کې اولنی شی فجر یعنی دصبح صادق وخت دی، کیدی سی چې مراد دهری ورځې سهاروی چې داپه عالم کې یو عظیم انقلاب راولی اوداالله ﷻ دکامل قدرت طرف ته راهنمایی کوی اوداهم ممکنه ده چې د، اَلْفَجْرِ الف لام عهدی مقررکړی نو ددی ځخه دیوخاص ورځې فجر مراد وی، په مفسرینوکې دصحابه کرامو حضرت علی ﷺ ابن عباس ﷺ ابن زبیر ﷺ ځخه اوله معنٰی یعنی عام وخت دفجر دیوی ورځې چې وی، منقول دی او دحضرت ابن عباس ﷺ په یو روایت کې ددی ځخه مراد دمحرم داولنی تاریخ فجردی کوم چې داسلامی قمری کال شروع ده ، حضرت قتاده یې هم دا تفسیر کړی دی .

اوځینی مفسرینو حضراتو دذی الحجی لسم تاریخ یعنی دیوم النحر سهار ددی ځخه مراد مقررکړی دی دمجاهد اوعکرمه ﷺ دا قول دی او دحضرت ابن عباس ﷺ ځخه هم په یو روایت کې داقول منقول دی وجه ددی یوم النحر دتخصیص دا ده چې الله ﷻ دهری ورځې دپاره یې یوه شپه لګولی ده ، کومه چې داسلامی اصولو مطابق دورځې ځخه مخکې وی، صرف یوم النحر داسی ورځ ده چې ددی سره ځه شپه نسته، ځکه چې دیوم النحر ځخه مخکې چې کومه شپه ده هغه دیوم النحرنه ده بلکه شرعًادعرفی شپه مقرره سوي ده ، دغه وجه ده چې که یوسړی حج کوونکی دعرفی په ورځ میدان دعرفات ته ونه رسیدی، دشپې دصبح صادق ځخه مخکې چې هروخت هم عرفات ته ورسیږی نودده وقوف معتبراوحج یې صحیح کیږی ، ددی ځخه معلومه سوه چې دعرفی دوی شپې دی، یوه ددی ځخه مخکې یوه ددی ځخه وروسته اودیوم النحر هیڅ شپه نسته، په دی لحاظ سره دیوم النحر سهار ددنیاپه ټولو ورځوکې یوخاص شان لری (قرطبی)

دوهم شی په کوم چې قسم دی هغه لَیَالٍ عَشْرٍ یعنی لس شپې دی ، دحضرت ابن عباس ﷺ قتاده ﷺ مجاهد ، سدی، ضحاك، کلبی امامانو دتفسیرپه نزد دذی الحجی اولنی لس شپې مراد دی ، ځکه چې په حدیث کې ددی لوی فضیلت راغلی دی نبی کریم ﷺ فرمایی چې دعبادت کولو دپاره داالله ﷻ په نزد په ټولو ورځو کې دذی الحجی لس ورځې دټولوځخه ښه دی ددی دهری ورځې روژه دیوکال دروژو برابر اوپه دی کې دهری شپې عبادت دشب قدر برابردی (ترمذی اوابن ماجه یې روایت کړی دی، په ضعیف سندسره دابو هریره ﷺ ځخه مظهری)

اوابو الزبیر دحضرت جابر ﷺ ځخه روایت کړی دی چې په خپله نبی کریم ﷺ د، وَالْفَجْرِ وَلَیَالٍ عَشْرٍ په تفسیر کې فرمایلی دی چې ددی ځخه مرادلس شپې دذی الحجی دی حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چې دالس شپې هغه دی کمی چې دحضرت موسٰی ﷺ په قصه کې راغلی دی وَاَتْمَمْنَاهَا بِعَشْرٍ ځکه چې دالس شپې دکال په ورځوکې افضلې دی ، امام قرطبی ﷫ فرمایی چې دحضرت جابر ﷺ په ذکرسوی حدیث سره دورځو ښه والی دعشره دذی الحجی معلوم سو، ددی ځخه معلومیږی چې دحضرت موسٰی ﷺ دپاره هم دذی الحجی دا لس شپې مقرر سوی وی .

وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ : دشفع لغوی معنٰی دپیوست کولوده کوم ته چې په پښتو، فارسی او اُردوکې جفت وایی

اودوتر معنی طاق اوفرد ده ، دقرآن کریم په الفاظوکی دامتعینه نه ده چی ددی جفت اوطاق څخه څه مراد دی، په دی وجه داامامانو دتفسیر اقوال په دی کی بی شمیره دی، مګرپه خپله دمرفوع حدیث الفاظ کوم چی دحضرت جابرؓ څخه روایت سوی دی دهغه الفاظ دا دی .

(وَالْفَجْرِ وَلَيَالٍ عَشْرٍ) هُوَالصُّبْحُ وَعَشْرُالنَّحْرِوَالْوَتْرُيَوْمُ عَرَفَةَ وَالشَّفْعِ يَوْمُ النَّحْرِ.

نبی کریم ﷺ د، وَالْفَجْرِوَلَيَالٍ عَشْرٍ په حقله فرمایی چی دفجر څخه مرادسهار اودعشر څخه مراد عشره دنحر دی (اودا عشره دذی الحجی اولنی لس کیدی سی په کومو کی چی یوم النحر شامله ده) اوفرمایی چی دوتر څخه مراد ورځ دعرفی ده او دشفع څخه مراد لسمه دذی الحجی ده .

قرطبی ددی روایت نقل کولو څخه وروسته فرمایی چی دا داسنادو په اعتبار سره اصح دی په نسبت دبل حدیث کوم چی دعمران بن حصین څخه نقل سوی دی په کوم کی چی دشفع او وتر دلمانځه ذکردی ، په دی وجه حضرت ابن عباسؓ عکرمه نحاس دا اختیار کړی دی چی دشفع څخه مراد یوم النحر او دوتر څخه مراد عرفه ده .

او دتفسیر ځینی امامان ابن سیرین ، مسروق، ابوصالح اوقتاده فرمایی چی دشفع څخه مراد ټول مخلوقات دی ، ځکه چی الله ﷻ ټول مخلوقات جوړه جفت پیدا کړی دی او ارشاد فرمایی ، وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ : یعنی هر شی می جوړه جوړه پیداکړی دی ، کفر ایمان ، بدبختی نیکی بختی، ړنا تیاره ، شپه ورځ ، یخ ګرمی، آسمان مځکه، پیریان انسانان، سړی ښځی، اوددی په مقابله کی وتر دغه صرف دالله ﷻ ذات دی ، هُوَ اللّٰهُ الْاَحَدُ، الصَّمَدُ .

وَالَّيْلِ اِذَايَسْرِ: يَسْرِد ، سَرٰى څخه مشتق دی چی معنی یی دشپی تلل دی دلته په خپله شپی ته وویل سوه چی کله هغه روانه سی یعنی پرختمیدو سی ددی پنځه قسمونو دذکر فرمایلو څخه وروسته حق تعالی غافل انسان ته په یوخاص اندازکی دسوچ ددعوت ورکوی فرمایی: هَلْ فِي ذٰلِكَ قَسَمٌ لِذِي حِجْرٍ دحجر لفظی معنی بندول دی، دانسان عقل دده دپاره دبدی اوضرر رسانو شیانو څخه بندوونکی دی، په دی وجه حجرپه معنی دعقل هم استعمالیږی، دلته دامعنی مراد ده، معنی دایت داده چی ایا دعقل والا سړی دپاره دا قسمونه هم کافی دی اوکه نه دی داصورت خو داستفهام دی، مګرپه حقیقت کی دانسان دپاره دغفلت څخه دبیدارولو یوتدبیردی، مطلب دادی چی دالله ﷻ په عظمت شان او دده په قسم اخیستو دیوی خبری په بیانولو اوپه خپله ددی شیانوپه عظمت په کوم چی یی قسم اخیستی دی لږ فکر وکړه ، نودکوم شی دپاره چی دا قسم واخیستل سو ، دهغه یقینی والی به ثابت سی اوهغه شی دا دی چی دانسان دهرعمل په اخرت کی حساب کیدل اوپه دی جزا اوسزا کیدل دشك اوشبهی څخه بالاتر دی ، دقسم داجواب که څه هم صراحةً مذکورنه دی مګر دکلام دسباق څخه ثابتیږی اومخ ته چی په کفارو دکوم عذاب راتلو بیان کیږی، هغه هم ددی بیان دی چی دکفر اومعصیت سزاپه اخرت کی خو ورکول کیدل یقینی دی، کله کله په دنیاکی هم پرداسی خلکو عذاب رالیږل کیږی، په دی سلسله کی یی ددرو قومونو دعذاب ذکر وفرمایی، اول قوم عاد ، دوهم ثمود ، دریم قوم دفرعون عاد اوثمود دوه قومونه دی

دکومو دنسب سلسله چې لوړه ځي اوپر اِرم یوځای کیږي دغه شان لفظ د ، اِرم دعاد اوثمود دواړو دپاره ویل کیږي دلته صرف دعاد سره د، اِرم دذکر کولو وجه په لنډتفسیرکی دعاد اوثمود دواړو قومونو دتحقیقي حالاتو سره تیره سوي ده .

اِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ: لفظ د ، اِرَم دعاد عطف بیان یابدل دی اوددی څخه مقصد دعادقبیلی د دوه قسمونو څخه دیوی تعین دی یعنی عادِ اولی کوم چې دمخکو څخه دی ، دوی یی په عادِ ارم سره ځکه تعبیرکړل چې داخلګ دخپل اعلی نیکه اِرَمْ سره په نسبت د، عَادِ اُخرٰی زیات نژدی دی ، دوی دلته قرآن کریم دعادِ رام په لفظ سره اوپه سورة نجم کي یی د ، اَهْلَكَ عَادَ نِ الْاُوْلٰی : په عنوان سره تعبیر فرمایي، د دوی په صفت کی قرآن کریم ذَاتِ الْعِمَادِ وفرمایل، عماد اوعمود ستنی ته ویل کیږي، قوم دعادته ذات العماد ځکه وویل سوه چې ددوی قد اوقامت ډیر اوږدوو اودا قوم په خپل ډیر ډول اوقوت اوطاقت کي دنورو قومونو څخه ممتاز وو، د دوی دا امتیازپه خپله قرآن کریم په لویو واضحو الفاظو کی فرمایي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ یعني داسي اوږد قامت ، قوي قوم په دنیاکي د دوی څخه مخکی نه دی پیدا سوی ، قرآن کریم خو د دوی دجګوالي اوشان اوډول ددنیا دټولو قومونو څخه دزیات والي بیان خو وفرمایي ، مګر د دوی څه اندازه ذکر کول دضرورت څخه زیات کاروو هغه یی پرېښووي په اسرائیلي روایتونوکی د دوی دقد اوقامت اوقوت په حقله عجیبه عجیبه اقوال مذکور دی ، دحضرت ابن عباس ﷺ او مقاتل څخه د دوی اوږدوالي دولس لاسه یعنی شپږ ګزه یااتلس فته منقول دی اوظاهره ده چې د دوی دا قول هم داسرائیلي روایتونو څخه را اخیستل سوی دی . والله تعالی اعلم

اوځیني مفسرین حضرات فرمایي چې اِرم دهغه جنت نوم دی کوم چې دعادِ زوی شداد جوړکړی وو او دهغه صفت ذات العماد دی چې دغه یوعظیم الشان عمارت پرډیرو ستنو قایم دسرو سپینو اوجواهراتو څخه جوړسوی وو، چې خلګ داخرت دجنت په بدله دا نقد جنت اختیارکی، مګر کله چې داعالیشان محلونه تیارسول اوشداد دخپل حکومت دسردارانو سره دغه ته دتللو اراده وکړه نو دالله ﷻ عذاب نازل سو ، هغه ټول هلاك سول او دغه محلونه هم مسمار سول (قرطبي) په دی اعتبارسره په دی آیت کی دقوم عاد دیوخاص عذاب ذکر وسوکوم چې په شدادبن عاداوده په جوړسوی جنت نازل سواواولني تفسیر کوم چې جمهورو مفسرینو اختیار کړی دی ، په دی کی په قومِ عاد چې څومره عذابونه راغلي دی ، دهغو ټولو بیان دی.

وَفِرْعَوْنَ ذِي الْاَوْتَادِ او تاد د: وَتَدْ جمع ده ، میخ ته ویل کیږي ، فرعون ته دذی الاوتاد ویلومختلفی وجهی مفسرینو بیان کړی دی دجمهورو مفسرینو په نزد مشهوره هغه ده کومه چې په لنډتفسیرکی لوړ تیره سوي ده ، چې په دی لفظ کی دده دظلم زیاتی او دوحشیانه سزاګانو ذکر دی، دی چې به دچا څخه خفه سو نودهغه لاسونه اوپښی به یی په څلورو میخونو پوری وتړل یابه یی میخونه پرووهل، په غرمه کی به یی وځړوی اوماران اولړمان به یی ورپرېښوول اوځینو مفسرینو دده دخپلي بی بی حضرت اسیې ﷺ په حقله یوه اوږده قصه ددی دمومني کیدو اوبیا دفرعون په مخکی دایمان داظهارولو اوبیا دفرعون

ددی دداسی قسم سزا په ذریعه دهلاکولو ذکر کړی دی (مظهری)

فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ دقوم عاد اوثمود اوفرعون دشرا وفساد ذکر فرمایي کوم عذاب چی په هغوی نازل سوهغه یی دعذاب دشلاخی ورکولو په عنوان سره تعبیر کړی دی، په دی کی اشاره دی طرف ته ده چی لکه څنګه چی شلاخه دمختلفو اطرافو څخه پر بدن راځی، په دوی هم مختلف قسم عذاب نازل سو.

إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ مِرْصاد اومَرْصد رصدګاه اوانتظارګاه ته ویل کیږی کوم چی په یو لوړ مقام باندی وی، کوم ځای چی کښېنی یو سړی نو دلیری لیری خلګ لیدی سی او د دوی دعملونو اوکارونو نګرانی کولی سی مطلب دا یت دا دی چی الله ﷻ دهرانسان ټول عملونه اوحرکات اوسکنات وینی اوټولوته ددی جزا اوسزا ورکوونکی دی، ځینی مفسرین فرمایي چی داجمله دهغو قسمونو جواب دی کوم چی په، وَالْفَجْرِ وَلَيَالٍ عَشْرٍ کی ذکر سوی دی.

(په دنیا کي درزق فراخي اوتنګي دالله ﷻ په نزد مقبول یامردود کیدو نښانه نه ده)

فَأَمَّا الْإِنسَانُ: دلته دانسان څخه مراد په اصل کی خوکافر انسان دی کوم چی دالله ﷻ په حقله چی څه غواړی خیال کوی، مګر دعام مفهوم په اعتبار سره هغه مسلمان هم په دی خطاب کی شریك دی کوم چی دده په شان په خیال کی اخته وی اوهغه خیال دادی چی کله الله ﷻ چاته په خپل رزق کی په فراخی اوپه مال دولت صحت اوتندرستی سره ونمانځی نوشیطان دی په دوو باطلو خیالاتوکی مبتلا کوی اول داچی داوګنی چی دازما ذاتی صلاحیت اوعقل اوفهم اودکوشش اوعمل لازمی نتیجه ده کومه چی ماته ورکول کیدل په کار دی زه ددی مستحق یم، دوهم دا چی په دی شیانو حاصلیدو سره دا مقرر کی چی زه دالله ﷻ په نزد هم مقبول یم که مردود وای نوهغه به ماته دانعمتونه ولی راکول، دغه شان کله چی پر یو انسان باندی په رزق کی تنګی اوفقر اوفاقه راسی، نودا دالله ﷻ په نزد دمردود کیدو دلیل وګنی او په دی څکه خفه وی چی زه خومستحق دانعام اواکرام وم زه یی بی وجهی ذلیل اوسپك کړم، داسی خیالات په کفارو اومشرکانوکی خوموجود وه اوپه قرآن کریم کی څوځایه دکفارو ددی خیالاتو داظهار ذکرهم دی افسوس دی چی نن صبا مسلمانان هم په دی ګمراهی کی اخته کیږی، حق تعالی ﷻ په دی ایتونوکی دداسی انسانانو حال ذکرکی اوویی فرمایل كَلَّا یعنی ستاسی داخیال بالکل باطل اوبی بنیاده دی، نه په دنیاکی درزق فراخی دالله ﷻ په نزددنیك اومقبول کیدو علامه ده اونه درزق تنګی اوفقر اوفاقه دالله ﷻ په نزد دمردود یاذلیل کیدو علامه ده، بلکه معامله اکثره برعکس وی، فرعون دسره دخدایی ددعوی دسردرد هیڅکله نه وو پرراغلی اوځینی پیغمبران دښمنانو په اره څیری کړی دی اودوی تکړی کړی یی دی اونبی کریم ﷺ فرمایي چی په مهاجرینو حضراتوکی چی کوم فقیران اومفلسان وه، هغه به دغنیانو مهاجرینو څخه څلویښت کاله مخکی جنت ته داخلیږی (رواه مسلم عن عبد الله ابن عمر ﷺ، مظهری)

اوپه یو حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ دکوم بنده سره محبت فرمایي دهغه ددنیا څخه داسی پرهیز کوی لکه تاسی چی دخپل بیمار داوبو څخه پرهیز کوی (رواه احمد والترمذی عن قتاده بن النعمان، مظهری)

(په يتيم صرف خرڅ کول کافي نه دی دهغه احترام هم ضروري دی)

ددی څخه وروسته کفاروته ددوی په څوبدو خصلتونو خبرداروول دی اول، لَاتُكْرِمُوْنَ الْيَتِيْمَ يعنی تاسی دیتیمانو کوچنیانو اکرام نه کوی، په دی کی اصل ښوول خودادی چی دیتیمانو حقونه نه اداکوی، په دوی ضروری خرڅ نه کوی، لیکن ددی تعبیرپه اکرام سره وسو، په دی کی اشاره ده چی دعقل اودانسانیت اوالله ﷻ چی کوم مال تاسی ته درکړی دی، دهغه دشکر تقاضا خودادہ چی تاسی یتیم ته فقط دانه چی دده حق ورکی اوخرڅ پروکی، بلکی واجب ده چی دده اکرام هم کوی، دخپلو بچیانوپه مقابله کی هغوی ذلیل اوحقیرونه گنی، داپه ظاهره دکفارو ددی قول جواب دی چی ددنیا فراخی اکرام اوتنگی یی اهانت گنی، په دی یی صرف د: بَلْ سره دا ذکر وفرمایی چی که تاسی ته کله تنگی درزق درپیښه سی نوهغه په دی وجه چی تاسی په داسی بدو عادتونو کی مبتلی یاست چی دیتیم په شان دقابلِ رحم بچیانو حقونه هم نه ادا کوی.

دوهم بدخصلت یی ددوی داوښووی ، وَلَاتَحَاضُّوْنَ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ : یعنی تاسی خوپه خپله یومسکین غریب ته به څه ورکی، نوروته هم ددی ترغیب نه ورکوی چی هغوی هم داکار وکی، په دی عنوان کی هم ددی کفارو دبد عادت اومذمت دبیان سره دی طرف ته اشاره ده چی دغریبانو اومسکینانو حق لکه چی پرغنیانو اومالدارو باندی دی چی دوی ته دخپل طرف څخه څه ورکی، دغه شان کم خلگ چی په خپله دورکړی طاقت نه لری دوی ته هم دومره خوکول په کاردی چی نوروته ددی ترغیب ورکی،

دریم بدخصلت یی دابیان کړی دی، وَتَأْكُلُوْنَ التُّرَاثَ اَكْلًا لَّمًّا د ، لَمٌّ معنی جمع کول دی، مطلب دا دی چی تاسی دمیراث مال حلال اوحرام ټول جمع کوی اوخوری یی، دخپلی حصی سره دنورو حصه هم غصب کوی، دلته په خصوصیت سره یی دمیراث دمال ذکر وکی، حال دادی چی هریو مال په کوم کی چی حلال اوحرام جمع سوی وی ناجائز دی ، وجه دخصوصیت شاید داوی چی دمیراث په مال زیات نظرساتل اوپه هغه پسی کیدل لویه کم همتی اودکمی حوصلی کیدلو دلیل دی چی دمردار خورو حیوانانوپه شان انتظار کوی چی کله به زما مورث مری اوکله به مونږته ددی مال دتقسیملو موقع په لاس راځی، اولو العزم اوباهمته خلگ په خپله گټه خوشحالیږی دمړو پرمال داسی حرصناك نظرنه کوی.

څلورم بدخصلت یی داوښووی ، وَتُحِبُّوْنَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا د: جمّ معنی ډیر دی، مطلب دادی چی تاسی دمال محبت ډیر کوی، دډیر په لفظ سره دی طرف ته اشاره وسوه چی دمال په یودرجه کی محبت خو دانسان فطری تقاضاده دا دمذمت سبب نه دی، بلکه ددی په محبت کی دحد څخه زیاتیدل اوانهماك کول دادمذمت سبب دی ، دکفارو ددی بدو خصلتونو دبیانولو څخه وروسته داصل مضمون طرف ته واپسی وسوه کوم چی یی دسورة په شروع کی په پنځو قسمونو سره موکد کړی دی، یعنی داخرت جزا اوسزاپه دی سلسله کی اول دقیامت راتلو ذکر فرمایی.

اِذَادُكَّتِ الْاَرْضُ دَكًّا : دَكًّا دلفظ د: دَكٌّ لفظی معنی یوشی لره گذار ورکول اوماتول دي، مراد دقیامت زلزله ده کومه چی به غرونه دیوبل سره وجنگوی اوخاشه خاشه به یی کړی اود ، دكًّا دكًّا په مکرر راوړلو سره

دي طرف ته اشاره ده چې دقيامت زلزله به پرلپسې اومسلسل وي.

وَجَاءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا: صَفًّا يعنې رابه سي ستارب او ملائکې په صفونو صفونو، مراد ورځخه ميدان دحشرته راتلل دي، دالله ﷻ دراتلوبه څه شان وي، په دې دالله ﷻ ځخه ماسوا بل هيڅوك پوه نه دي دا دمتشابهاتو ځخه دي اودملائکو په صفونو را تلل ظاهر دي.

وَجِيءَ يَوْمَئِذٍ بِجَهَنَّمَ يعنې رابه وړل سي په دغه ورځ جهنم، دجهنم دراوړو څه مطلب دي او څنګه به ميدان دحشرته راوړل سي، ددې په حقيقت خوالله ﷻ پوه دي، ظاهره ده چې جهنم کم چې اوس داوومې مځکې لاندې دي هغه وخت به لمبه وکې اوسمندر به ټول اور سي په دې کې به شامل سي اودغه شان به جهنم په ميدان دحشرکې ټولوته مخامخ سي.

يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ الْإِنْسَانُ وَأَنَّى لَهُ الذِّكْرَىٰ: دلته دتذکر ځخه مراد په خيال راتلل دي، يعنې کافران به په دغه ورځ پوه سي چې مونږته په دنياکې څه کول په کاروو اومونږ څه وکړل، مګردغه وخت داپوهيدل به بې سوده وي چې دعمل اودحال داصلاح زمانه تيره سوه، اخرت دار العمل نه دي، دار الجزاء دي مخ ته ددې تذکر بيان دي چې هغه به ارزو کوي چې کاشکې ماپه دنيا کې يونيك عمل کړی وای، يَا لَيْتَنِي قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي بيايې ددې ارزو باطلوالې او غيرِ مفيدوالې وښووې چې اوس کله چې دکفر اوشرك سزا مخ ته راله اوس ددې ارزو ځخه هيڅ فائده نسته، اوس خو دعذاب اونيولو وخت دي اودالله ﷻ دنيولو برابر هيڅ نيول نه سي کيدی، دکفارو دعذاب بيانولو ځخه وروسته په اخرکې دمومن ثواب اوددہ جنت ته داخلول ذکر فرمايي.

يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ: دلته دمومن روح ته يې دنفس مطمئنه په لقب سره خطاب کړی دي، د: مُطْمَئِنَّه لفظي معنٰی ساکنه دي، مراد هغه نفس دي کوم چې دالله ﷻ په ذکر اوددہ په اطاعت سره سکون اوقرار پيداکي، ددې په پريښوولو سره بې ارامه وي اودا هغه نفس کيدی سي کوم چې په رياضت اومجاهدو کولوسره يې خپل بد عادتونه اورذيل خويونه ليرې کړي وي، دحقِ اطاعت اودالله ﷻ ذکر دده مزاج او شريعت دده طبيعت جوړسي، ده ته خطاب کوي فرمايي.

ارْجِعِي إِلَىٰ رَبِّكِ: يعنې وګرځه دخپل رب طرف ته، دواپس کيدو دلفظ ځخه معلوميږي، چې دده اول مقام هم درب سره وو، هغه ځای ته دواپس کيدو حکم ورته کيږي په دې سره هغه روايت قوي کيږي په کم کې چې دادي چې دمومنانو روحونه به ددوی دعملنامو سره په عِلّيِّين کې وي اوعِلّيِّين تراووم آسمان لوړ ترعرش درحمٰن لاندې يومقام دي، دانسان دټولو روحونو اصلي مستقر هغه دي، دهغه ځای ځخه روح راوړې اودانسان په جسم کې يې اچوی اوبيا دمرګ ځخه وروسته هغه ځای ته واپس کيږي.

رَاضِيَةً مَرْضِيَّةً: يعنې دا نفس دالله ﷻ ځخه دهغه په تکويني اوتشريعي احکامو راضي دي اوالله ﷻ هم دده ځخه راضي دي ځکه چې دبنده دالله ﷻ په تقديري احکاموراضي کيدل ددې نښانه ده چې الله ﷻ دده ځخه راضي دي، که الله ﷻ دده ځخه راضي نه وای نو ده ته به درضابالقضاء توفيق نه وای سوی دانفس

دخپل مرګ په وخت کې په مرګ هم راضي اوخوشحاله وي، دحضرت عباده بن الصامت ﷺ په حديث کې دي چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي . مَنْ اَحَبَّ لِقَآءَ اللهِ اَحَبَّ اللهُ لِقَآئَهٗ وَمَنْ كَرِهَ لِقَآءَ اللهِ كَرِهَ اللهُ لِقَآئَهٗ : يعنى کوم سړي چې دالله ﷻ سره يوځاى کيدل خوښوي الله ﷻ هم دهغه سره يوځاى کيدل خوښوي اوڅوك چې دالله ﷻ سره ملاقات نه خوښوي الله ﷻ هم دهغه سره يوځاى کيدل نه خوښوي ، دا حديث يې چې واوريدى نوحضرت عائشه صديقه ﷺ دنبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې دالله ﷻ سره ملاقات خودمرګ په ذريعه کيدى سى ليکن مرګ خو زمونږ يادبل چاخوښ نه وي، دوى وفرمايل داخبره نه ده حقيقت دادى چې مومن ته دمرګ په وخت کې دملائکو په ذريعه دالله ﷻ درضا او دجنت خوشخبرى ورکول کيږي نوچې داواوري، ده ته مرګ زيات محبوب سى، دغه شان کافرته دمرګ په وخت کې عذاب اوسزا مخامخ کړل سى په دي وجه ده ته دغه وخت دمرګ څخه زيات بل شي بد اومکروه نه معلوميږي (بخاري اومسلم، مظهري) لنډه داچې دمرګ محبت ياکراهت داوخت معتبرنه دى، بلکه دروح ختوپه وخت کې چې څوك په مرګ اودالله ﷻ سره په يوځاى کيدو راضي وي، الله ﷻ هم دهغه څخه راضي وي ، هم دا مطلب دى ، د، رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً .

فَادْخُلِيْ فِيْ عِبٰدِيْ، وَادْخُلِيْ جَنَّتِيْ نفس مطمئنه به مخاطب کړي اودا حکم به ورته وسي چې زماپه خاصو بندګانوکې شامل سه اوزما جنت ته داخل سه، په دي کې اول دالله ﷻ په صالحانو اومخلصو بندګانوکې دشامليدو حکم دى، بيا جنت ته دداخليدو، په دي کې اشاره کيږي چې جنت ته داخليدل پردى موقوف دي چې اول دالله ﷻ دصالحانو مخلصو بندګانوپه ټولې کې شامل سي ددى ټولو سره به جنت ته داخله وي، ددى څخه معلومه سوه چې څوك په دنياکې دصالحانو صحبت اوملګرتيا اختياروي، دانښانه ددى ده چې دى به هم ددوى سره جنت ته ځي، په دي وجه حضرت سليمان ﷺ په خپل دعاکې فرمايي وَاَدْخِلْنِيْ بِرَحْمَتِكَ فِيْ عِبَادِكَ الصّٰلِحِيْنَ، اوحضرت يوسف ﷺ په دعاکې فرمايي ، وَاَلْحِقْنِيْ بِالصّٰلِحِيْنَ ، معلومه سوه چې دصالحانو صحبت هغه نعمتِ کبرىٰ دى چې انبياء ﷺ هم ددى ددعا څخه مستغني نه دي .

وَادْخُلِيْ جَنَّتِيْ : په دي کې دجنت نسبت الله ﷻ خپل طرف ته وکې چې زماجنت يې وفرمايي کوم چې لوى اعزاز او اکرام دى او په دي کې اشاره کيږي چې په جنت کې صرف دا نه چې هر قسم راحتونه جمع دي او دائمي دي بلکه دټولو څخه لويه خبره دا ده چې هغه دالله ﷻ درضا مقام دى .

په ذکر سوو ايتونوکې يې دمومنانو دجزا اوثواب داسې ذکر وکې چې د دوى روحونوته به دالله ﷻ دطرف څخه په واسطه دملائکو په اعزاز او اکرام سره خطاب وسي کم چې په دي ايتونوکې مذکوردى، داخطاب به څه وخت وي په دي کې دتفسير ځينې امامان فرمايي چې په قيامت کې به دحساب کتاب څخه وروسته داخطاب وي اودايتونو دسباق څخه ددى تائيد کيږي، لوړ چې دکفارو کوم عذاب بيان سوى دى ، هغه به په اخرت کې دقيامت څخه وروسته وي، ددى څخه ظاهره ده چې دمومنانو داخطاب به هم دغه وخت وي اوځينې حضرات فرمايي چې داخطاب به مومنانوته دمرګ په وخت په دنياکې وي،

ډیر صحیح احادیث پردی باندی شاهددی، په دی وجه ابن کثیر رحمه الله فرمایی چی ظاهره ده چی په دواړو وختونوکی به داخطاب دمومنانو روحونو ته وی، دمرګ په وخت کی هم، بیاپه قیامت کی هم.
هغه احادیث دکومو څخه چی ددی خطاب دمرګ په وخت کی کیدل معلومیږی یوهغه حدیث دعباده بن الصامت دی کوم چی لوړ تیرسوی دی، اویو اوږد حدیث دحضرت ابو هریره رضی الله عنه په مسنداحمد، نسایی، ابن ماجه کی دی، په کوم کی چی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی کله دمومن دمرګ وخت راسی نودرحمت ملائکی سپینی وریښمنی کپړی ورمخ ته کړی اودده روح ته خطاب کوی، اُخْرُجِیْ رَاضِیَۃً مَرْضِیَّۃً اِلٰی رَوْحِ اللهِ وَرَیْحَانِہٖ، یعنی ددی بدن څخه ووزه په دی حالت کی چی ته دالله ﷻ څخه راضی یی اوالله ﷻ ستا څخه راضی وی، او دا وتل به دالله ﷻ درحمت اودجنت ددائمی نعمتونو طرف ته وی، الحدیث، او حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمایی چی مایوه ورځ داآیت، یَا اَیَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّۃُ : دنبی کریم ﷺ په مخکی روایه نوصدیق اکبر رضی الله عنه کوم چی په مجلس کی موجودوو ویی ویل یارسول الله ﷺ دا څومره ښه خطاب اواکرام دی، دوی وفرمایل چی واوره! ملایکه به دمرګ څخه وروسته تاته داخطاب کوی (ابن کثیر)

(یوڅو عجیبه واقعات)

حضرت سعیدبن جبیر رضی الله عنه فرمایی چی دحضرت ابن عباس رضی الله عنه په طائف کی انتقال وسو، دجنازی تیارید و څخه وروسته یوه عجیبه اوناآشنا مرغی چی مثال یی مخکی نه وولیدل سوی راله او دجنازی په نعش کی داخله سوه، بیاهغه چاپه وتلوونه لیده، کله چی نعش په قبرکی کښیښوول سی نو دقبر دغاړی څخه په یو غیبی اواز دا آیت وویل سو. یَا اَیَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّۃُ : ټولو تلاش وکی چی څوك یی وایی، خوهیچا ته معلومه نه سوه (ابن کثیر)

اوامام حافظ طبرانی په کتاب العجائب کی په خپل سند سره دفتان بن زرین ابی هشام څخه دده خپله واقعه نقل کړي ده چی دوی فرمایی یووار مونږ په روم کی قید سو اودهغه ځای دبادشاه په مخکی پیش سو، دی کافر بادشاه مونږ مجبوره کړو چی مونږ دده دین اختیار کړو اوڅوك چی انکار کوی دهغه به سره پریکول سی نو مونږ یوڅو کسان وو، په دی کی دری سړی خو دمرګ دبیری څخه مرتد سول اودبادشاه دین یی اختیارکی، څلورم سړی پیش سو، هغه دکفر کولو او دده ددین داختیارولو څخه انکار وکی نودده سریی پری کی اویو نژدی نهرته یی وغورزوی، دغه وخت خودغه سر داوبو بیخ ته ولاړی، ددی څخه وروسته بیا داوبو سرته راوختی اودی خلګوته یی وکتل اودهغوی نومونه یی واخیستل چی فلانی فلانی اوبیایی وویل چی الله ﷻ فرمایلی دی، یَا اَیَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّۃُ : ارْجِعِي إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً، فَادْخُلِي فِي عِبَادِي، وَادْخُلِي جَنَّتِي ددی څخه وروسته بیاپه اوبو کی غوټه سو.
داعجیبه واقعه ټولو حاضرینو ولیده او وایی وریده او دهغه ځای نصاراوو داولیدل او تقریبًا ټول مسلمانان سول اودبادشاه تخت وښوریدی، هغه دری سړی کم چی مرتد سوی وو، هغه ټول بیا مسلمانان سول اوبیا خلیفه ابو جعفر منصور مونږ ټول دهغه دقید څخه ازاد کړو. (ابن کثیر)

الحمد لله چی دسورة فجر تفسیرنن په ۲۱ شعبان سنه ۱۳۹۱هجری کی ختم سو، کله چی ددی ناکاره

گناهګار دعمر شپږ اويا يم (۷۶) کال ختم او اووه اويا يم (۷۷) شروع کيږي ، دغه شان دنيمی صدی څخه زيات دحق تعالی راکول سوی مهلت په غفلتونو او ګناهونو کی پر برباد ولو حسرت او افسوس چی څومره هم وی کم دی، مګر قدم په قدم دحق تعالی ﷻ دانعاماتو باران او دخپل کتاب ددی معمولی خدمت ختميدو ته درسيدو عظيم احسان هم دعفو او کرم اميد راکوی، يا من لاتضره الذنوب ولاتنقصه المغفرة هب لی ما لاينقصك واغفرلی ما لايضرك واجعلنی منَ الذين يقال لهم يآيتها النفس المطمئنه ارجعی الی ربك راضية مرضية فادخلی فی عبادی وادخلی جنتی .

﴿سورة البلد﴾

سُوْرَةُ الْبَلَدِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَهِيَ عِشْرُوْنَ اٰيَةً

سورة البلد په مکه کی نازل سو او په دی کی شل (۲۰) آيتونه دی .

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډير مهربانه نهايت رحم والا دی .

لَآ اُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ ﴿۱﴾ وَاَنْتَ حِلٌّۢ بِهٰذَا الْبَلَدِ ﴿۲﴾ وَوَالِدٍ

قسم اخلم په دی ښار ، او په تا به څه قيد پاته نه سی په دی ښکار کی ، او قسم دی په

وَّمَا وَلَدَ ﴿۳﴾ لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِیْ كَبَدٍ ﴿۴﴾ اَيَحْسَبُ اَنْ

زيږونکی او زيږيدلی ، بيشکه مونږ پيدا کړی دی انسان په محنت کی ، آيا خيال کوی هغه

لَّنْ يَّقْدِرَ عَلَيْهِ اَحَدٌ ﴿۵﴾ يَقُوْلُ اَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا ﴿۶﴾

چی په ده به وس ونه چليږي دهيچا ، وايی ما خرخ کی مال په ډيرو ډيرو

اَيَحْسَبُ اَنْ لَّمْ يَرَهٗۤ اَحَدٌ ﴿۷﴾ اَلَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ عَيْنَيْنِ ﴿۸﴾ وَلِسَانًا

آيا خيال کوی چی نه وينی دی هيڅوك ، آيا مونږ نه دی ورکړی ده لره دوې سترګی ، او ژبه

وَّشَفَتَيْنِ ﴿۹﴾ وَهَدَيْنٰهُ النَّجْدَيْنِ ﴿۱۰﴾ فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ ﴿۱۱﴾ وَمَآ

او دوې شونډی ، او ښوولی دی مونږ ده ته دوی لاری ، نو ونه ختی دی په غونډی باندی ، او ته

اَدْرٰىكَ مَا الْعَقَبَةُ ﴿۱۲﴾ فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿۱۳﴾ اَوْ اِطْعٰمٌ فِیْ يَوْمٍ ذِیْ

څه پوه سوی چی څه ده دغه غونډۍ؟ ازادول دغلام دی ، يا خورا ورکول دی ورځی

مَسْغَبَةٍ ﴿١٤﴾ يَّتِيْمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ﴿١٥﴾ اَوْ مِسْكِيْنًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴿١٦﴾ ثُمَّ

دلوږې کې ، يتيم ته چې خپلوان وي ، يا محتاج ته چې په خاورو کې ککړوي ، بيا

كَانَ مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ ﴿١٧﴾

سی دايماندارو څخه کوم چې تاکيدکوي په خپل مينځ کې په صبر سره اوتاکيد کوي په رحم کولو سره

اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ﴿١٨﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا

دغه خلق دي لوی نصيب دار ، او کوم چې منکر سوه زمونږ دآيتونو څخه

هُمْ اَصْحٰبُ الْمَشْئَمَةِ ﴿١٩﴾ عَلَيْهِمْ نَارٌ مُّؤْصَدَةٌ ﴿٢٠﴾

دغه دي کم بختي والا ، دوی به په اور کې بند کړل سو وی .

تفسير: زه قسم اخلم په دی ښار (مکه) باندی او (دقسم دجواب څخه مخکی دنبی کريم ﷺ په حق کی يوه خوشخبری ورکول سوه) تالره په دی ښارکی جنگ کول حلاليدونکی دی (چنانچی دمکی دفتح په ورځ ددوی ﷺ دپاره قتال جائزسو ، دحرم احکام باقی نه وو پاته سوی) اوقسم دی په پلاراوپه اولاد (دټول اولاد پلارادم ﷺ دی پس په ادم او انسانانو ټولو باندی قسم وسو ، مخ ته جواب دقسم دی) چی مونږ انسان په لوی مشقت کی پيدا کړی دی (چنانچی ټوله کله په مرض کی کله په غم کی کله په فکرکی اکثره وخت اخته وی اوددی مقتضا داوه چی په ده کی عجز او درماندگی پيداسوی وای اوخپل ځان يی په حکم دتقديرکی بندگنلی دحکم اورضا تابعداروای، ليکن دکافرانسان داحالت دی چی بالکل په هيره کی پروت دی نو) اياهغه داخيال کوی چی په ده به دچاوس نه چليږی (يعنی ايا دالله ﷻ دقدرت څخه خپل ځان خارج گنی کوم چی په دومره هيره کی پروت دی) او وايی چی مادومره زيات مال خرڅ کی (يعنی يوخو ځان لوی گنی بيادرسول په عداوت اومخالفت داسلام اوپه گناهونوکی خرڅ کول هنرگنی بيادروغ هم وايی چی هغه ته ډير مال وايی) اياهغه داخيال کوی چی دی چانه دی ليدلی (يعنی الله ﷻ خوليدلی دی اوهغه پوه دی چی په معصيت کی يی خرڅ کړی دی ، نو په دی به سزا ورکی ، دارنگه مقداريی هم ليدلی دی چی دومره نه دی څومره چی خلگوته يقين ورکول غواړی، داحال مطلق دکافردی چی دغه وخت ددوی ﷺ دمخالفينو دااقوال اواحوال وه غرض داسړی نه خوپه تکليف اورنج سره متاثره سو اونه په انعاماتو اواحساناتو سره، دکومو چی مخ ته بيان دی چی) ايامونږ ده لره دوی سترگی اوژبه اودوی شونډی نه دی ورکړی اوبيا مو ده ته دوی لاری دخير اوشر ښوولی دی (چی دضرر دلاری څخه ځان وساتی اوپه نافع باندی روان سی پس ددی هم مقتضا داوه چی دالله ﷻ داحکامو تابع وی) مگر هغه سړی (ددين) په غونډی کښی نه وتی (ددين کارونوته يی څکه غونډی وويل چی په نفس باندی گران دی)

اوتاته معلومه ده چی (د) غوټڅی (څخه) څه (مراد) ده هغه دچاخبت (دغلامی څخه) ازادول دی یاخوراك ورکول دی، دلوږی په ورځ یوچا قریب یتیم ته یایوپه خاورو کی ناست محتاج ته (یعنی دالله ﷻ ددی احکامو په ځای کول په کار وو) بیا (دټولو څخه زیات داچی) دهغو خلګو څخه نه سو کوم چی ایمان راوړی اویوبل ته (دایمان) دپابندی وصیت کوی اویو بل ته دترحم (پرمخلوق یعنی ظلم نه کولو) وصیت کوی (ایمان خو دټولو څخه مقدم دی، بیا امرپه ثابت قدمی په ایمان دنورو څخه افضل دی بیا دخلګو دازار څخه محفوظ کیدل دباقی څخه اهم دی بیاددی عملونو رتبه ده کمه چی د ، فَكُّ رَقَبَةٍ څخه ترمَتْرَبَةٍ پوری مذکوردی، نو دا ثُمَّ تفخیم درتبی دپاره دی، مطلب داچی په ټولو اصولو اوفروعوکی اطاعت کول په کار وو ، مخ ته د: اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا الخ دجزا بیان دی یعنی) داخلګ راسته طرف والا دی (چی دجزا تفصیل یی په سورة واقعه کی دی اودلته په دی کی مطلق اهل ایمان خواص اوعوام ټول داخل دی) او (مخ ته ددوی دمقابلینو بیان دی چی) کوم خلګ چی زمونږ دایتونو څخه منکردی (په خپله په اصولوکی مخالف دی دفروعوبه څه وایی) هغه خلګ چپه طرف والا دی پردوی به اور احاطه کوونکی وی چی بندبه سی پر (یعنی ددوږخیانو څخه به دوږخ ډك سی، دروازه به ورپسی بنده سی، څکه چی دخلودپه وجه خوبه دوی ته وتل نه ورکول کیږی)

معلومات اومسئلي: لَآ اُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ : حرف د، لَآ دلته زیات دی ، اوپه قسمونوکی داحرف زیات راوړل دعربوپه محاوروکی معروف دی اوزیاته صحیح دا ده چی داحرف د، لا دمخاطب دباطل خیال دتردید دپاره دقسم په شروع کی راوړل سی، چی معنٰی یی داوی چی تاسی کوم خیال کوی ، هغه نه دی بلکه مونږ په قسم سره وایوچی حقیقت هغه دی کوم چی مونږ بیانوو، اود: اَلْبَلَد څخه مکه مکرمه مراد ده لکه چی په سورة والتین کی هم دمکی په ښار قسم اخیستل سوی دی او ددی سره یی ددی صفت امین هم بیان کړی دی.

وَهٰذَا الْبَلَدِ الْاَمِيْنِ دمکی په ښارقسم اخیستل ددی ښار دنورو ښارونو په نسبت دشرافت او افضلیت ښوول دی، دحضرت عبدالله بن عدی ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ دهجرت په وخت کی دمکی ښارته خطاب وکی اوویی فرمایل چی (په خدای ﷻ قسم دی چی ته په ټوله مځکه کی دالله ﷻ په نزد دټولو څخه زیاته ښه اومحبوبه یی! اوکه زه یی ددی ځای څخه په وتلونه وای مجبوره کړی نوزه به ستا دمځکی څخه نه وای وتلی (رواه الترمذی وابن ماجه، مظهری)

وَاَنْتَ حِلٌّ بِهٰذَا الْبَلَدِ : په لفظ د ، حِلٌّ کی دوه احتماله دی یو دا چی دحلول څخه مشتق وی چی معنٰی یی په یوشی کی دننه ځای کیدل اوداوسیدو اوورکښته کیدوده، په دی اعتبارسره دحل معنٰی به کښته کیدونکی اواوسیدونکی وی اومراددایت به داوی چی دمکی ښارپه خپله هم محترم اومقدس دی، خصوصاً کله چی ته هم په دی ښارکی اوسیږی نو داوسیدونکی په فضیلت سره هم دمکان فضیلت زیاتیږی، په دی وجه دښار عظمت دادی چی لفظ د: حِلٌّ دمصدر د: حلّت څخه مشتق وی چی معنٰی یی دیوشی حلالیدل دی، په دی اعتبار سره دلفظ د: حِلٌّ دوی معناوی کیدی سی یوه داچی دمکی کفار یی

تاته حلال کړلی دی چی ستاپه قتل درپسی دی حال دا دی چی هغوی په خپله هم دمکی په ښارکی څه ښکار هم حلال نه ګڼی مګر دهغوی ظلم اوسرکښی تردی ځایه پوری زیاته سوې ده چی په کوم مقدس مقام باندی دیو حیوان قتل هم جائزنه دی اوپه خپله دهغه خلګوهم داعقیده ده، هلته هغوی دالله ﷺ درسول قتل اوخون یی حلال ګڼلی دی دوهمه معنٰی دحل دا هم کیدی سی چی ستا داخصوصیت دی چی ستادپاره دمکی په حرم کی دکفاروقتال حلالیدونکی دی لکه چی دمکی په فتح کی دیوی ورځی دپاره ددوی ﷺ څخه دحرم احکام لوړ سول اودکفارو قتل حلال سوی وو، په لنډتفسیرکی په دی دریمی معنٰی سره تفسیر سوی دی، په مظهری کی دری واړه معناوی ذکردی او د دری سره وو معانیو ګنجائش سته.

وَوَالِدٍ وَمَا وَلَدَ د: وَالد څخه مرادحضرت ادم ﷺ دی کوم چی دټولو انسانانو پلاردی اود، مَاولَد څخه دده اولاد مراددی کم چی دابتداء ددنیا څخه ترقیامته پوری به وی، دغه شان په دی لفظ کی په حضرت ادم ﷺ او په ټولو انسانانو قسم وسو، مخ ته دقسم جواب ذکر سوی دی.

لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي كَبَدٍ د: كَبَدْ لفظی معنٰی محنت اومشقت دی، معنٰی داده چی انسان په خپل فطرت سره داسی پیدا سوی دی چی داول عمرڅخه تراخره پوری په محنتونو او مشقتونوکی اوسیږی، حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی دحمل دابتداء څخه دموږپه رحم کی قیدپاته سو، بیا دولادت په وخت کی یی محنت اومشقت برداشت کی، بیا دمور دتی خوړلو، بیادتی څخه دخلاصولو محنت، بیادخپل معاش او دژوند دضرورتونو پوره کولو مشقت، بیا دبوډاوالی تکلیفونه، بیامرګ، بیاقبر، بیا حشر اوپه دی کی دالله ﷺ په مخکی دعملونو جواب ورکول، بیاجزا اوسزا، داټول دورونه پرده دمحنتونو راځی اودا محنت اومشقت که څه هم دانسان سره مخصوص نه دی، ټول حیوان هم په دی کی شریك دی مګر داحال یی دانسان دپاره بالخصوص ځکه وفرمایی چی اول خودی دټولو حیوانانو څخه زیات شعور اوادراك لری اودمحنت تکلیف هم په قدر دشعور زیات وی، دوهم اخری او ترټولو لوی محنت په محشر کی دوباره ژوندی کیدل دټول عمر دعملونو حساب ورکول دی، دا په نورو حیوانانو کی نسته.

ځینی عالمان فرمایی چی هیڅ مخلوق دومره مشقتونه نه تیروی، لکه څومره چی انسان برداشت کوی، سره ددی چی دی په بدن اوجثه کی داکثرو حیوانانوپه نسبت ضعیف او کمزوری دی، ظاهره داده چی دانسان دماغی قوت دټولو څخه زیات دی په دی وجه دده تخصیص وسو، په مکه مکرمه، په حضرت ادم ﷺ اوپه اولاد دحضرت ادم ﷺ یی قسم واخیستی اوحق تعالی داحقیقت بیان وفرمایی چی انسان مونږ په شدت اومحنت اومشقت کی اوددی دپاره پیداکړی دی کوم چی ددی دلیل دی چی انسان خود بخوده نه دی پیدا سوی یادی یوبل انسان نه دی زیږولی، بلکه دده پیداکوونکی یوقادرمختاردی کوم چی په خپل حکمت سره هر مخلوق ته خاص خاص مزاج او دخاصو عملونو او کارونو استعداد ورکړی پیداکړی یی دی، که دانسان په پیدائش کی په خپله دانسان څه دخل وای نو ده به دځان دپاره دا محنتونه مشقتونه هیڅکله نه وای منتخب کړی (قرطبی)

په دی قسم اوجواب دقسم کی یی انسان په دی خبردار کړی دی چی ستاسی چی کوم داخواهش دی چی په دنیاکی دی همیشه راحت پیداسی اوهیڅ تکلیف مخ ته رانه سی، داکچه خیال دی چی هیڅکله به درته حاصل نه سی ، په دی وجه ضروری ده چی هرسړی ته په دنیاکی محنت اومشقت، رنج او مصیبت پیښ سی، اوکله چی مشقت اوتکلیف خامخا راتلل دی، نو دعقلمند کار دادی چی دامحنت اومشقت دهغه شی دپاره وکی کوم چی ده ته همیشه په کار ورسی اودداثمی راحت سامان یی جوړسی اودا صرف په ایمان او اطاعتِ حق کی منحصردی .

مخ ته دغافل او دآخرت څخه دمنکر انسان دځو جاهلانه خصلتونو ذکر کوی اوفرمایی ، أَيَحْسَبُ أَنْ لَمْ يَرَهُ أَحَدٌ : یعنی آیا دابی وقوف داګنی چی ددوی بد عملونه چانه دی لیدلی، دوی لره پوهیدل په کار دی چی د دوی خالق د دوی هر یو عمل وینی .

﴿دسترګو اوژبې په پیدائش کي یوځو حکمتونه ﴾

أَلَمْ نَجْعَلْ لَهُ عَيْنَيْنِ، وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ، وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ دنجد تثنیه ده چی معنٰی یی دهغه لاری ده کومه چی دلوړ لوړوالی طرف ته ځی، مراد ددی څخه واضحه لار ده او په دی دواړو لارو کی یوه دخیر اوکامیابی ، بله دشر اوهلاکت لار ده .

په تیرو آیتونوکی دانسان په دی غفلت اوجهالت باندی خبرداری وو ، چی دی داسی ګڼی چی پرما دحق تعالی هم قدرت نسته، اودا چی دده دعملونو اوکارونو څوك لیدونکی نسته، په دی آیت کی دهغه ځو نعمتونو ذکردی کوم چی الله ﷻ دده په وجود کی داسی عطاء فرمایلی دی چی په خپله ددغو پرصنعت اوحکمت فکروکی نودحق تعالی دبی مثاله حکمت اوقدرت نظاره به په دی شیانوکی وکی په دی کی یی اول ددوو سترګو ذکر وفرمایی، دسترګو نازکی پردی، نازك رګونه په دی کی قدرتی رڼا، بیادسترګو ذکر وضع اوهیئت چی ددی نازك ترین اندام دحفاظت څومره سامان په خپله ددوی په پیدائش کی سوی دی چی دلوړی څخه یی داسی پردی په غورځولی دی چی دخودکار مشین په شان چی کله څه مضرشی مخ ته راځی نوداځو دبخوده بغیر دځه اختیار څخه بندیږی، پردی پردو سربیره یی باڼوګان درولی دی چی ګرد اوغبار منع کوی، پردی سربیره یی دوروځو وریښته ودرول چی دلوړی څخه راتلونکی شی سیده په سیده په سترګوکی ونه لویږی او دایی په مخ کی دننه داسی فټ کړی دی چی دلوړه څخه ورباندی سخت هډوکی دی، لاندی یی هم دمخ سخت هډوکی دی چی که بنده چیری پرمخ راغوځار سی یایی په مخ یو شی راسی نو لاندی باندی هډوکی یی سترګی ورمحفوظ کوی .

دوهم شی ژبه ده، ددی عجیبه اونا اشنا پیدائش اودزړه دخبرو ترجمانی کومه چی ددی پُر اسراره اوخودکاره مشین په ذریعه کیږی، ددی دکار حیروانوونکی طریقی ته وګوره چی په زړه کی یومضمون راغی ، دماغو فکر په وکی ، ددی دپاره یی عنوان اوالفاظ تیارکړل، هغه الفاظ ددی ژبی په مشین سره

راوتل شروع سو، دا دومره لوی کارڅومره په تلواری سره کیږی چی اوریدونکی ته دا احساس هم نه کیږی چی ددی الفاظو ژبی ته درا ایستلو دپاره څومره مشین وروسته کارکړی دی، دهغه څخه وروسته داکلمات ژبی ته راغلی دی، دژبی سره دشونډو ذکریی په دی وجه هم وفرمایی چی دژبی په کارکی شونډی لوی مددګاری دی، داواز اوحرفونو ممتاز شکلونه داجوړوی اوشایدپه دی وجه هم چی قدرت ژبه داسی ژر کار کوونکی مشین جوړ کړی دی چی په نیم منټ کی ددی څخه داسی کلمه هم راوزی کومه چی دی دجهنم څخه راباسی اوجنت ته یی رسوی، لکه کلمه دایمان، یاپه دنیاکی ددښمن په نظرکی دی محبوب جوړکړی لکه دتیر قصور معافی اوددی ژبی څخه په دومره وقفه کی داسی کلمه هم راوزی کومه چی دی جهنم ته رسوی لکه کلمه دکفر یاپه دنیاکی دده دلوی څخه لوی مهربان دوست دده دښمن جوړ کړی لکه ښکنځل بدی ردی او نور، لکه څنګه چی دژبی فائدی بی شمیره دی، ددی هلاکتونه هم په دی اندازکی دی ګویا دا یوه توره ده چی پردښمن هم چلیږی اوپه خپله خپله مری هم پریکولی سی، په دی وجه الله ﷻ داتوره د دوو شونډو په غلاف کی پټه کړه اودلته دشونډو ذکر کول دی طرف ته اشاره کیدی سی چی کوم مالك انسان ته ژبه ورکړه هغه ددی دمنع کولو اوبندولو دپاره شونډی هم ورکړی دی چی ددی په استعمال کی دسوچ اوپوهی څخه کار واخلی اوبی موقعی یی دشونډو دمینځ څخه نه راوباسی.

دوهم شی ددوو لارو هدایت دی یعنی الله ﷻ انسان ته دخیر اوشر ښه اوبد دپیژندو دپاره یواستعداد اوماده په خپله دده په وجودکی ایښی ده لکه چی قرآن کریم فرمایی، فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا: یعنی په نفس انسانی کی الله ﷻ دفجوراو تقوی دواړو مادی ایښی دی، نودغه شان یوابتدایی هدایت انسان ته په خپله دده دضمیر څخه ورکول کیږی، بیا ددی هدایت دتائید دپاره انبیاء اواسمانی کتابونه راغی کوم چی دغه بالکل واضح کوی.

لنډه دا چې جاهل اوغافل انسان دقدرتِ حق څخه منکرکه لږدخپل وجودپه یوڅو ښکاره شیانوباندی فکروکی نودحق دقدرت اوحکمت دکمال مشاهده به وکی، په سترګو وګوره بیاپه ژبه اقرار وکړه، بیاپه دوو لاروکی دخیر لاره اختیار کړه.

مخ ته بیاپه دی غفلت شعاری اوبی فکری خبرداری دی چی په دی روښانه دلیلونو سره دالله ﷻ دکامل قدرت اوددی په ذریعه په قیامت کی ددوباره ژوندی کیدو اودحساب ورکولو یقین کول په کار دی، ددی یقین مقتضا داوه چی ده دخدای مخلوق ته نفع اوراحت رسولی او ددوی دازارونو څخه محفوظ کیدی اوپه الله ﷻ یی ایمان راوړی وای اوپه خپله خپله اصلاح یی کړی وای او دنورو خلکو داصلاح فکریی کړی وای چی په قیامت کی په اصحاب یمین یعنی په جنتیانوکی سی، مګردی بدنصیبه داسی ونه کړل بلکه په کفرقائم پاته سوچی انجام یی دجهنم اور دی، دسورة تراخره پوری دامضمون بیان سوی دی، په دی کی دیوڅو نیکو عملونو څخه اختیارونکی یی په یوخاص انداز سره بیان فرمایلی دی.

فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ، وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْعَقَبَةُ، فَكُّ رَقَبَةٍ: عقبه دغره جګی څوکی ته هم وایی او ددوو غرونوپه منیځ کی لاری ته هم، او ددښمن څخه په نجات حاصلولو کی داعقبه دانسان مدد کوی چی غرته لوړ وخیژی

او ددښمن څخه ځان محفوظ کي یادغرونو دمینځ پر لاره بل طرف ته واوړي، دلته یې طاعات اوعبادات په عقبه سره تعبیر فرمایلی دي چي لکه څنګه عقبه دد ښمن څخه دنجات ورکولو سبب وي اونیك عملونه داخرت دعذاب څخه دنجات ذریعه جوړیږي بیاپه دي نیکو عملونوکي یې اول ، فَكُّ رَقَبَةٍ وفرمایل ، یعني یو غلام ازادول چي دایو لوی عبادت اودیو انسان ژوند جوړول دي، دوهم شی: أَوْ إِطْعَامٌ یې بیان وفرمایی چي اوږي ته خوراك ورکول ډیرلوی ثواب دي اوخوراك ورکول که هرچاته هم وي دثواب څخه خالي نه دي، مګر ځینوته ورکول ډیرلوی ثواب جوړیږي، په دي وجه ددغه لوی ثواب حاصلولو دپاره یې وفرمایل ، يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ یعني خصوصاً کله چي خوراك یوداسي یتیم لره ورکول سی دکوم سره چي ستاسي خپلولي او قرابت هم وي نوپه دي کي دوچنده ثواب وسو یودوړي خیته مړول، دوهم دقریب صله رحمي اودهغه حق اداکول: فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ یعني خصوصاًپه داسي ورځ کي ده ته خوراك ورکول په کمه کي چي هغه اوږي وي نور زیات موجب دثواب دي، دغه شان که یتیم قریب نه وي نوداسي مسکین وي دکوم غربت چي دي په خاورو کښینستونکي جوړکړي وي مراد ډیرمفلس اومحتاج دي ، او په چاچي خرڅ کیږي هغه چي څومره زیات محتاج وي هم دومره دخرڅ کوونکي ثواب زیاتیږي .

﴿دایمان تقاضا دا ده چي انسان صرف په خپله نیکي بس نه کوی نوروته هم دنیکي هدایت کوی﴾

ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ : په دي آیت کي یې دایمان څخه وروسته دمومن دافرض وښووی چي هغه نورومسلمانانو وروڼوته هم دصبر اورحمت تلقین کوی دصبرڅخه مرادنفس دبدوڅخه منع کول اوپه نیکوعمل کول ذی اودمرحمت څخه مراد دنوروپه حال رحم کول دي دهغوی تکلیف خپل تکلیف ګڼل هغوی ته دازاراوظلم څخه ځان ساتل دي په دي کي تقریباً ددین ټول احکام راغلل

تمّت سورة البلد بحمد الله تعالی ۲۳ شعبان سنه ۱۳۹۱ هـ

﴿سورة الشمس﴾

سُورَةُ الشَّمْسِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ فِي خَمْسَ عَشْرَةَ آيَةً

سورة شمس په مکه کي نازل سو او په دي کي پنځلس (۱۵) ایتونه دي .

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چي ډیر مهربانه نهایت رحم والا دي .

وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا ۞۱ وَالْقَمَرِ إِذَا تَلَاهَا ۞۲ وَالنَّهَارِ إِذَا جَلَّاهَا ۞۳

قسم دی په لمر او په غرمو دده ، او سپوږمی کله چي په لمر پسي راسي، او په ورځ کله چي دا روښانه کړي

وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَاهَا ۞۴ وَالسَّمَاءِ وَمَا بَنَاهَا ۞۵ وَالْأَرْضِ وَمَا طَحَاهَا ۞۶

او په شپه کله چي دا پټه کړي ، او په آسمان او دده په جوړونکي ، او په ځمکه او په غوړولو ددی ،

وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰىهَا ۝۷ فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوٰىهَا ۝۸ قَدْ

او په نفس او په جوړولو دده ، بیا یې پوه کې دی په بدیو دده او نیکیو دده ، په

اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰىهَا ۝۹ وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰىهَا ۝۱۰ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ

تحقیق مراد ته ورسیدی چا چې ځان پاك کی ، او نامراده سو چا چې دی په خاورو کی غورځول پرینبوی ، دروا غجن کی ثمودیانو ،

بِطَغْوٰىهَا ۝۱۱ اِذِ انْۢبَعَثَ اَشْقٰىهَا ۝۱۲ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ

په خپل شرارت سره ، هرکله چې پورته سو په دوی کی لوی بدبخت ، بیا وویل دوی ته دالله رسول خبردار

نَاقَةَ اللّٰهِ وَسُقْيٰهَا ۝۱۳ فَكَذَّبُوْهُ فَعَقَرُوْهَا ۝ فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ

وسی دالله ﷻ داوښی څخه او ددې داوبو دوار څخه ، بیا هغوی دروا غجن کی هغه بیایی پښی پریکړی دهغه نو

رَبُّهُمْ بِذَنْۢبِهِمْ فَسَوّٰىهَا ۝۱۴ وَلَا يَخَافُ عُقْبٰهَا ۝۱۵

هلاکت نازل کی په هغوی رب دهغوی په سبب دګناهونو دهغوی بیایی برابرکړل تول ، او هغه نه بریږي د دوی دانجام څخه

تفسیر: قسم دی په لمر اودده په رڼا او په سپوږمی کله چې دلمر دپریوتو څخه وروسته راسی (یعنی راوخیژی، اودا قید شاید ځکه وی چې دغه وخت دړنا کمال وی لکه چې ضُحٰهَا اشاره ده کمال دړنا دلمرته اویا دغه وخت دوی نښانې دقدرت پرلپسی متصل ظاهریږی دلمر پریوتل او دسپوږمی راختل) او (قسم دی) په ورځ کله چې هغه دا (لمر) ښه روښانه کړی او (قسم دی) په شپه کله چې هغه دا (لمر اودده اثار اوانوار بالکلیه) پټ کی (یعنی ښه شپه سی چې دورځی دړنا هیڅ اثر پاته نه سی اوځلور شیان په کموچی قسم اخیستل سوی دی، په دی کی چې کوم قیدونه لګول سوی دی دغه ددوی دکمال په اعتبار سره دی، یعنی هریو قسم ددوی دکمال دحالت په اعتبار سره دی) او (قسم دی) په آسمان او په هغه (ذات) کوم چې داجوړکی (مراد الله ﷻ دی دغه شان په مَاطَحٰهَا وَمَاسَوّٰهَا کی هم ، او په مخلوق قسم په خالق دقسم څخه مخکی فرمایل ځکه کیدی سی چې په دی کی ذهن ددلیل څخه دمدلول طرف ته منتقل کول دی ځکه چې مصنوع دلیل دی پرصانع، نو په دی کی پرتوحید باندی ددلیل طرف ته هم اشاره وسوه) او (قسم دی) په مزکه او په هغه (ذات) چاچې دا خپره کړه او (قسم دی دانسان) په روح او په هغه (ذات) چاچې دی (په هرصورت شکل او اعضاوو سره) سم جوړکی، بیایی دده بدعملی او پرهیزګاری (ددواړو خبرو) ده ته القاء وکړه (دا اسناد په اعتبار دتخلیق دی یعنی په زړه کی چې کوم دنیکی رجحان کیږی یا کوم چې دبدی طرف ته میلان کیږی د دواړو خالق الله ﷻ دی ، که څه هم داولنی القاء په واسطه دملائکی وی او

دوهم دشیطان، بیادغه رجحان اومیلان کله مرتبې دعزم ته رسیږي کوم چي دانسان په قصد او اختیار سره صادریږي، په دې قصد او اختیار باندې عذاب اوثواب مرتب کیږي دکوم څخه وروسته چي صدور دفعل په تخلیق دحق وي اوکله عزم ته نه رسیږي، دغه معاف دي، مخ ته دمضمون دتکمیل دپاره دفاجرانو اوتقوی دارو انجام ښیي چي) یقینًا هغه مرادته ورسیدل چاچي دا (روح) پاك کي (یعني نفس یې دګناهونو څخه منع کي اوتقوی یې اختیار کړه) اونا مراده سو چاچي دی (په ګناهونو کي) ډوب کي (اوپر ګناهونو یې مغلوبه کي، ددې څخه وروسته دقسم جواب مقدردی، یعني ای دمکې کفارو! کله چي تاسي فاجران یاست نوخامخا به په غضب اوهلاکت کي اخته سی، په اخرت کي خو یقینًا اوپه دنیاکي خیني وخت لکه چي قوم دثمود ددې فجورو په وجه دغضبِ الهي اودعذاب مستحق جوړسول دکمو چي دا قصه ده چي) قوم دثمود دخپل شرارت په سبب (دصالح ﷺ) تکذیب وکی (او دا دهغه زماني قصه ده) کله چي په هغه قوم کي کوم چي دټولو څخه زیات بدبخت وو هغه (داوښې دقتلولو دپاره) راپورته سو (یعني تیار سو اوډده سره نورخلګ هم شریك وه) نودغوخلګو ته دالله ﷻ پیغمبر (صالح ﷺ) کله چي ورته ددې دقتلولو دعزم اطلاع وسوه، لکه داسي چي په خازن کي دي) وفرمایل چي دالله ﷻ د (دې) اوښې څخه اوددې داوبو چښلو څخه خبردار سی (یعني دا قتلوی مه اومه ددې اوبه بندوی، چونکي دقتل دارادې اصل سبب هم داوبو واری وو په دې وجه ددې وضاحت یې وفرمایی اودالله ﷻ اوښه یې ورته ځکه وویل چي خدای ﷻ دا دمعجزې په طورپه عجیبه شان سره پیدا کړه اودنبوت دلیل یې جوړکی ، اوددا احترام یې واجب کی) پس هغوی پیغمبر (یعني دنبوت دلیل کم چي دناقة الله په ذریعه ظاهرسو) درواغجن کی (ځکه چي هغه دغو خلګونبي نه مني) بیایې دغه اوښه مړه کړه نودهغوی پروردګار دهغوی دګناه په سبب پرهغوی هلاکت نازل کی، بیادا (هلاکت) یې (دټول قوم دپاره) عام کی اوالله ﷻ ته ددې هلاکت په اخرکي دڅه خرابی راوتلو اودچا څخه څه) اندیښنه ونه سوه (لکه ددنیا بادشاهانو ته چي خیني وخت یوقوم ته دسزا ورکولو څخه وروسته احتمال وي چي پردې به په ملك کي څه هنګامه او شور مرتب نه سی ، دثمود او داوښې مفصله قصه په سورة اعراف کي تیره سوي ده)

معلومات اومسئلې: ددې سورة په شروع کي په اوو شیانو قسم راغلی دی اوددې شیانو سره ددوی دکمال دحالت په اعتبار سره څه اوصاف اوقیدونه ذکرسوی دی اولنی قسم: وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا دی، دلته که څه هم ضُحٰی یې په عطف دواو سره ذکر کړی دی، مګرپه قرینه دوروسته راتلونکو اشیاوو د، ضُحٰی ذکرپه طور دوصف دشمس دی، یعني قسم دی په لمرکله چي په هغه وخت د: ضُحٰی یعني غرمه کي وي، ضُحٰی هغه وخت ته ویل کیږي کله چي لمر راوخیژي لږ رالوړ سی اوړنا یې پرمزکه خپوره سی، دغه وخت هغه انسان ته نژدې په نظر راځي اوګرمي زیاته نه وي، په دې وجه ورته ښه کتل کیږي هم.

د دوهم قسم: وَالْقَمَرِ إِذَا تَلَاهَا دی، یعني په سپوږمۍ قسم دی کله چي هغه په لمر پسي راسي، ددې مطلب داهم کیدی سی چي کله سپوږمۍ دلمر دپریوتلو څخه وروسته را وخیژي اودادمیاشتی په مینځ کي وي کله چي میاشت تقریبًا مکمله وي اودوروستو راتلو دامطلب هم کیدی سی چي لکه څنګه چي دڅابسه

په وخت کی لمرپه کمال سره په نظرراځی، دغه شان کله چی سپوږمی دده څخه وروسته راسی یعنی په کامليدو کی دلمر تابع سی.

دریم قسم، وَالنَّهَارِ إِذَا جَلَّاهَا د: جَلَّهَا ضمیر مځکی یاددنیا طرف ته هم راجع کیدی سی، که څه هم ددی څخه مځکی دمځکی یاددنیا ذکرنه دی راغلی، مګر دعربوپه محاوروکی داسی څو شیان دی کوم چی عمومًا دانسانانوپه مځکی وی، ددغو طرف ته بغیر دذکرِ دما سبق څخه هم ضمیر راجع کول مشهور اومعروف دی اوپه قرآن کریم کی هم ددی نظائر موجود دی، په دی اعتبار سره معنی داسوه چی قسم دی په ورځی اوپه دنیا یامځکه کومه چی ورځی روښانه کړي ده، په دی کی هم اشاره دی طرف ته ده چی دورځی قسم ددی حالت په اعتبار سره دی کله چی داپوره روښانه سی اودعبارت په اعتبار سره ظاهره ده چی داضمیر دلمر طرف ته راجع وی، په دی صورت کی به معنی داوی چی قسم دی په ورځی کله چی دغه لمر روښانه کړی، دا اسنادبه مجازی وی اومطلب به داوی چی کله دورځی راختوپه سبب لمر روښانه په نظر راسی.

څلورم قسم، وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَاهَا یعنی قسم دی په شپه کله چی داپه لمر راخپره سی یعنی دلمر رڼاپټه کړی.

پنځم قسم، وَالسَّمَاءِ وَمَا بَنَاهَا په دی کی دسباق دنظم په اعتبار سره زیاته واضحه خبره داده چی په مَابَنٰهَا کی یی صرف مامصدریه مقررکړی اومعنی داواخیستل سی چی قسم دی په آسمان او ددی په جوړوونکی، لکه چی په قرآن کریم کی دی بِمَا غَفَرَلِیْ رَبِّیْ.

دغه شان شپږم قسم، وَالْأَرْضِ وَمَا طَحَاهَا: دی، په دی کی ماپه معنی دمصدر چی واخیستل سی، ترجمه داسوه چی قسم دی په مځکه او ددی په خپرولو، ځکه چی طحو مصدر په معنی دغوړولوخپرولو راځی په دی کی دآسمان سره دجوړولو اودمځکی سره دغوړولو خپرولو ذکرهم دغه حالت دکمال ښیی. چی قسم دی دآسمان په هغه حالت کله چی دده تخلیق اوتکوین مکمل سو اوقسم دی په مځکه کله چی یی دا خپره کړه اوددی تخلیق مکمل سو دحضرت قتاده ﷺ اونورو څخه داتفسیر منقول دی. کشاف اوبیضاوی اوقرطبی دا اختیارکړی دی، اوځینومفسرینوحضراتودلته صرف ما په معنی د، مَنْ اخیستی دی، ددی مرادیی دحق تعالی ذات اخیستی دی، چی قسم دی په اسمان اوددی په جوړونکی، دغه شان د: وَالْأَرْضِ وَمَا طَحَاهَا مطلب یی بیان کړی دی چی قسم دی په مځکه او ددی په خپروونکی مګردلته څومره قسمونه چی تراوسه پوری بیان سول اوکم چی مخ ته راځی، هغه ټول دمخلوقاتو قسمونه دی، په مینځ کی دذات حق قسم اخیستل دنسق اوترتیب څخه بعید معلومیږی، اوپه دی صورت کی کوم چی لورلیکل سوی دی دا اشکال هم نه لازمیږی چی دمخلوقاتو قسم یی په ذاتِ خالق باندی مخکی ولی بیان کی. والله تعالی اعلم

اووم قسم دی، وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا: په دی کی هم چی ما مصدریه واخیستل سی، نو معنی دا ده چی قسم دی، په انسانی روح او ددی په سم اومتناسب کولو اوکه ماپه معنی د، مَنْ واخیستل سی نومعنی به دا وی چی قسم دی په نفس اودده په برابر اوسموونکی، تسویه یعنی درست اوبرابر کولو مطلب ددی څخه په

مخکې سورتونو کې راغلي دي .
فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا د: اِلْهَام معنٰی په زړه کې غورځول دي ، دفجور معنٰی ښکاره گناه، اودتقوٰی معنٰی معروف اومشهوره ده، داجمله هم داووم قسم: وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا سره مربوط ده، یعنی الله ﷻ نفس انساني جوړکې ، بیایې ده په زړه کې دفجور اوتقوٰی دواړو الهام وکې ، مراد دا دي چې دنفس انساني په تخلیق کې حق تعالٰی دگناه اوطاعت دواړو مادې اواستعداد ایښې دي، بیایې انسان ته یوخاص قسم اختیار اوقدرت ورکړیدې چې هغه په خپل قصد اواختیار سره دگناه لار اختیاروي یادطاعت، کله چې هغه په خپل قصد او اختیار سره ددې څخه کومه یوه لار اختیارکړي، نو په دې قصد اواختیارباندې ده ته ثواب یاعذاب ورکول کیږي، په دې تفسیر سره هغه شبهه رفع سوه چې گناه اوطاعت کله چې په خپله دانسان په تخلیق کې اینبوول سوې دي، نوهغه ددې پرکولو مجبورسو ، په داسې صورت کې خوهغه نه دڅه ثواب مستحق دې نه دعذاب، اودا تفسیر دیو مرفوع حدیث څخه مستفاد دې، کوم چې په صحیح مسلم کې دحضرت عمران بن حصین ﷺ په روایت سره راغلی دی چې ځینې خلگو دنبي کريم ﷺ څخه دتقدیر دمسئلې په حقله پوښتنه وکړه نودوې ﷺ په جواب کې دا ایت تلاوت وفرمایی په دې آیت سره دتقدیر دمسئلې دشبهې جواب په دې صورت کې کیدې سی، کله چې دالهام دفجور اوتقوٰی څخه مراد دا واخیستل سي چې ددواړو مادې اواستعدادونه حق تعالٰی په نفس انساني کې اینبې دي مگر دي په دې کې يې پریوه مجبوره نه دي جوړ کړې بلکه ده ته يې قدرت او اختیار ورکړې دې چې په دې کې کومه چې يې زړه غواړي اختیارولی يې سي .
دحضرت ابوهریره ﷺ اوابن عباس ﷺ څخه روایت چې نبي کريم ﷺ به کله دا آیت تلاوت وفرمایی نو په لوړ اواز سره به يې دا دعا وويله ، اَللّٰهُمَّ اٰتِ نَفْسِيْ تَقْوَاهَا اَنْتَ وَلِيُّهَا وَمَوْلَاهَا وَاَنْتَ خَيْرُ مَنْ زَكّٰهَا: یعنې یاالله! زمانفس ته دتقوٰی توفیق ورکې، ته زما دنفس ولي اومربي يې .

ددې اوو قسمونو څخه وروسته په جواب دقسم کې فرمايي ، قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكَّاهَا، وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسَّاهَا یعنې مراد پیداکې هغه سړي چاچې خپل نفس پاك کې، دتزکیه اصل معنٰی باطنی پاکې ده، مراد دادي چې چا دالله ﷻ اطاعت وکې او خپل ظاهر اوباطن يې پاك کړل، اومحروم سو هغه سړې چاچې خپل نفس دگناهونو په چکروکې ومښلوې، لفظ دَسّٰى دَسٌّ څخه مشتق دې چې معنٰی يې په مځکه کې دفن کول دي ، لکه چې الله ﷻ فرمايي ، اَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ ، اوځینې مفسرین دلته په زکّٰى اودسّٰى کې په دواړو کې ضمیر دفاعل دالله ﷻ طرف ته راجع کوي اومعنٰی داکوي چې بامراده سو هغه سړې څوك چې الله ﷻ پاك کې او نامراده اومحرومه سوهغه څوك چې الله ﷻ په گناهونوکې ومښلوې، دې آیت ټول انسانان په دوو ډلوکې تقسیم کړل، یوبامراد بل نامراد ، مخ ته ددې دوهم قسم خلگویوه واقعه په طور دمثال پیش کوي او د دوې دبد انجام څخه يې بیروې چې دې نامرادو ته په اخرت کې سخته سزاخوبه ورکول کیږي، ځینې وخت په دنیا کې هم دوې ته دسزا یوه برخه ورکول کیږي لکه قوم ثمود ته چې ورپیښه سوه، ددوې واقعه په تفصیل سره په سورة اعراف کې تیره سوې ده ، دلته يې ورته اجمالي اشاره وفرمایله او د دوې

دعذاب بیان یی وفرمایی .

فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُمْ بِذَنْۢبِهِمْ فَسَوّٰىهَا : دمدمه داسی سخت عذاب ته ویل کیږی کوم چی پریوه سړی یاقوم بار بار راځی ، ترڅو چی دوی بالکل ختم کړی اود ، فَسَوّٰىهَا مطلب دا دی چی دا عذاب په ټول قوم محیط سو ، په کوم کی چی سړی ښځی ، کوچنیان بوډاګان ټول برابر سول ، په اخرکی فرمایی ، وَلَا يَخَافُ عُقْبٰهَا یعنی دالله ﷻ عذاب اودیو قوم دتباه کولو معامله ددنیا دمعاملوپه شان مه ګڼی چی په دی کی دلوی ځخه لوی بادشاه صاحب قوت اوشوکت هم کله چی دیوقوم سره داسی معامله کوی ، په کومه کی چی دټول قوم هلاکت وی ، نوده ته په خپله هم داخطره وی چی هسی نه ددوی پاته یاددوی مددګار خلګ زمونږ ځخه بدل واخلی اوبغاوت وکی ، غرض داچی په دنیاکی دنورو وژل په خپله هم بی خطری نه وی . ځوک چی په نورو حمله کوی ، دده په ځان دحملی خطره هم لازمًا برداشت کول وی بغیر دحق تعالی ﷻ ځخه چی ده لره هیڅ وخت هم دچا ځخه څه خطره نه وی .

تمّت سورة الشمس بحمد الله تعالی ۲۴ شعبان سنه ۱۳۹۱ھ

﴿سورة الیل﴾

سُوْرَةُ الَّيْلِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اِحْدٰى وَعِشْرُوْنَ اٰيَةً

سورة الیل په مکه کمی نازل سو او په دی کی یویشت (۲۱) آیتونه دی .

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی .

وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى ۝۱ وَالنَّهَارِ اِذَا تَجَلّٰى ۝۲ وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ

قسم دی په شپه کله چی خپره سی ، او په ورځ کله چی روښانه سی ، او په هغه کوم چی هغه پیدا کړل نر

وَالْاُنْثٰۤى ۝۳ اِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتّٰى ۝۴ فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى وَاتَّقٰى ۝۵

اوښځی ، بیشکه ستاسو کړه قسم قسم ده ، نو چاچی ورکړل او وبیریدل ،

وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى ۝۶ فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْيُسْرٰى ۝۷ وَاَمَّا مَنْۢ بَخِلَ

او رښتنی یی وګڼله ښه خبره ، نو دوی به مونږ ورسوو کرار کرار آسانی ته ، او چاچی بخل وکی

وَاسْتَغْنٰى ۝۸ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنٰى ۝۹ فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْعُسْرٰى ۝۱۰

او بی پرواه سو ، او درواغ یی وګڼله ښی خبری ، نو مونږ به ورسوو دی کراړ ګرانی ته ،

وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهُ إِذَا تَرَدَّىٰ ﴿١١﴾ إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَىٰ ﴿١٢﴾

او په کار به ورنه سی ده ته مال دده کله چي دی کندی ته واچول سی، زمونږ ذمه ده لار ښوول،

وَإِنَّ لَنَا لَلْآخِرَةَ وَالْأُولَىٰ ﴿١٣﴾ فَأَنذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظَّىٰ ﴿١٤﴾

او زمونږ په لاس کی دی آخرت اودنیا، پس ما واوروی تاسی ته خبر دلمبی وهونکی اور،

لَا يَصْلَاهَا إِلَّا الْأَشْقَى ﴿١٥﴾ الَّذِي كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٦﴾ وَسَيُجَنَّبُهَا

وبه رسیږی ده ته کوم چي لوی بدبخت دی، چا چي دروا غجن کی اومخ یی واړ وی، اوخلاص به کړی ددغه

الْأَتْقَى ﴿١٧﴾ الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾ وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُ

ځخه لوی بیریدونکی، کوم چي ورکوی خپل مال د زړه پاکولو دپاره، او نسته په ده دچا ځه

مِن نِّعْمَةٍ تُجْزَىٰ ﴿١٩﴾ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْأَعْلَىٰ ﴿٢٠﴾

احسان چي یی بدله ورکوی، مګر دپاره دحاصلولو درضا دخپل رب چي ډیر برتردی

وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ ﴿٢١﴾

او مخکښ به هغه راضی سی.

لنډتفسير: قسم دی په شپه کله چي هغه (لمر اوورځ) پټ کړی او (قسم دی) په ورځ کله چي هغه روښانه سی او (قسم دی) په هغه (ذات) چا چي نر او ماده پیدا کړل (مراد الله ﷻ دی، مخ ته جواب دقسم دی چي) بیشکه ستاسی کوششونه (یعنی عملونه) مختلف دی (اودغه شان یی ثمری هم مختلفی دی) نو چا چي (دالله ﷻ په لاره کی مال) ورکی اودالله ﷻ ځخه وبیریدی اوښه خبره (یعنی دین اسلام یی) رښتنی وګڼی، نومونږ به ده لره دراحت دشیانو دپاره سامان ورکو (دراحت دشی ځخه نیک عمل اوپه واسطه دنیك عمل جنت مراددی چي د: یُسر سبب اومحل دی، په دی وجه یُسرٰی وویل سو کنه نود: یُسرٰی معنٰی ده اسان شی) اوچا چي (دواجبو حقوقو ځخه) بخل وکی او (پر ځای دخدای دبیری یی دخدای ځخه) بی پرواهی اختیار کړه اوښه خبره (یعنی دین اسلام) یی درواغجن کړی نو مونږ به ده ته دتکلیف دشی دپاره سامان ورکو (دتکلیف دشی ځخه بدعمل اوپه واسطه دبدعمل دوږخ مراددی چي د: عُسر سبب اومحل دی، په دی وجه یی دغسی عسرته عُسرٰی وویل اودسامان ورکولو ځخه مراد دواړه ځایه دادی چي ښه یابدکار دده دپاره اسان سی اوبی تکلفه ورځخه بیا کیږی اودغسی اسباب جمع سی، بیانیك عملونه سامان

دجنت کیدل او بد عملونه سامان ددوږخ کیدل ظاهردی، په حدیث کی دی، څوك چی دنیك بختو څخه وی نوده ته دنیك بختو عمل اسان سی اودغه شان څوك چی بدبخت وی هغه ته دبدبختو) او (مخ ته دصاحب عُسرٰی دحال ذکردی چی) دده مال به دده هیڅ په کار ورنه سی ، کله چی هغه بربادیږی (دبربادی څخه مراد جهنم ته تلل دی) واقعی زمونږ په ذمه (دخپلی وعدی مطابق) لار ښوول دی (نو دغه مونږ په پوره طور سره ښوولی ده بیا چا دایمان او اطاعت لار اختیار کړه چی ذکریی په مَنْ بَخِلَ الخ کی سوی دی) او (چی څنګه لار یوسړی اختیارکړی هغه شان ثمره به هغه ته ورکوو څکه چی) زمونږ په قبضه کی دی اخرت اودنیا (یعنی په دواړوکی زمونږ حکومت دی، په دی وجه په دنیاکی مونږ احکام مقرر کړل اوپه اخرت کی به په مخالفت اوموافقت باندی جزا اوسزا ورکو، چی بیان یی دوه ځایه په سَنُيَسِّرُهُ کی سوی دی، مخ ته په طور دصفایی اووضاحت ارشاد دی چی ماکومی تاسی ته دمختلفو عملونو مختلفی سزاګانی ښوولی دی) نوزه تاسی دیولمبو وهونکی اور څخه بیروم (په کوم چی جمله د: فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرٰی دلالت کوی چی ایمان اوطاعت چی ذکریی په أَعْطٰی الخ کی دی اختیار کړی، ددغه اور څخه به محفوظ سی اودکفر اومعصیت چی ذکر یی په بَخِلَ الخ کی دی په اختیارولو دوږخ ته مه ځی څکه چی دغه ته دتللو اونه تللو دغه اسباب دی چنانچی مخ ته ددی وضاحت دی چی) په دی کی به (دهمیشه دپاره) هغه بدبخت داخلیږی کوم چی (حق دین) درواغجن کړی او (ددی څخه یی) روی ګردانی وکړه اوددی څخه به داسی سړی لیری ساتل کیږی کوم چی لوی پرهیزګار دی کم چی خپل مال محض په دی غرض سره ورکوی چی (دګناهونو څخه) پاك سی (یعنی محض دحق رضا دده مطلوب وی) او بغیر دخپل عالی شان پروردګار درضا جویی څخه (چی دادده مقصود دی) دده پرذمه دچا احسان نه وو چی (په دی ورکړی سره دده بدله ورکول (مقصود) وی (په دی کی نهایتی مبالغه ده، په اخلاص کی، څکه چی دچا بدله خلاصول هم فی نفسه مستحب اوښه اوموجب دثواب دی، مګرپه فضیلت کی دابتدایی احسان برابرنه دی پس کله چی ددی سړی دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کول ددی څخه هم مبراء دی نودریا اونورو ګناهونو دګډون څخه به په درجه اولی بری وی اوداکمالِ اخلاص دی) او (داسی سړی دپاره لوړ صرف دجهنم څخه محفوظ کیدل مذکور وه، مخ ته داخرت دنعمتونو حاصلیدل فرمایی چی) داسړی به ډیر ژر خوشحاله سی (یعنی په اخرت کی به ورلره داسی داسی نعمتونه ورکول سی په کومو سره چی به ده ته دائمی خوشحالی نصیب سی)

معلومات اومسئلي: إِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتّٰى : دا داسی جمله ده لکه چی په سورةِ انشقاق کی ذکر سوه ، إِنَّكَ كَادِحٌ إِلٰى رَبِّكَ كَدْحًا: چی تفسیریی مخکی تیرسوی دی مطلب دادی چی انسان په خپل فطرت سره دځه نه ځه کارد پاره دسعی اوعمل اوجد اوجهد عادت دی مګرخینی خلک په خپل جد اوجهد اومحنت سره ددائمی راحت سامان کوی اوخینی نورپه خپل دی محنت سره دائمی عذاب اخلی لکه چی په حدیث کی دی چی هرانسان سهار پورته کیږی نوخپل نفس پرتجارت لګوی، څوك خوپه دی تجارت کی کامیابیږی اوخپل ځان داخرت دعذاب څخه ازادوی اوڅوك داسی هم وی چی دده محنت اوسعی اوعمل دده دهلاکت سبب

جوړیږي مګر دعقل کار دادی چې اول دخپل سعی اوعمل انجام ته سوچ وکی اوچې دکوم عمل په انجام کی وقتی ارام اولذت وی ، مګر ددائمی عذاب اوغم سبب جوړیږی ، هغه ته نه نژدی کیږی .

(دسعي اوعمل په اعتبار سره دانسانانو دوی ټولګي)

مخکی قرآن کریم دسعی اوعمل په اعتبار سره دانسانانو دوی ټولګی وښوولی او د دواړو دری دری صفتونه یی ذکر کړل، اوله ډله دکامیابو خلګوده، ددوی دری عملونه دا دی ، فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى وَاتَّقٰى وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى : یعنی چاچی دالله ﷻ په لاره کی مال خرڅ کی اودالله ﷻ څخه وبیریدی او دژوند په هره شعبه کی یی دده داحکامو دخلاف ورزی څخه یی ځان وساتی، اوچاچی دښی خبری تصدیق وکی، دښی خبری څخه مراد کلمه دایمان لآ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ ده (لکه چی داسی ویلی دی ابن عباس ؓ، ضحاك اوسدی) ددی کلمی دتصدیق څخه مراد ایمان راوړل دی، اوکه څه هم ایمان دټولو عملونو روح اودټولو څخه مقدم دی ، دلته ددی دوروسته کولو شاید وجه دا وی چی دلته ذکردسعی عمل اوجد اوجهد دی اودغه عملونه دی، ایمان خویو قلبی شی دی چی په زړه کی دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ تصدیق وکی ، بیاپه ژبه سره هم ددی اقرار دکلمه شهادت په ذریعه وکی اوظاهره ده چی په دی دواړو شیانوکی څه جسمانی محنت نسته نه څوك دا دعملونو په فهرست کی شمیری .

د دوهمی ډلی یی هم ددریو عملونو ذکر وفرمایی ، وَاَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنٰى، وَكَذَّبَ بِالْحُسْنٰى یعنی چاچی دالله ﷻ په لاره کی دخرڅ کولو څخه بخل وکی چی دفرض زکوٰة اوواجبو صدقو ادا کولو څخه یی منع وکړه او دالله ﷻ څخه دبیریدو اوهغه ته دکښته کیدو او اطاعت اختیارولو پرځای یی دهغه څخه ځان بی پروا اوبی حاجته کی اوښه خبره یعنی دایمان کلمه یی دروا غجنه کړه، په دی دواړو ډلوکی داولی ډلی په باره کی فرمایی: فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْيُسْرٰى د ، یُسْرٰی لفظی معنٰی ده اسان اوارام ورکوونکی شی چی مشقت په کی نه وی، مراد ددی څخه جنت دی، دغه شان ددی په مقابله کی دبلی ډلی په حقله فرمایی: فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْعُسْرٰى دعُسْرٰی لفظی معنٰی مشکل اوتکلیف ورکوونکی شی دی، مراد ددی څخه جهنم دی اومعنٰی ددواړو جملو داده چی کوم خلګ خپل سعی اومحنت په اولنیو دریو کارونوکی لګوی یعنی دالله ﷻ په لارکی یی خرڅوی اودالله ﷻ څخه بیره او دایمان تصدیق کوی، داخلګ مونږ د ، یُسْرٰی یعنی دجنت دکارونو دپاره اسانوو اوکوم خلګ چی داسعی اوعمل په نورو دروکارونوکی لګوی دوی مونږ د عُسْرٰی یعنی دجهنم دکارونو دپاره اسانوو، دلته په ظاهره مقتضا دمقام ددی ویلو وو چی ددوی دپاره به دجنت عملونه یاددوزخ عملونه اسان سی، ځکه چی اسان یامشکل کیدل دعملونو صفت کیدی سی نوپه خپله ذاتونه اواشخاص نه اسانیدی سی اونه مشکل کیدی سی، مګر قرآن ددی تعبیر داسی وفرمایی چی په خپله ددی خلګو ذاتونه او وجودونه به ددی عملونو دپاره اسان سی، په دی کی اشاره ددی خبری طرف ته ده چی ددوی طبیعتونه اومزاجونه به داسی جوړسی چی داولی ډلی طبیعتونه به دجنت عملونه جوړسی، ددی په خلاف کولو به دوی ته تکلیف محسوسیږی، دغه شان دبلی ډلی مزاج به داسی جوړسی چی دجهنم کارونه به یی خوښ وی په دغوکی به ورته راحت ورکول کیږی، دجنت دعملونو څخه

به یې نفرت وي، ددې دواړو ډلو په مزاجونو کې ددې کیفیت پیدا کول یې په دې سره تعبیر وفرمایې چې دوی به په خپله ددې کارونو دپاره اسان سي، په یو مرفوع حدیث کې ددې تائید داسې راځي چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي.

اِعْمَلُوْا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَاخُلِقَ لَهُ أَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ السَّعَادَةِ فَسَيُيَسَّرُ لِعَمَلِ أَهْلِ السَّعَادَةِ وَأَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الشَّقَاءِ فَسَيُيَسَّرُ لِعَمَلِ أَهْلِ الشَّقَاوَةِ (رواه البخاري ومسلم عن علي ﷺ)

یعنې تاسې چې کوم عمل کوی، هغه کوی ځکه چې دهرسړي دپاره هغه کار اسان سوی دی دکوم دپاره چې هغه پیدا سوی دی، په دې وجه کوم چې نیك بخت خوش نصیبه دي نودنیك بختو عملونه د دوی طبعي رغبت جوړ سي، او کوم چې بدبخته او بدنصیبه یعنې دوږخیان دي د دوی دپاره دبدبختو عملونه کول مزاج او طبیعت جوړ سي.

مګر دا دواړه شیان دخپل خدای ورکړی استعداد داستعمالولو په نتیجه کې ورکول کیږي، په دې وجه په دې دعذاب او ثواب مرتب کیدل مستبعد نه سي ګڼل کیدی.

ددې ځخه وروسته بدنصیبه ډلې دوږخیانو ته خبرداری دی، وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهُ إِذَا تَرَدَّى: یعنې دکوم مال په خاطر چې دی کم بختانو په واجبو حقونو کې هم بخل کوی، دامال به پر ده دعذاب راتلو په وخت کې هیڅ کار ورنه کړي د: تَرَدَّى لفظي معنی کندې ته غورزیدل او هلاکیدل دی، مراد دادی چې دمرګ ځخه وروسته په قبر کې او بیا په قیامت کې چې کله هغه دجهنم کندې ته غورزیدونکی وي نو دا مال به ده ته هیڅ نفع ورنه کي.

لَا يَصْلَاهَا إِلَّا الْأَشْقَى، الَّذِي كَذَّبَ وَتَوَلَّى، دا دجهنم داور دحال بیان دی چې په دې کې به داخل نه سي، مګر هغه سړي کوم چې بدنصیبه دي او کوم چې دالله ﷺ او رسول تکذیب کوی او د دوی داطاعت ځخه مخ اړوی او دا ظاهره ده چې دالله ﷺ او درسول تکذیب کوونکی صرف کافر کیدی سي، ددې ځخه په ظاهره داګڼل کیږي چې مومن ګناهګار کم چې دتکذیب مجرم نه وي جهنم ته به نه ځي، حال دادی چې دقرآن او حدیث بې شمیره نصونه ددې ځخه ډك دي، چې مومن هم چې کومه ګناه کوی که ده دهغه ځخه توبه ونه کړه یادچا په شفاعت سره یا خالص په رحمت سره دی معاف نه سو نو هغه به هم جهنم ته ځي او دخپلو ګناهونو دسزا ترتیرولو پورې به په جهنم کې وي، البته دسزا تیرولو ځخه وروسته به دجهنم ځخه ایستل کیږي او بیا به په برکت دایمان جنت ته داخل سي، په ظاهره ددې آیت الفاظ ددې ځخه خلاف دي، په دې وجه ضروري ده چې مراد ددې آیت هغه وي کوم چې دقرآن دنورو آیتونو او صحیح احادیثو خلاف نه وي، ددې ډیره اسانه توجیه هغه ده کومه چې په لنډ تفسیر کې را اخیستل سوي ده، چې دلته دجهنم ددخول ځخه مراد هغه دخول دی کوم چې دهمیشه دپاره وي او داسې دخول صرف دکافر سره مخصوص دی، مومن به څه نه څه وخت بالاخر دخپلې ګناه دسزا پوره کولو ځخه وروسته دجهنم ځخه ایستل کیږي مفسرینو عالمانو ددې ځخه دسزا نور څه توجیهات هم بیان کړي دي هغه هم په خپل ځای درست کیدی سي او په تفسیر مظهري کې ددې یوه توجیه دا کړي ده چې په دې آیت کې داشقی او اتقی ځخه مراد عام

نه دی بلکه هغه خلق ورځخه مراد دی کوم چې د نبی کریم ﷺ په مبارکه زمانه کې موجود وه په هغو موجودینو کې به هیڅ یو مسلمان باوجود د ګناه کیدو ځخه هم په برکت د صحبت د نبی کریم ﷺ جهنم ته نه ځي.

(صحابه کرام ﷺ ټول په جمع د جهنم ځخه محفوظ دی)

وجه دا ده چې اول خو په دی حضراتو کې د چا ځخه ګناه کیدل هم ډیر کم سوی دی او په وجه د بیری د اخرت د دوی د حالاتو ځخه دا لازمی معلومیږی چې که د چا ځخه څه ګناه سوی هم ده نو هغه به توبه کړی وی، بیا د دوی د یوی ګناه په مقابله کې د دوی نیک عملونه دومره زیات دی چې د هغه په وجه هم هغه ګناه معاف کیدی سی، لکه چې په قرآن کریم کې دی: اِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ، یعنی نیک عملونه د بدو عملونو کفاره کیږی او په خپله د نبی کریم ﷺ صحبت یو داسی عمل دی کوم چې په ټولو نیکو عملونو باندی غالب دی په حدیث کې د امت د صالحانو په باره کې راغلی دی ، هُمْ قَوْمٌ لاَ يَشْقٰى جَلِيْسُهُمْ وَلاَيَخَابُ اَنِيْسُهُمْ (صحیحین) یعنی دا هغه خلګ دی د کومو سره چې کښینستونکی بدبخته او نامراده کیدی نه سی او څوک چې د دوی سره محبت لری هغه محروم نه سی پاته کیدی، نو کوم سړی چې د سید الانبیاء ﷺ سره ناست او محبت لرونکی وی ، هغه څنګه بدبخته کیدی سی، په دی وجه په صحیح احادیثو کې د دی وضاحتونه موجود دی چې صحابه کرام ﷺ ټول په جمع د دوږخ د عذاب ځخه بری دی ، په خپله په قرآن کریم کې د صحابه کرامو ﷺ په باره کې دا موجود دی ، وَكُلاًّوَّعَدَ اللهُ الْحُسْنٰى : یعنی په دوی کې د هر یوه د پاره الله ﷻ د حُسنٰی یعنی د جنت وعده فرمایلی ده او په بل آیت کې دی اِنَّ الَّذِيْنَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِّنَّاالْحُسْنٰى اُولٰئِكَ عَنْهَامُبْعَدُوْنَ یعنی د کومو خلګو د پاره چې زمونږ د طرف ځخه حسنٰی مقدر سوي ده هغوی به د دوږخ د اور ځخه لیری او سیږی او په یو حدیث کې ارشاد دی چې د جهنم اور به هغه سړی مسه نه کړی چا چې زه لیدلی یم (ترمذی عن جابر ﷺ)

وَسَيُجَنَّبُهَا الْاَتْقَى، الَّذِيْ يُؤْتِيْ مَالَهٗ يَتَزَكّٰى دا د بد بختیو په مقابله کې د نیک بختو تقوٰی شعارو حضراتو د جزا بیان دی چې کوم سړی ته د مکمل اطاعت حق عادت وی او دی خپل مال د الله ﷻ په لاره کې صرف د دی د پاره خرڅ کوی چې دی د ګناهونو ځخه پاك سی داسی سړی به د جهنم د اور ځخه لیری ساتل کیږی.

د ایت الفاظ خو عام دی کوم سړی هم چې د ایمان سره د الله ﷻ په لاره کې مال خرڅ کوی د هغه د پاره دا خوشخبری ده ، لیکن د شانِ نزول د واقعی ځخه معلومیږی چې اصل مراد د دی لفظ د: اتقٰی ځخه حضرت صدیق اکبر ﷺ دی ، ابن ابی حاتم د حضرت عروه ﷺ ځخه روایت کړی دی چې اووه مسلمانان داسی وه کوم چې د مکی کفارو خپل غلامان جوړ کړی وه، کله چې هغه مسلمانان سول نو هغوی لره به یی په قسم قسم ازارونه رسول ، حضرت صدیق اکبر ﷺ خپل لوی مال خرڅ کی او هغوی یی د کفارو ځخه واخیستل ازاد یی کړل ، په دی دا آیت نازل سو (مظهری)

د دی په مناسبت د آیت آخری جمله دا ده ، وَمَالِاَحَدٍ عِنْدَهٗ مِنْ نِّعْمَةٍ تُجْزٰى یعنی په کومو غلامانو باندی چې حضرت صدیق اکبر ﷺ دا عظیم احسان وفرمایی او ډیر مال یی خرڅ کی و اوبی خیستل او ازاد یی کړل د هغوی هیڅ پخوانی احسان هم د دوی په ذمه نه وو د کوم په بدله کې چې یی دا کار وکی ، بلکه ، اِلاَّ ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْاَعْلٰى : یعنی د دوی مقصد د الله عالی شان د رضا حاصلولو ځخه ماسوا نور هیڅ نه وو.

په مستدرك حاكم كې دحضرت زبير ﷺ څخه منقول دي چې دصديق اكبر ﷺ دا عادت هم وو چې كوم مسلمان به يې دكفارو په لاس كې قيدي ليدې، هغه به يې اخيستې او ازاد وي به يې او دا خلک عموماً ضعفاء وه، دصديق اكبر ﷺ پلار حضرت ابو قحافه ﷺ ده ته وفرمايل چې كله ته غلامان ازادوې نو دومره كار كوه چې داسې غلامان ازادوه چې قوي اوبهادران وي چې هغوي صبا ستا ددښمنانو په مقابله كې په كار درسي، حضرت صديق ﷺ ورته وفرمايل چې زما مقصد د دوى دازادولو څخه خان ته فائده اخيستل نه دي بلكه زه خوصرف دالله ﷻ درضا حاصولو دپاره دوى ازادوم (مظهري)

وَلَسَوْفَ يَرْضٰى: يعني كوم سړى چې خپل مال صرف دالله ﷻ درضا حاصولو دپاره خرڅ كې اوخپله څه دنيوي فائده يې په كې ونه كتله نوالله ﷻ به هم په اخرت كې دى راضي كړي چې دجنت عجيبه اودائمي نعمتونه به ورلره وركي، دشانِ نزول دواقعي څخه ددې آيتونو دصديق اكبر ﷺ په شان كې نازليدل ثابت دي، په دې وجه داآخري كلمه دصديق اكبر ﷺ دپاره يوه عظيمه خوشخبري اواعزاز دي چې ده ته دالله ﷻ دطرف څخه په دنياكې دراضي كيدو خوشخبري واورول سوه.

تمّت سورة الليل، بحمد الله تعالى ۲۵ شعبان سنه ۱۳۹۱هجري.

﴿سورة الضحي﴾

سُوْرَةُ الضُّحٰى مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ هِيَ اِحْدٰى عَشَرَةَ اٰيَةً

سورة ضحٰی په مكه كې نازل سو او په دې كې يولس (۱۱) آيتونه دي.

شروع كوم په نوم سره دخداى ﷻ چې ډير مهربانه نهايت رحم والا دي.

وَالضُّحٰى ﴿۱﴾ وَالَّيْلِ اِذَا سَجٰى ﴿۲﴾ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى ﴿۳﴾

قسم دى په څاښت، او په شپه كله چې خپره سي، نه رخصت كړى ته ستا رب او نه بيزاره سو،

وَلَلْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰى ﴿۴﴾ وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ فَتَرْضٰى ﴿۵﴾

او خامخا آخرت غوره دى تالره ددنيا څخه، او ژر ده چې دربه كړي تا ته ستا رب نو ته به راضي سى

اَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيْمًا فَاٰوٰى ﴿۶﴾ وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰى ﴿۷﴾

آيا نه يې وى پيدا كړى ته يتيم پس ځاى يې دركى، او بيايي پيدا كړى ته بې لارى پس لاريې درته وښووله،

وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَاَغْنٰى ﴿۸﴾ فَاَمَّا الْيَتِيْمَ فَلَا تَقْهَرْ ﴿۹﴾ وَاَمَّا

اوبيا يې پيدا كړى ته مفلس پس بې حاجته يې كړى، نو كوم چې يتيم دى په هغه سختي مه كوه، اوخوك

السَّآئِلَ فَلَا تَنْهَرْ ﴿۱۰﴾ وَاَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴿۱۱﴾

چې سوال کوي هغه مه ترټه ، او کوم چې احسان دی ستا درب نو هغه بیانوه .

تفسیر: قسم دی دورځې په رڼا او په شپه کله چې هغه قرار ونیسي (دقرار نیولو دوې معناوې کیدی سي، یوه حقیقي یعنی ددې دتیارې کاملیدل ځکه چې دشپې تیاره کرار کرار زیاتیږي چې څه شپه تیره سي نومکمله سي، دوهمه مجازي یعنی دجاندارو په دې کې بیده کیدل او داوازونو اوشور اوشغب په دې کې خاموشه کیدل، مخ ته جواب دقسم دی) چې ستا پروردګار نه ته پریښې یې اونه ستا څخه بیزاره سوی دی (ځکه چې اول خو ستا څخه څه خبره داسې نه ده سوې، دوهم انبیاء علیهم السلام الله ﷻ ددې څخه محفوظ اومعصوم جوړ کړي دي، پس ته دکفارو په خرافاتو اولغویاتو غمجن کیږه مه کوم چې دځو ورځې وحې دتاخیر په سبب یې داوویل چې دی خدای پریښې دی، ته به برابر دوحې په نعمت سره مشرف کیږې، اوداشرف اوکرامت خوستا دپاره په دنیاکې دی) اواخرت ستا دپاره ددنیا څخه په ډیرو درجو ښه دی (نو هلته به تاته ددې څخه زیات نعمتونه درکول کیږي) اوډیر ژربه الله ﷻ تاته (په اخرت کې ډیر نعمتونه) درکړي نو ته به (په هغه درکړو سره) خوشحاله سې (اوپه څه چې یې قسم اخیستی دی دهغه ددې خوشخبرې سره دامناسبت دی چې لکه څنګه چې الله ﷻ په ظاهره دخپل قدرت اوحکمت مختلفې نښاني ظاهروي په ورځ پسې شپه اوشپه پسې ورځ راولي ، داکیفیت دباطني حالاتو وګڼه، که دلمر دڼا وروسته دشپې دتیارې راتلل دالله ﷻ دخفګان اوناراضګۍ دلیل نه دی اونه ددې څه ثبوت دی چې ددې څخه وروسته به دورځې ڼا بیانه وې نوځو ورځې دوحې په منع کیدو سره داولې ګڼل کیږي چې نن صبا خدای دخپل منتخب سوي پیغمبر څخه خفه اوناراضه سو اودهمیشه دپاره دوحې دروازه بنده سوه داسې ویل خودخدای ﷻ په علم محیط او حکمت بالغه باندې اعتراض کول دي ګویا هغه خبرنه وو چې څوك زه نبي جوړوم هغه به اتنده ددې اهل ثابت نه سي نعوذ بالله منه، مخ ته په ځینو نعمتونو سره دذکر سوي مضمون تائید دی یعنی) آیا الله ﷻ ته یتیم نه وې پیدا کړې، بیایې (تالره) ځای درکی (چې ته دمورپه نس کې وې ستا پلار وفات سو الله ﷻ ستاپه نیکه سره پرورش وکی بیا چې کله ته داتو کاله سوې نوهغه هم وفات سونوپه اکا مو ستا پرورش وکی دځای درکولو مطلب دا دی) اوالله ته (دشریعت څخه) بې خبره پیدا کړې وروسته یې (تاته دشریعت) لار وښوول (لکه داقول دالله ﷻ دی ، مَا كُنْتَ تَدْرِىْ مَا الْكِتٰبُ وَلَا الْاِيْمَانُ الخ او دوحې څخه مخکې دشریعت تفصیل نه معلومیدل څه عیب نه دی) اوالله ﷻ ته ناداره پیداکړې ، وروسته یې مالدار جوړ کړې (داسې چې دحضرت خدیجه (رض) په مال کې تاپه طور دمضاربت تجارت وکی، په دې کې نفع وسوه، بیاحضرت خدیجه (رض) ستاسره نکاح وکړه، اوخپل ټول مال یې حاضرکی، مطلب داچې په تاسې دابتداء څخه انعامات کیږي اتنده به هم کیږي په دغوانعاماتو دشکر ادا کولو حکم دی چې کله مونږ تاته دا انعامات درکړه) نوته (ددې په شکریه کې) پریتیم سختي مه کوه اوسوال کوونکي مه ترټه (داخو شکرِ فعلي دی) اودخپل رب د (ذکر سوو) انعاماتو تذکره کوه.

معلومات اومسئلي: **شانِ نزول**: ددی سورة دنزول دسبب په حقله په بخاری اومسلم کی دحضرت جندب بن عبدالله ﷺ څخه روایت راغلی دی اوترمذی دحضرت جندب ﷺ څخه دا روایت کړی دی چی یو وار دنبی کریم ﷺ یوه ګوته زخمی سوه او دهغه وینه جاری سوه نو هغوی وفرمایل.

اِنْ اَنْتِ اِلاَّ اِصْبَعٌ دَمِیْتِ وَفِیْ سَبِیْلِ اللهِ مَا لَقِیْتِ

یعنی ته یوه ګوته یی چی وینی سوی اوکم تکلیف چی تاته ورسیدی هغه دالله ﷺ په لاره کی دی (په دی وجه غم څه دی) حضرت جندب ﷺ دا واقعه ذکر کړه اوویی فرمایل چی ددی واقعی څخه وروسته (څه ورځی) جبرائیل امین وحی رانه وړه نودمکی مشرکانو دا طعنی ورکول شروع کړه چی محمدﷺ دده خدای (نعوذ بالله) پریښوو‌ی اوناراضه سو، په دی داسورة ضحٰی نازل سو، دحضرت جندب ﷺ روایت کم چی په بخاری کی دی، په دی کی دیوی یادوو شپو دتهجد دپاره دنه پورته کیدو ذکردی په وحی کی دتاخیر ذکر نسته اوپه ترمذی کی تهجدته دیوی دوو شپودنه پورته کیدو ذکر نسته، صرف په وحی کی دتاخیر ذکردی، ظاهره ده چی په دی دواړوکی څه تعارض نسته، کیدی سی چی دواړی خبری پیښی سوی وی، راوی کله یوه واقعه بیان کړیده کله بله واقعه، اوهغه ښځه کومی چی نبی کریم ﷺ ته طعنه ورکړه ام جمیل دابولهب ښځه وه، لکه چی په نورو ایتونوکی دی او دوحی دتاخیر واقعات ډیر وار پیښ سوی دی، یوه دقرآن دنزول په شروع کی پیښه سوه کم ته چی زمانه دفترتِ وحی ویل کیږی، دادټولو څخه زیاته اوږده وه، یوه واقعه دتاخیر دوحی هغه وخت پیښه سوه کله چی مشرکانو یایهودو دنبی کریم ﷺ څخه دروح دحقیقت په حقله پوښتنه وکړه اودوی وروسته دجواب ورکولو وعده وفرمایله، مګر دانشاء الله نه ویلو په وجه ترڅو ورځو پوری دوحی سلسله بنده سوه، پردی مشرکانو دا طعن ورکول شروع کړه چی دمحمد ﷺ خدای دده څخه ناراضه سو اودی یی پریښوو‌ی، دغه شان داواقعه ده کومه چی دسورة ضحٰی دنزول سبب سوه، داضروری نه ده چی دا ټول واقعات په یوه زمانه کی پیښ سوی وی، بلکه مخ ته وروسته هم کیدی سی.

وَلَلْاٰخِرَةُ خَیْرٌ لَّکَ مِنَ الْاُوْلٰی: دلته آخرت په خپله معروفه معنٰی کی دی او ددی په مقابله کی اُولٰی چی ددنیا په معنٰی کی واخیستل سی نوتفسیریی هغه دی کوم چی په لنډ تفسیرکی لوړتیرسوی دی چی داکفار او مشرکان چی کوم طعن تاته درکوی دابه په دنیاکی ووینی چی سراسر خطاوی، ددی څخه مخ ته داخرت دانعاماتو هم ستاسره وعده کوو چی تا به ددنیا دانعاماتو څخه په نورو زیاتو انعاماتو سره ونمانځو، اوداهم څه بعیده نه ده، چی دلته اخرت ددی په لفظی معنٰی کی واخیستل سی چی وروسته حالت، لکه چی دلفظ داُولٰی معنٰی مخ ته حالت دی نومطلب دایت به داسی چی په تادالله ﷺ انعامات په مخ زیاتیږی چی دهرمخ ته حالت څخه به وروسته حالت بهتر اوافضل کیږی په دی کی په علمونو معلوماتو اودقربِ الهی په درجوکی ترقی هم داخله ده اوددنیا معاشی مسائل او عزت اوحکومت هم.

وَلَسَوْفَ یُعْطِیْکَ رَبُّکَ فَتَرْضٰی: یعنی ستارب به تاته دومره درکی چی ته راضی سی، په دی کی الله ﷺ دامتعینه کړی نه ده ښوولی چی څه به درکی؟ په دی کی اشاره دعموم طرف ته ده چی ستاهر مرغوب شی

به تاته دومره درکی چی ته به راضی سی، ددوی په مرغوبو شیانوکی ددینِ اسلام ترقی، ددین اسلام په عام طورسره په دنیاکی خپرول، بیادامت هرضرورت اوپه خپله ددوی پردښمنانو غالب کیدل، ددوی په ملك کی دالله ﷻ کلمه لوړول ، اوحق دین خپرول تول داخل دی ، په حدیث کی دی چی کله داآیت نازل سو، نو نبی کریم ﷺ وفرمایل ، اِذًا لاَّ اَرْضٰی وَّوَاحِدٌ مِّنْ اُمَّتِیْ فِی النَّارِ، یعنی کله چی خبره دا ده نوزه به تر هغه وخته پوری راضی نه یم ترڅو پوری چی زما دامت یوسړی هم په دوږخ کی پاته وی (قرطبی) او دحضرت علی ﷛ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ به زما دامت په باره کی زما شفاعت قبلوی، تردی چی حق تعالی به وفرمایی، رَضِیْتَ یَا محمد! ای محمد ﷺ اوس ته راضی یی نوزه به عرض وکړم، یَارَبِّ رَضِیْتُ : یعنی ای زماربه! زه راضی یم، اوپه صحیح مسلم کی دحضرت عمروبن عاص ﷛ څخه روایت دی چی یوه ورځ نبی کریم هغه ایت تلاوت وفرمایی کوم چی دحضرت ابراهیم ﷵ په حقله دی ، فَمَنْ تَبِعَنِیْ فَاِنَّهٗ مِنِّیْ وَمَنْ عَصَانِیْ فَاِنَّكَ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ، بیایی دوهم آیت تلاوت وفرمایی، په کوم کی چی دحضرت عیسٰی ﷵ قول دی ، اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ، بیا ده ﷺ ددعا دپاره دواړه لاسونه پورته کړل اوژړا اوزاری یی شروع کړی اوبارباریی فرمایل چی اَللّٰهُمَّ اُمَّتِیْ اُمَّتِیْ : حق تعالی جبرائیل امین راولیږی چی پوښتنه ورڅخه وکړه چی تاسی ولی ژاړی؟ (اودایی هم وفرمایل چی که څه هم ماته هرڅه معلوم دی) جبرائیل امین رالی اوپوښتنه یی وکړه، دوی ﷺ وفرمایل چی زه دخپل امت مغفرت غواړم ، حق تعالی جبرائیل امین ته وفرمایل چی بیا ولاړسه او ورته وو ایه چی الله ﷻ تاته فرمایی چی مونږ به تا ستا دامت په باره کی راضی کو او تابه خفه نه کو .

لوړ دکفارو دطعنوپه جواب کی چی په نبی کریم ﷺ باندی کوم دالله ﷻ دانعاماتو په دنیا اواخرت کی اجمالی ذکرووِ، په دی کی یی ددغو لږشان تفصیل ددری خاصو نعمتونو په ذکرسره فرمایلی دی اول ، اَلَمْ یَجِدْكَ یَتِیْمًا فَاٰوٰی یعنی مونږته یتیم پیداکړی چی دپلار انتقال دی دپیدا کیدو څخه مخکی سوی وو اوهغوی څه مال اوجانداد هم نه وو پرینښی چی ستاپرورش په سوی وای نومونږ تالره ځای درکی یعنی ستا دنیکه عبدالمطلب اوبیا داکا ابوطالب په زړونوکی موستا داسی محبت وغورځوی چی دخپل اولاد څخه یی زیات ستا په تربیت کی کوشش کوی .

دوهم نعمت ، وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰی دلفظ دضال معنٰی گمراه هم راځی اونا پوهه ناخبره هم، دلته دا دوهمه معنٰی مراد کیدی سی ، چی دنبوت څخه مخکی ته دشریعت الهی داحکامو اوعلومو څخه بی خبره وی ، دنبوت په منصب یی فائز کړی اوستا رهنمایی یی وفرمایله .

دریم نعمت ، وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَاَغْنٰی عائل دعیله څخه مشتق چی معنٰی یی فقیر اومحتاجه کیدل دی، دایت معنٰی داسوه چی ته الله ﷻ نادراه اوبی ماله پیدا کړی نوته یی غنی او مالدار کړی چی ابتدایی دحضرت خدیجه ﷝ په مال کی په طور دشرکت دمضاربت دتجارت کولو څخه وسوه، بیاهغه په خپله ددوی په عقدِ نکاح کی راله اوام المومنین سوه نوټول مال یی د دوی ﷺ دخدمت دپاره سو .

ددی دریو نعمتونو ذکرکولو څخه وروسته دوی ﷺ ته د درو شیانوحکم ورکړل سو، اول ، فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ دقهر معنیٰ غلبه اوجبری تسلط دی، مراد دادی چی ته یویتیم ضعیف اوبی وارثه وګنی، پرمالونو اوحقونو باندی یی داسی مسلط کیږه مه چی دهغه حق ضائع سی په دی وجه نبی کریم ﷺ دیتیم سره دشفقت دمعاملی تاکید فرمایی اوددہ سره دزړه خفه کولو دمعاملی څخه منع فرمایی ارشاد دی چی دمسلمانانو په کورونو کی ښه کور هغه دی په کوم کی چی یتیم وی اودهغه سره داحسان اومحبت سلوك کیږی ، او دټولو څخه بدکور هغه دی په کوم کی چی څوك یتیم وی او دهغه سره بدسلوك کول کیږی (رواه البخاري في الادب المفرد وابن ماجه والبغوی، مظهری)

دوهم حکم : وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ تنهر، دنهر څخه مشتق دی چی معنیٰ یی زجر اوترټل دی او دسائل څخه مراد سوال کوونکی دی، په دی کی هغه هم داخل دی کوم چی دڅه مال سوال کوی اوهغه هم کوم چی دعلمی تحقیق سوال کوی ، د دواړو دترټلوڅخه نبی کریم ﷺ منع سوی دی ، ښه دا ده چی سائل ته څه ورکی اورخصت یی کړی اوکه یی نه سی ورکولی نوپه نرمی سره دی عذر وکی، دغه شان دیو علمی مسئلی دسوال کوونکی په جواب کی هم سختی اوبد خویی ممنوع ده په نرمی اوشفقت سره جواب ورکول په کار دی ، بغیر ددی څخه چی سائل یی په هیڅ شان نه منی نوپه ضرورت سره زجر هم جائز دی .

دریم حکم، وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ حَدِّثْ دتحدیث څخه مشتق چی معنیٰ یی خبری کول دی مراددادی چی ته دالله ﷻ دنعمتونو دخلګوپه مخکی ذکرکوه چی داهم یوه طریقه دشکر ګزاری ده، تردی پوری چی بنده په کوم سړی احسان وکی دهغه دشکراداکولوحکم هم ورکول سوی دی په حدیث کی چی کوم سړی دخلګو په احسان دهغوی شکرنه کوی هغه دالله ﷻ هم شکرګزاره نه وی (رواه احمد ورواته ثقات ، مظهری)

په یوحدیث کی ارشاد دی چی کوم سړی په تاسی احسان کوی نو په کار دی چی تاسی هم دهغه احسان بدله ورکی اوکه دمالی بدلی ورکولو استطاعت مونه وی نو دا خو کوی چی دخلګو په مخکی دهغه صفت کوی څکه چی چا دخلګوپه مجمع کی دهغه ثناء اوتعریف وکی، نوده دشکر ګزاری حق ادا کی ، (رواه البغوی عن جابربن عبدالله ، مظهری)

مسئله: دهرنعمت شکر ادا کول واجب دی، دمالی نعمت شکر دادی چی ددغه مال څخه څه دالله ﷻ دپاره دنیت په اخلاص سره خرڅ کړی او دبدن دنعمت شکر دا دی چی جسمانی طاقت دالله ﷻ دواجباتو په ادا کولو کی مصرف کړی او دعلم او معرفت دنعمت شکر دا دی چی نورو ته دهغه تعلیم ورکی (مظهری)

مسئله : دسورة والضحیٰ څخه دقرآن تراخره پوری دهر سورة سره تکبیر ویل سنت دی او ددی تکبیر الفاظ شیخ صالح مصری ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ ښوولی دی (مظهری)

ابن کثیر دهرسورة په ختم باندی او بغوی دهرسورة په شروع کی یووار تکبیر ویلوته سنت ویلی دی، (مظهری) په دواړو کی چی هر یو صورت اختیار سی سنت به ادا سی . والله تعالی اعلم

فائده : دسورة ضحیٰ څخه دقرآن تراخره پوری په ډیرو سورتونو کی په نبی کریم ﷺ دالله ﷻ دخاصو انعاماتو او د دوی دمخصوصو فضیلتونو ذکر دی او په څو سورتونو کی دقیامت او ددی دحالاتو ،

قرآنِ حکیم شروع په خپله دقرآن دعظمت اوناقابل شك اوشبهه کیدو څخه کړي ده اوختم دقرآن دهغه ذات په عظمت اوشان وسو په کوم چی قرآن نازل سو .

تمّت سورة الضحی بحمد الله تعالی ۲۸ شعبان سنه ۱۳۹۱هجری .

﴿ سورة الانشراح ﴾

سُورَةُ الْاِنْشِرَاحِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَهِيَ ثَمَانِ اٰيَاتٍ

سورة انشراح په مکه کی نازل سو او په دی کی اته (۸) آیتونه دی .

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی .

اَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ۞ وَوَضَعْنَا عَنْكَ وِزْرَكَ ۞ الَّذِيْٓ

آیا مونږ ستا سینه نه ده خلاصه کړی ، اولیری کی مونږ ستا څخه ستا بار ، کوم چی

اَنْقَضَ ظَهْرَكَ ۞ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ۞ فَاِنَّ مَعَ الْعُسْرِ

ستا ملا کښته کړی وه ، او پورته کی مونږ ستا ذکر ، نو خامخا دمشکل سره

يُسْرًا ۞ اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۞ فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ ۞

آسانی ده ، خامخا دمشکل سره آسانی ده ، نو هرکله چی ته فارغ سی نومحنت کوه ،

وَاِلٰى رَبِّكَ فَارْغَبْ ۞

او خپل رب طرف ته زړه ولګوه .

لنډتفسیر: آیا مونږ ستا په خاطر ستا سینه (په علم اوحلم سره) خلاصه نه کړه (یعنی علم موهم وسیع درکی اوپه تبلیغ کی چی کوم دمخالفینو په مزاحمت سره ازار رسیږی په دی کی مودرته تحمل اوحلم هم درکی لکه حسن په درمنثورکی داسی ویلی دی) اومونږ ستا څخه هغه بارلیری کی کوم چی ستاملاماته کړی وه (دوزرڅخه مرادهغه مباح اوجائزکارونه دی کوم چی به کله کله دځه حکمت اومصلحت ترمخه ددوی څخه صادریدل، او وروسته به دهغه خلاف حکمت او خلاف اَولٰی کیدل ثابتیدل اودوی به په وجه دلوی شان او انتهایی قرب په هغه سره غمجن کیدل داسی لکه چی په ګناه سره څوك غمجن کیږی، په دی کی خوشخبری ده په داسی کارونو دمواخذی نه کیدو، لکه په درمنثورکی دمجاهد اوشریح بن عبید الحضرمی څخه دی، نو په دی بنا داخوشخبری دوی ﷺ ته دوه واره واورول وسوه، اول په مکه کی ددی سورة په ذریعه دوهم په مدینه کی په سورة فتح کی ددی دتاکید اوتکمیل اوتجدید اوتفصیل دپاره)

اومونږ ستاپه خاطر ستا اوازه کړه (یعنی اکثره ځای په شریعت کی دالله ﷻ دنوم سره ستانوم مبارك پیوست سو، لکه په درمنثورکی مرفوعًادی: قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی اِذَا ذُکِرْتُ ذُکِرْتَ مَعِیْ : یعنی الله ﷻ فرمایی چی کوم ځای زما ذکر وی ستا ذکر به هم زماسره وی رواه ابن جریر وابن ابی حاتم، لکه په خطبه کی، په تشهدکی، په لمانځه کی، په اذان کی، په اقامت کی او دالله دنوم لویی او شهرت ظاهردی، پس څوك چی ورته نژدی وی، په رفعت اوشهرت کی به هغه هم تابع وی، اوچونکه په مکه کی حضورﷺ اومومنان په قسم قسم تکلیفونه اوسختیوکی ګرفتاروه، په دی وجه ددی دازالی په طریقه دتفریع پرسابق باندی وعده فرمایی چی کله مونږتاته روحانی راحت درکی اوروحانی تکلیف مودرڅخه لیری کی چی د: اَلَمْ نَشْرَحْ الخ څخه معلومه سوه، پس په دی سره په دنیوی راحت اومحنت کی هم زمونږ دفضل اوکرم امید وار کیدل په کار دی ، چنانچی مونږ وعده کوو چی) بیشکه دموجوده مشکلاتو سره (یعنی ډیر ژرکوم چی حکمًا دپرلپسی په معنٰی کی دی) اسانی (کیدونکی) ده (اوچونکی ددغو مشکلاتو اقسام اوشمیر ډیروو، په دی وجه داوعده مکرر دتاکید دپاره فرمایی چی) بیشکه دموجوده مشکلاتو سره اسانی (کیدونکی) ده (چنانچی دغه مشکلات یو یو رفع سوه لکه چی روایتونه داحادیثو اوسیرت اوتاریخ په دی متفق دی، مخ ته پردی نعمتونو دشکرحکم دی چی کله مونږ پرتاسی داسی داسی نعمتونه کړی) نوته کله چی (دتبلیغ داحکامو څخه کم چی نوروته دنفع رسیدوپه وجه عبادت دی) فارغ کیږی نو (په نورو عبادتونوکی چی ستا دذات سره خاص متعلق دی) محنت کوه (مراد ورڅخه ډیر عبادت او ریاضت دی چی ستا دشان سره دامناسب ده) او (څه چی غواړی په هغه کی) دخپل رب طرف ته توجه ساته (یعنی دهغه څخه یی غواړه اوپه دی کی هم په یوحیثیت سره خوشخبری ده، دزوال عسرپه خپله ددرخواست کولوحکم ګویا د درخواست پوره کولو وعده ده)

معلومات اومسئلی : لکه چی دسورة ضحٰی په اخرکی بیان سوی دی چی دسورة ضحٰی څخه تراخر دقرآنه پوری په دوه ویشت سورتونوکی زیات تر په ذکر درسول الله ﷺ باندی دالله ﷻ دانعامونو اود دوی دعظمت شان په حقله مضامین دی صرف په څو سورتونوکی دقیامت احوال یادځینو نورو مضامینوپه حقله راغلی دی، په سورة انشراح کی هم دهغو خاصو خاصو نعمتونو ذکردی کوم چی په نبی کریم ﷺ باندی حق تعالی مبذول فرمایلی دی او ددی په بیان کی یی هم هغه عنوان داستفهام اختیار فرمایلی دی کوم چی په سورة ضحٰی کی په اَلَمْ یَجِدْكَ الخ سره یی فرمایلی وو .

اَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ : دشرح لفظی معنٰی خلاصول دی، اوسینه خلاصیدل ددی دعلومو، معلوماتو اوښو اخلاقو دپاره دوسیع کولوپه معنٰی کی استعمالیږی لکه چی په یوایت کی دی ، فَمَنْ یُرِدِاللّٰهُ اَنْ یَّهدِیَهٗ یَشْرَحْ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ : دنبی کریم ﷺ سینه مبارکه حق تعالی دعلومو اومعلوماتو اوښو اخلاقو دپاره دومره وسیعه کړی وه چی ددوی دعلم اوحکمت لویو لویو عاقلانو هم پیدانه کی اودسینی ددی خلاصولو نتیجه وه چی ددوی مخلوق طرف ته توجه کول دالله ﷻ طرف ته په توجه کولوکی نه خلل کیدل او په ځینو صحیح احادیثوکی دا راغلی دی چی ملائکو دالله ﷻ په حکم د دوی سینه مبارکه په ظاهری طور

باندی هم ځیری کړه اوصفایي کړه، ځینو مفسرینو حضراتو دشرحِ صدر ځخه دلته دغه دځیرولو دسینې معجزه مراد اخیستی ده، لکه چې په ابن کثیر اونورکی دی. والله تعالی اعلم

وَوَضَعْنَا عَنْكَ وِزْرَكَ الَّذِيْ أَنْقَضَ ظَهْرَكَ د: وِزْرلفظی معنٰی بوج دی اودنقض ظهرلفظی معنٰی ملاماتیدل یعنی ملاکښته کیدل دی، لکه چې یولوی بارپرانسان ورواړول سی نوملایې کښته سی، په دی آیت کی ارشاد دادی چې هغه بوج کم چې ستا ملا کښته کړی وه، مونږ هغه ستا ځخه لیری کی، هغه بوج څه وو؟ ددی یوتفسیر خوهغه دی کوم چې په لنډتفسیر کی راغلی دی چې ددی ځخه هغه جائز اومباح کارونه مراد دی کوم چې به ځینې وخت نبی کریم ﷺ حکمت اومصلحت ته نژدی وګڼل اختیاربه یې کړل، وروسته به معلومه سوه چې هغه دمصلحت خلاف یاخلافِ اولی وو اونبی کریم ﷺ ته به دخپل لوی شان اوپه قربِ الهی کی دخاص مقام حاصلیدو په بناپه داسی شیانوهم سخته صدمه، رنج اوخفګان رسیدی الله ﷻ په دی آیت کی خوشخبری واوروله اودغه باریې ددوی ځخه لیری کی چې په داسی شیانوبه ته نه نیول کیږی

اوځینو مفسرینو حضراتود: وِزْر یعنی بوج مراد دلته داليکلی دی چې دنبوت په ابتداء کی به دوحی اثرهم پردوی سخت وو اوپه دی کی به پردوی چې کمه ذمه واری په ټوله دنیاکی دحق دکلمی خپرولو اوکفر اوشرك ختمولو، دخدای مخلوق پرتوحید دجمع کولو غورځول سوی وه اوپه دی ټول کارکی داحکم وو چې: فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ، یعنی ته دالله ﷻ دحکم مطابق پراستقامت باندی اوسه په کوم کی چې یوطرف ته میلان نه وی، ددی عظیم باربه نبی کریم ﷺ محسوسوی اودحدیث په ځینو روایتونوکی راغلی دی چې کله دده ﷺ په ږیره مبارکه کی سپین ویښته راغلل نوده ﷺ وفرمایل چې دی آیت: فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ، زه بوډا کړم.

دا هغه بار وو دکوم چې ددوی دزړه ځخه دلیری کولو خوشخبری په دی آیت کی ورکول سویده، او ددی دلیری کولو صورت په راتلونکو ایتونوکی داراغلی دی چې ستا دهر مشکل ځخه وروسته اسانی کیدونکی ده، حق تعالی دشرح صدرپه ذریعه ددوی حوصله دومره لوړه وفرمایله چې داټول مشکلات ورته اسان په نظر ورتلل اودغه بوج پاته نه سو. والله تعالی اعلم

وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ: دنبی کریم ﷺ رفعِ ذکر دا دی چې په ټولو اسلامی شعائروکی دالله ﷻ دنوم سره ددوی نوم مبارك اخیستل کیږی کم چې په ټوله دنیاکی پرمنارو اومنبرونو د ، اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ سره اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ ویل کیږی ، او په دنیاکی یوپوه انسان ددوی نوم بغیر دتعظیم ځخه نه اخلی که څه هم هغه مسلمان هم نه وی.

فائده: دلته د درو نعمتونو ذکر دی ، شرحِ صدر، وضعِ وزر، رفعِ ذکر، دادری یې په درو جملوکی ذکر فرمایلی دی اوپه ټولوکی یې دفعل اومفعول په مینځ کی یوحرف د: لَكَ یَا عَنْكَ راوړی دی، په دی کی دنبی کریم ﷺ خصوصیت اوخاص عظمت طرف ته اشاره ده چې دا ټول کار ستاپه خاطر سوی دی.

فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا: إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا دعربی ژبی قاعده دا ده چې دکومی کلمی په شروع کی الف وی کوم ته چې په اصطلاح کی لام دتعریف وایی که داکلمه دالف لام سره مکرره راوړی نودادی مصداق هغه وی کم

چې داولې کلمې وو او که بغیر دالف لام دتعریف څخه یې مکرره راوړې نوددوارو مصداق جلاجلا وي په دې آیت کې کله چې اَلْعُسْرَ مکرر رالې نومعلومه سوه چې ددې څخه دغه مخکې عسر مراد دی څه نوی نه دی اولفظ د: یُسْرًا دواره ځایه بغیر دالف لام څخه راوړل سو، ددې څخه معلومه سوه چې دادوهم یسر داولني یسر څخه علاوه دی نو په دې آیت کې د: اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ یُسْرًا په تکرار سره دانتیجه راووتله چې دیوعسراومشکل دپاره ددوو اسانیو وعده ده او ددوو څخه مراد خاص د دوو شمیرنه دی بلکه ډیروالی مراددی، مطلب داسو چې یوعسر یعنی تنګی اومشکل کم چې تاته پیښ سو یاپیښیږي دهغه سره ډیري اسانی تاته درکول کیږي.

دحضرت حسن بصري رحمه الله څخه مرسلاً روایت دی چې هغه فرمایي چې مونږ ته بیان وسو چې نبی کریم ﷺ خپلوصحابه کرامو رضی الله عنهم ته په دې آیت سره خوشخبري واوروله اوویې فرمایل ، لَنْ يَّغْلِبَ عُسْرٌ يُسْرَيْنِ: یعنی یوعسر پردوه یسرونو (یومشکل پردوو اسانیو) نه سي غالب کیدی چنانچې دتاریخ اوسیرت ټول کتابونه کوم چې خپلو اوپردو، مسلمانانو اوغیرمسلمانانولیکلی دي، هغه ټول پردې شاهددي چې کوم کاربه دمشکل څخه مشکل بلکه دخلګوپه نظرکې ناممکن په نظر راتلی ددوی ﷺ دپاره هغه ټول اسانیدل، دذکر سوو روایتونو څخه داهم معلومه سوه چې په دې آیت کې د: العسر الف لام دعهد دپاره دی اومراد نبی کریم ﷺ اوصحابه کرام رضی الله عنهم دي یعنی داوعده چې دهرمشکل سره به ډیري آسانی درکول کیږي ، دنبی کریم ﷺ اوصحابه کرامو رضی الله عنهم دپاره ده، کومه چې الله ﷻ داسې پوره وفرمایله چې دنیاپه سترګو سره ولیده، اوس که په دنیاکې یوسړي ته دعسر څخه وروسته یسر نصیب نه سي نوهغه ددې آیت منافي نه ده، البته دالله ﷻ عادت اوس هم دادی چې کوم سړي پرسختی صبرکوي اوپه رښتنی زړه سره په الله ﷻ اعتقاد ساتي او دهرطرف څخه ځان وشکوي، دهغه سره زړه ولګوي اودهغه دفضل امیدوار وي اوپه کامیابه کیدوکې دوخت په اوښتو امیدنه قطع کوي نوضرور الله ﷻ دده په حق کې اساني کوي (فوائد عثمانیه) دحدیث دځینو روایتونو څخه هم ددې تائید کیږي.

(تعلیم اوتبلیغ کوونکو ته په خلوت کې دالله ﷻ ذکر او دالله ﷻ طرف ته توجه هم ضروري ده)

فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ، وَاِلٰى رَبِّكَ فَارْغَبْ: یعنی کله چې ته دیو محنت یعنی ددعوت حق اوتبلیغ داحکامو څخه فارغ یې نود: (بل) محنت دپاره تیارسه، هغه داچې لمونځ اودالله ﷻ په ذکر اودعا اواستغفارکی لګیا اوسه اکثرو مفسرینو حضراتو ددې آیت همدا تفسیر کړی دی، ځینو حضراتویی نور تفسیرونه هم لیکلی دي، مګر ډیر نژدې هغه دی کم چې لوړ ولیکل سو، ددې خلاصه داده چې دعوت تبلیغ اودخدای مخلوق ته لار ښوول، ددوی داصلاح فکر دا دنبی کریم ﷺ دټولو څخه لوی عبادت وو، مګر داعبادت په واسطه دمخلوق دی چې ددوی اصلاح ته توجه ورکې اوتدبیرونه یې وکې، دایت مقصود دادی چې صرف په دې عبادت بالواسطه باندې ته قناعت مه کوه، بلکه کله چې ددې څخه فرصت پیدا کیږي نوپه بلا واسطه خلوت کې دحق تعالی طرف ته متوجه کیږه دهغه څخه په هرکارکې دکامیابی دعاکوه چې اصل مقصود دکوم دپاره چې انسان پیدا سوی دی، دغه ذکر الله اوعبادت بلا واسطه دی اوشاید په دې

وجه اولنی قسم یعني دعبادت بالواسطه څخه دفراغت ذکریي وفرمايي چې دغه کار دیو ضرورت دپاره دی ددی څخه فراغت کیدی سی اودوهم کار یعني توجه الی الله داسی شی دی چې ددی څخه فراغت مومن ته هیڅکله نه سی کیدی بلکه خپل دټول عمر اوتوانايي په دی کی صرف کول دی .

فائده «ددی څخه معلومه سوه چې علماء کوم تعلیم اوتبلیغ اودمخلوق اصلاح کار کوي، دوی ته ددی څخه غفلت نه دی په کار چې د دوی څه وخت په خلوت کی دتوجه الی الله دپاره هم مخصوص کیدل په کار دی لکه چې دعلماءِ سلفو سیرتونه په دی شاهد دی ، ددی څخه بغیر تعلیم اوتبلیغ هم بی اثره وی او نور برکت هم په کی نه وی .

فائده : لفظ دفَانْصَبْ، دنصب څخه مشتق دی، دکوم چې اصل معنٰی ستړیا اوستوماني ده، په دی کی داسی اشاره پیدا کیږی چې عبادت اوذکر الله تردی حده جاري وساتل سی چې څه مشقت اوستړی والی محسوس سی، صرف دنفس په راحت اوخوشحالي ددی مدارنه وی اودیو وظیفی اومعمول پابندی په خپله یو مشقت اوستړی والی دی برابره خبره ده که کار هرڅومره لږ اولنډ ولی نه وی .

تمّت سورة الانشراح والحمد لله رب العلمين

﴿ سورة التين ﴾

سُوْرَةُ التِّيْنِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَهِيَ ثَمَانِ اٰيَاتٍ

سورة تین په مکه کی نازل سو او په دی کی اته (۸) آیتونه دی .

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چې ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی .

وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ ۝۱ وَطُوْرِ سِيْنِيْنَ ۝۲ وَهٰذَا الْبَلَدِ الْاَمِيْنِ ۝۳

قسم دی په اینځر او په زیتون ، اوپه طور سینین باندی ، او په دی ښار امن والا باندی ،

لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ۝۴ ثُمَّ رَدَدْنٰهُ اَسْفَلَ

په تحقیق مونږ پیدا کړی دی انسان په ښه انداز سره ، بیا مونږ غورځولی دی دی دلاندی څخه

سٰفِلِيْنَ ۝۵ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمْ اَجْرٌ

لاندی ، مگر کوم چې یقین وکړی او نیک عمل وکړی پس دهغوی دپاره ثواب دی

غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ۝۶ فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّيْنِ ۝۷ اَلَيْسَ اللّٰهُ

بی انتها ، نو ته ددې څخه وروسته ولی درواغجن کوی بدلی پیدا کول ، آیا نه دی الله ﷻ

بِأَحْكَمِ الْحٰكِمِيْنَ ۝۸

دټولو حاکمانو څخه لوی حاکم ؟

لنډتفسير: قسم دی په انځر (په درخته يی) اوزيتون (په درخته يی) اوپه طور سينين اوپه دی امن والا ښار (يعنی مکه معظمه) چی مونږ انسان په ډيره ښايسته سانچه کی جوړکړی دی بيا (په دوی کی چی کوم بوداسی) مونږدی دکښته حالت والاوو څخه هم زيات کښته کی (يعنی دغه خوبصورتی په بدصورتی سره اوقوت په ضعف سره بدل سی اوترناکاره لا ناکاره سی، مقصود ددی څخه بيانول دکمالِ قباحت دی په کوم سره چی دده په دوباره پيداکولودحق تعالٰی قدرت کيدل واضح کيږی، لکه داقول دالله ﷻ دی ، اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ ضُعْفٍ الخ اومقصود ددی سورة دا معلوميږی چی الله ﷻ قدرت په دوباره پيداکولو او ژوندی کولو ثابتول دی لکه چی د، فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّيْنِ، په جمله سره دی طرف ته اشاره پيدا کيږی، اوددی آيت دعموم څخه چونکی دامعلوميږی مخ ته په آيت کی يوه استثنٰی بيانيږی) ليکن کوم خلک چی ايمان راوړی اونيك کاروکی نودهغوی[1]دپاره دومره ثواب دی کوم چی به هيڅکله قطع نه سی (په کوم کی چی يی وښوولی چی مومن صالح دبوډا ضعيف کيدو باوجود دانجام په اعتبار سره ښه وی بلکه داول څخه زيات دده عزت ماسوا سی مخ ته په خَلَقْنَا اورَدَدْنَا باندی تفريع ده چی کله الله ﷻ پرتخليق او تقليب دحالاتو قادردی) نو (ای انسانه) بياکم شی تا دقيامت په باره کی منکر جوړوی (يعنی هغه کوم دليل دی دکوم په بنا چی ته ددی دليلونوپه موجودګی کی دقيامت څخه منکريږی) ايا الله ﷻ دټولو حاکمانو څخه لوی حاکم نه دی (په دنيوی تصرفاتوکی هم دکومو څخه چی دتخليق انسانی اوبيا په زوروالی کی په ده کی دتغيراتو ذکر لوړ راغلی دی اوپه اخروی تصرفاتوکی هم دکومو څخه چی قيامت اومجازاة هم دی)

معلومات اومسئلي: وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ : په دی آيت کی په څلورو شيانو قسم خوړل سوی دی په کوموکی چی، دوی درختی دی، يوه تين يعنی انځر، دوهمه زيتون يعنی خون، اويو دطور غر اويو ښار يعنی په مکه مکرمه، ددی تخصيص وجه داکيدی سی چی دادواړی درختی ډير برکت اوډيرو نفعو والا دی، لکه څنګه چی کوه طور اودمکی ښار ډير برکت والا دی اودا هم کيدی سی چی دلته دتين اوزيتون په ذکرسره مراد هغه ځای وی کم ځای چی دا درختی ډيری پيدا کيږی اوهغه ملك دشام دی کوم چی معدن دانبياوو عليهم السلام دی اوحضرت ابراهيم عليه السلام هم په دغه ملك کی مقيم وو، دوی هجرت وکی اومکی مکرمی ته راوستل سو، دغه شان په دی قسمونوکی ټول هغه مقدس مقامات شامل سوه کوم ځای چی خاص خاص انبياء پيدا اومبعوث سو، دشام ملك دعامو انبياوو وطن اومسکن دی، کوه طور دحضرت موسٰی عليه السلام دحق تعالٰی سره دخبرو کولو ځای دی اوسينين ياسيناء دهغه مقام نوم دی کوم ځای چی داغر واقع دی اوبلدِ امين مکه مکرمه دخاتم الانبياء عليهم السلام دپيدائش او اوسيدو ځای دی .

په دی څلورو شيانو قسم اخلی اوفرمايي ، لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِیْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ دتقويم لفظی معنٰی ديوشی قوام

اوبنیاد سمول دی، داحسن تقویم څخه مراد دادی چې دده جبلت او فطرت یې هم دنورو مخلوقات په اعتبار سره احسن جوړکې اودده جسمانی هیئت او شکل اوصورت هم ددنیا دټولو جاندارو څخه یې ښه اوښائسته جوړکې.

(انسان په ټول مخلوقات کې دټولو څخه زیات ښائسته دی)

ددی خلاصه داده چې انسان حق تعالی په ټول مخلوقات کې دټولو څخه زیات ښائسته جوړکړی دی ابن عربی رحمه الله فرمایی چې دالله ﷻ په مخلوقات کې دانسان څخه ښائسته بل یومخلوق نسته، ځکه چې دی الله ﷻ دژوند سره عالم، قادر، خبری کوونکی، اوریدونکی، لیدونکی، تدبیر کوونکی اوحاکم جوړکړی دی اوداټول صفتونه په اصل کې په خپله دحق سبحانه تعالی دی، چنانچه دبخاری اومسلم په روایت کې راځی چې: اِنَّ اللّٰہَ خَلَقَ اٰدَمَ عَلٰی صُوْرَتِہٖ، یعنی الله ﷻ حضرت ادم علیه السلام په خپل صورت سره فرمایلی دی، مراد ددی څخه داکیدی سی چې دالله ﷻ دځینو صفتونوڅه درجه ده ته هم ورکول سوي ده که نه نوحق تعالی دهرشکل او صورت څخه بری دی (قرطبی)

(دحُسن انساني یوه عجیبه واقعه)

قرطبی دلته نقل کړی دی چې عیسٰی بن موسٰی هاشمی کم چې دخلیفه ابوجعفر منصور ددربار دمخصوصو خلکو څخه وو اودخپلی ښځی سره یې ډیر محبت ساتی، یوه ورځ دسپوږمی په شپه کی دښځی سره ناست وو وییی ویل: اَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا اِنْ لَّمْ تَکُوْنِیْ اَحْسَنَ مِنَ الْقَمَرِ، یعنی په تادی دری طلاقه وی که ته دسپوږمی څخه زیاته ښائسته نه یې، ددی وینا سره ښځه ولاړه ولاړه سوه اوپه پرده کی سوه چې تا خوماته طلاق راکی، خبره په خندا اوټوقوکی وه مګر دطلاقو داحکم دی چې په هرشان هم ښځی ته صریحی الفاظ دطلاق وویل سی نوطلاق واقع کیږی برابره خبره ده که په خندا اوټوکوکی وویل سی، عیسٰی بن موسٰی شپه ډیره په بی ارامی اورنج اوغم کی تیره کړه، سهار دخلیفهٔ وخت ابوجعفر منصورپه خدمت کی حاضرسو اوخپله قصه یی واوروله اودخپلی پریشانی اظهاریی وکی، منصور دښار فقهاء اومفتیان جمع کړل، پوښتنه یی وکړه، ټولوپه جمع جواب ورکی چې طلاقه سوي ده ځکه چې دسپوږمی څخه دزیات ښائسته کیدو دیوانسان دپاره امکان نسته مګر یوعالم کوم چې دامام ابوحنیفه رحمه الله دشاګردانو څخه وو خاموش ناست وو، منصور پوښتنه ورڅخه وکړه چې ته ولی خاموش یی، نوده خبری شروع کړی اودبسم الله الرحمٰن الرحیم ویلوسره یی دسورة تین تلاوت وکی اوویی فرمایل چې امیر المومنین الله ﷻ دهر انسان په احسن تقویم کی کیدل فرمایلی دی چې هیڅ شی دده څخه زیات حسین نسته چې دایی واوریدل نوټول عالمان اوفقهاء حیران سول اوهیڅ مخالفت یی ونه کی اومنصور حکم وکی چې طلاق نه دی سوی.

ددی څخه معلومه سوه چې انسان دالله ﷻ په ټول مخلوق کی دټولوڅخه زیات ښائسته دی، په ظاهر اعتبار سره هم اودباطن په اعتبار سره هم، دحسن اوجمال په اعتبار سره هم اودبدنی ساخت په اعتبار سره هم، دده په سرکی ځنګه ځنګه اندامونه ځنګه عجیبه کارونه کوی چې یوه مستقله فیکټری

(کارخانه) معلومیږي په کمه کې چې ډیر نازك باریك خودکار مشینونه کار کوي، داحال دده دسینې اودنس دی، دغه شان دده دلاسونو پښو ترکیب اوهیئت پرزرګونو حکمتونو باندی مبني دی، په دی وجه فلاسفه وایي چې انسان یوعالَم اصغر یعنی دپوره عالم یوه نمونه ده، په ټول عالم کې چې کوم شیان خپاره دي، هغه ټول دده په وجود کې جمع دي (قرطبي)

صوفیاء کرامو ﷺ هم ددې تائید کړی دی اوځینې حضراتو دانسان دسرڅخه ترپښوپورې په ټول بدن کې دعالم دشیانو نمونې ښوولې دي.

ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ: په اوله جمله کې دټول مخلوقات اوکائنات څخه داحسن جوړولو بیان وو په دی جمله کې ددې بالمقابل داښوول سوی دی چې څه رنګه دی په خپله ابتداء اواشباب کې دټول مخلوقات څخه زیات حسین اودټولو ښه وو، په اخرکی پرده داحالت هم راځي چې دی دبدو څخه بدتر او دناکارو څخه ناکاره سي، ظاهره ده چې بدتری او ناکاروالی دده دظاهری جسماني حالت په اعتبار سره ښوول سوی دی چې دځواني مړاوی کیدو څخه وروسته شکل اوصورت بدلیدل شروع سي، زوړوالی دده صورت بالکل بدل کې بدهیئته اوبدشکله په نظر راځي، بې کاره اوپر نورو باندی بارپاته سي، دهیڅ کارنه وي، په خلاف دنورو حیواناتوچې هغه تراخره پورې خپل کارکوي انسان ددغو څخه دشیدو، سپرلی، باربرداری اونورپه سوونه کارونه اخلي، هغه ذبح سي اوکه مړ سي هم ددغو څرمن، ورېښته، هډوکي غرض دجسم ریزه ریزه یې دانسانانوپه کار ورځي، په خلاف دانسان څخه چې کله هغه په بیماری اوزوړوالی کې عاجز اودرمانده سي نودمادی اودنیا داری په اعتبارسره دهیڅ کارنه وي، دمرګ څخه وروسته هم دده هیڅ جز دانسان یاحیوان په هیڅ فائده نه ورځي، لنډه داچې دده اسفل السافلین ته درسیدو څخه مراد دده مادی اوجسماني کیفیت دی، دا تفسیر حضرت ضحاك اونورو دتفسیر امامانو کړی دی (قرطبي)

په دی تفسیر باندی په راتلونکې آیت کې کمه چې دمومنانو صالحانو داستثنی یعنی، إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ: ذکر دی، ددې دا مطلب نه دی چې په دوی په زوړوالی کې دعجز اودرماندګی حالت نه راځي بلکه مطلب دادی چې ددې جسماني بې کاری اومادی خرابی نقصان ده ته نه رسیږي بلکه نقصان صرف هغو خلګوته رسیږي کوموچې خپل ټول فکر اوتوانایی پردی مادی صحیح والی باندی خرڅ کړی وو اوس هغه ختم سو اوپه اخرت کې ددوی هیڅ حصه نسته، په خلاف دصالحانو مومنانو څخه چې دهغوی اجر اوثواب هیڅکله قطع کیدونکی نه دی، که په دنیاکی دزوړوالی، بیماری کمزوری اوعجز سره یې واسطه هم راسي، نوپه اخرت کې ددوی دپاره لوی درجې او راحتونه موجود دي او دزوړوالی په بې کاری کې هم دعمل کمیدو باوجود ددوی په علمناموکی هغه ټول عملونه لیکل کیږي کوم چې هغوی دقوت په زمانه کې کول.

دحضرت انس ﷺ څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چې کله یو مسلمان په یوبیماری کې مبتلاسي نوالله ﷻ دده عمل لیکونکی ملائکې ته حکم ورکړی چې کوم کوم عمل دخیرده په خپل

روغوالی کی کوی هغه تول دده په عملنامه کی لیکی (رواه البغوی فی شرح السنة والبخاری عن ابی موسیٰ مثله فی المریض والمسافر)

ددی څخه علاوه په دی مقام دمومنانو صالحانو دجزا جنت اوددی دنعمتونو بیانولو پر ځای یی: لَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُمَمْنُوْنٍ : فرمایلی دی، یعنی د دوی اجر همیشکله قطع کیدونکی نه دی په دی کی اشاره دی طرف ته هم کیدی سی چی ددوی داصله ددنیادمادی ژوند څخه شروع کیږی حق تعالی دخپلو مقبولو بندګانودپاره په زوړوالی اوضعف کی داسی مخلص ملګری ورکړی کم چی دده تراخری لمحی پوری دده څخه روحانی فائدی اخلی او دده هرقسم خدمت کوی، دعه شان دزوړوالی هغه وخت کله چی انسان په مادی او جسمانی ډول معطل او بی کاره اوپه خلګوبارګنل کیږی دالله ﷻ دابنده په دغه وخت کی هم بی کاره نه وی اوځینو مفسرینو حضراتو ددی آیت تفسیر دافرمایلی دی چی ، رَدَدْنٰهُ اَسْفَلَ سٰفِلِيْنَ دعامو انسانانو دپاره نه دی، بلکه دکافرانو اوفاجرانو دپاره دی کموچی خدای ورکړی احسن تقویم اوانسانی کمالات اوشرافت اوعقل په مادی لذتونو پسی بربادکی نوددی ناشکری په سزاکی به دوی اسفل السافلین ته ورسول سی ، په دی صورت کی د ، اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا استثناء په خپله ظاهری معنیٰ باندی پاته کیږی چی اسفل السافلین ته درسیدو څخه هغه خلک مستثنیٰ دی کوم چی ایمان راوړی اودنیك عمل پابندوی، ځکه چی د دوی اجر همیشه وی (مظهری)

فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّيْنِ : په تیرو آیتونوکی دتخلیق انسانی کمال اوپرده دحق تعالی دخاصو انعاماتو بیاپه زوړوالی کی دانقلاب دحالت ذکریی وفرمایی په دی آیت کی یی منکرینو دقیامت ته خبرداری ورکړی دی چی دقدرت الهی دداسی مناظرو اوانقلاباتو دلیدو څخه وروسته هم څه ګنجائش سته چی تاسی اخرت اوقیامت درواغجن کی ، ایا الله ﷻ په ټولو حاکمانو لوړ حاکم نه دی ؟

مسئله : دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی سورة تین ووایی اودی آیت ته ورسیږی ، اَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَحْكَمِ الْحٰكِمِيْنَ نوده ته په کار دی چی داکلمه ووایی ، بَلٰى وَاَنَا عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشّٰهِدِيْنَ : په دی وجه فقهاء فرمایی چی داکلمه ویل مستحب دی .

تمّت سورة التین والحمد لله ۳۰ شعبان سنه ۱۳۹۱هـ

﴿ سورة العلق ﴾

سُوْرَةُ الْعَلَقِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ هِيَ تِسْعَ عَشْرَةَ اٰيَةً

سورة العلق په مکه کی نازل سو او په دی کی نولس (۱۹) آیتونه دی .

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی .

اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ ۝ۚ۱ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۝ۚ۲

ووایه دخپل رب په نوم سره کوم چی دتولو پیدا کوونکی دی ، پیداکړی یی دی بنده دټوتی دوینی څخه ،

اِقْرَاْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ ۝۳ الَّذِیْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ۝۴ عَلَّمَ الْاِنْسَانَ

او ووایه او ستا رب لوی کریم دی ، کوم چی علم وښوودی په قلم سره ، وې ښوول انسان ته

مَا لَمْ یَعْلَمْ ۝۵ كَلَّاۤ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَیَطْغٰۤی ۝۶ اَنْ رَّاٰهُ اسْتَغْنٰی ۝۷

هغه چی دی پر نه پوهیدی ، داسی هیڅکله نه ده بیشکه بنده سرکشی کوی ، په دی چی وینی خپل ځان بی

اِنَّ اِلٰی رَبِّكَ الرُّجْعٰی ۝۸ اَرَءَیْتَ الَّذِیْ یَنْهٰی ۝۹ عَبْدًا اِذَا

پروا ، بیشکه ستا رب طرف ته واپسی ده ، آیا تا ولیدل هغه چی منع کوی ، یو بنده کله چی

صَلّٰی ۝۱۰ اَرَءَیْتَ اِنْ كَانَ عَلَی الْهُدٰۤی ۝۱۱ اَوْ اَمَرَ بِالتَّقْوٰی ۝۱۲

هغه لمونځ کوی ، آیا ته وینی که چیری وی په سیده لاره ، یا یی امر کولی په تقویٰ سره ،

اَرَءَیْتَ اِنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰی ۝۱۳ اَلَمْ یَعْلَمْ بِاَنَّ اللّٰهَ یَرٰی ۝۱۴

آیا ته وینی که درواغجن یی کی او مخ یی واړوی ، آیا دی نه پوهیږي چی بیشکه الله ﷻ وینی ،

كَلَّا لَىِٕنْ لَّمْ یَنْتَهِ ۙ۬ لَنَسْفَعًۢا بِالنَّاصِیَةِ ۝۱۵ نَاصِیَةٍ كَاذِبَةٍ

داسی نه ده که دی منع نه سو ، نوموږ به را کشوو دی دتندی څخه نیولی ، دتندی درواغجن

خَاطِئَةٍ ۝۱۶ فَلْیَدْعُ نَادِیَهٗ ۝۱۷ سَنَدْعُ الزَّبَانِیَةَ ۝۱۸ كَلَّا ؕ

گناهګار څخه ،نو را ودی بولی خپل مجلسان ، موږ به هم را وبلو پیاده ، دسیاست کولو دپاره ، داسی نه ده

لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ ۝۱۹ (السجدة)

مه منه د دوی خبره او سجده کوه اونږدی کیږه .

لنډتفسیر: د:اِقْرَاْ څخه تر مَالَمْ یَعْلَمْ پوری دټولو څخه اولنی وحی ده دکومی دنزول څخه چی دنبوت ابتداء وسوه چی قصه یی په حدیث دشیخینو کی داده چی دنبوت ورکیدو ته په نژدی زمانه کی دی ﷺ په خپله خلوت پسند سو ، ده ﷺ به غارِحرا ته تشریف وړی او څو څوشپی به هلته وو یوه ورځ ناڅاپه جبرائیل ؑ تشریف راوړی اودوی ﷺ ته یی وویل چی اِقْرَاْ یعنی ووایه دوی وفرمایل چی مَا اَنَا بِقَارِیٍٔ، یعنی زه ویونکی نه یم، هغوی په غیږ کی زور ورلره ورکی، بیایی ایله کی اوبیایی ورته وویل چی اقرا دوی بیا

هغه جواب ورکې دغه شان درې واره يې زور ورکې په اخروار دپرېښودلو څخه وروسته يې ورته وويل، اقْرَاْ تر: مَالَمْ يَعْلَمْ پورې.

اې پيغمبر (ﷺ په) تاسې (چې کوم) قرآن (نازليږي په کوم کې چې ددې وخت نازليدونکې ايتونه هم داخل دي) دخپل رب نوم اخله وايه يعني کله چې وايې بسم الله الرحمٰن الرحيم وايه، لکه چې په دې آيت، اِذَا قَرَاْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ الخ کې دقرآن سره داعوذبالله ويلو حکم سوې دې اوپه دې دواړوکارونوسره چې کوم اصل مقصوددې يعني توکل اواستعانت دغه خوجواب دې اوپه ژبه سره ويل سنت اومستحب دې که څه هم داصل مقصودپه اعتبار سره ددې آيت دنزول په وخت کې دبسم الله معلوميدل ضروري نه دي ليکن په ځينو روايتونوکې ددې سورة سره دبسم الله الرحمٰن الرحيم، نازليدل هم راغلي دي.

اَخْرَجَهُ الْوَاحِدِيُّ عَنْ عِكْرَمَةَ وَالْحَسَنِ اَنَّهُمَا قَالاَ اَوَّلُ مَا نَزَلَ (بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) وَاَوَّلُ سُوْرَةٍ اِقْرَاْ وَاَخْرَجَهُ ابْنُ جَرِيْرٍ وَغَيْرُهُ مِنْ طَرِيْقِ الضَّحَاكِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّهُ قَالَ اَوَّلُ مَا نَزَلَ جِبْرِئِيْل عَلَيْهِ السَّلَامِ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ قَالَ يَا مُحَمَّدُ اِسْتَعِذْ ثُمَّ قُلْ (بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) كذا فى روح المعانى.

او په دې ايتونوکې چې کم دقرات دالله ﷻ په نوم سره دشروع کولو حکم سوې دې، په دې حکم کې په خپله ددې ايتونو داخليدل داسې دې، لکه يوبل ته چې ووايې: اِسْمَعْ مَا اَقُوْلُ لَكَ، يعني چې زه تاته څه وايم نوهغه اوره، نوپه خپله ددې جملې داوريدو حکم کول هم دده مقصوددې نو حاصل به داسې چې برابره خبره ده که داايتونه وايې ياکوم آيتونه چې وروسته نازليږي هغه وايې دټولو قرآت په نوم دخداې سره کول په کار دي اودوې ته په ضروري علم سره معلومه سوه چې داقرآن اووحي ده اوپه احاديثوکې چې کم ددوې بيريدل اوورقه بن نوفل ته بيانول راغلي دي، هغه په وجه دشبهې نه وو، بلکه دوحي په هيبت اوبيرې سره اضطراري وو اوورقه ته بيانول دزيات اطمينان اوزيات يقين دپاره وو، نه چې دعدم يقين په سبب اومعلم شاګردته دابجد شروع کولوپه وخت کې وايي چې ها ٓوايه، نو په دې سره تکليف دما لايطاق نه لازميږي اوددوې عذر فرمايل ياخوپه دې وجه دې چې ده ته ددې جملې معنٰى متعينه سوې نه وه چې په څه ويل غواړي اوداکار څه خلافِ شان نه دې يا باوجود دتعين دمراد په دې سره دې چې دقرآنت استعمال اکثره دليکل سوې شي دويلوپه معنٰى کې راځي نودوې په دې وجه چې حرفونه يې نه پيژندل دا عذر فرمايلې وې اوحضرت جبرائيل ؑ زور ورکول پرغالب ګمان، والله اعلم په حقيقت دحال، ځکه به وو چې په دوې کې دوحي دبار پورته کولو استعداد پيداکې اوپه لفظ درب سره اشاره دې طرف ته ده چې مونږ ستاکمل تربيت کوو اودنبوت اعلٰى درجوته به دې ورسوو، مخ ته درب صفت دې يعني هغه داسې رب دې، کوم چې (مخلوقات) پيدا کړل (ددې وصف په تخصيص کې دافائده ده چې دحق تعالٰى په نعمتونوکې اول ظهور ددې نعمت کيږي نوپه ذکرکې ددې مقدم کيدل مناسب دې، اودارنګه خَلَقَ دليل دې پر خالق باندې اودټولو څخه اهم اومخکې معرفت دخالق دې، مخ ته په طور دتخصيص وروسته دتعميم څخه ارشاد دې چې) کوم چې (په ټول مخلوقات کې بالخصوص) انسان

دوینی دتکړې څخه پیدا کې (ددې تخصیص څخه وروسته په تعمیم کې اشاره ده چې په نعمت د: خَلَقَ کې دعام مخلوقاتو څخه زیات انعام پرانسان دی چې ده لره یې ترکمې درجې پورې ترقي ورکړه، چې ښکلې صورت یې ورلره ورکی، په عقل اوعلم سره یې مشرف جوړکی، نو انسان ته زیات شکر اوذکرکول په کار دي اوتخصیص د: عَلَقَ شاید څکه دې چې دایو برزخي حالت دی چې ددې څخه مخکې نطفه اوغذا اوعنصردې اوددې څخه وروسته مضغه اوترکیب دهډوکو اوپوکل دروح دی، نو داګویادتولو مخکنیو او وروستنیو حالتونو مینځ دی، مخ ته دقرآت داهم مقصود مقررولو دپاره ارشاد دی چې) ته قرآن وایه (حاصل داچې په مخکې امر یعني: اِقۡرَاۡ بِاسۡمِ رَبِّكَ، سره دی داشبهه نه کیږي چې دلته اصل مقصود ذکر داِسم الله دی بلکه قرآت په خپله هم في نفسها مقصود دی، څکه چې دتبلیغ ذریعه داقرآت دی اوتبلیغ اصل کار دصاحب وحي دی، نو په دې تکرارکې ددوی ﷺ په نبوت اومامور بالتبلیغ کیدو اظهار هم وسو) او (مخ ته دهغه عذر رفع کولو طرف ته اشاره ده کوم چې دوی اول جبرائیل ؑ ته پیش کړې وو چې زه ویونکې نه یم، په دې وجه ارشاد فرمایي چې) ستارب لوی کریم دی (چې څه غواړې ورکوي اوهغه داسې دی) کوم چې (لیکونکو ویونکوته دلیکلو) په قلم سره تعلیم ورکی (اوعمومًا اومطلقًا) انسان ته یې (په نورو ذریعو سره) دهغو شیانو تعلیم ورکی کم چې هغه نه پیژندل (مطلب داچې اول خوتعلیم څه په کتابت پورې منحصرنه دی، څکه چې په نورو طریقو سره هم دتعلیم مشاهده کیدی سی، دوهم اسباب مؤثر بالذات نه دي، حقیقي مسبب اوعلم ورکوونکې مونږیو، نو که څه هم ته په لیکلو باندې نه پوهیږې، مګرکله چې مونږ تاته دقرآئت امر کړې دی نومونږبه په نورو ذریعو سره تاته دقرآئت اودعلومو دیادولوپه وحي باندې قدرت درکی، چنانچې داسې وسوه، وروسته په دې ایتونوکې ددوی دنبوت اوددې دمقدماتو اومتمماتو پوره بیان وسو اوچونکې دصاحب دنبوت مخالفت انتهایي درجه ګناه اوناکاره کاردی، په دې وجه په راتلونکو ایتونوکې دکومو نزول چې داولنیو ایتونو څخه یوه موده وروسته سوی دی، د دوی دیوخاص مخالف یعني دابو جهل بدوالي په عامو الفاظو سره دی ، په کومو کې چې نورمخالفین هم شامل سي، چې ددې دنزول سبب دادی چې یووار ابوجهل دی په لمانځه کولو ولیدی، ویې ویل چې مادیر واره ته ددې څخه منع کړې اوده ﷺ هغه وترټې نوهغه وویل چې په مکه کې دټولو څخه زیاته مجمع زماسره ده اودایي هم ویلي وه چې که بیامې پرلمانځه کولو ولیدی نونعوذ بالله پرځټ به دې پښه کښیږدم، چنانچې یووارپه دې قصدسره ولاړې مګرچې نژدې ورسیدی نوودریدی اوپر شایي واپس کیدل شروع کړل، خلګو ورڅخه دوجهي پوښتنه وکړه نوویې ویل چې ماته په مینځ کې یوخندق داور حائل معلوم سو اوپرده دار شیان مې په نظر راغلل دوی وفرمایل دغه ملائکې وې که دی نور رامخ ته سوی وای، نوملائکوبه ټوټې ټوټې کړې وې، خیرې کړې به یې وای، پردې دا ایتونه نازل سول، لکه په در منثورکې چې دصحاحو اونورو کتابونو دحدیث څخه داسې دی، ارشاد فرمایي چې) بیشکه په رښتیا سره (کافر) بنده دحد (دسرې توب) څخه وزي په دې وجه چې خپل ځان (دابنایي جنس څخه) مستغني ویني (لکه دا قول دالله ﷻ دی ، وَلَوۡ بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزۡقَ لِعِبَادِهٖ لَبَغَوۡا الخ حال دا دی چې په دې

استغناء باندی سرکښی حماقت دی، ځکه چی که څه هم چاته ګویا دمخلوق څخه من وجه استغناء هم وسی، لیکن دحق تعالی څخه استغناء خوپه هیڅ حال کی نه سی کیدی، حتّی چی په اخرکی) ای مخاطبه (عامو) ستا درب طرف ته به دټولو واپس کیدل وی (اودا وخت به هم لکه دژوند په حالت کی دده دقدرت په احاطه کی ګیروی اوپه دی حالت کی کوم چی ده ته دسرکښی سزاورکول کیږی، ددی څخه به هم هیڅ چری نه سی تښتیدی پس دداسی قادر څخه داسی عاجز کله مستغنی کیدی سی، نوځان مستغنی ګڼل اوپردی بنا سرکښی کول لویه بی عقلی ده، مخ ته په صورت داستفهام تعجب دی دده په سرکښی یعنی) ای مخاطبه (عام) ښه دهغه سړی حال خو وښیه کوم چی (زمونږ) یوخاص بنده منع کوی کله چی هغه (بنده) لمونځ کوی (مطلب دا چی دهغه سړی حال خووګوره نوویی ښیه چی ددی څخه زیاته دتعجب خبره به هم څه وی حاصل داچی دلمونځ کوونکی دلمونځ څخه منع کول ډیره ناکاره اودتعجب خبره ده، مخ ته ددی تعجب دتاکید اوتقویت دپاره مکرر فرمایی چی) ای مخاطبه (عام) آیادا خو وښیه چی که هغه بنده (کوم چی دلمانځه څخه منع سوی دی) په هدایت وی (کوم چی لازمی کمال دی) یاهغه (نوروته هم) دتقوی تعلیم ورکوی (کوم چی کمال متعدی یعنی نوروته نفع رسول دی اوشاید چی په کلمه دتردید راوړلو سره اشاره دی طرف ته وی چی که په دی کی یوصفت هم وی، نوبیا هم دمنع کوونکی دمذمت دپاره کافی وو، بیا لاڅه کوی چی دواړه پکښی وی او) ای مخاطبه (عام) آیا داخو وښیه چی که دغه سړی (منع کوونکی حق دین) درواغجن کوی او (دحق دین څخه) مخ اړوی (یعنی نه عقیده لری اونه عمل، یعنی اول خودا وګوره چی دلمانځه څخه منع کول څومره بددی، بیا بالخصوص داوګوره چی کله منع کوونکی یوګمراه اوښوك چی منع کوی، هغه دهدایت اعلی نمونه ده نودا څومره عجیبه خبره ده، مخ ته پردی منع کولو باندی ده ته وعید دی یعنی) ایاهغه سړی ته داخبر نسته چی الله ﷻ (دده سرکښی اوپه دی سره پیدا کیدونکو عملونه) وینی (اوپر دی به سزا ورکوی، مخ ته پردی زجردی یعنی ده لره) هیڅکله (داسی) نه دی (کول په کاراو) که داسړی (دخپل دی حرکت څخه) منع نه سونومونږبه (دی) دتندی څخه ونیسو کوم چی درواغجن اوپه خطاکی ککړ تندی دی (دجهنم طرف ته) به یی راولو (ناصیه دتندی وېښتوته ویل کیږی کوم ته چی په ېښتوکی پیکی وایی، ددی په صفت کی یی کاذبه او خاطئه مجازاً وفرمایل، اودی چی کوم په خپل مجمع باندی مغرور دی اوزمونږ پیغمبر په بیروی) نو دی دی خپل مجلسیان راوبلی (که ده داسی وکړل نو) مونږبه هم ددوزخ پیاده راوبلو (چونکی هغه راونه بلل، په دی وجه الله ﷻ دغه ملائکی هم راونه بللی، لکه چی طبری دقتاده څخه روایت کړی دی، مرسلاً قال النبی ﷺ لَوْفَعَلَ اَبُوْجَهْلٍ اَخَذَتْهُ الْمَلٰٓئِكَةُ الزَّبَانِيَةُ عَيَانًا: مخ ته بیا دزیادت دزجر دپاره ده ته خبرداری دی چی ده لره) هیڅکله داسی) نه دی (کول په کار مګر) ته (ددی نالائق ددی حرکتونو پروا مه کوه او) دده خبره مه منه (لکه چی تراوسه دی هم نه ده منلی) اوپه خپله طریقه لمونځ کوه اودخدای نژدیکت حاصلوه (په دی کی یولطیفه وعده ده چی حق تعالی به تا ددی خلګو دضرر څخه محفوظ ساتی ځکه چی په لمانځه سره قرب حاصلیږی اوقرب موجب دعظمت دی الا لحکمة خاصة، نو داسی کارونوطرف ته هیڅ التفات مه کوه په خپل کار اخته اوسه)

معلومات اومسئلي

(دنبوت دوحي ابتداء اودتولو څخه اولني وحي)

په صحيحينو اونورو معتبرو روايتونو سره ثابته او دجمهورو سلفو اوخلفو په دی اجماع اواتفاق دی چی دوحی ابتداء دسورة علق يعنی اِقْرَاْ څخه سويده اوددی سورة ابتدايی پنځه أيتونه تر، مَالَمْ يَعْلَمْ پوری دتولو څخه اول نازل سوه، ځينو حضراتو سورة مدثر اولنی سورة مقرر کړی دی اوځينو سورة فاتحه، امام بغوی رحمه الله فرمايی چی دجمهورو سلفو او خلفو په نزد صحيح داده چی دتولو څخه اولنی دسورة اقراء ابتدايی پنځه ايتونه نازل سوی دی (لکه دارنګه روايت دی دابن عباس رضی الله عنه، زهری عمرو بن دينار، درمنثور) اوکوموحضراتوچی سورة مدثر اولنی سورة مقررکړی دی دهغه وجه دا ده چی د، اِقْرَاْ دپنځو ايتونو دنازليدو څخه وروسته دقرآن په نزول کی تريوی مودی پوری توقف راغلی کوم ته چی زمانه دفترت ويل کيږی اودوحی په تاخير اوتوقف سره نبی کريم ﷺ ته ډير خفګان اوغم پيښ سو، ددغه څخه وروسته بيا ناڅاپه حضرت جبرائيل امين عليه السلام مخ ته راغلی او دسورة مدثر ايتونه نازل سول، دغه وخت هم په نبی کريم ﷺ دوحی دنزول اوملاقات دجبرائيل امين څخه هغه کيفيت طاری سو، کوم چی دسورة اقرا دنزول په وخت کی پيښ سوی وو چی بيان يی مخ ته راځی، دغه شان دفترت څخه وروسته دتولوڅخه اول دسورة مدثر ابتدايی ايتونه نازل سوه، په دی لحاظ سره دی ته هم اولنی سورة ويل کيږی اوسورة فاتحه ته چی کوموحضراتو اولنی سورة فرمايلی دی، دهغه هم يوه وجه ده هغه داچی مکمل سورة دتولو څخه اول سورة فاتحه نازل سو، ددی څخه اول دځو سورتونو دمتفرقو ايتونو نزول سوی وو، (مظهری)

دصحيحينو په يواوږد حديث کی دنبوت اووحی دابتداء واقعه داسی بيان سويده چی ام المومنين حضرت عائشه رضی الله عنها فرمايی چی دتولو څخه اول په نبی کريم ﷺ باندی دوحی سلسله دربنتينو خوبونو څخه شروع سوه چی کيفيت يی داوو چی څه به دوی په خوب کی ليدل، بالکل دهغه مطابق به واقعه پيښيده اوپه دی کی به دڅه تعبير هم ضرورت نه وو دسهار دړنا په شان په خوب کی ليدلی واقعه به په واضح طور سره پيښيده، ددی څخه وروسته نبی کريم ﷺ ته دمخلوق څخه ديکسويی اوخلوت نشينی داعيه قوی پيښه سوه دکم دپاره چی دوی غارِ حرا منتخب کی (داغار دمکی مکرمی دقبرستان جنت المعلی څخه لږمخکی پريوه غره باندی دی، کم ته چی جبلِ نور ويل کيږی، ددی سر دليری څخه په نظر راځی) حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها فرمايی چی دوی به دی غارته تلل اوډيری شپی به په کی اوسيدی اوعبادت به يی کوی، ترڅو پوری چی به ورته داهل اوعيال دخبر ګيری ضرورت نه وو پيښ سوی هلته به اوسيدی اوددغه وخت دپاره به دوی ضروری توښه دځان سره وړله اوبيا چی به توښه ختمه سوه، نوام المومنين حضرت خديجه رضی الله عنها ته به يی تشريف راوړی او دنورو ورځو دپاره به يی توښه وړله، تردی چی دوی په دی غارِ حراکی وه چی ناڅاپه دوی ته حق يعنی وحی را ورسيده (په غارِ حراکی دخلوت نشينی په موده کی دعلماوو اختلاف دی، دصحيحينو روايت دی چی ده پوره مياشت يعنی درمضان ټوله

میاشت یی په هغه کی قیام وفرمایی، ابن اسحاق په سیرت کی اوزرقانی په شرح مواهب کی فرمایی چی ددی څخه زیاته موده په څه صحیح روایت سره ثابته نه ده اودا عبادت کوم چی دوی په غارِ حرا کی دوحی دنازلیدو څخه اول کوی، هغه وخت دلمانځه اونور تعلیم خوسوی نه وو، ځینی حضرات فرمایی چی دنوح اوابراهیم اوعیسیٰ ﷺ دشریعتونو مطابق عبادت یی کوی مگرنه په څه روایت سره ددی ثبوت سته، اونه ددوی دامی والی په وجه دااحتمال صحیح دی بلکی ظاهره داده چی دغه وخت د دوی عبادت محض دمخلوق څخه انقطاع او دالله ﷻ طرف ته خاص توجه او تفکر وو (مظهری)

حضرت صدیقه ﷺ فرمایی چی دوحی راتلو صورت داسی وسوچی جبرائیل امین دوی ته راغی او دوی ته یی وویل اِقْرَاْ ، یعنی ووایه، دوی وفرمایل، مَا اَنَا بِقَارِیٍٔ، یعنی زه ویونکی نه یم (ځکه چی دی امی وو اودحضرت جبرائیل دقول اِقْرَاْ مراد پردوی دغه وخت واضح نه وو چی څه اوځنگه راباندی ویل غواړی، ایا یولیکل سوی لیك راکوی چی هغه به ویل وی، په دی وجه یی دخپل امی کیدو عذروکی) دحضرت صدیقه ﷺ په روایت کی دی چی دوی وفرمایل چی زماپه دی جواب باندی جبرائیل امین زه په غیږکی ونیولم اودومره زوریی راکی چی مایی تکلیف محسوس کی، ددی څخه وروسته یی پریښوولم اوبیایی دغه خبره د اِقْرَاْ وکړه مابیا دغه جواب ورکی چی زه ویونکی نه یم، نوبیایی دوباره په غیږکی ونیولم اودومره زوریی راکی چی مایی تکلیف محسوس کی، بیایی پریښوولم اوپه دریم وایی یی بیاوویل اِقْرَاْ مابیا هغه جواب ورکی مَا اَنَا بِقَارِیٍٔ نوپه دریم واریی بیاپه غیږکی ونیولم اوزوریی راکی بیایی پریښوولم، ویی ویل.

اِقْرَاْبِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ، خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ، اِقْرَاْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ ، الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ، عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَالَمْ يَعْلَمْ دقرآن دا (دټولو څخه اولنی پنځه) ایتونه یی راوړل او کورته یی تشریف راوړی دده زړه رپیدی، حضرت خدیجه ﷺ ته راغی ، ویی فرمایل چی زَمِّلُوْنِیْ زَمِّلُوْنِی، ماپټ کړه ماپټ کړه (حضرت خدیجه ﷺ کپړه پر واچوله) تردی چی دادهیبت کیفیت ورڅخه لیری سو (داکیفیت اورپیدل دحضرت جبرائیل ﷺ دبیری څخه نه وو، ځکه چی دده ﷺ شان دده څخه ډیر لوړ اوپورته دی، بلکه ددی وحی په ذریعه چی کومه د دوی دنبوت اورسالت ذمه واری دوی ته وسپارل سوه دهغه گران بار محسوسول اودیوی ملائکی په اصلی حالت کی په لیدو سره په طبعی طور دا دهیبت کیفیت په خپور سو .

حضرت صدیقه ﷺ فرمایی چی دارام کیدو څخه وروسته نبی کریم ﷺ حضرت خدیجه ﷺ ته دغارِحرا پوره واقعه واوروله اوویی فرمایل چی په دی سره پر مایو داسی کیفیت رالی چی دخپل ځان بیره راسره پیداسوه، حضرت خدیجه ﷺ عرض وکی چی داهیڅکله نه سی کیدی، الله ﷻ به تاهیڅکله ناکامه نه کی ځکه چی ته صله رحمی کوی، ددروند بار والاوو څخه بار پورته کوی، بی روزگاره خلگ په روزگار باندی لگوی، دمیلمنو میلمستیا کوی اوپه مصیبت کی دگیرو خلگو امداد کوی (حضرت خدیجه ﷺ تعلیم یافته ښځه وه، دی ته شاید چی دتیرو کتابونو تورات اوانجیل څخه یاددی دعالمانو څخه ورته داخبره معلوه سوی وه چی دکم سړی اخلاق اوعادت داسی کریمانه وی، هغه محروم اوناکامه کیدی نه

سی په دی وجه په دی طریقه یی نبی کریم ﷺ ته تسلی ورکړه)
ددی څخه وروسته حضرت خدیجه ﷺ دی ﷺ خپل داکا زوی ورقه بن نوفل ته بوتلی، دی دجاهلیت په زمانه کی دبت پرستی څخه توبه ګارسوی نصرانی سوی وو (څکه چی په دغه وخت کی حق دین داوو) ورقه بن نوفل تعلیم یافته سړی وو په عبرانی ژبه هم پوهیدی اوعربی خوبی مورنی ژبه وه ده به په عبرانی ژبه کی هم لیکل کول او انجیل به یی په عربی کی لیکی اودغه وخت هغه ډیر بوډا وو دبوډاوالی په وجه یی نظر ختم سوی وو، حضرت خدیجه ﷺ ورته وویل چی زما داکا زویه! ددی خپل وراره خبره واوره، ورقه ابن نوفل دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه نودوی چی په غارِ حراکی څه لیدلی وه بیان یی کړل، ورقه بن نوفل داوریدو سره وویل چی داهغه ملائکه ده کومه چی په حضرت موسٰی ﷺ باندی الله ﷻ نازله کړی وه ، کاشکی! چی زه ستا دنبوت په زمانه کی قوی وای او کاشکی! چی زه هغه وخت ژوندی وای کله چی ستاقوم تا (دوطن څخه) باسی، نبی کریم ﷺ (په تعجب سره) پوښتنه وکړه ایا زما قوم به ماباسی، ورقه وویل چی بیشکه باسی به دی څکه چی کله چی هم څوك ددغه حق پیغام اوحق دین سره راغلی دی کوم چی تا راوړی دی نودهغه قوم هغه ازار کړی دی اوکه ماهغه زمانه پیدا کړه نوستا پوره مددبه وکړم ، مګر ورقه ددی څخه څوورځی وروسته انتقال وکی اوددی واقعی څخه وروسته دقرآن دوحی سلسله بنده سوه (بخاری اومسلم)
دفترتِ وحی دمودی په حقله دسهیلی روایت دادی چی دوه نیم کاله وه اوپه څینو روایتونوکی دری کاله موده بیان سوی ده (مظهری)

اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ په : بِاسْمِ رَبِّكَ کی دلفظ داسم په زیاتولو سره اشاره دی طرف ته چی قرآن کله هم وایی نو دالله ﷻ نوم اخله یعنی بسم الله الرحمٰن الرحیم وایه شروع کوه یی لکه چی په لنډ تفسیرکی لیکل سوی دی ، دوهمه اشاره په دی کی دهغه عذر دجواب ده کوم چی دوی پیش کړی وو چی زه قاری نه یم، د ، اِسْمِ رَبِّكَ په لفظ سره دی طرف ته اشاره وسوه چی که څه هم ته دخپل موجوده حالت په اعتبار سره امی یی ویونکی لیکونکی نه یی مګر ستارب ته پرهرڅه قدرت سته، هغه امی سړی ته داعلی علوم! او خطابت سلیقه اودفصاحت اوبلاغت هغه درجه ورکولی سی، دکوم په مخکی چی لوی لوی لیکونکی او ویونکی عاجزه سی ، لکه چی وروسته ددی ظهور وسو (مظهری)
او دلته دالله ﷻ داسماء حسنٰی څخه دلفظ درب په خصوصیت سره په اختیارولوکی ددی مضمون زیات تائید اوتاکید وسوچی الله ﷻ ستارب دی دهرشان تربیت کوی، هغه دامی کیدو باوجود په تا ویل هم کولی سی، اَلَّذِیْ خَلَقَ دالله ﷻ په صفتونوکی یی دلته دصفت دتخلیق په خصوصیت سره په ذکر کولوکی شاید داحکمت وی چی پرمخلوقات باندی څنګه انعامات اواحسانات دالله ﷻ دی، په دغو ټولوکی اولنی انعام ده لره وجود ورکول دی ، کوم چی دتخلیق ربانی په ذریعه عطا کیږی اودلته د: خَلَقَ مفعول یعنی کوم شی چی یی پیداکی هغه نه دی ذکر سوی، په دی کی اشاره دعموم طرف ته چی ټول کائنات دهغه مخلوق دی.

خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ په اَلَّذِیْ خَلَقَ : کی دټول کائنات دتخلیق بیان سوی وو، په خَلَقَ الْاِنسَانَ : کی داشرف المخلوقات انسان دتخلیق ذکریی وفرمایی چی په فکرسره وکتل سی نودټول کائنات اومخلوقات خلاصه انسان دی په جهان کی چی څه دی دهغه نظیرونه دانسان په وجودکی موجود دی، په دی وجه انسان ته عالم اصغر ویل کیږی اودانسان دتخصیص په ذکرسره یوه وجه داهم ده چی دنبوت اورسالت اوقرآن نازلولو مقصد دالله ﷻ داحکامو نافذ کول اوعمل کول دی اودغه دانسان سره مخصوص دی، د: عَلَقَ معنٰی پرْم سوی وینه ده، دانسان په پیدا کولوکی مختلف دورونه تیریږی ، دده ابتداء دخاوری اوعناصرو څخه ده، بیا دنطفی څخه، دهغه وروسته دعلقی څخه یعنی پرْم سوی وینی څخه، بیا دمضغه غوښی څخه، بیا هډوکی اونور اجزآء یی پیدا کیږی، عَلَقَ دتخلیق په دی ټولو دورونو کی یودرمیانه حالت دی، دایی اختیارکی، دده اول اواخر طرف ته اشاره وسوه .

اِقْرَاْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ : دلته لفظ داقرا مکرر راوړل سوی دی چی ددی یوه وجه په لنډ تفسیرکی تیره سوي ده او داهم ویل کیږی چی اولنی اقرایی په خپله ددوی دویلو دپاره فرمایلی وو اودادوهم دتبلیغ اودعوت اوخلګو ته یی دویلو وفرمایی اوکه محض دتاکید دپاره تکرار وی نوهم بعیده نه ده اوپه صفت داکرام کی دی طرف ته اشاره ده چی په پیدا کولو دعالم اوپیدا کولو دانسان کی دالله ﷻ خپل څه غرض اونفع نسته، بلکه دا ټول په مقتضاء دجود اوکرم دی چی بی غوښتویی کائنات ته دوجود لوی نعمت عطاء وفرمایی .

اَلَّذِیْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ : دتخلیق انسانی څخه وروسته دده دتعلیم بیان دی ځکه چی تعلیم هغه شی دی کوم چی انسا ـ دنورو ټولو حیواناتو څخه ممتاز اودټول مخلوقات څخه اشرف او اعلی جوړوی، بیا دتعلیم عام صورتونه دوه دی، یوزبانی تعلیم، دوهم په ذریعه دقلم تحریر اوخط سره، په ابتداء دسورة کی په لفظ داقرا کی که څه هم دزبانی تعلیم ابتداء ده مګرپه دی آیت کی کوم ځای چی دتعلیم ورکولوبیان راغلی دی ، په دی کی یی قلمی تعلیم مقدم کړی بیان فرمایلی دی .

(دتعلیم دټولو څخه اهمه اواوله ذریعه قلم اوکتابت دی)

یو صحیح حدیث دحضرت ابو هریره ﷺ په روایت سره دی په کم کی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی ، لَمَّا خَلَقَ اللّٰهُ الْخَلْقَ كَتَبَ فِيْ كِتَابِهِ فَهُوَ عِنْدَهُ فَوْقَ الْعَرْشِ (اِنَّ رَحْمَتِيْ غَلَبَتْ غَضَبِيْ) یعنی الله ﷻ په ازل کی چی کله مخلوق پیدا کی نو په خپل کتاب کی کوم چی په عرش دالله ﷻ سره دی داکلمه ولیکله چی ، زما رحمت به زما په غضب غالب وی .

اوپه حدیث کی داهم ثابته ده چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی اَوَّلُ مَا خَلَقَ اللّٰهُ الْقَلَمَ فَقَالَ لَهُ اُكْتُبْ فَكَتَبَ مَا يَكُوْنُ اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ فَهُوَ عِنْدَهُ فِي الذِّكْرِ فَوْقَ عَرْشِهِ یعنی دټولو څخه اول الله ﷻ قلم پیدا کی او ده ته یی حکم وکی چی ولیکه هغه ټول شیان کوم چی ترقیامته پوری کیدونکی وه ولیکل، داکتاب دالله ﷻ سره په عرش دی (قرطبی)

دقلم دری قسمونه : علماء فرمایی چی په عالم کی دری قلمونه دی، یودټولو څخه اولنی قلم کوم چی الله ﷻ په خپل لاس سره پیداکی او دکائناتو دتقدیر لیکلویی ده ته حکم ورکی، دوهم دملائکو قلم په کوم سره چی هغوی ټول کیدونکی واقعات اوددوی مقادیر، دارنګه دانسانانو عملونه لیکی، دریم دعامو

انسانانو قلم په کوم سره چې هغوی خپلې خبرې لیکي اوپه خپلو مقصدونوکې ورځخه کار اخلي، اوکتابت په حقیقت کې دبیان یو قسم دی اوبیان دانسان مخصوص صفت دی (قرطبي)
دتفسیر امام مجاهد دابو عمرو ځخه نقل کړی دی چې الله ﷻ په ټولو کائناتو کې څلور شیان په خپلو لاسونو دقدرت سره په خپله جوړکړل اوددوی ځخه ماسوادباقي مخلوقاتو دپاره یې حکم وکړ چې کُنْ یعنی سه، هغه موجود سی هغه څلور شیان دا دی ، قلم، عرش، جنتِ عدن، ادم ؑ.

(دکتابت علم دټولو څخه اول په دنیاکي چاته ورکول سو؟)

ځینې حضرات فرمایي چې دټولو ځخه اول دافن دکتابت ابوالبشر حضرت ادم ؑ ته ښوول سوی وو او دټولو ځخه اول هغوی لیکل شروع کړل (کعب احبار) اوځینې حضرات فرمایي چې دټولو ځخه اول دا فن حضرت ادریس ؑ ته ورکول سوی دی اودټولو ځخه اولنی کاتب په دنیاکې هغه دی (ضحاك) اوځینې حضرات فرمایي چې هرسړي کوم کتابت کوي دغه تعلیم من جانب الله دی .

(خط او کتابت دالله ﷻ لوی نعمت دی)

حضرت قتاده رحمه الله فرمایي چې قلم دالله ﷻ ډیرلوی نعمت دی که دی نه وای نونه به څه دین قائم پاته وای اونه به ددنیا کاراوبار برابر کیدی، حضرت علي ﷺ فرمایي چې دالله ﷻ ډیرلوی کرم دی چې هغه خپلو بندګانوته دهغه شیانو علم ورکی کوم چې هغوی نه پیژندل اودوی یې دجهل دتیارو ځخه نورته راوایستل اودکتابت دعلم ترغیب یې ورکی، ځکه چې په دی کې بې شمیره اوډیرې نفع دی، دکومو چې دالله ﷻ ځخه ماسوا بل هیڅوك احاطه نه سی کولی ، دټولو علومو اوحکمتونو تدوین اوداولینو اواخرینو تاریخ ددی حالات اوخبرې اودالله ﷻ نازل سوی کتابونه ټول دقلم په ذریعه ولیکل سول او تر څو چې دنیاوی دی به باقي وي، که قلم نه وای نو ددنیا او ددین په ټولو کارونوکې به خلل راسي .

(علمايي سلفو اوخلفو هميشه دخط اوكتابت ډيراهتمام كړی دی)

سلفو اوخلفو عالمانو همیشه دخط اوکتابت دتعلیم ډیر اهتمام کړی دی په کوم چې ددوی دتصانیفو عظیم الشان ذخیرې ترنن پورې شاهد دی، افسوس دی چې زمونږ په دی دورکې عالمانو اوطالبانو دا اهم ضرورت داسې نظر انداز کړی دی چې په سوونوکې به دوه څلور سړي په تحریر دخط اوکتابت پوهیدونکې راځي، فالی الله المشتکی .

(نبي كريم ﷺ ته دكتابت دتعليم نه وركولو راز)

حق تعالی ﷻ دحضرت خاتم الانبیاء ؑ شان دخلګو دفکر اوقیاس ځخه دبالاتر جوړولو دپاره ددوی دپیدائش دځای ځخه واخله ددوی ترذاتي حالاتو پورې ټول داسې جوړکړی وه په کوموکې چې یوانسان په خپل ذاتي کوشش اومحنت سره څه کمال نه سی حاصلولی، دپیدائش دځای دپاره یې دعربو صحرا منتخب سوه کوم چې دمتمدني دنیا اوعلم اوحکمت دمرکزو ځخه بالکل پرې سوی وو اولارې او درسیدو ذریعې دومره ګراني وې چې دشام اوعراق اومصر اونورو متمدنو ښارونو سره ددی ځای دخلګو هیڅ جوړښت نه وو، په دی وجه ټولو عربوته اُمّيين وايي، په داسې ملك اوداسې قبیلوکې دوی

پیداسول اوبیا حق تعالی داسی اسباب جوړ کړه چی دعربوپه خلکوکی چی خال خال چا څه علم اوحکمت اوخط اوکتابت زده کوی، دوی ته یی دهغو څخه دزده کړی موقع هم ورنه کړه، په دی حالاتوکی دپیدا کیدونکی انسان څخه دعلم اوحکمت اولوړو فاضلو اخلاقو دچاتصور کیدی سی، ناڅاپه حق تعالی په خلعت دنبوت سره ونمانځی اودعلم اوحکمت غیرِ منقطع سلسله یی ددوی پرژبه مبارکه جاری کړله، په فصاحت اوبلاغت کی دعربو لوی لوی شاعران اوبلیغان د دوی په مخکی عاجز وه ، دا یوه داسی ښکاره معجزه وه چی هریو سترګو والا ددی په لیدو ددی یقین کولو څخه بغیر نسی پاته کیدی چی ددوی کمالات دسعی اوعمل نتیجه نه بلکه دالله ﷻ غیبی عطیات دی دخط اوکتابت په تعلیم نه ورکولو کی هم دا حکمت وو (قرطبی)

عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ : ددی څخه په اولنی آیت کی دتعلیم دیوی خاص ذریعی ذکروو، کومه چی په عام طور سره دتعلیم دپاره استعمالیږی یعنی قلمی تعلیم.

(دعلم ذریعه صرف قلم نه دی بلکه بي شمیره ذریعي دی)

په دی آیت کی ددی ذکردی چی اصلی تعلیم ورکوونکی الله ﷻ دی اودهغه دپاره دتعلیم ذریعی بی شمیره دی څه په قلم سره مخصوص نه دی، په دی وجه فرمایی چی الله ﷻ انسان ته هغه علم ورکی دکوم څخه چی دی مخکی ناخبره وو، په دی کی دقلم یادبلی ذریعی دتعلیم په نه ذکر کولو سره دی طرف ته اشاره ده چی دحق تعالی داتعلیم دانسان دابتداء دپیدائش څخه جاری دی چی اول یی په ده کی عقل پ[illegible]اکی کوم چی دټولو څخه لویه ذریعه دعلم ده، انسان په خپل عقل سره په خپله بغیر دځه تعلیم څخه ډیر شیان پیژندی سی، بیا ددی څخه وروسته یی په مخکی او وروسته خوا اوشاته دخپل کامل قدرت داسی مناظر اودلیلونه دقدرت کښیښوول، دکوموپه مشاهده کولو سره چی هغه په خپل عقل سره خپل پیدا کوونکی پیژندی سی، بیا دوحی او الهام په ذریعه یی دډیرو شیانو علم انسان ته ورکی او دډیرو ضروری شیانو علم یی دانسان په ذهن کی خودبخوده پیداکی، په کوموکی چی دیو ژبی یاقلم دتعلیم دخل نسته ، یوبی شعوره بچی دمور دنس څخه دپیدا کیدو سره دخپل خوړاك مرکز یعنی دمور سینه پیژنی، بیا دسینی څخه دتی را ایستلو دپاره خله ښوروِل ده ته چا وښوول اوځوك یی ورزده کولی سی، بیاده ته دژړا یو هنر الله ﷻ دپیدا کیدوسره وښووی، دکوچنی داژړا دده دټولو ضرورتونو دپوره کولو ذریعه جوړیږی، چی دی په ژړا ووینی نومور اوپلار په دی فکرکی سی چی ده ته څه تکلیف دی، دده لوږه تنده، یخنی ګرمی ټول ضرورتونه په دی ژړا سره پوره کیږی، دادژړا تعلیم دی، نوی پیدا سوی کوچنی ته چا ښولی سوای اوځنګه به یی ښوولی سوای، داټول وهبی علم دی کوم چی الله ﷻ دهرجاندار خصوصاً دانسان په ذهن کی پیدا کړی دی ددی ضروری علم څخه وروسته بیا دزبانی تعلیم، بیا دقلبی تعلیم په ذریعه دده په علوموکی اضافه کیږی اود: مَالَمْ يَعْلَمْ یعنی کوم چی ده نه پیژندی، ددی ویناپه ظاهره هیڅ ضرورت نه وو، ځکه چی عادتاً تعلیم خودهغه شی کیږی ، کوم چی انسان نه پیژنی، ددی په فرمایلو کی اشاره دی طرف ته ده چی داخدای ورکړی علم اوهنر انسان خپل ذاتی کمال ونه ګڼی، په مَالَمْ

يَعَلَمْ سره يې اشاره وفرمايله چې پرانسان يوداسې وخت هم راغلی دی، کله چې هغه هيڅ نه پيژندل، لکه چې په قرآن کريم کې دی: اَخْرَجَكُمْ مِّنْ بُطُـوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ شَيْئًا، يعنی الله ﷻ تاسی ستاسی دمندو دنس څخه په داسې حالت کې راوايستلاست چې تاسې په هيڅ نه پوهيدلاست، معلومه سوه چې انسان ته څه علم اوهنر ښوول سوی دی، دادده ذاتي نه دی، بلکه ټول دخالق اومالك وركړه ده (مظهری)
اوځينې مفسرين حضرات په دې آيت کې دانسان څخه حضرت ادم ﷺ يانبی کريم ﷺ مراد مقرر کړی دی، ځکه چې ادم ﷺ دټولو څخه اولنی انسان دی کوم ته چې تعليم ورکول سو، وَعَلَّمَ اٰدَمَ الْاَسْمَآءَ كُلَّهَا، اونبی کريم ﷺ هغه اخری پيغمبردی دکوم په تعليم کې چې دټولو سابقينو انبياؤ علمونه او دلوح اوقلم علمونه شامل دي لکه چې وايي ، وَمِنْ عُلُـوْمِكَ عِلْمُ اللَّوْحِ وَالْقَلَمِ .
تردې پوری دسورة اقرا پنځه ايتونه دټولو څخه اول نازل سول، ددې څخه وروسته ايتونه کافي زمانه وروسته نازل سوی دی، ځکه چې باقي ايتونه دسورة تراخره پوری دابوجهل ديوی واقعې په حقله دی اودوحی اونبوت په ابتداء کې خوپه مکه کې هيڅوك هم د دوی مخالف نه وو، ټولوبه دوی ﷺ دامين په لقب سره ياد وی او محبت اوتعظيم به يې کوی، دابوجهل مخالفت اودښمنی خصوصًا دلمانځه کولو څخه دمنع کولو واقعه کمه چې په مخ ته ايتونوکی راتلونکی ده، ظاهره ده چې دهغه وخت ده کله چې نبی کريم ﷺ دنبوت اودعوت اعلان وفرمايي اودمعراج په شپه دوی ته دلمانځه کولو حکم ورکول سو .
كَلَّا اِنَّ الْاِنْسَانَ لَيَطْغٰى، اَنْ رَّاٰهُ اسْتَغْنٰى ددې آيت روئې سخن که څه هم ديوخاص سړی يعنی ابوجهل طرف ته دی ، کوم چې دنبی کريم ﷺ په شان کې گستاخی کړی وه ، مگر عنوان يې عام ايښی دی اوپه کوم کې چې يې دعامو انسانانو ديوی کمزوری بيان وکی ، هغه دا دی چې انسان ترڅو پوری چې دنورو محتاج وی نو سم چليږی اوکله چې دده داگمان راسی چې زه دچامحتاج نه يم، دټولو څخه بی نيازه يم، نودده په نفس کې سرکښی اونور اوپر نورو دظلم اوزياتی رجحانات پيداسی، لکه چې عمومًا په مالدارو اوپه اقتدارکی حکومت والاوو اواولاد اواحبابو اوخادمانو لرونکوکی ددې مشاهده کيدی سی چې دی دخپلی مالداری اوډلی په طاقت کې مست سی، څوك په نظرکی نه راولی، چونکی دابو جهل هم داحال وو چې دمکی مکرمی په خوشحاله خلگوکی وو اودده قبيلی بلکه دټول ښارخلگوبه دده تعظيم اوتکريم کوی اودده خبره به يې منله، هغه هم په دې غرورکی اخته سوتردې چې سيد الانبياء اواشرف الخلائق ﷺ په شان کې يې گستاخی وکړه ، په راتلونکی آيت کې دداسی سرکښانو په بدانجام باندی خبردارول دی
اِنَّ اِلٰى رَبِّكَ الرُّجْعٰى رُجْعٰى په مثل د: بُشْرٰى اسم مصدر دی ، معنی دا ده چې دټولو دخپل رب طرف ته واپسی ده ، ددې ظاهره معنی خوداده چې دمرگ څخه وروسته ټولو لره دالله ﷻ خواته تلل اودښه اوبدعمل حساب ورکول دی هغه وخت به ددې سرکښی اوبدمستی بد انجام ويني اوداهم ليری نه ده چې په دې جمله کې دمغرور انسان دغرورعلاج ښوول سوی وی چې ای احمقه! ته خپل ځان دټولو څخه بی نيازه خودمختاره گڼی که فکروکی نوپه خپل هرحالت بلکه په هرحرکت اوسکون کې به خپل ځان

دحق تعالی محتاج پیدا کی که هغه په ظاهره ته چا انسان ته نه یی محتاج کړی نوکم ازکم دی ته وګوره چی الله ﷻ ته خوپه هرشی کی محتاج یی او دانسانانو دمحتاجی څخه ځان بی نیازه ګڼل هم ظاهری مغالطه ده کنه نوالله ﷻ انسان مدنی الطبع جوړکړی دی، دی یوازی په خپلو ضرورتونو کی یوضرورت هم نه سی پوره کولی که خپلی یوی نمړی ته وګوری نوپته به ولګیږی چی دزرګونو انسانانو اوحیوانانو په سخت محنت اوتر ډیری مودی پوری په کار کولو سره دانمړی جوړه سوی ده کومه چی په بی فکری سی تیریږی اودومره په زرګونو خلګ په خپل خدمت کی لګول دچا دوس خبره نه ده، دا حال دده دجامو اوټولو نورو ضرورتونو دی چی دده په تیارولو کی دزرګونو لکونو انسانانو او حیوانانو دسخت محنت دخل دی کوم چی ستا غلامان نه دی، که ته دی ټولو ته تنخواه ورکول هم وغواړی چی ستا داکارونه پوره سی، نو هیڅکله ستاپه وس کی نه ده، په دی خبروکی فکر انسان ته داراز ښکاره کوی چی دده دټولو ضرورتونو دپوره کولو نظام په خپله دده جوړسوی نه دی، بلکه خالق کائنات په خپل بالغ حکمت سره جوړکړی اوچلولی دی، دچاپه زړه کی یی واچوله چی مځکه وکری، دچاپه زړه کی یی واچوله چی لرګی وتراشی اودترکانی کار وکی، دچاپه زړه کی یی دپښتوب دکار رغبت واچوی، څوك یی په محنت مزدوری کولو راضی کی چاته یی دتجارت اوصنعت طرف ته رغبت ورکی چی دانسانی ضرورتونو بازار ولګوی نه ددی انتظام حکومت په قانون سره کولی سی اونه څوك فرد، په دی وجه په دی کی دغور اوفکر لازمی نیتجه: إِلَىٰ رَبِّكَ الرُّجْعَىٰ ده یعنی اخر دټولو شیانو دحق تعالی دقدرت اوحکمت تابع کیدل په مشاهده کی راځی.

أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَىٰ، عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰ : ددی آیت څخه دسورة تراخره پوری دیوی واقعی طرف ته اشاره ده چی کله الله ﷻ نبی کریم ﷺ ته دلمانځه کولو حکم ورکی اودوی لمونځ کول شروع کی نوابو جهل دی ﷺ دلمانځه کولو څخه منع کی اواخطار یی ورکی چی که اننده دی لمونځ وکی اوسجده دی کوله نودی به معاذ الله ستا پر څټ پښه کښیږدی اوبه یی وهی، ددی په جواب کی اوده لره دزجر ورکولو دپاره دا ایتونه راغلی دی، په دی کی فرمایی ، أَلَمْ يَعْلَم بِأَنَّ اللَّهَ يَرَىٰ : یعنی آیادی نه پوهیږی چی الله ﷻ وینی ، دلته یی دا ذکر ونه کی چی څوك وینی، په دی وجه عام اوشامل دی چی لمونځ کوونکی بزرګه هستی هم وینی او ددی څخه منع کوونکی بد بخت هم ، او دلته صرف په دی جملہ بسوالی وسوچی مونږ داهر څه وینو، مخ ته دلیدو څخه وروسته به څه حشروی، دهغه په ذکرنه کولوکی دی طرف ته اشاره ده چی دغه هولناك انجام دتصور قابل نه دی.

لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ : سفع دمصدر څخه مشتق دی، چی معنی یی په سختی سره راکشول دی اوناصیه دتندی وریښتوته ویل کیږی، دکوم سړی دتندی وریښته چی دچاپه لاس کی راسی هغه دهغه په لاس کی بیا مجبوره اومقهوره پاته سی.

كَلَّا لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ : دا نبی کریم ﷺ ته هدایت دی چی دابوجهل په خبره غوږ مه ګروه اوپه سجده اولمونځ کی مشغول اوسه چی دا دالله ﷻ دقرب لار ده.

(دسجدی په حالت کې ددعا قبلیدل)

په ابوداودکی دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، اَقْرَبُ مَا یَکُوْنُ الْعَبْدُ مِنْ رَّبِّهٖ وَهُوَ سَاجِدٌ فَاَکْثِرُوْا الدُّعَآءَ : یعنی بنده خپل رب ته ډیر نژدی دسجدی په حالت کی وی په دی وجه په سجده کی ډیره دعا کوی، اوپه یوبل حدیث کی داالفاظ هم راغلی دی ، فَاِنَّهٗ قَمِنٌ اَنْ یُّسْتَجَابَ لَکُمْ : یعنی دسجدی په حالت کی دعا دقبیلدو لائقه ده .

مسئله: دنفل لمونځونو په سجده کی دعاکول ثابت دی ، دحدیثو په ځینو روایتونوکی ددی دعاخاص الفاظ هم راغلی دی که دغه ماثوره الفاظ وویل سی نوښه ده ، په فرضوکی داسی دعاګانی ثابتی نه دی ځکه چی په فرضوکی لندوالی مطلوب دی .

مسئله : ددی آیت په ویونکی او اوریدونکی دتلاوت سجده واجب ده ، په صحیح مسلم کی په روایت دحضرت ابوهریره ﷺ دنبی کریم ﷺ څخه په دی آیت سجده دتلاوت کول ثابت دی . والله تعالی اعلم

تمّت سورة العلق بحمد الله تعالی ۵ رمضان سنه ۱۳۹۱هـ

(سورة القدر)

سُوْرَةُ الْقَدْرِ مَکِّیَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ هِیَ خَمْسُ اٰیَاتٍ

سورة قدر په مکه کی نازل سو او په دی کی پنځه (۵) آیتونه دی .

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی .

اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِیْ لَیْلَةِ الْقَدْرِ ۝۱ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا لَیْلَةُ الْقَدْرِ ۝۲ لَیْلَةُ

مونږ دا نازل کی په شب قدر کی ، او ته څه پوه سوی چی څه دی شب قدر ، شب

الْقَدْرِ ۙ خَیْرٌ مِّنْ اَلْفِ شَهْرٍ ۝۳ تَنَزَّلُ الْمَلٰٓىِٕكَةُ وَالرُّوْحُ فِیْهَا

قدر ، ښه دی تر زرو (۱۰۰۰) میاشتو څخه ، نازلیږي ملائکی او روح (جبرئیل) په دی

بِاِذْنِ رَبِّهِمْ ۚ مِنْ كُلِّ اَمْرٍ ۝۴ سَلٰمٌ ۛ هِیَ حَتّٰی مَطْلَعِ الْفَجْرِ ۝۵

کی دخپل رب په حکم سره په هر کار آمان دی ، دغه شپه تر صبا ختو پوری ده

لنډتفسیر: بیشکه مونږ قرآن په شب قدرکی نازل کری دی (په شب قدرکی دنازلیدو تحقیق په سورة دخان کی تیرسوی دی) او (دشوق زیاتولو دپاره فرمایی چی) تاته څه معلومه ده چی شب قدرڅنګه شی دی؟ (مخ ته جواب دی چی) شب قدر دزرو میاشتو څخه ښه دی (یعنی په زرو میاشتوکی چی دعبادت کولو ځومره قدر ثواب دی، دهغه څخه زیات په شب قدرکی دعبادت کولو ثواب دی لکه چی په خازن کی دی

اودغه شپه داسی ده چی) په دغه شپه کی ملائکی اوروح القدس (یعنی جبرائیل) دخپل پروردگار په حکم سره هر دخیر کار راواخلی (دمځکی طرف ته) راکښته کیږی (اودغه شپه) سراسر سلام دی (لکه په حدیث دبیهقی کی دحضرت انس ﷺ څخه مرفوعًا روایت دی چی په شب قدر کی حضرت جبرائیل دملائکو په یوه ډله کی راځی اوکوم سړی چی په ولاړی په قعده په ذکرکی مشغول وویني نوپرهغه دورد لیږی یعنی دهغه دپاره درحمت دعاکوی اوخازن دابن الجوزی څخه په دی روایت کی يُسَلِّمُوْنَ هم زیات کړی دی، یعنی دسلامتیا دعا کوی اودیصلون مطلب هم دغه دی څکه چی په رحمت اوسلامتیا کی تلازم دی، دی ته یی په قرآن کریم کی سلام ویلی دی اودامرِ خیر څخه مراد دادی، اودارنګه په روایتونو کی په دی کی دتوبی قبلیدل دآسمان ددروازو خلاصیدل اوپر هرمومن دملائکو سلام کول راغلی دی لکه په درمنثورکی داسی دی اوددی کارونوپه واسطه دملائکو کیدل او موجب دسلامتیا کیدل ظاهردی یادامر څخه مراد هغه کارونه دی دکومو عنوان چی په سورة دُخَان کی امرحکیم اوپه دی شپه کی دهغوی طی کیدل ذکر فرمایلی دی او) دغه شب قدر (په دی صفت اوبرکت سره) ترصبا ختلو پوری وی (دانه چی ددغی شپی په څه خاص حصه کی دابرکت وی اوپه څه کی نه وی)

معلومات اومسئلي: شان نزول: ابن ابی حاتم دمجاهد څخه مرسلاً روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ دبنی اسرائیلو دیو مجاهد حال ذکرکی کوم چی ترزرو میاشتوپوری مسلسل په جهادکی مشغول وو هیڅکله یی وسله نه وه ایښی، مسلمانانو چی داواوریدل نوپه تعجب کی سول، په‌دی سورةِ قدر نازل سو، په کوم کی چی ددی امت دپاره صرف دیوی شپی عبادت ددغه مجاهد دټول عمردعبادت یعنی زرو میاشتو څخه ښه مقرر سو اوابن جریرپه روایت دمجاهد یوه بله واقعه داذکر کړي ده چی په بنی اسرائیلوکی دیو عابد دا حال وو چی ټوله شپه به په عبادت کی مشغول وو اودسهارکیدوسره به جهادته وتی ټوله ورځ به په جهادکی مشغول وو، زرمیاشتی هغه په دی مسلسل عبادت کی تیری کړی، په دی الله ﷻ سورة قدرنازل کی اوددی امت فضیلت یی پرتولو ثابت وفرمایی، ددی څخه داهم معلومیږی چی شب قدر دامت محمدی دخصوصیاتو څخه دی (مظهری)

ابن کثیر داداامام مالك قول نقل کړی دی اوځینو شافعی امامانو دا دجمهورو قول منلی دی ، خطابی په دی داجماع دعویٰ کړي ده ، مګر ځینو محدثینو په دی کی اختلاف کړی دی (از ابن کثیر)

دليلة القدرمعني : دقدر یوه معنیٰ عظمت اوشرف دی، زهری اونورو عالمانو حضراتو دلته دامعنیٰ اخیستی ده ، او دی شپی ته دلیلة القدر ویلو وجه ددی شپی عظمت اوشرف دی اوابوبکر وراق فرمایی چی دی شپی ته لیلة القدرپه دی وجه وویل سوه چی دکوم سړی ددی څخه مخکی دخپلی بی عملی په سبب سره څه قدر اوقیمت نه وو، په دی شپه کی دتوبه استغفار اوعبادت په ذریعه هغه صاحب قدر اوشرف جوړیږی.

دقدر دوهمه معنیٰ دتقدیر اوحکم هم راځی ، ددی معنیٰ په اعتبارسره دلیلة القدر ویلو وجه به دا وی چی په دی شپه کی دټول مخلوقات دپاره چی څه په ازلی تقدیرکی لیکلی دی دهغه چی کومه حصه په

دی کال کی درمضان څخه تر راتلونکی رمضان پوری پیښیدونکی وی هغه هغو ملایکوته حواله کیږی کم چی دکائناتو په تدبیر اونافذ کولو دکارونو ماموره دی په دی کی دهر انسان عمر اومرګ اوررزق اوباران اونور مقدارونه مقرره ملائکوته لیکلی ورکول کیږی ، تردی پوری چی کوم سړی ته په دی کال کی حج نصیب کیږی هغه هم لیکلی ورکول کیږی او دا ملائکی کومو ته چی دا کارونه سپارل کیږی په قول دابن عباس رضي الله عنه څلور دی ، اسرافیل ، میکائیل ، عزرائیل علیهم السلام (قرطبی)

دسورة دخان په آیت ، إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنْذِرِينَ، فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ : کی دا مضمون په خپله په فصاحت سره راغلی دی چی په دی مبارکه شپه کی دټولو کارونو دتقدیر فیصلی لیکل کیږی اوددی آیت په تفسیرکی تیرسوی دی چی دجمهورو په نزد دلیلة مبارکة څخه مرادهم لیلة القدردی اوځینو حضراتوچی دلیله مبارکه څخه دشعبان پنځلسمه شپه لیلة البراءت مراداخیستی ده نوهغوی ددی تطبیق داسی کوی چی ابتدایی فیصلی دتقدیر دکارونوپه اجمالی طورسره په شب براءت کی وسی بیاددی تفصیلات په لیلة القدرکی لیکل کیږی، ددی تائید دحضرت ابن عباس رضي الله عنه دیوقول څخه کیږی کوم چی بغوی په روایت دابو الضحٰی نقل کړی دی، په دی کی یی فرمایلی دی چی الله جل جلاله دټول کال دتقدیری کارونو فیصله خوپه شب براءت یعنی پنځلسمه دشعبان کی کوی بیا په شب قدرکی دا فیصلی متعلقه ملائکو ته سپارل کیږی (مظهری)

او دا مخکی لیکل سوی دی چی دتقدیر دکارونو دفیصلوپه دی شپه کی دکیدو مطلب دا دی چی په دی کال کی کوم کارونه دتقدیر نافذ کیدل وی هغه دلوح محفوظ څخه نقل کړی ، ملائکوته حواله کیږی او اصل نوشته دتقدیر په ازل کی لیکل سوی ده .

دلیلة القدر تعین : دومره خبره خو دقرآن کریم دوضاحتونو څخه ثابته ده چی شب قدر دروژی مبارکی په میاشت کی راځی ، مګر دتاریخ په تعین کی یی دعلماؤ مختلف اقوال دی کوم چی څلویښتوته رسیږی مګر په تفسیرِ مظهری کی دی چی په دی ټولو اقوالوکی صحیح داده چی لیلة القدر درمضان مبارك په اخری لسوشپوکی وی مګرداخری لسوڅه تاریخ متعین نه دی بلکه په دی کی په کومه یوه شپه کی کیدی سی، دغه شپه په هر رمضان کی بدلیږی هم، اوپه دی لسوکی خاص طاق شپی یعنی ۲۱، ۲۳، ۲۵، ۲۷، ۲۹ : کی دصحیح احادیثوپه وجه سره زیات احتمال دی ، په دی کی ټول احادیث کوم چی دشب قدرپه تعین کی راغلی دی جمع کیږی په کوموکی چی ۲۱، ۲۳، ۲۵، ۲۷، ۲۹ شپوکی دشب قدرکیدو ذکر راغلی دی که شب قدر په دی شپوکی دائر اوپه هر رمضان کی بدلیدونکی مقررسی نوداټول روایتونه دحدیث پرخپل خپل ځای صحیح اوثابتیږی په یوه کی هم دتاویل ضرورت نه پاته کیږی، په دی وجه اکثرو امامانو اوفقهاؤ دا په اخرو لسوکی منتقل کیدونکی شپه مقرره کړي ده ، ابوقلابه ، امام مالك احمد بن حنبل ، سفیان ثوری، اسحٰق بن راهویه، ابوثور، مزنی، ابن خزیمه اونورو ټولو دا فرمایلی دی او په یو روایت کی دامام شافعی څخه هم ددی موافق نقل دی او د امام شافعی نور روایتونه دا دی چی دا شپه بدلیدونکی نه ده بلکه معینه ده (ابن کثیر)

په صحیح بخاري کی دحضرت عائشي ﷞ څخه روایت راغلی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، تَحَرَّوْا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ : یعنی شب قدر درمضان په آخری لسو کی تلاش کوی ، او په صحیح مسلم کی دحضرت ابن عمر﷜ څخه روایت راغلی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، فَاطْلُبُوهَا فِي الْوِتْرِ مِنْهَا ، یعنی شب قدر درمضان داخری لسو په طاق شپو کی طلب کوی (مظهری)

(دلیلة القدر ځیني فضیلتونه او ددی شپي مخصوصه دعا)

ددی شپی دټولو څخه لوی فضیلت خوهغه دی کوم چی په دی سورة کی بیان سوی دی چی ددی یوی شپی عبادت دزرو میاشتو یعنی دری اتیا ۸۳ کالو څخه دزیات عبادت څخه هم ښه دی، بیادښه والی یې څه حد مقررنه دی چی څومره ښه دی، دوچنده، څلورچنده، سل چنده اونور ټول احتمالات سته، اوپه صحیحین کی دحضرت ابوهریره ﷜ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی څوك په شب قدرکی دعبادت دپاره ودریدی، دده ټول مخکنی ګناهونه معاف سول اودحضرت ابن عباس ﷜ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی په شب قدرکی هغه ټولی ملائکی دکومو مقام چی سدرة المنتهیٰ دی، دجبرائیل امین سره دنیاته راکښته کیږي اوڅوك مومن سړي یاښځه داسی نه وی کموته چی هغه سلام نه کوی، بغیر دهغه سړي څخه کوم چی شراب یادخنزیر غوښه خوری .

او په یوحدیث کی نبی کریم ﷺ فرمایی چی کوم سړی دشب قدردخیر اوبرکت څخه محروم سو هغه بالکل محروم بدنصیبه دی، په شبِ قدرکی ځینو حضراتوته دخاصو انوارو مشاهده هم کیږي مګردانه ټولوته حاصلیږي اونه دشپی دبرکتونو اوثوابونوپه حاصلیدو کی داسی انوارو مشاهداتوته څه دخل سته،په دی وجه په فکرکی پر یوتل نه دی په کاری .

حضرت عائشه ﷞ دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی که زه شب قدر پیداکړم نوڅه دعابه کوم، دوی ﷺ وفرمایل چی دا دعاکوه ، اللّٰهُمَّ اِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي، یاالله! ته ډیرمعافی کوونکی یې اومعافی خوښوی، زما خطاګانی معاف کړی (قرطبی)

إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ : په دی آیت کی وضاحت دی چی قرآن کریم په شب قدرکی نازل سو ، ددی مطلب هم کیدی سی چی ټول قرآن دلوحِ محفوظ څخه په دی شپه نازل سو ، بیاجبرائیل امین دالږ لږ په درویشت کاله زمانه کی دهدایت مطابق راوړی اوداهم مرادکیدی سی چی ابتدایی نزول دقرآن په دی شپه کی په څو آیتونو سره وسو باقی وروسته نازلیدی .

(ټول آسماني کتابونه په رمضان کي نازل سوی دی)

حضرت ابو ذرغفاری ﷜ روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دحضرت ابراهیم ﷵ صحیفی درمضان په دریم تاریخ اوتورات په شپږم تاریخ اوانجیل په دیارلسم تاریخ اوزبورپه اتلسم تاریخ درمضان کی نازل سوی دی او قرآن په نبی کریم ﷺ په څلور ویشتم تاریخ درمضان کی نازل سوی دی (مظهری)

تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ :دروح څخه مرادجبرائیل امین دی دحضرت انس ﷜ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کله شب قدرسی نوحضرت جبرائیل امین دملائکودلوی جماعت سره نازلیږي اوڅومره دالله

ﷺ بندگان سړي ښځي چې په لمانځه يا ذکرالله کې مشغول وي د ټولو د پاره د رحمت دعا کوي (مظهري)
په ، مِنْ كُلِّ اَمْرٍ: کې حرف من په معنٰى دباء دى، لکه په يَحْفَظُوْنَهٗ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ کې چې هم من په معنٰى دباء استعمال سوى دى، معنٰى دا ده چې ملائکې په ليلة القدرکې د ټول کال دننه پيښيدونکي تقديري واقعات راوړي ، مخکې ته راکښته کيږي ، اوځينو حضراتو مفسرينو مجاهد اونور، مِنْ كُلِّ اَمْرٍ د ، سَلٰمٌ سره متعلق کړى دا معنٰى يې مقرر کړي ده چې دا شپه سلامتى ده د هرشر او افت او بد شي څخه (ابن کثير)
سَلٰمٌ عبارت په اصل کې هِيَ سَلٰمٌ دى ، لفظ دهِيَ حذف سوى دى معنٰى دا ده چې دا شپه سلام او سلامتيا ده او خير او خير دى ، په دى کې د شر نوم نسته (قرطبي) او ځينى حضراتو تقدير دعبارت سَلَامٌ هُوَ مقرر کړى دى ، دايي د ، مِنْ كُلِّ اَمْرٍ صفت جوړ کړى دى او معنٰى دا سوه چې دا ملائکې هر داسې کار راوړي کوم چې خير او سلام دى (مظهري)
هِيَ حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ: يعني دليلة القدر دا برکتونه د شپې په يو خاص حصې پورې مخصوص نه دى ، دشپې دشروع څخه تر صبا ختو پورې يو حکم دى .
فائده : په دى آيتونو کې يې ليلة القدر د زرو مياشتو څخه ښه مقرر کړي ده او ظاهره ده چې په دى يو زر مياشتو کې دننه هم هر کال يو شب قدر راځي نو حساب به څنګه جوړسى، دتفسير امامان فرمايي چې دلته ديو زر مياشتو څخه هغه مراد دى په کومو کې چې شبِ قدر شامل نه وي، په دى وجه څه اشکال نسته (لکه ابن کثير دمجاهد څخه ذکر کړى دى)
دمطالعو اختلاف په سبب په مختلفو ملکونو او ښارونو کې شب قدر په مختلفو شپو کې وي، نو په دى کې څه اشکال نسته ځکه چې د هر ځاى په اعتبار سره چې کمه شپه دشب قدر مقرر سى، هغه ځاى په هغه شپه کې دشبِ قدر برکتونه حاصليږي (والله تعالىٰ اعلم)
مسئله : کوم سړي چې په شب قدر کې دماخستن او سهار لمونځ په جماعت سره وکې هغه هم د دى شپې ثواب پيدا کې او کوم سړي چې څومره زيات وکې زيات ثواب به پيدا کې ، په صحيح مسلم کې دحضرت عثمان غني ﷺ څخه روايت دى چې نبى کريم ﷺ فرمايلي دى چې کوم سړي دماخستن لمونځ دجماعت سره ادا کې نو د ټولې شپې دبيدار او سيدو او عبادت کولو ثواب يې پيدا کې .

تمّت سورة القدر بحمد الله تعالىٰ ۷ رمضان سنه ۱۳۹۱هـ

﴿ سورة البينة ﴾

سُوْرَةُ الْبَيِّنَةِ مَدَنِيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَهِيَ ثَمَانِ اٰيَاتٍ

سورة بينه په مدينه کې نازل سو او په دى کې اته (۸) آيتونه دى

شروع کوم په نوم سره دخداى ﷻ چې ډير مهربانه نهايت رحم والا دى .

لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ وَالْمُشْرِكِيْنَ

نه وو دغه خلق كوم چې منكران دي داهل كتابو څخه اودمشركانو څخه

مُنْفَكِّيْنَ حَتّٰى تَاْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ ۝١ رَسُوْلٌ مِّنَ اللّٰهِ يَتْلُوْا

منع كيدونكي تردې چې ورسيږي دوی ته ښكاره خبره ، يو رسول دالله ﷻ دطرف څخه ويونكی ،

صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ۝٢ فِيْهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ۝٣ وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا

دپاكو پانو ، په هغه كې ليكلی دي كتابونه مضبوط ، اوهغه چې اختلاف رالی په اهل كتابو كې

الْكِتٰبَ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ ۝٤ وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا

نو هركله چې راغله دوی ته ښكاره خبره ، او دوی ته حكم دا وسو چې

لِيَعْبُدُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۙ حُنَفَآءَ وَيُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ

بندگی كوی دالله ﷻ چې خالص كوی هغه لره دين ، دابراهيم ؑ په لاره ، اوقائم ساتي لمونځ

وَيُؤْتُوا الزَّكٰوةَ وَذٰلِكَ دِيْنُ الْقَيِّمَةِ ۝٥ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ

او وركوی زكوٰة ، او ده لار دمضبوطو خلقو ، او كوم چې منكر سول

اَهْلِ الْكِتٰبِ وَالْمُشْرِكِيْنَ فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ اُولٰٓئِكَ

داهل كتابو اومشركانو څخه وی به په اور دوږخ كې ، هميشه به وی په هغه كې دغه

هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ ۝٦ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

خلق دي دټول مخلوق څخه بدتر ، هغه خلق چې يقين وكړی اونيك عملونه كوی

اُولٰٓئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ ۝٧ جَزَآؤُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتُ

دغه خلق دي په ټول مخلوق كې بهتر ، بدله دهغوی دهغوی درب په نزد باغونه دي دهميشه

عَدْنٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ رَضِيَ

اسيدو چې بهيږي به ورڅخه لاندي نهرونه هميشه به وی په هغه كې هميشه ، الله ﷻ

اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ۭ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهٗ ۸

دهغوی څخه راضي ، او هغوی دالله ﷻ څخه راضي ، دا ورکول کیږي هغوی ته چې وبیریږي دخپل رب څخه .

لنډتفسیر: کوم خلګ چې داهل کتابو اومشرکانو څخه (مخکې دبعثت نبویه څخه) کافر وه، هغوی (دخپل کفرڅخه هیڅکله) ګرځیدونکي نه وه ترڅو پورې چې دوی ته واضح دلیل رانه سي (یعنی) یو دالله ﷻ رسول کوم چې (دوی ته) پاکې صحیفې اوروی او وایي ، په کوموکې چې درست مضامین لیکلی وی (مراد قرآن دی ، مطلب دا دی چې ددی کفارو کفر دومره سخت وو اوپه داسې جهل کې اخته وه چې بغیر دیو عظیم رسول څخه ددوی دپه لاری کیدو هیڅ توقع نه وه، په دی وجه الله ﷻ په دوی باندی دخپل حجت تمام کولو دپاره یې دوی ته قرآن ورکی اومبعوث یې وفرمایې) او (دوی لره په کاروه چې دایې غنیمت ګڼلی وای اوپه ده یې ایمان راوړی وای مګر) کوم خلګ چې اهل کتاب وه (اوغیراهل کتاب خو په درجه اولی) هغوی ددی واضح دلیل راتلو څخه وروسته (په دین کې) مختلف سول (یعنی دحق دین څخه یې هم اختلاف وکی اوپه خپل مینځ کې اختلاف کم چې مخکې وو، هغه یې هم دحق دین په اتباع کولو باندی لیری نه کی، اومشرکینو ته خو یې په درجه اولی څکه وویل چې دوی ته خودمخکې څخه هم څه اسمانی علم نه وو) حال دا دی چې هغو خلګوته (په تیرو کتابونوکې) دا حکم سوی وو چې دالله ﷻ عبادت دی داسې کوی چې عبادت دهغه دپاره خالص ساتي په یکسویي دی کوی (دباطلو دینونوپه شان دی څوک دالله ﷻ سره نه شریکوی) اودلمانځه پابندی دی ساتي اوزکوة دی ورکوی اودا طریقه ده دهغو درستو مضامینو (ذکر سوو بنوول سوو ، دتقریرخلاصه داسوه چې دغواهل کتابوته ددوی په کتابونوکې داحکم سوی وو چې په قرآن اورسول کریم ﷺ دی ایمان راوړی اودا تعلیم وو دقران کوم چې یې لوړ په کُتُب قیمه سره تعبیر فرمایلی دی په دی وجه ددی قرآن په نه منلوسره په خپله دخپلو کتابونو مخالفت هم لازمیږی داخو الزام اهل کتابوته سو اومشرکانو که څه هم مخکې کتابونه نه منل، مګردحضرت ابراهیم ﷺ دطریقې حقوالی خودوی هم منی اوداخبره په یقیني طور ثابته ده چې حضرت ابراهیم ﷺ دشرك څخه بالکل بری وو اودکتب قیمه یعنی دقرآن دهغه دطریقی سره موافق کیدل هم ظاهردی، په دی وجه پردوی هم حجت تمام سو اومراد ددغومخالفینو متفرقینو څخه ځینی هغه کفاردی کوموچې ایمان نه راوړی ، او په قرینه دمقابلی سره داهم معلومه سوه چې کومو خلګو تفرق اوخلاف ونه کی هغه اهلِ ایمان دی، مخ ته دعمل دبیان څخه وروسته په وضاحت سره دکفارو ددوو قسمونو یعنی اهل کتابو اومشرکانو اومومنانو دسزا اوجزا مضمون ارشاد فرمایی یعنی) بیشکه کوم خلګ چې داهل کتابو او مشرکانوڅخه کافران سوه هغوی به اور د دوږخ ته ځی کوم ځای چې به همیشه همیشه اوسیږی (او) داخلګ په مخلوق کې بدترین دی (او) بیشکه کوموخلګو چې ایمان راوړی اوهغوی ښه کارونه وکړل ، هغه په مخلوق کې بهترین مخلوق دی، دهغوی صله دهغوی دپروردګار په نزد دهمیشه لوسیدو جنتونه دی دکومو لاندی چې به نهرونه بهیږی کم ځای چې به همیشه همیشه اوسیږی (او) الله ﷻ به دهغوی څخه

خوشحاله وي اوهغوی به دالله ﷻ څخه خوشحاله وي (يعنې نه به هغوی ته څه مصيبت رسيږي اونه به ورته څه مکروه کار ورپيښيږي په کم سره چې احتمال دعدم رضا دجانبينو څخه وي او) دا (جنت اورضا) دهغه سړي دپاره دي کوم چې دخپل رب څخه بيريږي (اودالله ﷻ څخه په بيره سره ايمان اوعمل صالح مرتب کيږي کوم چې يې دجنت ددخول اودرضا حاصلولو مدارفرمايلی دی)

معلومات اومسئلې: په اولنۍ آيت کې دنبي کريم ﷺ دبعثت څخه مخکې په دنياکې دکفر اوشرك اوجهالت انتهايي عموم اوغلبه ذکرکوی فرمايي چې دکفر اوشرك دداسې عالمگيری ظلمت ليری کولو دپاره درب العٰلمين دحکمت اورحمت تقاضا دا سوه چې لکه څنگه چې ددی مرض سخت اووباء عالمگيره ده ددی دعلاج دپاره هم څوك دتولو څخه لوی ماهر حاذق علاج کوونکی ليږل ضروري دی، ددی څخه بغير هغوی ددی مرض څخه نجات نه سی پيدا کوی، مخ ته يې ددغه ماهر حاذق طبيب صفت بيان کی چې دده وجود يوبينه يعنې واضح حجت وی، دشرك اوکفر دابطال دپاره مخ ته فرمايي چې مراد ددی معالج څخه دالله ﷻ هغه رسول اعظم دی کوم چې دقرآن دواضح حجت سره به دوی ته راسی، په دی مجموعه کی دبعثت نبوی څخه دمخکې زمانې دعظيم فساد اوهرطرف ته دجهالت اوظلمت کيدل هم معلوم سوه اودنبي کريم ﷺ دعظمت شان بيان هم وسو، مخ ته دقرآن څو اهم صفتونه بيان فرمايي.

يَتْلُوا صُحُفًا مُّطَهَّرَةً، فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ يتلوا: دتلاوت څخه مشتق دی چې معنٰی يې ويل دی مگر هرويونکی ته تلاوت نه ويل کيږي بلکه هغه ويل کوم چې دويونکی دتلقين بالکل مطابق وی دی ته تلاوت وايي، په دی وجه په عرف کی په عام طور سره لفظ دتلاوت صرف دقرآن ويلوته ويل کيږي صحف دصحيفې جمع ده، په کومو کاغذونوکی چې څه مضمون ليکلی وی هغه ته صحيفه وايي، كُتُب دکتاب جمع ده، ددی يوه معنٰی خوليکل سوی شی دی، په دی اعتبار سره کتاب اوصحيفه تقريبًا هم معنٰی لفظونه دي اوکله لفظ دکتاب په معنٰی دحکم هم راځی، لکه دقرآن آيت ، لَوْلَا كِتٰبٌ مِّنَ اللّٰهِ سَبَقَ : کی لفظ دکتاب په معنٰی دحکم مستعمل سوی دی، دلته هم دادوهمه معنٰی مراده ده ځکه چې په معروفه معنٰی که يې واخلی نو كُتُب عين صحف دی؛ د ، فِيهَا ويلو هيڅ معنٰی نه پاته کيږي.

مُّطَهَّرَةً دا دصحف صفت دی ، حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چې ددی څخه مراد دا دی چې داصحيفې د دروا‌غو او شك اونفاق اوگمراهی څخه پاکې دی ، قَيِّمَه په معنٰی دمستقيمه د ، كُتُب صفت دی : معنٰی دا ده چې دا احکام مستقيم منصفانه اومعتدل دی او ددی معنٰی مضبوط او مستحکم هم کيدی سی نو مطلب به دا وی چې الهی احکام چې په قرآن کی راغلل ترقيامته به قائم او دائم وی.

دايت مطلب دا سو ددی زمانې دمشرکانو اواهل کتابو گمراهی دی درجې ته رسيدلې وه چې دهغوی دخپلو باطلو عقيدو څخه واپس کول ممکن نه وو، ترڅو پوری چې هغوی ته دالله ﷻ بنکاره نښانې اوواضح حجت رانه سی ، په دی وجه الله ﷻ دهغوی دپاره خپل رسول ﷺ واضح حجت جوړکی راويی ليږی دکوم چې داکاروو چې هغه به هغوی ته پاته صحيفې اورولی، مراد دا دی چې دوحی خداوندی هغه احکام يې اورول کوم چې وروسته دصحيفوپه ذريعه محفوظ سول، ځکه چې په ابتداء دتلاوت کی

نبی کریم ﷺ دصحیفی څخه نه بلکه دخپلو یادو څخه به یی ویل او اورول اودا پاکی صحیفی داسی دی په کومو کی چی داسی الهی احکام دی کوم چی په عدل او اعتدال سره ورکول سوی دی او همیشه قائم پاته کیدونکی دی.

وَمَاتَفَرَّقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَاجَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ: دتفرق څخه مراد دلته انکار او اختلاف دی دقرآن او نبی کریم ﷺ دنبوت څخه په کوم چی ټول اهل کتاب دنبی کریم ﷺ دولادت او بعثت څخه مخکی متفق وه، ځکه چی ددوی په آسمانی کتابونو تورات او انجیل کی دنبی کریم ﷺ درسالت اونبوت او د دوی دخاصو خاصو صفاتو او په دوی دقرآن نازلیدو واضح ذکر موجود وو، په دی وجه چا یهودی او نصرانی ته په دی کی اختلاف نه وو چی په اخره زمانه کی به محمد رسول الله ﷺ تشریف راوړی، په دوی به قرآن نازلیږی د دوی تابعداری به په ټولو لازمه وی، لکه چی په قرآن کریم کی هم د دوی ددی اتفاق ذکر داسی سوی دی، وَكَانُوا مِنْ قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ عَلَى الَّذِينَ كَفَرُوا: یعنی دی اهل کتابو به دنبی کریم ﷺ دبعثت څخه مخکی د دوی دراتلو انتظار کوی او کله چی به د دوی دمشرکانو سره مقابله وه نو دراتلونکی نبی په واسطه سره به یی خپله فتح غوښتله یعنی دالله ﷻ څخه به یی سوال کوی چی داخری زمانی نبی کوم چی راتلونکی دی دهغه په برکت سره مونږ لره فتح راکړی، یاداچی دوی به مشرکانو ته وویل چی تاسی خوزمونږ خلاف زور ازمایی کوی، مگر ډیر ژر یو داسی رسول راتلونکی دی کم چی به پرتاسی ټولو غالب راسی او مونږ به چونکی دهغه سره یو نو فتح به زمونږ وی.

لنډه دا چی دنبی کریم ﷺ دبعثت څخه مخکی خواهل کتاب ټول د دوی پرنبوت اورسالت متفق وه، مگر کله چی دوی تشریف راوړی نومنکره سول، دامضمون په قرآن کی یوځای فرمایی، فَلَمَّا جَاءَهُمْ مَا عَرَفُوا كَفَرُوا بِهِ یعنی کله چی دی خلکو ته هغه رسول یاحق دین یاقرآن راغی کوم چی دوی هم دخپلو اسمانی کتابونو دپیش گویی مطابق وپیژندی نوکفر یی پروکی، او په ذکر سوی آیت کی یی دا مضمون داسی فرمایلی دی، وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ الخ یعنی داعجیبه خبره ده چی ستا دراتلو اولیدو څخه مخکی خو ددی خلکو ستا سره څه اختلاف نه وو، ټول ستا دنبوت په عقیده جمع وه، مگر کله چی دالله ﷻ دا واضحه بینه یعنی رسول اخر زمان تشریف راوړی نوپه دوی کی اختلاف پیدا سو، ځینی خلکو خو په تا ایمان راوړی اوډیرو انکار وکی.

دا معامله چونکی داهل کتابو سره مخصوص وه، په دی وجه په دی آیت کی یی صرف داهل کتابو ذکر فرمایلی دی، مشرکین یی په کی نه دی شامل کړی بلکه فرمایی، وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ: او اولنی معامله مشرکانو اواهل کتابو دواړو لره شامله وه، په دی وجه هلته یی فرمایلی دی، لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ مُنْفَكِّينَ.

او په ذکر سوی لنډتفسیر کی یی دوهمه معامله هم په مشرکانو اواهل کتابو کی عامه مقرر کړي ده، تقریر یی کړی دی. والله تعالی اعلم

وَذٰلِكَ دِيْنُ الْقَيِّمَةِ : دلته لفظ دقيمه په ظاهره دکتابونو صفت دی چی ذکر یی لوړ راغلی دی اوځینو دا دملت صفت مقرر کړی دی حاصل دا یت دادی چی اهل کتابو ته ددوی په کتابونوکی داحکم ورکول سوی وو چی خپل عبادت اواطاعت خاص دالله ﷻ دپاره خالص کوی اولمونځ قائم ساتی اوزکوٰة ورکوی بیا فرمایی چی داهرڅه خاص ددوی خصوصیت نه دی دهرملت قیمه یاټول قیمه کتابونوکوم چی دالله ﷻ دطرف څخه نازل سوی دی ، ددغو ټولو دین اوطریقه دا ده ، او ظاهره دا ده چی قیمه کوم چی دکتابونو صفت دی ددی څخه که مراد په قرینهٔ سابقه سره احکامِ قرانی واخیستل سی ، نو مطلب دا یت به داسی چی دی شریعت محمدیه هم چی کوم احکام دوی ته ورکړل هغه هم بعینه هغه وه کوم چی مخ ته د دوی کتابونو ورکړی وه که ددغو څخه څه مختلف احکام وای نو دوی ته به دمخالفت بهانه وای، اوس هغه هم نسته .

رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهٗ : په دی آیت کی دجنتیانو دټولو څخه دلوی نعمت ذکردی چی الله ﷻ د دوی څخه راضی دی اوس دناراضتیا هیڅ خطره نسته ، دحضرت ابوسعید خدری ؓ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ به جنتیانوته دخطاب کولو دپاره وفرمایی، يَا اَهْلَ الْجَنَّةِ : نوجنتیان به جواب ورکی . لَبَّيْكَ رَبَّنَا وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ كُلُّهٗ فِيْ يَدَيْكَ : یعنی ای زمونږ ربه ! مونږ حاضریو او دحکم منلو دپاره تیار یو او هر خیر ستا په لاس کی دی ، بیابه الله ﷻ وفرمایی، هَلْ رَضِيْتُمْ، یعنی تاسی راضی اوخوشحاله یاست، هغوی به جواب ورکی ای زمونږ پروردگاره! اوس هم دنه راضی کیدو څه احتمال دی کله چی تامونږته هرهغه څه راکړل کوم چی یومخلوق ته نه دی ورکول سوی ، الله ﷻ به وفرمایی چی ایازه تاسی ته ددی څخه هم افضل اوبهتر نعمت درکړم ، بیابه وفرمایی چی ماخپله رضا په تاسی نازله کړه اوس به هیڅکله ستاسی څخه ناراضه نه سم (بخاری اومسلم ، مظهری)

په دی حدیث کی هم دجنتیانو څخه پوښتنه وسوه چی تاسی راضی هم یاست اوپه دی آیت کی خبر ورکول سو چی رَضُوْا عَنْهُ یعنی جنتیان به هم دالله ﷻ څخه راضی وی ، هلته په ظاهره دا سوال پیدا کیږی چی دالله ﷻ څخه اودهغه دهرحکم اوهرفعل څخه راضی کیدل دبندگی فرائض اودعبدیت سره لازمه ده، ددی څخه بغیر خوڅوك جنت ته دسره تللی نه سی، بیادلته دجنتیانو درضا مندی څه مطلب دی؟ جواب دادی چی درضا دعام مفهوم په اعتبارسره خوداصحیح ده چی په تقدیر راضی کیدل واجبات اوفرائض دبندگی دی، لیکن درضایوه درجه بله هم ده کومه چی ددی څخه مخ ته ده، هغه داچی الله ﷻ یو بنده ته دهغه هرمراد ورکی اوبله څه تمنا اوخواهش باقی پری نه ږدی دلته درضا څخه مراد دادی لکه چی په سورة ضحٰی کی دنبی کریم ﷺ دپاره راغلی دی ، وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ فَتَرْضٰى : یعنی ډیر ژر به الله ﷻ تاله درکی ، هغه شیان په کومو سره چی به ته راضی سی ، دلته هم مراد غایت تَمَنَّا پوره کول دی ، په دی وجه ددی آیت په نزول باندی نبی کریم ﷺ وفرمایل چی بیا خوبه زه ترهغه وخته پوری نه راضی کیږم ترڅو پوری چی یومومن هم په دوږخ کی باقی وی (مظهری)

ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهٗ : دسورة په آخر کی دټولو دینی کمالاتو اواخروی نعمتونو چی په کوم شی مدار دی هغه یی وښوی یعنی دالله ﷻ بیره ، خشیت هغه بیری ته نه ویل کیږی کومه چی دیو دښمن یادرنده یا

موذی شی څخه طبعًا کیږی بلکه خشیت هغه بیری ته ویل کیږی کومه چی د چاد انتهایی عظمت او جلال په وجه پیدا وی دکومی مقتضا چی داوی چی هغه په هرکار او په هرحال کی دهغه درضا لټولو فکر کوی او دناراضه کیدو دشك څخه ځان ساتی، داهغه شی دی کوم چی دانسان کامل بنده او مقبول جوړوونکی دی

تمت سورة البينه بحمدالله تعالی

﴿سورة الزلزال﴾

سُوْرَةُ الزِّلْزَالِ مَدَنِيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَهِيَ ثَمَانِ اٰيَاتٍ

سورة زلزال په مدینه کی نازل سو او په دی کی اته (۸) آیتونه دی.

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی.

اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ زِلْزَالَهَا ﴿۱﴾ وَاَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا ﴿۲﴾

هرکله چی وښوروی مځکی ددې ښورول، او را دباندی کړی مځکه خپل دننه بار،

وَقَالَ الْاِنْسَانُ مَالَهَا ﴿۳﴾ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ اَخْبَارَهَا ﴿۴﴾ بِاَنَّ

او وبه وایی بنده چی دی ته څه وسو؟ په دغه ورځ به بیا کړی هغه خپلی خبری، په دی وجه

رَبَّكَ اَوْحٰى لَهَا ﴿۵﴾ يَوْمَئِذٍ يَّصْدُرُ النَّاسُ اَشْتَاتًا ۙ لِّيُرَوْا

چی ستارب حکم وکی دی ته، په دغه ورځ به سی خلق قسم قسم چی وښوول سی

اَعْمَالَهُمْ ﴿۶﴾ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ ﴿۷﴾ وَمَنْ

دوی ته د دوی عملونه، نو چا چی یوه ذره نیکی وکړه وبه وینی هغه، او چا چی

يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ﴿۸﴾

یوه ذره بدی وکړی وبه وینی هغه

لنډتفسیر: کله چی مځکه په خپلو سختو غورځېدو سره وغورځول سی او مځکه خپل بار دباندی راوغورځوی (مراد دبار څخه خزانی او مړی دی که څه هم دځینو روایتونو څخه مځکی هم دخزانو دباندی راتلل معلومیږی، لیکن ممکنه ده چی دقیامت څخه مځکی کومی خزانی دباندی راوتلی وی، په ورځو تیریدو سره به بیا پرهغه خاوری راغلی وی او پټی سوی وی او دقیامت په ورځ بیا راوزی او دخزانو په بنکاره کیدو کی شاید داحکمت وی چی دمال ډیرمحبت کوونکی په خپلو سترګو دمالونو بی کاره کیدل

وويني) او (چې داحالت ويني کافران) خلګ به ووايي چې دې لره څه وسوه (چې مځکه داسې غورزي او تولي خزاني دباندې راوزي) په دغه ورځ به مزکه تول خپل (ښه او بد) خبرونه بيان کړي، په دې سبب سره چې ستادرب به دې ته داحکم وي (په ترمذي اونوروکې ددې په تفسير کې مرفوع حديث راغلى دى چې کوم سړي په مخ دمځکه باندې کم عمل کړي وي ښه يابد مځکه به تول ووايي، دابه دمځکې شهادت وي) په دغه ورځ به خلګ مختلفې ډلې سي (دموقف حساب څخه به) واپس سي (يعني کوم خلګ چې دمحشر دحساب څخه فارغ سي اوواپس کيږي نوڅه جماعتونه به دجنتيانو اوڅه به ددوږخيانو مقررسي، دجنت اودوږخ طرف ته به روان سي) ددې دپاره چې عملونه (فائدې اونقصانونه يې) ووينې پس کم سړي چې (په دنياکې) يوه ذره برابر نيکي وکي نوهغه به ويني اوکوم سړي چې يوه ذره برابر بدي وکي، هغه به ويني (په دې شرط چې تردغه وخته پوري هغه خير اوشر باقي پاته سوي وي، کنه نوکه دکفرپه سبب هغه شي فناسوي وي يادايمان اوتوبې په ذريعه بدي معاف سوي وي نوهغه په دې کې داخل نه دي، ځکه چې اوس نه هغه باطل سوي خير خير دى اونه هغه معاف سوي ګناه اوشر شر دى، په دې وجه په محشرکې به هغه مخ ته نه راځي)

معلومات اومسئلې: إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا په دې کې اختلاف دی چې په دې آيت کې دکومې زلزلې ذکر دی، داهغه زلزله ده کومه چې به داولې شپېلې څخه مخکې په دنياکې وي لکه چې په علاماتو دقيامت کې ددې زلزلې ذکر راغلى دى يادې زلزلې څخه مراد ددوهمې شپېلې څخه وروسته کله چې مړي دوباره ژوندي سي اودمځکې څخه پورته سي، دهغه وخت زلزله ده، دمفسرينو روايتونه اواقوال مختلف دي، او په دې کې هم څه بعد نسته چې زلزلې مختلفې وي، يعني ډيرې وي، يوه داوې شپېلې څخه مخکې، بله د دوهمې شپېلې څخه وروسته دمړو دژوندې کيدوپه وخت کې، او دلته دا دوهمه زلزله مراد وي اوپه دې سورة کې چې کوم مخ ته دقيامت دحساب کتاب احوال ذکردى هغه قرينه ددې ده چې دا زلزله د دوهمې شپېلې څخه وروسته ده. والله اعلم (مظهري)

وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا نبي کريم ﷺ ددې زلزلې په حقله ارشاد وفرمايي چې مځکه به دخپل ځګر ټکري دسرو دلويولويوغرونو اودغونډيو په صورت کې رادباندې کړي، دغه وخت يوسړى کوم چې دمال دپاره خوک وژلى وي هغه به ويني، وبه وايي چې داهغه شي دی دکوم دپاره چې مادومره لوى جرم کړى وو، کوم سړي چې دخپلوقريبانوسره دمال په وجه قطع تعلق کړى وو، هغه به ووايي چې داهغه شي دی دکوم دپاره چې مادا حرکت کړى وو غل دکوم دلاس چې په سزاکې پرې سوى وي هغه چې ويني وبه وايي چې ددې دپاره ما خپل لاس تاوان کړى وو، بيابه څوک هم ددغو سروطرف ته نه ګوري (مسلم عن ابي هريره)

فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ: په آيت کې دخير څخه مراد هغه خير دی کوم چې شرعًامعتبر دی، يعني کوم چې دايمان سره وي، بغير دايمان څخه دالله ﷻ په نزد هيڅ نيک عمل نيک نه دی، يعنې په اخرت کې داسې نيک عمل کوم چې په حالت دکفرکې يې کړى وي، هيڅ اعتبار نه وي که څه هم په دنياکې ده ته دهغه بدله ورکول کيږي، په دې وجه په دې آيت سره پر دې باندې استدلال سوى دى، چې دکوم سړي په

زره کي ديوى ذري برابر ايمان وي، هغه به اخر دجهنم څخه ايستل کيږي ځکه چي ددي آيت دوعدي مطابق ده ته دخپلي نيکى ميوه هم په اخرت کي ورکول کيدل ضروري دي، که بله هيڅ نيکي نه وي نو په خپله ايمان ډيره لويه نيکى ده، په دي وجه يومومن که هرڅومره گناهگاروي، هميشه به په جهنم کي نه پاته کيږي، البته کافرکه په دنياکي څه نيك عمل هم وکي نوشرط دعمل يعني دايمان نه کيدوپه وجه کالعدم دي، په دي وجه په اخرت کي دده هيڅ خير نه دي .

وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ : مراد ددي څخه هغه شردي دکوم څخه چي په خپل ژوندکي يي توبه نه وي کړي ، ځکه چي په توبه سره دگناهونو معاف کيدل په قرآن اوسنت کي په يقيني طورسره ثابت دي ، البته دکومي گناه څخه يي چي توبه نه وي کړي هغه وړه وي که لويه ، په اخرت کي به دهغه نتيجه ضرور مخ ته راځي ، په دي وجه نبي کريم ﷺ حضرت عائشه صديقه ؓ ته وفرمايل چي گوره دداسي گناهونو څخه دځان محفوظ کولو پوره اهتمام کوه کم چي وړي ياسپکي گڼل کيږي، ځکه چي دالله ﷻ دطرف څخه په هغه هم مواخذه ده (نسايي، ابن ماجه)

حضرت عبدالله ابن مسعود ؓ فرمايي چي داآيت دقرآن دټولو څخه زيات مستحکم او جامع آيت دي او دحضرت انس ؓ څخه په يو اوږد حديث کي دي چي نبي کريم ﷺ دي آيت ته ، الفاذة الجامعه، فرمايلي دي ، يعني منفرد يکتا اوجامع .

اودحضرت انس ؓ اوابن عباس ؓ په حديث کي دي چي نبي کريم ﷺ سورة زلزال ته نيم قرآن اوسورة اخلاص ته دريمه حصه دقرآن او ، قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ، ته څلورمه حصه دقرآن فرمايلي ده (ترمذي، بغوي، مظهري)

تمت سورة الزلزال بحمدلله تعالى

﴿ سورة العديت ﴾

سُوْرَةُ الْعٰدِيٰتِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَهِيَ اِحْدٰى عَشَرَةَ اٰيَةً

سورة العٰديٰت په مکه کي نازل سو او په دي کي يولس (۱۱) آيتونه دي .

شروع کوم په نوم سره دخداى ﷻ چي ډير مهربانه نهايت رحم والا دي .

وَالْعٰدِيٰتِ ضَبْحًا ۝١ فَالْمُوْرِيٰتِ قَدْحًا ۝٢ فَالْمُغِيْرٰتِ صُبْحًا ۝٣

قسم دي په خغليدونکو آسانو اوازايستونکي بياپه اورايستلو سۆ وهلو سره، بيا په حمله کوونکو په وخت دسهار کي

فَاَثَرْنَ بِهٖ نَقْعًا ۝٤ فَوَسَطْنَ بِهٖ جَمْعًا ۝٥ اِنَّ الْاِنْسَانَ لِرَبِّهٖ

بياپه پورته کوونکودگردپه دغه وخت،بياپه ننوتونکوپه دغه وخت په فوج کي ،بيشکه انسان دخپل رب

لَكَنُوْدٌ ۝۶ وَاِنَّهٗ عَلٰى ذٰلِكَ لَشَهِيْدٌ ۝۷ وَاِنَّهٗ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيْدٌ ۝۸

ناشکره دی ، او دغه انسان دا کار مخکی وینی ، او دغه انسان په محبت دمال کی ډیر کلك دی ،

اَفَلَا يَعْلَمُ اِذَا بُعْثِرَ مَا فِى الْقُبُوْرِ ۝۹ وَحُصِّلَ مَا فِى الصُّدُوْرِ ۝۱۰

آیا نه پوهیږي هغه وخت چی را برسیره کړل سی هغه چی په قبرونو کی دی ، اوتحقیق وسی دهغو چی په

اِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيْرٌ ۝۱۱

سینوکی دی ، بیشکه د دوی رب په دغه ورځ په دوی ښه خبردار دی .

لنډتفسیر: قسم دی په هغو اسونوکوم چی آواز کوی دسینی، منډی وهی، بیا (په ډبره) سره ووهی لمبه پورته کړی بیا دسهارپه وخت کی حمله کوی، بیا هغه وخت ګرد پورته کوی، بیاهغه وخت (ددښمنانو) په لښکرکی ورننوزی (مراد ددی څخه دجنګ اسونه دی، دجهاد وی اوکه غیر دجهاد ، عرب چونکه دجګړو اوجنګونو عادت وه، دکومو دپاره چی به اسونه ساتل کیدل، ددی په مناسبت سره په دی جنګی اسونو قسم واخیستل سو، مخ ته جواب دقسم دی چی) بیشکه (کافر) بنده دخپل پروردګار لوی ناشکره دی اوده ته په خپله هم ددی خبردی (کله په ابتداء کی اوکله دڅه فکر څخه وروسته دخپلی ناشکری احساس کوی) اوهغه دمال په محبت کی ډیر مضبوط دی (دا دده دناشکری سبب دی، مخ ته دمال په محبت اوناشکری باندی عذاب دی یعنی) ایاهغه ته هغه وخت معلوم نه دی کله چی ژوندی سی څومره مړی چی په قبرونوکی دی اوظاهربه سی څه چی په زړونوکی دی، بیشکه دهغوی پروردګار دهغوی دحال څخه په هغه ورځ پوره خبردار دی (اومناسبه جزا به ورکی، لنډه داچی که انسان ته ددغه وخت پوره خبروی اوداخرت حال یی لیدلی نودنا شکری اودمال دمحبت څخه به واپس سوی وای)

معلومات اومسئلي : سورة عادیات دحضرت ابن مسعود ﷺ، جابر ﷺ اوحسن بصری، عکرمه، اوعطاپه نزد مکی او دابن عباس ﷺ ، انس ﷺ ، امام مالك اوقتاده په نزد مدنی سورة دی (قرطبی)

په دی سورة کی الله ﷻ دجنګی اسونو دځینو خاصو حالاتو اوصفتونو ذکر فرمایلی دی اوقسم یی په اخیستی اودا ارشادیی فرمایلی دی چی انسان دخپل رب لوی ناشکره دی، داخبره خوپه قرآن کریم کی باربار معلومه سوي ده چی حق تعالی په خپل مخلوقات کی په مختلفو شیانو قسم اخلی اوخاص واقعات اواحکام بیانوی دادحق تعالی خصوصیت دی، دانسان دپاره په یو مخلوق قسم اخیستل جائزنه دی اودقسم اخیستو مقصد دعامو قسمونوپه شان دخپلی خبری حقوالی اویقینی والی ښوول دی اوداخبره هم مخکی راغلی ده چی قرآن کریم په څه شی قسم اخلی اوڅه مضمون بیان فرمایی نودهغه شی دهغه مضمون په ثبوت کی دخل وی اوهغه شی ګویادهغه مضمون شهادت ورکوی، دلته دجنګی اسونو دسختو خدمتونو ذکر ګویاددی خبری په شهادت کی راوړل سوی دی چی انسان لوی ناشکره دی ،

وضاحت ددی دا دی چی دآسونو اوخصوصًا دجنگی اسونو په حالاتو نظر واچوی چی دغه په میدانِ جنگ کی خپل ځان په خطره کی غورزوی څومره سخت سخت خدمتونه دانسان دحکم او اشاری تابع پوره کوی، حال دادی چی انسان دا اسونه نه دی پیدا کړی، دوی ته چی کمه گیاه یادانه انسان ورکوی، هغه هم دده پیدا سوی نه ده، دده کارصرف دومره دی چی دخدای ﷻ پیدا کړی رزق هغوی ته درسولو یوه واسطه جوړیږی ، اوس اس ته گوره چی دی دانسان دغه قدر احسان څنگه پیژنی اومنی یی چی دده په ادنیٰ اشاره باندی خپل ځان په خطره کی اچوی اودسخت څخه سخت مشقت برداشت کوی، ددی په مقابله کی انسان ته وگوره کم چی دیوی سپکی قطری څخه الله ﷻ پیداکی اوده ته یی دمختلفو کارونو قوت ورکوی ، عقل اوشعور یی ورکی، دخوراك او چنباك هرشی یی ورلره ورکی اوده ته ټول ضرورتونه یی څومره اسان کړل اوده ته یی ورسول چی عقل ورته حیران پاته کیږی، مگردغه ددی ټولو کاملو اواعلی احساناتو هم شکر گزار کیږی نه، اوس دایتونو دالفاظو تشریح وگوری .

عَدٰیٰت ، د: عَدْوَ څخه مشتق دی چی معنیٰ یی منډه ده، ضَبْحًا ، ضبح هغه خاص اوازدی کوم چی داسونو دسینو څخه دمنډی په وخت کی وزی چی معنیٰ یی هَوْ کیدل سوي ده، مُورِیٰت دایراء څخه مشتق دی چی معنیٰ یی اور ایستل دی ، لکه داوسپنی په سُولولو یا په وهلو چی وزی، قَدْحًا د: قَدحْ معنیٰ سوهول دی ، په کلکه مځکه چی کله اس تیزه منډه وهی اوپه پښو یی اوسپنی نعلونه وی نوپه ټکر سره داور بخری راوزی، مُغِیْرٰت داغاره څخه مشتق دی، چی معنیٰ یی حمله کول اوچاپه وهل دی، صُبْحًا ، دصباح دوخت تخصیص بیانول دعادت په طوردی، ځکه چی دعربو خلگوبه دشجاعت داظهار دپاره دشپی په تیاره کی چاپه وهل معیوب گڼل، حمله به یی دسهار کیدو څخه وروسته کوله، اَثَرْنَ د: اثارت څخه مشتق دی، گرد الوزولوته اونقع گردته وایی، مراد دادی چی دا آسونه میدان ته په داسی تیزی سره منډی وهی چی دپښی څخه یی گرد پورته کیږی الوزی ، خصوصًا دسهار په وخت کی گرد الوزول دزیات سرعت اوتیزی طرف ته اشاره ده ، ځکه چی دا وخت عادتًا دگرد الوتلونه دی په څه سخته منډی سره دغه وخت گرد الوتلی سی .

فَوَسَطْنَ بِهٖ جَمْعًا : یعنی دا ددښمن په صفونو کی خوف اوخطره ورننوځی، د، کَنُوْدْ په معنیٰ کی حضرت حسن بصری فرمایی چی هغه سړی کوم چی مصیبتونه یادوی اونعمتونه هیروی هغه ته کَنُوْدْ ویل کیږی، ابوبکرواسطی فرمایی کوم سړی چی نعمت ته گوری اومنعم یعنی نعمت ورکوونکی ته نه گوری هغه کَنُوْدْ دی ددی ټولو اقوالو خلاصه دنعمت ناشکری کول دی په دی وجه دکَنُوْدْترجمه په ناشکری سره سوي ده .

وَاِنَّهٗ لِحُبِّ الْخَیْرِ لَشَدِیْدٌ : دخیر لفظی معنیٰ هرښه والی دی، په عربوکی به مال هم دخیرپه لفظ سره تعبیر کیدی ، گویا مال خیر اوخیر دی اوفائده فائده ده ، حال دا ﷺ چی په حقیقت کی خینی مال انسان په زرگونو مصیبتونوکی اخته کوی، په اخرت کی خودهر حرام مال دا انجام دی کله کله په دنیاکی هم مال دانسان دپاره مصیبت جوړیږی، مگر دعربو دمحاوری مطابق یی په دی آیت کی مال په لفظ دخیر سره تعبیر فرمایلی دی، لکه چی په یوبل آیت کی فرمایی، اِنْ تَرَكَ خَیْرًا ، دلته هم دخیر څخه مراد مال دی .

په ذکر سوو آیتونوکي يي په آسونو قسم واخيستي او دانسان په حقله يي دوي خبري وويلي، يوه دا چي هغه ناشکره دي ، مصيبتونه اوتکليفونه يادوي اونعمتونه او احسانات هيروي، دوهم داچي هغه دمال په محبت کي سخت دي، دا دواړي خبري شرعًا اوعقلاً مذموم دي، په دي کي انسان لره پردي مذمومو خصلتونو خبردارول مقصود دي، دنا شکري مذموم والي خوبالکل واضح دي، دمال محبت چي يي مذموم مقرر کي، حال دا دي چي دانساني ضرورتونو مدار دي او ددي کسب او اکتساب شريعت نه صرف حلال بلکه په قدر دضرورت فرض مقرر کړي دي، نودمال محبت مذموم کيدل ياخو دوصف شدت په اعتبار سره دي چي دمال په محبت کي داسي مغلوبه سي چي دالله ﷻ داحکامو څخه هم غافل سي او دحلالو اوحرامو پرواه يي پاته نه سي ، اويا څکه چي دمال کسب او اکتساب اوپه قدر دضرورت جمع کول خو مذموم نه دي ، بلکه فرض دي ، مگر محبت ددي هم مذموم دي، څکه چي دمحبت تعلق دزړه سره دي، ددي حاصل به داوي چي مال په قدر دضرورت حاصلول اوددي څخه کار اخيستل خويوه فريضه اوښه ده، ليکن په زړه کي ددي سره محبت کول بياهم مذموم دي لکه انسان دتشو بولو اولويو بولو ضرورت خو پوره کوي هم اواهتمام يي هم کوي مگرپه زړه کي يي ورسره محبت نه وي، په بيماري کي دوايي هم خوري اپريشن هم کوي، مگرپه زړه کي يي ددي شيانو سره محبت نه وي بلکه په درجه دمجبوري يي کوي ، دغه شان دالله ﷻ په نزدمومن ته داسي کيدل په کار دي چي په قدر دضرورت مال حاصلوي هم ، حفاظت يي هم کوي اودضرورت په موقعوکي ورڅخه کارهم اخلي، مگر زړه يي ورسره مشغول نه وي، لکه چي مولانا روم رحمه الله په يوبليغ انداز کي فرمايلي دي .

آب اندر زير کشتي پُشتي است آب در کشتي هلاك کشتي است

اوبه لاندي دکښتي څخه دکښتي ساتونکي دي اوچي کله اوبه دننه کښتي ته راسي نوبيا کښتي غرقوونکي ده .

دغه شان مال کله چي دزړه دکښتي څخه پرشا اوخوا وي نوفائده مند دي اوکله چي زړه ته دننه ننوزي نوهلاکت دي، دسورة په اخرکي دانسان پردي دواړو مذمومو خصلتونو داخرت دعذاب وعده اوروول سوي ده .

أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ : آيادي غافل انسان ته ددي خبرنسته چي دقيامت په ورځ کله چي مړي دقبرونو څخه ژوندي راپورته سي اودزړونو پټي خبري هم مخ ته راسي ، ښکاره سي او په دي هم ټول پوه دي چي رب العٰلمين ددي ټولو دحالاتو څخه خبردار دي نو ددغه مطابق به جزا اوسزا ورکي ، په دي وجه دعقلمند کار دادي چي دناشکري څخه منع سي، او دمال په محبت کي داسي مغلوبه نه سي چي دښه او بد تميز پاته نه سي .

فائده : په دي آيت کي دا دوه مذموم خصلتونه دمطلق انسان بيان سوي دي حال دادي چي په انسانانو کي انبياء، اولياء اوډير صالحان بندگان داسي دي کوم چي ددي مذموم خصلتونوڅخه پاك اوشکر گزار بندگان دي ، مال دالله ﷻ په لاره کي خرخولوته تياروي، دحرام مال څخه ځان ساتي، وجه دا ده چي دمطلق انسان طرف ته ددي مذموم خصلتونو نسبت څکه وسو چي اکثره انسانان داسي وي ، په دي سره

دتولو داسی کیدل نه لازمیږی ، په دی وجه ځینو حضراتو په دی آیت کی دانسان څخه مراد کافر انسان اخیستی دی لکه چی لوړ په لنډتفسیر کی داسی ده ، ددی خلاصه به دا وی چی دا دواړه مذموم خصلتونه په اصل کی دکافر دی، په چامسلمان کی هم خدای مه کړه که پیداسی نو ده لره فکر کول په کار دی . والله تعالی اعلم

تمت سورة العدیت بحمدلله تعالی

﴿سورة القارعة﴾

سُوْرَةُ الْقَارِعَةِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَّهِيَ اِحْدٰى عَشْرَةَ اٰيَةً

سورة القارعه په مکه کی نازل سو او په دی کی یو لس (۱۱) آیتونه دی .

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی .

اَلْقَارِعَةُ ﴿۱﴾ مَا الْقَارِعَةُ ﴿۲﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْقَارِعَةُ ﴿۳﴾ يَوْمَ

هغه ټکونکی څه شی دی هغه ټوکونکی ، او ته څه پوه سوی چی هغه ټکونکی څه دی ، په هغه ورځ

يَكُوْنُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ ﴿۴﴾ وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ

چی سی خلق لکه پتنګان خپاره سوی ، او سی غرونه لکه رنګ سوی وړی

الْمَنْفُوْشِ ﴿۵﴾ فَاَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ ﴿۶﴾ فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ

تکول سوی پس دچاچی درانه سول تولونه ، پس هغه به په ژوند خوند

رَّاضِيَةٍ ﴿۷﴾ وَاَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ ﴿۸﴾ فَاُمُّهٗ هَاوِيَةٌ ﴿۹﴾

ورکی وی ، او دچاچی سپک سول تولونه ، پس دهغه ځای کنده ده ،

وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا هِيَهْ ﴿۱۰﴾ نَارٌ حَامِيَةٌ ﴿۱۱﴾

او ته څه پوه سوی چی هغه څه ده ، اور دی ګرم سوی .

لنډتفسیر: هغه ټکوونکی شی ، څه دی هغه ټکوونکی شی؟ او تاته څه معلومه ده چی څه رنګه دی هغه ټکوونکی شی؟ (مراد ورځخه قیامت دی کوم چی زړونه دوام څخه او غوږونه په سختو اوازونو ټکوی اودا به په هغه ورځ وی) په کمه ورځ چی انسان پریشانه دپتنګانو په شان سی (دپتنګانو سره تشبیه دځو شیانوپه وجه ورکول سوه یو دډیروالی چی ټول اولین اواخرین انسانان به په یومیدان کی جمع سی، دوهم کمزوری کیدل چی ټول انسانان به دغه وخت په کمزوری کی دپتنګانو په شان ضعیف اوکمزوری

وی ، دا دواړه وصفونه خوبه دټول اهل محشرپه انسانانوکی عام وی ، دریم بی تاب اوبی ارامه اخوا دیخواته ګرځیدل کوم چی په پتنګانوکی مشاهده کیږی، داصورت به خاص په مومنانوکی نه وی، هغوی به دخپلو قبرونو څخه مطمئن راپورته کیږی) اوغرونه به دوهل سوو رنګینو وړیوپه شان سی (عهن رنګینو وړیوته ویل کیږی، دغرونو رنګونه چونکی مختلف دی اودغه ټول به په هواکی الوزی چی مثال به یی دهغه وړیو (پشم) په شان وی، په کوم کی چی مختلف قسمه دوریښتو رنګونه شامل وی ، په دغه ورځ به انسانی عملونه تلل کیږی) بیاچی دکوم سړی تول (دایمان) دروند وی (یعنی کوم چی مومن وی) هغه به په زړه غوښتونکی ارام کی وی (یعنی نجات به پیداکی جنت ته به ځی) او دکوم سړی تول (دایمان) چی سپك وی (یعنی کافر وی) دهغه ځای به هاویه وی او تا ته څه معلومه ده چی هغه (هاویه) څه شی دی (هغه) یوګرم سوی اور دی .

معلومات اومسئلې: په دی سورة کی دعملونو دتول کیدو او د دوی په سپك یادروند کیدو د دوزخ یاجنت ورکول کیدو ذکر دی ، دعملونو دوزن کولو پوره تحقیق اوشبهاتو جواب دسورة اعراف په شروع کی تیرسوی دی، هلته یی وګوری، په هغه کی داهم لیکل سوی دی چی دحدیث درروایتونو اودتطبیق دایتونو څخه معلومیږی چی دعملونو وزن به غالبًا دوه واره وی، په یووار وزن سره به دمومن اوکافر امتیاز وسی، دهر مومن تول به دروند او دهر کافر تول به سپك وی، بیابه په مومنانوکی دنیکو اوبدو عملونو دامتیاز کولو دپاره دوباره وزن کول وی، په دی سورة کی په ظاهره دغه اولنی وزن مراد دی، په کم کی چی به دهرمومن تول دایمان په وجه دروندوی، برابره خبره ده که دده عمل چی هرڅنګه هم وی اودکافر تول به دایمان نه کیدوپه وجه سپك وی، برابره خبره ده که ده څه نیك کارونه هم کړی وی، په تفسیرِ مظهری کی دی چی په قرآن کریم کی په عام طورسره په جزا اوسزا کی تقابل دکفارو دمومنانو صالحانوسره سوی دی چی اصلی مومنان هم هغه دی، باقی پاته سول هغه مومنان کوموچی نیك عملونه اوبدعملونه ګډوډ کړی وی، په قرآن کریم کی په عام طور سره دهغو څخه سکوت سوی دی، اوپه دی ټولوکی داخبره دیاد ساتلو ده چی په قیامت کی به دانسانانو عملونه تلل کیږی، شمیرل کیږی به نه اودعمل وزن په قدر داخلاص او په مطابقت دسنتو زیاتیږی ، دکوم سړی په عمل کی چی اخلاص هم کامل وی اودسنتو مطابق هم مکمل وی، که څه هم دده عمل په شمیرکی کم وی ، وزن به یی په نسبت دهغه سړی زیات وی ، دکوم چی په شمیرکی خو لمونځونه روژې ، صدقه ، خیراتونه ، حج عمری ډیر وی ، مګر اخلاص په کی نه وی .

تمت سورة القارعه بحمدالله تعالی .

(سورة التكاثر)

سُوْرَةُ التَّكَاثُرِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَهِيَ ثَمَانِ اٰيَاتٍ

سورة التكاثر په مکه کی نازل سو اوپه دی کی اته (۸) آیتونه دی .

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چې ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی .

أَلْهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ ﴿١﴾ حَتَّىٰ زُرْتُمُ ٱلْمَقَابِرَ ﴿٢﴾ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٣﴾

په غفلت کې وساتل تاسې ډیروالي دحرص ، تردې چې ووینئ قبرونه ، داسې نه ده ژر به پوه سئ ،

ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٤﴾ كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ ٱلْيَقِينِ ﴿٥﴾

بیا هم داسې نه ده ژر به پوه سئ ، داسې نه ده کاشکې[1] چې تاسې پوه سئ په یقین سره ،

لَتَرَوُنَّ ٱلْجَحِيمَ ﴿٦﴾ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ ٱلْيَقِينِ ﴿٧﴾ ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ

بیشکه تاسې به ووینئ دوږخ ، بیا به خامخا ووینئ هغه ، په یقیني لیدو سره ، بیا به پوښتنه وسی

يَوْمَئِذٍ عَنِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٨﴾

ستاسې څخه په دغه ورځ دآرام دنعمتونو .

لنډتفسیر: (په دنیوی سامان) فخرکول تاسې (داخرت څخه) غافله ساتي تردې چې تاسې قبرستان ته ورسیږئ (یعنې مړه سئ، لکه داسې په ابن کثیرکې دی مرفوعًا) هیڅکله نه ده (یعنې نه دنیوی سامان قابل فخردی اونه قابل غفلت دی) تاسې ته به ډیر ژر (قبرونوته په رسیدو یعنې مړه کیدو سره) معلومه سی بیا (دوباره تاسې خبردار کیږئ چې) هیڅکله (داشیان قابل فخر اوتوجه اواخرت قابل غفلت اوانکار) نه دی تاسې ته به ډیرژر (دقبر څخه په وتلو یعنې حشرکې) معلومه سی (لکه داسې په فتح البیان کې مرفوعًا راغلې دی اوپه دریم واربیا تاسې متوجه کیږئ چې) هیڅکله (داشیان قابل فخر اوتوجه اواخرت قابل غفلت اوانکار) نه دی (او) که تاسې په یقیني طورسره پوهیدلاست (یعنې په صحیح دلیلونوکې مودفکر اوتوجه څخه کار اخیستی اویقین موپه راتلې نوهیڅکله به په دی سامان دفخر اوداخرت څخه په غفلت کې نه راتلاست) والله تاسې خلګ به ضرور دوږخ ووینئ بیا (مکرر دتاکید دپاره ویل کیږي) والله تاسې خلګ به یې ضرور په داسې لیدو ووینئ چې په خپله به یقین وی (څکه چې دغه لیدل به په استدلال اودلائلو سره نه وي، په کوم سره چې په یقین حاصلیدوکې وخت لګیږي، بلکه دغه به دسترګومشاهده وی لنډه داچې په خپلوسترګو سره لیدل یې په عین الیقین سره تعبیرفرمایلې دی) بیا (بله خبره واورئ چې) په دغه ورځ به ستاسې څخه دټولو نعمتونو پوښتنه کیدی سی (چې دحق تعالی دورکول سوو نعمتونو حق موپه ایمان اواطاعت سره پرځای راوړی دی اوکه نه دی)

معلومات اومسئلې: أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ تکاثر دکثرت څخه مشتق دی ، معنی یې ده په کثرت سره مال دولت جمع کول ، حضرت ابن عباس ﷺ اوحسن بصری ددی لفظ دا تفسیرکړی دی او دالفظ په معنی دتفاخر هم استعمالیدی سی ، حضرت قتاده یې دا تفسیر کړی دی ، او دحضرت ابن عباس ﷺ په یو روایت کې دی

چې نبي کریم ﷺ ، أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ ووايه اوويې فرمایل چې ددې څخه مراد دا دی چې مال په ناجائزو طریقو سره حاصل سي او په مال چې کوم فرائض دالله ﷻ عائد دي په هغه کې يې خرڅ نه کې (قرطبي)

حَتَّىٰ زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ دلته دزیارت دمقابر څخه مراد مرکیدل او قبرته رسیدل دي ، لکه چې په حدیث مرفوع کې په خپله نبي کریم ﷺ د ، حَتَّىٰ زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ په تفسیرکې فرمایي، حَتَّىٰ يَأْتِيَكُمُ الْمَوْتَ (ابن کثیر په روایت دابن ابي حاتم) په دې وجه مطلب دایت به داسي چې تاسي خلګ دمال دولت زیاتوالي یا په مال دولت، اولاد او قبیله او نسب باندې فخرپه غفلت کې اچوی، دخپل انجام او اخرت دحساب هیڅ فکرنه کوی تردې چې په دې حال کې تاسي لره مرګ راسي او هلته په عذاب کې ونیول سي، داخطاب په ظاهره عامو انسانانو ته دی کوم چې دمال او اولاد په محبت یا پرنورو په خپلې برتري او تفاخرکې داسي مست وي چې پرخپل انجام دسوچ کولو طرف ته یې توجه نه وي، حضرت عبدالله ابن شخيّر ﷺ فرمايي چې زه یوه ورځ دنبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضرسوم نو دوی ﷺ أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ : ووايه او دا یې فرمایل چې .

يَقُولُ ابْنُ آدَمَ مَالِيْ مَالِيْ وَهَلْ لَكَ مِنْ مَالِكَ إِلَّامَا أَكَلْتَ فَأَفْنَيْتَ أَوْلَبِسْتَ فَأَبْلَيْتَ أَوْتَصَدَّقْتَ فَأَمْضَيْتَ؟وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ مِنْ حَدِيْثِ شُعْبَةَ وَمَاسِوٰى ذٰلِكَ فَذَاهِبٌ وَتَارِكُهُ لِلنَّاسِ (ابن کثیرو قرطبي بروایت مسلم، ترمذي، احمد)

بنده وایي چې زمامال زمامال حال دای چې په دې کې ستاحصه خو دومره ده کومه چې تا وخوړه فنادې کړه یادې واغوستله زړه دې کړله یادې صدقه کړه خپل مخ ته دې ولیږله او ددې څخه ماسوا چې څه دي هغه ستا دلاس څخه تلونکي دي ، ته به دغه خلګو ته پریږدې .

امام بخاري دحضرت انس ﷺ څخه روایت کړی دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي .

لَوْكَانَ لِابْنِ آدَمَ وَادِيًا مِنْ ذَهَبٍ أَحَبَّ أَنْ يَكُونَ لَهُ وَادِيَانِ وَلَنْ يَمْلَأَ فَاهُ إِلَّا التُّرَابُ وَيَتُوبُ اللهُ عَلَىٰ مَنْ تَابَ :

که دانسان دپاره دغره یوه لمن دسرو څخه ډکه سي نو (هغه په دې قناعت نه کوي بلکه) غواړي چې دغسي دوه نوري سي او دده خله خود (قبرد) خاورو څخه ماسوا بل هیڅ شی نه سي ډکولی او الله ﷻ توبه قبلوي دهغه چا کوم چې دهغه طرف ته رجوع کوي .

حضرت ابي ابن کعب فرمایي چې مونږ به ددې ذکرسوي حدیث الفاظ قرآن کریم ګڼي تردې چې سورة . أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ نازل سو، داسي معلومیږي چې نبي کریم ﷺ أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ ویلی وي او ذکرسوي الفاظ یې ددې دتفسیر اوتشریح په طور ویلي وي، ددې څخه ځینو صحابه ووته داشبهه وسوه چې داهم دقرآن الفاظ دي، وروسته چې کله پوره: أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ مخ ته رالي نو په دې کې دا الفاظ نه وه، په دې سره حقیقت واضح سو چې دا الفاظ دتفسیر وو .

لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ : حرف لَوْ کوم چې دشرط دپاره راځي ، ددې مقابل څه جزا په کار ده ، هغه په قرینه دسیاق دلته حذف سوي ده ، لَمَا أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ، یعنی که تاسي ته دقیامت دحساب او کتاب یقین وای نو تاسي به په دې تکاثر او تغافل کې نه پریو تاست .

ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ : لوړ دلنډ تفسیر څخه معلومه سوي ده چې دعین الیقین څخه مرادهغه یقین دی کوم

چی دیوشی دمشاهدی څخه وروسته حاصلیږی اودا دټولو څخه اعلیٰ درجه دیقین ده، حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی حضرت موسیٰ ﷺ کله په کوه طورکی تشریف فرماوو، اودده څخه وروسته دده قوم دګیلګی عبادت شروع کی نوالله ﷻ ده ته هلته په کوه طورکی خبر ورکړی وو چی ستاقوم په دی وبال کی اخته سوی دی، مګرپه حضرت موسیٰ ﷺ باندی ددی خبری دومره اثرونه سو، خومره چی هغه وخت وسو، کله چی واپس رالی اوبنی اسرائیل یی دګیلګی په عبادت کی په سترګوسره ولیدل، ددی اثر دا وسو چی بی اختیاره سو او دتورات تختی یی دلاسونو څخه ولویدی (رواه احمد والطبرانی بسند صحیح، مظهری)

ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ: یعنی ستاسی ټولو څخه به دقیامت په ورځ دالله ﷻ ددرکول سوو نعمتونوپه حقله پوښتنه کیږی چی تاسی دهغه څه شکر ادا کی اوهغه خو مو په ګناهونو کی نه دی خرڅ کړی، په هغه کی دځینو نعمتونوپه حقله خوپه خپله په قرآن کریم کی بل ځای وضاحت راغلی دی لکه چی فرمایی: إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا چی په دی کی دانسان دقوت داوریدو لیدو اودزړه په حقله هغه په لکونو نعمتونه راغلل کوم چی انسان په هره لمحه کی استعمالوی.

حدیث: او نبی کریم ﷺ فرمایی چی دقیامت په ورځ به چی دبنده څخه دټولو څخه اول دکوم شی پوښتنه کیږی (هغه تندرستی ده) ده ته به وویل سی چی ایامونږ تا لره تندرستی نه وه درکړی اوایا مونږپه تایخی اوبه نه وی چیښلی، (ترمذی عن ابن حبان وابوهریره ﷺ. ابن کثیر)

حدیث: او نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی په محشرکی به هیڅوك ترهغه وخت پوری دخپل ځای څخه ونه ښوریږی، ترڅوپوری چی دپنځو سوالونو جواب دده څخه وانه خیستل سی، یوداچی ده خپل عمرپه کمو کارونوکی ختم کړی دی، دوهم داچی ده دخپلی ځوانی قوت په کومو کارونو کی خرڅ کړی دی، دریم دا چی کوم مال ده حاصل کړی وو هغه یی په کومه کومه طریقه جائز یاناجائز حاصل کړی وو، څلورم داچی دغه مال یی کوم کوم ځای خرڅ کړی وو، پنځم دا چی کوم علم الله ﷻ ده ته ورکړی وو، په هغه ده څومره عمل کړی وو (بخاری)

او دتفسیر امام مجاهد فرمایی چی په قیامت کی به داپوښتنه ددنیا دهرلذت په حقله وی (قرطبی) برابره خبره ده که تعلق یی دخوراك چښاك سره وی یادکپړی اومکان سره یادښځی اواولاد سره یادحکومت اوعزت سره، قرطبی ددی دنقل کولو څخه وروسته فرمایی چی داباالکل درسته ده، په دی سوال کی دڅه خاص نعمت تخصیص نسته.

(دسورت تکاثر خاص فضیلت)

نبی کریم ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته خطاب وکی اوویی فرمایل چی ایاپه تاسی کی یوسړی ددی قدرت نه لری چی هره ورځ دقرآن یوزر ایتونه ووایی، صحابه کرامو ﷺ عرض وکی، چی روزانه یوزر ایتونه څوك ویلی سی، دوی وفرمایل چی په تاسی کی څوك: أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ نه سی ویلی، مطلب دا دی چی، أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ روزانه ویل دیوزر ایتونو دویلو برابردی (مظهری بحواله حاکم وبیهقی عن ابن عمر ﷺ)

تمت سورة التکاثر بحمدالله تعالیٰ

﴿سورة العصر﴾

سُوْرَةُ الْعَصْرِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَهِيَ ثَلٰثُ اٰيٰتٍ

سورة العصر په مکه کی نازل سو او په دی کی دری (۳) آیتونه دی.

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی.

وَالْعَصْرِ ① اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ ② اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

قسم دی په زمانه ، چی انسان خامخا په تاوان کی دی مګر کومو چی یقین وکی ، اونیك عملونه یی وکړل

الصّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ③

او یو بل ته یی تاکید وکی دحق دین ، او یو بل ته یی تاکید وکی دصبر .

لنډتفسير: قسم دی په زمانه (په کومه کی چی رنج اوخسران واقع کیږی چی) انسان (دخپل عمر ضائع کولوپه وجه) په لویه خساره کی دی، مګرهغه خلګ کوم چی ایمان راوړی او نیك کارونه وکی (کوم چی دخپل نفس کمال دی) اویوبل ته پرحق دقائم پاته کیدو وصیت کوی اویوبل ته (دعملونو) دپابندی وصیت کوی (کوم چی دنورو تکمیل دی، نوکم خلګ چی په خپله هم کمال حاصل کی اودنوروهم تکمیل کوی دغه خلق خامخاپه تاوان کی نه دی بلکه په نفع کی دی)

معلومات اومسئلي: **دسورة عصر خاص فضيلت**: حضرت عبيدالله بن حصن ؓ فرمایی چی دنبی کریم ﷺ په صحابه کرامو ؓ کی دوه کسان داسی وه چی کله به دوی په خپل مینځ کی یو ځای کیدل نوترهغه وخته به نه جلاکیدل ترڅوپوری چی به په دوی کی یودبل په مخکی سورة والعصرونه وایه (رواه الطبرانی) اوامام شافعی فرمایی چی که خلګوصرف په دی سورة کی تدبر کولی نودابه ورلره کافی وای (ابن کثیر)

سورة عصر دقرآن دډیرو مختصرو سورتونو څخه دی، لیکن داسی جامع دی چی په قول دحضرت امام شافعی رحمه الله چی که خلګ دا په فکر اوتدبر سره ووایی نوددین اودنیا ددرستی دپاره به کافی سی، په دی سورة کی حق تعالی په زمانه قسم اخلی فرمایی چی نوع انسانی په لویه خساره کی ده اوددی خساری څخه مستثنٰی صرف هغه خلګ کم چی دڅلورو شیانو پابندوی، ایمان، عمل صالح، نوروته

فرمايي چي دانسان ټول حالات دده نشو اونماء دده حركات سكنات، عملونه اخلاق ټول په زمانه كي دننه دي دكمو عملونو هدايت چي په دي سورة كي وركول سوي دي، هغه هم ددي زماني په شپه اوورځ كي دننه دي، ددي په مناسبت سره په زمانه قسم اختيار سوي دي .

(زماني لره دنوع انساني په خساره كي څه دخل دی ؟)

اوددي وضاحت دادي چي دانسان دعمر زمانه دده كلونه، مياشتي اوشپې ورځي بلكي ګنتي اومنټونه دي، كه فكر پروسي نودا دده سرمايه ده دكومو په ذريعه چي هغه ددنيا اواخرت عظيمي اوعجيبه نفعي هم حاصلولی سي اودعمر وختونه كه په غلطو اوبدو كارونوكي ولګوی، نودادده دپاره وبالِ جان هم جوړ سی، ځينو عالمانوفرمايلی دی .

حَيَاتُكَ اَنْفَاسٌ تُعَدُّ فَكُلَّمَا مَضٰى نَفَسٌ مِّنْهَا انْتَقَصَتْ بِهٖ جُزْءًا

يعنی ستاژوند ديوځوپه شميردساه ګانونوم دی كله چي ددوی څخه يوه ساه تيره سی نوستادعمريوجزكم سی

حق تعالٰی هرانسان ته دده دعمر دعزيزو وختونوبی بها سرمايه وركړيده، په يوتجارت باندی يی دی لګولی دی، چي دی دعقل اوشعور څخه كار واخلی اودا سرمايه خالص په نفع مندو كارونو ولګوی نودده دنفع به هيڅ حدنه وی اوكه ددی خلاف په ضرری كارونو كي يی ولګوی نودنفع اميدبه څه وی راس المال به يی هم ضائع سی اوصرف دومره نه چي نفع اوراْس المال دلاس څخه ولاړسی، بلكي په ده دسوونو جرمونو سزا عائده سی اوكه چادا سرمايه نه په څه نفع بخش كاركي ولګوله، نه په ضرر رسان كاركي، نوكم از كم داخساره خولازمی ده چي دده نفع اوراس المال دواړه ضائع سول اوداڅه شاعرانه تمثيل نه دی بلكه ديومرفوع حديث څخه ددی تائيدهم كيږی، په كوم كي چي نبی كريم ﷺ فرمايلی دی ، كُلٌّ يَغْدُوْ فَبَآئِعٌ نَفْسَهٗ فَمُعْتِقُهَا اَوْ مُوْبِقُهَا، يعنی هرسړی چي سهار ولاړسی نو دخپل ځان سرمايه په تجارت كي لګوی بياځوك خوداخپله سرمايه دخساری څخه ازاد وی اوځوك يی هلاكوی .

په خپله قرآن كريم هم ايمان اونيك عمل دانسان دتجارت په الفاظو سره تعبير فرمايلی دی: هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى تِجَارَةٍ تُنْجِيكُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ : اوكله چي زمانه دانسان دعمر سرمايه سوه او انسان ددی سوداګرسو، نوپه عامو حالاتوكي ددی سوداګرپه خساره كيدل په دی وجه واضح دی، چي ددی مسكين داسرمايه څه منجمد شی نه دی، كوم چي يی څه ورځی بی كاره وساتی، په راتلونكی وخت كي يی په كار راولی بلكه دابهيدونكی سرمايه ده چي په هرمنټ اوهرسكنډ بهيږی، ددی تجارت كوونكی ډير هوښيار اومستعد سړی په كار دی كوم چي دبهيدونكی شی څخه نفع حاصله كړی، په دی وجه ديو بزرګ قول دی چي هغه ديو واوری خرخوونكی دكان ته ولاړ، نوويی فرمايل چي دی تجارت ته وګوره نودسورة عصرپه تفسيربه پوه سی چي كه دی لږهم دغفلت څخه كارواخلی نودده داسرمايه به اوبه سی اوضائع به سی .

په دی وجه په دی قرانی ارشادكی يی په زمانه قسم واخيستی اوانسان يی دی طرف ته متوجه كړی دی چي دخساری څخه دمحفوظ كيدو دپاره چي كمه دڅلورو اجزاوو څخه مركبه نسخه بنوول سوي ده ، ددی په استعمال كی يوه ذره غفلت ونه كی، دعمر ديو يو منټ قدر وپيژنی او په دی څلورو كارونو كی دی مشغوله كړی .

دزماني دقسم يومناسبت داهم كيدي سي چي په كوم شي قسم واخيستل سي، هغه په يو حيثيت سره ددغه معاملې دشاهد قائمقام وي اوزمانه داسې شي دي چي كه ددې په تاريخي اوپه دې كې دقومونوپه عروج اونزول په ښو بدو واقعاتو نظروكې، نوضروربه دې يقين ته ورسيږې چي صرف داڅلور كارونه دي په كموكې چي دانسان فلاح او كاميابي منحصره ده چاچي داپرېښوول هغه په خساره كې پرېوتې، ددنيا تاريخ په دې شاهد دى.

مخ ته ددې څلورو شيانو تشريح داده چي ايمان او عمل صالح كم چي په خپله دانسان دذات سره متعلق دي، ددوى دامعامله واضحه ده، دڅه تشريح محتاجه نه ده، البته اخري دوه جزونه يعنې تواصى بالحق اوتواصى بالصبر داقابل غوردي چي ددې څخه څه مراد دي، لفظ دتواصى دوصيت څخه مشتق دى چاته په تاكيد سره په موثر اندازكې نصيحت كول اودنيك كار كولو دهدايت كولو نوم وصيت دي، په دې وجه مړكيدونكي چي دڅان څخه د وروسته دپاره څه هدايتونه وركوي هغه ته هم وصيت ويل كيږي، دا دوه جزونه په حقيقت كې ددې وصيت دوه بابونه دي يو دحق وصيت بل دصبر وصيت.

اوس ددې دوارو لفظو په معناووكې څواحتماله دي، يوداچي دحق څخه مراد دصحيح عقيدو اونيكو عملونو مجموعه وي اودصبر معنې دټولو گناهونو اوبدو كارونو څخه محفوظ كيدل دي نوداولنى لفظ حاصل امر بالمعروف سو يعنې دنيكو كارونو حكم كول اوددوهم حاصل نهى عن المنكر سو، يعنې دبدو كارونو څخه منع كول، ددې مجموعي خلاصه بياهغه ايمان اوعمل صالح دي كم چي يې په خپله اختيار كړې دي، ددغه تاكيد اونصيحت نوروته وركول سو، اويو احتمال دادى چي دحق څخه مراد حقي عقيدې واخيستل سي اودصبرپه مطلب كې دټولو نيكو عملونو پابندي هم وي اودبدو كارونو څخه محفوظ كيدل هم، څكه چي دصبر دلفظ حقيقي معنې خپل نفس منع كول اوپابندول دي، په دې پابندي كې نيك عملونه هم راغلل اودگناهونو څخه څان ساتل هم.

اوحافظ ابن تيميه په خپله يوه رساله كې فرمايي ، چي انسان ته دايمان اونيك عملونوڅخه منع كوونكي عادتًا دوه شيان دي، يوشبهات يعنې ده ته په ايمان اوعمل صالح كې څه نظري اوفكري شبهات پيداسي، دكومو په سبب چي عقيدې گډې وډې سي اودعقيدو په گډوډ كيدوسره په عمل صالح كې خلل راتلل په خپله ظاهردي، دوهم شهوات يعنې نفساني خواهشات كوم چي انسان څينې وخت دنيك عمل څخه منع كوي اوځينې وخت يې په بدو عملونوكې اخته كوي، كه څه هم داپه نظري اواعتقادي طور باندې په نيكي عمل اودبدې څخه محفوظ كيدل ضروري گڼي مگرنفساني خواهشات ددې خلاف وي اوهغه ددې خواهشاتو څخه مغلوبه سي اوسيده لار پرېږدي، نوپه ذكر سوي آيت كې دوصيت حق څخه مراد دادې چي شبهات لېرې كړي اودوصيت صبر څخه مراد داچي نفساني خواهشات پرېږدي دښو عملونو اختيارولو هدايت كوي، ددې خلاصه داده چي دوصيت حق څخه مراد دنورو مسلمانانو علمي اصلاح ده اودوصيت بالصبر څخه مراد عملي اصلاح ده.

(دنجات دپاره صرف دخپل عمل اصلاح کافي نه ده بلکه دنورو مسلمانانو فکرهم ضروري دی)

دی سورة مسلمانانو ته یولوی هدایت داورکی چی دهغوی صرف خپل عمل دقرآن او سنت تابع کول چی خومره اهم اوضروری دی، دومره اهمه داده چی دنورو مسلمانانو هم دایمان اوعمل صالح طرف ته دبللو دخپل وس مطابق کوشش کوی، کنه نوصرف خپل عمل به یی دنجات دپاره کافی نه سی، خصوصًا دخپل اهل اوعیال اواحبابو متعلقینو دبڈو عملونو څخه غفلت کول دخپل نجات لار بندول دی، که څه هم په خپله هغه دهر خومره نیکو عملونو پابندوی، په دی وجه په قرآن اوحدیث کی پرهر مسلمان باندی دخپل خپل طاقت مطابق امر بالمعروف اونهی عن المنکر فرض کری دی، په دی معامله کی عام مسلمانان بلکی ډیر دخواصو پوری په غفلت کی اخته دی، په خپله عمل کول کافی گنی، اولاد اوعیال که یی هرڅه هم کوی، دهغوی فکرنه کوی، الله ﷻ دی مونږ ټولو ته ددی آیت په هدایتونو دعمل کولو توفیق نصیب کری ، امین

تمت سورة العصر بحمدلله تعالى

(سورة الهمزة)

سُوْرَةُ الْهُمَزَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعُ اٰيَاتٍ

سورة الهمزه په مکه کی نازل سو اوپه دی کی نه (۹) آیتونه دی .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی .

وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةِۙ ﴿۱﴾ الَّذِيْ جَمَعَ مَالًا وَّعَدَّدَهٗ ﴿۲﴾

خرابی ده هر طعنه کوونکی عیب لټوونکی ته ، چاچی جمع کی مال اوشمیر کری یی وساتی ،

يَحْسَبُ اَنَّ مَالَهٗۤ اَخْلَدَهٗ ﴿۳﴾ كَلَّا لَيُنْۢبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ ﴿۴﴾ وَ

خیال کوی چی دده مال به همیشه وی دده سره ، داسی نه ده دی به وغورځول سی په ریزه ریزه کوونکی کی

مَاۤ اَدْرٰىكَ مَا الْحُطَمَةُ ﴿۵﴾ نَارُ اللّٰهِ الْمُوْقَدَةُ ﴿۶﴾ الَّتِيْ تَطَّلِعُ عَلَى

او ته څه پوه سوی چی څه دی هغه ریزه ریزه کوونکی ، یو اور دی دالله ﷻ بل کرل سوی ، هغه چی راخیژی

الْاَفْـِٕدَةِ ﴿۷﴾ اِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُّؤْصَدَةٌ ﴿۸﴾ فِيْ عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ ﴿۹﴾

زړونو ته ، دوی به په هغه کی بند کرل سی ، په اوږدو اوږدو ، ستنو کی .

لنډتفسير: لويه خرابي ده هر داسي سړي لره كوم چي په شاپسي عيب را ايستونكى وى (او) مخامخ طعن كوونكى وى كوم چي (دډير حرص په وجه) مال جمع كوي (اودهغه دمحبت اوپه هغه دفخرپه سبب) هغه بار بار شماري (دده دسلوك څخه داسي معلوميږي چي گويا) هغه خيال كوي چي دده مال به دده سره هميشه وي (يعني دمال په محبت كي داسي شغل لري لكه چي هغه ددي عقيده لري چي هغه به هم هميشه ژوندي وي اودامال به ورسره هم هميشه وي، حال دادي چي دامال دده سره) هيڅكله نه (پاته كيږي مخ ته ددي وَيْل يعني خرابي تفصيل دي چي) والله هغه سړي به داسي اورته وغورځول سي په كوم كي چي څه پريوزي اوهغه ريزه ريزه كړي اوتاته څه معلومه ده چي هغه ريزه ريزه كوونكى اورڅه دي، هغه دالله ﷻ اور دي كوم چي (دالله ﷻ په حكم سره) بل سوي دي (داور نسبت دالله ﷻ طرف ته په كولوكي دهغه اور دسخت اوهولناك والي طرف ته اشاره ده اوهغه داسي دي) كوم چي (بدن ته دلگيدو سره) به زړونوته رسيږي هغه (اور) به پردوي بندسي (داسي چي هغه خلگ به داور) په ډيرو لويو لويو ستنوكى (به گيروى لكه څوك چي داورپه صندقونو كي بند سي)

معلومات اومسئلي: په دي سورة كي پردرو سختو گناهونو باندي دسخت عذاب وعده اوبيا ددغه عذاب دشدت بيان دى هغه دري گناهونه دادي لَمز، جمع مال، همز، هَمَز او لَمَز په څو معناووكي استعماليږي، اكثرو مفسرينوچي كومه اختياركړي ده هغه داده چي دهمز معنٰى غيبت يعني په چاپسي دعيبونو ذكر كول، اود: لَمَز معنٰى مخامخ چاته طعن وركول اوبد ويل دادواړه شيان سخت گناهونه دي، دغيبت دعذابو څخه په قرآن اوحديث كي زيات دي، دكوموچي داوجه كيدي سي چي ددي گناه په اشتغال كي څه خنډ مخ ته نه وي څوك چي په دي كي مشغول وي نوښه په ازادي يي كوي، په دي وجه يي گناه دلوي څخه لويه اودزيات څخه زيات پرمخ زياتيږي، په خلاف دمخامخ وينا چي په هغه سره بل هم دمدافعت دپاره تياريږي، په دي وجه په گناه كي امتداد نه وي ددي څخه علاوه دچا په شاپسي دهغه دعيبونو ذكركول څكه لوى ظلم دى چي هغه خبرهم نه وى چي پرماڅه الزام لگول كيږي چي صفايى يى پيش كي.

اوپه يوحيثيت سره لمز زيات سخت دي، دچا مخامخ هغه ته بدى ردى ويل، دهغه سپكاوى اوذليل كول هم دي اوددي ازارهم سخت دي، په دي اعتبار سره ددي عذاب هم اَشَدّ دي، په حديث كي نبي كريم ﷺ فرمايي، شِرَارُ عِبَادِ اللهِ تَعَالٰى اَلْمَشَّآءُوْنَ بِالنَّمِيْمَةِ اَلْمُفَرِّقُوْنَ بَيْنَ الْاَحِبَّةِ اَلْبَاغُوْنَ اَلْبُرَآءُ الْعَنَتَ: يعني دالله ﷻ په بندگانوكي بدترين هغه خلگ دي كوم چي چغلخوري كوي او ددوستانوپه مينځ كي فساد اچوي اودبي گناه خلگو عيبوڅخه تلاش كوي، دريم خصلت پركوم چي دعذاب وعده په دي سورة كي راغلى ده، هغه دمال حرص او محبت دي، دايي په آيت كي داسي تعبير كړي دي، چي دحرص اومحبت دمال په وجه دغه باربار شميري، چونكى نور ايتونه اوروايتونه پردي شاهد دي چي مطلق مال جمع كول څه گناه اوحرام نه دي، په دي وجه مراد دلته هم هغه مال جمع كول دي، په كم كي چي واجب حقونه نه وي ادا سوي يافخر اوتفاخر مقصود وي، يادي په محبت كي مشغول سي او ددين دضرورتونو څخه غافله سي.

تَطَّلِعُ عَلَى الْاَفْئِدَةِ: يعني دا دجهنم اور زړونوته رسيږي، هسي خو دهر يوه اور خاصه دا ده چي څه شي په

دی کی ولویږی، ټول اجزاء یې ورسوزی، چې انسان وغورځول سی نو ټول اندامونه به یې دزړه سره وسوزی ، دلته دجهنم داور داخصوصیت ځکه ذکر سوچی ددنیا اورکله دانسان بدن ته ولګیږی نوزړه ته دررسیدو څخه مخکی مرګ واقع سوی وی په خلاف دجهنم څخه چې په هغه کی مرګ خوسته نه نوزړه ته داوررسیدل په حالت دحیات کی دی اودزړه دسوزیدو تکلیف به انسان په خپل ژوندکی محسوس کوی.

تمت سورة الهمزة بحمدلله تعالی

﴿سورة الفيل﴾

سُوْرَةُ الْفِيْلِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَهِيَ خَمْسُ اٰيَاتٍ

سورة الفيل په مکه کی نازل سو او په دی کی پنځه (۵) آیتونه دی.

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چې ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی .

اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصْحٰبِ الْفِيْلِ ﴿١﴾ اَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ

آیا تا ونه لیدل چې څه وکړل ستارب دفیل والاوو سره ، آیا دهغوی تدبیر یې نه دی

فِيْ تَضْلِيْلٍ ﴿٢﴾ وَّاَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا اَبَابِيْلَ ﴿٣﴾ تَرْمِيْهِمْ

غلط کړی ، او را ویې لیږل په هغوی مرغانو الوتونکی سیلونه سیلونه ، ویشتلې یې

بِحِجَارَةٍ مِّنْ سِجِّيْلٍ ﴿٤﴾ فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّاْكُوْلٍ ﴿٥﴾

په هغوی ډبری دپخو ختو ، بیا یې کړل هغه لکه پروړ ژول سوی .

لنډتفسير: آیا تاته معلومه نه ده چې ستارب دفیل والاوو سره څه معامله وکړه (په دی استفهام اوسوال سره مقصود ددی واقعی پرعظمت اوهولناك کیدو باندی خبرداروول دی، مخ ته ددی معاملی بیان دی) ایا ددوی تدبیریی (کوم چې دکعبی ورانولو دپاره یې کړی وو) سراسرغلط نه کی (دا استفهام اوسوال تقریری دی، یعني دواقعی دسخت ثابتولو دپاره) اوپه هغوی باندی یې سیلونه سیلونه مارغان راولیږل کموچې به پرهغوی باندی دپخو ختو ډبری را اوروولی، نو الله ﷻ دوی دژول سوو پروړو په شان کړل (مطلب دا دی چې دالله ﷻ داحکامو بې حرمتی کوونکو لره، دداسی عذاب اوعقاب څخه بې فکره کیدل نه دی په کار، کیدی سی چې په دنیاکی عذاب راسی لکه پراصحاب فیل باندی چې راغی ورنه داخرت عذاب خو یقینی دی)

معلومات اومسئلې: په دی سورة کی داصحاب فیل دواقعی په لنډه سره بیان دی چې دوی دبیت الله شریفی دنړولو په قصدسره دفیلانو فوج راوستی وو اوپر مکه مکرمه راختلی وه، حق تعالی دمعمولی

مرغيوپه ذريعه ددوی پرفوج اسمانی عذاب نازل کی، نيست او نابود يی کړل او ددوی ارادی يی خاوری کړی.

﴿ دفيل واقعه دنبي كريم ﷺ دپيدائش په كال باندی وسوه ﴾

داواقعه په هغه کال پيښه سوه په کوم کال چی دخاتم الانبياء ﷺ ولادت په مکه مکرمه کی وسو، په ځينو روايتونو کی هم ددی تائيد کيږی اودا مشهور قول دی (ابن کثير) محدثينو حضراتو داواقعه دنبی کريم ﷺ يوقسم معجزه مقرر کړي ده مگر چونکی دمعجزو قانون دا دی چی هغه دنبی دنبوت ددعوی سره د دوی دتصديق دپاره ظاهريږی ، دنبوت ددعوی څخه مخکی، بلکه دنبی دولادت څخه هم مخکی حق تعالی ځينی وخت په دنياکی داسی واقعات اونښانی ظاهروی کوم چی په خرق عادت کی په مثل دمعجزی وی ، داسی نښانوته دمحدثينوپه اصطلاح کی ارهاص ويل کيږی کوم چی دابتداء اوبنياد په معنٰی کی استعماليږی ، رهص سنگ بنيادته وايی (قاموس) دانبياء دنياته دتشريف راوړلو څخه يا د دوی دنبوت ددعوی څخه مخکی هم حق تعالی څه داسی نښانی ظاهروی کوم چی دمعجزو دقسم څخه وی، او داسی نښانی چونکی ددوی دنبوت داثبات مقدمه اوددی قسم ابتداء اوبنياد وی، په دی وجه دوی ته ارهاص ويل کيږی دنبی کريم ﷺ دبعثت اوولادت څخه مخکی هم داقسم ارهاصات ډير سوی دی اصحاب فيل دآسمانی عذاب په ذريعه په بيت الله شريفی دحملی کولو څخه منع کول هم ددغو ارهاصاتو څخه دی.

دا صحاب فيل واقعه : دحديثو اوتاريخ امام ابن کثير داسی نقل فرمايلی دی ، چی په يمن د، حمير دبادشاهانو قبضه وه داخلگ مشرکان وه، د دوی اخری بادشاه ذونواس دی کوم چی ددغه زمانی په اهل حقو يعنی نصاراوو سخت ظلمونه وکړل، ده يواوږد اوپلن خندق وکاږی داور څخه يی ډك کی اوځومره نصرانيان چی دبت پرستی خلاف ديو الله عبادت کوونکی وه، ټول يی ددغه اورخندق ته وروغورزول ويی سوزل دکومو شميرچی شل زره ته نژدی وو، هم داهغه دخندق واقعه ده دکوم ذکر چی داصحاب الاخدود په نوم سره په سورة بروج کی تيره سوي ده ، په دغوکی دوه کسان په يوچم سره د دوی دگرفت څخه وتښتيدل اوهغوی دشام بادشاه قيصرته ولاړل اوفريادیی وکی چی ذونواس بادشاه دحمير پرنصاراوو داسی ظلم کړی دی، ته دهغه څخه بدله واخله، دشام بادشاه قيصر دحبشی بادشاه ته خط وليکی، دی هم نصرانی وو اويمن ته نژدی وو چی ته ددغه ظالم څخه ددی ظلم بدله واخله، هغه خپل عظيم لښکر ددوو کماندرانو (اميرانو) ارباط او ابرهه په قيادت کی ديمن ددی بادشاه مقابلی ته وليږی، لښکرپه دغه ملك ورپريوتی او ټول ملك يی دحمير دقبضی څخه ازادکی، ذونواس بادشاه وتښتيدی اوپه درياب کی ارتاوو سو اومړسو، بياد اړباط اوابرهه په مينځ کی جنگ وسو، ارباط قتل سو اوابرهه غالب سو اودی دحبشی دبادشاه نجاشی دطرف څخه ديمن دملك حاکم (گورنر) مقررسو، ده په يمن دقبضي کولو څخه وروسته اراده وکړه چی په يمن کی يوه داسی شانداره کليسا جوړه کړی چی نظيريی په دنياکی نه وی، ددی څخه دده مقصد داوو چی ديمن عرب خلگ کوم چی دحج کولودپاره

مکی مکرمی ته ځی اوبیت الله طواف کوی، داخلګ به ددی کلیسا دشان اوعظمت څخه مرعوب سی اودکعبی پرځای به دی کلیسا ته راتلل شروع کی، په دی خیال ده ډیره لویه عالیشانه کلیسا دومره لوړه کړه چی لاندی ولاړ سړی ته به ددی لوړ سرپه نظر نه ورتلی اودایی په په سرو سپینو اوجواهراتو ښائسته کړه اوپه ټول ملك کی یی اعلان وکی چی اوس به څوك دیمن څخه کعبی ته دحج دپاره نه ځی اوپه دی کلیسا کی به عبادت کوی، په عربوکی که څه هم بت پرستی وه، په دی وجه دعدنان، قحطان اوقریشو قبائلوکی غم اوغصه راله، تردی چی ددوی څخه یوڅوك دشپی په وخت کی کلیسا ته داخل اوپه ګندګی یی ککړه کړه او په ځینو روایتونوکی دی چی په دغوکی مسافر قبیلی دکلیسا په خواکی دخپل ضرورت دپاره اوربل کی، دهغه څخه په کلیسا کی اور ولګیدی اوسخت نقصان ورته ورسیدی.

ابرهه چی کله ددی څخه خبر سو اوداورته وویل سوه چی چاقریشی داکار کړی دی نوده قسم وکی چی زه به کعبه لوټی لوټی کړم، ابرهه ددی تیاری شروع اودخپل بادشاه نجاشي څخه یی اجازه وغوښته، هغه خپل خاص فیل دکوم نوم چی محمود وو، ابرهه ته راولیږی چی پردی سپور سی په کعبه دی حمله وکی په ځینو روایتونوکی دی چی دادیر لوی او عظیم الشان فیل وو چی نظیریی نسوای پیدا کیدی اودده سره اته نور فیلان هم ددی لښکر دپاره دحبشی بادشاه رالیږلی وه، مطلب یی داوو چی دکعبی په نړولوکی ددی فیلانو څخه کار واخیستل سی، تجویز داوو چی دبیت الله شریفی په ستنو پوری به داوسپنی مضبوط اوږده زنځیرونه وتړی او دا زنځیرونه به دفیلانو په ملا پوری وتړی او فیلان به وشړی، نو ټوله بیت الله شریفی به (نعوذ بالله) په مځکه را ولویږی.

په عربوکی چی کله ددی حملی خبر ورسیدی، نوټول مقابلی ته تیار سول، دیمن په عربو کو یوسړی ذونفر نومیدی هغه دعربو مشر سو اوټول دهغه خواته راټول سول اودابرهه خلاف یی جنګ وکی خوالله ﷻ ته دامنظوره وه چی دابرهه شکست او رسوا یی دنیاته ښکاره سی، په دی وجه کامیاب نه سول اوابرهه ورلره شکست ورکی اوذونفر قیدی سو، چی مخ ته ولاړل نو دقبیله خشعم سردار نفیل بن حبیب یی دخپلی ټولی قبیلی سره مقابله وکړه مګر دوی هم شکست وخوړی اونفیل یی قید کی دده قتل کول یی غوښتل خوبیایی دلاری معلومولو دپاره پریښووی، بیا چی دالښکر طائف ته ورسیدی نودطائف خلګو دقبیله ثقیفو دتیرو قبیلو جنګونه اودابرهه دفتح واقعات اوریدلی وه، هغوی ورسره په ډی صلح وکړه چی مونږ په طائف کی کمه عظیمه بت خانه دلات په نوم جوړه کړي ده ته به هغه ته څه نه وایی نومونږ به ستا مقابله نه کوو اودایی ﷺهم ابرهه ته وویل چی مونږ به ستا دامداد اورهنمایی دپاره خپل یوسردار ابورغال ستاسره ولیږو ابرهه په دی راضی سو او ابورغال یي دځان سره کی، مکی مکرمی ته نژدی مغمس مقام ته ورسیدل، هلته دقریشو اوښان څریدل، دابرهه لښکر هغه ټول اوښان قبضه کړل په کوموکی چی دوه سوه اوښان دنبی کریم ﷺ دنیکه حضرت عبد المطلب وه، ابرهه چی دی ځای ته را ورسیدی نوخپل یوسفیر حناطه حمیری یی مکی ته دقریشوپه سردارانو پسی ولیږی چی مونږ جنګ ته نه یوراغلی، صرف کعبه نړول غواړوکه تاسی مونږ ددی څخه منع نه کی نوتاسی ته به هیڅ نه وایو،

داسفير مكي مكرمي ته راغى نوچاورته دعبد المطلب پته وركړه چې هغه دټولو مشر سرداردى، حناطه دعبد المطلب سره خبرى وكړې اود: ابرهه پيغام يې ورته ورسوى، دابن اسحاق دروايت مطابق عبد المطلب داجواب وركى چې مونږ هم دده سره جنګ نه كوو اونه راسره دده دمقابلې طاقت سته، خودا درته وايم چې دا دالله ﷻ كور اودحضرت خليل ابراهيم ﷺ په لاسو جوړه سوې ده ، هغه په خپله ددى دحفاظت ذمه واردى كه دالله ﷻ سره مودجنګ اراده وى نو چې څه كوى ويې كى، بيا ګورو چې الله ﷻ څه كوى ، حناطه عبدالمطلب ته وويل چې ته زما سره ولاړسه چې زه دې دابرهه سره يوځاى كړم ابرهه چې عبد المطلب وليدى نوډير مرعوب سو اودتخت څخه لاندى راكښته سو، عبد المطلب يې دځان سره كښينوى اودترجمان په ذريعه يې ورڅخه پوښتنه وكړه چې ته په څه غرض سره راغلى يې، دوى وويل چې زما خودومره ضرورت دى چې زما كوم اوښان ستا لښكر نيولى دى، هغه راپريږدى، ابرهه دترجمان په ذريعه وويل چې ماته اول وليدى نو زماپه زړه كې ستا ډير لوى عزت رالى خو ستا دى خبرو هغه ختم كى چې ته زماسره صرف ددوو سووو اوښانو خبرى كوى اودا درته معلومه ده چې زه ستا دكعبې كمه چې ستادين دى، دهغه دنړولو دپاره راغلى يم، دهغه خبره نه كوى، عبد المطلب وويل چې داوښانو مالك خوزه يم، زماسره دهغو فكردى اودبيت الله زه مالك نه يم بلكه ددى مالك يوه عظيمه هستى ده ، هغه دخپل كور په حفاظت باندى پوهيږى ، ابرهه وويل ستا خداى دازما څخه نه سى محفوظ كولى عبدالمطلب وويل چې بياستا اختياردى چې څه غواړى هغه وكه، په ځينو روايتونوكى دى چې دعبد المطلب سره نور دقريشو سرداران هم تللى وه اوهغوى دابرهه په مخكى داپيش كش وكى چې كه ته بيت الله ته څه ونه وايى او واپس ولاړسى نومونږ به دتهامى دټول پيداوار دريمه حصه تاته په طور دخراج اداكو، مګر ابرهه انكار وكى دعبد المطلب اوښان يې واپس كړل، هغه دخپلو اوښانو سره واپس رالى نودبيت الله ددروازى حلقه يې ونيوله، په دعاكى مشغول سو او دقريشو نور خلګ هم ورسره په دعاكى شريك سول چې دابرهه دلښكر مقابله زمونږ دوس نه ده ته په خپله دبيت الله شريفى دحفاظت انتظام وفرمايى، په زارى سره ددعا كولو څخه وروسته عبد المطلب دمكى دنورو خلګو سره په مختلفو غرونوكى خپاره سول، ددوى دايقين وو چې پردى لښكربه دالله ﷻ عذاب راځى، ددى يقين پربنا دوى دابرهه څخه دخپلو اوښانو مطالبه وكړه اودبيت الله په باره كې يې څكه څه نه ويل چې دوى دهغه سره مقابله نه سوه كولى اودايې يقين وو چې الله ﷻ به د دوى پربې وسى رحم وكى اودښمن به ذليله كړى چې سهار سو نوابرهه پربيت الله شريفى دحملى تيارى وكړه اوخپل محمود نومى فيل يې دمخكى تلو دپاره تيار كى، نفيل بن حبيب ...

یولوی پیزوان واچوی بیاهم پورته نه سو، بیادغو خلگو یمن دطرف ته واپس کوی نوفوراً پورته سو بیایی ورلره دشام طرف ته مخ کی نوروان سو، بیایی دمشرق طرف ته بوتلی نو روانیدی بیایی ورلره دمکی مکرمی طرف ته مخ کی بیا کښېنستی.

دقدرت حق ﷻ دامعجزه خودلته ښکاره سوه، بلی خواته ددریاب دطرف څخه دځه مرغیو قطارونه راوران ښکاره سول په کوموکی چی دهریوه سره دری ډبری دنخودو یا ددالو برابر وی، یوه په مښوکه کی اودوی په پنبوکی دواقدی په روایت کی دی چی دامرغی عجیبه شان وی، کوم چی دمخکی څخه نه وی لیدل سوی، په جسم کی دکوتری څخه کوچنی وی، پنجی یی سری وی، په هره پنجه کی یوه یوه ډبره اویوه په مشوکه کی اورا روانی وی اوفوراً دابرهه پرلښکررالی اودغه ډبری یی دابرهه پرلښکر راوغورزولی، یوی یوی ډبری هغه کاروکی کم چی یوه زورورګولی یی هم نه سی کولی، چی پرچابه را ولویده دهغه بدن به یی څیری کی اوپه مځکه کی به ننوتی، چی داعذاب یی ولیدی نوفیلان خوټول وتیښتیدل، صرف یوفیل پاته سوی وو کوم چی په دی ډبرو باندی هلاك سو اودلښکر ټول سړی پردی موقع باندی هلاك نه سول، بلکه مختلفو اطرافوته وتښتیدل، ددغو ټولو دا حال سوچی په لاره کی به ځای پرځای مړه کیدل، ابرهه ته چونکی سخته سزا ورکول وه نو دی فوراً هلاك نه سو، مګردده په جسم کی داسی زهر وچلیدل چی یویو بندیی په جلا کیدو اولویدو سو، په دی حالت کی یی دی واپس یمن ته راوړی، دار الحکومت صنعاته چی ورسیدی نوټول بدن یی ټوټی ټوټی سو وبهیدی اومړسو، دابرهه دفیل محمود سره دوه فیلان دلته په مکه مکرمه کی پاته سول، مګر داسی چی دواړه ړانده اوشل سول، محمدبن اسحٰق دحضرت عائشه صدیقه ﵂ څخه روایت کړی دی چی دوی فرمایی چی ما دادواړه په داسی حالت کی لیدلی دی چی ړانده اوشل اوګد وه اودحضرت عائشه صدیقه ﵂ خور اسماء ﵂ فرمایی چی مادواړه شل اوګد ړانده خیرغوښتونکی لیدلی دی، داصحاب فیل ددی واقعی په حقله په دی سورة کی نبی کریم ﷺ ته خطاب کوی اوفرمایی چی.

اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصْحَابِ الْفِيلِ : دلته یی اَلَمْ تَرَ وفرمایل چی معنٰی یی ده ایاتاونه لیدل، حال دا دی چی داواقعه د دوی دولادت باسعادت څخه څه ورځی مخکی وه، د دوی دلیدو دلته په ظاهره هیڅ موقع نه وه ، مګرکومه واقعه چی یقینی داسی وی چی په عام طورسره مشاهده سوی وی، دهغه علم هم په لفظ دلیدو سره تعبیر کیږی چی ګویا دا دسترګو لیدلی واقعه ده او تر یو حده پوری لیدل هم ثابت دی ، لکه چی لوړ تیر سوه چی حضرت صدیقه ﵂ اوحضرت اسماء ﵂ فیلان ړانده اوشل اوګدپه خیرات غوښتلولیدلی دی، طَيْرًا اَبَابِيلَ ابابیل لفظ دجمع دی، مګر ددی هیڅ مفرد مستعمل نه دی معنٰی ددی دمرغیو سیل دی ، دیو خاص حیوان نوم نه دی ، په اُردو ژبه کی ورته ابابیل وایی ، لکه چی لوړ په روایتونوکی تیرسوی دی چی دغه مرغی دکوتری څخه څه قدر کوچنی وی او داسی وی چی مخکی ګرسره نه وی لیدل سوی (کذا قال سعیدبن جبیر﵀ قرطبی)

بِحِجَارَةٍ مِنْ سِجِّيلٍ : سِجِّيل په زیردسین سره دختی څخه جوړی ډبری ته ویل کیږی دسنګ ګل معرب دی،

داسې ډبرې ته وايي چې دلندې ختې څخه په اورکې په پخولو سره جوړيږي، په دې کې اشاره دې طرف ته ده چې په دې ډبروکې په خپله څه طاقت نه وو دمعمولي ختې څخه په اور جوړې وې، مګرپه قدرت دحق سبحانه تعالی يې ترزوررو ګوليو زيات کار وکې .

فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ : عصف پروړ (بوس) ته وايي، اول خو په خپله بوس ذرې ذرې وي ، بياچې کله يو حيوان هغه وژويي هم، نونور ذره ذره سي، دابرهه په لښکرکې چې پرچا دغه ډبرې لويدلې وې، دهغه يې دغه حال کړې دی .

داصحاب فيل دې عجيبه اونا اشنا واقعې دټولو عربوپه زړونوکې دقريشو عظمت زيات کې اوټولو ومنله چې داخدايي خلګ دي ، د دوې دطرف څخه په خپله حق تعالی د دوئ دښمن هلاك کې (قرطبي) ددې عظمت دا اثروو چې دمکې قريشو دمختلفو ملکونو سفر په غرض دتجارت کوې اوپه لاره کې به دهيچا سفر دداسې خطرو څخه خالي نه وو، دقريشو ددې سفرونوذ کر مخ ته په راتلونکې سورة قريش کې وسو، دوې ته دنعمت دشکر طرف ته دعوت ورکول سوی دی .

تمت سورة الفيل بحمد لله تعالی

﴿ سورة القريش ﴾

سُوْرَةُ قُرَيْشٍ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَهِيَ اَرْبَعُ اٰيٰتٍ

سورة القريش په مکه کې نازل سو او په دې کې څلور(۴) آيتونه دي .

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چې ډير مهربانه نهايت رحم والا دی .

لِاِيْلٰفِ قُرَيْشٍ ۙ﴿۱﴾ اٖلٰفِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَآءِ وَالصَّيْفِ ۚ﴿۲﴾

دوجهې دمحبت ورکولو قريشو ته ، دوی ته دسفر د يخ او دګرمی سره ،

فَلْيَعْبُدُوْا رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ ۙ﴿۳﴾ الَّذِيْٓ اَطْعَمَهُمْ مِّنْ جُوْعٍ ۙ

نو په کار وه چې بندګی يې کولې ددې کور درب ، کوم چې دوی له خوراك ورکې په لوږه کې ،

وَّاٰمَنَهُمْ مِّنْ خَوْفٍ ﴿۴﴾

اوامن يې ورکی په بيره کې .

لنډتفسير: چونکې دقريشو محبت پيدا سوی دی، يعني دسفر ديخنی اوګرمی سره يې محبت سوی دی نو (ددې نعمت په شکرکې) دوی له په کاردی چې ددې کورد کعبې دمالك عبادت کوی چاچې دوی ته په لوږه کې خوراك ورکی اودبيرې څخه يې ورته امن ورکی .

معلومات اومسئلي: په دی خو دټولو مفسرينو اتفاق دی چی دمعنٰی اومضمون په اعتبار سره داسورة دسورة فيل سره متعلق دی اوشايد په دی وجه په ځينو مصاحفوکی يی دا دواړه يوسورة کړی ليکلی وو ، ددواړوپه مينځ کی يی بسم الله نه وه ليکلی، مگر عثمانِ غنی ﷛ چی کله په خپله زمانه کی ټول مصاحف جمع کړل يوه نسخه يی تياره کړه اودټولو اصحابو کرامو ﷛ پردی اجماع وسوه ، دقرآن دغی نسخی ته دجمهورو په نزد امام ويل کيږی، په دی کی يی دادواړه جلا جلا سورتونه ليکلی دی، ددواړوپه مينځ کی بسم الله ليکل سوي ده .

لِاِيْلٰفِ قُرَيْشٍ حرف دلام دترکيب نحوی په اعتبار سره ددی مقتضی دی چی ددی تعلق ديو تيرمضمون سره وی ، په دی وجه ددی په حقله ډيراقوال دی ، دتير سورة سره دمعنوی تعلق پربنا ځينی حضراتو فرمايلی دی چی دلته محذوفه جمله ، اِنَّا اَهْلَكْنَا اَصْحٰبَ الْفِيْلِ ده ، يعنی مونږ اصحٰب فيل ځکه هلاك کړل چی دمکی قريش ديخنی اوگرمی دوو سفرونو عادت وه چی ددوی په لاره کی څه خنډ رانه سی، دټولوپه زړونوکی ددوی عظمت پيداسی اوځينی حضرات فرمايی چی محذوفه جمله اَعْجَبُوْا ده، يعنی تعجب کوی دقريشوپه معامله سره چی څنگه ديخنی اوگرمی سفر ازادنه بی خطره کوی، اوځينی فرمايی چی ددی تعلق دهغه جملی سره دی کمه چی په مخ ته آيت کی راځی يعنی ، فَلْيَعْبُدُوا مطلب داسوچی قريشوته ددی نعمت په نتيجه کي دالله ﷻ شکر گزارکيدل اوددہ په عبادت کی اخته کيدل په کار دی ، په دی صورت کی په ، فَلْيَعْبُدُوا حرف دفاء ځکه دی چی په اوله جمله کی يوه معنٰی دشرط پيداکيږی، په هرحال په دی سورة کی ارشاد دی چی دمکی قريش چونکی ددوو سفرنو عادت وه، يوديخنی ديمن طرف ته، بل دگرمی دشام طرف ته اوپر دی دوو سفرونو باندی ددوی دتجارت اوکار اوبار مدارو اوددی تجارت پربنا دوی مالدار اوغنيان وه، په دی وجه الله ﷻ د دوی دښمن اصحاب فيل ته عبرتناکه سزا ورکړه د دوی عظمت يی دخلگو په زړونوکی زيات کی، دوی په ټولو ملکونوکی چی کوم ځای ته هم ځی خلگ د دوی تعظيم اوتکريم کوی .

(دقريشو افضليت په ټولو عربو باندی)

په دی سورة کی دی طرف ته اشاره ده چی دعربو په ټولو قبائلوکی قريش دالله ﷻ په نزد دټولوڅخه زيات مقبول دی، لکه چی په حديث کی دی چی نبی کريم ﷺ فرمايلی دی چی الله ﷻ داسماعيل ؑ په ټول اولادکی کنانه اوپه کنانه کی قريش اوپه قريش کی بنی هاشم اوپه بنی هاشم کی زه منتخب کړی يم (بغوی دواثله بن اسقع څخه) اوپه يوحديث کی نبی کريم ﷺ فرمايی چی ټول انسانان دقريشو تابع دی په خير اوشرکی (مسلم عن جابر ﷛، مظهری) اوپه اولنی حديث کی چی دکوم خداوندی انتخاب ذکردی ، غالبًا ددی وجه ددی قبائلو خاص ملکات اواستعدادونه دی، دکفر اوشرك اوجهالت په زمانه کی هم ددوی ځينی اخلاق اوملکات ډيراعلی وه، په دوی کی دقبولِ حق استعداد ډير کامل وو، داوجه ده چی په صحابه کرامو ﷛ او اولياءِ کرامو کی ډير خلگ دقريشو څخه سوی دی (مظهری)

رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ : دا خبره معلومه او معروفه ده چی مکه مکرمه په يوداسی مقام کی اباده ده کوم

ځای چې څه زراعت نه کیږي هلته باغونه نسته دکمو میوه چې دمکې خلګوته ورکول سی، په دې وجه دبیت الله باني حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ دمکې مکرمې داباديدوپه وخت کې دالله ﷻ څخه دا دعا فرمايلی وه چې دابښار ځای دامن جوړکې او دمکې خلګوته دمیوو رزق ورکې، اُرْزُقْ اَهْلَهٗ مِنَ الثَّمَرٰتِ: او ددباندې څخه هرقسم میوه دلته راولې، يُجْبٰى اِلَيْهِ ثَمَرَاتُ كُلِّ شَيْءٍ: په دې وجه دمکې دمعاش مدارپه دې باندې وو چې دوې دتجارت دپاره سفروکې اوخپل ضرورتونه دهغه ځای څخه راوړي، حضرت ابن عباس ﷺ فرمايي دمکې خلګ په ډيره نيستي کې وه تردې چې دنبي کريم ﷺ جلا امجد هاشم قريش ددې دپاره تیارکړل چې دنورو ملکونو سره دتجارت کاروکې، دشام ملك يخ وو، دګرمۍ په زمانه کې هلته اويمن ګرم دې، ديخنۍ په زمانه کې دې طرف ته به يې سفر کوې اونفعې به يې حاصلولې اوچونکې داخلګ دبيت الله دخادمانوپه حيثيت سره په ټول عرب کې مقدس اومحترم منل کيدل، نودوې دلارې دهرې خطرې څخه به هم محفوظ وو اوهاشم چونکې ددې ټولو سردار منل کيدې، دده طريقه داوه چې په دې تجارت کې به څومره نفع حاصليدې هغه ټولې به يې دقريشو پرامیرانو اوغريبانو تقسيمولې، تردې چې ددوې غريب سړي به هم دمالدارو برابر ګڼل کيدې، بيا الله ﷻ په دوې دا زيات احسان وفرمايي چې دهرکال د دوو سفرونو دزحمت څخه هم داسې محفوظ سول چې دمکې مکرمې سره يوځای ديمن علاقه تباله اوحرش يې دومره سرسبزه او زرخيزه جوړه کړه چې دهغه ځای غله د دوې دضرورت څخه دزياتيدو پربنا دوې ته ددې ضرورت پيښ سوچې داغلې دهغه ځای څخه راوړي اوپه جده کې يې خرخې کړي، چنانچې اکثره دضرورت شيان په جده کې ورکول کيدل شروع سو، مکې والاوو به ددغو اوږدو دوو سفرونو پر ځای صرف دوه منزله ولاړل، دجدې څخه به يې ټول سامانونه راوړل، په ذکرسوې آيت کې حق تعالی په مکې والاوو ددې احسان اوانعام ذکر فرمايلی دی.

فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ: دانعاماتو دذکر کولو څخه وروسته ددغو دشکر ادا کولو دپاره قريشوته دخصوصي خطاب سره داهدايت فرمايي چې ددې کور دملك عبادت کوې، دلته دالله ﷻ په صفتونو کې درب البيت کيدو صفت يې په خصوصيت سره ځکه ذکر وفرمايي چې دابيت کعبه دهغوې دټولو فضيلتونو او برکتونو سرچينه وه.

اَلَّذِيْٓ اَطْعَمَهُمْ مِّنْ جُوْعٍ وَّاٰمَنَهُمْ مِّنْ خَوْفٍ په دې کې يې دمکې دقريشو دپاره ددنيا هغه ټول عظيمو نعمتونه جمع فرمايلي دي، کوم چې دانسان دښه ژوند دپاره ضروري دي، په، اَطْعَمَهُمْ مِّنْ جُوْعٍ کې دخوړلو اوڅښلو ضرورتونه داخل دي اوپه، اٰمَنَهُمْ مِّنْ خَوْفٍ: کې ددښمنانو ډاکوګانو دبيرې څخه په امن کيدل هم شامل دي اوداخرت دعذاب څخه مامون کيدل هم.

فائده: ابن کثيرفرمايي چې داوجه ده چې کوم سړی ددې آيت دحکم مطابق دالله ﷻ عبادت کوې نوالله ﷻ دهغه دپاره په دنياکې هم دامن اوبې خوفه اوخطره اوسيدو سامان فرمايي اوپه اخرت کې هم، اوڅوك چې ددې څخه انحراف کوې دهغه څخه دادواړه قسمه امنونه سلب کيږي سی، لکه چې په قرآن کريم ﷻ کې فرمايي: وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ اٰمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَّاْتِيْهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِّنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِاَنْعُمِ اللّٰهِ

فَأَذَاقَهَا اللّٰهُ لِبَاسَ الْجُوْعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُوْنَ : يعنی الله ﷻ يومثال بيان فرمايي چي يوكلي وو كوم چي په امن اومحفوظ او دهري خطري څخه مطمئن وو ، دهغه رزق دهرطرف څخه وافره راتلی، بيا د دی كلي خلكو دالله ﷻ دانعاماتو ناشكري وكړه ، نو الله ﷻ دوی دلوږی اوبيری په پريشانی كی اخته كړل د دوی دعملونو په وجه .

عظيمه فائده : ابوالحسن قزوينی فرمايي چي كوم سړی ته ديو دښمن يابل مصيبت بيره وی دهغه دپاره ، لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ ويل امان دی ، دا امام جزري نقل كړي اوفرمايي چي داعمل ازموده اومجرب دی ، حضرت قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله په تفسيرِ مظهری كی دانقل كړی دی اوفرمايي چي ماته زماشيخ حضرت مرزا مظهر جان جانان رحمه الله دبيری اوخطر په وخت كی ددی سورة دويلو حكم كړی دی ، فرمايي چي دهري بلا او مصيبت دفع كولو دپاره ددی ويلو مجبرب دی ، حضرت قاضی صاحب موصوف فرمايي چي ما ډير واره تجربه كړي دی .

تمت سورة القريش بحمدلله تعالی

﴿سورة الماعون﴾

سُوْرَةُ الْمَاعُوْنِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَهِيَ سَبْعُ اٰيٰتٍ

سورة الماعون په مكه كی نازل سو اوپه دی كی اووه (۷) آيتونه دی .

شروع كوم په نوم سره دخدای ﷻ چي ډير مهربانه نهايت رحم والا دی .

أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِ ① فَذٰلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيْمَ ②

آياتا وليدی هغه چي درواغجنه كوی دانصاف ورځ ، نو دا هغه دی چي ترټی يتيم ،

وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ③ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ ④

او تاكيد نه كوی محتاج ته په خوارك وركولو ، بيا خرابی ده هغو لمونځ كونكو لره

الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ⑤ الَّذِيْنَ هُمْ يُرَاءُوْنَ ⑥

كوم چي دخپل لمونځ څخه بی خبره دی ، هغه كوم چي ځانونه ښيی ،

وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ ⑦

او په سوال نه وركوی داستعمال شي .

لنډتفسير: آيا تاهغه سړی ليدلی دی كوم چي ورځ دجزا دروغجن كوی نو (كه ته دده حال اوريدل غواړی

نو واوره) هغه سړی هغه دی کوم چی یتیم لره ډکی ورکوی اومحتاج ته دخوراك ورکولو (نورو ته هم) ترغیب نه ورکوی (یعنی هغه داسی سنګدله دی چی په خپله به چالره څه ورکی نورهم دی ته نه تیاروی اوکله چی دبندګانو حق ضائع کول داسی بددی نودخالق حق ضائع کول خونور زیات بددی) نو (ددی څخه ثابته سوه چی) دداسی لمونځ کوونکو دپاره لویه خرابی ده کوم چی خپل لمونځونه هیروی (یعنی پریږدی یی) کوم چی داسی دی چی (کله لمونځ کوی نو) ریاکاری کوی اوزکوة بالکل نه ورکوی (څکه چی دزکوة دپاره شرعًا داضروری نه ده چی دټولوپه مخکی دی یی ظاهر ورکی په دی وجه ددی په بالکل نه ورکولوسره هم څوك اعتراض نه سی کولی په خلاف دلمانځه څخه چی هغه دجماعت سره په ډاګه ادا کیږی چی دابالکل پریږدی نوټولوته یی نفاق ظاهرسی په دی وجه لمونځ محض دځان ښوولودپاره کوی)

معلومات اومسئلي: په دی سورة کی دکفارو اومنافقانو دځینو قبیحو مذمومو کارونو ذکر اوپر دوی دجهنم عذاب دی، داکارونه که دچامومن څخه صادر سی کوم چی آخرت دروا غجن کوی نه ، هغه هم که څه هم شرعًا مذموم اوسخته ګناه ده ، مګر ذکر سوی عذاب په ده باندی نه دی ، په دی وجه یی ددی کارونو اوعملونو څخه مخکی ذکر دهغه کافر فرمایلی دی کوم چی د دِیْن اواقیامت څخه منکره دی، ددی تکذیب کوی، په دی کی اشاره دی طرف ته ضرورده چی هغه عملونه دکمو ذکرچی مخ ته راځی، دمومن دشان څخه بعیددی دغه یومنکرکافرکولی سی هغه قبیح عملونه دکموچی یی دلته ذکر په دی سورة کی فرمایلی دی دادی: دیتیم سره بدسلوکی اودده سپکوالی، مسکین محتاج ته باوجود دقدرت خوراك نه ورکول، اونوروته ددی ترغیب نه ورکول په لمانځه کولوکی ریاکاری کول زکوة نه اداکول، داټول کارونه په خپل ذات کی هم ډیر مذموم اوسخت ګناهونه دی اوکله چی دکفر اوتکذیب په نتیجه کی داکارونه صادر وی نووبال یی دائمی جهنم دی لکه چی په دی سورة کی یی دا د ، وَیْل په الفاظو سره فرمایلی دی.

فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّيْنَ، الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ، الَّذِيْنَ هُمْ يُرَاءُوْنَ، وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ : دا حال یی دمنافقانو بیان فرمایلی دی ، کوم چی خلګوته دځان ښوولو داسلام دخپلی دعوی ثابتولو دپاره لمونځ خوکوی، مګر چونکی هغوی دلمانځه دفرضیت معتقدنه دی، په دی وجه نه دوختونو پابندی کوی نه داصل لمونځ، کوم ځای چی دځان ښوولو موقع وی کوی یی کنه پریږدی یی، په عَنْ صَلَاتِهِمْ کی دلفظ دعَن مفهوم دادی چی داصل لمونځ څخه بی پروایی اختیارکړی کوم چی دمنافقانو عادت دی، اوپه لمانځه کی دننه څه سهوه اونسیان کیدل دکم څخه چی څوك مسلمان تردی چی نبی کریم ﷺ هم خالی نه دی، هغه په دی کلمه کی مرادنه دی، څکه چی پردی عذاب دویل جهنم نه سی ورکیدی، اوکه دامراد وای نود: عَنْ صَلَاتِهِمْ پرځای به یی فِی صَلَاتِهِمْ فرمایلی وای، په صحیح احادیثوکی ډیر واره دنبی کریم ﷺ څخه په لمانځه کی سهو واقع کیدل ثابت دی.

وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ : دماعون اصل لفظی معنی لږشی دی ، په دی وجه ماعون داسی داستعمال شیانوته ویل کیږی کوم چی عادتًا یوبل ته په غوښتو سره ورکول کیږی اودکومو راکړه ورکړه چی په خپل مینځ کی دعام انسانیت تقاضا ګڼل کیږی لکه تبر، کولنګ، بیلچه یا دخوراك پخولو لوښی، دکومو چی

دضرورت په وخت کی دیو ګاونډی څخه غوښتل څهٔ عیب نه ګڼل کیږی اوځوك چی یی په ورکولوکی بخل کوی هغه ډیر کنجوس اوکمینه ګڼل کیږی، مګرپه ذکرسوی آیت کی دلفظ دماعون څخه مراد زکوٰة دی اوزکوٰة ته یی ماعون په دی وجه ویلی دی چی دا دمقدارپه اعتبار سره ډیر لږ دی یعنی صرف څلویښتمه حصه، حضرت علی ؓ ابن عمرؓ حسن بصری قتاده ضحاك اونورو مفسرینو جمهوروپه دی آیت کی دماعون تفسیرپه زکوٰة سره کړی دی (مظهری) اوددی په نه ورکولو چی کوم دویل جهنم مذکور دی هغه هم په ترك دفرضو کیدی سی، داستعمال شیان نورو لره ورکول ډیرلوی ثواب اودانسانیت اومروت په لحاظ سره ضرورې خودی، مګر فرض اوواجب نه دی چی پرمنع کولویی دجهنم عذاب وی اوحدیث په ځینو روایتونوکی چی کوم دلته دماعون تفسیر داستعمال په شیانو اولوښو سوی دی، دهغه مطلب ددغه خلګو دانتهایی خسّت اظهار دی چی دوی به زکوٰة څه ورکی، داستعمال شیان دکموپه ورکولوچی خپل څه نه خرڅ کیږی، په دی کی هم کنجوسی کوی، نووعید صرف ددغو شیانوپه نه ورکولو نه دی، بلکه دفرض زکوٰة په نه ادا کولو اوددی سره په زیات سخت بخل کولو دی . والله اعلم

تمت سورة الماعون بحمدلله تعالی .

﴿سورة الكوثر﴾

سُوْرَةُ الْكَوْثَرِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَهِيَ ثَلٰثُ اٰيَاتٍ

سورة الکوثر په مکه کی نازل سو او په دی کی دری (۳) آیتونه دی .

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی .

إِنَّآ أَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ ۝١ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ۝٢ إِنَّ

بیشکه مونږ درکی تا ته کوثر ، نو لمونځ کوه دخپل رب په مخکې اوقربانی کوه

شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ۝٣

بیشکه کوم چی ستا دښمن دی هغه پاته سو بی نام ونشان .

لنډتفسیر: بیشکه مونږ تاته کوثر (دجنت دیوحوض نوم هم دی اوهرخیرِ کثیرهم په دی کی شامل دی) درکړی دی (په کوم کی چی ددنیا اواخرت هرخیر اوګټه شامله ده، په دنیاکی ددین اسلام بقا اوترقی اوپه اخرت کی دجنت لوړی درجی ټول په کی داخلی دی) نو (ددی نعمتونوپه شکریه کی) ته دخپل پروردګار لمونځ کوه (ځکه چی دټولو څخه دلوی نعمت په شکرکی دټولو څخه لوی عبادت پکاردی اوهغه لمونځ دی) او (دشکر دتکمیل دپاره دجسمانی عبادت سره مالی عبادت یعنی دهغه په نوم) قربانی کوه (لکه چی په نورو ایتونوکی عمومًا دلمونځ سره دزکوٰة حکم دی، په دی کی دزکوٰة پرځای

دقربانی ذکر شاید ځکه اختیار سوچی په قربانی کی دمالی عبادت کیدو څخه علاوه دمشرکانو اومشرکانه رسمونو عملی مخالفت هم دی، ځکه چی مشرکانوبه دبتانو په نوم قربانی کولی، مخ ته دنبی کریم ﷺ دزوی قاسم په کوچنیوالی کی پروفات ځینی مشرکانوچی داطعنه ورکړی وه چی ددوی نسل به ونه چلیږی اوده ددین سلسله به ژرختمه سی، ددی جواب دی چی ته دالله ﷻ په فضل سره بی نام او نشان نه یی بلکه) په یقین سره ستادښمن بی نام اونښان دی (برابره خبره ده که ظاهری نسل ددغه دښمن وچلیږی اوکه ونه چلیږی، لیکن په دنیاکی به دده ذکرِخیر باقی پاته نه سی، په خلاف ستا څخه چی ستا امت اوستا یاد اونیك نامی به په محبت اواعتقاد سره باقی وی، اوداټول نعمتونه دلفظِ کوثرپه مفهوم کی داخل دی ، که دسری اولادنسل نه وی نو نه دی وی ، دنسل څخه چی کوم مقصود دی هغه تاته حاصل دی ، تردی چی ددنیا اخواته تر آخرته پوری هم او دښمن ددی څخه محروم دی)

معلومات اومسئلي: شانِ نزول : ابن ابی حاتم دسدی څخه اوبیهقی په دلائل نبوت کی دحضرت محمدبن علی بن حسین ﷺ څخه نقل کری دی چی دکوم سړی نارینه اولادبه مړ سوهغه ته به عربو ابتر وایه یعنی مقطوع النسل څه وخت چی دنبی کریم ﷺ دصاحبزاده قاسم یاابراهیم په کوچنیوالی کی انتقال وسو نو د مکی کفاروبه ده ﷺ ته ابتر ویل او طعنونه به یی ورکولی په داسی ویونکوکی دعاص بن وائل نوم په خاص طورسره ذکر کیږی دده په مخکی چی به کله دنبی کریم ﷺ ذکرکیدی نوویل به یی چی دهغه خبره پریږدی داهیڅ فکر کولو خبره نه ده، ځکه چی هغه اَبْتَر (مقطوع النسل) دی، کله چی ددوی انتقال وسی، ددوی به هیڅوك نوم اخیستونکی پاته نه سی، په دی باندی سورة کوثر نازل سو (بغوی ، ابن کثیر مظهری)

او په ځینی روایتونوکی دی چی کعب بن اشرف یهودی یووار مکی مکرمی ته رالی نو دمکی قریش دده خواته راغلل چی ته دی ځوان ته نه ګوری کوم چی وایی چی هغه زمونږ څخه (ددین په اعتبارسره) ښه دی حال دا دی چی مونږ دحاجیانو خدمت کوو اودبیت الله حفاظت کوو اوخلګوته اوبه ورکوو، کعب چی داواوریدل نوویی ویل چی نه تاسی خلګ دهغه څخه ښه یاست، پردی داسورةِ کوثر نازل سو، (ابن کثیر عن البزار باسناد صحیح وقد رواه مسلم قاله المظهری)

لنډه داچی دمکی کفارو کومو چی نبی کریم ﷺ ته دنارینه اولاد نه پاته کیدو د: اَبْتَرْ طعنی ورکولی یاپه نورو وجهو سره یی ددوی په شان کی ګستاخیانی کولی، دهغوی په جواب کی سورة کوثر نازل سوی دی، په کم کی چی دهغوی دطعنو جواب هم دی چی صرف دنارینه اولاد نه پاته کیدوپه سبب سره دوی ته مقطوع النسل یامقطوع الذکر ویونکی دحقیقتونو څخه بی خبره دی، ستانسبی نسل به هم انشاء الله ترقیامته پوری په دنیا کی باقی وی که څه هم دلور داولاد څخه وی، اومعنوی نسل یعنی په تاایمان راوړونکی مسلمانان کم چی په حقیقت کی دنبی معنوی اولادوی، هغه خوبه دومره وی چی دتیرو ټولو انبیاو علیهم السلام دامتونو څخه به هم زیات سی اوپه دی کی دنبی کریم ﷺ دالله ﷻ په نزد مقبول اومعظم کیدل هم مذکوردی، په کم سره چی دکعب بن اشرف دقول تردید کیږی ، دا ټول مضمون دسورة په دریم آیت کی راغلی دی.

إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ: امام بخاري دحضرت ابن عباس ﷺ څخه ددې په تفسیرکې روایت کړی دی چې دوی فرمایلی دي چې، کوثر، هغه خیرکثیر دی کوم چې الله ﷻ حضورﷺ ته عطا فرمایلی دی دحضرت ابن عباس ﷺ خاص شاګرد حضرت سعید بن جبیرﷺ جواب ورکی چې (دحضرت ابن عباس ﷺ قول ددې منافي نه دی، بلکه) هغه نهر دجنت دکم نوم چې کوثردی هغه هم په دې خیرِ کثیرکې داخل دی، په دې وجه دتفسیرامام مجاهد دکوثر په تفسیرکې فرمایي چې هغه ددنیا اواخرت دواړو خیرِ کثیردی، په دې کې دجنت خاص نهر کوثر هم داخل دی.

حوض کوثر: بخاري، مسلم، ابوداود اونسايي دحضرت انس ﷺ څخه روایت کړی دی دمسلم الفاظ دادي

بَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ بَيْنَ أَظْهُرِنَا فِي الْمَسْجِدِ إِذْ أَغْفَى إِغْفَاءَةً ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مُتَبَسِّمًا فَقُلْنَا مَا أَضْحَكَكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ أُنْزِلَتْ عَلَيَّ آنِفًا سُورَةٌ فَقَرَأَ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ الخ، ثُمَّ قَالَ أَتَدْرُونَ مَا الْكَوْثَرُ فَقُلْنَا اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّهُ نَهْرٌ وَعَدَنِيهِ رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ عَلَيْهِ خَيْرٌ كَثِيرٌ هُوَ حَوْضٌ تَرِدُ عَلَيْهِ أُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ آنِيَتُهُ عَدَدُالنُّجُومِ فَيُخْتَلَجُ الْعَبْدُ مِنْهُمْ فَأَقُولُ رَبِّ إِنَّهُ مِنْ أُمَّتِي فَيَقُولُ إِنَّكَ لَاتَدْرِي مَاأَحْدَثَتْ بَعْدَكَ.

دانس ﷺ څخه روایت دی چې یوه ورځ کله چې نبی کریم ﷺ زموږ په مینځ کې په مسجد کې وو، ناڅاپه پر دوی دخوب یابې هوښی کیفیت راغی بیاپه خندا دوی سر مبارك را پورته کی، موږ ورڅخه پوښتنه وکړه چې یارسول الله ﷺ! ستاسې دخندا سبب څه دی؟ نو ویې فرمایل چې دا وخت پرما یو سورة نازل سوی دی، بیا دبسم الله سره یې سورة کوثر ووایه بیایې وفرمایل چې تاسې پوهیږئ چې کوثرڅه شی دی؟ موږ عرض وکی، الله او دهغه رسول ښه پوه دی، دوی وفرمایل، چې دا دجنت یو نهر دی، دکوم چې زمارب زماسره وعده فرمایلې ده، په کوم کې چې خیر کثیر دی او دغه حوض دی، کوم ته چې به زما امت دقیامت په ورځ داوبو څښلو دپاره راځي، ددې داوبو څښلو لوښې به دآسمان دستوروپه شمیروی دغه وخت به څېنې خلګ ملائکې دحوض څخه لیرې کوي نوزه به وایم چې زما پروردګاره! داخو زما دامت څخه دي الله ﷻ به وفرمایي چې ته نه پوهیږې چې ده ستاڅخه وروسته یو نوی دین اختیارکړی دی ابن کثیر رحمه الله دا روایت نقل کړی دی، مزید یې فرمایلي دي.

وَقَدْ وَرَدَفِيْ صِفَةِ الْحَوْضِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَّهُ يَشْخَبُ فِيْهِ مِيْزَابَانِ مِنَ السَّمَاءِ عَنْ نَهْرِالْكَوْثَرِوَأَنَّ عَلَيْهِ آنِيَةً عَدَدَنُجُوْمِ السَّمَاءِ

دحوض په صفت کې دحدیثو په روایتونوکې راغلي دي چې په دې کې به دوې ناوې دآسمان څخه رالویږي ك.م چې به دنهرِ کوثر داوبو څخه حوض ډکوي، ددې لوښې به دآسمان دستورو په شمار وي.

په دې حدیث سره دسورة کوثر دنزول سبب هم معلوم سو اودلفظ دکوثر صحیح تفسیر هم، یعنې خیرِ کثیر، اوداهم چې په دې خیر کثیرکې دغه حوض کوثر هم شامل دی، کوم چې به په قیامت کې امت محمدیه سیراب کوي، دارنګه دې روایت داهم واضحه کړه چې اصل نهر کوثرپه جنت کې دی اودا حوض کوثربه په میدان دحشرکې وي په دې کې به ددوو ناوو په ذریعه دنهرِ کوثر اوبه واچوول سي، په دې کې دهغو روایتونو هم تطبیق وسو دکمو څخه چې معلومیږي چې پرحوضِ کوثر باندې به دامت

ورود او دخول دجنت څخه مخکې وي اوپه دې حدیث کې چې دکمو ځینو خلګو دحوض کوثر څخه دشړلو ذکر دی، داهغه خلګ دي کم چې وروسته داسلام څخه واپس سول یاداول څخه مسلمانان نه وه، مګر منافقانه داسلام اظهاربه یې کوی، نبي کریم ﷺ ته وروسته ددوی نفاق ښکاره سو، والله تعالی اعلم په صحیح احادیثوکې دحوض کوثر داوبو صفایي اوخوږوالي اودغاړو یې دجواهراتو څخه دمرصع کیدو په حقله داسې صفتونه مذکور دي چې په دنیاکې هغه پر څه شي نه قیاس کیږي.

ددې سورة نزول که څیرې دکفار دطعنوپه دفاع کې وي لکه چې لوړذکرسوه چې ددوی دنارینه اولاد دفوت کیدوپه وجه به هغوی دوی ته ابتر (مقطوع النسل) ویل چې دده کار یوځو ورځې دی بیابه هیڅوك دده نوم اخیستونکی نه وي نوپه دې سورة کې دوی ته دکوثر ورکولو ذکرپه کوم کې چې حوض کوثرهم شامل دی ، ددې طعنې کوونکو مکمل تردید دی چې ددوی نسل اونسب صرف دانه چې ددنیا ترعمر پورې به چلیږي، بلکه د دوی دروحاني اولادبه قرابت په محشرکې هم محسوسوي کوم ځای چې به هغوي په تعدادکې هم دټولو امتونو څخه زیات وي اوددوی اعزازاواکرام به هم دټولو څخه زیات وي.

فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ انْحَرْ د: نَحَرَ څخه مشتق دی، داوښ قرباني ته نحرویل کیږي چې مسنونه طریقه یې دپښو څخه تړل ، غاړه یې په نیزه یاچاړه وهل اووینه ورڅخه بهول دي، لکه چې دغوا اوبزې دقرباني طریقه ذبح کول یعنې حیوان پرې ایستل اوپر غاړې ورلره چاړه را کشول دي، په عربوکې چونکې قرباني عمومًا داوښ کیږي، په دې وجه دقرباني کولو دپاره دلته لفظ د: وَانْحَرْ استعمال سو ، ځینې وخت لفظ د: نَحَرْ دمطلق قرباني په معنٰی کې هم استعمالیږي، ددې سورة په اولنۍ آیت کې دکفارو دباطل زعم خلاف رسول الله ﷺ ته دکوثریعنې ددنیا اواخرت دهرخیر اوهغه هم په کثیرمقدارکې دورکولو دخوشخبرۍ اورولو څخه وروسته دشکر په طور باندې دوی ته د دوو شیانو هدایت سوی دی، یولمونځ دوهمه قرباني لمونځ په بدني اوجسماني عبادتونوکې دټولو څخه لوی عبادت دی، اوقرباني په مالي عبادتونوکې پردې بنا خاص امتیاز اواهمیت لري چې دالله ﷻ په نزد قرباني کول، دبت پرستۍ خلاف یوجهاد هم دی ، ځکه چې دهغوی قرباني به دبتانو په نوم کیده، په دې وجه دقرآن کریم په بل آیت کې هم دلمانځه سره دقرباني ذکر فرمایل سوی دی: إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ : په دې آیت کې د ، وَانْحَرْ معنٰی قرباني کیدل دحضرت ابن عباس ؓ ، عطاء مجاهد اوحسن بصري اونورڅخه په مستندو روایتونو سره ثابت دی ، ځینې خلګو چې د ، وَانْحَرْ معنٰی په لمونځ کې په سینه لاسونه ایښوول دځینو امامانو دتفسیر طرف ته منسوب کړې دی ، ددې په حقله ابن کثیر فرمایي چې روایت ناقابل اعتبار (منکر) دی.

إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ : لفظ دشانی معنٰی بغض لرونکې عیب لګوونکې دی ، داآیت دهغو کفاروپه حقله نازل سوی دی ، کومو چې به نبي کریم ﷺ ته د، أَبْتَرْ مقطوع النسل کیدو طعن ورکوی ، په اکثرو روایتونوکې عاص بن وائل، په ځینوکې کعب بن اشرف ددې مصداق دی، حق تعالی نبي کریم ﷺ ته کوثر یعنې خیرِ کثیر ورکې په کوم کې چې اولادِ کثیرهم داخل دی، د دوی دپاره داولاد کثرت په دې

لحاظ سره دی چی نسبی اولادهم ددوی ماشاء الله څه کم نه دی اوپیغمبر چونکی دټول امت پلار وی اوټول امت د دوی روحانی اولاد دی او ددوی امت به چونکی دټولو امتونو څخه په تعداد کی زیات وی، یوطرف ته خو ددوی ددښمنانو خبره داسی په خاوروکی واچول سوه، دوهم طرف ته یی دا هم وفرمایل چی کوم خلګ تاته دابَتَر طعن درکوی هغه ابتر دی.

عبرت: اوس فکر وکی چی دنبی کریم ﷺ ذکر لره حق تعالیٰ څنګه رفعت اوعظمت ورکی چی د دوی ﷺ دعهد مبارك څخه ترننه پوری ددنیاپه ګوټ ګوټ کی د دوی نوم مبارك پنځه وخته دالله ﷻ دنوم سره په منارو بلل کیږی او په اخرت کی به دوی ته دشفاعت کبریٰ مقام محمود حاصل وی ، ددی په مقابله کی ددنیا دتاریخ څخه پوښتنه وکړی چی دعاص بن وائل عقبه اوکعب اولاد چیری اوڅه سوه، په خپله ددغو نومونه هم په اسلامی روایتونوکی، دایتونوپه تفسیرونو کی محفوظ سول، کنه نوپه دنیاکی نن ددوی نوم اخیستونکی یوهم باقی نسته.

تمت سورة الکوثر بحمدالله

﴿سورة الکافرون﴾

سُوْرَةُ الْكٰفِرُوْنَ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَهِيَ سِتُّ اٰيٰتٍ

سورة الکافرون په مکه کی نازل سو او په دی شپږ (۶) آیتونه دی.

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی.

قُلْ يٰٓاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ۝١ لَآ اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ۝٢ وَلَآ اَنْتُمْ

ته ووایه ای منکرانو ! زه دهغوی عبادت نه کوم دکومو چی تاسی عبادت کوی ، اونه تاسی

عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ۝٣ وَلَآ اَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ۝٤ وَلَآ اَنْتُمْ

عبادت کوی دکوم چی زه عبادت کوم ، او نه ما لره عبادت کول دی دکومو چی تاسی عبادت کوی ، اونه

عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ۝٥ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ۝٦

تاسی لره عبادت کول دی دهغه چی زه یی عبادت کوم ، تاسی لره ستاسی لار اومالره زما لار.

لنډتفسیر: ته (دی کافرانوته) ووایه چی ای کافرانو! (زما اوستاسی طریقه یوه نه سی کیدی) اونه (خوفی الحال) زه ستاسی دمعبودانو عبادت کوم اونه تاسی زما دمعبود عبادت کوي اونه به (په اٸنده راتلونکی زمانه کی) زه ستاسی دمعبودانو عبادت وکم او نه به تاسی زما دمعبود عبادت وکی (مطلب داحقر په نزد دادی چی زه موحد یم شرك نه سم کولی، نه اوس اونه اٸنده اوتاسی مشرکان یاست موحدان کیدی نه

سی نه اوس نه اٹنده، یعني توحید اوشرك نه سی جمع کیدی، تاسی ته به ستاسی بدله درکول کیږی او ماته به زما بدله راکول کیږی (په دی کی ددوی په شرك وعید هم واورول سو).

معلومات اومسئلي

(دسورة فضیلتونه اوخاصیتونه)

حضرت صدیقه عائشه ﷺ فرمایی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دسهارپه سنتوکی دویلو دپاره دوه سورتونه ښه دی ، سورة کافرون اوسورة اخلاص (رواه ابن هشام، مظهری) اوپه تفسیرِ ابن کثیرکی دډیرو صحابه وو څخه منقول دی چی دوی نبی کریم ﷺ ته عرض وکی چی مونږ ته څه دعا وښیه کومه چی مونږ دبیده کیدو څخه مخکی کوو، دوی ﷺ ورته د، قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ، تلقین وفرمایی اوویی فرمایل چی دا دشرك څخه براءت دی (رواه الترمذی وابوداود)

اوحضرت جبیر بن مطعم ﷺ فرمایی چی نبی کریم ﷺ وفرمایل چی آیاتاسی داغواړی چی کله سفرته ولاړسی نوچی هلته تاسی دخپلوټولو ملگرو څخه زیات خوشحاله بامراده یاست اوستاسی سامان زیات سی، دوی عرض وکی چی یارسول الله بیشکه مونږ داسی غواړو، دوی وفرمایل چی دقرآن اخری پنځه سورتونه ، سورة کافرون ، سورة نصر، سورة اخلاص، سورة فلق، سورة ناس، ووایاست اوهرسورة دبسم الله څخه شروع کوه اوپه بسم الله یی ختموه، حضرت جبیر ﷺ فرمایی چی هغه وخت زما داحال وو چی په سفرکی به دنورو ملگروپه مقابله کی کمزوری اوډیر بدحاله وم، دکله څخه چی می دنبی کریم ﷺ په دی تعلیم عمل وکی زه اوس دټولو څخه په ښه حال کی یم (مظهری په حواله دابویعلی)

او دحضرت علی ﷺ څخه روایت دی چی یو وار نبی کریم ﷺ لړم وچیچی نودوی اوبه اومالگه راوغوښتله اودا اوبه یی په چیچلی ځای ولگولی او، قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ، قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ، قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ به یی وایه (مظهری)

شان نزول : دابن اسحٰق روایت دابن عباس ﷺ څخه دا دی چی ولیدبن مغیره عاص بن وائل اسودبن عبدالمطلب اوامیه بن خلف نبی کریم ﷺ ته راغلل چی راځه مونږ په خپل مینځ کی صلح کوو چی یوکال ته زمونږ دبتانو عبادت کوه اویوکال به مونږ ستا دمعبود عبادت کوو (قرطبی) اوطبرانی روایت دحضرت ابن عباس ﷺ څخه دا دی چی دمکی کفارو اول خو په خپل مینځ کی دصلح دپاره دنبی کریم ﷺ په مخکی داصورت پیش کی چی مونږ تاته دومره مال درکوو چی ته به په ټوله مکه کی دټولوڅخه زیات مالدارسی او دکومی ښځی سره چی ته غواړی ستا نکاح به وکوته صرف دومره وکړه چی زمونږ معبودانو ته بدمه وایه اوکه ته داهم نه منی نوداسی به وکوچی یوکال به مونږ ستا دمعبود عبادت کوو اویو کال به ته زمونږ دمعبودانو عبادت کوی (مظهری)

او دابو صالح روایت دحضرت ابن عباس ﷺ څخه دا دی چی دمکی کفارو په خپل مینځ کی دمصالحت دپاره داصورت پیش کی چی ته زمونږ په بتانوکی ځینو لره صرف لاس وروړه نو مونږ به ستا تصدیق وکو، په دی باندی جبرائیل امین سورة کافرون راوړی نازل سو، په کوم کی چی دکفارو دعملونوڅخه

دبراءت اوخالص د، الله ﷻ دعبادت حکم دی ، په شانِ نزول کی چی کوم بی شمیره روایتونه بیان سوی دی ، په هغه کی څه تضاد نسته، کیدی سی چی داواقعات ټول پیښ سوی وی اوددی ټولوپه جواب کی داسورة نازل سوی وی، دکوم حاصل چی دداسی مصلحت څخه منع کول دی.

لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ : په دی سورة کی داځو کلمی مکرری راغلی دی ، ددی تکراردرفع کولودپاره یوتفسیر خوهغه دی ، کوم چی بخاری دډیرو مفسرینو څخه نقل کړی دی چی دوی کلمی یوواردزمانی حال دپاره اوبل وار دزمانه مستقبل دپاره راغلی دی، په دی وجه څه تکرار نسته، مطلب دادی چی نه خوبالفعل داسی کیدی سی چی زه ستاسی دمعبودانو عبادت وکم اوتاسی زما دمعبودانو عبادت وکی اونه ائنده داسی کیدی سی چی زه پر خپل توحید تاسی پرخپل شرك دقائم اوسیدو سره دیوبل معبود عبادت وکی، داتفسیر حضرت حکیم الامت په تفسیرِ بیان القرآن کی اختیار کړي دی ، کوم چی لوړ په لنډ تفسیر کی راغلی دی ، مگر دبخاری په تفسیرکی د، لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ په تفسیرکی یی دین په معنٰی دمذهب اسلام اوکفر کړی دی اومطلب یی دامقرر کړی دی چی پیش کړل سوی دمصالحت صورت قابل قبول نه دی، زه خوپه خپل دین قائم یم، تاسی هم په خپل دین اصرار کوونکی یاست نوتاسی پوه سی دهغه انجام به تاسی څکی اوپه بیان القرآن کی یی دین په معنٰی دجزا مقرر کړی دی.

دوهم تفسیر هغه دی کوم چی ابن کثیر اختیارکړی دی ، چی حرف دماپه لغت دعربوکی لکه څنگه چی داسم موصول اَلَّذِیْ په معنٰی کی راځی ، داسی کلمه دمصدری معنٰی دپاره هم استعمالیږی چی دا په کوم فعل داخل سی ، هغه په معنٰی دمصدر کوی ، په دی صورت کی په اول ځای کی خوما داسم موصول اَلَّذِیْ په معنٰی دی، په دوهم ځای کی ما مصدریه دی، تشریح دهغه دا ده چی اوله جمله ، لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ، وَلَآ أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ : معنٰی دا سوه چی دکومو معبودانو تاسی عبادت کوی زه دهغو عبادت نه کوم اودکوم معبود چی زه عبادت کوم دهغه تاسی نه کوی اوپه دوهمه ، وَلَآ أَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ، وَلَآ أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ کی حرف دما مصدریه دی ، اومعنٰی دا د ، لَا أَنَا عَابِدٌ عِبَادَتَكُمْ، وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ عِبَادَتِیْ یعنی زمونږ اوستاسی دعبادت طریقی جلاجلادی زه ستاسی دطرز عبادت نه سم کولی اوتاسی ترڅو پوری چی ایمان رانه وړی نوزما دطرز عبادت نه سی کولی، په دی شان سره یی په اوله جمله کی د. معبودانو اختلاف وښوویٖ اوپه دوهمه جمله کی یی دعبادت دطرز او طریقی اختلاف ظاهرکی، مطلب داسوچی نه ستاسی اوزمونږ په معبودانوکی اشتراك سته، نه په طریقه دعبادت کی، په دی شان سره تکرار رفع سو اوطریقه دعبادت دنبی کریم ﷺ دمسلمانانو هغه ده کومه چی دوی ته دالله ﷻ دطرف څخه په ذریعه دوحی ښوول

وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ او بل ځای دی ، لَنَا اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ : ددی مطلب دا دی چی لفظ ددین ابن کثیر هم داعمالو ددین په معنیٰ کی اخیستی دی اوبیا مقصود ددی څخه به هغه وی کوم چی په بیان القرآن کی بیان سو چی هر یوه لره به دخپل خپل عمل جزا اوسزا په خپله ځکل وی.

اوځینو مفسرینو یو دریم تفسیر دا اختیارکړی دی چی حرف دما دواړه ځایه موصوله دی اودحال او استقبال هم فرق نسته ، مګر دادوی جملی په واقع کی مکرر راوړل سوی دی، مګر هرتکرار بدنه وی، ډیر ځایه تکرار تقاضا دبلاغت وی لکه چی په ، اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا، اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا، کی دی ، دلته ددی تکرار مقصد تاکید دمضمون هم دی، اودا هم چی دکفارو دطرف څخه چونکی دداسی مصالحت پیش کش ډیر واره ورکول سو نو په متعددو جملو سره یی دهغه رد وفرمایی (ابن جریر ، ابن کثیر)

﴿دکفارو سره دصلح دمعاهدی ځینی صورتونه جائز دی ځینی ناجائز﴾

په سورة کافرون کی دکفارو دطرف څخه دپیش سوو مصلحتونو څخه څو صورتونه یی بالکلیه رد کړل او دبراءت اعلان یی وکی ، مګرپه خپله په قرآن کریم کی دا ارشاد هم موجود دی ، وَاِنْ جَنَحُوْا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا : یعنی کفارکه دصلح طرف ته اوړی کښته کړی، نوته هم کښته سه (یعنی وعده دصلح وکړه) اومدینی طیبی ته چی کله دوی تشریف یوړی اوهجرت یی وکی نودمدینی دیهودو سره د دوی دصلح وعده مشهوره اومعروفه ده، په دی وجه ځینی مفسرینو سورة کافرون ته منسوخ ویلی دی اودمنسوخ ویلو لویه وجه یی آیت: لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ مقرر کړی دی ځکه چی په ظاهره داداحکامو دجهاد سره منافی دی مګرصحیح داده چی دلته لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دامطلب نه دی چی کفاروته دکفراجازت یاپرکفر دبرقرار ساتلوضمانت ورکول سوبلکه ددی مطلب هغه دی کوم چی د لَنَا اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ : دی چی مطلب یی دا دی چی څه کوی هغه به پیداکی په دی وجه صحیح اوراجح دجمهورو په نزد دا ده چی دا سورة منسوخ نه دی کوم قسم مصالحت چی دسورة کافرون دنزول سبب جوړ سو ، دا چی څنګه هغه وخت حرام وو نن هم حرام دی اودکوم صورت اجازت چی په ذکر سوی آیت کی راغلی دی اودنبی کریم ﷺ دیهودو سره دوعدی څخه عملاً ظاهرسو ، هغه چی څنګه هغه وخت جائز وو ، نن هم جائزدی، خبره صرف دموقعی محل دپیژندو اودصلح دشرطونو دکتوده چی فیصله یی په خپله نبی کریم ﷺ په یوحدیث کی فرمایلی ده په کوم کی چی دکفارو سره دوعدی دجائز مقررولو سره یوه استثناء ارشاد سوي ده ، هغه دا ده ، اِلاَّ صُلْحًا اَحَلَّ حَرَامًا اَوْ حَرَّمَ حَلَالًا: یعنی هره صلح جائز ده ، بغیر دهغه صلح څخه دکوم په وجه سره چی دالله ﷻ حرام سوی شی، حلال یاحلال سوی شی حرام مقرر سوی وی، اوس فکر وکی چی دمکی کفارو دصلح کوم صورتونه پیش کړی وه، په هغه کی کم ازکم دکفراواسلام په حدونوکی التباس یقینی دی اوپه ځینی صورتونوکی خو داسلام داصولو خلاف دشرك ارتکاب لازم راځی، دداسی صلح څخه سورة کافرون اعلان دبراءت کړی دی اوبل ځای چی یی کمی صلح جائز مقررکړه اودیهودو سره په معاهده دهغه عملی صورت معلوم سو، په دی کی څه شی داسی نسته ، په کوم کی چی داسلام داصولوڅخه

خلاف سوی دی یادکفر او اسلام حدونه په خپل مینځ کی ملتبس سوی وی، د اسلام څخه زیات یو مذهب درواداری، حسن سلوك، صلح او سالمیت دعویٰ کوونکی نسته، مگر صلح په خپلو انسانی حقوقو کی وی، دخدای په قانون اوددین په اصولو کی دهیڅ صلحی مصالحت څه گنجائش نسته . والله تعالی اعلم

تمت سورة الکافرون بحمدالله تعالی

﴿ سورة النصر ﴾

سُوْرَةُ النَّصْرِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثُ اٰيٰتٍ

سورة النصر په مدینه کی نازل سو او په دی کی دری (۳) آیتونه دی .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی .

إِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ۝١ وَرَاَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ

هر کله چی راغی مدد دالله ﷻ او فیصله ، او ته ووینی خلق داخلیدونکی په دین کی

اللّٰهِ اَفْوَاجًا ۝٢ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ ۚ إِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا ۝٣

دالله ﷻ ډلی ډلی، نو پاکی وایه دخپل رب په ثناء سره او بخښنه ورڅخه وغواړه ، بیشکه هغه معاف کوونکی دی .

لنډتفسیر: (ای محمد ﷺ) کله چی دخدای مدد او (دمکی) فتح (سره دخپلو اثارو) راسی او (په دی فتح مرتب کیدونکی اثار دا دی چی) ته به خلگ دالله ﷻ په دین (اسلام) کی ډلی ډلی داخلیدونکیووینی نو (دغه وخت پوه سه چی مقصود په دنیاکی دپاته کیدو او ستا دبعثت چی کوم تکمیل ددین وو هغه پوره سو او اوس داخرت سفر نژدی دی دهغه دپاره تیاری کوه او) دخپل رب تسبیح اوثنا وایه او دهغه څخه دمغفرت درخواست کوه (یعنی داسی کارونه کوم چی خلاف اولی واقع سوی دی دهغه څخه مغفرت غواړه) هغه لوی توبه قبلوونکی دی .

معلومات اومسئلی : دا سورة په اجماع مدنی دی او ددی نوم سورة تودیع هم دی دتودیع معنیٰ چاته رخصت ورکول دی ، په دی سورة کی چونکی دنبی کریم ﷺ دوفات نژدی کیدو طرف ته اشاره ده، په دی وجه دی ته سورة التودیع هم ویل سوی دی .

(دقرآن مجید اخری سورة اواخری ایتونه)

په صیحیح مسلم کی دحضرت ابن عباس ؓ څخه منقول دی چی سورة نصر دقرآن اخری سورة دی (قرطبی) مطلب دا دی چی ددی څخه وروسته څه مکمل سورة نه دی نازل سوی دځینو ایتونو نزول کوم

چې ددې څخه وروسته کېدل په ځينو روايتونوکې دي، هغه ددې څخه منافي نه دي، لکه چې سورة فاتحه ته دټولو څخه اولنۍ سورة په دې معنٰی ويل سوي دي چې مکمل سورة دټولو څخه اول فاتحه نازله سوې ده، دسورة اقرا او مدثر او نورو څو ايتونه ددې څخه مخکې نازليدل ددې منافي نه دي.
حضرت ابن عمر ﷛ فرمايي چې دا سورة په حجة الوداع کې نازل سو، ددې څخه وروسته آيت، اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ: نازل سو، ددې دواړو دنزول څخه وروسته نبي کريم ﷺ په دې دنياکې صرف اتيا ورځې پاته سو (اتياورځې وروسته وفات سو) ددې دواړو څخه وروسته ايت کلاله نازل سو، دکوم څخه وروسته چې دنبي کريم ﷺ عمرشريف ټول پنځوس ورځې پاته سوي وو، ددې څخه وروسته آيت، لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ: نازل سو دکوم څخه وروسته چې عمرشريف پنځه ديرش ورځې باقي وو، ددې څخه وروسته آيت، اِتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ اِلَى اللّٰهِ: نازل سو، دکوم څخه وروسته چې صرف يوويشت ورځې اودمقاتل په روايت کې صرف اووه ورځې وروسته وفات وسو (قرطبي)
په دې دټولو اتفاق دی چې په دې آيت، اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ کې دفتح څخه فتح مکه مراده ده اوپه دې کې اختلاف دی چې داسورة دمکې دفتح څخه مخکې نازل سوی دی که وروسته، دلفظ د: اِذَا جَآءَ څخه په ظاهره دمکې دفتح څخه مخکې نازليدل معلوميږي اوپه روح المعاني کې دبحرِ محيط څخه يو روايت ددې موافق هم نقل کړی دی، په کوم کې چې ددې سورة نزول دخيبر دغزا څخه دواپسۍ په وخت کې بيان سوی دی اودخيبر دفتح دمکې دفتح څخه مخکې والی معلوم اومعروف دی اوپه روح المعاني کې په سند دعبد ابن حميد دحضرت قتاده داقول نقل کړی دی چې نبي کريم ﷺ ددې سورة دنزول څخه وروسته دوه کاله ژوندی وو اوپه کومو روايتونوکې چې ددې نزول په فتح مکه ياحجة الوداع کې بيان سوی دی، دهغه مطلب داکيدی سی چې په دې موقع نبي کريم ﷺ دا سورة ويلی وو په کوم سره چې دخلګو داخيال سوی وو چې دااوس نازل سو، زيات تحقيق ددې په بيان القرآن کې ذکرسوی دی.
په ډيرو موفوع احاديثو اواثارو دصحابه وو کې دي چې په دې سورة کې دنبي کريم ﷺ دوفات دوخت نژدې کيدو طرف ته اشاره ده چې اوس د دوی دبعثت اوپه دنياکې دقيام کار پوره سو، اوس په تسبيح اواستغفارکې اخته سه، دمقاتل په روايت کې دي چې کله داسورة نازل سو نودوی دصحابه کرامو ﷡ دمجمعې په مخکې ددې تلاوت وفرمايي، په کوموکې چې حضرت ابوبکر ﷛، حضرت عمر ﷛ اوحضرت سعدبن ابي وقاص ﷛ او نور موجود وه، ټولو چې دا واوريدل نوخوشحاله سول چې په دې کې دمکې دفتح خوشخبري ده، مګر حضرت عباس ﷛ په ژړاسو، نبي کريم ﷺ يوښتنه ورڅخه وکړه چې دژړاسبب

رسالت او داسلام په حقانیت تقریبًایقین سوی وومګر په اسلام کی دداخلیدو څخه تراوسه پوری دقریشو دمخالفت په بیره سره یادخه شك اوشبهی په وجه منع سوی وه، دمکی فتح دغه بندیز ختم کی، نوفوجونه فوجونه خلګ په اسلام کی داخلیدل شروع سول، دیمن څخه اووه سوه نفره مسلمانان سول راغلل کومو چی په لاره کی اذانونه ویل او قرآن یی وایه راروان وه، دغه شان عام عرب فوجونه په اسلام کی داخل سول.

﴿ هر کله چي مرګ نژدې محسوس سي نوتوبه او استغفار ډیر کول په کار دی ﴾

فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ حضرت عائشه صدیقه ﷺ فرمایی چی ددی سورة دنازلیدو څخه وروسته به نبی کریم ﷺ چی کله لمونځ کوی نودا دعابه یی کوله ، سُبْحٰنَكَ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ (بخاری)

حضرت ام سلمه ﷺ فرمایی چی ددی سورة دنزول څخه وروسته په ناسته ولاړه اوتلوراتلوهروخت کی به یی دادعاویله سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ اَسْتَغْفِرُاللهَ وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ:اوفرمایل به یی چی ماته ددی حکم وسو اوپه دلیل کی به یی اِذَاجَاءَ نَصْرُاللهِ تلاوت فرمایی حضرت ابوهریره ﷺ فرمایی چی ددی سورة دنزول څخه وروسته به نبی کریم ﷺ په عبادت کی لویه مجاهده فرمایله ، تردی چی د دوی ﷺ پښی وپرسیدلی (قرطبی)

تمت سورة النصر بحمدالله تعالی

﴿ سورة اللهب ﴾

سُوْرَةُ اللَّهَبِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسُ اٰيَاتٍ

سورة اللهب په مکه کی نازل سوی او په دی کی پنځه (۵) آیتونه دی .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی .

تَبَّتْ يَدَآ اَبِيْ لَهَبٍ وَّتَبَّ ﴿۱﴾ مَآ اَغْنٰى عَنْهُ مَالُهٗ وَمَا كَسَبَ ﴿۲﴾

مات سول لاسونه دابولهب او هغه مات سو په خپله ، په کار ورنه غی ده لره مال دده او نه هغه چی ده وګټل

سَيَصْلٰى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ﴿۳﴾ وَّامْرَاَتُهٗ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ﴿۴﴾

اوس به ولوېږي اورلمی وهونکی ته ، او دده ښځه چی په سراوړه لرګی

فِيْ جِيْدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ ﴿۵﴾

ددې په غاړه کی رسی وه دخرما د پوستکو څخه .

لنډتفسير: دابولهب لاس دې مات سي اوهغه دې برباد سي، نه دهغه مال دهغه په کار ورلي اونه دهغه ګټه (دمال څخه مراداصل سرمايه اوډګټې څخه مراد دهغه نفع ده، مطلب دادې چې هيڅ سامان به هغه دهلاکت څخه محفوظ نه کې، داحالت خودهغه په دنياکې سواوپه اخرت کې) هغه به ډيرژر (يعنې دمرګ سره) شغلې وهونکې اورته داخل سي، هغه هم اودهغه ښځه هم کومه چې خاشې راوړې (مراد ورڅخه ځوزان دې کوم چې به يې دنبي کريم ﷺ په لاره کې اچولې چې دوی ته تکليف ورسيږي، اوچې دوزخ ته ولاړه سي نو) ددې په غاړه کې به (ددوزخ زنځير اوطوق وي چې ګويا هغه به) يوه رسی وی ښه پيچل سوی (تشبيه په شدت اومحکموالی کې ده)

معلومات اومسئلې: دابولهب اصل نوم عبد العزٰی وو، دی دعبدالمطلب داولاد څخه دی، رنګ يې سور وو، په دې وجه دده کنيت ابولهب مشهوروو، قرآن کريم دده اصلي نوم ځکه پرېښووی، چې دغه نوم هم مشرکانه وو اودلهب په کنيت کې دلهب جهنم (دلمبې ددوزخ) سره يومناسبت هم وو، داسړی دنبي کريم ﷺ بې حده دښمن اوداسلام سخت مخالف او دوی ﷺ ته سخت تکليفونه ورکوونکی وو، کله چې به دوی خلګوته دايمان دعوت ورکوی، دی به ورپسې کيدی اودی ﷺ به يې درواغجن کوی (ابن کثير)

شان نزول: په صحيحينو کې دی چې کله په نبی کريم ﷺ آيت، وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ نازل سو، نودی ﷺ دصفا غره ته وختی اودخپلې قبيلې خلګو قريشوته يې اواز وکی، په ځينو روايتونو کې دی چې يا صَبَاحَاهْ يې وويل اوپه يابنی عبدمناف اويابنی عبدالمطلب اونورو نومونو سره يې اوازوکی (داسی اواز کول په عربوکې دخطرې علامه ګڼل کيده) تول قريش جمع سول نونبی کريم ﷺ وفرمايل چې که زه تاسی ته دا خبردرکړم چې دښمن په تاسی سهار ياماښام حمله کوونکی دی نوآيا تاسی خلګ به زماخبره ومنی؟ تولو په يوه خوله په جمع وويل چې هو! ضروربه تا رښتنی ګڼو بيادوی ﷺ وفرمايل چې زه تاسی ديو سخت عذاب څخه بيروم (کوم چې په شرك اوكفر دالله ﷻ دطرف څخه مقرر دی) چې دايی واوريدل نو ابولهب وويل، تَبًّا لَكَ لِهَٰذَا جَمَعْتَنَا هلاکت دی وی تا لره ددی دپاره تامونږ جمع کړو، او دده ﷺ دويشتلو دپاره يې يوه ډبره لوړه کړه په دی دا سورة نازل سو.

تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ : ديد اصل معنٰی لاس دی، چونکی دانسان په تولو کارونوکی لوی دخل دلاسونو دی، په دی وجه ديو سړی ذات اونفس په يدسره تعبير کوی، لکه چی په قرآن کريم کی دی، بِمَا قَدَّمَتْ يَدَاكَ، اوبيهقی دابن عباس ﷺ څخه روايت کړی دی چی ابو لهب يوه ورځ خلګوته وويل چی محمد ﷺ وايی چی دمرګ څخه وروسته به فلانی کار وی، بيايی خپلو لاسونوته اشاره وکړه اووي ويل چی په دی لاسونوکی ددی شيانوڅخه هيڅ هم نه دی راغلی بيايی خپل لاسونه مخاطب کړل اووي ويل تَبًّا لَكُمَا مَا أَرَىٰ فِيكُمَا شَيْئًا مِّمَّا قَالَ مُحَمَّدٌ ﷺ يعنی تاسی بربادسی زه په تاسی کی دهغو شيانوڅخه هيڅ هم نه وينم دکومو دکيدوخبرچی محمد ﷺ ورکوی، ددی په مناسبت سره قرآن کريم هلاکت دلاسونو طرف ته منسوب کی.

تَبٌّ دتباب څخه مشتق دی چی معنٰی يی ده هلاك اوبرباد دی سی، په دی آيت کی اوله جمله، تَبَّتْ يَدَا

أَبِي لَهَبٍ : په طور دښرا ده ، یعنی ابولهب دی هلاك سی او دوهمه جمله یعنی ، وَتَبَّ جمله خبریه ده ، یعنی ګویا دښرا سره یی دهغه اثر هم وښووی چی هغه هلاك سو ، او جمله دښرا یی دمسلمانانو دغضب دشفا دپاره ارشاد فرمایلی ده، ځکه چی څه وخت ابولهب د دوی په شان کی تَبًّا وویل نو دمسلمانانو دزړه خواهش وو چی دی ﷺ ورته ښرا وکی ، حق تعالی ګویا د دوی دزړه خبره په خپله وفرمایله او ددی سره یی دا خبر هم ورکی چی دا ښرا هغه ته ولګیدل هم اوهغه هلاك سو ، قرآن ددی هلاکت اوبربادی خبر کوم چی یی مخکی ورکړی وو، اثر یی دا وسو چی دبدر دواقعی څخه اووه ورځی وروسته په هغه دطاعون دا نه را وخته کوم ته چی عرب عَدَسَه وایی ، دمرض نوروته دلګیدو دبیری څخه دکور ټولو خلکو هغه جلا وغورځی او ددی بی کسی په حالت کی مرسو او دری ورځی یی لاس هم دغسی پروت وو چی خسا او وروست نو په مزدورانو یی پورته کی او هغوی یو ډوغل وکاړی او په یولرګی یی دهغه لاس هغه ته ور وغورځوی او دلوړه څخه یی په ډبرو ډك کی (بیان القرآن بحواله روح)

مَا أَغْنٰى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ د: مَاكَسَبَ معنی ده څه چی ده وګټل ددی څخه مراد دتجارت هغه نفع اونورهم کیدی سی کوم چی دمال په ذریعه حاصلیدی سی لکه چی په لنډ تفسیرکی ویل سوی دی او اولادهم مراد کیدی سی ځکه چی اولاد ته هم دانسان ګټه ویل کیږی حضرت عائشه ﷺ فرمایی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، اِنَّ اَطْيَبَ مَااَكَلَ الرَّجُلُ مِنْ كَسْبِهٖ وَاِنَّ وَلَدَهٗ مِنْ كَسْبِهٖ : یعنی کوم خوراك چی بنده خوری په هغه کی دټولو څخه زیات حلال پاك هغه شی دی کوم چی سړی په خپل ګټه سره حاصل کړی او دبنده اولاد هم دده په کسب کی داخل دی یعنی د اولاد دګټی څخه خوړل هم دخپلی ګټی څخه خوړل دی (قرطبی) په دی وجه حضرت عائشه ﷺ مجاهد ، عطاء ، ابن سیرین اونور دلته د ، مَاكَسَبَ تفسیرپه اولاد سره کړی دی ، ابولهب ته الله ﷻ مال هم زیات ورکړی وو او اولاد هم ، دا دواړه شیان دناشکری په وجه دهغه دفخر او غرور او وبال سبب جوړ سوه ، حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی کوم وخت نبی کریم ﷺ خپل قوم دالله ﷻ دعذاب څخه بیروی نو ابولهب دا هم ویلی وه چی څه زما داوراره وایی که دا ریښتیا اوحق وی نوزماسره مال او اولاد ډیردی، زه به دا ورکړم او خپل ځان به محفوظ کړم ، په دی دا آیت نازل سو ، مَا أَغْنٰى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ : یعنی کله چی دی دخدای عذاب ونیوی نو نه دده مال په کار ورځی نه اولاد ، دا خو حال دهغه په دنیاکی سو ، مخ ته داخرت حال دی ، سَيَصْلٰى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ یعنی دقیامت څخه وروسته یادمرګ څخه فوراً بعدپه قبرکی به په یوشغلی وهونکی اورکی داخل سی دده دنوم په مناسبت سره دا ورسره دذات لهب په صفت کی خاص بلاغت دی .

وَامْرَاَتُهٗ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ : لکه څنګه چی دابولهب دنبی کریم ﷺ سره سختی دښمنی وه ، دده ښځی به هم په دی دښمنی اونبی کریم ﷺ ته په ازار رسولوکی دده مدد کوی ، دا دابو سفیان خور بنت حرب بن امیه ده، کومی ته چی ام جمیل دکنیت په اعتبار سره ویل کیږی ، قرآن کریم په دی آیت کی وښووله چی دابدبخته هم دخپل خاوندسره به دجهنم اورته ځی، ددی سره یی ددی یوحال دا وښووی چی دا ، حَمَّالَةَ الْحَطَبِ : ده

چې لفظي معنٰی يې ده دسوزنګ لرګي راوړونکی، يعنې اورلګوونکی دعربو په محاوراتوکې چغلي کوونکي ته حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ويل کيږي ، لکه څوك چې د اور لګولو دپاره دسونګ لرګي جمع کوي اور لګوي ، دغه شان دچغل خور عمل هم دی چې دی دخپلې چغل خورۍ په ذريعه په افرادو اوخاندانونوکې اور لګوي ، دی ښځې به دنبي کريم ﷺ اوصحابه کرامو ﷺ دازارولودپاره دچغلخورۍ کارهم کوی ، په دی آيت کې دابولهب ښځې ته ، دحَمَّالَةَ الْحَطَبِ ويلو تفسير حضرت ابن عباس ﷺ ، مجاهد ، عکرمه اونورو مفسرينو دا کړی دی چې دی به چغلي کوله ، اوابن زيد ، ضحاك اونورو دالفظ په خپله حقيقي معنٰی کې اخيستی دی چې ددی وجه يې دابنوولې ده چې دی ښځې به دځنګل څخه ځوزان راوړل اودنبي کريم ﷺ په لاره کې به يې ايږدل ، چې دوی ته تکليف ورسيږي ، دا ذليل اوخسيس حرکت قرآن په ، حَمَّالَةَ الْحَطَبِ سره تعبير کړی دی (قرطبي ، ابن کثير)

اوځينې حضرات فرمايي چې ددی دا حال به په جهنم کې وي ، چې دجهنم دزقوم اونور لرګي به راجمع کوي ، په خپل خاوندبه يې وراچوی چې اوريې ښه تيز سي ، لکه څنګه چې به په دنياکې دی دهغه کفر زياتوی ، په آخرت کې به ورته عذاب زياتوی (ابن کثير)

(چغلخوري سخته ګناه کبيره ده)

په صحيح حديث کې دی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دی چې جنت ته به چغلخور داخل نه سي ، اوحضرت فضيل بن عياض فرمايي چې دری عملونه داسې دی کوم چې دانسان ټول نيك عملونه برباد وي ، دروژه دار روژه او داودس والا اودس خرابوی ، يعنې غيبت ، چغلخوري او درواغ، عطاء بن سائب فرمايي چې ما حضرت شعبي ته دنبي کريم ﷺ داحديث ذکر کې ، په کوم کې چې دوی فرمايلي دی ، لَايَدْخُلُ الْجَنَّةَ سَافِكُ دَمٍ وَلَا مَشَّاءٌ بِنَمِيْمَةٍ وَلَاتَاجِرٌ يُرْبِيْ : يعنې دری قسمه سړي به جنت ته نه داخليږي ، په ناحقه باندې وينه تويوونکی اوچغلي کوونکی اوسوداګر چې دسود کار اوبار کوي ، عطاء وايي چې مادی حديث ذکر وکې او دشعبي څخه مې په طور دتعجب پوښتنه وکړه چې په حديث کې يې چغلخور دقاتل اوسودخور برابر بيان کړی دی ، دوی وويل چې هوا چغلخوري خو داسې شی دی چې ددی په وجه دناحق قتل او دمالونو غصب کولو نوبت راځي (قرطبي)

فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِنْ مَسَدٍ : مَسَد په سکون دسين سره مصدر دی ، چې معنٰی يې رسی ياتار کلکول ياپيچل او مضبوطول دی اومَسَد په زبر دميم اوسين هغه رسی يامزی ته وايي کوم چې مضبوط جوړسوی وي ، برابره خبره ده دهرڅه څخه چې وي، دخرما ياکوپړی اونورو څخه ياداوسپنې دتارونو څخه هرقسم مضبوطه رسی په دی کې داخله ده (لکه په قاموس کې دی) ځينو حضراتوچې کومه خاص دخرماؤ درسی ددی ترجمه کړی ده هغه يې دعربودعام عادت مطابق کړی ده ، اصل مفهوم يې عام دی ، ددی عام مفهوم په اعتبارسره حضرت ابن عباس ﷺ عروه ابن زبير ﷺ اونورو فرمايي چې دلته د ، حَبْلٌ مِنْ مَسَدٍ څخه مراد داوسپنې دتارونوپيچل سوی رسی. ده اوداحال به ددی په جهنّم کې وي چې داوسپنې مضبوط طوق به ددی په غاړه کې وي ، حضرت مجاهد هم ددی په تفسيرکې فرمايي ، مِنْ مَسَدٍ ، ای من حَدِيد (مظهري)

اوشعبي اومقاتل اونور مفسرين دا هم ددنيا حال مقرروي د: حَبْلٌ مِنْ مَسَدٍ څخه مراد دخرماوو رسی اخلي اوفرمايي ، که څه هم ابولهب او دده ښځه مالداران ، غنيان او دخپل قوم سرداران منل کيدل ، مگر دده ښځه به دخپل خسيس طبيعت اوکنجوسي په سبب دځنگل څخه دسونگ لرگي راجمع کول راوړل او ددی رسی به يې په خپلي غاړي تاووله چي دا گيډی دسر څخه ايله نه سی اودا يوه ورځ ددی دهلاکت سبب جوړ سو چي دلرگو گيډی په سر وه اورسی يې په غاړي تاو کړه ، ستړې سوه او يو ځای کښينسته اوبيا ولويده اوغاړه يې خپه سوه او مړه سوه ، ددی دوهم تفسير دمخه دا حال ددی ددغې خسيس طبعيت او ددی دبدانجام بيانولو دپاره دی (مظهری)

مگر چونکي دابو لهب دکورنی خصوصًا دښځي څخه يې داسي کول ليری خبره وه ، په دی وجه اکثرو مفسرينو حضراتو اولنی تفسير اختيار فرمايلی دی . والله تعالی اعلم

تمت سورة اللهب بحمدالله تعالی

﴿سورة الاخلاص﴾

سُوْرَةُ الْاِخْلَاصِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَهِيَ اَرْبَعُ اٰيَاتٍ

سورة الاخلاص په مکه کی نازل سو او په دی کی څلور (۴) آيتونه دی .

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چي دير مهربانه نهايت رحم والا دی .

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۝١ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۝٢ لَمْ يَلِدْ ۙ وَلَمْ يُوْلَدْ ۝٣

ته ووايه هغه الله يو دی ، الله بی احتياجه دی ، نه ورڅخه څوك پيدا دی ، نه دچا څخه پيدا دی

وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ۝٤

او نسته ده لره او نه به وی سيال هيڅوك .

لنډتفسير: (ددی سبب دنزول دا دی چي يو وار مشرکانو حضور ﷺ ته وويل چي دخپل رب صفتونه اونسب بيان کړه پردی داسورة نازل سو، لکه داسي چي په در منثور کی په ډيرو سندونو سره دی) ته (دی خلکوته) ووايه چي هغه يعنی الله ﷻ (په خپل کمالِ ذات او صفات کی) يو دی (کمالِ ذات دا دی چي واجب الوجود دی يعنی هميشه دی او هميشه به وی اوکمالِ صفت دا چي علم اوقدرت او نور دهغه قديم دی او محيط دی او) الله ﷻ بی نيازه دی (يعنی هغه دچا محتاج نه دی او هغه ته ټول محتاج دی) دهغه اولاد نيسته او نه هغه دچا او لاد دی او نه څوك دهغه برابر سته .

معلومات اومسئلي : شان نزول : دترمذی ، حاکم او نورو په روايت کی دی ، چي دمکی مشرکينو دنبی کريم ﷺ څخه دالله ﷻ دنسب پوښتنه کړی وه د دوی په جواب کی داسورة نازل سو، په نورو ځينو

روایتونوکی داسوال دمدینی دیهودو طرف ته منسوب سوی دی، په دی وجه ددی سورة په مکی یامدنی کیدوکی اختلاف دی ، حضرت عبدالله ابن مسعود ﷛ ، حضرت حسن ﷛ ، عطاء ﷛ ، عکرمه ﷛ جابر ﷛ دی ته مکی ویلی دی اوقتاده ﷛، ضحاك اونورو مدنی، دحضرت ابن عباس ﷛ څخه دوه قوله منقول دی (قرطبی)

په ځینو روایتونوکی دی چی دمشرکینو په سوال کی دا هم وه چی الله ﷻ دڅه شی څخه جوړ سوی دی ، دسرو او سپینو یابل څه څخه ، د دوی په جواب کی دا سورة نازل سو .

دسورة فضیلتونه : امام احمد دحضرت انس ﷛ څخه روایت کړی دی چی یو سړی دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سو او عرض یی وکی چی زما ددی سورة سره لوی محبت دی ، دوی وفرمایل چی ددی محبت ته جنت ته دا خل کړی (ابن کثیر)

ترمذی دحضرت ابوهریره ﷛ څخه روایت کړی دی چی یو وار نبی کریم ﷺ خلګو ته وفرمایل چی ټول راجمع سی زه تاسي ته دریمه حصه قرآن اوروم ، څوك چی جمع کیدی سول جمع سول ، نو دوی تشریف راوړی ، اود ، قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ ، قرآئت یی وفرمایی او ارشاد یی وفرمایی چی دا سورة د دریمی حصی قرآن برابر دی (مسلم فی صحیحه)

ابوداود ، نسایی او ترمذی په یواورد حدیث کی روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی سهار اومابنام ، قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ او معوذتین وایی نو دا دهغه دپاره کافی دی ، او په یو روایت کی دی چی دا دهغه دپاره دهری بلا څخه دمحفوظ کولو دپاره کافی دی (ابن کثیر)

امام احمد ﷛ دحضرت عقبه بن عامر ﷛ څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی زه تاسی ته داسی دری سورتونه ښیم، چی کم په تورات، انجیل، زبور او قرآن ټولوکی نازل سوی دی اوفرمایلی یی دی چی دشپی ترهغه پوری مه بیده کیږی ترڅو پوری چی دادری واړه ونه وایاست (یعنی معوذتین او قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ) حضرت عقبه وایی چی دهغه وخت څخه ما هیڅکله دانه دی پرې ایښی (ابن کثیر)

قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ په لفظ د ، قُلْ کی اشاره ده دنبی کریم ﷺ دنبوت او رسالت طرف ته ، چی دوی ته دالله ﷻ دطرف څخه دخلګو دهدایت حکم کیږی اولفظ دالله دهغه ذات نوم دی کوم چی واجب الوجود دی او دټامو کمالاتو جامع او دټولو نقائصو څخه پاك دی د ، أَحَدٌ او وَاحِدٌ معنیٰ د دواړو یوه ده، مګر دمفهوم په اعتبار سره دلفظ د. أَحَدٌ په معنیٰ کی دا هم شامل دی چی دا دترکیب تجزیی او تعدد څخه او دڅه شی دمشابهت اومشاکلت څخه پاك دی، یعنی دادڅه یوی یا متعددو مادو څخه نه دی جوړنه په کی دتعدد څه امکان سته، نه دڅه مشابه دی، داجواب وسو دهغو خلګو کومو چی دالله ﷻ په حقله پوښتنه کوله چی هغه (معاذالله) دسرو اوسپینو یادڅه جوهرڅخه جوړ دی ، په دی یوه لنډه جمله کی دذات اوصفاتو ټول بحثونه راغلل اوپه لفظ د ، قُلْ کی دنبوت اورسالت مسئله راغله ، که په دی فکر وسی نو دا یوه لنډه غوندی جمله په هغو عظیم الشانه بحثونو باندی حاوی ده کوم چی په لویو لویو جلدونو کی لیکل سوي دی .

اَللهُ الصَّمَدُ دلفظ د : صَمَد ډيرې معناوې کيدی سی، په دی وجه دمفسرينو حضراتو اقوال په دی کی ډير دی طبرانی په کتاب السنة کی دا جمع کړی دی اوبيايې فرمايلی دی چی دا ټول صحيح دی او په دی کی چی کوم صفتونه بيان سوی دی هغه ټول زمونږ درب صفتونه دی ، ليکن معنٰی د ، صَمَد' دا ده چی دکوم طرف نه خلګ په خپلو حاجتونو او ضرورتونوکی رجوع کوی اوکوم چی په لويی اوسرداری کی داسی وی چی دهغه څخه څوك لوی نه وی، لنډه داچی ټول هغه ته محتاج وی، هغه دچا محتاجه نه وی، (ابن کثير)

لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ :: دادهغو خلګو جواب دی کومو چی دالله ﷻ دنسب نامی پوښتنه کړی وه چی دی پرمخلوق نه قياسيږی کوم چی دتوالد اوتناسل په ذريعه په وجودکی راځی، نه هغه دچا اولاد دی، نه څوك دهغه اولاد دی ، وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا اَحَدٌ د:: کفو لفظی معنٰی مثل اومماثل دی معنٰی دا ده چی نه څوك دهغه مثل سته او نه څوك دهغه سره مشاکلت او مشابهت لری .

﴿په سورة اخلاص کي مکمل توحيد او دهر قسمه شرك نفي ده﴾

دالله ﷻ سره څوك دشريك ګڼونکو منکرينو دتوحيدپه دنياکی مختلف قسمونه راغلی دی، سورة اخلاص دهرقسمه مشرکانه خيالاتو نفی وکړه اودمکمل توحيد سبق يی ورکړی دی، ځکه چی دتوحيد په منکرينوکی يوه ډله خودالله ﷻ دوجود څخه منکره ده، ځينی دوجود خوقائل دی خو دوجود دوجوب څخه منکردی، ځينی ددواړو قائل دی، مګر دکمال دصفاتو څخه منکر دی، ځينی داهرڅه منی، مګر بياپه عبادت کی غيرالله شريکوی، ددی ټولو باطلو خيالاتو رَدْ په اَللهُ اَحَدٌ کی وسو، ځينی خلګ په عبادتونوکی هم څوك نه شريکوی، مګرحاجت روا اوکار سازه دالله ﷻ څخه ماسوا نور هم ګڼی د دوی دخيال ابطال په صمد کی وسو، ځينی خلګ دالله ﷻ دپاره داولاد قائل دی ، د دوی ردپه لَمْ يَلِدْ کی وسو.

والله سبحانه تعالیٰ اعلم

تمت سورة الاخلاص بحمدالله تعالی

﴿سورة الفلق﴾

سُوْرَةُ الْفَلَقِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسُ اٰيَاتٍ

سورة الفلق په مدينه کی نازل سو او په دی کی پنځه (۵) آيتونه دی .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډير مهربانه نهايت رحم والا دی .

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿۱﴾ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ﴿۲﴾ وَمِنْ شَرِّ

تهووايه زه پناه غواړم په رب دسهار ، دهر شی دبدی څخه چی پيداکړی دی ، او دبدی د تياری

غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ ﴿۳﴾ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِی الْعُقَدِ ﴿۴﴾ وَ

شپی څخه کله چی خپره سی ، او دبدی دښځو څخه چی په غوټو کی پوکل کوی ،

مِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ﴿۵﴾

او دبدی دبد غوښتونکی څخه کله چی بدی کول غواړی .

لنډتفسير: ته (دخپلی استعاذی یعنی دالله ﷻ څخه دپناه غوښتو دپاره اونورو ته هم ددی استعاذی دښوولو دپاره چی حاصل یی په الله ﷻ توکل او دمکملی بروسی تعلیم دی ، داسی) وایه چی زه دصبا دمالك پناه غواړم دټول مخلوقات دشر څخه او (بالخصوص) دتیاری شپی دشر څخه کله چی هغه شپه راسی (په شپه کی دشرونو اوافتونو احتمال ظاهردی) او (خاص دکوډو څخه) په غوټوکی دپوکی کوونکو دشرڅخه اودحسد کوونکو دشر څخه کله چی هغه حسد کوی (اول دټول مخلوقات دشرڅخه دپناه اخیستو دذکر کولو څخه وروسته دخاصو خاصو شیانو ذکر شاید په مناسبت دمقام داوی چی اکثر دسحر ترتیب اوترکیب دشپی وی (خازن) چی څوك ورڅخه خبرنه سی اوپه اطمینان سره کاروکی اوپرغوټو ددم کوونکو نفسونو یاښځو مناسبت دلته ظاهردی، ځکه چی په نبی کریم ﷺ باندی سحر داسی سوی وو، برابره خبره ده که سړی کړی وی یاښځو ، ځکه چی دلفظ دنفاثات موصوف نفسونه هم کیدی سی کوم چی دښځواوسړودواړولره شامل دی اوښځی هم ددی موصوف کیدی سی اوپه نبی کریم ﷺ باندی چی کومو یهودیانو سحر کړی وو ، دهغه اصل مقصد حسدوو ، دغه شان دسحر متعلقه چی څومره شیان وه دټولو څخه استعاذه وسوه اودباقی شرونو اوافتونو دشاملولو دپاره یی: مِنْ شَرِّ مَاخَلَقَ وفرمایی اوپه آیت کی یی چی کوم دالله ﷻ صفت رب الفلق یعنی دسهارمالك ذکرکړی دی ، حال دا دی چی الله ﷻ خو دسهار اومابنام ټولو شیانو رب اومالك دی، په دی تخصیص کی شاید اشاره دی طرف ته وی چی لکه څنګه چی الله ﷻ دشپی تیاره لیری کوی ، دسهار رڼا را باسی، دغه شان دسحر هم ازاله کولی سی)

معلومات اومسئلی: دا سورة فلق او په دی پسی سورة ناس دواړه په یوځای په یوه واقعه کی نازل سوی دی ، حافظ ابن قیم دی دواړو سورتونو تفسیر یوځای لیکلی دی ، په هغه کی یی فرمایلی دی چی ددی دواړو سورتونو نفع اوبرکتونه اوټولو خلګو ته ددی حاجت او ضرورت داسی دی چی هیڅ انسان ددی څخه مستغنی کیدی نه سی دی دواړو سورتو ته په سحر اوبدنظر اوټولو روحانی اوجسمانی افتونو لیری کولوکی عظیم تاثیر دی او چی په حقیقت پوه سی نوانسان ته ددی ضرورت دخپلی ساه اوخوراك چښاك اوټولو شیانو څخه زیات دی ، ددی واقعه په مسند احمد کی داسی راغلی ده چی په نبی کریم ﷺ باندی یو یهودی جادو کړی وو ، دکوم په اثر سره چی دی ﷺ بیمار سو ، جبرائیل امین ؑ دوی ته اطلاع ورکړه چی په تاباندی یویهودی جادو کړی دی اوپه کم شی باندی چی یی دا عمل کړی دی هغه په فلانی

ځاه کې دي، نبي کريم ﷺ هلته سړيان وليږل، دځاه څخه يې دجادو هغه شيان راوړل چې غوټې په کې لګيدلې وې، نبي کريم ﷺ هغه غوټې خلاصې کړې اوبالکل جوړ اوروغ ولاړ سو (اوکه څه هم جبرائيل ﷺ ورته ددغه يهودي نوم ښوولی وو اوده پيژندی خودخپل نفس دپاره ده دچا څخه بدل اخيستل ښه نه ګڼل) اوټول عمريې دغه يهودي ته هيڅ ونه ويل (هغه دمنافقت په وجه حاضرباش وو) اوپه صحيح بخاري کې دحضرت عائشه ﷺ په روايت کې دي چې يويهودي په دوی سحر کړی وو، نودهغه په دوی دا اثر وو چې ځيني وخت به يې محسوسوله چې فلانی کارمې کړی دی، مګرکړی به يې نه وو بيايې يوه ورځ حضرت عائشه ﷺ ته وفرمايل چې ماته زما بيماري الله ﷻ (په خوب کې) وښووله ، داسې چې دوه تنه راغلل ، يو مې سرته کښينستی ، بل پښوته ، دسر والا هغه بل ته وويل چې ده ته څه تکليف دی؟ هغه وويل په ده سحر سوی دی هغه پوښتنه وکړه چې چاپه کړی دی؟ نوجواب يې ورکی چې لبيد بن اعصم کوم چې ديهودو حليف منافق دی ، پوښتنه يې ورڅخه وکړه چې په څه شي يې جادو کړی دی هغه وويل چې په ږمنځ او دهغه په دندانو ، بيايې پوښتنه وکړه چې کم ځاى دی؟ هغه وويل چې دخرماپه هغه غلاف کې په کوم کې چې دخرما ميوه پيدا کيږي په برذروان ځاه کې ترډبرې لاندې دفن دی دی هغه ځاه ته ولاړی اوهغه يې راوايستی اوويې فرمايل چې په خوب کې ماته داځاه ښوول سوی وو ، حضرت عائشه ﷺ وفرمايل چې تاسې ددې اعلان ولې ونه کی چې فلانی سړي دا حرکت کړی دی ، حضورﷺ وفرمايل چې الله ماته شفاراکړه اوزه دانه خوښوم چې دچا دپاره دڅه تکليف سبب جوړسم (مطلب داوو چې ددې اعلان که سوی وای نوخلګوبه هغه قتل کړی وای) اوپه مسنداحمدکی دی چې ددوی دامرض شپږ مياشتې وو اوپه ځينو روايتونوکې دي چې اصحابو ﷺ ته معلومه سوه چې داکار لبيدبن اعصم کړی دی نو عرض يې وکی چې مونږ دا خبيث قتل ولې نه کو؟ خو دوی هغه جواب ورکی کوم چې يې حضرت عائشې ﷺ ته ورکړی وو ، امام ثعلبي وايي چې يوهلك به دنبي کريم ﷺ خدمت کوی ، يهودي هغه وغولوی اويوه ږمونځ اوڅه دندانې يې ورڅخه د دوی حاصلې کړې اوپه يوتارکې يې يولس غوټې ولګولې اوپه هره غوټه کې يې ستن ورکړه او دږمونځ سره يې دخرما دميوې په غلاف کې په ځاه کې ترډبرې لاندې کښيښوول ، الله ﷻ دا دوه سورتونه نازل کړل چې يوولس ايتونه يې دي ، په هره غوټه به يې يو يوايت وايه اوخلاصوله به يې تردې چې ټولې غوټې يې خلاصې کړې او د دوی څخه ناځاپه يوبار کښته سو (ابن کثير)

(دسحرپه اثرسره متاثره کيدل دنبوت اورسالت منافي نه دي)

ځوك چې دسحر دحقيقت څخه ناواقف دي هغوی تعجب کوی چې په نبي کريم ﷺ دسحر اثرڅنګه وسو؟ ددې ټول تفصيل په سورة بقره کې تيرسوی دی، هلته يې وګوری، په لنډه داسې پوهيدل په کار دي چې دسحر اثر دطبعيْ اسبابو اثروی، لکه په اور سوزيدل ياګرميدل، په اوبو يخيدل، په ځينې طبعي اسبابو سره بخار راتلل يابله بيماري اونور دايو طبعي امردی چې پيغمبر ﷺ ورڅخه مستثنٰی نه دی ، دغسې دسحر جادو اثر هم دي نوڅه بعيده نه ده .

(معوذتين دهر قسم دنيوي اوديني افتونو دحفاظت قلعه ده، ددې فضيلتونه)

دا خو دهرمومن عقيده ده چې ددنيا اواخرت هره نفع اونقصان دالله ﷻ په لاس كې دى بغير دهغه درضا څخه څوك چاته څه نفع يانقصان نسي رسولى نوددنيا اواخرت دټولو افتونو څخه دمحفوظ پاته كيدو اصل ذريعه يوه ده چې انسان خپل ځان دالله ﷻ په پناه كې وركړي او په خپل عمل سره دهغه په پناه كې دراتلو دقابل كيدو كوشش وكې په دې دواړو سورتونوكې په اولنى يعنى سورة فلق كې خو ددنياوى افتونو څخه دالله ﷻ دپناه غوښتلو تعليم دى، او په دوهم سورة ناس كې داخروى افتونو څخه دمحفوظ كيدو دپاره دالله ﷻ پناه غوښتل سوي ده ، په مستندو احاديثوكې ددې دواړو سورتونو لوى فضائل اوبركتونه منقول دى ، په صحيح مسلم كې دحضرت عقبه بن عامر ؓ څخه روايت دى چې نبى كريم ﷺ فرمايلي دى ، تاسى ته خبر سته چې نن شپه الله ﷻ په ما داسى آيتونه نازل كړي دى چې مثل يې نسته يعنى ، قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ او: قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ، اوپه يو روايت كې دى چې په تورات، انجيل، زبور اوقران كې هم ددې مثل بل سورة نسته، يوبل روايت هم ددې حضرت عقبه ؓ څخه دى چې په يوسفركې نبى كريم ﷺ ده ته معوذتين وويل او بيايې دماښام په لمانځه كې ددې دووسورتونو تلاوت وفرمايى اوبيايې وفرمايل چې داسورتونه دبيده كيدوپه وخت كې هم واياست اودپورته كيدوپه وخت كې هم (رواه النسايى) اوپه يوروايت كې دى چې دوى ددې دواړو سورتونو دهر لمونځ څخه وروسته دتلاوت تلقين فرمايلي دى (ابوداود نسايى)

اوحضرت عائشه ؓ فرمايى چې نبى كريم ﷺ به كله بيمار سو نو دا دواړه سورتونه به يې ويل ، خپل لاسونه به يې دمول اوپه ټول بدن به يې راتيرول بيا دوفات په مرض كې چې مريضى پرسخته سوه، نومابه ويل اوددوى لاسونه به مې دمول اودوى به پرځان راتيرول، داسى به مې ځكه كول چې زما لاسونه دهغوى دلاسونو بدل نسواى كيدى (امام مالك، ابن كثير) او دحضرت عبدالله بن حبيب ؓ څخه روايت دى چې يوه شپه زه په باران اوسخته تياره كې دحضور ﷺ په تلاش كې ووتلم چې بيامې پيدا كې نو ويې فرمايل چې ووايه ماوويل چې څه ووايم ، دوى وفرمايل ، قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ اومعوذتين ووايه ، چې سهار كيږى او ماښام كيږى ، درى سره ددې ويل به ستا دپاره دهرتكليف څخه امان وى (ترمذى ، ابوداود، نسايى ، مظهرى) لنډه دا چې دټولو افتونو څخه دمحفوظه كيدو دپاره دا دوه سورتونه دنبى كريم ﷺ اوصحابه كرامو ؓ معمول وو .

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ : دفلق لفظى معنى څيريدل دى ، مراد دصبا سپينوالى ښكاره كيدل ، لكه چې په يو بل آيت كې دالله ﷻ صفت فَالِقُ الْإِصْبَاحِ راغلى دى ، په دې كلمه كې دالله ﷻ دټولوصفتونوڅخه ددې داختيارولو حكمت دا هم كيدى سى چې دشپې تياره اكثره دشرو اوافتونو سبب جوړيږى اودسهار رڼا دغه ليرى كوى ، دالله ﷻ په دې صفت كې دا اشاره ده چې څوك دهغه څخه پناه غواړي ، الله ﷻ به دهغه ټول افتونه ليرى كوى (مظهرى)

(دشر د، لفظ معنیٰ دعلامه ابن قیم څخه)

مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ علامه ابن قیم رحمه الله لیکلی دی چی لفظ دشر دوو شیانو لره عام اوشامل دی، یولام او افتونه دکومو څخه چی سیده په سیده انسان ته رنج اوتکلیف رسیږی، دوهم هغه شیان کوم چی دالام او افتونو موجبات اواسباب دی، په دی دوهم قسم کی کفر اوشرك اوټول ګناهونه هم دلفظ دشر په مفهوم کی دا خل دی، په قرآن اوحدیث کی چی دکومو شیانو څخه دپناه ذکر راغلی دی هغه ددی دواړو قسمونو څخه په یوه کی داخل وی چی یاخو هغه په خپله افت اومصیبت وی یاددی دپاره سبب او موجب وی دلمانځه په اخرکی چی کومه دعا اواستعاذه سنت ده، په هغه کی څلور شیان ذکر سوی دی، عذاب دقبر، عذاب داور، فتنه دمحیا اوممات، په دی کی اول دوه شیان په خپله مصیبت اوعذاب دی او اخر دوه شیان دمصیبت اوعذاب اسباب دی.

مِنْ شَرِّ مَاخَلَقَ: په لفظ کی دټولو مخلوقاتو شرداخل دی، په دی وجه داکلمه دټولو شرونو اوافتونو څخه دپناه اخیستو دپاره کافی وه، مګر دلته یی دری شیان ممتاز کړل دهغوی دشر څخه یی دپناه غوښتلو جلا ذکر وفرمایی، کوم چی داکثرو افتونو اومصیبتونو سبب جوړیږی، اول، مِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ: په دی کی لفظ دغاسق دغسق څخه مشتق دی چی معنیٰ یی تیاره خپریدل دی، په دی وجهٔ دغاسق معنیٰ حضرت ابن عباس رضی الله عنه، حسن او مجاهد دشپی اخیستی ده اووَقَبَ دوقوب څخه مشتق دی چی معنیٰ یی تیاره پوره زیاتیدل دی، معنیٰ دا ده چی زه دالله ﷻ څخه پناه غواړم دشپی څخه کله چی دهغه تیاره خپره سی، دشپی دتخصیص وجه دا ده چی دا وخت دپیریانو، شیطانانو، موذی حیوانانو اوغلو ډاکوګانو دخپریدو اودښمنانو دحملی کولو وخت وی او دجادو تاثیر هم په شپه کی زیات وی، دشپی دختمیدو سره ددی شیانو تسلط ختم سی (ابن قیم)

دوهم شی دا فرمایی، وَمِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ نفّاثات دنفث څخه مشتق دی، چی معنیٰ یی پوکی کول دی اوعُقَد د: عُقْدَةٌ جمع ده، غوټی ته ویل کیږی جادوکوونکی په تارو اونورو کی غوټی لګوی اودجادو کلمی پر وایی اوپوکی یی، دنفاثات فی العقد معنیٰ په غوټو کی پوکی کوونکی، مراد ورڅخه جادو کوونکی دی اودلفظ دنفاثات موصوف نفسونه هم کیدی سی چی ښځی اوسړی دواړه په کی دا خل دی په دی صورت کی به دجادو کوونکو څخه مراد جادو کوونکی نفسونه وی اوظاهره دا ده چی ددی موصوف ښځی دی، دښځو تخصیص شاید ځکه وسو چی دجادو کار عموماً ښځی کوی اوځه خلقتاً دښځو ددی سره تعلق هم زیات دی اویاپه دی وجه چی په نبی کریم ﷺ باندی دغه جادو کوونکی دولید بن اعصم لونی وی، کومو چی دپلار په ویناسره داکار کړی وو، نوځکه یی نسبت دوی ته وسو اودجادو کوونکو څخه دپناه غوښتلو په خصوصیت سره دذکر کولو وجه دا هم کیدی سی چی سبب دنزول دجادو دا واقعه ده او دا هم چی ددی شر اوضرر ځکه زیات دی چی انسان ته ددی خبرهم نه وی او دبی خبری په وجه یی دلیری کولو طرف ته توجه هم نه وی، هغه یی بیماری ګڼی، دوا یی کوی اوتکلیف زیاتیږی.

دریم شی کوم چی په خصوصیت سره ذکر سو هغه حاسد اوحسد دی، ددی تخصیص وجه هم دا دواړه

کیدی سی، ځکه چی په دوی جادو هم دحسد په وجه وسو یهودو او منافقانو چی به د دوی ترقی لیده نو سوزیدل به، او په ظاهری جنګ اوقتال کی په دوی غالب نه سوای راتلی نو دجادو په ذریعه یی دخپل حسد اور مړکول غوښتل او دنبی کریم ﷺ حاسدان په دنیاکی بی شمیره وه په دی وجه هم په خصوصیت سره پناه وغوښتل سوه، دارنګه دحاسد حسد دی په ارام نه کښینوی، هغه هروخت دده په نقصان پسی وی، په دی وجه دا ضرر سخت هم دی.

حسد وایی دچاپه نعمت او راحت لیدو سوزیدلو ته او دا غوښتل چی دا نعمت ورځخه زائله سی، برابره خبره ده که ده ته هم حاصل نه سی، داحسد حرام اوکبیره ګناه ده او دا دټولو ځخه اولنی ګناه ده کومه چی په آسمان کی وسوه او دټولو ځخه اولنی ګناه ده کومه چی په مځکه وسوه ځکه چی په آسمان کی ابلیس دحضرت ادم ﷺ سره حسدوکی اوپه مځکه دده زامنو قابیل دهابیل سره وکی (قرطبی) دحسد سره یوشان غبطه ده چی معنٰی یی دا ده، دچانعمت لیدل اوداخواهش کول چی داسی زماهم وسوی، داجائز بلکه مستحسن دی، دلته د دری شیانو دخصوصی پناه غوښتلو ذکر دی، مګر په اول اودریم کی خو یو یو قید ذکر سو، اول یی د، غاسق سره اِذَا وَقَبَ وفرمایی او په دریم کی یی دحاسد سره اذا حسد وفرمایی او په درمیانی شی کی یعنی جادو کی یی دځه قید ذکر ونه کی، سبب دا دی چی دجادو ضرر عام دی او دشپی ضرر هغه وخت وی، کله چی تیاره پوره سی، دغه شان دحاسد حسد چی ترڅو هغه دخپل حسد په وجه چاته دازار رسولو اقدام ونه کی، ترهغه وخته پوری خو دهغه ضرر په خپله دهغه ذات ته رسیږی، چی دنورو نعمت وینی سوزی او ویلی کیږی، البته دچاسره چی حسدکوی هغه ته یی نقصان هغه وخت رسیږی، کله چی هغه په مقتضا دحسد عمل وکی دازار رسولو کوشش کوی په دی وجه په اول او دریم شی کی داقیدونه ولګول سوه.

تمت سورة الفلق بحمدالله تعالی

﴿سورة الناس﴾

سُوْرَةُ النَّاسِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ سِتُّ اٰيَاتٍ

سورة الناس په مدینه کی نازل سو او په دی کی شپږ (۶) آیتونه دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

شروع کوم په نوم سره دخدای ﷻ چی ډیر مهربانه نهایت رحم والا دی.

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴿۱﴾ مَلِكِ النَّاسِ ﴿۲﴾ اِلٰهِ النَّاسِ ﴿۳﴾

ته ووایه زه پناه غوارم دخلقو په رب، په بادشاه دخلقو، په معبود دخلقو،

مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ ۵ الْخَنَّاسِ ۞ الَّذِیْ یُوَسْوِسُ فِیْ

دشر دهغه خخه چي غولوي ، اوپټيږي ، هغه چي وسوسي اچوي د

صُدُوْرِ النَّاسِ ۞ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ۞

دخلقو په زړونو کي ، دپيريانو څخه او دانسانانو څخه ....

دُعَاءُ خَتْمِ الْقُرْاٰنِ اَللّٰهُمَّ اٰنِسْ وَحْشَتِیْ فِیْ قَبْرِیْ اَللّٰهُمَّ ارْحَمْنِیْ بِالْقُرْاٰنِ الْعَظِیْمِ وَاجْعَلْهُ لِیْ اِمَامًا وَّنُوْرًا وَّهُدًی وَّرَحْمَةً

اَللّٰهُمَّ ذَکِّرْنِیْ مِنْهُ مَا نَسِیْتُ وَعَلِّمْنِیْ مِنْهُ مَا جَهِلْتُ وَارْزُقْنِیْ تِلَاوَتَهٗ اٰنَاءَ اللَّیْلِ وَاٰنَاءَ النَّهَارِ وَاجْعَلْهُ لِیْ حُجَّةً یَّا رَبَّ الْعٰلَمِیْنَ ،

لنډتفسير: ته ووايه چي زه دانسانانو دمالك ، دانسانانو دبادشاه، دانسانانو دمعبود پناه غواړم ، دوسوسه اچوونکي شاته کيدونکي (شيطان) دشر څخه (دشاته کيدومطلب داچاپه حديث کي دی چي دالله ﷻ دنوم اخيستونکي څخه شيطان په شاکيږي) کوم چي دخلقوپه زړونوکي وسوسه اچوي برابره خبره ده که هغه (وسوسه اچوونکي) پيري وي اوکه انسان (يعني لکه څنګه چي زه دشيطانانو پيريانو څخه پناه غواړم دغه شان دانسانانو شيطانانوڅخه هم پناه غواړم لکه چي بل ځای په قرآن کريم کي دپيريانو اوانسانانو دواړو کي دشيطانانوکيدو ذکر دی وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيٰطِيْنَ الْاِنْسِ وَالْجِنِّ)

معلومات اومسئلي : په سورة فلق کي ددنيوي افتونو اومصيبتونو څخه دپناه غوښتلوتعليم دی او په دی سورة کي داخروي افتونوڅخه دپناه غوښتلو تاکيد دی اولکه چي دلفظ دشر مفهوم په سورة فلق کي بيان سوی دی چي افتونه اوموجبات دافتونو په کي شامل دی ، په دی سورة کي دهغه دشرڅخه پناه غوښتل سوي ده کوم چي دټولو ګناهونو سبب دی ، يعني شيطاني وسوسي او اثرات اوچونکي داخرت مضرت سخت دی ، په دی وجه ددی په تاکيد يې قرآن کريم ختم کی .

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ : دربّ معنی پالونکي اودهر حال اصلاح کوونکي دی دلته درب اضافت دناس طرف ته وسواوپه اولني سورة کي دفلق طرف ته وجه داده چي په سورة فلق کي دظاهري اوجسماني افتونو څخه پناه غوښتل مقصوددی اودادانسان سره مخصوص نه دی حيوانانو ته هم بدني افتونه اومصيبتونه رسيږي، په خلاف دشيطاني وسوسي څخه چي ددی نقصان دانسان سره مخصوص دی اوجنات هم په دی کي تبعًا شامل دی، په دی وجه دلته درب اضافت دناس طرف ته وسو (مظهری عن البيضاوی)

مَلِكِ النَّاسِ : يعني دخلکو دبادشاه، اِلٰهِ النَّاسِ دخلکو دمعبود ، ددی دوو صفتونو اضافه خکه وسوه چي لفظ درب کله ديو خاص شي طرف ته منسوب وی نود الله ﷻ څخه ماسوا دنورو دپاره هم ويل کيږي لکه رَبُّ الدَّار، دکور مالك ته رَبُّ الْمَالِ دمال مالك ته ويل کيږي او هرمالك بادشاه نه وی ، په دی وجه دملك

اضافه سره چي هغه رب چي مالك هم دي او دملك يعني بادشاه هم دي بيا هربادشاه معبودنه وي، په دي وجه دريم صفت يي ذکر وفرمايي، اِلٰهِ النَّاسِ په دي دري وارو صفتونو جمع کولوکي حکمت دا دي چي په دي کي هريوصفت دحفاظت داعي دي، ځکه چي هرمالك دخپل مملوك حفاظت کوي، دغه شان هربادشاه دخپل رعيت حفاظت کوي اومعبود دخپل عابد دپاره محافظ کيدل خودټولو څخه ظاهره ده، دادري واړه صفتونه صرف په حق تعالٰی کي جمع دي، دهغه څخه ماسوا څوك ددي صفتونو جامع نسته، په دي وجه دهغه پناه حاصلول دټولو څخه لويه پناه ده، اودالله ﷻ څخه ددي دري صفتونو سره پناه غوښتل ددعا دقبوليت دپاره ډيره اقرب ده چي ياالله! ته ددي صفتونو جامع يي مونږ صرف ستا څخه پناه غواړو، دلته کله چي په اوله جمله کي رَبِّ النَّاسِ راغلي نو په ظاهره تقاضا دمقام دا وه چي مخ ته دده طرف ته په ضميرونو راجع کولو سره کار واخيستل سي اومَلِكِهِمْ اِلٰهِهِمْ يي فرمايلي واي مګر ددي لفظ بار بار تکرار ځکه دي چي مقام ددعا، مدح اوثناء دي، په دي کي تکرار ښه دي اوځينو حضراتو دلفظ دناس په باربار تکرار کي دالطيفه بيان کړي ده چي په دي سورة کي لفظ دناس پنځه واره راغلي دي، په اول لفظ کي مراد کوچني دي اولفظ درب او ربوبيت ددي قرينه ده، ځکه چي دپرورش حاجت دټولو څخه زيات کوچنيانو ته وي او په دوهم لفظ دناس سره ځوانان مراد دي اولفظ دملكَ ددي قرينه ده کوم چي ديو سياست معنٰی لري هغه دځوانانو سره مناسب ده، او په دريم لفظ دناس سره بوډاګان مراد دي کوم چي ددنيا څخه قطع سي په عبادت کي مشغول وي اولفظ د ،اله ددي قرينه ده کومه چي دعبادت طرف ته اشاره کوي او په څلورم لفظ دناس سره مراد دالله ﷻ صالح بندګان دي او لفظ دوسوسي ددي قرينه ده ځکه چي شيطان دنيکو بندګانو دښمن دي، د دوي په زړونو کي وسوسه اچول دده مشغله ده، او په پنځم لفظ دناس سره مراد مفسدان خلګ دي ځکه چي د دوي دشر څخه پناه غوښتل سوي ده.

مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ: دالله ﷻ دري صفتونه يي ذکر کړل، اوس دهغه بيان دکوم څخه چي پناه غوښتل مقصود دي، هغه دي، وسواس خنّاس وسواس مصدرپه اصل کي په معنٰی دوسوسه دي، دلته شيطان ته وسواس مبالغةً فرمايي، ګوياهغه دسره څخه ترپښو پوري وسوسه ده او دوسوسه معنٰی دشيطان دخپل اطاعت طرف ته ديوي پټي خبري په ذريعه بلل دي، دکومي چي مفهوم دانسان په زړه کي راسي اوځه اوازونه اوري (قرطبي)

خنّاس، د خَنَس څخه مشتق دي چي معنٰی يي پرشا واپس کيدل دي، شيطان ته خناس ځکه وويل سوه چي دده عادت دا دي چي انسان کله دالله ﷻ نوم اخلي نو دي په شاتښتي بياچي کله لږ غفلت وسي نو بيا راسي، چي بيادي دالله ﷻ نوم واخلي، نوشيطان بياپه شا ولاړسي اودا عمل مسلسل جاري وي، نبي کريم ﷺ فرمايي چي دهر انسان په زړه کي دوه کورونه دي په يوه کي ملائکه اوسيږي، په بل کي شيطان (ملائکه ورته دنيکو کارونو رغب ورکوي اوشيطان دبدو کارونو) بياچي کله انسان دالله ﷻ ذکر کوي نو شيطان په شاکيږي او چي کله دي دالله ﷻ په ذکر کي مشغول نه وي نو خپله مشوکه دانسان په زړه باندي کښيږدي، دبديو وسوسي په کي اچوي (ابويعلی عن انس) مرفوعًا مظهري.

مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ : دا بیان دی دوسواس یعنی وسوسه اچونکی دجناتو څخه هم وی اود انسانانو څخه هم ، نو مطلب ددی دا سو چی الله ﷻ خپل رسول ته ددی تلقین فرمایی چی دالله ﷻ څخه پناه غواړه ، دجناتو شیطانانو دشر څخه هم او دانسانی شیطانانو دشر څخه هم ، که دا شبهه وی چی وسوسه دجناتی شیطانانو دشر څخه کیدل خو ظاهر دی چی هغه په پټه دانسان په زړه کی څه پټه خبره اچوی ، مگر انسانی شیطانان خوپه ډاګه مخ ته راځی خبری کوی، ددوی وسوسی خبری دچاپه مخکی کوی، په کموسره چی دده په زړه کی دځه معاملی په حقله داسی شکونه اوشبهی پیدا کیږی ، کومی چی هغه صراحتًا نه سی ویلی اوشیخ عزالدین بن عبدالسلام په خپل کتاب، الفوائد فی مشکلات القرآن ، کی فرمایی چی دانسانی شیطان دشرڅخه مراد دخپل نفس وسوسه ده ځکه چی لکه څنګه چی جن شیطان دانسان په زړه کی دبدو کارونو وسوسه اچوی ، دغه شان په خپله دانسان خپل نفس هم دبدوکارونو طرف ته مائل کیږی ، په دی وجه نبی کریم ﷺ په خپله دخپل نفس دشر څخه هم پناه غوښتل ښوولی ده ، په حدیث کی دی . اَللّٰهُمَّ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِيْ وَشَرِّالشَّيْطَانِ وَشِرْكِهٖ : یعنی یاالله ! زه ستا څخه پناه غواړم دخپل نفس دشر څخه هم او دشیطان دشر اوشرك څخه هم .

(دشیطاني وسوسو څخه دپناه غوښتلو لوی اهمیت)

ابن کثیر رحمه الله فرمایی چی الله ﷻ په دی سورة کی انسان ته ددی تلقین فرمایلی دی چی دالله ﷻ دا دری صفتونه رب ، ملك ، اله ذکرکړه ، او په دی سره دشیطانی وسوسو او وساتسو څخه پناه غوښتل په کار دی ، ځکه چی دهرانسان سره یوملګری شیطان لګیدلی دی کوم چی په هرقدم په دی کوشش کی لګیدلی وی چی انسان تباه اوبرباد کړی، اول خوده ته دګناهونو رغبت ورکوی اوپه قسم قسم سره دی غولوی اودګناهونو طرف ته یی بیایی، که په دی کی کامیاب نه سی، نو انسان کوم طاعت اوعبادت چی کوی دهغه دخراب اوضائع کولو دپاره دریاء نمود اوغرور اوتکبر وسوسی په زړه کی ورغورزوی، دعلم والاوو په زړونوکی دحقو عقیدو په حقله دشبهاتو پیدا کولو کوشش کوی، دده دشر څخه هغه محفوظ کیدی سی ، کوم چی الله ﷻ محفوظ کی .

نبی کریم ﷺ فرمایی چی په تاسی کی څوك انسان داسی نسته ، په کوم چی دده ملګری شیطان مسلط نه وی ، صحابه وو ﷺ عرض وکی چی یارسول الله! چی ایا ستاسی سره هم دا ملګری سته؟ ویی وفرمایل چی هو! مګر الله ﷻ دده په مقابله کی زما مدد فرمایی او دی یی داسی کړی دی چی دی هم ماته بغیر دخیر څخه بله خبره نه سی کولی .

په صحیحین کی دحضرت انس ﷺ حدیث دی چی یو وار نبی کریم ﷺ په مسجد کی معتکف وو ، یوه شپه ام المومنین حضرت صفیه ﷺ دده ﷺ زیارت ته مسجد ته ولاړه، په بیرته راتلو کی نبی کریم ﷺ ددی سره سو، په کوڅه کی دوه انصاری صحابه د دوی مخ ته راغلل ، نو دوی ﷺ اواز ورکی چی ودریږی . زما سره صفیه بن حی ده، هغوی دواړو په ډیر ادب عرض وکی، سُبْحَانَ اللّٰهِ یارسول الله ﷺ (یعنی آیا تاسی زمونږ په باره کی داخیال کوی چی مونږ به بدګمانی وکو) نبی کریم ﷺ وفرمایل ، چی بیشکه ځکه چی

شیطان دانسان دوینی سره دده په رګونوکی چلیږی ، زماسره دا بیره سوه چی هسی نه شیطان ستاسی په زړونو کی څه وسوسه دبدګمانی پیدا کی (په دی وجه ما وویل چی زما سره کومه بله ښځه نه ده)
فائده : لکه څنګه چی په خپله دبدو کارونو څخه بچ کیدل دانسان دپاره ضروری دی، دغه شان مسلمانانو ته په خپله باره کی دبدګمانی موقع ورکول هم درست نه دی ، دداسی موقعو څخه محفوظ کیدل په کار دی ، په کوموسره چی دخلګوپه زړونوکی بدګمانی پیدا کیږی اوکه څه داسی موقع راسی نو خبره واضح کول او دتهمت موقع ختمول په کار دی لنده دا چی دی حدیث شیطانی وسوسه لویه خطرناکه کیدل ثابت کړی دی دکومی څخه چی محفوظ کیدل اسان نه دی بغیر دخدای دپناه څخه .
خبرداری: دلته چی دکومی وسوسی څخه بیرول سوی دی دهغه څخه مراد هغه خیال دی په کوم کی چی انسان په خپل اختیار مشغول وی او غیرِ اختیاری وسوسه اوخیال کوم چی په زړه کی راسی اوتیرسی هغه هیڅ مضر نه دی ، نه څه ګناه پرسته .

(لطیفه : دسورة فلق اوناس په تعوذات کي یوفرق)

په سورة فلق کی خوالله ﷻ دکوم څخه چی پناه غوښتل سوي ده دهغه صرف په یوصفت باندی بسوالی وسویعنی رب الفلق اودکوموشیانوڅخه چی پناه غوښتل سوي ده هغه ډیردی کوم چی یی اول په مِنْ شَرِّ مَاخَلَقَ کی اجمالاً ذکرکړل بیادغوڅخه صرف دری افتونه یی جلا بیان کړل اوپه سورة ناس کی چی دکوم شی څخه پناه غوښتل سوي ده هغه صرف یودی یعنی وسواس اودکوم څخه چی پناه غوښتل سوي د دهغه یی ـ لته دری صفتونه بیان کړي دی اودپناه دعایی کړي ده ددی څخه معلومیږی چی دشیطان شر دټولوشرونو اوافتونوڅخه زیات دی اول خوځکه چی دنوروافتونواومصیبتونواثرخودانسان په جسم او دنیوی امورو باندی پریوزی په خلاف دشیطان څخه چی دی دانسان ددنیا اواخرت دواړو اوخاص داخرت دتباه کولوپه فکرکی دی په دی وجه دده ضرر سخت دی، دوهم داچی ددنیا دافتونو خوځه ناڅه مادی علاج هم دانسان په قبضه کی دی اوهغه کوی، په خلاف دشیطان چی دده په مقابله کی څه مادی تدبیر دانسان په وس کی نه دی، هغه خو انسان وینی مګر انسان هغه نه وینی، هغه دانسان په باطن کی په غیرِ معلومه طریقه په تصرف کولو قادر دی ددی علاج صرف دالله ﷻ ذکر اودهغه پناه اخیستل دی .

(دانسان دوه دښمنان انسان اوشیطان اودواړو دښمنانو جلاجلاعلاج)

دانسان دښمن انسان هم وی اوشیطان هم حق تعالی انسانی دښمن اول خودحسن خُلق اومدارات اوترکِ انتقام اوصبرپه ذریعه دآرام کولو تلقین فرمایلی دی اوکوم چی په دی تدبیرونوسره منع نه سی دهغه سره دجهاد اوقتال حکم یی ورکړی دی په خلاف دشیطان دښمن څخه چی دهغه مقابله یی صرف په استعاذه اودالله ﷻ په پناه اخیستوسره تلقین فرمایلی ده ابن کثیر دخپل تفسیرپه مقدمه کی دقرآن کریم دری آیتونه ددی مضمون لیکلی دی په کوموکی چی یی ددی دواړو دښمنانو ذکرکړی دی اودانسانی دښمن دفاع یی په حسن خلق ، ترک انتقام اودده سره داحسان په سلوك کولو ښولی ده اوددی په مقابله کی یی دشیطان دفاع په استعاذه سره تلقین فرمایلی ده، ابن کثیر رحمه الله فرمایی چی په ټول قرآن کریم

کی دا دری آیتونه ددی مضمون راغلی دی ، یو آیت په سورة اعراف کی دی چی فرمایی ، خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ : دا خو یی دانسانی دښمن دمقابلی تدبیر ارشاد وفرمایی چی خلاصه یی عفوه درگزر او ده ته دنیك کارتلقین او دده په بدیو سترگی پټول اوښوول دی ، مخ ته فرمایی ، وَإِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ إِنَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ : دا تلقین یی دشیطانی دښمن په مقابله کی وفرمایی چی مطلب یی دالله ﷻ څخه پناه غوښتل دی ، بل آیت په سورة قدافلح کی اول دانسانی دښمن دمقابلی په علاج کی فرمایی ، ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ السَّيِّئَةَ : یعنی بدی په نیکی دفع کړه بیادشیطانی دښمن په مقابله کی فرمایی ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ، وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَنْ يَحْضُرُونِ : یعنی ای زماربه! زه ستا پناه غواړم دشیطانانو دچیر څخه او ددی څخه چی هغه ماته راسی او دریم آیت په سورة حٰمٓ السجدة کی دی په دی کی اول دانسانی دښمن دمدافعت دپاره ارشاد فرمایی ، ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ : یعنی ته بدی په نیکی دفع کړه که داسی وکی نو وبه وینی چی ستادښمن به ستا مخلص دوست جوړسی، په وروسی آیت کی بل جزء دشیطانی دښمن په مقابله کی فرمایی ، وَإِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ : دا تقریبًا هغه الفاظ دی کوم چی یی په سورة اعراف کی دشیطان دمقابلی دپاره ارشادفرمایلی دی او مطلب یی دا دی چی دده مقابله بغیر داستعاذی څخه نوره هیڅ نسته (ابن کثیر)

په دی دری سره وو آیتونوکی دانسانی دښمن علاج یی په عفوه درگزر اوحسن سلوك سره ښوولی دی ، ځکه چی انسانی فطرت دادی چی په حسن خلق اواحسان سره مغلوبه کیږی اوکوم شریرالنفس چی فطری انسانی صلاحیت ختم کړی وی دهغه علاج یی په نورو ایتونوکی جهاد اوقتال ښوولی دی ځکه چی دغه ښکاره دښمن دی اوپه ښکاره ساز او سامان سره مخ ته راځی، دهغه دقوت مقابله په قوت سره کیږی په خلاف دشیطان لعین څخه چی هغه په خپل فطرت کی شریردی احسان اوعفوه درگزر په هغه ښه اثرنه کوی په کوم سره چی دی دخپل شرارت څخه واپس سی او نه ظاهری مقابله دده په جهاد اوقتال سره کیدی سی ، دا دواړه قسمه نرم اوگرم تدبیرونه صرف دانسانی دښمن په مقابله کی چلیږی دشیطان په مقابله کی نه چلیږی په دی وجه دده علاج صرف دالله ﷻ په پناه کی اوپه ذکرالله کی مشغولیدل دی ، دکوم چی په ټول قرآن کی تلقین سوی دی او په دی یی قرآن ختم کړی دی .

(دانساني اوشيطاني دښمن په مقابله کي دانجام په اعتبار سره لوی فرق)

لوړ په قرانی تعلیماتوکی دانسانی دښمن دفاع اول په احسان اوصبر جمیل سره ښوول سوي ده که په ... کی کامیابی نه وی نوپه جهاد اوقتال سره اوپه دواړو صورتونوکی مقابله کولو والا مومن کامیاب کامیاب دی ، بالکل ناکامی دمومن دپاره ممکن نه ده ځکه چی ددښمن سره په مقابله کی که دی غالب رالی نو بیا خودده کامیابی ښکاره ده اوکه شکست یی وخوړی یامقتول هم سو ، نو داخرت اجر اوثواب اوشهادت فضیلتونه به هغه ته دومره ډیر ورکول کیږی چی ددنیا دکامیابی څخه به ډیرزیات وی، غرض دانسانی دښمن په مقابله کی بایلل هم دمومن دپاره څه نقصان نه دی.په خلاف دشیطان څخه چی دهغه خوش آمدید اودهغه راضی کول هم گناه ده اودهغه په مقابله کی بایلل خو داخرت تباه کول دی، هم

دا وجه ده چی دچاد پاره ذشیطانی دښمن دمدافعت دپاره هم دحق تعالی پناه اخیستلو علاج دی ، دده دپناه په مخکی دشیطان هر تدبیر کمزوری اوبی اثره دی .

(دشیطان تدبیر کمزوری دی)

دذکرسوو وجوهاتو څخه چاته دا خیال کول نه دی په کارچی دشیطان طاقت لوی دی او دده مقابله گرانه ده هم ددی خیال دلیری کولو دپاره حق تعالی فرمایلی دی اِنَّ کَیْدَ الشَّیْطٰنِ کَانَ ضَعِیْفًا: اوپه سورة نحل کی کوم ځای چی دقرآن دویلو په وخت داستعاذی حکم ورکول سوی دی ، دهغه سره یی دا هم وفرمایل چی په ایمان والاوو اوپه الله ﷻ باندی تکیه ساتلو والاوو باندی یعنی دالله ﷻ پناه اخیستلو والاوو باندی دشیطان هیڅ غلبه نه وی ، ارشاد دی ، فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ : إِنَّهُ لَیْسَ لَهُ سُلْطٰنٌ عَلَى الَّذِینَ آمَنُوا وَعَلٰى رَبِّهِمْ یَتَوَکَّلُوْنَ ، إِنَّمَا سُلْطٰنُهُ عَلَى الَّذِیْنَ یَتَوَلَّوْنَهُ وَالَّذِیْنَ هُمْ بِهِ مُشْرِکُوْنَ : یعنی کله چی ته قرآن وایی نو پناه اخله دالله ﷻ دشیطان مردود څخه ، دده زور نه چلیږی په هغو باندی کوم چی ایماندار دی او په خپل رب توکل ساتی ، دده زور خو په هغوباندی دی چی دی ملگری گڼی اوکوم چی ده ته شریك مني ، دسورة نحل په تفسیر کی ددی آیت پوره تشریح او داستعاذی مسئلی او دشرعی احکامو تفصیل تیرسوی دی ، هغه وگوری .

(دقرآن کریم په فاتحه اوخاتمه کي مناسبت)

قرآن کریم حق تعالی دسورة فاتحه څخه شروع فرمایلی دی چی ددی خلاصه دالله ﷻ دحمد اوثنا څخه وروسته دهغه مدد حاصول او دهغه څخه دصراط مستقیم توفیق غوښتل دی ، اودالله ﷻ مدد اوصراط مستقیم هم دا دوه شیان دی ، په کومو کی چی دانسان ددنیا او دین دټولو مقصدونو کامیابی پټه ده ، لیکن ددی دواړو شیانوپه حاصلولوکی او دحاصلولو څخه وروسته ددی په استعمال کی په هرقدم باندی دشیطان لعنتی دمکر اوفریب او وسوسو جال خپور وی نو ددی دپاره ددی جال دټوټی ټوټی کولو په اثر ناك تدبیر استعاذه باندی قرآن کریم ختم سوی دی .

وباختتامه تم بحمدالله وفضله وکرمه وعونه تفسیرالقرآن الکریم ولله الحمداوله واخره وظاهره وباطنه فماکنا لنهتدی الیه لولا ان هدٰنا الله، وصلی الله تعالی علی خیرخلقه وصفوة رسله وامام انبیائه محمد خاتم النبیین وسیدالمرسلین علیه وعلیهم صلوات الله وسلامه وعلی اله واصحابه اجمعین، ربناتقبل منّاانك انت السمیع العلیم، وذٰلك فی الحادی والعشرین من شعبان سنه ۱۳۹۲ھ ضحوة یوم السبت ومن غریب الاتفاق ان هٰذا الیوم هوالیوم الذی ولدت فیه ففی هذا الیوم تم من عمرهذا العبدالضعیف الجانی علی نفسه سبعة وسبعون ۷۷ سنة واخذت فی الثامن والسبعین والله سبحانه وتعالی ادعو وارجو ان یجعل خیر عمری آخره وخیر عملی خواتیمه وخیر ایامی یوم القاه فیه ببرکة کتابه المبین ونبیه الامین وان یتقبل منی جهد المقل الذی اتعبت فیه نفسی فی امراضٍ وهمومٍ وضعف القوٰی وماهو الا بتوفیقه وعونه وان یغفرلی خطیئاتی وتقصیراتی فی حقوق کتابه الکریم وان ینفع به المسلمین الی امد بعید وان یجعله ذخرًا لیوم لا بیع فیه ولا خلال ولا یجدی فیه مالٌ ولا الٌ فسبحان الله وبحمده سبحان الله العظیم .

وتمّ النظر الثانی علی المجلد الاخیر من تفسیر معارف القرآن یوم الجمعة عاشر شوال سنه ۱۳۹۲ھ بعد ما اخذت فیه لثالث رمضان سنه ۱۳۹۲ھ فکان فی نحو اربعین یومًا ولله الحمد .

دعا ختم القرآن

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ؕ وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمُ ؕ وَنَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ
الشّٰهِدِيْنَ ؕ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ؕ اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا بِكُلِّ حَرْفٍ مِّنَ الْقُرْاٰنِ
حَلَاوَةً وَّبِكُلِّ جُزْءٍ مِّنَ الْقُرْاٰنِ جَزَآءً اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا بِالْاَلِفِ اُلْفَةً وَّبِالْبَآءِ بَرَكَةً وَّبِالتَّآءِ تَوْبَةً
وَّبِالثَّآءِ ثَوَابًا وَّبِالْجِيْمِ جَمَالًا وَّبِالْحَآءِ حِكْمَةً وَّبِالْخَآءِ خَيْرًا وَّبِالدَّالِ دَلِيْلًا وَّبِالذَّالِ ذَكَآءً
وَّبِالرَّآءِ رَحْمَةً وَّبِالزَّآءِ زَكٰوةً وَّبِالسِّيْنِ سَعَادَةً وَّبِالشِّيْنِ شِفَآءً وَّبِالصَّادِ صِدْقًا وَّبِالضَّادِ
ضِيَآءً وَّبِالطَّآءِ طَرَاوَةً وَّبِالظَّآءِ ظَفَرًا وَّبِالْعَيْنِ عِلْمًا وَّبِالْغَيْنِ غِنًى وَّبِالْفَآءِ فَلَاحًا وَّبِالْقَافِ
قُرْبَةً وَّبِالْكَافِ كَرَامَةً وَّبِاللَّامِ لُطْفًا وَّبِالْمِيْمِ مَوْعِظَةً وَّبِالنُّوْنِ نُوْرًا وَّبِالْوَاوِ وُصْلَةً
وَّبِالْهَآءِ هِدَايَةً وَّبِالْيَآءِ يَقِيْنًا ؕ اَللّٰهُمَّ انْفَعْنَا بِالْقُرْاٰنِ الْعَظِيْمِ ؕ وَارْفَعْنَا بِالْاٰيٰتِ
وَالذِّكْرِ الْحَكِيْمِ ؕ وَتَقَبَّلْ مِنَّا قِرَآءَتَنَا وَتَجَاوَزْ عَنَّا مَا كَانَ فِيْ تِلَاوَةِ الْقُرْاٰنِ مِنْ خَطَاٍ
اَوْ نِسْيَانٍ اَوْ تَحْرِيْفِ كَلِمَةٍ عَنْ مَّوَاضِعِهَا اَوْ تَقْدِيْمٍ اَوْ تَاْخِيْرٍ اَوْ زِيَادَةٍ اَوْ نُقْصَانٍ اَوْ
تَاْوِيْلٍ عَلٰى غَيْرِ مَا اَنْزَلْتَهُ عَلَيْهِ اَوْ رَيْبٍ اَوْ شَكٍّ اَوْ سَهْوٍ اَوْ سُوْٓءِ اِلْحَانٍ اَوْ تَعْجِيْلٍ عِنْدَ
تِلَاوَةِ الْقُرْاٰنِ اَوْ كَسَلٍ اَوْ سُرْعَةٍ اَوْ زَيْغِ لِسَانٍ اَوْ وَقْفٍ بِغَيْرِ وُقُوْفٍ اَوْ اِدْغَامٍ بِغَيْرِ مُدْغَمٍ اَوْ اِظْهَارٍ بِغَيْرِ بَيَانٍ
اَوْ مَدٍّ اَوْ تَشْدِيْدٍ اَوْ هَمْزَةٍ اَوْ جَزْمٍ اَوْ اِعْرَابٍ بِغَيْرِ مَا كَتَبَهُ اَوْ قِلَّةِ رَغْبَةٍ وَّرَهْبَةٍ عِنْدَ
اٰيَاتِ الرَّحْمَةِ وَاٰيَاتِ الْعَذَابِ فَاغْفِرْ لَنَا رَبَّنَا وَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ؕ اَللّٰهُمَّ نَوِّرْ قُلُوْبَنَا
بِالْقُرْاٰنِ وَزَيِّنْ اَخْلَاقَنَا بِالْقُرْاٰنِ وَنَجِّنَا مِنَ النَّارِ بِالْقُرْاٰنِ وَاَدْخِلْنَا فِي الْجَنَّةِ
بِالْقُرْاٰنِ اَللّٰهُمَّ اجْعَلِ الْقُرْاٰنَ لَنَا فِي الدُّنْيَا قَرِيْنًا وَّفِي الْقَبْرِ مُوْنِسًا وَّعَلَى الصِّرَاطِ نُوْرًا
وَّفِي الْجَنَّةِ رَفِيْقًا وَّمِنَ النَّارِ سِتْرًا وَّحِجَابًا وَّاِلَى الْخَيْرَاتِ كُلِّهَا دَلِيْلًا فَاكْتُبْنَا عَلَى التَّمَامِ
وَارْزُقْنَا اَدَآءً بِالْقَلْبِ وَاللِّسَانِ وَحُبَّ الْخَيْرِ وَالسَّعَادَةِ وَالْبِشَارَةِ مِنَ الْاِيْمَانِ ؕ
وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ مَّظْهَرِ لُطْفِهٖ وَنُوْرِ عَرْشِهٖ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ
وَّاٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ وَسَلَّمَ تَسْلِيْمًا كَثِيْرًا كَثِيْرًا اَبَدًا ؕ

الحمد لله حمدا موافيا لنعمه مكافيا لمزيده والصلوة والسلام على سيدنامحمدواله وصحبه وجنوده . ربنااغفرلى ولوالدى وللمؤمنين يوم يقوم الحساب ربنااتنافى الدنياحسنة وفى الاخرة حسنة وقناعذاب النار . اللهم اغفرلجميع المؤمنين والمؤمنات والمسلمين والمسلمات الاحياء منهم والاموات . اللهم تقبل شهادة شهدء نا . اللهم انصرالاسلام والمسلمين . اللهم انصرالمجاهدين فى كل مكان واحفظهم وقوّهم على الجهاد فى سبيلك يا ارحم الراحمين . اللهم انج اسرى هم ومستضعفيهم . اللهم لاتخرجنامن هذه الدنياالامع السلامة الايمان . اللهم لاتجعل الدنيا اكبر همنا ومبلغ علمنا . اللهم وفقلنالماتحب وترضى . اللهم انانسئلك الهدى والتقى والعفاف والغنى . اللهم يامصرف القلوب صرف قلوبنا على طاعتك . اللهم اعناعلى ذكرك وشكرك وحسن عبادتك . اللهم ارزقنا زيارت حبيبيك فى الدنيا وارزقنا شفاعة حبيبك فى الاخرة . اللهم حبب الينا الايمان وزينه فى قلوبنا وكره اليناالكفر والفسوق والعصيان والجعلنا من الراشدين . اللهم سهل علينا يا الهنا كل صعب بحرمة سيدالابرار . اللهم حصل مرادنا ويسر امورنا بجاه حبيبك ونبيك ورسولك النبى الامى صلى الله عليه واله وصحبه وسلم امين .